

وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا

ترجمه او څه چه تاسو ته رسول الله صلی الله علیه وسلم درکړي هغه واخلئ او څه نه مو منع کړي هغې نه منع شئ

رِيَاضُ الصَّالِحِين

پښتو مترجم

اَوَلهُ حِصَّهُ

اَوَلهُ حِصَّهُ

اصلي عربي حدیثونه سره د مقاصدو د بابونو

عربي تصنیف

ابی ذکریا

امام محی الدِّین بن شرف نوویؒ

پښتو ترجمه

مولانا انوار الحق صاحب

فاضل وفاق المدارس. ایم اے اسلامیات

شبقدر باڑے

Afghan Salar
افغان سالار کتابتون

وَمَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا

ترجمه او څه چه تاسو ته رسول الله صلی الله علیه وسلم درکړی هغه واخلئ او څه نه مو منع کړی هغے نه منع شئ

پښتو مترجم

رياض الصالحين

عربي تصنيف

د امام محي الدين ابي ذكريا بن شرف نووي

پښتو ترجمه

د مولانا انوار الحق صاحب
فاضل وفاق المدارس. ايم اے اسلاميات
شبقدر باړے

نظر ثاني

د ابو سلمان حضرت محمد شلونی
وفاق المدارس ايم اے اسلاميات
خادم طلبه مدرسه تعليم القرآن ګنج

تصحيح

قاري فضل كريم
وفاق المدارس ايم اے اسلاميات
شاه عالم پشاور

اصلي عربي حديثونه سره د مقاصدو د ابوابو

اوله حصه

ناشر
رحمن ګل پبلشرز
محله جنګی قصه خوانی پشاور

د ترجمے او کتابت ټول حقوق محفوظ دی۔

د کتاب نوم .... ریاض الصالحین پښتو مترجم

عربی تصنیف امام محی الدین بن شرف ابی ذکریا نووی ؒ

پښتو ترجمه .... مولانا انوار الحق صاحب فاضل وفاق المدارس
ملتان ایم اے اسلامیات شبقدر [illegible]

تصحیح .. (۱) قاری فضل کریم عارف صاحب
فاضل وفاق المدارس ملتان ایم اے اسلامیات
شاه عالم پیښاور

(۲) مولانا منظر خان صاحب
فاضل وفاق المدارس ملتان

زیر اهتمام رحمٰن ګل پبلیشرز

خور ونکے .. **رحمٰن ګل پبلیشرز**
محله جنګی قصه خوانی پیښاور

تذکره او تعارف

دَ مؤلفؒ او ریاض الصالحین:

دَ هغوی خپل نوم یحیٰی بن شرف وو۔ محی الدّین ئې لقب او ابو زکریا ئې کنیه وو۔

سلسله نسب:- یحیٰی بن شرف بن مری بن حسن بن حسین بن محمد بن جمعه بن حزام النوویؒ۔

دَ عام لقب او کُنیت نه علاوه دَ خپل سلسله وار مشرنیکۀ دَ نوم په نسبت سره په حُزامی هم یادیږی۔

ولادت:- دَ دمشق ښار سره نزدې نَوِیٰ کلی کښې دَ محرم الحرام ۶۳۱ھ په ړومبنو لسو ورځو کښې پیدا شوې وو۔ هم دلته لوئی شو او قرآن مجید ئې هم دې ځائې کښې حفظ کړو۔

استاد عارف یٰسٓ بن یوسف مراکشیؒ به فرمائیل، چه ما په اول اول کښې دَ لسو کالو په عُمر کښې شیخ په نَوِیٰ کښې لیدلے وو۔ خپلو همزولو او هم عمره ملکرو دَ مجبورولو باوجود به دَ هغوئ سره په لوبو کښې نۀ شریکیدلو، بلکه دَ قرآن شریف په ورد (ګردان)

دویم سبق به دَ "کتاب الوسیط" ښودلے کیدو۔

دریم سبق به دَ "المهذب" وو۔

څلورم سبق به دَ "جمع بین الصحیحین" وو۔ یعنی بخاری ومسلم۔

پنځم سبق به دَ "صحیح مسلم" وو۔

شپږم سبق به دَ ابن جنی دَ عِلم نحو کتاب "اللمح" وو۔

اووم سبق به دَ لغت وو چه دَ ابن السکیت دَ کتاب "اصلاح المنطق" نه به وو۔

اتم سبق به دَ عِلم صرف وو۔

نهم سبق به دَ اصول فقه وو چه کله به دَ ابی اسحاق دَ کتاب "اللمع" نۀ وو او کله به دَ فخر الرازی دَ کتاب "المنتخب" نۀ وو۔

لسم سبق به دَ "اسماء الرجال" وو۔ یوولسم سبق به دَ "اصول دین" وو۔

شیخ به دا هم وئیل چه ما به دَ سختو ټکو او دَ عبارتونو تشریح او دَ هغې وضاحت او دَ الفاظو معانی وغیره هم ورسره یادول او لیکل۔ او الله تعالیٰ زما په وختونو او زما په کارونو کښې برکت واچولو۔ او ما چه څۀ اولیکل په هغې کښې الله تعالیٰ ځما امداد اوکړو۔

شیخ فرمائی چه یو ځل ځما په زړۀ کښې دَ عِلم طب او دَ حکمت حاصلولو شوق پیدا شو نو ما یو کتاب "القانون" دَ علم طب په بیعه واخستو۔ او ما خپله توجه ټوله دَ طب په زده کړه کښې صرف کړه۔ دَ دې دا اثر اوشو چه په زړۀ م تیارۀ غونته راغله او ما دَ خپل کوشش باوجود په بل یو کار کښې زړۀ اونۀ لګولے شو، کله چه ما په دې غور او فکر اوکړو۔ چه آخر دَ دې زړۀ دَ توروالی سبب څۀ دے؟ نو الله تعالیٰ ځما په زړۀ کښې دا خبره واچوله چه دَ دې سبب دَ طب زیات شوق وو۔ ما سمدستی هغه کتاب خرڅ کړو۔ او دَ خپل زړۀ نه م هغه ټول څیزونه اوویستل، دَ کومو

چه دَ طب سره لږ تعلق هم وو. بس دَ دې اثر دا وشو چه ځما زړه روښانه شو. ځما حالت بدل شو. او هغه وړمبې کیفیت او شوق دوباره پيدا شو.

دَ امام نوویؒ استاذان

تاسو ته دَ مخکښې نه معلومه شوه چه دَ امام نوویؒ علمي مشغله او شوق دَ علم سره څومره وو. روزانه به يې يوولس، دولس سبقونه ويل. او دَ دې سبقونو متعلق ټول تشريحات به يې يادول. او دغې دَ الفاظو معاني او دَ مشکل عبارتونو حل او وضاحت به يې هم يادول. او دَ هر يو درس موضوعات به هم قسما قسم وو. دَ هغهٔ دَ ټولو استاذانو شمار ډېر مشکل دې. البته دَ هغوئ حالات ليکونکو دَ هغوئ دَ شپاړسو استاذانو نومونه ليکلي دي.

(۱) ابو ابراهيم اسحاق بن احمد مغربیؒ.
(۲) ابی محمد عبدالرحمٰن بن نوح مقدسیؒ.
(۳) ابی حفص عمر بن اسعد رابعی اربلیؒ.
(۴) ابوالحسن سلار بن الحسن اربلیؒ.
(۵) ابواسحاق ابراهيم بن عيسٰی مرادیؒ.
(۶) ابوالبقاء خالد بن يوسف نابلسیؒ.
(۷) ضياء بن تمام حنفیؒ.
(۸) ابوالعباس احمد بن سالم مصریؒ.
(۹) ابوعبدالله محمد بن عبدالله بن مالک جيانیؒ.
(۱۰) ابوالفتح عمر بن بندر تفليسیؒ.
(۱۱) ابواسحاق ابراهيم بن علی واسطیؒ.
(۱۲) ابوالعباس احمد بن عبدالدائم مقدسیؒ.
(۱۳) ابومحمد اسماعيل بن ابی اليسر تنوخیؒ.
(۱۴) ابومحمد عبدالرحمٰن بن سالم انباریؒ.
(۱۵) ابوالفرج عبدالرحمٰن بن محمد بن قدامه مقدسیؒ.
(۱۶) ابومحمد عبدالعزيز بن محمد انصاریؒ.

دَ امام نوویؒ شاګردان؛

دَ دومره اوچتې مرتبې او درجې او لوئ شهرت والا محدث او دَ دومره اوچت عالِم دَ شاګردانو اندازه لګول مشکل دي. خصوصًا په هغه زمانه کښې چه طالبان به په ديني علمونو کښې دومره پتنګان وو لکه څنګه چه دَ بلې شمعې پتنګان ډېر وي. بس دلته صرف دَ يو څو شاګردانو نومونو ليکلو باندِ اکتفاء کوله شي.

(۱) علاؤالدين بن عطارؒ. (۲) ابوالعباس احمد بن ابراهيم بن مصعبؒ.
(۳) ابوالعباس احمد بن محمد جعفریؒ. (۴) ابوالعباس احمد بن فرج اشبيلیؒ.
(۵) رشيد اسماعيل بن المعلم حنفیؒ. (۶) ابوعبدالله محمد ابن ابی الفتح حنبلیؒ.
(۷) ابوالعباس احمد بن ضرير واسطیؒ. (۸) جمال الدين سليمان بن عمر درعیؒ.

(۹) ابوالفرج عبدالرحمٰن بن محمد مقدسیؒ۔ (۱۰) بدر محمد بن ابراهيم بن جماعهؒ۔ (۱۱) شمس محمد بن ابی بکر بن النقيبؒ۔ (۱۲) شهاب محمد بن عبدالخالق انصاریؒ۔ (۱۳) شرف هبة الله بن عبدالرحيم البارزیؒ۔ (۱۴) ابوالحجاج يوسف بن عبدالرحمٰن المزیؒ۔

دَ امام نوویؒ زهد او تقویٰ

کهٔ دَ امامؒ په زهد او فضل کښې لوئے مقام دَر، نو په پرهيزګارۍ کښې هم اوچت مقام ته رسيدلے وو۔ دَ علم او فضل سره په غريبۍ کښې هم مشهور وو۔ علامه ذهبیؒ فرمائيلی دی چه هغه متقی، قناعت پسند او نهايت پرهيزګار، په ظاهر و باطن کښې الله طرفته متوجه او سيدونکے، درويش صفت بزرګ وو۔ نفسانی خواهشاتو، ښهٔ لباس، عمده خوراک، او ظاهری تجمل سره ئے څهٔ علاقه نهٔ لرله۔ غټ پټ لباس او اوچ تلک خوراک دَ هغوئ هميشه ليارهٔ معمول پاتے شوے وو۔

علاؤالدين بن عطاءؒ وائی چه هغهٔ به دَ دمشق ميوه جات ځکه هم نهٔ خوړل۔ چا ترے تپوس اوکړو چه ولے ئے نهٔ خوړئ؟ نو وے وئيل چه دَ دغه ځائے باغونه اکثر وقف دی۔ او دَ ډيرو باغونو مالکان يتيمان دی۔ او دَ هغے دَ انتظام چه څوک ذمه واردی۔ هغوئ خپل معاملات په ښه طريقے سره نهٔ چلوی۔ نو په داسے حالت کښې زهٔ هغه څنګه استعمال کړم۔

رشيدالدين اسماعيل حنفیؒ وائی چه ما هغهٔ لره حمام ته داخليدو په وخت، او لباس او خوراک او نورو حالاتو کښې په خپل ځان سختی او تنګی برداشت کولو باندے اوليدلو نو ما هغه ملامته کړو۔ او ورته مے اووئيل چه ما ته خطره دَ دے خبرے ده چه هسے نهٔ چه تا ته بيماری اولګی۔ او تا ته چه مخکښې کوم مقصدونه پراته دی، ستا په دے عمل سره تا ته څهٔ نقصان او تکليف اونهٔ رسی۔ نو هغهٔ دَ دے جواب کښې ماته اووئيل چه فلانی روژے ساتلے او هر وخت عبادت کښې مشغول وو چه هډوکی ئے تور شو۔

دَ هغهٔ په دے جواب باندے زهٔ پوهه شوم چه څمونږ په ماـ ول کښې هغهٔ ته نهٔ دَ خپل ځانے جوړولو فکر شته او نهٔ څهٔ غرض ئے دَ خپل مقام سره شته۔

هغوئ به دَ اُمراؤ او خُلفاؤ توجه امر بالمعروف او نهی عن المنکر طرفته راګرځوله او دَ خطونو په ذريعه به ئے ما تحتو خلکو سره دَ انصاف کولو او دَ ظلم نهٔ کولو او حقدارو ته دَ هغوئ دَ حق ورکولو په باره کښې نصيحتونه کول

دَ امام نوویؒ کتابونه

اګرچه په دے عالم کښې دَ هغوئ قيام او اوسيدل صرف شپږ ۴۶ څلويښت کاله وو۔ ليکن الله تعالیٰ هغهٔ له په دغه مختصر او لږ وخت کښې دومره برکت واچولو چه په دومره لږه موده کښې هم هغوئ دَ تصنيفاتو او تاليفاتو قابلِ قدر ذخيره او بے بها علمی جواهراتو خزانه په ميراث کښې دے اُمت ته حواله کړه۔ دَ هغوئ دَ ژوندون په تذکرو کښې چه دَ هغوئ دَ تصنيفاتو کوم تفصيلات ملاؤ شوی دی۔ دَ هغے تعداد لاندے ليکلے شوے دے۔

(۱) دَ صحيح بخاری دَ "کتاب الايمان" پورے شرحه ده۔ دَ هغے متعلق امام نوویؒ په

خپله دَ صحيح مسلم په شرحه کښې ارشاد فرمائی، چه ما په دے شرحه کښے ډير عمده، نفيس او قيمتی علوم او معارف بيان کړيدی۔

(۲) دَ صحيح مسلم شرحه "المنهاج" متعلق دَ هغهٔ ارشاد او وينا ده۔ کهٔ دَ قدرمندو، دَ کمی او دَ خلقو دَ بے وسئ او کمزورئ ئې خيال نهٔ ساتلے نو دے شرحه کښے به ئې دومره تشريح او تفصيل نه کاراخستے وو چه دَ هغې دَ جلدونو شمار به دَ سلو نه زيات شوے وو۔ ليکن اوس درميانه درجه يعنی بهتره درجه باندِ اکتفاء کوم۔

حاضر وخت کښے دا شرحه په دوٶ جلدونو کښے اوليکلے شوه۔ شيخ شمس الدين محمد بن يوسف حنفی قونوی متوفی ۷۸۸ھ دَ دے شرحے اختصار هم کړے۔

کتاب رياض الصّالحين - فی کلام سيد المرسلين

(۳) دَ الله دَ خوانه دا يو قبول شوے کتاب دے۔ په غير دَ مبالغے نه وئيلے شی چه په لکهونو کتابونه ليکلے شوی او چاپ کړے شوی دی۔ او دينی او علمی شوق لرونکے او په عربئ پوهيدونکے مسلمان دَ دے دَ کتلو نه بے نصيبه نهٔ دے۔ نن ځمونږ په زمانه کښے عربی اسلامی ملکونو او دَ هغې مخيّر او دَ خير خورونکو خلقو چه دَ دے کتاب په چاپ کولو او تقسيمولو کښے ځومره خپل شوق او جوش ښودلے دے۔ دَ هغې مخکښے چرته مثال نهٔ دے تيرشوے۔

او حقيقت دا دے چه دَ ورزانه ژوند تيرولو متعلق دَ احاديثو نبويه صلے الله عليه وسلم څهٔ مضبوط او معتبر کتاب او مجموعه په دے اندازه او طريقه کښے نشته۔ او دا ټول څه ځما په کمزوری خيال کښے دا دَ مصنف اخلاص او دَ صحيح نيت نتيجه ده۔

دَ خپل تصنيف په باره کښے مصنفؒ دَ دے په ديباچه کښے ليکلی دی چه ما دا کتاب دَ عامو مسلمانانو دَ ژوند خائسته کولو او برابرولو دپاره ليکلے دے۔ او ځما دا ارمان دے چه يو عام مسلمان دا کتاب اولولی او په خپلو کارونو کښے داسے تبديلی راولی چه دَ هغهٔ دَ آخرت دَ ژوندون دپاره فائده مَنْ او دَ خلاصی ذريعه وی۔

دَ آخرت لاره ښودونکو خلقو او دَ رسول کريم صلی الله عليه وسلم دَ تابعدارئ شوق مندو مسلمانانو دپاره دَ صحيح او نيغے لارے ښودلو دپاره دا يو بے مثاله تصنيف دے۔ دَ اوچولوندو نه خالی دے او دَ شکونو نه صاف دے۔ چه دَ هغې يو خصوصيت دا هم دے چه دَ يو عالِم او فاضل په شان يو عام مسلمان هم يو شان فائده حاصلولے شی۔ ځکه چه په دے کښے دَ زړونو دَ پاکوالی سره سره دَ عملونو دَ جوړولو او دَ ښهٔ اخلاقو او خويونو جوړولو سامان هم موجود دے۔ چه هغه دَ عالم دپاره هم او عام سړی دپاره هم ضروری دے۔

دَ هغهٔ دا تصنيف چه چرته دَ ظاهری احوالو دَ پاکئ دپاره قيمتی نسخه ده۔ نو هلته دَ باطنی صفتونو دَ پاکوالی هم په دے کښے پوره حفاظت موجود دے۔

دَ دے اهم عنوانات دا دی۔ دَ ګناهونو نه توبه، هر عمل کښے اخلاص، هر وخت کښے رښتيا ويل، په الله توکل او اعتماد، دَ خپل ځان حساب، په خپلو عملونو دَ سوچ دپاره مراقبه، پرهيزګاری، فکر او سوچ، کوشش په احکام وارکانو کښے، وېره او اميد دَ الله نه، او

تعلق ساتل دَ خپلوانو سره -

دَ علم خاوندانو ښنتیا وئیلی دی. چه دَ مُسلم دَ شرحے نه پس " رياض الصالحين " ته چه کوم مقام او درجه حاصله ده - هغه بل یو کتاب ته نهٔ ده حاصله -

(۴) کتاب الروضة " دَ " شرح کبیر " دَ امام رافعیؒ مختصر شرح ده -

(۵) شرح مهذب - (۶) کتاب الاذکار - (۷) اربعین - (۸) تبیان (۹) دَ تبیان خلاصه - (۱۰) فتاویٰ - (۱۱) ایضاح - (۱۲) ایجاز - (۱۳) الفاظ التنبیه - (۱۴) الترخیص فی القیام لاهل الفضل - (۱۵) الارشاد فی علوم الحدیث - (۱۶) التقریب - (۱۷) المهمات - (۱۸) طبقات الفقهاء - (۱۹) تهذیب الاسماء والصفات - (۲۰) مختصر اسد الغابه - (۲۱) مناقب الشافعیؒ - (۲۲) شرح بخاری - (۲۳) شرح سنن ابی داؤد (ناقص) - (۲۴) جامع السنة - (۲۵) خلاصة الاحکام فی مهمات الاحکام - (۲۶) اُخری من التنبیه - (۲۷) ثالثة من الوسیط - (۲۸) رساله فی قسمة الغنائم - (۲۹) بستان العارفین -

دَ امام نوویؒ دَ آخرت سفر:

سنه ۶۷۶ھ کښې هغه نوِیٰ کلی ته واپس راغے - وطن ته دَ واپس کیدو نه مخکښې ئے دَ وقف هغه کتابونه چه دَ مطالعے دپاره ئے راخستے وو واپس کړل. بیا دُعا دَ پاره دَ خپلو استاذانو او مشرانو زیارت له لاړو. او هغوئ ته ئے دَ بخښش دُعاګانے اوکړے. او وے ژړل - بیا ئے خپلو ملګرو او دوستانو سره ملاقاتونه هم اوکړل - او دَ هغوئ نه ئے رخصتی واخستله دَ دهٔ دَ رخصت کولو دپاره دَ دمشق نه دَ هغه ځائے دَ اوسیدونکو یوه ډله بهرته راغله - چا تپوس اوکړو چه اوس خوستا سره دَ کینا ستو وخت دے - هغهٔ اوفرمائیل - " دوه سوه^{۲۰۰} کاله پس " - دوستانو ئے پوهه شول چه همیشه جدائی طرف ته ئے اشاره اوکړه، اوس قیامت کښې به بیا ملاقات کیږی -

دمشق نه بیا " بیت المقدس " ته لاړو - دَ والد صاحب او دَ بیت المقدس دَ زیارت نه پس ئے دَ مقام ابراهیم علیه السلام " الخلیل " زیارت اوکړو - او بیا خپل کلی " نوِیٰ " ته واپس راغے - هلته رسیدو سره بیمار شو - او خوارلسم^{۱۴} دَ رجب سنه ۶۷۶ھ کښې دَ چارشنبے په ورځ وفات شو -

دَ هغهٔ دَ وفات خبر چه کله دمشق ته اورسیدو. نو دمشق او په خوا وُ شا علاقه کښې دَ غم او خفګان وریځې او تیارے خورے شوے، او دَ افسوس آوازونه او فریادونه هر ځائے کښې اوچت شول. مسلمانان دَ هغهٔ په وفات ډیر پریشانه شول، تردے پورے چه قاضی القضاة عزالدین محمد بن صائغ دَ یوے ډلے سره " نوِیٰ " مقام ته دَ هغهٔ قبر ته دُعا دپاره لاړو -

تقریبًا شلو^{۲۰} شاعرانو په شپږ سوو^{۶۰۰} شعرونو باندِ مشتمل دَ هغهٔ دَ غم شعرونه اولیکل - (الله دِ پرے ډیر ډیر رحمتونه اوکړی)

کله چه دَ هغهٔ وفات کیدو نو پلار ئے ژوندے وو -

دَ خپل پلار سره ئے سنه ۶۵۰ھ کښې حج اوکړو او تقریبًا یوه نیمه میاشت په مدینه

دَ کتاب سريزه

دَ مصنف رحمة الله تعالیٰ عليه نه۔

دَ ټولو صفتونو حقدار هغه يو ذات، غالب، په ټول مخلوق قابو والا او معافي کوونکے هغه يو ذات دے۔ شپه په ورځ ځکه بدلوي چه هوښياران او دَ پند خاوندان او دَ سترګو نظر والا دپاره نصيحت او عبرت وي۔ الله هغه ذات دے چه خپلو بندګانو کښے چه ئے خوک خوښ و منتخب کړي نو دَ غفلت دَ خوب نه ئے بيدار کړي۔ او پرهيزګاري و صبر ورته ورکړي۔ او په غور، فکر او سوچ، نظر، مراقبه او مشاهده کښے ئے مشغول کړي و نصيحت قبلولو او په غفلت باندې دَ خبرداره کولو صفت لازم ورکوي۔ په تابعدارئ کښے هميشه کوشش کوي او دَ آخرت دَ ورځے دپاره تيارے هم کوي، دغسے چه کوم کارونه دَ عذاب سبب دي دَ هغے نه ئے دَ بچ کيدو توفيق ورکړے دے۔ او دَ حالاتو دَ بدليدو سره سره په هغے باندې قائم او دَ مضبوط پاتے کيدو طاقت ئے ورکړے دے۔

زهٔ دَ هغه اوچت نه اوچت ذات، دَ ټولو نه پاک ذات او ټولو صفتونو حقدار ذات تعريف کوم۔ او ګواهي ورکوم چه دَ هغه بهتر رويه کوونکي، ډير مهربان، زيات شفقت کوونکي و رحم کوونکي ذات نه بغير هيڅ خوک دَ بندګئ لائق نشته۔ او ګواهي ورکوم چه زمونږ مشر لارښودونکے محمد مصطفیٰ صلی الله عليه وسلم دَ هغهٔ بنده او رسول او نږدے دوست او ملګرے دے چه نيغه لاره ښودونکے او حق دين ته دعوت ورکوونکے دے۔ په هغهٔ باندې، په ټولو پيغمبرانو، دغسے په نيکانو بندګانو او دَ هغوئ په اولاد باندې دِ هميشه بے شماره نعمتونه نازل وي۔

دَ ثنا صفت نه پس الله تعالیٰ په خپل کلام کښے ښکاره فرمائيلي دي "چه ما پيريان او انسانان دے دپاره پيدا کړي دي چه هغوئ زما عبادت اوکړي۔ زهٔ دَ هغوئ نه دا نهٔ غواړم چه زما دَ روزئ بندوبست اوکړي۔ او نهٔ دا غواړم چه ماته خوراک څښاک راکړي"

(سورة ذاريات ٥٦۔٥٧)

دَ الله تعالیٰ دا ارشاد دَ دے خبرے ښکاره دليل او ثبوت دے چه دَ انسانانو او دَ پيريانو پيدائش صرف دَ الله دَ بندګئ دپاره شوے دے۔ نو ضروري خبره دا ده چه هغوئ خپله پوره زندګئ او ژوند کښے دَ خپل پيدائش مقصد مخامخ کيږدي۔ او دَ دنيا مزے، شوشا او ښائست او نور زړه راښکونکي څيزونو په وجه دَ خپل پيداوښت مقصد هير نهٔ کړي۔ دَ دے نه ځان ساتل ضروري دي۔ او يو طرفته کيدل پکار دي۔ ځکه چه دا دَ دُنيا کور فنا او ختميدونکے دے۔ دا دَ هميش والي کور نهٔ دے۔ دَ دے مثال دَ يو مسافرخانے دے يا دَ معمولي ايساريدو ځائے دے چه لږ ساعت وروسته ترے بيا روانيږي۔ دَ خوشحالئ ځائے نهٔ دے۔ دا دَ ژوندون دَ شاهراه سره پريښوستونکے ګوټ دے۔ هميشه دَ اوسيدو ځائے نهٔ دے۔ دَ دے وجے نه بيدار او تکړه دَ الله هغه بندګان دي چه هغوئ شپه او ورځ دَ خدائے پاک په بندګئ او عبادت کښے وخت تيروي۔ او هم دغه خلق پوهه، هوښيار او عقل والا دي۔ الله تعالیٰ دَ دے ختميدونکے زندګئ

نقشه د دې بیان کړې ده. د دنیا د ژوند مثل یعني حالت او کیفیت داسې دے. چه مونږ د آسمان نه باران نازل کړو. بیا دے باران سره د انسانانو او پیریانو خوراکه د زمکې نه ډیره پیدا کړو. تر دے پورې چه زمکې د پیداوار او د فصلونو د تازګۍ نه پوره حصه واخسته. او مالکانو اوګڼړله چه مونږ د دے پیداوار اوس پوره پوره مالکان او قبضه کوُنکی شو. پس ناخاپه څمونږ د طرف نه د شپې یا د ورځې په څهٔ حصه کښې په دے فصل او پیداوار باندِ آفت راشی. او مونږ هغه داسې ختم چه بالکل هڅو پرون موجود نهٔ وو. او مونږ د فکر او سوچ کوُنکو دپاره دغسې خپل آیتونه صفا صفا بیانوو. (سورهٔ یونس - ٢٤)

په دے سلسله کښې نور هم ډیر قرآنی آیتونه موجود دی. دا مضمون یو شاعر هم ډیر ښهٔ نظم سره بیان کړے دے.

ترجمه: "د الله تعالیٰ ډیر عاقلان او لرے نظر کوُنکی بندګان داسې شته چه د دنیا نه ډډې ته شوی دی. او د فتنو نه ویریږی. او دنیا ته ئې ډیر په غور سره اوکتل. او په دے پوهه شول چه دا دنیا د ژوندون وطن او د پاتے کیدو ځائے نهٔ دے. هغوئ دنیا یو جَوْ (اُوربشه) د سمندر اوګڼړلو. او دے نه د پورے وتو د پاره ئې د نیکو اعمالو کشتئ په دے کښې واچوله.

چه د دنیا دا حال دے څنګه چه ما بیان کړو. او څمونږ ه حال او څمونږ ه د پیدائش مقصد هغه دے، څنګه چه مخکښې بیان شو. نو اوس هر مسلمان، عاقل، بالغ او پوهه خلقو له ضروری او لازم دی چه هغه خپل ځان د دے طریقے پابند کړی. کوم چه د نیکانو او د خوښ کړے شوو خلقو طریقه او مذهب دے. او د عاقلانو او هوښیارو خلقو د طریقے تابعداری اوکړی. او کوم مقصد طرفته چه ما اشاره کړے ده. د هغې د تیاری او تابعدارئ پابندی اوکړی. ځکه چې نه د ټولو نه بهتره او د ټولو نه درسته او صحیح لاره، مذهب او طریقه کهٔ یوه کیدے شی نو صرف هغه لاره ده کومه چه څمونږ نبی محترم سید الاولین والاخرین صلی الله علیه وسلم سره نسبت او تعلق لری. او دا د تابعدارئ سیده لار ده.

الله تعالیٰ فرمائی: په نیکئ او پرهیزګارئ کښې یو بل سره امداد کوئ. (مائده)

او صحیح او معتبر سند سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد نقل شوے دے، چه ترڅو پورے مسلمان د خپل مسلمان ورور په امداد کښې لګیدلے وی. نو الله تعالیٰ د دغه بنده مددګار جوړیږی. (مسلم، نسائی، ترمذی)

دغسې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: کهٔ یو کس د نیکئ کار او خبره چا ته اوښودله نو ښودونکی ته هم د عمل کوُنکی برابر اجر او ثواب ملاویږی.
(مسلم، ابوداوُد)

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: هدایت طرفته دعوت ورکوُنکی ته چه څومره ثواب ورکولے کیږی، هغه هومره برابر تابعداری کوُنکی ته هم ورکولے شی. او حال دا دے چه د دواړو په ثواب کښې به هیڅ کمے نهٔ راځی.
(مسلم، ابوداوُد، ترمذی، نسائی)

داسې روایت بیان شوے دے چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضرت علیؓ ته

ارشاد اوکړو چه اے علیؓ! چه الله تعالیٰ ستاسو په ذریعه یوکس ته هم هدایت اوکړی نو دا ستاسو دپاره د سرو اوښانو نه هم ډیر بهتر دے۔ (بخاری ومسلم)

سرۀ اوښان د عربو په نزد ډیر قیمتی ګڼل کیدۀ۔

د دے آیاتونو او احادیثو له مخه ما دا اراده اوکړه چه د مختصر والی سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د داسے صحیح احادیثو یوه مجموعه اولیکم چه لوستونکی او کتونکی دپاره د آخرت د صفا او هوارے لارے کار ورکړی۔ اوچه د هغې نه ورته ظاهر او باطن آداب حاصل شی۔ او دین سره د شوق او د الله پاک نه د ویرے آداب او د سالکینو د ټولو آدابو مجموعه وی۔ اوچه د پرهیزګارۍ، د خوشحالۍ، د ښو اخلاقو بلندی، د زړۀ صفائی، د هغې علاج، د اندامونو حفاظت، د کوږوالی ختمول او د نیکانو خلقو د نورو مقصدونو حاصلولو دپاره په صحیح احادیثو مشتمل وی۔ ما په دے مجموعه کښې په ځان دا لازمه کړے ده او پابندی مې کړے ده چه د حدیثو مشهور او د صحیح کتابونو نه واضح او صحیح سندونو والا روایتونه اولیکم۔ او ما د کتاب د بابونو شروع په قرآنی آیتونو سره کړے ده۔ او د ضرورت په وخت کښې مختصر او ښۀ اشاراتو په ذریعه د یوے پټے معنیٰ او مقصد طرف ته لاره هم ښودلے ده۔

کله چه د حدیث په آخر کښې د "متفق علیه" لفظ راشی نو ځما مراد به د هغې نه "بخاری ومسلم" وی۔

ځما د الله تعالیٰ نه دا اُمید دے، کۀ دا کتاب پوره کړے شی چه څوک ئې کوری یا ئې وائی هغه د نیکۍ او پرهیزګارۍ په لاره تلو والا جوړ کړی۔ او د بدو نه د بچ کیدو یوه ذریعه جوړه کړی۔

دے کتاب نه چه څوک فائده اخستونکی دی، هغه ورونړو ته مې خواست دے چه ما، ځما مور او پلار، ځما اُستاذان او دوستان بلکه ټول مسلمانان دِ په خپلو دُعاګانو کښې یاد کړی۔

په الله تعالیٰ او د هغۀ په مهربانۍ ځما پوره یقین دے۔ او ځما پرے توکل دے او هم هغۀ ته مې ځان سپارلے دے۔ او الله تعالیٰ ما دپاره کافی دے۔ او هغه ځما بهتر کارساز او پشت پناهی کوونکے دے۔

نیکۍ طرفته د راوستو او د بدو نه د منع کولو او بندولو طاقت بغیر د الله تعالیٰ نه هیچا کښې نشته۔ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ط

د ریاض الصّالحین پښتو مترجم د اولے حصے د مضامینو فهرست

باب	عنوان	مخ	باب	عنوان	مخ
	د ریاض الصالحین او د هغې د مصنف ذکر	۳	۴	د ربښتیاؤ بیان	۶۰
	د مصنفؒ د کتاب سریزه	۸	۵	د مراقبې بیان	۶۳
۱	د اخلاص بیان	۱۴	۶	د پرهیزګارۍ بیان	۷۰
۲	د توبې بیان	۲۲	۷	د یقین او د توکل بیان	۷۳
۳	د صبر بیان	۴۰	۸	په دین د قائم او همیشه اوسیدو بیان	۸۱

باب	عنوان	مخ
۹	دَ اللّٰه په مخلوق کښې دَ غور او فکر بیان	۸۲
۱۰	دَ خیر په کارونو کښې دَ وړاندې کید و بیان	۸۳
۱۱	مجاهده او دَ سختئ تیرولو بیان	۸۷
۱۲	دَ ژوند په آخری ورځو کښې دَ نیکو بیان	۹۷
۱۳	دَ نیکو عملونو دَ ډیرو طریقو بیان	۱۰۰
۱۴	دَ اللّٰه دَ تابعدارئ او دَ عبادت (دَ درمیانوالی بیان	۱۱۲
۱۵	همیشوالے په نیکو عملونو	۱۲۲
۱۶	دَ سنتو حفاظت او آداب	۱۲۴
۱۷	دَ اللّٰه حُکم په ځائے راوړل	۱۳۱
۱۸	بدعت یعنی دین کښې نوی څیزونه راپیدا کول منع دی	۱۳۲
۱۹	دَ نیکئ او دَ خیر کارونه نوی کول.	۱۳۵
۲۰	نیکئ ته لاره سمول او دَ گناه دعوت	۱۳۷
۲۱	نیکئ او پرهیزګارئ کښې امداد	۱۳۹
۲۲	خیرخواهی (نصیحت)	۱۴۱
۲۳	دَ نیکئ حُکم او دَ بدئ نه دَ منع کیدُ بیان	۱۴۳
۲۴	نورو ته نصیحت او خپل ځان شرمول	۱۵۱
۲۵	دَ امانت ادا کولو بیان	۱۵۲
۲۶	ظلم او نړ یا تے حرام دے	۱۵۹
۲۷	دَ مسلمان عزت او حقونه	۱۶۷
۲۸	عیبونو باندې پرده اچول	۱۷۲
۲۹	دَ مسلمانانو حاجت پوره کول	۱۷۵
۳۰	دَ سفارش ترغیب	۱۷۷
۳۱	دخلقو ترمینځ دَ صُلحے کولو بیان	۱۷۸
۳۲	دَ غریب او کمزوری مسلمان فضیلت.	۱۸۱
۳۳	غریبانو، کمزورو، یتیمانو او جینکو سره سلوک	۱۸۶
۳۴	ښځو سره ښه سلوک	۱۱۲
۳۵	ښځے باندې دَ خاوند حق	۱۹۴
۳۶	بال بچ باندې دَ خرچ کولو فضیلت	۱۹۹
۳۷	دَ اللّٰه په لار کښې ښه څیزونه خرچ کول	۲۰۲
۳۸	بال بچ او خپلوانو ته دَ نیکئ حکم کول	۲۰۳
۳۹	دَ کاوند یتوب حق	۲۰۶
۴۰	دَ مور او پلار سره ښه سلوک	۲۰۹
۴۱	دَ مور او پلار نافرمانی او تعلق پرېښودل	۲۲۰
۴۲	دَ مور پلار دوستانو او دَ ښځے خپلوانو سره سلوک	۲۲۳
۴۳	دَ نبی علیه السلام دَ اهلِ بیتو عزت او اکرام	۲۲۷
۴۴	دَ علماؤ، دَ بزرګانو، دَ مشرانو عزت کول	۲۲۹
۴۵	نیکانو سره مینه او دَ هغوئ خدمت کښې حاضری.	۲۳۵
۴۶	دَ اللّٰه دپاره مینه، او مینه ښکاره کول	۲۴۳
۴۷	دَ اللّٰه دَ خوښو بندګانو علامے	۲۴۷
۴۸	دَ اُمت نیکانو او بے وسه خلقو ته تکلیف ورکول	۲۵۰
۴۹	احکام په ظاهر جاری کول او باطن اللّٰه ته سپارل	۲۵۱
۵۰	دَ اللّٰه نه ویره	۲۵۵
۵۱	اُمید او طمع	۲۶۳
۵۲	دَ اللّٰه تعالیٰ نه دَ ښه ګمان فضیلت	۲۸۱
۵۳	ویره او طمع	۲۸۳
۵۴	اللّٰه نه ویره او زاری منت	۲۸۵
۵۵	غریبی او پرهیزګاری	۲۹۰
۵۶	ولږه، تنګی، صبر، فضیلت او دَ نفسانی خواهش بدی	۳۰۴ 〃
۵۷	صبر او درمیانه روی	۳۲۵
۵۸	بغیر غوښتلو نه اخستل	۳۳۳
۵۹	خپل لاس سره ګټه کول	۳۳۴
۶۰	دَ سخاوت بیان	۳۳۵
۶۱	دَ حرص او دَ شومتیا بدی	۳۴۳
۶۲	قربانی او دَ نورو غم خواری	۳۴۴
۶۳	دَ آخرت، رحمت او دَ برکت حرص	۳۴۷
۶۴	شکر کوُنکے مالداره.	۳۴۹

باب	عنوان	مخ
۶۵	مرګ یادول	۳۵۱
۶۶	هدیرو ته تلل	۳۵۶
۶۷	دَ مصیبتونو دَ ویرې مرګ غوښتل	۳۵۷
۶۸	دَ شکی څیزونو نه ځان ساتل	۳۵۸
۶۹	دَ فتنې زمانه کښې ځان له کیدل	۳۶۲
۷۱	خلقو سره دَ تعلق ساتلو فضیلت	۳۶۵
	دَ مؤمن عاجزی	″
۷۲	تکبر او خود پسندی	۳۶۹
۷۳	ښهٔ اخلاق	۳۷۳
۷۴	صبر، پوهه او نرم خوئی	۳۷۷
۷۵	معافی کول او دَ ناپوهه خلقونه ډډې ته کیدل	۳۸۱
۷۶	برداشت کول او زغمل	۳۸۲
۷۷	اصولو دَ شریعت نه خلاف کولو باندِ غُصه	۳۸۴
۷۸	لاس نه لاندِ خلقو سره نرمی او خیرخواهی	۳۸۷
۷۹	انصاف والا بادشاه	۳۸۹
۸۰	دَ بادشاه تابعداری مګر دَ شرعے خلاف نهٔ	۳۹۱
۸۱	حکومت او عهده غوختل	۳۹۷
۸۲	دَ صلاحیت والا خلقو او دَ نیکانو منتخب کول	۴۰۰ ۳۹۹
۸۳	عهده نه ورکول	۳۹۹
۸۴	شرم او حیا	۴۰۲
۸۵	راز ساتل	
۸۶	وعده کول او پوره کول	۴۰۵
۸۷	ښهٔ عادت او په هغې همیشوالے	۴۰۷
۸۸	دَ ملاقات په وخت پراخ تندے	۴۰۸
۸۹	واضحه او صفا خبرې اترې	۴۰۹
۹۰	ضروری او اهم خبرې ته چپ کیدل	″
۹۱	درمیانه وعظ او نصیحت	۴۱۰
۹۲	تسلی او سکون	۴۱۲

باب	عنوان	مخ
۹۳	عبادت کښې تسلی او سکون	۴۱۲
۹۴	میلمنو سره عاجزی	۴۱۳
۹۵	خوشحالی او مبارکی	۴۱۵
۹۶	دَ رخصت کولو په وخت وصیت	۴۲۲
۹۷	مشوره او استخاره	۴۲۵
۹۸	دَ خیر کارونو په مختلفو لارو تلل راتلل	۴۲۶
۹۹	هر ښهٔ کار په ښی لاس کول	۴۲۷
۱۰۰	دَ خوراک آداب	۴۳۰
۱۰۱	خوراک کښې عیب لټول	۴۳۲
۱۰۲	روژه دار ته خوراک وړاندِ کول	۴۳۳
۱۰۳	بغیر غوختلو نه بل کس ځان سره بوتلل	″
۱۰۴	دَ خپلې مخې نه خوراک کول	۴۳۴
۱۰۵	کجورې وغیره دوه، دوه خوړل۔	۴۳۵
۱۰۶	خوراک سره دَ نهٔ مړیدلو بیان	″
۱۰۷	کاسه او پلیټ کښې دَ خپل طرف نه خوراک	۴۳۶
۱۰۸	ډډه او اړخ لګول او خوراک	۴۳۷
۱۰۹	درېوګوتو سره خوراک کول	۴۳۸
۱۱۰	په جمع یو ځائې خوراک کول	۴۴۰
۱۱۱	دَ څښلو آداب	″
۱۱۲	مشکیزې نه خُله لګولو سره او بهٔ څښل	۴۴۲
۱۱۳	دَ څښلو په لوښی کښې پوکے کول	۴۴۳
۱۱۴	په ولاړه او بهٔ څکل	۴۴۴
۱۱۵	خلقو باندِ څښونکے دَ ټولو نه آخر وی	۴۴۶
۱۱۶	دَ څښلو لوښی	۴۴۷
۱۱۷	کتاب اللباس سپینې جامې	۴۴۹
۱۱۸	خوښ لباس او جامې	۴۵۳
۱۱۹	دَ جامو انداز او پیمائش	″
۱۲۰	دَ عاجزئ دَ وجې نه قیمتی جامې	۴۶۰

باب	عنوان	مخ	باب	عنوان	مخ
	اغوستل پریخودل		۱۳۲	دَ سلام طریقه	۴۷۷
۱۲۱	درمیانه جامے	۴۶۰	۱۳۳	دَ سلام آداب	۴۸۰
۱۲۲	دَ ریښمو جامے	۴۶۱	۱۳۴	بار بار سلام کول	۴۸۱
۱۲۳	دَ ریښمو جامو اغوستلو جائزوالے	۴۶۲	۱۳۵	کور کښے دَ داخلیدو په وخت سلام	۴۸۲
۱۲۴	دَ ښُناورو په خرمنو کیناستل	۴۶۳	۱۳۶	ماشومانو باندِ سلام اچول	〃
۱۲۵	نوے جامے او خپلئ اغوستل	〃	۱۳۷	ښځے باندِ سلام	〃
۱۲۶	جامه دَ ښی طرفنه اغوستلو سره شروع کول	۴۶۴	۱۳۸	کافر باندِ سلام اچول منع دی	۴۸۴
۱۲۷	دَ څملاستو آداب	〃	۱۳۹	دَ رخصت اخستلو په وخت سلام	۴۸۵
۱۲۸	ستونی ستاغ سیده څملاستل	۴۶۶	۱۴۰	اجازت غوښتل	〃
۱۲۹	دَ مجلس آداب	۴۶۷	۱۴۱	دَ اجازت اخستلو طریقه	۴۸۷
۱۳۰	خوب او دَ هغے متعلقات	۴۷۲	۱۴۲	دَ پرنجی جواب	۴۸۸
۱۳۱	د سلام فضیلت	۴۷۴	۱۴۳	دَ ملاقات په وخت لاس ورکول	۴۹۱

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

رِيَاضُ الصّٰلِحِيۡن پښتو مُترجم

اوّله حصّه

باب ۱

فائده:- دا باب دریے قرآنی آیتونو او دولسو احادیثو باندِ مشتمل دے۔ قرآنی آیتونو او احادیثو کښے چه دَ کومو کارونو او حکمونو بیان دے دَ هغے اجمالی کیفیت دَ باب دَ عنوان نه ظاهر دے او اخلاص دَ هر کار جوهر دے، هر عمل کښے طاقت اخلاص سره پیدا کیږی۔ او دَ دے مطلب دا دے چه هر کار صِرف دَ الله تعالیٰ دَ حُکم په ځائے راوړلو او دَ هغهٔ دَ خوشحالئ دپاره اوکړے شی۔ او چه دَ دے نه دَ دُنیا څهٔ خواهش پوره کول مقصد نهٔ وی او نهٔ څهٔ ښودنه مقصد وی او نهٔ شهرت مقصد وی۔

حدیث نمبر ۱۲ چه هغے کښے دَ "غار واقعه" ده، مونږ ته ښائی چه دَ مُصیبت او تکلیف نازلیدو په وخت کښے الله تعالیٰ ته آواز کول او نیک اعمال وسیله جوړول دَ مُصیبت دَ ختمیدو دپاره فائده مند دی۔ دغسے دے حدیث نه دَ مور او پلار سره ښهٔ سلوک ساتل، ځان پاک دامن او بچ ساتل، وعده پوره کول او امانت په صحیح طریقے سره حواله کول دَ دے فضیلت بیان شوے دے۔

آیاتِ قرآن

بَابُ الْاِخْلَاصِ وَاِحْضَارِ النِّیَّةِ فِیْ جَمِیْعِ الْاَعْمَالِ !

باب دے په بیان دَ اخلاص، په اعمالو، اقوالو ظاهری او باطنی حالتونو کښے دَ نیت دار ومدار۔

قَالَ اللهُ تَعَالیٰ[1] :

(۱) وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِیَعْبُدُوا اللهَ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ حُنَفَآءَ[2] وَ یُقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَیُؤْتُوا الزَّکٰوةَ ، وَ ذٰلِکَ دِیْنُ الْقَیِّمَةِ

وَقَالَ تَعَالیٰ[3] :

(۲) لَنْ یَّنَالَ اللهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰکِنْ یَّنَالُهُ التَّقْوٰی مِنْکُمْ[4] وَقَالَ تَعَالیٰ[5] :

(۳) قُلْ اِنْ تُخْفُوْا مَا فِیْ صُدُوْرِکُمْ اَوْ تُبْدُوْهُ یَعْلَمْهُ اللهُ "

الله تعالیٰ فرمائیلی دی :

(۱) اهلِ کتابو ته دَ دے نه ماسوا بل حکم نهٔ ورکړے شوے، مګر صرف دا وو چه دَ الله تعالیٰ دا سے عبادت او بندګی او کړئ. چه بندګی صرف دَ هغهٔ دپاره خاص وی. او دَ مونځ پابندی او کړئ. او زکوٰة ورکړئ. او دا درسته او صحیح طریقه ده۔ (پ ۳۰ ، سوره بینهٔ)

(۲) دوئیم ځائے کښے دَ الله تعالیٰ ارشاد دے۔ الله تعالیٰ ته نه دَ قربانئ غوښے رسی او نه وینه۔ هغهٔ ته صرف پرهیزګاری رسیږی۔ (پ ۱۷ ، سورهٔ حج آیت ۳۷)

(۳) بل ځائے ارشاد دے۔ اے پیغمبره! ته او وایه۔ تاسو کهٔ په زړهٔ کښے څهٔ خبره پټوئ یا ښکاره کوئ۔ الله تعالیٰ ئے هرحال کښے پیژنی۔ (پ ۳ ، آل عمران آیت ۲۹)

احادیث نبویؐ

۱۔ وَعَنْ اَمِیْرِ الْمُؤْمِنِیْنَ اَبِیْ حَفْصٍ عُمَرَ ابْنِ الْخَطَّابِ بْنِ نُفَیْلِ بْنِ عَبْدِ الْعُزّٰے ابْنِ رِیَاحِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ قُرْطِ بْنِ رَزَاحِ ابْنِ عَدِیِّ بْنِ کَعْبِ بْنِ لُؤَیِّ بْنِ غَالِبِ الْقُرَشِیِّ بْنِ الْعَدَوِیِّ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّاتِ، وَاِنَّمَا لِکُلِّ امْرِیءٍ مَا نَوٰی فَمَنْ کَانَتْ هِجْرَتُهٗ اِلَی اللهِ وَ رَسُوْلِهٖ فَهِجْرَتُهٗ اِلَی اللهِ وَرَسُوْلِهٖ

۱۔ امیر المؤمنین عمر بن الخطاب بن نفیل بن عبد العزی بن ریاح بن عبد الله بن قرط بن رزاح بن عدی بن کعب بن لؤی بن غالب القرشی العدویؓ بیان کوی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ما دا سے فرمائیلی آورېدلی دی چه ټول عملونه نیت سره تړلی دی۔ او هر یو کس ته به هغه څهٔ ملاویږی چه دَ څهٔ نیت ئے کړے وی۔ پس کهٔ الله او رسولؐ طرف ته ئے هجرت کړے وی نو دغه هجرت به ئے خاص دَ الله او دَ هغهٔ رسولؐ طرفته شمار کولے شی۔ او کهٔ څهٔ دنیاوی مقصد دپاره ئے هجرت کړے وی، یا ئے دَ یوے ښځے سره دَ نکاح کولو دپاره هجرت کړے وی، نو دَ هغهٔ

---

[1] سورة البینة آیة ۵ [2] ای مائلین عن جمیع الادیان الی دین الاسلام وذلک دین القیمة، ای الملة المستقیمه [3] سورة الحج آیة ۳۷ [4] کان اهل الجاهلیة یلطخون البیت بدماء البدن فارا د المسلمون ان یفعلوا ذلک فنزلت هذه الآیة . والمعنی والله اعلم. لن یصل الیه سبحانه الا ما ارید به وجه الله تعالیٰ فیقبله ویثیب علیه۔ [5] سورة آل عمران آیة ۲۹

وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ[1] لِدُنْيَا يُصِيْبُهَا، اَوِامْرَاَةٍ يَنْكِحُهَا فَهِجْرَتُهُ اِلٰى مَا هَاجَرَ اِلَيْهِ مُتَّفَقٌ عَلٰى صِحَّتِهِ: رَوَاهُ اِمَامَا الْمُحَدِّثِيْنَ اَبُوْ عَبْدِ اللّٰهِ مُحَمَّدُ بْنُ اِسْمَاعِيْلَ بْنِ اِبْرَاهِيْمَ ابْنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ بَرْدِزْبَهَ الْجُعْفِيُّ الْبُخَارِيُّ، وَاَبُوالْحُسَيْنِ مُسْلِمُ بْنُ الْحَجَّاجِ ابْنِ مُسْلِمِ الْقُشَيْرِيُّ النَّيْسَابُوْرِيُّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فِيْ كِتَابَيْهِمَا اللَّذَيْنِ هُمَا اَصَحُّ الْكُتُبِ الْمُصَنَّفَةِ۔

۲۔ **وَعَنْ** اُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَ اُمِّ عَبْدِ اللّٰهِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَغْزُوْ جَيْشٌ الْكَعْبَةَ فَاِذَا كَانُوْا بِبَيْدَاءَ مِنَ الْاَرْضِ[2] يُخْسَفُ بِاَوَّلِهِمْ وَاٰخِرِهِمْ قَالَتْ قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! كَيْفَ يُخْسَفُ بِاَوَّلِهِمْ وَاٰخِرِهِمْ وَفِيْهِمْ اَسْوَاقُهُمْ[3] وَمَنْ لَيْسَ مِنْهُمْ؟ قَالَ: يُخْسَفُ بِاَوَّلِهِمْ وَاٰخِرِهِمْ ثُمَّ يُبْعَثُوْنَ عَلٰى نِيَّاتِهِمْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ۔
(بخاری و مسلم)

۳۔ **وَعَنْ** عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ، وَلٰكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ، وَاِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوْا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔

وَمَعْنَاهُ لَا هِجْرَةَ مِنْ مَكَّةَ لِاَنَّهَا صَارَتْ دَارَ اِسْلَامٍ۔

هجرت به هم هغه طرفته وی چه دَکوم شی نیت ئے کړے وی۔ دَ دے حدیث په صحیح والی دَ بخاری او مسلم اتفاق دے. او دَ حدیث دواړو اماما نو یعنی: بوعبدالله محمد بن اسماعیل بن ابراهیم بن مغیره بن بَردِزبه جعفی بخاری۔ او ابوالحسین مسلم بن حجاج قشیری نیشاپوری رحمهما الله په خپلو کتابونو کښے دا روایت بیان کړے دے۔ دا دواړه کتابونه دَ قرآن نه پس دَ ټولو نه صحیح کتابونه دی۔

۲۔ ام المؤمنین اُم عبد الله، حضرت عائشه صدیقهؓ ارشاد فرمائی: چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائیلی دے۔ چه کعبے والو سره دَ جنګ دپاره به په هغوئ باندِ یو لښکر حمله کوی. هغه لښکر چه کله هوارے زمکے ته راورسیږی: نو دَ هغوئ دَ یو سر نه تر آخره پورے به هر یو کس لره زمکه راکاږی۔ عائشه صدیقهؓ فرمائی چه ما تپوس اوکړو یا رسول الله! دا ټول به ولے زمکه راکاږی؟ په دے کښے خو به داسے خلق هم وی چه هغوئ به په زور راوستلے شوی وی. او هغه خلق به هم وی چه په هغه خلقو کښے به نهٔ وی؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دغه لښکر خو به دغه وخت کښے ټول په ټوله غرق کړے شی، بیا به دَ قیامت په ورځ دَ خپلو خپلو نیتونو مطابق اوچتولے شی۔ دَ دے روایت دا الفاظ دَ بخاری دی۔

۳۔ حضرت عائشه رضی الله عنها بیان کوی۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه دَ مکے دَ فتحے نه پس دَ هجرت کولو حکم پاتے نهٔ شو۔ البته دَ جهاد نیت په خپل حال باقی پاتے شو. نو چه کله تاسو دَ جهاد دپاره راوبللے شئ. نو اوځئ۔ (بخاری و مسلم)

امام نوویؒ دَ حدیث دَ تشریح په طور وئیلی دی، چه دَ مکے نه دَ هجرت کولو حکم ځکه باقی پاتے نهٔ شو چه او س مکه دار الاسلام شو. او ان شاء الله تر قیامته به وی۔

---

[1] ای یتزوجها [2] البیداء: ارض ملساء لا شئ فیها [3] اسواقهم "بالسین المهملة والقاف" ای اهل اسواقهم والسوقة منهم. و فی الحدیث ان من کثر سواد قوم فی المعصیة مختارًا: ان العقوبة تلحقه وفیه التحذیر من مصاحبة العصاة واهل الظلم، وان الاعمال تعتبر بینه العامل ۱۲

۴- وَعَنْ اَبِىْ عَبْدِ اللهِ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْاَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزَاةٍ فَقَالَ: اِنَّ بِالْمَدِيْنَةِ لَرِجَالًا مَا سِرْتُمْ سَيْرًا وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِيًا اِلَّا كَانُوْا مَعَكُمْ حَبَسَهُمُ الْمَرَضُ، وَفِيْ رِوَايَةٍ: "اِلَّا شَرِكُوْكُمْ فِي الْاَجْرِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَرَوَاهُ الْبُخَارِيُّ عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: رَجَعْنَا مِنْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: اِنَّ اَقْوَامًا خَلْفَنَا بِالْمَدِيْنَةِ[1] مَا سَلَكْنَا شِعْبًا وَلَا وَادِيًا اِلَّا وَهُمْ مَعَنَا، حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ-

۴- حضرت ابو عبد الله جابر بن عبد الله انصاری رض روایت کوی. چه مونږ په یو جنګ کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو. نو یو ځل ئې ارشاد اوفرمائیلو چه مدینه کښې څهٔ خلق داسې شته دے. چه کوم ځائے ته تاسو سفر کوئ، او څومره سفر او مزل کوئ هغوئ تاسو سره په هغې کښې برابر شریک دی. هغوئ د مرضونو او د عذرونو په وجه بند شوی دی-

بل روایت کښې راغلی دی چه هغوئ په ثوابونو کښې تاسو سره شریک دی. امام بخاری د حضرت انس رض نه دا حدیث داسې بیان کړے دے. چه کله مونږ د جنګ تبوک نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره واپس راتلو نو ارشاد ئے اوفرمائیلو، چه مدینه کښې څهٔ داسې خلق څمونږ نه پاتے شوی دی، چه نهٔ مونږ سره په دے سفر کښې شریک شوی دی، او نهٔ ئے څهٔ حصه مزل کړے دے. لیکن مونږ سره دی. د څهٔ عذرونو د وجے نه مونږ سره د تلو نه بند شوی دی-

۵- وَعَنْ اَبِىْ يَزِيْدَ مَعْنِ بْنِ يَزِيْدَ ابْنِ الْاَخْنَسِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَهُوَ وَاَبُوْهُ وَجَدُّهٗ صَحَابِيُّوْنَ، قَالَ كَانَ اَبِىْ يَزِيْدُ اَخْرَجَ دَنَانِيْرَ يَتَصَدَّقُ بِهَا فَوَضَعَهَا عِنْدَ رَجُلٍ فِي الْمَسْجِدِ فَجِئْتُ فَاَخَذْتُهَا فَاَتَيْتُهٗ بِهَا: فَقَالَ: وَاللهِ مَا اِيَّاكَ اَرَدْتُّ، فَخَاصَمْتُهٗ اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "لَكَ مَا نَوَيْتَ يَا يَزِيْدُ وَلَكَ مَا اَخَذْتَ يَا مَعْنُ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ-

۵- حضرت ابی یزید مَعن بن یزید بن اخنس رضی الله عنهم روایت کوی (پلار، ځوئے او نیکهٔ درے واړه صحابهٔ دی) چه ځما پلار د خیرخیرات په نیت څهٔ اشرفئ اوویستلے، او ورکولو د پاره ئے جومات کښې یو کس ته وسپارلے چه یو حقدار ته ئے ورکړی. هغه اشرفئ م د هغه سړی نه واخستلے او پلار ته م راوړلے. پلار م اووئیل قسم دے ما په تا باندِ د دے رقم اخستو اراده نهٔ وه کړے. مونږ خپله جګړه واخسته او د نبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو نو هغوئ اوفرمائیل، اے یزید رض! تا ته ستا د نیت موافق ثواب ملاؤ شو. او اے معن رض! تا چه څهٔ واخستل هغه ستا دی-

۶- وَعَنْ اَبِىْ اِسْحَاقَ سَعْدِ بْنِ اَبِىْ وَقَّاصٍ مَالِكِ بْنِ اُهَيْبِ بْنِ عَبْدِ مَنَافِ بْنِ زُهْرَةَ بْنِ كِلَابِ بْنِ مُرَّةَ بْنِ كَعْبِ بْنِ لُؤَيٍّ الْقُرَشِيِّ الزُّهْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. اَحَدِ الْعَشَرَةِ الْمَشْهُوْدِ

۶- حضرت ابو اسحاق سعد بن ابی وقاص، مالک بن اهیب بن عبد مناف بن زهرة بن کلاب بن مرة بن کعب بن لؤی القرشی الزهری یعنی (د عشره مبشره رضی الله عنهم نه یو کس دے) فرمائی. چه د حج وداع په موقعه باندِ زهٔ بیمار شوم. نبی صلی الله علیه وسلم ځما د بیماری

---

[1] خلفنا " بسكون اللام " اى وراءنا. او بتشديد اللام من التخليف. والشعب. بكسر الشين المعجمة الطريق فى الجبل. و " الوادى " الموضع الذى يسيل فيه الماء.

لَهُمْ بِالْجَنَّةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ قَالَ:
جَاءَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
يَعُوْدُنِيْ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ مِنْ وَجَعٍ
اشْتَدَّ بِيْ فَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّيْ
قَدْ بَلَغَ بِيْ مِنَ الْوَجَعِ مَا تَرٰى وَأَنَا
ذُوْ مَالٍ وَلَا يَرِثُنِيْ إِلَّا ابْنَةٌ لِيْ
أَفَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثَيْ مَالِيْ؟ قَالَ: لَا.
قُلْتُ: فَالشَّطْرُ[1] يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ فَقَالَ
لَا. قُلْتُ: فَالثُّلُثُ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ
الثُّلُثُ وَالثُّلُثُ كَثِيْرٌ أَوْ كَبِيْرٌ إِنَّكَ
أَنْ تَذَرَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِّنْ
أَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً[2] يَتَكَفَّفُوْنَ النَّاسَ
وَإِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِيْ بِهَا
وَجْهَ اللهِ إِلَّا أُجِرْتَ عَلَيْهَا حَتّٰى مَا
تَجْعَلُ فِيْ امْرَأَتِكَ[3] قَالَ فَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ
اللهِ أُخَلَّفُ بَعْدَ أَصْحَابِيْ؟ قَالَ إِنَّكَ
لَنْ تُخَلَّفَ فَتَعْمَلَ عَمَلًا تَبْتَغِيْ بِهِ
وَجْهَ اللهِ إِلَّا ازْدَدْتَ بِهِ دَرَجَةً وَ
رِفْعَةً. وَلَعَلَّكَ أَنْ تُخَلَّفَ حَتّٰى يَنْتَفِعَ
بِكَ أَقْوَامٌ وَيُضَرَّ بِكَ آخَرُوْنَ اَللّٰهُمَّ
أَمْضِ لِأَصْحَابِيْ هِجْرَتَهُمْ وَلَا تَرُدَّهُمْ
عَلٰى أَعْقَابِهِمْ، لٰكِنِ الْبَائِسُ سَعْدُ بْنُ
خَوْلَةَ، يَرْثِيْ لَهُ[4] رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى
اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ مَاتَ بِمَكَّةَ
مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔

تپوس له راغے. نو ما عرض وکړو چه یا رسول الله زه چه کوم مرض کوم اندازے ته رسیدلے یم ته معلوم دے. ما سره مال ډیر دے. او میراث خوره صرف یوه لور ده. آیا زه په دریو حصو د مال نه دوه حصے من خیر کولے شم؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل چه نه. ما عرض اوکړو چه نیم مال خیرات کولے شم؟ هغوی ته اوفرمائیلو چه نه. ما اووئیل چه د دریمه حصه؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. سعدؓ! دریمه حصه هم ډیره ده. ستا د پاره دا بهتره ده چه وارثان مالداره حالت کښے پریږدے. او دا نه غوره ده چه نادار او غریب ئے پریږدے. چه د خلقو ورته لاسونه خوره کړی وی. د الله پاک د خوشحالئ د پاره چه کوم خرچ کوې تردے پورے چه خپلے بی بی ته په خوله کښے نوړئ ورکوې. د هغے ثواب به هم الله تعالی درکوی. ما عرض اوکړو: یارسول الله! ولے زه به د خپلو ملګرو نه وروسته پاتے کیږم؟ نبی صلی الله علیه وسلم وفرمائیل نه. ته به وروستونه پاتے کیږے. د الله تعالی د رضا کولو د پاره به ته داسے کار کوے. چه د هغے په وجه به الله تعالی ستا درجه نوره هم اوچته کړی. او امید دے چه ته به ژوندے او مسلمانان به تا نه څه فائده واخلی. او څه کافر ته به ستا نه نقصان اورسی. اے الله! زما د صحابو هجرت آخره پورے پوره اوفرمائے. او په خپلو پوندوئے واپس نه کړے. لیکن سعد بن خولهؓ غریب قابل د رحم دے. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه زړه خوږ شو. څکه چه دے په مکه کښے مړ شو. (بخاری ومسلم)

۷۔ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ
بْنِ صَخْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ
رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
إِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ إِلٰى أَجْسَامِكُمْ، وَلَا
إِلٰى صُوَرِكُمْ، وَلٰكِنْ يَنْظُرُ إِلٰى قُلُوْبِكُمْ
رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۷۔ حضرت ابوهریره عبدالرحمن بن صخرؓ روایت کړے دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو. چه الله ستاسو بدنونو او مخونو ته نه ګوری، بلکه هغه ستاسو زړونو ته ګوری۔

---

[1] فالشطر: بالنصب والرفع: ای النصف. [2] "عالة": ای فقراء. ویتکففون الناس: ای یمدون الیهم ایدیهم بالسؤال.
[3] ای فی فمها و "اخلف": بضم الهمزة وفتح اللام المشددة: ای أأخلف فی مکة بعد اصحابی ر نصرافهم معنی؟ [4] ای یرق ویترحم له صلی الله علیه وسلم.

۸- وَعَنْ اَبِیْ مُوْسٰی عَبْدِ اللهِ بْنِ قَیْسٍ الْاَشْعَرِیِّ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرَّجُلِ یُقَاتِلُ شَجَاعَةً وَیُقَاتِلُ حَمِیَّةً[1] وَیُقَاتِلُ رِیَاءً اَیُّ ذٰلِكَ فِیْ سَبِیْلِ اللهِ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ "مَنْ قَاتَلَ لِتَكُوْنَ كَلِمَةُ اللهِ هِیَ الْعُلْیَا فَهُوَ فِیْ سَبِیْلِ اللهِ"[2] مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ۔

۸ - حضرت ابوموسیٰ عبدالله بن قیس اشعریؓ نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د هغه سړی په باره کښے تپوس اوکړے شو. کوم چه د خپلے بهادرئ ښودلو دپاره یا ننګ او شرم دپاره یا ځان ښودلو دپاره جنګ جګړه کوی. چه په دے کښے کوم یو جهاد دے د الله په لاره کښے. رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو چه د الله د کلمے اوچتولو دپاره چه کوم جهاد کولے شی. اصل کښے هم دغه د الله په لاره کښے جهاد کول دی. (بخاری ومسلم)

۹- وَعَنْ اَبِیْ بَكْرَةَ نُفَیْعِ بْنِ الْحَارِثِ الثَّقَفِیِّ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ "اِذَا الْتَقَی الْمُسْلِمَانِ بِسَیْفِهِمَا فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُوْلُ فِی النَّارِ قُلْتُ: یَا رَسُوْلَ اللهِ هٰذَا الْقَاتِلُ فَمَا بَالُ الْمَقْتُوْلِ؟ قَالَ: اِنَّهٗ كَانَ حَرِیْصًا عَلٰی قَتْلِ صَاحِبِهٖ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ۔

۹ - حضرت ابوبکر نُفیع بن حارث ثقفیؓ روایت کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائیلے دے. کله چه دوه مسلمانان خپل مینځ کښے تورے د جنګ دپاره راوباسی نو قاتل او مقتول دواړه دوزخیان دی. ما عرض اوکړو یا رسول الله! قاتل دوزخی دے. صرف دا رم پوهه کښے راغلل. مګر مقتول ولے دوزخی دے؟ رسول الله صلے الله علیه وسلم اوفرمائیل. مقتول هم هغه لره وژل غوښتل. که د مقتول وس رسیدلے وے، نو هغهٔ باندِ ئے (ګزار) کولو. (بخاری ومسلم)

۱۰- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ الرَّجُلِ فِیْ جَمَاعَةٍ تَزِیْدُ عَلٰی صَلَاتِهٖ فِیْ سُوْقِهٖ وَبَیْتِهٖ بِضْعًا[3] وَّعِشْرِیْنَ دَرَجَةً وَذٰلِكَ اَنَّ اَحَدَهُمْ اِذَا تَوَضَّاَ فَاَحْسَنَ الْوُضُوْءَ، ثُمَّ اَتَی الْمَسْجِدَ لَا یُرِیْدُ اِلَّا الصَّلٰوةَ، لَا یَنْهَزُهٗ اِلَّا الصَّلٰوةُ لَمْ یَخْطُ خُطْوَةً اِلَّا رُفِعَ لَهٗ بِهَا دَرَجَةٌ وَحُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِیْئَةٌ حَتّٰی یَدْخُلَ الْمَسْجِدَ فَاِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ كَانَ فِی الصَّلٰوةِ مَا

۱۰ - حضرت ابوهریرة رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله صلے الله علیه وسلم ارشاد فرمائیلے دے. چه د جمعے سره د مونځ کولو ثواب د کور او د بازار د مانځهٔ نه پنځویشت درجے زیات دے ځکه چه کوم کس په ښهٔ شان ښره اودس اوکړی. او د کور نه د مانځهٔ په اراده جومات له لاړ شی. او څهٔ بل څهٔ ئے مقصد نهٔ وی. نو جومات ته رسیدو پورے ئے په هر یو قدم باندِ یوه یوه درجه اوچتیږی او یوه ګناه ئے معاف کیږی. او کله چه جومات ته اورسی او د مانځهٔ په انتظار کښے کینی نو دا ناسته ئے هم د مانځهٔ په حکم کښے ده. او څومره وخته پورے چه مونځ ګذار اودس کښے وی، او بل چا ته ئے څهٔ ضرر نهٔ

---

[1] حمیة بتشدید الیاء التحیة: ای انفقة وغیرة ومحاماة عن عشیرة [2] کلمة الله: ای دین الاسلام. وفی الحدیث بیان ان الاعمال انما تحتسب بالنیات الصالحة وان الفضل الوارد فی المجاهدین یختص بمن یقاتل لاعلاء کلمة الله تعالیٰ. [3] البضع بکسر الباء وفتحها من الثلاثة الی العشرة.

كَانَتِ الصَّلٰوةُ هِيَ تَحْبِسُهٗ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يُصَلُّوْنَ عَلٰى اَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِيْ مَجْلِسِهِ الَّذِيْ صَلّٰى فِيْهِ يَقُوْلُوْنَ: اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ، اَللّٰهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ مَا لَمْ يُؤْذِ فِيْهِ، مَا لَمْ يُحْدِثْ فِيْهِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔

وَهٰذَا لَفْظُ مُسْلِمٍ وَقَوْلُهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَنْهَزُهٗ هُوَ، بِفَتْحِ الْيَاءِ وَالْهَاءِ وَبِالزَّايِ: اَيْ يُخْرِجُهٗ وَيُنْهِضُهٗ.

وی رسوے او په خپل ځائے ناست وی، هغه پورے ورله فرښتے هم دَ بخشش دُعا ګانے کوی۔ هغه فرښتے وائی اے الله! په دغه کس رحم اوکړه۔ په مهربانئ ورته توجه اوکړه، ګناه ورته معاف کړه تر هغه وخته پورے چه څوک بے ځایه تنګ نهٔ کړی او چه اودس مات نهٔ کړی۔

(بخاری ومسلم)

دَ دے روایت الفاظ دَ مسلم شریف دی۔ او نبی کریم صلے الله علیه وسلم "يَنْهَزُهٗ" حرف او وایهٔ، دَ هغے معنے ده "هغه نهٔ اوباسی" "او هغه نهٔ اودروی"۔

۱۱- وَعَنْ اَبِي الْعَبَّاسِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسِ ابْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْمَا يَرْوِيْ عَنْ رَبِّهٖ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى قَالَ: اِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ الْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ ثُمَّ بَيَّنَ ذٰلِكَ: فَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى عِنْدَهٗ حَسَنَةً كَامِلَةً وَاِنْ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللّٰهُ عَشْرَ حَسَنَاتٍ اِلٰى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ اِلٰى اَضْعَافٍ كَثِيْرَةٍ وَاِنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللّٰهُ تَعَالٰى عِنْدَهٗ حَسَنَةً كَامِلَةً. وَاِنْ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللّٰهُ سَيِّئَةً وَّاحِدَةً. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔

۱۱- حضرت ابو العباس عبد الله بن عباسؓ فرمائی: چه رسول الله صلے الله علیه وسلم دَ الله نه روایت کوی۔ یعنی حدیث قدسی دے۔ چه الله تعالیٰ ښهٔ او بدکارونه مقرر کړی دی۔ او دَ هر یو کار درجه ئے په ښکاره ډول سره بیان کړے ده۔ نو کهٔ یو کس صرف دَ نیکئ اراده کړی وی، او عمل ئے پرے نهٔ وی کړے۔ بیا هم الله تعالیٰ دَ یوے پورهٔ نیکئ ثواب ورکوی۔ او کهٔ دَ ارادے نه پس ئے په هغه نیکئ عمل کړے وی نو دَ لسّو نیکو برابر ثواب به ورته ورکولے شی۔ او دا ثواب اوهٔ سوه درجے بلکه دَ دے نه هم زیات ورکولے شی۔

او کهٔ دَ بدکار اراده ئے کړے وی، مګر عمل ئے پرے نهٔ دے کړے۔ نو الله تعالیٰ په هغے باندِ هم یوه نیکی ثواب لیکی۔ او کهٔ دَ ارادے نه پس ئے په هغه بدئ باندِ عمل اوکړو نو یوه بدی ئے لیکلے شی۔

(بخاری ومسلم)

۱۲- وَعَنْ اَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: اِنْطَلَقَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ مِّمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَتّٰى اٰوَاهُمُ الْمَبِيْتُ اِلٰى غَارٍ فَدَخَلُوْهُ فَانْحَدَرَتْ صَخْرَةٌ مِّنَ الْجَبَلِ فَسَدَّتْ عَلَيْهِمُ الْغَارَ. فَقَالُوْا: اِنَّهٗ لَا يُنْجِيْكُمْ

۱۲- حضرت ابی عبد الرحمٰن عبد الله بن عمر بن الخطاب رضی الله عنهما روایت کوی۔ چه ما دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیل اوریدلی دی۔

چه تیر شوی اُمتونو کښے دیو امت نه درے کسان په سفر باندِ روان وو۔ ناګهانه سخت باران راګیر کړل۔ دَ هغے نه دَ بچ کیدو دپاره یو غار ته ننوتل چه شپه تیره کړی۔ یو وزن دار ګټ دَ غار خُلے ته را اوخوځیدلو او دَ غار خُلهٔ ئے بنده کړه۔ بلکه غار نه دَ وتلو لار هم بنده شوه۔ هغوئ

؎ هم بالامر اذا عزم عليه ۱۲

مِنْ هٰذِهِ الصَّخْرَةِ اِلَّا اَنْ تَدْعُوا اللّٰهَ تَعَالٰى بِصَالِحِ اَعْمَالِكُمْ: قَالَ رَجُلٌ مِّنْهُمْ: اَللّٰهُمَّ كَانَ لِيْ اَبَوَانِ شَيْخَانِ كَبِيْرَانِ وَكُنْتُ لَا اُغْبِقُ[1] قَبْلَهُمَا اَهْلًا وَلَا مَالًا فَنَاٰى بِيْ طَلَبُ الشَّجَرِ يَوْمًا فَلَمْ اُرِحْ[2] عَلَيْهِمَا حَتّٰى نَامَا فَحَلَبْتُ لَهُمَا غَبُوْقَهُمَا فَوَجَدْتُّهُمَا نَائِمَيْنِ. فَكَرِهْتُ اَنْ اُوْقِظَهُمَا وَاَنْ اَغْبِقَ قَبْلَهُمَا اَهْلًا اَوْمَالًا، فَلَبِثْتُ وَالْقَدَحُ عَلٰى يَدِيْ۔ اَنْتَظِرُ اسْتِيْقَاظَهُمَا حَتّٰى بَرِقَ الْفَجْرُ[3] وَالصِّبْيَةُ يَتَضَاغَوْنَ عِنْدَ قَدَمَيَّ[4] فَاسْتَيْقَظَا فَشَرِبَا غَبُوْقَهُمَا: اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ وَجْهِكَ فَفَرِّجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيْهِ مِنْ هٰذِهِ الصَّخْرَةِ فَانْفَرَجَتْ شَيْئًا لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ الْخُرُوْجَ مِنْهُ: قَالَ الْاٰخَرُ: اَللّٰهُمَّ اِنَّهٗ كَانَتْ لِيْ ابْنَةُ عَمٍّ كَانَتْ اَحَبَّ النَّاسِ اِلَيَّ وَفِيْ رِوَايَةٍ: كُنْتُ اُحِبُّهَا كَاَشَدِّ مَا يُحِبُّ الرِّجَالُ النِّسَآءَ فَاَرَدْتُّهَا عَلٰى نَفْسِهَا[5] فَامْتَنَعَتْ مِنِّيْ حَتّٰى اَلَمَّتْ بِهَا سَنَةٌ مِّنَ السِّنِيْنَ[6] فَجَاءَتْنِيْ فَاَعْطَيْتُهَا عِشْرِيْنَ وَمِائَةَ دِيْنَارٍ عَلٰى اَنْ تُخَلِّيَ بَيْنِيْ وَبَيْنَ نَفْسِهَا فَفَعَلَتْ، حَتّٰى اِذَا قَدَرْتُ عَلَيْهَا " وَفِيْ رِوَايَةٍ: " فَلَمَّا قَعَدْتُّ بَيْنَ رِجْلَيْهَا قَالَتْ: اِتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تَفُضَّ الْخَاتَمَ[7] اِلَّا بِحَقِّهٖ فَانْصَرَفْتُ عَنْهَا وَهِيَ اَحَبُّ النَّاسِ اِلَيَّ وَتَرَكْتُ

چه دا حال اوليدلو نو وے وئيل چه دَ دے خانے نه دَ وتلو صورت او طريقه دا ده چه دَ خپلو خپلو نيکو عملونو په واسطه دَ الله نه دُعا اوغواړو۔ کنې وتل مشکل دی۔

په دوی کښے يو کس اووئيل۔ چه اے الله۔ څما مور او پلار ډير کمزوری وو۔ څما عادت دا وو چه ما به هغوئ دواړو ته دَ خپل اهل وعيال، خادمانو، غلامانو نه مخکښے پئ (شودهٔ) ورکول۔ هغوئ به اوڅکل۔ بيا به م اهل و عيال ته ورکول۔ يو وارے دَ لرګو راوړلو دپاره ډير لرے لاړم۔ او په وخت کور ته اونهٔ رسيدم، چه واپس راورسيدم نا وخته شوے وو۔ نو هغوئ اوده شوی وو۔ ما مناسب اونهٔ ګنړله چه دَ خوبه ئے پاڅوم۔ او يا ئے مخکښے خپل اهل وعيال وغيره ته ورکړم۔ او حال دا وو چه ماشومان دَ اولږے نه څما په پښو کښے پريوتل نړهٔ دَ پيو پياله په لاس تم وله شپه دَ هغوئ دَ کټ سرته ولاړ ووم۔ چه په خپله دَ خوب نه راپاڅی او په هغوئ پئ اوڅکوم۔ نو سحر وختی بيدار شول او پئ م پرے اوڅکول۔ نو اے الله! کهٔ دا عمل م ستا دَ رضا دپاره کړے وی۔ نو دَ دے عمل په برکت سره مونږ ته لاره فراخه کړے۔ او دَ دے کټ دَ مصيبت نه مونږ خلاص کړے۔ نو ګټ لږ غوندِ لرے کړے شو۔ مګر دَ وتلو لاړ پکښے نهٔ وه۔

دويم کَس اووئيل چه اے الله! څما دَ ترهٔ يوه لور وه چه هغه ما ته دَ ټولو خلقونه زياته ګرانه وه۔ او يو روايت کښے راځی چه څما دَ هغے سره دومره زياته مينه وه څومره چه دَ يو کس دَ ښځے سره کيدے شی۔ زهٔ هغے سره دَ ملاويدو دپاره ډير نږدے کيدم، مګر هغے به هميشه انکار کولو۔ په دے کلونه تير شول چه يو کال مونږ سخت قحط کښے ګير شو۔ نو دے وخت کښے هغه څما خواله راغله چه دَ

---

[1] لا اغبق بفتح الهمزة وسكون الغين المعجمة وضم الباء الموحدة وكسرها اى لا اقدم فى الشرب قبلهما اهلا ولا مالا من رفيق وخادم والغبوق شرب العشى [2] ارح بضم الهمزة وكسر الحراء اى ارجع [3] اى ظهر ضوؤه [4] يتضاغون بالضاد والغين المعجمتين يصيحون من الجوع،
[5] فاردتها على نفسها كذا فى نسخة و فى اخرى " فراودتها ": اى طلبت منها ما يطلب الرجل من زوجه [6] اى نزلت بها سنة من السنين الجديدة [7] كناية عن الفرج وعذرة البكارة والمعنى لا تزل عفا فى الا بالزواج

الذَّهَبَ الَّذِىْ اَعْطَيْتُهَا: اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيْهِ فَانْفَرَجَتِ الصَّخْرَةُ غَيْرَ اَنَّهُمْ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ الْخُرُوْجَ مِنْهَا. وَقَالَ الثَّالِثُ اَللّٰهُمَّ اسْتَاْجَرْتُ اُجَرَاءَ وَاَعْطَيْتُهُمْ اَجْرَهُمْ غَيْرَ رَجُلٍ وَاحِدٍ تَرَكَ الَّذِىْ لَهٗ وَ ذَهَبَ، فَثَمَّرْتُ اَجْرَهٗ حَتّٰى كَثُرَتْ مِنْهُ الْاَمْوَالُ فَجَآءَنِىْ بَعْدَ حِيْنٍ فَقَالَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ اَدِّ اِلَىَّ اَجْرِىْ فَقُلْتُ: كُلُّ مَا تَرٰى مِنْ اَجْرِكَ: مِنَ الْاِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ وَالرَّقِيْقِ، فَقَالَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ لَا تَسْتَهْزِئُ بِىْ: فَقُلْتُ لَا اَسْتَهْزِئُ بِكَ. فَاَخَذَهٗ كُلَّهٗ فَاسْتَاقَهٗ فَلَمْ يَتْرُكْ مِنْهُ شَيْئًا اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيْهِ، فَانْفَرَجَتِ الصَّخْرَةُ فَخَرَجُوْا يَمْشُوْنَ"[1].

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ:

هغې په دے قحط کښے امداد اوکړم نو ما د ملاویدو شرط کیخودلو او یو سل او شل اشرفۍ م ورکړے. او دا شرط ئے اومنلو. کله چه ما په خپل قابو کښے ر وستله. او یو روایت کښے راځی چه کله د کوروالی دپاره زه د هغې د دواړو خپو ترمینځ کیناستم. نو هغې اوویل، چه د الله نه او ویریږه. او په ناجائزه سره ځما عزت مه خرابوه. دا خبره م چه واوریده. نو فوراً پاڅیدم او حال دا دے چه ځما ور سره سخت محبت وو. او کوم رقم چه م ورکړے وو هغه م ترے هم واپس وانخست. او د دغه غلط حرکت نه هم منع شوم. نو اے الله! که ما دا عمل ستا د رضا دپاره کړے وی نو د دے عمل په وجه مونږ ته د دے مُصیبت نه خلاصے راکړه. نو هغه کټ نور هم لږ بیرته شو. مګر هغوئ بیا هم وتلے نهٔ شو.

دریم کس اوویل: چه اے الله: ما څو مزدوران د کار دپاره راوستلی وو. د کار پوره کولو نه پس ما مزدوري ورکړه. مګر په دوئ کښے یو مزدور بغیر د مزدورۍ اخستلو نه لاړو. ما د هغهٔ په رقم تجارت شروع کړو. او په دغه تجارت سره ما ته ډیر مال جمع شو. ډیره موده پس هغه سړے خپلې مزدورۍ غوښتلو پسے واپس راغے. خپله مزدوري ئے اوغوښتله. ما هغهٔ ته اوویل چه دا څومره مال او سامان چه تا ته ښکاری دا ټول ستا مزدوري ده. دا اوښان. غواګانے، ګډے، چیلۍ او غلامان هم ټول ستا دی. هغه سړی اوویل د الله بنده! ما سره ټوقے مه کوه. ما ته خپله مزدوری راکړه. ما ورته اوویل ټوقے م نهٔ دی کړی. حقیقت دا دے چه دا هرڅهٔ ستا دی (ما ستا په مزدورۍ تجارت اوکړو. او دا مال وغیره د هغې ګټه ده) بس هغه سړے. ټول مال وغیره سره روان شو او لاړو. او یو څیز ئے هم پرے نښودو.

نو اے الله! ځما دا ټول عمل ستا د رضا دپاره وو. د دے عمل په برکت سره مونږ د دے مُصیبت نه خلاص کړے. نو هغه کټ د غار د خُلې نه لرے شو او هغوئ په خپله لار روان شول...

بخاری و مسلم)

◆ ◆ ◆

باب ۲

فائده:- باب د توبے په درے آیاتو نو د قرآن او دولس احادیثو باندِ مشتمل دے. د توبے لغوی معنیٰ ده رجوع کول. شریعت کښے توبه هغې ته وائی چه په مخکښے ګناهو نو پښیمان شی. معافی اوغواړی. او راتلونکي وخت کښے د ګناه نه د بچ کیدلو او ځان ساتلو کلکه اراده اوکړی. او توبه دے ته نهٔ وائی چه ژبے سره وائی چه توبه. او بیا هم د ګناه نه نهٔ منع کیږی. دا توبے سره یو قسم ټوقے کول دی

---

[1] وفی الحدیث الدعاء عند الکرب والتوسل بالعمل الصالح وفضل برالوالدین وخدمتهما العفاف وحسن العهد واداء الامانة والسماحة فی المعاملة وغیر ذلك.

آیاتِ قرآن

بَابُ التَّوْبَةِ !

قَالَ الْعُلَمَاءُ: اَلتَّوْبَةُ وَاجِبَةٌ مِّنْ كُلِّ ذَنْبٍ فَاِنْ كَانَتِ الْمَعْصِيَّةُ بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ اللّٰهِ تَعَالٰى لَا تَتَعَلَّقُ بِحَقِّ اٰدَمِيٍّ فَلَهَا ثَلٰثَةُ شُرُوْطٍ اَحَدُهَا اَنْ يُّقْلِعَ[1] عَنِ الْمَعْصِيَةِ وَالثَّانِيْ اَنْ يَّنْدَمَ عَلٰى فِعْلِهَا. وَالثَّالِثُ اَنْ يَّعْزِمَ اَنْ لَّا يَعُوْدَ اِلَيْهَا اَبَدًا فَاِنْ فَقَدَ اَحَدُ الثَّلٰثَةِ لَمْ تَصِحَّ تَوْبَتُهُ وَاِنْ كَانَتِ الْمَعْصِيَّةُ تَتَعَلَّقُ بِاٰدَمِيٍّ فَشُرُوْطُهَا اَرْبَعَةٌ هٰذِهِ الثَّلٰثَةُ وَاَنْ يَّبْرَاَ مِنْ حَقِّ صَاحِبِهَا فَاِنْ كَانَتْ مَالًا اَوْ نَحْوَهٗ رَدَّهٗ اِلَيْهِ وَاِنْ كَانَ حَدَّ قَذْفٍ وَّ نَحْوَهٗ مَكَّنَهٗ مِنْهُ اَوْطَلَبَ عَفْوَهٗ وَاِنْ كَانَ غِيْبَةً اسْتَحَلَّهٗ مِنْهَا وَ يَجِبُ اَنْ يَّتُوْبَ مِنْ جَمِيْعِ الذُّنُوْبِ فَاِنْ تَابَ مِنْ بَعْضِهَا صَحَّتْ تَوْبَتُهٗ عِنْدَ اَهْلِ الْحَقِّ مِنْ ذٰلِكَ الذَّنْبِ وَبَقِيَ عَلَيْهِ الْبَاقِيْ. وَقَدْ تَظَاهَرَتْ دَلَائِلُ الْكِتٰبِ وَالسُّنَّةِ وَاِجْمَاعُ الْاُمَّةِ عَلٰى وُجُوْبِ التَّوْبَةِ

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[2]:

(۴) وَتُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ۔

وَقَالَ تَعَالٰى[3]:

(۵) وَاَنِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ۔

دَ توبې بیان :

علماؤ فرمائیلی دی چه هرې ګناه نه توبه ویستل ضروری او لازم دی. که یوه ګناه داسې وی چه دَ الله او دَ انسان ترمینځه وی. دَ نورو بندګانو په هغې کښې حق نشته. نو دَ توبې دَ قبولیت بیا درې شرطونه دی۔ اوّل دا چه دَ کومې ګناه نه توبه کوی، هغه ګناه دِ فورًا پریږدی. او بیا دِ عمل پرې جاری نهٔ ساتی۔ دوُیم دا چه په هغې ګناه دِ پښیمانه شی او دَ شرمندګئ اظهار دِ اوکړی۔ دریَم دا چه آئنده دپاره دِ پخه او کلکه اراده اوکړی چه بیا به ئې دوباره نهٔ کوی۔

کهٔ په دې درې شرطونو کښې یو هم نهٔ وی نو توبه نهٔ قبلیږی. او کهٔ یوه ګناه داسې وی چه یو بنیادم سره هم متعلق وی، نو دَ هغې دَ قبولیت دپاره بیا څلور شرطونه دی۔ درې شرطونه مخکښې بیان کړې شو. او څلورم شرط دا دې چه دَ حق دَ خاوند نه دِ هم بخښنه او غواړی مثلًا دَ چا مال ئې په ناجائزه اخستې وی. یا دَ هغهٔ په ذمه دَ چا څهٔ باقی وو. نو مخکښې دَ توبې نه دِ هغه واپس کړی۔ او کهٔ په چا ئې تهمت لګولې وی نو هغهٔ ته دِ هم دَ هغې تهمت اجازت ورکړی. یا دِ دَ هغهٔ نه معافی اوغواړی. او کهٔ دَ چا غیبت ئې کړې وی نو هغهٔ نه دِ هم معافی اوغواړی (غرض دا چه دَ توبې نه مخکښې دِ دَ بندګانو دَ حقونو نه خپله پوره غاړه آزاده کړی. دَ مال په ادا کولو سره وی او کهٔ دَ معافئ په ذریعه سره وی) د ټولو ګناهونو نه توبه ویستل لازم دی۔ اهل سنت علماء فرمائی چه کهٔ دَ بعضې ګناهونو نه ئې توبه اوکړه، نو دا توبه صحیح ده۔ او دَ کومو ګناهونو نه ئې توبه او نکړه نو هغه دَ دۀ په ذمه باقی پاتې ده. نو په هغې به په قیامت کښې نیولې کیږی۔ د توبې دَ فرضیت دلیلونه دَ قرآن مجید او دَ حدیثونو او دَ صحابوٗ دَ اجماع نه هم ثابت دی۔

دَ الله تعالیٰ ارشاد دې :

۴۔ مسلمانانو! تاسو ټول دَ خپلو خپلو ګناهونو نه الله تعالیٰ ته توبه اوباسئ، دَ دې دپاره چه تاسو کامیاب شئ۔ ......

دَ الله تعالیٰ ارشاد دې۔

۵۔ دَ خپلو ګناهونو دپاره خپل رب نه معافی اوغواړئ او توبه اوباسئ۔ (سورۃ هود آیة ۳)

---

[1] یقلع "بضم اوله" ای یکف عنها۔
[2] سورہ نور آیة ۳۱
[3] سورۃ هود آیة ۳

وَقَالَ تَعَالىٰ:[1]

(٦) يَاۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْاۤ اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا[2]

دَ الله تعالیٰ ارشاد دے:

٦- "اے مسلمانانو! دَ الله په مخکښې پخه او رښتونے توبه اوباسئ".

(سورة تحریم پ ۲۸)

احادیثِ نبویؐ

۱۳- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "وَاللّٰهِ اِنِّیْ لَاَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ اَكْثَرَ مِنْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

۱۳- دَ حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے چه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرمائیلی اوریدلی دی. چه ځما دِ په الله قسم وی چه په ورځ کښې دَ اویاؤ ځلو نه زیات زهٔ دَ الله نه معافی غواړم او توبه (هم) اوباسم۔

(بخاری)

۱۴- وَعَنِ الْاَغَرِّ بْنِ يَسَارٍ الْمُزَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَاۤاَيُّهَا النَّاسُ تُوْبُوْاۤ اِلَى اللّٰهِ وَاسْتَغْفِرُوْهُ فَاِنِّیْ اَتُوْبُ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۱۴- دَ حضرت اغر بن یسار مزنیؓ نه روایت دے۔ چه رسول الله صلے الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه اے خلقو! دَ الله په دربار کښې توبه اوباسئ۔ او دَ خپلو ګناهونو معافی اوغواړئ۔ زهٔ هم په ورځ کښې سل ځله توبه اوباسم۔

(مسلم)

۱۵- وَعَنْ اَبِیْ حَمْزَةَ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ الْاَنْصَارِيِّ خَادِمِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَللّٰهُ اَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهٖ مِنْ اَحَدِكُمْ سَقَطَ عَلٰى بَعِيْرِهٖ وَقَدْ اَضَلَّهٗ فِيْ اَرْضِ فَلَاةٍ"[3] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: "اَللّٰهُ اَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهٖ حِيْنَ يَتُوْبُ اِلَيْهِ مِنْ اَحَدِكُمْ كَانَ عَلٰى رَاحِلَتِهٖ بِاَرْضِ فَلَاةٍ فَانْفَلَتَتْ مِنْهُ وَعَلَيْهَا طَعَامُهٗ وَشَرَابُهٗ فَاَيِسَ مِنْهَا فَاَتٰى شَجَرَةً فَاضْطَجَعَ فِيْ ظِلِّهَا وَقَدْ اَيِسَ مِنْ رَاحِلَتِهٖ

۱۵- دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم انصاری خادم حضرت ابی حمزة انس بن مالکؓ فرمائیلی دی، چه دَ رسول الله صلے الله علیه وسلم ارشاد دے. چه دَ یو کس نه په یوه دښته او صحراء کښې خپل اوښ ورک شوے وی او هغه پیدا شی نو دغه کس به خومره خوشحالیږی۔ بس الله تعالیٰ دَ دے نه هم زیات دَ خپل بنده په توبه ویستلو خوشحالیږی۔

(بخاری ومسلم)

دَ مسلم شریف په روایت کښې ورسره دا هم دی، چه دَ الله پاک په دربار کښې دِ یو بنده توبه او استغفار کوی۔ نو دَ الله تعالیٰ خوشحالی، په تاسو کښې دَ هغه کس دَ خوشحالئ نه هم زیاته وی۔ چه په ځنګل یا صحراء کښې ترے نه خپله سورلی ورکه شوی وی۔ چه په هغې دَ دهٔ دَ خوراک څکاک سامان بار کړے شوے وی. او

---

[1] سورة التحريم آية ٨ [2] النصح فى التوبة يتضمن ثلاثة امور: استغراق جميع الذنوب واجماع العزم بحيث لا يبقى عنده تردد وتخليصها من الشوائب والعلل القادحة في اخلاصها [3] اى فى ارض واسعة لا نبات بها ولا ماء

فَبَيْنَمَا هُوَ كَذٰلِكَ إِذْ هُوَ بِهَا قَائِمَةً عِنْدَهُ فَاَخَذَ بِخِطَامِهَا[1] ثُمَّ قَالَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ، اَللّٰهُمَّ اَنْتَ عَبْدِيْ وَاَنَا رَبُّكَ. اَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ»

دَ ډیر تلاش کولو نه پس ستومانه او نا امیده ډیوې ونې لاندې سورې ته ډ ډه شي پس ناڅاپه هغه ډکر بار کړې ښوې او بش خوا کښې ولاړ او وینې. نو فورًا دَ هغې رسۍ اونیسي. نو دَ ډیرې خوشحالۍ او دَ فکر دَ وجې نه اووائي چه اے پروردګاره! ته ځما بنده او زهٔ ستا رب یم. نو دا غلطي او خطا دَ ډیرې خوشحالۍ دَ وجې نه اوشوله.

۱۶۔ وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ قَيْسٍ الْاَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ "اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى يَبْسُطُ يَدَهٗ بِاللَّيْلِ لِيَتُوْبَ مُسِيْءُ النَّهَارِ وَيَبْسُطُ يَدَهٗ بِالنَّهَارِ لِيَتُوْبَ مُسِيْءُ اللَّيْلِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا: رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۱۶۔ حضرت ابو موسیٰ اشعریؓ دَ نبی اکرم صلی اللہ علیه وسلم نه بیان کړے دے۔ چه اللہ تعالیٰ هره شپه خپل لاس مبارک خورَوی۔ چه دَ ورځې څوک ګناه کوونکے دَ شپې توبه اوباسي۔ دغسې هره ورځ لاس مبارک خورَوی چه دَ شپې څوک ګناه کوونکي دَ ورځې توبه اوباسي چه قبوله کړے شي (یعني دَ قیامته پورے دلسې کوي، بلکه ترهغه وخته پورے چه نمر دَ مغرب نه را اوخیژي۔ [مسلم]

۱۷۔ وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَنْ تَابَ قَبْلَ اَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۱۷۔ دَ حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے۔ چه نبی اکرم صلے اللہ علیه وسلم ارشاد فرمائیلے دے۔ چه نمر دَ مغرب دَ طرف نه دَ راختلو نه مخکښې مخکښې څوک اللہ ته دَ ګناهونو نه توبه اوباسي۔ نو اللہ تعالیٰ به ئې توبه قبلوي۔ (مسلم)

۱۸۔ وَعَنْ اَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَ جَلَّ يَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ مَا لَمْ يُغَرْغِرْ[2] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ

۱۸۔ دَ حضرت ابو عبد الرحمٰن عبد اللہ بن عمر بن الخطابؓ نه روایت دے۔ چه نبی اکرم صلی اللہ علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو، چه دَ مرګ دَ آخری غرغرے نه لړ غوندې مخکښې اللہ تعالیٰ دَ خپل بنده توبه هم قبلوي۔ امام ترمذیؒ وائي چه دا روایت حسن دے۔

(ترمذی)

۱۹۔ وَعَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ قَالَ اَتَيْتُ صَفْوَانَ بْنَ عَسَّالٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَسْاَلُهٗ عَنِ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ فَقَالَ: مَا جَآءَ بِكَ يَا زِرُّ؟ فَقُلْتُ: اِبْتِغَآءَ الْعِلْمِ فَقَالَ: اِنَّ الْمَلٰٓئِكَةَ تَضَعُ اَجْنِحَتَهَا لِطَالِبِ الْعِلْمِ رِضَاءً

۱۹۔ زِر بن حُبیشؒ وائي چه زهٔ دَ صفوان بن عسالؓ په خدمت کښې حاضر شوم چه زهٔ دَ موزو دَ مسحې په باره کښې دَ هغهٔ نه معلومات حاصل کړم۔ هغهٔ ما نه تپوس اوکړو۔ اے زِر! څنګه راغلے ئې؟ ما ووئیل چه علم حاصلو دپاره راغلے یم۔ نو هغهٔ اووئیل چه دَ طالبِ علم دَ عزت دپاره فرښتے هغهٔ ته خپلې وزرې خورَوی، دَ وجې دَ

---

[1] الخطام بكسر الخاء المعجمة: الحبل. قال القرطبي هذا الحديث اجرى مجرى المثل الذى يفهم منه قبول التوبة واستدامة اللطف والرحمة وهو تنزل عن مقتضى الغنى القوى القاهر الى مقتضى اللطيف الرؤف الغافر.

[2] اى تصل الروح حلقومه قال الله تعالىٰ: وليست التوبة للذين يعملون السيئات حتى اذا حضر احدهم الموت قال اني تبت الآن

بِمَا يَطْلُبُ[1] فَقُلْتُ: اِنَّهٗ قَدْ حَكَّ
فِيْ صَدْرِيْ الْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ
بَعْدَ الْغَائِطِ وَالْبَوْلِ وَكُنْتَ امْرَأً
مِّنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ فَجِئْتُ اَسْاَلُكَ هَلْ سَمِعْتَهٗ
يَذْكُرُ فِيْ ذٰلِكَ شَيْئًا؟ قَالَ نَعَمْ كَانَ
يَاْمُرُنَا اِذَا كُنَّا سَفْرًا. اَوْ مُسَافِرِيْنَ
اَنْ لَّا نَنْزِعَ خِفَافَنَا ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ وَ
لَيَالِيَهُنَّ اِلَّا مِنْ جَنَابَةٍ. لٰكِنْ مِنْ
غَائِطٍ وَّبَوْلٍ وَّ نَوْمٍ فَقُلْتُ هَلْ سَمِعْتَهٗ
يَذْكُرُ فِي الْهَوٰى شَيْئًا؟ قَالَ: نَعَمْ
كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَفَرٍ فَبَيْنَا نَحْنُ
عِنْدَهٗ اِذْ نَادَاهُ اَعْرَابِيٌّ بِصَوْتٍ
لَهٗ جَهْوَرِيٍّ[2] يَا مُحَمَّدُ، فَاَجَابَهٗ
رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
نَحْوًا مِّنْ صَوْتِهٖ هَاؤُمُ[3] فَقُلْتُ
لَهٗ: وَيْحَكَ[4] اغْضُضْ مِنْ
صَوْتِكَ فَاِنَّكَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ نُهِيْتَ عَنْ
هٰذَا: فَقَالَ: وَاللّٰهِ لَا اَغْضُضُ
قَالَ الْاَعْرَابِيُّ: اَلْمَرْءُ يُحِبُّ الْقَوْمَ
وَلَمَّا يَلْحَقْ بِهِمْ؟ قَالَ النَّبِيُّ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلْمَرْءُ
مَعَ مَنْ اَحَبَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَا
زَالَ يُحَدِّثُنَا حَتّٰى ذَكَرَ بَابًا مِّنَ
الْمَغْرِبِ مَسِيْرَةُ عَرْضِهٖ اَوْ يَسِيْرُ
الرَّاكِبُ فِيْ عَرْضِهٖ اَرْبَعِيْنَ اَوْ
سَبْعِيْنَ عَامًا قَالَ سُفْيَانُ اَحَدُ
الرُّوَاةِ: قِبَلَ الشَّامِ خَلَقَهُ اللّٰهُ

خوشحالي او رضا نه په هغه کار چه طالبعلم ئې طلب کوي. نو ما او وئيل چه ځما شک دے په دے کښې چه پس دَ ډروکې يا غټ اودس ماتی نه موزو باندِ مسح کول څنګه دی؟ او ته خود رسول الله صلی الله عليه وسلم په اصحابو کښې شامل يې؟ تا له دَ دے خبرے دَ تپوس په باره کښې راغلے يم. چه دَ مسحے په باره کښې تا دَ نبی صلی الله عليه وسلم نه څۀ اوريدلی دی؟ هغۀ اوفرمائيل چه هو. چه کله به مونږ سفر کښې وو يا به مونږ سفر اراده اوکړه. نبی کريم صلی الله عليه وسلم به فرمائيل. چه بغير دَ غُسل دَ حالت نه نور څۀ د پاره به درے شپے او درے ورځو کښې مونږ خپلې موزے نۀ اوباسو. دَ اودس کولو په وخت کښې به په هغې باندِ مسح کوو. وړوکی يا غټ اودس ماتی يا دَ خوب کولو په وجه چه اودس مات شی نو موزے به نۀ اوباسو. بيا ما تپوس اوکړو چه دَ محبت په باره کښې دِ هم څۀ اوريدلی دی؟ نو صفوان رض او وئيل چه هو. چه مونږ يو سفر کښې دَ نبی کريم صلی الله عليه وسلم سره موجود وو. چه يو بانډچی ډير په زوره آواز اوکړو. يا محمد ئې او وئيلو. نبی کريم صلی الله عليه وسلم هم په اوچت آواز سره جواب ورکړو. چه دلته يم. نو ما ورته او وئيل: اے اعرابی! لږ غوندِ خيال ساته چه دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې په اوچت آواز سره خبرے کول منع دی. خپل آواز لږ ښکته ساته. هغه اعرابی او وئيل چه قسم دِ په الله وی چه خپل آواز به نۀ ښکته کوم. بيا ئې نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته اوفرمائيل، چه يو کس چرته چا سره يا يو قوم يا يوے ډلے سره محبت کوی. خو ترا وسه پورے ورسره ملاؤ شوے نۀ وی. نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه دَ قيامت په ورځ به دَ هغۀ سره وی چا سره ئې چه محبت وو.

بيا ئې څۀ نورے خبرے هم کولے. نو خبرو کښې په مغرب کښې دَ (توبے) دَ دروازے په حقله رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل دَ هغې دَ پلنوالی په مقدار، يا ئې

---

[1] هو حقيقة او مجاز عن التواضع ولا مانع من الاول، وحك بفتح الحاء المهملة وتشديد الكاف". اى اثر ؛ [2] بفتح الجيم و اسكان الهاء: والجهوري الشديد العالي. [3] اى خذ، [4] ويحك بفتح الواو وسكون الياء التحتية وفتح الحاء المهملة: كلمة ترحم وتوجع.

تَعَالٰی یَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ مَفْتُوْحًا لِلتَّوْبَةِ لَا یُغْلَقُ حَتّٰی تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْهُ"۔ رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَغَیْرُهٗ وَقَالَ: حَدِیْثٌ حَسَنٌ صَحِیْحٌ ؛

۲۰- وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ سَعْدِ بْنِ مَالِكِ بْنِ سِنَانٍ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ نَبِیَّ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: كَانَ فِیْمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ رَجُلٌ قَتَلَ تِسْعَةً وَّتِسْعِیْنَ نَفْسًا فَسَاَلَ عَنْ اَعْلَمِ اَهْلِ الْاَرْضِ فَدُلَّ عَلٰی رَاهِبٍ[1] فَاَتَاهُ فَقَالَ: اِنَّهٗ قَتَلَ تِسْعَةً وَّتِسْعِیْنَ نَفْسًا فَهَلْ لَهٗ مِنْ تَوْبَةٍ؟ فَقَالَ: لَا. فَقَتَلَهٗ فَكَمَّلَ بِهٖ مِائَةً، ثُمَّ سَاَلَ عَنْ اَعْلَمِ اَهْلِ الْاَرْضِ فَدُلَّ عَلٰی رَجُلٍ عَالِمٍ فَقَالَ اِنَّهٗ قَتَلَ مِائَةَ نَفْسٍ فَهَلْ لَهٗ مِنْ تَوْبَةٍ؟ فَقَالَ: نَعَمْ، وَمَنْ یَّحُوْلُ بَیْنَهٗ وَبَیْنَ التَّوْبَةِ؟ اِنْطَلِقْ اِلٰی اَرْضِ كَذَا وَكَذَا فَاِنَّ بِهَا اُنَاسًا یَعْبُدُوْنَ اللّٰهَ تَعَالٰی فَاعْبُدِ اللّٰهَ مَعَهُمْ وَلَا تَرْجِعْ اِلٰی اَرْضِكَ فَاِنَّهَا اَرْضُ سُوْءٍ، فَانْطَلَقَ حَتّٰی اِذَا نَصَفَ الطَّرِیْقَ[2] اَتَاهُ الْمَوْتُ فَاخْتَصَمَتْ فِیْهِ مَلٰٓئِكَةُ الرَّحْمَةِ وَمَلٰٓئِكَةُ الْعَذَابِ فَقَالَتْ مَلٰٓئِكَةُ الرَّحْمَةِ جَآءَ تَآئِبًا مُقْبِلًا بِقَلْبِهٖ اِلَی اللّٰهِ تَعَالٰی. وَقَالَتْ مَلٰٓئِكَةُ الْعَذَابِ: اِنَّهٗ لَمْ یَعْمَلْ خَیْرًا

او فرمائیل چه دا دے په پلنوالی کښے سورلی باندِ سور به خلویښت یا اویا کاله روان وی. (الفاظو کښے د راوی شک دے چه کوم الفاظ ئے فرمائیلی دی؟

سفیان یو راوی دے. هغه وائی چه الله تعالیٰ په کوم ورځ زمکه او آسمان پیدا کړل. نو شام طرف ته ئے د توبے یوه دروازه هم پیدا کړه چه د مغرب د طرف نه د نمر ختلو نه مخکښے وخته پورے به پرانستے وی. (امام ترمذی دے حدیث ته حسن صحیح وئیلی دی)۔

۲۰- د حضرت ابوسعید سعد بن مالک بن سنان خدری رضی الله عنه روایت دے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی تاسو نه مخکښے تیر شوی قومونو کښے یو کس یو کم سل قتلونه کړی وو. او خلقو نه به ئے تپوس کولو. چه د زمکے په سر چرته یو لوئے عالم فاضل شته که نه؟ نو خلقو ورته یو راهب اوښودلو. هغه ورله لاړو او تپوس ئے ترے اوکړو. چه ما یو کم سل سړی وژلی دی. څما د پاره د توبے څه گنجائش شته؟ راهب اووئیل چه نه. نو هغه قاتل هغه راهب هم قتل کړو. او سلو کسانو شمیره ئے پوره کړه. بیائے تپوس اوکړو چه د زمکے په سر یو عالم شته؟ نو یو عالم ورته چا اوښودلو. هغه عالم له لاړو او ورته ئے اووئیل: چه ما سل کسان سړی وژلی دی. څما د توبے د قبلید و څه صورت شته که نه؟ عالم ورته اووئیل چه ولے نشته. ستا او د توبے ترمینځه هیڅ منع کونکے څیز نشته. ته فلانکی ځائے ته لاړ شه. هلته د الله تعالیٰ څه بندګان دی، چه د الله په عبادت کښے مشغول وی. ته هم د هغوی سره د الله تعالیٰ په عبادت کښے مشغول شه. او وطن ته د واپس کیدلو خیال قدرے هم زړه کښے مه ساته (ځکه چه د بدو کارونو مرکز دے) هغه سړے په هغه پته روان شو. لاره کښے روان وو چه مرګ ورله راغے، د رحمت او د عذاب د فرشتو خپل مینځ کښے جګړه راغله. چه روح به ئے څوک قبض کوی. د رحمت فرشتو اووئیل چه زړه سره توبے ویستلو د پاره او الله تعالیٰ سره د مینے کولو د پاره راروان شوے وو. مګر د عذاب فرشتو اووئیل چه دے سړی په ژوند کښے هیڅ نیکی نه ده کړے. د دے جګړے د فیصلے د پا یوه فرشته د یو انسان په شکل هغوی له راغله. او هغوی دا

---

[1] ای عابد من عباد بنی اسرائیل ؛ [2] نصف الطریق ، بتخفیف الصاد المهملة المفتوحة ، ای بلغ نصفها د ی

الحدیث فضل التوبة وفضل العلم علی العبادة مع الجهل وفضل العزلة عند فساد الزمان ؛

قَطُّ، فَاَتَاهُمْ مَلَكٌ فِيْ صُوْرَةِ اٰدَمِيٍّ فَجَعَلُوْهُ بَيْنَهُمْ، اَيْ حَكَمًا، فَقَالَ قِيْسُوْا مَا بَيْنَ الْاَرْضَيْنِ فَاِلٰى اَيَّتِهِمَا كَانَ اَدْنٰى فَهُوَ لَهٗ، فَقَاسُوْا فَوَجَدُوْهُ اَدْنٰى اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ اَرَادَ فَقَبَضَتْهُ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) وَفِيْ رِوَايَةٍ فِي الصَّحِيْحِ، فَكَانَ اِلَى الْقَرْيَةِ الصَّالِحَةِ اَقْرَبَ بِشِبْرٍ فَجُعِلَ مِنْ اَهْلِهَا وَفِيْ رِوَايَةٍ فِي الصَّحِيْحِ فَاَوْحَى اللّٰهُ تَعَالٰى اِلٰى هٰذِهٖ اَنْ تَبَاعَدِيْ وَاِلٰى هٰذِهٖ اَنْ تَقَرَّبِيْ وَقَالَ: قِيْسُوْا مَا بَيْنَهُمَا فَوَجَدُوْهُ اِلٰى هٰذِهٖ اَقْرَبَ بِشِبْرٍ فَغُفِرَ لَهٗ" وَفِيْ رِوَايَةٍ: فَنَاٰى بِصَدْرِهٖ نَحْوَهَا"

ثالث مقرر کړو. نو ثالث اوويل چه زمکه ناپ کړئ. کوم زمکے طرف ته چه نزدے وی هم هغے کښے ئے شمار کړئ. چه زمکه کچ کړے شوه، نو نيکانو خلقو طرفته ئے فاصله نزدے وه. بس دَ رحمت ملائکو دَ هغهٔ روح قبض کړو. (بخاری ومسلم)

صحيح بخاری کښے يو روايت دے. چه نيکو خلقو طرفته دَ هغهٔ فاصله يوه لويشت نزدے وه. نو ځکه هغوئ کښے هغه شمار کړے شو.

صحيح بخاری کښے بل روايت دے، چه هغے کښے نوره هم اضافه شته چه الله تعالیٰ شريرے زمکے ته اوفرمائيل، ته لرے! واوړده شه. او بهترينے زمکے ته حکم ورکړے شو، چه تهٔ لنډه او نزدے شه. دے نه پس دَ زمکے دَ کچ کولو حکم ورکړے شو. نو هغه سړے بهترينو خلقو او زمکے طرفته يوه لويشت نزدے وو. بس الله تعالیٰ دَ دغه سړی مغفرت او بخښنه اوکړه.

يو بل روايت کښے راغلی دی. چه دغه سړے دَ مرګ په حالت کښے په سينه خوئيدو سره دَ شريرانو دَ زمکے نه لرے شو.

۲۱- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ وَكَانَ قَائِدَ كَعْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مِنْ بَنِيْهِ حِيْنَ عَمِيَ قَالَ: سَمِعْتُ كَعْبَ ابْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُحَدِّثُ بِحَدِيْثِهٖ حِيْنَ تَخَلَّفَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ: قَالَ كَعْبٌ: لَمْ اَتَخَلَّفْ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةٍ غَزَاهَا قَطُّ اِلَّا فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ غَيْرَ اَنِّيْ قَدْ تَخَلَّفْتُ فِيْ غَزْوَةِ بَدْرٍ وَلَمْ يُعَاتَبْ اَحَدٌ تَخَلَّفَ عَنْهُ، اِنَّمَا خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُسْلِمُوْنَ يُرِيْدُوْنَ عِيْرَ قُرَيْشٍ[1] حَتّٰى جَمَعَ اللّٰهُ

۲۱- حضرت عبد الله بن کعب بن مالک رضی کوم چه دَ کعب رضی دَ نظر ختميدو نه پس دَ هغهٔ قائد وو. فرمائی: چه ما دَ کعب بن مالک نه دَ هغهٔ دَ تبوک نه دَ روستو پاتے کيدلو واقعه واوريدله. نو هغهٔ اوويل، چه زهٔ په هره غزا کښے هم بغير دَ غزوه تبوک نه دَ نبی اکرم صلی الله عليه وسلم سره شامل شوے ووم. البته غزوهٔ بدر کښے زهٔ شريک نهٔ شوم. خو بدر کښے چه څوک شريک شوی نهٔ وو چا پرے څهٔ ملامتيا اونهٔ وئيله او رسول الله صلی الله عليه وسلم صرف دَ قريشو دَ قافلے دپاره وتلے وو. دَ دوئ دَ جنګ اراده نهٔ وه ليکن دَ الله رضا دَ جنګ کولو وه جنګ اوشو. دَ عقبے شپه کښے هم زهٔ دَ رسول الله صلے الله عليه وسلم سره ووم. په هغه ځائے کښے کوم ځائے کښے چه ما دَ نبی اکرم صلے الله عليه وسلم سره په اسلام کښے دَ قائم پاتے کيدو وعده کړے وه. په جنګ بدر کښے دَ حاضرئ په عوض کښے دَ عقبے په شپه کښے دَ حاضرئ

---

[1] العير الابل التي عليها احمالها.

تَعَالٰى بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ عَدُوِّهِمْ عَلٰى غَيْرِ مِيْعَادٍ: وَلَقَدْ شَهِدْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْعَقَبَةِ حِيْنَ تَوَاثَقْنَا عَلَى الْإِسْلَامِ، وَمَا أُحِبُّ أَنَّ لِيْ بِهَا مَشْهَدَ بَدْرٍ وَإِنْ كَانَتْ بَدْرٌ أَذْكَرَ فِي النَّاسِ مِنْهَا وَكَانَ مِنْ خَبَرِيْ حِيْنَ تَخَلَّفْتُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ أَنِّيْ لَمْ أَكُنْ قَطُّ أَقْوٰى وَلَا أَيْسَرَ مِنِّيْ حِيْنَ تَخَلَّفْتُ عَنْهُ فِيْ تِلْكَ الْغَزْوَةِ، وَاللّٰهِ مَا جَمَعْتُ قَبْلَهَا رَاحِلَتَيْنِ قَطُّ حَتّٰى جَمَعْتُهُمَا فِيْ تِلْكَ الْغَزْوَةِ وَلَمْ يَكُنْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيْدُ غَزْوَةً إِلَّا وَرّٰى بِغَيْرِهَا[1] حَتّٰى كَانَتْ تِلْكَ الْغَزْوَةُ فَغَزَاهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَرٍّ شَدِيْدٍ، وَاسْتَقْبَلَ سَفَرًا بَعِيْدًا وَمَفَازًا[2] وَاسْتَقْبَلَ عَدَدًا كَثِيْرًا. فَجَلّٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ أَمْرَهُمْ لِيَتَاهَبُوْا أُهْبَةَ غَزْوِهِمْ[3] فَأَخْبَرَهُمْ بِوَجْهِهِمُ الَّذِيْ يُرِيْدُ وَالْمُسْلِمُوْنَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَثِيْرٌ وَلَا يَجْمَعُهُمْ كِتَابُ حَافِظٍ "يُرِيْدُ بِذٰلِكَ الدِّيْوَانَ" قَالَ كَعْبٌ: فَقَلَّ رَجُلٌ يُرِيْدُ أَنْ يَتَغَيَّبَ إِلَّا ظَنَّ أَنَّ ذٰلِكَ سَيَخْفٰى بِهِ مَا لَمْ يَنْزِلْ فِيْهِ وَحْيٌ مِّنَ اللّٰهِ، وَغَزَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الْغَزْوَةَ حِيْنَ طَابَتِ الثِّمَارُ وَ

نه لاس په سر کېدل نهٔ غواړم. اګرچه په خلقو کښې د جنګ بدر مشهورتیا زیاته ده۔

غزوهٔ تبوک کښې د نهٔ شریکېدو واله قصه داسې ده چه دغه وخت کښې څما مال او طاقت ډیر زیات وو. او حالت مې ډیر ښهٔ وو. د دې نه مخکښې داسې نهٔ وو، په الله مې دې قسم وی چه د دې غزوې په زمانه کښې ماسره دوه اوښې هم وې. او د دې نه مخکښې ماسره داسې اوښې نهٔ وې۔

او رسول الله صلی الله علیه وسلم به چه کله د جنګ اراده کوله، نو اصل مقام به ئې پټ کړو او بل ځائې به ئې اوښودلو۔ لیکن چه کله د تبوک د غزا موقع راغله نو سخت د ګرمۍ موسم وو. نهٔ اوبهٔ وې نهٔ ګیاه وه. خشکه او شاړه ...... علاقه وه. او د دشمن لښکر او شمیر هم ډیر زیات وو. مګر نبی اکرم صلی الله علیه وسلم هیڅ پرده پرې وانهٔ چوله. د ټولو حالاتو نه ئې مسلمانان خبر کړل چه د حالاتو اندازه واخلی او د جنګ تیارې اوکړی. دے موقعه باندې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د خپلو ارادو پوره او ښکاره اظهار اوکړو دغه وخت کښې مسلمانان هم ډیر زیات وو. مګر داسې رجسټر نهٔ وو چه په هغې کښې د ټولو نومونه لیکلی شوې وې (چه معلومه شی چه څوک شریک شوا و څوک نهٔ دې شریک شوې)

حضرت کعب رضی فرمائیلی دی چه څوک په دغه جنګ کښې نهٔ وو شریک شوی، هغوئ دا ګنړله چه ترڅو پورې څما متعلق وحی نازله شوی نهٔ وی نو څما غیرحاضری به پټه پاتې کیږی. او چاته به هم پته نهٔ وی چه فلانکې غیرحاضر وو. کله چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د جنګ ارادٰه اوکړه د میوو د پخېدو موسم وو (د ډیرې ګرمۍ نه) د اونو سورې ډیر ښهٔ لګیدل. او زهٔ هم دے طرفته مائل ووم. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم او صحابهٔ رض جنګی تیارۍ کولو کښې مشغول

---

[1] ای اوهم ان یرید غیرها۔ [2] بفتح المیم ای یرید طویلة قلیلة الماء۔ [3] اهبة بضم الهمزة واسکان الهاء: ای لیستعدوا بما یحتاجون الیه فی سفرهم۔

الظِّلَالُ فَاَنَا اِلَيْهَا اَصْعَرُ[1] فَتَجَهَّزَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُسْلِمُوْنَ مَعَهٗ وَطَفِقْتُ اَغْدُوْ لِكَيْ اَتَجَهَّزَ مَعَهٗ فَاَرْجِعُ وَلَمْ اَقْضِ شَيْئًا وَاَقُوْلُ فِيْ نَفْسِيْ. اَنَا قَادِرٌ عَلٰى ذٰلِكَ اِذَا اَرَدْتُّ فَلَمْ يَزَلْ ذٰلِكَ يَتَمَادٰى بِيْ حَتَّى اسْتَمَرَّ بِالنَّاسِ الْجِدُّ[2] فَاَصْبَحَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَادِيًا وَالْمُسْلِمُوْنَ مَعَهٗ وَلَمْ اَقْضِ مِنْ جِهَازِيْ شَيْئًا ثُمَّ غَدَوْتُ فَرَجَعْتُ وَلَمْ اَقْضِ شَيْئًا فَلَمْ يَزَلْ ذٰلِكَ يَتَمَادٰى بِيْ حَتّٰى اَسْرَعُوْا وَتَفَارَطَ الْغَزْوُ[3] فَهَمَمْتُ اَنْ اَرْتَحِلَ فَاُدْرِكَهُمْ فَيَا لَيْتَنِيْ فَعَلْتُ، ثُمَّ لَمْ يُقَدَّرْ ذٰلِكَ لِيْ فَطَفِقْتُ اِذَا خَرَجْتُ فِي النَّاسِ بَعْدَ خُرُوْجِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْزُنُنِيْ اَنِّيْ لَا اَرٰى لِيْ اُسْوَةً[4] اِلَّا رَجُلًا مَغْمُوْصًا عَلَيْهِ فِي النِّفَاقِ[5] اَوْ رَجُلًا مِمَّنْ عَذَرَ اللّٰهُ تَعَالٰى مِنَ الضُّعَفَاءِ وَلَمْ يَذْكُرْنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى بَلَغَ تَبُوْكَ فَقَالَ وَهُوَ جَالِسٌ فِي الْقَوْمِ بِتَبُوْكَ: مَا فَعَلَ كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ؟ فَقَالَ رَجُلٌ مِّنْ بَنِيْ سَلِمَةَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ حَبَسَهٗ بُرْدَاهُ وَالنَّظَرُ فِيْ عِطْفَيْهِ: فَقَالَ لَهٗ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: بِئْسَ مَا قُلْتَ وَاللّٰهِ

وو. زۀ به هم دَ سحر په وخت تيارى دپاره اووتلم. مګر دَ يو کار دَ پوره کولو او تيارى کولو نه بغير هسې ګرځيدم راګرځيدم او واپس به راغلم. او زړۀ کښې به مې اووئيل، چه اوس موسم لږ ګرم دے او کافى وخت دے. بل وخت به دا کار اوکړم. نن صبا کښې وخت تير شو. مسلمانانو دَ خپل طاقت مناسب سامان تيار کړے وو. آخر هم رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ مسلمانانو سره يو سحر روان شو. او زۀ نن او صبا تلو کښې ووم. او هيڅ مې هم تيار نۀ کړل. مسلمانان به مخکښې تلل او ما به دا سوچ کولو چه زۀ به يوازے سفر اوکړم او هغوئ سره به شامل شم. کاش چه دا مې هم کړى وے. مګر ځما په تقدير کښې نۀ وه.

رسول الله صلى الله عليه وسلم د روانګئ نه پس به پلټے شوو خلقو کښې زۀ ګرځيدم نو دَ دے په ليدلو به غمژن کيدم چه سِوا دَ هغه خلقو نه چه په هغوئ باندِ دَ منافق کيدو خيال کولے شو يا دَ هغې خلقو نه چه کمزورى او بيماران به وو چه دَ الله په نزد معذور وو، ما ته به بل څوک په نظر نۀ راتلل تبوک ته رسيدو پورے رسول الله صلى الله عليه وسلم ځما متعلق څۀ ذکر نۀ وو کړے. يوه ورځ تبوک کښې دَ خلقو په مينځ کښې ناست وو. نو تپوس ئے اوکړو چه کعب بن مالکؓ څۀ اوکړل؟ نو دَ بنى سلمه قبيلے يو کس اووئيل يا رسول الله: هغۀ په خپلو څادرونو او دواړو طرفونو باندِ نظر اچول منع کړى دى (يعنى خپل لباس او صحت او طاقت باندِ دهوکه کښې پريوتو او جنګ کښې شريکيدو نه منع شو) نو معاذ بن جبلؓ دغه کس ته اووئيل چه غلطه خبره دِ اوکړه. بيائے رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عرض اوکړو، يا رسول الله: په الله مې دِ قسم وى. مونږ په هغۀ بغير دَ نيکئ نه څۀ بدى نۀ دَه ليدلے خو رسول الله صلى الله عليه وسلم چپ پاتے شو. دے وخت کښې صحرا کښې يو سپينو جامو والا سړے راتلونکے په نظر راغے. چه دَ سپينو جامو په وجه دَ

---

[1] اصعر بالمهملتين اى اميل.
[2] الجد بكسر الجيم: الاجتهاد فى امر السفر وشانه.
[3] اى تقدم الغزاة
[4] بضم الهمزة وكسرها اى قدوة
[5] مغموصا بالغين المعجمة والصاد المهملة اى مطعونا عليه بانه منافق

يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ اِلَّا خَيْرًا فَسَكَتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَيْنَا هُوَ عَلٰى ذٰلِكَ رَاٰى رَجُلًا مُبَيِّضًا[1] يَزُوْلُ بِهِ السَّرَابُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كُنْ اَبَا خَيْثَمَةَ فَاِذَا هُوَ اَبُوْ خَيْثَمَةَ الْاَنْصَارِيُّ وَهُوَ الَّذِيْ تَصَدَّقَ بِصَاعِ التَّمْرِ حِيْنَ لَمَزَهُ الْمُنَافِقُوْنَ[2] قَالَ كَعْبٌ: فَلَمَّا بَلَغَنِيْ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ تَوَجَّهَ قَافِلًا مِّنْ تَبُوْكَ حَضَرَنِيْ بَثِّيْ فَطَفِقْتُ اَتَذَكَّرُ الْكَذِبَ وَاَقُوْلُ: بِمَ اَخْرُجُ مِنْ سَخَطِهِ غَدًا وَاَسْتَعِيْنُ عَلٰى ذٰلِكَ بِكُلِّ ذِيْ رَاْيٍ مِّنْ اَهْلِيْ، فَلَمَّا قِيْلَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اَظَلَّ قَادِمًا زَاحَ عَنِّي الْبَاطِلُ حَتّٰى عَرَفْتُ اَنِّيْ لَمْ اَنْجُ مِنْهُ بِشَيْءٍ اَبَدًا فَاَجْمَعْتُ صِدْقَهٗ[3] وَاَصْبَحَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَادِمًا وَكَانَ اِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ بَدَاَ بِالْمَسْجِدِ فَرَكَعَ فِيْهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ جَلَسَ لِلنَّاسِ فَلَمَّا فَعَلَ ذٰلِكَ جَآءَهُ الْمُخَلَّفُوْنَ[4]، يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْهِ وَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ وَكَانُوْا بِضْعًا وَّثَمَانِيْنَ رَجُلًا[5] فَقَبِلَ مِنْهُمْ عَلَانِيَتَهُمْ وَبَايَعَهُمْ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمْ وَوَكَلَ سَرَآئِرَهُمْ اِلَى اللّٰهِ تَعَالٰى حَتّٰى جِئْتُ فَلَمَّا سَلَّمْتُ تَبَسَّمَ تَبَسُّمَ الْمُغْضَبِ[6] ثُمَّ قَالَ: تَعَالَ، فَجِئْتُ اَمْشِيْ حَتّٰى جَلَسْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ لِيْ مَا خَلَّفَكَ؟ اَلَمْ تَكُنْ قَدِ ابْتَعْتَ

زمکے دَ شګو کل غوندِ کمان پرے کیدلو. رسول الله صلے الله علیه وسلم اوفرمائیل. دا ابوخیثمهؓ کیدے شی. او واقعی هغه ابوخیثمه انصاریؓ وو. او دا هغه ابوخیثمهؓ وو چه منافقانو دَ یو صاع کهجورو صدقه کولو باندِ پیغور درکړے وو (چه الله تعالیٰ به دَ هغهٔ په یو صاع صدقے سره غنی شی)

حضرت کعبؓ وائی چه وخت داسے تیر شو. کله چه دَ رسول الله صلے الله علیه وسلم دَ تبوک نه دَ واپس راتلو خبر را ورسیدو. نو زړهٔ ته مِ سخت غم اورسیدهٔ ما دَ دروغو او دَ غلطو بهانو سوچ کولو. چه په هغے سره دَ رسول الله صلے الله علیه وسلم دَ ملامتیا او خفګان نه بچ شم. خپلوانو کښے چه څوک سوچ والا وو دَ هغوی نه مِ هم څهٔ امداد طلب کړو. او کله چه ما ته خبر را ورسیدو، چه بس نن صبا کښے رسول الله صلے الله علیه وسلم راتلونکے دے نو ما چرته څهٔ بهانه تلاش کوله. نو دَ خلاصی هیڅ صورت په نظر رانغلو. او دَ باطلو، ناحقو او دَ دروغو عذرونه او ټولے بهانے مِ دَ زړهٔ نه اوویستلے او دَ رښتیا ویلو قصد او اراده مِ اوکړه.

آخر یو سحر رسول الله صلے الله علیه وسلم را اورسیدو. دَ هغهٔ قاعده داوه چه کله به هغوی چرته دَ سفر نه راتللو نو اول به جومات ته تلل. او دوه رکعته نفل به ئے کول. بیائے خلقو طرفته مخ کړو او کیناستلو. دَ خپل عادت مطابق ئے داسے اوکړل. کوم خلق چه دَ تبوک نه پاتے شوی وو. هغوی یو یو کس راغے. او خپل خپل عذرئے بیان کړو، او قسمونه به ئے خوړل. چه مونږ ته مجبوری وه او فلانکئ وجه وه چه مونږ شریک نهٔ شو او تقریباً دَ اتیاؤ نه زیات کسان وو.

رسول الله صلے الله علیه وسلم دَ دوئ په ظاهر

---

[1] مبيضا بكسر الياء التحتية: اى لا بالبياض: والسراب: هو ما يظهر للانسان فى الهواجر فى البرارى كانه ماء

[2] لمزة المنافقون: اى قالوا: ان الله غنى عن صاع هذا وقافلا: اى راجعا. والبث الحزن الشديد

[3] اى عزمت عليه

[4] عن الخروج معه الى تبوك

[5] البضع بكسر الباء الموحدة وسكون المعجمة: ما بين الثلاث الى التسع من العدد

[6] اى

ظَهْرَكَ [1] قَالَ قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّيْ وَاللّٰهِ لَوْ جَلَسْتُ عِنْدَ غَيْرِكَ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا لَرَأَيْتُ أَنِّيْ سَأَخْرُجُ مِنْ سَخَطِهِ بِعُذْرٍ؛ لَقَدْ أُعْطِيْتُ جَدَلًا [2] وَلٰكِنِّيْ وَاللّٰهِ لَقَدْ عَلِمْتُ لَئِنْ حَدَّثْتُكَ الْيَوْمَ حَدِيْثَ كَذِبٍ تَرْضٰى بِهِ عَنِّيْ لَيُوْشِكَنَّ اللّٰهُ يُسْخِطُكَ عَلَيَّ وَإِنْ حَدَّثْتُكَ حَدِيْثَ صِدْقٍ تَجِدُ عَلَيَّ فِيْهِ [3] إِنِّيْ لَأَرْجُوْ فِيْهِ عُقْبَى اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ [4] وَاللّٰهِ مَا كَانَ لِيْ مِنْ عُذْرٍ، وَاللّٰهِ مَا كُنْتُ قَطُّ أَقْوٰى وَلَا أَيْسَرَ مِنِّيْ حِيْنَ تَخَلَّفْتُ عَنْكَ قَالَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمَّا هٰذَا فَقَدْ صَدَقَ فَقُمْ حَتّٰى يَقْضِيَ اللّٰهُ فِيْكَ. وَسَارَ رِجَالٌ مِّنْ بَنِيْ سَلِمَةَ فَاتَّبَعُوْنِيْ فَقَالُوْا لِيْ: وَاللّٰهِ مَا عَلِمْنَاكَ أَذْنَبْتَ ذَنْبًا قَبْلَ هٰذَا لَقَدْ عَجَزْتَ فِيْ أَنْ لَا تَكُوْنَ اعْتَذَرْتَ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا اعْتَذَرَ بِهِ الْمُخَلَّفُوْنَ فَقَدْ كَانَ كَافِيَكَ ذَنْبَكَ اسْتِغْفَارُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَكَ قَالَ: فَوَاللّٰهِ مَا زَالُوْا يُؤَنِّبُوْنَنِيْ [5] حَتّٰى أَرَدْتُّ أَنْ أَرْجِعَ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُكَذِّبَ نَفْسِيْ. ثُمَّ قُلْتُ لَهُمْ: هَلْ لَقِيَ هٰذَا مَعِيَ مِنْ أَحَدٍ قَالُوْا: نَعَمْ لَقِيَهُ مَعَكَ رَجُلَانِ قَالَا مِثْلَ مَا قُلْتَ وَقِيْلَ لَهُمَا مِثْلُ مَا قِيْلَ لَكَ قَالَ:

باندِ نظر اوکړو، او ټول ئے معاف کړل. او دَ هغوئ نه ئے بیعت واخستو. او دَ مغفرت دُعا ګانے ئے ورته اوکړے. او دَ هغوئ باطنی حقیقت حال ئے الله ته اوسپارلو، آخر زۀ هم حاضر شوم. او سلام مے واچولو. رسول الله ﷺ غصه کښے وُو لیکن لږ غوندے مُسکے شو ئے فرمائیل مخکښے راشه. نو زۀ ورته مخامخ کیناستم. نو وے وئیل چه دَ نۀ راتلو څۀ وجه وه؟ آیا تا سورلۍ اخستے نۀ وه؟ ما عرض اوکړو، یا رسول الله! که زۀ دَ دُنیاوی سردارانو خدمت کښے حاضر وے، نو ما به خپلے پوهے سره دَ هغۀ دَ خفګان ختمولو دپاره څۀ عُذر جوړ کړے وو. او دَ ځان دَ خلاصی دپاره به مِ څۀ وئیلی هم وو. لیکن والله. زۀ ښه پوهیږم، که زۀ تاسو ته دروغ هم اووایم. او په دے تاسو څما نه خوشحاله هم شئ. نو الله به څما دروغ ښکاره کړی. او تاسو به را نه خفه کړی. او که زۀ تاسو ته رښتیا عرض کړم. او تۀ به دَ هغے په وجه سره څما نه ناراضه هم شے، نو دَ الله تعالیٰ نه څما دَ خپلے بدلے اُمید او توقع شته.

په الله مے دِ قسم وی، ما ته هیڅ عذر پیښ شوے نۀ وو. او په الله قسم، چه دَ دے جهاد په وخت زۀ دومره طاقتور او مالدار وم چه مخکښے نۀ وم. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، دے کس رښتیا اووئیل. بس تۀ لاړ شه. چه ستا باره کښے الله تعالیٰ څۀ فیصله اوکړی. زۀ پاڅیدم. نو دَ بنی سلمه څو کسان ما پسے روستو روستو راروان وو. هغوئ اووئیل: په الله قسم دے. څمونږ خیال دا دے چه دَ دے نه مخکښے تا یو قصور هم نۀ دے کړے. نو بیا دِ دَ نبی اکرم صلے الله علیه وسلم په وړاندِ دَ نورو خلقو په شان عذرونه ولے نۀ پیش کړل. ستا دَ خطا دپاره دَ نبی اکرم صلے الله علیه وسلم معافی هم کافی وه. دغه خلقو

---

[1] ای اشتریت راحلتك ۔
[2] بفتح الجیم والدال: ای فصاحة وبراعة [3] تجد بکسر الجیم وتخفیف الدال ای تغضب [4] العقبی بضم العین المهملة وسکون القاف العاقبة الحسنة بتوبة الله علی ورضا رسول الله صلی الله علیه وسلم عنی و لصدقه رضی الله عنه تاب الله علیه ورضی الرسول عنه [5] ای یلوموننی اشد اللوم.

قُلْتُ: مَنْ هُمَا؟ قَالُوْا: مُرَارَةُ بْنُ الرَّبِيْعِ الْعَامِرِيُّ، وَهِلَالُ بْنُ اُمَيَّةَ الْوَاقِفِيُّ قَالَ: فَذَكَرُوْا لِيْ رَجُلَيْنِ صَالِحَيْنِ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا فِيْهِمَا اُسْوَةٌ[1] قَالَ فَمَضَيْتُ حِيْنَ ذَكَرُوْهُمَا لِيْ۔ وَنَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كَلَامِنَا اَيُّهَا الثَّلَاثَةُ مِنْ بَيْنِ مَنْ تَخَلَّفَ عَنْهُ قَالَ: فَاجْتَنَبَنَا النَّاسُ۔ اَوْ قَالَ تَغَيَّرُوْا لَنَا۔ حَتّٰى تَنَكَّرَتْ لِيْ[2] فِيْ نَفْسِي الْاَرْضُ فَمَاهِيَ بِالْاَرْضِ الَّتِيْ اَعْرِفُ فَلَبِثْنَا عَلٰى ذٰلِكَ خَمْسِيْنَ لَيْلَةً: فَاَمَّا صَاحِبَايَ فَاسْتَكَانَا[3] وَقَعَدَا فِيْ بُيُوْتِهِمَا يَبْكِيَانِ وَاَمَّا اَنَا فَكُنْتُ اَشَبَّ الْقَوْمِ[4] وَاَجْلَدَهُمْ فَكُنْتُ اَخْرُجُ فَاَشْهَدُ الصَّلٰوةَ مَعَ الْمُسْلِمِيْنَ وَاَطُوْفُ فِي الْاَسْوَاقِ وَلَا يُكَلِّمُنِيْ اَحَدٌ وَاٰتِيْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاُسَلِّمُ عَلَيْهِ وَهُوَ فِيْ مَجْلِسِهٖ بَعْدَ الصَّلٰوةِ فَاَقُوْلُ فِيْ نَفْسِيْ هَلْ حَرَّكَ شَفَتَيْهِ بِرَدِّ السَّلَامِ اَمْ لَا؟ ثُمَّ اُصَلِّيْ قَرِيْبًا مِنْهُ وَاُسَارِقُهُ النَّظَرَ، فَاِذَا اَقْبَلْتُ عَلٰى صَلَاتِيْ نَظَرَ اِلَيَّ وَاِذَا الْتَفَتُّ نَحْوَهُ اَعْرَضَ عَنِّيْ حَتّٰى اِذَا طَالَ ذٰلِكَ عَلَيَّ مِنْ جَفْوَةِ الْمُسْلِمِيْنَ مَشَيْتُ حَتّٰى تَسَوَّرْتُ جِدَارَ حَائِطِ اَبِيْ قَتَادَةَ[5] وَهُوَ ابْنُ عَمِّيْ وَ

زۀ ډیر ملامته کړم، چه ما اراده اوکړه چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم له واپس لاړ شم۔ او خپله مخکښے خبره رد کړم۔ بیا ما دَ هغوئ نه تپوس اوکړو چه څما په شان معامله بل چا سره هم شوے وه۔ هغوئ اووئیل، هَو۔ دوه کسان نور هم شته۔ چه هغوئ هم دغسے وئیلی دی۔ څنګه چه تا اووئیل۔ او نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغوئ ته هم هغے اووئیل څنګه چه ئے تا ته اووئیل۔ ما هغوئ نه دَ هغوئ دَ نومونو تپوس اوکړو۔ نو وے وئیل چه یو مُراره بن ربیعه عامریؓ دے۔ او دویم هلال بن امیه واقفیؓ دے۔ کله چه هغوئ دَ داسے دوه کسانو نومونه اوښودل، چه نیکان وو۔ چه دَ ډیرو صفتونو خاوندان وو۔ او جنګ بدر کښے هم شریک شوی وو۔ نو زۀ په اولنی خیالاتو کلک اودریدم۔

دَ نورو کسانو غیر حاضرونه سِوا نبی کریم صلے اللّٰه علیه وسلم مونږ درے کسانو سره مسلمانانو له دَ خبرو کولو نه منع کړل۔ دَ دے اثر دا اوشو چه خلقو څمونږ نه ډډه کوله۔ او ټول څمونږ نه دَ پردو غوندِ شول۔ او څما دَ دنیا حالت خو بالکل بدل شو۔ دَ مدینے خلق ټول نا اشنا نا اشنا معلومیدل۔ دغسے مدینه هم نابلده معلومیدله دے حالت کښے پنځوس ورځے تیرے شوے۔ او نور دوه ملګری م کورونو کښے پراتۀ وو۔ او همیشه به ئے ژړل۔ ځکه چه هغوئ ډیر کمزوری وو۔ او زۀ ځوان او طاقتور ووم۔ بهرته به هم تللم۔ او مسلمانانو سره به په مانځۀ کښے هم شریکیدلم۔ بازارونو کښے به هم ګرځیدلم۔ لیکن ما سره دَ چا هم دَ خبرو شوق نۀ وو۔ دَ نبی کریم صلے الله علیه وسلم په خدمت کښے به هم حاضریدلم۔ او دَ مانځۀ نه پس به نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه کله کینا ستو، نو ما به هم سلام اوکړو۔ او زړۀ کښے به م سوچ کولو۔ چه معلومه نۀ ده چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم به دَ سلام جواب دَ شونډو مبارکو په سر هم واخلی کۀ نۀ؟ بیا به م دَ هغۀ سره نزدے نزدے مونځ کولو۔

---

[1] بضم الهمزة وكسرها: اى قدوة [2] اى تغيرت لى [3] اى خضعا [4] اى اصغرهم سنا۔

[5] اى عبوت سور بستانه

اَحَبُّ النَّاسِ اِلَیَّ فَسَلَّمْتُ عَلَیْهِ فَوَاللّٰهِ مَا رَدَّ عَلَیَّ السَّلَامَ فَقُلْتُ لَهٗ یَا اَبَا قَتَادَةَ اَنْشُدُكَ بِاللّٰهِ[1] هَلْ تَعْلَمُنِیْ اُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَسَكَتَ فَعُدْتُّ فَنَاشَدْتُهٗ فَسَكَتَ فَعُدْتُّ فَنَاشَدْتُّهٗ: فَقَالَ اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ فَفَاضَتْ عَیْنَایَ[2] وَتَوَلَّیْتُ حَتّٰی تَسَوَّرْتُ الْجِدَارَ فَبَیْنَا اَنَا اَمْشِیْ فِیْ سُوْقِ الْمَدِیْنَةِ اِذَا نَبَطِیٌّ مِنْ نَبَطِ اَهْلِ الشَّامِ[3] مِمَّنْ قَدِمَ بِالطَّعَامِ یَبِیْعُهٗ بِالْمَدِیْنَةِ یَقُوْلُ: مَنْ یَدُلُّ عَلٰی كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ؟ فَطَفِقَ النَّاسُ یُشِیْرُوْنَ لَهٗ اِلَیَّ حَتّٰی جَآءَنِیْ فَدَفَعَ اِلَیَّ كِتَابًا مِنْ مَّلِكِ غَسَّانَ وَكُنْتُ كَاتِبًا فَقَرَاْتُهٗ فَاِذَا فِیْهِ: اَمَّا بَعْدُ فَاِنَّهٗ قَدْ بَلَغَنَا اَنَّ صَاحِبَكَ قَدْ جَفَاكَ وَلَمْ یَجْعَلْكَ اللّٰهُ بِدَارِ هَوَانٍ وَلَا مَضْیَعَةٍ فَالْحَقْ بِنَا نُوَاسِكَ[4] فَقُلْتُ حِیْنَ قَرَاْتُهَا: وَهٰذِهٖ اَیْضًا مِنَ الْبَلَاءِ فَتَیَمَّمْتُ بِهَا التَّنُّوْرَ[5] فَسَجَرْتُهَا حَتّٰی اِذَا مَضَتْ اَرْبَعُوْنَ مِنَ الْخَمْسِیْنَ وَاسْتَلْبَثَ الْوَحْیُ اِذَا رَسُوْلُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَاْتِیْنِیْ فَقَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَاْمُرُكَ اَنْ تَعْتَزِلَ امْرَاَتَكَ، فَقُلْتُ اُطَلِّقُهَا اَمْ مَاذَا اَفْعَلُ فَقَالَ: لَا بَلِ اعْتَزِلْهَا

او په یوه سترګه به م هغوی ته کتل. نوکله چه به زهٔ مانځهٔ کښې مشغول شوم نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم به ما ته کتل او کله چه به ما هغوئ ته کتل نو خپل مخ به ئے اوګرځولو- غرض دا چه دَ مسلمانانو تریو تندی سره کتل زیات شول. یوه ورځ دَ خپل تره ځوئے او زړهٔ ته نزدے دوست ابوقتادهؓ دَ باغ په دیوال اوختلم. ما ورباندِ سلام واچولو. مګر والله کښې هغوئ دَ سلام جواب هم رانکړو- نو ما اووئیل، اے ابوقتادهؓ! په اللهؔ قسم. تپوس درنه کوم چه تا ته ولے معلومه نهٔ ده چه ځما دَ اللهؔ او دَ هغهٔ دَ رسول صلے الله علیه وسلم سره مینه شته دے؟ مګر هغه بالکل چپ شو. ما دوباره قسم ورکړو او تپوس م ترے اوکړو بیا هم هغه چپ شو. بیا م قسم ورکړو، نو دا ئے جواب ئے راکړو چه اللهؔ او دَ هغهٔ رسول صلے الله علیه وسلم بنهٔ پوهیږی. دا چه م واوریدل، نو دَ سترګو نه م اوښکے راروانے شوے. او دَ دیوال نه م ټوپ کړو. او واپس راغلم.

یوه ورځ دَ مدینے بازار کښې ګرځیدم. چه دَ شام یو نبطی غلے خرخولو دپاره مدینے ته راغلے وو. خلقو نه ئے تپوس کولو چه څوک به ما ته دَ کعب بن مالک پته راکړی؟ نو خلقو ځما طرف ته اشاره اوکړه. نو هغه ځما خواله راغے او ما ته ئے دَ غسّان بادشاه رالیږلے خط راکړو- زهٔ په خط پوهیدم. ما خط اولوستلو. هغې کښې ئے لیکلی وو، چه ما ته معلومه شویده چه تا سو سره خپل دوست رسول الله صلے الله علیه وسلم ظلم زیاتے کړے دے. الله تعالیٰ ستاسو دپاره دَ ذلت او دَ حق ضائع کیدلو په ځائے کښې دَ اوسیدلو دپاره نهٔ دے جوړ کړے. ته مونږ له راشه نو مونږ به تا له ډاډګیرنه درکړو او ستا عزت به اوکړو- خط م اولوستو او زړهٔ کښې م سوچ اوکړو. چه دا ځما یو بل امتحان شو او خط م تنور کښې واچولو. پنځوس[5]و ورځو کښې صرف څلویښت ورځے تیرے شوے وے. او دغه وخته پورے ځما په باره کښې وحی هم نازله نهٔ وه.

---

[1] ای اسئلك بالله تعالیٰ [2] ای بالدموع [3] النبطی بفتح النون والموحدة. الفلاح: [4] نواسك بضم النون وکسر المهملة من المواساة. [5] هو ما یخبز فیه وسجرتها او قدتها.

فَلَا تَقْرَبْنَهَا وَاَرْسَلَ اِلٰى صَاحِبَيَّ بِمِثْلِ ذٰلِكَ فَقُلْتُ لِاِمْرَأَتِي الْحَقِيْ بِاَهْلِكِ فَكُوْنِيْ عِنْدَهُمْ حَتّٰى يَقْضِيَ اللّٰهُ فِيْ هٰذَا الْاَمْرِ فَجَاءَتِ امْرَاَةُ هِلَالِ بْنِ اُمَيَّةَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ لَهٗ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ هِلَالَ بْنَ اُمَيَّةَ شَيْخٌ ضَائِعٌ لَيْسَ لَهٗ خَادِمٌ فَهَلْ تَكْرَهُ اَنْ اَخْدُمَهٗ؟ قَالَ: لَا وَلٰكِنْ لَا يَقْرَبَنَّكِ[2] فَقَالَتْ: اِنَّهٗ وَاللّٰهِ مَا بِهٖ مِنْ حَرَكَةٍ اِلٰى شَيْءٍ وَوَاللّٰهِ مَا زَالَ يَبْكِيْ مُنْذُ كَانَ مِنْ اَمْرِهٖ مَا كَانَ اِلٰى يَوْمِهٖ هٰذَا فَقَالَ لِيْ بَعْضُ اَهْلِيْ: لَوِ اسْتَاْذَنْتَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي امْرَاَتِكَ فَقَدْ اَذِنَ لِاِمْرَأَةِ هِلَالِ بْنِ اُمَيَّةَ اَنْ تَخْدُمَهٗ؟ فَقُلْتُ لَا اَسْتَاْذِنُ فِيْهَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا يُدْرِيْنِيْ مَاذَا يَقُوْلُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اسْتَاْذَنْتُهٗ فِيْهَا وَاَنَا رَجُلٌ شَابٌّ فَلَبِثْتُ بِذٰلِكَ عَشْرَ لَيَالٍ فَكَمَلَ لَنَا خَمْسُوْنَ لَيْلَةً مِنْ حِيْنَ نُهِيَ عَنْ كَلَامِنَا ثُمَّ صَلَّيْتُ صَلٰوةَ الْفَجْرِ صَبَاحَ خَمْسِيْنَ لَيْلَةً عَلٰى ظَهْرِ بَيْتٍ مِنْ بُيُوْتِنَا. فَبَيْنَا اَنَا جَالِسٌ عَلَى الْحَالِ الَّتِيْ ذَكَرَ اللّٰهُ تَعَالٰى مِنَّا قَدْ ضَاقَتْ عَلَيَّ نَفْسِيْ وَضَاقَتْ عَلَيَّ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ سَمِعْتُ صَوْتَ صَارِخٍ[3] اَوْفٰى عَلٰى سَلْعٍ[4]

چه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم قاصد ماله راغے۔ او خبرے راکړو چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم تا ته دَ بی بی سره دَ نه اوسیدو حکم کړے دے۔ ما تپوس اوکړو۔ چه طلاق ورکړم که څهٔ اوکړم؟ قاصد اووئیل چه نه بس جدائی اختیار کړه۔ بی بی سره کوږ ولے مهٔ کوه۔ او دَ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دا حکم ځما نورو دوؤ ملګرو ته هم رسولے شوے وو۔ ما خپلے بی بی ته اووئیل ته خپل پلار کره لاړه شه۔ ترڅو پورے چه الله تعالیٰ دَ دے معاملے فیصله نهٔ وی کړی نو هلته اوسه۔ دَ هلال بن امیهؓ بنځه دَ رسول الله صلے الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضره شوه۔ او عرض ئے اوکړهٔ چه هلال دومره بوډا شوے دے چه خپل کار په خپله نشی کولے۔ نهٔ نوکر ساتلے شی۔ نو که زهٔ د هغهٔ خدمت اوکړم نو تا سو به ئے بد ګنړئ؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل نهٔ۔ مګر کوروالی ته ئے مهٔ پریږده۔ هغے اووئیل، والله هغهٔ کښے دَ دے حرکت هم نشته، او دَ کومے ورځے نه چه دا معامله پیښه شوے، نن ورځے پورے روزانه ژاړی۔ ماته کور والؤ اووئیل چه ته هم دَ نبی اکرم صلے الله علیه وسلم نه دَ خپلے بی بی په باره کښے اجازت واخله۔ څنګه چه دَ هلال بی بی اجازت واخستو۔ نو ستا بی بی به هم ستا خدمت کوی۔ ما اووئیل چه دَ سلسله کښے زهٔ نبی اکرم صلے الله علیه وسلم ته درخواست نهٔ کوم۔ معلومه نهٔ ده چه نبی اکرم صلے الله علیه وسلم به څهٔ جواب راکوی۔ او زهٔ خو بیا هم ځوان یم۔ دے نه پس لس شپے نورے هم تیرے شوے۔ دَ قطع تعلق دَ ورځے راسے پوره پنځوس شپے تیرے شوے۔ دَ پنځو سمے ورځے سحر مونځ مِ دَ کور په چونتره باندِ کولو۔ دَ مانځهٔ نه پس هم هغه حالت کښے ناست ووم۔ او زړهٔ مِ بے آرامه وو۔ او زمکه سره دَ فراخئ نه په ما تنګه شوے وه۔ چه ناګهانه دَ سلع غرنه یو اوچت او به زوره آواز کونکی آواز اوکړو۔ چه اے کعب بن مالکؓ! ستا دپاره خوش خبری ده۔ چه دا آواز مِ واوریدو نو په سجده پریوتلم۔ زهٔ پوه شوم، چه الله تعالیٰ دَ فراخئ

---

[1] اى ابطاء۔ [2] هذا كناية عن الجماع [3] هو ابوبكر الصديق رضى الله عنه [4] اى صعد على سلع بفتح السين وسكون اللام

يَقُوْلُ بِاَعْلٰى صَوْتِهٖ يَا كَعْبُ بْنَ مَالِكٍ اَبْشِرْ فَخَرَرْتُ سَاجِدًا وَعَرَفْتُ اَنَّهٗ قَدْ جَآءَ فَرَجٌ فَاٰذَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ بِتَوْبَةِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ عَلَيْنَا حِيْنَ صَلّٰى صَلٰوةَ الْفَجْرِ فَذَهَبَ النَّاسُ يُبَشِّرُوْنَنَا فَذَهَبَ قِبَلَ صَاحِبَيَّ مُبَشِّرُوْنَ وَرَكَضَ اِلَيَّ رَجُلٌ فَرَسًا[1] وَسَعٰى سَاعٍ مِّنْ اَسْلَمَ قِبَلِيْ[2] وَاَوْفٰى عَلَى الْجَبَلِ، فَكَانَ الصَّوْتُ اَسْرَعَ مِنَ الْفَرَسِ فَلَمَّا جَآءَنِي الَّذِيْ سَمِعْتُ صَوْتَهٗ يُبَشِّرُنِيْ نَزَعْتُ لَهٗ ثَوْبَيَّ فَكَسَوْتُهُمَا اِيَّاهُ بِبُشْرَاهُ وَاللّٰهِ مَا اَمْلِكُ غَيْرَهُمَا يَوْمَئِذٍ وَاسْتَعَرْتُ ثَوْبَيْنِ فَلَبِسْتُهُمَا وَانْطَلَقْتُ اَتَاَمَّمُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[3] يَتَلَقَّانِي النَّاسُ فَوْجًا فَوْجًا يُهَنِّئُوْنِيْ بِالتَّوْبَةِ وَيَقُوْلُوْنَ لِيْ لِتَهْنِكَ تَوْبَةُ اللّٰهِ عَلَيْكَ حَتّٰى دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَاِذَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ حَوْلَهُ النَّاسُ فَقَامَ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُهَرْوِلُ حَتّٰى صَافَحَنِيْ وَهَنَّاَنِيْ وَاللّٰهِ مَا قَامَ رَجُلٌ مِّنَ الْمُهَاجِرِيْنَ غَيْرُهٗ فَكَانَ كَعْبٌ لَا يَنْسَاهَا لِطَلْحَةَ قَالَ كَعْبٌ فَلَمَّا سَلَّمْتُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ يَبْرُقُ وَجْهُهٗ مِنَ السُّرُوْرِ: اَبْشِرْ بِخَيْرِ يَوْمٍ مَرَّ عَلَيْكَ مُذْ وَلَدَتْكَ اُمُّكَ فَقُلْتُ: اَمِنْ عِنْدِكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَمْ مِنْ

صورت پیدا کړو. د سحر مانځهٔ نه پس رسول الله صلے الله علیه وسلم صحابه کرامو ته څمونږ د توبے قبلیدو خبر ورکړے وو. او خلقو مونږ له د زیری راکولو د پاره رامنډے وهلے څهٔ ملګری څما ملګرو ته زیری ورکولو د پاره لاړې او یو کس په آس باندِ سور څما طرفته راغے. د دهٔ د رارسیدو نه مخکښے د قبیله بنی اسلم یو کس غر ته ختلے وو. او د هغهٔ آواز م د آس سوار نه مخکښے آوریدلے وو. و کله چه دغه کس ماله راغے، نو ما د تشکر دا کولو په بدله کښے د خپل بدن دواړه جامے ورواغوستولے. په الله م دِ قسم وی په دغه ورځ ما سره بغیر د دغه دوو کپړو نه هیڅ نهٔ وُو. ما د چا نه په سوال دوه جامے راواخستے او نبی اکرم صلے الله علیه وسلم سره د ملاویدو د پاره م قصد اوکړو. لاره کښے روان ووم چه ډلے ډلے خلق ما سره ملاؤ شول. و د توبے د قبولیت مبارکئ ئے راکولے. او وئیل به ئے چه مبارک شه الله تعالیٰ دِ توبه قبوله کړه. کله چه مسجد نبوی صلے الله علیه وسلم ته داخل شوم. نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ناست وو. کیرچاپیره صحابهؓ حلقه کښے ناست وو چه زرهٔ طلحه بن عبید اللهؓ ولیدم نو را ټوپ ئے کړ. ما سره ئے مصافحه اوکړه. او مبارکی ئے راکړه. په الله قسم دے چه بغیر د حضرت طلحهؓ نه یو مهاجر هم پاڅیدلے نهٔ وو. او کعبؓ به د حضرت طلحهؓ د مینے محبت ټوپ هیڅ کله نهٔ هیرولو.

کعبؓ وائی. چه ما د رسول الله صلے الله علیه وسلم په خدمت کښے سلام اوکړو. نو ما اولیدل چه د نبی اکرم صلے الله علیه وسلم مخ مبارک د خوشحالئ نه بریښنا کوله نبی اکرم صلے الله علیه وسلم اوفرمائیل، د کومے ورځے نه چه تهٔ پیدا شوے ئے او څومره ورځے تیرے شوی دی په هغې کښے د ټولو نه د بهترے ورځے زیرے درکوم. ما عرض اوکړو چه زیرے ستاسو د طرف نه دے که د الله د طرف نه. نو هغهٔ ارشاد اوفرمائیلو، چه د الله تعالیٰ د طرف نه. او دا د نبی اکرم صلے الله علیه وسلم عادت وو چه د خوشحالئ په وخت کښے به د هغهٔ د مخ نه بریښنا ختله. لکه د سپوږمئ

---

[1] الركض الجري الشديد والرجل: الزبير بن العوام ـه د چغې آواز کونکے
[2] هو حمزة بن عمر الاسلمي
[3] اى: تصده۔ والفوج: الجماعة۔

عِنْدِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ لَا بَلْ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا سُرَّ اسْتَنَارَ وَجْهُهٗ حَتّٰى كَاَنَّ وَجْهَهٗ قِطْعَةُ قَمَرٍ وَّكُنَّا نَعْرِفُ ذٰلِكَ مِنْهُ، فَلَمَّا جَلَسْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! اِنَّ مِنْ تَوْبَتِیْ اَنْ اَنْخَلِعَ[۵۱] مِنْ مَّالِیْ صَدَقَةً اِلَى اللّٰهِ وَاِلٰی رَسُوْلِهٖ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمْسِكْ عَلَيْكَ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكَ: فَقُلْتُ اِنِّیْ اُمْسِكُ سَهْمِیَ الَّذِیْ بِخَيْبَرَ وَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی اِنَّمَا اَنْجَانِیْ بِالصِّدْقِ وَاِنَّ مِنْ تَوْبَتِیْ اَنْ لَّا اُحَدِّثَ اِلَّا صِدْقًا مَّا بَقِيْتُ، فَوَاللّٰهِ مَا عَلِمْتُ اَحَدًا مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ اَبْلَاهُ اللّٰهُ تَعَالٰی[۵۲] فِیْ صِدْقِ الْحَدِيْثِ مُنْذُ ذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحْسَنَ مِمَّا اَبْلَاتِیْ اللّٰهُ تَعَالٰی وَاللّٰهِ مَا تَعَمَّدْتُ كِذْبَةً مُنْذُ قُلْتُ ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰی يَوْمِیْ هٰذَا وَاِنِّیْ لَاَرْجُوْ اَنْ يَّحْفَظَنِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی فِيْمَا بَقِیَ قَالَ، فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰی[۵۳] لَقَدْ تَابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِیِّ وَالْمُهَاجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ فِیْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ" حَتّٰی بَلَغَ: اِنَّهٗ

تکړه. چه هغې سره به مونږ ته د هغه د خوشحالۍ اندازه لګیدله.

غرض دا چه زه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې ناست ووم. ما عرض اوکړو یا رسول الله!

څما د توبې پوره والے به په دے سره وی چه د خپل ټول مال نه لاس واخلم. او خپل ټول مال د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې د صدقې په طور پیش کړم. نو جواب کښې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، بنه خبره دا ده چه خپل ځان د پاره هم څه اوساتې. ما عرض اوکړو. نو بیا خو به هغه مال خپل ځان له اوساتم کوم چه ما ته د خیبر په حصه کښې رسیدلے وو. بیا ما عرض اوکړو، یا رسول الله! د رښتیا وینا په وجه الله تعالیٰ په خپل رحمت خلاص کړم. زما د توبې د پوره کولو د پاره لوظ کوم. چه کوم وخته پورې ژوندے یم نو رښتیا به وایم.

کعب رض وائی. چه په الله قسم. کله چه ما رسول الله صلے الله علیه وسلم ته دا خبره عرض کړه چه زه پوهیږم چه د رښتیا ویلو متعلق الله تعالیٰ په ما څومره انعام اوکړو. نو په بل مسلمان ئے نه دے کړے. او قسم په الله چه د هغه وخت نه نن پورې ما کله هم دروغ نه دی ویلی. او د الله تعالیٰ نه م دا امید دے. چه را تلونکی وخت کښې هم ما د دروغ ویلو نه اوساتی.

د دے واقع متعلق الله تعالیٰ (سورة توبه آیت ۱۱۷-۱۱۹) نازل کړی دی. چه الله تعالیٰ د پیغمبر صلے الله علیه وسلم او د مهاجرینو او د انصارو په حال باندِ توجه اوکړه. ځکه چه په سخت وخت کښې ئے د نبی صلے الله علیه وسلم سره ملګرتیا اوکړه. او د او د بعضے خلقو په زړونو کښې تنګی پیدا شوه.

---

[۵۱] انخلع ای اخرج [۵۲] ای انعم علیه [۵۳] سورة التوبة، آیة ۱۱۷-۱۱۹

بِهِمْ رَءُوْفٌ رَحِيْمٌ ۝ وَعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا حَتّٰى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ، حَتّٰى بَلَغَ : اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصَّادِقِيْنَ ۝ قَالَ كَعْبٌ: وَاللّٰهِ مَا أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ مِنْ نِعْمَةٍ قَطُّ بَعْدَ إِذْ هَدَانِي اللّٰهُ لِلْاِسْلَامِ أَعْظَمَ فِيْ نَفْسِيْ مِنْ صِدْقِيْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لَا أَكُوْنَ كَذَبْتُهُ فَأَهْلِكَ كَمَا هَلَكَ الَّذِيْنَ كَذَبُوْا ، إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى قَالَ لِلَّذِيْنَ كَذَبُوْا حِيْنَ أَنْزَلَ الْوَحْيَ شَرَّ مَا قَالَ لِأَحَدٍ فَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [1] سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ إِذَا انْقَلَبْتُمْ [2] إِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوْا عَنْهُمْ فَأَعْرِضُوْا عَنْهُمْ إِنَّهُمْ رِجْسٌ [3] وَمَأْوٰهُمْ جَهَنَّمُ جَزَآءً بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يَرْضٰى عَنِ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ، قَالَ كَعْبٌ: كُنَّا خُلِّفْنَا أَيُّهَا الثَّلَاثَةُ عَنْ أَمْرِ أُولٰئِكَ الَّذِيْنَ قَبِلَ مِنْهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ حَلَفُوْا لَهُ فَبَايَعَهُمْ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمْ وَأَرْجَأَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْرَنَا حَتّٰى قَضَى اللّٰهُ تَعَالٰى فِيْهِ بِذٰلِكَ: قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى: وَعَلَى

بیا الله تعالیٰ د هغوئ په حال توجه اوکړه بے شکه الله تعالیٰ ډیر زیات شفیق او مهربان دے. د هغه درې یو کسانو په حال ئے هم توجه اوکړه کوم چه روستو پاتے شوی وو. و د هغوئ معامله حل شوے نهٔ وه. د هغوئ پریشانی او خفګان دومره حده پورے اورسیده چه فراخه زمکه پرے تنګه شوے وه. او خپله هم په خپل ځان تنګ شوی وو. او هغوئ ته معلومه شوه چه د الله تعالیٰ نه چرته د پناه ځائے نشته نو صرف د هغهٔ طرف ته واپس کیدل پکار دی. نو د هغوئ په حال ئے هم توجه اوکړه. چه آئنده هم بیا بیا رجوع اوکړی. بیشکه الله تعالیٰ ډیر توبه قبلونکے او لوئے رحم کونکے دے. اے ایمان والو: د الله تعالیٰ نه ویریږئ او د رښتیا ویونکو ملګرتیا اوکړئ.

کعبؓ وائی. په الله م دِ قسم وی. کوم وخت چه په ما باندِ الله تعالیٰ د اسلام راوښلو رحم اوکړو نو بغیر د رښتیاؤنه ما هیڅ یو لوئے نعمت اونهٔ لیدلو. کهٔ ما چرے دروغ وئیلی وے. نو دغے به تباه او برباد شوی وے، څنګه چه دروغ وئیلو والا هلاک شول. کوم وخت چه الله تعالیٰ وحی نازله کړه نو الله تعالیٰ د هغه خلقو بدی بیان کړه. نو وے فرمائیل. چه اوس به هغه خلق راشی او تا ته به د دروغو قسمونه خوری چه مونږ معذور او مجبور وو. کله چه واپس شئ تاسو بهانے د دے خبرے کوئ چه تاسو هغوئ پریږدئ. بس تاسوئے په خپل حال پریږدئ. هغوئ بالکل ډیر ګنده خلق دی. او د هغوئ ځائے دوزخ دے. د هغے خپلو عملونو په وجه باندِ. او دا قسمونه به څکه خوری چه ته د هغوئ نه خوشحاله شے. پس کهٔ ته ترے راضی هم شے نو الله

---

[1] سورة التوبة آیه ۹۵-۹۶ [2] ای رجعتم [3] ای قذر لخبث باطنهم

الثَّلٰثَةِ الَّذِیْنَ خُلِّفُوْا، وَلَیْسَ الَّذِیْ ذَکَرَ مِمَّا خُلِّفْنَا تَخَلُّفَنَا عَنِ الْغَزْوِ وَ اِنَّمَا هُوَ تَخْلِیْفُهٗ اِیَّانَا وَ اِرْجَاؤُهٗ اَمْرَنَا عَمَّنْ حَلَفَ لَهٗ وَاعْتَذَرَ اِلَیْهِ فَقَبِلَ مِنْهُ»، مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ: وَفِیْ رِوَایَةٍ «اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ فِیْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ یَوْمَ الْخَمِیْسِ وَكَانَ یُحِبُّ اَنْ یَخْرُجَ یَوْمَ الْخَمِیْسِ» وَ فِیْ رِوَایَةٍ: وَكَانَ لَا یَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ اِلَّا نَهَارًا فِی الضُّحٰی فَاِذَا قَدِمَ بَدَاَ بِالْمَسْجِدِ فَصَلّٰی فِیْهِ رَكْعَتَیْنِ ثُمَّ جَلَسَ فِیْهِ.

نهٔ راضی کیږی د فاسقانو خلقو نه۔

کعبؓ وائی چه څمونږ د دریو واړو معامله وروستو پاتے شوے وه د هغې خلقو نه۔ کوموچه د نبی اکرم صلے الله علیه وسلم په خدمت کښے قسمونه خوړلی وو. اوخپل خپل عذرونه ئے بیان کړی وو. اونبی اکرم صلے الله علیه وسلم د هغوئ عذرونه قبول کړی وو. او د هغوئ نه ئے بیعت هم اخستے وو. او د بخښنے دعا گانے ئے ورله هم غوښتلے وے. څمونږ قصه کښے رسول الله صلے الله علیه وسلم په خپله څهٔ فیصله نهٔ وه کړے. بلکه په «وعلی الثلاثة الذین خلفوا» سره الله تعالیٰ په خپله فیصله کړے وه. نو دے آیت کښے د جهاد نه د پاتے کیدو څمونږ طرف ته څهٔ اشاره نهٔ وه. بلکه دامراد دے چه څمونږ معامله الله تعالیٰ د هغې خلقو د معاملے نه وروستو بیان کړه، کوموچه د دروغو قسمونه نبی صلے الله علیه وسلم ته اوخوړل او عذرونه ئے پیش کړل. او د چا معذرت ئے چه قبول کړو۔

یو روایت کښے دی چه نبی اکرم صلے الله علیه وسلم چه غزوهٔ تبوک د پارهٔ د زیارت په ورځ روان شو. او نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به عام د زیارت په ورځ سفرکول خوښول۔

یو روایت کښے دی چه نبی اکرم صلے الله علیه وسلم به د سفر نه د څاښت په وخت کښے راتلو. نو اول به جومات ته تلو. دوه رکعته نفل به ئے اوکړل. بیا به هلته کیناستو۔ (بخاری ومسلم)

۲۲- وَعَنْ اَبِیْ نُجَیْدٍ، بِضَمِّ النُّوْنِ وَ فَتْحِ الْجِیْمِ "عِمْرَانَ بْنِ الْحُصَیْنِ الْخُزَاعِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ امْرَاَةً مِنْ جُهَیْنَةَ اَتَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَهِیَ حُبْلٰی مِنَ الزِّنَا فَقَالَتْ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَصَبْتُ حَدًّا فَاَقِمْهُ عَلَیَّ فَدَعَا

۲۲- حضرت ابی نجید عمران بن حصین خزاعیؓ روایت کوی چه د قبیله جهینه یوه ښځه وه، چه د زنا نه حامله شوے وه. هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضره شوه. او وے وئیل. ما یو داسے جرم کړے دے چه د هغې په وجه په ما حد واجب شوے دے. نو په ما حد جاری کړه. رسول الله صلے الله علیه وسلم د ښځے ولی راوبللو. او هغهٔ ته ئے هدایت اوکړو. چه د دے

نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِيَّهَا فَقَالَ: اَحْسِنْ اِلَيْهَا فَاِذَا وَضَعَتْ فَاْتِنِيْ فَفَعَلَ فَاَمَرَبِهَا نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشُدَّتْ عَلَيْهَا ثِيَابُهَا[1] ثُمَّ اَمَرَبِهَا فَرُجِمَتْ ثُمَّ صَلّٰى عَلَيْهَا: فَقَالَ لَهٗ عُمَرُ: تُصَلِّيْ عَلَيْهَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ وَقَدْ زَنَتْ؟ قَالَ: لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ سَبْعِيْنَ مِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ لَوَسِعَتْهُمْ وَهَلْ وَجَدْتَ اَفْضَلَ مِنْ اَنْ جَادَتْ بِنَفْسِهَا لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ -

نګرانی کوه. او کله چه ماشوم پیدا شی. نو بیا ئے ماله راوله. دغه ولی د حکم پوره کولو دپاره راوستله. نو نبی اکرم صلے الله علیه وسلم د هغې کپړے د هغې د بدن پورې ښے او تړلے. او په هغې ئے د حد قائمولو حکم جاری کړو. کله چه حد جاری کړے شو نو نبی کریم صلے الله علیه وسلم په هغې د جنازے مونځ اوکړو. دغه وخت حضرت عمرؓ عرض اوکړو. یا رسول اللهؐ! تاسو د دے جنازه کوئ. حال دا دے چه دا زناکاره وه. نبی اکرم صلے الله علیه وسلم اوفرمائیل چه هغهٔ داسے توبه اوویسته. که د مدینے په اویا کسانو باندِ هغه تقسیم کړے شی. نو د هغوئ دپاره به هغه کافی شی. او د دے نه هم بله ته غټه توبه کېږې چه صرف د الله د رضا دپاره ئے خپل ځان قربان کړو.

٢٣- وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ وَاَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَوْ اَنَّ لِابْنِ اٰدَمَ وَادِيًا مِّنْ ذَهَبٍ اَحَبَّ اَنْ يَكُوْنَ لَهٗ وَادِيَانِ، وَلَنْ يَمْلَأَ فَاهُ اِلَّا التُّرَابُ[2] وَيَتُوْبُ اللّٰهُ عَلٰى مَنْ تَابَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞

٢٣- حضرت ابن عباسؓ او انس بن مالکؓ روایت کوی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه که د آدم ځوئے (انسان) سره یو کنده د سرو زرو نه ډکه وی. نو بیا به هم د هغهٔ ارمان وی چه داسے دوه نورے هم وے. او د انسان خُلهٔ صرف خاوره ډکولے شی. یعنی قبر. او الله تعالیٰ د هر هغه کس توبه قبلوی، چه څوک د هغهٔ دربار کښے توبه اوباسی. (بخاری ومسلم)

٢٤- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَضْحَكُ اللّٰهُ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى اِلٰى رَجُلَيْنِ[3] يَقْتُلُ اَحَدُهُمَا الْاٰخَرَ يَدْخُلَانِ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُ هٰذَا فِيْ سَبِيْلِ

٢٤- د حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے. چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه الله تعالیٰ د هغه دوه کسانو په حالت باندِ خاندی، چه په هغوی کښے یو بل له مړ کړی. او بیا دواړه جنتیان هم شی. د هغې صورت داسے دے. چه جهاد کښے یو مسلمان د کافر د لاسه شهید کړے شی. بیا دا کافر مسلمان شی. او یو

---

[1] نشدت بالدال المهملة. كذا فى النسخ التى بايدينا وهى كذلك فى بعض نسخ مسلم و فى بعضها فشكت بالكاف: اى جمعت اطرافها لتستتر لئلا تنكشف فى اثناء رجمها [2] الا التراب اى انه لا يزال حريصا على الدنيا حتى يموت و يمتلئ جوفه من تراب قبره. [3] هذا مجاز عن الرضا بفعلهما والجزاء عليه الجزاء الاوفى -

اللّٰهِ فَيُقْتَلُ ثُمَّ يَتُوبُ اللّٰهُ عَلَى الْقَاتِلِ فَيُسْلِمُ فَيُسْتَشْهَدُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

جهاد کښې دا هم چرته شهید شي. بس دا دواړه جنتیان شي۔

(بخاري ومسلم)

باب ۳

فائده:- باب الصبر په شپږ قرآني آیتونو او یوکم دیرشو احادیثو باندې مشتمل دے. دَ صبر معنیٰ بندیدل دی. قرآن مجید کښې دَ صبر نه مراد صبر معنوی حقیقي دے. یعنې چه دَ ویرے، حاجتمندئ او خفگان نه ځان اوساتي، او مصیبتونو سره په خوشحالئ مخامخ شي۔ او داسے حالاتو کښې دَ نفس خپے مضبوطے نګول او ثابت قدم اوسیدل. او مصیبت او پریشاني دواړه دَ الله تعالیٰ حکم ګنړل او په دے راضي پاتے کیدل او برداشت کول هم دَ صبر کولو یوه لویه مرتبه ده. قرآن او حدیث کښې صبر باندې دَ اجر وثواب خوشخبري اوریرے دے۔ او زړه ته دَ دے خبرے هم ډاډ ورکوه او دَ دے یقین نه ئے ډک ساته. چه کله مصیبتونه لرے کیږي نو دَ الله تعالیٰ رحمتونه به ستا امداد کوي۔

بَابُ الصَّبْرِ دَ صبر بیان

آیاتِ قرآنیه

۷- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1] "يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا[2]"

۷- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. چه اے ایمان والو! په خپله هم صبر کوئ۔ او مقابله کښې هم صبر کوئ۔ (سورة ال عمران پ ۴ آية ۲۰۰)

۸- وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[3] "وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ[4] بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَالْاَنْفُسِ وَالثَّمَرٰتِ وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ"۔

۸- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. چه مونږ به په ویره، په ولږه نهره، او په جان ومال، او په میو کښې دَ نقصان او کمی په وجه په تاسو ضرور امتحان او آزمیښت کوو. پس صبر کوونکو ته زیرے ورکړه۔ (سورة البقرة آية ۱۵۵ پ ۲)

۹- وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى:[5] "اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ"۔

۹- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے:- "صبر کوونکو ته به الله تعالیٰ بے حسابه بدلے ورکړي"۔ (سورة زمر آية ۱۰ پ ۲۳)

۱۰- وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[6]:- "وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ اِنَّ ذٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ"۔

۱۰- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. چه څوک صبر اوکړي او معافي اوکړي. نو دا کار دَ پخو کارونو نه دے۔ (شوریٰ آيت ۴۳ پ ۲۵)

---

[1] سورة ال عمران آية ۲۰۰ [2] اى اصبروا على الطاعات والمصائب وعن المعاصي: وصابروا الكفار، اى غالبوهم فلا يكونوا اشد صبرا منكم [3] سورة البقرة آية ۱۵۵ [4] اى يختبرنكم۔

[5] سورة الزمر آية ۱۰ [6] سورة الشورىٰ آية ۴۳

۱۱- وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى:[1] يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ "

۱۲- وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى:[2] "وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِيْنَ مِنْكُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ"، وَالْاٰيَاتُ فِي الْاَمْرِ بِالصَّبْرِ وَبَيَانِ فَضْلِهٖ كَثِيْرَةٌ مَعْرُوْفَةٌ :

۱۱- د الله تعالیٰ ارشاد دے. چه صبر او مانځه سره امداد غواړئ. یقیناً الله تعالیٰ د صبر کوونکو ملګرے دے۔ (سورة البقرة آية ۱۵۳ پ۲)

۱۲- د الله تعالیٰ ارشاد دے- او خامخا به تاسو باندې به ضرور ازمېښت کوو چه موږ به په تاسو کښې مجاهدین او صابرین معلوم (یعنی جُدا) کړو- (سورة محمد آية ۳۱)- د صبر او د هغې په فضیلت باندې قرآنِ مجید کښې ډیر آیتونه راغلی دی۔

احادیث نبوی

۲۵- وَعَنْ اَبِيْ مَالِكٍ الْحَارِثِ بْنِ عَاصِمٍ الْاَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِيْمَانِ[3] وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ تَمْلَاُ الْمِيْزَانَ، وَسُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ تَمْلَاٰنِ، اَوْ تَمْلَاُ مَا بَيْنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ، وَالصَّلٰوةُ نُوْرٌ، وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ[4] وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ، وَالْقُرْاٰنُ حُجَّةٌ لَّكَ اَوْ عَلَيْكَ كُلُّ النَّاسِ يَغْدُوْ[5] فَبَائِعٌ نَفْسَهٗ فَمُعْتِقُهَا اَوْ مُوْبِقُهَا رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۲۵- ابومالک حارث بن عاصم اشعری رض روایت کوی. چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه پاکی او صفائی د ایمان نیمه حصه ده. او (لفظ د) "الحمد لله" وئیل د عملونو د تلې چاپړ ډکوی- د غسې "سبحان الله" او "الحمد لله" هم ډکوی- د زمکې نه تر آسمانه پورې خالی حصه. مونځ نور او رڼا ده- صدقه دلیل دے، صبر رڼا ده- قرآن ستاسو د پاره یا دلیل دے یا ستاسو خلاف دے۔

هر یو کس چه سحر پاڅی، نو د خپل ځان سودا کوی. او سرګردان ګرځی- دے سودا سره ئے یا آزاد وی یائے هلاکت کښې اچوی (یعنی چه داسے کار او کړی چه په هغې سره آخرت کښې د دوزخ د عذاب نه خلاص شی. یا داسے اعمال او کړی چه هغې سره جهنم ته لاړ شی) (مسلم)

۲۶- وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ سَعْدِ بْنِ مَالِكِ بْنِ سِنَانٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ نَاسًا مِنَ الْاَنْصَارِ سَاَلُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَعْطَاهُمْ ثُمَّ سَاَلُوْهُ فَاَعْطَاهُمْ

۲۶- ابوسعید سعد بن مالک بن سنان خدری رض روایت کوی. چه د انصارو څو کسانو د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه څهٔ او غوښتل. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم څهٔ ورکړل. دوباره ئے بیا سوال او کړو نو هغهٔ نور هم ورکړل. او څهٔ چه هغوئ سره وو هغه ختم شول. بیا نبی صلی الله

---

[1] سورة البقرة آية ۱۵۳ [2] سورة محمد آية ۳۱ [3] شطر الایمان ای نصفه ای ینتهي بکر فی مصالحه فمعتق نفسه من العذاب او مهلکها بالطرد من ساحة الرضوان ؛ تضعیف اجره الی نصف اجر الایمان [4] ای حجة علی ایمان مؤدیها الی مستحقها [5] ای

نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِيَّهَا فَقَالَ: اَحْسِنْ اِلَيْهَا فَاِذَا وَضَعَتْ فَاْتِنِيْ فَفَعَلَ فَاَمَرَبِهَا نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشُدَّتْ عَلَيْهَا ثِيَابُهَا[1] ثُمَّ اَمَرَبِهَا فَرُجِمَتْ ثُمَّ صَلّٰى عَلَيْهَا: فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: تُصَلِّيْ عَلَيْهَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَقَدْ زَنَتْ؟ قَالَ: لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ سَبْعِيْنَ مِنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ لَوَسِعَتْهُمْ وَهَلْ وَجَدْتَ اَفْضَلَ مِنْ اَنْ جَادَتْ بِنَفْسِهَا لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

نګرانی کوه. او کله چه ماشوم پیدا شی نو بیا ئے ماله راوله. دغه ولی دَ حکم پوره کولو دپاره راوستله نو نبی اکرم صلے الله علیه وسلم دَ هغے کپړے دَ هغے دَ بدن پورے بنے او تړلے. او په هغے ئے دَ حد قائمولو حکم جاری کړو. کله چه حد جاری کړے شو نو نبی کریم صلے الله علیه وسلم په هغے دَ جنازے مونځ او کړو. دغه وخت حضرت عمر رضؓ عرض اوکړو. یا رسول الله! تاسو دَ دے جنازه کوئ. حال دا دے چه دا زنا کاره وه. نبی اکرم صلے الله علیه وسلم اوفرمائیل چه هغهٔ داسے توبه اوویسته. که دَ مدینے په اویا کسانو باندِ هغه تقسیم کړے شی. نو دَ هغوئ دپاره به هغه کافی شی. او دَ دے نه هم بله ته غټه توبه کېږے چه صرف دَ الله دَ رضا دپاره ئے خپل ځان قربان کړو.

۲۳۔ وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ وَاَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَوْ اَنَّ لِابْنِ اٰدَمَ وَادِيًا مِّنْ ذَهَبٍ اَحَبَّ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ وَادِيَانِ وَلَنْ يَّمْلَاَ فَاهُ اِلَّا التُّرَابُ[2] وَيَتُوْبُ اللّٰهُ عَلٰى مَنْ تَابَ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

۲۳۔ حضرت ابن عباس رضؓ او انس بن مالک رضؓ روایت کوی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه که دَ آدم ځوئے (انسان) سره یو کنده دَ سرو زرو نه ډکه وی. نو بیا به هم دَ هغهٔ ارمان وی چه داسے دوه نورے هم وے. او دَ انسان خُلهٔ صرف خاوره ډکولے شی. یعنی قبر. او الله تعالیٰ دَ هر هغه کس توبه قبلوی، چه څوک دَ هغهٔ دربار کښے توبه اوباسی. (بخاری ومسلم)

۲۴۔ وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَضْحَكُ اللّٰهُ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى اِلٰى رَجُلَيْنِ[3] يَقْتُلُ اَحَدُهُمَا الْاٰخَرَ يَدْخُلَانِ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُ هٰذَا فِيْ سَبِيْلِ

۲۴۔ دَ حضرت ابوهریره رضؓ نه روایت دے. چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دے چه الله تعالیٰ دَ هغه دوه کسانو په حالت باندِ خاندی، چه په هغوئ کښے یو بل لره مړ کړی. او بیا دواړه جنتیان هم شی. دَ هغے صورت داسے دے. چه جهاد کښے یو مسلمان دَ کافر دَ لاسه شهید کړے شی. بیا دا کافر مسلمان شی. او یو

---

[1] نشدت بالدال المهملة. كذا فى النسخ التى بايدينا وهى كذلك فى بعض نسخ مسلم وفى بعضها فشكت بالكاف: اى جمعت اطرافها لتستتر لئلا تنكشف فى اثناء رجمها

[2] الا التراب اى انه لايزال حريصا على الدنيا حتى يموت ويمتلئ جوفه من تراب قبره.

[3] هذا مجاز عن الرضا بفعلهما والجزاء عليه اه نووي

حَتّٰی نَفِدَ مَاعِنْدَہٗ فَقَالَ لَهُمْ حِیْنَ اَنْفَقَ کُلَّ شَیْءٍ بِیَدِهٖ: مَا یَکُنْ مِّنْ خَیْرٍ فَلَنْ اُدَّخِرَہٗ عَنْکُمْ، وَمَنْ یَّسْتَعْفِفْ یُعِفَّهُ اللّٰهُ، وَمَنْ یَسْتَغْنِ یُغْنِهِ اللّٰهُ وَمَنْ یَتَصَبَّرْ یُصَبِّرْہُ اللّٰهُ۔ وَ مَا اُعْطِیَ اَحَدٌ عَطَاءً خَیْرًا وَ اَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ"

مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ::

علیه وسلم هغوئ ته اوفرمائیل چه ما سره څه مال وی یا راځی. نو هغه زهٔ ستاسو نه نهٔ منع کوم (یعنی که نور څهٔ هم درکړے به مے وے) او تل تقسیموم او دا یا ساتم ئې

چه څان ساتی نو الله تعالیٰ هغوئ پاک ساتی. او څوک چه بے پرواه شی نو الله تعالیٰ ئے غنی کوی. او چه د صبر کولو کوشش کوی۔ الله تعالیٰ ورله د صبر توفیق ورکوی. او هیڅ یو کس ته ئے د صبر نه بنهٔ او ډیر د ښیګړے څیز نهٔ دے ورکړے۔ (بخاری و مسلم)

۲۷- وَعَنْ اَبِیْ یَحْیٰی صُهَیْبِ بْنِ سِنَانٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: عَجَبًا لِاَمْرِ الْمُؤْمِنِ اِنَّ اَمْرَہٗ کُلَّهٗ لَهٗ خَیْرٌ وَلَیْسَ ذٰلِكَ لِاَحَدٍ اِلَّا لِلْمُؤْمِنِ: اِنْ اَصَابَتْهُ ضَرَّآءُ صَبَرَ فَکَانَ خَیْرًا لَّهٗ" رَوَاہُ مُسْلِمٌ۔

۲۷- ابو یحییٰ صهیب بن سنان رض روایت کوی. چه د رسول الله صلے الله علیه وسلم ارشاد دے. چه د مؤمن معامله ډیره عجیبه ده۔ چه د هغهٔ ټول کارونه هغهٔ دپاره د رحمت او د خیر سبب دے۔ او دا صفت بغیر د مؤمن نه بل چا ته نهٔ نصیب کیږی۔ ګوره چه کهٔ هغهٔ ته کله څهٔ خوشحالی او رسیږی. نو د الله تعالیٰ شکر وباسی او د شکر اداکولو په وجه هغهٔ ته ثواب او نیکی ملاویږی۔ او کهٔ هغهٔ ته څهٔ تکلیف او غم اورسیږی. نو په هغے باندِ صبر کوی۔ دا هم د هغهٔ دپاره ښیګړه ده۔ (مسلم)

۲۸- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا ثَقُلَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ جَعَلَ یَتَغَشَّاہُ الْکَرْبُ[2] فَقَالَتْ فَاطِمَةُ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا: وَ اَکَرْبَ اَبَتَاہُ فَقَالَ لَیْسَ عَلٰی اَبِیْكِ کَرْبٌ بَعْدَ الْیَوْمِ[3] فَلَمَّا مَاتَ قَالَتْ: یَا اَبَتَاہُ اَجَابَ رَبًّا دَعَاہُ، یَا اَبَتَاہُ جَنَّةُ

۲۸- حضرت انس رضی الله عنه فرمائی. چه کله د نبی صلے الله علیه وسلم بیماری ډیره زیاته شوه او د ډیر زیات تکلیف په وجه بیخوده شو۔ نو فاطمے رض د ډیر غم او خفګان په حالت کښے او وئیل آه۔ څما پلاره! تا ته ډیر زیات تکلیف دے. نو نبی صلے الله علیه وسلم اوفرمائیل چه د نن نه پس به ستا باباجان ته نهٔ څهٔ مصیبت وی او نهٔ څهٔ تکلیف۔

کله چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم وفات شو.

---

[1] سراء بفتح السین وتشدید الراء: ای مایسرہ وقوله صلے الله علیه وسلم ضراء: ای ما یضرہ [2] ای تنزل به الشدة من سکرات الموت [3] ذلك انه صلے الله علیه وسلم ینتقل من دار الفناء والکروب الی دار الخلود والصفاء

اَلْفِرْدَوْسِ مَأْوَاهُ [1] يَا أَبَتَاهُ إِلٰى جِبْرِيْلَ نَنْعَاهُ فَلَمَّا دُفِنَ قَالَتْ فَاطِمَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا: أَطَابَتْ أَنْفُسُكُمْ أَنْ تَحْثُوْا عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التُّرَابَ۔
رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

۲۹۔ وَعَنْ أَبِيْ زَيْدٍ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ مَوْلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحِبِّهِ وَابْنِ حِبِّهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ، أَرْسَلَتْ بِنْتُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ ابْنِيْ قَدِ احْتُضِرَ [2] فَاشْهَدْنَا فَأَرْسَلَ يُقْرِئُ السَّلَامَ وَيَقُوْلُ: إِنَّ لِلّٰهِ مَا أَخَذَ وَلَهُ مَا أَعْطٰى وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ [3] فَأَرْسَلَتْ إِلَيْهِ تُقْسِمُ عَلَيْهِ لَيَأْتِيَنَّهَا فَقَامَ وَمَعَهُ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ، وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ، وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ، وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ، وَرِجَالٌ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ فَرُفِعَ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّبِيُّ فَأَقْعَدَهُ فِيْ حِجْرِهِ وَنَفْسُهُ تَقَعْقَعُ، فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ [4] فَقَالَ سَعْدٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا هٰذَا؟ فَقَالَ: هٰذِهٖ رَحْمَةٌ جَعَلَهَا اللّٰهُ تَعَالٰى

نو فاطمې اوویل۔ هلې پلاره: تا خو د الله تعالیٰ بلنه قبوله کړه۔ او هائې پلاره! ستا ځائې د اوسیدو جنت الفردوس دے۔ هائې پلاره! مونږ جبرئیل ته ستا د مرګ خبر ورکوو۔ او کله چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم دفن کړے شو۔ نو (فاطمې) اوویل چه ستاسو زړهٔ دا څنګه خوښوله، چه رسول الله صلے الله علیه وسلم باندِ موخا وړے را واړوُلے۔ (بخاری)

۲۹۔ د رسول الله صلے الله علیه وسلم خادم ابو زید اسامه بن زید بن حارث رض بیان کوی۔ چه مونږ د رسول الله صلے الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر وو۔ د یوې لور د طرفه ئې پیغام او خبر راغے چه زما د ځوئې اخری سلګئ دی تاسو لږ غوندِ راشئ۔ نبی کریم صلے الله علیه وسلم جواب کښې سلام ورا ولیږلو۔ او ورے وئیل چه کوم الله واخستهٔ هغه د هغهٔ وو۔ او کوم چه هغهٔ در کړے وو۔ هغه هم د هغهٔ دے۔ او الله تعالیٰ د هر یو څیز وخت مقرر کړے دے۔ بس اوس صبر کوه۔ او د الله تعالیٰ د ثواب اُمید ساته۔ لور ئې بیا خبر ور اولیږلو او قسم ئې ورکړو چه تاسو ضرور راشئ۔ پس رسول الله صلے الله علیه وسلم د مجلس نه پاڅیدو۔ او د هغوئ سره سعد بن عبادهٔ رض، معاذ بن جبل رض، اُبی بن کعب رض، زید بن ثابت رض او یو څو صحابهٔ رض نور هم لاړل۔ او ماشوم نبی کریم صلے الله علیه وسلم ته راوړل شو۔ او نبی کریم صلے الله علیه وسلم هغه ماشوم خپله غیږه کښې واچولو۔ او د هغهٔ روح په وتلو وو۔ او بے آرامه وو۔ په دے حالت لیدلو سره د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د سترګو نه اوښکے روانې شوے۔ حضرت سعد رض چه دے نبی کریم صلے الله علیه وسلم چه سترګو نه بهید

---

[1] ای منزله وکنعاه ای ترفع خبر وفاته صلے الله علیه وسلم الی جبریل [2] ای حضرته مقدمات الموت
[3] ای تنوی بصبرها طلب الثواب من ربها [4] ای بالدموع و قول سعد رضی الله عنه: ما هذا؟ ای فیض الدمع: ای اتبکی یا رسول الله و قد نهیت عن البکاء؟ :

قَالَ: مَا هُوَ؟ قَالَ تَجْمَعُ النَّاسَ فِيْ صَعِيْدٍ وَّاحِدٍ وَّ تَصْلُبُنِيْ عَلٰى جِذْعٍ[1] ثُمَّ خُذْ سَهْمًا مِّنْ كِنَانَتِيْ ثُمَّ ضَعِ السَّهْمَ فِيْ كَبِدِ الْقَوْسِ ثُمَّ قُلْ: بِسْمِ اللهِ رَبِّ الْغُلَامِ۔ ثُمَّ ارْمِنِيْ فَإِنَّكَ إِذَا فَعَلْتَ ذٰلِكَ قَتَلْتَنِيْ، فَجَمَعَ النَّاسَ فِيْ صَعِيْدٍ وَاحِدٍ وَصَلَبَهٗ عَلٰى جِذْعٍ ثُمَّ أَخَذَ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِهٖ ثُمَّ وَضَعَ السَّهْمَ فِيْ كَبِدِ الْقَوْسِ ثُمَّ قَالَ: بِسْمِ اللهِ رَبِّ الْغُلَامِ ثُمَّ رَمَاهُ فَوَقَعَ السَّهْمُ فِيْ صُدْغِهٖ فَوَضَعَ يَدَهٗ فِيْ صُدْغِهٖ فَمَاتَ فَقَالَ النَّاسُ: اٰمَنَّا بِرَبِّ الْغُلَامِ فَأُتِيَ الْمَلِكُ فَقِيْلَ لَهٗ: أَرَأَيْتَ[2] مَا كُنْتَ تَحْذَرُ قَدْ وَاللهِ نَزَلَ بِكَ حَذَرُكَ قَدْ اٰمَنَ النَّاسُ. فَأَمَرَ بِالْأُخْدُوْدِ بِأَفْوَاهِ السِّكَكِ فَخُدَّتْ[3] وَ أُضْرِمَ فِيْهَا النِّيْرَانُ وَقَالَ: مَنْ لَمْ يَرْجِعْ عَنْ دِيْنِهٖ فَأَقْحِمُوْهُ فِيْهَا[4] أَوْ قِيْلَ لَهٗ اقْتَحِمْ فَفَعَلُوْا حَتّٰى جَاءَتِ امْرَأَةٌ وَمَعَهَا صَبِيٌّ لَهَا فَتَقَاعَسَتْ أَنْ تَقَعَ فِيْهَا فَقَالَ لَهَا الْغُلَامُ: يَا أُمَّهْ اصْبِرِيْ فَإِنَّكِ عَلَى الْحَقِّ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ ::

"ذِرْوَةُ الْجَبَلِ" أَعْلَاهُ

ئے بوځي۔ که د خپل دین نه منع نهٔ شو او خپل مذهب ئے پرې نښودلو نو هلته ئے اوبو کښې ډوب کړئ۔

کله چه هغوئ هغه هلک د دریاب مینځ ته بوتلو۔ نو هلک بیا هغه دُعا اوکړه۔ یا الله! څنګه چه ته غواړې ما په هغه طریقه د دوئ نه بچ کړې۔ نو ټول محافظان سره د کشتئ ډوب شول او هلک صحیح سلامت بادشاه ته ځان اورسولو۔ بادشاه اووئیل چه ستا محافظانو باندِ څهٔ تیر شو؟ هلک جواب کښې اووئیل، چه ځما الله زهٔ د هغوئ نه بچ کړم۔ او واوره بادشاه! څنګه چه زهٔ وایم که داسې دِ اونکړو، نو بهٔ ځما په وژلو کښې کله هم کامیاب نهٔ شې۔ بادشاه وِرته اووئیل، آخر هغه خبره څهٔ ده؟ هلک اووئیل: یو میدان کښې خلق راجمع کړه۔ او د لرګی په تنه ما زوړند کړه۔ بیا ځما تهیلئ نه یو غشے را اوباسه۔ او لیندهٔ کښې ئے صحیح کیږده۔ او بیا دا اووایه چه دا هلک زهٔ د هغه الله په نوم سره په دے غشی ولم۔ چه د هغهٔ رب دے نو بادشاه خلق په یو میدان کښې راجمع کړل۔ او هلک ئے د یو بوټی په تنه باندِ تړلے ځوړند کړو۔ او د هغهٔ د تهیلئ نه ئے یو غشے را اوویستلو۔ او لیندهٔ کښې ئے اولګولو۔ او دائے اووئیل "بسم الله رب الغلام"۔ هلک ئے اوویشتلو۔ او په غوږ اولګیدهٔ۔ هلک په زخم لاس کیخودلو۔ پس آخر هم مړ شو۔ د هلک مرګ سره پوره ډلے په یو آواز اووئیل۔ چه مونږ د هلک په رب ایمان راوړے دے۔ دا خبر بادشاه ته اورسولے شو۔ او ورته اووئیلے شو چه ګوره تا ته چه د کومے خبرے نه خطره اووېره وه۔ هم هغے اوشوه اوس خو ټولے ډلے د هلک په رب ایمان

---

[1] الجذع بكسر الجيم وسكون عند المعجمة العود من عواد النخل وكنانتي بكسر الكاف ونونين بينهما الف: بيت السهام

م وكبد القوس وسطه [2] ارايت اى اخبرنى [3] الاخدود: الشقوق. [4] فاقحموه اى القو

وَهِيَ بِكَسْرِ الذَّالِ الْمُعْجَمَةِ وَضَمِّهَا»، «وَالْقُرْقُوْرُ بِضَمِّ الْقَافَيْنِ نَوْعٌ مِنَ السُّفُنِ وَ الصَّعِيْدُ هُنَا الْاَرْضُ الْبَارِزَةُ وَالْاُخْدُوْدُ» الشُّقُوْقُ فِي الْاَرْضِ كَالنَّهْرِ الصَّغِيْرِ وَ «اُضْرِمَ اُوْقِدَ وَانْكَفَاَتْ: اَيْ اِنْقَلَبَتْ وَتَقَاعَسَتْ: تَوَقَّفَتْ وَجَبُنَتْ ؛

راوړې دے. بادشاه حکم اوکړو چه دَ لارو په غاړه غاړه دِ غټې غټې کندے اوکنستلے شي، نو کندے اوکنستلے شوے. او تیزا اور پکښے بل کړے شو وئیل کوم یو کس چه دَ خپل دین پریخودلو نه انکار اوکړی. نو سر ښکته ئے لمبو والا اور ته ور واچوئ. او په دے هم خلق منع نهٔ شول نو کندو کښے ئے اور ته ور واچول. په دے وخت کښے یوه ښځه راغله چه دَ هغې غیږه کښے دَ یو ماشوم وو. هغه چه دَ کندے غاړے ته اورسیده نو دَ هوپ کولو نه لږ وروسته شوه. ماشوم فورًا اووئیل، چه مورے صبر کوه ته په حقه ئې. (مسلم)

(دَ الفاظو معنیٰ)

ذُرْوَةٌ — دَ غرسر (ذروة الجبل، اعلاهٗ وهی بكسر الذال المعجمة وضمها ۱۲)
قُرْقُوْرٌ — دَ کشتئ یو قسم دے. (بضم القافين نوع من السفن ۱۲)
صَعِيْدٌ — فراخه میدان. (الارض البارزة ۱۲)
اُخْدُوْدٌ — زمکه کښے ډوغلونه دَ وړوکی نهر په شان (الشقوق فی الارض كالنهر الصغير ۱۲)
اُضْرِمَ — بلول، تیزول. (اوقد)
اَنْكَفَاَتْ — راوښتل - راوګرځیدل. (انقلبت ۱۲)
تَقَاعَسَتْ — روستو شوه. او بزدله شوه. (توقفت وجبنت ۱۲)

۳۱- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى امْرَأَةٍ تَبْكِيْ عِنْدَ قَبْرٍ فَقَالَ: اتَّقِي اللّٰهَ وَ اصْبِرِيْ" فَقَالَتْ: اِلَيْكَ عَنِّيْ؛ فَاِنَّكَ لَمْ تُصَبْ بِمُصِيْبَتِيْ وَلَمْ تَعْرِفْهُ فَقِيْلَ لَهَا اِنَّهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَتَتْ بَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ تَجِدْ عِنْدَهٗ بَوَّابِيْنَ فَقَالَتْ لَمْ اَعْرِفْكَ فَقَالَ: اِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْاُوْلٰى مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: تَبْكِيْ عَلٰى صَبِيٍّ لَهَا ؛

۳۱- دَ حضرت انس بن مالکؓ نه روایت دے. چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ په یوه لاره باندے په یوه ښځه تیریدل او شو چه قبر ته ناسته وه، او ژړل ئې. نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه دَ الله بندے! الله نه اووېرېږه او صبر کوه. هغې اووئیل بس خپل کار کوه. تا ته هغه تکلیف نشته کوم چه ما ته رسیدلے دے. دغه ښځے نبی صلی الله علیه وسلم پیژندلے نهٔ وو. هغې ته اووئیلے شو چه دا خو نبی صلی الله علیه وسلم دے. بیا هغه نبی صلی الله علیه وسلم ته دَ معذرت دپاره دَ هغه کور ته لاړه هلته (دَ هغې دَ خیال مطابق) څوک دربانچی یعنی څوکیدار نهٔ وو. عرض ئې اوکړو. یا رسول الله! ما خو پیژندلے نهٔ وے. (ځکه مے داسے سخته خبره اوکړه) نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه صبر دَ تکلیف په اول وخت کښے وی. دَ مسلم شریف په روایت کښے دی چه هغې په خپل مړ شوی ځوئے باندے ژړل.

۳۲ - وعن اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُوْلُ اللهُ تَعَالٰى: مَالِعَبْدِى الْمُؤْمِنِ عِنْدِىْ جَزَآءٌ اِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ[1] مِنْ اَهْلِ الدُّنْيَا ثُمَّ احْتَسَبَهُ اِلَّا الْجَنَّةَ رَوَاهُ الْبُخَارِىْ ۔

۳۲ - حضرت ابوهريرة رضه روايت كوى. چه نبى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه الله تعالىٰ فرمائى چه كله زهٔ دَخپل بنده مؤمن نه دَدُنيا څخه خوښ كړے شوے څيز واخلم. اوهغه بيا بيے صبراوكړى، نوهغهٔ دپاره ماسره بغيرد جنت نه بل څهٔ نشته ۔

(بخارى)

۳۳ - وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِىَ اللهُ عَنْهَا اَنَّهَا سَاَلَتْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الطَّاعُوْنِ فَاَخْبَرَهَا اَنَّهُ كَانَ عَذَابًا يَبْعَثُهُ اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ فَجَعَلَهُ اللهُ تَعَالٰى رَحْمَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ فَلَيْسَ مِنْ عَبْدٍ يَقَعُ فِى الطَّاعُوْنِ فَيَمْكُثُ فِىْ بَلَدِهٖ صَابِرًا مُحْتَسِبًا يَعْلَمُ اَنَّهُ لَا يُصِيْبُهُ اِلَّا مَا كَتَبَ اللهُ لَهُ اِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ اَجْرِ الشَّهِيْدِ" رَوَاهُ الْبُخَارِىُّ ؛

۳۳ - حضرت عائشه رضه فرمائى، چه ما دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دَطاعون په باره كښے پوښتنه اوكړه نو اوئے فرمائيل چه دا يوعذاب وُو چه الله تعالىٰ چه په چا نازلول غوښتلو نوناز لولو به ئے. ليكن الله تعالىٰ دَمسلمانانو دپاره رحمت جوړكړے دے. نودے وجے نه دَالله تع يو بنده هم داسے نشته چه دَدے مرض نازليدو په وخت كښے دغه ښاركښے دَصبرسره ايسار شى. اودَالله تعالىٰ نه دَثواب طمعه لرى- اوداوګنړى چه هرڅهٔ چه رارسى داټول دَالله تعالىٰ دَطرف نه دى. داسے بنده ته دَالله تعالىٰ دَطرف نه دَيوشهيد برابرثواب وركولے شى - (بخارى)

۳۴ - وَعَنْ اَنَسٍ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: اِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ: اِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِىْ بِحَبِيْبَتَيْهِ فَصَبَرَ، عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ، يُرِيْدُ عَيْنَيْهِ - رَوَاهُ الْبُخَارِىُّ ؛

۳۴ - حضرت انس بن مالك رضه روايت كړى - چه مادَ رسول الله صلى الله عليه وسلم نه ارشاد فرمائيلے اؤريدلے دے. چه الله تعالىٰ فرمائيلى دى. كله چه زهٔ خپل بنده په دَوه خوښ كړے شوى څيزونو كښے مبتلا كړم. اوهغه په دے امتحان باندے صبراوكړى نو دَدغه دواړو څيزونو په بدله كښے زهٔ هغهٔ ته جنت وركوم - دلته دَدوه محبوب څيزونو نه مراد دَ هغهٔ دواړه سترګے دى. (چه ړندے او په هغے صبراوكړى) - (بخارى)

۳۵ - وَعَنْ عَطَاءِ ابْنِ اَبِىْ رَبَاحٍ قَالَ قَالَ لِىْ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا اَلَا اُرِيْكَ امْرَاَةً مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ؟ فَقُلْتُ: بَلٰى قَالَ: هٰذِهِ الْمَرْاَةُ السَّوْدَآءُ اَتَتِ النَّبِىَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: اِنِّىْ اُصْرَعُ وَاِنِّىْ اَتَكَشَّفُ[2]

۳۵ - حضرت عطاء بن رباح رحمه وئيلى دى. چه ماته ابن عباس رضه اوفرمائيل چه تاته يوه جنتى ښځه اونهٔ ښايم. ما اووئيل ضرور ئے اوښايئى نو وے وئيل چه يوه توره ښځه دَنبى صلى الله عليه وسلم په خدمت كښے حاضره شوه - اوعرض ئے اوكړو يارسول الله! په ما باندے دَمرګے دوره راځى. اوځما سترا وپرده ښكاره

---

[1] اى حبيبه ؛ [2] اى ينكشف بعض بدنى من الصرع ؛

فَادْعُ اللهَ تَعَالىٰ لِي قَالَ: اِنْ شِئْتِ اَصْبَرْتِ وَلَكِ الْجَنَّةُ وَاِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللهَ تَعَالىٰ اَنْ يُعَافِيَكِ" فَقَالَتْ: اَصْبِرُ فَقَالَتْ: اِنِّي اَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ اَنْ لَّا اَتَكَشَّفَ فَدَعَا لَهَا ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

كيږي. تاسو د الله تعالىٰ نه دُعا اوغواړئ. نبي كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، كهٔ ته د خوشحالئ سره په دے صبر اوكړے. نو د دے بدله كښے به جنت دركړے شي. اوكهٔ دُعا غواړے نو زهٔ به په خپله بيمارئ صبر اوكړم. مګر كومه پرده چه مے بښكاره كيږي. دے دپاره دُعا اوكړئ. چه پرده مے نهٔ بښكاره كيږي نو دے دپاره نبي كريم صلى الله عليه وسلم دُعا اوغوښتله.
(بُخاري و مسلم)

۳۶- وَعَنْ اَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَبْدِ اللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كَاَنِّيْ اَنْظُرُ اِلىٰ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْكِيْ نَبِيًّا مِّنَ الْاَنْبِيَآءِ صَلَوَاتُ اللهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِمْ ضَرَبَهٗ قَوْمُهٗ فَاَدْمَوْهُ وَهُوَ يَمْسَحُ الدَّمَ عَنْ وَجْهِهٖ وَهُوَ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِيْ فَاِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۳۶- حضرت ابوعبد الرحمٰن عبد الله بن مسعودؓ فرمائيلي دي چه ځما ستركو كښے هغه ننداره مخے مخے ته كيږي چه نبي كريم صلے الله عليه وسلم به پيغمبرانو كښے د يو پيغمبر ذكر كوٌلو. چه خپل قوم هغهٔ اووهلو او په وينو ئې رنګ كړو. او وينے به ئې د خپل مخ نه صفا كوٌلے. او دا به ئې وئيل چه اے الله! ځما قوم معاف كړے. ځكه چه دوئ ناخبره دي او نهٔ پوهيږي.
(بُخاري ومسلم)

۳۷- وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ وَّ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَا يُصِيْبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ[1] وَلَا وَصَبٍ وَّلَا هَمٍّ وَّلَا حَزَنٍ وَّلَا اَذًى وَّلَا غَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةُ يُشَاكُهَا اِلَّا كَفَّرَ اللهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

۳۷- حضرت ابوسعيد خدريؓ او حضرت ابوهريرهؓ د نبي كريم صلى الله عليه وسلم ارشاد بيانوي. چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه نهٔ رسي مسلمان ته ستوماني، بيماري، خفګان، غم، تكليف، تر دے چه ازغے ئې په خپه كښے مات شي مګر دا چه الله تعالىٰ به د دے په سبب د ده ګناهونه اوبړزوي.
وَ"الْوَصَبُ": اَلْمَرَضُ ؛ (بُخاري ومسلم)

۳۸- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُوْعَكُ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ اِنَّكَ تُوْعَكُ وَعْكًا شَدِيْدًا قَالَ اَجَلْ[2] اِنِّيْ اُوْعَكُ كَمَا يُوْعَكُ رَجُلَانِ مِنْكُمْ" قُلْتُ: ذٰلِكَ اَنَّ لَكَ اَجْرَيْنِ ؟

۳۸- حضرت عبد الله بن مسعودؓ بيان كوي. چه يوځل د نبي كريم صلى الله عليه وسلم تبه وه. زهٔ خدمت كښے حاضر شوم. او ما عرض اوكړو يا رسول الله! ستاسو ډيره زياته تبه ده. رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل هو. د نورو خلقو په نسبت ما ته د دوه كسانو د تبے برابر تبه لګي. ما

---

[1] النصب بفتحتين : النصب . وفى الحديث ان الامراض ونحوها من المؤذيات التى تصيب المؤمن مطهرة من الذنوب وانه لا ينبغى للانسان ان لا يجمع على نفسه بين المرض او الاذى مثلا وبين تعريت الثواب .

[2] اجل بفتحتين وثانيه جيم وآخره لام ساكنة هى جواب مثل نعم ؛

قَالَ: اَجَلْ ذٰلِكَ كَذٰلِكَ مَا مِنْ مُّسْلِمٍ يُصِيْبُهُ اَذًى شَوْكَةٌ فَمَا فَوْقَهَا اِلَّا كَفَّرَ اللّٰهُ بِهَا سَيِّئَاتِهِ، وَحُطَّتْ عَنْهُ ذُنُوْبُهُ كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ÷ وَ"الْوَعْكُ" "مَغْثُ الْحُمّٰى" وَقِيْلَ اَلْحُمّٰى -

عرض اوکړو چه دَ دے دا وجه ده چه تاسو ته دوچند ثواب دے؟ وے فرمائیل هو۔ ګ نه پس ئے اووئیل چه نهٔ رسی هیڅ یو مسلمان ته څهٔ تکلیف۔ مثلاً ازغے خپه کښے ما تیدیل یا دَ دے نه هم زیات تکلیف وی۔ مګر الله تعالیٰ ورته دَ دے په وجه ګناهونه معاف کوی - او ګناهونه ئے داسے رژیږی څرنګ چه دَ ونو نه پانړے رژیږی - (بخاری ومسلم)

۳۹- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّصِبْ مِنْهُ" رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ -

وَضَبَطُوْا "يُصِبْ" بِفَتْحِ الصَّادِ وَكَسْرِهَا ∴

۳۹- دَ حضرت ابو هریره رضؓ نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو چه الله تعالیٰ یو بنده سره نیکی کول غواړی نو هغهٔ ته څهٔ تکلیف اورسوی (بخاری)

یُصَبُ : دَ صاد زبر او زیر دواړه درست دی۔

۴۰- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَمَنَّيَنَّ اَحَدُكُمُ الْمَوْتَ لِضُرٍّ اَصَابَهُ فَاِنْ كَانَ لَابُدَّ فَاعِلًا فَلْيَقُلِ اللّٰهُمَّ اَحْيِنِیْ مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِّیْ وَتَوَفَّنِیْ اِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِّیْ ۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ∴

۴۰- حضرت مالک بن انس رضؓ روایت کړے دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو چه کله چا ته مصیبت یا بیماری اورسی نو دَ دے په وجه دِ مرګ نهٔ غواړی۔ کهٔ نه نو دا دِ اووائی چه اے الله! کهٔ ماله ژوندون ښهٔ وی، نو ما ژوندے اوساتے - اوکهٔ څما دپاره مرګ ښهٔ وی نو ماله مرګ راکړے۔ (بخاری ومسلم)

۴۱- وَعَنْ اَبِیْ عَبْدِ اللّٰهِ خَبَّابِ بْنِ الْاَرَتِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: شَكَوْنَا اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً لَّهٗ فِیْ ظِلِّ الْكَعْبَةِ فَقُلْنَا اَلَا تَسْتَنْصِرُ لَنَا اَلَا تَدْعُوْ لَنَا؟ فَقَالَ قَدْ كَانَ مَنْ قَبْلَكُمْ يُؤْخَذُ الرَّجُلُ فَيُحْفَرُ لَهٗ فِی الْاَرْضِ فَيُجْعَلُ فِيْهَا ثُمَّ يُؤْتٰى بِالْمِنْشَارِ فَيُوْضَعُ عَلٰى رَأْسِهٖ فَيُجْعَلُ نِصْفَيْنِ وَيُمْشَطُ بِاَمْشَاطِ الْحَدِيْدِ مَادُوْنَ لَحْمِهٖ وَعَظْمِهٖ مَا يَصُدُّهٗ ذٰلِكَ عَنْ دِيْنِهٖ، وَاللّٰهِ لَيُتِمَّنَّ اللّٰهُ

۴۱- حضرت ابو عبدالله خباب بن ارت رضؓ فرمائی چه مونږ یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شکایت اوکړو په داسے حال کښے چه هغوئ دَ بیت الله په سوری کښے څادر ته تکیه لګولے آرام ئے کولو۔ چه (دَ مکے دَ کافرانو په ظلمونو باندے) تاسے دَ الله تعالیٰ نه مونږ له امداد ولے نهٔ غواړے؟ او دُعا ولے نهٔ کوے؟ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: چه تاسو نه مخکښے (حق پرستو خلقو کښے) بعضے دَ ایمان راوړلو په وجه ګرفتار کړے شول، او هغوئ له به ئے کنده اوکنستله او هغے کښے به ئے ښخ کړل او په سر به ئے ورته آره کیښودله او دُوه ځایه به ئے څیرے کړو۔ او دَ اوسپنے به

هٰذَا الْأَمْرَ حَتّٰى يَسِيْرَ الرَّاكِبُ مِنْ صَنْعَآءَ إِلٰى حَضْرَمَوْتَ لَا يَخَافُ إِلَّا اللّٰهَ وَالذِّئْبَ عَلٰى غَنَمِهٖ، وَلٰكِنَّكُمْ تَسْتَعْجِلُوْنَ، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ - وَفِيْ رِوَايَةٍ وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً وَّقَدْ لَقِيْنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ شِدَّةً ؛

کومنږ به ئے ترینه څرمن او د غسے هم وکی پورے لګیدلے غوښه او شپیلله۔ مګر د دے باوجود هم د حق نه منع نهٔ شول۔ په الله مے دِ قسم وی دا اسلام به ضرور مکمل کیږی۔ او د امن او د سلامتئ دور او زمانه به ضرور راشی۔ چه یو کس به د صنعاء مقام نه "حضرموت" پورے ځان له سفر کوی او بغیر د الله نه به د هیچانه نهٔ ویریږی۔ مګر صرف د دے نه چه څناور به د ده ګډے بیزے ماتے کړی۔ لیکن تاسو ډیره تیزی کوئ — په یو روایت کښے داسے راځی چه هغوئ څادر ته تکیه وهلے وه او مونږ ته مشرکانو سخت تکلیفونه راکړی وُو۔ (بخاری)

۴۲- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ حُنَيْنٍ اٰثَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاسًا فِي الْقِسْمَةِ فَأَعْطَى الْأَقْرَعَ بْنَ حَابِسٍ مِّائَةً مِّنَ الْإِبِلِ، وَأَعْطٰى عُيَيْنَةَ بْنَ حِصْنٍ مِّثْلَ ذٰلِكَ، وَأَعْطٰى نَاسًا مِّنْ أَشْرَافِ الْعَرَبِ وَاٰثَرَهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْقِسْمَةِ: فَقَالَ رَجُلٌ: وَاللّٰهِ إِنَّ هٰذِهٖ قِسْمَةٌ مَّا عُدِلَ فِيْهَا وَمَا أُرِيْدَ فِيْهَا وَجْهُ اللّٰهِ فَقُلْتُ: وَاللّٰهِ لَأُخْبِرَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْتُهٗ فَأَخْبَرْتُهٗ بِمَا قَالَ فَتَغَيَّرَ وَجْهُهٗ حَتّٰى كَانَ كَالصِّرْفِ۔ ثُمَّ قَالَ: فَمَنْ يَّعْدِلُ إِذَا لَمْ يَعْدِلِ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ ؛ ثُمَّ قَالَ يَرْحَمُ اللّٰهُ مُوْسٰى قَدْ أُوْذِيَ بِأَكْثَرَ مِنْ هٰذَا فَصَبَرَ فَقُلْتُ: لَا جَرَمَ لَا أَرْفَعُ إِلَيْهِ بَعْدَهَا حَدِيْثًا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

وَقَوْلُهٗ "كَالصِّرْفِ" هُوَ بِكَسْرِ الصَّادِ الْمُهْمَلَةِ: وَهُوَ صِبْغٌ أَحْمَرُ ؛

۴۲- د حضرت عبد الله بن مسعود رض نه روایت دے۔ چه جنګ حُنین کښے نبی کریم صلے الله علیه وسلم د څهٔ مصلحت په وجه بعضے خلقو ته مال غنیمت کښے څهٔ حصه زیاته ورکړه۔ مثلاً اقرع بن حابس رض او عیینه بن حصن رض ته ئے سل سل اوښان ورکړل۔ د غسے عزتمندو مشرانو ته ئے په فرق څیزونه ورکړل۔ دا یو کس اولیدل نو وے وئیل چه والله دا نهٔ د انصاف تقسیم دے او نهٔ دے سره د الله رضا مقصد ده۔ ما چه دا خبره واوریده نو ما اووئیل چه والله ! دا خبر به زهٔ ضرور رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رسوم۔ نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شوم۔ څهٔ چه هغه سړی وئیلی وُو۔ هغه مے ورته اووئیل۔ څنګه چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم واوریدل نو مخ ئے بدل شو او بڼهٔ سور شو۔ او وے وئیل چه کله الله او د هغهٔ رسول انصاف اونهٔ کړی۔ نو بل څوک دے. چه انصاف به اوکړی۔ بیا ئے ارشاد اوفرمائیلو چه الله تعالیٰ دِ په موسیٰ علیه السلام رحم اوکړی۔ هغه د دے نه هم زیات خلقو تنګ کړے وُو۔ مګر هغهٔ صبر اوکړو۔ حضرت عبد الله بن مسعود رض وائی ما زړهٔ کښے سوچ اوکړو۔ چه داسے خبرو کولو سره د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د زړهٔ د آزار او خیرو نه بل هیڅ نهٔ حاصلیږی۔ نو قصد

ے اوکړو چه بیا دپاره به داسے خبره هیڅ کله نۀ وررسوم - (بخاری ومسلم)

(اَلصَّرْفُ : سور رنګ)

۴۳- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَرَادَ اللّٰهُ بِعَبْدِهِ الْخَیْرَ عَجَّلَ لَهُ الْعُقُوْبَةَ فِی الدُّنْیَا ، وَاِذَا اَرَادَ اللّٰهُ بِعَبْدِهِ الشَّرَّ اَمْسَكَ عَنْهُ بِذَنْبِهٖ حَتّٰی یُوَافِیَ بِهٖ یَوْمَ الْقِیَامَةِ" وَ قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ : اِنَّ عِظَمَ الْجَزَاءِ مَعَ عِظَمِ الْبَلَاءِ وَاِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی اِذَا اَحَبَّ قَوْمًا ابْتَلَاهُمْ فَمَنْ رَضِیَ فَلَهُ الرِّضَا وَمَنْ سَخِطَ فَلَهُ السُّخْطُ" رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَ قَالَ حَدِیْثٌ حَسَنٌ ۔

۴۳- حضرت انس بن مالک رض نه روایت دے۔ چه د نبی صلی الله علیه وسلم ارشاد دے۔ چه الله تعالیٰ یو انسان ته د خۀ ښیګړے او خیر اراده اوکړی نو دُنیا کښے ورباندے یو بل پسے زر زر مصیبتونه او تکلیفونه رااولیږی۔ او چه یو کس ته ئے د خۀ خیر اراده نۀ وی۔ نو دُنیا کښے هغۀ له ګناهونو کښے مهلت او وخت ورکړی نو قیامت کښے بیا په هغے اونیولے شی۔ دغسے نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه زیات ثوابونه د تنګئ، مصیبتونو او تکلیفونو سره حاصلیږی۔ اوکله چه الله تعالیٰ یو قوم سره مینه کول غواړی نو امتحانونو کښے ئے واچوی۔ نو څوک چه په امتحانونو خوشحاله شو، د الله د رضا حقدار شو۔ او څوک چه په امتحانونو خفه شو نو د الله د غصے سبب جوړ شو۔ (ترمذی)

ترمذی وائی چه دا حدیث حسن دے۔

۴۴- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ کَانَ ابْنٌ لِاَبِیْ طَلْحَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ یَشْتَکِیْ فَخَرَجَ اَبُوْطَلْحَةَ فَقُبِضَ الصَّبِیُّ فَلَمَّا رَجَعَ اَبُوْطَلْحَةَ قَالَ : مَا فَعَلَ ابْنِیْ ؟ قَالَتْ اُمُّ سُلَیْمٍ وَهِیَ اُمُّ الصَّبِیِّ : هُوَ اَسْکَنُ مَا کَانَ فَقَرَّبَتْ لَهُ الْعَشَاءَ فَتَعَشّٰی ثُمَّ اَصَابَ مِنْهَا فَلَمَّا فَرَغَ قَالَتْ : وَارُوا الصَّبِیَّ فَلَمَّا اَصْبَحَ اَبُوْطَلْحَةَ اَتٰی رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبَرَهٗ ۔ فَقَالَ اَعْرَسْتُمُ اللَّیْلَةَ ؟ قَالَ : نَعَمْ قَالَ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمَا ، فَوَلَدَتْ غُلَامًا فَقَالَ لِیْ اَبُوْطَلْحَةَ احْمِلْهُ حَتّٰی تَاْتِیَ بِهِ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَبَعَثَ مَعَهٗ بِتَمَرَاتٍ فَقَالَ : اَمَعَهٗ شَیْءٌ ؟ قَالَ : نَعَمْ تَمَرَاتٌ فَاَخَذَهَا

۴۴- حضرت انس بن مالک رض فرمائی: چه د حضرت طلحه رض یو بچے بیمار وُو۔ ابوطلحه چرته بهرته تللے وُو۔ چه هغه بچے مړ شو۔ واپس چه راغلو نو پوښتنه ئے اوکړه چه ماشوم څنګه دے؟ خپلے ښځے یعنی اُم سلیم ورته اووئیل چه د مخکښے نه ښۀ دے۔ بیائے ورله د ماښام خوراکه راوړه۔ هغوئ خوراک اوکړو او د شپے ئے خپلے بی بی سره کور والے هم اوکړو۔ کله چه فارغ شو۔ نو بیا ورته ښځے اووئیل چه ماشوم مړ شوے دے۔ اوس ئے د کفن دفن انتظام اوکړه۔ چه سحر شو نو ابوطلحه رض د نبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شو۔ او ټوله واقعه ئے ورته پیش کړه۔ نو نبی صلی الله علیه وسلم د ابوطلحه رض نه پوښتنه اوکړه۔ چه بی بی سره دِ کور والے هم کړے دے؟ ابوطلحه رض

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَضَغَهَا ثُمَّ اَخَذَهَا مِنْ فِيْهِ فَجَعَلَهَا فِيْ فِي الصَّبِيِّ ثُمَّ حَنَّكَهُ وَسَمَّاهُ عَبْدَ اللّٰهِ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔ وَفِيْ رِوَايَةِ الْبُخَارِيِّ: قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ: فَقَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ فَرَاَيْتُ تِسْعَةَ اَوْلَادٍ كُلُّهُمْ قَدْ قَرَءُوْا الْقُرْاٰنَ۔ يَعْنِيْ مِنْ اَوْلَادِ عَبْدِ اللّٰهِ الْمَوْلُوْدِ وَفِيْ رِوَايَةٍ لِّمُسْلِمٍ: مَاتَ ابْنٌ لِّاَبِيْ طَلْحَةَ مِنْ اُمِّ سُلَيْمٍ فَقَالَتْ لِاَهْلِهَا لَا تُحَدِّثُوْا اَبَا طَلْحَةَ بِابْنِهِ حَتّٰى اَكُوْنَ اَنَا اُحَدِّثُهُ، فَجَاءَ فَقَرَّبَتْ اِلَيْهِ عَشَاءً فَاَكَلَ وَشَرِبَ، ثُمَّ تَصَنَّعَتْ لَهُ[1] اَحْسَنَ مَا كَانَتْ تَصَنَّعُ قَبْلَ ذٰلِكَ فَوَقَعَ بِهَا فَلَمَّا اَنْ رَاَتْ اَنَّهُ قَدْ شَبِعَ وَاَصَابَ مِنْهَا قَالَتْ: يَا اَبَا طَلْحَةَ اَرَاَيْتَ[2] لَوْ اَنَّ قَوْمًا اَعَارُوْا عَارِيَتَهُمْ اَهْلَ بَيْتٍ فَطَلَبُوْا عَارِيَتَهُمْ اَلَهُمْ اَنْ يَّمْنَعُوْهُمْ؟ قَالَ لَا فَقَالَتْ: فَاحْتَسِبِ ابْنَكَ[3] قَالَ فَغَضِبَ ثُمَّ قَالَ تَرَكْتِنِيْ حَتّٰى اِذَا تَلَطَّخْتُ[4] ثُمَّ اَخْبَرْتِنِيْ بِابْنِيْ. فَانْطَلَقَ حَتّٰى اَتٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبَرَهُ بِمَا كَانَ فَقَالَ: رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَارَكَ اللّٰهُ فِيْ لَيْلَتِكُمَا قَالَ فَحَمَلَتْ قَالَ: وَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَفَرٍ وَّهِيَ مَعَهُ وَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَتَى الْمَدِيْنَةَ مِنْ سَفَرٍ لَّا يَطْرُقُهَا طُرُوْقًا[5] فَدَنَوْا مِنَ الْمَدِيْنَةِ فَضَرَبَهَا

اووئیل هو۔ بیا نبی صلی الله علیه وسلم دُعا اوکړه۔ اے الله! دواړوله برکت ورکړې نو دُعا سره بیا دَ اُم سلیم بل ماشوم پیدا شو۔ دغه وخت ابوطلحهؓ انس بن مالکؓ ته اووئیل۔ دا ماشوم نبی صلی الله علیه وسلم له یوسه۔ او څه لږ کهجورې ئې هم ورکړې۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم تپوس اوکړو۔ چه ماشوم سره نور هم څه شته؟ هغوی اووئیل هو څو کهجورې شته. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم کهجورې واخیستې او خپله خوله کښې ئې واچولے او بیا ئې د ماشوم په خوله کښې کیخودے۔ او تالو ته ئې ورښکته کړے او د ماشوم نوم ئې عبد الله کیخود لو.

(بخاری ومسلم)

د بخاری په روایت کښې عیینهؓ نه نقل دی چه یو انصاری سړی اووئیل. چه ما د عبد الله په اولاد کښې نهه ماشومان اولیدل چه ټولو قرآن لوستلے وو. د مسلم په یو روایت کښې دی. چه دَ ابوطلحهؓ یو ماشوم دَ ام سُلیم نه وو. هغه مړ شو نو ام سُلیم خپلوانو ته اووئیل. چه ابوطلحهؓ ته د ماشوم دَ مرګ په باره کښې هیڅ مهٔ وایئ. زه به په خپله هغه ته خبر ورکوم نو کله چه ابوطلحهؓ کور ته راغلو نو دَ ماښام خوراک ئې ورته مخې ته کیخود لو او هغهٔ اوخوړلو. بیا دَ خپل معمول مطابق ام سُلیم ورته ځان د ولی کړو۔ او کور والی د پاره راغله. ابوطلحهؓ په دغه شپه کښې کور والے اوکړو کله چه هغه مطمئن شو او تسلی ئې اوشوه او دَ هغې نه ئې فائده واخیسته نو وے وئیل چه اے ابوطلحهؓ

---

[1] تصنعت له: ای بتحسین الهیئة بالحلی ونحوه: ووقع بها: جامعها.
[2] ای اخبرنی [3] ای اطلب ثواب مصیبتك فی ابنك من الله تعالیٰ ۞
[4] تلطخت بفتح الفوقیة واللام وتشدید الطاء المهملة وسکون المعجمة: ای تقذرت بالجماع: [5] لا یطرقها بضم اولیة المهملین: ای لا یاتیها لیلا لئلا یری من اهله ما قد یکره ۱۲

اَلْمَخَاضُ[1] فَاحْتَبَسَ عَلَيْهَا اَبُوْطَلْحَةَ وَانْطَلَقَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُوْلُ اَبُوْطَلْحَةَ: اِنَّكَ لَتَعْلَمُ يَارَبِّ اَنَّهٗ يُعْجِبُنِيْ اَنْ اَخْرُجَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا خَرَجَ وَاَدْخُلَ مَعَهٗ اِذَا دَخَلَ وَقَدِ احْتَبَسْتُ بِمَا تَرٰى تَقُوْلُ اُمُّ سُلَيْمٍ يَا اَبَا طَلْحَةَ مَا اَجِدُ الَّذِيْ كُنْتُ اَجِدُ انْطَلِقْ فَانْطَلَقْنَا وَضَرَبَهَا الْمَخَاضُ حِيْنَ قَدِمَا فَوَلَدَتْ غُلَامًا فَقَالَتْ لِيْ اُمِّيْ: يَا اَنَسُ لَا يُرْضِعُهٗ اَحَدٌ حَتّٰى تَغْدُوَ بِهٖ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا اَصْبَحَ احْتَمَلْتُهٗ فَانْطَلَقْتُ بِهٖ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرَ تَمَامَ الْحَدِيْثِ ؛

دا خوا ووایه چه یو کور والا ته څوک څه څیز په سوال ورکړی. او بیائې واپس اوغواړی نو کور والاؤ ته دا حق شته چه هغه غونښتلے څیز منع کړی ترینه؟ ابوطلحهؓ اووئیل نه. نو اُم سُلیم اووئیل. نو بیا د الله نه د خپل ځوئې په باره کښې د ثواب اُمید ساته (چه د هغهٔ امانت وو او واپس ئې واخستو) ابوطلحهؓ چه دا واوریدل نو غصه شو او وے وئیل. ما ته دِ هم اونهٔ وئیل. او (په داسے حالت کښې) مے کور والے هم اوکړو. نو اوس ما ته د خپل ځوئې خبر راکوے. دا ئې اووئیل، او د کور نه نیغ د نبی صلی الله علیه وسلم خدمت کښې حاضر شو. چه څهٔ پرے تیر شوی وُو، هغه ئې ورته عرض کړل. نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل الله تعالیٰ دِ دغه شپه تاسو له د برکت اوګرځوی. بیا د ام سُلیم حمل شو. راوی وائی چه نبی صلی الله علیه وسلم په سفر کښې وُو نو ملګرو کښې ورسره ابوطلحهؓ او ام سُلیم هم وه. د رسول الله صلی الله علیه وسلم عادت داؤ چه د سفر نه واپسی به ئې د شپې مدینے ته داخلیدل نهٔ خوښولو (یعنی د شپے په وخت کښې نهٔ داخلیدو) کله چه مدینے ته نزدے شول. نو ام سُلیم ته د ماشوم د پیدا کیدو درد اولګیدو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم خو روان شو لیکن ابوطلحهؓ د دے په وجه سره ایسار شو. حضرت انسؓ وائی چه ابوطلحهؓ اووئیل. چه ما ته دا خبره ډیره زیاته خوښه ده. او زړهٔ مے خوشحاله دے. چه کله نبی کریم صلی الله علیه وسلم د مدینے نه بهر سفر ته تللو نو زهٔ هم ورسره وُوم او کله چه مدینے ته واپسی وه نو هم ورسره ملګرے وُوم. اوس نبی کریم صلی الله علیه وسلم لاړهٔ. او اے الله د دے مجبورئ تا ته علم دے زهٔ دلته ایسار شوم. نو دے کښې اُم سلیم اووئیل، اے ابوطلحهؓ! اوس ما ته هغه تکلیف نهٔ محسوسیږی. نو روان اوسه. نو مونږ د هغه ځائې نه روان شو چه مدینے ته څنګه اورسیدو نو بیا د ولادت تکلیف شروع شو او یو هلک پیدا شو. حضرت انسؓ وائی. ما ته خپلے مور اووئیل. چه اے انسه! ګوره، د پیو ورکولو نه مخکښې ماشوم د نبی صلی الله علیه وسلم خدمت کښې پیش کړے. کله چه سحر شو. نو ماشوم نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته اورسولے شو. او بیا ئې هم هغسے حدیث بیان کړو څنګه چه مخکښې تیر شو.

---

[1] المخاض بفتح المیم. وجع الولادة. وفی الحدیث جواز الاخذ بالشدة وترك الرخصة والتسلية عن المصائب و تزین المرأة لزوجها وتعرضها لطلب الجماع منه واجتهادها فی عمل مصالحه ومشروعية المعاریض الموهمة اذا دعت الضرورة الیها وغیر ذلك ؛

۴۵ - وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ الشَّدِيْدُ بِالصُّرَعَةِ اِنَّمَا الشَّدِيْدُ الَّذِیْ يَمْلِكُ نَفْسَهٗ عِنْدَ الْغَضَبِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ࿯

"وَالصُّرَعَةُ" بِضَمِّ الصَّادِ وَ فَتْحِ الرَّاۤءِ وَاَصْلُهٗ عِنْدَ الْعَرَبِ مَنْ يَصْرَعُ النَّاسَ كَثِيْرًا ࿯

۴۵ - حضرت ابوهريرة رضی الله عنه نه روايت دے. چه حضور صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی چه بهادر هغه نهٔ دے. چه نور خلق لاندے کړي. او راوے پرزوی. بها در او پهلوان هغه دے. چه دَ غُصے په حالت کښے خپل ځان قابو کړی.

(بخاری ومسلم)

صُرَعَةٌ : پهلوان يعنی هغه کس چه ډير خلق را پرزوی -

۴۶ - وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا مَعَ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَجُلَانِ يَسْتَبَّانِ وَاَحَدُهُمَا قَدِ احْمَرَّ وَجْهُهٗ وَانْتَفَخَتْ اَوْدَاجُهٗ[1] فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اِنِّیْ لَاَعْلَمُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ عَنْهُ مَا يَجِدُ، لَوْ قَالَ : اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ[2] ذَهَبَ عَنْهُ مَا يَجِدُ فَقَالُوْا لَهٗ : اِنَّ النَّبِیَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ࿯

۴۶ - حضرت سليمان بن صرد رضی الله عنه نه روايت دے . چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم سره زهٔ ناست ووم چه هم هلته دوه کسانو خپل مينځ کښے يو بل ته کنځل اوکړل په هغے کښے دَ يو کس مخ دَ غُصے نه سور شو. او دَ مرئ رګونه ئے اوپړسيدل - دغه وخت نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل : چه ما ته يوه داسے کلمه معلومه ده چه څوک هغه اووائی نو دغه حالت به ئے نهٔ وی. که اعوذ بالله من الشيطٰن الرجيم اووائی، نو غصه به ئے ختمه شی. نو صحابه وُ هغهٔ ته اووئيل چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم وائی اعوذ بالله من الشيطٰن الرحيم اووايه، غُصه به دِ ختمه شی - (بخاری ومسلم)

۴۷ - وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : مَنْ كَظَمَ غَيْظًا، وَهُوَ قَادِرٌ عَلٰى اَنْ يُّنْفِذَهٗ دَعَاهُ اللّٰهُ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى عَلٰى رُءُوْسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتّٰى يُخَيِّرَهٗ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ مَا شَاۤءَ[3] رَوَاهُ اَبُوْدَاؤدَ، وَ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ : حَدِيْثٌ حَسَنٌ ࿯

۴۷ - حضرت معاذ بن انس رضی الله عنه نه روايت دے چه دَ نبی کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد دے چه څوک خپله غُصه وزغمی شی او بيا غصه قابو کړي. نو الله تعالیٰ به دے دَ قيامت په ورځ دَ ټولو خلقو دَ سرونو دپاسه را اوغواړی (او دَ بدلے ورکولو په طريقه به) هغهٔ ته دا اختيار ورکړے شی. چه ستا دَ جنت په حورو کښے خپل ځان دپاره چه کومه يوه خوښه وی وائے خله. ترمذی وائی چه دا حديث حسن دے - (ابوداؤد)

۴۸ - وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ

۴۸ - حضرت ابوهريرة رضی الله عنه نه روايت دے.

---

[1] الاوداج : ما احاط بالعنق من العروق التی يقطعها الذابح ۱۲

[2] اعوذ : ای اعتصم بالله من الشيطان الرجيم : ای المبعد من رحمة الله تعالیٰ ۱۲

[3] الحور بضم الحاء المهملة وبسكون الرا وآخره راء ای شديد سواد العين وبياضها و"العين" ضخام العيون ࿯

عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْصِنِيْ قَالَ : لَا تَغْضَبْ فَرَدَّدَ مِرَارًا قَالَ : لَا تَغْضَبْ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ⁂

چه یو سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو چه ما ته څهٔ وصیت اوکړه. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه بس غصه مهٔ کوه - دغه سړي بار بار د وصیت کولو عرض اوکړو - نبی کریم صلی الله وړته دا وئیل چه غصه مهٔ کوه ۔ (بخاری)

۴۹- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَزَالُ الْبَلَاءُ بِالْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنَةِ فِيْ نَفْسِهٖ وَوَلَدِهٖ وَمَالِهٖ حَتّٰى يَلْقَى اللّٰهَ تَعَالٰى وَمَا عَلَيْهِ خَطِيْئَةٌ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ⁂

۴۹ - حضرت ابوهریرة رض نه روایت دے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو چه په مسلمان نارینه او زنانه باند به د تکلیفونو او مصیبتونو سلسله چلیږی. کله د مال او جان کله د اولاد په باره کښے. نو کله یې چه د الله تعالیٰ سره ملاقات اوشی. نو د دے مصیبتونو او تکلیفونو په بدله کښے به الله تعالیٰ د دهٔ ټولے خطاګانے معاف کړی. او یوه به هم پاتې نشي . دا حدیث ترمذی روایت کړے دے . او وائی چه دا حدیث حسن صحیح دے.

۵۰- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ : قَدِمَ عُيَيْنَةُ بْنُ حِصْنٍ فَنَزَلَ عَلٰى ابْنِ اَخِيْهِ الْحُرِّ بْنِ قَيْسٍ، وَكَانَ مِنَ النَّفَرِ الَّذِيْنَ يُدْنِيْهِمْ عُمَرُ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وَكَانَ الْقُرَّاءُ اَصْحَابَ مَجْلِسِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وَمُشَاوَرَتِهٖ كُهُوْلًا كَانُوْا اَوْ شُبَّانًا [1] فَقَالَ عُيَيْنَةُ لِابْنِ اَخِيْهِ : يَا ابْنَ اَخِيْ لَكَ وَجْهٌ عِنْدَ هٰذَا الْاَمِيْرِ فَاسْتَاْذِنْ لِيْ عَلَيْهِ، فَاسْتَاْذَنَ فَاَذِنَ لَهٗ عُمَرُ، فَلَمَّا دَخَلَ قَالَ : هِيْ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ، فَوَاللّٰهِ مَا تُعْطِيْنَا الْجَزْلَ [2] وَلَا تَحْكُمُ فِيْنَا بِالْعَدْلِ، فَغَضِبَ عُمَرُ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ حَتّٰى هَمَّ اَنْ يُوْقِعَ بِهٖ : فَقَالَ لَهُ الْحُرُّ : يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى قَالَ لِنَبِيِّهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ [3] وَاَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِيْنَ

۵۰ - حضرت ابن عباس رض نه روایت دے. چه عیینه بن حصن رض چه کله مدینے ته راغے. او خپل وراره حُر بن قیس رض کره میلمه شو. حُر بن قیس رض په هغه خلقو کښے شمار دے چه حضرت عمر رض به په خپل خاص مجلس کښے ځان سره کینولو. او قاریان حضرات به که بوډاګان وُو او که ځوانان، د عمر رض مجلسیان او مشاورین وُو. او د دوئ نه به ئے مشورے اخستے. حضرت عیینه رض خپل وراره ته اووئیل. چه ته خو د امیر المؤمنین خاص مجلس والو کښے یئے. ځما دپاره هم د حاضرید و اجازت واخله. حُر بن قیس رض چه کله د هغهٔ دپاره اجازت واخستو نو د فاروق اعظم رض د طرف نه اجازت ملاؤ شو. کله چه عیینه رض مجلس کښے حاضر شو. نو حضرت عمر رض ته ئے اووئیل چه تاسو مونږ ته ډیر څهٔ نهٔ راکوئ. او نه مونږ سره انصاف کوئ - حضرت عمر رض چه دا واوریدل نو ډیر زیات په غصه شو. او خطره پیدا شوه

---

[1] الكهل : الذي جاوز الثلاثين والشعبان بضم المعجلة وتشديد الموحدة آخره نون : جمع شاب وفي نسخة : اوشبانا [2] اي ما تعطينا الشئ الكثير والعطاء الكثير [3] اي المعروف ⁂

وَإِنَّ هٰذَا مِنَ الْجَاهِلِيْنَ، وَاللّٰهِ مَا جَاوَزَهَا عُمَرُ حِيْنَ تَلَاهَا، وَكَانَ وَقَّافًا عِنْدَ كِتَابِ اللّٰهِ تَعَالٰى" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ⁘

چه (چرته) دَ خولې نه ئې څۀ سخته خبره اونۀ وځي. نو حُر بن قيسؓ اووئيل، اے اميرالمؤمنين. الله تعالىٰ خپل نبی صلی الله عليه وسلم ته فرمائی: "خذ العفو وامر بالعرف واعرض عن الجاهلين" اے محمدؐ ! ته معافی کوه او د نيکئ حکم کوه. او جاهلان معاف کوه. او عيينه هم جاهل دے. نو عيينه اووئيل چه په الله مے دِ قسم وی. چه حضرت عمرؓ کله دا آيت واوريدۀ نو ناست په ناست پاتے شو. او هيڅ ئے هم اونۀ وئيل. ځکه هغه په قرآن مجيد باندے ډير زيات عمل کونکے وُو. (بخاری)

۵۱- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ "اِنَّهَا سَتَكُوْنُ بَعْدِيْ اَثَرَةٌ وَاُمُوْرٌ تُنْكِرُوْنَهَا قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَمَا تَاْمُرُنَا؟ قَالَ تُؤَدُّوْنَ[1] الْحَقَّ الَّذِيْ عَلَيْكُمْ وَتَسْاَلُوْنَ اللّٰهَ الَّذِيْ لَكُمْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁘

وَ"الْاَثَرَةُ": اَلْاِنْفِرَادُ بِالشَّيْءِ عَمَّنْ لَهُ فِيْهِ حَقٌّ ⁘

۵۱- حضرت ابن مسعودؓ روايت کوی. چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی. ځما نه پس به ډير زر داسے وخت راشی چه خلق به خپلو کښے يو بل لره ترجيح ورکوی. او داسے کارونه به پيدا شی. چه هغه به تاسو نۀ خوښوئ. صحابه کرامؓ عرض اوکړو يارسول الله ! دغه وخت ځمونږ د پاره تاسو کوم عمل حکم راکوئ ؟ نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه کوم حقونه چه ستاسو په ذمه دی هغه پوره کوئ. او الله تعالىٰ سره چه ستاسو څۀ دی، دَ هغې سوال کوئ. (بخاری ومسلم)

اَثَرَةٌ : دَ چا په معامله کښے بل غوره کول ⁘

۵۲- وَعَنْ اَبِيْ يَحْيٰى اُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا مِّنَ الْاَنْصَارِ قَالَ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَلَا تَسْتَعْمِلُنِيْ كَمَا اسْتَعْمَلْتَ فُلَانًا فَقَالَ: اِنَّكُمْ سَتَلْقَوْنَ بَعْدِيْ اَثَرَةً فَاصْبِرُوْا حَتّٰى تَلْقَوْنِيْ عَلَى الْحَوْضِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁘

وَ"اُسَيْدٌ" بِضَمِّ الْهَمْزَةِ. "وَحُضَيْرٌ" بِحَاءٍ مُهْمَلَةٍ مَضْمُوْمَةٍ وَضَادٍ مُعْجَمَةٍ مَفْتُوْحَةٍ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ ⁘

۵۲- حضرت ابو يحيیٰ اسيد بن حضيرؓ نه روايت دے. چه يو انصاری صحابیؓ عرض اوکړو يارسول الله ! ما دَ فلانکی سړی پشان گورنر نه جوړوے ؟ نو نبی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه ځما نه پس به ستا ناحق غوره کولو سره واسطه او تعلق راشی نو ته صبر کوه چه ما سره دَ حوض کوثر خوا ته يو ځائے شے. (بخاری ومسلم) "اُسَيد" کښے په الف پيښ او په سين زبر او په "حُضَير" کښے په "حاءٔ" پيښ او "ضاد" باندِ زبر لوستل کيږی.

۵۳- وَعَنْ اَبِيْ اِبْرَاهِيْمَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ اَوْفٰى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ

۵۳- حضرت ابوابراهيم عبدالله بن ابی اوفیٰ روايت کوی. چه يو ځل نبی کريم صلی الله

---

[1] تودون بضم الفوقية وفتح الهمزة وتشديد المهملة اى تعطون. وفى الحديث: الصبر على المقدور، والرضا بالقضاء حلوه ومره، والتسليم لله تبارك وتعالىٰ.

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ بَعْضِ اَيَّامِهِ الَّتِيْ لَقِيَ فِيْهَا الْعَدُوَّ انْتَظَرَ حَتّٰى اِذَا مَالَتِ الشَّمْسُ قَامَ فِيْهِمْ فَقَالَ يَآ اَيُّهَا النَّاسُ لَا تَتَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ وَاسْأَلُوا اللهَ الْعَافِيَةَ فَاِذَا لَقِيْتُمُوْهُمْ فَاصْبِرُوْا وَاعْلَمُوْا اَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ[1] ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتٰبِ[2] وَمُجْرِيَ السَّحَابِ وَهَازِمَ الْاَحْزَابِ اهْزِمْهُمْ وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ -

وَبِاللهِ التَّوْفِيْقُ ؛

علیه وسلم په هغې ورځو کښې چه مخامخ شو دُشمن سره - دَ نمرَ مائله کیدو انتظار ئې کولو - دغه وخت اودریدو او ارشاد ئې اوکړو چه دَ دشمن سره دَ مقابلې آرزو او خواهش مهٔ کوئ - بلکه دَ الله تعالیٰ نه دَ سلامتیٔ طلب کوئ - او کله چه مقابله شروع شي. نو مضبوط او کلک اوسئ - او صبر کوئ - او دا خبره ښه ذهن کښې کینوئ چه جنت دَ تُورو دَ سورې دَ لاندې دے. دے نه پس نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اے الله! دَ کتابونو نازلونکیه! او اے وریځې شړونکیه او اے لښکرو ته شکست او کامیابي ورکونکیه! څمونږ دے دشمنانو ته ماتې ورکړه - او موږ له په دوئ غلبه او کامیابي راکړه - (بخاري ومسلم)

باب ۴

ف : په دے باب کښې دَرے قرآنی آیتونه او شپاړس احادیث دی - رښتیا وئیل دَ خلاصۍ کُنجی ده - او جنت ته دَ رسیدو یو داسې عمل دے - چه دَ هغې عمل په فضیلت باندې دَ الله تعالیٰ فرمان او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ ارشاداتو یوه ذخیره څمونږ دپاره پرته ده - اسلام کښې رښتیا وینا هغه وخت قابل قبول ده - چه عمل هم دَ هغې مطابق وی - دَ امام غزالیؒ دَ وینا مطابق دَ رښتیا وئیلو شپږ صفتونه دی - که یو صفت یا یو طرف هم زخمی شي - نو نهٔ رښتیا ښکاره کیدے شي، او نه ئې اثرات ښکاره کیدے شي - او نه هغه خوبیانې حاصلیدے شي - یو طرف ئې خبرے اترے کول دی - دوئیم اراده او نیت کول - درېیم عزم او قصد - څلورم عزم کول او پوره کول - پنځم عمل کول - شپږم مراتب او مقامات دیني - او که یو طرف دَ رښتیاؤ نه خالی وی نو نهٔ به دَ خیر حاصلیدو بُنیاد جوړ کړے شي او نه هغې ته کامل ومکمل رښتیا وئیلے شي -

---

[1] قال القرطبی : هٰذا من الکلام النتمیس البدیع الذی جمع ضروب البلاغة من جزالة اللفظ وعذوبته وحسن استعارته وشمول المعانی الکثیرة مع الالفاظ المقبولة الوجیزة بحیث تعجز الفصحاء اللسن البلغاء عن ایراد مثله وان یاتوا بنظیره اوشکله، فانه استفید منه مع وجازته الحض علی الجهاد والاخبار بالثواب علیه والحض علی مقاربة العدو واستعمال السیوف والاعتماد علیها واجتماع المقاتلین حین الزحف بعضهم لبعض حتی تکون سیوفهم بعضها یقع علی العدو وترفع علیهم حتی کان السیوف اظلت الضاربین بها ؛

[2] "منزل الکتاب" ای الکتب المنزلة الی الدنیا . د "هازم الاحزاب" ای الطوائف من الکفار الذین تحزبوا علی رسول الله صلی الله علیه وسلم : وفی الحدیث الدعاء حال الشدائد، والخروج من الحول والقوة ، وهو سر الانتصار علی الاعداء

بَابُ الصِّدْقِ ؛ دَ رښتياوُ بيان

قرآني آيتونه

۱۳- قَالَ اللّٰهُ تَعَالىٰ[1] "يَا يُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ.

۱۳- دَ الله تعالىٰ ارشاد دے۔ اے ايمان والو۔ الله نه اوويريږئ۔ او دَ رښتيا ويونكو ملګرى شئ۔ (توبه آيت ۱۱۹، پ ۱۱)

۱۴- وَقَالَ تَعَالىٰ[2] " وَالصّٰدِقِيْنَ وَالصّٰدِقَاتِ " ۔

۱۴- دَ الله تعالىٰ ارشاد دے۔ رښتيا ويونكى نارينه او زنانه۔ (احزاب آيت ۳۵، پ ۲۲)

۱۵- وَقَالَ تَعَالىٰ[3] فَلَوْصَدَقُوا اللّٰهَ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ " ۔

۱۵- دَ الله تعالىٰ ارشاد دے۔ كهٔ دغه خلقو دَ الله تعالىٰ سره رښتيا ويناكولے نو دا به هغوئ دپاره ډير ښهٔ وے۔ (محمد آيت ۲۱، پ ۲۶)

وَ اَمَّا الْاَحَادِيْثُ ۔ فَالْاَوَّلُ :

" نبوى حديثونه "

۵۴- عَنْ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِيْ اِلَى الْبِرِّ[4] وَاِنَّ الْبِرَّ يَهْدِيْ اِلَى الْجَنَّةِ. وَاِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتّٰى يُكْتَبَ عِنْدَ اللّٰهِ صِدِّيْقًا. وَاِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِيْ اِلَى الْفُجُوْرِ، وَاِنَّ الْفُجُوْرَ يَهْدِيْ اِلَى النَّارِ، وَاِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتّٰى يُكْتَبَ عِنْدَ اللّٰهِ كَذَّابًا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۵۴- حضرت عبد الله بن مسعودؓ دَ نبى كريم صلى الله عليه وسلم ارشاد نقل كړے دے۔ چه هغهٔ فرمائيلى دى۔ رښتيا وينا خلق نيكئ طرفته راكاږى۔ او نيكى جنت ته رسول كوى۔ او كوم كس چه هميشه رښتيا وائى۔ نو دَ الله تعالىٰ سره صديق اوليكلے شى۔ او دروغ دَ بدو لاره ښائى۔ او بدئ دوزخ ته رسول كوى۔ او كله چه انسان هميشه دروغ وائى۔ نو دَ الله تعالىٰ سره دروغجن اوليكلے شى۔ (بخارى ومسلم)

الثَّانِيْ — دويم حديث

۵۵- عَنْ اَبِيْ مُحَمَّدٍ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيِّ ابْنِ اَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ حَفِظْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "دَعْ مَا يُرِيْبُكَ اِلٰى مَا لَا يُرِيْبُكَ، فَاِنَّ الصِّدْقَ طُمَانِيْنَةٌ وَّ الْكَذِبَ رِيْبَةٌ " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ ؛ قَوْلُهُ : "يَرِيْبُكَ" : هُوَ بِفَتْحِ الْيَاءِ وَ

۵۵- ابو محمد حسن بن عليؓ فرمائى : چه ما دَ نبى صلى الله عليه وسلم دا ارشاد ياد كړے دے چه كوم خيز كښے دِ شك وشبهه پيدا شى نو بيا هغه خيز پريږده او هغه خبره او كار اختيار كړه كوم كښے چه دِ شك نهٔ وى۔ نو دا خبره يقيني ده چه رښتيا ويئل اطمينان او يقين پيدا كوى۔ او دروغ ويئل شك او شبهه او بے اطمينانى پيدا كوى۔ ترمذى دے حديث ته صحيح ويئلى دى۔

---

[1] سورة التوبة اٰية ۱۱۹ ؛ [2] سورة الاحزاب اٰية ۳۵ [3] سُورة محمدؐ اٰية ۲۱ ؛

[4] يهدى بفتح اوله اى يرشد ويوصل الى البر اى العمل الصالح والفجور العمل السيئ ۲

ضَمِّهَا: وَمَعْنَاهُ اُتْرُكْ مَا تَشُكُّ فِيْ حِلِّهٖ وَاعْدِلْ اِلٰى مَالَا تَشُكُّ فِيْهِ ؞

يَرِيْبُكَ: بفتح الياء وضمها: يعني کوم حلال څيز کښې چه شک راځي هغه دِ پرېښودے شي. او کوم کښې چه شک نهٔ وی هغه دِ اختيار کړے شي -

٥٦- عَنْ اَبِيْ سُفْيَانَ صَخْرِ بْنِ حَرْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِيْ حَدِيْثِهِ الطَّوِيْلِ فِيْ قِصَّةِ هِرَقْلَ، قَالَ هِرَقْلُ: فَمَاذَا يَاْمُرُكُمْ. يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَبُوْسُفْيَانَ قُلْتُ: يَقُوْلُ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَحْدَهٗ لَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَاتْرُكُوْا مَا يَقُوْلُ اٰبَاؤُكُمْ[1] وَيَاْمُرُنَا بِالصَّلٰوةِ، وَالصِّدْقِ وَالْعِفَافِ وَالصِّلَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞

٥٦- حضرت ابوسفيان صخر بن حربؓ دَ هرقل والا اوږد حديث کښې فرمائي: چه هرقل بادشاه ډير تپوسونه کړي وُو، چه يو پکښې دا هم وُو چه ستاسو پيغمبر تاسو ته دَ کومو کومو خبرو حکم کوی. نو ما جواب ورکړ چه هغه مونږ ته دَ يو الله دَ عبادت او بندګئ کولو او هغهٔ سره هيڅوک په هيڅ څيز کښې دَ نهٔ شريکولو حکم کوی - او دا هم وائی چه ستاسو پلاران او مشران چه څهٔ وائی هغه پرېږدئ - او مونږ ته حکم کوی چه مونځ کوئ - رښتيا وايئ - ځان پاک او پچ ساتئ او صله رحمی کوئ - (بخاری ومسلم)

؞ ؞ ؞

٥٧- عَنْ اَبِيْ ثَابِتٍ وَقِيْلَ اَبِيْ سَعِيْدٍ وَقِيْلَ اَبِي الْوَلِيْدِ، سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ وَهُوَ بَدْرِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ سَاَلَ اللّٰهَ تَعَالٰى الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ. بَلَّغَهُ اللّٰهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَآءِ وَاِنْ مَاتَ عَلٰى فِرَاشِهٖ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞

٥٧- حضرت ابو ثابت سهل بن حنيف بدريؓ روايت کوی (چه کُنيت ئے ابوسعيد دے يا ابوالوليد دے) چه دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد دے چه چا دَ زړهٔ دَ صدقه دَ الله نه شهادت اوغوښت - نو الله تعالیٰ هغه دَ شهيد مرتبے او درجے ته رسوی - اګرچه هغه په خپله بستره مړ شي.

٥٨- عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزَا نَبِيٌّ مِّنَ الْاَنْبِيَآءِ صَلَوَاتُ اللّٰهِ وَسَلَامُهٗ عَلَيْهِمْ فَقَالَ لِقَوْمِهٖ: لَا يَتْبَعَنِّيْ رَجُلٌ مَلَكَ بُضْعَ امْرَاَةٍ[2] وَهُوَ يُرِيْدُ اَنْ يَبْنِيَ بِهَا وَلَمَّا يَبْنِ بِهَا وَلَا اَحَدٌ بَنٰى بُيُوْتًا لَمْ يَرْفَعْ سُقُوْفَهَا وَلَا اَحَدٌ اشْتَرٰى غَنَمًا اَوْ خَلِفَاتٍ وَهُوَ يَنْتَظِرُ اَوْلَادَهَا. فَغَزَا فَدَنَا مِنَ الْقَرْيَةِ صَلٰوةَ الْعَصْرِ اَوْ قَرِيْبًا مِنْ ذٰلِكَ فَقَالَ

٥٨- حضرت ابوهريرهؓ نه / (مسلم) روايت دے چه دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد دے چه دَ الله تعالیٰ په پيغمبرانو کښې يو پيغمبر جهاد ته تللو نو اعلان ئے اوکړو. چه ما سره دِ داسے کس نهٔ ځي، کوم چه اوس اوس نکاح کړے وی، چه ښځه ئے کورته راوستے نهٔ وی مګر دَ راوستلو اراده ئے وی. او نهٔ دِ هغه کس جهاد کښې شريک کيږی. چا چه کور جوړ کړے وی خو لا چهت ئے پرے نهٔ وی اچولے. او هغه کس دِ هم نهٔ ځي چه کړے بيزے، غواګانے او

---

[1] ای مایقوله اٰباؤکم دهی کلمة جامعة لترک جميع ما کانوا عليه فی الجاهلية

[2] بضع امرأة بضم الباء وسکون الضاد المعجمة: يطلق علی الفرج والنکاح والجماع ويبنی بها ای يدخل بها ولم يدخل بها بعد

لِلشَّمْسِ: اِنَّكِ مَأْمُوْرَةٌ وَاَنَا مَأْمُوْرٌ اَللّٰهُمَّ احْبِسْهَا عَلَيْنَا فَحُبِسَتْ حَتّٰى فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فَجَمَعَ الْغَنَائِمَ فَجَاءَتْ يَعْنِيْ النَّارَ لِتَأْكُلَهَا فَلَمْ تَطْعَمْهَا فَقَالَ: اِنَّ فِيْكُمْ غُلُوْلًا [1] فَلْيُبَايِعْنِيْ مِنْ كُلِّ قَبِيْلَةٍ رَجُلٌ فَلَزِقَتْ يَدُ رَجُلٍ بِيَدِهٖ فَقَالَ: فِيْكُمُ الْغُلُوْلُ فَلْيُبَايِعْنِيْ قَبِيْلَتُكَ فَلَزِقَتْ يَدُ رَجُلَيْنِ اَوْثَلَاثَةٍ بِيَدِهٖ فَقَالَ: فِيْكُمُ الْغُلُوْلُ فَجَاؤُوْا بِرَأْسٍ مِثْلِ رَأْسِ بَقَرَةٍ مِنَ الذَّهَبِ فَوَضَعَهَا فَجَاءَتِ النَّارُ فَاَكَلَتْهَا فَلَمْ تَحِلَّ الْغَنَائِمُ لِاَحَدٍ قَبْلَنَا ثُمَّ اَحَلَّ اللّٰهُ لَنَا الْغَنَائِمَ لَمَّا رَاٰى ضَعْفَنَا وَعَجْزَنَا فَاَحَلَّهَا لَنَا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؁

"اَلْخَلِفَاتُ" بِفَتْحِ الْخَاءِ الْمُعْجَمَةِ وَكَسْرِ اللَّامِ: جَمْعُ خَلِفَةٍ وَهِيَ النَّاقَةُ الْحَامِلُ:

او ښے ئې اخستې وی۔ او د هغې د بچو زیږیدلو انتظار کوی۔ کله چه هغه کلی ته نږدے شو۔ په کوم کلی ئې چه حمله کول مقصود وُو۔ د مازیګر یا مازیګر ته نږدے وخت وُو۔ نو نمر ته ئې اووئیل چه د الله تعالیٰ د حکم ته هم پابند ئې او زهٔ هم پابند یم۔ اے نمره! دویږه مه۔ ایسار شه۔ نو د کامیابئ او جنګ کتلو پورے نمر ډوب نهٔ شو۔ نو مالِ غنیمت ئې یو ځائے ته جمع کړو۔ چه اور نازل شی او دا غنیمت اوخوری۔ مګر اور ښکاره نهٔ شو۔ نو وے وئیل چه چا پکښے خیانت کړے دے۔ د هرے یوے قبیلے د یو یو کس نه به بیعت اخلم او ما سره به مصافحه کوی۔ نو د یو کس پکښے لاس د پیغمبرؑ د لاس پورے اونښتو نو پیغمبرؑ ورته اووئیل چه ستا قبیلے والا خیانت کړے دے۔ نو ستاسو د قبیلے خلق دِ ټول راشی او ځما نه دِ بیعت واخلی۔ نو مغے کښے دوه درے کسا نو د بیعت کولو نه لاس واپس رانښکلو۔ نو دغه پیغمبر علیه السلام ورته اووئیل چه تاسو کښے خیانت دے۔ او ورته ئې اووئیل چه لاس شئ څه خیز چه تاسو پټ کړے دے هغه راوړئ۔ نو د سرو زرو یو سر ئې راوړو چه د غوا د سر برابر وُو۔ نو هغه ئې د مالِ غنیمت سره کیخودلو۔ نو اور نازل شو او غنیمت ئې اوسیزلو۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه مال غنیمت ځمونږ نه مخکښے چا د پاره حلال نهٔ وُو۔ الله تعالیٰ ځمونږ کمزورئ باندے نظر کړے دے۔ نو په طریقه د امداد ئې ځمونږ د پاره حلال اوګرځولو۔ (بخاری ومسلم)

خَلِفَاتٌ: بلاربو اوښو ته وئیلے شی۔

٥٩۔ عَنْ اَبِيْ خَالِدٍ حَلِيْمِ بْنِ حِزَامٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اَلْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا" فَاِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُوْرِكَ لَهُمَا فِيْ بَيْعِهِمَا وَاِنْ كَتَمَا وَكَذَبَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا [1] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؁

٥٩۔ جناب ابوخالد حکم بن حزامؓ نه روایت دے چه د نبی صلی الله علیه وسلم ارشاد دے۔ چه د اخستلو خرڅولو معاملے والا تر کومے چه جُدا شوی نهٔ وی د خپلے معاملے ماتولو اختیار رهریو ته حاصل دے۔ او که دواړه معامله په صداقت سره کوی، او د مال او د خرڅ والا څیز عیب او نقصان ښکاره کوی۔ نو دا اخستل خرڅول د برکت باعث وی۔ او که دروغ یا عیب پکښے وی نو برکت ئې ختم شی۔ (بخاری ومسلم)

---

[1] الغلول بضم اوليه: المعجمة فاللام: الخيانة في المغنم [1] اى ذهبت ولم يحصلا الا على التعب ١٢

باب ۵

ف: په دے باب کښے پنځهٔ آیتونه او نههٔ احادیث دی. دلته دَ مراقبے نه مراد حفاظت او خیال ساتل دی دَ الله تعالیٰ. دے کښے ړومبے حدیث دَ حدیثِ جبرئیل په نوم مشهور دے. امام قرطبیؒ دے حدیث ته "ام السنة" وائی. او ټولو محدثینو دا حدیث په خاص اهتمام سره بیان کړے دے. عام صحابهؓ ئے دَ غیر ضروری سوالونو نه منع کړی وُو. نو دَ دین دَ اهمو خبرو او دَ ضروری عقائدو او مسائلو دَ تعلیم خلاصه ذهن کښے کینولو د پاره دَا جراء او عجیبه طریقه اختیار کړے شوه. چه حضرت جبرئیلؑ عام طور دَ صحابوُ مجلس ته راغے. او سوالونه ئے اوکړل: او بیا ئے دَ جوابونو په خپله هم تصدیق کولو. او دے طریقے ته دَ صحابوُ بنه توجه جوړه شوه. پوښتنے هم کوی او بیا دَ هغے تصدیق هم کوی.

بَابُ الْمُرَاقَبَةِ ! دَ مراقبے بیان

(قرانی آیتونه)

١٦- قَالَ اللهُ تَعَالیٰ[1] "اَلَّذِیْ یَرٰکَ حِیْنَ تَقُوْمُ وَ تَقَلُّبَکَ فِی السّٰجِدِیْنَ". (پ۱۹ ـ شعراء)	١٦- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. چه کله تاسو پاسئ نو هغه تا وینی. او دَ مونځ کونکو په مینځ کښے چه ته ګرځے نو هم تا وینی. (آیت ۲۱۹ شعراء پ۱۹)
١٧- وَقَالَ تَعَالیٰ[2] "وَهُوَ مَعَکُمْ اَیْنَمَا کُنْتُمْ". (پ۲۷ الحدید)	١٧- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. تاسو چه کوم ځائے کښے یئ نو الله تعالیٰ تاسو سره دے.
١٨- وَقَالَ تَعَالیٰ[3] "اِنَّ اللهَ لَا یَخْفٰی عَلَیْهِ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَ لَا فِی السَّمَآءِ". (پ۳ آل عمران) ۵	١٨- د الله تعالیٰ ارشاد دے. په زمکه او آسمان کښے دَ الله تعالیٰ نه هیڅ څیز پټ نهٔ دے.
١٩- وَقَالَ تَعَالیٰ[4] "اِنَّ رَبَّکَ لَبِالْمِرْصَادِ[5]". (پ۳۰ فجر)	١٩- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. بے شکه الله تعالیٰ نافرمانو ته بدله ورکوونکے دے.
٢٠- وَقَالَ تَعَالیٰ:[6] "یَعْلَمُ خَآئِنَةَ الْاَعْیُنِ وَمَا تُخْفِی الصُّدُوْرُ" وَالْاٰیَاتُ فِی الْبَابِ کَثِیْرَةٌ مَّعْلُوْمَةٌ: پ۲۴ مؤمن ۱۹	٢٠- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. چه هغه دَ سترګو خیانت او دَ سینے پټے خبرے هم پیژنی.

په دے سلسله کښے نور هم آیتونه شته دے.

(نبوی احادیث)

٦٠- عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: "بَیْنَمَا نَحْنُ جُلُوْسٌ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ یَوْمٍ اِذْ طَلَعَ عَلَیْنَا رَجُلٌ شَدِیْدُ بَیَاضِ	٦٠- حضرت عمرؓ فرمائی. چه مونږ نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره مجلس کښے حاضر وُو. چه ناڅاپه یو سړے راښکاره شو. جامے ئے صفا وے. ویښته ئے بالکل

---

[1] سورة الشعراء آية ۲۱۹ [2] سورة الحديد آية ۴ [3] سورة آل عمران آية ۵

[4] سورة الفجر آية ۱۴ [5] اى يرصد اعمال العباد لا يفوته منها شيء ثم يجازيهم عليها [6] سورة مؤمن آية ۱۹

الثِّيَابِ شَدِيْدُ سَوَادِ الشَّعْرِ لَا يُرٰى عَلَيْهِ اَثَرُ السَّفَرِ وَلَا يَعْرِفُهٗ مِنَّا اَحَدٌ حَتّٰى جَلَسَ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ اِلٰى رُكْبَتَيْهِ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلٰى فَخِذَيْهِ وَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ اَخْبِرْنِيْ عَنِ الْاِسْلَامِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلْاِسْلَامُ اَنْ تَشْهَدَ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ، وَتُقِيْمَ الصَّلٰوةَ وَتُؤْتِيَ الزَّكٰوةَ، وَتَصُوْمَ رَمَضَانَ، وَتَحُجَّ الْبَيْتَ اِنِ اسْتَطَعْتَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا: قَالَ صَدَقْتَ فَعَجِبْنَا لَهٗ يَسْاَلُهٗ وَيُصَدِّقُهٗ[١] قَالَ: فَاَخْبِرْنِيْ عَنِ الْاِيْمَانِ قَالَ: اَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ، وَمَلٰٓئِكَتِهٖ، وَكُتُبِهٖ، وَرُسُلِهٖ، وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ۔ قَالَ: صَدَقْتَ۔ قَالَ: فَاَخْبِرْنِيْ عَنِ الْاِحْسَانِ؟ قَالَ: اَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ فَاِنْ لَّمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهٗ يَرَاكَ: قَالَ فَاَخْبِرْنِيْ عَنِ السَّاعَةِ: قَالَ: مَا الْمَسْئُوْلُ عَنْهَا بِاَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ۔ قَالَ: فَاَخْبِرْنِيْ عَنْ اَمَارَاتِهَا۔ قَالَ: اَنْ تَلِدَ الْاَمَةُ رَبَّتَهَا وَاَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ[٢] يَتَطَاوَلُوْنَ فِي الْبُنْيَانِ۔ ثُمَّ انْطَلَقَ فَلَبِثْتُ مَلِيًّا ثُمَّ قَالَ: يَا عُمَرُ اَتَدْرِيْ مَنِ السَّائِلُ؟ قُلْتُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ۔ قَالَ فَاِنَّهٗ جِبْرِيْلُ اَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِيْنَكُمْ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

تور وُو۔ دَ سفر اثر پرے هم نهٔ ښکاریدو۔ او مونږ هیڅوک هم نهٔ پیژندو۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره خوا په خوا زنګون په زنګون کینا ستلو۔ او په خپل پتونے لاسونه کیخودل۔ او په آرام کیناستلو۔ بیائے تپوس اوکړو۔ اے محمدؐ! دَ اسلام حقیقت راته اوښایه نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل۔ اسلام دا دے چه ګواهی دَ دے خبرے ورکړے چه دَ الله تعالیٰ نه بغیر هیڅوک دَ عبادت لائق نشته۔ او محمدؐ دَ الله تعالیٰ رسول دے۔ او بل دا چه مونځ قائم ساته او زکوٰة ورکوه۔ او دَ رمضان روژے نیسه۔ او چه دَ تلو راتلو طاقت دَ خرچ کولو دِ وی نو حج کوه۔ نو دغه سړی اووئیل چه تا سو رښتیا اووئیل۔ مونږ په دے خبره حیران شو۔ چه تپوس هم کوی۔ او تصدیق ئے هم کوی۔ هغهٔ بیا تپوس اوکړو چه ایمان څهٔ څیز دے؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دَ الله تعالیٰ، دَ هغهٔ دَ فرښتو، دَ کتابونو، دَ رسولانو او دَ آخرت دَ ورځے تصدیق کول او دغه شان په تقدیر کښے نیکی او بدی خپل ځان دپاره منل ایمان دے۔ نو دغه سړی اووئیل چه رښتیا دِ اووئیل۔ هغهٔ بیا تپوس اوکړو، چه احسان څهٔ څیز دے؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه دَ الله تعالیٰ عبادت داسے کوه چه تهٔ هغه وینے۔ کهٔ دَ تصور دا مقام دِ حاصل نهٔ وی۔ نو دا خیال خو کوه چه هغه تا وینی۔ بیا هغه سړی تپوس اوکړو۔ چه دَ قیامت متعلق څهٔ اووایه؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ دے باره کښے ځما علم دَ سوال کوُنکی نه زیات نهٔ دے۔ نو هغهٔ اووئیل: دَ

---

[١] وجه التعجب ان السؤال یدل علی عدم علم السائل والتصدیق یدل علیٰ علمه۔ وقد زال عجب عمرؓ بقوله صلی الله علیه وسلم "فانه جبریل اتاکم یعلمکم دینکم۔ [٢] الرعاء بکسر اوله وبالمد: جمع راع۔ والشاء: الغنم:

وَمَعْنٰی: "تَلِدُ الْاَمَةُ رَبَّتَهَا"، اَیْ سَیِّدَتَهَا؛ وَمَعْنَاهُ اَنْ تَكْثُرَ السَّرَارِیُّ حَتّٰی تَلِدَ الْاَمَةُ السَّرِیَّةُ بِنْتًا لِسَیِّدِهَا وَبِنْتُ السَّیِّدِ فِیْ مَعْنَی السَّیِّدِ وَ قِیْلَ غَیْرُ ذٰلِكَ۔ "وَالْعَالَةُ": اَلْفُقَرَاءُ۔ وَقَوْلُهٗ "مَلِیًّا" اَیْ زَمَانًا طَوِیْلًا وَكَانَ ذٰلِكَ ثَلَاثًا ⁘

قیامت علامے او نښانے اوښایه. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه وینځه به سردار او زیږوی. او وږی او بربنړه او شپونکی قسم خلق به ترے لوړے لوړے محلونو او ښے ښهٔ عمارتونو آبادو کښے او سیدو باندِ فخر او غرور کوَنکی اووینے. بیا هغه سړے لاړه زهٔ څهٔ وخت هم دغسے غلے وُوم - بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. اے عمرؓ! تا اوپیژندو. دا پتوس کوَنکے څوک وُو؟ ما عرض اوکړو چه الله او دَهغهٔ رسولؐ ئے ښهٔ پیژنی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، دا جبرئیل علیه السلام وُو. راغلے وُو تاسو ته ئے دین ښودلو. (مسلم)

⁘ رَبَّتَهَا : سردار. مطلب ئے دادے چه وینځے به دومره ډیرے شی. چه مالک به ورسره کور والے کوی. او لور به ترے پیدا کیږی.

⁘ عَالَةٌ : یعنی نادار او فقیر محتاج.

⁘ مَلِیًّا : اوږده زمانه. بعضو ترینه درے ورځے موده مراد اخستے ده.

٦١- عَنْ اَبِیْ ذَرٍّ جُنْدُبِ بْنِ جُنَادَةَ وَاَبِیْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اِتَّقِ اللّٰهَ حَیْثُمَا كُنْتَ[1] وَاَتْبِعِ السَّیِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا، وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ: حَدِیْثٌ حَسَنٌ ⁘

٦١- حضرت ابوذر جندب بن جنادهؓ او حضرت ابوعبدالرحمٰن معاذ بن جبلؓ نه روایت دے. چه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے. چه تاسو چرته یئ نو دَ الله نه ویریږئ. که څهٔ گناه درنه اوشی نو دَهغے نه پس څهٔ دَ نیکئ او دَ ثواب کار ضرور کوه. چه هغه بدی او گناه ختمه کړی او خلقو سره ښهٔ اخلاقو سره مِلاویږه. (ترمذی) وائی دا حدیث حسن دے.

٦٢- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ كُنْتُ خَلْفَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ[2] یَوْمًا فَقَالَ: یَا غُلَامُ اِنِّیْ اُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ: اِحْفَظِ اللّٰهَ یَحْفَظْكَ[3] اِحْفَظِ اللّٰهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ[4] اِذَا سَاَلْتَ فَاسْاَلِ اللّٰهَ وَاِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ وَاعْلَمْ اَنَّ الْاُمَّةَ[5] لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلٰی اَنْ یَنْفَعُوْكَ بِشَیْءٍ لَمْ یَنْفَعُوْكَ اِلَّا بِشَیْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللّٰهُ لَكَ، وَ اِنِ اجْتَمَعُوْا عَلٰی اَنْ یَضُرُّوْكَ بِشَیْءٍ لَمْ یَضُرُّوْكَ اِلَّا بِشَیْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللّٰهُ

٦٢- دَ ابن عباسؓ نه روایت دے چه زهٔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره سور وُوم - نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - اے هلکه! یو څو خبرے درته ښائیم، که هغه دِ محفوظے اوساتلے، نو الله تعالیٰ به ستا حفاظت اوکړی. اول دا چه دَ الله تعالیٰ دَحقونو خیال ساته، نو الله تعالیٰ به تا سره وی. او کله چه څهٔ غواړے نو دَ الله نه ئے غواړه. او کله چه دِ امداد ته ضرورت وی نو دَ الله تعالیٰ نه امداد غواړه. او یاد ساته که ټول اُمت یو ځائے شی او تا ته څهٔ فائده رسوَل

---

[1] ای فی ای مکان كنت حیث یراك الناس وحیث لا یرونك فان الله تعالیٰ یراك ان الله كان علیكم رقیبا [2] ای علی دابته [3] "احفظ الله" بملازمة تقواه واجتناب نواهیه وما لا یرضاه "یحفظك" من نفسك واهلك ودینك ودنیاك ١٢ [4] ای تجده معك بالحفظ والاحاطه والتائید والاعانة ١٢ [5] ای سائر المخلوقین

عَلَیْكَ رُفِعَتِ الْاَقْلَامُ وَجَفَّتِ الصُّحُفُ[سه] رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ: حَدِیْثٌ حَسَنٌ صَحِیْحٌ وَفِیْ رِوَایَةِ غَیْرِ التِّرْمِذِیِّ: اِحْفَظِ اللّٰهَ تَجِدْهُ اَمَامَكَ، تَعَرَّفْ اِلَی اللّٰهِ فِی الرَّخَاءِ یَعْرِفْكَ فِی الشِّدَّةِ۔ وَاعْلَمْ اَنَّ مَا اَخْطَاَكَ لَمْ یَكُنْ لِیُصِیْبَكَ، وَمَا اَصَابَكَ لَمْ یَكُنْ لِیُخْطِئَكَ؛ وَاعْلَمْ اَنَّ النَّصْرَ مَعَ الصَّبْرِ، وَاَنَّ الْفَرَجَ مَعَ الْكَرْبِ، وَاَنَّ مَعَ الْعُسْرِ یُسْرًا" ؛

او عوا ړی نو صرف دومره فائده به در اورسوی، څومره چه الله تعالیٰ ستا په تقدیر کښے لیکلی ده۔ او که ټول اُمت تا ته په نقصان درکولو باندے راجمع شی، نو د هغے نه یا ت نقصان نشی درکولے څومره چه الله تعالیٰ ستا په تقدیر کښے لیکلی دے۔ ځکه چه پیښیدونکی هغه لیکلے شوی دی۔ او قلمونه اوچت شوی دی (او ایخودے شوی دی) او د تقدیر لیکلے شوی کتابونه اوچ شوی دی۔ (ترمذی) وائی چه دا حدیث حسن صحیح دے۔ ترمذی نه علاوه بل روایت کښے داسے راغلی دی چه د الله تعالیٰ د حقوقو خیال ساته۔ نو الله به ځان سره موجود اووینے۔ د راحت او آرام په وخت کښے الله تعالیٰ یا دوه نو هغه به تا د تنګئ او مصیبت په وخت کښے یادوی۔ یا دسا ته کوم څیز چه تا د لاسه نه دے وړے هغه تا صحیح لاسه ته نشی راوستلے۔ او کوم څیز چه تا سے لاسه ته بیائی۔ هغه څیز تا د بدئ لارے ته نشی غور ځولے۔ او یوه شه چه د الله تعالیٰ امداد د صبر سره دے۔ او فراخی د تنګئ سره ده او پریشانئ سره آسانتیا راځی۔

٦٣۔ عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اِنَّكُمْ لَتَعْمَلُوْنَ اَعْمَالًا هِیَ اَدَقُّ فِیْ اَعْیُنِكُمْ مِنَ الشَّعْرِ كُنَّا نَعُدُّهَا عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمُوْبِقَاتِ" رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ ؛ وَقَالَ "اَلْمُوْبِقَاتُ" : اَلْمُهْلِكَاتُ ؛

٦٣۔ حضرت انس رض فرمائی۔ چه تا سو داسے کارونه کوئ چه هغه ستا سو په سترګو کښے د ویښته نه هم نری او باریک وی۔ چه مونږ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے وو۔ نو داسے اعمال به مو تباه کوونکی ګنړل۔ (بخاری)

اَلْمُوْبِقَاتِ : ای اَلْمُهْلِكَاتِ یعنی هلاکت کښے غورځوونکی څیزونه ۱۲

٦٤۔ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی یَغَارُ، وَغَیْرَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی اَنْ یَاْتِیَ الْمَرْءُ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَیْهِ، مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ؛ "وَالْغَیْرَةُ" بِفَتْحِ الْغَیْنِ وَاَصْلُهَا الْاَنَفَةُ۔

٦٤۔ د حضرت ابوهریره رض نه روایت دے۔ چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے۔ چه الله تعالیٰ له هم غیرت ورځی۔ او د الله تعالیٰ غیرت دا دے چه انسان هغه کارونه اوکړی چه کوم الله تعالیٰ حرام کړی دی۔ (بخاری ومسلم)

(اَلْغَیْرَةُ : خودداری)

٦٥۔ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ سَمِعَ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ: اِنَّ ثَلَاثَةً مِّنْ بَنِیْ اِسْرَآئِیْلَ اَبْرَصَ وَاَقْرَعَ وَاَعْمٰی اَرَادَ اللّٰهُ اَنْ

٦٥۔ حضرت ابوهریره رض وائی۔ چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیلی اوریدلی دی۔ چه بنی اسرائیلو کښے دړے کسان وو چه هغے کښے یو برګی مرض والا وو۔ دویم ګنجے وو۔ او دریم ړوند وو۔ الله

[سه] رفعت الاقلام: ای ترکت الکتابة بها، وجفت الصحف" التی فیها تقادیر الکائنات۔ وهذا کنایة عن تقدم کتابة للتقادیر والفراغ منها امد بعید وهذا من احسن الکنایات وابلغها۔

يَبْتَلِيَهُمْ[1] فَبَعَثَ اِلَيْهِمْ مَلَكًا فَاَتَى الْاَبْرَصَ فَقَالَ: اَیُّ شَیْءٍ اَحَبُّ اِلَيْكَ؟ قَالَ: لَوْنٌ حَسَنٌ وَجِلْدٌ حَسَنٌ وَيَذْهَبُ عَنِّی الَّذِیْ قَدْ قَذِرَنِیَ النَّاسُ[2] فَمَسَحَهٗ فَذَهَبَ عَنْهُ قَذَرُهٗ وَاُعْطِیَ لَوْنًا حَسَنًا فَقَالَ، فَاَیُّ الْمَالِ. اَحَبُّ اِلَيْكَ؟ قَالَ الْاِبِلُ. اَوْقَالَ الْبَقَرُ. شَكَّ الرَّاوِیْ، فَاُعْطِیَ نَاقَةً عُشَرَآءَ فَقَالَ: بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ فِيْهَا فَاَتَى الْاَقْرَعَ فَقَالَ: اَیُّ شَیْءٍ اَحَبُّ اِلَيْكَ؟ قَالَ: شَعْرٌ حَسَنٌ وَيَذْهَبُ عَنِّیْ هٰذَا الَّذِیْ قَذِرَنِی النَّاسُ فَمَسَحَهٗ فَذَهَبَ عَنْهُ وَاُعْطِیَ شَعْرًا حَسَنًا قَالَ: فَاَیُّ الْمَالِ اَحَبُّ اِلَيْكَ؟ قَالَ: الْبَقَرُ فَاُعْطِیَ بَقَرَةً حَامِلًا قَالَ بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ فِيْهَا فَاَتَى الْاَعْمٰى فَقَالَ: اَیُّ شَیْءٍ اَحَبُّ اِلَيْكَ؟ قَالَ: اَنْ يَرُدَّ اللّٰهُ اِلَیَّ بَصَرِیْ فَاُبْصِرَ النَّاسَ فَمَسَحَهٗ فَرَدَّ اللّٰهُ اِلَيْهِ بَصَرَهٗ قَالَ: فَاَیُّ الْمَالِ اَحَبُّ اِلَيْكَ؟ قَالَ: اَلْغَنَمُ. فَاُعْطِیَ شَاةً وَالِدًا، فَاُنْتِجَ هٰذَانِ وَوَلَّدَ هٰذَا فَكَانَ لِهٰذَا وَادٍ مِنَ الْاِبِلِ، وَلِهٰذَا وَادٍ مِنَ الْبَقَرِ، وَلِهٰذَا وَادٍ مِنَ الْغَنَمِ. ثُمَّ اِنَّهٗ اَتَى الْاَبْرَصَ فِیْ صُوْرَتِهٖ وَهَيْئَتِهٖ فَقَالَ: رَجُلٌ مِسْكِيْنٌ قَدِ انْقَطَعَتْ بِیَ الْحِبَالُ فِیْ سَفَرِیْ فَلَا بَلَاغَ لِیَ الْيَوْمَ اِلَّا بِاللّٰهِ ثُمَّ بِكَ اَسْاَلُكَ بِالَّذِیْ اَعْطَاكَ اللَّوْنَ الْحَسَنَ وَالْجِلْدَ الْحَسَنَ وَالْمَالَ بَعِيْرًا اَتَبَلَّغُ بِهٖ فِیْ سَفَرِیْ؟ فَقَالَ: اَلْحُقُوْقُ كَثِيْرَةٌ. فَقَالَ كَاَنِّیْ اَعْرِفُكَ اَلَمْ تَكُنْ اَبْرَصَ يَقْذَرُكَ النَّاسُ فَقِيْرًا فَاَعْطَاكَ اللّٰهُ؟ فَقَالَ اِنَّمَا وَرِثْتُ

تعالیٰ پہ دوئ امتحان اوکړو. یوه فرښته ئے دَ انسان پہ شکل دوئ تہ را اولیږله. اول دَ برګی مرض والا تہ راغله. ورته ئے اووئیل، چه ستاڅهٔ خوښ دی؟ دغه سړی اووئیل چه ښهٔ رنګ او ښائسته څرمن. او دَ کرکے والا مرض نہ خلاصے غواړم ځکه چه خلق راتہ نفرت کوی. او دَ خوا نہ مے تښتی. نو فرښتے دَ هغهٔ پہ بدن لاس راښکلو نو دَ هغه سړی هغه بیماری ختمه شوه او ښائسته څرمن ئے جوړه شوه. بیائے تپوس اوکړو چه څنګه مال دِ خوښ دے. راوی تہ شک راغلے دے چه یائے اوښان اوغوښتل یا غواګانے. بس هغهٔ تہ لس بلاربے اوښے ورکړے شوے او دُعائے ورته اوکړه چه الله تعالیٰ دِ تا له پہ دے کښے برکت واچوی. دے نه پس فرښته ګنجی له لاړه. تپوس ئے ترے اوکړو، چه ستاڅهٔ خوښ دی؟ هغه ګنجی اووئیل چه ځما ګنجے والے ختم کړے شی. ځکه چه خلق پہ دے وجه ځما نہ کرکه کوی. او بل ښائسته ویښتهٔ غواړم. بس فرښتے دَ هغهٔ پہ سر لاس راښکلو دَ هغهٔ ګنجے والے ختم شو. او ښائسته ویښتهٔ راوټوکیدل بیا فرښتے پوښته اوکړه. چه مال دِ کوم یو خوښ دے؟ نو هغهٔ اووئیل بلاربے غواګانے. نو هغهٔ تہ بلاربے غواګانے ورکړے شوے. او دُعائے ورته اوکړه، چه الله تعالیٰ دِ تا له پہ دے کښے برکت واچوی. دے نه پس فرښته ړوند له راغله تپوس ئے ترے اوکړو. چه ته څهٔ غواړے. هغهٔ اووئیل چه زهٔ غواړم چه ځما نظر الله تعالیٰ واپس کړی. چه خلق اووینم. بس فرښتے ورله پہ سترګو لاس راښکلو. نو الله تعالیٰ ئے نظر بخیل حال واپس کړو. بیا ترے فرښتے پوښتنه اوکړه. چه مال دِ کوم یو خوښ دے؟ نو هغهٔ اووئیل: بیزے. نو هغهٔ تہ دَ بچی والا یوه بیزه ورکړے شوه. نو دَ دے دواړو ځناورو

---

[1] ای یعاملهم معاملة المبتلی المختبر، ملكا» بفتح اللام فی صورة انسان ۱۲ [2] "قذرنی" بكسر الذال ای تباعد عنی وكرهنی الناس بسببه "فمسحه" ای الملك: ای امر يده عليه ::

هٰذَا الْمَالَ كَابِرًا عَنْ كَابِرٍ فَقَالَ اِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللّٰهُ اِلٰى مَا كُنْتَ وَاَتَى الْاَقْرَعَ فِىْ صُوْرَتِهٖ وَهَيْئَتِهٖ فَقَالَ لَهٗ مِثْلَ مَا قَالَ لِهٰذَا وَرَدَّ عَلَيْهِ مِثْلَ مَا رَدَّ هٰذَا۔ فَقَالَ: اِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللّٰهُ اِلٰى مَا كُنْتَ۔ وَاَتَى الْاَعْمٰى فِىْ صُوْرَتِهٖ وَهَيْئَتِهٖ فَقَالَ: رَجُلٌ مِسْكِيْنٌ وَابْنُ سَبِيْلٍ انْقَطَعَتْ بِىَ الْحِبَالُ فِىْ سَفَرِىْ فَلَا بَلَاغَ لِىَ الْيَوْمَ اِلَّا بِاللّٰهِ ثُمَّ بِكَ اَسْاَلُكَ بِالَّذِىْ رَدَّ عَلَيْكَ بَصَرَكَ شَاةً اَتَبَلَّغُ بِهَا فِىْ سَفَرِىْ؟ فَقَالَ: قَدْ كُنْتُ اَعْمٰى فَرَدَّ اللّٰهُ اِلَىَّ بَصَرِىْ فَخُذْ مَاشِئْتَ وَدَعْ مَاشِئْتَ فَوَاللّٰهِ لَا اَجْهَدُكَ الْيَوْمَ بِشَىْءٍ اَخَذْتَهٗ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ۔ فَقَالَ: اَمْسِكْ مَالَكَ فَاِنَّمَا ابْتُلِيْتُمْ فَقَدْ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْكَ وَسَخِطَ عَلٰى صَاحِبَيْكَ"۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁖

"وَالنَّاقَةُ الْعُشَرَآءُ" بِضَمِّ الْعَيْنِ وَفَتْحِ الشِّيْنِ وَبِالْمَدِّ: هِىَ الْحَامِلُ قَوْلُهٗ "اَنْتَجَ" وَفِىْ رِوَايَةٍ "فَنَتَجَ" مَعْنَاهُ تَوَلّٰى نَتَاجَهَا وَالنَّاتِجُ لِلنَّاقَةِ كَالْقَابِلَةِ لِلْمَرْاَةِ۔ وَقَوْلُهٗ "وَلَّدَ هٰذَا" هُوَ بِتَشْدِيْدِ اللَّامِ: اَىْ تَوَلّٰى وِلَادَتَهَا وَهُوَ بِمَعْنٰى اَنْتَجَ فِى النَّاقَةِ۔ فَالْمُوَلِّدُ، وَالنَّاتِجُ وَالْقَابِلَةُ۔ بِمَعْنًى لٰكِنْ هٰذَا لِلْحَيَوَانِ، وَذٰلِكَ لِغَيْرِهٖ۔ قَوْلُهٗ "انْقَطَعَتْ بِىَ الْحِبَالُ": هُوَ۔ بِالْحَاءِ الْمُهْمَلَةِ، وَالْبَاءِ الْمُوَحَّدَةِ: اَىِ الْاَسْبَابُ۔ وَقَوْلُهٗ: "لَا اَجْهَدُكَ" مَعْنَاهُ لَا اَشُقُّ عَلَيْكَ فِىْ رَدِّ شَىْءٍ تَاْخُذُهٗ اَوْ تَطْلُبُهٗ مِنْ مَالِىْ۔ وَفِىْ رِوَايَةٍ

بچی راوړل۔ او بیزے هم بچی اوزیږول۔ نو د فرښتے د برکت دعا کولو په وجه په څو ورځو کښے د اوښے والا د اوښانو، د غوا والا د غواګانو او د بیزے والا د بیزو رمونه ځنګلونه ډک شول۔ دے نه پس فرښته بیا د انسان په شکل د اولنی ځل په شان راغله۔ او برګی مرض والا ته ئے اووئیل۔ چه زهٔ غریب مسکین یم۔ د سفر توښه راسره خلاصه شوے ده۔ ځما بله څهٔ ذریعه نشته۔ چه هغے سره خپل سفر پوره کړم۔ بس صرف د الله آسره مے ده۔ او بیا ستا۔ تا نه د هغے پاک ذات په نامهٔ سوال کوم، چه تا له ئے ښائسته رنګ، څرمن او دومره ډیر اوښان درکړی دی۔ ماله د سورلئ دپاره یو اوښ راکړه چه زهٔ پرے خپل ځائے ته ځان اورسوم۔ دغه برګی ورته اووئیل، ځما په ذمه ډیر حقونه دی۔ تا دپاره اوښ چرته دے۔ فرښتے ورته اووئیل۔ داسے لږ لږ دِ پیژنم۔ تهٔ هغه سړے نهٔ ئے چه د برګی مرض درته لګیدلے وو او خلقو درنه نفرت اوکرله کوله او غریب فقیر وے۔ نو الله تا ته دومره مال او دولت درکړو هغه سړی اووئیل دا مال او دولت ما ته د پلار نیکهٔ نه میراث کښے پاتے شوے دے۔ بیا فرښتے اووئیل کهٔ تا دروغ وئیلی وی نو الله تعالیٰ دِ هغسے برګے کړه څنګه چه مخکښے وے۔

بیا فرښته ګنجی له په اولنی شکل د انسان کښے راغله۔ او دهٔ ته ئے هم هغه خبره اووئیل کوم ئے چه برګی مرض والا ته وئیلی وو۔ او هغهٔ هم هغه جواب ورکړو کوم چه برګی ورکړے وو۔ نو فرښتے دهٔ ته هم اووئیل چه کهٔ تهٔ دروغجن ئے نو تا دِ الله تعالیٰ هغسے ګنجے کړی څرنګه چه مخکښے وے۔

بیا فرښته ړوند له په اولنی شکل د انسان کښے راغله۔ او ورته ئے اووئیل چه زهٔ مسکین فقیر او مسافر یم۔ د سفر اسباب راسره ختم ځ

الْبُخَارِيِّ: "لَا أَحْمَدُكَ" بِالْحَاءِ الْمُهْمَلَةِ وَالْمِيْمِ وَمَعْنَاهُ: لَا أَحْمَدُكَ بِتَرْكِ شَيْءٍ تَحْتَاجُ إِلَيْهِ كَمَا قَالُوْا: لَيْسَ عَلٰى طُوْلِ الْحَيَاةِ نَدَمٌ: أَيْ عَلٰى فَوَاتِ طُوْلِهَا ∴

سوی دی. او د سفر کولو ذریعه مے نشته مګر الله به یې جوړ ری اوبیا د هغه الله په نوم د ستا نه سوال کوم. چه تا له یې د ستر ګو نظر واپس کړے دے. یوه بیزه غواړم چه د هغے په ذریعه زهٔ خپل سفر پوره کړم. هغه سړی اووئیل بے شکه زهٔ ړوند وُوم. الله تعالیٰ ما ته نظر راکړو څما به مال کښے چه کوم ستا خوښ وی او څومره چه دِ خوښ وی. هغه واخله او څومره چه دِ خوښ وی پریږده. په الله تعالیٰ مے دِ قسم وی نن د الله په نامهٔ چه ته څهٔ غواړے زهٔ به یې ستا نه منع نهٔ کړم. فرښتے اووئیل ستا مال دِ هم ستا مبارک شی. داستا سو امتحان وُو الله تعالیٰ د تا نه خوشحاله او راضی شو او ستا د نورو دوو ملګرو نه ناراضه شو. (بخاری ومسلم)

∴ اَلنَّاقَةُ الْعُشَرَآءُ : حامله او بلاربه اوښه

∴ اَنْتَجَ یَا فَنَتَجَ : بچے یې اوزیږولو. ناتجٔ: د اوښے د پاره او قابلَ د ښځو د پاره استعمالولے شی.

∴ وَوَلَّدَ هٰذَا : د اوښے بچے زیږول. مُوَلِّدُ. نَاتِجُ. قَابِلَ. یوه معنیٰ ده. اوّل دواړه لفظونه د دوو حیوانا نو د پاره او دریم د دے نه علاوه د پاره استعمالیږی.

∴ اَلْحِبَالُ : اسباب او ذرائع

∴ لَآ اَجْهَدُكَ : زهٔ به کوشش د منع کولو نهٔ کوم څما مال نه چه څهٔ غواړے یا اخلے. بخاری کښے "لا اجهدك" په ځائے "لَآ اَحْمَدُكَ" راغلے دے. یعنی زهٔ به په دے ستا صفت نهٔ کوم چه څما د ضرورت څیز دِ پریږودلو یا دِ واخستلو. بلکه ستا چه څومره ضرورت وی، بوځه. عربی مقوله ده "لیس علی طول الحیاة ندم" یعنی که ډیر عمر هم تیر شی نو پښیمانتیا پرے نهٔ ده بکار. د تللو څیز دے.

٦٦- عَنْ اَبِيْ يَعْلٰى شَدَّادِ ابْنِ اَوْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ: اَلْكَيِّسُ[1] مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ، وَالْعَاجِزُ مَنْ اَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَ تَمَنّٰى عَلَى اللّٰهِ الْاَمَانِيَّ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ. قَالَ التِّرْمِذِيُّ وَغَيْرُهُ مِنَ الْعُلَمَاءِ مَعْنٰى "دَانَ نَفْسَهُ" حَاسَبَهَا ∴

٦٦- د ابو یعلی شداد بن اوس رض نه روایت دے. چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دے. چه هوښیار سړے هغه دے. چه خپل ځان سره پخپله حساب کوی. او آخرت د پاره بکار راتلونکی عملونه کوی. او عاجز او بے وقوف هغه دے چه خپل ځان پخپله د خپلو خواهشا تو تابع او غلام کړی او بیا د الله تعالیٰ د خیر امید ونه کوی (ترمذی) وائی چه دا حدیث حسن دے.

نورو علماء او ترمذی هم وئیلی دی چه "دان نفسه" معنیٰ دا ده چه حساب یې دخپل نفس سره اوکړو.

٦٧- عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مِنْ حُسْنِ اِسْلَامِ الْمَ

د حضرت ابوهریره رض نه روایت دے چه الله صلی علیه وسلم فرمائیلی دی. نسان د اسلام خوبی دا ده. چه هغه

---

[1] الکیس: العاقل "من دان نفسه" ای. هلاکها" وعمل لما بعد الموت" من القبرو ما بعده صالح العمل "والعاجز من اتبع نفسه لها وتمنی علی الله" الفوز فی الاخرة.

تَرْکُهٗ مَالَا یَعْنِیْهِ[1] حَدِیْثٌ حَسَنٌ، رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَغَیْرُہٗ ∴

دبے هوده، فالتو، بے کاره او فضول خبرو نه پرهیز اوکړی یعنی ځان ترے اوساتی. ترمذی او نورهم داوائی چه دا حدیث، حدیث حسن دے.

۶۸- عَنْ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا یُسْأَلُ الرَّجُلُ فِیْمَ ضَرَبَ امْرَأَتَهٗ" رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَغَیْرُہٗ ∴

۶۸- حضرت عمرؓ نه روایت دے. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: چه پوښتنه به نشی کولے کسړی نه چه په څهٔ وجه ئے ښځه اووهله ځکه کله به داسے وجه ئے وهلے وی چه دَ ښکاره کولو نهٔ وی.

باب ٦

ف: دے باب کښے پنځهٔ آیاتونه او پنځهٔ احادیث دی. دَ تقویٰ معنیٰ ده. بچ کیدل، ځان ساتل او احتیاط کول. لیکن کهٔ دَ قرآن آیتونو او احادیثو کښے اوکتلے شی نو تقویٰ دَ یو داسے قلبی کیفیت نوم دے چه دَ الله تعالیٰ دَ هر وخت خالق او مالک، حاضر، ناظر کیدو کامل یقین حاصل شی چه دَ هغے په وجه بنده خیرا و ښیګړے خوا ته پخپله روانیږی او دَ بدئ او شر نه طبعًا تختی او بندیږی.

بَابٌ فِی التَّقْوٰی ! دَ تقویٰ بیان

قرآنی آیتونه

۲۱- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[2]: یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ ∴

۲۱- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. اے ایمان والوٗ! دَ الله تعالیٰ نه اووېرېږئ. څنګه چه دَ وېرے کولو حق دے. (پ۴ آل عمران) ∴

۲۲- وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[3]: فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ". وَهٰذِهِ الْاٰیَةُ مُبَیِّنَةٌ لِلْمُرَادِ مِنَ الْاُوْلٰی ∴

۲۲- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. چه دَخپل طاقت مناسب دَ الله تعالیٰ نه اووېرېږئ. امام نوویؒ وئیلی دی. چه دا آیت دَ ړومبی آیت وضاحت کوی. (پ۲۸ سورهٔ تغابن)

۲۳- وَقَالَ تَعَالٰی[4]: یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِیْدًا[5] وَالْاٰیَاتُ فِی الْاَمْرِ بِالتَّقْوٰی کَثِیْرَةٌ مَعْلُوْمَةٌ ∴

۲۳- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. اے ایمان والوٗ! دَ الله تعالیٰ نه اووېرېږئ. او حق، صحیح او رښتیا وینا کوئ. (پ۲۲، الاحزاب، آیت ۷۰)

داسے آیتونه ډیر زیات دی چه په هغے کښے دَ تقویٰ اختیارولو حکم شوے دے.

۲۴- وَقَالَ تَعَالٰی[6]: وَمَنْ یَّتَّقِ اللّٰهَ یَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا[7] وَّ یَرْزُقْهُ مِنْ حَیْثُ لَا یَحْتَسِبُ ∴

۲۴- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. کوم کس چه دَ الله تعالیٰ نه وېرېږی، نو الله تعالیٰ هغهٔ دپاره دَ خفګان نه دَ خلاصی لار اوباسی او دَ داسے ځائے نه هغهٔ ته روزی ورکوی چه دَ هغه ځائے نه ئے ګمان هم نهٔ وی. (پ۲۸ طلاق)

---

[1] مالا یعنیه: ای مالا یهمه فی دنیاه وآخرته [2] سورة آل عمران آیة ۱۰۲ [3] سورة التغابن آیة ۱۶ [4] سورة الاحزاب آیة ۷۰ [5] سدیدًا ای صوابًا [6] سورة الطلاق آیة ۲-۳ [7] مخرجا: ای من کرب الدنیا والآخرة" و یرزقه من حیث لا یحتسب" ای من جهة لا تخطر بباله

۲۵- وَقَالَ تَعَالیٰ[۵۰]: اِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا وَّيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللّٰهُ ذُوالْفَضْلِ الْعَظِيْمِ" وَالْاٰيَاتُ فِي الْبَابِ كَثِيْرَةٌ مَّعْلُوْمَةٌ ؞

۲۵- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. كهٔ تاسو دَ الله تعالیٰ نه ويريږئ. نو الله تعالیٰ به تاسو ته دَ فيصلے يو څيز درکړي (چه هغې ته دَ خير اوشر دَ تميز ملکه وائی) او ستاسو ګناهونه به ختم کړي. او تاسو ته به بخښنه اوکړي. او الله تعالیٰ دَ لوئے فضل مالک دے۔ (پ۹ ۔ انفال)

دَ تقوی په باره کښے ډيرآيتونه نورهم شته دے چه مشهور او معلوم دی۔

(نبوی احاديث)

۶۹- عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ مَنْ اَكْرَمُ النَّاسِ؟ قَالَ: "اَتْقَاهُمْ" فَقَالُوْا لَيْسَ عَنْ هٰذَا نَسْاَلُكَ قَالَ: "فَيُوْسُفُ نَبِيُّ اللّٰهِ بْنُ نَبِيِّ اللّٰهِ بْنِ نَبِيِّ اللّٰهِ بْنِ خَلِيْلِ اللّٰهِ" قَالُوْا: لَيْسَ عَنْ هٰذَا نَسْاَلُكَ قَالَ "فَعَنْ مَعَادِنِ الْعَرَبِ تَسْاَلُوْنِيْ: خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْاِسْلَامِ اِذَا فَقِهُوْا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞ وَ"فَقُهُوْا" بِضَمِّ الْقَافِ عَلَى الْمَشْهُوْرِ وَحُكِيَ كَسْرُهَا: اَيْ عَلِمُوْا اَحْكَامَ الشَّرْعِ ؞

۶۹- حضرت ابو هريرةؓ نه روايت دے. چه دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم نه تپوس اوکړه چه خلقو کښے دَ عزت قابل څوک دے؟ نو دے فرمائيل. چه څوک هغوئ کښے ډير پرهيزګاره وی. صحابوؓ عرض اوکړو چه ځمونږ دَ سوال دا مطلب نهٔ وُو. نو نبی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل. نو بيا عزت مند انسان حضرت يوسف عليه السلام چه دَ اللهؑ نبی او دَ حضرت يعقوب عليه السلام ځوئ او دَ حضرت ابراهيم عليه السلام نمسے وُو. صحابهٔ کرامؓ عرض اوکړو چه ځمونږ دَ سوال دا مطلب هم نهٔ دے. نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل: دَ عرب دَ خاندانونو په باره کښے تپوس کوئ. نو وا ورئ کوم چه دَ جاهليت په زمانه کښے عزت مند وُو. هغه دَ اسلام په زمانه کښے هم دَ عزت قابل دی. په دے شرط سره چه دينی کارونو کښے سوچ او دَ عقل نه کار اخلی۔ (بخاری و مسلم) (فَقِهُوْا: يعنی شرعی احکام)

۷۰- عَنْ اَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ وَاِنَّ اللّٰهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيْهَا[۵۱] فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ، فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَآءَ، فَاِنَّ اَوَّلَ فِتْنَةِ بَنِيْ اِسْرَآئِيْلَ كَانَتْ فِي النِّسَآءِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞

۷۰- حضرت ابو سعيد خدریؓ نه روايت دے. چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل. چه دُنيا ډير خوږه څيز دے. او سرسبز او شاداب ده. او الله تعالیٰ تاسو په زمکه کښے خپل نائبان مقرر کړی يئ. دے دپاره چه تاسو اوګوری چه څنګه کارونه کوئ. پس تاسو دُنيا نه ځانونه بچ ساتئ. او دَ ښځو نه هم ځان ساتئ او هوښيار شئ. ځکه چه بنی اسرائيلو کښے دَ ښځو نه شروع شوے وه۔ (مسلم)

---

[۵۰] سورة الانفال آية ۲۹ [۵۱] مستخلفكم" بكسر اللام " اى جعلكم خلفاء فى الدنيا " فينظر كيف تعملون" فيهـا فيجازيكم" فاتقوا الدنيا واتقوا النساء": اى احذروا الفتنة بها وخص النساء وقد خلن فى الدنيا لخطر الفتنة بهن ؞

۷۱ - عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَانَ یَقُوْلُ: "اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْاَلُكَ الْهُدٰی وَالتُّقٰی وَالْعَفَافَ وَالْغِنٰی"

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۷۲ - عَنْ اَبِیْ طَرِیْفٍ عَدِیِّ بْنِ حَاتِمٍ الطَّائِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ، یَقُوْلُ: مَنْ حَلَفَ عَلٰی یَمِیْنٍ ثُمَّ رَاٰی اَتْقٰی لِلّٰهِ مِنْهَا فَلْیَاْتِ التَّقْوٰی".

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۷۳ - عَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ صَدِیِّ بْنِ عَجْلَانَ الْبَاهِلِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَخْطُبُ فِیْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَقَالَ: "اتَّقُوا اللّٰهَ وَصَلُّوْا خَمْسَكُمْ وَصُوْمُوْا شَهْرَكُمْ وَاَدُّوْا زَکٰوةَ اَمْوَالِكُمْ وَ اَطِیْعُوْا اُمَرَآءَكُمْ تَدْخُلُوْا جَنَّةَ رَبِّكُمْ" رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ فِیْ اٰخِرِ کِتَابِ الصَّلٰوةِ وَ قَالَ: حَدِیْثٌ حَسَنٌ صَحِیْحٌ ؛

۷۱ - عبد الله بن مسعودؓ دَ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه ارشاد نقل کړے دے. چه دَ هغهٔ په ژبه به دا کلمات جاری وُو. چه اے الله! زهٔ دَ تا نه دَ هدایت، تقوی، عفت او پاکدامنئ اودَ غنی کید و طلبګار یم. (مسلم)

۷۲ - حضرت ابی طریف عدی بن حاتم طائیؓ نه روایت دے. چه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرمائیل اوریدلی دی. کهٔ یو کس په څهٔ خبره قسم اوخوری. بیا ورته دا سے خبره معلومه شی. چه د پرهیزګارئ په اعتبار سره دَ الله تعالی دَ طرف نه بهتره وی. نو هم هغه بهتره خبره دِ اختیار کړی. (مسلم)

۷۳ - ابی امامة صدی بن عجلان باهلیؓ وائی. چه ما دَ حجة الوداع په خطبه کښے دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرمائیل اوریدلی دی. چه دَ الله نه اوویریږئ. (تقوی اختیار کړئ) او پنځه وخته مونځونه هم اداء کوئ. اودَ رمضان دَ میاشتے روژے هم نیسئ. اودَ خپل مال او دولت نه زکوٰة هم ورکوئ. اودَ خپلو مشرانو حاکمانو دَ حکمونو تابعداری کوئ. نو دَ خپل رب په جنت کښے به داخل شئ. دا حدیث امام ترمذی دَ ترمذی "کتاب الصلوٰة" آخر ذکر کړے دے. اودے حدیث ته ئے حدیث حسن و ئیلے دے.

باب

ف ۱ - دے باب کښے اوُوهٔ آیتونه او یوولسٌ احادیث دی. یقین یو دا سے کیفیت او حالت ته وائی. چه په هغے کښے دَ ذرے هومره هم دَ څهٔ شک او شبهے اودَ وهم او ګمان ګنجائش نهٔ وی. اودَ توکل لفظی معنیٰ ده بهروسه یعنی باوراو اعتماد یعنی تکیه. مګر بهانه او حیله ساز او چل وَل کوُنکو غلطو طبیعتونو او ذهنونو والوُ خلقو دَ توکل څهٔ بل بل شان معنے راویستے او جوړے کړی دی. اودَ توکل حقیقت دَ خلقو نه پټ پاتے شوے دے. نن صبا چه دَ توکل کومے معنیٰ کیږی هغه بغیرِ دَ لاس خپے خوځولو نه نتیجے ته رسیدل اودَ فاندو اُمید او توقع ساتل. حالانکه صحیح توکل دے ته وائی چه الله تعالی خپلو بندګانو ته دپاره دَ فائدے حاصلولو کوم طاقت او اسباب او وجهے ښودلی دی هغه په کار راولی. بیا دَ هغے نه پس دَ هغے نتیجه الله تعالی ته سپارل توکل دے.

يعنی دَ اسبابو دَ استعمالولو نه پس الله تعالیٰ ته معامله حواله کول توکل دے۔

بَابٌ فِي الْيَقِيْنِ وَالتَّوَكُّلِ! باب دے په بيان دَ يقين او توکل کښے

(قرآنی آيتونه)

٢٦- قَالَ اللّٰهُ تَعَالیٰ[1]: وَلَمَّا رَاَى الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ قَالُوْا: هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَمَا زَادَهُمْ اِلَّآ اِيْمَانًا وَّتَسْلِيْمًا"۔

(پ ٢٢- احزاب)

٢٦- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے۔ کله چه مؤمنانو دَ کافرانو لښکر اوليدو۔ نو هغوئ اووئيل چه دا هغه لښکر دے چه دَ هغے وعده مونږ سره الله تعالیٰ او دَ هغهٔ رسولؐ کړے وه۔ الله او دَ هغهٔ رسولؐ رښتيا وئيلی دی۔ په دے سره دَ هغوئ ايمان نور هم زيات شو۔

٢٧- وَقَالَ تَعَالیٰ[2]: اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا وَّقَالُوْا: حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْٓءٌ وَّاتَّبَعُوْا رِضْوَانَ اللّٰهِ ۭ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَظِيْمٍ"۔

٢٧- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے۔ دا داسے خلق دی۔ چه کله هغوئ ته خلقو اووئيل چه ستاسو دښمنانو ستاسو خلاف يو لوئے لښکر تيار کړے دے۔ تاسو او ويرېږئ دَ هغوئ نه۔ نو په دے خبرے سره دَ هغوئ ايمان نور هم زيات شو۔ او وے وئيل۔ مونږ لره الله تعالیٰ بس او کافی دے۔ او هغه څومره ښهٔ کارساز دے۔ پس هغوئ دَ الله تعالیٰ دَ فضل او انعام سره خوشحاله واپس شول۔ او لږ غوندے تکليف او نقصان ورته هم اونهٔ رسيد۔ او هغوئ دَ الله تعالیٰ دَ رضا او دَ خوشحالئ پسے روان شول۔ او الله تعالیٰ دَ لوئے فضل او احسان خاوند دے۔ (پ ٤، عمران، آيت ١٧٣-١٧٤)

٢٨- وَقَالَ تَعَالیٰ[3]: وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِيْ لَا يَمُوْتُ"۔

(پ ١٩- فرقان)

٢٨- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے۔ مؤمنانو له پکار دی چه په الله تعالیٰ باندے توکل اوکړی۔ (پ ١٩- فرقان)

٢٩- وَقَالَ تَعَالیٰ[4]: وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ"۔ (پ ١٣، ابراهيم)

٢٩- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے۔ مؤمنانو له پکار دی چه په الله تعالیٰ باندے توکل اوکړی۔

٣٠- وَقَالَ تَعَالیٰ[5]: فَاِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۭ وَالْاٰيَاتُ فِي الْاَمْرِ بِالتَّوَكُّلِ كَثِيْرَةٌ مَّعْلُوْمَةٌ"۔

٣٠- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے۔ کله چه مضبوطه اراده اوکړے نو په الله توکل او اعتماد پوره ساته۔ (پ ٤ آلِ عمران)

قرآن پاک کښے په توکل باندے دَ حکم کولو نور هم ډير آيتونه شته دے۔

٣١- وَقَالَ تَعَالیٰ[6]: وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ" اَیْ كَافِيْهِ۔

٣١- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے۔ کوم کس چه په الله تعالیٰ توکل کوی۔ هغهٔ دپاره بس۔

---

[1] سورة الاحزاب آية ٢٢ [2] سورة آل عمران آية ١٧٣، ١٧٤ [3] سورة الفرقان آية ٥٨
[4] سورة ابراهيم آية ١١ [5] سورة آل عمران آية ١٥٩ [6] سورة الطلاق آية ٣

۳۲- وَقَالَ تَعَالىٰ[1]: اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ[2] قُلُوْبُهُمْ وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ" وَالْاٰيَاتُ فِيْ فَضْلِ التَّوَكُّلِ كَثِيْرَةٌ مَعْرُوْفَةٌ :

۳۲- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. دَ مؤمنانو خو دا نښه ده چه دَ هغوئ په وړاندے دَ الله تعالیٰ ذکر کیږی. نو دَ هغوئ زړونه ویریږی او رپیږی. او کله چه دَ هغوئ په وړاندے دَ هغهٔ آیتونه لوستلے شی. نو دَ هغوئ ایمان نور هم زیات شی. او په رب باندے توکل کوی.

دَ توکل په فضیلت کښے ډیر آیاتونه نور هم شته.

(احادیث نبوی ﷺ)

۷۴- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "عُرِضَتْ عَلَيَّ الْاُمَمُ فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ الرُّهَيْطُ وَالنَّبِيَّ وَمَعَهُ الرَّجُلُ وَالرَّجُلَانِ، وَالنَّبِيَّ لَيْسَ مَعَهٗ اَحَدٌ اِذْ رُفِعَ لِيْ سَوَادٌ عَظِيْمٌ[3] فَظَنَنْتُ اَنَّهُمْ اُمَّتِيْ فَقِيْلَ لِيْ: هٰذَا مُوْسٰى وَقَوْمُهٗ وَلٰكِنِ انْظُرْ اِلَى الْاُفُقِ فَنَظَرْتُ فَاِذَا سَوَادٌ عَظِيْمٌ فَقِيْلَ لِيْ انْظُرْ اِلَى الْاُفُقِ الْاٰخَرِ فَاِذَا سَوَادٌ عَظِيْمٌ فَقِيْلَ لِيْ: هٰذِهٖ اُمَّتُكَ وَمَعَهُمْ سَبْعُوْنَ اَلْفًا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ وَّلَا عَذَابٍ" ثُمَّ نَهَضَ فَدَخَلَ مَنْزِلَهٗ فَخَاضَ النَّاسُ فِيْ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ بِلَا حِسَابٍ وَّلَا عَذَابٍ فَقَالَ بَعْضُهُمْ: فَلَعَلَّهُمُ الَّذِيْنَ صَحِبُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ بَعْضُهُمْ فَلَعَلَّهُمُ الَّذِيْنَ وُلِدُوْا فِي الْاِسْلَامِ فَلَمْ يُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ ـ وَذَكَرُوْا اَشْيَاءَ فَخَرَجَ عَلَيْهِمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: مَا الَّذِيْ تَخُوْضُوْنَ فِيْهِ؟ فَاَخْبَرُوْهُ فَقَالَ: هُمُ الَّذِيْنَ

۷۴- ابن عباسؓ نه روایت دے. چه نبی صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائیلے دے. چه ما ته دَ بعضے اُمتونو حالات اوښودلے شو. او ما یو پیغمبر اولید وچه دَ خپل اُمت نه ورسره لږ غوندے ډله وه. او چا سره صرف دوه درے سړی وُو. او بعضے پیغمبران داسے هم وُو چه هغوئ سره به یو کس هم نهٔ وُو. ناګهانه مے یو لوئے جماعت اولید. نو ځما خیال راغے چه دا به ځما اُمت وی نو ما ته اوښودلے شو چه دا موسیٰ علیه السلام او دَ هغهٔ اُمت دے. لیکن کله چه ما دَ آسمان په کناره نظر واچولو. نو یوه ډیره ډله راته اوښودلے شوه. بیا راته اوو ئیلے شو چه دَ آسمان بلے کنارے ته اوګوره. چه ما اوکتل نو بله درنه ډله مے په نظر راغله نو ما ته اوښودلے شو. چه دا ستا اُمت دے. او دے کښے اویا زره کسان داسے دی. چه بغیر دَ حساب او کتاب او بغیر دَ سزا ورکولو نه به جنت ته داخلولے شی. دے نه پس نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ خپل مجلس نه پاسیدو او خپلے حجرے ته لاړو. صحابوؓ دَ هغے کسانو په حقله چه بغیر دَ سزا او عذاب ورکولو نه به جنت ته خلق داخلیږی خبرے اترے شروع کړے دَ بعضو رائے دا وه. چه دا هغه خلق کیدے شی. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره ئے دَ ناستے پاستے شرف حاصل کړے دے. دَ بعضو رائے دا وه.

---

[1] سورة الانفال آية ۲ [2] وجلت. اى خافت [3] اى اشخاص كثيرة ۱۲

لَا یَرْقُوْنَ وَ لَا یَسْتَرْقُوْنَ [1] وَلَا یَتَطَیَّرُوْنَ وَعَلٰی رَبِّهِمْ یَتَوَکَّلُوْنَ" فَقَامَ عُکَاشَةُ ابْنُ مُحْصِنٍ فَقَالَ: اُدْعُ اللّٰهَ اَنْ یَّجْعَلَنِیْ مِنْهُمْ فَقَالَ: "اَنْتَ مِنْهُمْ" ثُمَّ قَامَ رَجُلٌ اٰخَرُ فَقَالَ: اُدْعُ اللّٰهَ اَنْ یَّجْعَلَنِیْ مِنْهُمْ فَقَالَ: "سَبَقَكَ بِهَا عُکَّاشَةُ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ؛

"الرُّهَیْطُ" بِضَمِّ الرَّاءِ تَصْغِیْرُ رَهْطٍ وَهُمْ دُوْنَ عَشَرَةِ اَنْفُسٍ: "وَالْاُفُقُ" النَّاحِیَةُ وَالْجَانِبُ "وَعُکَّاشَةُ" بِضَمِّ الْعَیْنِ وَتَشْدِیْدِ الْکَافِ وَبِتَخْفِیْفِهَا وَالتَّشْدِیْدُ اَفْصَحُ ؛

چه دا به هغه خلق وی. چه د اسلام په حالت کښې پیدا شوی وی او د الله تعالیٰ سره ئې هیڅوک شریک کړے نه وی. غرض دا چه مختلفې رائے گانے سنکاره شوے نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه خبرے واوریدے او د حجرے نه بیاد صحابوؓ مجلس ته راغے. او پوښتنه ئې اوکړه چه تاسو په څه کښ خبرے اترے کولے؟ نو هغوئ ته د هغې خیالاتو اظهار اوکړے شو. نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دا هغه خلق دی. چه نه ئې د مونه په چا اچولی [1] وی نه د چانه د دم اچولو د پاره مطالبه کوی او نه ئې فالونه کتلی وی بلکه صرف په الله تعالیٰ باندې توکل کوی دے اوریدو سره عکاشه بن محصنؓ او د ریدلو. او غرض ئې اوکړو یارسول الله خما د پاره دُعا اوکړئ. چه ما هم الله تعالیٰ هغوئ کښې شامل کړی. نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. ته هغوئ کښې ئې بیا یو بل کس پاسیدو. هغهٔ هم په هغوئ کښې د شاملیدو د پاره د دُعا خواست اوکړو نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. د ے معامله کښې عکاشهؓ ستانه نمبر کښې ملکنیے شو. ککړے دے -
(بخاری ومسلم)

اَلرُّهَیْطُ = دُ رَهْطٌ" تصغیر دے. د لسونه کم تعداد کښې د لے ته وئیلے شی -

عُکَّاشَةُ - صحیح لفظ د شد سره دے - او د الفظ فصیح دے -

اَلْاُفُقُ = یو طرف - یوه ډډه - یوه کناره او غاړه -

۷۵ - عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَیْضًا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَانَ یَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ لَكَ اَسْلَمْتُ [2] وَبِكَ اٰمَنْتُ، وَعَلَیْكَ تَوَکَّلْتُ وَاِلَیْكَ اَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ: اَللّٰهُمَّ اَعُوْذُ بِعِزَّتِكَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَنْ تُضِلَّنِیْ اَنْتَ الْحَیُّ الَّذِیْ لَا تَمُوْتُ وَالْجِنُّ وَالْاِنْسُ یَمُوْتُوْنَ". مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ وَهٰذَا لَفْظُ مُسْلِمٍ وَاخْتَصَرَهُ الْبُخَارِیُّ ؛

۷۵ - دَ حضرت ابن عباسؓ نه ارشاد دے. چه بنی کریم صلی الله علیه وسلم به فرمائیل چه اے الله! زهٔ ستا تابعداریم - خاص په تا مے ایمان راوړے دے. او خاص په تا مے توکل او اعتماد دے - ځما واپس کیدل هم تا طرف ته دی. او ستا په وجه با ندے زهٔ دَ دین دَ دشمنانو سره جنګیږم - اے الله! ستا دَ عزت په ذریعه پناه غواړم. تا نه بغیر بل هیڅوک دَ بندګئ لائق نشته. یا الله ما بے لارے مهٔ کړے. ته ژوندے ذات ئې. تا له کله هم مرګ نهٔ راځی. او پیریان او انسانان به ټول مری. (بخاری ومسلم) د دے روایت الفاظ دَ مسلم دی بخاری مختصر

---

[1] ای لا یطلبون الرقیة من غیرهم "ولا یتطیرون" ای یتشاءمون بالطیر ونحوها، [2] ای استسلمت لحکمك وامرك: "وانبت" رجعت الی عبادتك والاقبال علی مایقرب منك" وبك خاصمت اعداء الدین [3] ای اعداء الدین :

استسلمت لحکمك وامرك :" وانبت" رجعت الی عبادك والاقبال علی ما یقرب منك " وبك خاصمت "

۷۶ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا اَيْضًا قَالَ: حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ قَالَهَا اِبْرَاهِيْمُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ اُلْقِيَ فِي النَّارِ وَقَالَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ قَالُوْا اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا وَقَالُوْا: حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ـ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهٗ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: كَانَ اٰخِرَ قَوْلِ اِبْرَاهِيْمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ اُلْقِيَ فِي النَّارِ: حَسْبِيَ اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ؛

۷۶ ـ ابن عباس رض بیان کوی چه کله خلقو ابراهیم علیه السلام اُور ته غورزولو۔ نو هغهٔ دا کلمات اوویل "حسبنا الله ونعم الوکیل" ما دپاره الله بس او کافی دے او هغه ډیر ښهٔ کارساز دے۔ او کله چه ذ مسلمانانو خلاف دکافرانو بولوئے لښکر جمع شوے ؤو۔ او چا ورته اوویل، چه اوویریږئ۔ نو ئې هغوئ ایمان نور هم پوخ او زیات شو۔ او نبی کریم صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته اوویل چه "حسبنا الله و نعم الوکیل" وایئ نو هغوئ دا ویل شروع کړل۔ (بخاری)

او "بخاری" کښے دَ ابن عباس رض نه یو بل روایت کښے راغلی دی۔ کله چه ابراهیم علیه السلام اُور ته اوغورځول شو نو آخری الفاظ ئے دا ؤو۔ "حسبی الله ونعم الوکیل" ما له الله کافی دے او هغه ښهٔ کارساز دے۔

۷۷ ـ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَدْخُلُ الْجَنَّةَ اَقْوَامٌ اَفْئِدَتُهُمْ مِثْلُ اَفْئِدَةِ الطَّيْرِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔ قِيْلَ مَعْنَاهُ مُتَوَكِّلُوْنَ، وَقِيْلَ قُلُوْبُهُمْ رَقِيْقَةٌ ؛

۷۷ ـ حضرت ابوهریره رض دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم حدیث نقل کوی۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به ویل، چه خلق به جنت ته داخلیږی نو دَ هغوئ زړونه به دَ مرغانو د زړونو پشان وی (مسلم) دَ دے تشریح داسے هم کړے شوے ده چه دَ مرغانو پشان به توکل والا وی۔ او دا معنیٰ ئے هم کړے شوے ده چه په نرموالی کښے به دَ هغوئ زړونه ذ مرغانو دَ زړونو په شان نرم وی۔

۷۸ ـ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّهٗ غَزَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ نَجْدٍ فَلَمَّا قَفَلَ[1] رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَفَلَ مَعَهُمْ فَاَدْرَكَتْهُمُ الْقَائِلَةُ فِيْ وَادٍ كَثِيْرِ الْعِضَاهِ فَنَزَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَفَرَّقَ النَّاسُ يَسْتَظِلُّوْنَ بِالشَّجَرِ وَنَزَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ سَمُرَةٍ فَعَلَّقَ بِهَا سَيْفَهٗ وَنِمْنَا نَوْمَةً فَاِذَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُوْنَا وَاِذَا عِنْدَهٗ اَعْرَابِيٌّ[2]

۷۸ ـ حضرت جابر رض وائی۔ چه مونږ د نجد په اطرافو کښے یو جنګ کښے د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره شریک وو کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم واپس شو۔ نو زهٔ هم ورسره ووم۔ واپسئ کښے دَ غرمے دَ خوب کولو وخت په داسے ځائے کښے راغے۔ چه هلته ازغی دار بوټی ډیر زیات وو۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دغه ځائے کښے پړاؤ واچولو۔ ګرمی ډیر زیاته وه۔ د غرمے وخت وو۔ نو صحابه کرامو رض د سورو تلاش کولو دپاره اخوا دیخوا خوارهٔ شول۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم هم دَ یو کیکر دَ بوټی لاندے سوری ته پریوتو۔ خپل

---

[1] قفل "بفتح القاف والفاء" ای رجع رسول الله صلی الله علیه وسلم من سفره ؛

فَقَالَ: اِنَّ هٰذَا اخْتَرَطَ عَلَيَّ سَيْفِيْ وَ اَنَا نَآئِمٌ فَاسْتَيْقَظْتُ وَهُوَ فِيْ يَدِهٖ صَلْتًا قَالَ مَنْ يَّمْنَعُكَ مِنِّيْ؟ قُلْتُ: اللّٰهُ ثَلَاثًا وَلَمْ يُعَاقِبْهُ وَجَلَسَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ: قَالَ جَابِرٌ: كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَاتِ الرِّقَاعِ فَاِذَا اَتَيْنَا عَلٰى شَجَرَةٍ ظَلِيْلَةٍ تَرَكْنَاهَا لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَآءَ رَجُلٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَسَيْفُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعَلَّقٌ بِالشَّجَرَةِ فَاخْتَرَطَهٗ فَقَالَ تَخَافُنِيْ؟ قَالَ لَا فَقَالَ مَنْ يَّمْنَعُكَ مِنِّيْ قَالَ اللّٰهُ وَفِيْ رِوَايَةِ اَبِيْ بَكْرِ الْاِسْمَاعِيْلِيِّ فِيْ صَحِيْحِهٖ فَقَالَ مَنْ يَّمْنَعُكَ مِنِّيْ؟ قَالَ: اَللّٰهُ فَسَقَطَ السَّيْفُ مِنْ يَدِهٖ فَاَخَذَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّيْفَ فَقَالَ مَنْ يَّمْنَعُكَ مِنِّيْ؟ فَقَالَ: كُنْ خَيْرَ اٰخِذٍ فَقَالَ: تَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ؟ قَالَ: لَا. وَلٰكِنِّيْ اُعَاهِدُكَ اَنْ لَّا اُقَاتِلَكَ وَلَا اَكُوْنَ مَعَ قَوْمٍ يُّقَاتِلُوْنَكَ فَخَلّٰى سَبِيْلَهٗ فَاَتٰى اَصْحَابَهٗ فَقَالَ: جِئْتُكُمْ مِنْ عِنْدِ خَيْرِ النَّاسِ" قَوْلُهٗ: "قَفَلَ" اَيْ رَجَعَ. "وَالْعِضَاهُ" الشَّجَرُ الَّذِيْ لَهٗ شَوْكٌ، "وَالسَّمُرَةُ" بِفَتْحِ السِّيْنِ وَضَمِّ الْمِيْمِ: الشَّجَرَةُ مِنَ الطَّلْحِ وَهِيَ الْعِظَامُ مِنْ شَجَرِ الْعِضَاهِ: وَاخْتَرَطَ السَّيْفَ" اَيْ سَلَّهٗ وَهُوَ فِيْ يَدِهٖ. "صَلْتًا" اَيْ مَسْلُوْلًا، وَهُوَ بِفَتْحِ الصَّادِ وَضَمِّهَا :.

توره ئے بوټي ته ورځنده کړه. ځمونږ سترګے په پټيدو وے چه مونږ ته د رسول الله صلے الله عليه وسلم آواز راورسيد وچه مونږ غواړي. او هلته يو بانډه چي ناست وو. مونږ به منډه منډه هلته لاړو. نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه زۀ اوده ووم. چه دے بانډه چي ځما توره په ما باندے د وارکولو د پاره اوچته کړه. نو زۀ د خوب نه بيدار شوم. ما اوکتل چه توره ئے د وار کولو د پاره لاس کښے تيارة نيولے وه او ما ته وائي چه وايه. اوس به تا ځما نه څوک خلاصوي؟ نو ما اووئيل چه الله. دا ئے درے ځله اووئيل. مګر نبي کريم صلی الله عليه وسلم هغه بانډه چي ته هيڅ سزا ورنکړه. او کينا ستو. (بخاري ومسلم) او يو روايت کښے حضرت جابر رض دا روايت هم بيان کړے دے. چه مونږ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره د ذات الرقاع په غزوه کښے وُو. چه مونږ يو سوري والا بوټي له راغلو. او هغه بوټے مونږ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د آرام د پاره پريښود. دغه وخت يو مشرک راغے. د نبي کريم صلے الله عليه وسلم توره بوټي کښے زوړنده وه. هم هغه ئے په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندے د وارکولو د پاره تياره اونيوله. او وے وئيل. تۀ ما نه ويريږے نۀ؟ نو نبي اکرم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل بالکل نۀ ويريږم. هغه مشرک اووئيل. اوس به تا ځما نه څوک خلاصوي؟ نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل: الله. او ابوبکر اسماعيل محدث په خپل صحيح روايت کښے دا سے الفاظ ذکر کړي دي. چه هغه سړي اووئيل. اوس به تا ځما نه څوک بچ کوي. نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل: الله. نو د هغهٔ د لاس نه توره اوغورزيده. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم توره را اوچته کړه. او د هغهٔ نه ئے تپوس اوکړو. اوس تۀ اوښايه اوس به تا ځما نه څوک بچ

کوی؟ هغه سړي اودئیل - ته ډیر ښه اخستونکے او گرفتارونکے شه - نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه د الله تعالیٰ د یووالی او څما د پیغمبرئ گواهی او شاهدی ورکړه - هغه اووئیل، دا خو نشم وئیلے - البته دا سے وعده درسره کوم چه نه به په خپله تاسره جنگیږم - او نه به ستا مقابله کښے هغے خلقو سره ملگرے کیږم چه تاسو سره جنگیږی - بس هغه ئے پریښودلو او لاړو - خپلو ملگرو ته راغے نو وائی چه زه د داسے کس د طرف نه راغلم چه هغه ټولو خلقو کښے بهترین کس دے -

∴ قَفَلَ : واپس شو - عِضَاهٌ : ازغی دار بوټے - سَمُرَةٌ : غټ ازغن بوټے - کیکر -

∴ اِخْتَرَطَ السَّيْفَ : توره ئے لاس کښے اونیوله او اودریدو -

∴ صَلْتًا : راوښکلے شوے یا راویستلے شوے -

۷۹ - عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : لَوْ اَنَّكُمْ تَتَوَكَّلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ حَقَّ تَوَكُّلِهٖ لَرَزَقَكُمْ كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ تَغْدُوْا خِمَاصًا وَ تَرُوْحُ بِطَانًا ۔ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ ∴

وَقَالَ : حَدِيْثٌ حَسَنٌ - مَعْنَاهُ تَذْهَبُ اَوَّلَ النَّهَارِ خِمَاصًا : اَىْ ضَامِرَةَ الْبُطُوْنِ مِنَ الْجُوْعِ وَتَرْجِعُ اٰخِرَ النَّهَارِ بِطَانًا اَىْ مُمْتَلِئَةَ الْبُطُوْنِ ∴

۷۹ - حضرت عمرؓ فرمائی چه ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرمائیلی اوریدلی دی - که تاسو په الله تعالیٰ باندے داسے توکل او اعتماد اوکړئ - څرنگه چه د توکل حق دے نو تاسو ته به داسے رزق درکړی څرنگه چه مارغانو ته ورکوی - چه د سحر په وخت کښے په اولږه اوځی - او ماښام په ډکه گیډه واپس خپلو خپلو جالو ته راځی - (ترمذی) وائی چه دا حدیث حدیث حسن دے -

امام نوویؒ د حدیث په معنی کښے داسے وائی - چه د سحر په وخت کښے خالی گیډه اوځی - او ماښام په مړه گیډه خپل کور ته راځی -

۸۰ - عَنْ اَبِىْ عِمَارَةَ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَا فُلَانُ اِذَا اَوَيْتَ اِلٰى فِرَاشِكَ فَقُلِ اللّٰهُمَّ اَسْلَمْتُ نَفْسِىْ لہ اِلَيْكَ ، وَ وَجَّهْتُ وَجْهِىْ اِلَيْكَ : وَفَوَّضْتُ اَمْرِىْ اِلَيْكَ وَاَلْجَاْتُ ظَهْرِىْ اِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً . اِلَيْكَ ، لَا مَلْجَاَ وَلَا مَنْجَا مِنْكَ اِلَّا اِلَيْكَ اٰمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِىْ اَنْزَلْتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِىْ اَرْسَلْتَ فَاِنَّكَ اِنْ مُتَّ مِنْ لَيْلَتِكَ مُتَّ عَلَى الْفِطْرَةِ وَ اِنْ

۸۰ - د حضرت ابوعماره براء بن عازبؓ نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - اے فلانکیه! یعنی براءؓ! کله چه اوده کیږے - نو دا کلمات وایه - ۱ اے الله! ما خپل ځان تا ته سپارلے دے - او خپل مخ مے ستا طرف ته کړے دے - او خپل کار تا ته سپارم او خپله شا مے د ویرے او د ثواب د اُمید د پاره تا ته تکیه کړے ده - نه بغیر ستا نه بل څه ځائے د پناهئ شته او نه د خلاصی لار شته - ما ستا په رالیږلے شوی کتاب او پیغمبرؐ باندے ایمان راوړے دے - پس که په دے شپه کښے مړ شوے نو د گناهونو نه پاک به مړ شے - او که صبا

له ای جعلتها منقادة لك طائعة لحكمك راضیة بقضائك قانعة بقدرك . ۲ الجأت : ای اسندت "ظهری الیك" الی حفظك "رغبة و رهبة الیك" : ای طمعا فی ثوابك وخوفا من عقابك "۲ امنت بكتابك الذی انزلت" : ای القرآن وقوله صلی الله علیه وسلم "علی الفطرة" : ای علی الایمان ∴

اَصْبَحْتَ اَصَبْتَ خَيْرًا " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛
وَفِيْ رِوَايَةٍ فِي الصَّحِيْحَيْنِ عَنِ الْبَرَاءِ: قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِذَآ اَتَيْتَ مَضْجَعَكَ فَتَوَضَّأْ وُضُوْءَكَ لِلصَّلٰوةِ ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلٰى شِقِّكَ الْاَيْمَنِ وَقُلْ وَذَكَرَ نَحْوَهٗ ثُمَّ قَالَ: وَاجْعَلْهُنَّ اٰخِرَمَا تَقُوْلُ ؛

شو وندے پا سیدے نو خیر دِ بیا موندلو۔" (بخاری و مسلم) بخاری او مسلم په یو بل روایت کښے هم دَ براء بن عازب رض نه بیان نقل کوی۔ چه ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه کله دِ دَ اوده کیدو اراده وی۔ نو څرنګ چه ما نځهٔ ته اودس کوے دغسے اودس اوکړه۔ او بنی اړخ بانده قبلے ته مخ کړه او اوده شه۔ او دا الفاظ اووایه۔ بیائے ورته دغه دُعا اوویُله اوداسے ئے ورته هم اووئیل چه ستا آخری وینا دِ هم دا وی۔ دے نه پس بله خبره مه کوه۔ (بخاری و مسلم)

٨١ - عَنْ اَبِيْ بَكْرٍ الصِّدِّيْقِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ عَامِرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ كَعْبِ بْنِ سَعْدِ بْنِ تَيْمِ بْنِ مُرَّةَ ابْنِ كَعْبِ بْنِ لُؤَيِّ بْنِ غَالِبٍ الْقُرَشِيِّ التَّيْمِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ۔ وَهُوَ وَاَبُوْهُ وَاُمُّهٗ صَحَابَةٌ۔ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ قَالَ: نَظَرْتُ اِلٰى اَقْدَامِ الْمُشْرِكِيْنَ وَنَحْنُ فِي الْغَارِ وَهُمْ عَلٰى رُءُوْسِنَا فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ لَوْاَنَّ اَحَدَهُمْ نَظَرَ تَحْتَ قَدَمَيْهِ لَاَبْصَرَنَا فَقَالَ: مَاظَنُّكَ يَا اَبَا بَكْرٍ بِاثْنَيْنِ اللّٰهُ ثَالِثُهُمَا "[1] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

٨١ - دَ حضرت ابوبکر صدیق رض، عبدالله بن عثمان بن عامر، بن کعب بن سعد بن تیم، بن مره، بن کعب بن لؤی بن غالب قرشی تیمی۔ چه هغه په خپل ځانی او پلار مورګه هم صحابه رض دی۔ فرمائی: چه کله مونږ غار ثور کښے دیره وُو۔ ما دَ مکے دَ مشرکانو قدمونه دَ غار په خوله کښے اولیدل۔ نو ما رسول الله صلی الله علیه وسلم (دَ دواړو جهانونو په سردار بانده) عرض اوکړو: یا رسول الله! کهٔ دَ مکے مشرکان خپلو قدمونو ته اوګوری نو مونږ به ورته په نظر راشو۔ بیا نبی کرم صلی الله علیه وسلم ارشاد اوکړو چه اے ابوبکره! چه دَ کومو دوه کسانو الله مددګار او حفاظت کونکے وی۔ دَ هغوئ باره کښے ستا څهٔ خیال دے؟ (دشمن به هغوئ اووینی، هیڅ کله ئے نشی لیدلے) (بخاری و مسلم)

٨٢ - عَنْ اُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَ اُمِّ سَلَمَةَ وَاسْمُهَا هِنْدُ بِنْتُ اَبِيْ اُمَيَّةَ حُذَيْفَةَ الْمَخْزُوْمِيَّةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا خَرَجَ مِنْ بَيْتِهٖ۔ قَالَ: بِسْمِ اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ: اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَضِلَّ[2] اَوْ اُضَلَّ، اَوْ اَزِلَّ اَوْ اُزَلَّ، اَوْ اَظْلِمَ

٨٢ - أم المؤمنین أم سلمه رض (خپل نوم ئے هند بنت ابی اُمیه حُذیفه مخزومیه وُو) روایت کوی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به دَ کور نه دَ تللو په وخت کښے دا دُعا وئیله۔ "اے الله! په تا توکل کوم او دَ کوره اوځم۔ اے الله! پناه غواړم په تا پورے دَ دے نه چه زهٔ بل څوک ګمراه کړم یا ما ګمراه

---

[1] ای بالنصر والمعونة والحفظ ایصیبها ضیم ؟ [2] ان اضل" بفتح اوله وکسر الضاد المعجمة" ای اغیب عن معالی الامور" اواضل" بضم ففتح ای یضلنی غیری" او ازل "بفتح فکسر: ای ازل عن الطریق المستقیمة" اوازل" بضم ففتح ای یستولی علیٰ من یزلنی عن معالی الامور الی سفسا فها ؛

أَوْ أُظْلَمَ، أَوْ أَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ" حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَغَيْرُهُمَا بِأَسَانِيْدَ صَحِيْحَةٍ. قَالَ التِّرْمِذِيُّ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ وَهٰذَا لَفْظُ أَبِيْ دَاوُدَ ؞

۸۳- عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَنْ قَالَ - يَعْنِيْ إِذَا خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ: بِسْمِ اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ يُقَالُ لَهُ، هُدِيْتَ وَكُفِيْتَ وَوُقِيْتَ وَتَنَحّٰى عَنْهُ الشَّيْطَانُ رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَغَيْرُهُمْ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ، زَادَ أَبُوْدَاوُدَ: فَيَقُوْلُ يَعْنِي الشَّيْطَانَ - لِشَيْطَانٍ آخَرَ: كَيْفَ لَكَ بِرَجُلٍ قَدْ هُدِيَ وَكُفِيَ وَوُقِيَ ؟ ؞

۸۴- وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ أَخَوَانِ عَلٰى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ أَحَدُهُمَا يَأْتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْآخَرُ يَحْتَرِفُ فَشَكَا الْمُحْتَرِفُ أَخَاهُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: لَعَلَّكَ تُرْزَقُ بِهِ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ بِإِسْنَادٍ صَحِيْحٍ عَلٰى شَرْطِ مُسْلِمٍ".

"يَحْتَرِفُ" يَكْتَسِبُ وَيَتَسَبَّبُ ؞

کړی۔ اوَ دے نه چه زۀ ځغله اوښوئیږم. یا بل اوښوئوم - او په چا باندے دَ ظلم کولو نه او په ما باندے دَ ظلم کولو نه۔ یا چا سره جهالت کولو نه او یا ما سره دَ چا جهالت کولو نه پناه غواړم۔" دا حدیث صحیح دے۔ او ابوداؤد او ترمذی دواړو روایت کړے دے۔ او ترمذی ورته حدیثِ حسن صحیح وائی۔ (ابوداؤد و ترمذی)

۸۳- انس بن مالک رض نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ چه کله یو کس دَ کوره اُوځی او دا کلمات اووائی (زه الله! ستا په اعتماد او توکل سره دَ کوره اوځم۔ ټول قوت او طاقت دَ الله تعالیٰ دے" نو داسے کس ته وئیلے شی چه تا هدایت بیاموند ستا کفایت اوکړے شو۔ او تا حفاظت بیاموندلو او شیطان دَ هغهٔ نه لرے تښتی۔ (ابوداؤد وترمذی ونسائی وغیره) ترمذی دے حدیث ته حدیثٌ حَسَنٌ وائی۔ دَ ابوداؤد په روایت کښے نور هم زیات الفاظ شته دے۔ چه شیطان بل شیطان ته وائی۔ چه داسے کس باندے به ستا څهٔ قابو راشی۔ چه هدایت ورته اوشو او کفایت (پوره والے) ئے اوشو او محفوظ شو۔

۸۴- انس بن مالک رض نه روایت دے۔ چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے دوۀ ورونړه وُو۔ دوئ کښے به یو ورور دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضریدلو۔ او بل به دَ ورورئ په تلاش کښے ګرځیدو۔ ګټونکے ورور دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شو۔ او دَ هغهٔ بل ورور په سرئ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته شکایت اوکړو چه هغه څۀ مزدوری وغیره نۀ کوی۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ کیدے شی چه دَ دۀ په وجه تا ته رزق ملاویږی۔ (ترمذی ومسلم) دَ مسلم په شرطونو سرۀ امام ترمذی په صحیح سند سرۀ دا حدیث بیان کړے دے۔

باب ۸

ف:- دے باب کښے شپږ آیتونه[1] او دوه حدیثونه دی۔ ېخے ارادے سره په یوه خبره مضبوط

---

[1] سورۃ هود آیة ۱۱۲.

اُودريدل چه دَچا په خوزولو سره نه خوځيږى دے ته استقامت وئيلے شى. په دين باندے چه کوم خلق مضبوط ولاړ وى. دَ قرآن پاک ارشاد دے. چه په هغوئ دَ عزت والا فرشتے نازليږى. او دوئ ته دَ غم او دَ خفګان نه دَ آزادئ مبارکى او دَ هغه جنت زيرے ورکوى، چه دَ کوم دوئ سره وعده کړے شوے ده۔

بَابُ فِى الْاِسْتِقَامَةِ ! دين باندے دَ مضبوط پاتے کيدو بيان

(قرآنى آيتونه)

۳۳- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى ٥١: فَاسْتَقِمْ كَمَا اُمِرْتَ"۔

(پ۱۲ - هود - آيت ۱۱۲)

۳۳- دَ الله تعالىٰ ارشاد دے. څرنګه چه تا ته حکم درکړے شوے دے. دَ هغے مطابق استقامت اختيار کړه۔

۳۴- وَقَالَ تعالىٰ ٥٢: اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ٥٣ اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِىْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝ نَحْنُ اَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِى الْاٰخِرَةِ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَشْتَهِىْٓ اَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ٥٤ نُزُلًا مِّنْ غَفُوْرٍ رَّحِيْمٍ ۝"

۳۴- دَ الله تعالىٰ ارشاد دے. چا چه او وئيل چه الله تعالىٰ زمونږ رب دے. او بيا په خپله خبره کلک ولاړ وى. دوئ له به فرښتے راکوزيږى او ورته به وائى چه تاسو څه خطره، ويره او افسوس او خفګان مه کوئ. او دَ هغه جنت زيرے واورئ دَ کوم چه تاسو سره وعده کړے شوے ده. او مونږ به ستاسو په دنيا او آخرت دواړو ځايونو کښے دوستان او ملګرى يو. او دے جنت کښے ستاسو دَ پاره هر هغه څه موجود دى. چه ستاسو زړونه غواړى او څه چه تاسو طلب کوئ. دا دَ بخښونکى او رحم کونکى ذات له خوا ستاسو ميلمستيا ده۔ (پ۲۴ حٰمٓ سجده- آية ۳۰. ۳۱)

۳۵- وَقَالَ تَعَالٰى ٥٥: اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ۔ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا جَزَآءً بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ" ∴

۳۵- دَ الله تعالىٰ ارشاد دے. کوم کسانو چه او وئيل چه الله تعالىٰ زمونږ رب دے. او بيا په خپله په هغے قائم پاتے شول. نو نه به په هغه خلقو څه خفګان وى نه ويره او نه غم او افسوس. دا خلق جنتيان دى. چه هميشه دَ پاره به په جنت کښے وى. او هم دا دَ دوئ دَ عملونو بدله ده۔ (پ۲۶ - احقاف - آية ۱۳، ۱۴)

(نبوى احاديث)

۸۵. وَعَنْ اَبِىْ عَمْرٍو وَقِيْلَ اَبِىْ عَمْرَةَ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قُلْ لِىْ فِى الْاِسْلَامِ قَوْلًا لَا اَسْاَلُ عَنْهُ اَحَدًا غَيْرَكَ. قَالَ، "قُلْ اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ ٥٦" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ∴

۸۵- دَ ابو عمرو يا ابو عمره سفيان بن عبدالله رضی الله عنه نه روايت دے. چه ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عرض اوکړو. چه ما ته دَ اسلام باره کښے داسے کافى شافى خبره او نصيحت اوکړه چه بيا دَ تا نه پس دَ بل چا نه دَ تپوس کولو ضرورت پاتے نشى. نو نبى اکرم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل

---

٥٢ سورة حم سجدة آية ۳۰. ۳۱ ٥٣ عند الموت ٥٤ اى تطلبون ٥٥ نزلا اى رزقا مهياء ٥٥ سورة الاحقاف آية ۱۳-۱۴

٥٦ اى على عمل الطاعات والانتهاء عن المخالفات، اللّٰهم اغفر لكاتبه ولمن سعٰى فيه ∴

چه اُووایه چه ما په الله تعالیٰ ایمان راوړے دے او بیا په هغې مضبوط اوسه- (مُسلم)

۸۶- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ "قَارِبُوْا وَسَدِّدُوْا، وَاعْلَمُوْا اَنَّهٗ لَنْ یَنْجُوَا اَحَدٌ مِنْكُمْ بِعَمَلِهٖ" قَالُوْا: وَلَا اَنْتَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ: وَلَا اَنَا اِلَّا اَنْ یَتَغَمَّدَنِیَ اللّٰهُ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَفَضْلٍ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

"وَالْمُقَارَبَةُ" اَلْقَصْدُ الَّذِیْ لَا غُلُوَّ فِیْهِ وَلَا تَقْصِیْرَ. "وَالسَّدَادُ" اَلْاِسْتِقَامَةُ وَالْاِصَابَةُ. "وَیَتَغَمَّدُنِیْ" یَلْبِسُنِیْ وَیَسْتُرُنِیْ. قَالَ الْعُلَمَآءُ: مَعْنَی الْاِسْتِقَامَةِ لُزُوْمُ طَاعَةِ اللّٰهِ تَعَالٰی قَالُوْا: وَهِیَ مِنْ جَوَامِعِ الْكَلِمِ وَهِیَ نِظَامُ الْاُمُوْرِ، وَبِاللّٰهِ التَّوْفِیْقُ ؛

۸۶- حضرت ابوهریره رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وئیلی دی. چه میانه حال او اعتدال سره دَ دین په لاره ځئ. او په دے مضبوط اوسیږئ او ځان پوه کړئ. چه څوک هم دَ خپل عمل په وجه خلاصیدلے نشی. اصحابو رض عرض اوکړو. چه تاسو هم؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. هو- زهٔ هم نشم خلاصیدلے. مګر چه الله تعالیٰ ما په خپل فضل او رحمت کښے پټ کړی- (مسلم)

"قَارِبُوْ": دَ "مُقَارِبَةٌ" نه دے- یعنی دَ دهوکے او دَ کوتاهئ نه خالی او درمیانه لار. "سَدِّدُوْا": دَ "سَدَادٌ" نه دے یعنی استقامت او مضبوط پاتے کیدل- تَغَمُّدٌ: پټیدل. اغوستل- عُلماؤ وئیلی دی. چه په خپل ځان دَ الله تعالیٰ تابعداری لازم کرنول او دَ هغهٔ دَ مرضئ مطابق ژوندګئ تیرولو ته استقامت وئیلے شی- دَ استقامت ډیرے معانی او مطلبونه دی- او په نظام اُمور کښے شمیرلے شی. دَ الله نه په دین با ندے دَ استقامت نصیب کولو او دَ توفیق ورکولو درخواست دے-

باب ۹

ف :. دے باب کښے صرف دَ څلورو ځایونو آیتونه دی چه په هغې کښے دَ الله تعالیٰ په مخلوقاتو کښے دَ غور و تدبر کولو سره دَ دُنیا دَ باقی نه پاتے کیدلو او آخرت کښے خطرناک مراحل مخے ته دَ راتلو او انسانی کمزورو او کوتاهیو او دَ هغې دَ تربیت او دَ اصلاح او استقامت طرف ته دَ میلان او شوق پیداکولو طریقو باندے پوره روښنی اچولے شوید ه-

بَابُ فِی التَّفَكُّرِ فِیْ عَظِیْمِ مَخْلُوْقَاتِ اللّٰهِ تَعَالٰی وَفَنَاءِ الدُّنْیَا وَاَهْوَالِ الْاٰخِرَةِ وَسَائِرِ اُمُوْرِهِمَا وَتَقْصِیْرِ النَّفْسِ وَتَهْذِیْبِهَا وَحَمْلِهَا عَلَی الْاِسْتِقَامَةِ! ......

باب دے په بیان دَ فکر کولو کښے په عظیم مخلوقاتو دَ الله تعالیٰ کښے او دَ دُنیا په فانی کیدو او دَ آخرت په ویرو ترهو، او په ټولو کارونو دَ دُنیا او آخرت کښے، او دَ نفس په کوتاهیو باندے دَ نظر او دَ هغې په اصلاح او په مائله کولو دَ

⁘ هغې کښے په استقامت باندے ⁘

(قرانی آیتونه)

۳۶- قَالَ اللهُ تَعَالَى[1] قُلْ: "اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ اَنْ تَقُوْمُوْا لِلّٰهِ مَثْنٰى وَفُرَادٰى[2] ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا" ؛

۳۶- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے - اے نبیؐ! دوئ ته اووایه څما نصیحت بس یو دے چه دَ الله تعالیٰ دپاره یو یو کس یا اجتماعی طریقے سره اودرېږئ - او بیا غور وفکر اوکړئ. (پ۲۲ - سبا - آیة ۴۶)

۳۷- وَقَالَ تَعَالٰى: اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيَاتٍ لِّاُولِي الْاَلْبَابِ[2]" اَلَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيَامًا وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ٥

۳۷- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. بے شکه دَ آسمان او زمکے په پیدا کولو کښے او دَ ورځے او شپے په بدلولو را بدلولو کښے دَ عقل مندو خلقو دپاره نښانے دی کوم چه په ولاړه، ناسته او ملاسته (یعنی هرحال کښے) الله تعالیٰ یادوی. او دَ زمکے او آسمان پیدائش کښے غور وفکر کوی. او وائی چه اے پروردګاره! دا څیزونه ټول تا بے کاره او فضول نهٔ دی پیدا کړی. تهٔ دَ هرعیب او نقصان نه پاک ئے. (پ۴. عمران آیة ۹۰)

۳۸- وَقَالَ تَعَالٰى[3]: اَفَلَا يَنْظُرُوْنَ اِلَى الْاِبِلِ[4] كَيْفَ خُلِقَتْ ۝ وَاِلَى السَّمَآءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ۝ وَاِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ۝ وَاِلَى الْاَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ۝ فَذَكِّرْ اِنَّمَآ اَنْتَ مُذَكِّرٌ" ٥ ؛

۳۸- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے - وائی دا اوښ په پیدائش او جوړولو ولے نظر نهٔ اچوی - چه څنګه عجیبه اندازه کښے پیدا کړے شوے دے. او آسمان ته ولے نهٔ ګوری. چه څنګه اوچت جوړ کړے شوے دے. او غرونه څنګه ښخ کړے شوی دی. او زمکه څنګه خوره کړے شوے ده - (پ۳۰ غاشیه). نصیحت کوه څکه چه هم تهٔ نصیحت کونکے یې -

۳۹- وَقَالَ تَعَالٰى[5]: "اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا" اَلْاٰيَةَ - وَالْاٰيَاتُ فِي الْبَابِ كَثِيْرَةٌ - وَمِنَ الْاَحَادِيْثِ الْحَدِيْثُ السَّابِقُ - "اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ" ؛

۳۹- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. آیا دا خلق په زمکه کښے نهٔ ګرځی چه دوی اوګوری چه دَ مخکے تیرشوی خلقو انجام څهٔ شو - (پ۲۶ محمد) دے باب کښے آیتونه نور هم شته دے. دَ دے بحث مطابق یو حدیث، حدیث ۶۶ "الکیس من دان نفسه" تیرشوے دے.

باب ۱۰

⁂

ف: - دے باب کښے دوه آیتونه او اته احادیث دی.

بَابٌ فِي الْمُبَادَرَةِ اِلَى الْخَيْرَاتِ وَحَثِّ مَنْ تَوَجَّهَ لِخَيْرٍ عَلَى الْاِقْبَالِ عَلَيْهِ بِالْجِدِّ مِنْ غَيْرِ تَرَدُّدٍ!

باب ۱۰ په بیان دَ نیکو کارونو ته په سبقت او وړاندے والی کښے او نیکئ کونکو ته دَ نیکئ په کولو کښے ترغیب ورکول.

---

[1] سورة سبا آية ۴۶ [2] مثنى وفرادى: اى اثنين اثنين وواحدا واحدا، ثم تتفكروا: اى فى السموت والارض فتعلموا ان خالقها واحد

[1] سورة آل عمران آية ۹۰ - ۱۹۱ [2] الالباب: العقول [3] سورة الغاشية آية ۱۷ - ۲۱

[4] الابل: الجمل، [5] سورة محمد آية ۱۰

(قرآنی آیتونه)

۴۰- قَالَ اللّٰهُ تَعَالیٰ[1] "فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ"[2] ؛

۴۰- د الله تعالیٰ ارشاد دے- تاسو وړاندې والے کوئ په نیکیو کولو کښې- (پ۲ بقره) ؛

۴۱- وَقَالَ تَعَالیٰ[3] : وَسَارِعُوٓا اِلیٰ مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ ..... اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ"

۴۱- د الله تعالیٰ ارشاد دے- په منډه ځغلئ شئ خپل رب د بښنې اړخ ته او هغه جنت اړخ ته چه د هغې پلن والے د اسمان او زمکې برابر دے- چه د هغه چا د پاره جوړ شوے دے چه د الله نه ویریدونکی خلق دی

(نبویؐ حدیثونه)

۸۷- عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "بَادِرُوْا بِالْاَعْمَالِ الصَّالِحَةِ فَسَتَكُوْنُ فِتَنٌ كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ[4] يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِيْ كَافِرًا، وَيُمْسِيْ مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا، يَبِيْعُ دِيْنَهٗ بِعَرَضٍ مِّنَ الدُّنْيَا[5] رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۸۷- حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے- چه رسول الله فرمائیلی دی چه نیکو او ښو کارونو کښې جلتی کوئ- زر به داسې فتنې راشی لکه څنګه چه د شپې[4] حصه کښې تیاره راځی- چه سړے به سحر مسلمان پاسی- او ماښام به کافر وی- او ماښام به مسلمان او سحر به کافر پاسی- د دنیا حاصلولو په غرض به خپل دین خرڅوی- (مسلم) ؛

۸۸- عَنْ اَبِیْ سِرْوَعَةَ "بِكَسْرِ السِّيْنِ الْمُهْمَلَةِ وَفَتْحِهَا" عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ، صَلَّيْتُ وَرَآءَ النَّبِيِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِيْنَةِ الْعَصْرَ فَسَلَّمَ ثُمَّ قَامَ مُسْرِعًا فَتَخَطّٰی رِقَابَ النَّاسِ اِلیٰ بَعْضِ حُجَرِ نِسَآئِهٖ، فَفَزِعَ النَّاسُ مِنْ سُرْعَتِهٖ[6] فَخَرَجَ عَلَيْهِمْ فَرَاٰی اَنَّهُمْ قَدْ عَجِبُوْا مِنْ سُرْعَتِهٖ قَالَ، "ذَكَرْتُ شَيْئًا مِّنْ تِبْرٍ عِنْدَنَا فَكَرِهْتُ اَنْ يَّحْبِسَنِيْ فَاَمَرْتُ بِقِسْمَتِهٖ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ- وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهٗ كُنْتُ خَلَّفْتُ فِي الْبَيْتِ تِبْرًا مِّنَ الصَّدَقَةِ فَكَرِهْتُ اَنْ اُبَيِّتَهٗ": "اَلتِّبْرُ" قِطَعُ ذَهَبٍ اَوْ فِضَّةٍ ؛

۸۸- ابی سِرْوَعَةَ عقبه بن حارثؓ نه روایت دے چه ما یو ورځ د مازیګر مونځ نبی صلی الله علیه وسلم سره اوکړو- نبی صلی الله علیه وسلم چه سلام واړولو نو تیزئ سره پاسیدو او د خلقو د اوږو د پاسه ئې اوچت اوچت قدمونه واغستل او دیوې بی بی کور ته لاړو- د دے تیزئ د وجهې نه صحابهؓ خفګان اونیول کله چه نبی صلی الله علیه وسلم بهر تشریف راؤړو- نو ورته معلومه شوه چه صحابهؓ زما د کړه وجهې نه فکرمند دی نو وے وئیل چه ما ته د سپینو زرو یوه ټوټه پرته وه- ما ته را یاده شوه- نو ما سره ایساریدو باندې ما هغه بده اوګڼله- نو کورم او وئیل چه دا صدقه کړئ- بس راغلم (بخاری)۔ یو روایت کښې داسې راغلی دی- چه د صدقې نه په خه پاتے شوی مال کښې د سپینو زرو یوه ټوټه هم وه- نو ما خوښ نه کړه چه هغه ټوټه دِ توله شپه زما کور کښې وی تِبْرٌ- د سرو یا سپینو زرو ..... یو ټکره-

---

[1] سورة البقرة آية ١٤٨ [2] ای سارعوا الیها [3] سورة آل عمران آية ١٣٣ [4] كقطع "بكسر ففتح" ای طائفة من اللیل المظلم "ای کلما ذهبت ساعة منه مظلمة عقبتها ساعة مثل ذلك ؛ [5] العرض "بفتح الراء" المتاع و في الحديث اشارة الی تتابع الفتن المضلة اواخر الزمان و کلما انقضی منها فتنة عقبتها اخری نساءل الله السلامة ؛ [6] الفزع: الخوف ؛

٨٩۔ **عَنْ** جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ: أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فَأَيْنَ أَنَا؟ قَالَ "فِي الْجَنَّةِ" فَأَلْقَى تَمَرَاتٍ كُنَّ فِي يَدِهِ ثُمَّ قَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁘

٨٩ - حضرت جابرؓ نه روایت دے. چه جنګ اُحد کښے یوه ورځ یو کس د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوکړه چه کهٔ نن ځهٔ قتل کړے شم نو تاسو ته معلومه ده چه زهٔ به کوم ځائے کښے یم - نبی کریمؐ صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل جنت کښے. د غه وخت دغه کس کهجورے خوړلے او د خوراک پوره کولو انتظار ئے هم اونهٔ کړو - د لاسه ئے فوراً کهجورے او غورزولے او د جنګ میدان کښے مخکښے شو. او جنګ ئے شروع کړو تر هغے چه شهید شو. (بخاري ومسلم) ⁘

٩٠۔ **عَنْ** أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ أَجْرًا؟ قَالَ: "أَنْ تَصَدَّقَ وَأَنْتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ تَخْشَى الْفَقْرَ وَتَأْمُلُ الْغِنَى وَلَا تُمْهِلُ حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُومَ قُلْتَ لِفُلَانٍ كَذَا وَلِفُلَانٍ كَذَا وَقَدْ كَانَ لِفُلَانٍ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁘

"الْحُلْقُومُ" مَجْرَى النَّفَسِ۔ وَ"الْمَرِيءُ" مَجْرَى الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ ⁘

٩٠ - حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے. چه یو کس د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت کښے حاضر شو او پوښتنه ئے اوکړه یا رسول الله کومه صدقه په ثواب کښے زیاته ده؟ حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - هغه صدقه باندِ زیات ثواب ورکولے شی کومه چه د صحت په حالت کښے ورکړے شی - او کله چه د اوګے نه ویریږے او د مال او دولت جمع کولو حرص دِ هم وی - په صدقه کولو کښے د څهٔ اسبابو انتظار مهٔ کوه بیا به دِ ساه په وتلو وی نو بیا به وائے چه فلانی ته صدقه ورکړئ. او فلانی ته هغه څیز ورکړئ. او هغه به ستا د وینا نه بغیر د هغه فلانی او رسی- (بخاری ومسلم) اَلْحُلْقُومُ : د ساه اخستلو او تلو راتلو لاره -

⁘ مَرِیُٔ : د خوراک او داوبو ښکته کیدو نالئ -

٩١۔ **عَنْ** أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ سَيْفًا يَوْمَ أُحُدٍ فَقَالَ: مَنْ يَأْخُذُ مِنِّي هٰذَا؟ فَبَسَطُوا أَيْدِيَهُمْ كُلُّ إِنْسَانٍ مِنْهُمْ يَقُولُ: أَنَا أَنَا قَالَ: فَمَنْ يَأْخُذُهُ بِحَقِّهِ؟ فَأَحْجَمَ الْقَوْمُ فَقَالَ أَبُو دُجَانَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَا آخُذُهُ بِحَقِّهِ فَأَخَذَهُ فَفَلَقَ بِهِ هَامَ الْمُشْرِكِينَ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ⁘

اِسْمُ أَبِي دُجَانَةَ سِمَاكُ بْنُ خَرَشَةَ قَوْلُهُ "أَحْجَمَ الْقَوْمُ" أَيْ تَوَقَّفُوا وَ

٩١ - انس بن مالکؓ نه روایت دے. چه د اُحُد غزا کښے **نبی** کریم صلی الله علیه وسلم خپل لاس کښے توره نیولے وه او اعلان ئے اوکړو. ما نه به دا توره څوک واخلی؟ حاضرینو خلقو کښے ټولو د تورے اخستلو د پاره لاسونه ور مخکښے کړل. او هر یو کس به وئیل چه زهٔ به ئے اخلم - بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل د دے حق به څوک اداء کړی؟ نو ټول سوچ کښے پریوتل بیا ابودُجانهؓ اووئیل زهٔ د دے د حق اداء کولو په ضمانت باندے دا توره اخلم. نو هغه توره ئے هغوی ته ورکړه او بیا پرے او جنګیدو. او د ډیر و

"فَلَقَ بِهِ" اَیْ شَقَّ[2] "هَامَ الْمُشْرِكِيْنَ" اَیْ رُءُوْسَهُمْ۔

مشرکانو سرونه ئې پرې قلم کړل۔ (مسلم، دَ ابودجانه رض خپل نوم سماک بن خرسه دی۔

⁘ اَحْجَمَ الْقَوْمُ : خلق چُپ شول۔ سوچ ئې اوکړو۔

⁘ فَلَقَ بِهِ : دَ تورې په ذريعه ئې څيرې کړل۔

⁘ هَامَ الْمُشْرِكِيْنَ : دَ مشرکانو سرونه۔

٩٢ - عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ عَدِيٍّ قَالَ اَتَيْنَا اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَشَكَوْنَا اِلَيْهِ مَا نَلْقَىٰ مِنَ الْحَجَّاجِ۔ فَقَالَ اصْبِرُوْا فَاِنَّهٗ لَا يَاْتِيْ زَمَانٌ اِلَّا وَالَّذِيْ بَعْدَهٗ شَرٌّ مِّنْهُ حَتّٰى تَلْقَوْا رَبَّكُمْ سَمِعْتُهٗ مِنْ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ⁘

٩٢ - زبير بن عدیؒ وئيلی دی۔ چه انس بن مالک رض چه کله مونږ طرف ته تشريف راوړو۔ نو دَ حجاج بن يوسف دَ طرف نه چه مونږ ته کوم تکليفونه او پريشانی رارسيدلې وې۔ دَ هغې شکايت مونږ حضرت انس رض ته اوکړو۔ نو مونږ ته ئې اووئيل چه صبر کوئ۔ او ياد ساتئ چه دَ زندګئ هر زمانه کښې راتلونکے وخت دَ مخکښې نه ډير بد بلکه بدتر وی۔ تر دې پورې چه دَ خپل رب سره به يوځائے شئ۔ او ما دا دَ نبی کريم صلی الله عليه وسلم نه څخپله اورېدلی دی۔ (بخاری)

٩٣ - عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَادِرُوْا بِالْاَعْمَالِ سَبْعًا[1] هَلْ تَنْتَظِرُوْنَ اِلَّا فَقْرًا مُّنْسِيًا اَوْ غِنًى مُّطْغِيًا اَوْمَرَضًا مُّفْسِدًا اَوْهَرَمًا مُّفْنِدًا[2] اَوْ مَوْتًا مُّجْهِزًا[3] اَوِ الدَّجَّالَ فَشَرٌّ غَائِبٍ يُّنْتَظَرُ اَوِ السَّاعَةَ فَالسَّاعَةُ اَدْهٰى وَ اَمَرُّ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : حَدِيْثٌ حَسَنٌ ⁘

٩٣ - حضرت ابوهريرة رض بيان کوی۔ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد فرمائيلی دے۔ دَ اوو څيزونو دَ راتلو نه مخکښې مخکښې دَ بنده کارونو په کولو کښې جلتی کوئ۔ آيا تاسو دَ داسې اولږې انتظار کوئ، چه ستاسو عقل ختم کړي۔ او دَ طاعاتو نه تاسو غافله کړي۔ يا دومره مالداری او دولت چه تاسو سرکشه او دَ الله تعالیٰ دَ احکامو نه بغاوت کونکی جوړ کړي يا داسې مرض چه ستاسو بدن کمزورے کړي۔ يا داسې بوډاوالے چه ستاسو عقل په ځائے پاتے نهٔ کړي۔ يا داسې مرګ چه ناڅاپي درله راشي۔ يا به بيا دَ دجّال انتظار کوئ۔ چه ستاسو ايمان به خراب ول غواړي۔ هغه ډير بدترين غائب دے۔ يا بيا دَ قيامت انتظار کوئ۔ او دَ قيامت ورځ ډيره خطرناکه او ترخه ده۔ (ترمذی)

امام ترمذیؒ وائی چه دا حديث، حديث حسن دے۔

٩٤ - عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : يَوْمَ خَيْبَرَ : لَاُعْطِيَنَّ هٰذِهِ الرَّايَةَ رَجُلًا يُّحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ يَفْتَحُ اللّٰهُ عَلٰى يَدَيْهِ" قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ

٩٤ - دا روايت هم دَ حضرت ابوهريرة رض نه نقل شوے دے۔ چه دَ غزوهٔ خيبر په موقعه باندے نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل نن به دا جنډه هغه چا ته ورکوم چه الله

---

[1] اى الصالحة [2] مفندًا : اى موقعا فى الفند وهو كلام المخرف [3] مجهزًا "بضم الميم وسكون الجيم و كسر الهاء آخره زاى" : اى سريعًا ⁘

عَنْهُ: مَا اَحْبَبْتُ الْاِمَارَةَ اِلَّا يَوْمَئِذٍ فَتَسَاوَرْتُ لَهَا رَجَآءَ اَنْ اُدْعٰى لَهَا فَدَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيَّ ابْنَ اَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَاَعْطَاهُ اِيَّاهَا وَقَالَ: امْشِ وَ لَا تَلْتَفِتْ حَتّٰى يَفْتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكَ" فَسَارَ عَلِيٌّ شَيْئًا ثُمَّ وَقَفَ وَلَمْ يَلْتَفِتْ فَصَرَخَ عه يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ عَلٰى مَاذَا اُقَاتِلُ النَّاسَ ؟ قَالَ: قَاتِلْهُمْ حَتّٰى يَشْهَدُوْا اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ فَاِذَا فَعَلُوْا ذٰلِكَ فَقَدْ مَنَعُوْا مِنْكَ دِمَآءَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ اِلَّا بِحَقِّهَا وَ حِسَابُهُمْ عَلَى اللّٰهِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

قَوْلُهُ: " فَتَسَاوَرْتُ" هُوَ بِالسِّيْنِ لِلْمُهْمَلَةِ اَیْ وَثَبْتُ مُتَطَلِّعًا ؛

اوډ هغهٔ رسول سره مينه لري. الله تعالیٰ به ډ هغهٔ په لاس مسلمانانو له فتح ورکړی. حضرت عمر رض فرمائي. چه ما ته سرداری او امارت ډ دغه ورځې نه بغير کله هم نهٔ ده خوښه. بس په دغه ورځ ځما شوق ووچه دے مشرئ د باره به ما راغواړی رسول اکرم صلی الله عليه وسلم حضرت علیؓ را اوغوختلو. او هغهٔ ته ئے جنډه ورکړه. او ورته ئے اووئيل ځه لاړشه او بل هيڅ طرف ته هم مهٔ مخ کوه. تردے چه الله تعالیٰ به تا ته فتحه درکړی. نو حضرت علیؓ روان شو. لږ لړے چه لاړو نو ايسار شو او بغير ډ راتاويدو نه ئے آواز اوکړو. يا رسول الله ! زهٔ به په کومه خبره او ترکومه پورے هغه خلقو سره جنګيږم. نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل. ترڅو پورے چه هغوئ ډ دے خبرے ګواهی ورکړي. چه ډ الله نه بغير بل څوک ډ بندګئ قابل نشته. او محمد صلی الله عليه وسلم ډ الله تعالیٰ بنده او رسول دے. نو تر هغے جنګيږه. او کله چه دغه خلق ډ دے خبرے اقرار اوکړي. نو ډ هغوئ جان ومال وغيره ډ اسلام مطابق محفوظ شول (يعنی څنګه چه اسلام حق ورکړے دے) او ډ هغوئ حساب ډ الله تعالیٰ په ذمه دے ـ (مسلم)

؛ فَتَسَاوَرْتُ : يعنی ما ډ هغوئ ډ خواهشاتو خيال ساتلو. نو ډ هغوئ طرف ته مائل شوم.

باب ۱۱

ف :ـ دے باب کښے شپږ آيتونه او اولس احاديث دی. جهد، جهاد او مجاهده ډ درے واړو معنیٰ او مفهوم نزدے نزدے دے. او ماده ئے يوه ده. ډ ټولو معنیٰ ده سعی او کوشش. خپل ځان ډ الله تعالیٰ ډ مرضئ مطابق برابرول او ډ الله تعالیٰ رضا حاصلول او ډ نفس خواهشات پريښودل. دے ته مجاهده وئيلے شی. او ډ حق خورولو او ډ کلمے ډ اوچتولو د باره کوشش کولو ته جهاد وئيلے شی. جهاد ډ ژبے او قلم په ذريعه هم کيدے شی او ډ وسلے په ذريعه هم. ډ نفس برابرولو او نيغولو او ډ الله تعالیٰ ډ رضا مطابق ډ هغهٔ په احکامو چليدلو باندے کوشش کولو ته صالحانو خلقو "جهاد اکبر" وئيلے دے.

بَابٌ فِي الْمُجَاهَدَةِ ! ډ مجاهدے (کوشش کولو) بيان

له ای رفع صوته بقوله رضی الله عنه يا رسول الله علیٰ ما اقاتل الناس، وقوله صلی الله عليه وسلم الا بحقها : ای فيؤاخذون بذلك، کالنفس بالنفس والزکوات وحسابهم علی الله، فان صدقوا وامنوا بالقلب نفعهم وذلك فی الآخرة والا فلا ؛

(قرآني آيتونه)

۴۲- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1]: "وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَ اِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِيْنَ" ؞

۴۲- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. کوم خلق چه زمونږ دپاره کوشش کوی. مونږ به هغوئ ته ضرور خپلې لارې اوښايو. او الله تعالیٰ دَ نيکانو ملګرے دے. (پ۲۱ عنکبوت

۴۳- وَقَالَ تَعَالٰى[2]: "وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ". [3]

۴۳- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. دَ خپل رب په عبادت کښې مشغول اوسه. تر هغه وخته پورے چه يقين يعنی مرګ درله راشی. (پ۱۴. حجر)

۴۴- وَقَالَ تَعَالٰى[4]: وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ اِلَيْهِ تَبْتِيْلًا، اَىْ انْقَطِعْ اِلَيْهِ ؞

۴۴- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. دَ خپل رب نوم اخله. او دَ ټولو خلقونه په ډډه کيدلو سره الله تعالیٰ ته متوجه شه. (پ۲۹ مزمل)

۴۵- وَقَالَ تَعَالٰى[5]: فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ[6]" ؞

۴۵- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. چا چه دَ ذرے هومره دَ نيکئ عمل اوکړو، نو دَ هغې بدله به بيامومی. (پ۳۰. زلزال)

۴۶- وَقَالَ تَعَالٰى[7]: "وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرًا وَّاَعْظَمَ اَجْرًا" ؞

۴۶- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. او کوم نيک عمل چه تاسو ځان دپاره مخکښې اوليږئ، نو هغه به تاسو دَ الله سره بهتر او په بدله کښې لوئ بيامومئ. (پ۳۰. مزمل)

۴۷- وَقَالَ تَعَالٰى[8]: "وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ وَالْاٰيَاتُ فِى الْبَابِ كَثِيْرَةٌ مَّعْلُوْمَةٌ" ؞

۴۷- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. او دَ نيکئ په کارونو کښې چه کوم مال خرچ کوئ. يقيناً هغه الله پيژنی. (پ۳. بقره

دَ دے آيتونو نه علاوه نور مشهور آيتونه هم شته.

نبوی احاديث

۹۵- عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى قَالَ مَنْ عَادٰى لِىْ وَلِيًّا[9] فَقَدْ اٰذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ وَمَا تَقَرَّبَ اِلَىَّ عَبْدِىْ بِشَىْءٍ اَحَبَّ اِلَىَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ، وَمَا يَزَالُ عَبْدِىْ يَتَقَرَّبُ اِلَىَّ بِالنَّوَافِلِ حَتّٰى اُحِبَّهٗ، فَاِذَا اَحْبَبْتُهٗ كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِىْ يَسْمَعُ بِهٖ، وَبَصَرَهُ الَّذِىْ يُبْصِرُ

۹۵- دَ حضرت ابوهريره رضه نه روايت دے. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه الله تعالیٰ فرمائيلی دی. چه څوک ځما ولی او دوست ته تکليف رسوی. نو ځما دَ طرف نه هغهٔ ته دَ جنګ اعلان دے. او ماته نزدے کيدو دپاره بنده چه کوم څه کوی او هغه ماته ډير خوښ وی. هغه فرض دی چه هغه ئې کوی او ځما بنده دَ فرضو سره سره چه نفل هم کوی. او دَ نفلو په ذريعه ماته نور هم ځان نزدے

---

[1] سورة العنكبوت آية ۶۹ [2] سورة الحجر آية ۹۹ [3] اليقين، الموت [4] سورة المزمل آية ۸ [5] سورة الزلزال آية ۷ [6] يره، اى يرى ثوابه - [7] سورة المزمل آية ۲۰ [8] سورة البقرة آية ۲۷۳ [9] الولى من تولى الله بالطاعة والتقوى نتولاه الله بالحفظ والنصر ؞

بِهِ، وَيَدَهُ الَّتِيْ يَبْطِشُ بِهَا، وَرِجْلَهُ الَّتِيْ يَمْشِيْ بِهَا وَاِنْ سَاَلَنِيْ اَعْطَيْتُهُ وَلَئِنِ اسْتَعَاذَنِيْ لَاُعِيْذَنَّهُ، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

"اٰذَنْتُهُ": اَعْلَمْتُهُ بِاَنِّيْ مُحَارِبٌ لَهُ "اسْتَعَاذَنِيْ" رُوِيَ بِالنُّوْنِ وَبِالْبَاءِ ؛

کوی۔ نو دے رضا حاصلولو سره زه هغه خپل محبوب جوړ کړم۔ او کله چه هغه ځما محبوب جوړ شی۔ نو زه د هغهٔ غوږ جوړ شم۔ چه ځما په ذریعه آوری۔ زه د هغهٔ سترګے جوړے شم چه ځما په ذریعه ګوری۔ او زه د هغهٔ لاس جوړ شم۔ چه هغے سره نیول کوی۔ او زه د هغه خپے جوړے شم چه هغه پرے تلل کوی۔ کله چه ما نه څهٔ غواړی نو زهٔ ئے هغهٔ ته ورکوم۔ او کله چه ما نه پناه غواړی۔ نو زهٔ ئے خپله پناه کښے واخلم۔ (بخاری)

؛ اٰذَنْتُهُ : زهٔ خپل ولی ته تکلیف ورکوونکی ته خبردارے ورکوم چه زهٔ د هغهٔ مقابلے ته ولاړ یم۔

؛ اِسْتَعَاذَنِیْ : پناه غواړی ځما نه۔ "باء" او "یاء" دواړو سره صحیح دے۔

۹۶۔ عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْمَا يَرْوِيْهِ عَنْ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ: اِذَا تَقَرَّبَ الْعَبْدُ اِلَيَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ اِلَيْهِ ذِرَاعًا وَاِذَا تَقَرَّبَ اِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعًا، وَاِذَا اَتَانِيْ يَمْشِيْ اَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛

۹۶۔ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائیلے دے، چه الله تعالیٰ فرمائیلی دی چه کله یو بنده ما ته یوه لویشت را نزدے کیږی نو زهٔ یو لاس ورنزدے کیږم او کله چه ما ته یو لاس را نزدے کیږی نو زهٔ د دوؤ لاسونو په اندازه ورنزدے کیږم۔ او کله چه ځما طرف ته روان راځی نو زهٔ ورله په منډه راځم۔ (بخاری)

۹۷۔ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَتَانِ[2] مَغْبُوْنٌ فِيْهِمَا كَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ: اَلصِّحَّةُ، وَالْفَرَاغُ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛

۹۷۔ ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دوه[2] نعمتونه داسے دی چه د هغے باره کښے خلق ډیر په غلطئ او دهوکه کښے پراته دی۔ یو صحت او دوئم فراغت۔ یعنی په دے پوهیږی چه صحت او دولت همیشه باقی کیږی او ده سره وی۔ که په دهوکه کښے غور زیدلے نه وے۔ نو د صحت حق به ئے اداء کولے۔ او د تولونه زیات به د الله په بندګئ او عبادت کښے مشغول وے۔ او که دولت لے فنا کیدونکے ګڼلے، نو ډیر زیات به ئے د الله د رضا دپاره د آخرت ذخیره کرځولے وے۔

---

[1] هذا من باب التمثيل فى الجانبين والمعنى من اتى شيئا من الطاعات ولو قليلا قابلته عليه باضعاف من الاثابة والاكرام وكلما زاد فى الطاعة زدته فى الثواب وان كان اتيانه بالطاعة على التانى تكون كيفية اتيانى بالثواب على السرعة واطلاق النفس والتقرب والهرولة، وهى الاسراع عليه تعالىٰ مجاز [2] اى عظيمتان "مغبون فيهما" من الغبن وهو الشراء باضعاف الثمن او البيع بدون ثمن المثل، شبه النبى صلى الله عليه وسلم المكلف بالتاجر والصحة فى البدن والفراغ من الشواغل عن الطاعة برأس المال لانهما من اسباب الارباح ومقدمات نيل النجاح فمن عامل الله تعالىٰ بامتثال اوامره وابتدر الصحة والفراغ يربح، ومن اضاع راس ماله ندم حيث لا ينفع الندم ۲"

۹۸- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْمُ مِنَ اللَّيْلِ حَتّٰى تَتَفَطَّرَ قَدَمَاهُ[1] فَقُلْتُ لَهٗ: لِمَ تَصْنَعُ هٰذَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَقَدْ غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ ؟[2] قَالَ: اَفَلَا اُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ عَبْدًا شَكُوْرًا " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ- هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ وَنَحْوُهٗ فِي الصَّحِيْحَيْنِ مِنْ رِوَايَةِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ ؛

۹۸ - حضرت عائشه رض ارشاد فرمائي. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د شپې په نفلونو کښې دومره اوږد قيام کولو چه خپې به ئې د پړسوب نه اوچودلې - نوما ورته وئيل چه يا رسول الله ! تا سره خو د تېرو شوو او د راتلونکی ګناهونو او خطاګانو د معافئ وعده کړې شوې ده - نو بيا دومره مشقت ولې اوچتوئ - د دې په جواب کښې نبی کريم صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل. آيا زۀ دا نۀ خوښوم چه د الله تعالىٰ شکرګزار بنده ډجوړ شم - (بخاری ومسلم)

د روايت دا الفاظ د بخارۍ دی اودغسې روايت په بخاری اومسلم کښې د مغيرة بن شعبه رض نه هم په دې طريقې سره بيان کړې شوې دې -

۹۹- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ اَحْيَا اللَّيْلَ وَاَيْقَظَ اَهْلَهٗ وَجَدَّ وَشَدَّ الْمِئْزَرَ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

• وَالْمُرَادُ ": الْعَشْرُ الْاَوَاخِرُ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ. "وَالْمِئْزَرُ" اَلْاِزَارُ وَهُوَ كِنَايَةٌ عَنِ اعْتِزَالِ النِّسَاءِ. وَقِيْلَ: اَلْمُرَادُ تَشْمِيْرُهٗ لِلْعِبَادَةِ يُقَالُ: شَدَدْتُ لِهٰذَا الْاَمْرِ مِئْزَرِيْ: اَيْ تَشَمَّرْتُ وَتَفَرَّغْتُ لَهٗ ؛

۹۹ - حضرت عائشه رض فرمائي. چه کله د روژې آخرى لس ورځې به راغلې نو نبی کريم صلی الله علیه وسلم به ټوله شپه بيداره تېروله . او خپل کور والا به ئې هم پاڅول- او د الله تعالىٰ په عبادت کښې به ئې ډير زيات کوشش کولو - او د همت ملا به ئې مضبوطه کړه - (يا به ئې لنګ مضبوط اوتړلو) (بخاری ومسلم)

مِئْزَرٌ: لنګ ته وائي. مطلب ئې دا دې چه دغه لسو ورځو کښې به بيبيانو ته نۀ ورنزدې کيدو - " اَلْعَشْرُ " : يعنی آخرى لس ورځې د رمضان- دغه ورځو کښې به د الله عبادت کښې ډير مشغول وُو-

؛ " شَدَّ " : يعنی خپله ملا به ئې د حکم الٰهی د پاره کلکه کړه - يعنی هر طرف نه به ئې ځان فارغ کړو-

۱۰۰- عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ خَيْرٌ وَاَحَبُّ اِلَى اللّٰهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيْفِ وَفِيْ

۱۰۰ - حضرت ابوهريرة رض نه روايت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائيلی دی. صحت منداو طاقتور مؤمن الله تعالىٰ ته د کمزوری مؤمن نه زيات خوښ دې . او په هر يو کښې خير وی - د داسې څيز

---

[1] ای تتشقق [2] قال الامام ابن ابی جمرة رض : لا يخطر بخاطر احد ان الذنوب التی اخبر الله تعالىٰ انه بفضله يغفرها للنبی صلی الله علیه وسلم من قبيل ما نقع نحن فيه - معاذ الله : انما ذلك من قبيل توفية ما يجب للربوبية من الاعظام والاكبار والشكر . ووضع البشرية وان رفع قدرها حيث رفع فانها تعجز عن ذلك بوضعها لانها من جملة المحدثات، وكثرة النعم على الذی رفع قدره اكثر من غيره تضاعف الحقوق عليه فحصل العجز فالغفران لذلك ؛

كُلٍّ خَيْرٌ اِحْرِصْ عَلٰى مَا يَنْفَعُكَ ، وَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَلَا تَعْجَزْ. وَاِنْ اَصَابَكَ شَيْءٌ فَلَا تَقُلْ لَوْ اَنِّيْ فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا وَلٰكِنْ قُلْ : قَدَّرَ اللهُ وَمَا شَآءَ فَعَلَ فَاِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطٰنِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ⁘

حرص کوه ، چه ستا د پاره فائده مندوی. دَ الله تعالیٰ نه امدا دطلب کوه - عاجز او ستړے مهٔ کېنه - کهٔ څهٔ پریشانی او خفګان راشی - نو داسے مهٔ وایه. کهٔ ما داسے کړي وے نو داسے به شوی ؤو - بلکه داسے وایه - دَ الله حکم داسے ؤو - هغهٔ چه څهٔ کول غوښتل نو وے کړل - او لفظ دَ "کهٔ" شیطانی عمل د پاره دروازه پرانیزی - (مسلم)

١٠١ - عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : "حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ ، وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁘

وَفِيْ رِوَايَةٍ لِّمُسْلِمٍ : "حُفَّتْ" بَدَلَ "حُجِبَتْ" وَهُوَ بِمَعْنَاهُ : اَيْ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا هٰذَا الْحِجَابُ فَاِذَا فَعَلَهُ دَخَلَهَا.

١٠١ - حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے - چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. شهوتونو او نفسانی خواهشاتو به دوزخ باندے پرده اچولے ده - او پټ کړے شوے دے جنت په ناخوښه او نابرداشتو خبرو سره - (بخاری ومسلم) یعنی شهوتونو کښې برعکس ګیرشی او دوزخ به ئې هیرشی - او دَ عباداتو دَ مشقت نه ورته خطره پیښه شی. او دَ جنت نه مخ واړوی. دَ مسلم په روایت کښې دَ "حُجِبَتْ" په ځائې "حُفَّتْ" لفظ راغلے دے - چه معنیٰ ئې راتاؤول یا پټول دی. دَدے مثال داسے دے لکه دَ کونینو د پاسه چینی اولګول شی. نو کله چه دَ چینو لیپ ختم شی. نو بیا دَ کونینو دَ تریخوالی پته لګی - دغسے چه کله په شهوتونو کښې ګیرشی او بیا اوځي نو پته اولګی - چه کوم عذاب سره مخامخ شوم - او دا به هیرکړي چه دَ دُنیاوی مزونه وروسته خو جهنم پټ پروت ؤو.

١٠٢ - عَنْ اَبِيْ عَبْدِ اللهِ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَافْتَتَحَ الْبَقَرَةَ فَقُلْتُ يَرْكَعُ عِنْدَ الْمِائَةِ ثُمَّ مَضٰى : فَقُلْتُ يُصَلِّيْ بِهَا فِيْ رَكْعَةٍ فَمَضٰى ، فَقُلْتُ يَرْكَعُ بِهَا اَفْتَتَحَ اٰلَ عِمْرَانَ فَقَرَاَهَا يَقْرَاُ مُتَرَسِّلًا [1] اِذَا مَرَّ بِاٰيَةٍ فِيْهَا تَسْبِيْحٌ سَبَّحَ وَاِذَا مَرَّ بِسُؤَالٍ سَاَلَ وَاِذَا مَرَّ بِتَعَوُّذٍ تَعَوَّذَ ثُمَّ رَكَعَ فَجَعَلَ يَقُوْلُ: "سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ" فَكَانَ رُكُوْعُهُ نَحْوًا مِّنْ قِيَامِهِ ثُمَّ قَالَ : سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ

١٠٢ - ابوعبدالله حذیفة بن یمانؓ نه روایت دے - چه یوه شپه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مونځ کولو - نو سورة البقرة ئې شروع کړه - نو ځما خیال راغے چه سل آیتونه به وائی - بیا به رکوع کوی - کله ئې چه سل آیتونه پوره کړل نو بیا هم قراءت کښې لګیا ؤو - نو ما سوچ اوکړو چه کیدے شی چه ټوله سورة بقره یو رکعت کښې وائی - چه سورة ختم شو نو خیال مے اوکړو چه اوس به رکوع کوی. مګر دریسے ئې سورة نساء هم شروع کړو - هغه ئې هم پوره تلاوت کړو - بیا ئې ټول سورة آل عمران هم ختم کړو - پس دَدے نه ئې بیا لږ لږ به مزه مزه تلاوت کولو - چه کوم یو آیت به دَ تسبیح

---

[1] مترسلا : اي مترتلا بتبيين الحروف واداء حقها ⁘

رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ، ثُمَّ قَامَ قِيَامًا طَوِيلًا قَرِيبًا مِمَّا رَكَعَ ثُمَّ سَجَدَ فَقَالَ: "سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى" فَكَانَ سُجُودُهُ قَرِيبًا مِنْ قِيَامِهِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

راغلو نو هلته به ئې تسبيحات وئيل. او كله آيت د سوال كولو به راغې نو هلته به ئې سوال كولو. كله چې د پناه غوښتلو آيت به راغې، نو پناه به ئې غوښتله. د تلاوت نه پس ئې چه كله ركوع كوله نو هغه هم د دغه قيام هومره اوږده وه. او ركوع كښې به ئې "سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ" وئيل. بيا ئې "سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ" او وئيل. او "ربنا لك الحمد" ئې هم او وئيل ...... د ركوع نه چه راوچت شو نو د ركوع د اوږدوالي په اندازه ئې دغه قيام هم اوكړو. بيا ئې سجده اوكړه او "سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى" به ئې وئيل. نو سجده ئې هم د قيام په اندازه اوږده وه. "مسلم"

١٠٣- عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً فَأَطَالَ الْقِيَامَ حَتَّى هَمَمْتُ بِأَمْرِ سُوْءٍ، قِيلَ: وَمَا هَمَمْتَ بِهِ؟ قَالَ هَمَمْتُ أَنْ أَجْلِسَ وَأَدَعَهُ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

١٠٣- ابن مسعودؓ وائي. چه يوه شپه ما د نبی كريم صلى الله عليه وسلم سره مونځ اوكړو. د هغهٔ قيام دومره اوږد وو. چه زهٔ زړهٔ كښې اوويريدم. او غلط سوچ مې اوكړو. ابن مسعودؓ نه چا پوښتنه اوكړه چه هغه غلط سوچ او خيال څهٔ وو. نو نو هغوئ اووئيل ما سوچ اوكړو چه (سلام واړوم اوكينم. او نبی صلى الله عليه وسلم يوازې پرېږدم. (بخاری ومسلم)

١٠٤- عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلَاثَةٌ: أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ فَيَرْجِعُ اثْنَانِ وَيَبْقَى عَمَلُهُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

١٠٤- انس بن مالكؓ نه روايت دے. چه د نبی كريم صلى الله عليه وسلم ارشاد دے. چه مړي سره قبر پورې درې څيزونه ځي. د دهٔ اهل، مال او عمل. دے كښې دوه څيزونه واپس كيږي. او يو ورسره پاتے كيږي. اهل او مال واپس راځي او عمل ورسره پاتے شي. (بخاری ومسلم)

١٠٥- عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "الْجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ[1] وَالنَّارُ مِثْلُ ذٰلِكَ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛

١٠٥- عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي. په تاسو كښې هر يو كس ته جنت د خپلې څپلۍ د تسمې نه هم نزدې دے. او د غسې دوزخ هم. (بخاری)

١٠٦- عَنْ أَبِي فِرَاسٍ رَبِيعَةَ ابْنِ كَعْبٍ الْأَسْلَمِيِّ خَادِمِ رَسُولِ اللّٰهِ

١٠٦- ابی فِراس ربيعه بن كعب اسلميؓ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خادمانو

---

[1] الشراك "بكسر الشين المعجمة وبالراء وآخره كاف" احد سيور النعل التي تكون في وجهه ويختل الشئ بفقده. والمعنى ان تحصيل الجنة سهل وذلك بتصحيح القصد وفعل الطاعات والنار بموافقة الهوى وفعل المعاصي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمِنْ اَهْلِ الصُّفَّةِ[۱] رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: "كُنْتُ اَبِيْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاٰتِيْهِ بِوَضُوْئِهِ[۲] وَحَاجَتِهٖ فَقَالَ: "سَلْنِيْ" فَقُلْتُ: اَسْاَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ فَقَالَ: اَوَغَيْرَ ذٰلِكَ؟ قُلْتُ: هُوَ ذَاكَ قَالَ فَاَعِنِّيْ عَلٰى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ[۳]۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؁

ارا صحاب صفه کښې شامل صحابي دے روايت کوی چه ما به دَ نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره شپه تيرؤله۔ اوده ضرورت به وخت کښې يا دَ اودس د پاره به مے اوبۀ پيش کولے۔ يوه ورځ نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل۔ ما نه چه څۀ غواړے نوا دغواړه۔ ما عرض اوکړو چه زۀ دا غواړم چه تا سو سره جنت کښې يو ځائے يم هغه اوفرمائيل چه دَ دے نه علاوه بل څۀ هم غواړے؟ ما اووئيل چه بس هم دغه درخواست مے دے۔ نو راته ئے اووئيل چه ما سره دَ امرار په طور دَ خپل ځان د پاره ډيرے سجدے لازمے کړه۔ (نفلونه ډير ډير کوه)

۱۰۷۔ عَنْ اَبِيْ عَبْدِ اللّٰهِ وَيُقَالُ: اَبُوْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ثَوْبَانَ مَوْلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ؛ فَاِنَّكَ لَنْ تَسْجُدَ لِلّٰهِ سَجْدَةً اِلَّا رَفَعَكَ اللّٰهُ بِهَا دَرَجَةً وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيْئَةً" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۱۰۷۔ ابوعبد الله ثوبان رض چه دۀ ته ابوعبد الرحمٰن ثوبان رض هم وئيلے کيږی۔ دا دَ نبي کريم صلی الله عليه وسلم غلام وُو۔ روايت کوی۔ چه ما دَ رسول الله صلے الله عليه وسلم نه دا سے فرمائيل اوريدلی دی چه موږ نه ډير کوه۔ او په خپل ځان ئے لازم کړه۔ ځکه چه دَ الله د پاره کوم سجده کوے، دَ هغے بدله کښے به دِ يوه درجه زياتيږی۔ او يوه ګناه به دِ معاف کيږی۔ (مسلم)

۱۰۸۔ عَنْ اَبِيْ صَفْوَانَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ الْاَسْلَمِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خَيْرُ النَّاسِ مَنْ طَالَ عُمُرُهٗ وَحَسُنَ عَمَلُهٗ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ ؛ "بُسْرٌ" بِضَمِّ الْبَاءِ وَبِالسِّيْنِ الْمُهْمَلَةِ ؛

۱۰۸۔ ابوصفوان عبد الله بن بسرا سلمی رض نه روايت دے۔ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دی۔ تاسو کښے بهترين کس هغه دے چه دَ هغه عمر ډير وی۔ او عملونه ئے هم ښۀ وی۔ (ترمذی) دے وائی چه دا حديث، حديث حسن دے۔

۱۰۹۔ عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: غَابَ عَمِّيْ اَنَسُ بْنُ النَّضْرِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ قِتَالِ بَدْرٍ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ غِبْتُ عَنْ اَوَّلِ قِتَالٍ قَاتَلْتَ

۱۰۹۔ انس بن مالک رض نه روايت دے چه ځما تره انس بن نضر رض جنګ بدر کښں شريک شوے نۀ وُو۔ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ئے عرض اوکړو چه يا رسول الله! تا سو چه کفارو سره کوم ړومبنے جنګ

---

[۱] الصفة: بضم الصاد المهملة وتشديد الفاء "محل مسقف لخر المسجد النبوی يأوی اليه الفقراء ؛ [۲] الوضوء: بفتح الواو: الماء المرعد للوضوء بضمها "وحاجته" ای ما يحتاج اليه من لباس وغيره [۳] فاعن: فيه اشارة الیٰ انه صلی الله عليه وسلم کان مجتهدًا ای اجتهاد فی اصلاحه کغيره وانه الطبيب الساعی فی شفائه والطبيب يحتاج لمساعدة المريض بتعاطيه ما يصفه ؛

الْمُشْرِكِيْنَ لَئِنِ اللّٰهُ اَشْهَدَنِيْ قِتَالَ: الْمُشْرِكِيْنَ لَيَرَيَنَّ اللّٰهُ مَا اَصْنَعُ[1] فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ اُحُدٍ اِنْكَشَفَ الْمُسْلِمُوْنَ فَقَالَ، اَللّٰهُمَّ اَعْتَذِرُ اِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ هٰؤُلَآءِ۔ يَعْنِيْ اَصْحَابَهٗ وَ اَبْرَاُ اِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ هٰؤُلَآءِ يَعْنِي الْمُشْرِكِيْنَ. ثُمَّ تَقَدَّمَ فَاسْتَقْبَلَهٗ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ فَقَالَ، يَا سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ الْجَنَّةُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ اِنِّيْ اَجِدُ رِيْحَهَا مِنْ دُوْنِ اُحُدٍ۔ قَالَ سَعْدٌ: فَمَا اسْتَطَعْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا صَنَعَ قَالَ اَنَسٌ: فَوَجَدْنَا بِهٖ بِضْعًا[2] وَّ ثَمَانِيْنَ[3] ضَرْبَةً بِالسَّيْفِ اَوْ طَعْنَةً بِرُمْحٍ اَوْ رَمْيَةً بِسَهْمٍ وَ وَجَدْنَاهُ قَدْ قُتِلَ وَمَثَّلَ بِهِ الْمُشْرِكُوْنَ فَمَا عَرَفَهٗ اَحَدٌ اِلَّا اُخْتُهٗ بِبَنَانِهٖ[3] قَالَ اَنَسٌ كُنَّا نَرٰى اَوْ نَظُنُّ اَنَّ هٰذِهِ الْاٰيَةَ[4] نَزَلَتْ فِيْهِ وَفِيْ اَشْبَاهِهٖ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُ اللّٰهَ عَلَيْهِ "اِلٰى اٰخِرِهَا.

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ :.

قَوْلُهٗ: "لَيُرِيَنَّ اللّٰهُ" رُوِيَ بِضَمِّ الْيَاءِ وَكَسْرِ الرَّآءِ: اَيْ لَيُظْهِرَنَّ اللّٰهُ ذٰلِكَ لِلنَّاسِ، وَرُوِيَ بِفَتْحِهِمَا وَ مَعْنَاهُ ظَاهِرٌ" وَاللّٰهُ اَعْلَمُ :.

کولو. زۀ هغے کښے شریک نۀ وُوم. نو کۀ اوس الله تعالیٰ چرته داسے موقعه دَمشرکانو سره دَجنګ کولو راوسته. نو زۀ به څۀ کوم. بس الله تعالیٰ به ئے مسلمانانو ته اوښائی. کله چه دَجنګِ اُحد موقعه راغله. او مسلمانان خوارۀ شول، نو انس بن نضر رضی الله عنه دَ الله تعالیٰ په دربار کښے عرض اوکړو. چه اے الله! څۀ ملګرو چه څۀ اوکړل. زۀ دَ هغے نه تا ته عذر پیش کوم. او دَ مشرکانو دَ عملونو نه بیزاری پیش کوم. بیا دَ جنګ میدان ته ورمخکښے شو. نو سعد بن معاذ رضی الله عنه ورله مخه کښے راغے. نو ورے وئیل سعد رضی الله عنه! هغه جنت اوګوره. په الله تعالیٰ مے دِ قسم وی. دَ اُحد دَ شا نه به ما دَ جنت خوشبوئی راځی. سعد رضی الله عنه اووئیل یا رسول الله! کومے کارنامے چه حضرت انس بن مالک رضی الله عنه وائی چه کله مونږ ته دَ هغهٔ لاش (مړے) ملاؤ شو. نو حالے دا ؤو چه دَ تورو، دَ نیزو، دَ غشو پرے تقریبًا دَ اتیاؤ نه زیات زخمونه وُو. او مونږ اولیدل چه مشرکانو دَ هغهٔ نه څۀ اندامونه هم پرے کړی وُو چه مونږ هیڅا هم اونۀ پیژندلو. صرف خپلے خور دَ ګوتو دَ بندونو نه اوپیژندلو. انس رضی الله عنه وائی چه دا آیت "من المؤمنین رجال صدقوا ما عاهدوا الله علیه" او دغسے نور ایتونه هم دانس بن نضر رضی الله عنه په باره کښے نازل شوی دی. معنیٰ ئے داده. "دَ مؤمنانو کښے داسے کسان هم شته. چه هغوئ د الله سره کومه وعده کړے وه هغه ئے رښتیا اوخودله."

(بخاری ومسلم)

:. لَيُرِيَنَّ اللّٰهُ: الله به ئے دا کارنامه او خبره خلقو ته اوښائی۔

:. لَيَرَيَنَّ اللّٰهُ: الله به اُووینی۔

۱۱۰- عَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدٍ عُقْبَةَ بْنِ عَمْرٍو الْاَنْصَارِيِّ الْبَدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

۱۱۰- ابی مسعود عقبه بن عمرو انصاری رضی الله عنه بدری روایت کوی. چه کله د صدقے آیت نازل شو. نو مونږ به په شا پیټی اوبوجونه

---

[1] "ما اصنع" قال القرطبی، هذا الکلام یتضمن انه الزم نفسه الزامًا مؤکدًا هو الابلاغ فی الجهاد والانتهاض فیه والابلاغ فی بذل ما یقدر علیه. ولم یصرح بذلک مخافة ما یتوقع من التقصیر فی ذلک وتبریا من حوله وقوته ولذا قال فی روایة: "فهاب ان یقول غیرها" ومع ذلک نوی بقلبه وصمم علیٰ ذلک بتصمیم تصد، ولذا سماه الله عهدًا فقال "من المؤمنین رجال صدقوا ما عاهدوا الله علیه"

[2] البضع: بکسر الباء وسکون الضاد المعجمة": مابین الثلاث الی التسع من العدد

[3] ای باطراف اصابعة

[4] سورة الاحزاب ایة ۲۳ :.

قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ اٰيَةُ الصَّدَقَةِ كُنَّا نُحَامِلُ عَلٰى ظُهُوْرِنَا ـ فَجَآءَ رَجُلٌ فَتَصَدَّقَ بِشَيْءٍ كَثِيْرٍ فَقَالُوْا : مُرَآءٍ[1] وَجَآءَ رَجُلٌ اٰخَرُ فَتَصَدَّقَ بِصَاعٍ فَقَالُوْا : اِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنْ صَاعِ هٰذَا : فَنَزَلَتْ[2] " اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ[3] مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ " الْاٰيَةَ ـ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

" وَنُحَامِلُ " بِضَمِّ النُّوْنِ وَبِالْحَآءِ الْمُهْمَلَةِ : اَيْ يَحْمِلُ اَحَدُنَا عَلٰى ظَهْرِهٖ بِالْاُجْرَةِ وَيَتَصَدَّقُ بِهَا ؛

اُوړل او مزدوری به موکوله ۔ دغه وخت یو کس راغے ۔ او بنهٔ کافی تعداد کښې ئے صدقه اوکړه. دائے چه اولیدو نو منافقینو اووئیل چه دا کس ریا کاردے ۔ اوکله چه یو غریب سړی یو صاع کجورے صدقه کړے، نو دے منافقانو اووئیل ۔ چه الله تعالیٰ ته دَ یو صاع دَ کجورو ضرورت نشته ۔ نو دا آیت نازل شو. " الذین یلمزون المطوعین من المؤمنین فی الصدقات والذین لایجدون الاجهدهم" ترجمه ئے داده ۔ "دا هغه خلق دی چه دَ زړهٔ دَ اخلاصه صدقه کونکی مسلمانانو او غریبانو مزدورانو باندے دَ صدقې کولو په وجه الزام او عیب لګوی" ۔ (بخاری ومسلم)

؛ نُحَامِلُ : یعنی موږ به خپلو شاګانو باندے مال او اسباب اُوړلوا و مزدوری به موکوله یعنی بوج اوچتونکی وُو ؛

١١١ ۔ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيْزِ عَنْ رَبِيْعَةَ بْنِ يَزِيْدَ عَنْ اَبِيْ اِدْرِيْسَ الْخَوْلَانِيِّ عَنْ اَبِيْ ذَرٍّ جُنْدُبِ بْنِ جُنَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْمَا يَرْوِيْ عَنِ اللّٰهِ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى اَنَّهٗ قَالَ يَا عِبَادِيْ اِنِّيْ حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلٰى نَفْسِيْ وَجَعَلْتُهٗ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا فَلَا تَظَالَمُوْا يَا عِبَادِيْ كُلُّكُمْ ضَآلٌّ اِلَّا مَنْ هَدَيْتُهٗ فَاسْتَهْدُوْنِيْ اَهْدِكُمْ يَا عِبَادِيْ كُلُّكُمْ جَآئِعٌ اِلَّا مَنْ اَطْعَمْتُهٗ فَاسْتَطْعِمُوْنِيْ اُطْعِمْكُمْ، يَا عِبَادِيْ كُلُّكُمْ عَارٍ اِلَّا مَنْ كَسَوْتُهٗ فَاسْتَكْسُوْنِيْ اَكْسُكُمْ يَا عِبَادِيْ اِنَّكُمْ تُخْطِئُوْنَ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَاَنَا اَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا فَاسْتَغْفِرُوْنِيْ اَغْفِرْ

١١١ ۔ سعید بن عبد العزیز، ربیعه بن یزید نه، هغهٔ دَ ابوادریس خولانی نه او هغهٔ دَ ابوذر جندب بن جناده رض نه او هغهٔ دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه دَ الله تعالیٰ کلام نقل کوی ۔ چه الله تعالیٰ فرمائی ۔ چه اے ځما بندګانو! ما په خپل ځان ظلم حرام کړے دے ۔ نو ستاسو مینځ کښې مے هم په یو بل حرام کړو ۔ یو بل باندے ظلم او زیاتے مهٔ کوئ ۔ اے ځما بندګانو ۔ تاسو ټول بے لارے یئ ۔ مګر چا ته چه زهٔ هدایت اوکړم ۔ نو دَ ما نه دَ هدایت سوال کوئ زهٔ به درته هدایت کوم ۔ اے ځما بندګانو! تاسو ټول نهروی. مګر چا ته چه ما خوراک ورکړو ۔ نو ما نه خوراک اوغواړئ ۔ چه خوراک درکړم ۔ اے ځما بندګانو! تاسو ټول بربنډ وئ ۔ مګر چه چا ته ما جامے ورواغوستلے ۔ نو ما نه جامے اوغواړئ ۔ چه دَ اغوستلو دپاره ئے درکړم ۔ اے ځما بندګانو! تاسو شپه او ورځ ګناهونه کوئ ۔ او زهٔ دَ

---

[1] من المراءة وهي العمل ليراه الناس فيكتسب منهم غرضا دنيويا [2] سورة التوبة 'اية اى

[3] اى يعيبون المطوعين " بتشديد الطاء المهملة " اى المتنفلين " والذين لايجدون الاجهدهم : اى طاقتهم فيأتون به

لَكُمْ، يَاعِبَادِيْ اِنَّكُمْ لَنْ تَبْلُغُوْا ضُرِّيْ فَتَضُرُّوْنِيْ وَلَنْ تَبْلُغُوْا نَفْعِيْ فَتَنْفَعُوْنِيْ يَاعِبَادِيْ لَوْاَنَّ اَوَّلَكُمْ وَاٰخِرَكُمْ وَاِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوْا عَلٰى اَتْقٰى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مِّنْكُمْ مَا زَادَ ذٰلِكَ فِيْ مُلْكِيْ شَيْئًا يَاعِبَادِيْ لَوْاَنَّ اَوَّلَكُمْ وَاٰخِرَكُمْ وَاِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوْا عَلٰى اَفْجَرِ قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مِّنْكُمْ مَا نَقَصَ ذٰلِكَ مِنْ مُّلْكِيْ شَيْئًا، يَاعِبَادِيْ لَوْاَنَّ اَوَّلَكُمْ وَاٰخِرَكُمْ وَاِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ قَامُوْا فِيْ صَعِيْدٍ وَاحِدٍ [1] فَسَاَلُوْنِيْ فَاَعْطَيْتُ كُلَّ اِنْسَانٍ مَسْاَلَتَهٗ مَا نَقَصَ ذٰلِكَ مِمَّا عِنْدِيْ اِلَّا كَمَا يَنْقُصُ الْمِخْيَطُ اِذَا اُدْخِلَ الْبَحْرَ [2]، يَاعِبَادِيْ اِنَّمَا هِيَ اَعْمَالُكُمْ اُحْصِيْهَا لَكُمْ ثُمَّ اُوَفِّيْكُمْ اِيَّاهَا فَمَنْ وَجَدَ خَيْرًا فَلْيَحْمَدِ اللّٰهَ وَمَنْ وَّجَدَ غَيْرَ ذٰلِكَ فَلَا يَلُوْمَنَّ اِلَّا نَفْسَهٗ قَالَ سَعِيْدٌ كَانَ اَبُوْ اِدْرِيْسَ اِذَا حَدَّثَ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ جَثَا عَلٰى رُكْبَتَيْهِ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ: وَرَوَيْنَا عَنِ الْاِمَامِ اَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ رَحِمَهُ اللّٰهُ قَالَ: لَيْسَ لِاَهْلِ الشَّامِ حَدِيْثٌ اَشْرَفُ مِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ ∴

ټولو ګناهونه معاف کوم۔ نو ما نه بخښنه غواړئ چه زهٔ تاسو معاف کړم۔ اے ځما بندګانو! تاسو نه به دے قادر یئ چه ماته څهٔ نقصان را اورسوئ۔ او نهٔ راته فائده رارسولے شئ۔ اے ځما بندګانو! که تاسو ټول پیریان او انسانان اولنی او آخرنی یوشان نیکان او پرهیزګاران جوړ شئ۔ نو ځما په بادشاهئ کښے ذرّه برابرهم زیاتے نهٔ شئ راوستلے۔ او کهٔ ټول پیریان او انسانان اولنی او آخرنی یوشان نافرمانه او نامنونکی شئ نو یوه ذرّه هم ځما په بادشاهئ کښے کمے نهٔ شئ راوستلے۔ اے ځما بندګانو! کهٔ تاسو ټول پیریان او انسانان اولنی او آخرنی په یو میدان کښے جمع شئ او خپل خپل حاجتونه او غواړئ او زهٔ د ټولو حاجتونه پوره کړم۔ نو ځما په خزانه کښے دومره هم کمے نهٔ کیږی څومره چه د ګنډلو ستن سمندر کښے ډوبه کړے شی او څومره لونده شی (او سمندر نه اوبه کمے شی) اے ځما بندګانو! دا ستاسو عملونه دی چه ما په احاطه کښے راوستی دی۔ د دے عملونو به تاسو ته پوره پوره جزا او بدله ملاویږی۔ پس چاته چه خیر او ښیګړه اورسی نو هغهٔ له پکار دی چه هغه د الله تعالیٰ شکر اوباسی۔ او که څهٔ خیر درته اونهٔ رسی او خفګان اورسی۔ نو د خپل ځان نه علاوه دِ بل څوک نهٔ ملامته کوی۔ سعید وائی چه ابوادریس خولانی چه کله دا حدیث بیانولو۔ نو په زنګنونو به پروت وُو۔ (مسلم) امام احمد بن حنبلؒ فرمائی چه په احادیثو کښے د ټولو نه اشرف او اعلیٰ حدیث د شامیانو په نزد هم دا حدیث دے۔ بل نشته۔

باب ۱۲

ف :- دے باب کښے یو آیت او پنځهٔ احادیث دی۔ هسے خو د انسان د ژوندئ په باره کښے څوک دا نشی وئیلے۔ چه کله به د هغهٔ د ژوندئ رنړا مړه کیږی۔ په دے وجه هر یو کس له د دے فکر کول پکار دی۔ چه هغه دِ د دے سوالی ژوندون یو ساعت هم ضائع نهٔ کړی۔ او همیشه دِ د نیکئ او ښیګړے او د الله تعالیٰ د یاد او د هغهٔ د رضا په پوره کولو کښے مشغول اُوسی۔ مګر هغه خلق چه د خپل طبعی عمر په آخری مرحلو کښے روان دی نو هغوئ له خو یوه یوه لمحه ګنړل پکار دی او هغوئ لره د آخرت په جوړولو او برابرولو کښے لګیدل پکار دی

---

[1] ای ارض واحدة ومقام واحد [2] المخیط "بکسر فسکون ففتح" الابرة - وهل تنقص الابرة البحر اذا دخلت فیه اللهم لا فکذلک اعطاء الله تعالیٰ لا ینقص خزائنه ∴

بَابُ الْحَثِّ عَلَى الْاِزْدِيَادِ مِنَ الْخَيْرِ فِيْ اَوَاخِرِ الْعُمُرِ!

دَ ژوندون په آخری مرحلوکښې دَ ښهٔ کارونو کولو ډیرولے او دهغې ترغیب

(قرآنی آیتونه)

۴۸- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1]: اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ النَّذِيْرُ" ؞

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَالْمُحَقِّقُوْنَ مَعْنَاهُ اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ سِتِّيْنَ سَنَةً وَيُؤَيِّدُهُ الْحَدِيْثُ الَّذِيْ سَنَذْكُرُهُ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَقِيْلَ: مَعْنَاهُ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ سَنَةً وَقِيْلَ: اَرْبَعِيْنَ سَنَةً قَالَهُ الْحَسَنُ وَالْكَلْبِيُّ وَمَسْرُوْقٌ وَنُقِلَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَيْضًا۔ وَنَقَلُوْا اَنَّ اَهْلَ الْمَدِيْنَةِ كَانُوْا اِذَا بَلَغَ اَحَدُهُمْ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً تَفَرَّغَ لِلْعِبَادَةِ۔ وَقِيْلَ هُوَ الْبُلُوْغُ وَقَوْلُهُ تَعَالٰى: وَجَآءَكُمُ النَّذِيْرُ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَالْجُمْهُوْرُ: هُوَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقِيْلَ: الشَّيْبُ قَالَهُ عِكْرِمَةُ وَابْنُ عُيَيْنَةَ وَغَيْرُهُمَا وَاللّٰهُ اَعْلَمُ ؞

۴۸- الله تعالیٰ ارشاد فرمائی: آیا مونږ تاسو ته دومره عمرنهٔ وو درکړے. که ځان مو پوهول غوښتل. نو ښهٔ پوهیدے شوئ. او تاسو ته ویرهٔ درکونکے هم راغلے وو اؤ نځ.

امام نووی فرمائی چه ابن عباسؓ او محققین علماء دَ دے تفسیر کوی. چه "اولم نعمرکم" نه مراد شپیتهٔ کاله عمر دے. ځکه چه آئنده حدیث کښې هم دَ دے تائید معلومیږی. دَ بعضو علماؤ نه اتلس کاله عمر هم نقل شوے دے. دَ امام حسنؒ. دَ امام کلبیؒ اودَ مسروق نه دَ څلویښتو کالو قول نقل شوے دے. دغه یو قول دَ ابن عباسؓ نه هم دَ دے موافق نقل شوے دے. دَ مدینے دَ خلقو یو طرز هم دغسے بیان کړے شوے دے. چه کله به دَ چا څلویښت کاله عمر پورهٔ شو. نو دَ عبادت او بندګۍ دپارهٔ به دَ نورو دنیاوی کارونو نه ځان اُوزګار کړو او بعضے علماؤ وئیلی دی چه دا صرف بلوغ ته وائی۔

دآیت کریمه دویم جزء "جاءکم النذیر" دَ دے متعلق ابن عباسؓ او جمهور علماؤ فرمائیلی دی. چهٔ دَ دے نه مراد رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دے۔ اودَ بعضو خیال دا دے چهٔ د دے نه مراد بوډاوالے دے، او دا قول دَ ابن عیینهؒ او عکرمهؒ وغیره دے۔

(نبوی احادیث)

۱۱۲- عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اَعْذَرَ اللّٰهُ اِلٰى امْرِئٍ اَخَّرَ اَجَلَهُ حَتّٰى بَلَغَ سِتِّيْنَ سَنَةً، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

قَالَ الْعُلَمَآءُ مَعْنَاهُ: لَمْ يَتْرُكْ لَهُ عُذْرًا اِذْ اَمْهَلَهُ هٰذِهِ الْمُدَّةَ. يُقَالُ: اَعْذَرَ الرَّجُلُ اِذَا بَلَغَ الْغَايَةَ فِي الْعُذْرِ ؞

۱۱۲- ابوهریرهؓ دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه بیان کوی چه هغهٔ وئیلی دی چه الله تعالیٰ دَ چا مرګ دَ شپیتو کالو عمر پورے وروستو کړو نو دَ هغهٔ عذرے ختم کړو (بخاری)

علماؤ دَ دے معنیٰ داسے بیان کړے ده. چه کله دے عمر ته اورسی. نو اوس دَ ده دپارهٔ څهٔ عذر باقی نهٔ پاتے کیږی. محاوره کښې "اعذر الرجل" وئیلے کیږی. چه مطلب ئے دا دے.

---

[1] سورة فاطر آية ۳۷ ؞

۱۱۳- عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُدْخِلُنِيْ مَعَ اَشْيَاخِ بَدْرٍ[1] فَكَاَنَّ بَعْضَهُمْ وَجَدَ فِيْ نَفْسِهٖ فَقَالَ: لِمَ يَدْخُلُ هٰذَا مَعَنَا وَلَنَا اَبْنَاءٌ مِثْلُهٗ فَقَالَ عُمَرُ: اِنَّهٗ مِنْ حَيْثُ عَلِمْتُمْ[2] فَدَعَانِيْ ذَاتَ يَوْمٍ فَاَدْخَلَنِيْ مَعَهُمْ فَمَا رَأَيْتُ اَنَّهٗ دَعَانِيْ يَوْمَئِذٍ اِلَّا لِيُرِيَهُمْ قَالَ: مَا تَقُوْلُوْنَ فِيْ قَوْلِ اللّٰهِ "اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ؟ فَقَالَ بَعْضُهُمْ: اُمِرْنَا نَحْمَدُ اللّٰهَ وَنَسْتَغْفِرُهٗ اِذَا نَصَرَنَا وَفَتَحَ عَلَيْنَا وَسَكَتَ بَعْضُهُمْ: فَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا. فَقَالَ لِيْ: اَكَذٰلِكَ تَقُوْلُ يَا ابْنَ عَبَّاسٍؓ؟ فَقُلْتُ: لَا قَالَ: فَمَا تَقُوْلُ؟ قُلْتُ: هُوَ اَجَلُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعْلَمَهٗ لَهٗ قَالَ: "اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ" وَذٰلِكَ عَلَامَةُ اَجَلِكَ "فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا" فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: مَا اَعْلَمُ مِنْهَا اِلَّا مَا تَقُوْلُ، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛

چه د عذر آخری مقام ته اورسید.

۱۱۳- ابن عباسؓ فرمائی. چه حضرت عمرؓ به خپل علمی مجلس ته چه کله د بدر بزرګان رااوغوښتل. نو زه ئے هم رااوغوښتلم. بعضے حضراتو دا مناسب اونه ګڼړل. نو وے وئیل چه دا کم عمرے "هلک" موږ سره مجلس کښے ولے کینوئ؟ څه موږ بچی او ماشومان هم په دے عمر کښے (د ده په شان) شته دے. حضرت عمرؓ چه دا واوریدل نو وے وئیل. چه ابن عباسؓ هم هغے خاندان نه یو کس دے. د کوم نه چه تاسو ته علم حاصل شوے دے. ابن عباسؓ وائی چه حضرت عمرؓ به خاص طور سره زهٔ راغوښتلم. او ټولو سره به ئے مجلس کښے کینولم. څما خیال دے. چه زهٔ به ئے مجلس کښے شریکولو له دے د پاره بللم. چه هغوئ ته ئے څما متعلق دا ښودل غوښتل (چه عمرے ئے کم دے. لیکن علمی اعتبار سره په دے مجلس کښے د شریکیدلو حق لری) بیا حضرت عمرؓ حاضرو خلقو نه پوښتنه اوکړه. چه د سورة "اذا جاء نصر الله" شانِ نزول ستاسو د علم مطابق څهٔ وُو؟ بعضو اووئیل چه د فتحے او نصرت نه پس موږ ته حکم راکړے شو. چه موږ د الله تعالیٰ ثنا وصفت بیان کړو. او د ګناهونو بخښنه ترے اوغواړو. بعضے حضرات چپ پاتے شول او هیڅ ئے اونهٔ وئیل. نو بیا حضرت عمرؓ ما نه پوښتنه اوکړه. چه اے ابن عباسؓ! ستاهم دا خیال دے؟ ما اووئیل نه. هغهٔ اووئیل. نو دے باره کښے ستا څهٔ رائے او خیال دے؟ ما اووئیل، چه د دے سورة نزول د رسول الله صلی الله علیه وسلم دُنیا نه د رخصت کیدو خبر ورکولو په طور دے. الله تعالیٰ د دے سورة په ذریعه هغهٔ له خبر ورکړے دے. نو ځکه ئے فرمائیلی دی. چه کله د الله تعالیٰ امداد راشی او فتح او کامیابی حاصله شی. نو د استاد دُنیا نه د سفر کولو علامه ده. نو اوس ته د خپل رب د صفتونو سره سره د هغهٔ پاکی هم بیانوه او بخښنه هم غواړه. بے شکه هغه توبه قبلونکے دے. حضرت عمرؓ چه دا واوریدل نو وے وئیل چه د دے نه بغیر نوره څهٔ خبره ماته هم معلومه نهٔ ده.

۱۱۴- عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ، مَا صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

۱۱۴- حضرت عائشهؓ فرمائی. چه د سورة "اذا جاء نصر الله" د نازلیدو نه

---

[1] ای یدخلنی مع اکابر غزوة بدر فی المشورة ومهمات الامور وقوله رضی الله عنه "وجد" ای غضب

[2] ای من انه رضی الله عنه من بیت النبوة ومنبع العلوم ومصدر الاراء السدیدة ؛

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلٰوةً بَعْدَ اَنْ نَزَلَتْ عَلَيْهِ: اِذَاجَآءَ نَصْرُاللّٰهِ وَالْفَتْحُ" اِلَّا يَقُوْلُ فِيْهَا سُبْحَانَكَ رَبَّنَا وَ بِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔ وَفِيْ رِوَايَةٍ فِى الصَّحِيْحَيْنِ عَنْهَا كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ اَنْ يَقُوْلَ فِيْ رُكُوْعِهٖ وَسُجُوْدِهٖ: سُبْحَانَكَ اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ يَتَاَوَّلُ الْقُرْاٰنَ۔ مَعْنٰى: "يَتَاَوَّلُ الْقُرْاٰنَ" اَىْ يَعْمَلُ مَا اُمِرَ بِهٖ فِى الْقُرْاٰنِ فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى، "فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ" وَفِيْ رِوَايَةٍ لِّمُسْلِمٍ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ اَنْ يَقُوْلَ قَبْلَ اَنْ يَّمُوْتَ سُبْحَانَكَ وَ بِحَمْدِكَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ قَالَتْ عَائِشَةُ: قُلْتُ: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ مَاهٰذِهِ الْكَلِمَاتُ الَّتِيْ اَرَاكَ اَحْدَثْتَهَا تَقُوْلُهَا؟ قَالَ: جُعِلَتْ لِيْ عَلَامَةٌ فِيْ اُمَّتِيْ اِذَا رَاَيْتُهَا قُلْتُهَا: "اِذَاجَآءَ نَصْرُاللّٰهِ وَ الْفَتْحُ اِلٰى اٰخِرِ السُّوْرَةِ۔ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهٗ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ مِنْ قَوْلِ: سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ قَالَتْ: قُلْتُ، يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَرَاكَ تُكْثِرُ مِنْ قَوْلِ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ؟ فَقَالَ: اَخْبَرَنِيْ رَبِّيْ اَنِّيْ سَاَرٰى عَلَامَةً فِيْ اُمَّتِيْ فَاِذَا رَاَيْتُهَا اَكْثَرْتُ مِنْ قَوْلِ، سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ فَقَدْ رَاَيْتُهَا: "اِذَاجَآءَ نَصْرُاللّٰهِ وَالْفَتْحُ"

فَتْحُ مَكَّةَ " وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ

پس رسول اکرم صلی الله علیه وسلم یو مونځ هم داسے نۀ دے کړے۔ چه هغهٔ به دغه مانځه کښے "سبحانك ربنا وبحمدك اللهم اغفرلی" نهٔ وی وئیلی. (بخاری ومسلم) او دَ دوی نه دا یو روایت هم نقل شوے دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به په قرآنی حکم باندے دَ عمل کولو دپاره اِذَا جَاءَ نصرالله وئیلو۔ دے نه پس به رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپله رکوع او سجده کښے دا دُعا ډیره ډیره وئیله، "سبحانك اللهم ربنا وبحمدک اللهم اغفرلی" او دَ مسلم په یو روایت کښے نور هم نۀ یاتے شته۔ چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دَ دُنیا نه دَ رخصتیدو په وخت ډیر ډیر دا کلمات وئیل۔ "سبحانك وبحمدك استغفرك واتوب الیك"

حضرت عائشه صدیقه رض فرمائی چه ما اووئیل یا رسول الله! تا په نوی کلما تو وئیلو باندے وینم چه ته ئے وائے۔ دا څهٔ وائے؟ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه ما دپاره یوه علامه مقرر شوے ده۔ ما دپاره څما په اُمت کښے یوه علامه مقرر شوے ده کله چه زهٔ هغه علامه اووینم نو دَ دغے کلما تو وظیفه به کوم۔ هغه علامه "اذاجاء نصرالله" دے۔ او په یو روایت دَ مسلم کښے داسے راغلی دی۔ چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به دا کلمات "سبحان الله وبحمده۔ استغفرالله واتوب الیه" ډیر ډیر وئیل۔ حضرت عائشه وائی ما عرض اوکړو۔ یا رسول الله! زهٔ وینم چه تاسو دا کلمات "سبحان الله وبحمده استغفرالله واتوب الیه" نن صبا ډیر ډیر وایئ۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه ما ته الله تعالیٰ ښودلی دی چه قریبه ده چه په خپل اُمت کښے به یوه نخښه ښکاره اووینم۔ نو کله چه تهٔ هغه علامه اووینے۔ نو دا کلمات ډیر ډیر وایه۔

فِيْ دِيْنِ اللهِ أَفْوَاجًا ، فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا " ؛

او ما هغه علامه ليدلے ده (چه هغه د سورة النصر په صورت کښے ده) کله چه د الله امداد او کاميابي راشي. او ته به خلق اووينے چه دين کښے فوجونه فوجونه (او ډلے ډلے) داخليږي. نو دغه وخت دخپل رب صفت او پاکي بيانوه. او د هغهٔ نه د ګناهونو بخښنه غواړه. يقيناً هغه توبه قبلونکے دے.

؛ وَالْفَتْحُ ؛ يعني فتحه د مکے مکرمے.

۱۱۵ - عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ تَابَعَ الْوَحْيَ عَلىٰ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ وَفَاتِهِ حَتّٰى تُوُفِّيَ أَكْثَرَ مَا كَانَ الْوَحْيُ عَلَيْهِ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۱۱۵ - انس بن مالک رض نه روايت دے. فرمائي چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات نه مخکښے د مخکښے په نسبت، الله تعالىٰ په کثرت سره پے درپے په هغوئ وحي رالوليږله، تردے پورے (دغه پے درپے وحي وه) چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفات شو. (بخاري ومسلم)

۱۱۶ - عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُبْعَثُ كُلُّ عَبْدٍ عَلىٰ مَا مَاتَ عَلَيْهِ" [1] رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۱۱۶ - جابر رض نه روايت دے. چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه د قيامت په ورځ به هر يو کس هغه حالت کښے پاسي کوم حالت کښے چه هغه مړ شوے وي. (مسلم)

باب ۱۳

ف :- دے باب کښے څلور [4] آيتونه او پنځويشت [25] حديثونه دي. مصنف رح فرمائي. چه دے باب کښے د حديثونو ذخيره بے شماره او بے حده ده. نو مونږ د اختصار په طور څهٔ حصه دے کتاب کښے شامله کړه. دے خبره کښے شک نشته چه د انسان د اخروي کاميابئ دارومدار په دوو خبرو باندے دے. ۱- صحيح عقيده ۲- عبادات او د عباداتو يوه حصه نيک عملونه دي. نو دوئمه حصه ئے معاملات دي او په يو حيثيت سره عام معاملات د عباداتو نه هم اهم او ضروري دي. ځکه چه په عباداتو کښے کمے او نقصان راشي نو الله تعالىٰ ئے د معاف کولو وعده کړے ده. ليکن معاملاتو کښے د خرابے معاملے معافي ئے د معاملے خاوند ته حواله کړے ده. مګر د افسوس او د خفګان خبره داده. چه مسلمان څومره زور عقيدے او علمو عباداتو او نيکو عملونو ته ورکوي. هغومره د عبادت په يوه اهمه حصه معاملاتو کښے غفلت کوي. ډير مسلمانان خو دا هډو پيژني هم نه. چه معاملات هم د دين يوه حصه، او آخرت کښے د خلاصي په عملونو کښے يو اهم او غټ عمل هم دے. دے باب کښے چه کوم حديثونه دي د هغے مطالعه به تاسو په غور سره اوکړئ نو د هر يو خير کار او عمل په ترغيب کښے به معاملاتي اړخ هم واضحه او ښکاره په نظر راځي.

بَابٌ فِيْ بَيَانِ كَثْرَةِ طُرُقِ الْخَيْرِ

د اعمالِ صالحه (نيکو عملونو) د ډيرو طريقو بيان ....

---

[1] في الحديث التحريض على حسن العمل وملازمة السنن المحمدي في جميع الاحوال، والاخلاص لله تعالىٰ في الاقوال والاعمال ليموت على تلك الحال الحميدة فيبعث كذلك نسأل الله تعالىٰ حسن الخاتمة ؛

(قرآنی آیتونه)

۴۹ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[1]: وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ" ؛

۵۰ - وَقَالَ تَعَالٰی[2]: وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ يَّعْلَمْهُ اللّٰهُ" ؛

۵۱ - وَقَالَ تَعَالٰی[3]: فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ" ؛

۵۲ - وَقَالَ تَعَالٰی[4] مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ" وَالْاٰيَاتُ فِي الْبَابِ كَثِيْرَةٌ ؛

وَاَمَّا الْاَحَادِيْثُ فَكَثِيْرَةٌ جِدًّا وَهِيَ غَيْرُ مُنْحَصِرَةٍ فَنَذْكُرُ طَرَفًا مِنْهَا ؛

۴۹ - دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. دَ نیکۍ چه تاسو کوم یو کار کوئ. په هغې باندے الله تعالیٰ ښهٔ خبر دے. (پ۲ بقره)

۵۰ - دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. تاسو چه کومه یوه نیکی کوئ. هغه الله ته ښه معلومه ده. (پ۲ بقره)

۵۱ - دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. څوک چه دَ ذرّے هومره نیکی کوی هغه به دَ قیامت په ورځ اُووینی. (پ۳۰ زلزال)

۵۲ - دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. کوم کس چه نیک عمل کوی نو خپلے فائدے دپاره ئے کوی. (پ۲۵ جاثیه) دے باب کښے نور هم ډیر آیتونه شته دے. او حدیثونه پکښے دومره دی چه ټول لیکل او جمع کول مشکل دی. نو ځکه یو څو حدیثونه مونږ بیانوو.

(نبوی احادیث)

۱۱۷ - **عَنْ** اَبِیْ ذَرٍّ جُنْدُبِ بْنِ جُنَادَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَیُّ الْاَعْمَالِ اَفْضَلُ[5]؟ قَالَ: الْاِيْمَانُ بِاللّٰهِ وَالْجِهَادُ فِیْ سَبِيْلِهٖ. قُلْتُ: اَیُّ الرِّقَابِ اَفْضَلُ؟ قَالَ: اَنْفَسُهَا عِنْدَ اَهْلِهَا وَاَكْثَرُهَا ثَمَنًا. قُلْتُ: فَاِنْ لَّمْ اَفْعَلْ؟ قَالَ: تُعِيْنُ صَانِعًا اَوْ تَصْنَعُ لِاَخْرَقَ. قُلْتُ: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَرَاَيْتَ اِنْ ضَعُفْتُ عَنْ بَعْضِ الْعَمَلِ؟ قَالَ: تَكُفُّ شَرَّكَ عَنِ النَّاسِ فَاِنَّهَا صَدَقَةٌ مِنْكَ عَلٰی نَفْسِكَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

"الصَّانِعُ" بِالصَّادِ الْمُهْمَلَةِ هٰذَا هُوَ الْمَشْهُوْرُ وَرُوِیَ "ضَائِعًا" بِالْمُعْجَمَةِ اَیْ ذَا ضَيَاعٍ مِنْ فَقْرٍ اَوْ عِيَالٍ وَنَحْوِ ذٰلِكَ" وَ"الْاَخْرَقُ" الَّذِیْ لَا يُتْقِنُ مَا يُحَاوِلُ فِعْلَهٗ ؛

۱۱۷ - ابوذر جندب بن جناده رض وائی. چه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو. چه کوم یو عمل ډیر ښهٔ دے نو دے وئیل چه په الله باندے ایمان لرل او دَ الله په لار کښے جهاد کول. بیا ما عرض اوکړو چه کوم یو غلام آزادول ډیر ښهٔ دی. نو دے وئیل چه هغه غلام چه ګران قیمته او مالک ته ډیر ګران او محبوب وی. ما عرض اوکړو. که زهٔ داسے نهٔ شم کولے نو بیا؟ نو دے وئیل چه چا سره دَ هغهٔ په کار کښے امداد اوکړه. که یو کس په کار نهٔ پوهیږی نو هغه ورله جوړ کړه. ما اووئیل یا رسول الله! که زهٔ دغه کار نهٔ شم کولے؟ نو ستاسو څهٔ خیال دے؟ نو دے وئیل چه دَ خپل شر نه خلق بچ اوساته. ځکه چه ستا دپاره داهم نیکی او صدقه ده. (بخاری ومسلم)

"الصَّانِعُ" کارکوونکے یا جوړوونکے. یو روایت دے. ضَائِعًا، یعنی محتاج یا حاجتمند چه دَ هغې سبب غریبي وی. یا دَ

---

[1] سورة البقرة آیة ٢١٥ [2] سورة البقرة آیة ١٩٧ [3] سورة الزلزلة آیة ٧

[4] سورة الجاثیة آیة ١٥ [5] ای اکثر ثوابا عندالله تعالیٰ ؛

بال بچ ډیروالے وی یا بله څهٔ وجه وی۔

۞ "أخرق": چه خپل کار باندے ئے پوره یقین نهٔ وی۔ یا پرے پوهیږی نهٔ۔

۱۱۸- عَنْ أَبِيْ ذَرٍّ أَيْضًا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يُصْبِحُ عَلٰى كُلِّ سُلَامٰى مِنْ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ فَكُلُّ تَسْبِيْحَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَحْمِيْدَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَهْلِيْلَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَكْبِيْرَةٍ صَدَقَةٌ، وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوْفِ صَدَقَةٌ وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ وَمِنْ ذٰلِكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُمَا مِنَ الضُّحٰى" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ۞

"السُّلَامٰى" بِضَمِّ السِّيْنِ الْمُهْمَلَةِ وَتَخْفِيْفِ اللَّامِ وَفَتْحِ الْمِيْمِ: الْمِفْصَلُ ۞

۱۱۸- دغسے روایت دے د ابوذر رضی الله عنهم. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو چه دے حال کښے به تاسو صبا کیږی چه د هر یو جوړ په بدله کښے به تاسو باندے صدقه لازمیږی۔ (چه د هغې به اداء کولو سره خپله ذمه اوږګا روُل پکار دی. واوری۔ هر ځل" سبحان الله" وئیل صدقه ده. "لا اله الا الله وئیل صدقه ده۔ او "الله اکبر" وئیل صدقه ده۔ د خیر او د نیکئ خبره کول صدقه ده۔ د بدو خبرو نه ځان ساتل صدقه ده۔ او اشراق یعنی څاختی وخت کښے دوه رکعته مونځ کول د دے ټولو جوړونو د پاره کافی صدقه ده۔ (مطلب دا دے۔ چه د سحر پاڅید وسره د هر هر جوړ په بدله کښے چه کومه صدقه کول واجب وُو۔ نو کهٔ چا د څاختی دوه رکعته نفل اوکړل نو هغه واجب شوے صدقه اداء کړے شوه۔ او یائے سحر نه پس" سبحان الله الحمد لله، الله اکبر او لا اله الا الله وظیفه اوکړه۔ نو هم صدقه اداء شوه۔ (مسلم)

۞ سُلامٰی: د بدن جوړونه او بندونه۔

۱۱۹- عَنْهُ قَالَ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عُرِضَتْ عَلَيَّ أَعْمَالُ أُمَّتِيْ حَسَنُهَا وَسَيِّئُهَا فَوَجَدْتُ فِيْ مَحَاسِنِ أَعْمَالِهَا الْأَذٰى يُمَاطُ عَنِ الطَّرِيْقِ[51] وَوَجَدْتُ فِيْ مَسَاوِيْ أَعْمَالِهَا النُّخَاعَةَ تَكُوْنُ فِي الْمَسْجِدِ لَا تُدْفَنُ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ۞

۱۱۹- ابوذر رض وائی چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وئیلی دی چه ځما د اُمت د عملونو فهرست او شمار ځما په وړاندے پیش کړے شو (چه هغے کښے ښودلے شوی وُو. چه ځما اُمت به څهٔ څهٔ کار کوی۔ او ښهٔ ښهٔ کارونه ئے کوم کوم دی۔ او بد کارونه ئے کوم کوم دی) نو د ښو ښو کارونو په فهرست کښے د لارے نه تکلیف رسونکی څیزونه اوچتول هم وُو۔ او د بدو کارو په فهرست کښے لاړے توکل په مسجد کښے او نهٔ صفا کول هم شامل وُو۔ (مسلم)

۱۲۰- عَنْهُ أَنَّ نَاسًا قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ذَهَبَ: أَهْلُ الدُّثُوْرِ بِالْأُجُوْرِ يُصَلُّوْنَ كَمَا نُصَلِّيْ وَيَصُوْمُوْنَ كَمَا نَصُوْمُ وَيَتَصَدَّقُوْنَ بِفُضُوْلِ أَمْوَالِهِمْ[52] قَالَ: "أَوَلَيْسَ قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ مَا تَصَدَّقُوْنَ بِهٖ: إِنَّ بِكُلِّ تَسْبِيْحَةٍ

۱۲۰- ابوذر رض دا روایت هم کوی۔ چه بعضے صحابه کرامو رض عرض اوکړو۔ یا رسول الله! چه مالدارانو ډیر ثوابونه واخستل. مونږ هم مونځونه کوُو۔ هغوی ئے هم کوی۔ ځمونږ پشان روژے هم نیسی۔ او د زیاتی مال نه صدقه هم کوی۔ (او مونږ سره مال نشته.

---

[51] "یماط" بالبناء للمفعول ای ینحی عنه لئلا یؤذی المارة

[52] ای باموالهم الفاضلة عن کفایتهم

صَدَقَةٌ، وَكُلِّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةٌ، وَكُلِّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلِّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةٌ وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ، وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ، وَفِي بُضْعِ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ ـله" قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! أَيَأْتِي أَحَدُنَا شَهْوَتَهُ وَيَكُونُ لَهُ فِيهَا أَجْرٌ؟ قَالَ: "أَرَأَيْتُمْ ـعه لَوْ وَضَعَهَا فِي حَرَامٍ أَكَانَ عَلَيْهِ وِزْرٌ؟ فَكَذٰلِكَ إِذَا وَضَعَهَا فِي الْحَلَالِ كَانَ لَهُ أَجْرٌ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞

"الدُّثُورُ" بِالثَّاءِ الْمُثَلَّثَةِ: الْأَمْوَالُ وَاحِدُهَا دَثْرٌ ؞

نو مونږ صدقه نشو کولے. نو د مونځونو او روژو برابر سره صدقه کولو باندے هغوئ ثواب ډیر اوګټلو) نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. ولے تاسو الله تعالیٰ د صدقے کولو د څیزونو نه محروم کړي یئ؟ (بالکل نه. واورئ) "سبحان الله" وئیل صدقه ده. "الحمد لله" وئیل ځان له صدقه ده. "الله اکبر" وئیل جدا صدقه ده. "لآ اله الا الله" وئیل بیله صدقه ده. هره یوه د نیکئ او د خیر خبره کول هم صدقه ده. او د بدو خبرو نه ځان ساتل هم صدقه ده. د بی بی سره کور والے کول هم صدقه ده. صحابو رض عرض اوکړو. دے سره خو مونږ خواهش پوره کوو. دے کښې هم اجر وثواب شته؟ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه او بنایئ یو کس حرامے طریقے سره خپل خواهش پوره کوی. نو دغه کس ګناهګار دے که نه؟ کله چه حرام طریقے سره خپلو خواهشاتو پوره کولو کښې ګناه ده نو حلالے طریقے سره به پکښې ثواب ولے نه وی. (مسلم)

؞ "اَلدُّثُوْرُ": یعنی ډیر مال او دولت

١٢١- عَنْهُ. قَالَ قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلِيقٍ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞

۱۲۱- دا روایت هم د ابوذر رض نه دے. چه ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل د خیر او د نیکئ معمولی نه معمولی خبره هم سپکه، وړه او کمه مه ګڼړئ. اګرچه د خپل ورور سره په رونړ او فراخه تندی (مسلم) سره مخامخ شې (نو دا هم کم مه ګڼره)

١٢٢- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كُلُّ سُلَامَى مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ فِيهِ الشَّمْسُ: تَعْدِلُ بَيْنَ الْاثْنَيْنِ صَدَقَةٌ، وَتُعِينُ الرَّجُلَ فِي دَابَّتِهِ فَتَحْمِلُهُ عَلَيْهَا أَوْ تَرْفَعُ لَهُ عَلَيْهَا مَتَاعَهُ صَدَقَةٌ، وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ، وَبِكُلِّ خُطْوَةٍ تَمْشِيهَا إِلَى الصَّلٰوةِ صَدَقَةٌ، وَتُمِيطُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

۱۲۲- د ابوهریره رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. هره ورځ چه نمر خیژی. په هر انسان د یو یو جوړ په بدل کښې صدقه کول واجبیږی - د دوو کسانو ترمینځه انصاف کول صدقه ده. چه څوک په خپله سورلئ سوریدلے نشی هغه سره سورلئ باندې خیژولو کښې امداد کول صدقه ده. چا سره سورلئ نه بوجه خیژول او اوچتول صدقه ده. ښې خبرے کول هم صدقه ده مانځه ته د تلو د پاره قدمونه اخیستل هم صدقه ده. او د لارے نه تکلیف ورکونکے څیز اوچتول

ـله البضع "بضم الموحدة وسكون الضاد المعجمة آخره عين مهملة": الجماع

ـله "بوجه طليق" اى بوجه ضاحك مستبشر وذلك لما فيه من ايناس الاخ ودفع الايحاش عنه وجبر خاطره وبذلك يحصل التالف المطلوب بين المؤمنين ؞

هم صدقه ده (بخاري ومسلم) - ؛

وَزَادَ مُسْلِمٌ اَيْضًا مِنْ رِوَايَةِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اِنَّهُ خُلِقَ كُلُّ اِنْسَانٍ مِنْ بَنِيْ اٰدَمَ عَلٰى سِتِّيْنَ وَثَلَاثِمِائَةِ مِفْصَلٍ، فَمَنْ كَبَّرَ اللّٰهَ وَحَمِدَ اللّٰهَ وَهَلَّلَ اللّٰهَ وَسَبَّحَ اللّٰهَ وَسْتَغْفَرَ اللّٰهَ وَعَزَلَ حَجَرًا عَنْ طَرِيْقِ النَّاسِ اَوْ شَوْكَةً اَوْ عَظْمًا عَنْ طَرِيْقِ النَّاسِ اَوْ اَمَرَ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ نَهٰى عَنْ مُنْكَرٍ عَدَدَ السِّتِّيْنَ وَالثَّلَاثِمِائَةِ فَاِنَّهُ يَمْشِيْ يَوْمَئِذٍ وَقَدْ زَحْزَحَ نَفْسَهُ عَنِ النَّارِ ؛

او دا حدیث امام مسلم د حضرت عائشې رض نه روایت کړے دے۔ چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه بني ادم د درے سوه شپیتهٔ جوړونو نه جوړ شوے دے۔ نو کوم کس چه "الله اکبر، الحمد لله لا اله الا الله، سبحان الله او استغفر الله" وائي یا د خلقو د لارے نه کانړے، ازغے، هډوکے وغیره لرے کړي۔ یا خلقو ته د خیر او د نیکۍ خبره اوښایي۔ او د بدونه ئې منع کوي۔ او د دے ټولو کلماتو تعداد درے سوه او شپیتهٔ پوره شي۔ نو دغه ورځ دهٔ د پاره داسے شي چه بس د ځان نه ئې اور لرے کړو۔ او د خپلو ټولو جوړونو صدقه ئې اداء کړه - (مسلم)

۱۲۳- **عَنْهُ** عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ غَدَا اِلَى الْمَسْجِدِ اَوْ رَاحَ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ نُزُلًا كُلَّمَا غَدَا اَوْ رَاحَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

"النُّزُلُ" اَلْقُوْتُ وَالرِّزْقُ وَمَا يُهَيَّأُ لِلضَّيْفِ ؛

۱۲۳ - دا روایت هُم د ابو هریرة رض دے چه نبي صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه څوک صبا او ماښام مانځهٔ د پاره جُمات ته ځي۔ نو الله تعالی هغهٔ د پاره جنت کښې د میلمستیا تیارے کوي هر سحر او ماښام۔ (بخاري ومسلم)

نُزُلًا : روزي، رزق او اسباب د میلمستیا۔

۱۲۴- **عَنْهُ** قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا نِسَاءَ الْمُسْلِمَاتِ لَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ فِرْسِنَ[1] شَاةٍ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۱۲۴ - دا روایت هم د ابو هریرة رض دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ښځو ته اوفرمائیل۔ چه اے مسلمانانو بیبیانو کومه ګاونډی چه ګاونډی له څه تحفه او صدقه ورکوي یا ئې لیږي نو هغه خیز د سپک نهٔ ګنړي۔ اګر که د اوښ یا د ګډے بیزے خپرے یا خپے ولے نهٔ وي۔ (بخاري ومسلم)

قَالَ الْجَوْهَرِيُّ : اَلْفِرْسِنُ مِنَ الْبَعِيْرِ كَالْحَافِرِ مِنَ الدَّابَّةِ قَالَ وَرُبَّمَا اسْتُعِيْرَ فِي الشَّاةِ ؛

فِرْسَنٌ : جوهري رح وائي چه فرسن د اوښ د خپے خپرے ته وائي۔ چه د تللو په وخت په زمکه لګي۔ مګر ګډے بیزے له هم استعمالولے شي۔

۱۲۵- **عَنْهُ** عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اَلْاِيْمَانُ بِضْعٌ وَ

۱۲۵ - دغه د ابو هریرة رض نه روایت دے۔ چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل

---

[1] اى لا تمنع جارة من الصدقة والهدية لجارتها لاستقلالها واحتقارها الموجود عندها بل تجود بما تيسر وان كان قليلا كفرسن الشاة فهو خير من العدم قال تعالى "فمن يعمل مثقال ذرة خيرا يره" ؛

سَبْعُوْنَ اَوْ بِضْعٌ وَسِتُّوْنَ، شُعْبَةً: فَاَفْضَلُهَا قَوْلُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَدْنَاهَا اِمَاطَةُ الْاَذٰى عَنِ الطَّرِيْقِ وَالْحَيَآءُ شُعْبَةٌ مِّنَ الْاِيْمَانِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ::

"اَلْبِضْعُ" مِنْ ثَلَاثَةٍ اِلٰى تِسْعَةٍ بِكَسْرِ الْبَآءِ وَقَدْ تُفْتَحُ - "وَالشُّعْبَةُ": اَلْقِطْعَةُ ::

چه دَ ايمان څهٔ دپاسه اويا يا څهٔ دپاسه شپيته ښاخونه دی. بس د يکښې دَ ټولو نه بهتر او افضل کلمه طيبه يعنی لا اله الا الله ويئل دی. او دَ ټولونه دَ کمې درجې ثواب والا خيز دَ لارې نه تکليف رسونکے خيز لرے کول دی. او حيا هم دَ ايمان يوه حصه ده. (بخاری ومسلم)

بِضْعٌ: دَ درېونه نهو پورے شمارته وئيلے شي. "شُعْبَةٌ": ټکړه. حصه. جزء. او "بِضْعَ" لفظ دَ قرآن مجيد کښې دَ حضرت يوسف عليه السلام په قصه کښې هم راغلے دے. هلته دَ مفسرينو په اتفاق سره "بِضْعَ" اووهٔ عدد متعين کړے دے. او بل ځائے سورة "روم" کښې دا لفظ راغلے دے. هلته هم دَ اووه عدد متعين شوے دے. ځکه چه روميانو به اووم کال د شکست نه پس په فارس والاؤ باندے غلبه بياموندلے وه.

١٢٦- عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِيْ بِطَرِيْقٍ اشْتَدَّ عَلَيْهِ الْعَطَشُ فَوَجَدَ بِئْرًا فَنَزَلَ فِيْهَا فَشَرِبَ ثُمَّ خَرَجَ فَاِذَا كَلْبٌ يَلْهَثُ [1] يَأْكُلُ الثَّرٰى مِنَ الْعَطَشِ فَقَالَ الرَّجُلُ: لَقَدْ بَلَغَ هٰذَا الْكَلْبَ مِنَ الْعَطَشِ مِثْلُ الَّذِيْ كَانَ قَدْ بَلَغَ مِنِّيْ فَنَزَلَ الْبِئْرَ فَمَلَاَ خُفَّهٗ مَآءً ثُمَّ اَمْسَكَهٗ بِفِيْهِ حَتّٰى رَقِيَ فَسَقَى الْكَلْبَ فَشَكَرَ اللّٰهُ لَهٗ فَغَفَرَ لَهٗ قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ لَنَا فِي الْبَهَائِمِ اَجْرًا؟ فَقَالَ: فِيْ كُلِّ كَبِدٍ رَطْبَةٍ اَجْرٌ [2] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ: فَشَكَرَ اللّٰهُ لَهٗ فَغَفَرَ لَهٗ فَاَدْخَلَهُ الْجَنَّةَ" وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهُمَا: بَيْنَمَا كَلْبٌ يُطِيْفُ بِرَكِيَّةٍ قَدْ كَادَ يَقْتُلُهُ الْعَطَشُ اِذْ رَاَتْهُ بَغِيٌّ مِّنْ بَغَايَا بَنِيْ اِسْرَآئِيْلَ فَنَزَعَتْ مُوْقَهَا

١٢٦- دا روايت هم دَ ابوهريرةؓ دے. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه يو سړے چرته روان وو. لاره کښې تږے شو. نو يو کوهی له راغے. ورکوز شو او اوبهٔ ئے اوسکلې. چه بيا راوختلو نو يو سپے ئے اوليدو چه دَ تندے نه ئے ژبه راويستے وه. او دَ تندے نه ئے دَ کوهی په خوا کښې هغه خټه څټله. دے سړی چه اوليدل نو سوچ ئے اوکړو. چه څنګه زهٔ تږے وم دغسے دا سپے هم تږے دے. نو کوهی ته کوز شو. خپله دَ څرمنې موزه ئے دَ اوبو نه ډکه کړه. او موزه ئے خپله خوله کښې اونيوله چه اوبه ترے توئے نشی او دَ کوهی نه راوختلو. او اوبه ئے په سپی باندے اوڅکلې. الله تعالیٰ دَ دے عمل په وجه په هغهٔ مهربانی اوکړه. او هغه ئے اوبخښلو. صحابوؓ عرض اوکړو. آيا مونږ ته به دَ ځنا ورو سره په ښهٔ سلوک کولو باندے اجر و ثواب ملاويږی نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل: چه هر ژوندی څيز سره ښهٔ سلوک کولو باندې ثواب ملاويږی. (بخاری ومسلم)

---

[1] "يلهث" اى يخرج لسانه من شدة العطش والثرى: التراب الندى.

[2] اى فى ارواء كل حى ثواب. وفى الحديث الاحسان الى الحيوان المحترم وهو ما لا يامر بقتله ::

فَاسْتَقَتْ لَهُ بِهِ فَسَقَتْهُ فَغُفِرَ لَهَا بِهِ ⁘
"الْمُوْقُ": الْخُفُّ "وَيُطِيْفُ" يَدُوْرُ حَوْلَ "رَكِيَّةٍ" وَهِيَ الْبِئْرُ ⁘

د بخاري په روایت کښې دي. چه الله تعالیٰ په هغه رحمت اوکړو. هغه ته ئې بخښنه اوکړه او هغه ئې جنت ته داخل کړو لو بخاري او مسلم دواړو کښې داسے هم روایت دی. چه د غه دوران او موقعه کښې یو سپے د کوهی نه ګیر چاپیره ګرزیدو. او د زیاتے تندے نه مرګ ته نزدے وو. د بنی اسرائیلو یوے سرکښې زناکارې ښځې هغه سپے اولید لو. خپله موزه ئې اوویستله او د کوهی نه ئے اوبه را اُویستلے او سپی له ئے ورکړے. پس دے عمل سره هغه الله تعالیٰ او بخښله (بخاري ومسلم)

اَلْمُوْقُ - موزه - رَکِیَّةٌ - کوهی - یُطِیْفُ - کیر چاپیره ګرزیدل.

۱۲۷- عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَقَدْ رَأَيْتُ رَجُلًا يَتَقَلَّبُ فِي الْجَنَّةِ فِي شَجَرَةٍ قَطَعَهَا مِنْ ظَهْرِ الطَّرِيْقِ كَانَتْ تُؤْذِي الْمُسْلِمِيْنَ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ،
وَفِي رِوَايَةٍ - مَرَّ رَجُلٌ بِغُصْنِ شَجَرَةٍ عَلَى ظَهْرِ طَرِيْقٍ فَقَالَ: وَاللهِ لَأُنَحِّيَنَّ هٰذَا عَنِ الْمُسْلِمِيْنَ لَا يُؤْذِيْهِمْ فَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ.
وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيْقٍ وَجَدَ غُصْنَ شَوْكٍ عَلَى الطَّرِيْقِ فَأَخَّرَهُ فَشَكَرَ اللهُ لَهُ فَغَفَرَ لَهُ" ⁘

۱۲۷ - ابوهریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه ما یو سړے د خپل یو عمل په وجه جنت کښې په ګرځیدلو اولیدو. چه هغهٔ د لارے نه یو داسے ونه پریکړے وه. چه مسلمانانو ته په تیریدو کښې د تکلیف باعث شوے وه. (مسلم) او یو روایت کښې داسے هم راغلی دی. چه یو سړے لاره باندې تیریدلو. هلته ئې د ونے یو ښاخ اولیدلو چه د لارے مینځ ته راغلے وو. هغهٔ اووئیل چه والله دا ښاخ به د مسلمانانو د لارے نه لرے کوم چه خلقو ته تکلیف نهٔ وی. نو دے عمل سره هغه جنت کښې داخل کړے شو.

او د بخاري او د مسلم په روایت کښې راځی. چه یو سړے په لاره تیریدو هلته لاره کښې ئې یو ازغن ښاخ پروت اولید و چه هغه ئې د لارے نه اوچت کړو. نو الله تعالیٰ ته دا عمل خوښ شو او قبول ئې اوفرمائیلو او هغهٔ ته ئې بخښنه اوکړه.

۱۲۸- عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَمَنْ مَسَّ الْحَصَا فَقَدْ لَغَا"
رَوَاهُ مُسْلِمٌ ⁘

۱۲۸- بل روایت دے د ابوهریرةؓ نه. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه.... کوم کس په ښهٔ طریقے سره اودس اوکړو. بیا د جمعے مانځه له لاړو. او هلته چپ پاتے شو او خطبه ئے واوریده. نو د یوے جمعے نه د بلے جمعے پورے ئے ګناهونه معاف شول. بلکه د درے ورځے نورے هم معاف کړلے شی. او چا چه خطبه کښې د وړو ګیټکو سره لوبے کړلے. نو هغهٔ بے هوده حرکت اوکړو. (مسلم)

۱۲۹- عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ" إِذَا تَوَضَّأَ الْعَبْدُ الْمُسْلِمُ، أَوِ الْمُؤْمِنُ فَغَسَلَ وَجْهَهُ خَرَجَ مِنْ وَجْهِهِ كُلُّ خَطِيْئَةٍ

۱۲۹- دا روایت هم د ابوهریرة رضی نه دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو. چه کله مسلمان یا مؤمن بنده اودس کوی. او مخ اووینځی. نو د اوبو سره

نَظَرَ اِلَیْهَا بِعَیْنَیْهِ مَعَ الْمَآءِ، اَوْمَعَ اٰخِرِ قَطْرِ الْمَآءِ، فَاِذَا غَسَلَ یَدَیْهِ خَرَجَ مِنْ یَدَیْهِ کُلُّ خَطِیْئَةٍ کَانَ بَطَشَتْهَا یَدَاهُ مَعَ الْمَآءِ، اَوْمَعَ اٰخِرِ قَطْرِ الْمَآءِ حَتّٰی یَخْرُجَ نَقِیًّا مِنَ الذُّنُوْبِ فَاِذَا غَسَلَ رِجْلَیْهِ خَرَجَتْ کُلُّ خَطِیْئَةٍ مَشَتْهَا رِجْلَاهُ مَعَ الْمَآءِ اَوْمَعَ اٰخِرِ قَطْرِ الْمَآءِ حَتّٰی یَخْرُجَ نَقِیًّا مِنَ الذُّنُوْبِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

ذهغهٔ دَ سترګو نه شوی ګناهونه اوو ینځلے شی. یا ئے اوویئیل چه دَ اوبو آخری څاڅکی سره اُوځی. اوکله چه لاس وینځی نو دَ لاس نه شوی ګناهونه وینځلے شی. دَ اوبو سره یا دَ اوبو آخری څاڅکی سره اُوځی. تردے چه دَ وړو ګناهونو نه بالکل پاک شی. اوکله چه خپے وینځی نو دَ خپو په ذریعه ئے چه کومه ګناه کړے وی دَ اوبو سره یا دَ اوبو آخری څاڅکی سره اوځی. تردے چه دَ ګناهونو نه پاک شی.

(مسلم)

۱۳۰- عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اَلصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ وَالْجُمُعَةُ اِلَی الْجُمُعَةِ، وَ رَمَضَانُ اِلٰی رَمَضَانَ مُکَفِّرَاتٌ لِمَا بَیْنَهُنَّ اِذَا اجْتُنِبَتِ الْکَبَآئِرُ"

رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۱۳۰- دا روایت هم دَ ابوهریرهؓ نه شوے دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. کهٔ یو سړے دَ غټو ګناهونو نه ځان اوساتی. نو پینځه وخته مونځونو ترمینځه او یوے جُمعے نه تر بلے جُمعے پورے او یوے روژے نه بلے روژے پورے څومره زمانه چه ګناهونه شوی وی. نو دا دَ معافی کیدو ذریعه اوسبب جوړشي. (مسلم)

۱۳۱- عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: اَلَا اَدُلُّکُمْ عَلٰی مَا یَمْحُو اللّٰهُ بِهِ الْخَطَایَا وَیَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟ قَالُوْا: بَلٰی یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ: اِسْبَاغُ الْوُضُوْءِ عَلَی الْمَکَارِهِ [1] وَکَثْرَةُ الْخُطَا اِلَی الْمَسَاجِدِ، وَانْتِظَارُ، الصَّلٰوةِ بَعْدَ الصَّلٰوةِ فَذٰلِکُمُ الرِّبَاطُ [2]

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۱۳۱- دا روایت هم دَ ابوهریرهؓ نه شوے دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. آیا زهٔ تاسوته داسے یوڅیز اونهٔ بنایم. چه ستاسو ګناه معاف کړی. او ستاسو مرتبے اوچتے کړی. صحابه کرامؓ عرض اوکړو. یا رسول الله! ضرور اوبنایئ. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه پوره طریقے سره اودس کول دَ ناخوښه او تکلیف ورکونکو خبرو باوجود مثلاً دَ سختے یخنئ په وخت، چه په دے وخت په بدن اوبهٔ لګیدل تکلیف ورکوی. او ډیر ډیر قدمونه اخستل، جوماعتونو ته تلل. او دَ یو مانځه نه پس دَ بل مانځه انتظار کول. دا ستاسو دپاره داسے دی لکه جهاد کول. (مسلم) دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم خصوصی توجه ورکولو سره ارشاد

---

[1] ای اتمام الوضوء فی نحو برد شدید [2] ای ان المواظبة علی الطهارة والصلوٰة والعبادة کالجهاد فی سبیل الله ؛

فرمائیل دے طرفته اشاره ده چه دَ موسم یعنی اوګرمی برداشت کولو سره اودس کول. جومات ته ډیر ډیر تلل اوَدَ یو عبادت نه پس دویُم عبادت وخته پورے انتظار کښے اوسیدل څهٔ معمولی خبره نهٔ ده۔ او بیا دے ته جهاد وئیل نورا همیت هم ښودل دی۔ او " فذ لکم الرباط " الفاظ نورو حدیثونو کښے دوه ځل راغلی دی۔ او ترمذی کښے یو روایت داسے هم راغلے دے. چه هغې کښے داالفاظ درے ځل ارشادفرمائیل شو یدی. چه دَدے عملونو دَ عظمت اولوئی والی طرفته واضحه اشاره ده۔

۱۳۲- عَنْ اَبِیْ مُوْسَی الْاَشْعَرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ صَلَّی الْبَرْدَیْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ " مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ؛

" اَلْبَرْدَانِ": الصُّبْحُ وَالْعَصْرُ ؛

۱۳۲- دَ ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ کوم کس چه دَ سحر او مازیګر مونځ (پابند سره) کوی۔ هغه دا حق لری چه جنت ته داخل شی۔ (بخاری ومسلم) بَرْدَانِ: دوه یخ وختونه۔ یعنی سحر او مازیګر۔ (دا دواړه وختونه دَ انسان دَ طبیعت موافق دَ هغهٔ دپاره دَ آرام اودَ مشغولتیا اودَ غفلت دی داسے دَ آرام اودَ غفلت په وخت کښے کوم کس چه هم دَ الله پاک دَ حکمونو پابند اوسی۔ هغه یقینی دَ لوئے اجر او ثواب حق دار دے - په دے وجه سره هغهٔ ته دَ جنت خوشخبری ورکړے شوے ده - ن)

۱۳۳- عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: اِذَا مَرِضَ الْعَبْدُ اَوْسَافَرَ کُتِبَ لَهٗ مِثْلُ مَا کَانَ یَعْمَلُ مُقِیْمًا صَحِیْحًا " رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ ؛

۱۳۳- دا روایت هم دَ ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه دے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو۔ چه کله یو سړے بیمار شی یا په سفر کښے وی۔ نو (چونکه دَ ده عبادتونه دَ قصد او مرض په وجه په ظاهره دَ صحیح او مقیم دَ عبادتونو نه کم وی خو) ده ته اجر او ثواب دَ تندرست او مقیم کیدو په حالت کښے دَ کړو عملونو هومره ملاویږی)۔ (بخاری)

۱۳۴- عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ " کُلُّ مَعْرُوْفٍ صَدَقَةٌ " رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ مِّنْ رِوَایَةِ حُذَیْفَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ؛

۱۳۴- حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائی۔ هر نیک کار صدقه (لائق دَ اجر او ثواب) ده۔ (بخاری)

اومسلم دا روایت دَ حضرت حذیفه رضی الله عنه نه نقل کړے دے۔

۱۳۵- عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: مَامِنْ مُسْلِمٍ یَغْرِسُ غَرْسًا اِلَّا کَانَ مَا اُکِلَ مِنْهُ

۱۳۵- دا بل روایت هم دَ حضرت جابر رضی الله عنه نه دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه مسلمان یو بوټے کرلے وی۔ د څوک ترے خوراک اوکړی۔ (یا ترے

لَهٗ صَدَقَةٌ، وَمَا سُرِقَ مِنْهُ لَهٗ صَدَقَةٌ وَلَا يَرْزَؤُهٗ اَحَدٌ اِلَّا كَانَ لَهٗ صَدَقَةٌ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهٗ: فَلَا يَغْرِسُ الْمُسْلِمُ غَرْسًا فَيَاْكُلَ مِنْهُ اِنْسَانٌ وَلَا دَآبَّةٌ وَلَا طَيْرٌ اِلَّا كَانَ لَهٗ صَدَقَةً اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ" وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهٗ: لَا يَغْرِسُ الْمُسْلِمُ غَرْسًا وَلَا يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَاْكُلَ مِنْهُ اِنْسَانٌ وَلَا دَآبَّةٌ وَّ لَا شَيْءٌ اِلَّا كَانَتْ لَهٗ صَدَقَةٌ" وَرَوَيَاهُ جَمِيْعًا مِنْ رِوَايَةِ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ:
قَوْلُهٗ "يَرْزَؤُهٗ" اَيْ يَنْقُصُهٗ:

فائده واخستل شي) نو دَ بوټی لګونکی دخوانه دغه دَ خیر کار او صدقه ده۔ او که څه ترے پټ کړے شي، هغه هم صدقه ده۔ او که څوک پکښې کے کولو سره (هغې ته نقصان اورسوی) نو دا هم دَ هغه دَ پاره صدقه ده۔ (مسلم)

او د مسلم په بل روايت کښې راغلی دی چه يو مسلمان يوه ونه نۀ لګوی۔ پس چه انسان يا ځناور يا ښاروی يا مارغان وغيره د دے نه خوراک اوکړی (يا ترے فائده پوره کړی) مګر د دغه سړی د پاره هغه بوټی قيامته پورے صدقه جاريه باعث داجر او ثواب) جوړيږی۔

او دَ مسلم په روايت کښې دا سے هم راغلی دی۔ چه مسلمان يو باغ او نګوی يا پټے اوکړی۔ او دَ دے نه څوک بنيادم ځناور يا هرګزځيد وکے ځيز، يا مارغان وغيره خوراک اوکړی۔ نو دا هم دغه کس دَ پاره دَ صدقے (دَ ثواب او دَ اجر) کار دے او امام بخاری او مسلم دواړو دا حديث دَ حضرت انس رضؓ نه روايت کړيدے
يَرْزَؤُهٗ: کمے کول، نقصان رسول۔

۱۳۶- عَنْهُ قَالَ: اَرَادَ بَنُوْ سَلِمَةَ اَنْ يَّنْتَقِلُوْا قُرْبَ الْمَسْجِدِ فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُمْ: اِنَّهٗ قَدْ بَلَغَنِيْ اَنَّكُمْ تُرِيْدُوْنَ اَنْ تَنْتَقِلُوْا قُرْبَ الْمَسْجِدِ؟ فَقَالُوْا: نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَدْ اَرَدْنَا ذٰلِكَ فَقَالَ: "بَنِيْ سَلِمَةَ دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ اٰثَارُكُمْ
رَوَاهُ مُسْلِمٌ

وَفِيْ رِوَايَةٍ: "اِنَّ بِكُلِّ خُطْوَةٍ دَرَجَةً رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔ وَفِيْ رِوَايَةٍ: اِنَّ بِكُلِّ خُطْوَةٍ دَرَجَةً" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ اَيْضًا بِمَعْنَاهُ مِنْ رِوَايَةِ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَ "بَنُوْ سَلِمَةَ" بِكَسْرِ اللَّامِ قَبِيْلَةٌ مَعْرُوْفَةٌ مِنَ الْاَنْصَارِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَاٰثَارُهُمْ خُطَاهُمْ:

۱۳۶- حضرت جابرؓ نه روايت دے۔ چه بنوسلمه قبيلے جوماتسره دَ نزدے اوسيدلو اراده اوکړه۔ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم دَ دے نه خبر کړے شو۔ نو هغوئ ته ئے اوفرمائيل چه ما ته خبر رارسيدلے دے، چه تاسو جومات ته دَ را نزدے کيدو اراده کړے ده؟ هغوئ اووئيل چه يا رسول الله! مونږ هم دغه اراده ده۔ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل: اے بنوسلمه! په خپلو خپلو ځايونو کښې اوسيږئ ستاسو دَ قدمونو شمار ليکلے شي۔ (مسلم)

په يو روايت کښې دَ مسلم نه هم دا سے راغلی دی۔ چه دَ هر هر قدم په بدله کښې درجه ورکولے شي۔ امام بخاری هم دغسے روايت دَ حضرت انس رضؓ نه نقل کړے دے۔
بَنُوْ سَلِمَةَ: مشهوره قبيله ده دَ انصارو۔
آثار: قدمونه۔

١٣٧ - عَنْ اَبِى الْمُنْذِرِ اُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَجُلٌ لَا اَعْلَمُ رَجُلًا اَبْعَدَ مِنَ الْمَسْجِدِ مِنْهُ وَكَانَ لَا تُخْطِئُهُ صَلٰوةٌ [1] فَقِيْلَ لَهُ اَوْ فَقُلْتُ لَهُ: لَوِ اشْتَرَيْتَ حِمَارًا تَرْكَبُهُ فِى الظَّلْمَاءِ وَفِى الرَّمْضَاءِ؟ فَقَالَ مَا يَسُرُّنِىْ اَنَّ مَنْزِلِىْ اِلٰى جَنْبِ الْمَسْجِدِ اِنِّىْ اُرِيْدُ اَنْ يُّكْتَبَ لِىْ مَمْشَاىَ اِلَى الْمَسْجِدِ وَرُجُوْعِىْ اِذَا رَجَعْتُ اِلٰى اَهْلِىْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَدْ جَمَعَ اللّٰهُ لَكَ ذٰلِكَ كُلَّهُ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِىْ رِوَايَةٍ: "اِنَّ لَكَ مَا احْتَسَبْتَ [1]".

"اَلرَّمْضَاءُ": اَلْاَرْضُ الَّتِىْ اَصَابَهَا الْحَرُّ الشَّدِيْدُ.

١٣٧ - ابو منذر ابى بن کعبؓ نه روايت دے. چه يو سړے د جوماتٔ نه ډير لرې وُو. او دومره لرې وُو چه ځما علم کښې د دهٔ نه بل څوک زيات لرې نهٔ وُو. او د دے لرے والى د وجے نه هم د دهٔ نه يو د جمع مونځ نهٔ وُو قضا شوے. نو هغهٔ ته او وئيل شول يا ما ورته او وئيل. چه د سورلۍ د پاره يو خر واخله. چه د شپې تيارهٔ کښې يا د ګرمۍ په ورځو کښې پرے سور جوماتٔ ته مانځه له راځې. نو هغهٔ او وئيل چه دا مے خوښه نهٔ ده. چه د جوماتٔ په خوا کښې دِ ځما کور وی. بلکه ځما خواهش دا دے. چه جوماتٔ ته راتلل او واپس خپل کور ته تلل ټول ځما په عملنامه کښې اوليکلے شی. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل دا ټول الله تعالىٰ ستا د پاره جمع کړل. يعنى اوليکلے شو. (مسلم) او يو روايت کښے دی. چه ستا د پاره هر هغه څهٔ دی د کومے چه تانيت کړے دے. "رَمْضَآءُ": سخته ګرمه زمکه.

١٣٨ - عَنْ اَبِىْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَرْبَعُوْنَ خَصْلَةً [2] اَعْلَاهَا مَنِيْحَةُ الْعَنْزِ مَا مِنْ عَامِلٍ يَّعْمَلُ بِخَصْلَةٍ مِّنْهَا رَجَآءَ ثَوَابِهَا وَتَصْدِيْقَ مَوْعُوْدِهَا اِلَّا اَدْخَلَهُ اللّٰهُ بِهَا الْجَنَّةَ" رَوَاهُ الْبُخَارِىُّ.

"اَلْمَنِيْحَةُ": اَنْ يُّعْطِيَهُ اِيَّاهَا لِيَاْكُلَ لَبَنَهَا ثُمَّ يَرُدَّهَا اِلَيْهِ.

١٣٨ - ابو محمد عبد الله بن عمرو بن العاصؓ نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل. چه محبوب خويونه څلويښت دی. د ټولو نه اوچت ښهٔ خوئے دا دے. چه چا له د پيو د پاره اوښه يا بل څاروے ورکړې. يو سړے هم داسے نشته چه دے خصلتونو او خويونو کښے يو هم د ثواب په نيت اوکړی. او په دے کښے چه د کومو خيزونو وعده شوے ده. د هغې تصديق اوکړی. مګر دا چه الله تعالىٰ به هغه جنت ته داخل کړی. (بخاری)

مَنِيْحَة: د پيو والا څاروے. چه چا ته د پيو د پاره ورکړی چه د هغې پئ اوڅکی، او د ضرورت پوره کولو نه پس ئے مالک ته واپس کړی.

١٣٩ - عَنْ عَدِىِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِىَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "اِتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ

١٣٩ - عدى بن حاتمؓ نه روايت دے. چه ما د نبى کريم صلى الله عليه وسلم نه داسے فرمائيلى اوريدلى دی چه د دوزخ د اور نه ځان بچ کړئ. اګر چه ا د بچ کولو

---

[1] لا تخطئه بضم الفوقية اى تفوته [1] "ما احتسبت" اى عملته من تكثير الخطا فى الذهاب الى المسجد احتسابا.

[2] خصلة بفتح خاء المعجمة وسكون الصاد: اى نوعا من البر وقوله صلى الله عليه وسلم وتصديق موعودها، اى ما وعد به فيها

بِشِقِّ تَمْرَةٍ [51] " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ - وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهُمَا عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تَرْجُمَانٌ فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ [52] فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ وَيَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلَا يَرَى إِلَّا النَّارَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ [53] فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ -

ذریعه) دَ کجورې یوه ټکړه وی (چه دَ ثواب په نیت ئے دَ الله دپاره صدقه کړے). (بخاری ومسلم) اودَ دواړو نه یوبل روایت هم نقل شوے دے. اودا روایت هم دَ عدی بن حاتم رض دے. چه په تاسوکښے هیڅ داسے کس نشته. مګر قریبه ده چه الله به بغیر دَ ترجمانی کونکی نه هغهٔ سره خبرے اوکړی. هلته به انسان ښی طرف ته اوګوری نو هغه عملونه به اووینی چه کوم ئے مخکښے دَ ځان نه لیږلی دی. دغسے برعکس طرف ته هم خپل هغه عملونه اووینی کوم ئے چه مخکښے لیږلی دی اودسترګو مخامخ به بغیر د اور نه هیڅ اونهٔ وینی. دَ اور نه ځان بچ کړی. اګرچه دَ کجورے په یوے ټکړے سره وی. اوکهٔ چا سره دا هم نهٔ وی نو یوے خوږے خبرے سره دِ ځان بچ کړي. (بخاری و مسلم)

۱۴۰- عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِنَّ اللهَ لَيَرْضَى عَنِ الْعَبْدِ أَنْ يَأْكُلَ الْأَكْلَةَ فَيَحْمَدُهُ عَلَيْهَا أَوْ يَشْرَبَ الشَّرْبَةَ فَيَحْمَدُهُ عَلَيْهَا " رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞ وَ"الْأَكْلَةُ" بِفَتْحِ الْهَمْزَةِ، وَهِيَ الْغَدْوَةُ أَوِ الْعَشْوَةُ ؞

۱۴۰- انس بن مالک رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وئیلی دی. چه الله تعالیٰ دَ هغه بنده نه خوشحالیږی. چه سحر اوما بنام خوراک اوخوری او دَ الله تعالیٰ ثنا وصفت بیان کړی. (یعنی "الحمد لله" اووائی) یااوبهٔ څکی. اودغه وخت "الحمد لله" اووائی. (مسلم)

"اَکْلَةُ": دَ غرمے یا دَ ما بنام خوراکه -

۱۴۱- عَنْ أَبِيْ مُوْسَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ صَدَقَةٌ " قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ لَمْ يَجِدْ؟ قَالَ: يَعْمَلُ بِيَدَيْهِ فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ وَيَتَصَدَّقُ " قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ؟ قَالَ: يُعِيْنُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوْفَ قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ؟ قَالَ "يَأْمُرُ بِالْمَعْرُوْفِ أَوِ الْخَيْرِ" قَالَ أَرَأَيْتَ إِنْ لَمْ يَفْعَلْ؟ قَالَ يُمْسِكُ عَنِ الشَّرِّ فَإِنَّهَا صَدَقَةٌ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞

۱۴۱- ابوموسیٰ اشعری رض نه روایت دے. چه دَ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دے. چه هر مسلمان باندے صدقه واجب ده. صحابه کرامو رض عرض اوکړو. چه چا سره دَ خرچ کولو دپاره څهٔ نهٔ وی، دَ هغهٔ متعلق څه وایئ؟ نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. دواړه لاسونه به کارکښے استعمال کړه (یعنی محنت مزدوری اوکړه) بخپله ترے هم فائده واخله. اوصدقه هم اوکړه. صحابه و رض عرض اوکړو چه چا کښے دَ دے طاقت هم نهٔ وی نو بیا؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اووئیل. چه یو ضرورت مند

---

[51] بشق تمرة "بكسر الشين المعجمة : اى نصفها [52] اى فى الجانب الايمن و" اشأم منه ، اى فى الجانب الايسر [53] تلقاء بكسر الفوقية : اى حذاء وجهه ؞

پریشان حاله کس سره امداد اوکړه - بیا صحابه رض تپوس اوکړو. چه که دا هم نشي کولے نو بیا؟ نو ارشاد اوشو. چه د نیکئ او د خیر خبره دچا سره اوکړی. صحابو رض بیا عرض اوکړو چه که یو کس دا هم نشي کولے نو بیا؟ نو ارشاد اوشو. نو بیا دځان د شر او د بدو نه اوساتی دا هم صدقه ده. (بخاری ومسلم)

باب ۱۴

ف :- دے باب کښے دوه آیتونه او نولس حدیثونه دی. اعتدال او میانه روی په دین او دنیا دواړو کښے خوښ شوی اصول دی، او افراط او تفریط (زیاتے او کمے) چرته هم خوښ نه دے. تر دے چه عبادات او طاعات (فرمانبرداری) چه سراسر خیر او برکت او باعث د اجر دی، په دے کښے هم زیاتے او کمے خوښ شوے څیز نه دے، هلته هم اعتدال او میانه روی مطلوب ده، باب د لاندے راوړل شوو آیتونو او حدیثونو د مطالعے نه به تاته د دے په بنه شان معلومات او اندازه اولګی.

بَابٌ فِي الْاِقْتِصَادِ فِي الطَّاعَةِ

باب دے د الله په عبادت کښے د درمیانه چلیدو په بیان کښے ......

(قرآنی آیتونه)

۵۳- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1] "طٰهٰ مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰى" ⁘

۵۳- د الله تعالیٰ ارشاد دے. اے طٰهٰ! مونږ تا باندے قرآن دے دپاره نه دے نازل کړے چه ته مشقت او تکلیف کښے پریوځے. (پ۱۶ طٰهٰ)

⁘ ⁘ ⁘

۵۴- وَقَالَ تَعَالٰى[2]: يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ" ⁘

۵۴- د الله تعالیٰ ارشاد دے. الله تعالیٰ ستاسو دپاره نرمی او آسانی خوښوی. او سختی او تنګی نه خوښوی. (پ۲ - بقره)

(نبوی احادیث)

۱۴۲- **وَعَنْ** عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا امْرَاَةٌ قَالَ: مَنْ هٰذِهٖ؟ قَالَتْ: هٰذِهٖ فُلَانَةُ تَذْكُرُ مِنْ صَلَاتِهَا قَالَ: "مَهْ عَلَيْكُمْ بِمَا تُطِيْقُوْنَ فَوَاللّٰهِ لَا يَمَلُّ اللّٰهُ حَتّٰى تَمَلُّوْا" وَكَانَ اَحَبُّ الدِّيْنِ اِلَيْهِ مَادَاوَمَ صَاحِبُهٗ عَلَيْهِ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁘

"وَمَهْ" كَلِمَةُ نَهْيٍ وَزَجْرٍ. وَمَعْنٰى "لَا يَمَلُّ اللّٰهُ" لَا يَقْطَعُ ثَوَابَهٗ عَنْكُمْ وَجَزَاءَ اَعْمَالِكُمْ وَيُعَامِلُكُمْ مُعَامَلَةَ الْمَالِّ حَتّٰى تَمَلُّوْا فَتَتْرُكُوْا فَيَنْبَغِيْ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مَا تُطِيْقُوْنَ الدَّوَامَ

۱۴۲- حضرت عائشه رض فرمائی. چه یوه ورځ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ځما کور له راغے دغه وخت ما سره یوه زنانه ناسته وه. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم پوښتنه اوکړه دا څوک ده؟ نوما اووئیل چه دا هغه ښځه ده چه د هغے د مونځ چرچه ده. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، مه. تاسو باندے دومره (عبادت) واجب دے. څومره چه تاسو کښے طاقت وی. والله تاسو به ستړی او عاجزه شئ او الله تعالیٰ کله هم عاجزه کیږی نه. او الله تعالیٰ ته هغه دین (او عبادت) خوښ دے. چه عمل کونکے ئے همیشه کولے شی. (بخاری ومسلم)

"مَهْ": منع شه - مکوه. د زورنے دپاره هم او بندولو دپاره هم استعمالولے شی. ناراضی

---

[1] سورة طٰهٰ آية ۱ - ۲

[2] سورة البقرة آية ۱۸۵ ⁘

عَلَيْهِ لِيَدُوْمَ ثَوَابُهُ لَكُمْ وَفَضْلُهُ عَلَيْكُمْ ؛

اوخفگان دیاره هم استعمالولے شی۔ "لَا یَمَلُّ اللّٰهُ": یعنی الله تعالیٰ ئے ثواب نهٔ ختموی۔ اونه ئے جزاء ختمیږی۔ چه ښخپله ستړلے شے او عمل پریږدے۔ نو مناسب داده چه داسے عملونه او عبادتونه کوئ چه دَ زړهٔ په تسلئ سره ئے همیشه کولے شئ۔ دے دپاره چه اجرا و ثواب او دَ الله تعالیٰ فضل او احسان به په تاسو باندے همیشه قائم وی۔

۱۴۳۔ **وَعَنْ** اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ جَآءَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ اِلٰى بُيُوْتِ اَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْاَلُوْنَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا اُخْبِرُوْا كَاَنَّهُمْ تَقَالُّوْهَا [1] وَ قَالُوْا اَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَاَخَّرَ. قَالَ اَحَدُهُمْ: اَمَّا اَنَا فَاُصَلِّي اللَّيْلَ اَبَدًا وَقَالَ الْاٰخَرُ: وَاَنَا اَصُوْمُ الدَّهْرَ اَبَدًا. وَلَا اُفْطِرُ وَقَالَ الْاٰخَرُ: وَاَنَا اَعْتَزِلُ النِّسَآءَ فَلَا اَتَزَوَّجُ اَبَدًا، فَجَآءَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَيْهِمْ فَقَالَ: اَنْتُمُ الَّذِيْنَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا اَمَا وَاللّٰهِ اِنِّيْ لَاَخْشَاكُمْ لِلّٰهِ وَاَتْقَاكُمْ لَهُ لٰكِنِّيْ اَصُوْمُ وَاُفْطِرُ وَاُصَلِّيْ وَاَرْقُدُ وَاَتَزَوَّجُ النِّسَآءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ [2] فَلَيْسَ مِنِّيْ "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۱۴۳۔ انس بن مالک رض وائی۔ چه درے کسان دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ عبادت معلومولو دپاره د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ بیبیانو کورونو ته راغلل۔ او کله چه هغوئ ته دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ عبادت خبر ورکړے شو۔ نو هغوئ ډیر کم اوګڼړلو۔ نو وے وئیل۔ چه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ وړاندے څمونږ څهٔ حیثیت او حقیقت دے؟ حالانکه هغهٔ ته دَ مخکښے او راتلونکو خطاګانو اوګناهونو نه (که بالفرض شوی هم وی) دَ معافئ خوشخبری ورکړے شوے ده۔ څمونږ دا لږ عمل به څهٔ وی۔ نو یو کس پکښے اووئیل۔ چه زهٔ به پرله پسے روژے نیسم۔ او بوره کیږم به نه (یوځ هم)۔ دریم اووئیل زهٔ به هیڅ کله واده نهٔ کوم او دَ ښځے نه به لرے او سیږم۔ کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ددے خبرو خبر ورکړے شو۔ نو هغوئ پسے راغے او وے وئیل۔ چه تاسو داسے وئیلی دی۔ زهٔ دَ تاسو نه زیات دَ الله تعالیٰ نه ویریږم۔ او پرهیزگاری اختیاروم۔ لیکن دے سره سره زهٔ روژے هم نیسم۔ او روژه هم ماتوم۔ دَ شپے مونځ هم کوم۔ او اوده کیږم هم۔ او ښځو سره نکاح هم کوم۔ پس چا چه څما دَ طریقے نه خلاف اوکړو هغه څما نه نهٔ دے۔ (بخاری و مسلم)

۱۴۴۔ **وَعَنْ** ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُوْنَ" قَالَهَا ثَلَاثًا، رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

"اَلْمُتَنَطِّعُوْنَ: اَلْمُتَعَمِّقُوْنَ الْمُشَدِّدُوْنَ فِيْ غَيْرِ مَوْضِعِ التَّشْدِيْدِ ؛

۱۴۴۔ ابن مسعود رض نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه سختی کوونکی تباه او برباد شول۔ دا الفاظ ئے درے ځله اووئیل۔ (مسلم) "اَلْمُتَنَطِّعُوْنَ" ژورے او باریکے خبرے راویستلو والا (بغیر دَ جوازه) سختی کوونکی۔

۱۴۵۔ **وَعَنْ** اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

۱۴۵۔ دَ ابوهریرة رض نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔

---

[1] تقالوها "بتشدید اللام المضمومة": ای عدوها قلیلة [2] ای اعرض عنها ؛

قَالَ: إِنَّ الدِّيْنَ يُسْرٌ وَلَنْ يُّشَادَّ الدِّيْنَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهٗ فَسَدِّدُوْا وَقَارِبُوْا وَأَبْشِرُوْا وَاسْتَعِيْنُوْا بِالْغَدْوَةِ دَ الرَّوْحَةِ وَشَيْءٍ مِّنَ الدُّلْجَةِ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهٗ: سَدِّدُوْا وَقَارِبُوْا وَاغْدُوْا وَرُوْحُوْا وَشَيْءٌ مِّنَ الدُّلْجَةِ: اَلْقَصْدَ الْقَصْدَ تَبْلُغُوْا".

قَوْلُهٗ "الدِّيْنُ" هُوَ مَرْفُوْعٌ عَلٰى مَا لَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهٗ. وَرُوِيَ مَنْصُوْبًا وَرُوِيَ: "لَنْ يُّشَادَّ الدِّيْنَ أَحَدٌ" وَقَوْلُهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِلَّا غَلَبَهٗ" أَيْ غَلَبَهُ الدِّيْنُ وَعَجَزَ ذٰلِكَ الْمُشَادُّ عَنْ مُقَاوَمَةِ الدِّيْنِ لِكَثْرَةِ طُرُقِهٖ" وَالْغَدْوَةُ": سَيْرُ أَوَّلِ النَّهَارِ "وَالرَّوْحَةُ" آخِرُ النَّهَارِ: "وَالدُّلْجَةُ" آخِرُ اللَّيْلِ وَهٰذَا اسْتِعَارَةٌ وَتَمْثِيْلٌ وَمَعْنَاهُ اسْتَعِيْنُوْا عَلٰى طَاعَةِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ بِالْأَعْمَالِ فِيْ وَقْتِ نَشَاطِكُمْ وَفَرَاغِ قُلُوْبِكُمْ بِحَيْثُ تَسْتَلِذُّوْنَ الْعِبَادَةَ وَلَا تَسَامُوْنَ وَتَبْلُغُوْنَ مَقْصُوْدَكُمْ كَمَا أَنَّ الْمُسَافِرَ الْحَاذِقَ يَسِيْرُ فِيْ هٰذِهِ الْأَوْقَاتِ وَيَسْتَرِيْحُ هُوَ وَدَابَّتُهٗ فِيْ غَيْرِهَا فَيَصِلُ الْمَقْصُوْدَ بِغَيْرِ تَعَبٍ. وَاللّٰهُ أَعْلَمُ.

چه دین ډیر زیات آسان دے۔ هیڅوک هم نشته چه په دین کښې څهٔ سخته طریقه خپله کړي۔ مګر دین به هغې باندے غالب شي۔ پس میانه روی اختیار کړئ، او به قدر د همت او طاقت عمل کوئ۔ او خوشخبری حاصله کړئ۔ او د ورځې په اول او اخره حصه کښې او د شپې په آخره حصه کښې د الله تعالیٰ مدد حاصل کړئ۔ (بخاری) د بخاری په یو روایت کښې دی۔ میانه روی اختیار کړئ. په اندازه د خپل طاقت او قوت سره په دین باندے عمل کونکی اوسئ (د عبادت دپاره) د سحر اول وخت او د ورځې آخر وخت او څهٔ وخت د شپې آخر اختیار کړئ، میانه رَو میانه رَو اوسئ۔ اَلدِّیْنُ: مرفوع دے د فاعل ذکر نهٔ دے او منصوب هم ذکر کړے شوے دے۔ او "لَنْ یُّشَادَّ الدِّیْنُ اَحَدٌ" هم نقل کړے شوے دے۔ او دا قول د نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه "اِلَّا غَلَبَهٗ" دے نو مطلب دا دے چه دین به دهٔ غالب راشي۔ او طریقے د دین ډیرے دی۔ نو په دے وجه د دین په یو جزء باندے سختی کونکے عاجز او بے وسه شي۔ یعنی دین د ومرهٔ خورد ے چه په دے عمل کونکے په ټولو طریقو باندے د عمل کولو نه عاجز پاتے کیږی

غَدْوَةٌ: د ورځې اوله حصه۔ رَوْحَةٌ: د ورځې آخیره حصه۔ اَلدُّلْجَةُ: د شپې اخره حصه کښې تللو ته وائی۔ امام نووی رح وائی چه حدیث کښې دا الفاظ د مثال په طور استعمال شوی دی۔ چه امداد او غواړئ د الله تعالیٰ نه په خوشحالۍ کښې د زړهٔ دا خلاصه او فراخه زړهٔ سره هر وخت کښې او د الله تعالیٰ نزدیکت او مدد حاصل کړئ په طریقے د عبادت سره داسې عبادت چه تا سو ته پکښې مزه او خوند حاصل شي۔ هسې نه چه بے مقصده او بے مزے پاتے شئ۔ دغسې خپل مقصد ته ځان اورسوئ۔ څنګه چه یو هوښیار مسافر د آرام او د خوشحالۍ په وخت شپه او ورځ کښې سفر کوی۔ او باقی آرام کوی۔ او خپلې سورلۍ ته هم دمه ورکوی۔ چه نتیجه ئې دا وی۔ چه نه ستړے شي او نهٔ تکلیف اورسی او خپل منزل ته اورسی۔ انسان چه خپل ځان ته سوچ اوکړی۔ نو دهٔ ته دا معلومه شي۔ چه بدن او روح ته مناسب آرام نهٔ وی۔ نو پرله پسې یو کار کول بالکل پوره کیږی نهٔ۔ د وختی جوش او جذبے او ځان تکړه کولو په وجه د

هغهٔ ارادے ډیرے زیاتے اوږدے او پلنے وی. مګر آخری مرحلو ته ئې بیا رسوئ لے نشی. اسلام یو فطرتی دین دے. چه د هرچا طبع ورسره برابره ده. نو ځکه درمیانه لار خوښوی. او د هغې مطابق ئې د عمل لارے مقررے کړی دی. او ټولو عبادتونو کښے هم د دے طرز او طریقے خیال لو هدایت کوی، چه دا سے عبادت کوئ.

١٤٦- وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسْجِدَ فَإِذَا حَبْلٌ مَمْدُوْدٌ بَيْنَ السَّارِيَتَيْنِ [١] فَقَالَ: مَا هٰذَا الْحَبْلُ؟ قَالُوْا: هٰذَا حَبْلٌ لِزَيْنَبَ فَإِذَا فَتَرَتْ [٢] تَعَلَّقَتْ بِهِ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "حُلُّوْهُ لِيُصَلِّ أَحَدُكُمْ نَشَاطَهُ فَإِذَا فَتَرَ فَلْيَرْقُدْ [٣]، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ∴

١٤٦- انس بن مالک رض روایت بیانوی. چه یوه ورځ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم جومات ته راغلو. نو دوؤ ستنو سره ئې تړلے شوے یوه رسئ اولیده. نو وے وئیل، چه دا رسئ د څهٔ ده؟ صحابو رض عرض اوکړو چه دا حضرت زینب رض تړلے ده. کله چه په مانځه کولو ستړے شی نو دے رسئ باندے ځان زوړند کړی. او د دے په مدد سره ستومانی لرے کړی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. رسئ خلاصه کړئ. تاسو کښے هرکس له پکار دی - چه څومره ئې زړهٔ غواړی د هغې مطابق دِ مونځ کوی. او کله چه ستړے شی نو اُوده دِ شی. (بخاری ومسلم)

١٤٧- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ يُصَلِّيْ فَلْيَرْقُدْ حَتّٰى يَذْهَبَ عَنْهُ النَّوْمُ فَإِنَّهُ إِذَا صَلّٰى وَهُوَ نَاعِسٌ لَا يَدْرِيْ [٤] لَعَلَّهُ يَذْهَبُ يَسْتَغْفِرُ فَيَسُبُّ نَفْسَهُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ∴

١٤٧- حضرت عائشه رض روایت کوی - چه نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه تاسو کښے کله څوک په مانځه کولو ستړے شی. نو هغهٔ له پکار دی چه اوده شی او خوب پوره کړی - ځکه چه مانځه کولو کښے چه کله خوب غلبه اوکړی. نو بیا ده ته پته نهٔ لګی چه د خلے نه څه اوځی - کیدے شی چه د بخښنے غوختلو په ځائے ځان ته کنځل اوکړی یائے ښیرے د خلے نه اوځی (بخاری ومسلم)

١٤٨- وَعَنْ أَبِيْ عَبْدِ اللهِ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: كُنْتُ أُصَلِّيْ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَوَاتِ فَكَانَتْ صَلَاتُهُ قَصْدًا وَخُطْبَتُهُ قَصْدًا، رَوَاهُ مُسْلِمٌ ∴

قَوْلُهُ: "قَصْدًا": أَيْ بَيْنَ الطُّوْلِ وَالْقِصَرِ

١٤٨- ابوعبدالله جابر بن سمرة رض روایت دے چه ما به د رسول الله سره مونځونه کول د هغهٔ مونځ هم مختصر او درمیانه وو- او خطبه ئې هم درمیانه وئیله - (مسلم) -

قَصْدًا: یعنی نهٔ اوږد او نه مختصر بلکه درمیانه.

١٤٩- وَعَنْ أَبِيْ جُحَيْفَةَ وَهْبِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: آخَى [٥]

١٤٩- ابوجحیفه وهب بن عبدالله رض وائی - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د سلمان رض او ابو الدرداء رض ترمینځه رورولی قایمه کړه - کله

---

[١] ای من سواری المسجد وفی روایة مسلم: "بین ساریتین" والسارية: العمود ∴

[٢] فترت "بفتح الفوقية": ای کسلت عن القيام فی الصلوٰة ∴

[٣] فی الحدیث الحث علی الاقتصاد فی العبادة، والنهی عن التعمق فیها والاسرار بالاقبال علیها بنشاط وفیه ازالة المنکر باللسان والید وجواز تنفل النساء فی المسجد ∴ [٤] ای یدعو علیها [٥] اخی: "بالمد والخاء المعجمة" من المؤاخاة والمعاهدة علی التناصر والقیام بحقوق الدین

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ سَلْمَانَ وَاَبِي الدَّرْدَآءِ فَزَارَ سَلْمَانُ اَبَا الدَّرْدَآءِ فَرَاٰى اُمَّ الدَّرْدَآءِ مُتَبَذِّلَةً[1] فَقَالَ: مَا شَاْنُكِ؟ قَالَتْ اَخُوْكَ اَبُو الدَّرْدَآءِ لَيْسَ لَهُ حَاجَةٌ فِي الدُّنْيَا[2] فَجَآءَ اَبُو الدَّرْدَآءِ فَصَنَعَ لَهُ طَعَامًا فَقَالَ لَهُ، كُلْ فَاِنِّيْ صَآئِمٌ قَالَ: مَا اَنَا بِاٰكِلٍ حَتّٰى تَاْكُلَ فَاَكَلَ فَلَمَّا كَانَ اللَّيْلُ ذَهَبَ اَبُو الدَّرْدَآءِ يَقُوْمُ فَقَالَ لَهُ: نَمْ فَنَامَ ثُمَّ ذَهَبَ يَقُوْمُ فَقَالَ لَهُ: نَمْ فَلَمَّا كَانَ اٰخِرُ اللَّيْلِ قَالَ سَلْمَانُ: قُمِ الْاٰنَ فَصَلَّيَا جَمِيْعًا فَقَالَ لَهُ سَلْمَانُ: اِنَّ لِرَبِّكَ عَلَيْكَ حَقًّا. وَاِنَّ لِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وَلِاَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقًّا فَاَعْطِ كُلَّ ذِيْ حَقٍّ حَقَّهُ، فَاَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: صَدَقَ سَلْمَانُ[3] رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

به چه سلمانؓ د ابو الدرداءؓ ملاقات دَ پاره لاړو نو ام الدرداء ئے (چه د ابو الدرداءؓ بی بی وه) خیرنے کپړے اغوستے اُولیدل۔ سلمانؓ چه اُولیدل تپوس ئے اوکړو۔ چه دا حال دِ ولے جوړ کړے دے؟ نو ام الدرداء اووئیل چه ستا رور ته په دنیا او شئ کښ ضرورت او حاجت نشته۔ هر وخت عبادت کښې مشغول وی۔ د غه وخت ابو الدرداءؓ هم را اوتلو۔ هغهٔ د سلمانؓ د پارهٔ خوراک تیاره کړه۔ او هغهٔ ته ئے اووئیل۔ چه تهٔ خوراک کوه او ځما روژه دهٔ۔ سلمانؓ اووئیل چه هله به خوراک کوم چه تهٔ هم ماسره خوراک اوکړے نو هغوئی هم ورسره خوراک اوکړو۔ کله چه شپه شوه، نو ما نځه له پاڅیدو۔ نو سلمانؓ ورته اووئیل اودهٔ شه، نو هغه اودهٔ شو۔ بیا لږ ساعت پس را پاڅید، نو سلمانؓ ورته بیا اووئیل چه اودهٔ شه، تر هغے پورے چه دَ شپې آخیر وخت شو نو سلمانؓ اووئیل: اوس پاڅه۔ بیا دواړو (دَ تهجد) مونځ اوکړو۔ دَ ما نځه نه پس سلمانؓ بیا هغه پوهه کړو۔ چه کوره څنګه چه تا باندے دَ الله تعالیٰ حق دے۔ دغسے په تا دَ بدن هم حق دے۔ او دغسے دَ کور والا هم په تا باندے حق دے۔ نو هر حقدار ته خپل خپل حق ورکړه۔ بیا دواړهٔ دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شول۔ او خپل مینځ کښے ئے چه کومے خبرے اترے شوے وے۔ هغهٔ ته ئے بیان کړے۔ نو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم اووئیل چه سلمانؓ رښتیا وئیلی دی۔ (بخاری)

۱۵۰۔ **وَعَنْ** اَبِيْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: اُخْبِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنِّيْ اَقُوْلُ: وَاللّٰهِ لَاَصُوْمَنَّ[4] النَّهَارَ، وَلَاَقُوْمَنَّ اللَّيْلَ مَا عِشْتُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَنْتَ الَّذِيْ

۱۵۰۔ ابو محمد عبد الله بن عمرو بن العاصؓ فرمائی۔ چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې زما دا قول بیان کړے شو۔ "چه په الله مِ دِ قسم وی۔ چه کومه پورے زهٔ ژوندے یم۔ دَ ورځے به روژے نیسم او دَ شپې به نفل کوم" نو کله چه زهٔ دَ نبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې

---

[1] متبذلة: بضم المثناة والموحدة وتشديد المعجمة "اى لابسة ثياب المهنة تاركة ثياب الزينة"

[2] فى الدنيا: اى فى النساء فى رواية الدارقطنى: "فى نساء الدنيا" وزاد فى رواية ابن خزيمة: "يصوم النهار ويقوم الليل"

[3] فى هذا الحديث مشروعية المواخاة فى الله وزيارة الاخوان فى الله، والمبيت عند الاخوان وجواز مخاطبة الاجنبية لحاجة، والنصح للمسلم وتنبيه من غفل وفضل قيام الليل وغير ذالك.

تَقُوْلُ ذٰلِكَ ؟ فَقُلْتُ لَهٗ : قَدْ قُلْتُهٗ بِاَبِیْ اَنْتَ وَاُمِّیْ له يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ۔ قَالَ

فَاِنَّكَ لَا تَسْتَطِيْعُ ذٰلِكَ فَصُمْ وَاَفْطِرْ وَ نَمْ وَقُمْ وَصُمْ مِنَ الشَّهْرِ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ فَاِنَّ الْحَسَنَةَ بِعَشْرِ اَمْثَالِهَا وَ ذٰلِكَ مِثْلُ صِيَامِ الدَّهْرِ قُلْتُ : فَاِنِّیْ اُطِيْقُ اَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ ؛ فَصُمْ يَوْمًا وَاَفْطِرْ يَوْمَيْنِ قُلْتُ ؛ فَاِنِّیْ اُطِيْقُ اَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ : فَصُمْ يَوْمًا وَ اَفْطِرْ يَوْمًا فَذٰلِكَ صِيَامُ دَاوُدَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ هُوَ اَعْدَلُ الصِّيَامِ " وَفِیْ رِوَايَةٍ " هُوَ اَفْضَلُ الصِّيَامِ فَقُلْتُ : فَاِنِّیْ اُطِيْقُ اَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ : فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَا اَفْضَلُ مِنْ ذٰلِكَ ، وَلَاَنْ اَكُوْنَ قَبِلْتُ الثَّلَاثَةَ الْاَيَّامَ الَّتِیْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحَبُّ اِلَیَّ مِنْ اَهْلِیْ وَمَالِیْ " وَفِیْ رِوَايَةٍ اَلَمْ اُخْبَرْ اَنَّكَ تَصُوْمُ النَّهَارَ وَتَقُوْمُ اللَّيْلَ قُلْتُ بَلٰى يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ فَلَا تَفْعَلْ صُمْ وَاَفْطِرْ ، وَنَمْ وَ قُمْ فَاِنَّ لِجَسَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا ، وَاِنَّ لِعَيْنَيْكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَاِنَّ لِزَوْجِكَ عَلَيْكَ حَقًّا ، وَاِنَّ لِزَوْرِكَ عَلَيْكَ حَقًّا ، وَاِنَّ بِحَسْبِكَ اَنْ تَصُوْمَ فِیْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ فَاِنَّ ذٰلِكَ بِكُلِّ حَسَنَةٍ عَشْرُ اَمْثَالِهَا فَاِذَنْ ذٰلِكَ صِيَامُ الدَّهْرِ ، فَشَدَّدْتُ فَشُدِّدَ عَلَیَّ قُلْتُ : يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّیْ اَجِدُ قُوَّةً قَالَ صُمْ صِيَامَ نَبِیِّ اللّٰهِ دَاوُدَ وَلَا تَزِدْ عَلَيْهِ ، قُلْتُ : وَمَا كَانَ صِيَامُ دَاوُدَ ؟ قَالَ : " نِصْفُ الدَّهْرِ " فَكَانَ عَبْدُ اللّٰهِ

حاضر شوم) . رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل تا ربنتیا داسے وئیلی دی ۔ ما عرض اوکړو چه زما مور او پلار دِ په تاسو قربان وی۔

یا رسول الله صلی علیه وسلم هُوْ ! دا وینا ځما ده ۔ بیا ورته رسول الله صلی علیه وسلم اوفرمائیل ۔ ته (دَ خپل قول دَ زندګئ آخیری ورځو پورے دَ ګے مطابق زندګئ جوړ ولو طاقت نشے لرلے ۔ لهٰذا روژه هم ساته ۔ او بوزه هم کوه او دَ شپے هم ارام کوه ۔ او نفل هم کوه ۔ هره میاشت کښے د ۳ درے ورځے روژے ساته ځکه چه دَ نیکۍ ثواب لس چنده لیکلے شی ۔ او دا دَ ټول عمر دَ روژو نیولو په شان شو ۔ ما عرض اوکړو ۔ چه زهٔ دَ دے نه زیات دَ روژے نیولو طاقت لرم ۔ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه یوه ورځ روژه نیسه او دوه ورځے مهٔ نیسه ۔ ما اووئیل ۔ دَ دے نه هم دَ زیاتو طاقت لرلے شم ۔ رسول اکرم صلی علیه وسلم اوفرمائیل چهٔ یوه ورځ روژه نیسه او بله ورځ ئے مهٔ نیسه او داسے به حضرت داؤد علیه السلام روژے نیولے او درمیانه نیول دی دَ روژو ۔ او یو روایت کښے داسے هم راغلی دی ، چه روژو نیولو کښے دَ ټولو نه افضل روژے دَ داؤد علیه روژے دی ، بیا ما عرض ۔ اوکړو ۔ چه زهٔ دَ دے نه هم زیات طاقت لرم نو نبی علیه الصلاة و السلام اوفرمائیل چهٔ دَ دے نه بغیر دَ فضیلت بل کوم مقام او بلنده درجه نشته (کله چه عبد الله بوډا شو ۔ نو وئیلے به ئے ارمان ارمان چه ما دَ نبی صلی الله علیه وسلم په میاشت کښے د ۳ دریو ورځو روژو نیولو خبره منلے وے ۔ نو دا به ماته دَ مال او دولت ټولو نه خوښ وے ۔

او یو روایت کښے داسے هم راغلی دی

له ای انت مفدی بابی وامی

يَقُوْلُ بَعْدَ مَا كَبِرَ: يَالَيْتَنِيْ قَبِلْتُ رُخْصَةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَفِيْ رِوَايَةٍ: "اَلَمْ اُخْبَرْ اَنَّكَ تَصُوْمُ الدَّهْرَ، وَتَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ كُلَّ لَيْلَةٍ؟ فَقُلْتُ: بَلٰى يَارَسُوْلَ اللهِ وَلَمْ اُرِدْ بِذٰلِكَ اِلَّا الْخَيْرَ قَالَ: فَصُمْ صَوْمَ نَبِيِّ اللهِ دَاوٗدَ، فَاِنَّهٗ كَانَ اَعْبَدَ النَّاسِ وَاقْرَءِ الْقُرْاٰنَ فِيْ كُلِّ شَهْرٍ قُلْتُ: يَانَبِيَّ اللهِ اِنِّيْ اُطِيْقُ اَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ؟ قَالَ فَاقْرَاْهُ فِيْ كُلِّ عِشْرِيْنَ" قُلْتُ، يَانَبِيَّ اللهِ اِنِّيْ اُطِيْقُ اَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ فَاقْرَاْهُ فِيْ كُلِّ عَشْرٍ قُلْتُ يَانَبِيَّ اللهِ اِنِّيْ اُطِيْقُ اَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ فَاقْرَاْهُ فِيْ كُلِّ سَبْعٍ وَلَا تَزِدْ عَلٰى ذٰلِكَ فَشَدَّدْتُ فَشُدِّدَ عَلَيَّ وَقَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّكَ لَا تَدْرِيْ لَعَلَّكَ يَطُوْلُ بِكَ عُمُرٌ قَالَ فَصِرْتُ اِلَى الَّذِيْ قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا كَبِرْتُ وَدِدْتُ اَنِّيْ كُنْتُ قَبِلْتُ رُخْصَةَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَفِيْ رِوَايَةٍ وَاِنَّ لِوَلَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا. وَفِيْ رِوَايَةٍ "لَاصَامَ مَنْ صَامَ الْاَبَدَ" ثَلَاثًا. وَفِيْ رِوَايَةٍ "اَحَبُّ الصِّيَامِ اِلَى اللهِ تَعَالٰى صِيَامُ دَاوٗدَ وَاَحَبُّ الصَّلٰوةِ اِلَى اللهِ تَعَالٰى صَلٰوةُ دَاوٗدَ.

كَانَ يَنَامُ نِصْفَ اللَّيْلِ وَيَقُوْمُ ثُلُثَهٗ وَيَنَامُ سُدُسَهٗ، وَكَانَ يَصُوْمُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا وَلَا يَفِرُّ اِذَا لَاقٰى[2] وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ: اَنْكَحَنِيْ اَبِيْ امْرَاَةً ذَاتَ حَسَبٍ وَكَانَ يَتَعَاهَدُ كِنَّتَهٗ "اَيِ امْرَاَةَ وَلَدِهٖ" فَيَسْاَلُهَا عَنْ

چه نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ما ته چه کوم دَ دے خبر راکړے شوے دے چه ته دَ ورځے روژے نیسے اودَ شپے نفلونه کوے۔ دا درست دے؟ نوما عرض اوکړو۔ چه بالکل درست دے نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه داسے مهٔ کوه۔ روژے هم ساته اوبوژه هم کوه۔ دَ شپے آرام هم کوه او نفلونه هم کوه۔ ځکه چهٔ ستا دَ بدن هم په تا حق دے۔ دَ سترګو هم په تا حق دے۔ د ښځے هم په تا حق دے۔ ستا دَ میلمه هم په تا حق دے۔ ستا دَ پاره دا کافی ده چه هره میاشت کښے درے ورځے روژے نیسے۔ ځکه چهٔ دَ هرے یوے نیکئ په بدله کښے لس چنده ثواب لیکلے شی۔ نو دا دَ همیشه روژے نیولو برابر دی۔ ما خپل ځان سره ډیره سختی اوکړه۔ نوما باندِ سختی اوکړے شوه۔ ما عرض اوکړو۔ یا رسول الله زهٔ خپل ځان کښے دَ دینه هم زیات طاقت وینم۔ نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دَ داؤد علیه السلام پشان روژه نیسه۔ دے باندِ زیاتے مهٔ کوه۔ نوما اووئیل۔ چهٔ دَ داؤد علیه السلام روژے څنګه وے؟ نو نبی صلی الله اوفرمائیل۔ نیمائی زمانه یوه ورځ روژه او بله ورځ کوژه۔ نو عبد الله رضی الله عنه به بوډا والی کښے وئیل ارمان چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم۔ رعایت او رخصت م قبول کړے وے۔ او بل روایت کښے راغلی دی۔ چه نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه آیا زهٔ دَ دے خبرے نه خبر شوے یم چهٔ ته همیشه روژے نیسے۔ او هره شپه دَ قرآن ختم کوے۔ ما عرض اوکړو۔ هو یا رسول الله زهٔ دا کار صرف دَ نیکئ دَ پاره کوم۔ نبی صلے الله علیه وسلم

---

[2] ولایفر اذا لاقی" ای لاقی العدو فی الحرب تقوه نفسه بما ابقی فیها

[1] "بعد ما کبر" بکسر الموحدة ای فی السن۔

بَعْلِهَا[1] فَتَقُوْلُ لَهُ: نِعْمَ الرَّجُلُ مِنْ رَّجُلٍ لَمْ يَطَأْ لَنَا فِرَاشًا[2] وَلَمْ يُفَتِّشْ لَنَا كَنَفًا[3] مُنْذُ اَتَيْنَاهُ - فَلَمَّا طَالَ ذٰلِكَ عَلَيْهِ ذَكَرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "اَلْقِنِيْ بِهِ" فَلَقِيْتُهُ بَعْدُ فَقَالَ: كَيْفَ تَصُوْمُ؟ قُلْتُ كُلَّ يَوْمٍ قَالَ وَكَيْفَ تَخْتِمُ. قُلْتُ كُلَّ لَيْلَةٍ وَ ذَكَرَ نَحْوَ مَا سَبَقَ وَكَانَ يَقْرَاءُ عَلٰى بَعْضِ اَهْلِهِ السُّبُعَ الَّذِيْ يَقْرَؤُهُ يَعْرِضُهُ مِنَ النَّهَارِ لِيَكُوْنَ اَخَفَّ عَلَيْهِ بِاللَّيْلِ وَ اِذَا اَرَادَ اَنْ يَتَقَوّٰى اَفْطَرَ اَيَّامًا وَّ اَحْصٰى[4] وَصَامَ مِثْلَهُنَّ كَرَاهِيَةَ اَنْ يَتْرُكَ شَيْئًا فَارَقَ عَلَيْهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ هٰذِهِ الرِّوَايَاتُ صَحِيْحَةٌ مُعْظَمُهَا فِي الصَّحِيْحَيْنِ وَقَلِيْلٌ مِنْهَا فِيْ اَحَدِهِمَا

او فرمائیل - نو بیا دَ داؤد علیه السلام پشان روژے نیسه ځکه چه هغه د ټولو نه زیات عبادت کونکے وُو. او په یوه میاشت کښے قرآن یو ځل ختموه - ما اووئیل اے دالله نبی! زهٔ ددے نه هم زیات طاقت لرم. نو نبی کریمؐ اوفرمائیل په شلو ورځو کښے ختم کوه. وے وئیل چه ددے نه هم زیات طاقت لرم. نو نبی کریمؐ اوفرمائیل چه لسو ورځو کښے یو ختم کوه. ددے نه پس ما بیا عرضؓ اوکړو چه زهٔ دَدے نه هم زیات طاقت لرم - نو نبی صلی الله علیه وسلم او فرمائیل په یوه هفته کښے ختم کوه - او دے باندِ زیاتے مهٔ کوه مګر زهٔ پخپل ځان باندِ په سختئ کولو کلک ولاړ ووم - نو ما سره سختی اوکړے شوه - رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته دا هم وئیلی وُو چه تا ته معلومه نهٔ ده - کیدے شی چه عمر دِ ډیر شی - او هم هغسے بوډا شوم - ځنګه چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی وُو - (او نه ما عمر ډیر شو) - کله چه زهٔ زوړ شوم - نو خُما زړه کښے دا خواهش راپورته شو - چه ما دَ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم هغه رعایت قبول کړے وے

یو روایت کښے دا سے راغلی دی، چه تا باندِ دَ ښځی هم حق دے - او بل روایت کښے دی چه نبی صلی الله علیه وسلم او فرمائیل چه د هغه چا روژه، روژه نیول نهٔ دی چه څوک همیشه روژے نیسی - نبی صلی الله علیه وسلم د غسے درے وارے اووئیل -

یو روایت کښے دا سے هم راغلی دی - چه الله ته محبوب او دَ نزدے کیدو عمل دَ داؤد علیه السلام په شان روژے نیول دی - او دَ ټولو نه خوښ مونځ دَ داؤد علیه السلام (د تهجد د) مونځ وُو - چه نیمے شپے پورے به ئیے خوب کولو او دریمه حصه دَ شپے به ئے په عبادت الهی کښے تیروله - او دَ شپے په شپږمه حصه کښں به ئیے آرام کولو - او یوه ورځ به ئیے روژه نیوله او بله ورځ به کوژه وُو - او کله به چه د دشمن سره مخامخ شو - نو ورو ستو کیدو به نه -

یو روایت کښے راغلی دی - چه عبد الله وائی - چه زما پلار یوے ښځے سره زما نکاح اوکړه - چه دَ حسب خاوندهٔ وه او (خُما پلار به دخپلے انګور خیال ساتلو نو به (دے بنا به ئے) ترے پوښتنه کوله په باره دخاوند دَ هغے کښے؟ نو دے ښځے به وئیل چه ښهٔ سړے دے دومره ښهٔ سړے دے، چه ما سره ئے آرام نهٔ دے کړے او نهٔ ئیے زهٔ بے پردے کړے یم (مطلب دا چه او سه پورے را سره یو ځائے شوے نهٔ دے

---

[1] ای زوجها [2] کنایة عن المضاجعة والنوم معها علی الفراش [3] ای لم یکشف لنا سترا عبرت بذلک [4] واحصی" ای عد ما افطر،

کله چه دَ دے معاملے وخت ډیر اوشو ، نو نبی صلی الله علیه وسلم ته دَ دے ذکر اوشو - نو نبی صلی الله علیه وسلم او فرمائیل - هغه ماله را اولیږئ کله چه زهٔ د هغه په خدمت کښې حاضر شوم نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ماته پوښتنه اوکړه ، روژه څنګه نیسے ؟ ما اووئیل روزانه روژه نیسم - بیا ئیے او فرمائیل: دَ قرآن ختم څنګه کوے ؟ ما اووئیل - هره شپه ختم کوم - او بیا ئیے پوره واقعه وادروه - (لکه چه مخکښې تیره شوه) -

عبد اللهؓ به دَ شپے لوستلو د قرآن اوومه حصه دَ خپل کور یو کس ته دَ ورځ اوروله - چهٔ دَ شپے وربانډِ بوج نهٔ وی - او کله به ئیے چه بدن ته آرام ورکولو نو څهٔ ورځ به کوژه شو - اودَ هغو ورځو به ئے حساب یاد لرلو - بیا به ئیے قضا راوُړله - ځکه هغه به دا خبره بد ګڼړله - چه کوم حالت کښې مِ دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه جُدا ولے را غلے دے - هغه حالت چرته را نه پاتے نشی -

امام نووی" وائی - چه دا ټول روایتونه صحیح دی - او ډیر یا ته حصه ئیے دَ ی "بخاری او مسلم" شریکه ده - لږه غونډِ حصه به ئیے دا سے وی - چه دَ بخار او مسلم نه بـه په یو کتاب کښې روایت شوے وی -

۱۵۱ - وَعَنْ اَبِیْ رِبْعِیٍّ حَنْظَلَةَ بْنِ الرَّبِیْعِ الْاُسَیِّدِیِّ الْکَاتِبِ اَحَدِ کُتَّابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَقِیَنِیْ اَبُوْبَکْرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقَالَ : کَیْفَ اَنْتَ یَا حَنْظَلَةُ ؟ قُلْتُ نَافَقَ حَنْظَلَةُ قَالَ[1] : سُبْحَانَ اللّٰهِ مَا تَقُوْلُ قُلْتُ نَکُوْنُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یُذَکِّرُنَا بِالْجَنَّةِ وَالنَّارِ کَاَنَّا رَأْیَ عَیْنٍ فَاِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَافَسْنَا الْاَزْوَاجَ وَالْاَوْلَادَ وَالضَّیْعَاتِ نَسِیْنَا کَثِیْرًا - قَالَ اَبُوْبَکْرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فَوَاللّٰهِ اِنَّا لَنَلْقٰی مِثْلَ هٰذَا فَانْطَلَقْتُ اَنَا وَاَبُوْبَکْرٍ حَتّٰی دَخَلْنَا عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ، فَقُلْتُ نَافَقَ حَنْظَلَةُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ : فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَمَا ذَاكَ ؟ قُلْتُ : یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ نَکُوْنُ عِنْدَكَ تُذَکِّرُنَا بِالنَّارِ وَالْجَنَّةِ کَاَنَّا

۱۵۱ - ابو ربعی حنظلة بن ربیع اُسیدیؓ دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم یو کاتب دا هم وو - روایت کوی چه ما سره ابوبکرؓ مخامخ شو - نو تپوس ئیے اوکړو - چه اے حنظله ! څنګه حال دے؟ نو ما اووئیل چه حنظلهؓ خو منافق شوے دے - ابوبکرؓ او وئیل - سبحان الله اے حنظلهؓ ! دا څه وائے ؟ ما اووئیل چه کله مونږ د نبی صلی الله علیه وسلم مجلس کښې حاضر او موجود یو او هغوئ دَ جنت او دوزخ په باره کښې خبرے وائی نو زمونږ دا سے حال وی ، لکه چه مونږ ئے مخامخ سترګو سره وینو کورو - او کله چه مونږ دَ هغه دَ مجلس نه بهر شو اودَ ښځو او بچو اوښ مځکے او باغونو او دَ دنیا په کارونو کښې مشغول شو - نو مونږ ډیرے خبرے هیرے کړو - حضرت ابوبکرؓ اووئیل - چه والله دا حالت زمونږ هم دے نو بیا دواړه دَ نبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو - نو ما عرض اوکړو یا رسول الله حنظله منافق شو - نبی اکرم صلی الله علیه وسلم او فرمائیل ولے! ما عرض اوکړو یا رسول الله صلی الله -

---

[1] اى خاف على نفسه النفاق ٭ [2] اى ساعة لاداء العبودية وساعة للقيام بما يحتاج الانسان فى دنيا الفانية

رَأْيَ الْعَيْنِ فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِكَ عَافَسْنَا الْأَزْوَاجَ وَالْأَوْلَادَ وَالضَّيْعَاتِ نَسِيْنَا كَثِيْرًا: فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ اَنْ لَوْ تَدُوْمُوْنَ عَلٰى مَا تَكُوْنُوْنَ عِنْدِيْ وَفِي الذِّكْرِ لَصَافَحَتْكُمُ الْمَلَائِكَةُ عَلٰى فُرُشِكُمْ وَفِيْ طُرُقِكُمْ وَلٰكِنْ يَا حَنْظَلَةُ سَاعَةً وَسَاعَةً ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

قَوْلُهٗ "رِبْعِيٌّ" بِكَسْرِ الرَّاءِ "وَالْأُسَيِّدِيُّ" بِضَمِّ الْهَمْزَةِ وَفَتْحِ السِّيْنِ وَبَعْدَهَا يَاءٌ مُشَدَّدَةٌ مَكْسُوْرَةٌ. وَقَوْلُهٗ "عَافَسْنَا" هُوَ بِالْعَيْنِ وَالسِّيْنِ الْمُهْمَلَتَيْنِ: اَيْ عَابَجْنَا وَلَاعَبْنَا" وَالضَّيْعَاتُ الْمَعَايِشُ

؞ ؞ ؞

علیه وسلم مونږ چه کله ستاسو مجلس کښې یو۔ او تاسو زمونږ په وړاندِ دَ جنت او دوزخ ذکر کوئ۔ نو مونږ داسے معلوم کړو۔ چه جنت او دوزخ زمونږ سترګو ته مخامخ دے۔ او کله چه ستاسو دَ مجلس نه بهر شو۔ او خپلو بچو کاروبار، ملکے او باغونو کښې مشغول شو۔ نو ستا دَ مجلس ډیرے خبرے زمونږ نه هیرے شی نبی اکرم صلی الله علیه وسلم او فرمائیل په هغه ذات مِ دِ قسم وی۔ چه دَ چا په لاس کښې ځما ساه ده۔ چۀ کۀ ستاسو همیشه دا حال وی۔ کوم چه ځما مجلس کښې وی۔ او دَ الله په یاد کښې لګیدلی یئ نو یقینًا ستاسو په بسترو او ستاسو په لارو کوڅو کښې به فرښتے تاسو سره مصافحے کوی۔ لیکن اے حنظله رض! داسے کله کله وی۔ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دړے وارے داسے او وئیل۔ (مسلم)

عَافَسْنَا: ګیریدل۔ مشغولیدل۔

ضَيْعَاتٌ: د روزئ سامان، اسباب او ذریعے۔

؞ ؞

۱۵۲- **وَعَنِ** ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: بَيْنَمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ إِذَا هُوَ بِرَجُلٍ قَائِمٍ فَسَأَلَ عَنْهُ فَقَالُوْا اَبُوْ اِسْرَائِيْلَ نَذَرَ اَنْ يَقُوْمَ فِي الشَّمْسِ وَلَا يَقْعُدَ وَلَا يَسْتَظِلَّ وَلَا تَكَلَّمَ وَيَصُوْمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. مُرُوْهُ فَلْيَتَكَلَّمْ وَلْيَسْتَظِلَّ وَلْيَقْعُدْ وَلْيُتِمَّ صَوْمَهٗ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛

۱۵۲- عبد الله بن عباس رض نه روایت دے، چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خطبه وئیلی۔ چه یو سړے یئے ولاړ اولیدو نو وے وئیل۔ چه دا څوک دے؟ صحابو عرض او کړو۔ ابو اسرائیل دے۔ نذر ئے منلے دے چه دے به غرمو کښې نمر ته ولاړ اوسی او کینی به نۀ۔ او نه به سوری ته راځی۔ نۀ به چا سره خبرے کوی او روژه به ئے وی۔ نبی صلی الله علیه وسلم او فرمائیل چه ده ته حکم داوروئ چه خبرے اترے او کړی۔ او سوری ته کینی او نۀ ودریږی۔ او خپله روژه دِ پوره کړی۔ (بخاری)

باب ۱۵

ف ؛ دا باب مشتمل دے په څلورو آیتونو او څلورو حدیثونو باندِ۔ د دے باب په حدیثونو باندِ د غور او فکر کولو نه روسته د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم شفقت او مهربانی په امت باندِ د هغې ډیره ښه اندازه لګیږی۔ د هغوئ په تعلیم باندِ په عمل کولو سره انسان په غیر دَ تکلیف او سومانئ نه په خپلو۔

معمولاتو باندې خوشحالي او د زړه په اطمینان سره عمل کولے شی او د پوره آجر او ثواب مستحق ګیدلے شی - په عملونو او عبادتونو کښې چه کوم خلق د مشقت او تنګۍ لاره اختیاروی - هغوئ په هغې باندې همیشوالے نشی کولے - بلکه د تکلیف او ستړیوالی نه د تنګیدو او ویریدو په وجه د هغې نه یو طرف ته شی او د عمرو متیا بنګار شی -

بَابٌ فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى الْأَعْمَالِ

باب دے په بیان د همیشوالے کولو کښې په نیکو عملونو باندې -

(قرآنی آیتونه)

۵۵ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1] "اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ[2] وَلَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ" ∴

۵۵ - د الله تعالیٰ ارشاد دے آیا ایمان والو باندې هغه وخت نه دے راغلے چه د هغوئ زړونه د الله تعالیٰ ذکر او نازل شوی حق ته عاجزه او بنګته شی او د هغو خلقو پشان نشی - کوم له چه کتاب ورکړے شوے وو - او دے حال کښې په دوئ باندې ډیره موده تیره شوه - مګر د هغوئ زړونه سخت شول - (ایت ۱۶ - حدید - پ ۲۷) -

۵۶ - وَقَالَ تَعَالٰى[3] "وَقَفَّيْنَا بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ وَجَعَلْنَا فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ رَاْفَةً وَّرَحْمَةً وَرَهْبَانِيَّةَ نِ ابْتَدَعُوْهَا مَا كَتَبْنٰهَا عَلَيْهِمْ اِلَّا ابْتِغَآءَ رِضْوَانِ اللّٰهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا" ∴

۵۶ - د الله ارشاد دے - او بیا مو د هغوئ نه پس عیسیٰ ع ته انجیل ورکولو سره راولیږلو او د هغه د منونکو په زړونو کښې مو محبت او نرمی او رحم پیدا کړ - او رهبانیت هغوئ په خپلو ځانونو باندې پخپله لازم کړے وو - حالانکه مونږ په هغوئ لازم کړے نه وو - نو د دے هم هغوئ پوره خیال او نه ساتلو - (ایت ۲۷ - حدید - پ ۲۷)

∴ ∴ ∴

۵۷ - وَقَالَ تَعَالٰى[4]: وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّتِيْ نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ اَنْكَاثًا" ∴

۵۷ - د الله تعالیٰ ارشاد دے - چه تاسو د (مکے او سیدونکے لیونئ) ښځے پشان مه جوړیږئ - چه اول ئے خپل تار ونه برابر کړل او بیا ئے ټکړے ټکړے کړل - (ایت ۹۲ - نحل - پ ۱۴)

∴ ∴ ∴

۵۸ - وَقَالَ تَعَالٰى[5] وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ ∴ چه یقین (یعنی مرګ) درله راشی -

۵۸ - د الله تعالیٰ ارشاد دے - د خپل رب تر هغه وخته پورے عبادت کوه (ایت ۹۹ - حجر - پ ۱۴)

نبوی آحادیث

---

[1] سورة الحديد اية ١٦ [2] يان: يعنى "ومانزل من الحق": القران والذين اوتوا الكتاب: هم اليهود والنصارى والامد الزمن. [3] سورة الحديد اية ٢٧ [4] سورة النحل اية ٩٢ [5] سورة الحجر اية ٩٩ ∴

۱۵۳۔ وَاَمَّا الْاَحَادِيْثُ فَمِنْهَا حَدِيْثُ عَائِشَةَ "وَكَانَ اَحَبَّ الدِّيْنِ اِلَيْهِ مَادَاوَمَ صَاحِبُهٗ عَلَيْهِ"، وَقَدْ سَبَقَ فِي الْبَابِ قَبْلَهٗ ؛

۱۵۳۔ حضرت عائشےؓ نه روايت دے چه رسول الله صلى عليه وسلم او فرمائيل الله تعالىٰ ته هغه دين خوښ دے چه هغې باندې عمل كونكے هميشه قائم پاتے شى او هميشه پرے عمل كوى ۔ (دا حديث مخكنى باب كښے تير شويدے) ۔

۱۵۴۔ وَعَنْ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ نَامَ عَنْ حِزْبِهٖ مِنَ اللَّيْلِ اَوْعَنْ شَيْءٍ مِّنْهُ فَقَرَاَهٗ مَا بَيْنَ صَلٰوةِ الْفَجْرِ وَصَلٰوةِ الظُّهْرِ كُتِبَ لَهٗ كَاَنَّمَا قَرَاَهٗ مِنَ اللَّيْلِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۱۵۴۔ حضرت عمرؓ نه روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم او فرمائيل: كوم كس چه د شپے د خپل پړاوه وِرد، وظيفے يا د هغې څخه حصه (يا د تهجد د مونځ وغيره) كولو نه بغير اُوده شو، بيا د ۀ د صبا او ماسپښين ترمينځ هغه اولوست (يا پوره كړو) نو دۀ ته به د ومره ثواب ملاويږى، څومره چه ورته په وخت باندې په لوستلو ملاويدۀ، د ے دا سے دے ۔ لكه چه دۀ هغه وِرد (وظيفه) په خپل وخت باندې لوستلے وى ۔ (مسلم)

۱۵۵۔ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَا عَبْدَ اللّٰهِ لَاتَكُنْ مِثْلَ فُلَانٍ كَانَ يَقُوْمُ اللَّيْلَ فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيْلِ" ۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۱۵۵۔ عبد الله بن عمرو بن العاصؓ نه روايت دے ۔ چه رسول اللهؐ ماته او فرمائيل چه اے عبد الله ۔ دَ فلانى پشان مهٔ جوړيږه ۔ چه هغه به ئے دَ شپے عبادت كولو ۔ او بيا ئے پريخودلو (مسلم)

⁂ ⁂ ⁂

۱۵۶۔ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا فَاتَتْهُ الصَّلٰوةُ مِنَ اللَّيْلِ مِنْ وَجَعٍ اَوْغَيْرِهٖ صَلّٰى مِنَ النَّهَارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً، رَوَاهُ مُسْلِمٌ

۱۵۶۔ عائشےؓ نه روايت دے ۔ چه كلهٔ دَ نبى صلى الله عليه وسلم نه به دَ څهٔ تكليف يا بل څهٔ وجے نه دَ شپے مونځ كول پاتے شو ۔ نو بيا به ئے دَ ورځے دولس ۱۲ ركعته مونځ كولو ۔ (مسلم)

⁂ ⁂ ⁂

باب ۱۶

ف: دا باب مشتمل دے په لس ۱۰ آيتونو او دولس ۱۲ حديثونو باندې ۔ دَ دے آيتونو او حديثونو نه به درته دا خبره واضحه په ډاګه شى، چه دَ حضور صلى الله عليه وسلم اُسوه، او دَ هغوئ طريقه او دَ هغه دَ حكمونو او سنتونو حفاظت په هر يو مسلمان باندې لازم او ضرورى دے ۔ هغوئ چونكه خاتم الانبياء دے ۔ دغه شان دَ هغوئ اُسوه، دَ هغوئ دين هم آخرنے دے، ترقيامته پورے دا دين پاتے كيدونكے دے، په دے وجه دَ اُمت دَ هر يو كس دا ذمه وارى ده چه زهٔ به دَ هغوئؐ په قول، فعل او عمل وغيره كوم احكام او هدايات ملاوُشى، په هغې نهٔ صرف دا چه ځپله

خپله عمل اوکړی، بلکه د وخت او زمانے مطابق به د هغې حفاظت او اشاعت (خورول) هم کوی. دے د پاره چه نورو ته هم په اسوۀ رسول باندے عمل کول آسان شی.

بَابٌ فِی الْاَمْرِ بِالْمُحَافَظَةِ عَلَی السُّنَّةِ وَ اٰدَابِهَا!

د سنتو حفاظت، او د هغې په آدابو باندے د عمل کولو بیان

(قرآنی آیتونه)

۵۹- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[۵۱]: "وَمَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا" ∴

۵۹- د الله تعالی ارشاد دے. کوم څیز چه تاسو ته د الله رسولؐ درکوی هغه واخلئ یعنی په هغې عمل اوکړئ. او د کومو خبرو نه ئے چه منع کړی یئ د هغې نه منع شئ. (پ ۲۸ - حشر)

۶۰- وَقَالَ تَعَالٰی[۵۲]: "وَمَا یَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰی: اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْیٌ یُّوْحٰی" ∴

۶۰- د الله تعالی ارشاد دے. (رسول الله صلی الله علیه وسلم) د خپلے خوښے او خواهش خبرے نه کوی. هغه چه څه وائی (او حکم ورکوی) نو هغه وحی ده چه هغه ته رالیږلے شی. (پ ۲۷، نجم)

۶۱- وَقَالَ تَعَالٰی[۵۳]: "قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِیْ یُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَ یَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ" ∴

۶۱- د الله تعالی ارشاد دے (اے رسوله) ته اووایه. که الله سره مینه کول غواړئ نو زما تابعداری اوکړئ. نو تاسو سره به الله مینه اوکړی او تاسو به محبوب جوړ کړی. او ستاسو ټول گناهونه به اوبخښی. (پ ۳ - آل عمران)

۶۲- وَقَالَ تَعَالٰی[۵۴]: "لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ یَرْجُوا اللّٰهَ وَالْیَوْمَ الْاٰخِرَ" ∴

۶۲- د الله تعالی ارشاد دے. ستاسو د پاره د رسول اللهؐ په ژوندگئ کښے ډیره ښه نمونه پرته ده. څوک چه د الله او د آخرت د ورځے نه ویریږی (چه د هغه په پیروی کولو سره تاسو هم پاکه زندگی تیرولے شئ. او الله راضی کولے او خوشحالولے شئ). (پ ۲۱ - احزاب)

۶۳- وَقَالَ تَعَالٰی[۵۵]: "فَلَا وَ رَبِّكَ لَا یُؤْمِنُوْنَ حَتّٰی یُحَكِّمُوْكَ فِیْمَا شَجَرَ بَیْنَهُمْ ثُمَّ لَا یَجِدُوْا فِیْ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا[۵۶] مِّمَّا قَضَیْتَ وَیُسَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا"

۶۳- د الله تعالی ارشاد دے. ستا په رب دے قسم وی دوئ به هغه وخته پورے مسلمانان نشی. ترڅو چه خپلو معاملاتو کښے ستا فیصله اونه منی. او ستا د فیصلے او حکم کولو د وجهے نه د دوئ په زړونو کښے تنگی نه وی. بلکه د زړه په خوشحالئ سره ئے اومنی. (پ ۵ - نساء)

۶۴- وَقَالَ تَعَالٰی[۵۷]: "فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِیْ شَیْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَی اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ

۶۴- د الله تعالی ارشاد دے. که څه معامله کښے جګړه راشی. نو د الله او رسول (حکمونو) ته ئے وړاندے کړئ. که تاسو

---

[۵۱] سورة الحشر آیة ۷ [۵۲] سورة النجم آیة ۳-۴ [۵۳] سورة آل عمران آیة ۳۱

[۵۴] سورة الاحزاب آیة ۲۱ [۵۵] سورة النساء آیة ۶۵ [۵۶] "حرجا" ای ضیقا [۵۷] سورة النساء

الْاٰخِرِ" قَالَ الْعُلَمَآءُ: مَعْنَاهُ اِلَى الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ ؛

په ربښتیا په الله او په ورځ دَ آخرت ایمان راوړے وی.
(پ۵ - نساء)

علماؤ وئیلی دی چه دَ الله نه مراد دَ الله تعالیٰ کتاب دے او دَ رسول نه مراد دَ رسول صلی الله علیه وسلم سنت دی چه دے سره خپله (تصفیه) صفائی کوئ.

۶۵ - وَقَالَ تَعَالٰى[1]: "مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ" ؛

۶۵ - دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. چا چه دَ رسول تابعداری اوکړه. دا سے شوه، لکه چه دَ الله تعالیٰ تابعداری ئے اوکړه.
(پ۵ - نساء)

۶۶ - وَقَالَ تَعَالٰى[2] "وَاِنَّكَ لَتَهْدِيْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ. صِرَاطِ اللّٰهِ" ؛

۶۶ - دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. بے شکه ته هدایت او نیغ لارے طرف ته خلق رابلے. چه دَ الله لار ده. سورة شوری

۶۷ - وَقَالَ تَعَالٰى[3] "فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ" ؛

۶۷ - دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. بیشکه کوم کسان چه دَ الله تعالیٰ دَ حکم خلاف کوی، هغه دِ دَ دے خبرے نه ووېرېږی، چه الله تعالیٰ ئے په څه تکلیف او مصیبت کښے گیر کړی. او یا ورله دردناک عذاب ورنکړی. (پ۱۸ - نور)

۶۸ - وَقَالَ تَعَالٰى[4]: "وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ مِنْ اٰيَاتِ اللّٰهِ وَ الْحِكْمَةِ" وَالْاٰيَاتُ فِي الْبَابِ كَثِيْرَةٌ.

۶۸ - بل ځائے دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. او یاد ساتئ هغه څه چه لوستلے شی، ستاسو په کور ونو کښے دَ آیتونو دَ الله نه او دَ حکمت (دَ خبرو) نه. (پ۲۲ - احزاب)

وَاَمَّا الْاَحَادِيْثُ فَالْاَوَّلُ (**نبوی احادیث**)

۱۵۷ - عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: دَعُوْنِيْ مَا تَرَكْتُكُمْ اِنَّمَا اَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَثْرَةُ سُؤَالِهِمْ وَ اخْتِلَافُهُمْ عَلٰى اَنْبِيَائِهِمْ. فَاِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَاجْتَنِبُوْهُ وَاِذَا اَمَرْتُكُمْ بِاَمْرٍ فَاْتُوْا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۱۵۷ - دَ حضرت ابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. کومه خبره چه زهٔ تاسو ته اونهٔ کړم، دَ هغے متعلق ما نه پوښتنه مهٔ کوئ ځکه چه تاسو نه مخکښے اُمتونه دَ زیاتو سوالونو کولو په وجه او دَ خپلو پیغمبرانو سره دَ اختلافاتو په وجه هلاک شوی دی. پس زهٔ چه دَ کومے خبرے بیا نولو نه ځان ساتم. تاسو هم ځان ساتئ (یعنی دَ نیټو سونو نه ځان او ساتئ) او چه دَ کومے خبرے حکم او کړم نو دَ خپل طاقت مناسب په هغے عمل کوئ. (بخاری و مسلم)

۱۵۸ - عَنْ اَبِيْ نَجِيْحٍ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: "وَعَظَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۱۵۸ - ابو نجیح عرباض بن ساریه رضی الله عنه نه روایت دے. چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ډیر موثرا و عمده انداز کښے مونږ ته نصیحت اوکړو. چه ځمونږ زړونو کښے

---

[1] سورة النساء آية ۸۰ [2] سورة الشورىٰ آية ۵۲-۵۳ [3] سورة النور آية ۶۳ [4] سورة الاحزاب آية ۳۴ :

وَسَلَّمَ مَوْعِظَةً بَلِيْغَةً وَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوْبُ ـه وَذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُوْنُ فَقُلْنَا: يَا رَسُوْلَ اللهِ كَاَنَّهَا مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ فَاَوْصِنَا قَالَ: "اُوْصِيْكُمْ بِتَقْوَى اللهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَاِنْ تَاَمَّرَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ، وَاِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيْرًا فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ عَضُّوْا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ وَاِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْاُمُوْرِ فَاِنَّ كُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ" رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

"النَّوَاجِذُ" بِالذَّالِ الْمُعْجَمَةِ: الْاَنْيَابُ وَقِيْلَ الْاَضْرَاسُ ؛

سخته ویره پیدا شوه ـ او د سترګو نه مو اوښکے روانے شوے ـ مونږ اوویئیل یا رسول الله: دا سے معلومیږی. چه دا رخصتي او آخیری نصیحت دے ـ مونږ ته نور نصیحتونه هم او کړه ـ نبی کریم صلی الله علیه وسلم او فرمائیل، زهٔ تا سو ته دا حکم کوم چه د الله تعالیٰ نه اوویریږئ ـ او د حکم اوریدو او په هغې با ندے د عمل کولو نصیحت درته کوم ـ اګرچه (حکم در کوونکے امیر) یو حبشی غلام ولے نهٔ وی ـ تاسو کښے چه څوک پس ژوندے پاتے شو ـ هغه به ډیر اختلافات اووینی ـ د غه وخت به تاسو لازم دی چه څما د سنتو او څما د هدایت موندونکو خلفاؤ د سنتو پیروی کوئ ـ او د ژامو په غا ښونو کښے ئے مضبوط اونیسئ ـ په دین کښے د نوؤ خبرو (بدعت) پیدا کولو نه ځان اوساتئ ـ ځکه چه هر بدعت (نوے کار) پیدا کول ګمراهي ده ـ (ابوداؤد وترمذی) امام ترمذیؒ وائی چه دا حدیث حسن صحیح دے ـ "نواجذ" نوک دار غا ښونه یعنی انیاب ـ یا اضراس دی یعنی د ژامے اولنی غا ښونه ـ یا د ژامے آخری غا ښونه چه نوا جذ دی ـ

الثالث

دریم حدیث

١٥٩ ـ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "كُلُّ اُمَّتِيْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ اَبٰى" قِيْلَ، وَمَنْ يَاْبٰى يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ مَنْ اَطَاعَنِيْ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِيْ "فَقَدْ اَبٰى" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛

۱۵۹ ـ ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے ـ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل چه څما هر اُمتی به جنت ته ځی ـ او انکار کوونکے به نهٔ ځی ـ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چا پوښتنه او کړه ـ چه انکار کوونکے څوک دے؟ یا رسول الله! نو دے فرمائیل. چا چه څما تابعداری او کړه ـ جنت ته داخل شو ـ او چا چه څما او نه منل بس څما نه ئے انکار او کړو ـ (بخاری)

الرابع ، څلورم حدیث

١٦٠ ـ عَنْ اَبِيْ مُسْلِمٍ وَقِيْلَ اَبِيْ اِيَاسٍ سَلَمَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْاَكْوَعِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا اَكَلَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِمَالِهٖ فَقَالَ: "كُلْ بِيَمِيْنِكَ" قَالَ: لَا اَسْتَطِيْعُ قَالَ: "لَا اسْتَطَعْتَ" مَامَنَعَهُ اِلَّا الْكِبْرُ فَمَا

۱۶۰ ـ ابومسلم یا ابو ایاس سلمه بن عمرو بن اکوع رضی الله عنه نه روایت دے ـ چه یو کس د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په وړاندے په ګس لاس خوراک کولو ـ نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغهٔ ته او فرمائیل په ښی لاس خوراک کوه ـ هغهٔ اوویئیل، ما کښے دا طاقت

له "وجلت" بکسر الجیم: ای خافت ـ "وذرفت" بفتح المعجمة والراء: ای سالت "منها العیون" ای دموعها ؛

رَفَعَهَا اِلٰى فِيْهِ ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ ⁘ اَلْخَامِسُ

نشته. نبي كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل تا ته دِ دَ دے طاقت حاصل نشي. بيا ئے هغه ښے لاس کله هم خولے ته اوچتولے نشو. (ځکه) چه دغه وخت دَ نبي كريم صلى الله عليه وسلم دَ حکم نه انکار دَ کبر دَ وجهے نه ؤو. حالانکه لاس ئے ښه ټيک کار کولو. (مسلم)

(پنځم حديث)

١٦١- عَنْ اَبِىْ عَبْدِ اللّٰهِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَتُسَوُّنَّ صُفُوْفَكُمْ اَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللّٰهُ بَيْنَ وُجُوْهِكُمْ[1] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِىْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَوِّىْ صُفُوْفَنَا حَتّٰى كَاَنَّمَا يُسَوِّىْ بِهَا الْقِدَاحَ[2] حَتّٰى اِذَا رَاٰى اَنَّا قَدْ عَقَلْنَا عَنْهُ[3] ثُمَّ خَرَجَ يَوْمًا فَقَامَ حَتّٰى كَادَ اَنْ يُكَبِّرَ فَرَاٰى رَجُلًا بَادِيًا صَدْرُهٗ فَقَالَ عِبَادَ اللّٰهِ لَتُسَوُّنَّ صُفُوْفَكُمْ اَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللّٰهُ بَيْنَ وُجُوْهِكُمْ" ⁘ السَّادِسُ.

١٦١- ابوعبدالله نعمان بن بشير رض نه روايت دے. چه دَ نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه مے دا ارشاد فرمائيل اوريدلے دے. چه خپل صفونه په اهتمام سره برابروئ. کنې ستاسو ترمينځ به الله تعالى مخالفت پيدا کړي (يعني زړونو کښے به مو بغض او دشمني پيدا کړي). (بخاري ومسلم) دَ مسلم په يو روايت کښے داسے دی. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به ځمونږ دَ صفونو برابرولو دومره خيال ساتلو. لکه چه دَ غشي سره ئے برابروي. کله به چه دَ هغهٔ يقين اوشو. چه مونږ دَ هغهٔ په هدايت پوهه شو. نو بيا به ئے دا اهتمام پريخودلو بيا يوه ورځ راغے مانځه دپاره صفونه جوړ شو. او تکبير کيدو نږدے وو چه هغهٔ يوسړے اوليدو. چه سينه ئے دَ صف نه راوتلے ده. نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل دَ الله بندګانو خپل صفونه نيغ ساتئ. کنې الله تعالى به ستاسو ترمينځ اختلاف پيدا کړي.

(شپږم حديث)

١٦٢- عَنْ اَبِىْ مُوْسٰى رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اُحْتَرَقَ بَيْتٌ بِالْمَدِيْنَةِ عَلٰى اَهْلِهٖ مِنَ اللَّيْلِ فَلَمَّا حُدِّثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَاْنِهِمْ قَالَ اِنَّ هٰذِهِ النَّارَ عَدُوٌّ لَّكُمْ فَاِذَا نِمْتُمْ فَاَطْفِئُوْهَا عَنْكُمْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁘ السابع

١٦٢- ابوموسىٰ رض نه روايت دے. چه په مدينے والو کښے يوه شپه، يو کور کښے اور اولګيدو. کله چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم دَ دے حال نه خبر شو. نو ئے فرمائيل چه دا اور ستاسو دشمن دے. کله چه اوده کيږئ، نو هغه مړ کړئ (او دَ سوزولو څخه ځان سره مهٔ پريږدئ). (بخاري ومسلم)

(اووم حديث)

١٦٣- عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اِنَّ مَثَلَ مَا

١٦٣- دا روايت هم دَ ابوموسىٰ رض دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلے

---

[1] اى يوقع بينكم العداوة والبغضاء واختلاف القلوب ١٢

[2] " القداح " بكسر القاف خشب السهام والمعنى انه يبالغ فى تسويتها حتى تصير كانما يقوم بها السهام لشدة استوائها واعتدالها ⁘

[3] " عقلنا " بفتح المهملة والقاف اى فهمنا . وفى الحديث الحث على تسوية الصفوف وجواز الكلام بين الاقامة والدخول فى الصلوة ⁘

بَعَثَنِیَ اللّٰهُ بِهٖ مِنَ الْهُدٰی وَالْعِلْمِ کَمَثَلِ غَیْثٍ[1] اَصَابَ اَرْضًا فَکَانَتْ مِنْهَا طَائِفَةٌ طَیِّبَةٌ قَبِلَتِ الْمَآءَ فَاَنْبَتَتِ الْکَلَأَ[2] وَالْعُشْبَ الْکَثِیْرَ وَکَانَ مِنْهَا اَجَادِبُ اَمْسَکَتِ الْمَآءَ فَنَفَعَ اللّٰهُ بِهَا النَّاسَ فَشَرِبُوْا مِنْهَا وَسَقَوْا وَزَرَعُوْا، وَاَصَابَ طَائِفَةً مِنْهَا اُخْرٰی اِنَّمَا هِیَ قِیْعَانٌ[3] لَا تُمْسِکُ مَآءً وَلَا تُنْبِتُ کَلَأً: فَذٰلِکَ مَثَلُ مَنْ فَقُهَ فِیْ دِیْنِ اللّٰهِ وَنَفَعَهٗ مَا بَعَثَنِیَ اللّٰهُ بِهٖ فَعَلِمَ وَعَلَّمَ وَمَثَلُ مَنْ لَّمْ یَرْفَعْ بِذٰلِکَ رَاْسًا وَلَمْ یَقْبَلْ هُدَی اللّٰهِ الَّذِیْ اُرْسِلْتُ بِهٖ مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ؞

"فَقُهَ" بِضَمِّ الْقَافِ عَلَی الْمَشْهُوْرِ وَقِیْلَ بِکَسْرِهَا: اَیْ صَارَ فَقِیْهًا ؞

دی. چه هدایت او علم راکولو سره د الله تعالیٰ له خوا څما د رالیږلو مثال د هغې باران غوندے دے چه په یوه زمکه اوورېږی، د زمکے یو عمده برخے او به رابښکلے، د هغې ځائے اوچ وابنهٔ شنهٔ او تازه راوختل. د زمکے ځنے (نشیبی) برخه چه وه هلته اوبهٔ راجمع شوے چه هغې سره الله خلقو ته فائده اورسوله چه هغه اوبهٔ د هغوئ د څکلو په کار راغلے او اوبهٔ خوړئے پرے هم اوکړو. د باران اوبه هغه حصو ته هم اورسیدلے چه کومے شاړے وے. چه هلته نه اوبهٔ جمع شوے وے او نهٔ وابنهٔ زړو. ځکه چه هغه زمکه کښے د دے صلاحیت نهٔ وُو. دا سے مثال د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د هغې څهٔ هم دے چه د الله تعالیٰ د طرف نه خلقو ته علم او دین ښودلو د پاره زهٔ رالیږلے شوے وُوم. په دے څوک پوهٔ شو هغهٔ کتهه او فائده واخسته. بخپله ئے علم هم حاصل کړو. او نورئے هم خبر کړل. او بل هغه دے چه هغهٔ، دین طرفته د کتلو د پاره سترګے او چتے کړے هم نهٔ دی او نهٔ ئے د الله هغه هدایت قبول کړو کوم چه څما په ذریعه رالیږل شوے دے. (بخاری ومسلم) "فَقِهَ": یعنی فقیه شو. پوهٔ شو.

اَلثَّامِنُ .... اتم حدیث

۱۶۴- عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ "مَثَلِیْ وَمَثَلُکُمْ کَمَثَلِ رَجُلٍ اَوْقَدَ نَارًا، فَجَعَلَ الْجَنَادِبُ وَالْفَرَاشُ یَقَعْنَ فِیْهَا وَهُوَ یَذُبُّهُنَّ عَنْهَا[4] وَاَنَا اٰخِذٌ بِحُجَزِکُمْ عَنِ النَّارِ وَاَنْتُمْ تُفْلِتُوْنَ مِنْ یَدِیْ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞

"الْجَنَادِبُ" نَحْوُ الْجَرَادِ وَالْفَرَاشُ

۱۶۴- جابر رض نه روایت دے. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه څما او ستاسو مثال داسے دے. چه یو کس اور بل کړے دے. او ور ته چه پتنګان یا نور خزندګان، ګرځید ونکی څیزونه په تیزئ سره راځی، نو ور غورځیږی، مګر هغه سړے ئے د اور د غورزیدو نه بچ کوی. بس هغه زهٔ یم چه ستاسو ملا نیسم او د غورزیدو نه تاسو بچ کوم. او تاسو څما د لاس نه اوخوئیږئ. او اور کښے اوغورزیږئ. (مسلم)

---

[1] الغیث: المطر [2] الکلاء: المرعی والعشب: النبات الرطب [3] القیعان: جمع قاع وهی الارض التی لا نبات بها ؛ ؞ ۱۲ [4] "یذبهن" بالمعجمة وتشدید الباء ای یمنعهن عن الوقوع فی النار ؛ ؞ ۱۲

هٰذَا هُوَ الْمَعْرُوْفُ الَّذِیْ یَقَعُ فِی النَّارِ "وَالْحُجَزُ جَمْعُ حُجْزَةٍ وَهِیَ مَعْقِدُ الْإِزَارِ وَالسَّرَاوِیْلِ ÷ التاسع (نهم حدیث)

۱۶۵- عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَمَرَ بِلَعْقِ الْاَصَابِعِ وَالصَّحْفَةِ وَقَالَ: "اِنَّکُمْ لَاتَدْرُوْنَ فِیْ اَیِّهَا الْبَرَکَةَ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِیْ رِوَایَةٍ لَهٗ: "اِذَا وَقَعَتْ لُقْمَةُ اَحَدِکُمْ فَلْیَاْخُذْهَا فَلْیُمِطْ [1] مَاکَانَ بِهَا مِنْ اَذًی وَلْیَاْکُلْهَا وَلَایَدَعْهَا لِلشَّیْطَانِ وَلَا یَمْسَحْ یَدَهٗ بِالْمِنْدِیْلِ حَتّٰی یَلْعَقَ اَصَابِعَهٗ فَاِنَّهٗ لَایَدْرِیْ فِیْ اَیِّ طَعَامِهِ الْبَرَکَةُ": وَفِیْ رِوَایَةٍ لَهٗ: "اِنَّ الشَّیْطَانَ یَحْضُرُ اَحَدَکُمْ عِنْدَ کُلِّ شَیْءٍ مِنْ شَاْنِهٖ حَتّٰی یَحْضُرَهٗ عِنْدَ طَعَامِهٖ فَاِذَا سَقَطَتْ مِنْ اَحَدِکُمُ اللُّقْمَةُ فَلْیُمِطْ مَاکَانَ بِهَا مِنْ اَذًی فَلْیَاْکُلْهَا وَلَا یَدَعْهَا لِلشَّیْطَانِ" ÷

جَنَادِبُ: ملخان یا خزنده، زنده سر یا پتنګان چه اورکښې ځان غورزوی.

حَجَزُ: دَ پرتوګ یا دَ لنګ تړلو ځائے.

۱۶۵- جابر رض نه روایت دے. چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم بهٔ دَخوراک کولو نه پس دَ ګوتو او دَ ترکارئ دَ لوښو څټلو حکم راکولو. او فرمائیل بهٔ ئے. چه تاسو بهٔ دے پوهٔ نهٔ یئ. چه دَ خوراک په کومه حصه کښې برکت دے. (مسلم) دَ مسلم په یو روایت کښې دا سے هم راغلی دی. چه دا سے ئے اوفرمائیل چه دَ خوراک کولو په دوران کښې چه دَ چا نه یوه نمړئ اوغورزیږی نو هغه دِ اوچته کړي او ګرد دِ ترے صفا کړي او بیا دِ ئے اوخوری. هغه شیطان ته مهٔ پریږدی. او دَ ګوتو څټلو نه مخکښې په رومال ګوتے مهٔ صفا کوئ. ځکه معلومه نهٔ ده چه دَ خوراک په کومه حصه کښې برکت نازل شوے دے. دَ مسلم په یو بل روایت کښې دا سے راغلی دی. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه شیطان تاسو سره هر وخت او هره موقعه کښې موجود وی. دَ خوراک په وخت کښې هم حاضریږی پس کهٔ دَ خوراک په وخت کښې درنه چرته یوه نمړئ پریوزی. نو هغه را اوچته کړئ. صفا ئے کړئ او بیا ئے اوخورئ. هغه نمړئ شیطان ته مهٔ پریږدئ.

العاشر........... نهم حدیث

۱۶۶- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَامَ فِیْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِمَوْعِظَةٍ فَقَالَ: یَا اَیُّهَا النَّاسُ اِنَّکُمْ مَحْشُوْرُوْنَ اِلَی اللهِ تَعَالٰی حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا: "کَمَا بَدَاْنَا اَوَّلَ خَلْقٍ نُعِیْدُهٗ وَعْدًا عَلَیْنَا اِنَّا کُنَّا فَاعِلِیْنَ [2] اَلَا وَاِنَّ اَوَّلَ الْخَلَائِقِ یُکْسٰی یَوْمَ الْقِیَامَةِ اِبْرَاهِیْمُ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ، اَلَا وَاِنَّهٗ سَیُجَاءُ بِرِجَالٍ

۱۶۶- عبد الله بن عباس رض وائی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو وارے مونږ ته دَ نصیحت کولو دپاره او دریدو. او وے وئیل، اے خلقو! تاسو به الله تعالیٰ ته خپے ابلے حال کښې، ناسُنته او بربنډ جمع کولے شئ. څنګه چه دَ الله تعالیٰ ارشاد دے "چه څنګه حال کښې مونږ تاسو پیدا کړی وئ، هم هغه حالت کښې به دوباره ما ته جمع کولے شئ. دا څمونږ وعده وه. او دا به مونږ پوره کوو." وا ورئ. چه مخلوق کښې به دَ ټولو نه اول ابراهیم علیه السلام

---

[1] فلیمط "بضم للتحتیة" ای لینح ولیزل. ۱۲ [2] سورة الانبیآء آیة ۱۰۴.

مِنْ اُمَّتِيْ فَيُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ[1] فَاَقُوْلُ: يَا رَبِّ اَصْحَابِيْ فَيُقَالُ: اِنَّكَ لَاتَدْرِيْ مَا اَحْدَثُوْا بَعْدَكَ فَاَقُوْلُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ: "وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَا دُمْتُ فِيْهِمْ[2] اِلٰى قَوْلِهِ: "الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ" فَيُقَالُ لِيْ: اِنَّهُمْ لَمْ يَزَالُوْا مُرْتَدِّيْنَ عَلٰى اَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ::

"غُرْلًا": اَيْ غَيْرَ مَخْتُوْنِيْنَ ::

ته جامے ورواغوستلے شی. دا هم واورئ، چه ځما دَ اُمت نه به بعضے خلق راوستلے شی. چه مخونه به ئے دوزخ طرف ته اړولے شوی وی. نوزهٔ به اووایم اے الله! داخو ځما اُمتیان دی. ارشاد به اوشی. چه تاته پته نشته. چه دوئ ستا نه پس څهٔ نوی نوي (بدعتونه) دستا په دین کښے جوړکړی دی. نوزهٔ به هم هغه جواب ورکوم، کوم چه دَ الله تعالیٰ یو نیک بنده حضرت عیسیٰ علیه السلام وئیلی وُو. "وکنتُ علیهم شهیدا ما دمت فیهم" تر "العزیزالحکیم" پورے. نوما ته به اووئیلے شی. چه ستا دَ جدا کیدو نه پس دوئ په اړولو پوندو دَ دین نه لرے کیدل. (بخاری ومسلم)

غُرلًا: نا سُنته.

۱۶۷- عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ مُغَفَّلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَذْفِ[3] وَقَالَ: "اِنَّهٗ لَايَقْتُلُ الصَّيْدَ وَلَايَنْكَأُ الْعَدُوَّ[4] وَاِنَّهٗ يَفْقَأُ الْعَيْنَ وَيَكْسِرُ السِّنَّ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ اَنَّ قَرِيْبًا لِابْنِ مُغَفَّلٍ خَذَفَ فَنَهَاهُ وَقَالَ: اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْخَذْفِ وَقَالَ: "اِنَّهَا لَاتَصِيْدُ صَيْدًا" ثُمَّ عَادَ فَقَالَ: اُحَدِّثُكَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْهُ ثُمَّ عُدْتَ تَخْذِفُ: لَا اُكَلِّمُكَ اَبَدًا[5] ::

۱۶۷- ابی سعید عبدالله بن مغفل رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ خذف نه منع کړے ده. اوفرمائیلی ئے دی چه دا نه ښکار روژنی او نه دشمن ختموی. بلکه سترګه پرے اوچوی، او غاښ پرے ماتیږی. (بخاری ومسلم)

خَذْفُ: مسواکه کوته او کټه کوته کښے کانړے یا لوټے یا کنکر نیول او بیا وښتل. او یو روایت کښے داسے هم راغلی دی. چه دَ ابن مغفل رض یو رشته دار چرته خذف کولو. نو دوئ هغه منع کړو. او ورته ئے اووئیل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ داسے حرکت نه منع کړے وه. او وئیلی ئے دی چه دے سره ښکار نهٔ مری. دغه کس دوباره داسے حرکت اوکړو. نو ابن مغفل رض ورته اووئیل چه دَ دے باوجود چه ما تا ته دَ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم حدیث هم واوړولو چه هغهٔ داسے حرکت منع کړے دے. لیکن تا بیا هغه حرکت اوکړو. څه لا ړشه دَ دے نه پس به زهٔ ستا سره هیڅ کله خبرے او نهٔ کړم.

۱۶۸- وَعَنْ عَابِسِ بْنِ رَبِيْعَةَ قَالَ: رَاَيْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُقَبِّلُ الْحَجَرَ، يَعْنِي الْاَسْوَدَ، وَيَقُوْلُ

۱۶۸- عابس بن ربیعهؒ وائی، ما اولیدل چه حضرت عمر رض حجراسود ښکلولو. او دائے فرمائیل چه ما ته پته ده چه ته

---

[1] ذات الشمال" بكسر الشين" اى جهة النار

[2] سورة المآئدة اية ۱۱۷-۱۱۸

[3] الخذف بفتح المعجمة الاولى وسكون الثانية وبالفاء، اى رمى الحصى بالسبابة و الابهام

[4] ولا ينكأ العدو: اى لا يقتله. وانه يفقا العين: اى يقلعها" اية ٦٥ :

[5] فى الحديث هجر اهل البدع والفسوق ومنا بذى السنة مع العلم، وانه يجوز هجرهم ابدا

أَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ مَا تَنْفَعُ وَلَا تَضُرُّ وَلَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُكَ مَا قَبَّلْتُكَ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ∴

صرف یو کاڼے یې. نه چاته فائده ورکولے شې او نه نقصان. که ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ستا په ښکلولو نه وے لیدلے نو ما به هم نه وے ښکل کړے. (بخاری ومسلم

باب

ف:- دے باب کښې دوه قرآنی آیتونه او یو نبوی حدیث دے.

بَابٌ فِي وُجُوبِ الْاِنْقِيَادِ لِحُكْمِ اللهِ وَمَا يَقُولُهُ مَنْ دُعِيَ إِلَى ذٰلِكَ وَأُمِرَ بِمَعْرُوفٍ أَوْ نُهِيَ عَنْ مُنْكَرٍ! ∴

د الله تعالیٰ د حکم د اطاعت ضروری کېدل او څوک چه دے طرف ته رابلی. او امر بالمعروف یعنی د نیکو کارونو حکم کوی. او نهی عن المنکر یعنی د بدو کارونو نه منع کوی، نو هغه له څه وئیل پکار دی!

(قرآنی آیتونه)

٦٩- قَالَ اللهُ تَعَالَى[1]: "فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ∴

٦٩- د الله تعالیٰ ارشاد دے. قسم مے د ستا په رب وی چه دوی هغه وخته پورے مؤمنان نشی کېدلے، ترڅو چه تا خپلو جګړو کښې ثالث مقرر نه کړی. او د هغوی په زړونو کښې ستا د فیصلے خلاف څه تنګی نه ولری. او هغوی ئے په سر سترګو قبوله کړی. (پ٥- نساء- آیة ٦٥)

٧٠. وَقَالَ تَعَالَى[2]: إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ[3] إِذَا دُعُوا إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَنْ يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَأُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ" ∴

٧٠- د الله تعالیٰ ارشاد دے. چه د الله او د رسولؐ د حکم مطابق چه کله مؤمن بنده فیصلے له راوبللے شي. نو هغوی له دا سے جواب کول پکار دی. چه مونږ واورېدل او مونږ هر قسمه حکم ته سر ښکته تابعدار یو. او د دواړو جهانونو کامیابی خو هم دا سے مؤمنانو د پاره ده. (پ١٨- نور)

(نبوی احادیث)

وَفِيهِ مِنَ الْأَحَادِيثِ حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ الْمَذْكُورُ فِي أَوَّلِ الْبَابِ قَبْلَهُ وَغَيْرُهُ مِنَ الْأَحَادِيثِ فِيهِ ∴

دے سلسله کښې حدیثونه ډېر زیات دی. د حضرت ابوهریرهؓ یو حدیث مخکښې هم وړمبنی باب کښې تیر شوے دے.

١٦٩- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لِلّٰهِ مَا فِي

١٦٩- ابوهریرهؓ نه روایت دے. چه کله "لله ما فی السموت وما فی الارض وان تبدوا ما فی انفسکم او تخفوه یحاسبکم به الله" په نبی اکرم صلی الله علیه وسلم

---

[1] سورة النساء [2] سورة النور آية ٥١ [3] اى القول اللائق لهم ÷

السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ وَاِنْ تُبْدُوْا مَا فِیْ اَنْفُسِکُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ یُحَاسِبْکُمْ بِهِ اللّٰهُ" الْاٰیَةَ اَشْتَدَّ ذٰلِكَ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاَتَوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ بَرَکُوْا عَلَی الرُّکَبِ فَقَالُوْا: اَیْ رَسُوْلَ اللّٰهِ کُلِّفْنَا مِنَ الْاَعْمَالِ مَا نُطِیْقُ: الصَّلٰوةَ وَالْجِهَادَ وَالصِّیَامَ وَالصَّدَقَةَ وَقَدْ اُنْزِلَتْ عَلَیْكَ هٰذِهِ الْاٰیَةُ وَلَا نُطِیْقُهَا. قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: "اَتُرِیْدُوْنَ اَنْ تَقُوْلُوْا کَمَا قَالَ اَهْلُ الْکِتَابَیْنِ لٰه مِنْ قَبْلِکُمْ سَمِعْنَا وَعَصَیْنَا؟ بَلْ قُوْلُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَیْكَ الْمَصِیْرُ"، فَلَمَّا اقْتَرَاَهَا ٢ه الْقَوْمُ وَذَلَّتْ بِهَا اَلْسِنَتُهُمْ اَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰی فِیْ اَثَرِهَا ٣ه "اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَا اُنْزِلَ اِلَیْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ کُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِکَتِهٖ وَکُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ لَا نُفَرِّقُ بَیْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ، وَقَالُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَیْكَ الْمَصِیْرُ" فَلَمَّا فَعَلُوْا ذٰلِكَ نَسَخَهَا اللّٰهُ تَعَالٰی فَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ: "لَا یُکَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا کَسَبَتْ وَعَلَیْهَا مَا اکْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا اِنْ نَّسِیْنَا اَوْ اَخْطَاْنَا" قَالَ: نَعَمْ "رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَیْنَا اِصْرًا ٤ه کَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَی الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِنَا" قَالَ: نَعَمْ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ" قَالَ: نَعَمْ "وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا اَنْتَ مَوْلَانَا

باندے نازل شو۔ ترجمه ئے دا ده: " په زمکه او آسمانونو کښے چه څهٔ دی صرف دَ الله تعالیٰ دی۔ تاسو دَخپل زړهٔ خبرے کهٔ پټوئ او کهٔ ښکاره کوئ، الله تعالیٰ به دَ هرے خبرے تاسو سره حساب کوی نو صحابوؓ باندے دا خبره ډیره گرانه شوه۔ نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته راغلل. او ډیر ساعت سوچ کښے سر ښکته پراته وُو. بیائے عرض اوکړو۔ یا رسول الله! مونږ ته خو دَ دے کارونو حکم شوے دے. او مونږ به په دے مکلف یو۔ چه دَ کومے مونږ کښے طاقت شته، لکه مونځ، روژه، جهاد، صدقه. نو اوس تا باندے دا آیت نازل شوے دے چه څمونږ دَ طاقت نه بهر دے۔ نو رسول الله اوفرمائیل، چه ستاسو دا خیال دے چه هغه خبرے اوکړئ کومے چه مخکښے یهودو او عیسائیانو کړے وے. یعنی دا چه "مونږ خو واورېدل، مگر منلے ئے نشو" بلکه تاسو به داسے وایئ چه مونږ دَ زړهٔ په غوږونو واورېدلے، او هر قسمه حکم ته سر ښکته تابعدار یو۔ او دا وایئ چه اے ربه! مونږ او بخښه۔ او مونږ به تا ته واپس کیږو. کله چه صحابوؓ دا آیت اوویئلو او په ژبوئے قبول کړو۔ نو دَ هغے نه پس "امن الرسول" آیت نازل شو. چه معنیٰ ئے دا ده: رسول په هغه کتاب چه دهٔ ته نازل شوے دے ایمان لری۔ او مؤمنان هم۔ ټول په الله، دَ هغهٔ په فرښتو، دَ هغهٔ په کتابونو او دَ هغهٔ په پیغمبرانو ایمان ساتی۔ (او وائی) چه مونږ دَ هغهٔ په پیغمبرانو کښے هیڅ فرق نهٔ کوو۔ او الله ته وائی۔ چه مونږ ستا حکم واورېدلو او مونږ قبول کړو۔ یا پروردگاره! بخښنه هم ستا دَ طرف نه ده او واپس کیدل هم تا ته دی۔" هر کله چه هغوئ دلته اوکړل نو الله تعالیٰ هغه حکم منسوخ کړو. او "لا یکلف الله نفسها الا وسعها" حکم

لٰه ای الیهود والنصاریٰ ٢ه ای قرأها" وذلت "بنقادت ٣ه" فی اثرها" بکسر فسکون وبفتحتین ای عقب نزولها ٤ه ای امرا یثقل علینا حمله؛

فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ" قَالَ: نَعَمْ؛ رَوَاهُ مُسْلِمٌ ۔

ئې نازل کړو. معنیٰ ئې داده "چه الله تعالیٰ چا ته هم د هغهٔ د طاقت نه زیات تکلیف نهٔ ورکوی. د بندهٔ کار بدله به هم بنده وی. او د بدو کارونو به هم دهٔ ته نقصان او تاوان رسی. اے ربه! مونږ نه چه کومه خبره هیره شی نو مونږ په هغې مهٔ نیسه. یا را نه خطا اوشی نو مونږ مهٔ نیسه. الله تعالیٰ اوفرمائیل، بنه ده. اے پروردګاره! مونږ باندے داسے بوج او بیټې مهٔ راچوه څنګه چه مخکښې خلقو باندے وراچولے شوی وُو. الله تعالیٰ اوفرمائیل ډیره بنه ده. اے ربه! دومره بوج را باندے مهٔ بارکوه چه څمونږ طاقت ورته نهٔ وی. الله اوفرمائیل ډیره بنه ده. اے ربه! مونږ ته معافی اوکړه او څمونږ ګناهونه اوبخښه. او مونږ باندے رحم او مهربانی اوکړه. ته څمونږ مالک او کارساز ئې. مونږ په کافرو باندے غالب کړے. الله اوفرمائیل ډیره بنه ده. (مسلم)

باب ۱۸

ف:- دے باب کښې پنځه آیتونه او دړے احادیث دی. دین کښې د ځان نه خبرے راویستل بدعت دے. چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وینا مطابق دغه ګمراهی او بے دینی ده. دین اصل کښې د الله تعالیٰ د حکمونو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنت طریقے او د صحابه رض سنت او د هغوی تابعدارئ کولو نوم دے. داسے یو کار چه د هغې سند او بنیاد په دے مأخذونو کښې نهٔ وی. هغې ته د دین نامه ورکول یا دین وئیل حقیقت کښې داسے دی لکه اسلام چه نامکمله اوګنړی. او هم دا بدعت دے. او بدعتی سړے د رسول اکرم صی الله علیه وسلم په فیصله مردود دے.

بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ الْبِدَعِ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُوْرِ!

بدعت او دین کښې د نوو خبرو راویستلو د ممانعت بیان.

(قرآنی آیتونه)

۷۱- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی [1] "فَمَا ذَا بَعْدَ الْحَقِّ اِلَّا الضَّلٰلُ" ۔

۷۱- د الله تعالیٰ ارشاد دے. د امر حق خبرے نه پس بغیر د ګمراهئ نه بل څهٔ څیز پاتے شو. (پ۱۱، یونس)

۷۲- وَقَالَ تَعَالٰی [2] "مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتٰبِ مِنْ شَيْءٍ" ۔

۷۲- د الله تعالیٰ ارشاد دے. مونږ په کتاب (لوح محفوظ) کښې هیڅ شے نه دے پریښے. (پ۷. انعام)

۷۳- وَقَالَ تَعَالٰی [3] "فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ" اَيِ الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ ۔

۷۳- د الله تعالیٰ ارشاد دے. که ستاسو په څهٔ معامله کښې جګړه پیدا شوه. نو الله او د هغهٔ رسولؐ طرفته رجوع اوکړئ. یعنی قرآن او سنت ته رجوع اوکړئ. (پ۵. نساء)

۷۴- وَقَالَ تَعَالٰی [4] "وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ" ۔

۷۴- د الله تعالیٰ ارشاد دے. دا (دین) زما نیغه لاره ده. د دے تابعداری اوکړئ. او په نورو لارو مهٔ ځئ. دغه لارے به تاسو د نیغے

---

[1] سورة یونس آیة ۲۲ [2] سورة الانعام آیة ۳۸ [3] سورة النساء آیة ۵۹ [4] سورة انعام آیة

لاره نه واړوی - (پ - انعام)

۷۵ - وَقَالَ تَعَالىٰ[1]: "قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِىْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَ يَغْفِرْلَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ" وَالْاٰيَاتُ فِى الْبَابِ كَثِيْرَةٌ مَّعْلُوْمَةٌ ∴

۷۵ - الله تعالیٰ فرمائی: اے رسوله! او وایه - که الله تعالیٰ سره مینه کول غواړئ نو ځما تابعداری اوکړئ - الله تعالیٰ به تاسو خپل محبوب جوړ کړی. او ستا سو ګناهونه به معاف کړی - (پ - عمران) دے باب کښے نورهم ډیر مشهور آیتونه شته.

(نبوی احادیث)

وَاَمَّا الْاَحَادِيْثُ فَكَثِيْرَةٌ جِدًّا وَّ هِىَ مَشْهُوْرَةٌ فَنَقْتَصِرُ عَلىٰ طَرَفٍ مِنْهَا ∴

دے سلسله کښے حدیثونه ډیر زیات دی - چه ټول لیکل مشکل دی -

۱۷۰ - عَنْ عَآئِشَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ اَحْدَثَ فِىْ اَمْرِنَا هٰذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ[2]" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِىْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: "مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ اَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ" ∴

۱۷۰ - حضرت عائشه رض فرمائی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو، چه کوم کس ځمونږ په دین کښے د ځان نه داسے خبره ایجاد کړی چه دین کښے نه وی. هغه مردود دے - (بخاری ومسلم) د مسلم په یوه روایت کښے دی. چا چه یو داسے عمل اوکړو چه د هغے مونږ حکم نه وی ورکړے. هغه مردود دے (یعنی عمل هم او څوک چه عمل کوونکے دے هغه هم مردود دے)

۱۷۱ - وَعَنْ جَابِرٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا خَطَبَ احْمَرَّتْ عَيْنَاهُ، وَ عَلَا صَوْتُهٗ وَاشْتَدَّ غَضَبُهٗ حَتّٰى كَاَنَّهٗ مُنْذِرُ جَيْشٍ[3] يَقُوْلُ: "صَبَّحَكُمْ وَ مَسَّاكُمْ" وَيَقُوْلُ: "بُعِثْتُ اَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ" وَيَقْرِنُ بَيْنَ اُصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطٰى وَيَقُوْلُ: اَمَّا بَعْدُ فَاِنَّ خَيْرَ الْحَدِيْثِ كِتَابُ اللّٰهِ وَخَيْرَ الْهَدْىِ هَدْىُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَشَرَّ الْاُمُوْرِ مُحْدَثَاتُهَا وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ" ثُمَّ يَقُوْلُ "اَنَا اَوْلىٰ بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهٖ مَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِاَهْلِهٖ، وَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا اَوْضَيَاعًا[1] فَاِلَىَّ وَعَلَىَّ"

۱۷۱ - جابر رض نه روایت دے. چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم خطبه کښے ارشاد اوفرمائیلو. چه د خطبے په دوران کښے سترګے سرے شوے - او آواز ئے تیز شو. او غصه ئے زیاته شوه. داسے معلومیده چه د دشمن د لښکر نه مونږ ویروی. چه سحر او ماښام حمله کوونکے دے. او دا ئے هم اوفرمائیل. چه زه او قیامت دواړه دغے نزدے نزدے لیږلے شوی یو. لکه دا دوه ګوتے - یعنی مسواکه او مینځنۍ ګوته ئے یو ځائے کړلے - او، وے فرمائیل. د الله تعالیٰ ثنا او صفت نه پس (واورئ) چه بهتر کلام د الله کتاب دے - او بهتره لار د رسول الله صلی الله علیه وسلم لار ده - او بدترینه خبره هغه ده. چه دین کښے د ځان نه جوړه شوے وی. (یعنی بدعت) - او هر بدعت ګمراهی ده - بیا ئے ارشاد اوفرمائیلو

---

[1] سورة آل عمران آية ۳۱ [2] ای من احدث فی الاسلام ما لیس من الاسلام فی شئ ولم یشهد له اصل من اصوله فهو مردود ولا یلتفت الیه. وهذا الحدیث قاعدة من قواعد الدین الجلیلة فینبغی حفظه واشهاره فی ابطال المحدثات والبدع [3] ای مخبر بجیش العدة.

[1] "الضیاع" بفتح الضاد المعجمة: العیال ای من ترک اطفالا وعیالا ∴

رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

چه زهٔ هر مؤمن دپاره ذهغهٔ نه هم نږیات ذهغهٔ دپاره ښهٔ یم - هغه چه کوم مال پریږدی، هغه ذهغهٔ ذاهل و عیال دپاره دے. اوکهٔ قرض ئے پریښودلو یائے لاوارثه اولاد پریښودلو، نو نږهٔ ذهغهٔ ذمه وار یم. (مسلم)

۱۷۲- وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حَدِيْثُهُ السَّابِقُ فِيْ بَابِ الْمُحَافَظَةِ عَلَى السُّنَّةِ ؛

۱۷۲- عرباض بن ساریه رض نه دا روایت باب ع۱۶ حدیث ع۱۵۸ کښے تیر شوے دے. تقریبًا دے مضمون سره برابر دے.

باب ۱۹

ف ۱. دا باب په دوه قرآنی آیتونو او دوه نبوی حدیثونو باندے مشتمل دے.

بَابُ فِيْمَنْ سَنَّ سُنَّةً حَسَنَةً اَوْ سَيِّئَةً ! د ښے یا بدے طریقے ایجادولو بیان !

(قرانی ایتونه)

۱۷- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [1]: "وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ اَعْيُنٍ وَّاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِيْنَ اِمَامًا" ؛

۱۷- ذ الله تعالیٰ ارشاد دے. او هغه کسان چه (ذ الله نه) دُعا غواړی - چه اے ربه څمونږ! راکړے مونږ ته څمونږ ذ اولاد نه یخوالے ذ سترګو. او مونږ ذ پرهیزګارانو مشر جوړ کړے. (پ۱۹ فرقان)

۲۷- وَقَالَ تَعَالٰى [2] "وَجَعَلْنَاهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا" ؛

۲۷- ذ الله تعالیٰ ارشاد دے. چه مونږ هغه پیشوا جوړ کړو. چه څمونږ په حکم سره به ئے هدایت کولو. (پ۱۷ انبیاء)

(نبوی حدیثونه)

۱۷۳- وَعَنْ اَبِيْ عَمْرٍو جَرِيْرِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا فِيْ صَدْرِ النَّهَارِ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَآءَهُ قَوْمٌ عُرَاةٌ مُجْتَابِي النِّمَارِ اَوِ الْعَبَآءِ مُتَقَلِّدِي السُّيُوْفِ عَامَّتُهُمْ بَلْ كُلُّهُمْ مِنْ مُضَرَ فَتَمَعَّرَ وَجْهُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَا رَاٰى بِهِمْ مِنَ الْفَاقَةِ [3] فَدَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ فَاَمَرَ بِلَالًا فَاَذَّنَ وَاَقَامَ ثُمَّ صَلّٰى ثُمَّ خَطَبَ فَقَالَ: "يَآ اَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ

۱۷۳-۱- ابو عمرو جریر بن عبد الله رض بیان کوی. چه ذغرمے وخت وُو. چه مونږ ذ نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره مجلس کښے ناست وُو. چه څهٔ خلق ذغلته داسے حالت کښے راغلل. چه غاړو کښے ئے کمبلے یا شړئ وے. او غاړے تمے توره هم اچولے وے. او تقریبًا ټول ذ بنی مضر قبیلے خلق وُو. ذ هغوئ ذ ولږے او ذغریبئ حالت چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اولیدو نو ذ مخ رنګ ئے بدل شو. هغوئ دننه لاړل او بیا بهرته راووتلو. نو بلال رض ته ئے ذا ذان کولو حکم ورکړو. هغوئ اذان اوکړو، او تکبیر ئے شروع کړو. بیا نبی کریم صلی الله

---

[1] سورة الفرقان اية ۷۴ [2] سورة الانبياء اية ۷۳ [3] اى شدة الاحتياج مع عدم مواساة الاغنياء لهم. وقوله رضى الله عنه "فدخل" اى النبى صلى الله عليه وسلم منزله

خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ" اِلٰى اٰخِرِ الْاٰيَةِ: "اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا" وَالْاٰيَةُ الْاُخْرٰى الَّتِىْ فِىْ اٰخِرِ الْحَشْرِ: "يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ" تَصَدَّقَ[له] رَجُلٌ مِّنْ دِيْنَارِهٖ مِنْ دِرْهَمِهٖ مِنْ ثَوْبِهٖ مِنْ صَاعِ بُرِّهٖ مِنْ صَاعِ تَمْرِهٖ حَتّٰى قَالَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ" فَجَآءَ رَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ بِصُرَّةٍ كَادَتْ كَفُّهٗ تَعْجِزُ عَنْهَا بَلْ قَدْ عَجَزَتْ ثُمَّ تَتَابَعَ النَّاسُ حَتّٰى رَاَيْتُ كَوْمَيْنِ مِنْ طَعَامٍ وَّثِيَابٍ حَتّٰى رَاَيْتُ وَجْهَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَهَلَّلُ كَاَنَّهٗ مُذْهَبَةٌ: فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَنْ سَنَّ فِى الْاِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهٗ اَجْرُهَا وَاَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا بَعْدَهٗ مِنْ غَيْرِ اَنْ يُّنْقَصَ مِنْ اُجُوْرِهِمْ شَيْءٌ وَّمَنْ سَنَّ فِى الْاِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً كَانَ عَلَيْهِ وِزْرُهَا وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ بَعْدِهٖ مِنْ غَيْرِ اَنْ يُّنْقَصَ مِنْ اَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ:

قَوْلُهٗ "مُجْتَابِى النِّمَارِ" هُوَ بِالْجِيْمِ وَبَعْدَ الْاَلِفِ بَاءٌ مُّوَحَّدَةٌ. وَالنِّمَارُ جَمْعُ نَمِرَةٍ وَهِىَ كِسَاءٌ مِّنْ صُوْفٍ مُّخَطَّطٌ وَمَعْنٰى "مُجْتَابِيْهَا": لَابِسِيْهَا قَدْ خَرَقُوْهَا فِىْ رُءُوْسِهِمْ. "وَالْجَوْبُ" الْقَطْعُ وَمِنْهُ قَوْلُهٗ تَعَالٰى "وَثَمُوْدَ الَّذِيْنَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ" اَىْ نَحَتُوْهُ وَقَطَعُوْهُ. وَقَوْلُهٗ "تَمَعَّرَ" هُوَ بِالْعَيْنِ الْمُهْمَلَةِ: اَىْ تَغَيَّرَ: وَقَوْلُهٗ "رَاَيْتُ

علیه وسلم دَ ماښځه نه پس خطبه اوویله او دا آیتونه ئې اوویلو. "یا ایها الناس اتقوا ربکم الذی خلقکم من نفس واحدة" نه تر "ان الله کان علیکم رقیبا" پورې. او دوېم آیت دَ سورت حشر آخره کښې دے. "یا ایها الذین آمنوا اتقوا الله ولتنظر نفس ما قدمت لغد" دَ اول آیت ترجمه دا ده. "اے خلقو! دَ خپل رب نه اووېرېږئ. چه تاسو ئې دَ یو نفس نه پیدا کړي یئ." دَ دوېم آیت ترجمه دا ده "اے ایمان والو! دَ الله نه اووېرېږئ. او هر یو کس دِ دا اندازه واخلی چه صبا دپاره ئې څهٔ لیږلی دی. او ذخیره ئې څهٔ ده؟" صدقه دِ اوکړی یو کس دَ کپړو، بل کس دَ غنمو، دَ کجورو یو یو صاع صدقه کول پکار دی. تر دې چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دَ کجورې یوه ټکړه ولې نهٔ وی. یو انصاری یوه تهیلۍ دومره ډکه کړې وه چه دَ دروندوالی په وجه ئې لاسونه ستړي شوی وُو. قریبه وه چه دَ لاسونو نه ئې غورځیدلې وې. دے نه پس خلق یو بل پسې راتلل. او دَ خپل طاقت مناسب به ئې څهٔ نه څهٔ صدقه ورکوله. تر هغې پورې چه ما ولیدل چه د صدقې دَ کپړو او د خوراک د سامان دوه ډیری اولګیدل.

بیا ما د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم مخ مبارک دَ سرو زرو پشان پرقیدلے اولیدلو. دے نه پس نبی کریم صلے الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو، چا چه په اسلام کښې دَ نیکئ او دَ ښهٔ کار یوه طریقه جاری کړه، نو هغهٔ ته به دَ هغې ثواب ورکولے شی. او دَ دے نه پس چه څومره خلق په هغې عمل کوی. دَ هغې ټولو برابر ثواب به هم ورکولے شی. او دَ هغوئ په ثواب کښې به هیڅ کمے نهٔ راځی. او چا چه یوه غلطه طریقه رائجه کړه. دَ هغې رائج

[له] ای لیتصدق فهو خبر بمعنی الامر

كُوْمَيْنِ" بِفَتْحِ الْكَافِ وَضَمِّهَا: اَيْ صُبْرَتَيْنِ: وَقَوْلُهُ" كَاَنَّهُ مُذْهَبَةٌ" هُوَ بِالذَّالِ الْمُعْجَمَةِ وَفَتْحِ الْهَاءِ وَ الْبَاءِ الْمُوَحَّدَةِ قَالَهُ الْقَاضِيْ عِيَاضٌ وَغَيْرُهُ وَصَحَّفَهُ بَعْضُهُمْ فَقَالَ: "مُدْهُنَةٌ" بِدَالٍ مُهْمَلَةٍ وَضَمِّ الْهَاءِ وَبِالنُّوْنِ وَكَذَا ضَبَطَهُ الْحُمَيْدِيُّ وَ الصَّحِيْحُ الْمَشْهُوْرُ هُوَ الْاَوَّلُ: وَالْمُرَادُ بِهِ عَلَى الْوَجْهَيْنِ: الصَّفَاءُ وَالْاِسْتِنَارَةُ.

كونكى ته به هم هغه هومره عذاب وركولے شي. مگر په دغه طريقه چه د دے نه پس څوک هم عمل كوى د هغه ټولو د گناهونو برابر به دهٔ ته هم عذاب وركولے شي. بغير د دے نه چه د دغه عمل كونكو په عذاب كښے څهٔ كمے راشي. (مسلم)

"مُجْتَابِي النِّمَارِ": د وړئ ځادرچه گل كار برے شوے وي. "مُجْتَابِيْهَا": ځادرے اغوستونكے. هغه ځادرچه د سر د طرف نه شليدلے وي. "اَلْجُوْبُ": شليدل. برے كيدل. "جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ": د نالود كانړو نه تيرشول او لاره ئے پريكړه. "تَمَعَّرَ اَيْ تَغَيَّرَ": د مخ رنگ ئے بدل شو. "كُوْمَيْنِ": دوه ډهيرى انبارونه. "مَذْهَبَةٌ": قاضي عياضؒ نه هم دا نقل شوى دى؛ بعضے وائي چه دا لفظ "مُدْهُنَةٌ" او حميديؒ دا په همدے طريقه ليكلے دے. صحيح او مشهور روايت اولنے دے. د دواړو معنىٰ يوه ده. "صفا او ځليدونكے".

۱۷۴- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَيْسَ مِنْ نَفْسٍ تُقْتَلُ ظُلْمًا اِلَّا كَانَ عَلَى ابْنِ اٰدَمَ الْاَوَّلِ[1] كِفْلٌ مِّنْ دَمِهَا لِاَنَّهُ كَانَ اَوَّلَ مَنْ سَنَّ الْقَتْلَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۱۷۴- عبد الله بن مسعودؓ نه روايت دے. چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد دے. يوكس هم په ناحقه او زياتى سره وژلے نشي. مگر د دے قتل د گناه بوج او ذمه وارى د حضرت آدم عليه السلام په اولنى ځوئے (قابيل) باندے راځي. ځكه چه (قابيل) هغه كس دے. چه هغهٔ د قتل طريقه راپيدا كړه. (بخاري ومسلم)

باب ۲۰

ف:- دا باب په څلورو قرآني آيتونو او څلور نبوى حديثونو باندے مشتمل دے.

بَابٌ فِي الدَّلَالَةِ عَلٰى خَيْرٍ وَالدُّعَاءِ اِلٰى هُدًى اَوْ ضَلَالَةٍ!

د نيكئ لاره ښودل، او د هدايت يا د گمراهئ دعوت وركولو بيان.

(قرآني آيتونه)

۷۳- قَالَ تَعَالٰى[2] "وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ"

۷۴- وَقَالَ تَعَالٰى[3] "اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ"

۷۵- وَقَالَ تَعَالٰى[4] "وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى"

۷۳- د الله تعالىٰ ارشاد دے. خلق الله طرفته د هغهٔ لارے ته راوبله. (پ۲۰، قصص)

۷۴- د الله تعالىٰ ارشاد دے. د خپل رب لارے طرف ته خلق په ښهٔ تدبير او چل سره او ښهٔ انداز كښے پوهولو سره راوبله. (پ۱۴، نحل)

۷۵- د الله تعالىٰ ارشاد دے. په نيكئ او ښيگړه كښے د يو بل سره لاس اوهدئ .... (پ۶، مائده)

---

[1] اى قابيل قاتل اخيه هابيل. والكفل" بكسر الكاف وسكون الفاء ": المنصب: اى نصيب من الاثم

[2] سورة القصص آية ۸۷ [3] سورة النحل آية ۱۲۵ [4] سورة المائدة آية ۲

۷۶- وَقَالَ تَعَالیٰ[1]: "وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ" ۞

۷۶- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. تاسو کښے دِ یوه ډله داسے هم وی. چه نیکئ طرف ته خلق را بلی- (آل ، عمران)

(نبوی حدیثونه)

۱۷۵- وَعَنْ اَبِیْ مَسْعُوْدٍ عُقْبَةَ بْنِ عَمْرٍو الْاَنْصَارِیِّ الْبَدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ دَلَّ عَلٰى خَيْرٍ فَلَهٗ مِثْلُ اَجْرِ فَاعِلِهٖ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ۞

۱۷۵- ابومسعود عقبه بن عمرو انصاری بدری رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چاچه خیر او نیکئ طرف ته څوک را اوبللو، دهٔ ته هم دَ عمل کونکی هومره ثواب ورکولے شی. (مسلم)

۱۷۶- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ دَعَا اِلٰى هُدًى كَانَ لَهٗ مِنَ الْاَجْرِ مِثْلُ اُجُوْرِ مَنْ تَبِعَهٗ لَا يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ اُجُوْرِهِمْ شَيْئًا" وَ مَنْ دَعَا اِلٰى ضَلَالَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْاِثْمِ مِثْلُ اٰثَامِ مَنْ تَبِعَهٗ لَا يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ اٰثَامِهِمْ شَيْئًا". رَوَاهُ مُسْلِمٌ ۞

۱۷۶- حضرت ابوهریرة رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چاچه څوک هدایت طرف ته را اوبللو، نو دهٔ ته هم دَ هدایت اخستونکی هومره اجر او ثواب ورکولے شی- او دَ هغهٔ په ثواب کښے هم هیڅ کمے نهٔ شی کولے- او چاچه یو کس ته دَ ګمراهئ غلطه لار اوښودله- نو دَ رابلونکی هم هغه هومره ګناه کیږی څومره چه ګمراهئ باندے دَ عمل کونکی کیږی: او دَ هغوئ په ګناهونو کښے به هم هیڅ کمے نشی کولے. (مسلم)

۱۷۷- وَعَنْ اَبِی الْعَبَّاسِ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ خَيْبَرَ: "لَاُعْطِيَنَّ هٰذِهِ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلًا يَفْتَحُ اللّٰهُ عَلٰى يَدَيْهِ يُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيُحِبُّهُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ" فَبَاتَ النَّاسُ يَدُوْكُوْنَ لَيْلَتَهُمْ اَيُّهُمْ يُعْطَاهَا: فَلَمَّا اَصْبَحَ النَّاسُ غَدَوْا عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ يَرْجُوْا اَنْ يُعْطَاهَا فَقَالَ: "اَيْنَ عَلِیُّ بْنُ اَبِیْ طَالِبٍ؟" فَقِيْلَ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هُوَ يَشْتَكِیْ عَيْنَيْهِ: قَالَ: "فَاَرْسِلُوْا اِلَيْهِ" فَاُتِیَ بِهٖ فَبَصَقَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِیْ عَيْنَيْهِ وَ

۱۷۷- ابوعباس سهل بن سعد ساعدی رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ خیبر په ورځ کښے اووئیل- چه صبا به جنډه هغه کس ته ورکوم چه دَ هغهٔ په لاس به الله تعالیٰ مسلمانانو ته فتح او کامیابی ورکوی- هغه دَ الله او دَ رسول سره مینه ساتی او هغهٔ سره الله او رسول مینه ساتی. خلقو به دے مزه کښے شپه تیره کړه چه کورو صبا به جنډه چا ته ورکولے شی. سحر چه کله خلق دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم مجلس ته حاضر شول، نو دَ هر یو زړهٔ داغوښتل چه دا جنډه ما ته راکړی. مګر نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه علی رض چرته دے؟ نو هغوئ ته اوښودلے شو چه دَ هغهٔ سترګے خوږ دی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم

---

[1] سورة آل عمران آية ۱۰۴ ÷

دَعَالَهٗ فَبَرِئَ حَتّٰى كَاَنْ لَمْ يَكُنْ بِهٖ وَجَعٌ فَاَعْطَاهُ الرَّايَةَ : فَقَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اُقَاتِلُهُمْ حَتّٰى يَكُوْنُوْا مِثْلَنَا ؟ فَقَالَ : " اُنْفُذْ عَلٰى رِسْلِكَ حَتّٰى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ ثُمَّ ادْعُهُمْ اِلَى الْاِسْلَامِ وَ اَخْبِرْهُمْ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ مِّنْ حَقِّ اللّٰهِ تَعَالٰى فِيْهِ فَوَاللّٰهِ لَاَنْ يَّهْدِيَ اللّٰهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا خَيْرٌ لَّكَ مِنْ حُمُرِ النَّعَمِ [1] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛ قَوْلُهٗ " يَدُوْكُوْنَ " اَیْ يَخُوْضُوْنَ وَ يَتَحَدَّثُوْنَ قَوْلُهٗ " رِسْلِكَ " بِكَسْرِ الرَّآءِ وَبِفَتْحِهَا لُغَتَانِ وَالْكَسْرُ اَفْصَحُ ؛

حضرت علی رض را اوغوښتلو. کله چه راغے، نوخپلے دَخولے لاړے ئے ورته سترګو کښے واچولے او دُعائے ورته اوکړه چه هغے سره هغه فورًا ټهیک شو. او داسے ورته معلومه شوه لکه چه سترګے ئے هډو خوږ شوے نۀ وے. بیائے حضرت علی رض ته جنډه ورکړه. علی رض اووئیل. یا رسول الله! هغوئ سره هغه وخته پورے جنګیږم چه هغه زمونږ غوندے شی؟ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. ته نیغ دَجنګ میدان ته لاړ شه. او هلته چه اورسیږے، نو هغوئ ته دَ اسلام دعوت ورکړه. او هغوئ ته اوښایه چه په تاسو دَ الله تعالیٰ څۀ څۀ حقونه واجب دی. په الله مے دِ قسم وی چه کۀ الله تعالیٰ ستا په ذریعه یو سړی ته هدایت اوکړی نو هغه به ستا دپاره دَ سرو اوښانو دولت نه هم زیات وی. (بخاری ومسلم) "يَدُوْكُوْنَ" : فکر او سوچ او مزے ئے کولے. "رِسْلِكَ" : خپل رفتار سره څه.

١٧٨- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ فَتًى مِنْ اَسْلَمَ قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّيْ اُرِيْدُ الْغَزْوَ وَلَيْسَ مَعِيَ مَا اَتَجَهَّزُ بِهٖ ؟ قَالَ : " ائْتِ فُلَانًا قَدْ كَانَ تَجَهَّزَ فَمَرِضَ فَاَتَاهُ فَقَالَ : اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقْرِئُكَ السَّلَامَ وَيَقُوْلُ : اَعْطِنِي الَّذِيْ تَجَهَّزْتَ بِهٖ وَلَا تَحْبِسِيْ مِنْهُ شَيْئًا، فَوَاللّٰهِ لَا تَحْبِسِيْنَ مِنْهُ شَيْئًا، فَيُبَارَكَ لَنَا فِيْهِ " رَوَاهُ مُسْلِمٌ

١٧٨- انس بن مالک رض نه روایت دے. چه دَ بنواسلم قبیلے یو ځوان دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شو او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله! زۀ جنګ کښے شریکیدل غواړم لیکن دَ جنګ سامان را سره نشته. نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. فلانی کس له لاړ شه. هغۀ دَ جهاد تیارے کړے وُو. مګر هغه بیمار شو. کله چه دا ځوان ورغے. او ورته وئیل، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم تا ته سلام وئیلے دے. او وئیلی ئے دی. چه کوم سامان دَ جنګ چه تا تیار کړے دے هغه ما ته را کړه. هغه سړی کور والۀ ته اووئیل چه څومره سامان ما دَ جنګ دپاره تیار کړے دے هغه ټول ورکړه - او هیڅ ترے نه هم مۀ پریږده. مونږ ته به الله تعالیٰ په هم دے کښے برکت راکړی. (مسلم)

باب ۲۱

ف :- دا باب په دوه قرآنی آیتونو او څلور نبوی حدیثونو باندے مشتمل دے.

بَابُ فِي التَّعَاوُنِ عَلَى الْبِرِّ نیکئ او پرهیزګارئ کښے دَ

---

[1] ای من ان تکون لك حمر النعم . والنعم . الابل والحمر منها انفس اموال العرب :

وَالتَّقْوٰی (قرآنی ایتونه) امداد کولو بیان

۷۷۔ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی [1] وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰی" ::

۷۷۔ د الله تعالیٰ ارشاد دے. د نیکئ او د پرهیزګارئ کارونو کښې یو بل سره مدد کوئ. (پ۶ . مائده)

:: :: ::

۷۸۔ وَقَالَ تَعَالٰی [2]: "وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ اِلَّا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ [3]" قَالَ الْاِمَامُ الشَّافِعِیُّ رَحِمَهُ اللّٰهُ کَلَامًا مَعْنَاهُ: اِنَّ النَّاسَ اَوْ اَکْثَرَهُمْ فِیْ غَفْلَةٍ عَنْ تَدَبُّرِ هٰذِهِ السُّوْرَةِ ::

۷۸۔ قسم دے په زمانه، چه انسان په سراسر تاوان کښې دے. مګر هغه خلق نقصان کښې نه دی. چه ایمان ئې راوړے وی. او نیک عملونه ئې کړے وی. او یو بل ته ئې د حق او د صبر وصیت کړے وی. (پ۳۰، عصر) امام شافعیؒ یوه خبره کړې ده (چه حاصل ئې دا دے) چه ډیر خلق په غفلت کښې دی د سوچ کولو نه په دې سورت کښې.

(نبوی احادیث)

۱۷۹۔ وَعَنْ اَبِیْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ زَیْدِ بْنِ خَالِدِ الْجُهَنِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جَهَّزَ غَازِیًا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ فَقَدْ غَزَا [4] وَمَنْ خَلَفَ غَازِیًا فِیْ اَهْلِهٖ بِخَیْرٍ فَقَدْ غَزَا "مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ::

۱۷۹۔ ابو عبد الرحمٰن زید بن خالد جهنیؓ وائی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمائیلو. چا چه مجاهد له د جهاد سامان تیار کړو. نو ده ته هم د جهاد کولو ثواب ورکولے شی. او چا چه د غازی په غیر موجودګئ کښې د هغهٔ د کور والؤ خبر اخستلو. هغه هم داسې دے لکه چه جهاد ئې اوکړو. (بخاری ومسلم)

۱۸۰۔ وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا اِلٰی بَنِیْ لَحْیَانَ مِنْ هُذَیْلٍ فَقَالَ: "لِیَنْبَعِثْ مِنْ کُلِّ رَجُلَیْنِ اَحَدُهُمَا وَالْاَجْرُ بَیْنَهُمَا" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ::

۱۸۰۔ ابو سعید خدریؓ نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه فوجی دسته د هُذیل قبیلې بنی لحیان قبیلې طرف ته اولیږله. او ورته ئې اوفرمائیل. که د کور په دوؤ کسانو کښې یو جهاد کښې شریک شی نو دواړو ته به یو شان ثواب ورکولے شی. (مسلم)

۱۸۱۔ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَقِیَ رَکْبًا بِالرَّوْحَاءِ [5] فَقَالَ: "مَنِ الْقَوْمُ؟" قَالُوْا: اَلْمُسْلِمُوْنَ فَقَالُوْا،

۱۸۱۔ عبد الله بن عباسؓ نه روایت دے. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د روحا په مقام په اسونو باندې یو څو سورو خلقو سره ملاقات اوکړو نو هغوی ترې پوښتنه اوکړه چه تاسو څوک یئ؟ هغوی اوویل

---

[1] سورة المائده آیة ۲ [2] سورة العصر آیة ۱-۳ [3] ای اوصی بعضهم بعضاً "بالحق" ای بالایمان والتوحید "وتواصو" بالصبر علی الطاعات وعن المعاصی [4] ای هو مثله فی الاجر والثواب و "خلف" بفتح الخاء المعجمة وتخفیف اللام: ای قام بما یحتاجون الیه

[5] الروحاء: مکان بقرب المدینة المنورة

مَنْ اَنْتَ؟ قَالَ: "رَسُوْلُ اللهِ" فَرَفَعَتْ اِلَيْهِ امْرَأَةٌ صَبِيًّا فَقَالَتْ: اَلِهٰذَا حَجٌّ؟ قَالَ: "نَعَمْ وَلَكِ اَجْرٌ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ::

مسلمانان. بیا هغوئ پوښتنه اوکړه - تهٔ څوک ئې؟ هغوئ اوفرمائیل زهٔ رسول الله یم. دغه وخت یوې ښځې خپل ماشوم راخستو سره مخې ته راغله او تپوس ئې اوکړو چه دَ دې ماشوم حج کیدې شي؟ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، هَو! خو ثواب به ئې هم تا ته درکولے شي - (مسلم)

۱۸۲- وَعَنْ اَبِىْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ: اَلْخَازِنُ الْمُسْلِمُ الْاَمِيْنُ الَّذِىْ يُنَفِّذُ مَا اُمِرَ بِهٖ فَيُعْطِيْهِ كَامِلًا مُوَفَّرًا طَيِّبَةً بِهٖ نَفْسُهُ ـه .... فَيَدْفَعُهُ اِلَى الَّذِىْ اُمِرَ لَهُ بِهٖ اَحَدُ الْمُتَصَدِّقِيْنَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ::

وَفِىْ رِوَايَةٍ: "اَلَّذِىْ يُعْطِىْ مَا اُمِرَ بِهٖ" وَضَبَطُوْا: "الْمُتَصَدِّقَيْنِ، بِفَتْحِ الْقَافِ مَعَ كَسْرِ النُّوْنِ عَلَى التَّثْنِيَةِ وَعَكْسُهُ عَلَى الْجَمْعِ وَكِلَاهُمَا صَحِيْحٌ ::

۱۸۲- ابوموسیٰ اشعری رض نه روایت دے. چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائي چه امانتګر، مسلمان خزانچي هغه چا ته وئیلے شي. چه پوره پوره په پوحکم عمل اوکړي. او په خوشحالۍ او تازګۍ سره هغه کس ته پوره پوره ورکړي. څومره چې دَ یو سړي په باره کښې دهٔ ته دَ ورکړې حکم شوے وي. دے صورت کښې دغه خزانچي هم دَ صدقه ورکونکو دَ ډلے نه حسابیږي (بخاری ومسلم) او یو بل روایت کښې دی. چه دغه سړے چه دهٔ ته دَ شوی حکم مطابق چا ته څهٔ ورکوی - دا هم صدقه کوُنکے دے. "مُتَصَدِّقِيْنَ" (دَ جمع په صیغه) او "مُتَصَدِّقَيْنِ" دَ تثنیه په صیغه دواړه درست او صحیح دی.

؞ ؞ ؞ ؞

باب ۲۲

ف:- دا باب په دوه قرآنی آیتونو او درے حدیثونو باندے مشتمل دے. نصیحت په ګڼړو طریقو سره دے. رب طرفته، کتاب الله، رسول الله او ائمة المسلمین وغیره ته دَ الله تعالیٰ دپاره نصیحت دادے - چه په هغهٔ، او دَ هغهٔ په ټولو صفتونو ایمان اوساتی. او دَ هغهٔ دَ حکمونو تابعداری اوکړي. او کوم څیزونو نه ئې چه منع کړے ده، دَ هغې نه ځان اوساتی - دَ الله کتاب خیرخواهی دا ده چه دَ هغهٔ په تعلیماتو، حکمونو او نورو علمونو معارفو باندے ځان ښهٔ خبر کړي - او دَ هغې حفاظت اوکړي. او په هغې عمل اوکړي - دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره نصیحت دادے چه دَ هغوئ مینه په زړهٔ کښې مضبوطه کینوی. او هغهٔ ته عزت ئې اوکړي خنګه چه دَ هغهٔ حق دے. او دَ هغهٔ سنت طریقے ژوندئ او تازه کړی - دَ امامانو نصیحت دادے چه دَ هغوئ تابعداری اوکړي - او هغوئ سره په مدد باندے ملا اوتړي - او ټولو مسلمانانو دپاره خیرخواهی دا ده چه هغوئ له هم هغه خبره خوښه کړي کومه چه خپل ځان له خوښوی - غرض دا چه نصیحت او خیرخواهی په دین کښې یو اهم او ضروری جزء او بنیاد دے. او دَ دے کمه درجه دا ده چه چا ته دَ خیر او ښیګړے خبره اوکړ.

بَابٌ فِي النَّصِيحَةِ ! دَ نصیحت (خیرخواهۍ) بیان

ـه ای بان لا یحمد المعطی، ولا یظهر له من العبوس د تطییب الوجه ما یکدر خاطره

(قرآنی آیتونه)

۷۹ - قَالَ تَعَالٰی [۱]: "اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ" ؞

۸۰ - وَقَالَ تَعَالٰی [۲] اِخْبَارًا عَنْ نُوْحٍ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ "وَاَنْصَحُ لَکُمْ" وَعَنْ هُوْدٍ [۳] صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ "وَاَنَا لَکُمْ نَاصِحٌ اَمِیْنٌ"۔

۷۹ - دَ الله تعالیٰ ارشاد دے۔ بیشکه ټول مسلمانان ورونړه ورونړه دی. (پ۲۶ حجرات،

۸۰ - دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. دَ نوح علیه السلام واقعه کښے راځی" زه ستاسو خیرخواهم" دَ هود علیه السلام واقعه کښے راځی: " زهٔ ستاسو رښتونے خیرخواه یم" (پ۸، اعراف)

(نبوی حدیثونه)

۱۸۳ - عَنْ اَبِیْ رُقَیَّةَ تَمِیْمِ بْنِ اَوْسٍ الدَّارِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلدِّیْنُ النَّصِیْحَةُ [۴] قُلْنَا: لِمَنْ؟ قَالَ: "لِلّٰهِ وَلِکِتَابِهٖ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِاَئِمَّةِ الْمُسْلِمِیْنَ وَعَامَّتِهِمْ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞

۱۸۳ - ابو رقیه تمیم بن اوس داری رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ دین خیرخواهی ته وئیلے شی. مونږ عرض اوکړو. چا دپاره؟ ارشاد ئے اوفرمائیلو۔ الله دپاره۔ دَ هغهٔ کتاب. دَ هغهٔ رسول۔ دَ مسلمانانو دَ امیرانو (حاکمانو) او دَ عامو مسلمانانو دپاره. (مسلم)

۱۸۴ - عَنْ جَرِیْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: بَایَعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَلٰی اِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِیْتَآءِ الزَّکٰوةِ وَالنُّصْحِ لِکُلِّ مُسْلِمٍ مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ؞

۱۸۴ - جریر بن عبد الله رض وائی. چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په مونځ بانده دَ پابندئ کولو، دَ زکوٰة ورکولو او مسلمانانو سره په خیرخواهئ کولو بیعت کړے دے۔ (بخاری ومسلم)

۱۸۵ - عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا یُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی یُحِبَّ لِاَخِیْهِ مَا یُحِبُّ لِنَفْسِهٖ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ؞

۱۸۵ - انس بن مالک رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله عَلَیْهِ وَسلم اوفرمائیل. تا سو کښے یو کس هم تر هغه وخته پورے مسلمان کیدے نشی ترڅو چه مسلمان ورور دپاره هغه خبره خوښه نکړی کومه چه خپل ځان له خوښوی۔ (بخاری ومسلم)

باب ۲۳

ف:۔ دا باب په اتهٔ قرآنی آیتونو او شوارلس نبوی حدیثونو باندے مشتمل دے۔ دَ نیکو حکم کول دَ محمد صلی الله علیه وسلم دَ اُمت امتیازی نخښه ده چه دا اُمت دے دپاره رالیږلے شوے دے چه دَ نیکو حکم به کوی. او دَ بد ونه به خلق منع کوی۔ دے وجهے نه دا کار دَ اُمت هر یو کس دپاره لازم او ضروری دے. خواه هغه نیک دَے یا بد. کهٔ چا ته دَ خیر یوه خبره هم معلومه وی هغه دِ هغه خبره بنائی. اوکهٔ بده

---

[۱] سورة الحجرات آیة ۱۰ [۲] سورة الاعراف آیة ۶۲ [۳] سورة الاعراف آیة ۶۸ ؞

[۴] ای عماد الدین وقوامه النصیحة. وهی کلمة جامعة معناها حیازة الخیر للمنصوح له. ؞

خبرهٔ ورته معلومه وی، نو هغه دِ نورهم دَ هغے نه منع کړی - او دَ کوم بدکار يا خبرے نه چه خلق منع کوی دَ هغے نه دِ پخپله هم ځان ساتی - کنی دَ دلسے سزا ګانو حقدار به شی کومے چه په دے سلسله کښے راغلے دی. چه دَ هغے تفصيل راتلونکی باب کښے راروان دے

بَابٌ فِى الْاَمْرِ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّهْيِ عَنِ الْمُنْكَرِ!

دَ امر بالمعروف او نهی عن المنکر (په نيکئ حکم او دَ بدئ نه دَ منع) بيان

(قرآنی آيتونه)

۸۱ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [1] وَ لْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَ يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ط وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ" ⁘

۸۱ - دَ الله تعالىٰ ارشاد دے - تاسو کښے يوه ډله داسے پکار ده چه خير او اصلاح طرف ته خلق رابلی. او دَ ښو کارونو حکم کوی. او دَ بدو خبرو نه خلق بندوی. او هم دغه خلق کامياب دی. (پ۴، عمران)

۸۲ - وَقَالَ تَعَالٰى "كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ" -

۸۲ - تاسو يو بهترين اُمت يئ. چه خلقو د پاره پيدا کړے شوی يئ - دے د پاره چه تاسو به دَ نيکو کارونو او دَ ښو خبرو حکم کوئ او دَ بدو نه به خلق منع کوئ - (پ۴، عمران)

۸۳ - وَقَالَ تَعَالٰى [2] "خُذِ الْعَفْوَ وَ اْمُرْ بِالْعُرْفِ وَاَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ"

۸۳ - معافی خپله کړه. او دَ نيکئ حکم کوه. او دَ ناپوهه جاهلانو نه خپله لمن هم بچه ساته. (پ۹، اعراف)

۸۴ - وَقَالَ تَعَالٰى [3]: "وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ [4] يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ يَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ"

۸۴ - مسلمانان نارينه او زنانه خپل مينځ کښے دوستان او ملګری دی. چه يو بل ته دَ ښو خبرو حکم کوی. او دَ بدو خبرو نه يو بل هندوی. (پ۱۰، توبه)

۸۵ - وَقَالَ تَعَالٰى [5] "لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآئِيْلَ عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ط ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ، كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ [6] لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ" ⁘

۸۵ - بنی اسرائيلو باندے دَ داؤد او عيسیٰ عليهما السّلام په ژبه په دے وجه لعنت اوکړے شو. چه هغوئ نافرمانی کوله او دَ خپل حد نه وتلی وُو. او کومو خلقو به چه بدکارونه کول يا به ئے خرابے خبرے کولے دَ هغے نه به ئے خلق نهٔ منع کول. دا کار ئے ډير خراب وُو (چه خلق ئے نهٔ منع کول). (پ۶، مائده)

۸۶ - وَقَالَ تَعَالٰى [7] "وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ وَّمَنْ شَآءَ فَلْيَكْفُرْ" ⁘

۸۶ - دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. دے خلقو ته اووايه چه حق ستاسو دَ رب دَ طرف نه (راغلے) دے - دَ چا چه خوښه وی هغه

---

[1] سورة آل عمران آية ۱۰۴ [2] سورة الاعراف آية ۱۹۹ [3] سورة التوبة آية ۷۱ [4] ای انصار يتعاونون على العبادة ويبادرون اليها دو كل واحد منهم يشد ظهر صاحبه ويعينه على سبيل نجاته

[5] سورة المائدة آية ۷۸ [6] ای لا ينهى بعضهم بعضًا عن المنكر [7] سورة الكهف آية ۲۹

دِ ایمان راوُړی۔ او کهٔ دَ چا خوښه وی (ا) نکار کوُلو سره دِ کُفر اوکړی۔ (پ ۱۵، کهف)

۸۷۔ وَقَالَ تَعَالىٰ [1]: "فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ [2]" ؛

۸۷۔ تا ته چه کوم حکم درکوُلے شی، هغه ښکاره او صفا صفا بیان کړه۔ (پ ۱۴، حجر)

۸۸۔ وَقَالَ تَعَالىٰ [3]: "اَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوْٓءِ وَاَخَذْنَا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا بِعَذَابٍ بَئِيْسٍ [4] بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ" وَالْاٰيَاتُ فِي الْبَابِ كَثِيْرَةٌ مَعْلُوْمَةٌ ؛

۸۸۔ موږ هغه خلقو ته خلاصے ورکړو چه دَ بدو نه به ئے خلق بندوُل۔ او چا چه زیاتے کولو هغه موږ ډیر دردناک عذاب سره راونیوُل، ځکه چه هغوئ عمل دَ فاسقانو کولو۔ (پ، اعراف)

(نبوی حدیثونه)

۱۸۶۔ عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "مَنْ رَاٰى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهٖ فَاِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهٖ، فَاِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهٖ، وَذٰلِكَ اَضْعَفُ الْاِيْمَانِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۱۸۶۔ ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیل اوریدلی دی چه په تاسو کښے څوک یو بد کار اووینی۔ نو دَ لاس په طاقت دِ ئے بند کړی۔ او کهٔ په لاس سره دَ بندولو طاقت ئے نهٔ وی نو ژبے سره دِ بند کړی او کهٔ دَ دے طاقت ئے هم نهٔ وی نو زړهٔ کښے دِ ئے بد اوګڼړی۔ او دا دَ ایمان ډیره کمزورے درجه ده۔ (مسلم)

۱۸۷۔ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَا مِنْ نَبِيٍّ بَعَثَهُ اللّٰهُ فِيْ اُمَّةٍ قَبْلِيْ اِلَّا كَانَ لَهٗ مِنْ اُمَّتِهٖ حَوَارِيُّوْنَ [5] وَاَصْحَابٌ يَاْخُذُوْنَ بِسُنَّتِهٖ وَيَقْتَدُوْنَ بِاَمْرِهٖ، ثُمَّ اِنَّهَا تَخْلُفُ [6] مِنْ بَعْدِهِمْ خُلُوْفٌ يَقُوْلُوْنَ مَا لَا يَفْعَلُوْنَ وَيَفْعَلُوْنَ مَا لَا يُؤْمَرُوْنَ، فَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِيَدِهٖ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِقَلْبِهٖ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِلِسَانِهٖ لَيْسَ وَرَآءَ ذٰلِكَ مِنَ الْاِيْمَانِ حَبَّةُ خَرْدَلٍ"۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۱۸۷۔ عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه ما نه مخکښے یو اُمت کښے هم الله تعالیٰ یو داسے پیغمبر نهٔ دے لیږلے مګر دا چه دَ هغهٔ به هم دغه اُمت کښے حواری او ملګری ضرور وُو۔ چه دَ خپل نبی طریقے به ئے خپلولے۔ او دَ هغهٔ په حکمونو به ئے عمل کولو۔ دَ دے ملګرو او دَ حواریانو زمانے نه پس څهٔ داسے خلق راغلل۔ چه داسے خبرے به ئے کولے۔ چه پخپله به ئے پرے عمل نهٔ کولو۔ او داسے کارونه به ئے کول۔ چه دوئ ته دَ هغے حکم نهٔ وُو ورکړے شوے۔ داسے خلقو سره چه څوک دَ لاس، دَ ژبے او دَ زړهٔ جهاد اوکړی، نو دا ټول مؤمنان دی۔ دَ دے نه علاوه په بله کومه طریقه کښے دَ ایمان دَ اوری هومره درجه هم نهٔ شته دے۔ (مسلم)

---

[1] سورة الحجر آية ۹۴ [2] ای اجهر به [3] سورة الاعراف آية ۱۶۵ [4] "بئيس" ای شديد [5] "حواريون" بالحاء المهملة وتخفيف الواو وهم خلصان الانبياء واصفياؤهم [6] "تخلف" بضم اللام: ای تحدث۔ و "خلوف" بضم الفاء: جمع خلف باسكان اللام وهو الخالف بشر ؛

۱۸۸- عَنْ اَبِی الْوَلِیْدِ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: بَایَعْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَلَی السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ: فِی الْعُسْرِ وَالْیُسْرِ وَالْمَنْشَطِ وَالْمَکْرَهِ وَعَلٰی اَثَرَةٍ عَلَیْنَا وَعَلٰی اَنْ لَّا نُنَازِعَ الْاَمْرَ اَهْلَهٗ اِلَّا اَنْ تَرَوْا کُفْرًا بَوَاحًا عِنْدَکُمْ مِّنَ اللّٰهِ تَعَالٰی فِیْهِ بُرْهَانٌ، وَعَلٰی اَنْ نَّقُوْلَ بِالْحَقِّ اَیْنَمَا کُنَّا لَا نَخَافُ فِی اللّٰهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ⁖

"اَلْمَنْشَطُ وَالْمَکْرَهُ" بِفَتْحِ مِیْمَیْهِمَا اَیْ فِی السَّهْلِ وَالصَّعْبِ: "وَالْاَثَرَةُ" الْاِخْتِصَاصُ بِالْمُشْتَرَكِ وَقَدْ سَبَقَ بَیَانُهَا: "بَوَاحًا" بِفَتْحِ الْبَآءِ الْمُوَحَّدَةِ وَبَعْدَهَا وَاوٌ ثُمَّ اَلِفٌ ثُمَّ حَآءٌ مُهْمَلَةٌ: اَیْ ظَاهِرًا لَا یَحْتَمِلُ تَاوِیْلًا ⁖

۱۸۸- ابو ولید عبادة بن صامت رض نه روایت دے. چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د بیعت کولو په وخت دا اقرار کړے وُو چه مونږ به ستا خبرے اورو او بیا به ئے منو هم- کهٔ په مونږ تنګی وی کهٔ آسانی- دغه خبره آسانه وی او کهٔ سخته- اګرچه نورو له په مونږ باندې غوره والے ورکړے شی- او مونږ به د خپلو حاکمانو سره جګړه نهٔ کوُو- کله چه ښکاره کفر په دوئ کښې اونهٔ وینو- یا د هغوئ خلاف د الله تعالیٰ څهٔ دلیل مونږ سره نهٔ وی. او هر وخت او هر ځائے کښې به رښتیا خبره کوو- او د الله تعالیٰ په معامله کښې به د ملامته کونکی د ملامتیا نه هیڅ کله نهٔ ویریږو- (اونهٔ به پرے خاطر او طبیعت درنه وُو)- (بخاری ومسلم)

"اَلْمَنْشَطُ": آسانی- "اَلْمَکْرَهُ": سختی.
"اَلْاَثَرَةُ": دا سے معاملو کښې استعمالیږی چه حق د ټولو شریک وی او څوک په هغې کښې یو کس له ترجیح ورکړی- "بَوَاحًا": یعنی ښکاره او واضحه خبره چه په هغې کښې د تاویل هیڅ ګنجائش نهٔ وی -

۱۸۹- عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِیْرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَثَلُ الْقَآئِمِ فِیْ حُدُوْدِ اللّٰهِ وَالْوَاقِعِ فِیْهَا کَمَثَلِ قَوْمٍ اسْتَهَمُوْا عَلٰی سَفِیْنَةٍ فَصَارَ بَعْضُهُمْ اَعْلَاهَا وَبَعْضُهُمْ اَسْفَلَهَا وَکَانَ الَّذِیْنَ فِیْ اَسْفَلِهَا اِذَا اسْتَقَوْا مِنَ الْمَآءِ مَرُّوْا عَلٰی مَنْ فَوْقَهُمْ فَقَالُوْا: لَوْ اَنَّا خَرَقْنَا فِیْ نَصِیْبِنَا خَرْقًا وَلَمْ نُؤْذِ مَنْ فَوْقَنَا فَاِنْ تَرَکُوْهُمْ وَمَا اَرَادُوْا هَلَکُوْا جَمِیْعًا وَاِنْ اَخَذُوْا عَلٰی اَیْدِیْهِمْ [له] نَجَوْا وَنَجَوْا جَمِیْعًا" رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ ⁖

اَلْقَائِمُ فِیْ حُدُوْدِ اللّٰهِ تَعَالٰی" مَعْنَاهُ

۱۸۹- نعمان بن بشیر رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه د الله تعالیٰ د حکمونو منونکو او نه منونکو مثال دا سے دے. چه هغوئ یوه کشتئ کښې د سوریدو د پاره قرعه اندازی اوکړی- نو بعضے خلق د کشتئ پاسنی چت او بعضے په لاندینی چت کښې سواره شی- لاندینی چت والا اوبو راخستلو د پاره چه پاسنی چت ته تلل، نو پاسنی چت والا به خفه کیدل- لاندینی چت والاؤ اووئیل چه مونږ خپل لاندینی چت کښې یو سورے کوو- چه دے (لنډ) ځائے نه اوبه راخلو- او دا سے به پاسنی چت والا د تکلیف نه هم بچ شی- کهٔ پاسنی چت والاؤ لاندینی خلق د دے حرکت او تجویز نه بند نهٔ کړی- نو دواړه چتونو والا به ډوبیدو سره هلاک

[له] ای منعوم من الخرق

اَلْمُنْكَرُ لَهَا اَلْقَائِمُ فِيْ دَفْعِهَا وَاِزَالَتِهَا وَالْمُرَادُ بِالْحُدُوْدِ : مَا نَهَى اللّٰهُ عَنْهُ وَ"اسْتَهَمُوْا" اقْتَرَعُوْا ؛

شي - اوکهٔ دَ دے حرکت نه ئے بند کړي - نو ټغیله به هم بچ شي - او هغه نور به هم دَ هلاکت نه بچ کړي - (بخاري)
"اَلْقَائِمُ فِيْ حُدُوْدِ اللّٰهِ" : دَ الله تعالیٰ حدود ختموونکے ، نړوونکے ، دفع کوونکے . یعني نافرمانه نامونکے - دَحدود نه مراد هغه څیزونه دي چه الله تعالیٰ ترے منع کړے دی -
"اِسْتَهَمُوْا : ای اِقْتَرَعُوْا یعنی قرعه اندازی . خسنړے اچول -

١٩٠ - عَنْ اُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَ اُمِّ سَلَمَةَ هِنْدٍ بِنْتِ اَبِيْ اُمَيَّةَ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ قَالَ : " اِنَّهٗ يُسْتَعْمَلُ عَلَيْكُمْ اُمَرَآءُ فَتَعْرِفُوْنَ وَتُنْكِرُوْنَ [1] فَمَنْ كَرِهَ فَقَدْ بَرِئَ وَمَنْ اَنْكَرَ فَقَدْ سَلِمَ وَلٰكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ " قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! اَلَا نُقَاتِلُهُمْ ؟ قَالَ : لَا مَا اَقَامُوْا فِيْكُمُ الصَّلٰوةَ " رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

مَعْنَاهُ : مَنْ كَرِهَ بِقَلْبِهٖ وَلَمْ يَسْتَطِعْ اِنْكَارًا بِيَدٍ وَلَا لِسَانٍ فَقَدْ بَرِئَ مِنَ الْاِثْمِ وَاَدّٰى وَظِيْفَتَهٗ وَمَنْ اَنْكَرَ بِحَسَبِ طَاقَتِهٖ فَقَدْ سَلِمَ مِنْ هٰذِهِ الْمَعْصِيَةِ وَمَنْ رَضِيَ بِفِعْلِهِمْ وَتَابَعَهُمْ فَهُوَ الْعَاصِيْ ؛

١٩٠ - حضرت ام سلمة هند بنت ابی امية حذیفه رض وائی . چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل . چه تا سو با ندے به داسے امیران او حاکمان مقرر کړے شي چه دَ هغوئ څینے خبرے به تاسو ته ښے معلومیږي او څینے به درباندے بدے لگی - نو چا چه به دغه خبرو باندے ناخوښی ښکاره کړه - دَ هغهٔ غاړه خلاصه شوه . او چا چه هغه خبرے بدے اوګڼړلے هغه محفوظ شو - لیکن څوک چه پرے خوشحاله وُو او تابع دار شول . هغه به هغوئ کښے شامل شو . صحابهٔو رض عرض اوکړو . آیا مونږ دلسے حکامو امیرا نوسرهٔ جهاد او قتال اوکړو . نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل . څو پورے چه هغوئ به تاسو کښے دَ مانځه فریضه قائموی - نو هغوئ سره به جنګ نهٔ کوئ - (مسلم) امام نووی رح دَ دے حدیث په تشریح کښے وئیلی دی چه مراد دا دے چه چا زړهٔ کښے داسے حاکمان بد اوګڼړل - او دَ لاس او دَ ژبے طاقت نهٔ موندلو په وجه سره چُپ پاتے شو . نو هغه هم دَ ګناه نه خلاص شو . او چا چه دَ وسع مطابق په هغوئ رد اوکړو ، نو هغه هم دَ ګناه دَ بوج نه سلامت محفوظ پاتے شو - او څوک چه دَ هغوئ په حکمونو او کارونو خوشحالیدو سره دَ هغے پیروی اوکړه ، نو دغه سړے خطا کوونکے او ګناه ګار دے -

١٩١ - عَنْ اُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَ اُمِّ الْحَكَمِ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا فَزِعًا يَقُوْلُ : لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَيْلٌ لِّلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ ، فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ مِثْلُ هٰذِهٖ " وَحَلَّقَ بِاُصْبَعَيْهِ الْاِبْهَامِ وَالَّتِيْ تَلِيْهَا

١٩١ - ام حکم زینب بنت جحش رض فرمائی . چه رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ته دَ ویرے په حالت کښے تشریف راوړو . او ژبے سره ئے لا اله الا الله وئیله او داسے ئے اووئیل چه عربو د پاره خرابی او مصیبت دے دَ وجے دَ هغه بدئ نه چه نزدے راتلونکے دهٔ نن دَ یاجوج وماجوج دَ دیوال نه دومره حصه سوری شوے ده او دَ سوری

---

[1] ای تعرفون بعض افعالهم لموافقتها للشريعة وتنكرون بعضها لمخالفتها لها ؛

فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ: قَالَ: "نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ"[1] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

اندازه ئې په دے شکل اوښودله چه ګوته او مسواکی ګوته ئې حلقه کولو سره اوښودله. ما عرض اوکړو چه یا رسول الله! مونږ به دا سے حالت کښے هم هلاک کیدلے شو، چه مونږ کښے به نیکان خلق موجود وی. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. هو کله چه خباثت (فسق او فجور) زیات شی (د نیک عمله خلقو موجودګی به هم هلاکت او بربادی بنده نکړے شی. (بخاری ومسلم)

۱۹۲- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوسَ فِي الطُّرُقَاتِ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا لَنَا مِنْ مَجَالِسِنَا بُدٌّ نَتَحَدَّثُ فِيهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَإِذَا أَبَيْتُمْ إِلَّا الْمَجْلِسَ فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّهُ" قَالُوا وَمَا حَقُّ الطَّرِيقِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ قَالَ غَضُّ الْبَصَرِ وَكَفُّ الْأَذَى وَرَدُّ السَّلَامِ وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۱۹۲- ابوسعید خدری رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل لارو کښے د کینا ستو (او مجلس جوړو لو) نه ځان او ساتئ. صحابو رض عرض اوکړو یا رسول الله! (دے مجلسونو او) لارو کښے کینا ستلو نه بغیر ځمونږ دپاره بله چاره نشته دے. دغه ځائے خبروا ترو کښے معاملات سرته رسوؤ. نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، که دغلته ناسته ستاسو دپاره ضروری وی نو بیا د لارے حق ادا کوئ. پوښتنه اوکړے شوه یا رسول الله! د لارے کوم حق په مونږ واجب دے؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه په لاره کښے ناست یئ نو خپل نظرونه ښکته ساتئ. تکلیف رسوونکے څیز د لارے نه لرے کوئ - (خزلے، دوړه، کانړی، ازغی وغیره) سلام اچوونکی ته جواب ورکوئ. خلقوته د ښو خبرو حکم ورکوئ او د بدو نه ئې منع کوئ. (بخاری ومسلم)

۱۹۳- عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ فِي يَدِ رَجُلٍ فَنَزَعَهُ فَطَرَحَهُ وَقَالَ: يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ إِلَى جَمْرَةٍ مِنْ نَارٍ فَيَجْعَلُهَا فِي يَدِهِ" فَقِيلَ لِلرَّجُلِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذْ خَاتَمَكَ انْتَفِعْ بِهِ: قَالَ: لَا وَاللّٰهِ لَا آخُذُهُ أَبَدًا وَقَدْ طَرَحَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۱۹۳- عبد الله بن عباس رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو سړی په لاس کښے د سرو زرو یوه ګوته اولیدله نو هغه ئې ترے اوویستله او ویے غورځوله. او وے وئیل چه تاسو کښے څینے کسان سره د بوهے په خپل لاس کښے د اور سکروټے اچوی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تلو نه پس خلقو دغه صحابی ته اووئیل چه خپله ګوته راواخله. او بلے طریقے سره ترے ځه فائده واخله - دغه صحابی رض اووئیل. والله څه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوغورځول هغه به زهٔ هیڅکله راوا نخلم. (مسلم)

۱۹۴- عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ

۱۹۴- ابوسعید حسن بصری رح وائی. چه

---

[1] "الخبث" بفتح الخاء المعجمة والموحدة: الفسوق والفجور. دفی الحدیث ان الخبث اذا کثر فقد یحصل الهلاك انعام وان کثر الصالحون ففیه بیان شؤم المعصیة والتحریض علی انکارها ؛

اَنَّ عَائِذَ بْنَ عَمْرٍو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دَخَلَ عَلٰی عُبَیْدِ اللّٰہِ بْنِ زِیَادٍ فَقَالَ: اَیْ بُنَیَّ اِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ "اِنَّ شَرَّ الرِّعَآءِ الْحُطَمَۃُ [1] فَاِیَّاکَ اَنْ تَکُوْنَ مِنْھُمْ فَقَالَ لَہٗ: اجْلِسْ فَاِنَّمَا اَنْتَ مِنْ نُخَالَۃِ اَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: وَھَلْ کَانَتْ لَھُمْ نُخَالَۃٌ اِنَّمَا کَانَتِ النُّخَالَۃُ بَعْدَھُمْ وَفِیْ غَیْرِھِمْ. رَوَاہُ مُسْلِمٌ ؛

عائذ بن عمرو رض دَ عبید الله بن زیاد مجلس ته راغی او هغهٔ ته ئے اووئیل اے بچوړیه! ما دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی. چه کوم حاکمان خلقو لره پائمال کوی، هغه ظالمان دی. کوری هغے کښے چرته شامل نهٔ شے! عبید الله اووئیل چه (بس پریږ. ده دا خبره) کینه. تهٔ هم د حضور ص د اصحابو په بوسو کښے ئے. هغهٔ اووئیل د حضور ص په اصحابو کښے بوس نهٔ ؤو د هغو نه وروسته په مسلمانانو کښے پیدا شول او په غیر مسلمو کښے ؤو. (مسلم)

۱۹۵ - عَنْ حُذَیْفَۃَ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ قَالَ: "وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِہٖ لَتَاْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ وَلَتَنْھَوُنَّ عَنِ الْمُنْکَرِ اَوْ لَیُوْشِکَنَّ اللّٰہُ اَنْ یَّبْعَثَ عَلَیْکُمْ عِقَابًا مِّنْہُ ثُمَّ تَدْعُوْنَہٗ فَلَا یُسْتَجَابُ لَکُمْ" رَوَاہُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ: حَدِیْثٌ حَسَنٌ ؛

۱۹۵ - حذیفه رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. په هغه ذات مے دِ قسم وی دَ چا په لاس کښے چه ځما ساه ده یا خو به تاسو امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوئ. دا ستاسو فریضه ده. کنی ډیر زر به الله په تاسو باندے عذاب راولیږی. بیا به تاسو هغهٔ ته آوازونه کوئ (او دُعا گانے به غواړئ) مګر هغه به نهٔ ستاسو آوازونه اوری او نه به ستاسو دُعاګانے قبلوي. (ترمذی) وائی چه دا حدیث حدیثِ حسن دے.

۱۹۶ - عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَفْضَلُ الْجِھَادِ کَلِمَۃُ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ" رَوَاہُ اَبُوْدَاوٗدَ، وَالتِّرْمِذِیُّ وَقَالَ: حَدِیْثٌ حَسَنٌ ؛

۱۹۶ - ابوسعید خدری رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل بهترین او دَ اوچتے درجے جهاد دا دے چه دَ یو ظالم زورور بادشاه (حاکم) مخکښے دَ انصاف خبره اوکړے شی. (ابوداؤد و ترمذی) دا هم حدیث حسن دے.

۱۹۷ - عَنْ اَبِیْ عَبْدِ اللّٰہِ طَارِقِ بْنِ شِھَابٍ الْبُجَلِیِّ الْاَحْمَسِیِّ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اَنَّ رَجُلًا سَاَلَ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ وَقَدْ وَضَعَ رِجْلَہٗ فِی الْغَرْزِ: اَیُّ الْجِھَادِ اَفْضَلُ؟ قَالَ: "کَلِمَۃُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ" رَوَاہُ النَّسَائِیُّ

۱۹۷ - ابوعبد الله طارق بن شهاب بُجلی احمسی رض نه روایت دے چه یو سړی دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه دا سے وخت کښے پوښتنه اوکړه. چه دُ سورید و دباره ئے (پائیدان یعنی) رکاب کښے خپه ایښے وه. چه یا رسول الله! بهترین جهاد کوم یو دے؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. دَ ظالم بادشاه مخکښے حق

---

[1] الرعاء "بکسر الراء والمد: جمع راعٍ. "والحطمة" بضم المهملة الاولى وفتح الثانیة العنیف فی رعیته لا یرفق بها فی سوقها ومرعاها بل یحطمها فی ذلك وفی سقیها وغیره ویزحم بعضها ببعض بحیث یؤذیها ویحطمها ؛

بِإِسْنَادٍ صَحِيْحٍ.

"اَلْغَرْز" بِغَيْنٍ مُعْجَمَةٍ مَفْتُوْحَةٍ ثُمَّ رَآءٍ سَاكِنَةٍ ثُمَّ زَايٍ وَهُوَ رِكَابُ كَوْرِ الْجَمَلِ إِذَا كَانَ مِنْ جِلْدٍ أَوْ خَشَبٍ وَقِيْلَ لَا يَخْتَصُّ بِجِلْدٍ وَخَشَبٍ.

۱۹۸- **عَنِ** ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ أَوَّلَ مَا دَخَلَ النَّقْصُ عَلٰى بَنِيْ إِسْرَآئِيْلَ أَنَّهُ كَانَ الرَّجُلُ يَلْقَى الرَّجُلَ فَيَقُوْلُ: يَا هٰذَا اتَّقِ اللّٰهَ وَدَعْ مَا تَصْنَعُ فَإِنَّهُ لَا يَحِلُّ لَكَ ثُمَّ يَلْقَاهُ مِنَ الْغَدِ وَهُوَ عَلٰى حَالِهٖ فَلَا يَمْنَعُهُ ذٰلِكَ أَنْ يَكُوْنَ أَكِيْلَهُ وَشَرِيْبَهُ وَقَعِيْدَهُ فَلَمَّا فَعَلُوْا ذٰلِكَ ضَرَبَ اللّٰهُ قُلُوْبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ" ثُمَّ قَالَ[1]: لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ بَنِيْ إِسْرَآئِيْلَ عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ: كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ تَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنْفُسُهُمْ" إِلٰى قَوْلِهٖ "فَاسِقُوْنَ" ثُمَّ قَالَ: "كَلَّا وَاللّٰهِ لَتَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ وَلَتَأْخُذُنَّ عَلٰى يَدِ الظَّالِمِ، وَلَتَأْطِرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا وَلَتَقْصُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ قَصْرًا أَوْ لَيَضْرِبَنَّ اللّٰهُ بِقُلُوْبِ بَعْضِكُمْ عَلٰى بَعْضٍ ثُمَّ لَيَلْعَنُكُمْ كَمَا لَعَنَهُمْ" رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ. هٰذَا لَفْظُ أَبِيْ دَاوٗدَ، وَلَفْظُ التِّرْمِذِيِّ قَالَ رَسُوْلُ

خبره کول۔ (نسائی) سند دَ دے حدیث صحیح دے۔ (نسائی)

غَرز: دَ اوښ رکاب (پائیدان) دَ څرمنې وی یا کهٔ دَ لرګی۔ ځینې حضرات وائی، دَ څرمنې یا دَ لرګی خاصوالے نشته۔

۱۹۸- عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه بنی اسرائیلو کښې چه کومه ړومبئ خرابی پیدا شوے وه، هغه دا وه چه یو کس به (چرته بد عمل کونکی ته) اووئیل۔ چه کوره فلانیه! تهٔ چه څهٔ کوے دا پریږده۔ او دَ الله نه اوویریږه۔ ځکه چه ستا دپاره دا روا نهٔ دی۔ او کله به چه ورسره په دویمه ورځ ملاؤ شو۔ او بیا به ئے هغه په همغه بد عمل کښې اخته اولیدو نو بیا به ئے ورته هیڅ نهٔ وئیل ځکه چه دَ هغهٔ دَ ناستے پاستے دَ خوراک څښاک ملګرے وُو۔ کله چه اکثر داسے شول۔ نو الله تعالیٰ دَ هغوئ زړونه یو شان کړل۔ بیائے دا اوفرمائیل: "دَ داؤد علیه السلام او دَ عیسیٰ علیه السلام په ژبه الله تعالیٰ دَ بنی اسرائیلو په هغه خلقو لعنت اوکړو، چه چا کفر کړے وُو۔ او دَ لعنت سبب ئے دا وُو، چه هغوئ نا فرمانه او نا منونکی وُو او دَ الله حدود او قوانین ئے مات کړی وُو۔ او دا چه دوئ به ناخوښه کار ونه کول۔ او دَ دے نه به ئے یو بل نهٔ منع کولو۔ او دَ دوئ دا حرکت ډیر خراب وُو۔ دوئ کښې به تاسو ډیر خلق داسے اووینی۔ چه هغوئ دَ کافرانو سره دوستانه ساتی۔ او مخکښې ئے چه دَ خپل ځان دپاره څهٔ لیږلی دی هغه هم دَ خرابو نه خراب وُو" (دا آیت ئے تر آخره "فاسقون" پورے اولوستلو) بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. داسے هیڅ کله نهٔ دی (کیدل پکار) تاسو

---

[1] سورة المائدة آیة ۷۸ - ۸۱

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَمَّا وَقَعَتْ بَنُوْٓا اِسْرَآئِيْلَ فِي الْمَعَاصِيْ نَهَتْهُمْ عُلَمَآؤُهُمْ فَلَمْ يَنْتَهُوْا فَجَالَسُوْهُمْ فِيْ مَجَالِسِهِمْ وَوَاكَلُوْهُمْ وَشَارَبُوْهُمْ فَضَرَبَ اللّٰهُ قُلُوْبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ وَلَعَنَهُمْ عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ" فَجَلَسَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ مُتَّكِئًا فَقَالَ: "لَا وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ حَتّٰى تَاْطِرُوْهُمْ عَلَى الْحَقِّ اَطْرًا" قَوْلُهٗ: "تَاْطِرُوْهُمْ": اَيْ تَعْطِفُوْهُمْ "وَلَتَقْصُرُنَّهٗ": اَيْ لَتَحْبِسُنَّهٗ ؛

ضرور امر بالمعروف کوئ او د بدو نه خلق منع کوئ۔ د ظالم لاس نیسئ۔ او په زورے حق ته مجبوره کړئ۔ په حقه خبره او کار باندے ئے مجبور کړئ۔ کنی الله به ستاسو زړونه هم د یو بل پشان کړی۔ او بیا به په تاسو هم داسے لعنت اوکړی۔ څنګه ئے چه په هغوئ باندے کړے وُو۔ (ابوداؤد) امام ترمذیؒ دے حدیث ته حدیثِ حسن وئیلے دے۔ او امام ترمذیؒ داسے الفاظ نقل کړی دی۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل کله چه بنی اسرائیل ګناهونو کښے اخته شول۔ نو علماؤ هغوئ منع کړل۔ خو کله چه هغوئ منع نهٔ شول۔ نو دغه علماء به د هغوئ سره ناسته پاسته، مجلسونه خوراک وڅښاک وغیره کښے یو ځائے کینا ستل۔ نو الله تعالیٰ د څینے تورو زړونو والا پشان د دوئ زړونه هم تور کړل۔ او هغوئ باندے د حضرت داؤدؑ او عیسیٰؑ په ژبه لعنت اوکړے شو۔ او سببئے دا وُو چه هغوئ نافرمانه وُو۔ او د حد نه وتلی وُو۔ (راوی وائی چه) رسول الله صلی الله علیه وسلم داوئیل او تکیه ئے وهلے وه او ناست وُو۔ بیا نیغ کینا ستلو۔ اوئے وئیل۔ په هغه ذات مے دِ قسم وی۔ د چا په لاس کښے چه زما ساه ده۔ ترڅو چه تاسو دوئ حق باندے اودرولی نهٔ وی، نو ستاسو د پاره خلاصے نشته۔ (ترمذی)

تَاْطِرُوْهم: ماتلے ئے کړئ۔ لَتَقْصُرُنَّهٗ: حق باندے ئے اودروئ، مضبوط ئے کړئ۔

۱۹۹۔ عَنْ اَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: يَآ اَيُّهَا النَّاسُ اِنَّكُمْ تَقْرَءُوْنَ هٰذِهِ الْاٰيَةَ [1] يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَّنْ ضَلَّ اِذَا اهْتَدَيْتُمْ" وَاِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "اِنَّ النَّاسَ اِذَا رَاَوُا الظَّالِمَ فَلَمْ يَاْخُذُوْا عَلٰى يَدَيْهِ [2] اَوْشَكَ اَنْ يَّعُمَّهُمُ اللّٰهُ بِعِقَابٍ مِّنْهُ"، رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَآئِيُّ بِاَسَانِيْدَ صَحِيْحَةٍ ؛

۱۹۹۔ ابوبکر صدیقؓ فرمائی۔ اے خلقو! تاسو خو دا آیت وایئ۔ چه اے ایمان والو! کله چه تاسو ته هدایت شوے دے۔ نو خپل فکر او غم اوکړئ۔ کوم خلق چه بے لارے دی هغوئ تاسو ته هیڅ نقصان نشی رسولے، خو ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه فرمائیلی اوریدلی دی۔ چه کله ظالم په ظلم کولو اووینئ۔ او د هغهٔ لاس موا ونهٔ نیولو۔ نو کیدے شی۔ چه ډیر زر به الله تعالیٰ ټول په یو عذاب کښے ګرفتار کړی۔ (ابوداؤد وترمذی ونسائی)

باب ۲۴

ف:۔ دا باب په دریے قرآنی آیتونو او یو حدیث باندے مشتمل دے۔

---

[1] سورة النساء ۸۵ [2] ای یمنعوه من الظلم بالید او باللسان او بالقلب "بعقاب منه" یقع علی الظالم بظلمه وعلی غیره لاقراره علیه وقد قدر علی منعه ولم یفعل

بَابُ فِی تَغْلِيْظِ عُقُوْبَةِ مَنْ اَمَرَ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ نَهٰی عَنْ مُنْكَرٍ وَخَالَفَ قَوْلُهٗ عَنْ فِعْلِهٖ

دَ هغه کس دَ سزا بيان چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوی خو دَ هغهٔ کار دَ هغهٔ دَ وينا مطابق نهٔ وی ....

(قرآنی آيتونه)

۸۹- قَالَ اللهُ تَعَالٰی[1] "اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَاَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ" ۞

۸۹- (څومره دَ افسوس خبره ده چه) تاسو خلقو ته دَ نيکئ خبرے کوئ۔ او خپل ځان درنه هيرد ے۔ حال دا دے چه تاسو کتاب هم لولئ۔ تاسو دومره نهٔ پوهيږئ۔ (پ ۱، بقره)

۹۰- وَقَالَ تَعَالٰی[2]: "يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ؟ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ" ۞

۹۰- اے ايمان والؤ! ولے تاسو هغه خبرے کوئ چه په خپله پرے عمل نهٔ کوئ۔ الله تعالیٰ ته دا خبره ډيره ناخوښه ده۔ چه تاسو هغه خبرے کوئ چه په خپله د رکښے نهٔ وی۔ (پ ۲۸۔ صف)

۹۱- وَقَالَ تَعَالٰی[3]: اِخْبَارًا عَنْ شُعَيْبٍ عَلَيْهِ السَّلَامُ "وَمَا اُرِيْدُ اَنْ اُخَالِفَكُمْ اِلٰی مَا اَنْهَاكُمْ عَنْهُ" ۞

۹۱- (او شعيب عليه السلام خپل قوم ته خبره بيانوی) زهٔ نهٔ غواړم چه دَ کومو خبرو نه تاسو منع کوم هغه دِ په خپله اوکړم۔ (پ ۱۲۔ هود)

(نبویؐ حديثونه)

۲۰۰- وَعَنْ اَبِیْ زَيْدٍ اُسَامَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "يُؤْتٰی بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُلْقٰی فِی النَّارِ فَتَنْدَلِقُ اَقْتَابُ بَطْنِهٖ فَيَدُوْرُ بِهَا كَمَا يَدُوْرُ الْحِمَارُ فِی الرَّحَا فَيَجْتَمِعُ اِلَيْهِ اَهْلُ النَّارِ فَيَقُوْلُوْنَ: يَا فُلَانُ مَالَكَ؟ اَلَمْ تَكُنْ تَاْمُرُ بِالْمَعْرُوْفِ وَلَا اٰتِيْهِ وَتَنْهٰی عَنِ الْمُنْكَرِ فَيَقُوْلُ بَلٰی كُنْتُ اٰمُرُ بِالْمَعْرُوْفِ وَلَا اٰتِيْهِ وَاَنْهٰی عَنِ الْمُنْكَرِ وَاٰتِيْهِ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ۞

قَوْلُهٗ: "تَنْدَلِقُ" هُوَ بِالدَّالِ الْمُهْمَلَةِ وَمَعْنَاهُ تَخْرُجُ: "وَالْاَقْتَابُ" اَلْاَمْعَاءُ وَاحِدُهَا قِتْبٌ

۲۰۰- ابوزيد اسامه بن زيد بن حارثهؓ نه روايت دے۔ چه ما دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم نه دا سے فرمائيلی اوريدلی دی۔ چه دَ قيامت په ورځ به يو سړے راوغوښتلے شی۔ او اور کښے به او غورزولے شی۔ چه دَ هغې په وجه به دَ دغه سړی کولمے راووځی۔ هغه به کولمو نيولو سره گرځی، څنګه چه خر په ژرنده گرځولو سره گرځی، نو دوزخيان به دَ هغهٔ نه راتاؤ شی او ورته به اووائی اے فلانکيه! دا په تا څهٔ اوشو؟ تا خو به مونږ ته ښے خبرے ښودلے۔ او دَ بدو خبرو نه به دِ منع کولو۔ نو هغه به ورته اووائی وه خو هم دغسے، مګر خو ما نه په خپله په هغې ښو خبرو عمل کولو۔ او نه مے دَ بدو نه ځان ساتلو۔ (بخاری ومسلم)

تَنْدَلِقُ: راووځی۔ اَقْتَابُ: جمع دَ "قِتْبٌ" ده۔ يعنی کولمے۔

---

[1] سورة البقرة آية ۴۴ [2] سورة الصف آية ۲-۳ [3] سورة هود آية ۸۸ ۞

باب ۲۵

ف: دے باب کښے دوه قرآنی آیتونه او څلور سوی حدیثونه دی۔ چا ته خپل حق پوره پوره کولو ته په عربۍ کښے امانت وئیلے شی۔ او د چا په حق کښے کمی کولو ته خیانت وئیلے شی۔ د شارع د مرضۍ مطابق شرعیه تکالیف برداشت کولو او پوره کولو ته هم امانت وائی۔ که سوچ اوکړے شی نو په اخلاقو کښے امانت د یو بنیادی جوهر حیثیت لری۔ د امانت نه بغیر د دُنیا یو کار هم بنے طریقے او اسلوب سره قائمیدلے او پوره کیدلے نشی۔ د انسان زندګی ده، که مال او دولت دے۔ دا ټول هر څه د الله تعالیٰ د طرفنه بندګانو ته د امانت په شکل ورکړے شوی دی۔ او آخرت کښے به د همدغے امانت حساب کتاب کیږی۔ د هیڅ یو مسلمان هم دا خوښه نۀ ده۔ او نۀ د هغۀ د شان سره مناسب ده۔ چه هغه د الله پاک په امانت کښے څۀ قسم خیانت اوکړی او خپل دُنیا ژوندون او آخرت دواړه تباه کړی۔

بابٌ فِي الْاَمْرِبِاَدَآءِ الْاَمَانَةِ: د امانت د اداء کولو حکم

(قرآنی آیتونه)

۹۲- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [1]: "اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمَانَاتِ اِلٰى اَهْلِهَا"۔

۹۲- یقیناً د الله تعالیٰ دا حکم دے۔ چه تاسو امانتونه خپل حق دارته اورسوئ۔ (پ ۵، نساء)

۹۳- وَقَالَ تَعَالٰى [2]: "اِنَّا عَرَضْنَا الْاَمَانَةَ [3] عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالْجِبَالِ فَاَبَيْنَ اَنْ يَّحْمِلْنَهَا وَاَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْاِنْسَانُ اِنَّهٗ كَانَ ظَلُوْمًا جَهُوْلًا"۔

۹۳- موږ خپل امانتونه آسمانونو، زمکے او غرونو ته اوسپارل۔ مګر هغوئ د دے د برداشت کولو نه اوویریدل، او انکار ئے اوکړو۔ او انسان هغه برداشت کړو. دے چه هغه ناپوهه او ظالم وُو۔ (پ ۲۲، احزاب)

(نبوی حدیثونه)

۲۰۱- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اٰيَةُ الْمُنَافِقِ [4] ثَلَاثٌ: اِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَاِذَا وَعَدَ اَخْلَفَ، وَاِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔ وَفِيْ رِوَايَةٍ: "وَاِنْ صَامَ وَصَلّٰى وَزَعَمَ اَنَّهٗ مُسْلِمٌ"۔

۲۰۱- ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه د منافق درے نخښے دی۔ کله چه خبرے کوی نو دروغ وائی۔ کله چه وعده اوکړی نو هغه نۀ پوره کوی۔ او کله چه ورته امانت اوسپارلے شی، نو هغے کښے خیانت کوی۔ (بخاری ومسلم) یو روایت کښے دا اضافه هم شته چه اګرچه هغه د مونځ او د روژے پابند وی۔ او خپل ځان ته مسلمان وائی۔

۲۰۲- وَعَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: حَدَّثَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيْثَيْنِ قَدْ رَاَيْتُ

۲۰۲- حذیفه بن یمان رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم موږ ته دوه خبرے بیان کړے وے۔ یوه موږ اولیده او د بلے انتظار کوو۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم

---

[1] سورة النساء آية ۵۸ [2] سورة الاحزاب آية ۷۲ [3] الامانة كل مايؤمن عليه من امر ونهي وشان من دين ودنيا [4] "آية المنافق" اى علامة المنافق ثلاث خصال ؛

أَحَدُهُمَا وَأَنَا أَنْتَظِرُ الْآخَرَ حَدَّثَنَا أَنَّ الْأَمَانَةَ نَزَلَتْ فِيْ جَذْرِ قُلُوْبِ الرِّجَالِ ثُمَّ نَزَلَ الْقُرْاٰنُ فَعَلِمُوْا مِنَ الْقُرْاٰنِ وَعَلِمُوْا مِنَ السُّنَّةِ ثُمَّ حَدَّثَنَا عَنْ رَفْعِ الْأَمَانَةِ فَقَالَ يَنَامُ الرَّجُلُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ الْأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ الْوَكْتِ ثُمَّ يَنَامُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ الْأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ الْمَجْلِ كَجَمْرٍ دَحْرَجْتَهُ عَلٰى رِجْلِكَ فَنَفِطَ فَتَرَاهُ مُنْتَبِرًا وَلَيْسَ فِيْهِ شَيْءٌ ثُمَّ أَخَذَ حَصَاةً فَدَحْرَجَهَا عَلٰى رِجْلِهِ **فَيُصْبِحُ** النَّاسُ يَتَبَايَعُوْنَ فَلَا يَكَادُ أَحَدٌ يُؤَدِّي الْأَمَانَةَ حَتّٰى يُقَالَ إِنَّ فِيْ بَنِيْ فُلَانٍ رَجُلًا أَمِيْنًا حَتّٰى يُقَالَ لِلرَّجُلِ مَا أَجْلَدَهُ مَا أَظْرَفَهُ مَا أَعْقَلَهُ وَمَا فِيْ قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيْمَانٍ وَلَقَدْ أَتٰى عَلَيَّ زَمَانٌ وَمَا أُبَالِيْ أَيُّكُمْ بَايَعْتُ لَئِنْ كَانَ مُسْلِمًا لَيَرُدَّنَّهُ عَلَيَّ دِيْنُهُ وَإِنْ كَانَ نَصْرَانِيًّا أَوْ يَهُوْدِيًّا لَيَرُدَّنَّهُ عَلَيَّ سَاعِيْهِ. وَأَمَّا الْيَوْمَ فَمَا كُنْتُ أُبَايِعُ مِنْكُمْ إِلَّا فُلَانًا وَفُلَانًا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ::

قَوْلُهُ: "جَذْرُ" بِفَتْحِ الْجِيْمِ وَإِسْكَانِ الذَّالِ الْمُعْجَمَةِ وَهُوَ أَصْلُ الشَّيْءِ وَ "الْوَكْتُ" بِالتَّاءِ الْمُثَنَّاةِ مِنْ فَوْقِ الْأَثَرُ الْيَسِيْرُ" وَ"الْمَجْلُ" بِفَتْحِ الْمِيْمِ وَإِسْكَانِ الْجِيْمِ وَهُوَ تَنَفُّطٌ فِي الْيَدِ وَنَحْوِهَا مِنْ أَثَرِ عَمَلٍ وَغَيْرِهِ قَوْلُهُ "مُنْتَبِرًا" مُرْتَفِعًا قَوْلُهُ "سَاعِيْهِ" الْوَالِيْ عَلَيْهِ ::

اوفرمائیل. چه امانت دَ خلقو زړونو کښې ډیر ژور نوتے ؤو. بیا قرآن نازل شو نو خلقو دَ امانت په رڼا سره دَ قرآن او دَ حدیث علم حاصل کړو. بیا ئے دویمه خبره دَ امانت دَ اوچتیدو متعلق اوفرمائیله، چه خلق به دَ عادت مطابق دَ شپے اوده وی. او سحر به پاڅی. نو دَ هغهٔ دَ زړهٔ نه به دَ الله پاک امانت وتلے وی. صرف لږ شان اثر (احساس) به پاتے شوے وی. او دویم سحر به هغه اثر هم ختم شی. او ساده نشان به ئے پاتے شی. لکه چه تا په خپلو خپو باندے څهٔ سکروټه اوغورزوی او دَ هغے په وجه په خپه کښې تنړاکه ښکاره شی. هغه خو به په ظاهرتا تر ښکاره پړسیدلے ښکاری. مګر هغے کښې دننه هیڅ نهٔ وی. بیا هغوئؓ یو کیتړے اوچته کړه او په خپله خپه مبارکه به ئے اورغړولو (او خپله خبره ئے جاری ساتلو سره ئے اووئیل چه دَ دے خبرے واقع کیدلو نه پس) خلق به سحر پاڅیدو سره په خپل کاروبار کښې دَ عادت مطابق مشغول شی. خو یو به پکښې هم امانتدار نهٔ وی. تردے چه (دَ مثل په طور به) وئیل کیږی چه په فلانئ قبیله کښې یو سړے امانتګر دے (یا وُو) (دَ امانت په صفت کښې یا چا ته دَ امین وئیلو په ځائے به داسے) وئیلے شی. چه فلانے سړے څومره طاقتور، تهذیب والا او هوښیار دے. حالانکه دَ هغهٔ په زړهٔ کښې به دَ اوړی دَ دانے هومره ایمان هم نهٔ وی. حذیفهؓ وائی چه ما هغه دَور هم لیدلے دے. چه دَ اخستلو خرڅولو په وخت کښې به مے دَ قیمت لګولو یا دَ مال ښهٔ والے او بدولے او دَ هغے دَ کتلو ضرورت هم نهٔ ګڼړلو - او نهٔ مے پرواه کوله - او نهٔ دَ دے چه چا سره معامله اوکړم او چا سره ئے اونهٔ کړم - ځکه چه کهٔ معامله کونکے مسلمان وی، نو دَ هغهٔ دین به ماله خپل حق راکړی (یعنی هغه به ما سره خیانت یا وهل ټکول نهٔ کوی) او کهٔ معامله کونکے یهودی یا عیسائی وی (نو دَ هغهٔ نه به ځما حق) دَ هغهٔ دَ سردار (ویره) ما ته

پوره راکړی. مګر نن زۀ په پټو سترګو تاسو یو کس سره هم اخستل خرڅول نۀ شم کولے. بغیرَ د فلانی فلانی نه. (بخاری ومسلم)

جَذْرُ: بنیاد او جرړه. اَلْوَكْتُ: معمولی شان نښان او نخښه. اَلْمَجْلُ: لاسو خپو باندے چه دَ کار کولو نخښے نښانے پریوځی. یعنی داغ اولګی. مُنْتَبِرًا: تنړاکه اوچته. سَاعِيَه: سردار او مشر. متولی.

٢٠٣- **وَعَنْ** حُذَيْفَةَ وَأَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَا: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَجْمَعُ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى النَّاسَ [1] فَيَقُوْمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى تُزْلَفَ لَهُمُ الْجَنَّةُ [2] فَيَأْتُوْنَ اٰدَمَ صَلَوَاتُ اللّٰهِ عَلَيْهِ فَيَقُوْلُوْنَ: يَا أَبَانَا اسْتَفْتِحْ لَنَا الْجَنَّةَ فَيَقُوْلُ: وَهَلْ أَخْرَجَكُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ إِلَّا خَطِيْئَةُ أَبِيْكُمْ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذٰلِكَ اذْهَبُوْا إِلَى ابْنِيْ إِبْرَاهِيْمَ خَلِيْلِ اللّٰهِ قَالَ فَيَأْتُوْنَ إِبْرَاهِيْمَ فَيَقُوْلُ إِبْرَاهِيْمُ: لَسْتُ بِصَاحِبِ ذٰلِكَ [3] إِنَّمَا كُنْتُ خَلِيْلًا مِّنْ وَّرَآءَ وَرَآءَ اعْمِدُوْا إِلٰى مُوْسٰى الَّذِيْ كَلَّمَهُ اللّٰهُ تَكْلِيْمًا. فَيَأْتُوْنَ مُوْسٰى فَيَقُوْلُ: لَسْتُ بِصَاحِبِ ذٰلِكَ اذْهَبُوْا إِلٰى عِيْسٰى كَلِمَةِ اللّٰهِ وَرُوْحِهِ [4] فَيَقُوْلُ عِيْسٰى لَسْتُ بِصَاحِبِ ذٰلِكَ فَيَأْتُوْنَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُوْمُ فَيُؤْذَنُ لَهٗ وَتُرْسَلُ الْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ [5] فَيَقُوْمَانِ جَنْبَتَيِ الصِّرَاطِ [6] يَمِيْنًا وَشِمَالًا فَيَمُرُّ أَوَّلُكُمْ كَالْبَرْقِ قُلْتُ: بِأَبِيْ وَأُمِّيْ أَيُّ شَيْءٍ كَمَرِّ الْبَرْقِ؟ قَالَ: أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ يَمُرُّ وَيَرْجِعُ فِيْ طَرْفَةِ عَيْنٍ ثُمَّ كَمَرِّ الرِّيْحِ ثُمَّ كَمَرِّ

٢٠٣- دَ حذیفه رض او ابوهریره رض نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دَ قیامت په ورځ به الله تعالیٰ ټول خلق راجمع کړی. نو ایمان والا به پکښې اودریږی. او دغه وخت به جنت بالکل مخامخ اووینی. نو آدم علیه السلام ته به اووائی. باباجانه! مونږ ته دَ جنت دروازے خلاصے کړه. نو هغه به ورته اووائی، چه بچو! ستاسو دَ جنت نه دَ راوتلو ذریعه څما تیروتل وُو. زۀ دَ دے کار دپاره موزون نۀ یم. څما ځوئے ابراهیم علیه السلام له لاړ شئ دوئ به حضرت خلیل الله علیه السلام له لاړ شئ هغه به ورته هم اووائی. چه زۀ دَ دے موزون نۀ یم. زۀ خو دَ پردے نه اخوا خلیل ووم، تاسو موسیٰ علیه السلام له لاړ شئ. چه الله تعالیٰ سره ئے (مخامخ خبرے کړی دی) هغه به ورته هم اووائی چه زۀ دَ دے موزون نۀ یم. تاسو عیسیٰ علیه السلام له لاړ شئ چه دَ الله کلمه او روح دے. مګر عیسیٰ علیه السلام به هم هغه جواب ورکړی- چه زۀ دَ دے دپاره موزون نۀ یم. نو بیا به دغه ایمان والا خلق حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له راشی او هم هغه درخواست به اوکړی، نو هغه به پاڅی او دَ سفارش کولو اجازت به ورته ورکړے شی. او امانت او خپلولی به را اولیږلے شی. دا دواړه به دَ پل صراط ښی او ګس طرفته اودریږی. دغه

---

[1] ای بعد البعث بارض العشر [2] "تزلف" بضم الفوقیة وسکون الزاء وفتح اللام: ای تقرب لهم الجنة [3] ای لست صاحب التشریف بهذا المقام المنیف "اعمدوا" ای اقصدوا [4] اطلق ذلک علی عیسیٰ صلوات الله علیه لانه وجد بامره تعالیٰ فی قوله "کن" وسمی بروح الله لانه یحیی الاموات او القلوب [5] "الرحم" بفتح الراء وکسر الحاء المهملة ای القرابة التی تطلب صلتها شرعا [6] "جنبتی الصراط" بفتح الجیم وسکون النون وفتح الموحدة والفوقیة: ای جانبیه.

الطَّيْرِ وَاَشَدِّ الرِّجَالِ تَجْرِيْ بِهِمْ اَعْمَالُهُمْ وَنَبِيُّكُمْ قَائِمٌ عَلَى الصِّرَاطِ يَقُوْلُ: رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ حَتّٰى تَعْجِزَ اَعْمَالُ الْعِبَادِ حَتّٰى يَجِيْءَ الرَّجُلُ لَا يَسْتَطِيْعُ السَّيْرَ اِلَّا زَحْفًا وَفِيْ حَافَتَيِ الصِّرَاطِ[1] كَلَالِيْبُ مُعَلَّقَةٌ مَامُوْرَةٌ بِاَخْذِ مَنْ اُمِرَتْ بِهٖ، فَمَخْدُوْشٌ نَاجٍ، وَمُكَرْدَسٌ فِي النَّارِ[2]" وَالَّذِيْ نَفْسُ اَبِيْ هُرَيْرَةَ بِيَدِهٖ اِنَّ قَعْرَ جَهَنَّمَ لَسَبْعُوْنَ خَرِيْفًا[3] رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

قَوْلُهٗ "وَرَاءَ وَرَاءَ" هُوَ بِالْفَتْحِ فِيْهِمَا وَقِيْلَ بِالضَّمِّ بِلَا تَنْوِيْنٍ وَمَعْنَاهُ لَسْتُ بِتِلْكَ الدَّرَجَةِ الرَّفِيْعَةِ وَهِيَ كَلِمَةٌ تُذْكَرُ عَلٰى سَبِيْلِ التَّوَاضُعِ. وَقَدْ بَسَطْتُ مَعْنَاهَا فِيْ شَرْحِ صَحِيْحِ مُسْلِمٍ.

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ

وخت به تاسو کښې ړومبئ ۀ له پُل صراط با ندے دَ بجلئ دَ پرق پشان تیره شی- راوی وائی ما عرض اوکړو- تا با ندے دِ ځما مور او پلار قربان شی. دَ بجلئ پشان دَ تیریدو څۀ مطلب دے؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. تاسو بجلئ نۀ دہ لیدلے، چه څومره تیزئ سره دَ سترګے په رپ کښے لاړه شی او واپس را شی. بیا به څۀ خلق دَ باد او هوا پشان تیر شی. او څۀ دَ مارغانو په شان او څوک دَ تیزے منډے انسان پشان. او دَ رفتار دا فرق به دَ عملونو په سبب وی. دغه وخت به ستاسو نبی په پُل صراط با ندے ولاړ وی او "رَبِّ سَلِّمْ، رَبِّ سَلِّمْ" وظیفه کښے به مشغول وی. بیا به دَ کمزورو عملونو خاوندان تیریږی. نو داسے خلق به په کښے را شی. چه په خپو با ندے به ئے دَ تللو طاقت نۀ وی. او په خړپوسو او په خوئیدلو خوئیدلو به روان وی. او دَ پُل صراط دواړو طرفونو ته به هتکړئ لګیدلے وی. دَ چا په باره کښے چه دَ نیولو حکم اوکړے شی. نو هتکړو کښے به او نیولے شی پس کوم سړے چه په ټکرو او خوئیدلو پورے وتلو نو هغۀ هم خلاصے بیامونږلو او څۀ خلق به لاندے باندے دوزخ ته او غورزولے شی. او په هغه ذات مے دِ قسم وی. چه دَ ابوهریرهؓ ساه دَ هغۀ په لاس کښے دہ، دَ دوزخ ژور والے دَ اویا کالو دَ مزل هومره دے. (مسلم)

امام نوویؒ وائی. چه "وَرَاءَ وَرَاءَ" په دواړو ځایونو کښے آخره کښے زور دے. بعضے پیښ هم وائی. بغیر دَ تنوین یعنی دَ دوو زورونو نہ. نو معنیٰ ئے دا دہ، چه زۀ دَ دے اوچت مقام او مرتبے لائق نۀ یم. او دا کلمات دَ عاجزئ په وخت وئیلے شی. او ما دَ دے معنیٰ دَ مسلم په شرح کښے په تفصیل سره بیان کړے دہ.

۲۰۴- وَعَنْ اَبِيْ خُبَيْبٍ "بِضَمِّ الْخَاءِ الْمُعْجَمَةِ" عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: لَمَّا وَقَفَ الزُّبَيْرُ يَوْمَ الْجَمَلِ[4] دَعَانِيْ فَقُمْتُ اِلٰى جَنْبِهٖ فَقَالَ: يَا بُنَيَّ اِنَّهٗ لَا يُقْتَلُ الْيَوْمَ

۲۰۴- ابو خُبَیب عبد الله بن زبیرؓ وائی چه کله جنګِ جمل راغے نو ځما والد صاحب زبیرؓ زۀ را اوبللم. او زۀ دَ هغۀ خوا ته راغلم او دریدم. نو وے وئیل نن به ظالم یا مظلوم یو نہ یو ضرور وژلے شی. او زۀ پوهیږم چه دَ مظلومیت په حالت کښے

---

[1] "حافتي الصراط" بتخفيف الفاء اى جانبيه. "والكلاليب" جمع كلوب وهو حديدة يعلق عليها اللحم ويرسل فى التنور.
[2] "مكردس" بالراء والدال المهملتين وبالسين المهملة، اى مكروس بعضها فوق بعض
[3] الخريف السنة.
[4] اى الواقعة المشهورة التى كانت بين على بن ابى طالب رضى الله عنه وبين عائشة رضى الله عنها

إِلَّا ظَالِمٌ أَوْ مَظْلُوْمٌ [1] وَإِنِّيْ لَا أُرَانِيْ إِلَّا سَأُقْتَلُ الْيَوْمَ مَظْلُوْمًا وَإِنَّ مِنْ أَكْبَرِ هَمِّيْ لَدَيْنِيْ أَفَتَرٰى دَيْنَنَا يُبْقِيْ مِنْ مَالِنَا شَيْئًا؟ ثُمَّ قَالَ يَا بُنَيَّ بِعْ مَالَنَا وَاقْضِ دَيْنِيْ وَأَوْصِ بِالثُّلُثِ وَثُلُثُهُ لِبَنِيْهِ، يَعْنِيْ لِبَنِيْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ ثُلُثُ الثُّلُثِ: قَالَ: فَإِنْ فَضَلَ مِنْ مَالِنَا بَعْدَ قَضَاءِ الدَّيْنِ شَيْءٌ فَثُلُثُهُ لِبَنِيْكَ قَالَ هِشَامٌ: وَكَانَ وَلَدُ عَبْدِ اللهِ قَدْ رَاٰى بَعْضَ بَنِي الزُّبَيْرِ خُبَيْبٍ وَعَبَّادٍ وَلَهُ يَوْمَئِذٍ تِسْعَةُ بَنِيْنَ وَتِسْعُ بَنَاتٍ. قَالَ عَبْدُ اللهِ: فَجَعَلَ يُوْصِيْنِيْ بِدَيْنِهِ وَيَقُوْلُ: يَا بُنَيَّ إِنْ عَجَزْتَ عَنْ شَيْءٍ مِّنْهُ فَاسْتَعِنْ عَلَيْهِ بِمَوْلَايَ. قَالَ: فَوَاللهِ مَا دَرَيْتُ مَا أَرَادَ حَتّٰى قُلْتُ: يَا أَبَتِ مَنْ مَوْلَاكَ؟ فَقَالَ: اَللهُ قَالَ: مَا وَقَعْتُ فِيْ كُرْبَةٍ مِّنْ دَيْنِهِ إِلَّا قُلْتُ يَا مَوْلَى الزُّبَيْرِ اقْضِ عَنْهُ دَيْنَهُ فَيَقْضِيَهُ قَالَ: فَقُتِلَ الزُّبَيْرُ وَلَمْ يَدَعْ دِيْنَارًا وَلَا دِرْهَمًا إِلَّا أَرَضِيْنَ مِنْهَا الْغَابَةُ [2] وَإِحْدٰى عَشَرَةَ دَارًا بِالْمَدِيْنَةِ وَدَارَيْنِ بِالْبَصْرَةِ وَدَارًا بِالْكُوْفَةِ وَدَارًا بِمِصْرَ قَالَ: وَإِنَّمَا كَانَ دَيْنُهُ الَّذِيْ كَانَ عَلَيْهِ أَنَّ الرَّجُلَ كَانَ يَأْتِيْهِ فَيَسْتَوْدِعُهُ إِيَّاهُ فَيَقُوْلُ الزُّبَيْرُ: لَا وَلٰكِنْ هُوَ سَلَفٌ إِنِّيْ أَخْشٰى عَلَيْهِ الضَّيْعَةَ [3] وَمَا وَلِيَ إِمَارَةً قَطُّ وَلَا جِبَايَةً وَلَا شَيْئًا إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ فِيْ غَزْوٍ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ مَعَ أَبِيْ بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ قَالَ: عَبْدُ اللهِ

به ضرور نن زۀ وژلے کیږم. مګر ما ته زیات فکر د دے خبرے دے. چه زما مال او دولت به زما قرض اداء کولو د پاره کافي شي که نه؟ ستا څۀ خیال دے؟ ته دا سے اوکړه چه زما سامان ټول خرخ کړه. او زما قرض اداء کړه. بیائے د خپل مال د دریمے حصے وصیت اوکړو. او خپله دریمه حصه مال کښے ئے بیا دریمه حصه خپلو نمسو یعنی د عبدالله رض ځامنو ته د ورکولو وصیت اوکړو. په دے شرط چه زما د حصے مال نه څۀ بچ پاتے شول. هشام وائی. چه د عبدالله رض بعضے ځامن دغه وخت د زبیر رض د ځامنو حبیب رض او عباد رض سره په عمر کښے برابر وُو. دغه وخت د زبیر رض نهۀ ځامن او نهۀ لونړه وے. عبدالله رض وائی. چه پلار به بار بار د خپل قرض په باره کښے تاکیدًا وینا کوله. او بیائے اووئیل، اے ځویه! که ته د دے قرض اداء کولو نه عاجز شوے. او اداء کولے ئے نشے. نو بیا زما د آقا نه امداد اوغواړه. زۀ سوچ کښے پریوتم. چه د پلار آقا مے څوک دے؟ چه د هغۀ نه د مدد غوښتلو د پاره راته وائی. آخر ما تپوس اوکړو چه بابا ستا آقا څوک دے؟ نو وے وئیل: الله. عبدالله رض وائی. ما ته چه کله هم د پلار په قرض اداء کولو کښے څۀ مشکل راپیښیدو. نو ما به الله ته اواز کولو، چه اے د زبیر رض آقا! د هغۀ قرض اداء کړه. بس نو الله به د هغۀ قرض اداء کولو. غرض دا چه زبیر رض شهید شو. او نقد مال کښے نه اشرفۍ وه او نه روپۍ. البته دوه قسمه زمکے ئے ترکه کښے پریښودلے. ځنګلی زمکه مدینے سره نزدے وه، او کورونه یوولس مدینه کښے وُو دوه بصره کښے یو کوفه کښے او یو مصر کښے وُو. عبدالله رض وائی، چه د قرضداره کیدو صورت ئے دا وُو چه چا به خپل مال د امانت کیخودلو د پاره راوړو. نو هغۀ ته به

---

[1] قال ابن التین لانهم اما صحابي متاول فهو مظلوم واما غیر صحابي قاتل لاجل الدنیا فهو ظالم ⁖

[2] الغابة بغین معجمة وباء موحدة. ارض شهیرة من عوالي المدینة [3] اي اخاف علیه الضیاع ⁖

فَحَسَبْتُ مَا كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الدَّيْنِ فَوَجَدْتُهٗ أَلْفَيْ أَلْفٍ وَمِائَتَيْ أَلْفٍ! فَلَقِيَ حَكِيْمُ بْنُ حِزَامٍ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ الزُّبَيْرِ فَقَالَ: يَا ابْنَ أَخِيْ كَمْ عَلٰى أَخِيْ مِنَ الدَّيْنِ فَكَتَمْتُهٗ وَقُلْتُ: مِائَةُ أَلْفٍ: فَقَالَ حَكِيْمٌ: وَاللّٰهِ مَا أَرٰى أَمْوَالَكُمْ تَسَعُ هٰذِهٖ: فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ أَرَأَيْتَكَ إِنْ كَانَتْ أَلْفَيْ أَلْفٍ وَمِائَتَيْ أَلْفٍ؟ قَالَ: مَا أُرَاكُمْ تُطِيْقُوْنَ هٰذَا فَإِنْ عَجَزْتُمْ عَنْ شَيْءٍ مِّنْهُ فَاسْتَعِيْنُوْا بِيْ قَالَ: وَكَانَ الزُّبَيْرُ قَدِ اشْتَرَى الْغَابَةَ بِسَبْعِيْنَ وَمِائَةِ أَلْفٍ فَبَاعَهَا عَبْدُ اللّٰهِ بِأَلْفِ أَلْفٍ وَسِتِّمِائَةِ أَلْفٍ ثُمَّ قَامَ فَقَالَ: مَنْ كَانَ لَهٗ عَلَى الزُّبَيْرِ شَيْءٌ فَلْيُوَافِنَا بِالْغَابَةِ، فَأَتَاهُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ جَعْفَرٍ وَكَانَ لَهٗ عَلَى الزُّبَيْرِ أَرْبَعُمِائَةِ أَلْفٍ، فَقَالَ لِعَبْدِ اللّٰهِ إِنْ شِئْتُمْ تَرَكْتُهَا لَكُمْ؟ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ: لَا، قَالَ: فَإِنْ شِئْتُمْ جَعَلْتُمُوْهَا فِيْمَا تُؤَخِّرُوْنَ إِنْ أَخَّرْتُمْ، فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ: لَا، قَالَ: فَاقْطَعُوْا لِيْ قِطْعَةً، قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ: لَكَ مِنْ هٰهُنَا إِلٰى هٰهُنَا. فَبَاعَ عَبْدُ اللّٰهِ مِنْهَا فَقَضٰى عَنْهُ دَيْنَهٗ وَأَوْفَاهُ وَبَقِيَ مِنْهَا أَرْبَعَةُ أَسْهُمٍ وَنِصْفٌ فَقَدِمَ عَلٰى مُعَاوِيَةَ وَعِنْدَهٗ عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ وَالْمُنْذِرُ بْنُ الزُّبَيْرِ وَابْنُ زَمْعَةَ. فَقَالَ لَهٗ مُعَاوِيَةُ: كَمْ قُوِّمَتِ الْغَابَةُ؟ قَالَ: كُلُّ سَهْمٍ بِمِائَةِ أَلْفٍ قَالَ: كَمْ بَقِيَ مِنْهَا؟ قَالَ أَرْبَعَةُ أَسْهُمٍ وَنِصْفٌ فَقَالَ الْمُنْذِرُ ابْنُ الزُّبَيْرِ: قَدْ أَخَذْتُ مِنْهَا سَهْمًا بِمِائَةِ أَلْفٍ، وَقَالَ عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ قَدْ أَخَذْتُ

ئے وئیل۔ زهٔ امانت نشم ساتلے. کهٔ قرض ئے راکوے نو اخلم ئے۔ ځکه چه د امانت په صورت کښے د مال د ضائع کیدلو ما ته پوره خطره ده۔ زبیر رض نه چرته حاکم پاتے شوے وُو۔ نهٔ د ټیکس اخستلو څهٔ ذمه واری ئے اخستے وه۔ هغه همیشه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره او د دوئ نه پس حضرت ابوبکر رض، عمر رض، عثمان رض سره جنګونو او جهادونو کښے شریک شوے وُو۔ عبدالله رض وائی کله چه ما د هغهٔ د قرض حساب او اندازه اولګوله۔ نو دوه ویشت لکهه وُو۔ یوه ورځ حکیم بن حزام رض د عبدالله بن زبیر رض سره ملاوْ شو۔ نو پوښتنه ئے ترے اوکړه، چه وراره۔ ځما په ورور باندے څومره قرضه وه؟ ما اصلی مقدار پټ اوساتلو او داسے ورته اووئیل چه یو لاکهه قرضه وه۔ هغهٔ اووئیل والله! ما ته خو ستا مال کښے دومره ګنجائش په نظر نهٔ راځی۔ یعنی تا سره د دے ګنجائش نشته۔ چه دا دومره قرض ادا کړے شی۔ عبدالله رض وائی ما ورته اووئیل چه کهٔ دوه ویشت لکه قرضه وی نو بیا به څهٔ وائے؟ حکیم بن حزام اووئیل۔ بیا دا خیال مے دے۔ چه تهٔ به هغو د سره په خلاصی باندے قادر نهٔ شے نو بیا ئے اووئیل کهٔ څهٔ سختی یا مشکل راغے نو بغیر د څهٔ تکلیف نه زما نه هم څهٔ قدرے امداد غوښتلے شے۔ عبدالله رض اووئیل چه پلار مے د غابے زمکه یو لاکهه اویا زره کښے اخستے وه او ما په شپاړس لاکهه خرڅه کړه عام اعلان مے اوکړو چه زبیر رض باندے د چا قرض وی هغه دِ ما له غابے مقام ته راشی۔ او خپله قرضه دِ واخلی۔ نو عبدالله بن جعفر رض راغے۔ او وے وئیل چه ځما پرے څلور لاکهه دے. کهٔ ته غواړے نو زهٔ ئے معاف کولے هم شم۔ عبدالله اووئیل نه۔ بیا عبدالله بن جعفر رض اووئیل۔ کهٔ مهلت اوغواړے نو هم ئے درکولے شم مګر عبدالله بن زبیر رض اووئیل

مِنْهَا سَهْمًا بِمِائَةِ اَلْفٍ وَقَالَ ابْنُ زَمْعَةَ: قَدْ اَخَذْتُ سَهْمًا بِمِائَةِ اَلْفٍ فَقَالَ مُعَاوِيَةُ: كَمْ بَقِيَ مِنْهَا؟ قَالَ: سَهْمٌ وَّ نِصْفُ سَهْمٍ قَالَ: قَدْ اَخَذْتُهُ بِخَمْسِيْنَ وَمِائَةِ اَلْفٍ قَالَ: وَبَاعَ عَبْدُاللهِ بْنِ جَعْفَرٍ نَصِيْبَهُ مِنْ مُعَاوِيَةَ بِسِتِّمِائَةِ اَلْفٍ. فَلَمَّا فَرَغَ ابْنُ الزُّبَيْرِ مِنْ قَضَاءِ دَيْنِهِ قَالَ، بَنُو الزُّبَيْرِ: اَقْسِمْ بَيْنَنَا مِيْرَاثَنَا. قَالَ وَاللهِ لَا اُقْسِمُ بَيْنَكُمْ حَتّٰى اُنَادِيَ بِالْمَوْسِمِ اَرْبَعَ سِنِيْنَ اَلَا مَنْ كَانَ لَهٗ عَلَى الزُّبَيْرِ دَيْنٌ فَلْيَاْتِنَا فَلْيَقْضِهِ فَجَعَلَ كُلَّ سَنَةٍ يُنَادِيْ فِي الْمَوْسِمِ فَلَمَّا مَضٰى اَرْبَعُ سِنِيْنَ قَسَمَ بَيْنَهُمْ وَدَفَعَ الثُّلُثَ. وَكَانَ لِلزُّبَيْرِ اَرْبَعُ نِسْوَةٍ فَاَصَابَ كُلَّ امْرَاَةٍ اَلْفُ اَلْفٍ وَمِائَتَا اَلْفٍ، فَجَمِيْعُ مَالِهٖ خَمْسُوْنَ اَلْفَ اَلْفٍ، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛

چه زه داهم نه غواړم - بیا عبدالله بن جعفر رض اووئیل خیر دے د زمکے څهٔ حصّه راته بیله کړه - عبدالله بن زبیر رض اووئیل، چه دے ځائے نه فلانی ځائے پورے ستا زمکه شوه - دغسے عبدالله بن زبیر رض هغه زمکه خرڅوله او خلقو ته ئے خپله خپله قرضه ورکوله - بیا هم هغه زمکه کښے څلورنیمے حصے پاتے شوے - دغه وخت کښے عبدالله بن زبیر رض یو ځل امیر معاویه رض له لاړو. هلته هغوی رض سره عمرو بن عثمان رض، منذر بن زبیر رض او ابن زمعة رض هم ناست وُو. امیر معاویه رض د هغهٔ نه پوښتنه اوکړه - د غابے د زمکے تا څهٔ قیمت لګولے دے - عبدالله اووئیل. د یوے حصے (قطعے) زمکے یو لاکه روپۍ دی. معاویه رض اووئیل نو بیا څومره حصے پاتے دی؟ نو دے وئیل چه څلورنیمے قطعے. نو منذر رض اووئیل. یوه قطعه یعنی ټوټه به یو لاکه ځما شوه. عمرو بن عثمان رض اووئیل دویمه ټوټه ځمکه ځما هم په یو لاکه شوه. ابن زمعه رض اووئیل. دریمه ټوټه زمکه ځما هم په یو لاکه شوه. امیر معاویه رض اووئیل نو څه پاتے شول. هغهٔ وئیل یوه نیمه قطعه. نو امیر معاویه رض اووئیل هغه به یو نیم لاک زما شوه. (راوی وائی) عبدالله بن جعفر رض چه قرض کښے څومره د غابے زمکه اخستے وه هغه ئے به حضرت معاویه هغهٔ دپاره په شپږ لاکه خرڅه کړه چه دوه لاکه ئے دکښے ګټلے. کله چه عبدالله بن زبیر رض د قرض ورکولو نه خلاص شو نو د زبیر رض وارثانو اووئیل چه اوس به مونږ خپله خپله حصه تقسیم کړو نو هغهٔ اووئیل چه ستا سو مینځ کښے به ئے هغه وخته پورے نه تقسیموم. ترڅو پورے چه څلور کاله د حج په موقعه کښے دا اعلان نه وی کړے چه زبیر رض باندے د هر چا قرض وی نو راشئ هغه قرض به مونږ ورکړو کله چه په هر کال دا اعلان نو څلور کاله تیر شول نو بیا ئے باقی مال د زبیر رض په اولاد کښے تقسیم کړو. او کوم وصیت ئے چه د دریمے حصے د مال بیلولو کړے وُو، هغه ئے ترے جدا کړو. نو د زبیر رض څلور ښځے وے. نو د هرے یوے ښځے په حصه کښے دولس ۱۲ دولس لاکهه روپۍ اورسیدلے. نو د هغهٔ ټول مال پنځهٔ کروړه او دوه لاکهه (۵۰۲۰۰۰۰۰) روپۍ وے - (بخاری)

باب ۲۶

ف :- دے باب کښے دوه ۲ قرآنی آیتونه او اتلس ۱۸ نبوی حدیثونه دی. هسے خو د ظلم لفظ د کفر، شرک او ګناه په معنو کښے ځائے په ځائے استعمال شوے دے. او نورے معنی ئے هم شته. مګر دلته ئے معنی داده. د بندګانو خپل مینځ کښے یو بل سره زیاتے کول. زور ورتیا او سختی کول. که دغه ظلم بند نهٔ کړے شی نو پوره معاشره او ښروند او پوره ملک بلکه

[illegible] زمانه آبادئ باندے اثر [illegible] او امن او امان به بدل شی

بَابٌ فِيْ تَحْرِيْمِ الظُّلْمِ وَالْاَمْرِ بِرَدِّ الْمَظَالِمِ!

په لوټ مار کولو باندے د ظلم حرام والے او د مظالمو د بندولو حکم.

(قرانی ایتونه)

٩٤- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [1]: "مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ [2] وَّلَا شَفِيْعٍ يُّطَاعُ" :

٩٥- وَقَالَ تَعَالٰى [3]: "وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ نَّصِيْرٍ" :

٩٤- د ظالمانو به نهٔ څوک دوست وی، او نهٔ به د هغوئ د پاره د چا سفارش قبولے شی. (پ ٢٤، مؤمن)

٩٥- د ظالمانو به هيڅوک مددګار نهٔ وی. (پ ١٧، حج)

(نبوی حديثونه)

وَاَمَّا الْاَحَادِيْثُ فَمِنْهَا حَدِيْثُ اَبِيْ ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ الْمُتَقَدِّمُ فِيْ اٰخِرِ بَابِ الْمُجَاهَدَةِ ":

٢٠٥- وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ "اِتَّقُوا الظُّلْمَ فَاِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَاتَّقُوا الشُّحَّ فَاِنَّ الشُّحَّ اَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ [4] حَمَلَهُمْ عَلٰى اَنْ سَفَكُوْا دِمَاءَهُمْ [5] وَاسْتَحَلُّوْا مَحَارِمَهُمْ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ :

٢٠٦- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَتُؤَدُّنَّ الْحُقُوْقَ [6] اِلٰى اَهْلِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتّٰى يُقَادَ لِلشَّاةِ الْجَلْحَاءِ مِنَ الشَّاةِ الْقَرْنَاءِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ :

٢٠٧- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: كُنَّا نَتَحَدَّثُ عَنْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ

دے مضمون سره برابر يو حديث ع ١١١ باب ع ١١ باب المجاهده کښے د ابوذر جندب بن جناده رض نه روايت شوے تيرشوے دے.

٢٠٥- جابر رض نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل. چه د ظلم کولو نه ځان ساتئ. ځکه چه ظلم د قيامت د ورځے د عذابونو نه دے. او شومتيا مهٔ کوئ ځکه چه شومتيا کولو مخکښے خلق تباه او برباد کړی دی. په دے طور چه هغوئ ئے په قتل او وينه تويولو باندے باعث کړل. او کومے خبرے چه هغوئ د پاره حرامے وے، نو حلال ګنړلو باندے ئے خلق لمسول (مسلم)

٢٠٦- ابوهريره رض نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه د قيامت په ورځ به حقدارو ته خپل حقونه ضرور ورکولے شی. تر دے پورے چه د ښکرو والا څاروی نه به د بے ښکرو والا د پاره (که هغهٔ هغه وهلے وی) بدله واخستلے شی. (مسلم)

٢٠٧- عبد الله بن عمر رض نه روايت دے. چه مونږ د نبی اکرم صلى الله عليه وسلم په موجودګئ کښے په حجة الوداع باندے خبرے اترے

---

[1] سورة مؤمن آية ١٨ [2] الحميم، القريب المشفق [3] سورة الحج آية ٧١ [4] اى من الامم. [5] اى قتل بعضهم بعضا "واستحلوا محارمهم" اى اتخذوا ما حرم من نسائهم حلالا ففعلوا بهن الفاحشة [6] "لتؤدن الحقوق" بضم الفوقية وفتح الهمزة وتشديد الدال (باقی حاشیه بر ص ١٩٦)

(بقيه حاشيه د ص ١٩٥) المفتوحة: اى والله ليؤدين الله الحقوق "والجلحاء" بفتح الجيم وسكون اللام وبالحاء المهملة، التى لا قرن لها، وهذا تصريح بحشر البهائم يوم القيامة و اعادتها كما يعاد اهل التكليف من الآدميين وكما يعاد الاطفال والمجانين"

وَالنَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بَیْنَ اَظْهُرِنَا [1] وَلَا نَدْرِیْ مَا حَجَّةُ الْوَدَاعِ حَتّٰی حَمِدَ اللّٰهَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَاَثْنٰی عَلَیْهِ ثُمَّ ذَکَرَ الْمَسِیْحَ الدَّجَّالَ فَاَطْنَبَ فِیْ ذِکْرِهٖ، وَقَالَ: "مَا بَعَثَ اللّٰهُ مِنْ نَبِیٍّ اِلَّا اَنْذَرَهٗ اُمَّتَهٗ: اَنْذَرَهٗ نُوْحٌ وَالنَّبِیُّوْنَ مِنْ بَعْدِهٖ، وَاِنَّهٗ اِنْ یَّخْرُجْ فِیْکُمْ فَمَا خَفِیَ عَلَیْکُمْ مِّنْ شَاْنِهٖ فَلَیْسَ یَخْفٰی عَلَیْکُمْ اِنَّ رَبَّکُمْ لَیْسَ بِاَعْوَرَ وَاِنَّهٗ اَعْوَرُ عَیْنِ الْیُمْنٰی کَاَنَّ عَیْنَهٗ عِنَبَةٌ طَافِیَةٌ. اَلَا اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَیْکُمْ دِمَآءَکُمْ وَاَمْوَالَکُمْ کَحُرْمَةِ یَوْمِکُمْ هٰذَا فِیْ شَهْرِکُمْ هٰذَا اَلَا هَلْ بَلَّغْتُ" قَالُوْا، نَعَمْ قَالَ: "اَللّٰهُمَّ اشْهَدْ" ثَلَاثًا "وَیْلَکُمْ اَوْ وَیْحَکُمْ اُنْظُرُوْا: لَا تَرْجِعُوْا بَعْدِیْ کُفَّارًا یَّضْرِبُ بَعْضُکُمْ رِقَابَ بَعْضٍ" رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ وَرَوٰی مُسْلِمٌ بَعْضَهٗ ::

کوله. او موږ ته معلومه نه وه. چه حجة الوداع څه ته وائی. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د الله پاک ثنا صفت بیان کړو. او د دجال ئے یکښے ښه تفصیل سره ذکر اوفرمائیلو. او دائے هم اوفرمائیل، چه الله هیڅ نبی هم نه دے لیږلے مګر هغهٔ خپل اُمت د دجال د فتنے نه ضرور ویرولے دے. نوح علیه السلام او د هغهٔ نه پس پیغمبرانو علیهم السلام هم خپل قومونه ویرولی وو مګر دا دجال به ښکاره کیږی په تاسو کښے. (یعنی د دے اُمت په آخره زمانه کښے) که ښے نښانے ئے د تاسو نه پټے هم پاتے شی، نو بیا ئے هم دا ښکاره ښښه ده چه ستاسو رب ړوند نهٔ دے. او هغه په ښیٔ سترګه ړوند دے. د هغهٔ سترګه د انګور د دانے پشان بهرته پړسیدلے شان راو تلے ده. واورئ. خبردار شئ! څنګه چه دا نن ورځ موجوده میاشت ستاسو په نزد حرامه ده. دغسے الله تعالیٰ ستاسو خپل مینځ کښے وینه تویول او مالونه خوړل هم حرام کړی دی (نهٔ خپلو کښے وینه تویوئ نهٔ د یو بل مال اخلئ.) ښهٔ او ښایئ ما تاسو ته (دین) اورسولو؟ ټولو اووئیل. بے شکه (را رسولے دِ دے) بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل درے ځل. اے الله: ته (د دوی د خبرو) ګواه شه. بیائے "وَیْلَکُمْ یا وَیْحَکُمْ" نه یو لفظ استعمال کولو سره اوفرمائیل. ستاسو دپاره هلاکت دے. یا ستاسو دپاره د افسوس مقام دے (که داسے اوشو) ښهٔ سوچ سره دا خبره واورئ. زما نه پس کافر نهٔ شئ. چه د یو بل څټونه وهئ. (بخاری) امام مسلم یو څو اجزاء د دے حدیث روایت کړی دی.

۲۰۸- وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ ظَلَمَ قِیْدَ شِبْرٍ [2] مِنَ الْاَرْضِ طُوِّقَهٗ مِنْ سَبْعِ اَرَضِیْنَ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ::

۲۰۸- حضرت عائشهٔ رض فرمائی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه چا یوه لویشت زمکه په ظلم او ناحقه نیولے وی، نو الله تعالیٰ به د اوو (۷) طبقو زمکو طوق جوړولو سره د دهٔ په غاړه کښے ورواچوی. (بخاری ومسلم)

۲۰۹- وَعَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ

۲۰۹- ابوموسیٰ رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم

---

[1] "بین اظهرنا" ای بیننا [2] "قید" بکسر القاف وبسکون التحتیة وبالدال المهملة: ای قدر شبر و" طوقه" ای طوقه الله من سبع ارضین: ای کلفه الله نقل ما ظلم منها فی القیامة الی المحشر ویکون کالطوق فی عنقه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اِنَّ اللّٰهَ لَيُمْلِيْ لِلظَّالِمِ[1] فَاِذَا اَخَذَهٗ لَمْ يُفْلِتْهُ ثُمَّ قَرَأَ[2]. "وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَا اَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ اِنَّ اَخْذَهٗ اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ∴

او فرمائيل. چه الله تعالىٰ ظالم ته وخت او مهلت ورکوي. مګر کله چه ئې راونيسي، نو بيائې نهٔ پرېږدي. بيا نبي کريم صلى الله عليه وسلم دا آيت تلاوت کړو. ترجمه ئې دا ده: "ستاسو دَ رب نيول هم داسې دي، چه کله هغه دَ يو کلي ظالمان نيسي. دَ هغهٔ نيول ډير زيات سخت او دردناک وي." (بخاري ومسلم)

۲۱۰- **وَعَنْ** مُعَاذٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَعَثَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "اِنَّكَ تَأْتِيْ قَوْمًا مِّنْ اَهْلِ الْكِتَابِ فَادْعُهُمْ اِلٰى شَهَادَةِ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ، فَاِنْ هُمْ اَطَاعُوْا لِذٰلِكَ فَاَعْلِمْهُمْ اَنَّ اللّٰهَ قَدِ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَّلَيْلَةٍ. فَاِنْ هُمْ اَطَاعُوْا لِذٰلِكَ فَاَعْلِمْهُمْ اَنَّ اللّٰهَ قَدِ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ اَغْنِيَآئِهِمْ فَتُرَدُّ عَلٰى فُقَرَآئِهِمْ فَاِنْ هُمْ اَطَاعُوْا لِذٰلِكَ فَاِيَّاكَ وَكَرَائِمَ اَمْوَالِهِمْ[3] وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ[4] فَاِنَّهٗ لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللّٰهِ حِجَابٌ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ∴

۲۱۰- حضرت معاذ بن جبل رضى الله عنه وائي. چه کله زهٔ نبي کريم صلى الله عليه وسلم حاکم جوړ کړم. نو دَ ليږلو په وخت ئې راته دا هدايت اوکړو چه ستا خواته به دَ اهل کتاب يوه ډله درشي. نو هغوئ ته اووايه چه هغوئ دَ الله تعالىٰ دَ يو والي او زما دَ پيغمبرئ اقرار اوکړي او ګواهي ورکړي. کهٔ هغوئ دا اومني نو بيا ورته اووايه، چه الله تعالىٰ په تاسو باندې په شپه او ورځ کښې پنځهٔ مونځونه فرض کړي دي. او چه کله دا هم اومني نو بيا ورته اووايه، چه الله تعالىٰ په تاسو زکوٰة هم فرض کړې دے. چه ستاسو مالدارو نه به اخستې شي او هم ستاسو په غريبانانو کښې به تقسيمولې شي. کله چه دا خبره اومني نو ته دَ زکوٰة اخستلو کښې دَ دوئ دَ ښهٔ خيز اخستلو نه ځان اوساته. او دَ مظلوم دَ خيرو نه ځان اوساته. ځکه چه دَ دے ښيرو او دَ الله ترمينځ يو خيز هم پرده نهٔ واقع کيږي. (بخاري ومسلم)

۲۱۱- **وَعَنْ** اَبِيْ حُمَيْدٍ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اسْتَعْمَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مِّنَ الْاَزْدِ يُقَالُ لَهٗ: ابْنُ اللُّتْبِيَّةِ[5] عَلَى الصَّدَقَةِ فَلَمَّا قَدِمَ قَالَ: هٰذَا لَكُمْ وَهٰذَا اُهْدِيَ اِلَيَّ، فَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَاَثْنٰى عَلَيْهِ

۲۱۱- ابو حميد عبد الرحمٰن بن سعد ساعدي رضى الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ اِزد قبيلې نه ابن لتبيه نومې يو سړے دَ صدقې وصولئ باندے عامل جوړ کړو او ورے ليږلو. کله چه هغهٔ صدقې وصول کړې او راغئ ورته ئې ووئيل چه دا مال ستاسو دے او دا هغه مال دے چه ما ته خلقو دَ تحفې په طور راکړے دے. دا چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم واورېدل نو منبر

---

[1] اى ليمهله. ولم يفلته "اى يخلصه من العذاب [2] سورة هود آية ۱۰۲ [3] اى نفائسها [4] اى تجنب الظلم لئلا يدعو عليك المظلوم ودعوته مقبولة عند الله تعالىٰ [5] ابن اللتبيه بضم اللام واسكان المثناة الفوقية بعدها موحدة فتحتيه مشددة هو عبد الله ∴

ثُمَّ قَالَ: أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَسْتَعْمِلُ الرَّجُلَ مِنْكُمْ عَلَى الْعَمَلِ مِمَّا وَلَّانِي اللّٰهُ فَيَأْتِي فَيَقُولُ: هٰذَا لَكُمْ وَهٰذَا هَدِيَّةٌ أُهْدِيَتْ إِلَيَّ أَفَلَا جَلَسَ فِي بَيْتِ أَبِيهِ أَوْ أُمِّهِ حَتَّى تَأْتِيَهُ هَدِيَّتُهُ إِنْ كَانَ صَادِقًا وَاللّٰهِ لَا يَأْخُذُ أَحَدٌ مِنْكُمْ شَيْئًا بِغَيْرِ حَقِّهِ إِلَّا لَقِيَ اللّٰهَ تَعَالَى يَحْمِلُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَلَا أَعْرِفَنَّ أَحَدًا مِنْكُمْ لَقِيَ اللّٰهَ يَحْمِلُ بَعِيرًا لَهُ رُغَاءٌ[1] أَوْ بَقَرَةً لَهَا خُوَارٌ أَوْ شَاةً تَيْعَرُ" ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى رُؤِيَ بَيَاضُ إِبْطَيْهِ فَقَالَ: "اللّٰهُمَّ هَلْ بَلَّغْتُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

نه اوختلو او د ثنا صفت نه پس ئې وفرمائيل چه زه تاسو کښې يو کس داسې کار بندے عامل مقرر وم. چه الله تعالى ماته سپارلې دے. کله چه هغه راشي نو وائي چه دا د صدقې مال ستا دے او دا خما مال دے چې خلقو ماته تحفه کښې راکړے دے. که دا کس رښتونے وی. نو دا کس دے د مور او پلار په کور کښې کيني. بيا د اوګوری چه څوک ده له هديه ورکوی. په الله مې د قسم وی چه کوم کس د خپل حق نه بغير نور څه خيز واخلی. نو د قيامت په ورځ به الله تعالى سره د ده داسې حالت کښې ملاقات اوشي. چه هغه مال به هغه باندے بار کړے شوے وی. زه د تاسو داسې حال کښې اونه وينم چه الله تعالى سره د بربړيدلی اوښ د غرېدلے غوا او د چيغيدلے بيزې غوندے ملاؤ شئ. بيائې لاس دومره اوچت کړو چه د ترخونو سپين والے ئې ښکاره شو. او وې فرمائيل. اے الله! ما ستا حکم اورسولو. (بخاري ومسلم)

٢١٢- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ كَانَتْ عِنْدَهُ مَظْلَمَةٌ لِأَخِيهِ: مِنْ عِرْضِهِ[2] أَوْ مِنْ شَيْءٍ فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهُ الْيَوْمَ قَبْلَ أَنْ لَا يَكُونَ دِينَارٌ وَلَا دِرْهَمٌ: إِنْ كَانَ لَهُ عَمَلٌ صَالِحٌ أُخِذَ مِنْهُ بِقَدْرِ مَظْلَمَتِهِ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فَحُمِلَ عَلَيْهِ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

۲۱۲- ابو هريره رضى الله عنه نه روايت دے چه نبی کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل. چه چا باندے چه د خپل ورور مسلمان څه مطالبه د ضرر رسولو د قسم نه، د عزت اخستلو، د حق تلفئ وغيره وی. نو نن د ترې معافی اوغواړی د هغه ورځې نه مخکښې چه په هغه ورځ به د بدلے ورکولو دپاره نه روپئ وی او نه نور مال. که ئې زياتی کونکی سره څه نيکئ وی. نو په اندازه د ظلم او زياتی به ترې بدله کښې واخستلے شي. او که نيکئ ئې نه وی. نو د مظلوم بدئ را اخستلو سره به د ده په کهاته کښې واچولے شي. (بخاري)

٢١٣- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْمُسْلِمُ

۲۱۳- عبد الله بن عمرو بن عاص رضى الله عنهما نه روايت دے. چه نبی عليه الصلوٰة والسلام اوفرمائيل. چه مسلمان خو هغه دے چه د هغهٔ د ژبې او لاس

---

[1] الرغاء بضم الراء وبالغين المعجمة، صوت الابل، "والخوار" بضم الخاء المعجمة وتخفيف الواو صوت البقرة و"تيعر" بمثناة تحتية فعين مهملة اى تصيح. واليعار: صوت الشاة، "عفرة ابطيه" بالعين المهملة وسكون الفاء اى بياضها الذى ليس بالناصع وفى نسخة "بياض ابطيه"

[2] "العرض" بالكسر موضع المدح والذم من الانسان.

مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللّٰهُ عَنْهُ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞

(دَ ضرر رسولو نه بل) مسلمان ورور بچ پاتے شي۔ او مهاجر هغه څوک دے چه دَ الله تعالیٰ دَ منع کړو خبرو نه هم ځان اوساتي۔ (بخاري ومسلم)

۲۱۴۔ وَعَنْهُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ عَلٰى ثَقَلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[1] رَجُلٌ يُقَالُ لَهٗ كِرْكِرَةُ فَمَاتَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ فِي النَّارِ فَذَهَبُوْا يَنْظُرُوْنَ إِلَيْهِ[2] فَوَجَدُوْا عَبَاءَةً قَدْ غَلَّهَا رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ته لاړل نو هلته هغوی یوه چوغه اولیدله

۲۱۴۔ عبد الله بن عمرو بن عاص رضی الله عنهما نه دا روایت هم دے۔ چه کِرکِرَه نومے یو سړے دَ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دَ سامان حفاظت کونکے وُو۔ کله چه مړ شو نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ هغه جهنمی شو۔ صحابوؓ چه دا واوریدل، نو پته لګول ئے شروع کړل۔ کله چه دَ هغهٔ کور چه خیانت کولو سره ئے هلته ایښے وه۔ (بخاری)

۲۱۵۔ وَعَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ نُفَيْعِ بْنِ الْحَارِثِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الزَّمَانَ قَدِ اسْتَدَارَ[3] كَهَيْئَتِهٖ يَوْمَ خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ السَّنَةُ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ثَلَاثٌ مُتَوَالِيَاتٌ ذُو الْقَعْدَةِ وَذُو الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ وَرَجَبُ مُضَرَ[4] الَّذِيْ جُمَادٰى وَشَعْبَانَ أَيُّ شَهْرٍ هٰذَا؟ " قُلْنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهٗ سَيُسَمِّيْهِ بِغَيْرِ اسْمِهٖ قَالَ أَلَيْسَ ذَا الْحِجَّةِ؟ قُلْنَا بَلٰى قَالَ فَأَيُّ بَلَدٍ هٰذَا؟ قُلْنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهٗ سَيُسَمِّيْهِ بِغَيْرِ اسْمِهٖ قَالَ الْبَلْدَةَ[5] قُلْنَا بَلٰى۔ قَالَ فَأَيُّ يَوْمٍ هٰذَا؟ " قُلْنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهٗ سَيُسَمِّيْهِ بِغَيْرِ اسْمِهٖ۔ فَقَالَ أَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ؟ قُلْنَا بَلٰى فَقَالَ فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ

۲۱۵۔ ابوبکره نفیع بن حارث رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل زمانه په خپل هغه چکر او ګردش کښے ده۔ چه په هغې الله تعالیٰ دَ زمکے او دَ آسمان دَ پیدائش په ورځ ایښے وه۔ کال دَ دولسو ۱۲ میاشتو وی چه هغې کښے څلور دَ عزت میاشتے دی۔ درے ۳ پرله پسے ذی القعده، ذی الحجه او محرم دی۔ او څلورمه رَجَبِ مُضَرْ ده چه دَ جمادی الثانی او دَ شعبان په مینځ کښے ده۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم تپوس اوکړو۔ دا کومه میاشت ده؟ مونږ اووئیل الله او دَ هغهٔ رسول ئے ښهٔ پیژنی۔ هغه چُپ شو۔ ځمونږ خیال راغے چه شاید بله یوه نامه ورله ئے ږدی۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ آیا دا ذی الحجه نهٔ ده؟ مونږ اووئیل، هَو۔ بیا ئے اووئیل دا کوم ښار دے؟ مونږ اووئیل چه الله او دَ هغهٔ رسول ئے ښهٔ پیژنی۔ بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم چُپ شو۔ نو مونږ خیال اوکړو چه شاید دَ دے څهٔ بله نامه تجویز

---

[1] "الثقل" بفتح الثاء والقاف العيال وما يثقل حمله من الامتعة

[2] اى الى السبب الذى ادخله النار والغلول الخيانة فى المغنم ۔ وفى الحديث تحريم قليل الغلول وكثيره

[3] المراد بالزمان هنا السنة وقد بين صلى الله عليه وسلم الاستدارة بقوله: "السنة اثنا عشر شهرًا"

[4] اضيف رجب الى مضر لان مضر كانت تحافظ على تحريمه اشد من سائر العرب

[5] وفى نسخة "البلد الحرام" ؞

هٰذَا فِي بَلَدِكُمْ هٰذَا فِي شَهْرِكُمْ هٰذَا وَسَتَلْقَوْنَ رَبَّكُمْ فَيَسْأَلُكُمْ عَنْ أَعْمَالِكُمْ أَلَا فَلَا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ، أَلَا لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ فَلَعَلَّ بَعْضَ مَنْ يَبْلُغُهُ أَنْ يَكُونَ أَوْعَى لَهُ مِنْ بَعْضِ مَنْ سَمِعَهُ" ثُمَّ قَالَ: "أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ؟ أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ؟" قُلْنَا: نَعَمْ قَالَ: "اَللّٰهُمَّ اشْهَدْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

فرمائی نو هغوئ اوویئیل چه دا بلد حرام یعنې د مکې ښار نهٔ دے؟ مونږ اوویئیل بے شکه دے. بیائے اوفرمائیل. دا کومه ورځ ده؟ مونږ اوویئیل الله او د هغهٔ رسول ښهٔ پوهیږی. نو هغهٔ چُپ شو نو څمونږ خیال راغے چه کیدے شی چه بله نامه ورله ږدی. نوے فرمائیل. چه نن د قربانئ ورځ نهٔ ده؟ مونږ اوویئیل هُو. دغه وخت نبی اکرم صلے الله علیه وسلم اوفرمائیل چه ستاسو وینهٔ ستاسو مالونه، ستاسو عزت داسے د احترام او عزت لائق دی. لکه څنګه چه دا ورځ - دا ښار او دا میاشت د عزت لائقه ده. نږدے ده چه ستاسو ملاقات د خپل رب سره اوشی. نو تاسو نه به ستاسو د عملونو پوښتنه کولے شی. واورئ څما نه پس د یو بل څټونه وهلو سره کافران کیږئ مهٔ. او ګورئ. څوک چه موجود دی هغه د ناموجوده خلقو ته داخبره اورسوی. ځکه کیدے شی. چه څوک غیرحاضر داسے راپیدا شی. چه د اورېدونکی نه زیات د دے خبرے ساتونکے وی. بیا نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - آیا ما اورسولو. آیا ما اورسولو؟ مونږ عرض اوکړو هُو. نو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. اے الله ته ګواه اوسه. (بخاری ومسلم)

٢١٦- وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ إِيَاسِ بْنِ ثَعْلَبَةَ الْحَارِثِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنِ اقْتَطَعَ[1] حَقَّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِيَمِينِهِ فَقَدْ أَوْجَبَ اللّٰهُ لَهُ النَّارَ وَحَرَّمَ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ" فَقَالَ: رَجُلٌ وَإِنْ كَانَ شَيْئًا يَسِيرًا يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ فَقَالَ" وَإِنْ قَضِيبًا مِنْ أَرَاكٍ[2]" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

٢١٦- ابوامامه ایاس بن ثعلبه حارثی رضی الله عنه نه روایت دے. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. څوک چه د یو مسلمان مال په قسم خوړلو سره واخلی. نو الله تعالیٰ ورله دوزخ واجب کړی، او جنت پرے حرام کړی. یو صحابی پوښتنه اوکړه. یا رسول الله! کهٔ لږ او معمولی څیز وی نو بیاهم؟ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. خواه د کیکر (مسواکی بوټی) یو ښاخ هم نهٔ وی. (مسلم)

٢١٧- وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ عُمَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلٍ فَكَتَمَنَا مِخْيَطًا[3] فَمَا فَوْقَهُ كَانَ غُلُولًا يَأْتِي بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" فَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ أَسْوَدُ مِنَ الْأَنْصَارِ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ اقْبَلْ عَنِّي عَمَلَكَ قَالَ: "وَمَا لَكَ؟" قَالَ:

٢١٧- عدی بن عمیره رضی الله عنه وائی. چه ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیل اورېدلی دی. کهٔ مونږ تاسو کښے یو کار د پاره کوم کس عامل جوړ کړو. او هغه د ستنے برابر یا د دے نه زیات یو څیز هم پټ کړی. نو دا حرکت به خیانت وی. چه د قیامت په ورځ به ئے راوړی. یو تور رنګے انصاری سړے اودرید و. ګویا دا منظره څما مخے ته ده. نو ے وئیل یا رسول الله! دا

---

[1] ای اخذ [2] الاراك: شجر معروف یستاك باعواده [3] "المخیط" بکسر المیم وسکون المعجمة: الابرة والغلول السرقة وفي الحديث وعيد شديد وتحذير في الخيانة من العامل في القليل والكثير.

سَمِعْتُكَ تَقُوْلُ كَذَا وَكَذَا قَالَ: " وَاَنَا اَقُوْلُ الْاٰنَ مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ عَلٰى عَمَلٍ فَلْيَجِئْ بِقَلِيْلِهٖ وَكَثِيْرِهٖ فَمَا اُوْتِيَ مِنْهُ اَخَذَ وَمَا نُهِيَ عَنْهُ انْتَهٰى " رَوَاهُ مُسْلِمٌ ::

خدمت خما نه واپس واخله ـ هغوئ تپوس اوکړو . ولے څهٔ خبره دهٔ ؟ هغهٔ اووئيل چه ما اوريدلی دی چه تاسو داسے داسے وئيلی دی. نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل. دغه خوښه اوس هم وايم چه مونږ تا سو کښے يو کار باندے يو کس عامل کړو. نو هرڅو مره وړوکی نه وړوکے څيز دِ حاضر وی (هرڅهٔ چه وی بيا چه دَ هغے نه دهٔ ته څهٔ څيز ورکولے شی، هغه دِ اخلی - او دَ کومے نه چه منع کړے شی. هغے نه دِ ځان اوساتی - (مسلم)

۲۱۸ - وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ اَقْبَلَ نَفَرٌ مِّنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا: فُلَانٌ شَهِيْدٌ وَفُلَانٌ شَهِيْدٌ حَتّٰى مَرُّوْا عَلٰى رَجُلٍ فَقَالُوْا، فُلَانٌ شَهِيْدٌ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " كَلَّا اِنِّيْ رَاَيْتُهٗ فِي النَّارِ فِيْ بُرْدَةٍ غَلَّهَا اَوْ عَبَاءَةٍ ." رَوَاهُ مُسْلِمٌ ::

۲۱۸ - عمر بن الخطاب رضی الله عنه فرمائی چه دَ خيبر په ورځ بعضے صحابو رض کښے چا دَ وژلے شوو خلقو ذکر کولو. چه فلانے شهيد دے، فلانے شهيد دے، او فلانے هم شهيد دے. نبی اکرم صلی الله عليه وسلم چه دا وروستنے نوم واوريدلو نو ويے فرمائيل، هيڅ کله داسے نهٔ دہ - زهٔ هغه اورکښے وينم ځکه چه يو څادر يا چوغه ئے پټه کړے وه. (مسلم)

۲۱۹ - وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ الْحَارِثِ بْنِ رِبْعِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ قَامَ فِيْهِمْ فَذَكَرَ لَهُمْ اَنَّ الْجِهَادَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالْاِيْمَانَ بِاللّٰهِ اَفْضَلُ الْاَعْمَالِ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! اَرَاَيْتَ[1] اِنْ قُتِلْتُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَتُكَفَّرُ عَنِّيْ خَطَايَايَ فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " نَعَمْ اِنْ قُتِلْتَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاَنْتَ صَابِرٌ مُّحْتَسِبٌ مُّقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ " ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ قُلْتَ ؟ " قَالَ: اَرَاَيْتَ اِنْ قُتِلْتُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَتُكَفَّرُ عَنِّيْ خَطَايَايَ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " نَعَمْ اِنْ قُتِلْتَ وَاَنْتَ صَابِرٌ مُّحْتَسِبٌ مُّقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ اِلَّا

۲۱۹ - ابو قتادہ حارث بن ربعی رضی الله عنه وائی چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم يو وارے دَ صحابو مجلس کښے اودريدلو. او وے فرمائيل - چه جهاد دَ الله په لار کښے او ايمان راوړل په الله باندے بهترين عملونه دی. دغه وخت يو کس اودريد او اووے وئيل يا رسول الله! دا څهٔ وائے ؟ کهٔ زهٔ دَ الله په لار کښے جنګ کولو او وژلے شم نو آيا زما ګناه به معاف شی. نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، هو - کهٔ تهٔ دَ الله په لاره کښے اووژلے شوے. او تهٔ صبر کونکے او دَ ثواب اُميد لرونکے، او مخکښے تلونکے او نهٔ واپس کيدونکے او ثابت قدم وے. نو ستا ګناه به معاف کولے شی. دے نه پس نبی کريم صلی الله عليه وسلم دَ هغهٔ نه تپوس اوکړو. تا اوس دَ څهٔ تپوس اوکړو؟ هغهٔ اووئيل، چه ستاسو څهٔ خيال دے ؟ کهٔ زهٔ دَ الله تعالیٰ په لاره کښے جنګ کولو کښے اووژلے شم. نو آيا خما ګناه به معاف کړے شی؟ نو نبی کريم صلی

---

[1] "ارأيت" : اى اخبرنى

الدَّيْنَ ۲ه فَاِنَّ جِبْرِيْلَ قَالَ لِيْ ذٰلِكَ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ⁘

الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ هوچه ته صبر کوونکے یې۔ دَ ثواب اُمیدلرې۔ جنګ کښې مخکښې ځې۔ او واپس نهٔ تختې۔ نوستا ګناه به معاف شي۔ البته قرض نشي معاف کولے۔ اوما ته داخبره جبرئیل اوښودله۔ (مسلم)

۲۲۰۔ **وَعَنْ** اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اَتَدْرُوْنَ مَنِ الْمُفْلِسُ؟" قَالُوْا: الْمُفْلِسُ فِيْنَا مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهٗ وَلَا مَتَاعَ ۳ه فَقَالَ: "اِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ اُمَّتِيْ مَنْ يَّاْتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلٰوةٍ وَّصِيَامٍ وَّزَكٰوةٍ وَّيَاْتِيْ وَقَدْ شَتَمَ هٰذَا وَقَذَفَ هٰذَا ۴ه وَاَكَلَ مَالَ هٰذَا وَسَفَكَ دَمَ هٰذَا وَضَرَبَ هٰذَا فَيُعْطٰى هٰذَا مِنْ حَسَنَاتِهٖ وَهٰذَا مِنْ حَسَنَاتِهٖ فَاِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهٗ قَبْلَ اَنْ يُّقْضٰى مَا عَلَيْهِ، اُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ⁘

۲۲۰۔ ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ آیا تاسو پیژنئ چه مفلس څوک دے؟ صحابهٔ عرض اوکړو۔ چه مونږ مفلس هغه چا ته وایو، چه هغهٔ سره نه روپئ پیسے وی او نه مال او اسباب۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ څما اُمت کښې غریب او مفلس هغه کس دے۔ چه قیامت کښې به هغهٔ سره مونځ، روژه او زکوٰة یعنی نیک عملونه هم وی۔ مګر هغهٔ به دُنیا کښې چا ته کنځل کړی وی۔ چا باندے بهٔ تهمت لګولے وی۔ دَچا نه بهٔ ناحقه مال خوړلے وی۔ څوک به ئې ناحقه وژلے وی۔ او څوک بهٔ ناحقه وهلے وی، نو دَ دهٔ ټولے نیکئ به دا سے متاثرینو او مظلومانو ته ورکړے شي۔ بیا کهٔ دَ دهٔ نیکئ ختمے شوے او نورے نهٔ وے چه هغه حقدارو مظلومانو ته ورکړے شي۔ نو دَ حقدارو بدی او ګناهونه به دَ هغهٔ په کهاته کښې واچولے شي۔ او بیا به جهنم ته اوغورځولے شي۔ (مسلم)

۲۲۱۔ **وَعَنْ** اُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ وَاِنَّكُمْ تَخْتَصِمُوْنَ اِلَيَّ وَلَعَلَّ بَعْضَكُمْ اَنْ يَّكُوْنَ اَلْحَنَ بِحُجَّتِهٖ مِنْ بَعْضٍ فَاَقْضِيَ لَهٗ بِنَحْوِ مَا اَسْمَعُ فَمَنْ قَضَيْتُ لَهٗ بِحَقِّ اَخِيْهِ فَاِنَّمَا اَقْطَعُ لَهٗ قِطْعَةً مِّنَ النَّارِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁘

"اَلْحَنَ" : اَيْ اَعْلَمَ ⁘

۲۲۱۔ اُم سلمه رضی الله عنها فرمائی۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل زهٔ هم انسان یم۔ تاسو خپل اختلافات دَ فیصلے دپاره ما ته راوړئ۔ او تاسو دَ یو بل نه په دلیل پیش کولو او خبره کولو کښې ډیر دَ ژبے نه تیز یئ۔ او خبره ښهٔ برابرونکی یئ۔ نو زهٔ چه څهٔ واورم، دَ هغے مطابق به فیصله کوم۔ نو کهٔ ما چا ته دَ بل چا حق ورکړو۔ نو پوهه دے شي چه ما دَ اور یوه ټکړه پریکړه او ورله ے ورکړله۔ (بخاری و مسلم)

اَلْحَنَ؛ ډیره پوهه په خبرو کښے۔

۲۲۲۔ **وَعَنِ** ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَنْ يَّزَالَ الْمُؤْمِنُ فِيْ فُسْحَةٍ

۲۲۲۔ عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه مؤمن هغه وخته

۲ه فی الحدیث تنبیه علی جمیع حقوق الآدمیین؛ وان الجهاد والشهادة لا تکفر حقوق الآدمیین انما تکفر حقوق الله: ای الصغائر منها ۳ه المتاع کل ماینتفع به من عروض الدنیا ۴ه "قذف هذا": ای رماه بالزنا مثلا ۵ه "وسفك دم هذا" ای قتله ⁘

مِنْ دِيْنِهٖ مَالَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا »
رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛

پورې دَ دین په حفاظت اوفراخئ کښې وي. ترڅوچه ئې څوک په ناحقه اونۀ وژنی - (بخاری)

٢٢٣ - وَعَنْ خَوْلَةَ بِنْتِ عَامِرٍ الْاَنْصَارِيَّةِ وَهِيَ امْرَاَةُ حَمْزَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَتْ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : « اِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُوْنَ[١] فِيْ مَالِ اللّٰهِ بِغَيْرِ حَقٍّ فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ » -
رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛

٢٢٣ - حضرت خوله بنت عامر رضی الله عنها دَ حضرت حمزه رضی الله عنه بی بی وه - روایت کوی چه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیل آوریدلی دی. چه ډیرخلق وی چه دَ الله تعالیٰ په مالونوکښے ناحقه تصرف او اختیار چلوی. دَ قیامت په ورځ به دَ هغوئ په حصه کښے اُور وی - (بخاری)

باب ٢٧

ف :- دا باب په څلور قرآنی آیتونو او اتلسْ نبوی حدیثونو باندے مشتمل دے. دَ حقوقو تصور را تلو سره لازمی طور سره دَ فرائضو تصوّر هم په ذهن کښے راځی. ځکه دا دواړه صفتونه دَ یوبل سره لازم او ملزوم دی. کهُ ستا په چا باندے څۀ څیز حق شته، نو په تا باندے هم دَ بل چا حق شته دے، چه ستا دپاره هغه په فرائضو کښے شامل دے -

بَابٌ فِيْ تَعْظِيْمِ حُرُمَاتِ الْمُسْلِمِيْنَ وَبَيَانِ حُقُوْقِهِمْ وَالشَّفَقَةِ عَلَيْهِمْ وَرَحْمَتِهِمْ !

دَ مسلمانانو دَ عزت مندو څیزونو تعظیم او عزت او دَ هغوئ دَ حقونو او په هغوئ باندے دَ شفقت او رحم کولو بیان -

قرآنی آیتونه

٩٦ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[٢] : « وَمَنْ يُّعَظِّمْ حُرُمٰتِ اللّٰهِ[٣] فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ »

٩٦ - څوک چه دَ الله تعالیٰ دَ عزت مندو څیزونو عزت کوی - الله تعالیٰ ته دَ دهٔ دا عمل ډیر ښه شمارولے شی - (ایت ج. پ ١٧)

٩٧ - وَقَالَ تَعَالٰى[٤] : « وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ » ؛
کوی نو دا ئے دَ زړهٔ دَ ویرے او دَ پرهیزګا

٩٧ - دَ الله تعالیٰ ارشاد دے - څوک چه دَ الله تعالیٰ دَ خاصوخاصو نښانو عزت

ری نښنه ده - (پ ١٧ - ج)

٩٨ - وَقَالَ تَعَالٰى[٥] : « وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ[٦] » ؛

٩٨ - دَ مهربانئ او دَ نرمئ لاسونه او وزرے دَ مؤمنانو دپاره بښکته کړه - (پ ١٤، حجر)

٩٩ - وَقَالَ تَعَالٰى[٧] : « مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ فِي الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعًا وَمَنْ اَحْيَاهَا فَكَاَنَّمَا اَحْيَا النَّاسَ جَمِيْعًا » ؛

٩٩ - دَ وژلو دَ بدلے اخستلو یا دَ فساد نه زمکه صفا کولو په سلسله کښے دَ وژلو نه بغیر چه چا څوک مړ کړو. نو داسے شو لکه چه ټول انسانان ئے اووژل - او چا چه هغه ژوندے اوساتلو، نو ګویا کهٔ هغهٔ ټول انسانان ژوندی اوساتل - (پ ٦، مائده)

---

[١] يتخوضون بالخاء والضاد المعجمتين : اي يتصرفون [٢] سورة الحج آية ٣٠ [٣] اي احكامه وسائر ما لا يحل هتكه [٤] سورة الحج آية ٣٢ [٥] سورة الحجر آية ٨٨ [٦] اي تواضع لهم وارفق بهم [٧] سورة المائدة آية ٣٢

نبوی احادیث

۲۲۴- وَعَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ "اَلْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْیَانِ یَشُدُّ بَعْضُهٗ بَعْضًا [1]" وَشَبَّكَ بَیْنَ اَصَابِعِهٖ مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ؛

۲۲۴- دَ ابوموسیٰ اشعری رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. یو مسلمان دَ بل مسلمان دپاره دَ ابا دئ پشان مثال لري. چه دَ هغې یوه حصه بله حصه مضبوطوي. بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم خپلې ګوتې یو بل کښې ننویستلو سره اوښودلې. (بخاری ومسلم)

۲۲۵- وَعَنْهُ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ مَرَّ فِیْ شَیْءٍ مِّنْ مَّسَاجِدِنَا اَوْ اَسْوَاقِنَا وَمَعَهٗ نَبْلٌ [2] فَلْیُمْسِكْ اَوْ لِیَقْبِضْ عَلٰی نِصَالِهَا بِكَفِّهٖ اَنْ یُصِیْبَ اَحَدًا مِّنَ الْمُسْلِمِیْنَ مِنْهَا بِشَیْءٍ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ؛

۲۲۵- دا روایت هم دَ ابوموسیٰ اشعری رض دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. څوک چه څمونږ جماعتونو یا بازارونو (یا عامو مجلسونو) کښې تیریږي او هغهٔ غشي اوچت نیولي وي. نو هغهٔ له پکار دي چه یا خو دَ غشي په سر چه لاس کیږدي. یا دِ دَ غشي په نره لاس کښې اونیسي هسې نه چه (دَ بے احتیاطئ) په وجه چرته چا مسلمان ته تکلیف اورسي. (بخاری ومسلم)

۲۲۶- وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِیْرٍ رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: "مَثَلُ الْمُؤْمِنِیْنَ فِیْ تَوَادِّهِمْ [3] وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ اِذَا اشْتَكٰی مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعٰی لَهٗ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمّٰی" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ؛

۲۲۶- نعمان بن بشیر رض وائي. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه دَ مسلمانانو خپلو کښې یو بل سره مینه کولو، یو بل باندے رحم کولو او نرمئ کولو معامله کښې داسے مثال دے. لکه بدن، چه دَ بدن په یو اندام باندے دَ بیمارئ اثر وي نو ټول بدن باندے دَ هغې اثر وي. او هغې ته تبه اولګي. (بخاری ومسلم)

۲۲۷- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَبَّلَ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ الْحَسَنَ ابْنَ عَلِیٍّ رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا وَعِنْدَهُ الْاَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ فَقَالَ: الْاَقْرَعُ، اِنَّ لِیْ عَشَرَةً

۲۲۷- ابوهریرة رضی الله عنه وائي. چه یو ځل نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت حسن بن علی رضی الله عنه ښکل کړو. نو اقرع بن حابس هلته ناست وو، او وے وئیل. چه څما لس هلکان بچي دي.

---

[1] قال القرطبی هٰذا تمثیل یفید الحض علی معاونة المؤمن للمؤمن ونصرته وان ذلك امر متاكد لابد منه فان البنا لا یتم ولا تحصل فائدته الا بان یكون بعضهٗ یمسك بعضا و یقویه، وان لم یكن ذلك انحلت اجزاؤهٗ وخرب بناؤهٗ. وكذلك المؤمن لا یستقل بامر دنیاه ودینه الا بمعاونة الیه ومعاضاته ومناصرة فان لم یكن ذلك عجز عن القیام بكل مصالحه وعن مقاومة مضادة فحینئذ لا یتم له نظام دنیاه ولا دینه ویلحق بالهالكین۔

[2] "النبل" بفتح النون وسكون الموحدة، السهام العربیة۔ و "النصال" بكسر النون و بالمهملة الحدیدة التی فی راس السهم۔ [3] "توادهم" بتشدید الدال من المودة وهی تقرب شخص من اخر بما یحب. وفی الحدیث تعظیم حقوق المسلمین، والحض علی تعاونهم وملاطفة بعضهم بعضا ؛

مِنَ الْوَلَدِ مَا قَبَّلْتُ مِنْهُمْ اَحَدًا فَنَظَرَ اِلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "مَنْ لَا يَرْحَمْ لَا يُرْحَمْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

ما هغه يو هم دَ مينې په وجه نهٔ دے ښکل کړے. نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم دَ هغهٔ طرفته اوکتل او، وے وئيل څوک چه په چا رحم اونهٔ کړی. نو هغهٔ باندے هم رحم نشی کيدے۔ (بخاری ومسلم)

۲۲۸- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَدِمَ نَاسٌ مِنَ الْاَعْرَابِ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا: اَتُقَبِّلُوْنَ صِبْيَانَكُمْ؟ فَقَالَ: نَعَمْ قَالُوْا: لٰكِنَّا وَاللّٰهِ مَا نُقَبِّلُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوَ اَمْلِكُ اِنْ كَانَ اللّٰهُ نَزَعَ مِنْ قُلُوْبِكُمُ الرَّحْمَةَ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۲۲۸- دَ حضرت عائشے رضی الله عنها نه روايت دے. چه يو وارے يو څو بانډچيان کسان رسول الله صلی الله عليه وسلم له راغلل، او پوښتنه ئې اوکړه. چه ته خپلو بچو سره مينه کوے او ښکلوے ئې هم؟ هغوئ اوفرمائيل - هو - هغوئ اووئيل. والله! مونږ خپل بچی دَ مينې دَ وجے نه نهٔ ښکلوُو. نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل. چه الله تعالیٰ ستا سو دَ زړونو نه مينه او محبت ويستلے دے، نو بيا زهٔ هيڅ نشم کولے۔ (بخاری ومسلم)

۲۲۹- وَعَنْ جَرِيْرِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ لَا يَرْحَمِ النَّاسَ لَا يَرْحَمْهُ اللّٰهُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۲۲۹- جرير بن عبد الله رضی الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل. څوک چه خلقو سره رحم او دَ مهربانئ سلوک نهٔ ساتی. الله تعالیٰ به په هغهٔ رحم نهٔ کوی. (بخاری ومسلم)

۲۳۰- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِذَا صَلّٰى اَحَدُكُمْ لِلنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ فَاِنَّ فِيْهِمُ الضَّعِيْفَ وَالسَّقِيْمَ وَالْكَبِيْرَ - وَاِذَا صَلّٰى اَحَدُكُمْ لِنَفْسِهٖ فَلْيُطَوِّلْ مَا شَاءَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِیْ رِوَايَةٍ: "وَذَا الْحَاجَةِ" ؛

۲۳۰- ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دے. چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، کله چه (امام جوړيدو سره) خلقو ته مونځ ورکوے، نو مختصر (لنډ) مونځ کوه. ځکه چه جمع کښې کمزوری. بيماران او بوډاګان هم وی. (دَ هغوئ خيال هم ساته) او کله چه ځان له مونځ کوے نو څومره چه دِ زړهٔ غواړی اوږدوه ئې. (بخاری ومسلم) يو روايت کښې داسے دی چه جمع کښې به ضرورت والا هم وی.

۲۳۱- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: "اِنْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَدَعُ الْعَمَلَ وَهُوَ يُحِبُّ اَنْ يَّعْمَلَ بِهٖ خَشْيَةَ اَنْ يَّعْمَلَ بِهِ النَّاسُ فَيُفْرَضَ عَلَيْهِمْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۲۳۱- حضرت عائشه رضی الله عنها وائی. چه دَ نبی کريم صلی الله عليه وسلم به دَ يو عمل کولو ډير زيات خواهش او شوق وو. مګر دے وېرے نه به ئې پرېخودلو. چه دے ليدلو سره به خلق هم په هغے عمل اوکړی. او هسے نه چه بيا پرے فرض کړے شی۔ (بخاری ومسلم)

٢٣٢ - وَعَنْهَا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ نَهَاهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْوِصَالِ [1] رَحْمَةً لَهُمْ فَقَالُوْا اِنَّكَ تُوَاصِلُ؟ قَالَ: "اِنِّيْ لَسْتُ كَهَيْئَتِكُمْ اِنِّيْ اَبِيْتُ يُطْعِمُنِيْ رَبِّيْ وَيَسْقِيْنِيْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. مَعْنَاهُ يَجْعَلُ فِيَّ قُوَّةَ مَنْ اَكَلَ وَشَرِبَ۔

٢٣٢ - دا روایت هم حضرت عائشه رض بیانوی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د نرمئ او د مهربانئ په طریقے سره د هغے وصال روژه نه منع کوله. مسلسل روژے چه کوجه پکښے نه وی - صحابه ؤ رض عرض اوکړو چه تاسو خو پرله پسے روژے نیسئ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، (ځما خبره پریږدئ) زه ستاسو پشان نه یم. ځما رب ما ته خوراک څکاک راکوی. (بخاری ومسلم) یعنی مطلب دا چه خوراک څکاک سره چه کوم طاقت ماله راځی، هغه الله تعالیٰ بغیر د خوراک سکاک نه ما ته راکړے دے.

٢٣٣ - وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ الْحَارِثِ ابْنِ رِبْعِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اِنِّيْ لَاَقُوْمُ اِلَى الصَّلٰوةِ وَاُرِيْدُ اَنْ اُطَوِّلَ فِيْهَا فَاَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَاَتَجَوَّزُ فِيْ صَلٰوتِيْ [2] كَرَاهِيَةَ اَنْ اَشُقَّ عَلٰى اُمِّهٖ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؞

٢٣٣ - ابوقتاده حارث بن ربعی رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه زه کله مونځ ورکولو ته مخکښے اودریږم، نو زړه مے غواړی چه مونځ اوږد کړم. مګر د یو ماشوم د ژړا آواز واؤرم. نو مونځ لنډ (مختصر) کړم. ځما خوښه نه ده چه بچے مور ته تکلیف ورکړی - (بخاری و مسلم)

٢٣٤ - وَعَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَنْ صَلّٰى صَلٰوةَ الصُّبْحِ فَهُوَ فِيْ ذِمَّةِ اللّٰهِ [3] فَلَا يَطْلُبَنَّكُمُ اللّٰهُ مِنْ ذِمَّتِهٖ بِشَيْءٍ فَاِنَّهٗ مَنْ يَطْلُبْهُ مِنْ ذِمَّتِهٖ بِشَيْءٍ يُدْرِكْهُ ثُمَّ يَكُبُّهٗ عَلٰى وَجْهِهٖ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ [4]" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞

٢٣٤ - جندب بن عبد الله رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. چا چه د سحر مونځ اوکړو. هغه د الله تعالیٰ په ذمه وارئ او امن کښے راغے. (دا مه ماتوئ او مه ئے پریږدئ) هسے نه چه الله تعالیٰ تاسو نه د خپلے ذمه وارئ په باره کښے مطالبه او تپوس اوکړی. ځکه چه هغه د چا نه څه مطالبه او پوښتنه اوکړی نو هغه بیا مومی. او بیا په مخ ئے جهنم ته غورځوی - (مسلم)

٢٣٥ - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلْمُسْلِمُ اَخُو الْمُسْلِمِ

٢٣٥ - عبد الله بن عمر رضی الله عنهما بیان کوی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه مسلمان

---

[1] الوصال هو ان لا يتناول مفطرا بين الصومين ؞

[2] اى اخففها وقد بين مسلم فى رواية له عن انس محل التخفيف ولفظه "فيقرأ السورة القصيرة"

[3] اى امانه وعهده

[4] "يكبه" بفتح اوله: اى يلقيه فيها وفى الحديث غاية التحذير من المتعرض بسوء لمن صلى الصبح المستلزمة لصلاة بقية الحسن وان فى التعرض له بسوء غاية الاهانة والعذاب

لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ ـت مَنْ كَانَ فِيْ حَاجَةِ اَخِيْهِ كَانَ اللّٰهُ فِيْ حَاجَتِهٖ، وَ مَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللّٰهُ عَنْهُ بِهَا كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁘

دَ مسلمان ورور دے. هغه به نه په هغهٔ زیاتے کوی، او نه به ئے بے یار ومدګار پریږدی. کله یورے چه څوک دَ خپل مسلمان ورور حاجت پوره کولو پسے اوځی. الله تعالیٰ دَ هغهٔ حاجتونه پوره کوی- او څوک چه دَ مسلمان ورور نه دَ دُنیا یو تکلیف لرے کړی. نو الله تعالیٰ به دَ دهٔ نه دَ قیامت تکلیفونه لرے کړی. او څوک چه یو مسلمان ورور باندے پرده واچوی نو الله تعالیٰ به دَ قیامت په ورځ دَ دهٔ په عیبو نو پرده واچوی- (بخاری ومسلم)

٢٣٦- وعن اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اَلْمُسْلِمُ اَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَخُوْنُهُ وَلَا يَكْذِبُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ [2] كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ عِرْضُهُ وَمَالُهُ وَدَمُهُ: اَلتَّقْوٰى هٰهُنَا بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ [3] اَنْ يَحْقِرَ اَخَاهُ الْمُسْلِمَ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ ⁘

٢٣٦- ابوهریره رضؓ نه روایت دے- چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل مسلمانان خپل مینځ کښے ټول ورونړه ورونړه دی- هغوئ به نهٔ یو بل سره خیانت کوی. نهٔ به دروغ وائی- نهٔ به یو بل کوزسترګے او شرمنده کوی- په هر مسلمان دَ بل مسلمان عزت خرابول، مال او وینه حرام دی- او دَ تقویٰ او پرهیزګارئ ځائے دادے (او سینے ته ئے اشاره اوکړه) (او وے وئیل) چه سړی دپاره دا بدی ډیره زیاته ده- چه هغه خپل مسلمان ورور خوار او سپک اوګڼړی- (ترمذی) او وائی، چه دا حدیث حسن دے-

٢٣٧- وعنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَا تَحَاسَدُوْا وَلَا تَنَاجَشُوْا وَلَا تَبَاغَضُوْا وَلَا تَدَابَرُوْا وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلٰى بَيْعِ بَعْضٍ، وَكُوْنُوْا عِبَادَ اللّٰهِ اِخْوَانًا: اَلْمُسْلِمُ اَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَحْقِرُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ. اَلتَّقْوٰى هٰهُنَا" وَيُشِيْرُ اِلٰى صَدْرِهٖ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ "بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ اَنْ يَحْقِرَ اَخَاهُ الْمُسْلِمَ: كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ⁘

"اَلنَّجْشُ" "اَنْ يَزِيْدَ فِيْ ثَمَنِ

ای الی عدده ⁘ ⁘ ⁘ ⁘ ⁘ ⁘

٢٣٧- ابوهریره رضؓ نه روایت دے- چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل خپل مینځ کښے کینه او حسد مهٔ کوئ- او جګړے هم مهٔ کوئ. او بُغض او کینه هم مهٔ کوئ- خپلوانو سره تعلق هم مهٔ پریږدئ- او دَ یو بل په سودا باندے سودا هم مهٔ کوئ- دَ الله تعالیٰ بندګانو! ورونړه ورونړه جوړ شئ. مسلمان دَ مُسلمان ورور دے- دهٔ باندے به زیاتے نهٔ کوے- نهٔ به ئے سپک ګڼړے. نه به ئے ذلیل او شرمنده کوے- خپلے سینے ته ئے اشاره اوکړه، او درے وارے ئے اووئیل، چه تقویٰ او پرهیزګاری دلته ده- انسان لره دا بدی کافی ده- چه خپل مسلمان ورور سپک او خوار اوګڼړی- هر مسلمان باندے دَ بل

---

[2] "ولا يخذله" بضم الذال المعجمة: اى لا يترك نصرته [3] "بحسب امرى" باسكان السين اى كافية من العشر احتقار المسلمين ⁘

سِلْعَةٍ يُنَادٰى عَلَيْهَا فِى السُّوْقِ وَ نَحْوِهٖ وَلَا رَغْبَةَ لَهٗ فِىْ شَرَائِهَا بَلْ يَقْصِدُ اَنْ يَّغُرَّ غَيْرَهٗ وَهٰذَا حَرَامٌ : "وَالتَّدَابُرُ" اَنْ يُّعْرِضَ عَنِ الْاِنْسَانِ وَيَهْجُرَهٗ وَيَجْعَلَهٗ كَالشَّيْءِ الَّذِىْ وَرَآءَ الظَّهْرِ وَالدُّبُرِ ::

مسلمان عزت اخستل مال او وينه حرام دی۔ (مسلم)

نَجَشْ: نيلام يا سودا کښے بولی يا قيمت زيات او اوچت ويئيل۔ چه بل کس زيات قيمت ورکړی۔ او پخپله ئے د اخستو اراده هم نهٔ وی۔ دا حرکت حرام دے۔

تَدَابُرْ: روسته غورځول۔ مسلمان د خلقو نظر کښے سپک راوستل۔ ځان ترې ته کول۔

۲۳۸۔ وَعَنْ اَنَسٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ. لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ [1] حَتّٰى يُحِبَّ لِاَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهٖ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ::

۲۳۸۔ انس بن مالک رض نه روايت دے چه رسول الله صلی الله عليه وسلم او فرمائيل چه تاسو کښے يو کس هم ترهغه وخته پورے مؤمن کيدے نشی۔ ترڅو پورے چه مسلمان ورور د پاره هغه خيز خوښ نهٔ کړی کوم چه خپل ځان د پاره خوښوی۔ (بخاری و مسلم)

۲۳۹۔ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اُنْصُرْ اَخَاكَ ظَالِمًا اَوْ مَظْلُوْمًا" فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَنْصُرُهٗ اِذَا كَانَ مَظْلُوْمًا اَرَأَيْتَ [2] اِنْ كَانَ ظَالِمًا كَيْفَ اَنْصُرُهٗ؟ قَالَ: "تَحْجُزُهٗ اَوْ تَمْنَعُهٗ مِنَ الظُّلْمِ فَاِنَّ ذٰلِكَ نَصْرُهٗ" رَوَاهُ الْبُخَارِىُّ ::

۲۳۹۔ انس بن مالک رض نه روايت دے۔ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم او فرمائيل۔ د خپل ورور امداد کوئ۔ کهٔ ظالم وی، او کهٔ مظلوم وی۔ يو سړی او وئيل يا رسول الله! د مظلوم خو به امداد اوکړم۔ ليکن کهٔ ظالم وی نو څنګه ئے امداد اوکړم؟ نبی کريم صلی الله عليه وسلم او فرمائيل، هغه د ظلم نه منع کړه۔ چه هغه د ظلم نه منع کول او بند ول هم امداد کول دی۔ (بخاری)

۲۴۰۔ وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ، "حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ، رَدُّ السَّلَامِ، وَعِيَادَةُ الْمَرِيْضِ، وَاِتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ، وَاِجَابَةُ الدَّعْوَةِ، وَتَشْمِيْتُ الْعَاطِسِ [3]" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔ وَفِىْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: "حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ: اِذَا لَقِيْتَهٗ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ، وَاِذَا دَعَاكَ فَاَجِبْهُ، وَاِذَا اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهٗ، وَاِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللّٰهَ فَشَمِّتْهُ، وَاِذَا مَرِضَ

۲۴۰۔ ابوهريره رض بيان کوی۔ چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم او فرمائيل۔ د يو مسلمان په بل مسلمان پنځهٔ (۵) حقونه دی ۱ د سلام جواب ورکول۔ ۲ کهٔ بيماروی نو د هغه بيمار پوښتنه کول۔ ۳ جنازه کښے شريکيدل يعنی مونځ او دفن کيدلو کښے شريکيدل۔ ۴ د دعوت قبلول۔ ۵ د پرنجی جواب ورکول (يعنی "يرحمك الله" وئيل۔ کهٔ چرے هغهٔ "الحمد لله" وئيلے وی) (بخاری و مسلم) او د مسلم په يو روايت کښے ۶ شپږ حقونه دی۔ (۱) کله چه هغهٔ سره ملاؤ شئ نو سلام کوئ (۲) کهٔ تا ته ئے د خوراک دعوت درکړو، نو قبول ئے

---

[1] "لا يؤمن احدكم" اى ايمانا كاملا حتى يحب لاخيه ما يحب لنفسه من الطاعات والمباحات وفى الحديث الترغيب فى محبة المسلمين بعضهم بعضًا، والمحبة تؤدى الى التعاضد والتناصر وبه ينتظم شمل الايمان وتتايد شرائعه۔ [2] "ارأيت" اى اخبرنى۔ [3] تشميت العاطس: الدعاء له اذا حمد الله بان يقول له: يرحمك الله

فَعُدْهُ، وَإِذَا مَاتَ فَاتْبَعْهُ" ❖

کړه- (۳) که دَ نصیحت مطالبه ئې درنه اوکړه، نو نصیحت ورته اوکړه- (۴)، کله چه هغهٔ ته پرنجې ورشي او "الحمد لله" ئې اووئیله، نو دَ هغې جواب ورکړه- (۵) کله چه بیمار شي نو دَ بیمارئ تپوس ئې کوه. (۶) کله چه مړ شي نو جنازې سره ئې لاړ شه.

۲۴۱- وعن أَبِي عُمَارَةَ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِسَبْعٍ وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ: أَمَرَنَا بِعِيَادَةِ الْمَرِيضِ، وَاتِّبَاعِ الْجَنَازَةِ وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ، وَإِبْرَارِ الْمُقْسِمِ، وَنَصْرِ الْمَظْلُومِ، وَإِجَابَةِ الدَّاعِي، وَإِفْشَاءِ السَّلَامِ[1] وَنَهَانَا عَنْ خَوَاتِيمٍ أَوْ تَخَتُّمٍ بِالذَّهَبِ وَعَنْ شُرْبٍ بِالْفِضَّةِ وَعَنِ الْمَيَاثِرِ الْحُمْرِ، وَعَنِ الْقَسِّيِّ. وَعَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ وَالْإِسْتَبْرَقِ[2] وَالدِّيبَاجِ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ: وَإِنْشَادِ الضَّالَّةِ" فِي السَّبْعِ الْأَوَّلِ:

"الْمَيَاثِرُ" بِيَاءٍ مُثَنَّاةٍ قَبْلَ الْأَلِفِ وَهِيَ مُثَلَّثَةٍ بَعْدَهَا وَهِيَ جَمْعُ مِيثَرَةٍ وَهِيَ شَيْءٌ يُتَّخَذُ مِنْ حَرِيرٍ وَيُحْشَى قُطْنًا أَوْ غَيْرَهُ وَيُجْعَلُ فِي السَّرْجِ وَكُورِ الْبَعِيرِ يَجْلِسُ عَلَيْهِ الرَّاكِبُ" وَ"الْقَسِّيُّ" بِفَتْحِ الْقَافِ وَكَسْرِ السِّينِ الْمُهْمَلَةِ الْمُشَدَّدَةِ وَهِيَ ثِيَابٌ تُنْسَجُ مِنْ حَرِيرٍ وَكَتَّانٍ مُخْتَلِطَيْنِ "وَإِنْشَادُ الضَّالَّةِ" تَعْرِيفُهَا ❖

۲۴۱- ابوعماره براء بن عازب رضی الله عنه وائی- چه بنی کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته دَ اوو خبرو حکم راکړو- او دَ اوو خیزونو نه ئې منع کړو. مونږ ته ئې دَ بیمار دَ پوښتنې کولو، جنازې سره دَ تللو، پرنجې کونکي ته دَ جواب ورکولو، دَ قسم پوره کولو، دَ مظلوم مدد کولو، دَ خوراک دعوت قبلولو او دَ سلام جواب ورکولو او خپل مینځ کښې دَ سلام خورولو حکم راکړو. او دَ سرو زرو دَ ګوتو اچولو او دَ جوړولو او دَ سپینو زرو لوښو کښې دَ اوبو سکلو او سرو ریښمینو ګدو باندې دَ کینا ستلو او دَ ریښمینو کپړو اغوستلو او دغسې دَ بخملي او کخابي جامو اغوستلو نه مونږ منع کړو. (بخاری ومسلم) او یو روایت کښې د کولو یه کارونو کښې دَ قسم پوره کولو په ځائې دَ ورک شوي خیز تلاش کولو حکم دې. یعنې دَ ورک شوي خیز دَ اعلان نه ئې منع کړو-

اَلْمَیَاثِرُ: جمع دَ "مِیْثَرَةٌ" ده. هغه کپړه چه دَ ریښمو او تارنه جوړه شوې وي. دَ اسونو او دَ اوښانو په زینونو او ګدو باندې اچولې شي- ارمالوچ هم پکښې وي-

قَسِّیُّ: ریښمینه او خامتائي کپړه-

اِنْشَادُ الضَّالَّةِ: دَ ورک شوي خیز اعلان کول-

باب ۲۸

ف ۱: دې باب کښې یو قراني آیت او څلور نبوي احادیث دي- په ښو اخلاقو کښې یو ښکاره خوئ دَ مسلمان په عیب باندې پرده اچول دي چه دَ هغې ډیرلوئې فضیلت بیان کړې شوې دې- انسان دَ انسان په حیثیت دَ هیرې او دَ خطا او دَ لغزش نه مرکب دې- په دې کښې نهٔ دَ امیر تخصیص شته او نهٔ دَ غریب. نهٔ دَ وړوکي او نهٔ دَ غټ. په دې وجه دَ چا دَ خطا او کمزورئ معلومولو نه پس دَ هغې دَ خورولو نه ړومبې سوچ

---

[1] افشاء السلام: اشاعته و اذا عتد بان تقرئ السلام علی من عرفت ومن لم تعرف

[2] الاستبرق ما غلظ من الدیباج.

کول ضروري دي - چه آیا دَ دې خیزونو نه زهٔ بالا او بتریم - کهٔ زهٔ دَ چا عیب ښکاره کول غواړم نو کیدې شي چه صباله څوک دغسې ځما پرتوګ ځما دَ خطا په وجه پاس بانړه کړي -

بَابُ سَتْرِ عَوْرَاتِ الْمُسْلِمِيْنَ وَالنَّهْيِ عَنْ اِشَاعَتِهَا لِغَيْرِ ضَرُوْرَةٍ!

دَ مسلمانانو په عیبونو باندې پرده اچول، او بغیر دَ ضرورت نه دَ هغې دَ خورولو نه دَ ممانعت بیان

قرآني ایتونه

۱۰۰ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [1]: "اِنَّ الَّذِيْنَ يُحِبُّوْنَ اَنْ تَشِيْعَ الْفَاحِشَةُ [2] فِي الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ" ؛

۱۰۰ - یقینًا کوم کسان چه په مسلمانانو کښې فحاشي او بې حیائي خورول خوښوي دَ هغوئ دپاره به دُنیا او آخرت دواړو کښې دردناک عذاب وي - (پ۱۸ ، نور)

نبويّ احادیث

۲۴۲ - وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَسْتُرُ عَبْدٌ عَبْدًا فِي الدُّنْيَا اِلَّا سَتَرَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۲۴۲ - ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، یوه بنده هم داسې نشته چه په بل یو بنده باندې پرده واچوی - مګر داچه الله تعالیٰ به دَ قیامت په ورځ دَ هغهٔ عیبونه پټ کړي - (مسلم)

۲۴۳ - وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ "كُلُّ اُمَّتِيْ مُعَافًى اِلَّا الْمُجَاهِرِيْنَ، وَاِنَّ مِنَ الْمُجَاهَرَةِ اَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ عَمَلًا ثُمَّ يُصْبِحُ وَقَدْ سَتَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ فَيَقُوْلُ: يَا فُلَانُ عَمِلْتُ الْبَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللّٰهِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۲۴۳ - ابوهریره رضی الله عنه وائي - چه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسې فرمائیل آوریدلي دي. چه ځما دَ اُمت هرسړی ته به معافي اوشي - مګر خپله ګناه ښکاره کونکی ته به معافي نهٔ کیږي. دَ ګناه دَ ښکاره کولو صورت دا دې. چه یو کس دَ شپې څهٔ ګناه اوکړي - الله تعالیٰ پرې پرده واچوله - مګر سحر هغهٔ پخپله اووئیل - چه دَ شپې ما دا ګناه او حرکتونه کړي دي - الله تعالیٰ خو پرې پرده اچولې وه، خو عیب ئې پخپله ښکاره کړو - (بخاري ومسلم)

۲۴۴ - وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِذَا زَنَتِ الْاَمَةُ [3] فَتَبَيَّنَ زِنَاهَا فَلْيَجْلِدْهَا الْحَدَّ وَلَا يُثَرِّبْ عَلَيْهَا ثُمَّ اِنْ زَنَتِ الثَّانِيَةَ فَلْيَجْلِدْهَا الْحَدَّ وَلَا يُثَرِّبْ عَلَيْهَا ثُمَّ

۲۴۴ - دا روایت هم دَ ابوهریره رضی الله عنه دې - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - کهٔ وینځې چرته زنا اوکړه او په تحقیق سره ثابته شوه - نو حد پرې جاري کړئ - مګر زورنه او ملامتیا به ئې نهٔ ورکول کیږي - بیا کهٔ دوباره ئې داسې اوکړل

---

[1] سورة النور آية ۱۹ [2] الفاحشة الفعل القبيح المفرط القبح او القول السيئ [3] الأمة: الرقيقة. والحد خمسون سوطا. وقوله صلى الله عليه وسلم "فليبعها" اى مع بيان عيبها للمشترى وفي الحديث مفارقة ارباب المعاصي وترك مخالطتهم ؛

اِنْ زَنَتِ الثَّالِثَةَ فَلْيَبِعْهَا وَلَوْ بِحَبْلٍ مِّنْ شَعْرٍ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

"اَلتَّثْرِيْبُ" اَلتَّوْبِيْخُ -

نو بیا به هم پرې صرف حد جاری کړے شی۔ او ملامتیا او زورنه ورکول به نه وی۔ که دریم ځل ئے هم زنا حرکت اوکړو۔ نو بیا دِ ئے خرخه کړی۔ اګر که دَ ویښتو په رسئ ئے خرخه کړی۔ (بخاری ومسلم)

اَلتَّثْرِيْبُ: بے عزته کول۔ زورنه ورکول۔ دهمکی ورکول

۲۴۵- وَعَنْهُ قَالَ: اُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ خَمْرًا قَالَ: "اضْرِبُوْهُ" قَالَ اَبُوْهُرَيْرَةَ، فَمِنَّا الضَّارِبُ بِيَدِهٖ وَالضَّارِبُ بِنَعْلِهٖ وَالضَّارِبُ بِثَوْبِهٖ، فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ: اَخْزَاكَ اللّٰهُ قَالَ: "لَا تَقُوْلُوْا هٰكَذَا لَا تُعِيْنُوْا عَلَيْهِ الشَّيْطَانَ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛

۲۴۵- دا روایت هم دَ ابوهریره رض دے۔ چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت ته یو کس راوستلے شو۔ چه هغهٔ شراب سکلی وُو۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ هغهٔ دَ وهلو حکم اوکړو۔ ابوهریره رض وائی۔ مونږ کښے هغه چا به ډیکو ډیکو وهلو (یعنی سُوک ګُنډیره وهلو) چا به څپلو او وهلو او چا دَ څادر په ډبلئ او وهلو۔ کله چه (په وهلو وهلو) دَ هغه ځائے نه اووتلو۔ نو خلقو هغهٔ ته اوویل چه الله دِ تا خوار او زار کړی۔ مګر نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دا سے مهٔ وایئ۔ دَ دهٔ په مقابله کښے شیطان سره امداد مهٔ کوئ۔ (بخاری)

باب ۲۹

ف:۔ دا باب په یو قرآنی آیت او دُوه نبوی حدیثونو باندے مشتمل دے۔ دَدے نه مخکښے باب کښے هم دَدے پشان روایتونه بیان شوی دی چه تقریبا مضمون ئے سره برابر دے۔

بَابُ فِيْ قَضَاءِ حَوَائِجِ الْمُسْلِمِيْنَ

دَ مسلمانانو دَ حاجتونو پوره کولو بیان!

(قرآنی آیتونه)

۱۰۱- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[۵]: "وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ" ؛

۱۰۱- نیکی او ښیګړه کوئ، دے دپاره چه تاسو کامیاب شئ۔ (پ ۱۷ ج)

احادیث نبوی

۲۴۶- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلْمُسْلِمُ اَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهٗ وَلَا يُسْلِمُهٗ مَنْ كَانَ فِيْ حَاجَةِ اَخِيْهِ كَانَ اللّٰهُ فِيْ حَاجَتِهٖ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُّسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللّٰهُ عَنْهُ بِهَا كُرْبَةً مِّنْ كُرَبِ يَوْمِ

۲۴۶- عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، مسلمان دَ مسلمان ورور دے۔ هیڅوک په خپل مسلمان ورور باندے زیاتے نهٔ کوی۔ نهٔ (په چا باندے دَ ظلم کولو دپاره) ئے بے یار و مددګاره پریږدی، ترڅو چه مسلمان دَ مسلمان حاجت پوره کوی۔ الله تعالیٰ به دَ

---

[۵] سورة الحج آية ۷۷

الْقِيَامَةِ. وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ۞

دهٔ حاجت پوره کوی، او څوک چه دَ مسلمان نه څهٔ تکلیف لرے کوی. نو الله تعالیٰ به دَ قیامت په ورځ دَ دهٔ نه تکلیف لرے کړی. او څوک چه په مسلمان پردِه اچوی، دَ قیامت په ورځ به الله تعالیٰ دَ دهٔ په عیبو نو پردِه واچوی. (بخاری و مسلم)

۲۴۷- وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ نَفَّسَ[1] عَنْ مُّؤْمِنٍ كُرْبَةً مِّنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللّٰهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِّنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ. وَمَنْ يَسَّرَ عَلٰى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاللّٰهُ فِيْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِيْ عَوْنِ اَخِيْهِ، وَمَنْ سَلَكَ طَرِيْقًا يَلْتَمِسُ فِيْهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللّٰهُ بِهٖ طَرِيْقًا اِلَى الْجَنَّةِ، وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِيْ بَيْتٍ مِّنْ بُيُوْتِ اللّٰهِ تَعَالٰى يَتْلُوْنَ كِتَابَ اللّٰهِ وَيَتَدَارَسُوْنَهٗ بَيْنَهُمْ[2] اِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِيْنَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَذَكَرَهُمُ اللّٰهُ فِيْمَنْ عِنْدَهٗ وَمَنْ بَطَّأَ بِهٖ عَمَلُهٗ لَمْ يُسْرِعْ بِهٖ نَسَبُهٗ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۲۴۷- ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه څوک دُنیا کښے دَ یو مسلمان نه یوه پریشانی لرے کړی. الله تعالیٰ به دَ قیامت په ورځ دَ هغهٔ پریشانی او تکلیف لرے کړی. څوک چه دَ تنګ لاسی سره امداد اوکړی. الله تعالیٰ به په دنیا او آخرت دواړو کښے دهٔ سره آسانی اوکړی. او څوک چه دَ مسلمان عیب پټ کړی. الله تعالیٰ به په دُنیا او آخرت کښے دَ هغهٔ په عیبونو پرده واچوی، او الله تعالیٰ دَ خپل بنده تر هغه وخته پورے امداد کوی، تر څو چه بنده دَ مسلمان ورور مدد کوی. او څوک چه دَ علم زده کړے دپاره دَ دین لاره کښے سختئ برداشت کړی، نو الله تعالیٰ دَ هغهٔ دپاره دَ جنت تللو لاره آسانوی کوم ځولے چه جوماتونو کښے راغونډ شی او دَ قرآن تلاوت کوی. او دَ دے درس او تدریس کښے مشغول وی. مګر الله تعالیٰ هغهٔ باندے سکون او اطمینان نازلوی. او هغه خپل رحمت سره پټوی. او فرښتے پرے دَ خپلو وزرونو سورے جوړوی. او الله تعالیٰ خپلو نزدو فرښتو کښے دَ هغوئ ذکر کوی. او چا لره چه عمل روستو پریښود، هغهٔ لره به نسب (په اجر کښے) مخکښے بونهٔ ځی. (مسلم)

---

[1] "من نفس" ای فرج. والكربة ما اهم النفس وغم القلوب. وفی الحديث فضل قضاء حوائج المسلمين ونفعهم بما تيسر من علم او مال او جاه او نصح او دلالة على خير او اعانة بنفسه او سفارته او وساطته او شفاعته او دعائه له بظهر الغيب. [2] "يتدارسونه بينهم" ای يقرأ هذا شيئا ويقرأ الاٰخر ما قرأة صاحبه، وقوله صلى الله عليه وسلم، الا نزلت عليهم السكينة من السكون وهی الحالة التی يطمئن بها القلوب، فلا ينزع الطارق دنيوی لعلمه باحاطة قدرة الله تعالى لسائر الكائنات فيسكن القلب ويطمئن بموعود الاجر لقوة رجائه بحصوله لما وقفه للاشتغال به عما سواه "وغشيتهم الرحمة" ای عمهم الله باحسانه وفضله ومنته "وحفتهم الملائكة": ای احاطت بهم الملائكة الذين يستمعون الذكر او ملائكة الرحمة الى السمآء الدنيا حتى يسمعوا الذكر تعظيما للمذكور واعظاما للذكر (بقيه حاشيه بر صفحه ۱۷۷)

الْقِيَامَةِ. وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞

دهٔ حاجت پوره کوی، او څوک چه دَ مسلمان نه څهٔ تکليف لرے کوی. نو الله تعالیٰ به دَ قيامت په ورځ دَ دهٔ نه تکليف لرے کړی. او څوک چه په مسلمان پرده اچوی، دَ قيامت په ورځ به الله تعالیٰ دَ دهٔ په عيبو نو پرده واچوی. (بخاری و مسلم)

۲۴۷- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ نَفَّسَ[1] عَنْ مُّؤْمِنٍ كُرْبَةً مِّنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللّٰهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِّنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ يَسَّرَ عَلٰى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَ اللّٰهُ فِىْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِىْ عَوْنِ اَخِيْهِ، وَمَنْ سَلَكَ طَرِيْقًا يَلْتَمِسُ فِيْهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللّٰهُ بِهٖ طَرِيْقًا اِلَى الْجَنَّةِ، وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِىْ بَيْتٍ مِّنْ بُيُوْتِ اللّٰهِ تَعَالٰى يَتْلُوْنَ كِتَابَ اللّٰهِ وَيَتَدَارَسُوْنَهٗ بَيْنَهُمْ[2] اِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِيْنَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَ ذَكَرَهُمُ اللّٰهُ فِيْمَنْ عِنْدَهٗ وَمَنْ بَطَّأَ بِهٖ عَمَلُهٗ لَمْ يُسْرِعْ بِهٖ نَسَبُهٗ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۲۴۷- ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل. چه څوک دُنيا کښے دَ يو مسلمان نه يوه پريشانی لرے کړی. الله تعالیٰ به دَ قيامت په ورځ دَ هغهٔ پريشانی او تکليف لرے کړی. څوک چه دَ تنګ لاسی سره امداد اوکړی. الله تعالیٰ به په دنيا او آخرت دواړو کښے دهٔ سره آسانی اوکړی. او څوک چه دَ مسلمان عيب پټ کړی. الله تعالیٰ به په دُنيا او آخرت کښے دَ هغهٔ په عيبونو پرده واچوی، او الله تعالیٰ دَ خپل بنده تر هغه وخته پورے امداد کوی، تر څو چه بنده دَ مسلمان ورور مدد کوی. او څوک چه دَ علم زده کړے دپاره دَ دين لاره کښے سختئ برداشت کړی، نو الله تعالیٰ دَ هغهٔ دپاره دَ جنت تللو لاره آسانوی کوم خلق چه جوماتونو کښے راغونډ شی او دَ قرآن تلاوت کوی. او دَ دے درس او تدريس کښے مشغول وی. مګر الله تعالیٰ هغهٔ باندے سکون او اطمينان نازلوی. او هغه خپل رحمت سره پټوی. او فرښتے پرے دَ خپلو وزرونو سورے جوړوی. او الله تعالیٰ خپلو نزدو فرښتو کښے دَ هغوئ ذکر کوی. او چا لره چه عمل روستو پريښود، هغهٔ لره به نسب (په اجر کښے) مخکښے بونهٔ ځی. (مسلم)

---

[1] "من نفس" اى فرج. والكربة ما اهم النفس وغم القلوب. وفي الحديث فضل قضاء حوائج المسلمين ونفعهم بما تيسر من علم او مال او جاه او نصح او دلالة على خير او اعانة بنفسه او سفارته او وساطته او شفاعته او دعائه له بظهر الغيب.

[2] "يتدارسونه بينهم" اى يقرأ هذا شيئا ويقرأ الأخر ما قرأة صاحبه، وقوله صلى الله عليه وسلم: الا نزلت عليهم السكينة من السكون وهي الحالة التي يطمئن بها القلوب، فلا ينزع الطارق دنيوى لعلمه باحاطة قدرة الله تعالىٰ لسائر الكائنات فيسكن القلب ويطمئن بموعود الاجر لقوة رجائه بحصوله لما وفقه للاشتغال به عما سواه "وغشيتهم الرحمة" اى عمهم الله باحسانه وفضله ومنته "وحفتهم الملائكة": اى احاطت بهم الملائكة الذين يستمعون الذكر او ملائكة الرحمة الى السماء الدنيا حتى يسمعوا الذكر تعظيما للمذكور واعظاما للذكر (بقيه حاشيه بر ص ۱۷۷)

باب ۳۰

ف :- دے باب کښې یو قرآنی آیت او دوه نبوی حدیثونه دی۔ څمونږ په زمانه کښې چه کوم قِسم سفارش رائج دے. چه نه پکښې دَ صحیح او غلط فرق دی او نهٔ پکښې دَ حق او ناحقه خیال دی. دا دَ ښهٔ سفارش کولو لاندے نهٔ راځی۔ بیا کهٔ سفارش او نهٔ منلے شی، نو زړهٔ تنګول نهٔ دی پکار، ځکه چه دَ سفارش باره کښې اختیار دے۔ چه سفارش اُو منی یا ئے او نهٔ منی۔

بَابُ الشَّفَاعَةِ! دَ سفارش، بیان

قرآنی آیتونه

۱۰۲- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[1]: "مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا" ؛

۱۰۲- چاچه دَ یوکس ښهٔ سفارش اوکړو هغهٔ ته هم ثواب ورکولے شی- (پ ۵ نساء)

نبوی حدیثونه

۲۴۸- وَعَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَتَاهُ طَالِبُ حَاجَةٍ اَقْبَلَ عَلٰى جُلَسَآئِهٖ فَقَالَ: "اِشْفَعُوْا تُؤْجَرُوْا وَيَقْضِي اللّٰهُ عَلٰى لِسَانِ نَبِيِّهٖ مَا اَحَبَّ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَفِيْ رِوَايَةٍ: "مَا شَآءَ" ؛

۲۴۸- ابو موسیٰ اشعری رض نه روایت دے. چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې دَ حاجت یو خوخاندان راغلل. نو خپلو مجلسیانو ته ئے اووئیل، سفارش کوئ چه تاسو ته به هم ثواب درکړے شی. او الله تعالیٰ ته چه کومه خبره خوښه شی. (یا دَ بل روایت مطابق) چه څهٔ او غواړی، دَ هغې فیصله دَ خپل نبی (صلی الله علیه وسلم) په ذریعه صادر فرمائی- (بخاری و مسلم)

۲۴۹- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فِيْ قِصَّةِ بَرِيْرَةَ وَزَوْجِهَا قَالَ: قَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَوْ رَاجَعْتِيْهِ؟" قَالَتْ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! تَاْمُرُنِيْ[2] قَالَ: "اِنَّمَا اَشْفَعُ" قَالَتْ: لَا حَاجَةَ لِيْ فِيْهِ، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛

۲۴۹- عبد الله بن عباس رضی الله عنهما دَ حضرت بریره رض او دَ هغې دَ خاوند په قصه کښې وائی. چه هغې ته نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل- چه ته خپل خاوند له واپس لاړه شه. نو هغې اووئیل، یارسول الله! آیا دا ستاسو حکم دے؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اووئیل، نه- "زهٔ صرف سفارش کوم"- نو هغې اووئیل، بس ما ته دَ خاوند ضرورت نشته- (بخاری)

باب ۳۱

ف :- دے باب کښې څلور قرآنی آیتونه او څلور نبوی حدیثونه دی۔

(بقیه حاشیه دَ مخ ۲۱۶) "وذکرهم الله فیمن عنده" ای عند الملائکة والانبیاء مباهاة بفعلهم واظهارًا لفضلهم. وفی هٰذا بیان فضل تلاوة القرآن وما فی الحدیث قطرة من بحر و یاتی قبس من ذلک فی الریاض ان الله تعالیٰ. (دَدے صفحے حاشیه)

[1] سورة النسآء آیة ۸۵ ؛

[2] "تأمرنی" ای تأمرنی بمراجعته ام تشفع یارسول الله؟

بَابُ الْاِصْلَاحِ بَيْنَ النَّاسِ!

دَ خلقو ترمینځهٔ دَ صُلحې کولو بیان

(قرآنی آیتونه)

۱۰۳- قَالَ اللهُ تَعَالٰى[1]: "لَاخَيْرَ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنْ نَّجْوَاهُمْ[2] اِلَّا مَنْ اَمَرَ بِصَدَقَةٍ اَوْ مَعْرُوْفٍ اَوْ اِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ" ⁖

۱۰۳- دَ هغوئ په ډیرو خبرو کولو او ډیرو مشورو کولو کښې څهٔ خیر او ښیګړه نشته۔ مګر صدقه کول - نیک کار کول۔ او خپل مینځ کښې دَ صُلحې او دَ صفائي خبرې کول (نیکي ده) - (پ۵ ،نساء)

۱۰۴- وَقَالَ تَعَالٰى[3]: "وَالصُّلْحُ خَيْرٌ" ⁖

۱۰۴- او صُلحه دَ خیر (او ښیګړې) کار دے - (پ۵ ،نساء)

۱۰۵- وَقَالَ تَعَالٰى[4]: "فَاتَّقُوا اللهَ وَاَصْلِحُوْا ذَاتَ بَيْنِكُمْ[5]" ⁖

۱۰۵- دَ الله تعالیٰ نه او ویرېږئ، او خپل مینځ کښې جوړجاړے لرئ۔ (پ۹ ،انفال)

۱۰۶- وَقَالَ تَعَالٰى[6]: اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَ اَخَوَيْكُمْ" ⁖

۱۰۶- ټول مسلمانان ورونړه دی۔ نو دَ خپلو ورونړو ترمینځ جوړجاړے قائم ساتئ۔ (پ۲۶ ،حجرات)

نبویٔ احادیث

۲۵۰- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ سُلَامٰى مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ[7] كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ فِيْهِ الشَّمْسُ۔ تَعْدِلُ بَيْنَ الْاِثْنَيْنِ صَدَقَةٌ وَتُعِيْنُ الرَّجُلَ فِيْ دَابَّتِهٖ فَتَحْمِلُهٗ عَلَيْهَا اَوْ تَرْفَعُ لَهٗ عَلَيْهَا مَتَاعَهٗ صَدَقَةٌ وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ، وَ بِكُلِّ خُطْوَةٍ تَمْشِيْهَا اِلَى الصَّلٰوةِ صَدَقَةٌ وَ تُمِيْطُ[8] الْاَذٰى عَنِ الطَّرِيْقِ صَدَقَةٌ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔

وَمَعْنٰى "تَعْدِلُ بَيْنَهُمَا": تُصْلِحُ بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ ⁖

۲۵۰- ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ په انسان باندے دَ بدن په هر یو جوړ ،ورزانه یوه صدقه واجبیږی۔ (مخکښې هم یو باب کښې تیرشوی دی، دے باب کښې چه دَ صدقې کوم قسمونه او صورتونه بیان شوی دی۔ دے کښې هم دَ انسانی بدن اندامونه مشغول اوسی۔ دے وجې نه دَ هغې دَ طرفنه صدقه ورکول هم واجبیږی) دَ دوو کسانو ترمینځ عدل او انصاف کول او صلح کول صدقه (او دَ خیر کار) دے۔ یو کس سره په سورلئ باندے خیژولو کښې امداد کول یا خاروی ته په بوج خیژولو کښې چا سره امداد کول هم صدقه ده ښې خبرے کول هم صدقه ده۔ مانځه دپاره تللو کښې هر هر قدم صدقه ده - دَ لارے نه تکلیف رسونکے خیز اوچتول هم صدقه ده - (بخاری ومسلم)

⁖ تَعْدِلُ اَیْ تُصْلِحُ: صلح یا راضی نامه کول -

---

[1] سورة النساء آية ١١٤،

[2] "من نجواهم" اى ما يتناجون به ويتحدثون به

[3] سورة النساء آية ١٢٨

[4] سورة الانفال آية ١

[5] "ذات بينكم" اى حقيقة ما بينكم بالمودة وترك النزاع.

[6] سورة الحجرات آية ١٠

[7] "السلامى" بضم السين وتخفيفا للام: اصله عظام الاصابع وسائر الكف ثم استعمل فى سائر عظام البدن ومفاصله

[8] "وتميط" بضم اوله اى تزيل "الاذى" اى ما يؤذى من حجر وشوك عن الطريق

۲۵۱ - وَعَنْ أُمِّ كُلْثُوْمٍ بِنْتِ عُقْبَةَ ابْنِ اَبِيْ مُعَيْطٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِيْ يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ فَيَنْمِيْ [1] خَيْرًا اَوْ يَقُوْلُ خَيْرًا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةِ مُسْلِمٍ زِيَادَةٌ قَالَتْ: وَلَمْ اَسْمَعْهُ يُرَخِّصُ فِيْ شَيْءٍ مِمَّا يَقُوْلُهُ النَّاسُ اِلَّا فِيْ ثَلَاثٍ تَعْنِيْ الْحَرْبَ وَالْاِصْلَاحَ بَيْنَ النَّاسِ وَ حَدِيْثَ الرَّجُلِ امْرَاَتَهٗ وَ حَدِيْثَ الْمَرْاَةِ زَوْجَهَا :

۲۵۱ - أم کلثوم بنت عقبه بن ابي معيط رض نه روايت دے. چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیل آوریدلی دی. چه هغه کس دروغجن نه دے. چه هغه د خلقو ترمینځ د صلحے دپاره دروغ اووائی. او ښه خبره اوکړي. (مثلاً یو ته اووائی چه د فلانکی کس تا ته زړه کښے غلا نشته. هغه خو ستا ډیر ښائیات صفت کوی او داسے ئے نه دی ویلي. دویم ته اووائی، ته ئے خوخا مخا په هغه بدګمانی او بدخیال کوے. هغه سره ستا ډیر فکر دے هغه خو ستا خیر غواړی. نو دا خو دروغ دی مګر دا سړی ته دروغجن نشي او نه د دے وغو د سزا حقدار دے) - (بخاري ومسلم) او د مسلم په یو روایت کښے دا اضافه ورسره هم شته. چه ام کلثوم رض وائی چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د دے غو د رخصت ورکولو په باره کښے بغیر د دریو ځایونو نه د بل چا باره کښے نه دی آوریدلی. (۱) د جنګ جګړے باره کښے (۲) د دوو کسانو ترمینځ د صلحے دپاره (۳) د ښځے او خاوند خپل مینځ کښے خبرے اترے کولو کښے. یعنی که دے دړے کارونو کښے چرته ضرورت راپیښ شي نو سړے نیکے او ښه اراده سره دروغ یا د ځان نه خبره کولے شي. او په دے به نیولے نشي. انشاء الله -

۲۵۲ - وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: سَمِعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَوْتَ خُصُوْمٍ بِالْبَابِ عَالِيَةٍ اَصْوَاتُهُمَا، اِذَا اَحَدُهُمَا يَسْتَوْضِعُ الْاٰخَرَ وَيَسْتَرْفِقُهٗ فِيْ شَيْءٍ وَهُوَ يَقُوْلُ وَاللهِ لَا اَفْعَلُ فَخَرَجَ عَلَيْهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "اَيْنَ الْمُتَاَلِّيْ عَلَى اللهِ لَا يَفْعَلُ الْمَعْرُوْفَ؟" فَقَالَ: اَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ فَلَهٗ اَيُّ ذٰلِكَ اَحَبَّ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

مَعْنٰى "يَسْتَوْضِعُهٗ" يَسْاَلُهٗ اَنْ يَضَعَ عَنْهُ بَعْضَ دَيْنِهٖ: "وَيَسْتَرْفِقُهٗ" يَسْاَلُهُ الرِّفْقَ. "وَالْمُتَاَلِّيْ": اَلْحَالِفُ:

۲۰۲ - حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها وائی. چه یوه ورځ رسول کریم صلی الله علیه وسلم د خپلے دروازے مخکښے د جګړے کونکو شور واوریدو. او په زوره زوره ئے چغے وهلے. هغوئ کښے یو کس د خپل قرض کمولو باره کښے وینا کوله. او د آسانتیا درخواست ئے کولو. مګر بل کس په قسم خوړلو سره ویئیل. هیڅ کله به آسانی درسره اونه کړم. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خپلے حجرے مبارکے نه راووتلو. او هغوئ له راغے. او دے فرمائیل، چه دا په الله تعالی باندے قسم خوړونکے څوک دے؟ چه د خیر خبره به نه کوی. قرض غوختونکی عرض اوکړو. قسم خوړونکے زه یم. او دا (څما ورور) چه څه ویئیل غواړی، زه هغے ته تیاریم. (بخاری ومسلم) یَسْتَوْضِعُ: د قرض د کمولو مطالبه او درخواست کول. یَسْتَرْفِقُ: د نرمئ او د آسانئ درخواست او سوال کول. مُتَاَلِّيْ: قسم خوړونکے.

---

[1] "ينمي خيرا" بفتح التحتية: اي يبلغ خيرا فيه خير :

۲۵۳- وَعَنْ اَبِی الْعَبَّاسِ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلَغَهُ اَنَّ بَنِیْ عَمْرِوبْنِ عَوْفٍ كَانَ بَيْنَهُمْ شَرٌّ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصْلِحُ بَيْنَهُمْ فِيْ اُنَاسٍ مَعَهُ، فَحُبِسَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَانَتِ الصَّلٰوةُ فَجَآءَ بِلَالٌ اِلٰى اَبِیْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فَقَالَ يَا اَبَا بَكْرٍ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ حُبِسَ وَ حَانَتِ الصَّلٰوةُ فَهَلْ لَكَ اَنْ تَؤُمَّ النَّاسَ؟ قَالَ نَعَمْ۔ اِنْ شِئْتَ فَاَقَامَ بِلَالٌ الصَّلٰوةَ وَتَقَدَّمَ اَبُوْ بَكْرٍ فَكَبَّرَ وَكَبَّرَ النَّاسُ وَجَآءَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِیْ فِی الصُّفُوْفِ حَتّٰى قَامَ فِی الصَّفِّ فَاَخَذَ النَّاسُ فِی التَّصْفِيْقِ وَكَانَ اَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لَا يَلْتَفِتُ فِی الصَّلٰوةِ فَلَمَّا اَكْثَرَ النَّاسُ التَّصْفِيْقَ الْتَفَتَ فَاِذَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَشَارَ اِلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَفَعَ اَبُوْبَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَدَهُ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَ رَجَعَ الْقَهْقَرٰى وَرَآءَهُ حَتّٰى قَامَ فِی الصَّفِّ فَتَقَدَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلّٰى لِلنَّاسِ فَلَمَّا فَرَغَ اَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ: "اَيُّهَا النَّاسُ مَا لَكُمْ حِيْنَ تَابَكُمْ شَیْءٌ فِی الصَّلٰوةِ اَخَذْتُمْ فِی التَّصْفِيْقِ؟ اِنَّمَا التَّصْفِيْقُ لِلنِّسَآءِ مَنْ نَابَهُ شَیْءٌ فِیْ صَلٰوتِهِ فَلْيَقُلْ: سُبْحَانَ اللّٰهِ فَاِنَّهُ لَا يَسْمَعُهُ اَحَدٌ حِيْنَ يَقُوْلُ: سُبْحَانَ اللّٰهِ اِلَّا الْتَفَتَ يَا اَبَا بَكْرٍ

۲۵۳- ابوالعباس سهل بن سعد ساعدی رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم ته یو خبر راغے چه بنی عوف قبیله کښے جګړه پیدا شوے ده۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خو صحابو سره هلته لاړو۔ چه صلح او صفائی اوکړی۔ هلته معاملاتو پیش کولو کښے څۀ وخت تیر شو۔ او د ماز یګر د مانځه وخت راغے۔ بلال رضی الله عنه ابوبکر رضی الله عنه له راغے او وے وئیل۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم هلته ایسار شو۔ او د مانځه وخت راغے نو ته به امامت اوکړے۔ ابوبکر رض ورته او وئیل که ته غواړے نو زۀ به مونځ درکړم۔ بلال رض اقامت اوکړو۔ ابوبکر رض او خلقو تکبیر تحریمه اوتړلو۔ او مونځ ئے شروع کړو۔ دے وخت کښے نبی کریم صلی الله علیه وسلم راغے او د خلقو ترمینځ صفونو کښے ننوتلو او اولنی صف ته لاړو او ودریدلو، دا چه خلقو اولیدلو نو د ابوبکر رض د متوجه کولو د پاره خلقو لاسونه پړقول شروع کړل۔ ابوبکر رض په مانځه کښے دے ته هیڅ توجه اونۀ کړه۔ ځکه چه مانځه کښے ئے بل طرف ته د توجه کولو عادت نۀ وُو۔ لیکن چه خلقو لاسُو پړقول زیات کړل۔ نو هغه متوجه شو او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئے اوکتل۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ورته په خپل ځائے د اودریدو او د امامت کولو اشاره اوکړه۔ مګر ابوبکر رض لاس اوچت کړو د الله صفت ئے بیان کړو۔ او شا بیرته اولنی صف ته وروستو شو۔ او اودریدلو۔ نو بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم مخکښے شو او مونځ ئے خلقو ته ورکړو۔ کله چه د مانځه نه فارغ شو۔ نو صحابه کرامو ته ئے مخ راواړګرځولو او وے وئیل چه په تاسو څۀ شوی دی۔ چه کله مانځه کښے څۀ خبره راشی۔ نو تاسو لاسونه پړقوئ۔ لاسونه وهل د ښځو کار دے، تاسو ته چه څۀ خبره پیښه شی نو "سبحان الله" وایئ۔ تاسو چه کله "سبحان الله" او وایئ نو اودریدونکے به متوجه شی۔ او اے ابوبکره رض! کله چه ما تا ته اشاره

مَا مَنَعَكَ اَنْ تُصَلِّیَ بِالنَّاسِ حِیْنَ اَشَرْتُ اِلَیْكَ؟" فَقَالَ اَبُوْبَکْرٍ: مَا کَانَ یَنْبَغِیْ لِاِبْنِ اَبِیْ قُحَافَةَ اَنْ یُصَلِّیَ بِالنَّاسِ بَیْنَ یَدَیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ، مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ :

مَعْنَی "حُبِسَ": اَمْسَکُوْهُ لِیُضِیْفُوْهُ ::

اوکړه، نو امامت کولو نه څه څیز منع کړے؟ نو ابوبکر رض اووئیل. چه دَ ابو قحافه دَ ځوئ دپاره دا مناسب نهٔ وُو چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په موجودګۍ کښې خلقو ته مونځ ورکړی. (بخاری و مسلم)

حُبِسَ: بند کړے شو. دَ بندیدلو مقصد دَ هغوئ دَ تواضع په خاطر وُو.

باب ۳۲

ف :- دا باب په یو قرآنی آیت او اتو نبوی حدیثونو باندے مشتمل دے.

بَابُ فَضْلِ ضُعَفَةِ الْمُسْلِمِیْنَ وَالْفُقَرَآءِ وَالْخَامِلِیْنَ!

دَ غریبانو مسکینانو او دَ کمزورو مسلمانانو دَ فضیلت بیان.

قرانی آیتونه

۱۰۷- قَالَ اللّٰهُ تَعَالیٰ[1]: "وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاوَةِ وَالْعَشِیِّ یُرِیْدُوْنَ وَجْهَهٗ وَلَا تَعْدُ عَیْنَاكَ عَنْهُمْ[2] ::

۱۰۷- کوم خلق چه سحر ما ښام دَ الله له مخ عبادت کښې مشغول وی. هغوی سره یو ځائے اوسه. او خپل دَ توجه نظر ترے مهٔ اوچتوه. (پ ۱۵ کهف)

نبوی حدیثونه

۲۵۴- وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ: "اَلَا اُخْبِرُکُمْ بِاَهْلِ الْجَنَّةِ؟ کُلُّ ضَعِیْفٍ مُتَضَعَّفٍ[3] لَوْ اَقْسَمَ عَلَی اللّٰهِ لَاَبَرَّهٗ[4] اَلَا اُخْبِرُکُمْ بِاَهْلِ النَّارِ؟ کُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَکْبِرٍ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ::

"اَلْعُتُلُّ": اَلْغَلِیْظُ الْجَافِیْ "وَالْجَوَّاظُ" بِفَتْحِ الْجِیْمِ وَتَشْدِیْدِ الْوَاوِ وَبِالظَّاءِ الْمُعْجَمَةِ: وَهُوَ الْجَمُوْعُ الْمَنُوْعُ وَقِیْلَ: الضَّخْمُ الْمُخْتَالُ فِیْ مِشْیَتِهٖ وَقِیْلَ: اَلْقَصِیْرُ الْبَطِیْنُ ::

۲۵۴- حارث بن وهب رضی الله عنه نه روایت دے. چه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرمائیلی آوریدلی دی. آیا زهٔ تاسو ته دا خبره اونهٔ ښایم، چه جنتیان کوم خلق دی؟ واوَرئ. هر هغه کمزورے سړے چه کمزورے او سپک ګڼړلے شی. (جنتی دے) که دغه کس دَ الله تعالیٰ په اعتماد او یقین سره قسم اوخوری. نو الله تعالیٰ هغه پوره کوی. بیائے اووئیل چه آیا دا درته اوښایم چه دوزخیان څوک دی، هر بد اخلاقه، کبرجن او شوم.

عُتُلٍّ: بد خویه. کبرجن. لوئی کونکے.

جَوَّاظٌ: شوم. یا کبر او غرور سره تلونکے لنډ قد او غټ خیټے.

۲۵۵- وَعَنْ اَبِی الْعَبَّاسِ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ

۲۵۵- ابو عباس سهل بن سعد ساعدی رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول کریم

---

[1] سورة الکهف آیة ۲۸ [2] "ولا تعد عیناك عنهم" ای لا یجاوز نظرك الی غیرهم [3] کل ضعیف ای نفسه ضعیفة لتواضعه وضعیف حاله فی الدنیا وقوله صلی الله علیه وسلم: "ومتضعف" بفتح العین المشددة ای یستضعفه الناس ویحتقرونه ویفخرون علیه [4] "لو اقسم علی الله لابرة" ای لو حلف یمینا مطمئنا فی کرم الله بابراره لابر قسمه بحصول ذاله.

قَالَ: مَرَّ رَجُلٌ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِرَجُلٍ عِنْدَهٗ جَالِسٌ "مَا رَأْيُكَ فِيْ هٰذَا؟" فَقَالَ: رَجُلٌ مِّنْ أَشْرَافِ النَّاسِ هٰذَا وَاللّٰهِ حَرِيٌّ إِنْ خَطَبَ أَنْ يُّنْكَحَ[1] وَإِنْ شَفَعَ أَنْ يُّشَفَّعَ فَسَكَتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ مَرَّ رَجُلٌ آخَرُ فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَا رَأْيُكَ فِيْ هٰذَا؟" فَقَالَ: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ هٰذَا رَجُلٌ مِّنْ فُقَرَآءِ الْمُسْلِمِيْنَ هٰذَا حَرِيٌّ إِنْ خَطَبَ أَنْ لَّا يُنْكَحَ وَإِنْ شَفَعَ أَنْ لَّا يُشَفَّعَ وَإِنْ قَالَ أَنْ لَّا يُسْمَعَ لِقَوْلِهٖ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هٰذَا خَيْرٌ مِّنْ مِّلْءِ الْأَرْضِ مِثْلَ هٰذَا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

قَوْلُهٗ "حَرِيٌّ"، هُوَ بِفَتْحِ الْحَآءِ وَكَسْرِ الرَّآءِ وَتَشْدِيْدِ الْيَآءِ: أَيْ حَقِيْقٌ. وَقَوْلُهٗ "شَفَعَ" بِفَتْحِ الْفَاءِ ؛

صلی الله علیه وسلم سره یو سړے نزدے تیرشو. نو خپل نزدے یو ناست سړی ته ئے اووئیل. چه ددے سړي په باره کښے دِ څهٔ رائے او خیال دے؟ نو هغهٔ اووئیل. چه په خلقو کښے یو عزت مند سړے دے- والله! کهٔ چا ته دَ نکاح دپاره پیغام اولیږی (لور خور او غواړی) نو قبولے شی. او کهٔ دَ چا سفارش اوکړي نو منلے ئُ شی. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم چُپ شو. بیا یو بل کس تیرشو. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم تپوس اوکړو. چه ددے سړي په باره کښے ستا څهٔ خیال دے؟ هغهٔ اووئیل دا سړے په فقیرانو مسلمانانو کښے یو فقیر دے. کهٔ دے چا ته دَ نکاح پیغام ورا ولیږی نو هیڅوک دَ دهٔ پیغام نهٔ قبلوی. کهٔ دَ چا سفارش کوی نو هیڅوک ئے نهٔ منی. او کهٔ چا ته څهٔ خبره کوی نو هیڅوک ئُ نهٔ آوری. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. کهٔ دغه مخکښے کس (غونته خلق) نه ټوله دُنیا ډکه شی نو هم دا فقیر ترے بهتر او غوره دے- (بخاری ومسلم)

حَرِیٌّ : ډیر لائق.

۲۵۶- وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ "احْتَجَّتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ[2] فَقَالَتِ النَّارُ فِيَّ الْجَبَّارُوْنَ وَالْمُتَكَبِّرُوْنَ وَقَالَتِ الْجَنَّةُ فِيَّ ضُعَفَآءُ النَّاسِ وَمَسَاكِيْنُهُمْ فَقَضَى اللّٰهُ بَيْنَهُمَا إِنَّكِ الْجَنَّةُ رَحْمَتِيْ أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ وَإِنَّكِ النَّارُ عَذَابِيْ أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ وَلِكِلَيْكُمَا عَلَيَّ مِلْؤُهَا" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۲۵۶- ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے- چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه جنت او دوزخ خپلو کښے بحث مباحثه اوکړه. دوزخ اووئیل ما ته به لوئے لوئے ظالمان، کبرجن او مغروره خلق راځی. نو جنت اووئیل، په ما کښے به کمزوری، غریبان او مسکینان آباد کیږی- الله تعالیٰ د دواړو ترمینځه دَ فیصلے په شکل اوفرمائیل، اے جنته! ته ځما دَ رحمت نښه ئے. ستا په ذریعه به زهٔ په خپلو بندګانو رحمتونه کوم- او اے دوزخه! ته ځما دَ عذاب او سزا نښه ئے- زهٔ به ستا په ذریعه خلقو ته سزا ورکوم- او ستا سو دَ دواړو ډکول ځما په ذمه دی (مسلم)

---

[1] "ان ینکح" ای یزوج [2] "احتجت" بتشدید الجیم: ای تخاصمت الجنة والنار والمقصود حکایة ما یقع بینهما مما اختص به کل منها وفیه شائبة من معنی الشکایة الا تری کیف قال للجنة "انت دار رحمتی الخ" فافحم کلا بما تقتضیه مشیئته ؛

۲۵۷- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِنَّهٗ لَيَاْتِى الرَّجُلُ السَّمِيْنُ الْعَظِيْمُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يَزِنُ عِنْدَ اللّٰهِ جَنَاحَ بَعُوْضَةٍ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۲۵۷- ابوهريره رضى الله عنه دَ رسول كريم صلى الله عليه وسلم نه ارشاد نقل كوى. چه دَ قيامت په ورځ به يو غټ، تازه، لحيم شحيم (غوښه ور) انسان راشى چه د هغه قدر و قيمت به دَ الله تعالىٰ په نزد دَ ماشى دَ وزر هومره هم نهٔ وى- (بخارى ومسلم)

۲۵۸- وَعَنْهُ اَنَّ امْرَأَةً سَوْدَاءَ كَانَتْ تَقُمُّ الْمَسْجِدَ اَوْ شَابًّا فَفَقَدَهَا اَوْ فَقَدَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَ عَنْهَا اَوْ عَنْهُ فَقَالُوْا: مَاتَ، قَالَ: اَفَلَا كُنْتُمْ اٰذَنْتُمُوْنِىْ بِهٖ" فَكَاَنَّهُمْ صَغَّرُوْا اَمْرَهَا اَوْ اَمْرَهٗ فَقَالَ: "دُلُّوْنِىْ عَلٰى قَبْرِهٖ" فَدَلُّوْهُ فَصَلّٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ اِنَّ هٰذِهِ الْقُبُوْرَ مَمْلُوْءَةٌ ظُلْمَةً عَلٰى اَهْلِهَا وَ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى يُنَوِّرُهَا لَهُمْ بِصَلَاتِىْ عَلَيْهِمْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

قَوْلُهٗ "تَقُمُّ" هُوَ بِفَتْحِ التَّاءِ وَضَمِّ الْقَافِ: اَىْ تَكْنُسُ" وَالْقُمَامَةُ" اَلْكُنَاسَةُ: "وَاٰذَنْتُمُوْنِىْ" بِمَدِّ الْهَمْزَةِ: اَىْ اَعْلَمْتُمُوْنِىْ ؛

۲۵۸- ابو هريره رضى الله عنه نه روايت دے. چه يوه توره ښځه وه. چه دَ جومات خدمت به ئے كولو. يا يو ځوان خادم دَ جومات وو- (راوى ته شک دے)- يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم او نهٔ ليدلو- نو دَ هغهٔ متعلق ئے تپوس اوكړو- نو صحابهٔ اووئيل، چه هغه خو مړشوے دے. نبى كريم صلى الله عليه وسلم اووئيل ماته تا سو خبر ولے را نكړو- گويا كه صحابهٔ رض هغه سړے معمولى سړے گنړلے وو- نبى كريم صلى الله عليه وسلم اووئيل، ماته ئے قبر اوښايئ- نو هغوئ ورته اوښودلو- نو رسول كريم صلى الله عليه وسلم ور باندے په قبر جنازه اوكړه. بيائے اووئيل- دا قبرونه ځيلو مړو او سيډنکو دپاره دَ تيارونه ډک وى. ځما په دے مانځه سره الله تعالىٰ دا قبرونه روښانه كوى- (بخارى و مسلم)

تَقُمُّ، صفائى كول- خدمت كول

اٰذَنْتُمُوْنِىْ: تاسو به خبر او اطلاع راكړے وه-

۲۵۹- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رُبَّ اَشْعَثَ اَغْبَرَ مَدْفُوْعٍ بِالْاَبْوَابِ لَوْ اَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَاَبَرَّهٗ"

رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۲۵۹- دَ ابوهريره رض نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل ډير ببر سرى، خړ بړ خلق چه په دروازو باندے ورته دهكے وركولے شى. داسے دى چه په يوه خبره قسم اوخورى. نو الله تعالىٰ دَ هغهٔ قسم پوره كوى- (مسلم)

۲۶۰- وَعَنْ اُسَامَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "قُمْتُ عَلٰى بَابِ الْجَنَّةِ فَاِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِيْنُ وَاَصْحَابُ

۲۶۰- اسامه بن زيد رضى الله عنهما نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل- زهٔ (دَ معراج په شپه) دَ جنت په دروازه ولاړ ودم- نو ما اوليدل، چه جنت ته اكثر مسكينان او

الْجَدِّ مَحْبُوْسُوْنَ غَيْرَ اَنَّ اَصْحَابَ النَّارِ
قَدْ اُمِرَ بِهِمْ اِلَى النَّارِ وَقُمْتُ عَلٰى بَابِ
النَّارِ فَاِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا النِّسَآءُ»
مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

وَ«الْجَدُّ» بِفَتْحِ الْجِيْمِ: اَلْحَظُّ وَالْغِنٰى
وَقَوْلُهٗ «مَحْبُوْسُوْنَ»: اَىْ لَمْ يُؤْذَنْ
لَهُمْ بَعْدُ فِىْ دُخُوْلِ الْجَنَّةِ ؛

۲۶۱- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ
عَنْهُ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
قَالَ: «لَمْ يَتَكَلَّمْ فِى الْمَهْدِ اِلَّا ثَلٰثَةٌ [1]
عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَصَاحِبُ جُرَيْجٍ
وَكَانَ جُرَيْجٌ رَجُلًا عَابِدًا فَاتَّخَذَ صَوْمَعَةً
[2] فَكَانَ فِيْهَا فَاَتَتْهُ اُمُّهٗ وَهُوَ يُصَلِّىْ
فَقَالَتْ: يَا جُرَيْجُ فَقَالَ: يَا رَبِّ اُمِّىْ وَ
صَلَاتِىْ [3] فَاَقْبَلَ عَلٰى صَلٰوتِهٖ فَانْصَرَفَتْ
فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْغَدِ اَتَتْهُ وَهُوَ يُصَلِّىْ
فَقَالَتْ: يَا جُرَيْجُ فَقَالَ: اَىْ رَبِّ اُمِّىْ
وَصَلَاتِىْ فَاَقْبَلَ عَلٰى صَلٰوتِهٖ فَلَمَّا كَانَ
مِنَ الْغَدِ اَتَتْهُ وَهُوَ يُصَلِّىْ فَقَالَتْ يَا جُرَيْجُ
فَقَالَ اَىْ رَبِّ اُمِّىْ وَصَلٰوتِىْ فَاَقْبَلَ عَلٰى
صَلٰوتِهٖ فَقَالَتْ اَللّٰهُمَّ لَا تُمِتْهُ حَتّٰى يَنْظُرَ
اِلٰى وُجُوْهِ الْمُوْمِسَاتِ فَتَذَاكَرَ بَنُوْ اِسْرَآئِيْلَ
جُرَيْجًا وَعِبَادَتَهٗ وَكَانَتِ امْرَاَةٌ بَغِىٌّ
يُتَمَثَّلُ بِحُسْنِهَا [4] فَقَالَتْ اِنْ شِئْتُمْ
لَاَفْتِنَنَّهٗ فَتَعَرَّضَتْ لَهٗ فَلَمَّا يَلْتَفِتْ اِلَيْهَا
فَاَتَتْ رَاعِيًا كَانَ يَاْوِىْ اِلٰى صَوْمَعَتِهٖ
فَاَمْكَنَتْهُ مِنْ نَفْسِهَا فَوَقَعَ عَلَيْهَا فَحَمَلَتْ
فَلَمَّا وَلَدَتْ قَالَتْ هُوَ مِنْ جُرَيْجٍ فَاَتَوْهُ
فَاسْتَنْزَلُوْهُ وَهَدَمُوْا صَوْمَعَتَهٗ وَجَعَلُوْا
يَضْرِبُوْنَهٗ: فَقَالَ: مَا شَاْنُكُمْ؟ قَالُوْا:
زَنَيْتَ بِهٰذِهِ الْبَغِىِّ فَوَلَدَتْ مِنْكَ قَالَ
اَيْنَ الصَّبِىُّ؟ فَجَآءُوْا بِهٖ فَقَالَ: دَعُوْنِىْ

فقیران دا خلیدونکی ؤو او مالداره دَ دا خلیدو نه ایسارولے شو۔ او دوزخ ته دَ دوزخیانو بوتللو حکم ورکولے شو۔ او دَ دوزخ په دروازه چه کله اودریدم نو ډیرے زیاتے ورته دا خلیدونکے ښځے اولیدلے۔

(بخاری ومسلم)

اَلْجَدُّ: مالداری۔ مَحْبُوْسُوْنَ: دَ بندولونه پس جنت دَ دا خلیدلو حکم ورنکړے شو۔

۲۶۱- ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ په غیږ کښے صرف درے ماشومانو خبرے کړی دی (۱) عیسیٰ علیه السلام (۲) دَ جُرَیج متعلق ګواهی ورکونکی ماشوم۔ دا جُرَیج (مخکښے اُمتونو کښے) یو عبادت ګزار او پرهیزګار سړے ؤو۔ عبادت دپاره ئے ځان له عبادت خانه جوړه کړے وه۔ هلته هغه عبادت کښے مشغول وو۔ دَ هغهٔ مور راغله او آواز ئے ورته اوکړو۔ هغهٔ مانځه کښے اووئیل، اے الله! یو طرف ته ځما مور ده او بل طرف ته مونځ دے۔ مګر مونځ کښے مشغول شو (مور ته ئے هیڅ جواب ورنهٔ کړو) نو هغه واپس شوه۔ دویمه ورځ ئے بیا مور راغله دے هم هغسے مانځه کښے مشغول وو۔ هغهٔ ته ئے آواز ورکړو۔ نو هغهٔ اووئیل، چه اے الله: یو طرفته زما مور ده او بل طرفته مونځ دے۔ او مانځه کښے مشغول شو۔ دریمه ورځ بیا داسے واقعه اوشوه۔ او دے مونځ کښے مشغول وو۔ مور له ئے جواب ورنهٔ کړو۔ نو مور ورته خیرے اوکړے۔ او وے وئیل۔ اے الله! دهٔ له هغه وخته پورے مرګ مهٔ راولے ترڅو چه دَ یو زنا کارے مخ اونهٔ وینی۔ بنی اسرائیلو کښے چه کله دَ دهٔ دَ عبادت چرچه اوشوه نو یوه ډیره خائسته زناکاره ښځه وه چه دَ هغے خائست مثال کښے پیش کولے شو۔ دغے ښځے اووئیل چه ګورئ چه زهٔ به دِ ځنګه فتنه کښے اخته کړم۔ او دَ غرور عبادت ئے ځنګه

---

[1] "الا ثلاثة" اى من بنى اسرائيل [2] "الصومعة" بفتح الصاد المهملة والميم وسكون الواو بينهما البناء المرتفع المحدد اعلاه [3] اى اجتمع على اجابة امى واتمام صلاتى فوفقنى لافضلهما [4] "يتمثل بحسنها" بضم التحتية وفتح الفوقية وتشديد المثلثة بعد الميم: اى يضرب بحسنها المثل ؛

حَتّٰی اُصَلِّیَ فَصَلّٰی فَلَمَّا انْصَرَفَ اَتَی الصَّبِیَّ
فَطَعَنَ فِیْ بَطْنِهٖ وَقَالَ: یَا غُلَامُ مَنْ
اَبُوْكَ؟ قَالَ: فُلَانٌ الرَّاعِیْ فَاَقْبَلُوْا
عَلٰی جُرَیْجٍ یُقَبِّلُوْنَهٗ وَیَتَمَسَّحُوْنَ بِهٖ وَ
قَالُوْا: نَبْنِیْ لَكَ صَوْمَعَتَكَ مِنْ ذَهَبٍ
قَالَ: لَا اَعِیْدُوْهَا مِنْ طِیْنٍ كَمَا كَانَتْ
فَفَعَلُوْا وَ بَیْنَا صَبِیٌّ یَرْضَعُ مِنْ اُمِّهٖ
فَمَرَّ رَجُلٌ رَاكِبٌ عَلٰی دَآبَّةٍ فَارِهَةٍ وَ
شَارَةٍ حَسَنَةٍ فَقَالَتْ اُمُّهٗ: اَللّٰهُمَّ اجْعَلِ
ابْنِیْ مِثْلَ هٰذَا فَتَرَكَ الثَّدْیَ وَاَقْبَلَ
اِلَیْهِ فَنَظَرَ اِلَیْهِ فَقَالَ: اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْنِیْ
مِثْلَهٗ ثُمَّ اَقْبَلَ عَلٰی ثَدْیِهٖ فَجَعَلَ
یَرْضَعُ فَكَاَنِّیْ اَنْظُرُ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی
اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ یَحْكِیْ ارْتِضَاعَهٗ
بِاِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ فِیْ فِیْهِ فَجَعَلَ
یَمُصُّهَا ثُمَّ قَالَ: وَمَرُّوْا بِجَارِیَةٍ وَهُمْ
یَضْرِبُوْنَهَا وَیَقُوْلُوْنَ زَنَیْتِ سَرَقْتِ
وَهِیَ تَقُوْلُ: حَسْبِیَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِیْلُ
فَقَالَتْ اُمُّهٗ: اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلِ ابْنِیْ
مِثْلَهَا فَتَرَكَ الرَّضَاعَ وَنَظَرَ اِلَیْهَا فَقَالَ
اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِثْلَهَا فَهُنَالِكَ تَرَاجَعَا الْحَدِیْثَ
فَقَالَتْ مَرَّ رَجُلٌ حَسَنُ الْهَیْئَةِ فَقُلْتُ اَللّٰهُمَّ
اجْعَلِ ابْنِیْ مِثْلَهٗ فَقُلْتَ لَا تَجْعَلْنِیْ مِثْلَهٗ وَ
مَرُّوْا بِهٰذِهِ الْاَمَةِ وَهُمْ یَضْرِبُوْنَهَا
وَیَقُوْلُوْنَ زَنَیْتِ سَرَقْتِ فَقُلْتُ اَللّٰهُمَّ
لَا تَجْعَلِ ابْنِیْ مِثْلَهَا فَقُلْتَ: اَللّٰهُمَّ
اجْعَلْنِیْ مِثْلَهَا قَالَ: اِنَّ ذٰلِكَ الرَّجُلَ
جَبَّارٌ فَقُلْتُ: اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْنِیْ مِثْلَهٗ
وَاِنَّ هٰذِهٖ یَقُوْلُوْنَ زَنَیْتِ وَلَمْ تَزْنِ
وَسَرَقْتِ وَلَمْ تَسْرِقْ فَقُلْتُ: اَللّٰهُمَّ
اجْعَلْنِیْ مِثْلَهَا" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ.
"وَالْمُوْمِسَاتُ" بِضَمِّ الْمِیْمِ الْاُوْلٰی

کړه وه کوم. نو د هغهٔ د دهوکه کولو دپاره ئې ډیر چلونه اوکړل. او ازمیښت ئې پرے اوکړو. مګر هغې ته ئې هیڅ توجه اونکړه. د جریج نه چه نا امیده لاړه نو د هغهٔ د عبادتخانې خوا سره یو شپونکے اوسیدو. دا ښځه شپونکی له د زنا دپاره لاړه او شپونکے ئې په ځان واچولو. چه د هغې نه ئې ماشوم په ګیډه شو. کله چه ماشوم پیدا شو. نو خلقو کښې ئې مشهوره کړه چه دا د جریج ماشوم دے خلقو به یو دم سره د جریج عبادتخانه ورانه کړه او جریج ئې په وهلو وهلو اوویستلو. عبادت خانه ورانه کړے شوه. نو جریج ئې د غرنه راکوز کړو. جریج تپوس اوکړو چه آخر تاسو زهٔ ولے اووهلم؟ څهٔ چل شوے دے؟ چه ما سره مو داسے اوکړل؟ هغوئ اووئیل تا فلانکئ ښځې سره زنا کړے وه. او که هغې نه ماشوم پیدا شوے دے. دهٔ اووئیل هغه ماشوم چرته دے؟ نو هغوئ هغه ماشوم راوړلو. بیا جریج اووئیل چه ما پریږدئ چه مونځ اوکړم. بیا ئې مونځ اوکړو او ماشوم له راغے. او هغهٔ ته ئې اووئیل. ستا پلار خوک دے؟ ماشوم اووئیل، هغه فلانکے شپونکے بیا هغه ټولو خلقو د هغهٔ نه معافی اوغوښتله. او لاسونه ئې ورله ښکل کړل او وے وئیل. مونږ به ستا عبادت خانه د سرو زرو جوړه کړو. جریج اووئیل، د سرو نه. بلکه د خاورو نه ئې جوړه کړئ. هغسے څنګه چه مخکښې وه. (۳۱) هغه ماشوم چه د خپلې مور غیږه کښې پروت وو. پئ ئې رودل چه هلته یو تیز رفتاری اس باندے یو سړے تیزئ سره تیریدلو. چه خائسته جامے ئې اغوستے وے. د دے ماشوم مور اووئیل. اے الله! ځما دا ځوئ هم د غسے جوړ کړه. ماشوم پئ رودل پریښودل. هغه سړي ته ئې اوکتل، نو وے وئیل. اے الله! ما د دهٔ پشان مهٔ جوړوه. راوی وائی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم حالت د غه وخت ځما د سترګو د وړاندې دے. چه خپله ګوته ئې خولهٔ کښې ایښے وه. او

وَإِسْكَانِ الْوَاوِ وَكَسْرِ الْمِيمِ الثَّانِيَةِ وَبِالسِّينِ الْمُهْمَلَةِ وَهُنَّ الزَّوَانِي وَالْمُومِسَةُ الزَّانِيَةُ. وَقَوْلُهُ "دَابَّةٌ فَارِهَةٌ" بِالْفَاءِ: أَيْ حَاذِقَةٌ نَفِيسَةٌ "وَالشَّارَةُ" بِالشِّينِ الْمُعْجَمَةِ وَتَخْفِيفِ الرَّاءِ وَهِيَ الْجَمَالُ الظَّاهِرُ فِي الْهَيْئَةِ وَالْمَلْبَسِ. وَمَعْنَى "تَرَاجَعَا الْحَدِيثَ" أَيْ حَدَّثَتِ الصَّبِيَّ وَحَدَّثَهَا، وَاللّٰهُ أَعْلَمُ.

د ماشوم د پئ رودلو نقشه ئې ښودله. او بيائې اووئيل، څه وخت پس هلته څه خلق يوه وينځه وهلو ټكولو سره تيرشول. او هغې ته ئې وئيل، چه تا زنا كړې ده او غلا دې كړې ده مګر هغې جواب كښې "حسبي الله ونعم الوكيل" وئيل. د دغه ماشوم مور چه دا حالت اوليدلو نو دعائې اوكړه - اے الله! زما ماشوم د دې وينځې پشان مه كړې. ماشوم بيا د پئ رودلو نه خوله اووېستله او هغه وينځې ته ئې اوكتل، او وې وئيل. اے الله! ما د دغه وينځې پشان جوړ كړې. اوس د دې نه پس د مور او ځوئې خبرے اترے شروع شوے. مور ورته اووئيل، چه ما د يو ښه لباس والا ځوان اوليدلو. نو تا له هم د هغه پشان د كيدو دعا اوكړه. مګر تا اووئيل اے الله! ما د هغه پشان جوړ نه كړې. او بيا يوه وينځه خلقو بيولے وه او وهله ئې. او د زنا او د غلا تهمت ئې ورباندے لګولو. نو ما دعا اوكړه چه اے الله! زما ځوئے د غسې مه كړې. مګر تا دعا اوكړه، اے الله: ما د دغه وينځې پشان كړې. بيا ورته دغه ماشوم اووئيل، چه دغه سور سړے يو ظالم سړے وُو. نو ځكه ما اووئيل چه اے الله! ما داسے ظالم مه جوړوه. او هغه وينځه چه خلقو پرې د زنا او غلا تهمت لګولو. نو هغې نه زنا كړې وه او نه ئې غلا كړې وه. نو ځكه ما داسے اووئيل چه اے الله! ما هم د دې پشان كړې. (بخاري ومسلم)

مُومِسَاتٌ: زناكارے ښځې / مُومِسَةٌ: زناكاره ښځه
دَابَّةٌ فَارِهَةٌ: ډير خائسته او ښكلے تيز رفتارے اس
شَارَةٌ: صورت او لباس او ظاهري ښائسته والے۔
تَرَاجَعَا الْحَدِيثَ: مور او ځوئې خپل مينځ كښې خبرے اترے شروع كړے۔

باب ۲۳

ف ۱- دا باب په څلور قرآني آيتونو او ديارلس۱۳ نبوي احاديثو باندے مشتمل دے.

مَلَاطَفَةِ الْيَتِيمِ وَالْبَنَاتِ وَسَائِرِ الضَّعَفَةِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْمُنْكَسِرِينَ وَالْإِحْسَانِ إِلَيْهِمْ وَالشَّفَقَةِ عَلَيْهِمْ وَالتَّوَاضُعِ مَعَهُمْ وَخَفْضِ الْجَنَاحِ لَهُمْ!

يتيم او جينكو او تمامو مسكينانو غريبانو نه هر يو كس سره د نرمۍ او د احسان او شفقت سره مخ ترا تلل بيان او دا چه هغوئ سره د عاجزئ او مهربانئ او تواضع سلوك كول پكار دى۔

قرآنی آيتونه

۱۰۸- قَالَ اللّٰهُ تَعَالیٰ [۱]: "وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ" ؛

۱۰۸- او خپلے وزرے (يعنی لاسونه) دَ مسلمانانو دپاره ښکته ساته۔ (پ۱۴، حجر)

۱۰۹- وَقَالَ تَعَالیٰ [۲]، "وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ وَلَا تَعْدُ عَيْنٰكَ عَنْهُمْ تُرِيْدُ زِيْنَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا" ؛

۱۰۹- دَ هغه خلقو سره نزدے نزدے تعلق ساته، کوم چه سحر ماښام دَ الله له مخه عبادت کوی۔ او دُنياوی ژوندون (زيب وزينت او ښائست) دپاره دَ هغوئ نه دَ رحمت نظرمهٔ اوچتوه۔ (پ۱۵، کهف)

۱۱۰- وَقَالَ تَعَالیٰ [۳]: "فَاَمَّا الْيَتِيْمَ فَلَا تَقْهَرْ [۴]، وَاَمَّا السَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ"

۱۱۰- يتيم باندے سختی مهٔ کوه۔ او سوال کونکے مهٔ رټه۔ (پ۳۰، ضحیٰ)

۱۱۱- وَقَالَ تَعَالیٰ [۵]: "اَرَاَيْتَ الَّذِيْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ [۶] فَذٰلِكَ الَّذِيْ يَدُعُّ الْيَتِيْمَ، وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ"۔

۱۱۱- آيا تا هغه کس ليدلے دے چه دين دروغ گنړی۔ دا خو هغه کس دے چه يتيم له دکے ورکوی۔ او دَ حاجت مندو دپاره خلقو ته دَ ورکړے ترغيب نهٔ ورکوی! (پ۳۰، ماعون)

(نبویؐ احاديث)

۲۶۲- وَعَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِیْ وَقَّاصٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةَ نَفَرٍ فَقَالَ الْمُشْرِكُوْنَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَطْرُدْ هٰؤُلَاءِ [۷] لَا يَجْتَرِءُوْنَ عَلَيْنَا وَكُنْتُ اَنَا وَابْنُ مَسْعُوْدٍ وَرَجُلٌ مِّنْ هُذَيْلٍ وَبِلَالٌ وَرَجُلَانِ لَسْتُ اُسَمِّيْهِمَا فَوَقَعَ فِيْ نَفْسِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا شَآءَ اللّٰهُ اَنْ يَقَعَ [۸] فَحَدَّثَ نَفْسَهٗ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالیٰ [۹] "وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ"۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۲۶۲- سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه روايت دے۔ چه مونږ دَ نبی کريم صلی الله عليه وسلم سره شپږ کسان وو۔ دے کښے دَ مانه دَ دوه نامے هيرے شوے۔ باقی څلورو کښے يو زهٔ هم ووم۔ يو ابن مسعودؓ بل بلالؓ وو۔ او يو کس دَ هذيل قبيلے وو۔ نو مشرکانو دَ قريشو نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته او وئيل، چه دا خلق دَ ځان نه لرے کړه۔ ځکه چه (مونږ سره دَ شريک ناستے په وجه) چرے مونږ باندے دا خلق زړور نشی۔ معلومه نهٔ ده چه دغه وخت دَ نبی کريم صلی الله عليه وسلم په زړهٔ کښے دَ الله دَ طرفنه څهٔ خيال تيريدلو۔ او هغوئ څهٔ سوچ کولو۔ نو دا آيت نازل شو۔ "ولا تطرد الذين يدعون ربهم بالغداة والعشی يريدون وجهه" "هغه کسان دَ خپل ځان نه مهٔ شړه کوم چه دَ الله دَ مخ طلب کولو دپاره صبا ماښام عبادت او بندگئ کښے مشغول دی۔" (مسلم)

---

[۱] سورة الحجر آية ۸۸ [۲] سورة الكهف آية ۲۸ [۳] سورة الضحیٰ آية ۹، [۴] "فلا تقهر" ای لا تغلبه علیٰ ماله لضعفه "فلا تنهر" ای لا تزجر ولكن اعطه اورده ردًا جميلًا [۵] سورة الماعون آية ۱-۳، [۶] ای بالجزاء او الاسلام "يدع اليتيم" ای يدفعه دفعًا عنيفًا "ولا يحض علی طعام المسكين" ای لا يفعل ذلك بنفسه ولا يحرض غيره عليه لانه يكذب بالجزاء [۷] ای الستة المذكورين "لا يجترئون علينا" ای لئلا يحصل منهم الجراءة علينا [۸] ای من طرد اولئك عنه [۹] سورة الانعام آية ۵۲

۲۶۳- وَعَنْ اَبِیْ هُبَیْرَةَ عَائِذِ بْنِ عَمْرٍو الْمُزَنِیِّ وَهُوَ مِنْ اَهْلِ بَیْعَةِ الرِّضْوَانِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ اَبَا سُفْیَانَ اَتٰی عَلٰی سَلْمَانَ وَصُهَیْبٍ وَّبِلَالٍ فِیْ نَفَرٍ فَقَالُوْا مَا اَخَذَتْ سُیُوْفُ اللّٰهِ مِنْ عُدُوِّ اللّٰهِ مَاْخَذَهَا. فَقَالَ اَبُوْ بَكْرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ: اَتَقُوْلُوْنَ هٰذَا الشَّیْخِ قُرَیْشٍ وَسَیِّدِهِمْ؟ فَاَتَی النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبَرَهٗ فَقَالَ: "یَا اَبَا بَكْرٍ لَعَلَّكَ اَغْضَبْتَهُمْ؟ لَئِنْ كُنْتَ اَغْضَبْتَهُمْ لَقَدْ اَغْضَبْتَ رَبَّكَ" فَاَتَاهُمْ فَقَالَ: یَا اِخْوَتَاهُ اَغْضَبْتُكُمْ؟ قَالُوْا لَا یَغْفِرُ اللّٰهُ لَكَ یَا اَخِیْ،

رَوَاهُ مُسْلِمٌ،

قَوْلُهٗ "مَاْخَذَهَا" اَیْ لَمْ تَسْتَوْفِ حَقَّهَا مِنْهُ. وَقَوْلُهٗ "یَا اَخِیْ" رُوِیَ بِفَتْحِ الْهَمْزَةِ وَكَسْرِ الْخَاءِ وَتَخْفِیْفِ الْیَاءِ وَرُوِیَ بِضَمِّ الْهَمْزَةِ وَفَتْحِ الْخَاءِ وَتَشْدِیْدِ الْیَاءِ ؛

۲۶۳- ابوهبیره عائذ بن عمرو مزنی رض چه بیعتِ رضوان کښې هم شریک شوې وُو. روایت کوی. چه ابوسفیان، سلمان، صهیب او بلال رضی الله عنهم ته راغے. یو څو کسان هم ورسره وو. نو هغوئ اوو ئیل، چه دَ الله تعالیٰ تورو دَ الله دَ دشمنانو نهٔ خپل حق حاصل نکړو. ابوبکر رض دوئ ته اوو ئیل. چه تاسو دَ قریشو مشرانو ته داسې خبرې کوئ. بیا رسول کریم صلی الله علیه وسلم ته راغے او واقعه ئې ورته واورولهٔ. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، هغه کسان خو به چرته تا نه خفه شوی نهٔ وی. کهٔ تا هغوئ خفه کړل، نو کویا تا خپل رب خفه کړو. بیا ابوبکر رض هغوئ له راغے. او ورته ئې اوو ئیل، چه ورونړو! تاسو خو څما په خبره خفه شوی نهٔ یئ؟ هغوئ اوو ئیل نه. څمو ورورئیه. الله دِ تا اوبښی. (مسلم)

مَاْخَذَهَا: دَ هغې نه ئې پوره حق وصول نهٔ کړو.

"یَا اَخِیْ" او "یَا اُخَیَّ" دواړه درست دی.

۲۶۴- وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ "اَنَا وَكَافِلُ الْیَتِیْمِ فِی الْجَنَّةِ هٰكَذَا" وَاَشَارَ بِالسَّبَابَةِ وَالْوُسْطٰی وَفَرَّجَ بَیْنَهُمَا رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ

"وَكَافِلُ الْیَتِیْمِ": اَلْقَائِمُ بِاُمُوْرِهٖ.

كَافِلُ الْیَتِیْمِ: دَ یتیم او دَ هغهٔ دَ کارونو ذمه وار او نګران.

۲۶۴- سهل بن سعد ساعدی رض نهٔ روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه زهٔ او دَ یتیم ذمه وار کس به دواړهٔ جنت کښې داسې برابر برابر یو. او مسواکه او مینځنۍ ګوته یو ځائے کولو سره ئې اشارهٔ اوفرمائیله. او دَ دے ترمینځ ئې څومره فراخی ده. هغه ئې ښکاره کړهٔ. (بخاری)

۲۶۵- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ "كَافِلُ الْیَتِیْمِ لَهٗ اَوْ لِغَیْرِهٖ اَنَا وَهُوَ كَهَاتَیْنِ فِی الْجَنَّةِ" وَاَشَارَ الرَّاوِیْ وَهُوَ مَالِكُ بْنُ اَنَسٍ بِالسَّبَابَةِ وَالْوُسْطٰی، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۲۶۵- ابوهریرهٔ رضی الله عنه نه روایت دے. چه نبی کریم صلی الله علیه و سلم اوفرمائیل. چه دَ یتیم پرورش کو ښکے (ذمه وار) خپل وی او کهٔ پردے وی. او زهٔ دواړهٔ به جنت کښې دغسې یو ځائے یو. او راوی چه انس بن مالک رض دے، په مسواکه او مینځنۍ ګوته اشارے کولو سرهٔ

وَقَوْلُهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَلْيَتِيْمُ لَهُ اَوْ لِغَيْرِهِ" مَعْنَاهُ: قَرِيْبُهُ اَوِ الْاَجْنَبِيُّ مِنْهُ فَالْقَرِيْبُ مِثْلُ اَنْ تَكْفُلَهُ اُمُّهُ اَوْ جَدُّهُ اَوْ اَخُوْهُ اَوْ غَيْرُهُمْ مِّنْ قَرَابَتِهِ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ ÷

اوښودله - (مسلم)

اَلْيَتِيْمُ لَهُ اَوْ لِغَيْرِهِ : دَ یتیم پالونکے خپل وی او کهٔ پردے. خپلو کښے مور، وردر، نیکهٔ یا دَ هغهٔ ورور وغیره راځی۔

والله اعلم ÷

٢٦٦- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ الْمِسْكِيْنُ الَّذِيْ تَرُدُّهُ التَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَلَا اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ اِنَّمَا الْمِسْكِيْنُ الَّذِيْ يَتَعَفَّفُ"[1] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ فِي الصَّحِيْحَيْنِ: "لَيْسَ الْمِسْكِيْنُ الَّذِيْ يَطُوْفُ عَلَى النَّاسِ تَرُدُّهُ اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ وَالتَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَلٰكِنَّ الْمِسْكِيْنَ الَّذِيْ لَا يَجِدُ غِنًى يُغْنِيْهِ وَلَا يُفْطَنُ بِهِ فَيُتَصَدَّقَ عَلَيْهِ وَلَا يَقُوْمُ فَيَسْاَلُ النَّاسَ" ÷

٢٦٦- ابوهریره رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه مسکین هغه نهٔ دے. چه هغه دَ یوے کجورے، دوو یا یوے نمړئ دوو خوراک دپاره ورکولو سره واپس کړے شی. مسکین خو هغه دے چه دَ ولږے تندے با وجود هم دَ چا نه سوال نهٔ کوی. (بخاری ومسلم)

دَ صحیحینو به یو روایت کښے هم شته. چه مسکین هغه نهٔ دے، چه سوال ته لاس نیولے ګرځی. چه هغهٔ یوه نمړئ دوه یا یوه کجوره دوه واپس کړی (یعنی چه بس به هم دومره باندے ګزاره کولو سره راشی. مسکین خو هغه دے چه نهٔ ورسره دَ غنیٰ کیدو څهٔ خیز وی. او نهٔ ئے چا ته دَ غریبۍ پته وی او نه سوال ته لاس نیولے ګرځی.

٢٦٧- وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلسَّاعِيْ عَلَى الْاَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِيْنِ كَالْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ" وَاَحْسَبُهُ قَالَ: "وَكَالْقَائِمِ الَّذِيْ لَا يَفْتُرُ وَكَالصَّائِمِ الَّذِيْ لَا يُفْطِرُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ÷

٢٦٧- ابوهریره رض نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دَ مسکینانو او غریبانو او دَ کونډو خیر اخستونکے دَ مجاهد پشان دے. دَ راوی خیال دادے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم داسے هم اوفرمائیل. چه دَ هغهٔ مثال داسے دے. لکه ولاړ (عبادت ګزار) چه نهٔ خوځی او نهٔ سستی کوی. او دَ داسے روژه دار پشان دے. چه هغه بالکل روژه نهٔ ماتوی. (بخاری ومسلم)

٢٦٨- وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيْمَةِ يُمْنَعُهَا مَنْ يَّاْتِيْهَا وَيُدْعٰى اِلَيْهَا مَنْ يَّاْبَاهَا، وَمَنْ لَّمْ يُجِبِ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِيْ رِوَايَةٍ فِي الصَّحِيْحَيْنِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ مِنْ قَوْلِهِ: "بِئْسَ الطَّعَامُ طَعَامُ الْوَلِيْمَةِ يُدْعٰى اِلَيْهَا

٢٦٨- ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. خراب خوراک دَ ولیمے هغه خوراک دے، چه په هغے کښے پخپله راتلونکی خلق منع کولے شی او کوم چه دَ راتلو نه انکار کوی هغوئ را بللے شی. او څوک چه دَ دعوت قبلولو نه انکار کوی. هغه دَ الله او دَ رسول صلی الله علیه وسلم نه خلاف کوی. او بخاری او مسلم کښے یو روایت داسے هم شته. دَ

---

[1] "الذی یتعفف" : [illegible]

اَلْاَغْنِيَآءُ وَيُتْرَكُ الْفُقَرَآءُ" ؛

هغې ولیمې خوراک ډیر خراب دے. چه هغې ته مالداره خلق را بللے شی۔ اوغریبان خلق پرېښودلے شی۔ (بخاری و مسلم)

۲۶۹۔ وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ [1] حَتّٰى تَبْلُغَا جَآءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَنَا وَهُوَ كَهَاتَيْنِ" وَ ضَمَّ اَصَابِعَهُ رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

"جَارِيَتَيْنِ" اَيْ بِنْتَيْنِ ؛

۲۶۹۔ انس بن مالک رض نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چا چه د بېغلتوب پورې د خپلو دوو لونړو پالنه اوکړه. زهٔ او هغه دواړه به قیامت کښې یو ځائے یو۔ او دوه ګوتو سره ئے اشاره اوکړه - (مسلم)

جَارِيَتَيْنِ : دوه لونړه -

۲۷۰۔ وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: دَخَلَتْ عَلَيَّ امْرَاَةٌ وَّ مَعَهَا ابْنَتَانِ لَهَا تَسْاَلُ فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِيْ شَيْئًا غَيْرَ تَمْرَةٍ وَّاحِدَةٍ فَاَعْطَيْتُهَا اِيَّاهَا فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا وَلَمْ تَاْكُلْ مِنْهَا ثُمَّ قَامَتْ فَخَرَجَتْ فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْنَا فَاَخْبَرْتُهُ فَقَالَ: "مَنِ ابْتُلِيَ [2] مِنْ هٰذِهِ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ فَاَحْسَنَ اِلَيْهِنَّ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِّنَ النَّارِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۲۷۰۔ عائشه رضی الله عنها بیان کوی. چه ماله یوه سوال کونکے ښځه راغله۔ او ورسره دوه لونړه هم وے۔ دغه وخت ما سره د یوے کجورے نه بغیر د ورکړے دپاره هیڅ نهٔ وو۔ ما هغه کجوره هغې ښځې ته ورکړه۔ هغې هغه کجوره دوه ټکړے کړه او دواړو ته ئے نیمه نیمه ورکړه۔ او پخپله ئے ترے هیڅ وا نخستل، بیا لاړه۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم راغے. نو دا واقعه م ورته واوروله۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چا با ندے چه د دے جینکو په ذریعه ازمیښت اوکړے شو۔ او هغهٔ د دوی سره ښهٔ سلوک (اوروية) اوکړه نو دغه جینکئ به د هٔ دپاره د دوزخ نه پرده جوړه شی۔ (بخاری ومسلم)

۲۷۱۔ وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَيْضًا قَالَتْ: جَآءَتْنِيْ مِسْكِيْنَةٌ تَحْمِلُ ابْنَتَيْنِ لَهَا فَاَطْعَمْتُهَا ثَلٰثَ تَمَرَاتٍ فَاَعْطَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُمَا تَمْرَةً وَّ رَفَعَتْ اِلٰى فِيْهَا تَمْرَةً لِتَاْكُلَهَا فَاسْتَطْعَمَتْهَا ابْنَتَاهَا فَشَقَّتِ التَّمْرَةَ الَّتِيْ كَانَتْ تُرِيْدُ اَنْ تَاْكُلَهَا بَيْنَهُمَا فَاَعْجَبَنِيْ شَاْنُهَا فَذَكَرْتُ الَّذِيْ صَنَعَتْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ "اِنَّ اللّٰهَ قَدْ اَوْجَبَ لَهَا بِهَا الْجَنَّةَ اَوْ اَعْتَقَهَا بِهَا مِنَ النَّارِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۲۷۱۔ عائشه رضی الله عنها فرمائی۔ چه ماله یوه غریبه ښځه راغله او دوه لونړه هم ورسره وے۔ نو ما ورله درے کجورے ورکړے۔ دوه ئے لونړو ته ورکړے او یوه ئے پخپله خوړله چه هغه هم ترے لونړو اوغوښتله۔ نو هغه کجوره ئے دوه ټکړے کړه او نیمه نیمه ئے ورکړه. عائشه رضی الله عنها فرمائی. د هغې ښځې دا طریقه ما ډیره زیاته خوښه شوه. نو ما نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته د دے ذکر اوکړو۔ نو هغوی اوفرمائیل. الله تعالیٰ هغې دپاره جنت واجب کړو۔ یائے داسے اووئیل چه دے طرز او طریقے سره هغه د دوزخ نه آزاده شوه۔ (مسلم)

---

[1] ای قام علیها بالمؤنة والتربیة ونحوهما ۱۲ [2] "ابتلی" بضم الفوقیة: اختبر ؛

۲۷۲- وَعَنْ أَبِي شُرَيْحٍ خُوَيْلِدِ بْنِ عَمْرٍو الْخُزَاعِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَللّٰهُمَّ إِنِّي أُحَرِّجُ حَقَّ الضَّعِيفَيْنِ الْيَتِيمِ وَ الْمَرْأَةِ" حَدِيثٌ حَسَنٌ رَوَاهُ النَّسَائِيُّ بِإِسْنَادٍ جَيِّدٍ ∴

وَمَعْنَى "أُحَرِّجُ": أُلْحِقُ الْحَرَجَ وَ هُوَ الْإِثْمُ بِمَنْ ضَيَّعَ حَقَّهُمَا وَ أُحَذِّرُ مِنْ ذٰلِكَ تَحْذِيرًا بَلِيغًا وَأَزْجُرُ عَنْهُ زَجْرًا أَكِيدًا، ∴

۲۷۲- ابو شریح خویلد بن عمرو خزاعی رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: اے الله! زهٔ د دوؤ ضعیفانو د یتیم او ښځې حق ضائع کوونکی د ګناه حقدار ګنړم. (نسائی) دا حدیث حسن دے. امام نسائی دا په عمده سند سره روایت کړے دے.

أُحَرِّجُ: مطلب دا دے چه کوم کس د دے دواړو کمزورو حقونه ضائع او برباد کړی. او د دوئ حق تلفی اوکړی، حرج او ګناه به دوئ باندے لازم او واجب ګنړم، ډیرے سختئ سره ئے د دے نه ویروم. او ډیر تاکید سره ئے د دوئ د حق تلفۍ نه منع کړم.

۲۷۳- وَعَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: رَأَى سَعْدٌ أَنَّ لَهُ فَضْلًا عَلَى مَنْ دُونَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلَّا بِضُعَفَائِكُمْ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ هٰكَذَا مُرْسَلًا فَإِنَّ مُصْعَبَ بْنَ سَعْدٍ تَابِعِيٌّ، وَرَوَاهُ الْحَافِظُ أَبُو بَكْرٍ الْبَرْقَانِيُّ فِي صَحِيحِهِ مُتَّصِلًا عَنْ مُصْعَبٍ عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ∴

۲۷۳- مصعب بن سعد بن ابی وقاص رض نه روایت دے. چه د سعد رض دا خیال راغے چه ما ته به نورو خلقو باندے لږ غوندے فضیلت حاصل دے. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه ستاسو کوم امداد کولے شی، یا تاسو ته چه کوم رزق درکولے شی. دا صرف ستاسو د کمزورو خلقو د وجهے نه وی. (بخاری) دغسے امام بخاری رحمة الله علیه دا روایت مرسلاً هم بیان کړے دے. یعنی صحابی ئے پکښے نهٔ دے ذکر کړے. ځکه چه مصعب بن سعد خو تابعی دے. او حافظ ابوبکر برقانی رحمه الله دا روایت خپل کتاب کښے متصلاً ذکر کړے دے. یعنی سند کښے ئے داسے وئیلی دی. چه مصعب د خپل پلار نه او هغهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه بیان کوی.

۲۷۴- وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عُوَيْمِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ "اِبْغُونِي فِي الضُّعَفَاءِ فَإِنَّمَا تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ بِضُعَفَائِكُمْ" رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ بِإِسْنَادٍ جَيِّدٍ ∴

۲۷۴- ابوالدرداء عویمر رضی الله عنه نه روایت دے چه ما د حضور صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیل آوریدلی دی چه ځما خوشحالی او رضامندی خپلو کمزورو او بے وسو بے مددګارو خلقو کښے اوګورئ ځکه چه تاسو ته امداد او تاسو ته رزق د دے کمزورو په وجه سره درکولے شی. امام ابوداؤدؒ په عمده سند سره دا روایت کړے دے.

باب ۳۴

ف:- دا باب په دوه قرانی آیتونو او اته نبوی حدیثونو باندے مشتمل دے.

بَابُ الْوَصِيَّةِ بِالنِّسَآءِ! بنځوسره د ښيګړےکولو بيان

(قرآني ايتونه)

۱۱۲- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [۱] "وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ" ؛

۱۱۳- وَقَالَ تَعَالٰى [۲] "وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْآ اَنْ تَعْدِلُوْا بَيْنَ النِّسَآءِ وَلَوْحَرَصْتُمْ فَلَاتَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ [۳] فَتَذَرُوْهَا كَالْمُعَلَّقَةِ وَاِنْ تُصْلِحُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا" ؛

۱۱۲- بنځوسره په ښهٔ شان ژوند تيروئ- (پ۴، نساء)

۱۱۳- داخبره ستاسو د وس نه بهرده. چه تاسو ټولو بنځو کښے برابرے اوکړئ، اګر چه ستاسو حرص وی په دے. پس يو طرف ته دومره مهٔ مائل کيږئ. چه هغه بله بانډه پريږدئ. او کهٔ تاسو موافقت او اصلاح کوئ- او د الله تعالیٰ نه ويريږئ. نو بے شکه چه الله تعالیٰ معافی کونکے اورحم کونکے دے. (پ۵، نساء)

نبوي احاديث

۲۷۵- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اِسْتَوْصُوْا بِالنِّسَآءِ خَيْرًا فَاِنَّ الْمَرْاَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ وَّاِنَّ اَعْوَجَ مَافِي الضِّلَعِ اَعْلَاهُ، فَاِنْ ذَهَبْتَ تُقِيْمُهٗ كَسَرْتَهٗ وَاِنْ تَرَكْتَهٗ لَمْ يَزَلْ اَعْوَجَ فَاسْتَوْصُوْا بِالنِّسَآءِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ: وَفِيْ رِوَايَةٍ فِي الصَّحِيْحَيْنِ: "اَلْمَرْاَةُ كَالضِّلَعِ اِنْ اَقَمْتَهَا كَسَرْتَهَا وَاِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَفِيْهَا عِوَجٌ" وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: اِنَّ الْمَرْاَةَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ لَنْ تَسْتَقِيْمَ لَكَ عَلٰى طَرِيْقَةٍ فَاِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَفِيْهَا عِوَجٌ [۴] وَاِنْ ذَهَبْتَ تُقِيْمُهَا كَسَرْتَهَا وَكَسْرُهَا طَلَاقُهَا" قَوْلُهٗ "عِوَجٌ" هُوَ بِفَتْحِ الْعَيْنِ وَالْوَاوِ ؛

۲۷۵- ابوهريره رضه نه روايت دے. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه بنځو سره په ښه رويه سره مخے ته راځئ. ځکه چه بنځه د پوښتئ نه پيدا کړے شوے ده- او يو ښتو کښے پاسنئ پوښتئ ځهٔ ډيره کږه ده- کهٔ هغه نيغوئ نو ما تيږی. او کهٔ پريږدئ ئے، نو هغه به هم کږه پاتے شی- نو بنځوسره ښهٔ سلوک ساتئ (د هغوئ خوئ بدلولو کښے مهٔ لګئ چه دا د دوئ فطرت دے. تاسوئے نشئ بدلولے) (بخاری ومسلم) د بخاری او مسلم په يو روايت کښے داسے هم شته. چه د ښځے مثال د پوښتئ دے. کهٔ تاسو د هغوئ د نيغولو کوشش کوئ. نو ماتږ به شی. او کهٔ څهٔ فائده ترے اخلئ نو په هم د غسے کوږ والی ئے ترے اخلئ. د مسلم په يو روايت کښے دی چه ښځه د پوښتئ نه پيد کړے شوے ده- هغه تا ته په يوه طريقه هم نهٔ سيده کيږی. کله چه ترے فائده اخلئ، نو کوږ والی تر په نهٔ کتلو سره ترے فائده اخلئ- او کهٔ نيغولو پسے ئے اولګيدے نو ماتہ به ئے کړے. او ما تول ئے طلاق ورکول دی-

عِوَجٌ: دالفظ د عين زبر او د واو زبر سره دے-

---

[۱] سورة النسآء آية ۱۹ [۲] سورة النسآء آية ۱۲۹ [۳] ای لا تفعلوا فعلا تقصدون به التفضيل وانتم تقدرون على تركه "فتذروها" ای الزوج كالمعلقة فلاهی ذات زدج ولاهی ايم ؛

[۴] قال النووی فی تهذيب الاسماء واللغات اختلف فی ضبط عوج فی هذا الحديث فضبطه كثيرون بفتح العين وضبطه الحافظ ابوالقاسم وآخرون من المحققين بالكسر وهو الصواب الجاری على ما ذكر اهل اللغة ؛

۲۷۶- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَمْعَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ سَمِعَ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَخْطُبُ وَذَکَرَ النَّاقَةَ وَالَّذِیْ عَقَرَهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ "اِذِ انْبَعَثَ اَشْقَاهَا" انْبَعَثَ لَهَا رَجُلٌ عَزِیْزٌ عَارِمٌ مَّنِیْعٌ فِیْ رَهْطِهٖ، ثُمَّ ذَکَرَ النِّسَآءَ فَوَعَظَ فِیْهِنَّ فَقَالَ: یَعْمِدُ اَحَدُکُمْ فَیَجْلِدُ امْرَاَتَهٗ جَلْدَ الْعَبْدِ [له] فَلَعَلَّهٗ یُضَاجِعُهَا [عه] مِنْ اٰخِرِ یَوْمِهٖ" ثُمَّ وَعَظَهُمْ فِیْ ضَحِکِهِمْ مِنَ الضَّرْطَةِ فَقَالَ "لِمَ یَضْحَكُ اَحَدُکُمْ مِمَّا یَفْعَلُ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ.

"وَالْعَارِمُ" بِالْعَیْنِ الْمُهْمَلَةِ وَ الرَّآءِ هُوَ الشِّرِّیْرُ الْمُفْسِدُ. وَقَوْلُهٗ "انْبَعَثَ" اَیْ قَامَ بِسُرْعَةٍ :

۲۷۶- عبد الله بن زمعه رضی نه روایت دے. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم خپله خطبه کښے دَ حضرتِ صالح علیه السلام دَ اوښے او دَ هغے دَ زخمی کونکی ذکرئے اوکړو. اودَ "اِذِ انْبَعَثَ" تفسیر کښے ئے اوفرمائیل. چه دَغه اُوښه دَ ثمود قوم یو داسے بدمعاش زخمی کړه چه دَ خپلے قبیلے په ډاډ او حمایت سره ئے ځان مضبوط او محفوظ کړے وُو. بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ ښځو په حقله نصیحت اوفرمائیلو. او وے وئیل. ولے تاسو کښے یوکس خپله ښځه داسے وهی، لکه غُلام، بیا کیدے شی چه په همدغه شپه ورسره کوروالے اوکړی. (مطلب دا چه ښځه په بے رحمئ سره وهل نهٔ دی بکار، ځکه چه ستا دَ زړهٔ آرام هم دوئ سره حاصلیږی) بیائے دَ آواز والا هوا خارجیدلو په وجه خندلو په حقله اوفرمائیل چه انسان په داسے کار پورے ولے خاندی چه په خپله ترے کیږی. (بخاری ومسلم)

عَارِمٌ: شرارتی، فسادی، بدمعاش.

اِنْبَعَثَ: تیزئ او تندئ سره پاسیدلو. دَ تفسیر په کتاب "بیضاوی" اودَ لغت په کتاب "قاموس" کښے دَ دغه اوښے دَخپو پریکونکی نوم قدار بن سالف لیکلے دے

۲۷۷- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: "لَا یَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً اِنْ کَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِیَ مِنْهَا اٰخَرَ" اَوْ قَالَ غَیْرَهٗ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ،

وَقَوْلُهٗ: "یَفْرَكُ" هُوَ بِفَتْحِ الْیَآءِ وَ اِسْکَانِ الْفَآءِ وَفَتْحِ الرَّآءِ مَعْنَاهُ یُبْغِضُ یُقَالُ فَرِکَتِ الْمَرْاَةُ زَوْجَهَا وَفَرِکَهَا زَوْجُهَا بِکَسْرِ الرَّآءِ یَفْرَکُهَا بِفَتْحِهَا: اَیْ اَبْغَضَهَا وَاللّٰهُ اَعْلَمُ:

۲۷۷- ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. یو مسلمان دِ هم دَ (خپلے) ښځے نه کرکه نهٔ کوی. ځکه چه کهٔ دَ هغے یوه خبره یا یو عادت ئے خوښ نهٔ وی، نوبل عادت یا خبره بهٔ ئے خوښه شی. راوی وائی چه یائے دا کلمه اووئیله یائے بله داسے کلمه اووئیله. (مسلم)

یَفْرَكُ: بُغض او کینه او کرکه او دشمنی. یعنی خاوند دَ ښځے سره کرکه او کینه اولرلهٔ. لکه چه وئیلے شی ښځے د سړی سره دشمنی اوکړه. سړی دَ ښځے سره دشمنی اوکړه یعنی دواړه طرفو ته یو شان وئیلے شی. ماضی کښے په "ر" زیر دے او مضارع کښے په "ر" زور دے.

[له] ای مثل ضربه فی کونه مبرحا مؤذیا [عه] وفی روایة للبخاری "یجامعها" وفی الحدیث جواز تأدیب الرقیق بالضرب الشدید والایماء الی جواز ضرب النساء دون ذلك :

۲۷۸۔ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْاَحْوَصِ الْجُشَمِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ يَقُوْلُ بَعْدَ اَنْ حَمِدَ اللّٰهَ تَعَالٰى وَاَثْنٰى عَلَيْهِ وَذَكَّرَ وَوَعَظَ ثُمَّ قَالَ: "اَلَا وَاسْتَوْصُوْا بِالنِّسَآءِ خَيْرًا فَاِنَّمَا هُنَّ عَوَانٍ عِنْدَكُمْ لَيْسَ تَمْلِكُوْنَ مِنْهُنَّ شَيْئًا غَيْرَ ذٰلِكَ [1] اِلَّا اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ، فَاِنْ فَعَلْنَ فَاهْجُرُوْهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا، اَلَا اِنَّ لَكُمْ عَلٰى نِسَآئِكُمْ حَقًّا وَلِنِسَآئِكُمْ عَلَيْكُمْ حَقًّا: فَحَقُّكُمْ عَلَيْهِنَّ اَنْ لَّا يُوْطِئْنَ فُرُشَكُمْ مَّنْ تَكْرَهُوْنَ وَلَا يَاْذَنَّ فِيْ بُيُوْتِكُمْ لِمَنْ تَكْرَهُوْنَ اَلَا وَحَقُّهُنَّ عَلَيْكُمْ اَنْ تُحْسِنُوْا اِلَيْهِنَّ فِيْ كِسْوَتِهِنَّ وَطَعَامِهِنَّ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

قَوْلُهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "عَوَانٍ" اَيْ اَسِيْرَاتٌ جَمْعُ عَانِيَةٍ بِالْعَيْنِ الْمُهْمَلَةِ وَهِيَ الْاَسِيْرَةُ وَالْعَانِيْ: الْاَسِيْرُ: شَبَّهَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَرْاَةَ فِيْ دُخُوْلِهَا تَحْتَ حُكْمِ الزَّوْجِ بِالْاَسِيْرِ وَالضَّرْبُ الْمُبَرِّحُ" هُوَ الشَّاقُّ الشَّدِيْدُ: وَقَوْلُهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَلَا تَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا": اَيْ لَا تَطْلُبُوْا طَرِيْقًا تَحْتَجُّوْنَ بِهٖ عَلَيْهِنَّ وَتُؤْذُوْنَهُنَّ بِهٖ، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ ؛

۲۷۸۔ عمرو بن احوص جشمی رضی اللّٰه عنه نه روایت دے۔ چه ما دَ نبی کریم صلے اللّٰه علیه وسلم نه دَ حجة الوداع په موقع بانده دَ اللّٰه تعالیٰ دَ ثنا صفت نه پس اودَ وعظ نصیحت نه پس داسے فرمائیلی آورید لی دی۔ چه گورئ! ښځو سره ښه سلوک کوئ۔ چه هغوئ ستاسو قید کښے دی او تاسو ته حواله شوی دی۔ په غیر دَ دے نه تاسو دَ هغوئ نه دَ هیڅ څیز مالکان نهٔ یئ۔ البته کهٔ تاسو دوئ نه دَ عزت خلاف یو غلط حرکت اولیدلو۔ نو دَ سزا په طور دا کولے شئ۔ چه دَ خپلے بسترے نه ئے لرے کړئ۔ او لږه لږه ئے وهلے هم شئ۔ (مګر سخت وهل نهٔ) بیا کهٔ ستاسو خبره اومنی، نو نور تکلیف به نهٔ ورکوئ۔ خبردار! کهٔ ستاسو په ښځو څهٔ حقونه شته نو دَ هغوئ په تاسو هم څهٔ حقونه شته دے۔ ښځه باندے ستاسو حق دا دے۔ چه کومو کسانو سره ستاسو نهٔ لګی هغوئ سره به تعلق نهٔ ساتی (ستاسو بسترو ته دِ هغوئ نزدے نهٔ راپریدی) او ستاسو ناخوښه سړے دِ کورته نهٔ راپریږدی۔ او دَ ښځو په تاسو حق دا دے، چه دَ هغوئ دَ کپړو او دَ خوراک ښهٔ انتظام کولو سره هغوئ سره ښهٔ سلوک کوئ۔ او په ښے طریقے ورسره ملاویږئ۔ (دَ وینځے یا غلام یا څنا وروېشان سلوک ورسره مهٔ کوئ)۔ (ترمذی)

امام ترمذیؒ وائی۔ چه دا حدیث حسن دے۔ عَوَانٌ دَ عَانِيَةٌ جمع ده۔ قیدی سړے۔ نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم ښځهٔ دَ سړی ماتحت او دَ نګرانئ په وجه دَ قیدی سره تشبیه ورکړه۔ (حقیقی قیدی مراد نهٔ دے) ضَرْبُ الْمُبَرِّحُ: سخت وهل۔ وَلَاتَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا: یعنی دَ هغوئ خلاف داسے کاروائی مهٔ کوئ۔ یا ترے داسے ضمانت مهٔ غواړئ، چه هغه پیش نهٔ کړی، نو بیا پرے دلیل اونیسئ او تکلیف ورکوئ۔

۲۷۹۔ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ حَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ

۲۷۹۔ معاویه بن حیده رضی اللّٰه عنه نه روایت دے۔ چه ما نبی کریم صلی اللّٰه علیه

---

[1] ای غیر الاستمتاع وحفظ الزوج فی نفسها وماله ؛

اللهِ! مَا حَقُّ زَوْجَةِ اَحَدِنَا عَلَيْهِ؟ قَالَ "اَنْ تُطْعِمَهَا اِذَا طَعِمْتَ وَتَكْسُوَهَا اِذَا اكْتَسَيْتَ وَلَا تَضْرِبِ الْوَجْهَ وَلَا تُقَبِّحْ وَلَا تَهْجُرْ اِلَّا فِي الْبَيْتِ"[1] حَدِيْثٌ حَسَنٌ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ

وَقَالَ مَعْنٰى "لَا تُقَبِّحْ": لَا تَقُلْ قَبَّحَكِ اللّٰهُ ؛

وسلم ته اوویل چه خمونږ دَ ښځو په مونږ څهٔ حق دے؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، کله چه ته څهٔ خورے (یا خومرهٔ خورے) نو هغې با ندے ئے هم خوروه۔ او کله چه ته څنګه جامے اغوندے (یا خومرهٔ کوے) نو هغې ته هم واغونده۔ هغه به مخ مَه وهه۔ کنځل ورته مهٔ کوه، جدا کوه ئے مهٔ۔ مګر دَکور دننه (کهٔ ضرورت راغے نو دَ خپلے بسترے نه ئے بیله کړه) داحدیث حسن دے۔ (ابوداؤد)

یعنی داسے مهٔ وایه چه الله دِ تا خرا به کړي۔ کنځل یا بیغور یا بدے ردے ورته مهٔ وایه۔

۲۸۰۔ وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اَكْمَلُ الْمُؤْمِنِيْنَ اِيْمَانًا اَحْسَنُهُمْ خُلُقًا[2] وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَآئِهِمْ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

۲۸۰۔ ابوهریره رضی الله عنه وائی۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ دَ ایمان په اعتبار سره تاسو کښے کامل ایمان والا هغه دے، چه دَ هغهٔ اخلاق او خوئ ښهٔ وی۔ او تاسو کښے بهترین او غوره هغه دے۔ چه خپلے ښځے سره ئے سلوک ښهٔ وی۔ (ترمذی) امام ترمذی وائی چه داحدیث حسن دے

۲۸۱۔ وَعَنْ اِيَاسِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِیْ ذُبَابٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَضْرِبُوْا اِمَآءَ اللّٰهِ[1] فَجَآءَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: ذَئِرْنَ النِّسَآءُ عَلٰى اَزْوَاجِهِنَّ فَرَخَّصَ فِيْ ضَرْبِهِنَّ فَاَطَافَ بِاٰلِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[2] نِسَآءٌ كَثِيْرٌ يَشْكُوْنَ اَزْوَاجَهُنَّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَقَدْ اَطَافَ بِاٰلِ بَيْتِ مُحَمَّدٍ نِسَآءٌ كَثِيْرٌ يَشْكُوْنَ اَزْوَاجَهُنَّ لَيْسَ اُولٰٓئِكَ بِخِيَارِكُمْ" رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ،

قَوْلُهٗ: "ذَئِرْنَ" هُوَ بِذَالٍ مُعْجَمَةٍ

۲۸۱۔ ایاس بن عبدالله بن ابی ذباب رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم هدایت فرمائیلے دے۔ چه دَ الله تعالیٰ وینځے (یعنی خپلے ښځے) مهٔ وهئ (څهٔ وخت تیر شو چه) حضرت عمر رضی الله عنه خدمت کښے حاضر شو، او عرض ئے اوکړو چه یارسول الله! ستا دَ روایت په وجه ښځے په خاوندا نو زړورے شوے۔ دَدے حالت نه پس نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ هغوئ دَ وهلو اجازت ورکړو۔ دے نه پس ښځے دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم بیبیا نو له راغلے او دَ خپلو خاوندانو دَ وهلو شکا یتونه ئے اوکړل۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو۔ چه دَ محمد صلی الله علیه وسلم اهلِ بیتو ته ډیرو ښځو دَ خپلو خاوندا نو شکا یتونه راوړی دی۔ داسے خاوندان (دِ واوری چه) دا نه ښهٔ دی او نهٔ نیکان دی۔ (ابوداؤد)

---

[1] ای لا تهجرها الا فی المضاجعة اما الکلام فلا تهجرها فیه [2] "احسنهم خلقا" بضم الخاء المعجمة واللام وسکونها حقیقة حسن الخلق بذل المعروف وکف الاذی و طلاقة الوجه" ؛

[1] "الاماء" بکسر الهمزة و بالمد جمع امة۔ والمراد باماء الله النساء [2] ای بازواجه صلی الله علیه وسلم وسراریة و فی الحدیث سر من اسرار تعدد زوجاته صلوات الله وسلامه علیه؛ ؛

مَفْتُوحَةٍ ثُمَّ هَمْزَةٍ مَكْسُورَةٍ ثُمَّ رَآءٍ سَاكِنَةٍ ثُمَّ نُوْنٍ، اَىْ اجْتَرَأْنَ: قَوْلُهٗ "اَطَافَ": اَىْ اَحَاطَ ؞

۲۸۲- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلدُّنْيَا مَتَاعٌ وَّخَيْرُ مَتَاعِهَا الْمَرْاَةُ الصَّالِحَةُ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞

ذَ بِرْنَ : زړور ے. ژبه ورے او غالبے شوے.

اَطَافَ : گیرول.

۲۸۲- عبد الله بن عمرو بن العاص رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. دُنیا یو سامان دے او دَ دے سامان یوه غوره حصه نیکه دینداره ښځه ده. (مسلم)

باب ۳۵

ف :- دے باب کښے یو قرآنی آیت او اته نبوی حدیثونه دی. ښځه او خاوند دواړه دَ انسانی ژوندون، دَ دوو پائیو غونته وی. دا کاړے ښے طریقے سره هغه وخته پورے چلیږی روان وی، ترڅو پورے چه دغه دواړه پائے په خپل ځائے درست حالت کښے وی. څوک چه دَ اسلام دَ تعلیماتو نه خبر وی هغه پوهیږی چه دَ ښځے او خاوند ترمینځ موافقت مینه او محبت او ښهٔ تعلقاتو باندے چه اسلام څومره زور ورکړے دے. نو بله هیڅ یوه معامله باندے ئے دومره زور ډیر کم ورکړے دے. ځکه چه دا دَ یو کور دَ یو خاندان دَ خوشحالئ مسئله نهٔ ده. او دا دَ موجوده زندگئ معامله هم نهٔ ده. بلکه دَ مستقبل کامیابئ او خوشحالئ ئے دے سره تړلے دی. څو پورے چه ښځه او خاوند سره خپل مینځ کښے جوړ نهٔ وی، نو دَ اولاد تربیت به صحیح اونکړے شی. چه دَ دوئ دَ راتلونکے زمانے دپاره دَ خوشحالئ ذریعه او ضامن جوړیدے شی. غرض دا چه دَ ښځے او خاوند جوړښت ټولے معاشرے دپاره دَ خیر یوه نښانی ده. هم دا وجه ده چه دَ دے دَ برقرار ساتلو تاکید سره سره دَ هغے عناصرو سخته بدی بیان شوے ده. کوم چه دَ ښځے او خاوند په جوړښت کښے خلل او پرده او نقصان جوړیږی. یا دَ هغوئ دَ جدائئ په تلاش کولو کښے مشغول اوسی.

بَاب حَقِّ الزَّوْجِ عَلَى الْمَرْاَةِ

دَ خاوند په خپله ښځه باندے حق او دَ هغے دَ تاکید بیان.

قرآنی ایتونه

۱۱۴- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1]: "اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ[2] بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ وَّبِمَآ اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ[3] فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ[4] حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ" -

۱۱۴- چه سړی دَ ښځو انتظام کونکی او خیال ساتونکی دی. ځکه چه الله تعالیٰ دَ دوئ نه بعضے په بعضے نورو باندے غوره والے ورکړے دے په سبب دَ دے چه خپل مالونه خرچ کوی. پس نیک بخته ښځے تابعداری کوی. او دَ الله تعالیٰ په حفاظت سره دَ

---

[1] سورة النساء آية ۳۴ [2] اى يقومون عليهن قيام الولاة على الرعية بما فضل الله بعضهم على بعض وقد فضل الله الرجال على النساء بالعقل الكامل وحمل التدبير ومزيد القوة فى الاعمال والطاعات، [3] اى فى المهر والنفقة [4] القانتات المطيعات الله القائمات بحقوق الازواج "حافظات للغيب" اى الحافظات فى غيبة الازواج ما يجب حفظه فى انفسهن وماله "بما حفظ الله" اى يحفظ الله اياهن بالامر على حفظ الغيب والحث عليه ؞

خاوند په غیر موجودګئ کښے دَ هغه څیزونو او دَ فائدو خیال ساتی۔ (۱ پ نساء)

(نبوی حدیثونه)

وَاَمَّا الْاَحَادِیْثُ فَمِنْهَا حَدِیْثُ عَمْرِو بْنِ الْاَحْوَصِ السَّابِقِ بِالْبَابِ قَبْلَهٗ ؞

دے سلسله کښے یو حدیث دَ عمرو بن احوص رض نه مخکښے باب کښے تیر شو۔ باب نمبر ۳۴ حدیث نمبر ۲۷۶

۲۸۳- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ "اِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَاَتَهٗ اِلٰی فِرَاشِهٖ [1] فَلَمْ تَاْتِهٖ فَبَاتَ غَضْبَانَ عَلَیْهَا لَعَنَتْهَا الْمَلَآئِکَةُ حَتّٰی تُصْبِحَ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ۔ وَ فِیْ رِوَایَةٍ لَّهُمَا "اِذَا بَاتَتِ الْمَرْاَةُ هَاجِرَةً فِرَاشَ زَوْجِهَا لَعَنَتْهَا الْمَلَآئِکَةُ حَتّٰی تُصْبِحَ" وَ فِیْ رِوَایَةٍ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: "وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ مَا مِنْ رَجُلٍ یَدْعُوْا مْرَاَتَهٗ اِلٰی فِرَاشِهٖ فَتَاْبٰی عَلَیْهِ [2] اِلَّا کَانَ الَّذِیْ فِی السَّمَآءِ سَاخِطًا عَلَیْهَا حَتّٰی یَرْضٰی عَنْهَا" ؞

۲۸۳- ابوهریره رض نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه کله خاوند خپله ښځه کور والی دپاره (خپل کټ بسترے ته) راوغواړی۔ او ښځه رانشی۔ او خاوند دغه شپه دَ دے وجهے نه غصه کښے تیره کړی۔ نو سحره پورے فرښتے دا سے ښځه باندے لعنت او ملامتیا وائی۔ (بخاری ومسلم) او دَ بخاری او مسلم په یو روایت کښے دا سے هم دی۔ چه کله یوه ښځه دَ خاوند بستره پریږدی او شپه تیره کړی نو فرښتے ورباندے سحره پورے لعنت وائی۔ او په یو روایت کښے دا سے هم راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ قسم م دِ په هغه پاک ذات وی چه دَ چا په لاس کښے ځما ساه ده۔ چه کوم خاوند خپله ښځه خپلے بسترے ته راوغواړی، او ښځه انکار اوکړی۔ نو هغه (الله) چه دَ آسمانونو دپاسه دے، هغه وخته پورے دَ دے نه خفه وی، ترڅو چه خاوند ترینه رضا نشی،

۲۸۴- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَیْضًا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا یَحِلُّ لِامْرَاَةٍ اَنْ تَصُوْمَ وَ زَوْجُهَا شَاهِدٌ [3] اِلَّا بِاِذْنِهٖ وَلَا تَاْذَنَ فِیْ بَیْتِهٖ اِلَّا بِاِذْنِهٖ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ، وَهٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِیِّ ؞

۲۸۴- دا روایت هم دَ ابوهریره رضی الله عنه نه دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه دَ هیڅ ښځے دپاره دا جائز نهٔ دی۔ چه دَ خاوند په موجودګئ کښے دَ هغهٔ دَ اجازت نه بغیر (نفلی) روژے اونیسی۔ او نهٔ دا جائز دی۔ چه دَ خاوند دَ اجازت نه بغیر دَ هغهٔ کور ته دَ داخلیدو دپاره چا ته اجازت ورکړی۔ (بخاری ومسلم)

۲۸۵- وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "کُلُّکُمْ رَاعٍ وَّ کُلُّکُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِیَّتِهٖ، وَالْاَمِیْرُ رَاعٍ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلٰی اَهْلِ بَیْتِهٖ، وَالْمَرْاَةُ رَاعِیَةٌ

۲۸۵- عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه تاسو کښے هر یو کس نګران او ذمه وار دے۔ او هر یو کس نه به دَ هغهٔ دَ ماتحتو پوښتنه کولے شی۔ بادشاه او حکمران هم ذمه وار دے۔ او سړے هم

---

[1] هو کنایة عن الجماع وهو ادب من آداب الاسلام الرائعة [2] ای تمتنع الا کان الله تبارک و تعالیٰ ساخطا علیها حتیٰ یرضیٰ عنها زوجها [3] "شاهد" ای حاضر

عَلٰى بَيْتِ زَوْجِهَا وَوَلَدِهٖ۔ فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَّكُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؀

دَ خپل اهل ذمه وار دے۔ او ښځه هم دَ خپل خاوند دَ کور او دَ اولاد حفاظت کولو او خیال ساتلو ذمه واره ده۔ غرض دا چه تاسو کښې هر یو کس نګران او ذمه وار دے۔ او دَ هر ذمه وار دَ لاس لاندے (چه څومره رعیت وی) دَ هغې په باره کښې به ترے پوښتنه کولے شی۔ (بخاری ومسلم)

۲۸۶- وَعَنْ اَبِیْ عَلِیٍّ طَلْقِ بْنِ عَلِیٍّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِذَا دَعَا الرَّجُلُ زَوْجَتَهٗ لِحَاجَتِهٖ فَلْتَاْتِهٖ وَاِنْ كَانَتْ عَلَی التَّنُّوْرِ[1]" رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَالنَّسَائِیُّ وَقَالَ التِّرْمِذِیُّ: حَدِیْثٌ حَسَنٌ صَحِیْحٌ ؀

۲۸۶- ابو علی طلق بن علی رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه کله خاوند خپله ښځه دَ خواهش پوره کولو دپاره را اوغواړی۔ نو هغې له سمدستی را تلل پکار دی۔ اګرچه تنور باندے روټۍ ولے نهٔ پخوی۔ (ترمذی ونسائی) ترمذی وائی چه دا حدیث حسن او صحیح دے۔

۲۸۷- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَوْ كُنْتُ اٰمِرًا اَحَدًا اَنْ یَّسْجُدَ لِاَحَدٍ لَاَمَرْتُ الْمَرْاَةَ اَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا" رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ: حَدِیْثٌ حَسَنٌ صَحِیْحٌ ؀

۲۸۷- ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ که چرے ما چا ته دَ سجدے کولو حکم ورکولے، نو ښځې ته به مې وئیلے وے چه خپل خاوند ته سجده اوکړی۔ (ترمذی) او امام ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث حسن او صحیح دے۔

۲۸۸- وَعَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ "اَیُّمَا امْرَاَةٍ مَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ دَخَلَتِ الْجَنَّةَ" رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ: حَدِیْثٌ حَسَنٌ ۔

۲۸۸ ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه یوه ښځه داسے حال کښې مړه شی، چه خاوند ترے راضی او خوشحاله وی، نو دغه ښځه جنتی ده۔ (ترمذی) امام ترمذیؒ وائی چه دا حدیث حسن دے۔

۲۸۹- وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا تُؤْذِیْ امْرَاَةٌ زَوْجَهَا فِی الدُّنْیَا اِلَّا قَالَتْ زَوْجَتُهٗ مِنَ الْحُوْرِ الْعِیْنِ لَا تُؤْذِیْهِ قَاتَلَكِ اللّٰهُ! فَاِنَّمَا هُوَ عِنْدَكِ دَخِیْلٌ[2] یُوْشِكُ اَنْ یُّفَارِقَكِ اِلَیْنَا" رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ: حَدِیْثٌ حَسَنٌ ؀

۲۸۹ - معاذ بن جبل رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه دُنیا کښې کومه یوه ښځه چه خپل خاوند ته تکلیف رسوی۔ نو دَ جنت حورے هغې ښځې ته وائی۔ الله پاک دِ تا برباده کړی۔ خپل خاوند مهٔ تنګوه۔ دا خو تا سره یو څو ورځے میلمه دے۔ او ډیر زر به ستا نه جُدا کیدو سره مونږ له راشی۔ (ترمذی) امام ترمذیؒ وائی چه دا حدیث حسن دے۔

---

[1] "التنور" بفتح الفوقية وتشديد النون: الذی یخبز فیه ۔

۲۹۰- وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَا تَرَكْتُ بَعْدِي فِتْنَةً هِيَ أَضَرُّ عَلَى الرِّجَالِ مِنَ النِّسَاءِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁂

۲۹۰- اسامه بن زید رضی الله عنهما نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه ځما نه پس به دَ سړو دپاره دَ خپلو ښځو نه زیاته بله یوه فتنه نهٔ وی (بخاری ومسلم)

باب ۳۶

ف:- دے باب کښے درے قرآنی آیتونه او اته نبوی حدیثونه دی. دَ اهل وعیال بوره پوره دَ ژوند تیرولو ذمه واری الله تعالیٰ په سړو دراچولے ده. په دے وجه دَ شریعت په احکامو کښے دَ سړو سره مخاطبه او مخامخ خبرے دی. مګر دَ ضرورت په وخت شریعت کښے ښځو ته هم دَ دے اجازت دے په دے شرط چه دَ نورو منع شوو څیزونو نه هم دَ بچ کیدلو اهتمام اوکړے شی.

بَابُ النَّفَقَةِ عَلَى الْعِيَالِ! اهل وعیال باندے خرچه کول او دَ هغے فضیلت

(قرآنی آیتونه)

۱۱۵- قَالَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ[2]: "وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ[3] رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ" ⁂

۱۱۵- ماشوم ته دَ پئ ورکونکے ښځے یا دَ ماشوم پالونکے مور دپاره به دَ ماشوم په پلار باندے خوراک، جامه دَ دستور مطابق وی. (پ ۲، بقره)

۱۱۶- وَقَالَ تَعَالَىٰ[4]: "لِيُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ[5] فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللّٰهُ."

۱۱۶- فراخئ والا لره دَ خپل وسع مطابق خرچ کول پکار دی. او په چا چه رزق تنګ شی. نو هغهٔ له پکار دی، چه الله څومره ورکوی دَ هغے نه دِ خرچ کوی. (پ ۲۸ / طلاق)

۱۱۷- وَقَالَ تَعَالَىٰ[6]: "وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ" ⁂

۱۱۷- تاسو (دَ الله تعالیٰ دپاره) چه کوم یو څیز هم خرچ کړئ. دَ هغے به درته ډیره ښه بدله ملاویږی. (پ ۲۲، سبا)

(نبوی حدیثونه)

۲۹۱- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "دِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ[7] وَدِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ فِي رَقَبَةٍ[8] وَدِينَارٌ تَصَدَّقْتَ بِهِ عَلَى مِسْكِينٍ وَدِينَارٌ أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ أَعْظَمُهَا أَجْرًا الَّذِي أَنْفَقْتَهُ عَلَى أَهْلِكَ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ ⁂

۲۹۱- ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه تاسو څهٔ خرچ دَ الله په لاره کښے کوئ. او څهٔ رقم چه تاسو دَ غلام دَ آزادولو دپاره خرچ کوئ. او څهٔ رقم سره چه تاسو دَ غریبانو امداد کوئ. او څهٔ رقم چه په خپل بال بچ او کورو الاؤ باندے خرچ کوئ په دے ټولو خرچونو کښے غوره خرچ هغه دے چه په خپل اهل و عیال باندے اوشی. (مسلم)

---

[1] ای ضعیف ونزیل [2] سورة البقرة آية ۲۳۳ [3] ای علی الوالد [4] سورة الطلاق آية ۷ [5] ای ضيق عليه [6] سورة سبأ آية ۳۹ [7] ای فی الجهاد او فی طاعة الله تعالیٰ

۲۹۲- وَعَنْ اَبِیْ عَبْدِ اللّٰهِ وَیُقَالُ اَبِیْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ثَوْبَانَ ابْنِ بُجْدُدَ[1] مَوْلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ "اَفْضَلُ دِیْنَارٍ یُنْفِقُهُ الرَّجُلُ دِیْنَارٌ یُنْفِقُهٗ عَلٰی عِیَالِهٖ وَدِیْنَارٌ یُنْفِقُهٗ عَلٰی دَآبَّتِهٖ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَدِیْنَارٌ یُنْفِقُهٗ عَلٰی اَصْحَابِهٖ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞

۲۹۲- ابوعبد الله یا دَ بعضو په قول ابوعبدالرحمٰن ثوبان بن بُجدد رضی الله عنه چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم غلام وو۔ روایت کوی۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ هغه روپئ او پیسے غوره دی۔ کومے چه خپل اهل وعیال باندے خرچ کړے شی۔ او هغه رقم چه دَ الله په لار کښے (دَ جهاد دپاره) په اس باندے خرچ کړے شی، او هغه رقم چه دَ الله په لاره کښے دهٔ سره ملګری وی په هغوئ ئے خرچ کړی (دا ټول خرچونه کول غوره او بهتر دی۔ او دَ مخکښے حدیث مطابق غوره خرچ هغه دے چه په خپل بال بچ او ښځو باندے اوشی) (مسلم)

۲۹۳- وَعَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: قُلْتُ: یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هَلْ لِیْ فِیْ بَنِیْ اَبِیْ سَلَمَةَ اَجْرٌ اَنْ اُنْفِقَ عَلَیْهِمْ وَلَسْتُ بِتَارِکَتِهِمْ هٰکَذَا وَلَا هٰکَذَا[2] اِنَّمَا هُمْ بَنِیَّ؟ فَقَالَ: نَعَمْ لَکِ اَجْرُ مَا اَنْفَقْتِ عَلَیْهِمْ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ؞

۲۹۳- ام سلمه رضی الله عنها وائی چه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوکړه۔ دَ ابوسلمه نه چه څما کوم ځامن دی که زهٔ په هغوئ څهٔ خرچه اوکړم نو ما ته به ثواب ملاویږی؟ ځکه چه په دے وجه زهٔ هغوئ دَ اخوا دیخوا ګرځیدو نه منع کوم۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ بالکل هغوئ باندے دَ خرچ کولو تا ته ثواب درکولے شی۔ (بخاری ومسلم)

۲۹۴- وَعَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِیْ وَقَّاصٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فِیْ حَدِیْثِهِ الطَّوِیْلِ الَّذِیْ قَدَّمْنَاهُ فِیْ اَوَّلِ الْکِتَابِ فِیْ بَابِ النِّیَّةِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهٗ: "وَاِنَّکَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِیْ بِهَا وَجْهَ اللّٰهِ اِلَّا اُجِرْتَ بِهَا حَتّٰی مَا تَجْعَلُ فِیْ فِیْ امْرَاَتِکَ[3] مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ؞

۲۹۴- سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په یو لوئے روایت کښے چه مونږ دَ کتاب په شروع "باب النیة" کښے په تفصیل سره بیان کړے دے۔ بیان کوی۔ وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته اوفرمائیل۔ چه دَ الله له مخے چه څومره یا څنګه خرچ هم کوئ۔ دَ هغے اجر وثواب به ضرور درکولے شی۔ تر دے پورے چه په هغے نمړئ به درته هم ثواب ملاویږی، چه دَ خوراک دپاره ئے دَ ښځے خوله کښے کیږدئ۔ (بخاری ومسلم)

۲۹۵- وَعَنْ اَبِیْ مَسْعُوْدٍ الْبَدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِذَا اَنْفَقَ الرَّجُلُ

۲۹۵- ابومسعود بدری رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه کوم سړے

---

[1] ای فی عتق رقبة وتخلیصها من الرق، [2] بجدد بضم الموحدة والدال المهملة الاولی وسکون الجیم بینهما [3] ای یتفرقون فی طلب القوت یمینا وشمالا [4] ای فی فمها

عَلٰی اَهۡلِهٖ نَفَقَةً یَحۡتَسِبُهَا [1] فَهِیَ لَهٗ صَدَقَةٌ" مُتَّفَقٌ عَلَیۡهِ ؛

خپل اهل وعیال باندے دَ اجر او ثواب دپاره خرچ کوی۔ نو دا دهٔ دپاره دَ نیکړے او دَ صدقے کار شمیرلے شی۔ (بخاری ومسلم)

۲۹۶- وَعَنۡ عَبۡدِ اللّٰهِ بۡنِ عَمۡرِو بۡنِ الۡعَاصِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَسَلَّمَ: "کَفٰی بِالۡمَرۡءِ اِثۡمًا اَنۡ یُّضَیِّعَ مَنۡ یَّقُوۡتُ" حَدِیۡثٌ صَحِیۡحٌ رَوَاهُ اَبُوۡ دَاوٗدَ وَغَیۡرُهٗ وَرَوَاهُ مُسۡلِمٌ فِیۡ صَحِیۡحِهٖ بِمَعۡنَاهُ قَالَ: "کَفٰی بِالۡمَرۡءِ اِثۡمًا اَنۡ یَّحۡبِسَ عَمَّنۡ یَّمۡلِكُ قُوۡتَهٗ" ؛

۲۹۶- عبد الله بن عمرو بن عاص رض وائی۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ انسان له دا گناه پوره ده۔ چه دَچا ذمه وار شی۔ او دَ هغهٔ ذمه واری سنبال نهٔ کړی۔ (ابوداؤد) امام مسلمؒ دغسے یو روایت هم بیان کړے دے، چه دَ انسان دَ گناه گار کیدلو دَپاره دا ډیره کافی ده، چه دَچا روزی دَ دهٔ په ذمه وی اودے دَ هغهٔ روزی بنده کړی۔

۲۹۷- وَعَنۡ اَبِیۡ هُرَیۡرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَا مِنۡ یَّوۡمٍ یُّصۡبِحُ الۡعِبَادُ فِیۡهِ اِلَّا مَلَکَانِ یَنۡزِلَانِ فَیَقُوۡلُ اَحَدُهُمَا اَللّٰهُمَّ اَعۡطِ مُنۡفِقًا خَلَفًا وَیَقُوۡلُ الۡاٰخَرُ: اَللّٰهُمَّ اَعۡطِ مُمۡسِکًا تَلَفًا" مُتَّفَقٌ عَلَیۡهِ ؛

۲۹۷- ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ یوه ورځ هم داسے نهٔ تیریږی۔ چه دَ سحر په وخت دوه فرښتے نه راکوزیږی۔ مگر دے کښے یوه دُعا کوی۔ چه اے الله! خرچ کونکی ته بنه بدله ورکړه۔ او دوئیمه دُعا کوی، اے الله! بخیل اوشوم سړے برباد کړے۔ (بخاری ومسلم)

۲۹۸- وَعَنۡهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلۡیَدُ الۡعُلۡیَا خَیۡرٌ مِّنَ الۡیَدِ السُّفۡلٰی [2] وَابۡدَاۡ بِمَنۡ تَعُوۡلُ وَخَیۡرُ الصَّدَقَةِ مَا کَانَ عَنۡ ظَهۡرِ غِنًی [3] وَمَنۡ یَّسۡتَعۡفِفۡ یُعِفَّهُ اللّٰهُ، وَمَنۡ یَّسۡتَغۡنِ یُغۡنِهِ اللّٰهُ" رَوَاهُ الۡبُخَارِیُّ ؛

۲۹۸- ابوهریره رض نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، پاسنے لاس دَ لاندینی لاس نه غوره دے۔ یعنی د ورکړے لاس اخستلو الا لاس نه غوره دے۔ او شروع دَ ورکړے او دَ خرچ هغه چا باندے کوه کوم چه ستا پرورش کښے وی۔ او غوره صدقه هغه ده۔ چه د غنیٰ نه پس وی۔ او څوک چه احتیاط کوی۔ الله تعالیٰ به ئے احتیاط کښے اوساتی۔ او څوک چه لاپروا هم (یعنی غنی کیدل) اختیار کړی الله تعالیٰ به ئے غنی کړی۔ (بخاری)

باب ۳۷

ف:- دا باب په دوه قرآنی آیتونو او یو نبویؐ حدیث باندے مشتمل دے۔ عبادات وی که معاملات، اسلام خپلو منونکو کښے اوچت اخلاق او اوچت همت پیدا کوی۔

---

[1] "یحتسبها" ای یقصد بها وجه الله تعالیٰ والتقرب الیه ؛ [2] الید العلیا: هی المعطیة ؛ والسفلیٰ: هی السائلة [3] ای افضلها ما اخرجه الانسان من ماله بعد ان یستبقی منه قدر الکفایة لاهله وعیاله ولذا قال اولا "وابدأ بمن تعول" ؛

او دَ کمزورئ او کم همتئ نه سرهے لرے کوی. ځکه چه تمدنی او اخلاقی ترقئ دارومدار په بلند همتئ او بلند خیالئ باندے موقوف دے - دَ الله ج په لاره کښے صدقه او خیرات کولو کښے ښۀ ښۀ څیز ورکول دَ کولاؤ ذهن او خوشحاله زړهٔ نښانی دَه - او رَدّی اوخراب او کم ترمال ورکول دَ حرص لالچ او شومتوب نښه دَه - دے باب دَ لاندے دَهم دے اصولی او بنیادی خبرو رهنمائی شوے دَه -

بَابُ الْاِنْفَاقِ مِمَّا يُحِبُّ وَمِنَ الْجَيِّدِ!

دَ الله تعـ په لار کښے دَ ښو او خوښو شوی څیزونو دَ خرچ کولو بیان!

(قرآنی آیتونه)

۱۱۸- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی [1]: "لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ" ⁂

۱۱۸- هغه وخته پورے خیر او نیکی نشئ حاصلولے، څو پورے چه ستاسو خوښ څیزونه دَ الله تعالیٰ په لاره کښے خرچ نکړئ. (پ۴، عمران)

۱۱۹- وَقَالَ تَعَالٰی [2]: "يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ اَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيْثَ [3] مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ" ⁂

۱۱۹- اے ایمان والو! خرچ کوئ دَ خپل لاس کټلے شوی مال نه یا څموږ دَ زمکے نه دَ پیدا کړے شوو څیزونو نه کوم چه موږ ستاسو دَ پاره راویستلی دی. ښۀ ښۀ څیزونه خرچ کوئ. او دَ رَدّی او بے کاره اوخرابو څیزونو خرچ کولو اراده مهٔ کوئ. (پ۳، بقره)

(نبوی حدیثونه)

۲۹۹- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ اَبُوْطَلْحَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَكْثَرَ الْاَنْصَارِ بِالْمَدِيْنَةِ مَالًا مِّنْ نَخْلٍ وَكَانَ اَحَبُّ اَمْوَالِهِ اِلَيْهِ بَيْرَحَآءَ وَكَانَتْ مُسْتَقْبِلَةَ الْمَسْجِدِ [4] وَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُهَا وَيَشْرَبُ مِنْ مَّآءٍ فِيْهَا طَيِّبٍ [5] قَالَ اَنَسٌ فَلَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ: "لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ" جَآءَ اَبُوْطَلْحَةَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی اَنْزَلَ

۲۹۹- انس بن مالک رض وائی. چه حضرت ابوطلحه رض دَ مدینے په انصارو کښے دَ ټولو نه دَ باغونو په لحاظ زیات مالداره وو. او "بَیْرحا" باغ دَ هغهٔ ډیر زیات خوښ وو. او دا باغ مسجد نبوی ته بالکل مخامخ وو. او نبی کریم صلی الله علیه وسلم به هلته تللو. او هلته به ئے خوړے او به سکلے. انس رضی الله عنه اووئیل. چه کله "لن تنالوا البر (الخ)" آیت نازل شو. نو ابوطلحه رض دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شو. او عرض ئے اوکړو یا رسول الله! الله تعالیٰ تاسو باندے ایت لن تنال البر نازل کړے دے او دیکښے دَ محبوب څیزونو دَ الله ج په لاره کښے دَ خرچ کولو فرمائیلی دی او ما ته خپل مال کښے دَ ټولو نه زیات خوښ باغ بیرحا دے. زهٔ ئے

---

[1] سورة آل عمران آیة ۹۲ [2] سورة البقرة آیة ۲۶۷ [3] ای لاتقصد والرّدی ؛

[4] ای المسجد النبوی [5] "طیب" : ای عذب

عَلَيْكَ "لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ" وَاِنَّ اَحَبَّ مَالِيْ اِلَيَّ بَيْرُحَآءَ وَاِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلّٰهِ تَعَالٰى اَرْجُوْا بِرَّهَا [۵۱] وَذُخْرَهَا عِنْدَ اللّٰهِ تَعَالٰى فَضَعْهَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ حَيْثُ اَرَاكَ اللّٰهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بَخٍ [۵۲] ذٰلِكَ مَالٌ رَابِحٌ ذٰلِكَ مَالٌ رَابِحٌ وَقَدْ سَمِعْتُ مَا قُلْتَ وَاِنِّيْ اَرٰى اَنْ تَجْعَلَهَا فِي الْاَقْرَبِيْنَ" فَقَالَ اَبُوْطَلْحَةَ: اَفْعَلُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ، فَقَسَمَهَا اَبُوْطَلْحَةَ فِيْ اَقَارِبِهٖ وَبَنِيْ عَمِّهٖ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ،

قَوْلُهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَالٌ رَابِحٌ" رُوِيَ فِي الصَّحِيْحِ "رَابِحٌ" وَ "رَايِحٌ" بِالْبَاءِ الْمُوَحَّدَةِ وَبِالْيَاءِ الْمُثَنَّاةِ: اَيْ رَابِحٌ عَلَيْكَ نَفْعُهٗ، وَ "بَيْرُحَآءُ" حَدِيْقَةُ نَخْلٍ، وَرُوِيَ بِكَسْرِ الْبَاءِ وَفَتْحِهَا:

دا الله تعالیٰ په لاره کښے د الله تعالیٰ د رضا دپاره خیرات کوم. او ددے د ثواب او ذخیرے په آخرت کښے د الله تعالیٰ نه امید او طمع ساتم. یا رسول الله! تا سو چه کوم ځلے د الله تعالیٰ د حکم مطابق خرچ کول غواړئ. خرچ ئے کړئ. رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. واه. واه. دا خو ډیر عمده او ډیرے فائدے والا مال دے. تا چه څه اووئیل، ما واوریدل. لیکن زه دا مناسب ګنړم چه دا حال خپلو رشته دارانو دپاره اوساتے. ابو طلحه رضی الله عنه اووئیل. یا رسول الله: ستاسو د ارشاد مطابق به سرسترګو قبول دے. تاسو چه څنګه وایئ هغسے به ئے خرچ کوم. نو د هغهٔ د ارشاد مطابق ابوطلحه رضی الله عنه هغه باغ خپل خاندان او ترهٔ ځامنو کښے تقسیم کړو. (بخاری و مسلم)

د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه "مَالٌ رَابِحٌ" او "مَالٌ رَايِحٌ" دواړه صحیح احادیثو کښے راغلی دی. یعنی ستاسو د فائدے مال.

بَیْرَحَا: د کجورو باغ.

باب ۳۸

ف: - دے باب کښے دوه قرآنی آیتونه او پنځه نبوی حدیثونه دی. دا د انسانی فطرت دے. چه د هرے فائدے او ښهٔ څیز د حاصلولو دپاره هر یو کس ړومبے خپل ځان له ترجیح ورکوی. د دے نه پس بیا د دهٔ نظر په خپل اولاد او خپلوانو باندے پریوځی. او د نورو خلقو په مقابله کښے د دوئ زیات خیال ساتی. او نیکی او ښیګړه هم د فائدے او ګټے څیز دے. په دے وجه د فطری تقاضا په اصولو باندے انسان له پخپله د ټولونه مخکښے په هغے باندے عمل بکار دے. دے نه پس خپلو عزیزانو خپلوانو ته د دے حکم کول بکار دی. همدا د دے باب مقصد دے.

بَابٌ فِيْ وُجُوْبِ اَمْرِهٖ اَهْلَهٗ وَاَوْلَادَهُ الْمُمَيِّزِيْنَ وَسَائِرَ مَنْ فِيْ رَعِيَّتِهٖ

د انسان خپل اهل او اولاد ته او ټولو متعلقینو ته د الله تعالیٰ د تابعدارئ حکم کول او

---

[۵۱] "برّها" ای خیرها "و ذخرها" بضم الذال التثقیل والتخفیف بالکسر والرفع: کلمه المعجمة وبالخآ الساکنة المعجمة: ای اجرها عند الله تعالی [۵۲] "بخ" بفتح الموحدة وسکون المعجمة، قد تنون مع - تقال لتفخیم الا

بِطَاعَةِ اللّٰهِ تَعَالٰى وَنَهْيِهِمْ عَنِ الْمُخَالَفَةِ وَتَادِيْبِهِمْ وَمَنْعِهِمْ عَنِ ارْتِكَابِ مَنْهِيٍّ عَنْهُ!

د هغې واجب کیدل او په دوئ کښے هر یو ته ادب ښودل او د منع کړے شوو څیزونو نه د منع کولو بیان!

(قرآنی ایتونه)

۱۲۰- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1]: "وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا" ؛

۱۲۰- خپل اهل وعیال ته د مانځه کولو حکم ورکوئ۔ او پخپله پرے هم اودریږئ. (پ ۱٦، طٰه)

۱۲۱- وَقَالَ تَعَالٰى[2]: "يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا" ؛

۱۲۱- اے ایمان والو! خپل ځان او خپل اهل وعیال د اور نه اوساتئ. (پ ۲۸ تحریم)

(نبوی احادیث)

۳۰۰- وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: أَخَذَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا تَمْرَةً مِّنْ تَمْرِ الصَّدَقَةِ فَجَعَلَهَا فِيْ فِيْهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كُخْ كُخْ اِرْمِ بِهَا اَمَا عَلِمْتَ اَنَّا لَا نَاْكُلُ الصَّدَقَةَ": مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ "اِنَّا لَا تَحِلُّ لَنَا الصَّدَقَةُ"

وَقَوْلُهُ: "كُخْ كُخْ" يُقَالُ بِاِسْكَانِ الْخَاءِ وَيُقَالُ بِكَسْرِهَا مَعَ التَّنْوِيْنِ وَهِيَ كَلِمَةُ زَجْرٍ لِلصَّبِيِّ عَنِ الْمُسْتَقْذَرَاتِ وَكَانَ الْحَسَنُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ صَبِيًّا ؛

۳۰۰- ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه یو وارے حسن بن علی رضی الله عنهما د صدقے د کجورونه یوه کجوره اوچته کړه، او خوله کښے ئے واچوله۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه دا اولیدل، نو وے وئیل: مه، مه۔ او غورځوه۔ او وے فرمائیل چه تا ته معلومه نه ده، چه مونږ د صدقے مال نه خورو۔ (بخاری و مسلم)

یو روایت کښے داسے هم راغلی دی، چه مونږ له د صدقے مال حلال نه دے. "کُخْ کُخْ" د کاف پیښ سره هم روایت شته۔ او "کِخٍ کِخٍ" د کاف زیر او د خاء تنوین سره هم روایت شته دے. دا لفظ د خبردارئ په طور د یو کار نه د منع کولو د پاره ماشومانو له استعمالیږی. او دغه وخت حسن بن علی رضی الله عنه هم وړوکے ؤو۔

۳۰۱- وَعَنْ اَبِيْ حَفْصٍ عُمَرَ بْنِ اَبِيْ سَلَمَةَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ الْاَسَدِ رَبِيْبِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[3] قَالَ كُنْتُ غُلَامًا فِيْ حَجْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[4]

۳۰۱- ابو حفص عمر بن ابی سلمه عبدالله بن عبد الاسد رضی الله عنه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بی بی ام سلمه رضی الله عنها ځوئے او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په پرورش کښے وو۔ وائی:

---

[1] سورة طٰه ایة ۱۳۲ [2] سورة التحریم ایة ٦ [3] ای ولد زوجته ام سلمة رضی الله عنها

[4] "حجر" بفتح الحاء المهملة ای کنفه وحمایته صلی الله علیه وسلم.

وَكَانَتْ يَدِيْ تَطِيْشُ فِي الصَّحْفَةِ فَقَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا غُلَامُ سَمِّ اللّٰهَ تَعَالٰى وَكُلْ بِيَمِيْنِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيْكَ" فَمَا زَالَتْ تِلْكَ طِعْمَتِيْ[1] بَعْدُ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ،

• وَتَطِيْشُ": تَدُوْرُ فِيْ نَوَاحِي الصَّحْفَةِ ؛

چه زهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په پالنه کښے ووم. یعنی ځما خیال به ئے ساتلو. او کم عمره هم ووم. نو د خوراک د پاره م لوښی کښے اخوا د یخوا لاس ګرځولو نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم (د خوراک کولو آداب ښود لو سره) او فرمائیل. اے هلکه: (د خوراک په وخت کښے) د الله تعالی نوم اخله. او ښی لاس سره خوراک کوه. او خپلے مخے نه خوره. د دے نه پس ځما د خوراک هم دا طریقه وه. (بخاری ومسلم)

تَطِيْشُ: لوښی کښے غاړو ته لاس ګرځول.

۳۰۲- وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ: اَلْإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِيْ اَهْلِهٖ وَمَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ، وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِيْ بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْئُوْلَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا وَالْخَادِمُ رَاعٍ فِيْ مَالِ سَيِّدِهٖ وَمَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَّمَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۳۰۲- عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے. چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرمائیل آوریدلی دی چه تاسو کښے هر یو کس نګران او ذمه وار دے. او د هر یو نه به د هغهٔ د ما تحتو (او لاس لاندے خلقو) په باره کښے تپوس کولے شی. امام او حاکم ښهر ئے دے د خپلو ما تحتو تپوس به ترے کولے شی. سړے د خپل کور مشر دے. د هغهٔ د لاس لاندے چه څومره کسان وی د هغوئ باره کښے به ترے پوښتنه کولے شی. ښځه د خپل خاوند د کور مشره او حاکمه ده د هغے نه به هم د ما تحتو پوښتنه کولے شی. غلام، خادم او نوکر هم د خپل آقا او مالک د سامان ذمه وار دے. او د دے د فرائضو سوال به ترے کولے شی. پس پوه شئ چه هر یو کس حاکم دے. او د خپلو ما تحتو په حقله به ترے پوښتنه ضرور کولے شی. (بخاری ومسلم)

۳۰۳- وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مُرُوْا اَوْلَادَكُمْ بِالصَّلٰوةِ وَهُمْ اَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِيْنَ وَاضْرِبُوْهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ اَبْنَاءُ عَشْرٍ وَّفَرِّقُوْا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ" حَدِيْثٌ حَسَنٌ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ بِاِسْنَادٍ حَسَنٍ ؛

۳۰۳- عمرو بن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکهٔ (رضی الله عنهم) نه روایت کوی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. کله چه ستاسو ماشومان د اوؤ کالو شی. نو هغهٔ ته د مونځ اداء کولو تاکید کوئ. او کله چه د لسو کالو شی، نو په وهلو پرے مونځ کوئ. او د اوده کیدو د باره درله بستره بیله کړئ. (ابوداؤد) امام ابوداؤد وائی دا حدیث حسن دے. او سند ئے هم حسن دے.

۳۰۴- وَعَنْ اَبِيْ ثُرَيَّةَ[2] سَبْرَةَ

۳۰۴- ابو ثریه سبره بن معبد جهنیؓ

---

[1] طعمتی: بکسر الطاء المهملة، ای صفة اکلی بعد ذلک القول - وفی الحدیث تعلیم الصبیان آداب الاکل:

[2] ثریة "بضم المثلثة وفتح الراء وبتشدید التحتیة و "سبرة" بفتح المهملة الاولی وسکون الموحدة

ابْنِ مَعْبَدٍ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "عَلِّمُوا الصَّبِيَّ الصَّلٰوةَ لِسَبْعِ سِنِيْنَ وَاضْرِبُوْهُ عَلَيْهَا ابْنَ عَشْرِ سِنِيْنَ" حَدِيْثٌ حَسَنٌ. وَلَفْظُ اَبِيْ دَاوٗدَ: "مُرُوا الصَّبِيَّ بِالصَّلٰوةِ اِذَا بَلَغَ سَبْعَ سِنِيْنَ":

نه روايت دے - چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل - چه ماشوم د اوو کالو شی نو مونځ ورته اوښايئ. او چه د لسو کالو شی - د مانځه د پاره ئے وهئ. (ابوداؤد د ترمذی) دا دواړه وائی چه دا حديث حسن دے. اود امام ابوداؤد په يو روايت کښے داسے هم راغلی دی چه کله ماشوم د اوو کالو شی نو هغهٔ ته د مونځ کولو حکم کوئ.

باب ۳۹

ف ۱. دے باب کښے يو قرآنی آيت او نهه نبوی حديثونه دی. انسان مدنی الطبع دے، شريک او سيدل خوښوی. هسے هم يوځائے اوسيدو کښے ډيرے فائدے وی. او نزدے اوسيدونکو خلقو ته ګاونډيان وئيلے شی. دا ګاونډيان رشته داران او خپلوان هم کيدے شی. او نور پردی خلق هم. هم مذهب او هم غيرمذهب. چونکه پوره انسانيت د پاره د امن اود سلامتئ پيغام دے. په دے وجه اسلام هيڅوک هم شاته کوی نهٔ. اود ټولو حقونه معلوموی. اود هغے د حفاظت حکم ورکوی. نو هغے کښے د همسايه او ګاونډی حقونه شته. چه دے باب کښے به ئے پخپله تفصيل اوګورئ.

بَابُ حَقِّ الْجَارِ وَالْوَصِيَّةِ بِهٖ

دَګاونډی حق او هغهٔ سره دښهٔ سلوک کولو بيان

(قرآنی آيت)

۱۲۲- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى لهٗ: "وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَّبِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى[2] وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيْلِ وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ":

۱۲۲- د الله تعالٰی عبادت کوئ. هغهٔ سره څوک شريک مهٔ جوړوئ. مور او پلار سره نزدے رشته دارانو سره، يتيمانو، مسکينانو سره، نزدے او لرے ګاونډيانو سره، مجلس کښے ناستو يا ستو خلقو سره مسافرو سره او کوم چه ستا ملکيت کښے دی هغوئ ټولو سره د نيکئ او احسان سلوک کوئ. (پ ۵، نساء)

(نبوی احاديث)

۳۰۵- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَعَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَا: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا زَالَ جِبْرِيْلُ يُوْصِيْنِيْ بِالْجَارِ حَتّٰى ظَنَنْتُ اَنَّهٗ سَيُوَرِّثُهٗ"، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ:

۳۰۵- حضرت ابن عمرؓ او حضرت عائشهؓ نه روايت دے - چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی چه جبرائيل عليه السلام ما ته هميشه د ګاونډی سره د ښه سلوک نصيحت کولو. تر دے چه ما ته داسے ښکاره شوه چه شايد ګاونډے به ميراث کښے شريک کړے شی. (بخاری او مسلم)

---

[1] سورة النساء آية ۳۶ [2] اى الذى قرب جواره. "والجار الجنب" اى البعيد. "والصاحب بالجنب" الرفيق فى نحو تعلم وصناعة وسفر. "وما ملكت ايمانكم" من البعيد والاماء.

۳۰۶- وَعَنْ اَبِیْ ذَرٍّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: "یَا اَبَا ذَرٍّ اِذَا طَبَخْتَ مَرَقَةً[1] فَاَكْثِرْ مَآءَهَا وَتَعَاهَدْ جِیْرَانَكَ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِیْ رِوَایَةٍ لَهٗ عَنْ اَبِیْ ذَرٍّ قَالَ، اِنَّ خَلِیْلِیْ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَوْصَانِیْ "اِذَا طَبَخْتَ مَرَقَةً فَاَكْثِرْ مَآءَهَا ثُمَّ انْظُرْ اَهْلَ بَیْتٍ مِّنْ جِیْرَانِكَ فَاَصِبْهُمْ مِنْهَا بِمَعْرُوْفٍ" ⁘

۳۰۶- ابوذر غفاریؓ نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اے ابوذره! کله چه ښوروا پخوے، نو اوبه پکښے زیاتے واچوه - او د خپل ګاونډی (پکښے) خیال ساته - (مسلم)

ابوذرؓ نه بل روایت کښے دا سے هم راغلی دی - چه ما ته خپل خلیل (ملګری) دا وصیت او هدایت هم اوفرمائیلو چه کله ښوروا پخوے - نو اوبه پکښے زیاتے واچوه بیا د ګاونډی د کور خیال ساتلو سره په مناسب انداز کښے ئے هغوی له هم اولیږه

۳۰۷- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "وَاللّٰهِ لَا یُؤْمِنُ وَاللّٰهِ لَا یُؤْمِنُ وَاللّٰهِ لَا یُؤْمِنُ!" قِیْلَ: مَنْ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ: "اَلَّذِیْ لَا یَاْمَنُ جَارُهٗ بَوَائِقَهٗ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ. وَفِیْ رِوَایَةٍ لِّمُسْلِمٍ: "لَا یَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا یَاْمَنُ جَارُهٗ بَوَائِقَهٗ"

"اَلْبَوَائِقُ": اَلْغَوَائِلُ وَالشُّرُوْرُ ⁘

۳۰۷- ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے - چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - په الله م د قسم وی هغه مؤمن نه دے - په الله م د قسم وی هغه مؤمن نه دے - په الله م د قسم وی هغه مؤمن نه دے - صحابهؓ رضی الله عنهم عرض اوکړو - کوم سړے مؤمن نه دے؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - چه د هغه د شر او فساد نه د هغه ګاونډی په امن او حفاظت کښے نه وی - (بخاری ومسلم)

او د مسلم په یو روایت کښے دا سے راغلی دی چه هغه کس به جنت ته نه ځی چه د هغه د شرارتونو نه د هغه ګاونډی په امن نه دی

"بَوَائِقُ": شرارتونه - تکلیفونه - دهوکے او چلونه -

۳۰۸- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: "یَا نِسَآءَ الْمُسْلِمَاتِ لَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ فِرْسِنَ شَاةٍ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ⁘

۳۰۸- د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - اے مسلمانانو ښځو! یوه ګاونډئ چه بلے ګاونډئ له تحفه کښے څه خیز لیږی - نو هغه خیز د سپک او هیڅ شے نه ګڼی. اګرچه د بیزے سُم وی. (بخاری ومسلم)

۳۰۹- وَعَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا یَمْنَعُ جَارٌ جَارَهٗ اَنْ یَّغْرِزَ خَشَبَةً فِیْ جِدَارِهٖ" ثُمَّ یَقُوْلُ اَبُوْ هُرَیْرَةَ مَالِیْ اَرَاكُمْ عَنْهَا مُعْرِضِیْنَ وَاللّٰهِ لَاَرْمِیَنَّ بِهَا بَیْنَ

۳۰۹- دا روایت هم د ابوهریرهؓ دے - وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - چه یو ګاونډی د بل ګاونډی په خپل دیوال کښے د لرګی د ښخولو نه منع کوی - ابوهریرهؓ موجوده خلقو ته مخ کړو او وے فرمائیل - زه وینم چه تاسو

---

[1] ای ذا مرق من لحم و دجاج ونحوها

أَكْتَافِكُمْ لـه مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞
رُوِيَ "خَشَبَهُ" بِالْإِضَافَةِ وَالْجَمْعِ
وَرُوِيَ "خَشَبَةً" بِالتَّنْوِيْنِ عَلَى
الْإِفْرَادِ. وَقَوْلُهُ: مَالِيْ أَرَاكُمْ عَنْهَا
مُعْرِضِيْنَ: يَعْنِيْ عَنْ هٰذِهِ السُّنَّةِ ؞
دی. "مُعْرِضِیْنَ": دَ دے سُنت نه مخ

دَ دے نه یعنی مخونه اړوئ. مګر په الله
تعالیٰ م دِ قسم وی چه زهٔ به دا خبره ستاسو
دَ اوګو ترمینځ دَرولم (تا سوته به يے
ضرور اوروم) (بخاری و مسلم)
"یَغْرِزُ خَشَبَةً" او "خَشَبَهُ" او "یَغْرِزُ
الْخَشَبَةِ" حدیث کښے دَ دواړه بیان شوی
اړونکی.

۳۱۰- وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى
اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ
بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ، وَ
مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ
فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ
وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا، أَوْ
لِيَسْكُتْ" لـه مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞

۳۱۰- دَ ابوهریره رض نه روایت دے. چه
رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل.
څوک چه په الله اودَ قیامت په ورځ ایمان
لري. هغهٔ له پکاردی چه خپل ګاونډی
نهٔ تنګوی. اوڅوک چه په الله اودَ قیامت
په ورځ ایمان لري، نو هغهٔ له پکاردی. چه
دَ میلمه عزت کوی. او چاچه په الله او په
ورځ دَ آخرت ایمان راوړے وی نو دَ خپلے
خولے نه دَ خیر خبرے اوباسی. کنی چُپ دِ اُوسی. (بخاری و مسلم)

۳۱۱- وَعَنْ أَبِيْ شُرَيْحٍ الْخُزَاعِيِّ
رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ
وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُحْسِنْ إِلَى جَارِهِ: وَ
مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ
فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ
بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ
لِيَسْكُتْ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ بِهٰذَا اللَّفْظِ، وَ
رَوَى الْبُخَارِيُّ بَعْضَهُ ؞

۳۱۱- ابوشریح خزاعی رض بیان کوی. چه
رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل
چاچه په الله او په ورځ دَ آخرت ایمان
راوړے دی. هغهٔ له پکاردی چه دَ ګاونډی
سره ښهٔ سلوک کوی. او کوم کس چه په
الله او په ورځ دَ قیامت ایمان ساتی. هغهٔ
له پکاردی چه دَ میلمه عزت او خاطر کوی
او کوم کس چه په الله رب العزت او په
ورځ دَ قیامت ایمان لری. هغهٔ له پکار
دی چه ښے خبرے کوی. کنی چُپ دِ شی.
(مسلم)
دا سے الفاظو سره بخاری هم څهٔ حصه دَ دے حدیث روایت کړے ده.

۳۱۲- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا
قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ لِيْ جَارَيْنِ
فَإِلَى أَيِّهِمَا أُهْدِيْ؟ قَالَ: "إِلَى أَقْرَبِهِمَا
مِنْكِ بَابًا" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؞

۳۱۲- حضرت عائشه رض فرمائی. چه ما دَ
رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه
اوکړه. چه ځما دوه ګاونډیان دی. دے
کښے کوم یو ته زهٔ هدیه ورکړم؟ نو نبی
کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دَ چا دَ کور دروازه نزدے وی. (بخاری)

۳۱۳- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ
رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ

۳۱۳- عبد الله بن عمر رضی الله عنهما
نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه

لـه قال الشافعی رضی الله عنه: لکن بعد ان یتفکر فیما یرید ان یتکلم به فاذا ظهر له انه خیر محقق لا یترتب علیه مفسدة ولا یجر الی کلام محرم او مکروه اتی به ؞

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خَيْرُ الْاَصْحَابِ عِنْدَ اللّٰهِ تَعَالٰى خَيْرُهُمْ لِصَاحِبِهٖ، وَ خَيْرُ الْجِيْرَانِ عِنْدَ اللّٰهِ تَعَالٰى خَيْرُهُمْ لِجَارِهٖ، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ ؛

وسلم او فرمائیل. چه الله ته هغه خلق خوښ دی چه خپلو ملګرو سره ښهٔ دی. او الله ته هغه ګاونډی خوښ دے چه خپلو ګاونډیانو سره ښهٔ وی. (ترمذی). ترمذی وائی چه دا حدیث حسن دے.

باب ۴۰

ف:- دے باب کښے شپږ قرانی آیتونه او خلیریشت نبوی حدیثونه دی.

بَابُ بِرِّ الْوَالِدَيْنِ وَ صِلَةِ الْاَرْحَامِ

مور او پلار سره دَ نیکئ او خپلوانو سره دَ ښهٔ سلوک کولو بیان.

(قرآنی آیتونه)

۱۲۳- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1] "وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَّبِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ وَابْنِ السَّبِيْلِ وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ" ؛

۱۲۳- دَ الله تعالیٰ عبادت کوه۔ هغه سره هیڅوک شریک مهٔ جوړوه۔ او مور پلار سره، نزدے رشته دارانو سره، یتیمانو مسکینانو سره، نزدے او لرے ګاونډیانو سره، دَ خپل مجلس او ناستے پاستے خلقو سره. مسافرو سره، وینځو او غلامانو خادمانو نوکرانو ته او سره ښهٔ سلوک کوه. (پ۵، نساء)

۱۲۴- وَقَالَ تَعَالٰى[2] "وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ[3] وَالْاَرْحَامَ" ؛

۱۲۴- دَ هغه الله نه ووېرېږئ، دَ چا په نوم باندے چه سوال کوئ۔ او دَ خپلولئ خیال او لحاظ ساتئ۔ (پ۴، نساء)

۱۲۵- وَقَالَ تَعَالٰى[4] "وَالَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ[5]" ؛

۱۲۵- چه دا داسے خلق دی چه خپلے رشتے داسے روغے جوړے ساتی څنګه چه ورته الله تعالیٰ دَ خپلولئ ساتلو حکم کړے دے۔ او دَ الله نه ویرېږی۔ او دَ خرابئ دَ حساب نه ویرېږی۔ (پ۱۳، رعد)

۱۲۶- وَقَالَ تَعَالٰى[6]: "وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا" ؛

۱۲۶- مونږ انسان ته دَ مور او پلار سره دَ نیکئ کولو حکم ورکړے دے۔ (پ۲۰، عنکبوت)

۱۲۷- وَقَالَ تَعَالٰى[7]: "وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَا اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا؛ وَ

۱۲۷- دا ستا سوَد رب فیصله ده. چه صرف دَ هغهٔ عبادت کوئ. بل چا د پاره نهٔ. او مور او پلار سره ښهٔ سلوک کوئ. کله چه د واړه یا ترے نه یو بوډا والی ته ورسی نو بیا ورته اُف قدرے هم مهٔ وایئ رټه ئے هم مهٔ. ښهٔ ادب او عزت سره ورسره خبرے

---

[1] سورة النساء آية ۳۶ [2] سورة النساء ۱ [3] ای یسال بعضکم به بعضا فیقول اسألك بالله. والارحام ای واتقوا الارحام [4] سورة الرعد آية ۲۱ [5] المراد به صلة الرحم [6] سورة العنكبوت آية ۸ [7] سورة الاسراء آية ۲۳ و ۲۵

اخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِيْ صَغِيْرًا.

کوه. او دَ هغوئ په وړاندې عاجزئ، نرمئ او تابعدارئ سره ښکته اوسئ. او هغوئ دپاره دا دُعا کوئ. یا الله! دوئ باندې داسې رحم اوکړه، څنګه چه ئې څما په وړوکوالی کښې پالنه کړې ده. (پ۱۵، اسرائیل)

١٢٨- وَقَالَ تَعَالیٰ [2]: "وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ وَهْنًا عَلٰى وَهْنٍ [3] وَّفِصٰلُهٗ فِيْ عَامَيْنِ اَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ" ۞

١٢٨- دَ الله تعالیٰ ارشاد دې. مونږ انسان ته دَ مور او پلار (سره دَ ښهٔ سلوک کولو) حکم ورکړې دې. دَ دهٔ مور دهٔ لره تکلیف دپاسه دَ تکلیف په ګیډه اوګرځولو. او دوه کاله ئې دَ هغې شودهٔ اورودل (دا ښهٔ سلوک څکه دې چه) څما شکر ګزار شئ. او دَ مور او پلار شکر هم اداء کړئ. (پ۲۱، لقمٰن)

(نبوی احادیث)

٣١٤- وَعَنْ اَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَاَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَيُّ الْعَمَلِ اَحَبُّ اِلَى اللهِ تَعَالیٰ؟ قَالَ: "اَلصَّلٰوةُ عَلٰى وَقْتِهَا [4]" قُلْتُ: ثُمَّ اَيٌّ؟ قَالَ: "بِرُّ الْوَالِدَيْنِ" قُلْتُ: ثُمَّ اَيٌّ؟ قَالَ "اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ۞

٣١٤- ابو عبد الرحمٰن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې. چه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوکړه. چه الله تعالیٰ ته کوم یو عمل ډیر خوښ دې؟ نو وې فرمائیل، مونځ په خپل وخت کول. ما عرض اوکړو. دَ دې نه پس کوم یو عمل دې؟ نو وې وئیل چه مور او پلار سره ښهٔ سلوک کول. ما عرض اوکړو. دَ دې نه پس کوم یو عمل دې؟ نو وې وئیل. دَ الله په لار کښې جهاد کول. (بخاری ومسلم)

٣١٥- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَجْزِيْ [5] وَلَدٌ وَالِدًا اِلَّا اَنْ يَّجِدَهٗ مَمْلُوْكًا فَيَشْتَرِيَهٗ فَيُعْتِقَهٗ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ۞

٣١٥- ابوهریره رض نه روایت دې. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. هیڅ یو ځوئ هم دَ خپل پلار (دَ احسانونو) بدله نشی ورکولې. مګر دې سره چه خپل پلار دَ غلامئ په حالت کښې بیا مومی او آخستو سره ئې آزاد کړی. (مسلم)

٣١٦- وَعَنْهُ اَيْضًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهٗ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهٗ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ

٣١٦- دا روایت هم دَ ابوهریرة رض دې. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. کوم کس چه په الله او په ورځ دَ قیامت ایمان لری. هغهٔ له پکار دی چه دَ میلمه اکرام او عزت کوی. او څوک چه په الله او په ورځ دَ آخرت ایمان ساتی. هغهٔ له پکار دی چه خپلوانو سره تعلق ساتی. او په الله تعالیٰ او په ورځ دَ

---

[1] هي كلمة تضجر وكراهة "ولا تنهرهما" اى لا تزجرهما عما يتعاطيانه مما لا يعجبك "وقل لهما قولا كريما" حسنا جميلا "واخفض لهما جناح الذل من الرحمة" اى تواضع لهما رحمة لهما وشفقة عليهما،

[2] سورة لقمان آية ١٤

[3] اى شدة على شدة "وفصاله" اى فطامه في عامين

[4] وفي رواية "لوقتها" واللام بمعنى في: اى الصلوة في وقتها المحدد لها شرعا

[5] "لا يجزي" بفتح اوله ولا همزة في آخره اى

بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا اَوْ لِيَصْمُتْ"[1] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ÷

آخرت ایمان لرلو والا دپاره پکار دی چه که خبرې کوی نو دَ خیر خبرې دِ کوی. کنې چُپ دِ پاتې شی۔ (بخاری ومسلم)

٣١٧- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اِنَّ اللهَ تَعَالٰى خَلَقَ الْخَلْقَ حَتّٰى اِذَا فَرَغَ مِنْهُمْ[2] قَامَتِ الرَّحِمُ فَقَالَتْ: هٰذَا مَقَامُ الْعَآئِذِ بِكَ مِنَ الْقَطِيْعَةِ، قَالَ: نَعَمْ اَمَا تَرْضَيْنَ اَنْ اَصِلَ مَنْ وَصَلَكِ وَاَقْطَعَ مَنْ قَطَعَكِ: قَالَتْ: بَلٰى، قَالَ: فَذٰلِكِ لَكِ" ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اِقْرَءُوْا اِنْ شِئْتُمْ فَهَلْ عَسَيْتُمْ[3] اِنْ تَوَلَّيْتُمْ اَنْ تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ وَتُقَطِّعُوْا اَرْحَامَكُمْ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللهُ فَاَصَمَّهُمْ[4] وَاَعْمٰى اَبْصَارَهُمْ"[5] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔

وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ: "فَقَالَ اللهُ تَعَالٰى مَنْ وَصَلَكِ وَصَلْتُهُ وَمَنْ قَطَعَكِ قَطَعْتُهُ"۔

٣١٧- دا روایت هم د ابو هریره رضی الله عنه دے، چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم او فرمائیل - کله چې الله تعالیٰ دَ مخلوق پید اکولو نه فارغ شو۔ نو رشته دَ الله تعالیٰ په دربار کښې حاضره شوه، او عرض ئې اوکړو. چې په دے موقعه باندې ماته دَ خپلولئ ختمولو نه دَ پناه غوختلو اجازت شته - الله تعالیٰ اوفرمائیل هَوْ - آیا ته په دے خبره خوشحاله ئې - چه څوک ستا خیال اوساتی۔ نو زهٔ به هغهٔ سرهِ تعلق ساتم - او څوک چې ستا خیال نهٔ ساتی بلکه ختموی ئې - نو زهٔ به ترې تعلق کټ کړم - رحم (خپلولئ او رشتې) ورته اووئیل - هَوْ- زهٔ به دے خوشحاله یم - الله تعالیٰ اووئیل. ستا معامله کښې به هم داسې وی. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل تاسو (کهٔ ثبوت غواړئ - نو) دا آیت اولولئ- "فهل عسیتم ان تولیتم ان تفسدوا فی الارض وتقطّعوا ارحامکم اولٓئكَ الذین لعنهم الله فاصمّهم واعمیٰ ابصارهم" (ترجمه ئې داده) "(اے منافقانو!) تاسو نه دا خبره لرې نهٔ ده- کهٔ تاسو ته حکومت لاس ته درشی. نو زمکه کښې به فساد اوکړئ - او خپلولئ او تعلق به ختم کړئ - دا هغه خلق دی چه الله تعالیٰ پرې لعنت کړے دے. نو څکه ئې هغوئ کانړهٔ اوړانده کړل. (بخاری ومسلم)

په بخاری کښې یو روایت داسې هم شته - چه الله تعالیٰ اوفرمائیل. څوک چه تا جوړه اوساتی- زهٔ به ئې دَ هغهٔ سره (تعلق) جوړ ساتم. څوک چه تا ختمول غواړی نو زهٔ به هغهٔ سرهِ تعلق پرې کړم-

٣١٨- وَعَنْهُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: جَآءَ رَجُلٌ اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَنْ اَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِيْ؟ قَالَ: "اُمُّكَ" قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ:

٣١٨- دَ ابو هریره رض نه روایت دے. چه یو کس دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو- یارسول الله! څما دَ ښهٔ سلوک کولو زیات حق دار څوک دے؟ نو نبی کریم صلی الله

---

[1] "اوليصمت" بضم الميم: اى ليسكت [2] اى كمل خلقهم. ٠ والعائذ" المستعيذ و هو المعتصم بالشئ الملتجئ به [3] اى فهل التوقع منكم "ان توليتم" امور الناس "ان تفسدوا في الارض وتقطعوا ارحامكم [4] "فاصمهم" اى عن سماع الحق [5] سورة محمد آية ٢٢-٢٣ ÷

"اُمُّكَ" قَالَ ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ "اَبُوْكَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔ وَفِيْ رِوَايَةٍ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَنْ اَحَقُّ بِحُسْنِ الصُّحْبَةِ؟ قَالَ: "اُمُّكَ" ثُمَّ اُمُّكَ ثُمَّ اُمُّكَ ثُمَّ اَبَاكَ ثُمَّ اَدْنَاكَ اَدْنَاكَ"۔ "وَالصَّحَابَةُ" بِمَعْنٰى: اَلصُّحْبَةِ۔ وَقَوْلُهٗ "ثُمَّ اَبَاكَ" هٰكَذَا هُوَ مَنْصُوْبٌ بِفِعْلٍ مَحْذُوْفٍ اَىْ ثُمَّ بِرَّ اَبَاكَ۔ وَفِيْ رِوَايَةٍ "ثُمَّ اَبُوْكَ" وَهٰذَا وَاضِحٌ ؞

عليه وسلم اوفرمائيل چه ستا مور۔ هغهٔ عرض اوکړو بيا؟ نبى کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل۔ ستا مور۔ هغهٔ اووئيل۔ بيا؟ نبى کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل ستا مور۔ هغهٔ اووئيل بيا؟ نبى کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، ستا پلار۔

(بخاري ومسلم)

يو روايت کښې دا سے هم راغلى دى۔ چه يارسول الله! ځما دَ ښهٔ سلوک کولو او په خدمت کښې دَ حاضريدو زيات حق دار څوک دے؟ نبى کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، ستا مور۔ بيا ستا مور۔ بيا هم ستا مور۔ بيا ستا پلار۔ بيا چه تا ته څوک زيات نزدے وى۔ بيا ستا نزدے رشته دار دے۔ اَلصَّحَابَةُ، يعنى ناستے پاستے والا۔ ثُمَّ اَبَاكَ اَىْ ثُمَّ بِرَّ اَبَاكَ۔ په يو روايت کښې دَ اَبَاكَ په ځائے "اَبُوْكَ" هم شته۔ او دا زيات مناسب او واضح دے۔

۳۱۹۔ وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "رَغِمَ اَنْفُ ثُمَّ رَغِمَ اَنْفُ ثُمَّ رَغِمَ اَنْفُ [1] مَنْ اَدْرَكَ اَبَوَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ: اَحَدَهُمَا اَوْ كِلَاهُمَا فَلَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞

۳۱۹۔ ابوهريره رض نه روايت دے۔ چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل دَ هغهٔ پوزه دِ خړه شى په خاورو، دَ هغهٔ پوزه دِ خړه شى په خاورو، دَ هغهٔ پوزه دِ په خاورو ګنده شى۔ چه چا دَ بوډاوالى په حالت کښې مور او پلار يا يو دَ دوئ نه اوموندل، بيا هم (دَ هغوئ په خدمت کولو سره) جنت ته داخل نه شى۔ (مسلم)

۳۲۰۔ وَعَنْهُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ اِنَّ لِىْ قَرَابَةً اَصِلُهُمْ وَيَقْطَعُوْنَنِىْ وَاُحْسِنُ اِلَيْهِمْ وَيُسِيْئُوْنَ اِلَىَّ وَاَحْلُمُ عَنْهُمْ وَيَجْهَلُوْنَ عَلَىَّ۔ فَقَالَ: "لَئِنْ كُنْتَ كَمَا قُلْتَ فَكَاَنَّمَا تُسِفُّهُمُ الْمَلَّ وَلَا يَزَالُ مَعَكَ مِنَ اللهِ ظَهِيْرٌ عَلَيْهِمْ [2] مَادُمْتَ عَلٰى ذٰلِكَ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞

"وَتُسِفُّهُمْ" بِضَمِّ التَّاءِ وَكَسْرِ السِّيْنِ الْمُهْمَلَةِ وَتَشْدِيْدِ الْفَاءِ "وَالْمَلُّ" بِفَتْحِ الْمِيْمِ وَتَشْدِيْدِ اللَّامِ وَهُوَ الرَّمَادُ الْحَارُّ: اَىْ كَاَنَّمَا تُطْعِمُهُمُ الرَّمَادَ الْحَارَّ، وَهُوَ تَشْبِيْهٌ لِمَا يَلْحَقُهُمْ مِنَ

۳۲۰۔ دَ ابوهريره رض نه روايت دے۔ چه يو سړى رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عرض اوکړو۔ چه ځما رشته داران دا سے دى۔ چه زهٔ هغوئ سره خپلولى پالم۔ مګر هغوئ ما سره خپلولى ختموى۔ زهٔ هغوئ سره ښهٔ سلوک کوم۔ هغوئ ما سره بدى کوى۔ زهٔ هغوئ ته د پرصبر کوم مګر هغوئ نا پوهتيا ښکاره کوى۔ نبى کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل۔ ته چه څنګه وائے، کهٔ دا سے وى نو بس ته ګويا کهٔ دَ هغوئ خولے ته ګرمه ايرهٔ اچوے۔ ترڅو چه ته دَ هغوئ سره دا سے معامله او سلوک کوے۔ نو دَ الله تعالىٰ امداد به هميشه تا سره وى۔ (مسلم)

اَلْمَلُّ، ګرمه ايره يا شګه۔ حديث کښې دَ ګرمے ايرے يا شګے سره په دے وجه مشابهت

---

[1] "رغم انف" هذا كناية عن الذل كأن لصق بالرغام وهو التراب هوانا [2] الظهير المعين ؞

الْاِثْمِ بِمَا يَلْحَقُ اٰكِلَ الرَّمَادِ الْحَارِّ مِنَ الْاَلَمِ وَلَا شَيْءَ عَلٰى هٰذَا الْمُحْسِنِ اِلَيْهِمْ لٰكِنْ يَنَالُهُمْ اِثْمٌ عَظِيْمٌ بِتَقْصِيْرِهِمْ فِيْ حَقِّهٖ وَ اِدْخَالِهِمُ الْاَذٰى عَلَيْهِ، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ ؛

ورکړې شوې دې. چه د داسې طرز عمل سره د ګناه په وجه چه هغوئ ته څه رارسیږي، نو هغوئ ته به ګناه تکلیف وی. (ښه سلوک کولو والا ته څه تکلیف نشته) هغو احسان هیرونکی او حق ضائع کونکی او د دې په وجه به تعلق ختمونکی خلق ډیر ګنهګار وی.

٣٢١- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ اَحَبَّ اَنْ يُبْسَطَ لَهٗ فِيْ رِزْقِهٖ وَيُنْسَاَ لَهٗ فِيْ اَثَرِهٖ فَلْيَصِلْ رَحِمَهٗ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

وَمَعْنٰى "يُنْسَاَ لَهٗ فِيْ اَثَرِهٖ": اَيْ يُؤَخَّرَ لَهٗ فِيْ اَجَلِهٖ وَعُمُرِهٖ ؛

٣٢١- انس بن مالک رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل. څوک چه خپل رزق یعنی روزی ډیره او خپل عمر زیات غواړی. نو هغهٔ له پکار دی. چه خپلولی ښه پالی. (بخاری ومسلم)

يُنْسَاَ لَهٗ فِيْ اَثَرِهٖ : یعنی د دهٔ مرګ او عمر به وروستو کولے شی.

٣٢٢- وَعَنْهُ قَالَ: كَانَ اَبُوْطَلْحَةَ اَكْثَرَ الْاَنْصَارِ بِالْمَدِيْنَةِ مَالًا مِنْ نَخْلٍ وَكَانَ اَحَبُّ اَمْوَالِهٖ اِلَيْهِ بَيْرُحَاءَ وَ كَانَتْ مُسْتَقْبِلَةَ الْمَسْجِدِ وَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُهَا وَ يَشْرَبُ مِنْ مَاءٍ فِيْهَا طَيِّبٍ فَلَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ [له] "لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ" قَامَ اَبُوْطَلْحَةَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى يَقُوْلُ: "لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ" وَاِنَّ اَحَبَّ مَالِيْ اِلَيَّ بَيْرُحَاءُ وَ اِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلّٰهِ تَعَالٰى اَرْجُوْا بِرَّهَا وَ ذُخْرَهَا عِنْدَ اللّٰهِ تَعَالٰى فَضَعْهَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ حَيْثُ اَرَاكَ اللّٰهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "بَخٍ ذٰلِكَ مَالٌ رَابِحٌ ذٰلِكَ مَالٌ رَابِحٌ وَقَدْ سَمِعْتُ مَا قُلْتَ وَاِنِّيْ اَرٰى اَنْ تَجْعَلَهَا فِي الْاَقْرَبِيْنَ" فَقَالَ اَبُوْطَلْحَةَ

٣٢٢- انس بن مالک رض نه روایت دے. چه ابوطلحه رض د مدینې په انصارو کښې د ټولونه د کجورو د باغ په وجه زیات مالداره وُو. او د هغهٔ خوښ باغ بیرحاء وو. چه مسجد نبوی ته بالکل مخامخ وو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم به هلته تللو او د هغه ځائې خوږې اوبهٔ به ئې سکلې. انس رض وائی. چه کله "لن تنالوا البرّ" آیت نازل شو. نو ابوطلحه رض د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې او کړو، یا رسول الله! تاسو باندې دا آیت نازل شوے دے. او ما ته خپل مال کښې خوښ مال بیرحاء باغ دے. نو زهٔ ئې د الله د رضا د پاره د الله په لاره کښې خرچ کول غواړم او د الله تعالیٰ نه ئې د اجر و ثواب اُمید لرم. تاسو ته اختیار دے. او څنګه مو چه خوښه وی استعمال کښې ئې راولئ. نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه دا واورېدل نو وې وئیل، واه- واه. دا خو ډیر د ګټې مال دے. ما ستا خبره واورېده. مګر زهٔ مناسب ګڼړم چه دا مال خپلو رشته دارو کښې تقسیم کړې. ابوطلحه رض

[له] سورة آل عمران آية ٢

اَفْعَلُ يَا رَسُوْلَ اللهِ، فَقَسَّمَهَا اَبُوْ طَلْحَةَ فِيْ اَقَارِبِهٖ وَبَنِيْ عَمِّهٖ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَسَبَقَ بَيَانُ اَلْفَاظِهٖ فِيْ: بَابِ الْاِنْفَاقِ مِمَّا يُحِبُّ ؎

اوویٔیل ستا حکم په سر سترګو قبول دے. زهٔ به هم داسے اوکړم - نو دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ حکم مطابق ئے په خپلو خپلوانو او تربٔهٔ زامنو کښے تقسیم کړو - (بخاری ومسلم)

دَ دے حدیث دَ الفاظو تشریح مخکښے " باب الانفاق مما یحب " کښے تیره شوے ده -

۳۲۳ - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: اَقْبَلَ رَجُلٌ اِلٰى نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: اُبَايِعُكَ عَلَى الْهِجْرَةِ وَالْجِهَادِ اَبْتَغِي الْاَجْرَ مِنَ اللهِ تَعَالٰى. فَقَالَ هَلْ لَّكَ مِنْ وَالِدَيْكَ اَحَدٌ حَيٌّ؟ " قَالَ نَعَمْ بَلْ كِلَاهُمَا قَالَ: " فَتَبْتَغِي الْاَجْرَ مِنَ اللهِ تَعَالٰى؟ " قَالَ: نَعَمْ. قَالَ " فَارْجِعْ اِلٰى وَالِدَيْكَ فَاَحْسِنْ صُحْبَتَهُمَا " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ - وَ هٰذَا لَفْظُ مُسْلِمٍ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهُمَا: جَآءَ رَجُلٌ فَاسْتَاْذَنَهٗ فِي الْجِهَادِ قَالَ: " اَحَيٌّ وَالِدَاكَ؟ " قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: " فَفِيْهِمَا فَجَاهِدْ " ؎

۳۲۳ - عبد الله بن عمرو بن عاص رضی الله عنهما نه روایت دے. چه یو سړے دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم خدمت ته راغے - او وے ویٔیل چه زهٔ تا سره په هجرت او جهاد باندے بیعت کوم. چه دَ هغے دَ اجر اُمید دَ الله تعالیٰ نه کوم - نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - آیا ستا مور او پلار کښے یو کس ژوندے شته؟ هغهٔ اوویٔیل، هَوجی - دواړه ژوندی دی - نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. آیا دَ الله تعالیٰ نه دَ ثواب اُمید لرے - هغهٔ اوویٔیل هَوْجی - بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - خپل مور او پلار له واپس لاړشه او دَ هغوئ ښهٔ خدمت اوکړه - (بخاری ومسلم)

دَ بخاری او مسلم په یو روایت کښے داسے هم راغلی دی چه یو کس نبی کریم صلی الله علیه وسلم له راغے - او جهاد کښے ئے دَ شریک کیدو اجازت اوغوښتلو - نبی کریم صلی الله علیه وسام پوښتنه اوکړه - چه ستا مور او پلار ژوندی دی؟ هغهٔ اوویٔیل - هَوْجی - نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل دَ هغوئ خدمت کول ستا جهاد دے -

۳۲۴ - وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِئِ وَلٰكِنَّ الْوَاصِلَ الَّذِيْ اِذَا قَطَعَتْ رَحِمُهٗ وَصَلَهَا " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. " وَقَطَعَتْ " بِفَتْحِ الْقَافِ وَ الطَّآءِ وَرَحِمُهٗ " مَرْفُوْعٌ ؎

۳۲۴ - عبد الله بن عمرو بن عاص رضی الله عنه نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل (دَ نیکئ په نیکئ سره بدله ورکونکے خپلولی پالونکے نهٔ دے - صله رحمی او خپلولی پالل خو دا دی چه کهٔ هغه تا سو سره خپلولی ختموی نو ته ئے ور سره جوړه ساته - (بخاری)

۳۲۵ - وَعَنْ عَآئِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " اَلرَّحِمُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَقُوْلُ: مَنْ

۳۲۵ - حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه رحِم (رشته) دَ الله دَ عرش کَ لاندے

وَصَلَنِي وَصَلَهُ اللهُ، وَمَنْ قَطَعَنِي قَطَعَهُ اللهُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞

تړونده ده. هغه دَ وظيفے په طور داسے وائی. څوک چه ما پاللے ساتی. الله تعالیٰ به ئے جوړساتی. او څوک چه ما ختموی.

الله تعالیٰ به ئے ختم کړی. (بخاری ومسلم)

۳۲۶- وَعَنْ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ مَيْمُونَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا أَعْتَقَتْ وَلِيدَةً [1] وَلَمْ تَسْتَأْذِنِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُهَا الَّذِي يَدُورُ عَلَيْهَا فِيهِ قَالَتْ أَشَعَرْتَ يَا رَسُولَ اللهِ أَنِّي أَعْتَقْتُ وَلِيدَتِي؟ قَالَ: أَوَ فَعَلْتِ؟ قَالَتْ نَعَمْ: قَالَ: "أَمَا إِنَّكِ لَوْ أَعْطَيْتِهَا أَخْوَالَكِ كَانَ أَعْظَمَ لِأَجْرِكِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞

۳۲۶- حضرت ميمونه بنت حارث رضی الله عنها نه روايت دے. چه ما دَ نبی کريم صلی الله عليه وسلم نه دَ يوے وينزے په آزادولو کښے اجازت نۀ وو اخستے. کله چه دَ هغې نمبر له نبی اکرم صلی الله عليه وسلم راغے، نو ما عرض اوکړو. آيا حُما دَ وينزے آزادئ تا ته خبر درکړے شوے دے؟ نبی اکرم صلی الله عليه وسلم او فرمائيل ولے هغه دِ آزاده کړے ده؟ هغې اووئيل، هَوجی بيا نبی اکرم صلی الله عليه وسلم او فرمائيل کۀ دغه وينزه دِ ماما ګانو ته درکړے وے، نو ډير ثواب به در ته ملاؤ شوے وو. (بخاری ومسلم)

۳۲۷- وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَتْ قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [2] فَاسْتَفْتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ: قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ رَاغِبَةٌ أَفَأَصِلُ أُمِّي؟ قَالَ، "نَعَمْ صِلِي أُمَّكِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞

وَقَوْلُهَا: "رَاغِبَةٌ" أَيْ طَامِعَةٌ فِيمَا عِنْدِي تَسْأَلُنِي شَيْئًا قِيلَ كَانَتْ أُمُّهَا مِنَ النَّسَبِ وَقِيلَ مِنَ الرَّضَاعَةِ وَالصَّحِيحُ الْأَوَّلُ ؞

۳۲۷- اسماء بنت ابوبکر رض نه روايت دے. چه حُما يوه مشرکه مور وه. چه ماله دَ څۀ خواهش دپاره مکے نه مدينے ته راغلے وه. دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کښے، نو زۀ دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم خدمت ته حاضره شوم او عرض م اوکړو چه حُما مور څۀ غوښتلو دپاره ماله راغلے ده. آيا زۀ هغې سره څۀ ښۀ سلوک کولے شم. نبی کريم صلی الله عليه وسلم او فرمائيل هَو. هغې سره خپلولی اوپاله. (بخاری ومسلم)

رَاغِبَةٌ: يعنی طمع کونکے ده. ما نه دَ غوښتلو دپاره راغلے. څۀ غواړی.

يوقول داسے هم راغلے دے چه دغه دَ دے سکه خپله مور وه. بعضے وائی، چه خپله مورئے نۀ وه، مګر اولنے قول صحيح دے.

۳۲۸- وَعَنْ زَيْنَبَ الثَّقَفِيَّةِ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَعَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَصَدَّقْنَ يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ: وَلَوْ مِنْ حُلِيِّكُنَّ"

۳۲۸- دَ عبدالله بن مسعود بی بی زينب ثقفيه رضی الله عنها نه روايت دے. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم او فرمائيل. چه اے دَ مسلمانانو بيبيانو! صدقه او خيراتونه کوئ خواه زيورات اوکالی وی. هغه وائی ما خپل خاوند ته اووئيل چه ستا

---

[1] الوليدة الامة [2] ای معاهدته مع المشركين في الحديبية ؞

قَالَتْ: فَرَجَعْتُ اِلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ فَقُلْتُ لَهٗ: اِنَّكَ رَجُلٌ خَفِيْفُ ذَاتِ الْيَدِ[1] وَاِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اَمَرَنَا بِالصَّدَقَةِ فَاْتِهٖ فَاسْاَلْهُ فَاِنْ كَانَ ذٰلِكَ يُجْزِئُ عَنِّيْ[2] وَاِلَّا صَرَفْتُهَا اِلٰى غَيْرِكُمْ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بَلِ ائْتِيْهِ اَنْتِ فَانْطَلَقْتُ فَاِذَا امْرَأَةٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ بِبَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاجَتِيْ حَاجَتُهَا وَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اُلْقِيَتْ عَلَيْهِ الْمَهَابَةُ فَخَرَجَ عَلَيْنَا بِلَالٌ فَقُلْنَا لَهٗ ائْتِ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبِرْهُ اَنَّ امْرَأَتَيْنِ بِالْبَابِ تَسْاَلَانِكَ: اَتُجْزِئُ الصَّدَقَةُ عَنْهُمَا عَلٰى اَزْوَاجِهِمَا وَعَلٰى اَيْتَامٍ فِيْ حُجُوْرِهِمَا[3] وَلَا تُخْبِرْهُ مَنْ نَّحْنُ فَدَخَلَ بِلَالٌ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَاَلَهٗ فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ هُمَا؟" قَالَ امْرَأَةٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ وَزَيْنَبُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَيُّ الزَّيَانِبِ هِيَ؟" قَالَ: امْرَأَةُ عَبْدِ اللّٰهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَهُمَا اَجْرَانِ اَجْرُ الْقَرَابَةِ وَاَجْرُ الصَّدَقَةِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁘

لاس تنګ دے او نبی کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته د صدقے او خیرات حکم راکړے دے۔ ته لاړ شه او دا تپوس اوکړه چه آیا داسے طریقے سره چه خاوند ته ورکړے شی حکم به پوره کړے شی چه زهٔ تا ته صدقه درکړم؟ کنی چه بیا بل چا ته صدقه ورکړم۔ عبد الله بن مسعود رض وائی۔ ته لاړه شه، پخپله ترے پوښتنه اوکړه۔ وائی چه کله زهٔ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د دے تپوس کولو په سلسله کښے لاړم۔ نو هلته یوه انصاریه ښځه موجوده وه، هغے هم دا تپوس کول غوښتل کوم له چه زهٔ راغلے ووم۔ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم چه کوم رعب او هیبت وو، د هغے په وجه د داخلیدو مونږ کښے همت نهٔ وو۔ دے وخت کښے د دننه نه حضرت بلال رض راغے۔ نو مونږ هغهٔ ته اووئیل۔ چه داسے تپوس د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مونږ د پاره اوکړه چه بهر دوه ښځے موجودے دی داسے تپوس کولو له راغلی دی۔ چه مونږ خپلو خاوندانو ته او هغه یتیمانو ته چه زمونږ په پرورش کښے دی۔ صدقه ورکولے شوکهٔ نهٔ؟ مګر ځمونږ نومونه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته مهٔ ښایه۔ بلال رضی الله عنه خدمت کښے حاضر شو او د هغوئ د مسئلے پوښتنه ئے اوکړه رسول الله صلی الله علیه وسلم تپوس اوکړه دغه ښځے څوک دی؟ بلال رض اوفرمائیل چه یوه انصاریه او یوه زینب رضی الله عنهما ده۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل کومه یوه زینب ده۔ بلال رض اووئیل د عبدالله بن مسعود رض بی بی ده۔ بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، دوئ ته به دوچند ثواب ورکولے شی۔ یو ثواب د رشته دارئ او بل د صدقے کولو۔ (بخاری ومسلم)

۳۲۹- **وَعَنْ** اَبِیْ سُفْيَانَ صَخْرِ بْنِ حَرْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِيْ حَدِيْثِهِ الطَّوِيْلِ فِيْ قِصَّةِ هِرَقْلَ اَنَّ هِرَقْلَ قَالَ لِاَبِیْ سُفْيَانَ: فَمَاذَا يَاْمُرُكُمْ بِهٖ؟

۳۲۹- ابوسفیان صخر بن حرب رضی الله عنه د هرقل والا اوږده قصه کښے اوښودل چه هرقل د ابوسفیان رض نه پوښتنه اوکړه۔ چه هغه نبی تاسو ته د

---

[1] ای قلیل المال [2] ای دفعتها لکم [3] فی حجورهما ای فی ولایتهما ⁘

يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْتُ يَقُوْلُ : "اعْبُدُوا اللّٰه وَحْدَهٗ وَ لَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَاتْرُكُوْا مَا يَقُوْلُ اٰبَآءُكُمْ وَ يَاْمُرُنَا بِالصَّلٰوةِ وَالصِّدْقِ وَالْعَفَافِ وَالصِّلَةِ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ::

کوموخبرو حکم درکوی؟ نوما اوویل چه هغوئ فرمائی - دَ الله تعالیٰ عبادت کوئ او هغهٔ سره هیڅوک شریک مهٔ جوړوئ. او ستاسو دَ پلار نیکهٔ چه کومه طریقه او عقیده ده هغه پریږدئ. او مونږ ته دَ مانځهٔ کولو، رښتیا وئیلو، او دَ ځان پاک ساتلو او دَ خپلولئ ساتلو حکم راکوی. (بخاری ومسلم)

۳۳۰- وَعَنْ اَبِیْ ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اِنَّكُمْ سَتَفْتَحُوْنَ اَرْضًا يُذْكَرُ فِيْهَا الْقِيْرَاطُ" وَ فِيْ رِوَايَةٍ، "سَتَفْتَحُوْنَ مِصْرَ وَهِيَ اَرْضٌ يُسَمّٰى فِيْهَا الْقِيْرَاطُ فَاسْتَوْصُوْا بِاَهْلِهَا خَيْرًا ؛ فَاِنَّ لَهُمْ ذِمَّةً وَرَحِمًا" وَ فِيْ رِوَايَةٍ "فَاِذَا افْتَتَحْتُمُوْهَا فَاَحْسِنُوْا اِلٰى اَهْلِهَا فَاِنَّ لَهُمْ ذِمَّةً وَ رَحِمًا" اَوْقَالَ "ذِمَّةً وَّ صِهْرًا" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ،

۳۳۰- ابوذر رضی الله عنه نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - قریبه ده چه تاسو به داسے زمکه فتحه کړئ چه هلته به قیراط ډیر ذکرکولے شی. یو روایت کښے راځی چه ډیر زر به تاسو مصر فتحه کړئ - او هغه داسے زمکه ده چه هلته لفظ دَ قیراط ډیر ډیر وئیلے کیږی. نو تاسو دَ هغوئ سره نیکی کوئ. ځکه چه هغوئ سره (بنهٔ تعلق) ذمه واری هم ده او (دَ خپلولئ) تعلق هم دے -

قَالَ الْعُلَمَآءُ : الرَّحِمُ الَّتِيْ لَهُمْ كَوْنُ هَاجَرَ اُمِّ اِسْمَاعِيْلَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمْ : "وَالصِّهْرُ" : كَوْنُ مَارِيَةَ أُمِّ اِبْرَاهِيْمَ ابْنِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمْ ::

یو روایت کښے داسے هم راغلی دی. چه کله هغه فتحه کړئ، نو هغه خلقو سره بنهٔ سلوک ساتئ - ځکه تاسو سره ئے تعلق هم دے او رشته داری هم ده - "رَحِمًا" یا "صِهْرًا" الفاظ دی. یعنی رشته داری یا سخرګنئ هم ده - (مسلم)

حدیث کښے چه مصر والو سرهٔ کوم تعلق ذکر دے - هغه دَ هاجرے بی بی په نسبت سره دے - چه هغے مصر سره تعلق لرلو - او دَ سخرګنئ په رشته کښے اشاره ماریه قبطیهؓ ته ده. چه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ ځوئ ابراهیم رضه والده محترمه وه -

۳۳۱- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ له "وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ" دَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُرَيْشًا فَاجْتَمَعُوْا فَعَمَّ وَخَصَّ وَقَالَ : "يَابَنِيْ عَبْدِ شَمْسٍ يَابَنِيْ كَعْبِ ابْنِ لُؤَيٍّ اَنْقِذُوْا اَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَابَنِيْ مُرَّةَ بْنِ كَعْبٍ اَنْقِذُوْا اَنْفُسَكُمْ مِّنَ النَّارِ، يَابَنِيْ عَبْدِ مَنَافٍ اَنْقِذُوْا اَنْفُسَكُمْ مِّنَ

۳۳۱- ابوهریره رضه نه روایت دے. کله چه دا آیت وانذر عشیرتك الاقربین (خپل نزدے رشته داران او ویروه) نازل شو. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم قریش را اوغوښتل. نو عام او خاص ټول خلق یو ځائے جمع شول - بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - اے دَ عبد شمس اولاده! اے دَ کعب بن لؤی اولاده! خپل ځانونه دَ اور نه اوساتئ - اے دَ مره بن کعب دَ خاندان اولاده! خپل ځان دَ اور

له سورة ۱ یة ۲۱۴ :

النَّارِ يَا بَنِيْ هَاشِمٍ اَنْقِذُوْا اَنْفُسَكُمْ مِّنَ النَّارِ، يَا بَنِيْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ اَنْقِذُوْا اَنْفُسَكُمْ مِّنَ النَّارِ يَا فَاطِمَةُ اَنْقِذِيْ نَفْسَكِ مِنَ النَّارِ فَاِنِّيْ لَاۤ اَمْلِكُ لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْئًا غَيْرَ اَنَّ لَكُمْ رَحِمًا سَاَبُلُّهَا بِبِلَالِهَا" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

قَوْلُهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "بِبِلَالِهَا" هُوَ بِفَتْحِ الْبَآءِ الثَّانِيَةِ وَكَسْرِهَا "وَالْبِلَالُ": الْمَآءُ، وَمَعْنَى الْحَدِيْثِ: سَاَصِلُهَا شَبَّهَ قَطِيْعَتَهَا بِالْحَرَارَةِ تُطْفَاُ بِالْمَآءِ وَهٰذِهٖ تُبَرَّدُ بِالصِّلَةِ ؛

۳۳۲ - وَعَنْ اَبِيْ عَبْدِ اللّٰهِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِهَارًا غَيْرَ سِرٍّ يَقُوْلُ: "اِنَّ اٰلَ بَنِيْ فُلَانٍ لَيْسُوْا بِاَوْلِيَآئِيْ اِنَّمَا وَلِيِّيَ اللّٰهُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنْ لَهُمْ رَحِمٌ اَبُلُّهَا بِبِلَالِهَا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَاللَّفْظُ لِلْبُخَارِيِّ ؛

۳۳۳ - وَعَنْ اَبِيْ اَيُّوْبَ خَالِدِ بْنِ زَيْدٍ الْاَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - اَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ يُّدْخِلُنِي الْجَنَّةَ وَيُبَاعِدُنِيْ مِنَ النَّارِ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "تَعْبُدُ اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُ بِهٖ شَيْئًا وَتُقِيْمُ الصَّلٰوةَ وَتُؤْتِي الزَّكٰوةَ وَتَصِلُ الرَّحِمَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۳۳۴ - وَعَنْ سَلْمَانَ ابْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِذَا اَفْطَرَ اَحَدُكُمْ فَلْيُفْطِرْ عَلٰى تَمْرٍ فَاِنَّهٗ بَرَكَةٌ فَاِنْ لَّمْ يَجِدْ تَمْرًا فَالْمَآءِ فَاِنَّهٗ طَهُوْرٌ" وَ

نه اوساتئ - اے دَ بنی هاشم اولاده! خپل ځانونه دَ اُور نه محفوظ کړئ - اے دَ بنی عبدالمطلب اولاده! خپل ځانونه دَ اُور نه بچ کړئ - اے فاطمے رض! ځان دَ اور نه بچ کړه - زهٔ ستا دَ خلاصی دَ الله نه دَ هیڅ څیز ذمه وار نهٔ یم - ځکه بغیر دَ رشته داری نه بل نز دیکت ځما اوستا سو نشته - زهٔ صرف دَ دے رشته داری حفاظت کولے شم - دَ همدے چړکاؤ تاسوله درکوم (او دَ هم دَ تعلق په سبب دَ همدردئ دپاره تاسو خبروم (مسلم) بَلَالُ: یعنی اوبهٔ - حدیث کښے دَ خپلوئ ختمولو گرمی او اُور به تعلق جوړولو سره ختمیږی او یخیږی -

۳۳۲ - ابوعبدالله عمرو بن عاص رض نه روایت دے - چه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په پټه نهٔ بلکه په ښکاره او اوچت آواز سره داسے فرمائیلے اوریدلی دی - چه دَ فلانکی اولاد ځما دوستان نهٔ دی - ځما دوست الله دے او نیکان مؤمنان خلق دی - لیکن هغوئ سره چونکه ځما دَ خپلوئ رشته ده نو دغه به باقی ساتم او دَ هغے به حفاظت کوم - (بخاری ومسلم) دا الفاظ دَ بخاری دی -

۳۳۳ - ابوایوب خالد بن زید انصاری رضی الله عنه نه روایت دے - چه یو کس رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو - چه ماته داسے عمل اوښایه چه زهٔ پرے جنت ته داخل شم او دَ جهنم نه لرے شم - نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل، دَ الله تعالیٰ عبادت کوه - هغهٔ سره هیڅوک شریک مهٔ جوړوه - مونځ کوه زکوٰة ورکوه، او خپلوانو سره خپلولی ساته - (مسلم)

۳۳۴ - سلمان بن عامر رضی الله عنه نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - کله چه روژه ماتوئ نو کجورے سره ئے ماتوئ، ځکه چه دا دَ برکت والا ده - که کجوره نهٔ دی نو

قَالَ: "اَلصَّدَقَةُ عَلَى الْمِسْكِيْنِ صَدَقَةٌ وَعَلَى ذِي الرَّحِمِ ثِنْتَانِ صَدَقَةٌ وَ صِلَةٌ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ ::

بیا او بوسره روژه ماتوئ. ځکه چه دا پاکونکے ده. او مسکین ته صدقه ورکول د ښیګړے کار دے. او خپلوانو ته به صدقه ورکولو کښے دوچند ثواب دے. یو د صدقے ورکولو، او دویم د خپلوئ پاللو. (ترمذی)

امام ترمذیؒ وائی چه دا حدیث، حسن دے.

۳۳۵- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: كَانَتْ تَحْتِي امْرَأَةٌ وَكُنْتُ أُحِبُّهَا وَكَانَ عُمَرُ يَكْرَهُهَا فَقَالَ لِي: طَلِّقْهَا فَأَبَيْتُ فَأَتَى عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "طَلِّقْهَا" رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ::

۳۳۵- عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے. چه زما په نکاح کښے یوه ښځه وه. چه زما ډیره خوښه وه. مګر (زما د پلار) عمرؓ خوښه نۀ وه. نو ما ته ئے اووئیل، دے ته طلاق ورکړه. ما د طلاق ورکولو نه انکار اوکړو. نو دا خبره ئے نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ذکر کړله. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه طلاق ورکړه. (ابوداؤد و ترمذی) امام ترمذیؒ وائی دا حدیث حسن او صحیح دے.

۳۳۶- وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا أَتَاهُ فَقَالَ: إِنَّ لِي امْرَأَةً وَإِنَّ أُمِّي تَأْمُرُنِي بِطَلَاقِهَا؟ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "اَلْوَالِدُ أَوْسَطُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ فَإِنْ شِئْتَ فَأَضِعْ ذٰلِكَ الْبَابَ أَوِ احْفَظْهُ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ::

۳۳۶- د ابو درداءؓ نه روایت دے. چه یو کس راغے. او وے وئیل چه زما یوه ښځه ده مګر مور مے د هغے د طلاقو به باره کښے ما ته وینا کوی. نو د دے جواب کښے ابودرداءؓ حدیث د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته بیان کړو چه ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه آوریدلی دی. چه پلار ستا د پاره د جنت د مینځنی دروازے په شان دے. دا او ستا خوښه ده چه ضائع کوے ئے او که محفوظ ئے ساتے. (ترمذیؒ)

ترمذیؒ وائی چه دا حدیث حسن دے.

۳۳۷- وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلْخَالَةُ بِمَنْزِلَةِ الْأُمِّ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ مَشْهُوْرَةٌ: مِنْهَا حَدِيْثُ أَصْحَابِ الْغَارِ، وَحَدِيْثُ جُرَيْجٍ وَقَدْ سَبَقَا، وَأَحَادِيْثُ مَشْهُوْرَةٌ فِي الصَّحِيْحِ حَذَفْتُهَا اخْتِصَارًا وَمِنْ أَهَمِّهَا حَدِيْثُ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ الطَّوِيْلُ الْمُشْتَمِلُ عَلَى

۳۳۷- براء بن عازب رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. تروره هم پشان د مور ده. (ترمذی) دا صحیح حدیث دے. او د دے سلسله کښے نور هم صحیح او مشهور روایتونه بخاری کښے شته دے. لکه د غار والا حدیث، حدیث جریج چه مخکښے بیان شوی دی. او د اوږد والی نه بچ کیدو د پاره نور هم ډیر حدیثونه چه حذف موکړل، د دے نه د عمرو بن عنبسه رضی الله عنه روایت هم دے، چه ډیر اهم او کافی اوږد دے

جُمَلِ كَثِيْرَةٍ مِّنْ قَوَاعِدِ الْإِسْلَامِ وَ اٰدَابِهٖ وَسَاَذْكُرُهٗ بِتَمَامِهٖ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ تَعَالٰى فِىْ بَابِ الرَّجَاءِ قَالَ فِيْهِ: دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ يَعْنِىْ فِىْ اَوَّلِ النُّبُوَّةِ فَقُلْتُ لَهٗ: مَا اَنْتَ؟ قَالَ: "نَبِيٌّ" فَقُلْتُ: "مَا نَبِيٌّ؟" قَالَ: "اَرْسَلَنِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى" فَقُلْتُ: " بِاَيِّ شَيْءٍ اَرْسَلَكَ؟ قَالَ: "اَرْسَلَنِىْ بِصِلَةِ الْاَرْحَامِ وَ كَسْرِ الْاَوْثَانِ وَ اَنْ يُوَحَّدَ اللّٰهُ لَا يُشْرَكُ بِهٖ شَيْءٌ" وَذَكَرَ تَمَامَ الْحَدِيْثِ" وَ اللّٰهُ اَعْلَمُ ⁘

چه دَ اسلام قواعد او آداب او احکام هغې کښے بیان شوی دی۔ ان شاء الله پوره او مکمل روایت به آئنده "باب الرجاء" کښے بیان کړو۔ دغه روایت کښے دی۔ چه زهٔ دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ نبوت دَ زمانے په ابتداء کښے دَ هغهٔ خدمت کښے حاضر شوم۔ ما عرض اوکړو۔ تهٔ څوک ئے۔ هغهٔ اووئیل، نبی۔ ما اووئیل، دَ نبی څهٔ مطلب دے؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ الله تعالیٰ زهٔ رالیږلے یم۔ ما اووئیل تا ته ئے څهٔ څیز درکړے دے؟ هغهٔ اوفرمائیل چه زهٔ ئے دَ خپلولئ ساتلو او دَ بتانو دَ ماتولو حکم راکړے رالیږلے یم۔ او دَ دے دپاره چه الله یو اومنئ۔ او هغهٔ سره هیڅوک شریک جوړ نکړئ (بخاری) دغسے ئے پوره حدیث ذکر کړو۔

باب ۴۱

ف:۔ دے باب کښے درے قرآنی آیتونه او پنځه نبوی حدیثونه دی۔

بَابُ تَحْرِيْمِ الْعُقُوْقِ وَ قَطِيْعَةِ الرَّحِمِ!

دَ خپلولئ ختمولو او دَ مور او پلار دَ نافرمانئ دَ حراموالی بیان

(قرآنی آیتونه)

۱۲۹۔ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1]: " فَهَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ تَوَلَّيْتُمْ اَنْ تُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ وَتُقَطِّعُوْٓا اَرْحَامَكُمْ ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فَاَصَمَّهُمْ وَاَعْمٰٓى اَبْصَارَهُمْ"

۱۲۹۔ داخهٔ لرے خبره نهٔ ده۔ کهٔ تاسو ته حکومت ملاؤ شی نو ملک کښے به فساد پیدا کړئ او خپلولئ به ختمے کړئ۔ دا هغه خلق دی چه الله پرے لعنت اوکړو۔ او ړانده کانړهٔ ئے کړل۔ (پ ۲۶، محمد)

۱۳۰۔ وَقَالَ تَعَالٰى[2]: " وَ الَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ وَيَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ فِى الْاَرْضِ ۙ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ" ⁘

۱۳۰۔ څوک چه دَ الله تعالیٰ سره کړے پخه وعده ماتوی، دَ کومے چه دَ پاللو الله تعالیٰ حکم درکړے وو۔ نو دوئ هغه ختموی او ملک کښے فساد خوروی۔ داسے خلقو باندے دَ الله تعالیٰ لعنت دے۔ او دَ هغوئ دَ اوسیدو ځائے ډیر خراب دے۔ (پ ۱۳، رعد)

۱۳۱۔ وَقَالَ تَعَالٰى[3]: "وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَ بِالْوَالِدَيْنِ

۱۳۱۔ ستا سو رب حکم کړے دے۔ چه دَ هغهٔ نه سِوا دَ بل چا عبادت مه کوئ۔

---

[1] سورة محمد ایة ۲۲، ۲۳ [2] سورة الرعد ایة ۲۵ [3] سورة الاسراء ایة ۲۳، ۲۴ ⁘

إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا ۝ وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِيْ صَغِيْرًا" ؛

او مورا و پلار سره نیکي کوئ - که دوئ دواړو کښې دواړه یا یوکس بوډا شو، نو اُف قدرې ورته هم مهٔ کوه او مهٔ ئې رټئ. هغوئ سره په ادب او د عزت خبرے کوه. او د عاجزئ او نرمئ سلوک ورسره کوئ. او د هغوئ دپاره دُعا غواړه چه اے ربه! څنګه چه دوئ څما په وړوکوالی کښې (شفقت سره) پالنه کړې ده - دغسې ته هم د دوئ په حال رحم اوکړه - (پ۱۵، اسراء)

(نبوی حدیثونه)

۳۳۸- وَعَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ نُفَيْعِ بْنِ الْحَارِثِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ؟ ثَلَاثًا قُلْنَا: بَلٰى يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ: الْإِشْرَاكُ بِاللهِ، وَعُقُوْقُ الْوَالِدَيْنِ" وَكَانَ مُتَّكِئًا فَجَلَسَ فَقَالَ: "أَلَا وَ قَوْلُ الزُّوْرِ وَشَهَادَةُ الزُّوْرِ فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا حَتّٰى قُلْنَا لَيْتَهُ سَكَتَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۳۳۸- ابوبکر نفیع بن حارث رضؓ نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - آیا زهٔ تاسو ته د ټولو نه دړے غټ ګناهونه اونهٔ ښایم موښ. اووئیل یا رسول الله! ضرور اوښایئ نبی کریم صَلَّی الله علیه وسلم اوفرمائیل، الله تعالیٰ سره څوک شریک جوړول. د مُورا و پلار نا فرمانی کول، هغه وخت هغوئ ډډه وهلې وه. اوبیا کیناستو، وے فرمائیل - غوږ سره ئے واورئ چه دروغ خبره او د دروغو ګواهی - او دائے دومره بار بار اوفرمائیله چه موښ دا اوغوښتل چه کاش دوئ سکوت اوفرمائی - (بخاری ومسلم)

۳۳۹- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو ابْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: الْكَبَائِرُ الْإِشْرَاكُ بِاللهِ، وَعُقُوْقُ الْوَالِدَيْنِ، وَقَتْلُ النَّفْسِ، وَالْيَمِيْنُ الْغَمُوْسُ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ،

"الْيَمِيْنُ الْغَمُوْسُ" الَّتِيْ يَحْلِفُهَا كَاذِبًا عَامِدًا سُمِّيَتْ غَمُوْسًا لِأَنَّهَا تَغْمِسُ الْحَالِفَ فِي الْإِثْمِ ؛

۳۳۹- عبدالله بن عمرو بن عاصؓ نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبرے د غټې ګناه په طور اوښوو (۱) د الله سره شریک جوړول (۲) د مورا و پلار نا فرمانی کول (۳) خپل ځان وژل یا بل ناحقه وژل (۴) قصدًا دروغ وئیل (بخاری)

یَمِیْنُ الْغُمُوْسِ: دے ته غموس قسم ځکه وائی چه قسم سره سره دے پیژنی چه دا خبره دروغ ده - د دے قسم ګناه دومره ډیره ده چه سړے پکښې بالکل ډوب شی -

۳۴۰- وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مِنَ الْكَبَائِرِ شَتْمُ الرَّجُلِ وَالِدَيْهِ" قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ

۳۴۰- عبدالله بن عمرو بن عاصؓ نه دا روایت هم نقل شوے دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - په

اللهِ وَهَلْ يَشْتِمُ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ؟ قَالَ: نَعَمْ "يَسُبُّ أَبَا الرَّجُلِ فَيَسُبُّ أَبَاهُ وَيَسُبُّ أُمَّهُ فَيَسُبُّ أُمَّهُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ "إِنَّ مِنْ أَكْبَرِ الْكَبَائِرِ أَنْ يَلْعَنَ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ:" قِيْلَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ يَلْعَنُ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ؟: قَالَ: "يَسُبُّ أَبَا الرَّجُلِ فَيَسُبُّ أَبَاهُ وَيَسُبُّ أُمَّهُ فَيَسُبُّ أُمَّهُ":

غټو گناهونو کښې یوه دا هم ده چه سړے خپل مور او پلار ته کنځل کوی. صحابه و رض حیرانتیا سره پوښتنه اوکړه. یا رسول الله! خپل مور او پلار ته هم څوک کنځل کولے شی؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: هو. او هغه داسے چه یو کس بل چا ته دَ مور او پلار کنځل اوکړی، نو هغه بل به هم جواب کښې ورته دغسے دَ مور او پلار کنځل اوکړی (یعنی خپل مور او پلار ته دَ کنځلو کولو سبب هم دا جوړ شو. دَ بل کنځل دَ دهٔ پلار او مور ته داسے دی لکه چه پخپله ئے ورته کړی وی. چه دَ هغې خبرے پاک خلق تصور او خیال هم نشی کولے. نن مونږ ښکاره په خپلو سترګو وینو. چه اولاد دَ خپل پلار او مور سره بد سلوک کوی او ښکاره مخامخ ورته کنځل هم کوی. او آزار ترے هم اخلی. دَدے نه څوک انکار کولے شی.) (بخاری ومسلم) یو روایت کښې داسے هم راغلی دی. چه غټو غټو گناهونو کښې یوه گناه مور او پلار باندے لعنت وئیل هم دی. صحابو رض عرض اوکړو یا رسول الله: څوک به داسے وی چه په خپل مور او پلار باندے به لعنت اوکړی؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه څوک دَ چا پلار یا مور باندے لعنت وائی یا کنځل کوی. نو هغه بل کس هم هغسے لعنت یا کنځل کوی.

۳۴۱- وَعَنْ أَبِيْ مُحَمَّدٍ جُبَيْرِ ابْنِ مُطْعِمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ" قَالَ سُفْيَانُ فِيْ رِوَايَتِهٖ يَعْنِيْ قَاطِعُ رَحِمٍ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ:

۳۴۱- ابو محمد جُبیر بن مطعم رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. خپلولی ختمونکی به جنت ته نشی داخلیدے. او دَ سفیان په روایت کښې "قَاطِعُ رَحِمٍ" (یعنی رشته داری خپلولی ختمونکے) الفاظ هم راغلی دی. (بخاری ومسلم)

۳۴۲- وَعَنْ أَبِيْ عِيْسَى الْمُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ اللهَ تَعَالَى حَرَّمَ عَلَيْكُمْ عُقُوْقَ الْأُمَّهَاتِ، وَمَنْعًا وَّهَاتِ. وَوَأْدَ الْبَنَاتِ، وَكَرِهَ لَكُمْ قِيْلَ وَقَالَ، وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ، وَإِضَاعَةَ الْمَالِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ،

قَوْلُهٗ "مَنْعًا" مَعْنَاهُ: مَنْعُ مَا وَجَبَ عَلَيْهِ. وَهَاتِ" طَلَبُ مَا لَيْسَ لَهٗ" وَوَأْدُ الْبَنَاتِ" مَعْنَاهُ: دَفْنُهُنَّ فِي الْحَيَاةِ.

۳۴۲- ابوعیسیٰ مغیره بن شعبه رضی الله عنه وائی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه الله تعالیٰ یو څو خبرے په تاسو حرامے کړی دی. (۱) دَ مورنا فرمانی کول (۲) شومتیا کول (۳) په ناحقه مال اخستل (۴) جینکئ ژوندئ ښخول. او دا یو څو خبرے ئے تاسو له ناخوښے گرځولی دی. یعنی دَ الله خوښے نهٔ دی. ۱ فالتو خبرے کول ۲ ډیر سوال کول (لکه دَ پیشه گر دَ غونته) ۳ مال فضول خرابول. (بخاری ومسلم)

"وَقِيْلَ وَقَالَ" مَعْنَاهُ: اَلْحَدِيْثُ بِكُلِّ مَا يَسْمَعُهُ فَيَقُوْلُ قِيْلَ كَذَا وَقَالَ فُلَانٌ كَذَا مِمَّا لَا يَعْلَمُ صِحَّتَهُ وَلَا يَظُنُّهَا وَكَفٰى بِالْمَرْءِ كَذِبًا اَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ. "وَاِضَاعَةُ الْمَالِ" تَبْذِيْرُهُ وَصَرْفُهُ فِيْ غَيْرِ الْوُجُوْهِ الْمَاذُوْنِ فِيْهَا مِنْ مَقَاصِدِ الْاٰخِرَةِ وَالدُّنْيَا وَتَرْكُ حِفْظِهِ مَعَ اِمْكَانِ الْحِفْظِ. وَ"كَثْرَةُ السُّؤَالِ" اَلْاِلْحَاحُ فِيْمَا لَا حَاجَةَ اِلَيْهِ وَفِي الْبَابِ اَحَادِيْثُ سَبَقَتْ فِي الْبَابِ قَبْلَهُ كَحَدِيْثِ: وَاَقْطَعُ مَنْ قَطَعَكِ" وَحَدِيْثُ: "مَنْ قَطَعَنِيْ قَطَعَهُ اللّٰهُ":

مَنْعًا: پهٔ دهٔ واجب څيزونه نهٔ ورکول. هَاتِ: کوم څيز چه دَ دهٔ نهٔ وي هغه غوښتل. "وَاْدُ الْبَنَاتِ": جينکئ ژوندئ ښخول. "قِيْلَ وَقَالَ": چه څهٔ واوري، سمدستي ئے بل ته وائي چه داسے ئے اووئيل او داسے اوريدلے شوي دي، فلانکي داسے وئيلي دي. نهٔ ورته دَ هغے خبرے دروغ رښتيا ؤ تحقيق وي او نهٔ ورته دَ صحيح خبرے پته وي. او نهٔ ورته دا معلومه وي چه ويونکے معتبر او اعتباري سړے دے يا هسے ګپي دے. بس دَ يو کس دپاره دا دروغ ډير دي چه څهٔ واوري او بغير دَ تحقيق نه ئے بل ته کوي.

اِضَاعَةُ الْمَالِ: يعني شريعت کښے چه کوم ځائے کښے دَ خرچ کولو اجازت نهٔ وي، هلته خرچ کول، مال ضائع کولو کښے شمار کولے شي. مثلاً بنګلے، کوټے، کوژدن، واده او دَ غم پهٔ رسمونو رواجونو کښے بے اندازے خرچ کول، ځان ښودلو دپاره کول، يا خپل مطلب حاصلولو پوره کولو دپاره استقبالئے او پارټيانے وغيره کول، دَ مال دَ حفاظت کولو قدرت او وس ئے وي بيا هم دَ مال حفاظت نهٔ کول، دَ مال ضائع کولو يو صورت او شکل دے.

كَثْرَةُ السُّؤَالِ: خامخا منت او زاري کول عاجزي کول دَ غريبئ شکل جوړول او خپل عزت خرابول او داسے انداز او چل اختيارول چه بنيادم ډيرے شرميدلے ښکاري. دا غوښتل او سوال دے. دے سلسله کښے مخکښے باب کښے هم احاديث تير شوي دي. لکه "اَقْطَعُ مَنْ قَطَعَكِ" او "مَنْ قَطَعَنِيْ قَطَعَهُ اللّٰهُ" يعني دَ الله تعالیٰ دا قول چه "څوک، اے رشتے تا ختموي، زهٔ به ئے کټ کړم" يا دَ رَحِم خپلولئ والا حديث دے چه "څوک ما کټ کوي - نو الله به ئے کټ کړي"

باب ۴۲

ف ۱- دا باب دَ قرآني آياتونو نه خالي دے. صرف پنځه حديثونه پکښے دي - حمونږ دَ مدني ژوندون خوشحالي پهٔ خپل مينځ کښے پهٔ ښهٔ تعلقات تيرولو باندے موقوف او تړلے دے. رشته او خپلولي خو کله کله دَ شرم او لحاظ نه هم پناه ورکوي. او دَ خپل ضرورت ما تحت هم دَ دغے رشتو سره وخت نا وخت تړل کيږي. دَ الله تعالیٰ او دَ رسول سره خلوص، پهٔ هغے باندے دَ عمل کولو دَ جذباتو صحبت، غير متعلق افرادو سره حسنِ سلوک کولو سره پهٔ ښهٔ شان واضحه کيږي.

بَابُ فَضْلِ بِرِّ اَصْدِقَاءِ الْاَبِ وَالْاُمِّ وَالْاَقَارِبِ وَالزَّوْجَةِ وَسَائِرِ مَنْ يُنْدَبُ

دَ مور او پلار دوستانو سره دَ ښيګړے فضيلت او خپلو خپلوانو سره، ښځے سره او نورو هغه خلقو

اکْرَامُهٗ!

سره ښیګړه کول چه دَ چا اکرام او عزت کول مستحب دی۔

(نبوی حدیثونه)

۳۴۳- عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ أَبَرَّ الْبِرِّ أَنْ يَصِلَ الرَّجُلُ وُدَّ أَبِيهِ [1]" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۳۴۳- عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه دَ ټولو نه ښه نیکي دا ده، چه سړے دَ پلار دوستانو سره ښهٔ سلوک اوکړي۔ (مسلم)

۳۴۴- عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَجُلًا مِّنَ الْأَعْرَابِ لَقِيَهُ بِطَرِيقِ مَكَّةَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ وَحَمَلَهُ عَلَى حِمَارٍ كَانَ يَرْكَبُهُ وَأَعْطَاهُ عِمَامَةً كَانَتْ عَلَى رَأْسِهِ قَالَ ابْنُ دِينَارٍ فَقُلْنَا لَهُ: أَصْلَحَكَ اللّٰهُ إِنَّهُمُ الْأَعْرَابُ وَهُمْ يَرْضَوْنَ بِالْيَسِيرِ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ عُمَرَ: إِنَّ أَبَا هٰذَا كَانَ وُدًّا لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ أَبَرَّ الْبِرِّ صِلَةُ الرَّجُلِ أَهْلَ وُدِّ أَبِيهِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۳۴۴- عبدالله بن دینار رحمة الله علیه وائي۔ چه دَ مکے په لاره کښے دَ عبدالله بن عمرؓ ملاقات یو باندچي سړي سره اوشو۔ عبدالله رضؓ هغهٔ ته سلام اوکړو۔ او خپل خر باندے ئې هغه سور کړو۔ او دَ تحفے په طور ئې ورته هغه پټکے ورکړو چه دَ سر ښائست ئې وُو۔ ابن دینارؒ وائي۔ چه ما عبدالله رضؓ ته اووئیل۔ الله تعالیٰ دِ تا ښهٔ کړي۔ دا دَ باندے خلق خو ډیر ساده وی۔ معمولی غونته هدیئے سره هم خوشحالیږی (دومره ډیر خیز دِ ولے ورکړلو) نو عبدالله بن عمر رضی الله عنهما اوفرمائیل۔ چه دَ دے سړي پلار څما دَ پلار دوست وو۔ او ما پخپله دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیلے آوریدلی دی چه دَ خیر او ښیګړے په کارونو کښے دَ ټولو نه غټ دَ خیر او ښیګړے کار دا دے چه څوک دَ خپل پلار دَ دوستانو سره ښهٔ سلوک کوی۔ (مسلم)

۳۴۵- عَنْ ابْنِ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا خَرَجَ إِلَى مَكَّةَ كَانَ لَهُ حِمَارٌ يَتَرَوَّحُ عَلَيْهِ [2]: إِذَا مَلَّ رُكُوبَ الرَّاحِلَةِ وَعِمَامَةٌ يَشُدُّ بِهَا رَأْسَهُ فَبَيْنَا هُوَ يَوْمًا عَلَى ذٰلِكَ الْحِمَارِ إِذْ مَرَّ بِهِ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ: أَلَسْتَ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ؟ قَالَ: بَلَى فَأَعْطَاهُ الْحِمَارَ فَقَالَ ارْكَبْ، هٰذَا وَأَعْطَاهُ

۳۴۵- ابن دینار رحمة الله علیه نه یو روایت دَ عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه داسے هم شته۔ چه ابن عمر رضی الله عنهما سره یو خر وو۔ کله به چه مکے ته په سفر کولو اوښ باندے سترمانه شو۔ نو دَ دے دپاره به په خر سوریدلو۔ او دغه وخت به ئې په سر پټکے تړلو۔ دَ عادت مطابق دَ مکے دَ سفر په وخت خپل خر باندے سور روان وو۔ چه لاره کښے ورته اعربي باندچي ملاؤ شو۔ نو هغهٔ ترے پوښتنه اوکړه

---

[1] "ودابیه" بضم الواو و تشدید الدال المهملة: ای حبه [2] "یتروح" بتشدید الواو: ای یستریح علیه" اذا مل "ای سئم رکوب الراحلة من الابل،

اَلْعَمَامَةَ وَقَالَ: اشْدُدْ بِهَا رَأْسَكَ فَقَالَ لَهُ بَعْضُ أَصْحَابِهِ غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ أَعْطَيْتَ هٰذَا الْأَعْرَابِيَّ حِمَارًا كُنْتَ تَرَوَّحُ عَلَيْهِ وَعِمَامَةً كُنْتَ تَشُدُّ بِهَا رَأْسَكَ؟ فَقَالَ: إِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ مِنْ أَبَرِّ الْبِرِّ أَنْ يَصِلَ الرَّجُلُ أَهْلَ وُدِّ أَبِيْهِ بَعْدَ أَنْ يُوَلِّيَ له" وَإِنَّ أَبَاهُ كَانَ صَدِيْقًا لِعُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رَوٰى هٰذِهِ الرِّوَايَاتِ كُلَّهَا مُسْلِمٌ ⁘

چه ته د فلانکي د فلانکي ځوئ نهٔ ئې؟ هغهٔ اووئیل، هو جی. هم هغه یم - نو هغه خر ئې هغهٔ ته ورکړو - چه په دې خر سورشه او دخپل سر نه ئې پګړئ کوزه کړه او هغهٔ ته ئې اووئیل. چه داخپل سر باندې او تړه. بیا ورته د سفر یو ملګری اووئیل. الله د اوبښه - تا دې بانړه چی ته خپل خر ورکړو - چه دا ستا د سورلئ د پاره وو - او هغه پګړئ خوستا د تړنو د پاره وه! دا د ولې ورکړل؟) نو عبدالله رض اوفرمائیل. چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا سې فرمائیلے آوریدلی دی. چه د ټولو نه غټه نیکی د پلار د مرګ نه پس، د هغهٔ دوستانو سره ښهٔ سلوک کول دی - او د دې سړی پلار د حضرت عمر رض دوست وُو - دا روایتونه ټول د مسلم شریف دی -

۳۴۶ - وَعَنْ أَبِيْ أُسَيْدٍ" بِضَمِّ الْهَمْزَةِ وَفَتْحِ السِّيْنِ "مَالِكِ بْنِ رَبِيْعَةَ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: بَيْنَا نَحْنُ جُلُوْسٌ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَآءَهُ رَجُلٌ مِّنْ بَنِيْ سَلِمَةَ فَقَالَ، يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هَلْ بَقِيَ مِنْ بِرِّ أَبَوَيَّ شَيْءٌ أَبَرُّهُمَا بِهِ بَعْدَ مَوْتِهِمَا؟ فَقَالَ: "نَعَمْ الصَّلٰوةُ عَلَيْهِمَا عه وَالْاِسْتِغْفَارُ لَهُمَا وَإِنْفَاذُ عَهْدِهِمَا مِنْ بَعْدِهِمَا، وَصِلَةُ الرَّحِمِ الَّتِيْ لَا تُوْصَلُ إِلَّا بِهِمَا وَإِكْرَامُ صَدِيْقِهِمَا" رَوَاهُ أَبُوْ دَاؤُدَ ⁘

۳۴۶ - ابواُسید مالک بن ربیعه ساعدی رضی الله عنه نه روایت دې. چه مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مجلس کښې ناست وو - د غه وخت کښې د بنوسلمه قبیلې یو سړې راغې - او وې وئیل، یا رسول الله! چه د مور او پلار د مرګ نه پس د هغوئ بکار راتلونکې نیکی داسې شته؟ چه زهٔ ئې اوکړم (چه د هغوئ بکار راشی)، نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل هو. د هغوئ د پاره دُعا غواړه - او ښښنه ورله غواړه - او هغوئ چه چا سره څهٔ وعده یا لوظ کړې وی او پوره کړې ئې نهٔ وی، نو هغه پوره کړه - او د هغوئ په وجه چه ستا چا سره څهٔ رشته داری او خپلولی ده. هغوئ سره ښهٔ سلوک ساته - او د هغهٔ د دوستانو سره ښهٔ عزت او اکرام سره ملاویږه (دا داسې کارونه دی چه ته ئې کوې نو هغوئ ته اجر او ثواب ملاویږی) (ابوداؤد)

۳۴۷ - وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: مَا غِرْتُ عَلٰى أَحَدٍ مِّنْ نِّسَآءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا غِرْتُ عَلٰى خَدِيْجَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وَمَا رَأَيْتُهَا قَطُّ وَلٰكِنْ كَانَ يُكْثِرُ ذِكْرَهَا

۳۴۷ - حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی. چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په بيبيانو کښې ما ته په یوه بی بی هم دومره غیرت نهٔ راتلو لکه څومره چه په حضرت خدیجة الکبری رض باندې راتلو. ما بالکل لیدلې هم نهٔ وه. مګر هغه به رسول الله ډیره

له بعد بضم التحتية وتشديد اللام المكسورة. اي بعد ان يموت عه اي الدعاء لهما ⁘

وَرُبَّمَا ذَبَحَ الشَّاةَ ثُمَّ يُقَطِّعُهَا أَعْضَاءً ثُمَّ يَبْعَثُهَا فِي صَدَائِقِ خَدِيْجَةَ فَرُبَّمَا قُلْتُ لَهُ: كَانَ لَمْ يَكُنْ فِي الدُّنْيَا امْرَأَةٌ إِلَّا خَدِيْجَةَ فَيَقُوْلُ: "إِنَّهَا كَانَتْ وَكَانَتْ[1] وَكَانَ لِي مِنْهَا وَلَدٌ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ: وَإِنْ كَانَ لَيَذْبَحُ الشَّاةَ فَيُهْدِي فِي خَلَائِلِهَا[2] مِنْهَا مَا يَسَعُهُنَّ. وَفِي رِوَايَةٍ: كَانَ إِذَا ذَبَحَ الشَّاةَ يَقُوْلُ: "أَرْسِلُوْا بِهَا إِلَى أَصْدِقَاءِ خَدِيْجَةَ". وَفِي رِوَايَةٍ قَالَتْ: اسْتَأْذَنَتْ هَالَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ أُخْتُ خَدِيْجَةَ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَرَفَ اسْتِئْذَانَ خَدِيْجَةَ[3] فَارْتَاحَ لِذٰلِكَ فَقَالَ: "اللّٰهُمَّ هَالَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ". قَوْلُهَا "فَارْتَاحَ" هُوَ بِالْحَاءِ وَفِي الْجَمْعِ بَيْنَ الصَّحِيْحَيْنِ لِلْحُمَيْدِيِّ "فَارْتَاعَ" بِالْعَيْنِ وَمَعْنَاهُ اهْتَمَّ بِهِ.

یا دوله. کله به چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم بیزه حلالوله، نو د هغې ملګرو ته به ئې هم غوښه لیږله. داسے ما ډیر وارې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وئیلي وو چه داسے معلومیږي چه دُنیا کښے بغیر د خدیجې رض نه بله ښځه د ذکر قابله نشته. بیا رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل هغه داسے او داسے وه. او د هغې نه الله تعالی ماله اولاد هم راکړے وو. (بخاري ومسلم)

یو بل روایت کښے داسے دی. چه کله به هغوی بیزه حلاله کړله، نو د هغې ملګرو له به ئے دومره لیږله چه د هغوی دپاره به کافي وه.

یو بل روایت کښے داسے راغلي دي، چه کله به ئے بیزه حلاله کړله، نو وئیل به ئے چه د خدیجې رض ملګرو ته دا اولیږئ.

یو بل روایت کښے داسے هم راغلي دي، چه د خدیجې رض خور هاله بنت خویلد رض د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے د حاضریدو اجازت اوغوښتلو، نو هغوی ته داسے محسوسه شوه لکه چه خدیجې رض اجازت غوښتلے وی. نبي کریم صلی الله علیه وسلم دغه وخت خیال کښے څه ساعت غلے وو. بیائے اووئیل اوهو. دا خو هاله بنت خویلد رض ده. "فَارْتَاحَ" و "فَارْتَاعَ" یعني مضطرب. او تر. پریشانه. سوچ کونکے. د حمیدي کتاب "جمع بین الصحیحین" کښے داسے راغلي دي او "فَارْتَاحَ" معنی سوچ، آرام، غلے کیدل.

٣٤٨ - وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: خَرَجْتُ مَعَ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْبَجَلِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي سَفَرٍ فَكَانَ يَخْدُمُنِي[4] فَقُلْتُ لَهُ: لَا تَفْعَلْ فَقَالَ: إِنِّي قَدْ رَأَيْتُ الْأَنْصَارَ تَصْنَعُ بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا آلَيْتُ عَلَى نَفْسِي أَنْ لَا أَصْحَبَ أَحَدًا مِنْهُمْ إِلَّا خَدَمْتُهُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۳۴۸ - انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے. چه زهٔ یو وارے د جریر بن عبدالله بجلي رضي الله عنه سره په سفر لاړم. سره د دے چه عمر کښے زهٔ کشر هم ووم. خو څما (خاطراو) خدمت به ئے کولو. نو ما هغهٔ ته اووئیل، چه داسے به نهٔ کوے. نو هغهٔ اووئیل، چه ما انصار رض د رسول کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت ډیر ډیر لیدلی دی. د هغې نه پس ما قسم خوړلے دے. کهٔ زهٔ چرے انصارو کښے چا سره ملګرے شوم، نو زهٔ به ئے خامخا خدمت کوم. (بخاري ومسلم)

---

[1] ای یثنی علیها بافعالها، وکان لی منها ولده بفتح الواو واللام: ای اولاد [2] جمع خلیلة وهی الصدیقة [3] ای تذکر خدیجة لان نغمتها تشبه نغمة خدیجة "فارتاح لذلک" ای هش لمحبتها وسربه لتذکرة بها خدیجة ویامها صلی الله علیه وسلم [4] ای وهو اسن منی. وقوله "شیئا" ای عظیما لا تفی العبارة بتفصیله. وقوله "آلیت" ای اقسمت "الا اصحب احدا منهم الاخدمته" اکراما للنبی [illegible]

باب ۴۳

ف:- دے باب کښے دوه قرآنی آیتونه او دوه نبوی حدیثونه دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د تعلق او مینے تقاضا دا ده چه هر مسلمان دِ هغهٔ سره مینه کوی چه هغوئ ته خوښ وی. خپل اهل بیتو سره چه د هغهٔ کومه مینه او تعلق وو. د حدیثونو په ذخیره کښے د هغے نښے نښانے ملاویږی. په دے وجه علماؤ د اهل بیتو سره مینه، عزت او ادب د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره د مینے، عزت او ادب مرادف ښودلے دے، د قرآن او حدیث له مخه د اهل بیتو اوّل مصداق ازواج مطهرات رضی الله عنهن دی. او د نبوت په خاندان کښے هغه اولاد هم اهل بیت دی. چا دپاره چه زکوٰة حرام شوے وو. لکه چه د دے باب په اول حدیث کښے ذکر کړے شوی دی.

بَابُ اِکْرَامِ اَهْلِ بَیْتِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَبَیَانِ فَضْلِهِمْ

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اهل بیتو عزت کول او د هغوئ د فضیلتونو او مناقبو بیان.

(قرانی ایتونه)

۱۳۲- قَالَ اللّٰهُ تَعَالیٰ[1]: "اِنَّمَا یُرِیْدُ اللّٰهُ لِیُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ[2] اَهْلَ الْبَیْتِ وَیُطَهِّرَكُمْ تَطْهِیْرًا" ؞

۱۳۲- اے د رسول الله اهل بیتو! الله تعالیٰ غواړی چه تاسو نه د بدیٔ (خیرے میرے) لرے کړی. او تاسو پاک او صفا کړی. (پ۲۲، احزاب)

۱۳۳- وَقَالَ تَعَالیٰ[3]: "وَمَنْ یُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَی الْقُلُوْبِ" ؞

۱۳۳- د الله تعالیٰ د مقرر کړو ادب والا څیزونو چه څوک عزت کوی. نو دا د زړونو پرهیزګاری ده. (پ۱۷، حج)

(نبوی حدیثونه)

۳۴۹- وَعَنْ یَزِیْدَ بْنِ حَیَّانَ قَالَ: انْطَلَقْتُ اَنَا وَحُصَیْنُ بْنُ سَبْرَةَ وَعَمْرُو بْنُ مُسْلِمٍ اِلٰی زَیْدِ بْنِ اَرْقَمَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ فَلَمَّا جَلَسْنَا اِلَیْهِ قَالَ لَهٗ حُصَیْنٌ: لَقَدْ لَقِیْتَ یَا زَیْدُ خَیْرًا کَثِیْرًا رَاَیْتَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَسَمِعْتَ حَدِیْثَهٗ وَغَزَوْتَ مَعَهٗ وَصَلَّیْتَ خَلْفَهٗ؛ لَقَدْ لَقِیْتَ یَا زَیْدُ خَیْرًا کَثِیْرًا حَدِّثْنَا یَا زَیْدُ مَا سَمِعْتَ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: یَا ابْنَ اَخِیْ وَاللّٰهِ لَقَدْ کَبِرَتْ سِنِّیْ وَقَدُمَ عَهْدِیْ

۳۴۹- یزید بن حیان رحمة الله علیه وائی. چه زهٔ او حصین بن سَبْره او عمرو بن مسلم، زید بن ارقم رض ته لاړو. کله چه موږ کیناستو نو حصین اووئیل. اے زید رض! تا خو ډیر لوئے دولت موندلے دے. ښکه چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دِ لیدلے دے. د هغهٔ خبرے دِ آوریدلے دی. او غزاګانو کښے ورسره شریک شوے هم ئے. او مونځونه دِ ورپسے هم کړی دی. اے زید رض! تا خو لوئے عزت او شرافت حاصل کړے دے. د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه تا څهٔ آوریدلی دی، موږ ته هم څهٔ واوروه. نو زید بن ارقم رض اووئیل. اے وراره!

---

[1] سورة الاحزاب آیه ۳۳ [2] الرجس، الاثم والذنب [3] سورة الحج آیة ۳۲ [4] ای احفظ

وَنَسِيْتُ بَعْضَ الَّذِيْ كُنْتُ اَعِيْ[50]
مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فَمَا حَدَّثْتُكُمْ فَاقْبَلُوْا وَمَالَا فَلَا
تُكَلِّفُوْنِيْهِ ثُمَّ قَالَ: قَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فِيْنَا خَطِيْبًا

واﷲ! زۀ خو بوډا شوے يم. ځما دور هم تير شوے دے (حافظه او ياد داشت م کمزورے شوے دے په دے وجه) ما ته چه څينے کومے خبرے ياد دے دے نو هغه رانه هيرے شوے دی. کومے خبرے چه تاسو ته اوروم هغه قبولے کړئ. او کومے چه او نه بنايم

بِمَاءٍ يُدْعٰى خُمًّا[51] بَيْنَ مَكَّةَ وَ
الْمَدِيْنَةِ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَاَثْنٰى عَلَيْهِ
وَوَعَظَ وَذَكَّرَ ثُمَّ قَالَ: "اَمَّا بَعْدُ
اَلَا اَيُّهَا النَّاسُ فَاِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ
يُوْشِكُ[52] اَنْ يَّاْتِيَ رَسُوْلُ رَبِّيْ
فَاُجِيْبَ وَاَنَا تَارِكٌ فِيْكُمْ ثَقَلَيْنِ[53]
اَوَّلُهُمَا كِتَابُ اللّٰهِ فِيْهِ الْهُدٰى وَ
النُّوْرُ فَخُذُوْا بِكِتَابِ اللّٰهِ وَاسْتَمْسِكُوْا
بِهٖ" فَحَثَّ عَلٰى كِتَابِ اللّٰهِ وَرَغَّبَ
فِيْهِ ثُمَّ قَالَ "وَاَهْلُ بَيْتِيْ اُذَكِّرُكُمُ
اللّٰهَ فِيْ اَهْلِ بَيْتِيْ" فَقَالَ لَهٗ حُصَيْنٌ:
وَمَنْ اَهْلُ بَيْتِهٖ يَا زَيْدُ اَلَيْسَ نِسَآؤُهٗ
مِنْ اَهْلِ بَيْتِهٖ؟ قَالَ: نِسَآؤُهٗ مِنْ
اَهْلِ بَيْتِهٖ وَلٰكِنْ اَهْلُ بَيْتِهٖ مَنْ حُرِمَ
الصَّدَقَةَ بَعْدَهٗ قَالَ: وَمَنْ هُمْ؟
قَالَ: هُمْ اٰلُ عَلِيٍّ وَّاٰلُ عَقِيْلٍ وَّ
اٰلُ جَعْفَرٍ وَّاٰلُ عَبَّاسٍ قَالَ. كُلُّ
هٰؤُلَآءِ حُرِمَ الصَّدَقَةَ؟ قَالَ: نَعَمْ،
رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِيْ رِوَايَةٍ: "اَلَا وَ
اِنِّيْ تَارِكٌ فِيْكُمْ ثَقَلَيْنِ: اَحَدُهُمَا
كِتَابُ اللّٰهِ وَهُوَ حَبْلُ اللّٰهِ، مَنِ اتَّبَعَهٗ
كَانَ عَلَى الْهُدٰى وَمَنْ تَرَكَهٗ كَانَ
عَلٰى ضَلَالَةٍ":

دَ هغے په بنودلو اصرار مۀ کوئ. بيائے اووئيل چه دَ مکے او مدينے ترمينځ يو تالاب او چينه وه چه "خم" نامه ئے وه. رسول اﷲ صلی اﷲ عليه وسلم هلته څمونږ ترمينځ او دريد لو او خطبه ئے اوفرمائيله او دَ ثنا صفت او دَ نصيحت نه پس ئے اوفرمائيل. واورئ اے خلقو! زۀ هم يو انسان يم. ډير زر به ماله دَ رب له خوا يو قاصد راشی، چه زۀ به هغه قبول کړم. زۀ به تاسو ته دوه زبردست لوئے شان والا څيزونه پريښودلو سره تلونکے يم. دَ هغے نه يو دَ اﷲ تعالیٰ کتاب قرآن مجيد دے. چه هغے کښے هدايت هم دے او هدايت طرف ته لار ښودنه هم ده. پس دَ اﷲ تعالیٰ کتاب واخلئ او مضبوط ئے اونيسئ. دے سلسله کښے هغوی په کتاب اﷲ باندے دَ تيزئ او ترغيب ورکولو نه پس اوفرمائيل چه دويم څيز ځما اهل بيت دے. دے معامله کښے تاسو ته اﷲ تعالیٰ ياد دوم. (يعنی ځما اهل بيتو سره ښيګړه اوکړئ هيرے ئے نه کړئ) حصين اووئيل چه اهل بيت څوک دی؟ آيا بيبيانے اهل بيت نه دی؟ نو زيد بن ارقم رضی اﷲ عنه اووئيل، دَ هغوی ازواج مطهرات خو اهل بيت دی. ليکن (دلته مراد دَ اهل بيتو نه هغه دی) چه هغوئ باندے دَ رسول اﷲ صلی اﷲ عليه وسلم نه پس (واجبه) صدقه (او زکوٰة) حرام شوے وو. حصين رحمة اﷲ عليه اووئيل، دا څوک دی؟ زيد رضی اﷲ عنه اووئيل، آل علی رضی اﷲ عنه، آل عقيل، آل جعفر او آل عباس رضی اﷲ عنهم دي. حصين ترے تپوس اوکړو. آيا دے ټولو باندے صدقه کول حرام دہ؟

---

[51] "خما" بضم المعجمة وتشديد الميم [52] "يوشك" بضم التحتية وكسر الشين المعجمة: اى يقرب [53] "ثقلين" بفتح المثلثة والقاف سميا ثقلين لعظمها وكبر شانهما.

زید رضی الله عنه اووئیل .هو - (مسلم)

دَ مسلم په یو روایت کښے داسے دی - چه خبردار! تاسو ته یو دوه داسے زبردست څیزونه ښودلو سره درته تلونکے یم - یو دَ الله کتاب دے .چه دا دَ الله رسئ ده - څوک چه ئے تابعداری کوی، هدایت به بیامومی. او څوک چه ئے پریږدی نو ګمراهئ او بے دینئ کښے به پریوځی - (مسلم)

۳۵۰- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنْ اَبِىْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مَوْقُوْفًا عَلَيْهِ اَنَّهُ قَالَ: اُرْقُبُوْا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِىْ اَهْلِ بَيْتِهِ رَوَاهُ الْبُخَارِىُّ.

مَعْنَى "اُرْقُبُوْهُ" رَاعُوْهُ وَاحْتَرِمُوْهُ وَاَكْرِمُوْهُ، وَاللهُ اَعْلَمُ ::

۳۵۰- عبدالله بن عمر رضی الله عنهما دَ ابوبکر رض دا قول نقل کړے دے چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ اهل بیتو عزت او احترام کولو سره دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم عظمت او عزت برقرار اوساتئ - (بخاری)

اُرْقُبُوْا: رعایت او خیال اوساتئ .عزت ئے اوکړئ - تعظیم ئے اوکړئ .

باب ۴۳

ف:- دے باب کښے یو قرآنی آیت او دولس نبوی حدیثونه دی . دَ مرتبو خیال ساتل صرف اخلاقی ضابطه نهٔ ده . اسلامی حکم هم دے - دَ دے په پابندئ سره په اسلامی معاشره کښے حُسن او خوبئ سره مضبوطوالے هم پیدا کیږی - او دَ امن او سلامتئ چرچه هم زیا تیږی -

بَابُ تَوْقِيْرِ الْعُلَمَآءِ وَالْكِبَارِ وَاَهْلِ الْفَضْلِ وَتَقْدِيْمِهِمْ عَلٰى غَيْرِهِمْ وَرَفْعِ مَجَالِسِهِمْ وَاِظْهَارِ مَرْتَبَتِهِمْ!

دَ علماؤ بزرګانو او دَ فضل خاوندانو عزت کول او دوئ په نورو باندے مخکښے کول او دَ دوئ دَ مجلسونو وچتوالے او دَ دوئ دَ مرتبو ښکاره کولو بیان

(قرآنی آیتونه)

۱۳۴- قَالَ اللهُ تَعَالٰى [1]: "قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ط اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ" ::

۱۳۴- او وایه .آیا علم والا او بے علمه برابرکیدے شی؟ داسے خبرو نه خو هوښیار خلق نصیحت اخلی .

(پ ۲۳، زمر)

(نبوی حدیثونه)

۳۵۱- وَعَنْ اَبِىْ مَسْعُوْدٍ عُقْبَةَ بْنِ عَمْرٍو الْبَدْرِىِّ الْاَنْصَارِىِّ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَؤُمُّ الْقَوْمَ اَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ، فَاِنْ كَانُوْا فِى الْقِرَآءَةِ سَوَآءً فَاَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ، فَاِنْ كَانُوْا

۳۵۱- ابومسعود عقبه بن عمرو بدری انصاری رض نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه دَ خلقو امامت دِ هغه څوک کوی چه په قرآن ښهٔ پوهیږی - او کهٔ دے صفت کښے ټول برابروی . نو بیا هغه امام دے چه په سنتو ډیر زیات پوهیږی . او کهٔ دَ سنتو علم کښے

---

[1] سورة الزمر آیة ۹ ::

فِي السُّنَّةِ سَوَآءً فَاَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً، فَاِنْ كَانُوْا فِي الْهِجْرَةِ سَوَآءً فَاَقْدَمُهُمْ سِنًّا وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فِيْ سُلْطَانِهٖ، وَلَا يَقْعُدُ فِيْ بَيْتِهٖ عَلٰى تَكْرِمَتِهٖ اِلَّا بِاِذْنِهٖ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهٗ: "فَاَقْدَمُهُمْ سِلْمًا" بَدَلَ "سِنًّا": اَيْ اِسْلَامًا. وَفِيْ رِوَايَةٍ: "يَؤُمُّ الْقَوْمَ اَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ وَاَقْدَمُهُمْ قِرَآءَةً. فَاِنْ كَانَتْ قِرَآءَتُهُمْ سَوَآءً فَيَؤُمُّهُمْ اَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً فَاِنْ كَانُوْا فِي الْهِجْرَةِ سَوَآءً فَلْيَؤُمَّهُمْ اَكْبَرُهُمْ سِنًّا" وَالْمُرَادُ "بِسُلْطَانِهٖ" مَحَلُّ وِلَايَتِهٖ اَوِ الْمَوْضِعُ الَّذِيْ يَخْتَصُّ بِهٖ "وَتَكْرِمَتُهٗ" بِفَتْحِ التَّآءِ وَكَسْرِ الرَّآءِ وَهِيَ مَا يَنْفَرِدُ بِهٖ مِنْ فِرَاشٍ وَسَرِيْرٍ وَنَحْوِهِمَا:

هم ټول برابر وو نو بيا چه چا هجرت مخکښې کړے وی. هغه دَ امامت حقدار دے. او که هجرت کولو کښې هم ټول برابر وو نو دَ ټولو نه عمر کښې مشر دِ امامت اوکړي. بل کس دِ دَ امام په ځائې امامتی نهٔ کوی. او څوک دِ دَچا په کور کښې دَ هغهٔ دَ عزت په ځائې باندې نهٔ کینی. او که هغه ئې کینوی نو بيا دِ کینی. (مسلم)

دَ مسلم په يو بل روايت کښې دَ "سِنًّا" په ځائې "سِلْمًا" لفظ راغلے دے. مطلب ئې دادے چه دَ اسلام په اعتبار سره مخکښې وی. هغه دِ امامت اوکړي.

او يو روايت کښې دا هم راغلی دی. چه دَ خلقو امامت دِ هغه څوک اوکړي چه ښه لوستونکے وی د قرآن کريم او يا چا چه قرآن مخکښې وئيلے وی. او که قرآن وئيلو کښې ټول برابر وی، نو امامت به هغه څوک کوی چه هجرت ئې مخکښې کړے وی. او که هجرت کولو کښې ټول برابر وی. نو بيا پکښې چه دَچا عمر زيات وی هغه دِ امامت اوکړي. دَ سُلْطَانِهٖ نه مراد که حاکم يا امير وی نو حلقه دَ ولايت ده. يا هغه ځائې چه دَ امامت دپاره ئې مقرر وی.

تَکْرِمَتُهٗ: کوم ځائې چه بستره يا تخت غوړېدلے وی. او خپل ځان دپاره ئې خاص کړے وی.

۳۵۲- وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ مَنَاكِبَنَا فِي الصَّلٰوةِ وَيَقُوْلُ "اسْتَوُوْا وَلَا تَخْتَلِفُوْا فَتَخْتَلِفَ قُلُوْبُكُمْ لِيَلِنِيْ مِنْكُمْ اُولُو الْاَحْلَامِ وَالنُّهٰى، ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ، ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

وَقَوْلُهٗ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لِيَلِنِيْ" وَهُوَ بِتَخْفِيْفِ النُّوْنِ وَلَيْسَ قَبْلَهَا يَآءٌ: وَرُوِيَ بِتَشْدِيْدِ النُّوْنِ مَعَ يَآءٍ قَبْلَهَا "وَالنُّهٰى": الْعُقُوْلُ. "وَاُولُوا الْاَحْلَامِ" هُمُ الْبَالِغُوْنَ"

۳۵۲- دا روايت هم دَ ابو مسعودؓ دے چه رسول الله صلی الله عليه وسلم به زمونږ اوږے نيولے او فرمائيل به ئې: سيده او نيغ اودرېږئ، چه وړاندے او وروستو نهٔ يئ. چه ستاسو دَ ولاړے طريقه مختلفه وی نو دغسے به ستاسو زړونه هم مختلف شی. او ما سره دِ نزدے هغه څوک اودرېږی چه عقلمند، صبر او برداشت والا وی. بيا دِ هغوئ پسے هغه څوک اودرېږی چه دوئ ته عقل او صبر او برداشت کښې نزدے وی. او هغوئ ته نزدے بيا هغه خلق چه دوئ ته عقل صبر او برداشت کښې نزدے وی. (مسلم)

"لِيَلِنِيْ" او "لِيَلِيَنِّيْ" دواړه الفاظ روايتونو کښې راغلی دی.

له "هيشات الاسواق" بفتح الهاء وسكون التحتية والشين المعجمة: اى اختلاطها د المنازعة والخصومات وارتفاع الاصوات واللغط والفتن التي فيها:

وَقِيلَ اَهْلُ الْحِلْمِ وَالْفَضْلِ.

"اُولُوالْاَحْلَامِ": يعني بالغان. فضيلت اوعلم والا - "اَلنُّهٰى": دَعقل خاوندان.

۳۵۳- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عليه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لِيَلِنِيْ مِنْكُمْ اُولُوا الْاَحْلَامِ وَالنُّهٰى ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ" ثَلَاثًا وَاِيَّاكُمْ وَهَيْشَاتِ الْاَسْوَاقِ[1] رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۳۵۳- عبد الله بن مسعود رض نه روايت دے. چه يو وارے رسول الله صلى الله عليه وسلم خپله خبره کښے د ړے ځله دا سے اوفرمائيل چه ماسره دِ نزدے هغه خلق اودريږي. چه دَ بردبارئ. فضل او عقل خاوندان وي. اوهغوئ سره دِ هغه خوک نزدے اوسي چه دوئ ته دے صفتونوکښے نزدے وي. او دَ بازار دَ هنګامو او دَ شورشعب دَ مجلسونو نه ځان ساتئ. (مسلم)

۳۵۴- وَعَنْ اَبِىْ يَحْيٰى دَ قِيْلَ اَبِىْ مُحَمَّدٍ سَهْلِ بْنِ اَبِىْ حَثْمَةَ "بِفَتْحِ الْحَاءِ الْمُهْمَلَةِ وَاِسْكَانِ الثَّاءِ الْمُثَلَّثَةِ" الْاَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اِنْطَلَقَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ سَهْلٍ وَمُحَيِّصَةُ بْنُ مَسْعُوْدٍ اِلَى خَيْبَرَ وَهِيَ يَوْمَئِذٍ صُلْحٌ فَتَفَرَّقَا فَاَتٰى مُحَيِّصَةُ اِلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَهْلٍ وَمُحَيِّصَةُ وَهُوَ يَتَشَحَّطُ فِىْ دَمِهٖ[1] قَتِيْلًا فَدَفَنَهٗ ثُمَّ قَدِمَ الْمَدِيْنَةَ فَانْطَلَقَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ ابْنُ سَهْلٍ وَمُحَيِّصَةُ وَحُوَيِّصَةُ اِبْنَا مَسْعُوْدٍ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَهَبَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ يَتَكَلَّمُ فَقَالَ: كَبِّرْ كَبِّرْ " وَهُوَ اَحْدَثُ الْقَوْمِ فَسَكَتَ فَتَكَلَّمَا فَقَالَ: "اَتَحْلِفُوْنَ وَتَسْتَحِقُّوْنَ قَاتِلَكُمْ؟" وَذَكَرَ تَمَامَ الْحَدِيْثِ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

وَقَوْلُهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَبِّرْ كَبِّرْ" مَعْنَاهُ: يَتَكَلَّمُ الْاَكْبَرُ.

۳۵۴- ابو يحيى يا ابومحمد سهيل بن ابی حثمه انصاری رض نه روايت دے چه عبد الله بن سهل او محيصه بن مسعود رضي الله عنهما د صلحے په زمانه کښے خيبر طرف ته لاړل. هلته دواړه جدا شول. او واپسئ کښے چه محيصه رض د عبد الله بن سهل رض ځائے ته راورسيدو. نو وينو کښے ئے ليت پيت وژلے شوے اوليدلو. د هغهٔ د کفن کولو او ښخولو نه چه فارغ شو نومدينے ته راغے. اوعبد الرحمن بن سهل محيصه اوحويصه، دَ مسعود رض ځامن رض ئے راجمع کړل او دَ نبی کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کښے حاضر شول. هلته عبد الرحمن رضی الله عنه خبرے شروع کړے. نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه مشر خبرو ته پريږده. عبد الرحمن رضی الله عنه هلک ؤ. نو چُپ شو. نو محيصه اوحويصه رضي الله عنهما حالات بيان کړل. بيا نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل آيا تاسو قسم خورئ! او د قاتل حق دار جوړيږئ. دا حديث بخاری اومسلم پوره بيان کړے دے دلته چه څومره د باب سره تعلق ساتلو هغه هومره ذکر کړے شو.

"كَبِّرْ كَبِّرْ": يعني مشر عمر والا دِ خبره اوکړي. (بخاری ومسلم)

۳۵۵- وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ

۳۵۵- حضرت جابر رض نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ

---

[1] يتشحط في دمه: اي يتخبط ويضطرب فيه، [2] اي حفظا له.

يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ يَعْنِيْ فِي الْقَبْرِ ثُمَّ يَقُوْلُ: اَيُّهُمَا اَكْثَرُ اَخْذًا لِّلْقُرْاٰنِ؟ ـه فَاِذَا اُشِيْرَ لَهٗ اِلٰى اُحَدِهِمَا قَدَّمَهٗ فِي اللَّحْدِ، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛

هغه به ئے لحد کښے اول کیښودلو۔

احد دَ شهیدانو د پاره به یو قبر کښے دوه دوه کسانو دَ ښخولو انتظام او بندوبست کړے وُو۔ دَ ښخولو په وخت کښے به ئے دا پوښتنه کوله چه دے دواړو کښے قرآنِ مجید چا زیات یاد کړے دے؟ نو چه دَ کوم کس په حقله به ورته اشاره اوشوه۔ نو (بخاری)

۳۵۶۔ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَرَانِيْ فِي الْمَنَامِ اَتَسَوَّكُ بِسِوَاكٍ فَجَآءَنِيْ رَجُلَانِ اَحَدُهُمَا اَكْبَرُ مِنَ الْاٰخَرِ، فَنَاوَلْتُ السِّوَاكَ الْاَصْغَرَ فَقِيْلَ لِيْ: كَبِّرْ فَدَفَعْتُهٗ اِلَى الْاَكْبَرِ مِنْهُمَا" رَوَاهُ مُسْلِمٌ مُسْنَدًا وَالْبُخَارِيُّ تَعْلِيْقًا ؛

۳۵۶۔ عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ ماخوب کښے خپل ځان مسواک کولو باندے اولیدلو۔ دغه وخت کښے دوه کسان ماله راغلل۔ ما هغوئ کښے کشر ته هغه مسواک ورکړو۔ ماته اوویلے شو۔ چه مسواک مشرته ورکړه۔ (مسلم)

امام مسلم دا روایت مسند نقل کړے دے او امام بخاری معلق۔

۳۵۷۔ وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِنَّ مِنْ اِجْلَالِ اللّٰهِ تَعَالٰى[1] اِكْرَامُ ذِي الشَّيْبَةِ الْمُسْلِمِ، وَحَامِلِ الْقُرْاٰنِ غَيْرِ الْغَالِيْ فِيْهِ وَالْجَافِيْ عَنْهُ[2] وَاِكْرَامَ ذِي السُّلْطَانِ الْمُقْسِطِ[3] حَدِيْثٌ حَسَنٌ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ ؛

۳۵۷۔ ابوموسیٰ اشعری رض فرمائی۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ داخبره هم دَ الله تعالیٰ په عزت کښے داخله ده۔ چه دَ بوډا مسلمان اودَ الله دَحدودو پابندی کونکے یعنی قرآن باندے عمل کونکی اودَ انصاف والا بادشاه عزت دِ اوکړے شی۔ (ابوداؤد)

داحدیث حسن دے۔

۳۵۸۔ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَّمْ يَرْحَمْ صَغِيْرَنَا وَيَعْرِفْ شَرَفَ كَبِيْرِنَا" حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ. وَفِيْ رِوَايَةِ اَبِيْ دَاوُدَ: "حَقَّ كَبِيْرِنَا" ؛

۳۵۸۔ عمروبن شعیب رض دَخپل پلار نه اوهغه دَخپل نیکهٔ نه روایت کوی۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل خوک چه څوک په کشرانو رحم نهٔ کوی، اوڅوک دَ مشرانو عزت نهٔ پیژنی۔ هغه څوک زمونږ نه نهٔ دے۔ (ابوداؤد وترمذی)

امام ترمذیؒ وائی۔ داحدیث حسن صحیح دے۔ اودَ ابوداؤد په روایت کښے دَ "شَرَفَ كَبِيْرِنَا" په ځائے "حَقَّ كَبِيْرِنَا" راغلے دے۔

---

[1] ای من تعظیمه، [2] ای التارك له البعید عن تلاوته والعمل بما فیه [3] "المقسط" بضم المیم، العادل في الحکم بین الرعیة ؛

۳۵۹ - وَعَنْ مَيْمُوْنِ بْنِ اَبِىْ شَبِيْبٍ رَحِمَهُ اللهُ اَنَّ عَآئِشَةَ رَضِىَ اللهُ عَنْهَا مَرَّ بِهَا سَآئِلٌ فَاَعْطَتْهُ كِسْرَةً[1] وَمَرَّ بِهَا رَجُلٌ عَلَيْهِ ثِيَابٌ وَهَيْئَةٌ فَاَقْعَدَتْهُ فَاَكَلَ فَقِيْلَ لَهَا فِىْ ذٰلِكَ؟ فَقَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَنْزِلُوا النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ" رَوَاهُ اَبُوْدَاؤدَ لٰكِنْ قَالَ مَيْمُوْنٌ: لَمْ يُدْرِكْ عَآئِشَةَ وَقَدْ ذَكَرَهُ مُسْلِمٌ فِىْ اَوَّلِ صَحِيْحِهٖ تَعْلِيْقًا فَقَالَ: وَذُكِرَ عَنْ عَآئِشَةَ رَضِىَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: اَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ نُنْزِلَ النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ وَذَكَرَهُ الْحَاكِمُ اَبُوْعَبْدِ اللهِ فِىْ كِتَابِهٖ "مَعْرِفَةَ عُلُوْمِ الْحَدِيْثِ" وَقَالَ: هُوَ حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ:

۳۵۹ - ميمون بن ابى تسبيب وائى چه حضرت عائشه رض له يو سوال کوونکے راغے. نو دَ ډوډئ يوه ټکړه ئے ورله ورکړه - بيا يو بل سوالګرے راغے. چه دَ هغۀ ښۀ عجيبه شان کپړے وے. هغې هغه کينولو او خوراک ئے پرے اوخوړلو - هغې نه چه کله دَ دے فرق په باره کښے پوښتنه اوکړے شوه. نو وے فرمائيل، چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى. چه خلقو سره دَ هغوئ دَ مرتبے موافق سلوک ساته. (ابوداؤد)

امام نووى رحمة الله عليه وائى چه دا روايت خو ابوداؤد کښے ذکر کړے شوے دے. مګر هغې کښے هغه وائى چه دَ ميمون ملاقات حضرت عائشه رض سره نۀ دے شوے. او امام مسلم رح په خپل کتاب کښے دا روايت معلق بيان کړے دے. چه دَ حضرت عائشے رض نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته دَ دے حکم راکړے دے. چه دَ هرکس مرتبه اوپيژنئ. (او دَ هغې موافق ورسره سلوک ساتئ)

امام حاکم رح خپل کتاب "معرفة علوم الحديث" کښے دا روايت ذکر کړے دے او وائى چه دا حديث صحيح دے.

۳۶۰ - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَدِمَ عُيَيْنَةُ بْنُ حِصْنٍ فَنَزَلَ عَلَى ابْنِ اَخِيْهِ الْحُرِّ بْنِ قَيْسٍ وَكَانَ مِنَ النَّفَرِ الَّذِيْنَ يُدْنِيْهِمْ عُمَرُ[2] رَضِىَ اللهُ عَنْهُ وَكَانَ الْقُرَّآءُ اَصْحَابَ مَجْلِسِ عُمَرَ وَمُشَاوَرَتِهٖ كُهُوْلًا كَانُوْا اَوْ شُبَّانًا فَقَالَ عُيَيْنَةُ لِابْنِ اَخِيْهِ: يَا ابْنَ اَخِىْ لَكَ وَجْهٌ عِنْدَ هٰذَا الْاَمِيْرِ فَاسْتَاْذِنْ لِىْ عَلَيْهِ فَاسْتَاْذَنَ لَهٗ فَاَذِنَ لَهٗ عُمَرُ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ فَلَمَّا دَخَلَ قَالَ: هِىَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ: فَوَاللهِ مَا تُعْطِيْنَا الْجَزْلَ[3] وَلَا تَحْكُمُ فِيْنَا بِالْعَدْلِ فَغَضِبَ عُمَرُ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ حَتّٰى هَمَّ اَنْ يُوْقِعَ بِهٖ فَقَالَ لَهُ الْحُرُّ:

۳۶۰ - عبد الله بن عباس رضى الله عنهما نه روايت دے. چه عُيينه بن حِصن رض رضى الله عنه مدينے ته راغے او خپل وراره سره ميلمه شو. حُر بن قيس رض ئے نامه وه. دَ حضرت عمر رض مشر هم وو. او دَ عمر رض مجلس کښے به هغه خلق شامليدل دَ مشورے دپاره. کوم به چه قرآن زيات وئيلے وو. زاړۀ به وو او که ځوانان. عُيينه رض خپل وراره ته اووئيل. چه تا ته دَ حضرت عمر رض خوا ته رسوخ حاصل دے. ځما دپاره هم دَ شريک کيدلو اجازت اوغواړه. نو حضرت عمر رض دَ شريک کيدلو اجازت ورکړو. کله چه عُيينه رض راغے مجلس کښے ئے اووئيل. دا څنګه رويه ده؟ اے ابن خطاب! په الله قسم، نه ته مونږ له څۀ زيات راکوے او نه ځمونږ باره کښے انصاف کوے. دَ هغۀ په بے ځايه

---

[1] کسرة، بكسرة الكاف: اي قطعة من الخبز؛ [2] "يدنيهم" بضم التحتية الاولى اي يقربهم عمر منه لفضلهم ::

يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى قَالَ لِنَبِيِّهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ وَاَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِيْنَ" وَاِنَّ هٰذَا مِنَ الْجَاهِلِيْنَ. وَاللّٰهِ مَاجَاوَزَهَا عُمَرُ حِيْنَ تَلَاهَا عَلَيْهِ وَكَانَ وَقَّافًا عِنْدَ كِتَابِ اللّٰهِ تَعَالٰى، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ::

شکایت باندې هغوئ (عمرؓ) ته غصه راغله داخطره وه چه حُر ته ئې څه سخته وئیلي وې. چه فوراً حُرؓ اووئیل، اے امیر المؤمنین! الله تعالیٰ خپل نبی ته وئیلي دی چه خلقو ته معافی کوه. او ښے خبرے کوه. او جاهلانو نه مخ اړوه. دا سړے د جاهلانو نه جاهل دے. په الله قسم. حضرت عمرؓ چه دا آیت واؤریدو سمدستي غلے شو. او اودریدو. او هغه به قرآن باندے ډیر زیات عمل کونکے وو. (دا قول غالبا د عُیینه دے) (بخاری)

۳۶۱- وَعَنْ اَبِىْ سَعِيْدٍ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: لَقَدْ كُنْتُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُلَامًا فَكُنْتُ اَحْفَظُ عَنْهُ فَمَا يَمْنَعُنِىْ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا اَنَّ هٰهُنَا رِجَالًا هُمْ اَسَنُّ مِنِّىْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ::

۳۶۱- ابوسعید سمرة بن جندب رضی الله عنه نه روایت دے. چه زهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے کم عمره هلک ووم. نو ما به د هغهٔ ارشادات یادول. د هغهٔ په خبره بیانولو کښے ما ته هیڅ خیز رکاوټ نهٔ وو. بغیر د دے نه چه هلته څهٔ مشران خلق وو، چه د هغوئ د عزت او مشرئ د وجهے نه به زهٔ چُپ ووم) (بخاری د مسلم)

۳۶۲- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا اَكْرَمَ شَابٌّ شَيْخًا لِسِنِّهٖ اِلَّا قَيَّضَ[٣] اللّٰهُ لَهٗ مَنْ يُّكْرِمُهٗ عِنْدَ سِنِّهٖ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ ::

۳۶۲- انس بن مالک رضؓ وائی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دی. چه کوم ځوان د یوکس د بوډاوالی په وجه عزت کوی. نو چه دا کله بوډا شی. نو الله تعالیٰ به دهٔ د پاره دا سے خلق مقرر کړی چه د دهٔ به هم عزت کوی. (ترمذی) وائی چه دا حدیث غریب دے.

باب ۴۵

ف :- دے باب کښے دوه قرآنی آیتونه او پنځلس[۱۵] نبوی حدیثونه دی. د ملګرتیا او ناستے پاستے د اثرنه هیڅوک انکارنشي کولے. هرمسلمان دا پیژنی، چه د صحابوٴ رضی الله عنهم څومره حالات چه بدل شول. هغه صرف د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مجلس اثر وو. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نقشهٔ قدم باندے تلونکے او تابعداری کونکے او د نیکانو بندګانو مجلس کښے د کینا ستلو نن هم اثر شته دے. په لکونو او کروړونو بندګان د الله چه د بے دینئ او ګمراهئ په ځنګلونو کښے حیران ګرځیدل. د اولیاء الله دوستانو سره د محبت او مینے او د ناستے پاستے په وجه نیغے لارے ته راغلل. او د هغوئ آخرت ښائسته شو. او د دے دُنیا نه د بامراده او کامیاب د الله تعالیٰ خواته حاضر شول. ع

صحبت صالح ترا صالح کند ؛ صحبت طالح ترا طالح کند!

ځان چه نیک جوړول غواړے شامل شه په نیکانو کښے،
چه ئے بد جوړول غواړے شامل شه په بدانو کښے ؛

---

[١] "هي" بكسر الهاء وسكون التحتية: كلمة تهديد [٢] اى ما تجزل لنا العطاء، [٣] الا قيض" بتشديد التحتية والضاد المعجمة: اى قدر ؛

بَابُ زِيَارَةِ أَهْلِ الْخَيْرِ وَمَجَالِسَتِهِمْ وَصُحْبَتِهِمْ وَمَحَبَّتِهِمْ وَطَلَبِ زِيَارَتِهِمْ وَالدُّعَآءُ مِنْهُمْ وَزِيَارَةِ الْمَوَاضِعِ الْفَاضِلَةِ!

دَ نیکانو ملاقات کول او دَ هغوئ ملګرتیا او ناسته پاسته اختیارول او هغوئ سره دَ محبت کول او دُعا ترے غوښتل او ښهٔ ښهٔ ځایونو ته دَ تللو بیان!

(قرآنی آیتونه)

۱۳۵- قَالَ اللهُ تَعَالٰی[1]: "وَإِذْ قَالَ مُوْسٰی لِفَتٰهُ لَا أَبْرَحُ[2] حَتّٰی أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ[3] أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا" إِلٰی قَوْلِهِ تَعَالٰی: "قَالَ لَهٗ مُوْسٰی: هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلٰی أَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا؟"

۱۳۵- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے۔ کله چه موسیٰ[4] خپل دَ لارے ملګری ته اووئیل چه، زهٔ به روان یم زم به۔ تر هغې پورے چه دَ دوو دریابونو دَ یو ځائے کیدو مقام نږدی رارسیدلے۔ (دغه مقام ته دَ رسیدو دپاره چه هر څومره موده تیره شی) زهٔ به روان یم۔ آخری آیته پورے ئے تلاوت کړو۔ حضر علیه السلام ته موسیٰ علیه السلام اووئیل۔ زهٔ تا سره اوسیږم۔ به دے شرط چه ما ته به هم دا خپل علم اوښائے۔ کوم چه تا ته ښودلے شوے دے۔ (پ۱۶ کهف)

۱۳۶- وَقَالَ تَعَالٰی[2]: "وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ"

۱۳۶- دَ الله تعالیٰ ارشاد دے۔ ته هغې خلقو سره پیوسته او هر وخت اوسیږه کوم چه هر وخت صبا او ماښام دَ الله دَ مخ غوښتلو دپاره الله رابلی۔ (پ۱۶ کهف)

(نبوی حدیثونه)

۳۶۳- وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ لِعُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا بَعْدَ وَفَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: انْطَلِقْ بِنَا إِلٰی أُمِّ أَيْمَنَ[5] رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نَزُوْرُهَا كَمَا كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزُوْرُهَا فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَيْهَا بَكَتْ فَقَالَا لَهَا: مَا يُبْكِيْكِ؟ أَمَا تَعْلَمِيْنَ أَنَّ مَا عِنْدَ اللهِ خَيْرٌ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَقَالَتْ إِنِّيْ لَا أَبْكِيْ إِنِّيْ لَأَعْلَمُ أَنَّ مَا عِنْدَ اللهِ تَعَالٰی خَيْرٌ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

۳۶۳- انس بن مالک رضی الله عنه وائی۔ چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ مرګ نه پس ابوبکر رضی الله عنه حضرت عمر رضی الله عنه ته اووئیل۔ چه مونږ به دَ اُم ایمن رضی الله عنها ملاقات له داسے ځو۔ څنګه به چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم تللو۔ کله چه دا دواړه هلته اورسیدل نو هغه به ژړا شوه۔ دوئ دواړو پوښتنه اوکړه ولے ژاړے؟ آیا تا ته معلومه نهٔ ده، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه دَ ښهٔ والی او دَ خیر مقام او مرتبه حاصله ده۔ بیا ژړا ولے کوے؟ هغې اووئیل زهٔ پوهیږم چه دَ رسول

بقیه ص ۲۳۶

[illegible]

وَسَلَّمَ وَلٰكِنْ اَبْكِيْ اَنَّ الْوَحْيَ قَدِ انْقَطَعَ مِنَ السَّمَآءِ. فَهَيَّجَتْهُمَا عَلَى الْبُكَآءِ فَجَعَلَا يَبْكِيَانِ مَعَهَا، رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞

الله صلی الله علیه وسلم مقام ډیر ښهٔ او اوچت دے۔ ماله په دے ژړا نهٔ ده راغلے۔ خو څکه ژاړم، چه د وحی سلسله ختمه شوه، دوئ دواړو چه دا واوریدل نو د هغوئ هم زړونه ډک شول۔ او بیا په ژړا شول۔ (مسلم)

د اُم ایمن رضی الله عنها به رسول الله صلی الله علیه وسلم ډیر عزت کولو۔ د هغے د ملاقات د پاره به هغوئ د هغے کور ته تللو۔ او فرمائیل به ئے۔ چه دا خما د مور پشان ده۔ په وړوکوالی کښے د نبی کریم صلی الله علیه وسلم پالنه ئے کړے وه۔ او ډیر خیال بهٔ ئے ورله ساتلو۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه آزاده کړے وه۔ او زید بن حارثه رض سره ئے ورله نکاح اوتړله۔

۳۶۴۔ وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اَنَّ رَجُلًا زَارَ اَخًا لَهٗ فِيْ قَرْيَةٍ اُخْرٰى فَاَرْصَدَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مَدْرَجَتِهٖ مَلَكًا فَلَمَّا اَتٰى عَلَيْهِ قَالَ: اَيْنَ تُرِيْدُ؟ قَالَ اُرِيْدُ اَخًا لِيْ فِيْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ قَالَ هَلْ لَكَ عَلَيْهِ مِنْ نِّعْمَةٍ تَرُبُّهَا عَلَيْهِ؟ قَالَ لَا غَيْرَ اَنِّيْ اَحْبَبْتُهٗ فِي اللّٰهِ تَعَالٰى قَالَ: فَاِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكَ بِاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَبَّكَ كَمَا اَحْبَبْتَهٗ فِيْهِ"

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

يُقَالُ: "اَرْصَدَهٗ" لِكَذَا اِذَا وَكَّلَهٗ بِحِفْظِهٖ. "وَالْمَدْرَجَةُ" بِفَتْحِ الْمِيْمِ وَالرَّآءِ الطَّرِيْقُ وَمَعْنٰى "تَرُبُّهَا" تَقُوْمُ بِهَا وَتَسْعٰى فِيْ صَلَاحِهَا".

۳۶۴۔ ابوهریره رضی الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوی۔ چه یو سړے خپل یو (دینی) ورور ملاقات د پاره دویم کلی ته لاړو۔ دے لاره ته الله تعالیٰ یوه فرښته رااولیږله۔ دغه سړے چه کله دغلته رااورسیدو (چرته چه فرښته مقرره وه) نو فرښتے تپوس اوکړو، چرته ځے؟ دے سړی اووئیل دغه ښار کښے خما یو ورور اوسیږی۔ د هغهٔ ملاقات د پاره ځم۔ فرښتے اووئیل، آیا په تا ئے څهٔ احسان شته چه د هغے د شکریئے اداء کولو په طور ځے؟ دغه سړی اووئیل نه۔ دا سے خبره نشته۔ خالص د الله د پاره م هغهٔ سره مینه ده (ځکه ئے ملاقات له ځم) بیا فرښتے اووئیل، زهٔ د الله تعالیٰ رالیږلے فرښته یم۔ د دے خبرے ښودنے د پاره رالیږلے شوے یم۔ چه الله تعالیٰ هم تا سره مینه ساتی۔ ځکه چه ته خپل ورور سره د الله ج د پاره مینه لرے۔ (مسلم)

"اَرْصَدَ لِكَذَا": دا هغه وخت استعمالولے شی چه د چا ذمه واری ورته اوسپارلے شی۔

"اَلْمَدْرَجَةُ": لاره۔ د تیریدو ځائے۔ کودر۔

"تَرُبُّهَا": ته د هغے حفاظت کوے۔ هغه درسته وے برابروے۔

۳۶۵۔ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ عَادَ مَرِيْضًا اَوْ زَارَ اَخًا لَّهٗ فِي اللّٰهِ نَادَاهُ

۳۶۵۔ ابوهریره رض نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل کهٔ چا د یو بیمار پوښتنه اوکړه۔ یا د الله د

---

[۳] ای ملتقی بحر فارس والروم مما یلی المشرق "اوامضی حقبا" ای اسیر زمنا طویلا۔

[۴] سورة الکهف آیة ۲۸ [۵] ام ایمن "بفتح الهمزة والمیم وسکون التحتیة": حاضنة رسول الله صلی الله علیه وسلم وخادمته فی طفولته اعتقها النبی حین کبر وزوجها زید بن حارثة وکان صلی الله علیه وسلم یکرمها و یبرها و یقول ام ایمن امی ؛

مُنَادٍ بِاَنْ طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ وَ تَبَوَّاْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلًا" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ وَفِيْ بَعْضِ النُّسَخِ غَرِيْبٌ ؞

رضا دپاره دَ خپل يو ديني ورور ملاقات له لاړو. نو يو آواز کونکے آواز کوي (يعني فرښته) اعلان کوي، چه تا ته دِ دَ خوشحالۍ زيرے وي. ستا تلل دِ مبارک وي. تا جنت کښے يو مقام جوړ کړو (ترمذي) وائي چه دا حديث حسن دے. او ځينې نسخو کښے دَ "غريب" لفظ دے.

۳۶۶ - وَعَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِنَّمَا مَثَلُ الْجَلِيْسِ الصَّالِحِ وَجَلِيْسِ السُّوْءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيْرِ[1] فَحَامِلُ الْمِسْكِ اِمَّا اَنْ يُحْذِيَكَ وَاِمَّا اَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ[2] وَاِمَّا اَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيْحًا طَيِّبَةً وَنَافِخُ الْكِيْرِ اِمَّا اَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ وَاِمَّا اَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيْحًا مُنْتِنَةً" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ،

"يُحْذِيْكَ" يُعْطِيْكَ ؞

۳۶۶ - ابوموسیٰ اشعري رض نه روايت دے چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه دَ مجلس دَ ښهٔ ملګري او دَ بد ملګري مثال دَ مشکو خرڅونکي او دَ بټۍ لګونکي پشان دے. چه مشک والا خو به يا څه به خپله درکړي يا به ترے ته څهٔ واخلے. که دُوه خبرو کښے يوه هم اونشي نو بيا به هم په تا خوشبوئي خو درشي. او دَ بټۍ والا به يا ستا کپړے اوسوځوي. کني دَ تريخ لوګي نه به بچ کيدے نشے. (بخاري ومسلم)

يُحْذِيكَ : تا ته به درکړي.

۳۶۷ - وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "تُنْكَحُ الْمَرْاَةُ لِاَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَلِجَمَالِهَا وَلِدِيْنِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّيْنِ تَرِبَتْ يَدَاكَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَمَعْنَاهُ اَنَّ النَّاسَ يَقْصِدُوْنَ فِي الْعَادَةِ مِنَ الْمَرْاَةِ هٰذِهِ الْخِصَالَ الْاَرْبَعَ فَاحْرِصْ اَنْتَ عَلٰى ذَاتِ الدِّيْنِ وَاظْفَرْ بِهَا وَاحْرِصْ عَلٰى صُحْبَتِهَا ؞

۳۶۷ - ابوهريره رض وائي. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل. چه ښځے سره دَ نکاح کولو په وخت څلور خيزونه دَ نظر لاندے وي: (۱) دَ هغې دولت (۲) دَ هغې حسب نسب (خاندان) (۳) دَ هغې خائست او (۴) دَ هغې دين. ته هغې سره دَ دين په وجه نکاح کوه. لاسونه دِ په خاوره خړ شه. "تَرِبَتْ يَدَاكَ" دا الفاظ دَ مدح او ذم په دواړو موقعو ويلے کيږي. دلته ځما په خيال دَ مدح په طور دي. (بخاري ومسلم)

امام نووي رح تشريح کښے فرمائي. چه دَ دے مطلب دا دے. چه عام طور خلق دَ يوے ښځے دَ نکاح کولو په وخت دَ څلورو خبرو خيال ساتي. تاله دَ ښځے ديني خوئے ته ښيولو سره نکاح کول يکاردي. (خائست، مال و دولت خاندان باعث دَ آزار جوړيدے شي او دين صرف دَ رحمت او راحت باعث جوړيږي.

۳۶۸ - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ

۳۶۸ - ابن عباس رض وائي. چه نبي کريم صلی الله عليه وسلم جبرئيل عليه السلام

---

[1] الكير، بكسر الكاف وسكون التحتية معروف، [2] اي تطلب البيع منه ؞

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِجِبْرِيْلَ: "مَا يَمْنَعُكَ اَنْ تَزُوْرَنَا اَكْثَرَ مِمَّا تَزُوْرُنَا؟" فَنَزَلَتْ: "وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ لَهٗ مَا بَيْنَ اَيْدِيْنَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذٰلِكَ[1]" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ته اوفرمائيل چه څوځلې اوس ملاقات ته راځې. که دې نه زيات ملاقات کولو دپاره راشې نو څهٔ څيز دِ منع کوی. نو دا آيت نازل شو. "وما نتنزل الا بامر ربك له ما بين ايدينا وما خلفنا وما بين ذلك" ترجمه ئې داده. "حمونږ راتلل د الله تعالىٰ د حکم د تابعدارئ په وجه وی. حمونږ مخکښې وروستو او مينځ کښې چه څهٔ دی، د هم هغهٔ دی (په تماموم معاملاتو کښې د هم هغهٔ حکمت او مصلحت چليږی) (بخاری)

۳۶۹- وَعَنْ اَبِىْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا تُصَاحِبْ اِلَّا مُؤْمِنًا وَلَا يَاْكُلْ طَعَامَكَ اِلَّا تَقِيٌّ" رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ بِاِسْنَادٍ لَا بَاْسَ بِهٖ.

۳۶۹- ابوسعيد خدری رضی الله عنه وائی. چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل. چه د مؤمن نه سِوا د بل چا مجلس کښې مهٔ کينه پاسه. او د متقی او پرهيزګار نه بغير دِ ستا خوراک بل څوک اونهٔ خوری. (د دې حديث سند معتبر دې) (ابوداؤد، ترمذی)

۳۷۰- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلرَّجُلُ عَلٰى دِيْنِ خَلِيْلِهٖ[2] فَلْيَنْظُرْ اَحَدُكُمْ مَنْ يُّخَالِلُ" رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ.

۳۷۰- ابوهريره رض نه روايت دې. چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل. چه سړې د خپل دوست او ملګری په دين باندې وی. نو تاسو دا کورئ. چه دوستی چا سره کوئ. (ابوداؤد وترمذی) امام ترمذی وائی چه دا حديث حسن دې.

۳۷۱- وَعَنْ اَبِىْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِىْ رِوَايَةٍ قَالَ قِيْلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلرَّجُلُ يُحِبُّ الْقَوْمَ[3] وَلَمَّا يَلْحَقْ بِهِمْ؟ قَالَ: "اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ".

۳۷۱- ابوموسىٰ اشعری رض وائی. چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل. هر سړې به (د قيامت په ورځ) هغه کس سره وی چا سره ئې چه دُنيا کښې مينه وه. (بخاری ومسلم)

يو روايت کښې داسې دی چه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې عرض اوکړې شو. چه څوک د يو قوم سره خو مينه ساتی. مګر هغهٔ سره ملاؤ نشو. (يعنی غائبانه مينه وه ليکن مجلس او ملاقات ئې نصيب نشو) نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل. هر سړې به هغه چا سره وی چه چا سره ئې مينه وی.

۳۷۲- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ اَعْرَابِيًّا قَالَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

۳۷۲- انس بن مالک رض نه روايت دې. چه يو باندهٔ چی د نبی اکرم صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه اوکړه. قيامت

---

[1] ای ما امامنا وخلفنا من الازمنة والامکنة فلا ننتقل من شئ الی شئ الا بامره ومشيئته. [2] الخليل. الصديق. [3] ای من اهل الصلاح

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَتَى السَّاعَةُ[52]؟ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَا اَعْدَدْتَ لَهَا؟" قَالَ: حُبَّ اللهِ وَرَسُوْلِهٖ قَالَ. "اَنْتَ مَعَ مَنْ اَحْبَبْتَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَهٰذَا لَفْظُ مُسْلِمٍ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهُمَا: مَا اَعْدَدْتُ لَهَا مِنْ كَثِيْرِ صَوْمٍ وَّلَا صَلٰوةٍ وَّلَا صَدَقَةٍ، وَلٰكِنِّيْ اُحِبُّ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ.

به کله وی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغهٔ ته اوفرمائيل. قيامت دپاره دِ څهٔ تيارے کړے دے؟ هغهٔ جواب ورکړو. چه څما سرمايه خو دالله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم مينه ده. په دے خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چا سره چه ستا مينه ده نو هم د هغوئ سره به يئ - (بخاری ومسلم)

دا الفاظ دَ مسلم دی. او بخاری او مسلم کښې يو روايت دا هم دے. چه ما سره دَ روژو، دَ مونځونو يا دَ ډيرو خيراتونو څهٔ ذخيره نشته. البته دَ الله ج او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مې ډيره مينه ده.

۳۷۳- وَعَنْ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ. جَآءَ رَجُلٌ اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! كَيْفَ تَقُوْلُ فِيْ رَجُلٍ اَحَبَّ قَوْمًا وَّلَمْ يَلْحَقْ بِهِمْ[53] فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۳۷۳- عبدالله بن مسعود رض وائی چه يو سړي دَ نبی کريم صلی الله علیه وسلم خدمت کښې عرض اوکړو - يا رسول الله. تاسو دَ هغه کس په باره کښې څهٔ وايئ چه دَ هغهٔ دَ يو قوم سره ډيره مينه وی. ليکن ملاويدے ورسره نشی. (نا سته پاسته ورسره نشی حاصلولے) نو نبی کريم صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل، هرکس به هغه چا سره وی، چا سره ئے چه مينه وی. (بخاری ومسلم)

۳۷۴- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلنَّاسُ مَعَادِنُ كَمَعَادِنِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْاِسْلَامِ اِذَا فَقِهُوْا[54] وَالْاَرْوَاحُ جُنُوْدٌ مُّجَنَّدَةٌ فَمَا تَعَارَفَ مِنْهَا ائْتَلَفَ وَمَا تَنَاكَرَ مِنْهَا اخْتَلَفَ[55]" رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَرَوَى الْبُخَارِيُّ، قَوْلُهٗ: "اَلْاَرْوَاحُ" اِلَخ مِنْ رِوَايَةِ

۳۷۴- ابوهريره رض دَ نبی کريم صلی الله علیه وسلم نه ارشاد نقل کړے دے. هغوئ اوفرمائيل. چه دَ خلقو مثال دَ سرو سپينو د روَ کانونو غونته دے. څوک چه جاهليت کښې غوره وو. هغه اسلام کښې هم غوره دے په دے شرط چه دين کښې پوهه حاصله کړي. او (دَ اَلَسْتُ په ورځ) روحونه او ساه کانے دَ لښکرو په شکل کښې يو ځائے وو که هلته دَ چا خپل مينځ کښې پيژندګلو وه نو دلته به هم مينه کوی. او کوم سره ئے چه هلته ازل کښې کرکه وه. نو دُنيا کښې هم بيل بيل اوسی. (مسلم)

---

[52] ای القيامة [53] وفی رواية ابن حبان: ولا يستطيع ان يعمل بعملهم" [54] "اذا فقهوا" بكسر القاف ای علموا" وجنود مجندة" ای جموع مجتمعة وانواع مختلفة [55] قال ابن عبدالسلام. المراد بالتعارف والتناكر التقارب فی الصفات والتفاوت فيها لان الشخص اذا خالفك صفاته انكرته والمجهول ينكر لعدم العرفان فهذا من مجاز التشبيه شبه المنكر بالمجهول والملائم بالمعلوم. وفی الحديث ان الانسان اذا وجد من نفسه نفرة عن ذی فضل وصلاح ينبغی ان يبحث عن المقتضی لذلك ليسعیٰ فی ازالته فيتخلص من الوصف المذكور وكذا عكسه

عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا :

دا روایت د امام مسلم رح دے او امام بخاری رح د "وَالْاَرْوَاحُ" نه د آخره پورے روایت د حضرت عائشے صدیقے رض په حواله په خپل "صحیح" کښے بیان کړے دے.

۳۷۵- وَعَنْ اُسَيْدِ بْنِ عَمْرٍو وَيُقَالُ ابْنُ جَابِرٍ وَهُوَ "بِضَمِّ الْهَمْزَةِ وَفَتْحِ السِّيْنِ الْمُهْمَلَةِ" قَالَ كَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رض رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اِذَا اَتٰى عَلَيْهِ اَمْدَادُ اَهْلِ الْيَمَنِ سَاَلَهُمْ : اَفِيْكُمْ اُوَيْسُ بْنُ عَامِرٍ؟ حَتّٰى اَتٰى عَلٰى اُوَيْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقَالَ لَهٗ : اَنْتَ اُوَيْسُ بْنُ عَامِرٍ؟ قَالَ نَعَمْ، قَالَ : مِنْ مُرَادٍ ثُمَّ مِنْ قَرَنٍ[1] ؟ قَالَ : نَعَمْ قَالَ : فَكَانَ بِكَ : بَرَصٌ فَبَرَاْتَ مِنْهُ اِلَّا مَوْضِعَ دِرْهَمٍ؟ قَالَ نَعَمْ قَالَ : لَكَ وَالِدَةٌ ؟ قَالَ : نَعَمْ : قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : "يَاْتِيْ عَلَيْكُمْ اُوَيْسُ بْنُ عَامِرٍ مَعَ اَمْدَادِ اَهْلِ الْيَمَنِ مِنْ مُرَادٍ ثُمَّ مِنْ قَرَنٍ كَانَ بِهٖ بَرَصٌ فَبَرَاَ مِنْهُ اِلَّا مَوْضِعَ دِرْهَمٍ لَهٗ وَالِدَةٌ هُوَ بِهَا بَرٌّ[2] لَوْ اَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَاَبَرَّهٗ فَاِنِ اسْتَطَعْتَ اَنْ يَّسْتَغْفِرَ لَكَ فَافْعَلْ : فَاسْتَغْفِرْ لِيْ فَاسْتَغْفَرَ لَهٗ. فَقَالَ لَهٗ عُمَرُ : اَيْنَ تُرِيْدُ ؟ قَالَ : اَلْكُوْفَةَ قَالَ. اَلَا اَكْتُبُ لَكَ اِلٰى عَامِلِهَا ؟ قَالَ اَكُوْنُ فِيْ غَبْرَآءِ النَّاسِ اَحَبُّ اِلَيَّ. فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ حَجَّ رَجُلٌ مِّنْ اَشْرَافِهِمْ فَوَافَقَ عُمَرُ فَسَاَلَهٗ عَنْ اُوَيْسٍ فَقَالَ : تَرَكْتُهٗ رَثَّ الْبَيْتِ[3] قَلِيْلَ الْمَتَاعِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ

۳۷۵- اُسیر بن عمرو بقولِ بعضے ابن جابر رح وائی. چه حضرت عمر رض له به چه کله د یمن نه څۀ مددګار فوج راتلو. نو د هغوی نه به ئے پوښتنه کوله- آیا تاسو کښے اُویس بن عامر څوک شته ؟ بیا یو وارے اُویس رض راغے (نو داسے خبرے اترے اوشوے) عمر فاروق رض ورته اوفرمائیل آیا ته اُویس بن عامر یئے ؟ اُویس رض اووئیل - جی هو. عمر رض اووئیل د مراد قبیلے د قرن شاخ یئے؟ اُویس رض اووئیل، هو جی - عمر رض اووئیل آیا په تا مخکښے برګے مرض وو. او اوس ختم شوے دے، مګر د درهم هومره نښه دِ په بدن اوس هم شته ؟ اُویس رض اووئیل. هو جی. عمر رض اووئیل ستا مور هم ژوندئ ده ؟ اُویس رض اووئیل هو جی. بیا حضرت عمر رض اووئیل. ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیلی آوریدلی دی. چه تاسو له به د مُراد قبیلے د قرن د اولاد نه یو سړے اُویس بن عامر رض د یمن مددګار فوج سره راځی- چه په بدن ئے برګے مرض وُو. بیا بنه شو خو د روپۍ هومره نښانے اوس هم شته. او مور به ئے هم ژوندئ وی. چه د مور به هغه ډیر زیات منونکے وی (د هغه شان داسے دے) که په الله قسم اوخوري نو الله تعالیٰ به ئے ضرور پوره کوی.- که د خپل ځان دپاره درته د ښنے موقعه ملاؤ شوه. نو ضرور د هغه په ذریعه د مغفرت او ښنے دُعا اوغواړئ- (عمر رض ورته اووئیل) ځما دپاره د بخښ دُعا اوغواړه. نو اُویس رض ورته اوغوښتله بیا حضرت عمر رض اووئیل، چه د تللو اراده دِ چرته ده ؟ نو وے فرمائیل کوفے ته ځم-

---

[1] مراد اسم قبیلة و "قرن" بفتح القاف والرآء وبالنون، بطن من مراد وهو قرن بن رماد بن ناجية بن مراد [2] "برّ" بفتح الباء : ای بالغ فی البر والاحسان الیها وقوله صلی الله علیه وسلم :

"لو اقسم : ای حلف علی الله بامر من الامور لابره فی حلفه جزاء بره بوالدته [3] "رث البیت" ای

رث متاع البيت . والرث ، الدون او الخلق البالي :

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ. "يَاْتِيْ عَلَيْكُمْ أُوَيْسُ بْنُ عَامِرٍ مَعَ أَمْدَادٍ مِّنْ أَهْلِ الْيَمَنِ مِنْ مُرَادٍ ثُمَّ مِنْ قَرَنٍ كَانَ بِهٖ بَرَصٌ فَبَرَأَ مِنْهُ إِلَّا مَوْضِعَ دِرْهَمٍ لَهٗ وَالِدَةٌ هُوَ بِهَا بَرٌّ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَأَبَرَّهٗ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لَكَ فَافْعَلْ" فَأَتَى أُوَيْسًا فَقَالَ: اسْتَغْفِرْ لِيْ قَالَ: أَنْتَ أَحْدَثُ عَهْدًا بِسَفَرٍ صَالِحٍ فَاسْتَغْفِرْ لِيْ قَالَ: لَقِيْتَ عُمَرَ؟ قَالَ: نَعَمْ، فَاسْتَغْفَرَ لَهٗ فَفَطِنَ لَهُ النَّاسُ فَانْطَلَقَ عَلٰى وَجْهِهٖ[۱] رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِّمُسْلِمٍ أَيْضًا عَنْ أُسَيْرِ بْنِ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ أَهْلَ الْكُوْفَةِ وَفَدُوْا عَلٰى عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَفِيْهِمْ رَجُلٌ مِّمَّنْ كَانَ يَسْخَرُ بِأُيْسٍ فَقَالَ عُمَرُ. هَلْ هٰهُنَا أَحَدٌ مِّنَ الْقَرَنِيِّيْنَ؟ فَجَاءَ ذٰلِكَ الرَّجُلُ فَقَالَ عُمَرُ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَالَ: "إِنَّ رَجُلًا يَأْتِيْكُمْ مِّنَ الْيَمَنِ يُقَالُ لَهٗ أُوَيْسٌ لَا يَدَعُ بِالْيَمَنِ غَيْرَ أُمٍّ لَهٗ قَدْ كَانَ بِهٖ بَيَاضٌ[۲] فَدَعَا اللّٰهَ تَعَالٰى فَأَذْهَبَهٗ إِلَّا مَوْضِعَ الدِّيْنَارِ أَوِ الدِّرْهَمِ فَمَنْ لَقِيَهٗ مِنْكُمْ فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ" وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهٗ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: إِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: إِنَّ خَيْرَ التَّابِعِيْنَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهٗ أُوَيْسٌ وَلَهٗ وَالِدَةٌ وَكَانَ بِهٖ بَيَاضٌ فَمُرُوْهُ فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ"

قَوْلُهٗ "غَبْرَاءِ النَّاسِ" بِفَتْحِ الْغَيْنِ الْمُعْجَمَةِ وَإِسْكَانِ الْبَاءِ وَبِالْمَدِّ دَ

عمرؓ ورته اووئیل. دَ هغه ځائے حاکم ته ستا په باره کښے خط اولیکم. نو وے فرمائیل چه ځما په خاورو وخت تیرونکو خلقو سره ناسته او یو ځائے والے خوښ دے. بیا راتلونکی کال کښے یو شریف او مشر سړے دَ کوفے حج له راغے. عمرؓ سره دَ هغهٔ ملاقات اوشو. نو عمرؓ ترے دَ اُویسؓ دَ حالاتو پوښتنه اوکړه. نو وے وئیل، چه زهٔ راتلم نو داسے حال کښے وو چه یو وران کور کښے لږ معمولی اسباب او سامان سره اوسیدلو. حضرت عمرؓ اوفرمائیل چه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیل آورید لی دی. چه دَ یمن دلا مددګار فوج سره به تاسو له اُویس بن عامرؓ راځی. چه دَ مُراد قبیلے دَ قرن دَ اولاد نه به وی. برګے مرض به ئے وی. نور به جوړ شوے وی خو په بدن به ئے صرف دَ درهم هومره دَ داغ یو شکل پاتے شوے وی. او مور به ئے هم ژوندئ وی. چه دَ هغے به ډیر زیات منونکے وی. کهٔ دَ څهٔ خبرے قسم اوخوری. نو الله تعالیٰ ئے ضرور پوره کوی. نو کهٔ دَ هغهٔ نه دَ بخښنے غوښتلو موقعه درته ملاؤ شوه نو دَ بخښنے دُعا ترے اوغواړئ. بیا دَ کوفے هغه سړے په کوفه کښے دَ اویسؓ په خدمت کښے حاضر شو. او وے وئیل چه ماله دَ بخښنے دُعا اوکړه. اویسؓ ورته اووئیل. چه تهٔ بخپله نیک سفر (چه دَ حج سفر دے) نه راغلے ئے. تهٔ ماله دُعا اوغواړه. اُویسؓ ورته اوفرمائیل، آیا عمرؓ سره ملاؤ شوے وے؟ هغهٔ اووئیل هوجی. نو هغهٔ له ئے دَ بخښنے دُعا اوغوښتله بیا خلقو ته دَ هغهٔ دَ مرتبے او دَ شان پته اولګیده او هغه مشهور شو. مګر په پته ئے ځائے بدل کړو (او هیچا ته معلومه نهٔ شوه چه چرته لاړو) — د غسے دَ اُسیرؒ په حوالے سره مسلم کښے یو روایت بل هم شته چه دَ کوفے دَ خلقو یو ټولګے حضرت عمرؓ

---

[۱] ای خارجًا فان فی اقبال الناس علیه اشغالاً لهٗ عن شانه المتوجه الیه من افراد الحق بالقصد والانقطاع الیه عن الخلق [۲] ای برص.

هُمْ فُقَرَآؤُهُمْ وَصَعَالِيْكُهُمْ وَمَنْ لَايُعْرَفُ عَيْنُهٗ مِنْ اَخْلَاطِهِمْ" وَ"الْاَمْدَادُ" جَمْعُ مَدَدٍ وَهُمُ الْاَعْوَانُ وَالنَّاصِرُوْنَ الَّذِيْنَ كَانُوْا يُمِدُّوْنَ الْمُسْلِمِيْنَ فِي الْجِهَادِ ∴

له راغے. دیکښے یو هغه سړے هم وو چه اُویسؓ پورے به ئے ټوقے کولے. حضرت عمرؓ دَ دغه وفد نه پوښتنه اوکړه، چه تاسو کښے دَ قَرَن څوک شته؟ هغه سړی اووئیل چه زۀ قَرَنی یم. عمرؓ اووئیل. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. چه تاسوله به دَ یمن نه اُویس نومے یو سړے راځی. یمن کښے به دَ دۀ نه دروستو دَ هغۀ دَ مور نه بغیر هیڅوک نۀ وی. په هغۀ برګے مرض وو. دَ الله تعالیٰ نه ئے دُعا اوغوښتله، نو بدن ئے صفا شو. صرف دَ دینار یا دَ درهم هومرۀ داغ ئے په بدن باقی پاتے شوے دے. پس تاسو کښے کۀ دَ چا هغۀ سره ملاقات اوشو. نو هغۀ له پکار دی چه دَ خپلے بخښنے دپارۀ ترے دُعا اوغواړی.

عمرؓ نه دا هم نقل شوی دی. چه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرمائیلی آوریدلی دی. چه تابعینو کښے اُویسؒ یو بهترین سړے دے. مور به ئے ژوندۍ وی. دَ هغۀ په بدن به دَ برګی مرض دَ سپینوالی یوه نښنه وی. نو تاسو لا هم شئ دَ هغۀ نه دَ بخښنے دُعا اوغواړئ.

" غُبَرَآءِ النَّاسِ ": په خاورو ژوند تیرونکی. فقیران او مسکینان. فقیر صفتی خلق چه دَ هغوی شخصیت او نوم پیژندے شی.

" اَلْاَمْدَادُ ": دَ " مَدَدٌ " جمع ده. دَ مسلمانانو په جهاد کښے مدد او نصرت کولو والا یعنی فوجی امداد.

٣٧٦ - وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: اسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعُمْرَةِ فَاَذِنَ لِيْ وَقَالَ: "لَا تَنْسَانَا يَا اُخَيَّ مِنْ دُعَآئِكَ" فَقَالَ كَلِمَةً مَا يَسُرُّنِيْ اَنَّ لِيْ بِهَا الدُّنْيَا وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ: "اَشْرِكْنَا يَا اُخَيَّ فِيْ دُعَآئِكَ" حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ∴

٣٧٦ - حضرت عمرؓ فرمائی. چه ما دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه دَ عمرے اجازت اوغوښتلو. نو هغوی اجازت را کولو سره اوفرمائیل. چه وروریه! ګوره دُعا کښے چرته مونږ هیر نۀ کړے. عمرؓ وائی. چه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دے وینا سره چه ما ته کومه خوشحالی او مزه حاصله شوه (دَ ټولے دُنیا خوشحالی دَ دے مقابله کښے هیڅ هم نۀ دی) ټوله دُنیا چه څوک را کوی نو هم به دا خوشحالی ورکول نۀ خوښوم. او یو روایت کښے دا سے هم دی. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. وروریه! خپلو دُعاګانو کښے مونږ هم شریک ساته. (ابوداؤد و ترمذی) دا صحیح حدیث دے. او ترمذی وائی چه دا حدیث حسن صحیح دے.

٣٧٧ - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزُوْرُ قُبَآءَ[1] رَاكِبًا وَمَاشِيًا فَيُصَلِّيْ فِيْهِ رَكْعَتَيْنِ

٣٧٧ - عبدالله بن عمر رضی الله عنهما روایت کوی. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به کله په سورلۍ او کله پیاده یعنی خپے ایلے مسجد قباء ته تللو. او هلته به ئے دوه رکعته مونځ کولو. (بخاری و مسلم)

---

[1] "قباء" بضم القاف وتخفيف الباء وبالمد: قرية على فراسخ من المدينة وبها مسجد معروف ∴

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ۔ وَفِيْ رِوَايَةٍ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِيْ مَسْجِدَ قُبَآءَ كُلَّ سَبْتٍ رَاكِبًا وَمَاشِيًا وَّكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَفْعَلُهٗ ؞

یو روایت کښې داسې هم راغلي دي، چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم به خامخا د هرې هفتې یعني خالي به ورځ به سورلۍ یا پیاده مسجدِ قباء ته تللو ۔ او حضرت ابن عمر رض به داسې کول (ابن عمر رض د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په نقشهٔ قدم باندې عمل کولو کښې په صحابه و رض کښې مشهور شوې وو) ۔

باب ۴۶

ف :۔ دې باب کښې دوه قرآني آیتونه او یوولس نبوي حدیثونه دي ۔ که څوک د چا سره مینه کوي نو ضرور د هغهٔ تابعداري هم کوي ۔ دغسې چه څوک د الله او د هغهٔ د رسول سره مینه ساتي ۔ نو هغهٔ له داهم پکار نه دي چه د هغوئ د نافرمانۍ خیال هم اوکړي ۔ او ایمان هم دې څیز سره پوره کیږي ۔ او چه د چا ایمان پوره دې ۔ د دُنیا او د آخرت کامیابۍ هغهٔ ته حاصلیږي ۔ او د جنت حقدار هم جوړیږي ۔

باب فَضْلِ الْحُبِّ فِي اللّٰهِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ وَاِعْلَامِ الرَّجُلِ مَنْ يُحِبُّهٗ اَنَّهٗ يُحِبُّهٗ وَمَاذَا يَقُوْلُ لَهٗ اِذَا اَعْلَمَهٗ!

د الله دپاره د مینې محبت فضیلت او دهغې د تاکید بیان ۔ او چا سره چه مینه ساتي هغه کس دِېرې خبر کړي، او هغه چه پرې خبر شي، نو څهٔ ورله وئیل پکار دي دهغې بیان

(قرآني آيتونه)

۱۳۷ ۔ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1] " مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ " اِلٰى اٰخِرِ السُّوْرَةِ " .

۱۳۷ ۔ محمد (صلی الله علیه وسلم) د الله رسول دې ۔ او د هغهٔ (مجلس نه فائده اخستونکی خلق) صحابه (رضی الله عنهم) د کفارو سره معامله کولو کښې ډیر زیات سخت دي او خپل مینځ کښې ډیر مهربان دي ۔ (تر آخر د سورت پورې) (پ ۲۶ ، فتح)

۱۳۸ ۔ وَقَالَ تَعَالٰى[2] " وَالَّذِيْنَ تَبَوَّؤُا الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ[3] مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ " .

۱۳۸ ۔ او هغه خلق چه مدینه کښې د دوئ (مهاجرینو) نه مخکښې اوسیدل، او د هغوئ نه ئې مخکښې ایمان هم راوړې دې ۔ دوئ ته چه کوم مهاجر راځي دوئ ورسره ډیره مینه ساتي ۔ (پ ۲۸ ، حشر)

(نبوي حديثونه)

۳۷۸ ۔ وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ا ... اللّٰهُ مِنْهُ كَمَا يَكْرَهُ اَنْ يُقْذَفَ فِيْ ا

۳۷۸ ۔ انس بن مالک رض د نبي کریم (۳) د اسلام نه پس بې دینه کیدل ډیر

---

[1] سورة الفتح آية ۲۹ [2] سورة الحشر آية ۹ [3] هم الانصار رضي الله عنهم فانهم لزموا المدينة والايمان و تمكنوا فيهما ؞

عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ "ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيْهِ وَجَدَ بِهِنَّ حَلَاوَةَ الْإِيْمَانِ: اَنْ يَكُوْنَ اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا، وَ اَنْ يُحِبَّ الْمَرْءَ لَا يُحِبُّهٗ اِلَّا لِلّٰهِ، وَاَنْ يَّكْرَهَ اَنْ يَّعُوْدَ فِي الْكُفْرِ بَعْدَ اَنْ اَنْقَذَهُ النَّارِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

صلی الله علیه وسلم نه ارشاد نقل کړے دے. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه چا کښے دا درے خبرے موجود وی. نو هغه به د ایمان مزه اوخوند بیا مومی. (۱) الله او رسول د هٔ ته د ټولو کائناتو نه زیات محبوب اوګران وی (۲) صرف د الله دپاره چا سره مینه ساتی. (۳) بدګنړی. د دے نه پس چه الله د کفر د ګمراهئ نه راویستلے وو. دومره ئے بدګنړی لکه څنګه چه اور ته غورځیدل بدګنړی. (بخاری ومسلم)

۳۷۹- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ "سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظِلِّهٖ [1] يَوْمَ لَا ظِلَّ اِلَّا ظِلُّهٗ: اِمَامٌ عَادِلٌ، وَ شَابٌّ نَشَاَ فِيْ عِبَادَةِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَ رَجُلٌ قَلْبُهٗ مُعَلَّقٌ بِالْمَسَاجِدِ [2] وَ رَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللّٰهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَ تَفَرَّقَا عَلَيْهِ، وَ رَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَاَةٌ ذَاتُ حُسْنٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ اِنِّيْ اَخَافُ اللّٰهَ، وَ رَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَاَخْفَاهَا حَتّٰى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهٗ مَا تُنْفِقُ يَمِيْنُهٗ وَ رَجُلٌ ذَكَرَ اللّٰهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ [3] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۳۷۹- ابوهریره رض نه روایت دے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه اووه قسمه خلق داسے دی چه د قیامت په ورځ به د الله د رحمت دسوری لاندے وی. او الله تعالی سره د سوری نه بغیر به بل سورے هم نهٔ وی هغه دا دی: (۱) انصاف کونکے حاکم (۲) هغه ځوان چه د الله په عبادت اوبندګئ کښے لګیدلے دے (۳) هغه کس چه هروخت ئے زړهٔ د جوماتو سره تړلے دے. (۴) هغه دوه کسان چه یوځائے کیدل جدا کیدل او یو بل سره مینه لرلے (صرف) د الله دپاره وی. (۵) چه چا ته یوه خائسته ښځه د ګناه دعوت ورکړی اودے ورته جواب کښے اووائی چه زهٔ د الله نه ویریږم. (۶) هغه کس چه صدقه او خیرات دومره په پټه کوی چه ګس لاس ته هم پته اونهٔ لګی (چه ښی لاس بانده څهٔ ورکړے شوی دی. دلته د پټوالی دپاره د مبالغے په طور اوفرمائیلو) (۷) کله چه د الله تعالی ذکر یوازے ځائے کښے کوی. نو سترګو نه ئے اوښکے روانے شی. (بخاری ومسلم)

۳۸۰- وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى يَقُوْلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ: اَيْنَ الْمُتَحَابُّوْنَ

۳۸۰- ابوهریره رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل د قیامت په ورځ به الله تعالی اوفرمائی. چه څما د عظمت اوجلال په خاطر خپلو کښے مینه

---

[1] "فی ظله" ای فی کرامته وحمایته او فی ظل عرشه واضافه الیه سبحانه تشریفا [2] کنایة عن حبه لها رجمیته الیها اذا خرج منها حتی یعود الیها [3] "ففاضت عیناه" ای فاضت الدموع منهما قال القرطبی: وفیض العین بحسب حال الذاکر وما ینکشف له فبکاؤه خشیة من الله تعالی حال اوصاف الجلال وشوقا الیه سبحانه حال اوصاف الجمال ؛

بِجَلَالِيْ[1] اَلْيَوْمَ اُظِلُّهُمْ فِيْ ظِلِّيْ يَوْمَ لَا ظِلَّ اِلَّا ظِلِّيْ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ ::

ساتونکی خلق چرته دی (هغوئ دِ راشي) نن ورځ ځما دَ سوري نه بغير بل هيڅ سوري نشته هغوئ ته دَخپل رحمت سوري لاندے ځائے ورکوم۔ (مسلم)

۳۸۱- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَا تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ حَتّٰى تُؤْمِنُوْا وَلَا تُؤْمِنُوْا حَتّٰى تَحَابُّوْا: اَوَلَا اَدُلُّكُمْ عَلٰى شَيْءٍ اِذَا فَعَلْتُمُوْهُ تَحَابَبْتُمْ؟ اَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۳۸۱- دا روايت هم ابوهريره رض دَ نبی کريم صلی الله عليه وسلم نه نقل کړے دے۔ هغهٔ فرمائيلی دی۔ په هغه ذات مِ دِ قسم وی چه دَچا په لاس کښے ځما ساه ده۔ څوک چه ايمان نهٔ راوړی هغه به جنت ته داخل نشي۔ او دَ هيڅا ايمان هغه وخته پورے جنت ته دَ داخليد وضمانتی نشي جوړيدے (ترڅو پورے ئے چه دَمسلمان وروړسره) مينه نهٔ وی ساتلے۔ زهٔ تاسو ته اونهٔ ښائيم۔ چه خپل مينځ کښے مينه څنګه پيدا کيږی (هغه دا چه) خپل مينځ کښے دَ سلام اچولو رواج جوړ کړئ (هرمسلمان چه بل مسلمان سره ملاوُشی، نو السلام عليکم دِ اووائی)

۳۸۲- وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اَنَّ رَجُلًا زَارَ اَخًا لَهٗ فِيْ قَرْيَةٍ اُخْرٰى فَاَرْصَدَ اللّٰهُ لَهٗ عَلٰى مَدْرَجَتِهٖ مَلَكًا" وَذَكَرَ الْحَدِيْثَ اِلٰى قَوْلِهٖ "اِنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَبَّكَ كَمَا اَحْبَبْتَهٗ فِيْهِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔ وَقَدْ سَبَقَ بِالْبَابِ قَبْلَهٗ ::

۳۸۲- دا روايت هم دَ ابوهريره رض (مسلم) دے۔ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل۔ يوکس دَ يو مسلمان وروړ دَ ملاقات دپاره بل کلی ته لاړو۔ کوم ځائے چه هغهٔ اوسيدو لاره کښے الله يوه فرښته مقرره کړه۔ بيائے پوره هغه روايت ذکر کړو چه مخکښے باب کښے تيرشو۔ دَ هغے آخری جمله دا سے وه۔ چه الله تعالیٰ هم تا سره مينه ساتی۔ څنګه چه تهٔ خپل وروړ سره الله دپاره مينه ساتے۔ (مسلم)

۳۸۳- وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ قَالَ فِي الْاَنْصَارِ: "لَا يُحِبُّهُمْ اِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا يُبْغِضُهُمْ اِلَّا مُنَافِقٌ، مَنْ اَحَبَّهُمْ اَحَبَّهُ اللّٰهُ وَمَنْ اَبْغَضَهُمْ: اَبْغَضَهُ اللّٰهُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ::

۳۸۳- براء بن عازب رض نه روايت دے۔ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم دَ مدينے دَ انصارو په باره کښے اوفرمائيل۔ چه دوئ سره به هغه څوک مينه ساتی، څوک چه مؤمن دی۔ او دوئ سره به هغه څوک بُغض اودُشمنی ساتی۔ څوک چه منافق وی۔ انصارو سره چه څوک هم مينه ساتی الله به هغهٔ سره مينه ساتی۔ اوچه څوک ورسره دشمنی ساتی۔ نو الله به هغهٔ سره دشمنی ساتی۔ (بخاری ومسلم)

۳۸۴- وَعَنْ مُعَاذٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ:

۳۸۴- معاذ بن جبل رض وائی۔ چه ما دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم نه داسے فرمائيلے آوريدلی دی۔ چه دَ الله تعالیٰ ارشاد دے۔ چه ځما دَ احترام اوعزت دَ وجهے نه چه

---

[1] "بجلالي" اي في جلالي

اَلْمُتَحَابُّوْنَ فِیْ جَلَالِیْ لَهُمْ مَنَابِرُ [1] مِنْ نُوْرٍ یَغْبِطُهُمُ النَّبِیُّوْنَ وَالشُّهَدَآءُ[2]" رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ: حَدِیْثٌ حَسَنٌ صَحِیْحٌ ∴

څوک خپل مینځ کښے مینه محبت ساتی. دَ هغوئ دَ ناستې دپاره به داسے دَ نور ممبرونه وی. چه بعضے پیغمبران او شهیدان به هم دَ هغے آرمان او آرزو اوکړی. امام ترمذی وائی چه دا حدیث حسن او صحیح دے. (ترمذی)

۳۸۵- وَعَنْ اَبِیْ اِدْرِیْسَ الْخَوْلَانِیِّ رَحِمَهُ اللّٰهُ قَالَ: دَخَلْتُ مَسْجِدَ دِمَشْقَ فَاِذَا فَتًی بَرَّاقُ الثَّنَایَا [2] وَاِذَا النَّاسُ مَعَهٗ فَاِذَا اخْتَلَفُوْا فِیْ شَیْءٍ اَسْنَدُوْهُ اِلَیْهِ وَصَدَرُوْا عَنْ رَاْیِهٖ فَسَاَلْتُ عَنْهُ فَقِیْلَ: هٰذَا مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فَلَمَّا کَانَ مِنَ الْغَدِ هَجَّرْتُ فَوَجَدْتُهٗ قَدْ سَبَقَنِیْ بِالتَّهْجِیْرِ وَوَجَدْتُّهٗ یُصَلِّیْ فَانْتَظَرْتُهٗ حَتّٰی قَضٰی صَلٰوتَهٗ ثُمَّ جِئْتُهٗ مِنْ قِبَلِ وَجْهِهٖ فَسَلَّمْتُ عَلَیْهِ ثُمَّ قُلْتُ: وَاللّٰهِ اِنِّیْ لَاُحِبُّکَ فَقَالَ: آللّٰهِ؟ فَقُلْتُ: اَللّٰهِ فَقَالَ: آللّٰهِ؟ فَقُلْتُ: اَللّٰهِ فَاَخَذَنِیْ بِحَبْوَةِ رِدَآئِیْ فَجَبَذَنِیْ اِلَیْهِ فَقَالَ: اَبْشِرْ فَاِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ: " قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجَبَتْ مَحَبَّتِیْ لِلْمُتَحَابِّیْنَ فِیَّ وَالْمُتَجَالِسِیْنَ فِیَّ وَالْمُتَزَاوِرِیْنَ فِیَّ وَالْمُتَبَاذِلِیْنَ فِیَّ "حَدِیْثٌ صَحِیْحٌ رَوَاهُ مَالِكٌ فِی الْمُوَطَّا بِاِسْنَادِهِ الصَّحِیْحِ،

قَوْلُهٗ "هَجَّرْتُ" اَیْ بَکَّرْتُ وَهُوَ بِتَشْدِیْدِ الْجِیْمِ قَوْلُهٗ: "آللّٰهِ فَقُلْتُ: اَللّٰهِ" اَلْاَوَّلُ بِهَمْزَةٍ مَمْدُوْدَةٍ لِلْاِسْتِفْهَامِ وَالثَّانِیْ بِلَا مَدٍّ ∴

۳۸۵- ابوادریس خولانیٔ وائی. چه زهٔ دَ دمشق یو جومات ته لاړم. نو هلته مې یو ځوان اولید وچه مخامخ غاښونه ئے ډیر ځلیدونکی او ښائسته وو. او ګیر چاپیره ورسره نور خلق هم ناست وو. خبرو اترو کښے به چه څهٔ اختلاف راغے نو هغه ځوان ته به متوجه شول. او دَ هغهٔ په رائے به ئے فیصله کوله. ما پوښتنه اوکړه چه دا څوک دے؟ نو ما ته اووئیلے شو چه دا معاذ بن جبل رض دے. دویمه ورځ شوه نو زهٔ خپل خیال کښے وختی جومات ته لاړم. مګر معاذ بن جبل رض ځما نه هم وختی تلے وو. او مانځه کښے مشغول وو. ما انتظار اوکړو. کله چه دَ مانځه نه اوزګار شو. نو دَ مخے نه ورله راغلم. او دَ سلام نه پس ما عرض اوکړو چه الله ګواه دے. چه ځما تا سره مینه ده. هغهٔ اووئیل رښتیا او حقیقت دے؟ ما اووئیل بالکل حقیقت دے. بیا اووئیل رښتیا وائے. ما اووئیل، بالکل زهٔ رښتیا وایم نو بیا ځما دَ څادر یو کونج نیولو سره ئے ځان ته راښکلو. او وے فرمائیل چه ستا دپاره دَ زیری او دَ خوشحالئ خبره دا ده چه ما دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیلی آوریدلی دی. چه الله تعالیٰ فرمائی. چه کوم دوهٔ کسان ځما دَ پاره مینه ساتی په ما واجب دی چه زهٔ هغهٔ سره مینه اوکړم. او څوک چه ځما دپاره ناسته پاسته کوی. یا دَ یو بل ملاقات له ځی راځی. یا خپل مال ځما دپاره خرچ کوی (زهٔ دے ټولو سره مینه کوم). (موطا امام مالک رحمة الله علیه)

"هَجَّرْتُ": وختی تیزی سره لاړم. "آللّٰهِ": همزه دَ مدسره استفهام دپاره ده. او بغیر مد نه هم.

۳۸۶- وَعَنْ اَبِیْ کُرَیْمَةَ الْمِقْدَادِ

۳۸۶- ابوکریمه مقداد بن معدیکرب رض

---

[1] ای یجلسون علیها والغبطة: تمنی مثل ما للغیر من الخیر [2] براق الثنایا: بتشدید الراء ای ابیض الثغر حسنه کثیر التبسم ∴

بْنِ مَعْدِ يْكَرِبَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا أَحَبَّ الرَّجُلُ أَخَاهُ فَلْيُخْبِرْهُ أَنَّهُ يُحِبُّهُ" رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؞

نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ کله چه څوک د یو مسلمان ورور سره مینه محبت ساتی، نو هغه دِ خبر کړی چه ځما تا سره مینه ده۔

(ابوداؤد و ترمذی) ترمذیؒ وائی۔ دا حدیث حسن او صحیح دے۔

۳۸۷- وَعَنْ مُعَاذٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ بِيَدِهٖ وَقَالَ: "يَامُعَاذُ وَاللّٰهِ إِنِّيْ لَأُحِبُّكَ ثُمَّ أُوْصِيْكَ يَا مُعَاذُ لَا تَدَعَنَّ فِيْ دُبُرِ[1] كُلِّ صَلٰوةٍ تَقُوْلُ: "اَللّٰهُمَّ أَعِنِّيْ عَلٰى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ" حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ، رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ وَالنَّسَائِيُّ بِإِسْنَادٍ صَحِيْحٍ ؞

۳۸۷- معاذ بن جبل رضی الله عنه وائی۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ځما لاس اونیولو او وے فرمائیل۔ والله! اے معاذه! ځما تا سره محبت دے۔ زهٔ تا نه یوه خبره بنایم۔ چه دا وظیفه مهٔ پرېږده۔ او دَ هر مانځه نه پس ئے وایه۔ "اَللّٰهُمَّ أَعِنِّيْ عَلٰى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ" ترجمه: "اے الله! ستا په ذکر او شکر او بنه طریقه عبادت کولو باندے ځما امداد اوکړے" (ابوداؤد ونسائی)

۳۸۸- وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا كَانَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَرَّ رَجُلٌ بِهٖ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! إِنِّيْ لَأُحِبُّ هٰذَا. فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَأَعْلَمْتَهٗ؟" قَالَ: لَا قَالَ: "أَعْلِمْهُ" فَلَحِقَهٗ فَقَالَ: إِنِّيْ أُحِبُّكَ فِي اللّٰهِ فَقَالَ أَحَبَّكَ اللّٰهُ الَّذِيْ أَحْبَبْتَنِيْ لَهٗ رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ بِإِسْنَادٍ صَحِيْحٍ ؞

۳۸۸- انس بن مالک رض وائی۔ چه یو کس دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مجلس کښے ناست وو۔ یو دویم کس په هغه ځائے تیریدلو۔ دغه ناست سړی اووئیل، چه اے رسول الله (صلی الله علیه وسلم) زهٔ دے سړی سره مینه ساتم۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ دَ دے مینے خبر دِ هغهٔ ته ورکړے دے؟ هغهٔ اووئیل نهٔ۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته اووئیل، هغهٔ ته خبر ورکړه۔ بیا هغه سړے هغهٔ له لاړو او ورته ئے اووئیل چه دَ الله ج دپاره مِ تا سره مینه ده۔ هغهٔ اووئیل۔ اے الله! ته دَ دهٔ محبوب شے۔ ځکه چه ما سره مینه ساتی۔ (ابوداؤد)

باب ۴۷

ف:- دے باب کښے دوه قرآنی آیتونه او دَرے نبوی حدیثونه دی۔ په کومو علاماو نښنو سره پته لګی۔ چه کوم بنده دَ الله تعالیٰ خوښ دے۔ او بیا دغه علامے او نښے بنده څنګه حاصلے کړی، دَدے دَ ترغیب او دَ دے دَ حاصلولو سعی او کوشش تاکید دَ دے باب خلاصه ده۔

بَابُ عَلَامَاتِ حُبِّ اللّٰهِ تَعَالىٰ الْعَبْدَ وَالْحَثِّ عَلَى

الله تعالیٰ چه خپل بنده محبوب جوړ کړی دَ هغې دَ علاماو پیژندګلی

---

[1] "فی دبر کل صلوٰة" بضم المهملة والموحدة: ای عقب کل صلوٰة مفروضة ؞

اَلتَّخْلِيْقِ بِهَا وَالسَّعْيِ فِيْ تَحْصِيْلِهَا! او دغې نښو او آثارو پیدا کولو تاکید او د هغې د حاصلولو کوشش کولو بیان

(قرآنی آیتونه)

۱۳۹- قَالَ اللهُ تَعَالٰى[1]: "قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَاللهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ".

۱۳۹- مسلمانانو ته او وایه. که تاسو الله تعالیٰ سره د محبت کولو دعوی لرئ. نو (د رښتیا ښودنے دپاره) ځما تابعداری اوکړئ. الله تعالیٰ به هم تاسو سره محبت اوساتی. ستاسو ګناهونه به معاف کړی. الله تعالیٰ بخونکے او رحم کونکے دے. (پ ۳، آل عمران)

۱۴۰- وَقَالَ تَعَالٰى[2]: "يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَسَوْفَ يَاْتِي اللهُ بِقَوْمٍ يُّحِبُّهُمْ وَيُحِبُّوْنَهٗ اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ[3] اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ يُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ذٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَاللهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ" :

۱۴۰- که تاسو کښے چا خپل دین پریښودلو سره بے دینه شو. نو د هغوئ په ځائے به الله تعالیٰ داسے قوم را پیدا کړی. چه هغوئ به الله تعالیٰ سره محبت کوی او الله تعالیٰ به هغوئ سره محبت کوی. مؤمنانو سره به مینه او نرمی ساتی. د کافرانو په حق کښے به سخت وی. او د الله په لاره کښے به جهاد کوی. او د ملامته کونکی د ملامتیانه به نه ویریږی. دا د الله تعالیٰ فضل دے. چه چاله ئے خوښه شی ورکوی ئے. الله ډیر فراخه علم والا دے. (پ ۶، مائده)

(نبوی حدیثونه)

۳۸۹- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اِنَّ اللهَ تَعَالٰى قَالَ: مَنْ عَادٰى لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ اٰذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ وَمَا تَقَرَّبَ اِلَيَّ عَبْدِيْ بِشَيْءٍ اَحَبَّ اِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ وَمَا يَزَالُ عَبْدِيْ يَتَقَرَّبُ اِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتّٰى اُحِبَّهٗ فَاِذَا اَحْبَبْتُهٗ كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِيْ يَسْمَعُ بِهٖ وَبَصَرَهُ الَّذِيْ يُبْصِرُ بِهٖ وَيَدَهُ الَّتِيْ يَبْطِشُ بِهَا وَرِجْلَهُ الَّتِيْ يَمْشِيْ بِهَا وَاِنْ سَاَلَنِيْ اَعْطَيْتُهٗ وَلَئِنِ اسْتَعَاذَنِيْ لَاُعِيْذَنَّهٗ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ: مَعْنٰى "اٰذَنْتُهٗ": اَعْلَمْتُهٗ بِاَنِّيْ مُحَارِبٌ لَهٗ. وَقَوْلُهٗ "اسْتَعَاذَنِيْ" رُوِيَ

۳۸۹- ابوهریره ؓ نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. د الله تعالیٰ ارشاد دے: څوک چه ځما دوست ته تکلیف رسوی. ځما د طرف نه هغه ته د جنګ اعلان دے. په خپلو بندګانو چه ما کوم فرائض جاری کړی دی. د هغې په اداء کولو سره ما ته نزدیکت حاصلول محبوب او خوښ دی. او بنده د فرضو اداء کولو سره د نفلونو په ذریعه ځما په نزدیکت حاصلولو کښے لګیدلے اوسی. آخر هغه وخت راشی چه زه ئے خپل محبوب جوړ کړم. نو زه د هغه غوږ دنه شم چه آوریدل پرے کوی. زه ئے سترګے جوړے شم چه لیدل پرے کوی. زه ئے لاس جوړ شم چه نیول پرے کوی. زه ئے خپے جوړے شم چه تلل پرے کوی. داسے وخت کښے چه ځما نه څه غواړی، نو هغه ورکوم. او د کوم خبرونه

---

[1] سورة آل عمران آية ۳۱ [2] سورة المآئدة آية ۵۴ [3] "اذلة على المؤمنين" ای عاطفین علیهم متذللین لهم "اعزة على الكافرين" ای شداد متغلبین علیهم :

بِالْبَآءِ وَ رُوِیَ بِالنُّوْنِ ؛

چه بچ کیدل غواړی دَ هغې نه ئې بچ ساتم. (بخاري)

"اَذَنْتُهٗ": خبر او اطلاع ورکوم چه زۀ ئې مقابله کښے یم.

"اِسْتَعَاذَنِیْ" او "اِسْتَعَاذَبِیْ" دواړه الفاظ روایت کښے راغلی دی.

٣٩٠- وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِذَا اَحَبَّ اللّٰهُ تَعَالٰى الْعَبْدَ نَادٰى جِبْرِيْلَ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى يُحِبُّ فُلَانًا فَاَحْبِبْهُ فَيُحِبُّهٗ جِبْرِيْلُ فَيُنَادِيْ فِيْ اَهْلِ السَّمَآءِ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَاَحِبُّوْهُ فَيُحِبُّهٗ اَهْلُ السَّمَآءِ ثُمَّ يُوْضَعُ لَهُ الْقَبُوْلُ فِي الْاَرْضِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى اِذَا اَحَبَّ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيْلَ فَقَالَ: "اِنِّيْ اُحِبُّ فُلَانًا فَاَحِبَّهٗ فَيُحِبُّهٗ جِبْرِيْلُ ثُمَّ يُنَادِيْ فِي السَّمَآءِ فَيَقُوْلُ: اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَاَحِبُّوْهُ فَيُحِبُّهٗ اَهْلُ السَّمَآءِ ثُمَّ يُوْضَعُ لَهُ الْقَبُوْلُ فِي الْاَرْضِ. وَاِذَا اَبْغَضَ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيْلَ فَيَقُوْلُ: اِنِّيْ اُبْغِضُ فُلَانًا فَاَبْغِضْهُ فَيُبْغِضُهٗ جِبْرِيْلُ "ثُمَّ يُنَادِيْ فِيْ اَهْلِ السَّمَآءِ: اِنَّ اللّٰهَ يُبْغِضُ فُلَانًا فَاَبْغِضُوْهُ ثُمَّ تُوْضَعُ لَهُ الْبَغْضَآءُ فِي الْاَرْضِ" ؛

٣٩٠- ابوهریره رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه کله الله تعالیٰ یو بنده خپل محبوب جوړ کړی. نو جبرئیل علیه السلام ته آواز اوکړی چه الله تعالیٰ فلانکی سره مینه ساتی. ته هم هغهٔ سره مینه ساته. نو هغه ورسره مینه ساتی. او آسمان والا ته اعلان اوکړی. چه الله تعالیٰ ته فلانکے بنده خوښ دے. تاسو هم دَ هغهٔ سره محبت ساتئ. نو آسمان والو ته ډیر خوښ شی. بیا دَ زمکے والا په زړونو کښے دَ هغه سره مینه کینی او خلقو ته ګران شی. (بخاري ومسلم)

او دَ مسلم په یو روایت کښے دا هم راغلی دی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. کله چه الله خپل بنده سره مینه ساتی. نو جبرئیل علیه السلام رااوغواړی. او ورته اووائی چه زما دَ فلانکی سره محبت دے. ته هم دَ هغهٔ سره محبت ساته. نو دَ جبرئیل علیه السلام هم محبوب جوړ شی. بیا جبرئیل علیه السلام آسمان والو ته آواز اوکړی. چه الله تعالیٰ فلانکی بنده سره مینه ساتی. تاسو هم دَ هغهٔ سره محبت لرئ. بیا دَ زمکے والو زړونو کښے هم دَ هغهٔ قبولیت او محبت ورواچوی. او کله چه الله تعالیٰ چا سره بُغض ساتی نو اول جبرئیل علیه السلام رااوغواړی. چه ته ترے هم نفرت کوه. نو جبرئیل علیه السلام ترے کرکه کوی. بیا (جبرئیل علیه السلام) اسمان والو ته اعلان کښے اووائی. چه دَ فلانکی بنده سره دَ الله بُغض دے. تاسو هم هغهٔ سره بُغض ښکاره کړئ. بیا دَ زمکے والو زړونه هم دَ هغهٔ دَ بُغض نه ډک کړے شی.

٣٩١- وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ رَجُلًا عَلٰى سَرِيَّةٍ فَكَانَ يَقْرَأُ لِاَصْحَابِهٖ فِيْ صَلَاتِهِمْ فَيَخْتِمُ

۳۹۱- حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو سړے دَ جنګ دپاره دَ لښکر امیر جوړ کړو. او جنګ له ئې اولیږلو. هغهٔ به چه امامت کولو نو دَ هر مانځه په آخر رکعت کښے به ئې

«بِقُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ» فَلَمَّا رَجَعُوْا ذَكَرُوْا ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «سَلُوْهُ لِاَيِّ شَيْءٍ يَصْنَعُ ذٰلِكَ؟» فَسَاَلُوْهُ، فَقَالَ: لِاَنَّهَا صِفَةُ الرَّحْمٰنِ فَاَنَا اُحِبُّ اَنْ اَقْرَاَ بِهَا، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اَخْبِرُوْهُ اَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى يُحِبُّهٗ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

"قُلْ هُوَ اللّٰه" (سورت) لوستلو. کله چه د لښکر هغه دسته واپس شوه. نو خلقو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا خبره وریاده کړه. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. د دے وجه د هغهٔ نه معلومه کړئ. چه دا سے ولے کول. کله چه د هغهٔ نه پوښتنه اوکړے شوه. نو هغوئ اووئیل چه دے سورت کښے د الله تعالیٰ صفتونه بیان شوی دی. دا سورت م ځکه خوښ وو. چه د ټولو نه زیات دا وایم نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. هغهٔ ته خبر ورکړئ. چه الله تعالیٰ هم تا سره محبت کوی. (بخاری ومسلم)

باب ۴۸

ف:۔ دے باب کښے دوه قرآنی آیتونه او یو نبوی حدیث دے۔

التَّحْذِيْرُ مِنْ اِيْذَاءِ الصَّالِحِيْنَ وَالضَّعَفَةِ وَالْمَسَاكِيْنِ! نیکانو، کمزورو، مسکینانو ته به تکلیف رسولو باندے د وعید او سزا بیان

(قرآنی آیتونه)

١٤١- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[2]: «وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا فَقَدِ احْتَمَلُوْا بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا» ؛

١٤١- څوک چه مؤمنانو نارینه او زنانو ته ناحقه بے قصوره تکلیف ورکوی. نو خپل ځان باندے د ظلم او ښکاره ګناه دروند بار اچوی۔ (پ ۲۲، احزاب)

١٤٢- وَقَالَ تَعَالٰى[3]: «فَاَمَّا الْيَتِيْمَ فَلَا تَقْهَرْ وَاَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ» ؛

١٤٢- یتیم مهٔ بے عزته کوه. او سوال کونکے مهٔ رټئ۔ (پ ۳۰، ضحی)

(نبوی حدیثونه)

وَاَمَّا الْاَحَادِيْثُ فَكَثِيْرَةٌ مِّنْهَا حَدِيْثُ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِي الْبَابِ قَبْلَ هٰذَا: «مَنْ عَادٰى لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ اٰذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ» وَمِنْهَا حَدِيْثُ سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ السَّابِقُ فِيْ بَابِ مُلَاطَفَةِ الْيَتِيْمِ وَقَوْلُهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا اَبَا بَكْرٍ لَئِنْ كُنْتَ اَغْضَبْتَهُمْ لَقَدْ اَغْضَبْتَ رَبَّكَ» ؛

دے باب سره متعلق ډیر زیات نبوی احادیث روایت شوی دی. دا ابوهریره رض یو حدیث مخکښے باب کښے تیر شو پکښے یوه ټوټه دا سے ده چه الله تعالیٰ فرمائی چه څوک ځما دوست ته تکلیف ورکوی هغهٔ سره ځما د جنګ اعلان دے. هغه هم دے سره مناسب وی. او بل حدیث د سعد بن ابی وقاص رض "ملاطفة الیتیم" عنوان سره هم تیر شو. او حضرت ابوبکر رض نه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا فرمائیل چه که هغوئ دے خفه کړل نو تا ګویا خپل رب دے خفه کړو۔

---

[1] "السرية" بفتح اوليه وتشديد التحتية، القطعة من الجيش سميت سرية لانها تسري في خفية،

[2] سورة الاحزاب آية ٥٨ [3] سورة الضحى آية ٩-١٠

۳۹۲ - وَعَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صَلَّى صَلَاةَ الصُّبْحِ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ اللهِ[1] فَلَا يَطْلُبَنَّكُمُ اللهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ فَإِنَّهُ مَنْ يَطْلُبْهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ يُدْرِكْهُ ثُمَّ يَكُبَّهُ[2] عَلَى وَجْهِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ :

۳۹۲ - جندب بن عبدالله رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چاچه د سحر مونځ اوکړو. هغه د الله تعالیٰ په حفاظت او ذمه وارئ کښے راغی. نو اوس دغه کس سره څهٔ داسے حرکت اونهٔ کړئ. چه د الله په ذمه وارئ کښے څه فرق راشی. او هسے نه چه تاسو نه هغه تپوس اوکړی. اوکله چه هغه تپوس کوی نو هیڅوک ترے نشی بچ کیدے (نتیجه ئے دا ده چه) بیا به ئے نسکور او پړمخ دوزخ ته اوغورځوی. (مسلم)

باب ۴۹

ف:- دے باب کښے یو آیت او شپږ احادیث دی.

بَابُ إِجْرَاءِ أَحْكَامِ النَّاسِ عَلَى الظَّاهِرِ وَسَرَآئِرِهِمْ إِلَى اللهِ تَعَالَى!

د خلقو په ظاهر باندے د احکامو جاری کولو او د پټو خبرو او کارونو الله تعالیٰ ته د سپارلو بیان!

(قرآنی آیتونه)

۱۴۳ - قَالَ اللهُ تَعَالَى[3]: "فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَآتَوُا الزَّكٰوةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ" :

۱۴۳ - که هغوئ توبه اوباسی. او مونځ پابندئ سره اوکړی. او زکوٰة ورکړی نو مخے ئے خلاصه کړئ. (پ۱۰، توبه)

(نبوی حدیثونه)

۳۹۳ - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ وَيُقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ فَإِذَا فَعَلُوا ذٰلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَآءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ تَعَالَى" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ :

۱۹۳ - عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه ما ته حکم راکړے شوے دے. چه زهٔ د کافرو سره هغه وخته پورے جنګ جاری ساتم. ترڅو چه د الله تعالیٰ د یو والی او څما د پیغمبرئ ګواهی ورنکړی. او مونځ قایم نهٔ کړی او نه زکوٰة ورنکړی. کله چه دا کارونه اوکړی نو بیا مانه د هغوئ مال او جان محفوظ دے. مګر د اسلام د حق ښودلو د پاره به د جان او مال مطالبه وی. او د هغوئ حساب او کتاب الله تعالیٰ ته سپارلے شی. (بخاری ومسلم)

۳۹۴ - وَعَنْ أَبِي عَبْدِ اللهِ طَارِقِ بْنِ أُشَيْمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ

۳۹۴ ابو عبدالله طارق بن اُشیم رض نه روایت دے. چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیل آوریدلی دی.

---

[1] "في ذمة الله" اى في امان الله او ضمانه [2] "يكبه" بضم الكاف: اى يلقيه على وجهه في نار جهنم [3] سورة التوبة - آية - ٥ :

رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ "مَنْ قَالَ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَکَفَرَ بِمَا یُعْبَدُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَرُمَ مَالُهٗ وَدَمُهٗ وَحِسَابُهٗ عَلَی اللّٰهِ تَعَالٰی" رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

چه چا لا اله الا الله کلمه اووئیله او دَ الله تعالیٰ نه علاوه ئے دَ بل چا دَ عبادت او بندګئ نه انکار اوکړو نو دَ هغهٔ مال او جان محفوظ شو۔ او دَ دهٔ حساب کتاب الله تعالیٰ ته سپارلے شوے دے۔ (مسلم)

۳۹۵- وَعَنْ اَبِیْ مَعْبَدِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْاَسْوَدِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قُلْتُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَرَاَیْتَ اِنْ لَقِیْتُ رَجُلًا مِّنَ الْکُفَّارِ فَاقْتَتَلْنَا فَضَرَبَ اِحْدٰی یَدَیَّ بِالسَّیْفِ فَقَطَعَهَا ثُمَّ لَاذَ مِنِّیْ بِشَجَرَةٍ فَقَالَ اَسْلَمْتُ لِلّٰهِ اَقْتُلُهٗ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ بَعْدَ اَنْ قَالَهَا؟ فَقَالَ: "لَا تَقْتُلْهُ" فَقُلْتُ: یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَطَعَ اِحْدٰی یَدَیَّ ثُمَّ قَالَ ذٰلِكَ بَعْدَ مَا قَطَعَهَا؟ فَقَالَ: "لَا تَقْتُلْهُ فَاِنْ قَتَلْتَهٗ فَاِنَّهٗ بِمَنْزِلَتِكَ قَبْلَ اَنْ تَقْتُلَهٗ وَاِنَّكَ بِمَنْزِلَتِهٖ قَبْلَ اَنْ یَّقُوْلَ کَلِمَتَهُ الَّتِیْ قَالَ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ۔

وَمَعْنٰی "اَنَّهٗ بِمَنْزِلَتِكَ": اَیْ مَعْصُوْمُ الدَّمِ مَحْکُوْمٌ بِاِسْلَامِهٖ وَمَعْنٰی "اَنَّكَ بِمَنْزِلَتِهٖ" اَیْ مُبَاحُ الدَّمِ بِالْقِصَاصِ لِوَرَثَتِهٖ لَا اَنَّهٗ بِمَنْزِلَتِهٖ فِی الْکُفْرِ، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ۔

۳۹۵- ابومعبد مقداد بن اسودؓ وائی چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو۔ چه دے صورت کښے تاسو څهٔ وایئ۔ چه جنګ کښے دَ مقابلے په وخت کښے یو کافر سره څما مقابله راشی۔ او هغه په ما حمله اوکړی او یو لاس مې کټ کړی۔ او څما دَ وار نه دَ بچ کیدو دپاره یو بوټی ته پټ شی۔ او اووائی چه ما په الله ج اسلام راوړو۔ نو آیا دغه وخت هغه قتل کړم؟ کهٔ پرے ئے بږدم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ هغه به نهٔ وژنے۔ ما عرض اوکړو ګوره چه اول خو ئے څما لاس پریکړے دے۔ او بیا ئے دَ اسلام اقرار کړے دے۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم هم هغسے ارشاد اوفرمائیلو چه هغه مهٔ وژنه۔ کهٔ تا هغه مړ کړو۔ نو هغهٔ ته به هغه درجه ورکړے شی، چه کومه درجه باندے مخکښے تهٔ وے۔ او تهٔ به په هغه درجه کښے راشے۔ کومه باندے چه هغه دَ اسلام دَ منلو نه مخکښے وو۔ (بخاری ومسلم)

"اَنَّهٗ بِمَنْزِلَتِكَ": دَ اسلام راوړلو په وجه ئے وینه محفوظه شوه۔ یعنی وژل ئے درست نهٔ دی۔ "اَنَّكَ بِمَنْزِلَتِهٖ": دَ هغهٔ دَ وژلو په وجه ستا وینه مباح شوه او دَ هغهٔ وارثان تا نه دَ بدل اخستلو حقدار دی، دا مطلب ئے نهٔ دے چه تهٔ کافر شوے۔

۳۹۶- وَعَنْ اُسَامَةَ بْنِ زَیْدٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ بَعَثَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِلَی الْحُرَقَةِ مِنْ جُهَیْنَةَ فَصَبَّحْنَا الْقَوْمَ عَلٰی مِیَاهِهِمْ وَلَحِقْتُ اَنَا وَرَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ رَجُلًا مِّنْهُمْ فَلَمَّا غَشِیْنَاهُ

۳۹۶- اسامه بن زید رضی الله عنهما وائی۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ جهینه قبیلے "وادی حُرقه" ته روان کړو۔ مونږ دَ سحر په وخت هلته دَ هغوئ اوبو (یا کوهی، چینے وغیره) ته اورسیدو ما سره یو انصاری هم وو۔ نو مونږ ته دَ دغه قبیلے یو سړے ملاؤ شو۔ کله چه مونږ هغه

قَالَ: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فَكَفَّ عَنْهُ الْاَنْصَارِيُّ وَطَعَنْتُهُ بِرُمْحِيْ حَتّٰى قَتَلْتُهُ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِيْنَةَ بَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِيْ: "يَا اُسَامَةُ اَقَتَلْتَهُ بَعْدَ مَا قَالَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ؟" قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّمَا كَانَ مُتَعَوِّذًا فَقَالَ: "اَقَتَلْتَهُ بَعْدَ مَا قَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ؟" فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا عَلَيَّ حَتّٰى تَمَنَّيْتُ اَنِّيْ لَمْ اَكُنْ اَسْلَمْتُ قَبْلَ ذٰلِكَ الْيَوْمِ[1] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ: "فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَقَالَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَقَتَلْتَهُ؟" قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّمَا قَالَهَا خَوْفًا مِنَ السِّلَاحِ قَالَ: "اَفَلَا شَقَقْتَ عَنْ قَلْبِهٖ حَتّٰى تَعْلَمَ اَقَالَهَا اَمْ لَا؟" فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا حَتّٰى تَمَنَّيْتُ اَنِّيْ اَسْلَمْتُ يَوْمَئِذٍ؛

"الْحُرَقَةُ" بِضَمِّ الْحَآءِ الْمُهْمَلَةِ وَفَتْحِ الرَّآءِ: بَطْنٌ مِّنْ جُهَيْنَةَ الْقَبِيْلَةِ الْمَعْرُوْفَةِ. وَقَوْلُهٗ "مُتَعَوِّذًا": اَيْ مُعْتَصِمًا بِهَا مِنَ الْقَتْلِ لَا مُعْتَقِدًا لَهَا:

قابو کښے راوستلو. نو هغهٔ لا اله الا الله کلمه اوویله. انصاری خو کلمے آوریدُ سرهٔ فورًا جدا شو. مګر ما (هغه) خپله نیزه باندے دومره اووهلو. چه هغه مړ شو. کله چه مونږ مدینے ته واپس راغلو. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دَ دے واقعے پته اولګیده. نو ما ته ئے اوفرمائیل اے اسامه (رضی الله عنه)! تا هغه سړے دَ کلمے ویلو نه پس بیا هم اووژلو. ما عرض اوکړو یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم)! دَ خپل ځان دَ خلاصی دپاره ئے کلمه اوویله ځکه ما مړ کړ. دا جمله چه بیا دِ اووژلو. دومره بار بار نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیله چه ما دا ارمان اوکړو چه دَ نن ورځے نه مخکښے هډو مسلمان شوے نهٔ وے (چه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ افسوس جوړیدو سبب به نهٔ وو. او دا ګناه به راندهم نهٔ وه شوے) (بخاری و مسلم)

او بل روایت کښے داسے هم راغلی دی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل هغهٔ لا اله الا الله اوویل او تا اووژلو. ما اوویل یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم)! هغهٔ دَ وسلے دَ ویرے نه داسے ویلی دی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. تا دَ هغهٔ زړهٔ څیرے کړے وُو او کتلی دِ وُو. چه دا کلمه ئے دَ زړهٔ نه نهٔ وه ویلے؟ دَ ځان ساتلو او تورے دَ ویرے نه ئے ویلے وه؟ او دا جمله هغهٔ دومره بار بار اوفرمائیله. چه دا ارمان م اوکړو. چه ما نن اسلام راوړے وے.

"حُرْقَةُ": دَ قبیله جهینه یوه وادی.

"مُتَعَوِّذًا": یعنی دَ قتل نه دَ بچ کیدو دپاره ئے داسے ویلی وُو. دَ عقیدے نه ئے نهٔ وه ویلے.

٣٩٧- وَعَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا[2] مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ اِلٰى قَوْمٍ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَاَنَّهُمُ الْتَقَوْا فَكَانَ رَجُلٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اِذَا شَآءَ اَنْ يَّقْصِدَ اِلٰى رَجُلٍ مِّنَ

٣٩٧- جندب بن عبد الله رضی الله عنه وائی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ مسلمانانو یوه دسته دَ لښکر دَ مشرکانو مقابلے دپاره اولیږله. دَ دواړو ترمینځ مقابله اوشوه. مشرکانو کښے یو کس داسے بهادر وُو. چه د کوم مسلمان د قتل نیت به ئے اوکړو. هغه به ئے قتل

---

[1] ای لمن یکن تقدم اسامی بل ابتدأته الاٰن [2] "بعثًا" بفتح الموحدة وسکون المهملة وبالمثلثة :

الْمُسْلِمِيْنَ قَصَدَ لَهٗ فَقَتَلَهٗ وَ اَنَّ رَجُلًا مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ قَصَدَ غَفْلَتَهٗ وَكُنَّا نَتَحَدَّثُ اَنَّهٗ اُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ فَلَمَّا رَفَعَ عَلَيْهِ السَّيْفَ قَالَ: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فَقَتَلَهٗ فَجَآءَ الْبَشِيْرُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهٗ وَ اَخْبَرَهٗ حَتّٰى اَخْبَرَهٗ خَبَرَ الرَّجُلِ كَيْفَ صَنَعَ فَدَعَاهُ فَسَاَلَهٗ فَقَالَ: "لِمَ قَتَلْتَهٗ؟" فَقَالَ: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَوْجَعَ فِي الْمُسْلِمِيْنَ وَقَتَلَ فُلَانًا وَفُلَانًا وَسَمّٰى لَهٗ نَفَرًا وَ اِنِّىْ حَمَلْتُ عَلَيْهِ فَلَمَّا رَاَى السَّيْفَ قَالَ: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَقَتَلْتَهٗ؟" قَالَ: نَعَمْ قَالَ: "فَكَيْفَ تَصْنَعُ بِلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اِذَا جَآءَتْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ؟" قَالَ: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اسْتَغْفِرْلِىْ قَالَ: "وَكَيْفَ تَصْنَعُ بِلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اِذَا جَآءَتْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ؟" فَجَعَلَ لَا يَزِيْدُ عَلٰى اَنْ يَقُوْلَ: "كَيْفَ تَصْنَعُ بِلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اِذَا جَآءَتْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ؟" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

کړو - مسلمانانو کښې هم يو کس د هغهٔ په تلاش کښې ګرځيدلو - چه هغه ناخبره وی. او مړ ئې کړی. مونږ خپلو کښې خيال اوکړو. چه هغه اسامه بن زيد رض دے - کله چه ئې د هغهٔ مقابله کښې د هغهٔ د وژلو دپاره توره اوچته کړه. نو هغه سړی فورًا لا اله الا الله کلمه اووئيله - مګر اسامه رض هغه اووژلو - د فتحې او د کاميابۍ د زيری ورکولو دپاره چه څوک د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې راغے - نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم ترے د حالاتو پوښتنه اوکړه. هغهٔ ټول تفصيلات اوښودل - او کومه واقعه د ځوان چه وه هغه ئې هم بيان کړه - چه هغهٔ څهٔ کړی وُو - رسول الله صلی الله عليه وسلم اسامه رضی الله عنه رااوغوښتلو او پوښتنه ئې ترے اوکړه چه تا هغه ولے قتل کړو؟ هغهٔ اووئيل: يا رسول الله (صلی الله عليه وسلم): هغهٔ مسلمانانو کښې ويره خوره کړے وه. او فلانکے فلانکے هغهٔ شهيدان کړی دی - او د شهيدانو نومونهٔ په شمار ورته اوښودل - نو ما پرے حمله اوکړه - کله ئې چه توره په خپل سر اوچته اوليدله - نو لا اله الا الله کلمه ئې اووئيله - رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل نو تا هغه اووژلو؟ هغهٔ اووئيل هو جی - بيا نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل - کله چه قيامت راشی (او لا اله الا الله کلمه فريادی جوړيدو سره راشی) نو لا اله الا الله له به څهٔ جواب ورکوے؟ اسامه رض اووئيل، يا رسول الله! څما دپاره د بخښنې دُعا اوغواړئ - مګر رسول الله صلی الله عليه وسلم به هم دا وئيل - چه د قيامت په ورځ لا اله الا الله کلمه راشی نو ته به څهٔ جواب ورکوے؟ د دے جملې نه بغير ئې بل څهٔ نهٔ وئيل - چه کله د قيامت په ورځ لا اله الا الله کلمه راشی. نو ته به څهٔ جواب ورکوے - (مسلم)

۳۹۸ - وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُوْلُ: اِنَّ نَاسًا كَانُوْا يُؤْخَذُوْنَ بِالْوَحْيِ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اِنَّ الْوَحْيَ قَدِ انْقَطَعَ وَاِنَّمَا نَاْخُذُكُمُ

۳۹۸ - عبد الله بن عقبه بن مسعود رحمة الله عليه وائی - چه ما د عمر رض نه دا سے فرمائيل آوريدلی دی - چه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کښې به د وحی په ذريعه د خلقو عيب او رښتيا معلوميدلو مګر د وحی سلسله اوس ختمه شوه اوس به مونږ تاسو په هغه عملونو نيسو کوم چه

اَلْاٰنَ بِمَا ظَهَرَلَنَا مِنْ اَعْمَالِكُمْ فَمَنْ اَظْهَرَلَنَا خَيْرًا اَمَّنَّاهُ وَقَرَّبْنَاهُ وَلَيْسَ لَنَا مِنْ سَرِيْرَتِهٖ شَيْءٌ اَللّٰهُ يُحَاسِبُهٗ فِيْ سَرِيْرَتِهٖ وَمَنْ اَظْهَرَلَنَا سُوْءًا لَمْ نَاْمَنْهُ وَلَمْ نُصَدِّقْهُ وَاِنْ قَالَ اِنَّ سَرِيْرَتَهٗ حَسَنَةٌ، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ۞

تاسو کوئ. او مونږ ئې وینو. او د هغې د ظاهر مطابق به ستاسو نیول کیږی. کوم کس نه چه خیر او نیکی ښکاره شي. مونږ به هغوئ نه مطمئن او په تسلئ یو. هغه به مونږ ته نزدے وی. څمونږ د هغهٔ د زړهٔ د پټو رازونو او د پټو خبرو سره څهٔ تعلق دے. د هغهٔ د زړهٔ د ارادو او د پټو رازونو حساب خو به الله تعالیٰ آخلی. او د چا نه چه بدی ښکاره شي، نهٔ مونږ د هغهٔ نه مطمئن او تسلئ سره یو. او نهٔ د هغهٔ تصدیق کوو. اګرچه د هغهٔ د قول او وینا مطابق د هغهٔ نیت ښهٔ نهٔ وی. (بخاری)

باب ٥٠

ف:- دے باب کښے اتهٔ قرآنی آیتونه او شپاړس نبوی حدیثونه دی. قرآن مجید کښے د اولیاؤ د شان په باره کښے ارشاد دے چه هغوئ ته به نهٔ څهٔ ویره وی او نهٔ پریشانی وی او نهٔ څهٔ غم. د غم تعلق او واسطه د ماضی سره وی او د ویرے تعلق د آینده زمانے سره دے. او هر سړے تیرے شوے زمانے پسے افسوس کوی او لاسونه مروړی. او د آئنده زمانے د خطرونه ویره ترهه وی. هغه کیفیت چه هغے ته د ویرے نوم ورکړے شوے دے. دا ویره د نیکو عملونو د پاره په اصولو کښے اصل څیز ګنړلے شي. که د چا عقیده داوی چه د دے دُنیا وی ژوندون نه پس بل ژوندون هم شته. نو دا د آخرت د ژوند د پاره او د هغے برابرولو د پاره دا ویره د بنیاد کار ورکوی. مونږ د دُنیا په ژوند کښے شپه او ورځ وینو. چه څوک د راتلونکے زمانے او ښوندتیرو نه مطمئن وی. هغه د دُنیا والو د پاره خطره او عذاب جوړیږی. د اس د تیزولو د پاره چه څومره واګے راښکل او قابو کول غواړی دومره ویره د الله نه هم په نیکئ باندے د تیزولو د پاره کار ورکوی. چه زړهٔ کښے ویره وی نو انسان د خپلے فائدے په تلاش کښے وی. د الله بندګان د دهٔ د پاره د آرام، راحت او رحمت سبب وی. او د دغه کس نه صرف د دُنیا وی ژوندون کامیابی وی. بلکه آخرت کښے هم دا صفت د کامیابئ باعث شي. د دے باب په قرآنی آیتونو او نبوی حدیثونو کښے دا موضوع په ښائسته طریقے سره بیان کړے شوے ده.

بَابُ الْخَوْفِ! (د الله نه) د ویرے بیان!

(قرآنی آیتونه)

١٤٤- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1]: "وَاِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ[2]"

١٤٤- (که ویریږئ نو) خاص څما نه او ویریږئ. (پ ١، بقره)

١٤٥- وَقَالَ تَعَالٰى[3]: "اِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيْدٌ"

١٤٥- (یقین اوکړئ) چه ستاسو د رب نیول ډیر سخت دی. (پ ٣٠، بروج)

١٤٦- وَقَالَ تَعَالٰى[4]: "وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ ط اِنَّ اَخْذَهٗٓ اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ، اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

١٤٦- ستاسو د رب نیول داسے سخت دی، چه کله د کلی والا ظالمان رانیسی نو د هغهٔ نیول ډیر دردناک هم وی. او سخت هم-

---

[1] سورة البقرة آية ٤٠ [2] "فارهبون" ای خافون خوفا معه تحرز فیما تاتون وما تذرون [3] سورة البروج آیة ١٢ [4] سورة هود آیة ١٠٢ - ١٠

لَآيَةً ١ه لِمَنْ خَافَ عَذَابَ الْآخِرَةِ ذٰلِكَ يَوْمٌ مَجْمُوعٌ لَهُ النَّاسُ وَذٰلِكَ يَوْمٌ مَشْهُودٌ وَمَا نُؤَخِّرُهُ إِلَّا لِأَجَلٍ مَعْدُودٍ يَوْمَ يَأْتِ لَا تَكَلَّمُ نَفْسٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ ٢ه وَشَهِيقٌ ۝

دا یې واقعاتو کښې د عذاب نه ویریدونکو خلقو دپاره د عبرت سامان دے. او آخرت هم هغه دے، چه هغې کښې به ټول خلق جمع کولے شي. دغه به د ټولو د حاضرۍ ورځ وي. چه څه لږ وخت دپاره مو وروستو کړے دے. په دغه ورځ به د الله تعالیٰ د اجازت نه بغیر هیڅوک ژبه نشي خوزولے. دغه خلقو کښې به څه خلق بد بخته وي. او څه نیک بخته. څوک چه بد بخته وي هغه

١٤٧- وَقَالَ تَعَالَىٰ ٣ه: "وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهُ ٤ه"

١٤٧- الله تعالیٰ تاسو د خپل ځان نه ویروي. (پ۳، عمران)

١٤٨- وَقَالَ تَعَالَىٰ ٥ه: "يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ۝ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ ۝ وَصَاحِبَتِهِ ٦ه وَبَنِيهِ ۝ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ٧ه".

١٤٨- هغه داسې ورځ ده چه هرکس به د خپل ورور، مور، پلار، ښځې او اولاد نه تښتي- او دغه ورځ به هریو کس خپل خپل غم کښې پروت وي. چه هیچا طرف ته به ئې توجه نه وي. (پ۳۰، عبس)

١٤٩- وَقَالَ تَعَالَىٰ ٨ه: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ ۝ يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّا أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكٰرٰى وَمَا هُمْ سُكٰرٰى وَلٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيدٌ".

١٤٩- اے خلقو! د خپل رب نه او ویریږئ د قیامت زلزله یوه لویه حادثه ده. تاسو به هغه ورځ او وینئ- چه هره پئ ورکونکے (ښځه) به خپل بچے هیر کړي- او حمل والا به ماشوم اوغورځوي- او خلق به نشیان او وینئ- حال دا دے چه (د څه نشائي څیز خکلو په وجه به) نشه کښې نه وي- خو د الله عذاب ډیر سخت دے. چه د هغې د ویرے نه به خلق ډیر زیات چنګیږي- (پ۱۷، حج)

١٥٠- وَقَالَ تَعَالَىٰ ٩ه: "وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ" الْآيَاتِ.

١٥٠- چه څوک خپل رب ته د مخامخ او دریدو نه ویریږي. د هغهٔ دپاره به دوه باغونه وي- (پ۲۷، رحمٰن)

١٥١- وَقَالَ تَعَالَىٰ ١٠ه: "وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ، قَالُوا إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِي أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ١١ه فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُومِ ۝ إِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلُ نَدْعُوهُ إِنَّهُ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيمُ ۝" وَالْآيَاتُ فِي الْبَابِ

١٥١- یو بل سره به مخامخ خبرے اترے کوي- او وائي به چه د دے نه مخکښې مونږ خپلو کورونو کښې هم د الله نه ویریدو- نو ځکه ئې په مونږ باندے احسان اوکړو- مونږ ئې د سخت سوځونکي عذاب نه بچ کړو. مونږ د نن ورځې دپاره مخکښې دعا ګانے غوښتلے- بے شکه هغه لوئے احسان والا

١ه الآية: العبرة ٢ه الزفير: اخراج النفس والشهيق رده. والمراد بالزفير والشهيق: الدلالة على شدة كربهم وغمهم ٣ه سورة آل عمران آية ٢٨ ٤ه اى عقوبته ٥ه سورة عبس آية ٣٤-٣٧ ٦ه اى زوجته ٧ه "يغنيه" اى يشغله عن شان غيره ٨ه سورة الحج آية ١و٢ ٩ه سورة الرحمن آية ٤٦ ١٠ه سورة الطور آية ٢٥-٢٨ ١١ه "مشفقين" اى خائفين من عصيان الله تعالى معتنين بطاعته "عذاب السموم" عذاب النار التى تنفذ فى المسام نفوذ السموم

كَثِيْرَةٌ جِدًّا مَعْلُوْمَاتٌ وَالْغَرَضُ الْإِشَارَةُ إِلَى بَعْضِهَا وَقَدْ حَصَلَ وَ أَمَّا الْأَحَادِيْثُ فَكَثِيْرَةٌ جِدًّا فَنَذْكُرُ مِنْهَا طَرَفًا وَبِاللهِ التَّوْفِيْقُ ؛

او مهربان دے۔ (پ ۲۷، طور)

دے باب کښے نور مشهور آيتونه هم شته۔ مګر حمونږ مقصد اشاره کول وُو او هغه پوره شو۔ دغسے حديثونه هم ډير زيات دي۔

(نبویؐ حدیثونه)

۳۹۹ - وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ ، حَدَّثَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوْقُ "إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ خَلْقُهُ[1] فِيْ بَطْنِ أُمِّهٖ أَرْبَعِيْنَ يَوْمًا نُطْفَةً ثُمَّ يَكُوْنُ عَلَقَةً مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ يَكُوْنُ مُضْغَةً مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ يُرْسَلُ الْمَلَكُ فَيَنْفُخُ فِيْهِ الرُّوْحَ وَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ بِكَتْبِ رِزْقِهٖ وَأَجَلِهٖ وَعَمَلِهٖ وَ شَقِيٌّ أَوْ سَعِيْدٌ . فَوَ الَّذِيْ لَآ إِلٰهَ غَيْرُهٗ إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتّٰى مَا يَكُوْنُ بَيْنَهٗ وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُهَا ، وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتّٰى مَا يَكُوْنُ بَيْنَهٗ وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَا . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۳۹۹ - عبد الله بن مسعود رضؓ نه روايت دے۔ چه صادق او مصدوق رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی۔ چه تاسو کښے هر يو کس د مور په خيټه کښے د نطفے په طور څلويښت ورځے او سيږی۔ بيا څلويښتو ورځو کښے د وينے يو ټوټه جوړه شی۔ بيا څلويښتو ورځو کښے د غوښے يوه ټکړه جوړه شی۔ بيا يوه فرښته ورته را اوليږلے شی۔ چه هغے کښے روح اُو پوکلے شی۔ او د څلورو خبرو د ليکلو حکم ورته ورکړے شی۔ (۱) د رزق (۲) د ژوندون تيرولو موده (۳) د عملونو (۴) بد بخته يا نيک بخته کيدل۔ پس په هغه ذات مے د قسم وی چه د هغه نه بغير بل څوک د بندګئ لائق نشته۔ چه تاسو کښے بعضے د جنت والا عملونه کوی۔ تر دے چه د ده او د جنت تر مينځ د يو لاس هومره فاصله (اندازه) باتے شی۔ مګر د عملئ کتاب به ئے غالب شی۔ او د دوزخيانو د عملونو پشان عملونه اوکړی۔ او دوزخ کښے به اوغورځولے شی۔ او بعضے به تاسو کښے د دوزخيانو کار کوی۔ تر دے چه د ده او د دوزخ په مينځ کښے به د يو لاس هومره فاصله (او اندازه) پاتے شی۔ نو د کتاب يعنی عملنامے ليکل به غالب شی۔ او د جنت والا پشان عملونه به اوکړی۔ او دے سره به جنت ته داخل کړے شی۔ (بخاری ومسلم)

۴۰۰ - وَعَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "يُؤْتٰى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ[2] لَهَا سَبْعُوْنَ أَلْفَ زِمَامٍ مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُوْنَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّوْنَهَا" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۴۰۰ - عبد الله بن مسعود رضؓ نه روايت دے۔ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل۔ چه د قيامت په ورځ به دوزخ په اويا زره زنځيرونو کښے تړلے شوے راوړلے شی۔ او هر زنځير به اُويا زره فرښتے راکاږی۔ (مسلم)

---

[1] "يجمع خلقه" اى ما يغلن منه [2] "يومئذ" اى يوم اذ يقوم العباد للحساب [3] الزمام ما يجعل فى انف البعير يشد عليه القود وهو على الحقيقة او على التمثيل لعظمها وطول كبرها حيث احتاج في جرها الى هذه الازمة

۴۰۱- وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: اِنَّ اَهْوَنَ اَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ لَرَجُلٌ يُوْضَعُ فِيْ اَخْمُصِ قَدَمَيْهِ[1] جَمْرَتَانِ يَغْلِيْ مِنْهُمَا دِمَاغُهٗ مَا يَرٰى اَنَّ اَحَدًا اَشَدُّ مِنْهُ عَذَابًا وَاِنَّهٗ لَاَهْوَنُهُمْ عَذَابًا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۴۰۱- نعمان بن بشیر رضؓ نه روایت دے. چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ما داسے فرمائیلی آوریدلی دی: چه دوزخیانو کښے به د ټولو نه کم او سپک عذاب هغه کس دپاره وی. چه د هغهٔ د خپو په تلو (خپړو) کښے به دوه سکروټے کیخودلے شی. چه د هغے د ګرموالی په وجه به د هغهٔ ماغزهٔ جوشیږی. او د هغهٔ به دا خیال وی چه د دے نه سخت عذاب بل هیچا باندے نشته. حال دا دے چه دا عذاب به د ټولو نه کم وی - (بخاری و مسلم)

۴۰۲- وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مِنْهُمْ مَنْ تَاْخُذُهُ النَّارُ اِلٰى كَعْبَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ تَاْخُذُهُ اِلٰى رُكْبَتَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ تَاْخُذُهُ اِلٰى حُجْزَتِهٖ، وَمِنْهُمْ مَنْ تَاْخُذُهُ اِلٰى تَرْقُوَتِهٖ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

"اَلْحُجْزَةُ": مَعْقِدُ الْاِزَارِ تَحْتَ السُّرَّةِ - وَ"التَّرْقُوَةُ" بِفَتْحِ التَّاءِ وَ ضَمِّ الْقَافِ: هِيَ الْعَظْمُ الَّذِيْ عِنْدَ ثُغْرَةِ النَّحْرِ وَلِلْاِنْسَانِ تَرْقُوَتَانِ فِيْ جَانِبَيِ النَّحْرِ ؛

۴۰۲- سمرة بن جندب رضؓ نه روایت دے. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه دوزخیانو کښے به څینے د ګیټو پورے اور کښے ګیر وی - څینے به د زنګونو پورے او څینے د ملا پورے او څینے به خټ پورے اور کښے ډوب وی - او دا فرق ئے د عملونو په وجه دے - (مسلم)

(مسلم)

"الحُجْزَةُ": د نوم نه لاندے د لنګ تړلو ځائے ته وئیلے شی -

"تَرْقُوَةٌ": مرئی ته نزدے هډوکے - د حلق او د شا رګ دواړو طرفونو ته دا هډوکی وی -

۴۰۳- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَقُوْمُ النَّاسُ[2] لِرَبِّ الْعَالَمِيْنَ حَتّٰى يَغِيْبَ اَحَدُهُمْ فِيْ رَشْحِهٖ اِلٰى اَنْصَافِ اُذُنَيْهِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

وَ"الرَّشْحُ" الْعَرَقُ ؛

۴۰۳- عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے- چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. کله چه خلق الله تعالیٰ ته مخامخ اودریږی. نو څینے به پکښے د نیمائی غوږونو پورے خپلو خولو کښے ډوب وی - (بخاری و مسلم)

"رَشْحٌ": خوله -

۴۰۴- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُطْبَةً مَا سَمِعْتُ مِثْلَهَا قَطُّ فَقَالَ: "لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا اَعْلَمُ

۴۰۴- انس بن مالک رضؓ نه روایت دے. چه یو وارے نبی کریم صلی الله علیه وسلم خطاب اوفرمائیلو. چه ما داسے خطبه هډو اوریدلے نهٔ وه - هغوئ اوفرمائیل، هغه څهٔ چه زهٔ ئے پیژنم. کهٔ تاسو ته د

---

[1] احمص القدم هو المتجافی من الرجل عن الارض [2] "یقوم الناس" ای من قبورهم وقوله صلی الله علیه وسلم "لرب العالمین" ای لاجل امره وحکمه ؛

لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا" فَغَطّٰى اَصْحَابُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُجُوْهَهُمْ وَلَهُمْ خَنِيْنٌ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ: "بَلَغَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اَصْحَابِهٖ شَيْءٌ فَخَطَبَ فَقَالَ: عُرِضَتْ عَلَيَّ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَلَمْ اَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ، وَلَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا اَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا" فَمَا اَتٰى عَلٰى اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمٌ اَشَدُّ مِنْهُ. غَطَّوْا رُءُوْسَهُمْ وَلَهُمْ خَنِيْنٌ"

"الْخَنِيْنُ" بِالْخَاءِ الْمُعْجَمَةِ: هُوَ الْبُكَاءُ مَعَ غُنَّةٍ وَانْتِشَاقِ الصَّوْتِ مِنَ الْاَنْفِ ::

دے پته او لګی نو ډیرکم به اوخاندئ او ډیرزیات به اوژاړئ. دا چه صحابهٔ رض واوریدل نو داسے حالت یرے بنور شو. چه ټولو خپلو خپلو څادرونو کښے مخ پټ کړو. ټولو ټسکه ټسکه شروع کړه چه ژړل ئے.

(بخاری ومسلم)

اویو روایت کښے داسے هم دی. چه صحابهٔ رض ته دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَطرفنه څهٔ داسے خبر ملاؤ شو. چه دَهغے په وجه ئے خطاب اوفرمائیلو. او وے فرمائیل چه نن ما ته دوزخ او جنت دواړه مخامخ کړے شول. او دَ خیر او شر دا یوځلئ والے ما هیڅکله هم نهٔ ؤلیدلے. او کوم څیز باندے چه زهٔ پوهیم کهٔ تاسو ئے هم اوپیژنئ. نو کم به اوخاندئ او ډیر به اوژاړئ. صحابهٔ رض باندے دَ دے نه سخته ورځ بله نهٔ وه تیره شوے. هغوئ مخونه پټ کړل. او په ټسکیدو ټسکیدو ئے ژړل. "خَنِیْنٌ": آوازسره ژړا کول. چه دَ پوزے نه پکښے هم آواز را اُوځی.

٤٠٥- وَعَنِ الْمِقْدَادِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "تُدْنَى الشَّمْسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْخَلْقِ حَتّٰى تَكُوْنَ مِنْهُمْ كَمِقْدَارِ مِيْلٍ، قَالَ سُلَيْمُ بْنُ عَامِرٍ الرَّاوِيْ عَنِ الْمِقْدَادِ: فَوَاللّٰهِ مَا اَدْرِيْ مَا يَعْنِيْ بِالْمِيْلِ اَسَافَةَ الْاَرْضِ اَمِ الْمِيْلَ الَّذِيْ يُكْحَلُ بِهِ الْعَيْنُ، فَيَكُوْنُ النَّاسُ عَلٰى قَدْرِ اَعْمَالِهِمْ فِي الْعَرَقِ: فَمِنْهُمْ مَنْ يَكُوْنُ اِلٰى كَعْبَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُوْنُ اِلٰى رُكْبَتَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُوْنُ اِلٰى حِقْوَيْهِ [1] وَمِنْهُمْ مَنْ يُلْجِمُهُ الْعَرَقُ اِلْجَامًا" وَاَشَارَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهٖ اِلٰى فِيْهِ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ ::

٤٠٥- مقداد رضی الله عنه نه روایت دے. چه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیل آوریدلی دی. چه دَ قیامت په ورځ به خلقو ته غر دومره را نزدے کړے شی. چه دَیو میل فاصله کښے به وی. دَ حدیث روایت کونکے سُلیم بن عامر دَ مقداد رضی الله عنه دا قول نقل کوی. چه په الله م دِ قسم وی. چه ما ته دا نهٔ ده معلومه. چه دَ میل نه څهٔ څیز مراد دے. چه دا دَ زمکے دَ فاصلے میل دے یا سلائی دے.

دغه وخت به خلق دَ خپلو عملونو مطابق خپلو خولو کښے ډوب وی. دَ ځینو به دَ ګیټو پورے او ځینے زنګنونو پورے او ځینے ملا پورے ډوب وی. او دَ ځینے به دَ واګی پشان خولے پورے وی (یعنی دَ دواړو شونډو ترمینځ پورے به خوله وی) او دے صورت کښے دَ وضاحت او دَ ښودنے دپاره رسول کریم صلی الله علیه وسلم خپل لاس باندے خولے مبارکے ته اشاره اوفرمائیله. (مسلم)

---

[1] "الى حقويه" بفتح الحاء المهملة وكسرها: هما معقد الازار؛ والمراد هنا ما يحاذي ذلك الموضع من جنبيه ؛

۴۰۶- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ "يَعْرَقُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتّٰى يَذْهَبَ عَرَقُهُمْ فِي الْأَرْضِ سَبْعِينَ ذِرَاعًا وَيُلْجِمُهُمْ حَتّٰى يَبْلُغَ آذَانَهُمْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، "وَمَعْنَى" "يَذْهَبُ فِي الْأَرْضِ" يَنْزِلُ وَيَغُوصُ ؛

۴۰۶ - ابوهریره رضؓ وائی. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه دَ قیامت په ورځ به خلق دلسے خوله خوَله وی. چه دَ غوږونو پورے به ئے دَ واګو پشان لګیدلے رسیدلے وی. او دغه کس به اویا لاسه لاندے په زمکه کښے ننوتے وی. - (بخاری ومسلم)

یَذْهَبُ فِي الْأَرْضِ: یعنی زمکه کښے به جذب شوے او ننوتلے وی.

۴۰۷- وَعَنْهُ قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ سَمِعَ وَجْبَةً [1] فَقَالَ: "هَلْ تَدْرُونَ مَا هٰذَا؟" قُلْنَا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ: قَالَ: "هٰذَا حَجَرٌ رُمِيَ بِهِ فِي النَّارِ مُنْذُ سَبْعِينَ خَرِيفًا [2] فَهُوَ يَهْوِي فِي النَّارِ الْآنَ حَتّٰى انْتَهٰى إِلٰى قَعْرِهَا" فَسَمِعْتُمْ وَحْيَتَهَا،

رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۴۰۷ - دا روایت هم دَ ابوهریره رضؓ دے. چه یو وارے موږ دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وُو. چه دَ یو څیز دَ غورځیدلو آواز واوریدلے شو. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم پوښتنه اوکړه، تاسو ته پته ده چه دا آواز دَ څهٔ وُو؟ موږ اووئیل چه الله او رسول (صلی الله علیه وسلم) ښهٔ پوهیږي. نو وے فرمائیل چه دا هغه کانړے وُو. چه اویا کاله مخکښے دوزخ ته غورځولے شوے وُو. هغه نن دَ جهنم بیخ ته اورسیدلو. دا آواز دَ هغه کانړی وُو، کوم چه تاسو واؤریدلو - (مسلم)

۴۰۸- وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تَرْجُمَانٌ: فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ فَلَا يَرٰى إِلَّا مَا قَدَّمَ وَيَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ فَلَا يَرٰى إِلَّا مَا قَدَّمَ وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلَا يَرٰى إِلَّا النَّارَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ [3] فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

۴۰۸ - عدی بن حاتم رضؓ نه روایت دے. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه ډیر ژر به الله تعالیٰ تاسو سره بغیر دَ ترجمان نه (بالمشاهده) خبرے اترے اوکړی. دغه وخت چه خپل ښی او کس طرفته بندهٔ اوګوری. نو دواړو طرفونو ته به هغهٔ ته په نظر راځی. کوم چه ئے دَ ځان نه مخکښے لیږلی وي (یعنی کوم عملونه ئے چه دُنیا کښے کړی وی هغه به ټول موجود اووینی) او چه مخامخ اوګوری نو دوزخ به اووینی، نو د دوزخ نه دبچ کیدلو سامان تلاش کړئ - اګر چه د کجورے په یوے ټکړے سره وی. (بُخاریؒ ومُسلمؒ)

۴۰۹- وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

۴۰۹ - ابوذر غفاری رضی الله عنه وائی - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به فرمائیل.

---

[1] "وجبة" بفتح الواو سكون الجيم وبالموحدة اى سقطة [2] "خريفا" اى عاما [3] "تلقاء وجهه" بكسر الفوقية وبالمد اى قبالته وشق التمرة "بكسر الشين المعجمة" نصفها ، ؛

اِنِّیْ اَرٰی مَالَا تَرَوْنَ اَطَّتِ السَّمَآءُ وَحُقَّ ¹ لَهَا اَنْ تَئِطَّ مَا فِيْهَا مَوْضِعُ اَرْبَعِ اَصَابِعَ اِلَّا وَمَلَكٌ وَاضِعٌ جَبْهَتَهٗ سَاجِدًا لِلّٰهِ تَعَالٰی. وَاللّٰهِ لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا اَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلًا وَّلَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا وَّمَا تَلَذَّذْتُمْ بِالنِّسَآءِ عَلَی الْفُرُشِ وَلَخَرَجْتُمْ اِلَی الصُّعُدَاتِ تَجْأَرُوْنَ اِلَی اللّٰهِ تَعَالٰی" رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ، وَقَالَ، حَدِيْثٌ حَسَنٌ،

"وَاَطَّتْ" بِفَتْحِ الْهَمْزَةِ وَتَشْدِيْدِ الطَّآءِ "وَتَئِطُّ" بِفَتْحِ التَّآءِ وَبَعْدَهَا هَمْزَةٌ مَكْسُوْرَةٌ. وَالْاَطِيْطُ صَوْتُ الرَّحْلِ وَالْقَتَبِ وَشِبْهِهِمَا وَمَعْنَاهُ اَنَّ كَثْرَةَ مَنْ فِی السَّمَآءِ مِنَ الْمَلَائِكَةِ الْعَابِدِيْنَ قَدْ اَثْقَلَتْهَا حَتّٰی اَطَّتْ وَ "الصُّعُدَاتُ" بِضَمِّ الصَّادِ وَالْعَيْنِ: الطُّرُقَاتُ، وَمَعْنٰی "تَجْأَرُوْنَ" تَسْتَغِيْثُوْنَ ؛

زۀ چه څۀ وينم هغه تاسو نۀ وينئ - او آسمان چقيږی يعنی چق چق کوی . او چقيدو کښے پۀ حقه دے. دے آسمان کښے دَ څلورو گوتو هومره ځائے دا سے نشته ، چه هلته به الله تعالیٰ ته فرښتے پۀ سجده نۀ وی پريوتے . او دَ فرښتو دَ سجدو دَ درونداِلی پۀ وجه اسمان چقيږی . پۀ الله مې دِ قسم وی . زۀ چه پۀ څۀ پوهيږم او تاسو ته دَ هغے پته اولگيده . شايد چه بيا به کم خاندئ او ډير به ژاړئ . پۀ بسترو با ندے به دَ بيبيانو نه خوندونه اخستل هم درنه هير شی - او ځنگلونو او غرونو کښے به دَ الله نه پناه غوښتلو دپاره گرځئ - (ترمذی)

امام ترمذیؒ وائی چه دا حديث حسن دے.

"اَطَّتْ" "تَئِطَّ" او "اَطِيْطُ" دَ کجاوے يا دَ لرگی يا دَ بل څۀ خيز دَ چقاری آواز ته وئيلے شی. مطلب دا چه دَ فرښتو دَ عبادت ډيروالے دومره درونددے - چه دَ هغے پۀ وجه آسمان چق چق کوی -

"صُعُدَاتُ": واحد ئے "صَعِيْدٌ" يعنی لارے . تَجْأَرُوْنَ : مدد غوښتل -

۴۱۰ - وَعَنْ اَبِیْ بَرْزَةَ "بِرَاءٍ ثُمَّ زَايٍ" نَضْلَةَ بْنِ عُبَيْدِ الْاَسْلَمِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَزُوْلُ قَدَمَا عَبْدٍ ² يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتّٰی يُسْأَلَ عَنْ عُمُرِهٖ فِيْمَ اَفْنَاهُ وَعَنْ عِلْمِهٖ فِيْمَ فَعَلَ فِيْهِ، وَعَنْ مَالِهٖ مِنْ اَيْنَ اكْتَسَبَهٗ وَفِيْمَ اَنْفَقَهٗ وَعَنْ جِسْمِهٖ فِيْمَ اَبْلَاهُ" رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

۴۱۰ - ابو برزه فضله بن عبيد اسلمیؓ نه روايت دے چه رسول اکرم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل . چه دَ قيامت پۀ ورځ به بنده هغه وخته پورے دَ خپل ځائے نه اونۀ خوځی . ترڅو چه ترے دا تپوس اونۀ کړے شی . چه هغۀ لهٔ ئے چه کوم ژوندون ورکړے وۀ هغه ئے پۀ څۀ کار کښے تير کړے دے . او کوم علم او پوهه چه ورکړے شوے وه . هغه ئے چرته خرچ کړے دهٔ او کوم مال چه دۀ . هغه ئے څنگه گټلے دے . او چرته ئے خرچ کړے دے . او کوم بدن ئے چه ورکړے دے ، هغه ئے پۀ کومو کارونو زوړ کړے دے.

(ترمذی وائی چه دا حديث حسن دے .

۴۱۱ - وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَرَاَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا" ثُمَّ قَالَ: "اَتَدْرُوْنَ مَا اَخْبَارُهَا: "قَالُوْا

۴۱۱ - ابو هريره رضؓ وائی . چه رسول الله صلی الله عليه وسلم دا آيت "يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا" ترجمه : (پۀ هغه ورځ به زمکه خبرونه بيانوی) اولوستو ، نو

---

¹ وحق بضم الحاء المهملة وتشديد القاف : اى ويحق ² "لا تزول قدما عبد" اى من موضعه لحساب الى الجنة اوالنار ؛

اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ. قَالَ: "فَاِنَّ اَخْبَارَهَا اَنْ تَشْهَدَ عَلٰى كُلِّ عَبْدٍ اَوْ اَمَةٍ بِمَا عَمِلَ عَلٰى ظَهْرِهَا تَقُوْلُ: عَمِلْتَ كَذَا وَكَذَا فِيْ يَوْمِ كَذَا وَكَذَا فَهٰذِهٖ اَخْبَارُهَا" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

پوښتنه ئے اوکړه چه تاسو ته څهٔ معلومه ده چه زمکه به څهٔ خبرونه بیا نوی؟ صحابهٔو رضی الله عنهم عرض اوکړو الله او رسول بنهٔ پوهیږی. بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. هغه خبرونه دَ بنده هغه خپل عملونه دی چه په زمکه ئے کړی دی. هغه به ګواهی ورکړی. چه زما په شا اوسیدو او دا دا کارونه ئے کړی دی او په فلانکیٔ فلانکیٔ ورځ باندے ئے دا دا کار کړے وُو. دا هغه خبرونه دی (چه زمکه به ئے الله تعالیٰ ته دَ قیامت په ورځ وړاندے کوی) (ترمذی) دا حدیث حسن صحیح دے.

۴۱۲- وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَيْفَ اَنْعَمُ[1] وَصَاحِبُ الْقَرْنِ قَدِ الْتَقَمَ الْقَرْنَ وَاسْتَمَعَ الْاِذْنَ مَتٰى يُؤْمَرُ بِالنَّفْخِ فَيَنْفُخُ" فَكَانَ ذٰلِكَ ثَقُلَ عَلٰى اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُمْ "قُوْلُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ ،

"اَلْقَرْنُ" هُوَ الصُّوْرُ الَّذِيْ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى "وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ" كَذَا فَسَّرَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۴۱۲- ابوسعید خدری رض نه روایت دے. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. زهٔ څنګه دَ عیش او دَ خوشحالیٔ ژوندون تیرکړم. او څنګه آرام سره کینا ستلے شم چه (دَ قیامت) شپیلیٔ کښے پوکے وهونکے (فرښتے) شپیلیٔ خولهٔ کښے نیولے ده. او اجازت ته ئے غوږ نیولے دے چه کله به اشاره ملاویږی چه شپیلیٔ کښے پوکے اُووهی (کله چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اولیدل چه صحابهٔو رض باندے دا خبره درنه او دَ خفګان سبب جوړه شوه نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. "حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ" ترجمه: "الله مونږ له کافی دے او هغه بنهٔ کارساز دے" دا اولئ، چه تاسو ته آرام او تسلی ملاؤ شی. (ترمذی)

اَلْقَرْنُ: (دَ قیامت) هغه شپیلیٔ چه الله تعالیٰ دَ هغے په باره کښے ویلی دی. "وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ". هم دغسے تفسیر ئے نبی کریم صلی الله علیه وسلم بیان کړے دے.

۴۱۳- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَنْ خَافَ[2] اَدْلَجَ، وَمَنْ اَدْلَجَ بَلَغَ الْمَنْزِلَ، اَلَا اِنَّ سِلْعَةَ اللّٰهِ غَالِيَةٌ اَلَا اِنَّ سِلْعَةَ اللّٰهِ الْجَنَّةُ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ.

"وَاَدْلَجَ" بِاِسْكَانِ الدَّالِ وَمَعْنَاهُ

۴۱۳- ابوهریره رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چا ته چه خطره وی. هغه دَ شپے په اول کښے ځی. او څوک چه دَ شپے په اوله حصه کښے ځی هغه خپل منزل ته رسی (مطلب دا چه څوک دَ دُنیا عیش او آرام سره خپله لاره بےکاره، کمزورے نهٔ کړی. هغه به وخت خپل مقصدی ځائے ته رسی) او واوریٔ چه دَ الله تعالیٰ سودا ډیره

---

[1] "انعم" بفتح العين من النعمة بفتح النون وهي المسرة والفرح: اى كيف اطيب عيشا وقد قرب امر الساعة

[2] "من خاف" اى خاف البيات وقوله صلى الله عليه وسلم "بلغ المنزل" اى الذى يأمن فيه البيات ؛

سَارَ مِنْ اَوَّلِ اللَّيْلِ. وَالْمُرَادُ التَّشْمِيْرُ فِي الطَّاعَةِ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ ⁖

قیمتی ده. او د الله تعالیٰ قیمتی سودا جنت دے. (ترمذی)

"اَدْلَجَ": د شپې په اوله حصه کښے لاړ شی.

(په دے حدیث کښے د الله بندګانو له د هغهٔ د تابعدارئ شوق پیدا کول او د هغې ترغیب ورکول دی. کهٔ د الله تعالیٰ سره دغه ګران قیمتی سودا حاصلول غواړے. نو د الله تعالیٰ د حکمونو تابعدارئ کولو سره سرمایه جمع کړئ. کنی دا قیمتی سودا به بیا وا نخستلے شئ)

۴۱۴ - وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا" قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ جَمِيْعًا يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ؟ قَالَ: "يَا عَائِشَةُ الْاَمْرُ اَشَدُّ مِنْ اَنْ يُهِمَّهُمْ ذٰلِكَ" وَفِيْ رِوَايَةٍ: "اَلْاَمْرُ اَهَمُّ مِنْ اَنْ يَنْظُرَ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ،

"غُرْلًا" بِضَمِّ الْغَيْنِ الْمُعْجَمَةِ: اَيْ غَيْرَ مَخْتُوْنِيْنَ ⁖

۴۱۴ - حضرت عائشه رض فرمائی. چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیلے آوریدلی دی. چه د قیامت په ورځ به خلق خپے ابله خپے، سرتور سر، نا سُنته او بربنډ حالت کښے اوچتولے شی ما تپوس اوکړو. آیا سړی او ښځے به ټول هم داسے حالت کښے وی. نو بیا خو به یو بل وینی او ګوری. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. اے عائشے رض! دغه موقعه ډیره هیبتناکه ده. (د دے خبرو خیال هیڅوک نشی کولے.) یو روایت کښے دا هم دی." دغه ورځ یو بل ته د کتلو نه ډیره اهمه او ضروری ده". د هغې د هیبت او د خطرے په وجه به د خلقو حواس او بدن کار پریږدی. او داسے کارونو نه به بے خوده وی. (بخاری ومسلم)

غُرْلًا : نا سُنته -

باب ۵

ف :- دے باب کښے څلور قرآنی آیتونه او اته ویشت ۲۸ نبوی حدیثونه دی. انسان چه په کوم فطرت او طبیعت پیدا کړے شوے دے. هغه دا غواړی چه د هغه کامیابئ دپاره څهٔ داسے اصول او قوانین مقرر کړے شی چه د هغې قاعدو او قوانینو نه په نرم او ګرم حالاتو کښے هغهٔ ته پوره رهنمائی حاصله شی. د انسان د پیدائش مقصد الله تعالیٰ عبادت مقرر کړے دے. د دے مقصد پوره کولو دپاره کله د ویرے او خوف نه کار اخستلے شی. نو کله د امید ورکولو سره ترغیب او شوق پیدا کولے شی. مقصد په هرصورت دا دے چه بنده خپل رب هیر نهٔ کړی. او داسے عملونو کښے مشغول شی. د ویرے مقصد هم دا دے چه د هغهٔ د غصے او قهر او د خفګان سبب جوړ نشی. او د امید مقصد هم دا دے.

بَابُ الرَّجَاءِ!

ساتل

د الله ج نه اُمید او د حُسنِ ظن (ښه ګمان) بیان

(قرآنی آیتونه)

۱۵۲ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1]: "قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ[2]

۱۵۲ - خما هغه بندګانو ته اووایه! چه خپل ځان سره ئے (د کفر او شرک جرم کړلو

---

[1] سورة الزمر اٰیة ۵۳ [2] "اسرفوا علی انفسهم" ای: فرطوا فی الجنایة علیها بالاسراف فی المعصیة "لا تقنطوا من مة الله": ای: لاتیأسوا من مغفرته فانه سبحانه وتعالیٰ یغفر الذنوب باسرها ⁖

لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ"

په وجه) زياتے كړے دے۔ هغوئ دِ دَ الله ذَ رحمت نه نا اُميده كيږى نهٔ۔ دا خبره يقيني ده چه الله تعالىٰ ټول ګناهونه معاف كوى۔ هغه بخښونكے او مهربان او رحمت كونكے دے۔ (پ ۲۴، زمر)

۱۵۳- وَقَالَ تَعَالىٰ له: "وَهَلْ نُجٰزِيْ اِلَّا الْكَفُوْرَ ۲ه"

۱۵۳- مونږ داسے سزا ناشكره خلقو ته وركوو۔ (پ ۲۲، سبا)

۱۵۴- وَقَالَ تَعَالىٰ ۳ه: "اِنَّا قَدْ اُوْحِيَ اِلَيْنَا اَنَّ الْعَذَابَ عَلىٰ مَنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى"

۱۵۴- مونږ ته دَ وحى په ذريعه حكم راكړے شوے دے۔ چه دَ الله عذاب هغه چا دپاره دے چه څوك ئے دروغ ګڼړي۔ او مخ ترے اړوى۔ (يعني دَ الله نه انكار كوى يائے دَ حكمونو نه مخ كرځوى) (پ ۱۶، طٰه)

۱۵۵- وَقَالَ تَعَالىٰ ۴ه: "وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ"

۱۵۵- زما رحمت په هر څيز باندے راخور دے۔ (پ ۹، اعراف)

(نبوى حديثونه)

۴۱۵- **وَعَنْ** عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ شَهِدَ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ وَ اَنَّ عِيْسٰى عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُوْلُهٗ وَ كَلِمَتُهٗ اَلْقَاهَا اِلىٰ مَرْيَمَ وَرُوْحٌ مِّنْهُ، وَاَنَّ الْجَنَّةَ حَقٌّ وَالنَّارُ حَقٌّ اَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ عَلىٰ مَا كَانَ مِنَ الْعَمَلِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: "مَنْ شَهِدَ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ النَّارَ"

۴۱۵- عباده بن صامت رضى الله عنه نه روايت دے۔ چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل۔ چه څوك دا ګواهى وركړي چه دَ الله تعالىٰ نه بغير هيڅوك دَ بندګئ لائق نشته۔ هغه يوازے دے۔ دَ هغهٔ سره هيڅ څوك شريك نشته او محمد صلى الله عليه وسلم دَ هغهٔ بنده او رسول دے۔ دغسے عيسے عليه السلام دَ هغهٔ بنده، رسول او كلمه ده۔ چه الله تعالىٰ مريم عليها السلام كښے اچولے وه او هغه روح الله دے۔ او دا چه جنت او دوزخ حق دے۔ الله تعالىٰ به ئے ضرور جنت ته داخل كړي۔ خواه كهٔ هر قسمه عملونه ئے كړے وى۔ (بخارى ومسلم)

او دَ مسلم په يو روايت كښے راغلى دى۔ چه څوك دَ دے ګواهى وركړي۔ چه دَ الله تعالىٰ نه بغير هيڅوك دَ بندګئ لائق نشته۔ او محمد صلى الله عليه وسلم دَ الله تعالىٰ رسول دے۔ نو الله تعالىٰ هغهٔ باندے دَ دوزخ اُور حرام كړي۔

۴۱۶- **وَعَنْ** اَبِيْ ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ: "مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا اَوْ اَزِيْدُ؟ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَجَزَآءُ

۴۱۶- ابو ذر رضى الله عنه نه روايت دے۔ چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل۔ چه دَ الله تعالىٰ ارشاد دے۔ چه څوك يوه نيكى كوى، هغهٔ ته دَ هغے لس چنده ثواب وركولے شى او دے نه به زيات هم وركولے شى۔ او څوك چه يوه ګناه كوى، هغهٔ ته صرف دَ يوے ګناه بدله وركولے شى۔ يا به ئے

له سورة سبا آية ۱۷، ۲ه "الا الكفور": اى هل يجازى بمثل ما فعلنا بهم الا البليغ فى الكفران والكفر: اى لا المؤمنين، ۳ه سورة طٰه آية ۴۸، ۴ه سورة الاعراف آية ۱۵۶ ؛

سَیِّئَةٍ سَیِّئَةٌ مِّثْلُهَا اَوْ اَغْفِرُ وَمَنْ تَقَرَّبَ مِنِّیْ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ ذِرَاعًا وَمَنْ تَقَرَّبَ مِنِّیْ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعًا وَمَنْ اَتَانِیْ یَمْشِیْ اَتَیْتُهٗ هَرْوَلَةً وَمَنْ لَقِیَنِیْ بِقُرَابِ الْاَرْضِ خَطِیْئَةً لَایُشْرِكُ بِیْ شَیْئًا لَقِیْتُهٗ بِمِثْلِهَا مَغْفِرَةً". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

مَعْنَی الْحَدِیْثِ: "مَنْ تَقَرَّبَ" اِلَیَّ بِطَاعَتِیْ "تَقَرَّبْتُ" اِلَیْهِ بِرَحْمَتِیْ وَ اِنْ زَادَ زِدْتُ "فَاِنْ اَتَانِیْ یَمْشِیْ"

وَاَسْرَعَ فِیْ طَاعَتِیْ اَتَیْتُهٗ "هَرْوَلَةً" اَیْ صَبَبْتُ عَلَیْهِ الرَّحْمَةَ وَسَبَقْتُهٗ بِهَا وَلَمْ اُحْوِجْهُ اِلَی الْمَشْیِ الْکَثِیْرِ فِی الْوُصُوْلِ اِلَی الْمَقْصُوْدِ. "وَقُرَابُ الْاَرْضِ" بِضَمِّ الْقَافِ وَیُقَالُ بِکَسْرِهَا وَالضَّمُّ اَصَحُّ وَاَشْهَرُ وَمَعْنَاهُ: مَا یُقَارِبُ مِلْاَهَا، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ ؞

معاف کړم۔ څوک چه ما ته یوه لویشت را نزدې کیدل غواړي، نو زهٔ ورته یو لاس نزدې کیږم۔ او څوک چه ما ته یو لاس نزدې کیدل غواړي نو زهٔ ورته دوه لاسه نزدې کیږم۔ څوک چه څما طرف ته منزل کولو سره را روان شي نو زهٔ ورته په منډه ورځم۔ او څوک چه د ټولې دُنیا ګناهونو ډک څما طرفته راشي په دې شرط چه ما سره ئې شریک نهٔ وي جوړ کړې۔ نو زهٔ به ورسره د ټولو ګناهونو ختمونکې او بخښنې او بخشش سره ملاؤ شم۔ (مسلم)

معنیٰ دَحدیث دا ده. څوک چه ما ته دَ نزدې کیدو دپاره طاعت او عبادت کوي. نو زهٔ ورته دَ رحمت کولو په صورت نزدې کیږم۔ او هغه چه څما خومره تابعداري کوي څما رحمت به پرې هم ډیریږي۔ او څوک چه څما طرفته په خپل چال را روان شي. او څما دَ تابعدارئ کولو کوشش کوي نو زهٔ پرې رحمت او کرم او مخله ورشم۔ چه مقصد ته رسیدلو کښې دَ ډیر تکلیف او چتولو نه ئې بچ کړم چه څما طرف ته مخ کړي. نو سمدستي ورته توجه کوم۔

قُرَابُ الْاَرْضِ: هغه څیز چه ډکیدو ته نزدې وي دا روایت مشهور دے۔

۴۱۷۔ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: جَآءَ اَعْرَابِیٌّ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا الْمُوْجِبَتَانِ؟ قَالَ: "مَنْ مَّاتَ لَا یُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَیْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ مَّاتَ یُشْرِكُ بِهٖ شَیْئًا دَخَلَ النَّارُ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞

۴۱۷۔ حضرت جابر رض نه روایت دے. چه یو بانډه چي دَ حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو او پوښتنه ئې اوکړه. یا رسول الله! هغه دوه خبرې چه هغې سره جنت یا دوزخ کښې داخلیدل لازمیږي کومې دي؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه څوک داسې حالت کښې مړشي. چه الله تعالی سره ئې هیڅ څوک شریک نهٔ وي جوړ کړې هغه به جنت ته داخلیږي۔ او څوک چه داسې حالت کښې مړشي چه الله سره ئې څوک شریک ګرځولے وي، هغه به دوزخ ته ځي۔ (مسلم)

۴۱۸۔ وَعَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَ مُعَاذٌ رَدِیْفُهٗ عَلَی الرَّحْلِ قَالَ: "یَا مُعَاذُ" قَالَ: لَبَّیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَ سَعْدَیْكَ قَالَ: "یَا مُعَاذُ" قَالَ: لَبَّیْكَ

۴۱۸۔ انس بن مالک رض نه روایت دے۔ چه یو وارې نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خپله سورلئ باندې سور وُو۔ او معاذ رضی الله عنه ورپسې وروستو سور وُو۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل

يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَسَعْدَيْكَ ثَلَاثًا قَالَ: مَامِنْ عَبْدٍ يَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ صِدْقًا مِنْ قَلْبِهٖ اِلَّا حَرَّمَهُ اللّٰهُ عَلَى النَّارِ، قَالَ: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَفَلَا اُخْبِرُ بِهَا النَّاسَ فَلْيَسْتَبْشِرُوْا؟ قَالَ: "اِذًا يَتَّكِلُوْا" فَاَخْبَرَ بِهَا مُعَاذٌ عِنْدَ مَوْتِهٖ تَاَثُّمًا، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ،

قَوْلُهٗ "تَاَثُّمًا": اَیْ خَوْفًا مِنَ الْاِثْمِ فِیْ كَتْمِ هٰذَا الْعِلْمِ :

اے معاذه! هغهٔ اووئیل جي یارسول الله! حاضریم۔ نبي کریم صلی الله علیه وسلم دړے وارے داسے اوفرمائیل۔ معاذ رض هم هغسے جواب ورکولو۔ بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل داسے یو بنده هم نشته۔ چه د زړهٔ د صدقه سره دا گواهي ورکړي۔ چه د الله تعالیٰ نه بغیر څوک د بندګئ لائق نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده اورسول دے۔ مګر الله به هغهٔ د دوزخ اُور حراموي۔ معاذ رض عرض اوکړو۔ یا رسول الله! آیا د خوشحالئ دا خبره خلقو ته اونهٔ بنایم؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل نه۔ هغوئ به صرف هم دومره خبره باندے یقین اوکړي اوبه آرام به کښیني۔ بیا معاذ رض د مرګ په وخت کښے بیان کړه۔ د دے و یرے د وجهے نه چه علم پټول ګناه ده۔ (بخاري ومسلم) "تَاَثُّمًا": د دے علم پټولو ګناه نه ویریدل۔

۴۱۹- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ اَوْاَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا شَكَّ الرَّاوِیْ وَلَا يَضُرُّ الشَّكُّ فِیْ عَيْنِ الصَّحَابِیِّ لِاَنَّهُمْ كُلَّهُمْ عُدُوْلٌ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ غَزْوَةِ تَبُوْكَ اَصَابَ النَّاسَ مَجَاعَةٌ فَقَالُوْا: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ لَوْ اَذِنْتَ لَنَا فَنَحَرْنَا نَوَاضِحَنَا[1] فَاَكَلْنَا وَادَّهَنَّا؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اِفْعَلُوْا" فَجَاءَ عُمَرُ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنْ فَعَلْتَ قَلَّ الظَّهْرُ[2] وَلٰكِنِ ادْعُهُمْ بِفَضْلِ[3] اَزْوَادِهِمْ ثُمَّ ادْعُ اللّٰهَ لَهُمْ عَلَيْهَا بِالْبَرَكَةِ لَعَلَّ اللّٰهَ اَنْ يَجْعَلَ فِیْ ذٰلِكَ الْبَرَكَةَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَعَمْ": فَدَعَا بِنِطَعٍ[4] فَبَسَطَهٗ ثُمَّ دَعَا بِفَضْلِ اَزْوَادِهِمْ فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِیْءُ بِكَفِّ ذُرَةٍ وَيَجِیْءُ الْاٰخَرُ بِكَفِّ تَمْرٍ وَيَجِیْءُ الْاٰخَرُ بِكِسْرَةٍ حَتَّى اجْتَمَعَ عَلَى النِّطَعِ مِنْ ذٰلِكَ شَیْءٌ يَسِيْرٌ فَدَعَا

۴۱۹- ابوهریره رض یا ابوسعید خدري رض نه روایت دے۔ (د راوي شک دے۔ چه هغوئ دے دواړو کښے د چا نه واؤریدل۔ او د یو صحابي په تعین کښے داسے شک څهٔ ضرر او نقصان نهٔ ورکوي۔ ځکه چه هر یو صحابي عادل دے) د غزوهٔ تبوک په موقعه باندے د خوراک د تنګئ په وجه صحابه کرام رض نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو۔ چه کهٔ ستاسو اجازت وي نو د خوراک حاصلولو د پاره به مونږ خپل اوښان حلال کړو۔ نبي کریم صلی الله علیه وسلم اجازت ورکړو۔ مګر حضرت عمر رض د نبي کریم صلی الله علیه وسلم خدمت کښے حاضر شو او عرض ئے اوکړو یارسول الله! بیا خو به سورلئ کمے شي۔ تاسو د دوئ زیاتي توښے را اوغواړئ، بیا د الله نه دُعا اوغواړئ اُمید دے چه الله به پکښے برکت واچوي۔ نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ بنه ده داسے اوکړئ۔ بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم د څرمنے دسترخوان را اوغوښتلو او خور ئے کړلو۔ بیا ئے د خلقو نه هغه پاتے شوے فالتو توښے را اوغوښتلے۔ نو چا د مرتي

---

[1] "نواضحنا" جمع ناضح وهو البعير [2] "قل الظهر": اى الدواب۔ [3] "الفضل" بفتح الفاء وسكون الضا د المعجمة : البقية اى بالباقى من ازوادهم وهو الطعام المتخذ للسفر [4] القطع : بساط متخذ من اديم :

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْبَرَكَةِ ثُمَّ قَالَ: "خُذُوْا فِيْ اَوْعِيَتِكُمْ" فَاَخَذُوْا فِيْ اَوْعِيَتِهِمْ حَتّٰى مَا تَرَكُوْا فِي الْعَسْكَرِ وِعَاءً اِلَّا مَلَؤُوْهُ وَاَكَلُوْا حَتّٰى شَبِعُوْا وَفَضَلَ فَضْلَةٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ لَا يَلْقَى اللهَ بِهِمَا عَبْدٌ غَيْرَ شَاكٍّ فَيُحْجَبَ عَنِ الْجَنَّةِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ::

هومره جوار راوړل. چا د کجورو ېومړے راوړلو. چا ۔ تېئ ټکړه راوړله. عرض دا چه دسترخوان باندے ډیرے توښے راجمع کړے شوے. نو بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم دغه توښو کښے د برکت دُعا اوکړه. او خلقو ته ئے اوفرمائیل، د دے توښے نه خپل خپل لوښی ډک کړئ. نو لښکر کښے داسے لوښے خالی پاتے نه شو چه ډک شوے نه وی. او دے سره سره ټولو په مړه خیټه هم خوراک اوکړو او بیا هم خوراک پاتے شو. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه زهٔ ګواهی ورکوم چه د الله تعالیٰ نه بغیر د بندګئ لائق هیڅوک نشته. او دا چه زهٔ د الله رسول یم. دے دواړو خبرو کښے شک نه کولو سره چه څوک هم الله تعالیٰ سره مخامخ شی. نو جنت ته داخلیدو نه ئے نشی بندولے. (مسلم)

٤٢٠- وَعَنْ عِتْبَانَ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَهُوَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا قَالَ: كُنْتُ اُصَلِّيْ لِقَوْمِيْ بَنِيْ سَالِمٍ وَكَانَ يَحُوْلُ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُمْ وَادٍ اِذَا جَاءَتِ الْاَمْطَارُ فَيَشُقُّ عَلَيَّ اجْتِيَازُهُ[1] قِبَلَ مَسْجِدِهِمْ فَجِئْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لَهٗ: اِنِّيْ اَنْكَرْتُ بَصَرِيْ وَاِنَّ الْوَادِيَ الَّذِيْ بَيْنِيْ وَبَيْنَ قَوْمِيْ يَسِيْلُ اِذَا جَاءَتِ الْاَمْطَارُ فَيَشُقُّ عَلَيَّ اجْتِيَازُهُ فَوَدِدْتُ اَنَّكَ تَاْتِيْ فَتُصَلِّيْ فِيْ بَيْتِيْ مَكَانًا اَتَّخِذُهٗ مُصَلًّى فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَاَفْعَلُ" فَغَدَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بَعْدَ مَا اشْتَدَّ النَّهَارُ[2] وَاسْتَاْذَنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَذِنْتُ لَهٗ فَلَمْ يَجْلِسْ حَتّٰى قَالَ: "اَيْنَ تُحِبُّ اَنْ اُصَلِّيَ مِنْ بَيْتِكَ؟" فَاَشَرْتُ لَهٗ اِلَى الْمَكَانِ الَّذِيْ اُحِبُّ اَنْ يُصَلِّيَ فِيْهِ فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلّٰی

٤٢٠- عتبان بن مالک بدری رض نه روایت دے. چه ما به خپلے قبیلے بنو سالم ته مونځ ورکولو. ځما او ځما د قبیلے ترمینځ یوه ناله وه. کله به چه باران اوشو. نو د دے نالے نه تیریدل او جومات ته تلل به ډیر مشکل ؤو. ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے عرض اوکړو. چه یا رسول الله! ځما نظر هم کمزورے دے. او د باران په موقعه باندے هغه ناله چه ځما او ځما د قبیلے ترمینځ ده سیلاب پکښے راشی. چه بیا د هغے نه تیریدل ډیر مشکل وی. ځما زړهٔ غواړی چه تاسو ځما کور ته چرته راشئ. او ځما کور کښے چرته یو ځائے کښے مونځ اوکړئ. چه زهٔ هم هغلته خپل ځان دپاره جومات جوړ کړم (او د مجبورئ په وخت کښے د قبیلے جومات ته د نه تللو په وجه د جوماعت او د جمعے د ثواب نه محروم پاتے نه شم) نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. زهٔ به ان شاء الله راشم. په بله ورځ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ابوبکر رض سره راغے. تقریباً د غرمے وخت ؤو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم کور ته د ننه تللو اجازت اوغوښتلو. ما ورته بخیر راغلے اوستړی

---

[1] "اجتيازه": اى المرور فيه. "قبل مسجدهم" بكسر القاف وفتح الموحدة اى جهته. [2] "بعد ما اشتد النهار" اى علا وارتفعت شمسه. [3] "اهل الدار": اى اهل المحلة ::

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَبَّرَ وَصَفَفْنَا وَرَآءَهٗ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ وَ سَلَّمْنَا حِيْنَ سَلَّمَ فَحَبَسْنَاهُ عَلٰى خَزِيْرَةٍ تُصْنَعُ لَهٗ فَسَمِعَ اَهْلُ الدَّارِ عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ بَيْتِيْ فَثَابَ رِجَالٌ مِّنْهُمْ حَتّٰى كَثُرَ الرِّجَالُ فِي الْبَيْتِ فَقَالَ رَجُلٌ مَا فَعَلَ مَالِكٌ لَّا اَرَاهُ: فَقَالَ رَجُلٌ: ذٰلِكَ مُنَافِقٌ لَّا يُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَا تَقُلْ ذٰلِكَ اَلَا تَرَاهُ قَالَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ يَبْتَغِيْ بِذٰلِكَ وَجْهَ اللّٰهِ تَعَالٰى فَقَالَ: اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ اَمَّا نَحْنُ فَوَاللّٰهِ مَا نَرٰى وُدَّهٗ وَلَا حَدِيْثَهٗ اِلَّا اِلَى الْمُنَافِقِيْنَ: فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَاِنَّ اللّٰهَ قَدْ حَرَّمَ عَلَى النَّارِ مَنْ قَالَ: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ يَبْتَغِيْ بِذٰلِكَ وَجْهَ اللّٰهِ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁖

"وَعِتْبَانُ" بِكَسْرِ الْعَيْنِ الْمُهْمَلَةِ وَ اِسْكَانِ التَّآءِ الْمُثَنَّاةِ فَوْقُ وَبَعْدَهَا بَاءٌ مُوَحَّدَةٌ. وَ"الْخَزِيْرَةُ" بِالْخَآءِ الْمُعْجَمَةِ وَالزَّايِ: هِيَ دَقِيْقٌ يُطْبَعُ بِشَحْمٍ. وَقَوْلُهٗ "ثَابَ رِجَالٌ" بِالثَّاءِ الْمُثَلَّثَةِ: اَيْ جَآءُوْا وَاجْتَمَعُوْا ⁖

مهٔ شی اوکړل ـ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ ناستے نه مخکښے او فرمائیل ـ دَکور په کومه حصه کښے زهٔ ستا مونځ کول خوښ دی ـ کوم ځائے چه ځما خوښ وو هلته مِ دَ مونځ کولو اشاره اوکړه ـ نو هلته اودریدو او تکبیرئے اوکړو ـ او مونږ وریپسے وروستو صف جوړ کړو ـ نو چه دوه رکعته مونځ ئے اوکړو نو سلام ئے واړولو ـ مونږ هم ورسره سلام واړولو ـ د سلام نه پس ما دَ خوراک دپاره دَ ایساریدو درخواست اوکړو ـ ما دَ هغوئ دپاره دَ روغنو او دَ روټئ ما ته کړے خوراک تیاره کړے وه ـ دَ محلے خلق دَ نبی کریم صلیٰ لله علیه وسلم ما کره دَ راتللو نه خبر شول ـ نو ځما کور ته راغلل ـ نو ډیره جمع جوړه شوه ـ موجوده خلقو کښے یو کس اوویئیل چه مالک څهٔ شو ما ته په نظر نهٔ راځی ؟ یو بل کس اوویئیل چه هغه خو منافق دے ـ دَ هغهٔ نه دَ الله سره مینه شته او نهٔ دَ الله دَ رسولؐ سره ـ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل داسے مهٔ وایئ ـ آیا تاسو نهٔ گورئ چه دَ الله دَ مخ طلب کولو دپاره ئے کلمه ویئلے ده ـ نو هغه سړی اوویئیل چه الله او دَ هغهٔ رسول ښهٔ پوهیږی ـ دے باره کښے ـ البته مونږ خو داوینو چه دَ هغهٔ مینه او کیناستل پاسیدل دَ منافقانو سره دی ـ نو رسول الله صلیٰ لله علیه وسلم اوفرمائیل ـ الله دَ دوزخ اور په هغه چا باندے حراموی چه دَ الله دَ مخ طلب کولو دپاره دَ لا اله الا الله اقرار اوکړی ـ (بخاری ومسلم)

خَزِيْرَةٌ :- دَ غوړو، دَ روغنو یا دَ ډیلے شوی وازگے غوړو او دَ ړوټئ ما ته کړے خوراک ـ

ثَابَ رِجَالٌ :- یعنی خلق راغلل او جمع شول ـ

۴۲۱ - وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ، قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْيٍ فَاِذَا امْرَاَةٌ مِّنَ السَّبْيِ تَسْعٰى اِذَا وَجَدَتْ صَبِيًّا فِي السَّبْيِ اَخَذَتْهُ فَاَلْزَقَتْهُ بِبَطْنِهَا

۴۲۱ - عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے څهٔ قیدیان راغلی وُو ـ دے قیدیانو کښے یوه ښځه اوتره اوتره تیزی سره گرځی (شاید بچے ترے ورک شوے وی) چه قید یا نوکښے به ئے کله یو ماشوم

فَاَرْضَعَتْهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَتَرَوْنَ هٰذِهِ الْمَرْأَةَ
طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ؟ قُلْنَا: لَا
وَاللّٰهِ. فَقَالَ: "اَللّٰهُ اَرْحَمُ بِعِبَادِهِ
مِنْ هٰذِهِ بِوَلَدِهَا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

نظر پریوتو۔ نو ټوپ ئے کړو او ماشوم به ئے سینے ته سکیخودلو او پئ به ئے ورکول۔ (چه دا حالت رسول الله صلی الله علیه وسلم اولیدلو) نو ورته فرمائیل۔ آیا داسے ښځه به خپل بچے اور ته اوغورځوی، ستاسو څهٔ خیال دے؟ مونږ اووئیل نهٔ۔ په الله قسم دے هغه داسے نشي کولے۔ بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم او فرمائیل۔ چه څومره دا مور خپله بچي باندے مهربانه ده۔ الله تعالیٰ خپلو بندګانو باندے د دے نه زیات رحم کونکے او مهربانه دے۔ (بخاري ومسلم)

۴۲۲- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ الْخَلْقَ كَتَبَ فِيْ كِتَابٍ فَهُوَ عِنْدَهُ فَوْقَ الْعَرْشِ: اِنَّ رَحْمَتِيْ تَغْلِبُ غَضَبِيْ" وَفِيْ رِوَايَةٍ "غَلَبَتْ غَضَبِيْ" وَفِيْ رِوَايَةٍ "سَبَقَتْ غَضَبِيْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۴۲۲- ابوهریره رض نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل۔ چه کله الله تعالیٰ ټول کائنات پیدا کړل۔ نو یو کتاب کښے ئے لیکل اوکړل چه هغه (لیکل) د الله تعالیٰ سره د عرش دپاسه دی (داسے لیکل دی) چه زما رحمت زما په غضب باندے غالب دے۔ او یو روایت کښے داسے راغلی دی۔ چه زما رحمت زما د غضب نه مخکښے اوړیدے۔ (بخاري ومسلم)

۴۲۳- وَعَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "جَعَلَ اللّٰهُ الرَّحْمَةَ مِائَةَ جُزْءٍ فَاَمْسَكَ عِنْدَهُ تِسْعَةً وَّتِسْعِيْنَ وَاَنْزَلَ فِي الْاَرْضِ جُزْءًا وَاحِدًا فَمِنْ ذٰلِكَ الْجُزْءِ يَتَرَاحَمُ الْخَلَائِقُ حَتّٰى تَرْفَعُ الدَّابَّةُ حَافِرَهَا عَنْ وَلَدِهَا خَشْيَةَ اَنْ تُصِيْبَهُ" وَفِيْ رِوَايَةٍ: "اِنَّ لِلّٰهِ تَعَالٰى مِائَةَ رَحْمَةٍ اَنْزَلَ مِنْهَا رَحْمَةً وَاحِدَةً بَيْنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ وَالْبَهَائِمِ وَالْهَوَامِّ فَبِهَا يَتَعَاطَفُوْنَ وَبِهَا يَتَرَاحَمُوْنَ وَبِهَا تَعْطِفُ الْوَحْشُ عَلٰى وَلَدِهَا وَاَخَّرَ اللّٰهُ تَعَالٰى تِسْعًا وَّتِسْعِيْنَ رَحْمَةً يَرْحَمُ بِهَا عِبَادَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ اَيْضًا مِنْ رِوَايَةِ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

۴۲۳- دا روایت هم د ابوهریره رضی الله عنه دے۔ چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیل آوریدلی دی۔ چه الله تعالیٰ د رحمت نه سل حصے جوړے کړي دی او یو کم ۹۹ سل حصے ئے خپل ځان سره ساتلی دی او یوه حصه ئے زمکے ته نازله کړے ده۔ دا د یوے حصے اثر دے او هم دا وجه ده چه ټول مخلوق په یو بل باندے رحم کوی۔ ترد ے پورے چه ځناور هم د خپل بچي ته خپه اوچتوی چه هغهٔ ته تکلیف اونهٔ رسی۔

یو روایت کښے داسے هم دی چه د الله تعالیٰ سل رحمتونه دی۔ په دے کښے ئے یوه د پیریانو انسانانو او ځناورو او خزنده ګانو زنده سره پاره نازله کړے ده۔ دا د هغے اثر دے چه ټول خپل مینځ کښے یو بل سره نرمی کوی۔ او یو بل باندے مهربانه دی او لحاظ ئے کوی۔ او هم د دے اثر دے، چه ځنګلی ځناور هم د خپلو بچو سره نرمی کوی او یو کم سل ۹۹ رحمتونه ئے د آخرت د پاره

"اِنَّ لِلّٰهِ تَعَالیٰ مِائَةَ رَحْمَةٍ فَمِنْهَا رَحْمَةٌ يَتَرَاحَمُ بِهَا الْخَلْقُ بَيْنَهُمْ وَ تِسْعٌ وَّ تِسْعُوْنَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ" وَفِيْ رِوَايَةٍ "اِنَّ اللّٰهَ تَعَالیٰ خَلَقَ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ مِائَةَ رَحْمَةٍ كُلُّ رَحْمَةٍ طِبَاقُ[1] مَا بَيْنَ السَّمَآءِ اِلَی الْاَرْضِ رَحْمَةً فَجَعَلَ مِنْهَا فِي الْاَرْضِ رَحْمَةً فَبِهَا تَعْطِفُ الْوَالِدَةُ عَلٰى وَلَدِهَا وَالْوَحْشُ وَالطَّيْرُ بَعْضُهَا عَلٰى بَعْضٍ فَاِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ اَكْمَلَهَا بِهٰذِهِ الرَّحْمَةِ" -

خپل ځان سره ساتلی دی چه قیامت کښے به خپلو بندګانو باندے د دغه رحمتونو په ذریعه رحم کوی - (بخاری ومسلم)

امام مسلمؒ دا حدیث د سلمان فارسیؓ نه نقل کړے دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه د الله تعالیٰ سل رحمتونه دی. یو رحمت دُنیا کښے مخلوق باندے استعمالولے شی- او نوکم سل د قیامت دپاره دی-

یو روایت کښے دا سے راغلی دی- الله تعالیٰ چه د کومے ورځے را سے زمکه او آسمان پیدا کړی دی. په هغه ورځ ئے سل رحمتونه هم پیدا کړی دی - او هر رحمت د زمکے او آسمان ترمینځ خالی حصه ډکوی- د یکښے ئے یو رحمت زمکه کښے خور کړو- د هغے دا اثر دے چه یو طرف ته مور خپل بچی باندے دومره مهربانه ده- چه خپل ځان پرے هم قربانوی- نو بل طرف ته ځنا ور او مارغان خپل مینځ کښے نرمی کوی- کله چه د قیامت ورځ راشي. نو د دُنیا والا رحمت او یو کم سل ۹۹ رحمتونه به شامل کړي او سل به پوره کړي.

۴۲۴- وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْمَا يَحْكِيْ عَنْ رَبِّهٖ تَبَارَكَ وَتَعَالیٰ قَالَ: " اَذْنَبَ عَبْدٌ ذَنْبًا فَقَالَ: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ ذَنْبِيْ فَقَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالیٰ اَذْنَبَ عَبْدِيْ ذَنْبًا فَعَلِمَ اَنَّ لَهٗ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَ يَاْخُذُ بِالذَّنْبِ ثُمَّ عَادَ فَاَذْنَبَ فَقَالَ: اَیْ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذَنْبِيْ فَقَالَ تَبَارَكَ وَتَعَالیٰ: اَذْنَبَ عَبْدِيْ ذَنْبًا فَعَلِمَ اَنَّ لَهٗ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَاْخُذُ بِالذَّنْبِ ثُمَّ عَادَ فَاَذْنَبَ فَقَالَ: اَیْ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذَنْبِيْ فَقَالَ تَبَارَكَ وَتَعَالیٰ: اَذْنَبَ عَبْدِيْ ذَنْبًا فَعَلِمَ اَنَّ لَهٗ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَاْخُذُ بِالذَّنْبِ قَدْ غَفَرْتُ لِعَبْدِيْ فَلْيَفْعَلْ مَا شَآءَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَقَوْلُهٗ تَعَالیٰ: "فَلْيَفْعَلْ مَا شَآءَ" اَیْ مَادَامَ يَفْعَلُ هٰكَذَا يُذْنِبُ وَ يَتُوْبُ

۴۲۴- دا روایت هم د ابوهریرهؓ دے- چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالیٰ دا ارشاد بیان کړو. چه څوک بنده یو وارے یوه ګناه اوکړی- بیا وائی. اے الله! زما ګناه معاف کړه- په دے خبره الله تعالیٰ اووائی. چه زما بنده خو ګناه اوکړه- مګر هغه دا پیژنی چه زما رب خو څوک شته چه ما معاف کولے هم شی او نیولے م هم شی، بیا دوباره هغه ګناه اوکړی او وائی. اے ربه! زما ګناه اوبخښنه. بیا الله تعالیٰ اووائی چه زما بنده خو ګناه اوکړه. مګر دا ګڼړی چه زما خو څوک رب شته چه زما ګناه به معاف کړی- او په ګناه به م اونیسی - بنده بیا ګناه اوکړی او توبه لے اوویستله او وے وئیل- اے زما ربه! زما ګناه معاف کړه- بیا الله تعالیٰ اووائی چه زما بنده خو ګناه اوکړه مګر هغه دا ضرور پیژنی- چه ګناه معاف کوی. او ګناه کولو باندے نیول هم کوی. (نو اے زما بنده!) ته ما معاف کړے- څه چه ستا

---

[1] طباق، بکسر الطاء المهملة: ای غشاء "ما بین السماء والارض" ای یملأ ذلك لو كان جسما من كبره وعظمه وهذه الاحادیث من احادیث الرجاء والبشارة للمسلمین.

اغْفِرْ لَهٗ فَاِنَّ التَّوْبَةَ تَهْدِمُ مَا قَبْلَهَا.

زړهٔ غواړی کوه - (بخاری ومسلم) "خهٔ چه ستا زړهٔ غواړی کوه". د دے مطلب دا دے. کهٔ بیا د تا نه خهٔ اوشی او ما نه ئے معافی غواړے - او توبه اوباسے. نو راتلونکی زمانه کښے به هم تا معاف کوم. ځکه چه توبه اولنی ګناهونه بالکل ختموی. لکه چه هډو کړی ئے نهٔ وی.

٤٢٥- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَوْلَمْ تُذْنِبُوْا لَذَهَبَ اللّٰهُ بِكُمْ وَجَآءَ بِقَوْمٍ يُذْنِبُوْنَ فَيَسْتَغْفِرُوْنَ اللّٰهَ تَعَالٰى فَيَغْفِرُ لَهُمْ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

٤٢٥- دا روایت هم د ابوهریره رض دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. په هغه ذات مې دِ قسم وی چه د چا په لاس کښے ځما ساه ده. کهٔ ستاسو نه ګناه نهٔ کیدے نو الله به تاسو یو طرف ته کړی وئ او ستاسو په ځائے به ئے نور خلق پیدا کړی وو. چه هغوئ به ګناه کولے او بیا به ئے بخښنه غوښتله. او د هغوئ بخښنه به الله تعالیٰ کوله. (مسلم)

٤٢٦- وَعَنْ اَبِيْ اَيُّوْبَ خَالِدِ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "لَوْلَا اَنَّكُمْ تُذْنِبُوْنَ لَخَلَقَ اللّٰهُ خَلْقًا يُذْنِبُوْنَ فَيَسْتَغْفِرُوْنَ فَيَغْفِرُ لَهُمْ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

٤٢٦- ابوایوب خالد بن زید رض وائی. چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیل آوریدلی دی. کهٔ تاسو ګناه نهٔ کولے، نو الله تعالیٰ به داسے بندګان پیدا کړے وے چه ګناه به ئے کولے او د الله تعالیٰ نه به ئے معافی غوښتلے. او الله تعالیٰ به ورته معافی کولے. (مسلم)

٤٢٧- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا قُعُوْدًا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَنَا اَبُوْ بَكْرٍ وَّعُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فِيْ نَفَرٍ [51] فَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْنِ اَظْهُرِنَا فَاَبْطَاَ عَلَيْنَا فَخَشِيْنَا اَنْ يُقْطَعَ دُوْنَنَا [52] فَفَزِعْنَا فَقُمْنَا فَكُنْتُ اَوَّلَ مَنْ فَزِعَ فَخَرَجْتُ اَبْتَغِيْ [53] رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى اَتَيْتُ حَآئِطًا لِلْاَنْصَارِ - وَذَكَرَ الْحَدِيْثَ بِطُوْلِهٖ اِلٰى قَوْلِهٖ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اِذْهَبْ فَمَنْ لَقِيْتَ وَرَآءَ هٰذَا الْحَآئِطِ يَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهٗ فَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

٤٢٧- ابوهریره رض نه روایت دے. چه مونږ ټول د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په مجلس کښے ناست وو - او مونږ سره ابوبکر او عمر رضی الله عنهما هم ناست وو. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ځمونږ نه پاسیدو لاړ. کله ئے چه واپسئ کښے ناوخته کړو. نو مونږ ته دا خطره محسوسه شوه. چه ځمونږ په نهٔ موجودګئ ورته څوک ضرر یا تکلیف اونهٔ رسوی. دے خیال کولو سره مونږ ټول پریشانه شو. او پاسیدلو. داویره اول ما ته اولګیده. او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په تلاش کښے اووتلم. هغه مې تلاش کولو چه د انصاری یو باغ ته راغلم. د هغے نه پس ابوهریره تفصیل سره حدیث بیان کړو. او آخر کښے ئے اووئیل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوهریره رض ته اوفرمائیل چه لاړ شه. او د دے باغ د دیوال نه بهر چه... تا ته هر څوک ملاؤ شو. او هغهٔ دا ګواهی

---

[51] "النفر" بفتح اوليه "من الثلاثة الى التسعة وقوله " من بين اظهرنا": اى من بيننا ، [52] "يقطع" اى يؤخذ دوننا والفزع الخوف [53] "ابتغى رسول الله" اى اطلبه. والحائط للبستان: [54] سورة ابراهيم اية ٣٦ ؛

ورکوله چه دَ الله نه بغير بل هيڅوک دَ بندګئ لائق نشته - او دے بانده بوخ يقين هم ساتی - نو هغهٔ له دَ جنت ملاويدو زيرے ورکړه - (مسلم)

۴۲۸- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِىَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَلَا قَوْلَ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فِىْ اِبْرَاهِيْمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رَبِّ اِنَّهُنَّ اَضْلَلْنَ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ فَمَنْ تَبِعَنِىْ فَاِنَّهٗ مِنِّىْ" الْاٰيَةَ وَقَوْلَ عِيْسٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَ اِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ" فَرَفَعَ يَدَيْهِ وَقَالَ: "اَللّٰهُمَّ اُمَّتِىْ اُمَّتِىْ" وَبَكٰى فَقَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: "يَا جِبْرِيْلُ اذْهَبْ اِلٰى مُحَمَّدٍ وَرَبُّكَ اَعْلَمُ فَسَلْهُ مَا يُبْكِيْهِ؟ فَاَتَاهُ جِبْرِيْلُ فَاَخْبَرَهٗ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا قَالَ وَهُوَ اَعْلَمُ فَقَالَ اللهُ تَعَالٰى: "يَا جِبْرِيْلُ اذْهَبْ اِلٰى مُحَمَّدٍ فَقُلْ: اِنَّا سَنُرْضِيْكَ فِىْ اُمَّتِكَ وَلَا نَسُوْءُكَ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۴۲۸- عبد الله بن عمرو بن عاص رض نه روايت دے. چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم دَ حضرت ابراهيم عليه السلام نه دَ الله تعالىٰ دا قول نقل کړو- "ربّ انهنّ اضللن کثيرا مّن النّاس فمن تبعنی فانّه منّی" ترجمه: "اے الله! دے بُتا نو خو ډير خلق بے لارے کړل. دوئ کښے چه څوک څما تابعداری کوی هغه څما اُمتی دے" (ابراهيم آية ٣٦) او دے نه پس ئے دَ عيسىٰ عليه السلام نه دا قول دَ الله تعالىٰ نقل کړو. "ان تعذّبهم فانّهم عبادك وان تغفر لهم فانك انت العزيز الحكيم" ترجمه، "که ته دوئ ته عذاب ورکوے نو دا هم ستا بندګان دی- او که ته ئے معاف کړے نو ته بے شکه زبردست حکمت والائے. (مائدهٔ آية نمبر ۱۱۸) بيا نبی کريم صلی الله عليه وسلم لاسونه اوچت کړل او "اللّٰهمّ اُمّتى اُمّتى" ئے وئيل او ژړل ئے - نو الله تعالىٰ جبرئيل عليه السلام ته حکم ورکړو چه محمد (صلی الله عليه وسلم) له لاړ شه. چه ستا دَ ژړا وجه او سبب الله تعالىٰ ته ډير ښهٔ معلوم دے. مګر ته ترے پوښتنه اوکړه چه ولے ژاړے؟ نو جبرئيل عليه السلام راغے. نو نبی عليه السلام ورته دَ ژړا وجه او ښودله. څنګه چه الله تعالىٰ ته مخکښے هم پته وه. دغه وخت الله تعالىٰ جبرئيل عليه السلام ته اوفرمائيل. دَ دے جواب ورکولو سره محمد (صلی الله عليه وسلم) له لاړ شه. او ورته اووايه چه مونږ به تا دَ خپل اُمت په باره کښے خوشحاله کړو. او خفه به دِ نهٔ پريږدو (يا خفګان له به دِ نهٔ ورکوو- (مسلم)

۴۲۹- وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كُنْتُ رِدْفَ النَّبِىِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى حِمَارٍ فَقَالَ "يَا مُعَاذُ هَلْ تَدْرِىْ مَا حَقُّ اللهِ عَلٰى عِبَادِهٖ وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ؟ قُلْتُ: اَللهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ، قَالَ: "فَاِنَّ حَقَّ اللهِ عَلَى الْعِبَادِ اَنْ يَّعْبُدُوْهُ وَلَا يُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَحَقَّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ اَنْ

۴۲۹- معاذ بن جبل رض نه روايت دے. چه زهٔ وروستو نبی کريم صلی الله عليه وسلم پسے په خر بانده سور ووم. چه هغهٔ اوفرمائيل. اے معاذه! تا ته پته شته، چه دَ الله تعالىٰ په بنده بانده او دَ بنده په الله تعالىٰ بانده څهٔ حقونه دی؟ ما ووئيل الله او دَ هغهٔ رسول ښهٔ پوهيږی. نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل. چه دَ الله تعالىٰ په بنده بانده خو دا حق دے چه صرف دَ هغهٔ عبادت اوکړی.

[illegible] ۲ ردف النبی بکسر الراء وسکون الدال المعجمة ای راکبا خلفه صلی الله عليه وسلم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/182281287129Y698/ Telagram:https://t.me/afghansalar

لَا يُعَذِّبَ مَنْ لَا يُشْرِكُ بِهٖ شَيْئًا" فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَفَلَا اُبَشِّرُ النَّاسَ قَالَ "لَا تُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوْا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

او څوک ورسره شريک جوړ نۀ کړي۔ او په الله تعالیٰ باندې د بنده دا حق دې۔ چه هغۀ شرک نۀ دې کړې۔ نو عذاب به نۀ ورکړي ما عرض اوکړو يا رسول الله! آيا زۀ خلقو ته دا زيرې ورنکړم؟ نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل نه۔ هغوئ ته دا زيرې مۀ ورکوه۔ بس هم په دې به يقين اوکړي (او د نورو حکمونو او اعمالو نه به په آرام کيني)۔

(بخاری ومسلم)

۴۳۰ - وَعَنِ الْبَرَآءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلْمُسْلِمُ اِذَا سُئِلَ فِي الْقَبْرِ يَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ فَذٰلِكَ قَوْلُهٗ تَعَالٰى [1] "يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۴۳۰ - براء بن عازب رضی الله عنهما نه روايت دې۔ چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه د مسلمان نه کله په قبر کښې سوال کولې شي نو هغۀ ګواهي ورکوي چه د الله نه بغير بل څوک د بندګۍ لائق نشته۔ او محمد صلی الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دې۔ او دا مطلب د الله تعالیٰ د دې قول دې۔ "يثبت الله الذين اٰمنوا بالقول الثابت في الحيٰوة الدنيا وفي الآخرة" ترجمه: "الله تعالیٰ به په دُنيا او آخرت کښې هغه څوک ثابت قدم ساتي۔ چه د چا ايمان مضبوط وي"۔ (بخاری ومسلم)

۴۳۱ - وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِنَّ الْكَافِرَ اِذَا عَمِلَ حَسَنَةً اُطْعِمَ بِهَا طُعْمَةً مِّنَ الدُّنْيَا وَاَمَّا الْمُؤْمِنُ فَاِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى يَدَّخِرُ لَهٗ حَسَنَاتِهٖ فِي الْاٰخِرَةِ وَيُعْقِبُهٗ [2] رِزْقًا فِي الدُّنْيَا عَلٰى طَاعَتِهٖ" وَفِيْ رِوَايَةٍ: "اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مُؤْمِنًا حَسَنَةً يُعْطٰى بِهَا فِي الدُّنْيَا وَيُجْزٰى بِهَا فِي الْاٰخِرَةِ وَاَمَّا الْكَافِرُ فَيُطْعَمُ [3] بِحَسَنَاتِ مَا عَمِلَ لِلّٰهِ تَعَالٰى فِي الدُّنْيَا حَتّٰى اِذَا اَفْضٰى اِلَى الْاٰخِرَةِ لَمْ يَكُنْ لَهٗ حَسَنَةٌ يُجْزٰى بِهَا" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۴۳۱ - انس بن مالک رض نه روايت دې۔ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه کافر دُنيا کښې چرته ښۀ کار کوي۔ او د هغۀ د تابعدارۍ او فرمايني په وجه دُنيا کښې هغۀ ته رزق ورکولې شي۔

يو روايت کښې داسې راغلي دي۔ چه الله تعالیٰ د مسلمانانو سره د نيکۍ او د خير په معامله کښې کمې نۀ کوي او نۀ ئې حق ضائع کوي۔ د دغه نيکۍ بدله ورته دُنيا کښې هم ملاويږي او آخرت کښې هم۔ او که کافر دُنيا کښې د الله د پاره ښۀ نيکي اوکړي۔ نو دُنيا کښې ورله پوره بدله ورکولې شي۔ چه آخرت کښې ورته د بدلې ورکولو د پاره هغۀ سره ښۀ نيکي پاتې نشي۔

(مسلم)

۴۳۲ - وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ

۴۳۲ - حضرت جابر رض نه روايت دې۔ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل۔ چه د پنځو مونځونو مثال د داسې ډک روان

---

[1] سورة ابراهيم آية ۲۷ [2] "ويعقبه" بضم التحتية اى يعطيه [3] "فيطعم" اى يرزق قوله صلى الله عليه وسلم "أفضى الى الآخرة": اى صار اليها

كَمَثَلِ نَهْرٍ جَارٍ غَمْرٍ عَلٰى بَابِ اَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ مِنْهُ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسَ مَرَّاتٍ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

"اَلْغَمْرُ": اَلْكَثِيْرُ ؛

نهر پشان دے. چه ستاسو دروازے سره روان وی چه هغے کښے تاسو ورځے پنځه وارے لامبئ اخئ ځکه چه د ورځے پنځه وخته د غسل کولو نکی په بدن خیرے او ګندګی نه پاتے کیږی، دغسے ورځ کښے پنځه مونځونه کونکی باندے هم د ګناه څه داغ او نښه نه پاتے کیږی) (مسلم)

اَلْغَمْرُ: یعنی غټ او زیات.

۴۳۳- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا مِنْ رَجُلٍ مُسْلِمٍ يَمُوْتُ فَيَقُوْمُ عَلٰى جَنَازَتِهٖ اَرْبَعُوْنَ رَجُلًا لَا يُشْرِكُوْنَ بِاللّٰهِ شَيْئًا اِلَّا شَفَّعَهُمُ اللّٰهُ فِيْهِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۴۳۳- عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے. چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرمائیلی آوریدلی دی. چه یو مسلمان دا سے نشته چه هغه مړشی. او جنازه کښے ئے دا سے څلویښت کسان شریک شی. چه هیڅوک ئے د الله تعالیٰ سره شریک کړے نه وی. مګر دے مړی دپاره د دغه خلقو سفارش الله تعالیٰ قبلوی. (مسلم)

۴۳۴- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِىْ قُبَّةٍ[۵۲] نَحْوًا مِّنْ اَرْبَعِيْنَ فَقَالَ "اَتَرْضَوْنَ اَنْ تَكُوْنُوْا رُبُعَ اَهْلِ الْجَنَّةِ؟" قُلْنَا: نَعَمْ. قَالَ: "اَتَرْضَوْنَ اَنْ تَكُوْنُوْا ثُلُثَ اَهْلِ الْجَنَّةِ"؟ قُلْنَا نَعَمْ قَالَ: "وَالَّذِىْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ اِنِّىْ لَاَرْجُوْا اَنْ تَكُوْنُوْا نِصْفَ اَهْلِ الْجَنَّةِ وَذٰلِكَ اَنَّ الْجَنَّةَ لَا يَدْخُلُهَا اِلَّا نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ وَمَا اَنْتُمْ فِىْ اَهْلِ الشِّرْكِ اِلَّا كَالشَّعْرَةِ الْبَيْضَاۤءِ فِىْ جِلْدِ الثَّوْرِ الْاَسْوَدِ اَوْ كَالشَّعْرَةِ السَّوْدَاۤءِ فِىْ جِلْدِ الثَّوْرِ الْاَحْمَرِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۴۳۴- عبد الله بن مسعود رض نه روایت دے. چه مونږ تقریبًا څلویښت کسان د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په یوه خیمه کښے ناست وو. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. که په جنت کښے ستاسو شمیره څلورمه حصه وی. نو آیا تاسو به خوشحاله شئ؟ مونږ او وئیل هو جی. بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. آیا تاسو به دے هم خوشحاله یئ. که جنت کښے تاسو دریمه حصه یئ. مونږ او وئیل، هو جی. بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. په هغه ذات مې د قسم وی د چا په لاس کښے چه د محمد (صلی الله علیه وسلم) ساه ده. ځما اُمید دے چه جنت کښے به نیمائی تاسو اوسئ، ځکه چه جنت کښے به د مسلمان نه بغیر هیڅوک نه داخلیږی. او ستاسو نسبت د مشرکانو په مقابله کښے د هغه سپینو ویښتو هومره دے. څومره چه د یو تور غوائی په څرمن باندے وی. یا د هغه تورو ویښتو هومره دے. څومره چه د یو سور غوائی په څرمن کښے وی. (یعنی په ډیر کم شمار کښے د دغه ویښته وی. دغسے مسلمانان هم د شرک والو په نسبت کم وی). (بخاری ومسلم)

۴۳۵- وَعَنْ اَبِىْ مُوْسَى الْاَشْعَرِىِّ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

۴۳۵- ابوموسیٰ اشعری رض نه روایت دے. چه رسول مقبول صلی الله علیه

---

[۵۲] "القبة" بضم القاف وتشديد الموحدة. بيت صغير مستدبر من الخيام وهو من بيوت العرب ؛

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ دَفَعَ اللّٰهُ اِلَى كُلِّ مُسْلِمٍ يَهُوْدِيًّا اَوْ نَصْرَانِيًّا فَيَقُوْلُ هٰذَا فِكَاكُكَ مِنَ النَّارِ" وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ "يَجِيْءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ نَاسٌ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ بِذُنُوْبٍ اَمْثَالِ الْجِبَالِ يَغْفِرُهَا اللّٰهُ لَهُمْ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ،

قَوْلُهٗ: "دَفَعَ اِلَى كُلِّ مُسْلِمٍ يَهُوْدِيًّا اَوْ نَصْرَانِيًّا فَيَقُوْلُ هٰذَا فِكَاكُكَ مِنَ النَّارِ" مَعْنَاهُ مَاجَآءَ فِيْ حَدِيْثِ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ "لِكُلِّ اَحَدٍ مَنْزِلٌ فِي الْجَنَّةِ وَمَنْزِلٌ فِي النَّارِ فَالْمُؤْمِنُ اِذَا دَخَلَ الْجَنَّةَ خَلَفَهُ الْكَافِرُ فِي النَّارِ لِاَنَّهٗ مُسْتَحِقٌّ لِذٰلِكَ بِكُفْرِهٖ" وَ مَعْنَى "فِكَاكُكَ" اِنَّكَ كُنْتَ مُعَرَّضًا لِدُخُوْلِ النَّارِ وَهٰذَا فِكَاكُكَ لِاَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى قَدَّرَ لِلنَّارِ عَدَدًا يَمْلَؤُهَا فَاِذَا دَخَلَهَا الْكُفَّارُ بِذُنُوْبِهِمْ وَكُفْرِهِمْ صَارُوْا فِيْ مَعْنَى الْفِكَاكِ لِلْمُسْلِمِيْنَ. وَاللّٰهُ اَعْلَمُ ؞

وسلم او فرمائيل. چه کله دَ قيامت ورځ شي۔ نو الله تعالیٰ به هرمسلمان ته يو يهودی يا عيسائی ورکړي او ورته به اووائی چه دَ دوزخ نه دَ خلاصی دپاره دا ستا بدله کښې دے۔ بل روايت کښې داسے راځی چه ابوموسیٰ اشعری رضـ فرمائيلی دی. چه رسول مقبول صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل۔ چه دَ قيامت په ورځ به مسلمان دَ غرونو هومره بار دَ گناه اوچت کړے وی۔ مګر الله به ئې ورته اوبخښی۔ (مسلم)

امام نووی رحـ دَ دے قول "دَفَعَ اِلٰی كُلِّ مُسْلِمٍ" ترآخره پورے۔ په تشريح کښې وائی چه دَ دے حديث مطلب دَ ابوهريره رضـ دَ دے روايت نه ښکاره معلوميږی. هغه وائی چه دَ هرکس دپاره په جنت کښې يا دوزخ کښې يو ځائے مقرر شوے وی۔ کله چه مسلمان دَ خپل اسلام په وجه په جنت کښې داخل شی۔ نو دوزخ کښې دَ هغهٔ په ځائے يو کافر ورديکه کړے شی. ځکه چه دے دَ خپل کفر په وجه دَ دے حقدار وو. اوَ فديئے او بدلے کيدلو مطلب دا دے. چه الله دَ دوزخ دَ ډکولو دپاره يو تعداد مقرر کړے دے۔ کله چه کافرانو مشرک دَ خپلو گناهونو او دَ کفر او شرک په وجه دَ دوزخ ډکولو دپاره کافی شي نو دا دَ مسلمان دَ طرفنه بدله شوه۔ (مثلاً بالفرض که کافر دَ مقرر تعداد نه کم پاتے شوے وے، نو دا هم کيدلے شوه چه دَ خالی ځائے دَ ډکولو دپاره چرته دَ خطاکونکی او گناهگار مسلمان نمبر را تللے۔ والله اعلم)۔

۲۳۶ - **وَعَنِ** ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "يُدْنَى الْمُؤْمِنُ[1] يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ رَّبِّهٖ حَتّٰى يَضَعَ كَنَفَهٗ عَلَيْهِ فَيُقَرِّرُهٗ بِذُنُوْبِهٖ فَيَقُوْلُ: اَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا؟ اَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا؟ فَيَقُوْلُ رَبِّ اَعْرِفُ قَالَ: فَاِنِّيْ قَدْ سَتَرْتُهَا عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا وَاَنَا اَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ فَيُعْطٰى صَحِيْفَةَ حَسَنَاتِهٖ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ؞

۲۳۶ - عبدالله بن عمر رضـ رضی الله عنهما نه روايت دے۔ چه ما دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم نه داسے فرمائيلی ؟ وريدلی دی. چه دَ قيامت په ورځ به مؤمن بنده الله تعالیٰ ته نزدے راوستلے شی. چه دَ خپل رحمت سورے کښې به ئې پټ کړي او دغلته به دے دَ خطا اودَ قصور اقرارا وکړی۔ او گناه به ورته مخامخ کړے شي. بيا به ورته الله تعالیٰ اووائی چه دَ دے گناه اقرار کوے دا گناه پيژنے ؟ هغه به عرض وکړی، اے

---

[1] "يدنى" اى يقرب "المؤمن يوم القيامة من ربه" دنو كرامة واحسان لا دنو مسافة فانه سبحانه منزه عن المسافة،

"كَنَفَهُ" سَتْرُهُ وَرَحْمَتُهُ ؛

الله! زه ئے اقرار کوم چه ما دا گناه کړے ده. د اقرار نه پس به الله تعالیٰ اوفرمائی. دُنیا کښے م ستا گناه پټه کړے وه. اونن هم تا معاف کوم. نو د نیکو صحیفه به ورته ورکړے شی. (بخاری ومسلم)

كَنَفَهُ : یعنی پرده یا رحمت -

۴۳۷ - وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا اَصَابَ مِنَ امْرَاَةٍ قُبْلَةً فَاَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبَرَهُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1] "وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ[2] وَزُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ اِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ" فَقَالَ الرَّجُلُ : اَلِيَ هٰذَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ "لِجَمِيْعِ اُمَّتِيْ كُلِّهِمْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۴۳۷ - عبدالرحمٰن بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے. چه یو سړی پردئ ښځه ښکل کړه. کله چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم خدمت کښے حاضر شو، نو د خپلے غلطئ ذکر ئے نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته اوکړو. نو الله تعالیٰ دا آیت نازل کړو (چه ترجمه ئے دا ده. " د ورځے په دواړو وختونو (سحر ما ښام) او د شپے په حصه کښے مونځ قایم کړه. یقیناً نیک کار ونه بدئ ختموی" (آیت ۱۱۴ - هود - پ ۱۲) نو هغه سړی اووئیل چه دا حکم صرف ځما دپاره دے. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دا حکم د ټول اُمت دپاره دے. (بخاری ومسلم)

۴۳۸ - وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَصَبْتُ حَدًّا فَاَقِمْهُ عَلَيَّ وَحَضَرَتِ الصَّلٰوةُ فَصَلّٰى مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَضَى الصَّلٰوةَ قَالَ : يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ! اِنِّيْ اَصَبْتُ حَدًّا فَاَقِمْ فِيَّ كِتَابَ اللّٰهِ قَالَ : "هَلْ حَضَرْتَ مَعَنَا الصَّلٰوةَ ؟ قَالَ نَعَمْ. قَالَ : " قَدْ غُفِرَ لَكَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

وَقَوْلُهُ " اَصَبْتُ حَدًّا" مَعْنَاهُ مَعْصِيَةً تُوْجِبُ التَّعْزِيْرَ وَلَيْسَ الْمُرَادُ الْحَدَّ الشَّرْعِيَّ الْحَقِيْقِيَّ كَحَدِّ الزِّنَا وَالْخَمْرِ وَغَيْرِهِمَا فَاِنَّ هٰذِهِ الْحُدُوْدَ لَا تَسْقُطُ بِالصَّلٰوةِ وَلَا يَجُوْزُ لِلْاِمَامِ تَرْكُهَا ؛

۴۳۸ - انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے. چه یو سړے د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شو او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله! ما نه د سزا لائق جرم شوے دے. ما باندے حد جاری کړئ. دے پسے د مانځه وخت راغے. دغه سړی هم د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره مونځ اوکړو. مونځ ئے چه اوکړو نو بیا ئے نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته اووئیل. چه ما نه د سزا قابل جرم شوے دے. ما باندے د قرآن حکم جاری کړه. نبی کریم صلی الله علیه وسلم ترے پوښتنه اوکړه. آیا تا مونږ سره اوس مونځ اوکړو؟ هغهٔ اووئیل، هو جی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ځه، ستا گناه معاف کړے شوه. (بخاری ومسلم)

اَصَبْتُ حَدًّا : امام نووی رح فرمائی چه دا داسے گناه ده چه سزا ئے معمولی ده. حقیقت کښے شرعی حد سزا د زنا او شراب وغیره وی. د دے نه هغه مراد نه دے. ځکه چه دا سزا به مانځه سره نه ختمیږی. او نه ئے امام او بادشاه له د پریخودلو حق او اجازت شته. (د امام نووی رح تشریح په ځائے ده مگر د نبی کریم صلی الله علیه وسلم عهده د امام او

---

[1] سورة هود آية ۱۱۴ [2] "اطرفی النهار" : ای غدوة وعشیة. و زلفا من اللیل" ای ساعات منه قریبة من النهار ؛

بادشاهئ کیدو سره سره دَ شریعت شارع او بیانونکے هم دے۔ کهٔ هغه دَ حقیقی سزا حقدار هم وی۔ نو هم نبی کریم صلی الله علیه وسلم معاف کړو۔ بس دے کښے دَ تاویل یا بدلولو یا دَ څهٔ عذر بیانولو حاجت نشته۔ هغهٔ ته دینئ کښے پوره شپا ړس آنے حق دے۔ دَ هغهٔ چه څهٔ خوښه وی، هغسے دِ اوفرمائی۔ ځکه چه "ان هو الا وحی یوحیٰ" یعنی هغه دَ وحی الٰهی نه بغیرخبره نهٔ کوی۔ نو دا هم وحی وه)۔ ن)

۴۳۹- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اِنَّ اللهَ لَيَرْضٰى عَنِ الْعَبْدِ اَنْ يَّاْكُلَ الْاَكْلَةَ فَيَحْمَدُهٗ عَلَيْهَا اَوْ يَشْرَبَ الشَّرْبَةَ فَيَحْمَدُهٗ عَلَيْهَا" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

"اَلْاَكْلَةُ" بِفَتْحِ الْهَمْزَةِ وَهِيَ الْمَرَّةُ الْوَاحِدَةُ مِنَ الْاَكْلِ كَالْغَدْوَةِ وَالْعَشْوَةِ وَاللهُ اَعْلَمُ ؛

۴۳۹- انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه الله تعالیٰ دَ بنده نه دومره خبره با ندے خوشحالیږی۔ کله چه خوراک اوکړی یا څهٔ اوڅکی او هغے با ندے دَ الله حمد او ثناء بیان کړی۔ یعنی الحمدلله اووائی۔

(مسلم)

اَلْاَكْلَةُ: دَ یو وخت خوراک لکه صبا یا بیګاه

۴۴۰- وَعَنْ اَبِىْ مُوْسٰى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِنَّ اللهَ تَعَالٰى يَبْسُطُ يَدَهٗ بِاللَّيْلِ لِيَتُوْبَ مُسِيْءُ النَّهَارِ[له] وَ يَبْسُطُ يَدَهٗ بِالنَّهَارِ لِيَتُوْبَ مُسِيْءُ اللَّيْلِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۴۴۰- ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه وائی۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه الله تعالیٰ دَ شپے په وخت خپل لاس خوروی۔ دے دپاره چه دَ ورځے والا ګنهګار که توبه اوباسی چه هغه معاف کړی۔ او دَ ورځے لاس خوروی، دے دپاره چه دَ شپے والا ګنهګار توبه اوباسی چه هغهٔ ته معافی اوشی (دا به تر هغه وخته پورے وی) تر څو چه نمر دَ مغرب نه را اوخیژی۔ (مسلم)

۴۴۱- وَعَنْ اَبِىْ نَجِيْحٍ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ "بِفَتْحِ الْعَيْنِ وَالْبَاءِ" السُّلَمِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كُنْتُ وَاَنَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ اَظُنُّ اَنَّ النَّاسَ عَلٰى ضَلَالَةٍ وَاَنَّهُمْ لَيْسُوْا عَلٰى شَيْءٍ وَهُمْ يَعْبُدُوْنَ الْاَوْثَانَ فَسَمِعْتُ بِرَجُلٍ بِمَكَّةَ يُخْبِرُ اَخْبَارًا فَقَعَدْتُ عَلٰى رَاحِلَتِيْ فَقَدِمْتُ عَلَيْهِ فَاِذَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَخْفِيًا جُرَءَاءُ عَلَيْهِ قَوْمُهٗ فَتَلَطَّفْتُ حَتّٰى دَخَلْتُ عَلَيْهِ بِمَكَّةَ فَقُلْتُ لَهٗ: مَا اَنْتَ؟ قَالَ: "اَنَا نَبِيٌّ" قُلْتُ: وَمَا نَبِيٌّ؟ قَالَ: "اَرْسَلَنِيَ اللهُ" قُلْتُ: بِاَيِّ شَيْءٍ اَرْسَلَكَ؟ قَالَ:

۴۴۱- ابونجیح عمرو بن عَبَسه سلمی رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه دَ جاهلیت په زمانه کښے ځما دا خیال وو۔ چه خلق بے دینئ کښے پریوتے دی او حق او هدایت خو ورسره بالکل نشته۔ دا خو دَ بتانو عبادت کوی۔ دغه وخت کښے ما واوریدل چه مکه کښے یو سړے دے چه نوے خبرے کوی۔ نو زهٔ په خپله اوښه باندے سور شوم۔ او مکے ته لاړم نو هلته رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مخامخ شوم۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ خپل بے عزته قوم او دَ هغوئ دَ شرارتونو نه پټ اوسیدهٔ۔ نو په پټه ذریعه دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم خدمت ته اورسیدم۔ او کله چه ملاقات اوشو نوما ترے پوښتنه اوکړه چه ته څوک یے؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اووئیل۔

[له] "ان الله يبسط يده بالليل": اى يقبل التوبة من التائبين ليلا ونهارا وانما ورد لفظ بسط اليد لان العرب اذا اخذ احدهم الشئ بسط يده لقبوله واذا كرهه قبضها عنه فخوطبوا بما يفهمون ؛

اَرْسَلَنِیْ بِصِلَةِ الْاَرْحَامِ وَ كَسْرِ الْاَوْثَانِ وَاَنْ يُوَحَّدَ اللّٰهُ لَا يُشْرَكُ بِهٖ شَیْءٌ" قُلْتُ: فَمَنْ مَّعَكَ عَلٰی هٰذَا؟ قَالَ: "حُرٌّ وَعَبْدٌ" وَمَعَهٗ يَوْمَئِذٍ اَبُوْبَكْرٍ وَ بِلَالٌ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فَقُلْتُ: اِنِّیْ مُتَّبِعُكَ قَالَ: "اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ ذٰلِكَ يَوْمَكَ هٰذَا اَلَا تَرٰی حَالِیْ وَحَالَ النَّاسِ؟ وَلٰكِنِ ارْجِعْ اِلٰی اَهْلِكَ فَاِذَا سَمِعْتَ بِیْ قَدْ ظَهَرْتُ فَاْتِنِیْ" قَالَ: فَذَهَبْتُ اِلٰی اَهْلِیْ وَ قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ وَكُنْتُ فِیْ اَهْلِیْ فَجَعَلْتُ اَتَخَبَّرُ الْاَخْبَارَ وَاَسْاَلُ النَّاسَ حِيْنَ قَدِمَ الْمَدِيْنَةَ حَتّٰی قَدِمَ نَفَرٌ مِّنْ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ فَقُلْتُ مَا فَعَلَ هٰذَا الرَّجُلُ الَّذِیْ قَدِمَ الْمَدِيْنَةَ؟ فَقَالُوْا النَّاسُ اِلَيْهِ سِرَاعٌ وَقَدْ اَرَادَ قَوْمُهٗ قَتْلَهٗ فَلَمْ يَسْتَطِيْعُوْا ذٰلِكَ فَقَدِمْتُ الْمَدِيْنَةَ فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ فَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! اَتَعْرِفُنِیْ قَالَ: "نَعَمْ اَنْتَ الَّذِیْ لَقِيْتَنِیْ بِمَكَّةَ" قَالَ فَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَخْبِرْنِیْ عَمَّا عَلَّمَكَ اللّٰهُ وَاَجْهَلُهٗ اَخْبِرْنِیْ عَنِ الصَّلٰوةِ؟ قَالَ: "صَلِّ صَلَاةَ الصُّبْحِ ثُمَّ اَقْصُرْ[1] عَنِ الصَّلٰوةِ حَتّٰی تَرْتَفِعَ الشَّمْسُ قِيْدَ رُمْحٍ[2] فَاِنَّهَا تَطْلُعُ حِيْنَ تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَیْ شَيْطَانٍ وَحِيْنَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ ثُمَّ صَلِّ فَاِنَّ الصَّلٰوةَ مَشْهُوْدَةٌ مَحْضُوْرَةٌ حَتّٰی[3] يَسْتَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمْحِ[4] ثُمَّ اَقْصُرْ عَنِ الصَّلٰوةِ فَاِنَّهٗ حِيْنَئِذٍ تُسْجَرُ جَهَنَّمُ[5] فَاِذَا اَقْبَلَ الْفَیْءُ فَصَلِّ

زهٔ دَ الله نبی یم. ما ورته اووئیل، نبی څهٔ ته وائی. هغوئ اوفرمائیل، زهٔ الله تعالیٰ دَخپل اړخ نه رسول جوړکړے رالیږلے یم. ما اووئیل چه تهٔ کوم کارونو دپاره رالیږلے شوے یئے. هغوئ اوفرمائیل. زهٔ دَخپلوئ قائمولو دپاره او دَ بتانو ماتولو دپاره او دَ الله تعالیٰ دَ یووالی بیانولو او ښودلو دپاره رالیږلے شوے یم. او دَ دے دپاره چه الله سره هیڅوک شریک نشته، ما اووئیل چه ستا دَ تابعداریٔ دپاره کوم خلق دی؟ هغوئ اوفرمائیل آزاد هم او غلامان هم. دغه وخت ابوبکر او بلال رضی الله عنهما دوئ سره وُو. ما اووئیل چه زهٔ به هم ستا تابعداری کوم او تا سره به یم. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دَخلقو ما سره څهٔ سلوک دے، تهٔ ګورے نهٔ؟ دے وخت کښے ستا ما سره اوسیدل ډیر ګران دی. اوس کورته لاړ شه او کله چه دا واورے چه زهٔ به خلقو غالب شوم نو بیا ما له راشه. نو هغه سړے وائی چه زهٔ کورته لاړم. او کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینے ته هجرت کولو سره لاړو. نو زهٔ دَ هغهٔ متعلق خبر اخستلو دپاره لاړم. او مدینے نه دَ راتلونکو خلقو نه م دَ هغهٔ متعلق تپوسونه کول چه دَ هغهٔ هلته څهٔ حال دے. څما دَ کورنیٔ هم یو څو کسان چرته هلته مدینے ته تللی وُو. واپس راتللو باندے ما دَ هغوئ نه پوښتنه اوکړه. کوم کس چه مدینے ته تللے دے، دَ هغهٔ څهٔ حالات دی؟ هغوئ ورته اووئیل چه خلق ډیر تیزیٔ سره هغه طرف ته رادوان دی. دَ هغهٔ خپل قوم دَ هغهٔ وژلو ته چل جوړکړے وو. مګر کامیاب نهٔ شول. دا حالات چه ما واوریدل نو مدینے ته راغلم او دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے م عرض اوکړو یا رسول الله! تاسو زهٔ اوپیژندم؟ نو نبی کریم صلی الله

---

[1] "اقصر" بضم الصاد: ای اقعد عن صلوة النوافل

[2] "قید رمح". ای قدره

[3] "محضورة" ای تحضرها ملائکة النهار لتکتبها وتشهد بها لمن صلاها

[4] "حتی یستقل الظل بالرمح" ای یستقل الرمح بالظل: ای یبلغ ظله ادنی غایة النقص،

[5] "تسجر جهنم": ای تهیج بالوقود

فَاِنَّ الصَّلٰوةَ مَشْهُوْدَةٌ مَّحْضُوْرَةٌ حَتّٰى تُصَلِّيَ الْعَصْرَ، ثُمَّ اَقْصُرْ عَنِ الصَّلٰوةِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَاِنَّهَا تَغْرُبُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ وَحِيْنَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ" قَالَ فَقُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللّٰهِ فَالْوُضُوْءُ حَدِّثْنِيْ عَنْهُ؟ فَقَالَ: "مَا مِنْكُمْ رَجُلٌ يُقَرِّبُ وُضُوْءَهٗ فَيَتَمَضْمَضُ وَيَسْتَنْشِقُ فَيَنْتَثِرُ اِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهٖ وَفِيْهِ وَخَيَاشِيْمِهٖ، ثُمَّ اِذَا غَسَلَ وَجْهَهٗ كَمَا اَمَرَهُ اللّٰهُ اِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهٖ مِنْ اَطْرَافِ لِحْيَتِهٖ مَعَ الْمَآءِ، ثُمَّ يَغْسِلُ يَدَيْهِ اِلَى الْمِرْفَقَيْنِ اِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا يَدَيْهِ مِنْ اَنَامِلِهٖ مَعَ الْمَآءِ، ثُمَّ يَمْسَحُ رَاْسَهٗ اِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا رَاْسِهٖ مِنْ اَطْرَافِ شَعْرِهٖ مَعَ الْمَآءِ، ثُمَّ يَغْسِلُ قَدَمَيْهِ اِلَى الْكَعْبَيْنِ اِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا رِجْلَيْهِ مِنْ اَنَامِلِهٖ مَعَ الْمَآءِ فَاِنْ هُوَ قَامَ فَصَلّٰى فَحَمِدَ اللّٰهَ تَعَالٰى وَاَثْنٰى عَلَيْهِ وَمَجَّدَهٗ بِالَّذِيْ هُوَ لَهٗ اَهْلٌ وَفَرَّغَ قَلْبَهٗ لِلّٰهِ تَعَالٰى اِلَّا انْصَرَفَ مِنْ خَطِيْئَتِهٖ كَهَيْئَتِهٖ يَوْمَ وَلَدَتْهُ اُمُّهٗ" فَحَدَّثَ عَمْرُو ابْنُ عَبَسَةَ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَبَا اُمَامَةَ صَاحِبَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهٗ اَبُوْ اُمَامَةَ يَا عَمْرُوبْنُ عَبَسَةَ اُنْظُرْ مَا تَقُوْلُ فِيْ مَقَامٍ وَّاحِدٍ يُعْطٰى هٰذَا الرَّجُلُ فَقَالَ عَمْرٌو: يَا اَبَا اُمَامَةَ لَقَدْ كَبِرَتْ سِنِّيْ وَرَقَّ عَظْمِيْ وَاقْتَرَبَ اَجَلِيْ وَمَا بِيْ حَاجَةٌ اَنْ اَكْذِبَ عَلَى اللّٰهِ تَعَالٰى وَلَا عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَمْ اَسْمَعْهُ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَّا مَرَّةً اَوْ مَرَّتَيْنِ اَوْ

عليه وسلم اوفرمائيل. ولې نه. ته خو هم هغه کس ئې چه مکه کښې ما سره ملاؤ شوې وې. بيا ما اووئيل يا رسول الله: ما ته د الله تعالىٰ هغه حکمونه اوښايه کوم چه الله تعالىٰ تا ته ښودلي دي. او د کومو نه چه زه خبر نه يم. او ما ته د مانځه په باره کښې هم څه اووايه. نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه د سحر مونځ اوکړې نو صبر کوه. تر دې چه نمر يوه نيزه قدرې اوچت شي. ځکه چه کله نمر راخيژي نو د شيطان د دوؤ ښکرونو ترمينځ راخيژي. او دغه وخت کافر هغې ته سجده کوي. بيا چه دغه وخت لږ تير شي. نو بيا (د څاښت. اشراق) مونځ کوه ځکه چه دې وخت کښې د رحمت فرښتې حاضريږي (يعنې د دې وخت نه تر غرمې پورې نفل مونځ کيږي) چه سورې پوره شي. بيا چه د نيزې هومره برابر د غرمې سورې برابر شي. نو دغه وخت کښې بيا هم مونځ مه کوه ځکه چه دغه وخت دوزخ گرمولې شي. او کله چه د غرمې سورې واوړي، نو بيا (د ماسپخين) مونځ کوه. دغه وخت هم د رحمت فرښتې موجودې وي. تر هغه وخته پورې چه د مازيگر د مانځه نه هم فارغ شې. بيا نمر ډوبيدو پورې بل مونځ مه کوه. نمر ډوبيدل هم د شيطان د دوؤ ښکرونو ترمينځ وي. او دغه وخت کافر هغې ته سجده کوي. ما بيا عرض اوکړو چه د اودس په باره کښې را ته هم څه اووايئ، نو وې فرمائيل چه کله تاسو کښې څوک د اودس په نيت غرغره کوي. او پوزه کښې اوبه اچوي. او بيائې صفا کوي نو د هغه د خولې او پوزې او د پوزې د ننې حصې گناه معاف کولې شي او کله چه د الله د حکم مطابق مخ اووينځي. نو د مخ گناه ئې د اوبو سره د گيرې په اطرافو باندې اوبهيږي. او (ختم شي). بيا چه د څنگلو پورې دواړه لاسونه اووينځي نو د لاسونو گناه ئې د اوبو سره د گوتو د سرونو نه اوبهيږي بيا چه کله د سر

ثَلَاثًا، حَتّٰی عَدَّ سَبْعَ مَرَّاتٍ، مَاحَدَّثْتُ اَبَدًا بِهٖ وَلٰكِنِّیْ سَمِعْتُهٗ اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ رَوَاهُ مُسْلِمٌ،

قَوْلُهٗ "جُرَءَآءُ عَلَيْهِ قَوْمُهٗ" هُوَ بِجِيْمٍ مَضْمُوْمَةٍ وَبِالْمَدِّ عَلٰی وَزْنِ عُلَمَاءَ: اَیْ جَاسِرُوْنَ مُسْتَطِيْلُوْنَ غَيْرُ هَائِبِيْنَ. هٰذِهِ الرِّوَايَةُ الْمَشْهُوْرَةُ. وَرَوَاهُ الْحُمَيْدِیُّ وَغَيْرُهٗ "حِرَاءٌ" بِكَسْرِ الْحَآءِ الْمُهْمَلَةِ وَقَالَ مَعْنَاهُ: غِضَابٌ ذَوُوْغَمٍّ وَهَمٍّ قَدْ غِيْلَ صَبْرُهُمْ بِهٖ حَتّٰی اَثَرَ فِیْ اَجْسَامِهِمْ مِنْ قَوْلِهِمْ حَرٰی جِسْمُهٗ يَحْرٰی اِذَا نَقَصَ مِنْ اَلَمٍ اَوْغَمٍّ اَوْ نَحْوِهٖ وَالصَّحِيْحُ اَنَّهٗ بِالْجِيْمِ قَوْلُهٗ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "بَيْنَ قَرْنَیْ شَيْطَانٍ": اَیْ نَاحِيَتَیْ رَأْسِهٖ وَالْمُرَادُ التَّمْثِيْلُ مَعْنَاهُ اَنَّهٗ حِيْنَئِذٍ يَتَحَرَّكُ الشَّيْطَانُ وَشِيْعَتُهٗ وَيَتَسَلَّطُوْنَ وَقَوْلُهٗ "يُقَرِّبُ وَضُوْءَهٗ" مَعْنَاهُ يُحْضِرُ الْمَآءَ الَّذِیْ يَتَوَضَّأُ بِهٖ. وَقَوْلُهٗ "اِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا" هُوَ بِالْخَاءِ الْمُعْجَمَةِ: اَیْ سَقَطَتْ وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ "جَرَتْ" بِالْجِيْمِ وَالصَّحِيْحُ بِالْخَآءِ وَهُوَ رِوَايَةُ الْجُمْهُوْرِ وَقَوْلُهٗ "فَيَنْتَثِرُ": اَیْ يَسْتَخْرِجُ مَا فِیْ اَنْفِهٖ مِنْ اَذًی. وَالنَّثْرَةُ، طَرَفُ الْاَنْفِ.

مسح اوکړی. نو دَ سر ګناه ئے دَ ویښتو دَ غاړونه او بو سره ختمه شی. بیا چه کله دَ ګیټو پورے خپے اووینځی. نو دَ خپو دینځلو سره دَ ګوتو دَ سرونو نه ګناهونه اورژیږی. دے نه پس چه کله هغه مانځه ته اودریږی. او دا سے مونځ کوی چه هغے کښے دَ الله ثناء او صفت اولوئی بیانوی. او زړهٔ سره دَ الله طرف ته متوجه وی. نو دَ ګناهونو نه دا سے پاک او صفا شی: لکه دَ مور دَ خیټے نه پیدا شوے بچے. بیا چه کله عمرو بن عبسه رض ابوامامه رض ته دا حدیث بیان کړو نو ابوامامه رض اوویل. اے عمرو بن عبسه! لږ سوچ اوکړه. دا څهٔ بیانوے؟ یو وخت کښے دا سے مرتبه دا سے کس حاصلولے شی. عمرو بن عبسه رض اوویل. اے ابوامامه واوره. زهٔ بوډا شوے یم. څما هډوکی زاړهٔ شوی دی. او څما مرګ را نزدے شوے دے. او ما ته څهٔ ضرورت او حاجت هم نشته آیا زهٔ تا ته دا سے وخت کښے په الله تعالیٰ او دَ هغهٔ په رسول باندے دروغ اوتړم. که ما دا خبره دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه یو یا دوه، درے ترے چه اوو پورے ئے شمیر اوکهٔ، آوریدلے. نو ما به دا روایت هیڅ کله نهٔ وو بیان کړے. لیکن دا خبره ما دَ دے نه زیات هم دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه آوریدلے ده. (مسلم)

جُرَءَآءُ: دَ عُلَمَآءُ په وزن باندے دے. یعنی بهادر، زړور او نه ویریدونکی. دا لفظ او روایت ډیر مشهور دے. او دَ حُمیدی په روایت کښې "حِرَآءٌ" راغلی دے. معنیٰ ئے دا ده یعنی غم او غصه. مطلب ئے دا دے چه دَ هغهٔ دَ وینا په وجه ئے دَ صبر پیمانه ډکه شوه. او دَ غصے دَ وجهے نه ئے خولے خرابے شوے. دَ عربئ محاوره، او اصطلاح کښے "حَرٰیٰ جِسْمِهٖ" هغه وخت وئیلے شی. کله چه دَ غم او غصے او درد په وجه بدن ته نقصان اورسی. امام نووی رح وائی. چه صحیح لفظ اولنے دے.

"بَيْنَ قَرْنَیِ الشَّيْطَانِ": دے نه مراد دَ سر دواړو طرفونو ترمینځ حصه ده. دا دَ مثال په طور استعمال شوے دے. مطلب دا دے چه دَ نمر ختلو او ډوبیدلو په وخت شیطان او دَ هغهٔ لښکر خپلو خپلو کارونو پسے حرکت کوی. او دَ فسا دَ کولو دَ پاره خوارهٔ شی. "يُقَرِّبُ وَضُوْءَهٗ": یعنی هغه اوبه راوړل شی چه هغے سره اودس کولے شی.

"اِلاَّخَرَّتْ خَطَايَا": یعنی ګناهونه ئے پریوځی. بعضو "جَرَّتْ" هم بیان کړے دے. لیکن د جمهورو په روایت کښے "خرّت" دے. او هم دا لفظ صحیح دے.

"فَيَنْتَثِرُ": پوزه کښے چه کومه ګندګی ګرنګ وغیره وی هغه صفا کړی.

"نَثْرَةٌ": د پوزے چچونګے (دننه برخه)

۴۴۲- وَعَنْ اَبِیْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِذَا اَرَادَ اللهُ تَعَالٰى رَحْمَةَ اُمَّةٍ قَبَضَ نَبِيَّهَا قَبْلَهَا فَجَعَلَهُ لَهَا فَرَطًا[1] وَسَلَفًا بَيْنَ يَدَيْهَا وَاِذَا اَرَادَ هَلَكَةَ اُمَّةٍ عَذَّبَهَا وَنَبِيُّهَا حَيٌّ فَاَهْلَكَهَا وَهُوَ حَيٌّ يَنْظُرُ فَاَقَرَّ عَيْنَهُ بِهَلَاكِهَا حِيْنَ كَذَّبُوْهُ وَعَصَوْا اَمْرَهُ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۴۴۲- ابوموسیٰ اشعری رض نه روایت دے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه د الله تعالیٰ کوم اُمت ته قصد او اراده د رحمت وی. نو د هغهٔ امت د نبی نه مخکښے روح واخلی - دے دپاره چه هغه د هغوئ سفارشی او د آخرت ذخیره جوړه شی - اوکله چه د الله تعالیٰ اراده یو اُمت ته د هلاکت او د بربادئ وی - نو د پیغمبر په موجودګئ کښے په هغوئ عذاب رانازل کړی. او دغه اُمت ختم کړی - دے دپاره چه د نبی سترګے یخے شی. (او هغه تکلیف ئے ختم شی کوم چه) د هغهٔ اُمت هغهٔ لره دروغژن ګڼړلو او نافرمانی کولو سره ئے هغهٔ ته رسولے وُو - (مسلم)

باب ۵۲

ف: دے باب کښے یو قرآنی آیت او درے نبوی حدیثونه دی. د ښهٔ ګمان او چا نه د خیر او ښیګړے اُمید دپاره دا ضروری ده چه کوم کس چه بدله غواړی، نو بدله ورکونکے چه ورته د ښیګړے د کار هدایت اوکړی، نو هغه حکم دِ اومنی. غلام چه د مالک نافرمانی اوکړی او د هغهٔ د غصے جوړولو کار روان کوی. نو دغه د انعام حقدار هیڅکله هم نشی کیدلے. نو د غسے تا سو هم د الله تعالیٰ په حکم تعمیل اوکړئ او د هغهٔ د خوښے په کار ونو کښے اولګئ. او د الله نه اُمید ساتئ. چه هغه دا عمل د کمی او نقصان سره هم د خپل رحمت په وجه قبول کړی. او د خیر او ښیګړے بدله ورکول اوفرمائی.

بَابُ فَضْلِ الرَّجَاءِ!

په الله تعالیٰ باندے د حُسنِ ظن (ښهٔ ګمان) ساتلو بیان.

(قرآنی آیتونه)

۱۵۶- قَالَ اللهُ تَعَالٰى[2] اِخْبَارًا عَنِ الْعَبْدِ الصَّالِحِ "وَاُفَوِّضُ اَمْرِيْ اِلَى اللهِ اِنَّ اللهَ بَصِيْرٌ بِالْعِبَادِ فَوَقٰهُ اللهُ سَيِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا".

۱۵۶- الله تعالیٰ د یو نیک بنده قول نقل کولو سره فرمائی چه زهٔ خپله معامله الله تعالیٰ ته سپارم. او الله تعالیٰ د خپلو بندګانو نګهبان دے. الله تعالیٰ دغه مؤمن بنده د خلقو د سازشونو نه بچ کړو. (پ۲۴ المؤمن)

(نبوی حدیثونه)

۴۴۳- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

۴۴۳- ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے- چه رسول الله صلی الله علیه وسلم

---

[1] "الفرط" بفتح الفاء والراء: الذی یتقدم الوارد لیصلح لهم الحیاض والدلاء ونحوها من امور.

[2] سورة المؤمن آية ۴۴-۴۵

وَسَلَّمَ اَنَّهٗ قَالَ: "قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ: اَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ وَاَنَا مَعَهٗ حَيْثُ يَذْكُرُنِيْ وَاللّٰهِ اَللّٰهُ اَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهٖ مِنْ اَحَدِكُمْ يَجِدُ ضَآلَّتَهٗ بِالْفَلَاةِ وَمَنْ تَقَرَّبَ اِلَيَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ اِلَيْهِ ذِرَاعًا، وَمَنْ تَقَرَّبَ اِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ اِلَيْهِ اُهَرْوِلُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَهٰذَا لَفْظُ اِحْدٰى رِوَايَاتِ مُسْلِمٍ وَتَقَدَّمَ شَرْحُهٗ فِي الْبَابِ قَبْلَهٗ وَرُوِيَ فِي الصَّحِيْحَيْنِ: وَاَنَا مَعَهٗ حِيْنَ يَذْكُرُنِيْ بِالنُّوْنِ وَفِيْ هٰذِهِ الرِّوَايَةِ "حَيْثُ" بِالثَّاءِ وَكِلَاهُمَا صَحِيْحٌ:

او فرمائیل. چه دَ الله تعالیٰ ارشاد دے. زهٔ خپل بنده سره دَ هغهٔ دَ ګمان موافق معامله کوم. او هغه چه ما کومٔ ځائے کښے یادوی. نو زهٔ دَ هغهٔ سره یم. او په الله قسم دے. الله تعالیٰ دَ خپل بنده په توبه باندے دَ هغه کس نه هم زیات خوشحالیږی، چه ځنګل کښے ترے سورلۍ ورکه شوے وی او بیائے مومی. او فرمائی چه ما ته څوک یوه لویشت رانزدے کیږی. نو زهٔ یو لاس ورنزدے کیږم. او څوک چه ما ته یو لاس رانزدے کیږی. زهٔ هغهٔ ته دوه لاسه نزدے کیږم. او څوک چه ځما طرف ته منزل کولو سره راروان شی. نو زهٔ ورله په منډه راځم. (بخاری ومسلم)

۱ الفاظ دَ مسلمؒ دَ حدیث دی. او دَ بخاری او مسلم په روایت کښے دَ "حَيْثُ" په ځائے "حِيْنَ" راغلے دے. یعنی "اَنَا مَعَهٗ حِيْنَ يَذْكُرُنِيْ". او دا دواړه روایتونه صحیح دی.

۴۴۴- وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّهٗ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ مَوْتِهٖ بِثَلَاثَةِ اَيَّامٍ يَقُوْلُ: "لَا يَمُوْتَنَّ اَحَدُكُمْ اِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ الظَّنَّ بِاللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ:

۴۴۴- جابر بن عبد الله رضی الله عنهما نه روایت دے. چه ما دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ مرګ نه درے ورځے مخکښے دَ هغهٔ نه آوریدلی دی. چه تاسو به الله باندے په ښهٔ ګمان سره مړهٔ شئ. (مسلم)

۴۴۵- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى يَا ابْنَ اٰدَمَ اِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِيْ وَرَجَوْتَنِيْ غَفَرْتُ لَكَ عَلٰى مَا كَانَ مِنْكَ وَلَا غَفَرْتُ لَكَ عَلٰى مَا كَانَ مِنْكَ وَلَا اُبَالِيْ يَا ابْنَ اٰدَمَ لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوْبُكَ عَنَانَ السَّمَآءِ ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِيْ غَفَرْتُ لَكَ، يَا ابْنَ اٰدَمَ اِنَّكَ لَوْ اَتَيْتَنِيْ بِقُرَابِ الْاَرْضِ خَطَايَا ثُمَّ لَقِيْتَنِيْ لَا تُشْرِكُ بِيْ شَيْئًا لَاَتَيْتُكَ بِقُرَابِهَا مَغْفِرَةً" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ: وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ: "عَنَانُ السَّمَآءِ" بِفَتْحِ الْعَيْنِ قِيْلَ هُوَ مَا عَنَّ لَكَ مِنْهَا اَيْ ظَهَرَ اِذَا رَفَعْتَ رَاْسَكَ. وَقِيْلَ: هُوَ السَّحَابُ وَ"قُرَابُ الْاَرْضِ" بِضَمِّ الْقَافِ وَقِيْلَ بِكَسْرِهَا

۴۴۵- انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے. چه ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرمائیلی آوریدلی دی. چه الله تعالیٰ فرمائی. اے دَ آدم ځویه! ته چه ترڅو پورے ځما نه دُعا غواړے او ځما نه دَ معافئ اُمید ساتے. زهٔ به تا معاف کوم. کهٔ هر څو مره غلط کارونه دِ کړی وی. او ځما به دے هیڅ پرواه نشته. اے دَ آدم ځویه! کهٔ ستا ګناهونه دومره زیات شی چه آسمانه پورے اورسی. او دَ ما نه ئے معافی او غواړے نو هم به ئے معاف کوم. اے دَ آدم ځویه! کهٔ دَ ډکے زمکے هومره ګناهونه هم او کړے او ما له راشے. په دے شرط چه ما سره دِ څوک شریک نهٔ وی جوړ کړے. نو زهٔ به هم تا سره هغه هومره حقدار کښے دَ بخښنے او رحمت سره ملاؤ شم. (ترمذی)

امام ترمذیؒ وائی چه دا حدیث حسن دے

وَالضَّمُّ اَصَحُّ وَاَشْهَرُ وَهُوَ: مَا يُقَارِبُ مِلْأَهَا، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ ⁘

عَنَانُ السَّمَآءِ: چه سرا وچت کولو سره چه څهٔ په نظر درځی. او بعضے وائی چه د دے نه مراد وريځ ده.

قُرَابُ الْاَرْضِ: او قِرَابُ الْاَرْضِ، دواړه روايتونه شته مګر زيات مشهور او صحيح اولنے دے. معنیٰ ئے داده. يعنی هغه څيز چه ډکيدو ته نزدے وی.

باب ۵۳

ف: دے باب کښے شپږ قرآنی آيتونه او درے نبوی حديثونه دی. د امام نوویؒ په قول بنده دپاره قابل تعريف داخبره بس ده چه هغه د ځوانئ، صحت او روغوالی په حالت کښے د ويرے او د الله نه د اُميد ساتلو ترمينځ قدم کيږدی او ويره او اُميد دواړه ئے برابر وی. مګر د بيمارئ او د مرض په حالت کښے دِ صرف ښه ګمان او اُميد ساتی. د قرآن آيتونه د پيغمبرؐ حديثونه د شريعت اصول په دے باره کښے واضح او ښکاره دی.

بَابُ الْجَمْعِ بَيْنَ الْخَوْفِ وَالرَّجَآءِ

د ويرے او د اُميد جمع کولو بيان

اِعْلَمْ اَنَّ الْمُخْتَارَ لِلْعَبْدِ فِیْ حَالِ صِحَّتِهٖ اَنْ يَكُوْنَ خَآئِفًا رَاجِيًا وَيَكُوْنَ خَوْفُهٗ وَرَجَآؤُهٗ سَوَآءً وَفِیْ حَالِ الْمَرَضِ يُمَحِّضُ الرَّجَآءَ. وَقَوَاعِدُ الشَّرْعِ مِنْ نُصُوْصِ الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ مُتَظَاهِرَةٌ عَلٰى ذٰلِكَ ⁘

امام نوویؒ فرمائی. په دے ځان ښه پوهه کړه. چه انسان دپاره د روغوالی په حالت کښے غوره خبره داده. چه د الله نه ويره او اُميد دواړه برابر ساتی. او د مرض په حالت کښے دِ اُميد ساتی. قرآن او حديث او شرعی قاعدے په دے مفهوم او معنیٰ باندے ښکاره دلالت کوی.

(قرآنی آيتونه)

۱۵۷- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1] "فَلَا يَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ"

۱۵۸- وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[2] "اِنَّهٗ لَا يَايْئَسُ مِنْ رَّوْحِ اللّٰهِ[3] اِلَّا الْقَوْمُ الْكٰفِرُوْنَ"

۱۵۹- وَقَالَ تَعَالٰى[4] "يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ وَّتَسْوَدُّ وُجُوْهٌ"

۱۶۰- وَقَالَ تَعَالٰى[5]: "اِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيْعُ الْعِقَابِ وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ" ⁘

۱۶۱- وَقَالَ تَعَالٰى[6]: "اِنَّ الْاَبْرَارَ

۱۵۷- د الله تعالیٰ د نيولو نه هيڅوک هم بے فکره نه دی. مګر هغه څوک چه تاوان کښے دی. (پ ۹، اعراف)

۱۵۸- بے شکه د الله تعالیٰ د رحمت نه هم هغه څوک نااُميده وی چه کافر وی. (پ ۱۲، يوسف)

۱۵۹- د قيامت په ورځ به د ځينو خلقو مخونه سپين وی او د ځينو به تور وی. (پ ۴، عمران)

۱۶۰- بے شکه ستا رب ډير زر عذاب ورکونکے دے. او هغه بخښونکے او مهربان هم دے. (پ ۹، اعراف)

۱۶۱- بے شکه نيکان خلق به د جنت په

---

[1] سورة الاعراف آية ۹۹ [2] سورة يوسف آية ۸۷ [3] من روح الله: اى من رحمته التي يحيى به العباد [4] سورة آل عمران آية ۱۰۶ [5] سورة الاعراف آية ۱۶۶ [6] سورة الانفطار آية ۱۲-۱۳

لَفِيْ نَعِيْمٍ وَّاِنَّ الْفُجَّارَ لَفِيْ جَحِيْمٍ"

آرامونو کښے وی - او فاجر او بدکاره به دوزخ کښے وی. (پ۳۰، انفطار)

۱۶۲ - وَقَالَ تَعَالىٰ [1]: "فَاَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ [2] وَاَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُمُّهٗ هَاوِيَةٌ [3]" وَالْاٰيَاتُ فِيْ هٰذَا الْمَعْنىٰ كَثِيْرَةٌ فَيَجْتَمِعُ الْخَوْفُ وَالرَّجَاءُ فِيْ اٰيَتَيْنِ مُقْتَرِنَتَيْنِ اَوْ اٰيَاتٍ اَوْ اٰيَةٍ ؛

۱۶۲ - چه دَ عملونو تللو نه وروسته دَ چا دَ ایمان تله درنه شوه - هغه به دَ خوښے آرام ملاؤ شی - او دَ چا چه دَ ایمان تله سپکه شی، هغه به دَ لمبو والا اور کښے وغورځولے شی. (پ۳۰، قارعة) دے مضمون باندے نور هم آیتونه شته - ځینے آیتونه دَ ویرے او اُمید دواړه یو مضمون یو ځائے را غلی دی. او ځینے آیتونو کښے یو مضمون دے.

(نبوی حدیثونه)

۴۴۶ - وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَوْ يَعْلَمُ الْمُؤْمِنُ مَا عِنْدَ اللّٰهِ مِنَ الْعُقُوْبَةِ مَا طَمِعَ بِجَنَّتِهٖ اَحَدٌ وَلَوْ يَعْلَمُ الْكَافِرُ مَا عِنْدَ اللّٰهِ مِنَ الرَّحْمَةِ مَا قَنَطَ مِنْ جَنَّتِهٖ اَحَدٌ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۴۴۶ - ابوهریره رض نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. کهٔ مؤمن ته دا پته اولګی چه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په کومو کومو خبرو کومه کومه سزا ده - نو هیڅوک به دَ جنت طمع او نهٔ کړی. او کهٔ کافر ته معلومه شی چه دَ الله تعالیٰ دَ رحمتونو او دَ مهربانیٔ څومره اندازه ده. نو یو به هم دَ جنت نه نا اُمیده نشی. (مسلم)

۴۴۷ - وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِذَا وُضِعَتِ الْجَنَازَةُ وَاحْتَمَلَهَا النَّاسُ اَوِ الرِّجَالُ عَلىٰ اَعْنَاقِهِمْ [4] فَاِنْ كَانَتْ صَالِحَةً قَالَتْ: قَدِّمُوْنِیْ، قَدِّمُوْنِیْ، وَاِنْ كَانَتْ غَيْرَ صَالِحَةٍ قَالَتْ: يَا وَيْلَهَا: اَيْنَ تَذْهَبُوْنَ بِهَا؟ يَسْمَعُ صَوْتَهَا كُلُّ شَیْءٍ اِلَّا الْاِنْسَانَ وَلَوْ سَمِعَهٗ صَعِقَ [5]" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛

۴۴۷ - ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - کله چه جنازه تیاره شی. او کیخودلے شی - او خلق ئے په خپلو اوږدو باندے اوچته کړی - نو کهٔ دغه مړے نیک بخته وی، نو هغه وائی. ما زر زر مخکښے بوځئ. او کهٔ بدکارے وی نو وائی، هائے هائے ما چرته بوځئ؟ دَ مړو دا آواز بغیر دَ انسان نه هر یو څیز آوری او کهٔ انسان دا آواز واوری نو یو چغه وهی او سړه به مړه شی - (بخاری)

۴۴۸ - وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَلْجَنَّةُ اَقْرَبُ اِلىٰ اَحَدِكُمْ

۴۴۸ - عبد الله بن مسعود رض نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه جنت تاسو ته دَ خپلے خپلے دَ تسمے نه هم زیات نزدے دے. او دَ غسے

---

[1] سورة القارعة آية ٦-٧ [2] اى مرضية [3] فسرها الله تعالىٰ بقوله: "وما ادراك ماهية نار حامية" ؛

[4] اى اذا وضعت الجنازة بين يدى الرجال ليعملوها واحتملوها على اعناقهم [5] "صعق" بكسر العين اى مات بشدة ذلك الصوت الناشئ عن شدة ما يرى مما اعد له من الويل والثبور ؛

مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ [1] وَالنَّارُ مِثْلُ ذٰلِكَ" حال دَ دوزخ هم دے.

رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ۞ (بخاري)

باب ۵۴

ف:- دا باب په دوه قرآني آيتونو او يولسو نبوي حديثونو باندے مشتمل دے. د الله تعالىٰ دَ پيدائش اصول چه موږ دَ هريو څيز جوړه پيدا کړے ده هغه نه لاندے دَ خندا او ژړا جوړه هم ده. هروخت قهقهے لګونکي او په زوره خنديدونکي دپاره وئيلے شي چه ده سره نه دَ دُنيا فکر او غم شته او نه دَ آخرت څهٔ خيال شته. او څوک چه دا الله ته زارۍ او منت کوي او ژاړي نو دَ دغه مسلمان په باره کښے دا فيصله وي چه کس دَ الله تعالىٰ نه ويريږي. او دَ آخرت خيال ساتي. ځکه قرآن کريم کښے وئيلے شوي دي چه لږ خاندئ او ډير ژاړئ. ډيره خندا دَ دے نښه ده چه زړه ئے مړ دے. او زاري او ژړا دَ ژوندي زړهٔ نښه ده نو ځکه دَ ژړا او دَ زارۍ تعريف (صفت) هم شوے دے. او په زوره خندلو بدي بيان شوے ده. دَ نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه ژړا ثابته ده مګر په برق برق خندا کول تر ے نه ثابت نهٔ دي. باقي فضيلتونه ئے لاندے اوګوره -

بَابُ فَضْلِ الْبُكَآءِ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ تَعَالىٰ وَشَوْقًا اِلَيْهِ ! دَ الله تعالىٰ دَ ويرے نه دَ ژړا فضيلت اودَ هغے دَ شوق حاصلولو بيان

(قرآني آيتونه)

١٦٣- قَالَ اللهُ تَعَالىٰ [2] "وَيَخِرُّوْنَ لِلْاَذْقَانِ يَبْكُوْنَ وَيَزِيْدُهُمْ خُشُوْعًا،"

١٦٣- په ژړا ژړا اولټيږي پرمخ او غورزيږي او دا (قرآن) دَ هغوئ عاجزي نوره هم زياتوي- (پ ١٥، اسراء)

١٦٤- وَقَالَ تَعَالىٰ [3]: "اَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ تَعْجَبُوْنَ وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا تَبْكُوْنَ" ۞

١٦٤- (دَ ويرے او خوف) دا سے خبرے چه تاسو واورئ نو بيا هم تاسو تعجب کوئ. او خاندئ او ژاړئ نه - (پ ٢٧، نجم)

(نبوي حديثونه)

٤٤٩- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اِقْرَأْ عَلَيَّ الْقُرْاٰنَ" قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ اَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ اُنْزِلَ؟ قَالَ "اِنِّيْ اُحِبُّ اَنْ اَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِيْ" فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ سُوْرَةَ النِّسَآءِ حَتّٰى جِئْتُ اِلٰى هٰذِهِ الْاٰيَةِ [4] "فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰؤُلَآءِ شَهِيْدًا" قَالَ: "حَسْبُكَ الْاٰنَ [5]"

٤٤٩- عبد الله بن مسعود رض نه روايت دے. چه ما ته رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو. چه ما ته قرآن واوروه. ما عرض اوکړو. آيا ستاسو په وړاندے ئے تلاوت کړم. او حال دا دے چه قرآن په تاسو نازل شوے دے. نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل. ماله دَ نورو نه آوريدل خوند راکوي. نو ما دَ سورة النساء آيتونه اولوستل. نو کله چه دے آيت ته "فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰؤُلَآءِ شَهِيْدًا" اورسيدم (ترجمه ئے

---

[1] شراك النعل بكسر الشين المعجمة و تخفيف الراء وآخره كاف: احد سيور النعل التي تكون في وجهها. و في الحديث ان الطاعة موصولة الى الجنة وان المعصية مقربة الى النار، وان الطاعة و المعصية قد يكونان في ايسر الاشياء،

[2] سورة الاسراء آية ١٠٩

[3] سورة النجم آية ٥٩ ۞

[4] ... [5] حسبك اى يكفيك ذلك

فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ[1] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁘

دا ده) " بیا به دا مشرکان وغیره څهٔ کوی کله چه مونږ د هر قوم نه یو یو ګواه جوړ کړو. او دَ هغهٔ ټولو دَ تصدیق دپاره تا ګواه جوړ کړو " نو بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. بس کړه. ما دغه وخت هغوئ ته اوکتل - نو دَ هغوئ دَ سترګو نه اوښکے روانے وے. (بخاری ومسلم)

٤٥٠ - وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: خَطَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُطْبَةً مَا سَمِعْتُ مِثْلَهَا قَطُّ فَقَالَ "لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا" قَالَ فَغَطَّى أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُجُوهَهُمْ وَلَهُمْ خَنِينٌ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَسَبَقَ بَيَانُهُ فِي بَابِ الْخَوْفِ ⁘

٤٥٠ - انس بن مالک رض نه روایت دے. چه یو وارے نبی کریم صلی الله علیه وسلم خطبه لوستله - داسے خطبه ما دَ هغوئ نه مخکښے کله هم نهٔ وه آوریدلے. نو وے فرمائیل هغه څهٔ چه زهٔ پرے پوهیږم. کهٔ تاسو پرے هم خان پوه کړئ. نو ضرور به لږ اوخاندئ او زیات به اوژاړئ. (دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا فرمان) ورنه چه صحابهٔ واوریده) نو خپل مخونه ئے په کپړو پټ کړل او په ټسکیدو ټسکیدو سره یه ژړا شول - (بخاری ومسلم)

دا روایت "باب الخوف" کښے هم تیر شوے دے.

٤٥١ - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَا يَلِجُ النَّارَ[2] رَجُلٌ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللهِ حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ، وَلَا يَجْتَمِعُ غُبَارٌ فِي سَبِيلِ اللهِ[3] وَدُخَانُ جَهَنَّمَ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ ⁘

٤٥١ - ابوهریره رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دَ الله دَ ویرے نه څوک ژاړی هغه به دوزخ ته نشی بوتللے - ترڅو چه شودهٔ واپس تیونو ته نهٔ وی واپس شوی (او داسے کیدے نشی. دغسے دَ الله نه ویریدونکے او ژړیدونکے هم دوزخ ته نشی تللے) - او دَ الله تعالیٰ دَ لارے ګرد او غبار او دَ دوزخ لوګے هم یو ځائے کیدے نشی. (ترمذی) وائی چه دا حدیث حسن دے. (مطلب دا چه جهاد کونکے دَ الله په لاره کښے هم دوزخ ته نشی داخلیدے)

٤٥٢ - وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ: إِمَامٌ عَادِلٌ، وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللهِ تَعَالَى وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ بِالْمَسَاجِدِ وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللهَ، وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا

٤٥٢ - ابوهریره رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. اوهٔ قسمه خلق به داسے وی. چه الله تعالیٰ به په هغه ورځ هغوئ ته دَ خپل رحمت په سوری کښے ځائے ورکړی. چه په هغه ورځ به دَ هغهٔ دَ سوری نه علاوه چرته هم بل سورے نهٔ وی. (۱) انصاف والا بادشاه (۲) ځوان عبادت کونکے (۳) هغه سړے چه خیال ئے هر وخت جومات ته دَ تلو وی (یعنی زړهٔ ئے جومات سره تړلے وی. چه کله به وخت راځی چه زهٔ جومات ته لاړ شم) (۴) هغه

---

[1] "تذرفان" بذال معجمة ساكنة وكسر الراء: اي تسيل دموعهما. [2] "لا يلج النار" اي لا يدخلها.

[3] "غبار في سبيل الله": المراد جهاد اعداء الدين لوجه الله تعالى ⁘

حَتّٰى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهٗ مَا تُنْفِقُ يَمِيْنُهٗ وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللّٰهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁘

دوهٔ کسان چه د الله د رضا دپاره خپل مینځ کښے مینه ساتی. چه ملاویدل ئې هم د الله د رضا دپاره وی او جدا کیدل ئې هم د الله د رضا دپاره وی. (۵) هغه کس چه ښه ښائیسته ښځه ورله د ګناه دعوت ورکړی. او دا اووائی چه زهٔ د الله نه ویریږم. (۶) هغه کس چه صدقه او خیرات دومره پټ ورکوی چه ګس لاس ته هم پته اونهٔ لګی چه ښی لاس څهٔ ورکړل. (۷) هغه کس چه ځانله ځائے کښے الله تعالیٰ رایاد کړی. او سترګے ئې د اوښکو نه ډکے شی. (بخاری ومسلم)

۴۵۳- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الشِّخِّيْرِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ أَتَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّيْ وَلِجَوْفِهِ [1] أَزِيْزٌ كَأَزِيْزِ الْمِرْجَلِ مِنَ الْبُكَاءِ حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ فِي الشَّمَائِلِ بِإِسْنَادٍ صَحِيْحٍ ⁘

۴۵۳- عبد الله بن شِخّیر رض نه روایت دے. چه یو وارے زهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شوم. نو هغه مونځ کښے مشغول وو. او د سینې نه ئې د ژړا داسے آواز راوتلو لکه د کټوئ د جوشیدو آواز.

(ابوداؤد- ترمذی)

۴۵۴- وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ "إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ أَمَرَنِيْ أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا" قَالَ: وَسَمَّانِيْ؟ قَالَ: نَعَمْ" فَبَكٰى أُبَيٌّ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَفِيْ رِوَايَةٍ: فَجَعَلَ أُبَيٌّ يَبْكِيْ ⁘

۴۵۴- انس بن مالک رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ابی بن کعب رض ته اوفرمائیل، چه ماته الله تعالیٰ دا حکم کړے دے. چه زهٔ تاته سورة "الم یکن الذین کفروا" واوروم. ابی بن کعب رضی الله عنه اووئیل. یا رسول الله! آیا الله تعالیٰ ځما نوم واخستو او داسے ئې اوفرمائیل؟ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، هو. پس د خوشحالئ نه ابی رضی الله عنه په ژړا شو. (بخاری ومسلم) یو روایت کښے داسے راځی چه ابی رض ژړل.

۴۵۵- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ لِعُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا بَعْدَ وَفَاةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْطَلِقْ بِنَا إِلٰى أُمِّ أَيْمَنَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نَزُوْرُهَا كَمَا كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزُوْرُهَا، فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَيْهَا بَكَتْ" فَقَالَا لَهَا: مَا يُبْكِيْكِ؟ أَمَا تَعْلَمِيْنَ أَنَّ مَا عِنْدَ اللّٰهِ تَعَالٰى خَيْرٌ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ، إِنِّيْ لَا أَبْكِيْ إِنِّيْ لَا أَعْلَمُ أَنَّ

۴۵۵- دا روایت هم د انس بن مالک رضی الله عنه دے. چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس ابوبکر رضی الله عنه عمر رضی الله عنه ته اووئیل. چه ما سره د ام ایمن رضی الله عنها ملاقات له لاړ شه. څنګه به چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د هغې ملاقات له تللو. نو کله چه مونږ ام ایمن رضی الله عنها له ورسیدو نو زړهٔ ئې ډک شو او په ژړا شوه. نو دے دواړو ورته اوفرمائیل. ته ولے ژاړے؟ آیا تاته معلومه نهٔ ده چه د الله تعالیٰ سره د نبی کریم صلی الله علیه

---

[1] "ولجوفه" ای صدره "ازیز" بفتح الهمزة وکسرة الزای الاولیٰ: ای صوت البکاء او غلیانه فی الجوف "

٩ ازیز المرجل" بکسر فسکون ففتح: القدر ⁘

مَا عِنْدَ اللهِ خَيْرٌ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلٰكِنِّيْ اَبْكِيْ اَنَّ الْوَحْيَ قَدِ انْقَطَعَ مِنَ السَّمَآءِ فَهَيَّجَتْهُمَا عَلَى الْبُكَآءِ فَجَعَلَا يَبْكِيَانِ مَعَهَا۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَقَدْ سَبَقَ فِيْ بَابِ زِيَارَةِ اَهْلِ الْخَيْرِ ؞

وسلم څومره ښهٔ مقام دے۔ هغې اووئیل. زهٔ په دے وجه نهٔ ژاړم۔ چه زهٔ ګنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بهتروالی نه ناخبره یم۔ زهٔ په دے ژاړم چه د آسمان نه د وحی راتلل بند شوی دی۔ دائے چه واوریدل نو د هغوئ زړونه هم ډک شول او په ژړا شول۔ (مسلم)

دا حدیث مخکښې "باب زیارة اهل الخیر" کښې تیر شوے دے۔

۴۵۶ - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: لَمَّا اشْتَدَّ بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعُهُ قِيْلَ لَهُ فِي الصَّلٰوةِ، قَالَ: "مُرُوْا اَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ" فَقَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: اِنَّ اَبَا بَكْرٍ رَجُلٌ رَقِيْقٌ[1] اِذَا قَرَاَ الْقُرْاٰنَ غَلَبَهُ الْبُكَاءُ: فَقَالَ: "مُرُوْهُ فَلْيُصَلِّ" وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ قُلْتُ: اِنَّ اَبَا بَكْرٍ اِذَا قَامَ مَقَامَكَ لَمْ يُسْمِعِ النَّاسَ مِنَ الْبُكَآءِ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞

۴۵۶ - عبدالله بن عمر رض نه روایت دے۔ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مرض الموت چه کله سخت شو نو د هغهٔ نه د امامتئ کولو په باره کښې پوښتنه اوکړے شوه۔ نو دے فرمائیل چه ابوبکر رض ته اووایئ۔ چه هغه تا سو ته مونځ اوکړی. بیا حضرت عائشے رض اووئیل. چه د ابوبکر رض خو زړهٔ دومره نرم دے چه قرآن وائی نو زړهٔ ئے بے قابو شی۔ او ژړا به پرے غالبه شی۔ بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه هم ابوبکر رض د مونځ ورکړی د حضرت عائشے رض نه یو روایت کښې داسے راغلی دی. ما اووئیل چه ابوبکر رض کله ستا سو په ځائے اودریږی نو د ژړا د وجهے نه به ئے خلق آواز وانهٔ وری۔ (بخاری و مسلم)

۴۵۷ - وَعَنْ اِبْرَاهِيْمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ابْنِ عَوْفٍ اَنَّ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ عَوْفٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اُتِيَ بِطَعَامٍ وَكَانَ صَائِمًا فَقَالَ: قُتِلَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، وَهُوَ خَيْرٌ مِّنِّيْ فَلَمْ يُوْجَدْ لَهُ مَا يُكَفَّنُ فِيْهِ اِلَّا بُرْدَةٌ: اِنْ غُطِّيَ بِهَا رَاْسُهُ بَدَتْ رِجْلَاهُ وَاِنْ غُطِّيَ بِهَا رِجْلَاهُ بَدَا رَاْسُهُ ثُمَّ بُسِطَ لَنَا مِنَ الدُّنْيَا مَا بُسِطَ۔ اَوْ قَالَ اُعْطِيْنَا مِنَ الدُّنْيَا مَا اُعْطِيْنَا۔ قَدْ خَشِيْنَا اَنْ تَكُوْنَ حَسَنَاتُنَا عُجِّلَتْ لَنَا[2] ثُمَّ جَعَلَ يَبْكِيْ حَتّٰى تَرَكَ الطَّعَامَ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؞

۴۵۷ - ابراهیم بن عبدالرحمٰن بن عوف رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه څما د پلار عبدالرحمٰن بن عوف رض په خدمت کښې خوراک پیش کړے شو۔ او د هغهٔ روژه وه۔ دغه وخت هغهٔ اوفرمائیل۔ چه مصعب بن عمیر رض مانه ښهٔ وو۔ کله چه شهید شو نو هغهٔ سره داسے څیز نهٔ وو چه هغهٔ له پرے کفن ورکړے وے۔ بس صرف یو څادر وو۔ هغه هم دومره وړوکے وو چه کهٔ سر به ئے پرے پټ شو نو خپے به ئے بربنډے پاتے شوے۔ او کهٔ خپے به ئے پټولے نو سر به ئے ښکاره پاتے کیدو۔ نن چه څمونږ د وړاندے د دُنیا کوم د ډول او آرام ساز و سامان زیات شوے دے۔ هغه ښکاره دے۔ یا هغهٔ دا الفاظ اوفرمائیل، چه مونږ ته چه څومره دُنیا راکړے شوے بس هغه راکړے شوه۔ مونږ ته د دے خبرے

---

[1] "رجل رقیق": ای رقیق القلب

[2] "عجلت لنا" ای عجل لنا جزاؤها فلا تقدم علی جزاء مدخر

خطره ده. چه هسې نه چه د نیکو بدله چرته په تندئ سره دے دُنیا کښې رانکړے شی؟ دائے او وئیل او په ژړا شو. تردے چه خوراک ئے هم پرېښودلو. (بخاری)

۴۵۸- وَعَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ صُدَیِّ بْنِ عَجْلَانِ الْبَاهِلِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَیْسَ شَیْءٌ اَحَبَّ اِلَی اللّٰهِ تَعَالٰی مِنْ قَطْرَتَیْنِ وَاَثَرَیْنِ قَطْرَةُ دُمُوْعٍ مِّنْ خَشْیَةِ اللّٰهِ وَقَطْرَةُ دَمٍ تُهَرَاقُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ. وَاَمَّا الْاَثَرَانِ: فَاَثَرٌ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ تَعَالٰی وَاَثَرٌ فِیْ فَرِیْضَةٍ مِّنْ فَرَائِضِ اللّٰهِ تَعَالٰی" رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ: حَدِیْثٌ حَسَنٌ ؛

۴۵۸- ابو امامه صدی بن عجلان باهلی رضی الله عنه نه روایت دے. چه نبی کریم صلے الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه الله تعالیٰ ته د دوو څاڅکو او د دوو نښونه سوا بل خیز ورته دومره خوښ نه دے. یوه هغه اوښکه چه د الله د ویرې نه د سترګو نه اوبهیږی. دویمه هغه قطره او څاڅکے د وینې چه د الله په لار کښې (جهاد) کښې اوبهیږی او د نښونه یوه هغه نښه چه د الله په لاره (جهاد) کښې پرې لګیدلے وی. او دویمه هغه نښه چه د الله د فرائضونه د یو فرض د اداء کولو په سلسله کښې لګیدلے وی. (لکه جهاد کښې د تورو، د نیزو وغیره زخمونو نښې. یا د کافرو مشرکانو د وهلو یا د اُور د سوزیدلو نښې وی. او د مونځ د اداء کولو په وجه په تندی یا خپو باندے د غوټې نښې وی) (ترمذی)

امام ترمذیؒ وائی چه دا حدیث حسن دے.

۴۵۹- وَفِی الْبَابِ اَحَادِیْثُ کَثِیْرَةٌ مِنْهَا حَدِیْثُ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِیَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: وَعَظَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَوْعِظَةً وَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوْبُ وَذَرَفَتْ[1] مِنْهَا الْعُیُوْنُ، وَقَدْ سَبَقَ فِیْ بَابِ النَّهْیِ عَنِ الْبِدَعِ ؛

۴۵۹- دے باب کښې ډیر حدیثونه دی. د هغې نه یو حدیث د عرباض بن ساریهؓ دے چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم یو وارے مونږ ته نصیحت اوکړو چه زړونه ئے ډیر بے آرامه وُو. او سترګې ئے د اوښکو نه ډکې شوے.

دا روایت "باب نهی عن البلاغ" کښې تیر شوے دے.

باب ۵۵

ف:- دے باب کښې اووه قرآنی آیتونه او درے دیرش نبوی حدیثونه دی. د دُنیا او د دُنیا د سازوسامان په زړه کښې بے رغبتی او بے وقفی د زهد اصل دے. چه د هغې په وجه د قناعت دولت نصیب کیږی. د دُنیاوی ژوندون دارومدار په اسبابو دی. نو ځکه د ژوندون تیرولو اسباب حاصلول د پرهیزګارئ خلاف نه دی د حلال رزق تلاش کول خو مستحسن او بهتر دی. البته دومره ده چه د ژوند تیرولو اسبابو له اهمیت ورکول او د هغې په حاصلولو کښې زیاتے کول، هغې سره محبت یقیناً د زهد او د پرهیزګارئ خلاف دے. د زهد او تقوی حقیقت هغه علم او نور دے چه د الله تعالیٰ د طرفنه د بنده په زړه کښې پروت دے. چه د هغې په نتیجه کښې د بنده سینه داسې فراخه شی چه د دُنیا سازوسامان د هغهٔ په نظر کښې هیڅ قدر او قیمت نه لری. او سره د دے چه د حاصلولو قدرت او طاقت ئے هم وی. خو هغې طرفته توجه او نظر هم نهٔ ساتی.

---

[1] ذرفت: ای دمعت منها العیون ؛

بَابُ فَضْلِ الزُّهْدِ فِي الدُّنْيَا وَالْحَثِّ عَلَى التَّقَلُّلِ مِنْهَا وَ فَضْلِ الْفَقْرِ!

دَ فقر او غریبۍ او دَ پرهیزګارۍ سره دَ دُنیا ژوندون تیرول او دَ لږے دُنیا حاصلولو فضیلت بیان.

(قرآنی آیتونه)

۱۶۵ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [۱] "اِنَّمَا مَثَلُ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ مِمَّا یَاْكُلُ النَّاسُ وَالْاَنْعَامُ حَتّٰی اِذَا اَخَذَتِ الْاَرْضُ زُخْرُفَهَا [۲] وَ ازَّیَّنَتْ وَظَنَّ اَهْلُهَا اَنَّهُمْ قَادِرُوْنَ عَلَیْهَا اَتَاهَا اَمْرُنَا لَیْلًا اَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَاهَا حَصِیْدًا كَاَنْ لَّمْ تَغْنَ بِالْاَمْسِ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰیٰتِ لِقَوْمٍ یَّتَفَكَّرُوْنَ" ؛

۱۶۵ - بس دَ دُنیا دَ ژوندون مثال دَ باران په شان دے۔ چه مونږ هغه دَ آسمان نه رااوروؤ بیا دے سره دَ زمکے نه غله او ګیاه رااوباسی، چه انسانان او څناورئے خوری۔ او زمکه په ښینکو سره ښائسته کړے شی۔ او دَ زمکے اوسیدونکی دا خیال اوکړی چه په دغے باندے ئے پوره قدرت لری، نو ناګهانه شپه یا ورځ کښے څمونږ دَ طرفنه څۀ آفت یا واقعه پیښه شی۔ او مونږئے داسے کټ کړے او غورځولو، لکه چه پرون هډو هیڅ نۀ ؤو۔ او فکر کوونکو دپاره مونږ دَ خپل قدرت نښے داسے ښکاره او واضحه بیانوو۔ (پ۱۱، یونس)

۱۶۶ - وَقَالَ تَعَالٰى [۳] "وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلَ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ مِنَ السَّمَآءِ فَاخْتَلَطَ بِهٖ نَبَاتُ الْاَرْضِ فَاَصْبَحَ هَشِیْمًا [۴] تَذْرُوْهُ الرِّیَاحُ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ مُّقْتَدِرًا" اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِیْنَةُ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَالْبٰقِیٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَیْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَیْرٌ اَمَلًا"

۱۶۶ - دَ دوئ دپاره دَ هغوئ دَ ژوندون مثال (او حقیقت) بیان کړه۔ (هغه داسے دے) لکه اوبۀ چه مونږ دَ آسمان نه نازلے کړے۔ او هغے سره زمکے ته تازګی حاصله شوه. بیا یوه ورځ هغه ریزه ریزه شوله۔ چه هوائے الوځوی او چتوی۔ الله تعالیٰ په هر څیز باندے قدرت او طاقت لری۔ مال او اولاد دَ دُنیا دَ ژوندون ښائست دے۔ باقی پاتے کیدونکی او نیکار را تلونکی خیزونه بنۀ کاروند دی چه دَ اجر او دَ ثواب او بدلے په طور الله تعالیٰ ته ډیر بنۀ او دَ اُمید کولو په اعتبار سره هم ډیر بنۀ دی۔ (پ۱۵، کهف)

۱۶۷ - وَقَالَ تَعَالٰى [۵] "اِعْلَمُوْا اَنَّمَا الْحَیٰوةُ الدُّنْیَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّ زِیْنَةٌ

۱۶۷ - په دے خبره ځان (بنۀ) پوهه کړئ۔ چه دَ دُنیا ژوند صرف لوبے ټوقے،

---

[۱] سورة الیونس ۲ یة ۲۴ .

[۲] "زخرفها" ای بهجتها بالنبات "وازینت" بالزهر و "قادرون علیها": ای متمکنون من تحصیل ثمارها "اتاها امرنا" عذابنا فجعلناها" ای زرعها "حصیدا" ای کالمحصود بالمناجل "کان لم تغن": ای لم تکن بالامس

[۳] سورة الکهف آیة ۴۵-۴۶ [۴] "هشیما" ای محشوما مکسورا "تذروه" ای تفرقه الریاح ،

[۵] سورة حدید آیة ۲۰

وَّتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ كَمَثَلِ غَيْثٍ [1] اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُوْنُ حُطَامًا وَفِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيْدٌ وَّمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللهِ وَرِضْوَانٌ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ.

ښودنه او تماشه او هسې ښائست او خپل مینځ کښې فخر کول او د مال او اولاد په یو بل باندې د زیاتولو کوشش او طلب دې - د دې (ژوند) مثال د هغه باران دې، چه فصل را اوټوکوی، نو زمیندار ته ډیر ښهٔ ښکاری. بیا په زېړیدو راشی نو زیړ ښکاره شی. بیا آخر کښې ذره ذره شی (او ټوله تازګی ختمه شی) د آخرت عذاب د نامنونکو دپاره ډیر سخت دې. او د منونکو دپاره بخښنه او د رب رضا ده. او د دُنیا ژوندون صرف د دهوکې سامان دې. (پ۲۷، حدید)

۱۶۸- وَقَالَ تَعَالٰی [2] "زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ [3] وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَاللهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ"

۱۶۸- ډیرو خلقو ته د هغوئ د خوښې خیزونه ډیر ښهٔ معلومیږی. لکه ښځې، اولاد، سره زر ډهیری ډهیری، د ښو او د ټاکو والا آسونه، څاروی، پټی (او باغونه) (مګر) دا ټول د دُنیا د استعمالولو اسباب دی. چه (ډیر زر یا څهٔ وخت پس) فنا کیدونکی او ختمیدونکی دی. (لیکن) ښهٔ انجام او بدله الله تعالیٰ سره دی. (پ۳، عمران)

۱۶۹- وَقَالَ تَعَالٰی [4] "يٰاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ وَعْدَ اللهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللهِ الْغَرُوْرُ" [5]

۱۶۹- اې خلقو واورئ - چه د الله وعده رښتونې (او پخه) ده - د دنیا ژوند دِ تاسو دهوکه کښې وانهٔ چوی. او نهٔ دِ شیطان د الله په معامله کښې تاسو دهوکه کښې او غورځوی - (پ۲۲، فاطر)

* * *

۱۷۰- وَقَالَ تَعَالٰی [6]: "اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ، كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ كَلَّا لَوْ تَعْلَمُوْنَ عِلْمَ الْيَقِيْنِ" ؛

۱۷۰- تاسو د مال ډیروالی طلب کولو سره غافله شوی یئ. تر دې چه تاسو مقبرو ته راغلئ (او قبرستان کښې مو خپل ځائے اولیدلو) (ستاسو دا طلب بالکل صحیح نهٔ دے) نزدې به دا خبره تاسو ته معلومه شی. هو بالکل ډیر نزدې او زر به دا او پیژنئ. واورئ کهٔ تاسو ته یقینی علم او پوهه وې. نو غافل نهٔ وئ (اوس به) دوزخ ضرور اووینئ. داسې یقین سره چه ستاسو به پرې یقین راشی. بیا به د قیامت په ورځ تاسو نه پوښتنه کولې شی. (پ۳۰، تکاثر. آیة ۱-۵)

۱۷۱- وَقَالَ تَعَالٰی [8]: "وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ وَّاِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ [9]؛ لَوْ

۱۷۱- د دُنیا ژوند هیڅ خیز نهٔ دې. بغیر د لوبې ټوقې نه. اصل ژوندون خو هغه د آخرت ژوند دې (چه همیشه هم دې او حقیقی هم دې) کهٔ دوئ دا

---

[1] الغیث: المطر [2] سورة آل عمران آیة ۱۴ [3] "والخیل المسومة": ای المعلمة او المطهمة المجملة؛ والانعام: الابل والحرث الزرع [4] سورة فاطر آیة ۵ [5] الغرور: الشیطان، [6] سورة التکاثر آیة ۱-۵ [7] "التکاثر": ای بالاموال والاقوال [8] سورة العنکبوت آیة ۶۴ [9] ای الحیوة الهانئة الخالدة،

كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ" وَالْاٰيَاتُ فِي الْبَابِ كَثِيْرَةٌ مَّشْهُوْرَةٌ" ؛

پیژندلے (نوَ دُنیا ژوندون سره به ئے دومره زړۀ نۀ لګولو) (پ۲۱ عنکبوت)

دے باب کښے نور هم ډیر مشهور ایتونه شته دے۔

(نبوی حدیثونه)

وَاَمَّا الْاَحَادِيْثُ فَاَكْثَرُ مِنْ اَنْ تُحْصَرَ فَنُنَبِّهُ بِطَرَفٍ مِّنْهَا عَلٰى مَاسِوَاهُ ؛

دے باب کښے نبوی حدیثونه ډیر زیات دی۔ چه د هغے لیکل مشکل دی. بس یو څو تړے بیانولے شی۔

۴۶۰- وَعَنْ عَمْرِوبْنِ عَوْفٍ الْاَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ اَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اِلَى الْبَحْرَيْنِ له يَاْتِيْ بِجِزْيَتِهَا فَقَدِمَ بِمَالٍ مِّنَ الْبَحْرَيْنِ فَسَمِعَتِ الْاَنْصَارُ بِقُدُوْمِ اَبِيْ عُبَيْدَةَ فَوَافَوْا صَلٰوةَ الْفَجْرِ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ فَتَعَرَّضُوْا لَهٗ فَتَبَسَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ رَاٰهُمْ ثُمَّ قَالَ: اَظُنُّكُمْ سَمِعْتُمْ اَنَّ اَبَا عُبَيْدَةَ قَدِمَ بِشَيْءٍ مِّنَ الْبَحْرَيْنِ؟" فَقَالُوْا: اَجَلْ ۵۲ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! فَقَالَ "اَبْشِرُوْا وَاَمِّلُوْا مَا يَسُرُّكُمْ فَوَاللّٰهِ مَا الْفَقْرَ اَخْشٰى عَلَيْكُمْ وَلٰكِنِّيْ اَخْشٰى اَنْ تُبْسَطَ الدُّنْيَا عَلَيْكُمْ كَمَا بُسِطَتْ عَلٰى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَتَنَافَسُوْهَا كَمَا تَنَافَسُوْهَا فَتُهْلِكَكُمْ كَمَا اَهْلَكَتْهُمْ"، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۴۶۰- عمروبن عوف انصاری رض نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم امین الامت ابوعبیده بن جراح رض بحرین ته د جزیے غونډولو دپاره اولیږلو۔ نوَ بحرین نه ئے مال جمع کړو او راغلو۔ د مدینے انصارو ته پته اولګیده چه مال ئے جمع کړے واپس راغے. نو سحر مانځۀ دپاره د نبی کریم صلی الله علیه وسلم خدمت کښے حاضر شول۔ کله چه د مانځۀ نه فارغ شول. نوانصار د هغوئ په خدمت کښے حاضر شو۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم چه هغوئ ته اوکتل نو موسکے شو۔ او وے فرمائیل څما خیال دا دے چه تاسو آوریدلی دی چه ابوعبیده بن جراح رض د بحرین نه مال راوړے دے۔ هغوئ اوفرمائیل یا رسول الله! هم دا خبره ده۔ هغوئ اوفرمائیل خوشحاله شئ او داسے اُمید اوساتئ چه ستا سو د خوشحالئ باعث دے۔ په الله م د قسم وی۔ ما ته ستاسو د غریبئ د او لږے دومره ویره او خطره نشته څومره چه د دے خبرے خطره ده چه دُنیا به ستاسو دپاره دومره فراخه شی. څومره چه مخکښے خلقو ته ډیره ورکړے شوے وه۔ او تاسو هم پکښے داسے ګیر نۀ شئ. څنګه چه مخکینی خلق پکښے ګیر شوی دُو۔ اود مخکښے خلقو په شان به تاسو هم هلاک شئ. څنګه چه هغوئ هلاک شوی وو۔ (بخاری ومسلم)

۴۶۱- وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: جَلَسَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ

۴۶۱- ابوسعید خدری رض نه روایت دے۔ چه یو وارے نبی کریم صلی الله علیه وسلم په ممبر باندے کینا ستو۔ او مونږ ترے ګیرچا پیره ناست وو۔ دغه

له بلد بالعراق ۵۲ "اجل" : ای نعم

وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ فَقَالَ: "[1] إِنَّ مِمَّا أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِي مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا [1] وَزِيْنَتِهَا، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ::

وخت رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل چه ځما د مرګ نه پس چه ستاسو به معامله کښې د کوم څيز نه ويريږم. هغه دا دے چه هسے نه تاسو باندے چرته د دُنيا د زيب و زينت دروازه پرانستے شي. (بخاري ومسلم)

۴۶۲- وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ وَإِنَّ اللهَ تَعَالَى مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيْهَا فَيَنْظُرُ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ: فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ::

۴۶۲- دا روايت هم د ابو سعيد خدري رض نه دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل. چه دُنيا ډيره خوږه زړه رابښکونکے ده. او الله تعالى تاسو له په دے کښې خليفه جوړونکے دے - د دے د پاره چه تاسو داسے حالت کښې څه عمل کوئ. پس د دُنيا نه ځان اوساتئ - او ښځو (سره د زړه لګولو) نه ځان اوساتئ - (مسلم)

۴۶۳- وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَللّٰهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَةِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ::

۴۶۳- انس بن مالک رض نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل. اے الله: ژوند خو بس د آخرت ژوند دے (بخاري ومسلم)

۴۶۴- وَعَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلَاثَةٌ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ فَيَرْجِعُ اثْنَانِ وَيَبْقَى وَاحِدٌ: يَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَيَبْقَى عَمَلُهُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ::

۴۶۴- دا روايت هم د انس بن مالک رضى الله عنه نه دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل. چه مړی سره درے څيزونه ځي. (۱) اهل وعيال (۲) د هغهٔ مال (۳) د هغهٔ عمل. هغے کښې دوه څيزونه د هغهٔ اهل وعيال او د هغهٔ مال خو (دے قبر پورے اورسوی او) واپس شي. صرف خپل عمل ورسره پاتے شي. (بخاري و مسلم)

۴۶۵- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُؤْتَى بِأَنْعَمِ أَهْلِ الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُصْبَغُ [2] فِي النَّارِ صَبْغَةً ثُمَّ يُقَالُ: يَا ابْنَ آدَمَ هَلْ رَأَيْتَ خَيْرًا قَطُّ هَلْ مَرَّ بِكَ نَعِيْمٌ قَطُّ؟ فَيَقُوْلُ: لَا وَاللهِ يَا رَبِّ، وَيُؤْتَى بِأَشَدِّ النَّاسِ بُؤْسًا فِي الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيُصْبَغُ صِبْغَةً فِي الْجَنَّةِ

۴۶۵- دا روايت هم د انس بن مالک رضى الله عنه نه دے. رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل. چه د قيامت په ورځ به د دوزخيانو نه يو داسے سړے راوستلے شي - چه دُنيا کښې به ئے د عيش او آرام ژوند تير کړے وی. هغهٔ ته به د دوزخ ننداره اوښائی. او بوښتنه به ترے اوکړے شي. چه اے د آدم ځويه! آيا تا چرته څهٔ خوشحالی ليدلے ده؟ آيا په تا باندے د آرام څهٔ وخت تير شوے دے؟ هغه به اووائی، قسم په الله، بالکل هم نه. او بيا به د جنت والو

---

[1] من زهرة الدنيا" اى زينتها و بهجتها [2] "فيصبغ" اى يغمس "فى النار صبغة" بفتح الصاد: اى غمسة

فَيُقَالُ لَهُ: يَا ابْنَ آدَمَ هَلْ رَأَيْتَ بُؤْسًا قَطُّ [١] هَلْ مَرَّ بِكَ شِدَّةٌ قَطُّ؟ فَيَقُوْلُ لَا وَاللّٰهِ مَا مَرَّ بِيْ بُؤْسٌ قَطُّ وَلَا رَأَيْتُ شِدَّةً قَطُّ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

نه یو داسے کس را وستلے شی. چه دُنیا کښې سخت تکلیف کښې ګیرود. او بیا به هغهٔ ته دَ جنت یوه ننداره اوښودلے شی. او پوښتنه به ترے اوکړے شی. اے دَ آدم ځویه! آیا تا چرته کله مصیبت او تکلیف یا سختی مخکښې لیدلے وه. هغه به عرض اوکړی. په الله مې دِ قسم وی. نهٔ ما ته چرته مصیبت رسیدلے دے. او نهٔ ما مخکښې سختی تیره کړے ده. (مسلم)

(مطلب دادے چه دَ دُنیا دَ مزو او دَ عیش ژوند تیرولو او دَ مال او دَ عزت طلب کولو حقیقت خو دادے. چه د دوزخ نظارے سره ترے هغه ټول هیر شی. او دَ دُنیا دَ تکلیفونو او مصیبتونو اثر دَ جنت دَ نظارے کولو سره دَ ذهن نه اُوځی)

٤٦٦ - **وَعَنِ** الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا مِثْلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ إِصْبَعَهُ فِي الْيَمِّ [٢] فَلْيَنْظُرْ بِمَ يَرْجِعُ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

٤٦٦ - مستورد بن شداد رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه دَ دُنیا دَ آخرت سره داسے نسبت دے. لکه یو کس چه سمندر کښې ګوته داخله کړی، او بیا اوګوری چه څومره لوندوالے ورپورے انښتے دے. (څومره اوبه ئے ځان سره راوړے). (مسلم)

٤٦٧ - **وَعَنْ** جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِالسُّوْقِ وَالنَّاسُ كَنَفَتَيْهِ فَمَرَّ بِجَدْيٍ أَسَكَّ مَيِّتٍ فَتَنَاوَلَهُ فَأَخَذَ بِأُذُنِهِ ثُمَّ قَالَ: "أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يَكُوْنَ هٰذَا لَهُ بِدِرْهَمٍ؟" فَقَالُوْا مَا نُحِبُّ أَنَّهُ لَنَا بِشَيْءٍ وَمَا نَصْنَعُ بِهِ؟ ثُمَّ قَالَ: "أَتُحِبُّوْنَ أَنَّهُ لَكُمْ؟" قَالُوْا: وَاللّٰهِ لَوْ كَانَ حَيًّا كَانَ عَيْبًا إِنَّهُ أَسَكُّ فَكَيْفَ وَهُوَ مَيِّتٌ: فَقَالَ: "فَوَاللّٰهِ لَلدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللّٰهِ مِنْ هٰذَا عَلَيْكُمْ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ،

قَوْلُهُ "كَنَفَتَيْهِ" أَيْ عَنْ جَانِبَيْهِ "وَالْأَسَكُّ" الصَّغِيْرُ الْأُذُنِ.

٤٦٧ - جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دے. چه یو وارے نبی کریم صلی الله علیه وسلم بازار کښې تیریدو. او صحابهٔ دَ هغوئی ښی او ګس طرف ته روان وو. نو دَ بیزے دَ یو مردار بچی په خوا کښې تیر شول. چه غوږونه ئے واړهٔ واړهٔ وُو نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه دَ غوږونو نه اونیولو او اوچت ئے کړو. او صحابه وُ (رضی الله عنهم) نه ئے پوښتنه اوکړه. تاسو کښې به څوک داسے وی چه دا په یو درهم اخستل خوښ کړی؟ ټولو اوویئیل چه مونږ کښې ئے هیڅوک هم په دے قیمت اخستل نهٔ خوښوی. او په دے (مُرداره) به مونږ څهٔ اوکړو. بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل آیا بے قیمته اخستل ئے څوک خوښوی؟ ټولو اوویئیل. چه په الله قسم کهٔ ژوندے هم وے نو عیب دار به وو. ځکه چه دا واړهٔ غوږونه ئے داسے دی لکه چه هډو شته دے نهٔ. او اوس خو مرداره ده. اوس څهٔ پکار راځی. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. په الله قسم! چه الله تهٔ دُنیا دَ دے نه هم ډیره سپکه او ذلیله ده. څومره چه دا مرداره تاسو

---

[١] "بؤسا" بالهمز: ای شدة [٢] "الیم" بفتح التحتیة وتشدید المیم: البحر.

ته سپکه ده۔ (مسلم)

کَنَفَتَیْهِ: یعنی دواړه طرفونه۔ ښے اوکس۔ اَسَكُّ: د وړو غوږونو والا۔

۲۶۸- وَعَنْ اَبِیْ ذَرٍّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: کُنْتُ اَمْشِیْ مَعَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ حَرَّةٍ [1] بِالْمَدِیْنَةِ فَاسْتَقْبَلَنَا اُحُدٌ فَقَالَ: "یَا اَبَا ذَرٍّ": قُلْتُ: لَبَّیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! فَقَالَ: "مَا یَسُرُّنِیْ اَنَّ عِنْدِیْ مِثْلَ اُحُدٍ هٰذَا ذَهَبًا تَمْضِیْ عَلَیَّ ثَلَاثَةُ اَیَّامٍ وَعِنْدِیْ مِنْهُ دِیْنَارٌ اِلَّا شَیْءٌ اُرْصِدُهٗ لِدَیْنٍ اِلَّا اَنْ اَقُوْلَ بِهٖ فِیْ عِبَادِ اللّٰهِ هٰکَذَا وَهٰکَذَا وَهٰکَذَا" عَنْ یَمِیْنِهٖ وَعَنْ شِمَالِهٖ وَعَنْ خَلْفِهٖ، ثُمَّ سَارَ فَقَالَ "اِنَّ الْاَکْثَرِیْنَ هُمُ الْاَقَلُّوْنَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ اِلَّا مَنْ قَالَ بِالْمَالِ هٰکَذَا وَهٰکَذَا وَهٰکَذَا" عَنْ یَمِیْنِهٖ وَعَنْ شِمَالِهٖ وَمِنْ خَلْفِهٖ "وَقَلِیْلٌ مَّا هُمْ" ثُمَّ قَالَ لِیْ: مَکَانَكَ لَا تَبْرَحْ حَتّٰی اٰتِیَكَ ثُمَّ انْطَلَقَ فِیْ سَوَادِ اللَّیْلِ حَتّٰی تَوَارٰی [2] فَسَمِعْتُ صَوْتًا قَدِ ارْتَفَعَ فَتَخَوَّفْتُ اَنْ یَّکُوْنَ اَحَدٌ عَرَضَ [3] لِلنَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاَرَدْتُ اَنْ اٰتِیَهٗ فَذَکَرْتُ قَوْلَهٗ: "لَا تَبْرَحْ حَتّٰی اٰتِیَكَ" فَلَمْ اَبْرَحْ حَتّٰی اَتَانِیْ فَقُلْتُ: لَقَدْ سَمِعْتُ صَوْتًا تَخَوَّفْتُ مِنْهُ فَذَکَرْتُ لَهٗ فَقَالَ: "وَهَلْ سَمِعْتَهٗ؟" قُلْتُ: نَعَمْ قَالَ: ذَاكَ جِبْرِیْلُ اَتَانِیْ فَقَالَ: مَنْ مَّاتَ مِنْ اُمَّتِكَ لَا یُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَیْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ قُلْتُ: وَاِنْ زَنٰی وَاِنْ سَرَقَ قَالَ وَاِنْ زَنٰی وَاِنْ سَرَقَ مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ، وَهٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِیِّ۔

۲۶۸- ابوذر غفاریؓ نه روایت دے۔ چه زهٔ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره د مدینے سره په حرهٔ (تور کاڼړو والا زمکه) روان ووم۔ کله چه د اُحد غر مخے ته راغے۔ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل یا ابوذره! ما عرض اوکړو لبیك حاضر یم اے رسول الله! حضورؐ اوفرمائیل چه ما ته دومره هم خوښه نهٔ راځی چه ما سره دے د اُحد غر هومره سرهٔ زر وی (او په هغے دے درے ورځے تیرے شی) او د هغے نه دے ما سره پکښے یو دینار هم بچ پاتے شی۔ البته د قرض ورکولو د پاره کهٔ بچ پلتے شی۔ نو زهٔ به داسے اوکړم چه ښی، کس طرف او (وړاندے) وروستو به ئے داسے داسے طریقے سره د الله بندګانو ته ورکړم (او برابر به ئے تقسیم کړم) دائے اوفرمائیل او لاړو۔ بیا ئے څهٔ وخت پس اوفرمائیل۔ د دے دُنیا مالدار به عام طور سره د قیامت په ورځ غریبان وی۔ او هغه خلق ترے جدا دی، کوم چه خپل مال ښی طرف، کس طرفته او وروستو او دغسے دغسے او دغسے (د الله د پاره) خرچ کوی۔ او داسے خلق ډیر کم دی۔ بیا ئے ما ته اوفرمائیل۔ څما راتلو پورے خپل ځائے مهٔ پریږده۔ بیا هغه د شپے په تیارهٔ کښے څما د نظره پټ شو۔ په دے وخت کښے ما یو اوچت آواز واؤریدو۔ ما ته خطره شوه چه چرته رسول الله صلی الله علیه وسلم ته څهٔ واقعه پیښه شوے نهٔ وی۔ د حالاتو معلومولو د پاره م تلل اوغوښتل۔ چه د هغهٔ هدایات را یاد شو چه خپل ځائے مهٔ پریږده، نو د هغوئ د واپس راتلو پورے هم هلته په ځائے ناست ووم۔ هغوئ تشریف راوړو نو ما د آواز په باره کښے ترے پوښتنه اوکړه۔ هغوئ اوفرمائیل چه تا دغه آواز آوریدلے وُو؟ ما اووئیل هو جی۔ نو وے فرمائیل چه دا جبرئیل علیه السلام وو چه ما ته دے خبرے ښودلو د پاره راغلے وو۔ چه ستا اُمت کښے چه څوک مړ شی۔ او د الله تعالیٰ سره ئے شرک نهٔ وی کړے هغه به جنت ته داخلیږی۔ ما

---

[1] "فی حرة" بفتح الحاء المهملة: وتشدید الراء، هی ارض ذات حجارة سود [2] "تواری" ای غاب شخصه [3] "عرض" ای تعرض له بسوء!!

عرض اوکړو. اګرکه هغهٔ زنا اوغلا کړے وی ؟ هغوی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. اګرچه زنائے کړے دی او اګرچه غلائے کړے وی - (بخاری ومسلم)

۴۶۹ - وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَوْکَانَ لِیْ مِثْلُ اُحُدٍ ذَهَبًا لَسَرَّنِیْ اَنْ لَاتَمُرَّعَلَیَّ ثَلَاثُ لَیَالٍ وَعِنْدِیْ مِنْهُ شَیْءٌ اِلَّا شَیْءٌ اَرْصُدُهٗ لِدَیْنٍ مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ !!

۴۶۹ - ابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه ماسرهٔ کهٔ دَاُحد دَغر هومره سرهٔ زر وی، نو زهٔ به ئے دا سے خوښ کړم چه درے ورځو کښے د ننه د ننه به ماسره هیڅ باقی پاتے نشی. بغیردهغے نه چه چرته قرض اداءکولو دپاره به م کیښودلے وی - (بخاری ومسلم)

۴۷۰ - وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اُنْظُرُوْا اِلٰی مَنْ هُوَاَسْفَلَ مِنْکُمْ وَلَاتَنْظُرُوْا اِلٰی مَنْ هُوَفَوْقَکُمْ فَهُوَ اَجْدَرُ[1] اَنْ لَّاتَزْدَرُوْا نِعْمَةَ اللهِ عَلَیْکُمْ " مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ، وَ هٰذَا لَفْظُ مُسْلِمٍ، وَفِیْ رِوَایَةِ الْبُخَارِیِّ " اِذَا نَظَرَ اَحَدُکُمْ اِلٰی مَنْ فُضِّلَ عَلَیْهِ فِی الْمَالِ وَالْخَلْقِ[2] فَلْیَنْظُرْ اِلٰی مَنْ هُوَاَسْفَلَ مِنْهُ " !

۴۷۰ - دا روایت هم دَ ابوهریره رضی الله عنه دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دَخپل ځان نه دَ کم شان او حیثیت والا طرف ته نظر کوئ. او هغه طرف ته مهٔ ګورئ کوم چه دَ تا نه دَ غټ حیثیت او درجے والا دے. دا ستاسو دپاره ډیر ضروری دے دے دپاره چه تاسو دَ الله تعالیٰ ورکړے نعمتونه سپک اونهٔ ګنړئ. (بخاری ومسلم) دا روایت دَ بخاری او مسلم دواړو دے. مګر دا الفاظ دَ مسلم دی. او دَ بخاری په روایت کښے داسے دی چه کله تاسو څوک دَخپل ځان نه زیات ښائسته او مالداره اووینئ نو هغهٔ له پکاردی چه کم حیثیت والا باندے هم نظرا چوی -

۴۷۱ - وَعَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " تَعِسَ[3] عَبْدُ الدِّیْنَارِ وَالدِّرْهَمِ وَالْقَطِیْفَةِ وَ الْخَمِیْصَةِ: اِنْ اُعْطِیَ رَضِیَ وَاِنْ لَمْ یُعْطَ لَمْ یَرْضَ " ! رَوَاهُ الْبُخَارِیِّ !!

۴۷۱ - دا روایت هم دَ ابوهریره رضی الله عنه دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه دَ روپئ او اشرفئ بنده او دَ قیمتی او عمده لباس بنده دِ برباد دی کهٔ هغهٔ ته دا ملاوُ شی نو (به ګڼها او) خوشحالئ کښے وی او کهٔ ملاوُ نهٔ شی - نو خفه ناست وی. (بخاری)

۴۷۲ - وَعَنْهُ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: لَقَدْ رَاَیْتُ سَبْعِیْنَ مِنْ اَهْلِ الصُّفَّةِ مَامِنْهُمْ رَجُلٌ عَلَیْهِ رِدَآءٌ: اِمَّا اِزَارٌ وَاِمَّا کِسَآءٌ قَدْ رَبَطُوْا فِیْ اَعْنَاقِهِمْ

۴۷۲ - دا روایت هم دَ ابوهریره رضی الله عنه دے. چه ما دَ اصحاب صفه رضی الله عنهم نه داسے اویا صحابه رضی الله عنهم لیدلی دی. چه هغوی سره پوره جامے هم نهٔ وے. چا سره به

---

[1] اجدر: ای احق " الا تزدروا " ای لا تحتقروا نعمة الله علیکم [2] " والخلق " بفتح الخاء المعجمة ای صورة ، [3] " تعس " بکسرالعین المهملة: ای هلك: " والقطیفة " بالقاف والطاء المهملة والتحتیه والفاء " الثوب " الذی له خمل " والخمیصة " بالخاء المعجمة وبالمیم والصاد المهملة: الکساء المربع ، وفی روایة البخاری " تعس عبد الدینار و عبد الدرهم وعبد القطیفة وعبد الخمیصة " ای هلك طالبها الحریص علی جمعها القائم علی حفظها وكان لذلك عبدها نسأل الله السلامة من هذه العبودیة الحقیرة -

فَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ نِصْفَ السَّاقَيْنِ وَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ الْكَعْبَيْنِ فَيَجْمَعُهُ بِيَدِهِ كَرَاهِيَةَ اَنْ تُرَى عَوْرَتُهُ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ !!

دَ اغوستلو دپاره صرف څادر وو۔ او چا سره به صرف لنګ وو۔ او هغه به ئې هم خپله مرئ کښې تړلے وو۔ چه دَ چا به نیمے پنډئ پورے رسیدلے وو۔ او دَ چا دَ ګیټو پورے. او ګوټونه دَ څادر به ئې لاسونو کښې مضبوط نیولی وو۔ چه څمونږ پرده ښکاره نشي۔ (بخاری)

۴۷۳۔ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ !!

۴۷۳۔ دا روایت هم دَ ابوهریرهؓ دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه دُنیا دَ مؤمن دپاره دَ قید خانے مثال لري۔ او کافر دپاره دَ جنت مثال لري۔ (مسلم)

۴۷۴۔ وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ اَخَذَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَنْكِبَيَّ[1] فَقَالَ: "كُنْ فِي الدُّنْيَا كَاَنَّكَ غَرِيبٌ اَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ" وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا يَقُولُ: "اِذَا اَمْسَيْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الصَّبَاحَ وَاِذَا اَصْبَحْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الْمَسَاءَ وَخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ لِمَرَضِكَ وَمِنْ حَيَاتِكَ لِمَوْتِكَ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ !!

قَالُوا فِي شَرْحِ هٰذَا الْحَدِيثِ مَعْنَاهُ لَا تَرْكَنْ اِلَى الدُّنْيَا وَلَا تَتَّخِذْهَا وَطَنًا وَلَا تُحَدِّثْ نَفْسَكَ بِطُولِ الْبَقَاءِ فِيهَا وَلَا بِالْاِعْتِنَاءِ بِهَا وَلَا تَتَعَلَّقْ مِنْهَا اِلَّا بِمَا يَتَعَلَّقُ بِهِ الْغَرِيبُ فِي غَيْرِ وَطَنِهِ وَلَا تَشْتَغِلْ فِيهَا بِمَا لَا يَشْتَغِلُ بِهِ الْغَرِيبُ الَّذِي يُرِيدُ الذَّهَابَ اِلَى اَهْلِهِ، وَبِاللّٰهِ التَّوْفِيقُ !!

۴۷۴۔ عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم څما دواړه اوږے اونیولے او وے فرمائیل چه دُنیا کښے دَ مسافر پشان اوسیږه یا دَ لارے تیریدونکی پشان۔ ابن عمرؓ به داهم وئیل۔ چه ماښام شی نو دَ صبا انتظار مهٔ کوه۔ او چه سحر شی نو دَ ماښام انتظار مهٔ کوه۔ دَ مرض او بیمارئ نه مخکښے روغوالے او دَ مرګ نه مخکښے ژوندون غنیمت اوګڼړه۔ (بخاری)

علماؤ دَدے حدیث دَ شرحے په طور دا فرمائیلی دی۔ چه دُنیا دَ سکون او دَ آرام ځائے جوړ کړئ۔ او نهٔ ئے خپل وطن جوړ کړئ۔ دَ ډیر ژوندون تیرولو نه څهٔ خیال او فکر اوکړئ۔ او نه منصوبے جوړے کړئ۔ دے سره داسے او دومره **تعلق** ساتئ۔ څنګه او څومره چه دَ مسافر دَ پردی ځائے سره وی۔ او داسے خبرو او کارونو کښے مهٔ لګئ کوم چه اهل وعیال ته دَ رسیدلو اراده کونکے نهٔ کوی۔

۴۷۵۔ وَعَنْ اَبِي الْعَبَّاسِ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ اِذَا عَمِلْتُهُ اَحَبَّنِيَ اللّٰهُ وَاَحَبَّنِي

۴۷۵۔ ابوعباس سهل بن سعد ساعدی رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه یو کس دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شو او عرض ئے اوکړو۔ یا رسول الله! ما ته څهٔ داسے عمل اوښایه۔ چه زهٔ هغه کوم چه الله هم ما سره محبت او مینه

---

[1] "منكبي" بتشديد التحتية، ويروى بتخفيف الياء، والمنكب: مجتمع رأس العضد والكتف !!

النَّاسُ فَقَالَ: "اَزْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبَّكَ اللّٰهُ وَازْهَدْ فِيْهَا عِنْدَ النَّاسِ يُحِبَّكَ النَّاسُ حَدِيْثٌ حَسَنٌ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَغَيْرُهٗ بِاَسَانِيْدَ حَسَنَةٍ !!

اوكړي او د الله بندګان راسره هم مينه اوكړي. رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل د دنيا شوق مهٔ ساته. نو الله تعالىٰ به تاسره محبت ساتي. او خلقو سره چه څه خيزوى د هغې طمع مهٔ ساته. نو خلق به درسره محبت ساتي (او خوښوى به دې هم) (ابن ماجه)

۴۷۶- وَعَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: ذَكَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَا اَصَابَ النَّاسُ مِنَ الدُّنْيَا فَقَالَ: لَقَدْ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَظَلُّ الْيَوْمَ يَلْتَوِىْ مَا يَجِدُ مِنَ الدَّقَلِ مَا يَمْلَاُ بِهٖ بَطْنَهٗ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ !

"اَلدَّقَلُ" بِفَتْحِ الدَّالِ الْمُهْمَلَةِ وَالْقَافِ: رَدِیْءُ التَّمْرِ !!

۴۷۶- نعمان بن بشير رضى الله عنهما نه روايت دے. چه يو وارے حضرت عمرؓ د دولت او مالدارئ او د زهد فارغ والى ذكر په دوران كښے اوفرمائيل. چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم كولمے به ټوله ورځ راتاوے وے. او فالتو او ردى بے كاره كهجورے به هم د کيدے د ډكولو دپاره نهٔ ملاو يدے. (مسلم)

اَلدَّقَلُ: ردى او بے كاره كجورے.

۴۷۷- وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: تُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا فِىْ بَيْتِىْ مِنْ شَیْءٍ يَاْكُلُهٗ ذُوْ كَبِدٍ[۱] اِلَّا شَطْرُ شَعِيْرٍ فِىْ رَفٍّ لِّىْ فَاَكَلْتُ مِنْهُ حَتّٰى طَالَ عَلَیَّ فَكِلْتُهٗ فَفَنِیَ "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ،

"قَوْلُهَا "شَطْرُ شَعِيْرٍ": اَیْ شَیْءٌ مِنْ شَعِيْرٍ كَذَا فَسَّرَهُ التِّرْمِذِیُّ !

۴۷۷- حضرت عائشه رضى الله عنها فرمائى. چه كله نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفات شو. نو كور كښے دغه وخت ما سره د خوراك دومره څهٔ نهٔ وو. چه څرنګه څنا ور خوخوړلے وے. بغير د يو څو دانو اوربشو نه چه هغه هم يو فالتو پنډ يرى يا كټوئ كښے پرتے وے. چه لږے لږے به م ترے راويستلے. او ډيرو ورځو پورے به م خوړلے. يو وارے ما هغه تول كړلے. بس هغه ختمے شوے. (بخارى) شَطْرُ شَعِيْرٍ: يعنى لږے شان اوربشے. (ترمذى)

۴۷۸- وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ اَخِیْ جُوَيْرِيَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ اُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: مَا تَرَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ مَوْتِهٖ دِيْنَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَلَا عَبْدًا وَلَا اَمَةً وَلَا شَيْئًا اِلَّا بَغْلَتَهُ الْبَيْضَآءَ الَّتِیْ

۴۷۸- د حضرت جويريه رضى الله عنها ورور عمرو بن حارث رضى الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د مرګ په وخت كښے نه اشرفۍ پريښى دى او نه روپۍ او نه وينځے غلامان او نهٔ څهٔ نور څهٔ پريښى دى. بغير د يو سپين قچر نه چه هغهٔ به پرے سورلى

---

[۱] "ذو كبد" بفتح الكاف وكسر الموحدة: اى حيوان: والرف بفتح الراء وتشديد الفاء خشب يرفع عن الارض يوضع فيه ما يراد حفظه "ففنى" اى فرغ " قال القرطبى، سبب رفع النماء عند الكيل. والله اعلم. الالتفات بعين الحرص، مع معاينة ادرار نعم الله تعالىٰ ومواهب كراماته وكثرة بركاته، والغفلة عن الشكر عليها والثقه، بالذى وهبها و للميل الى الاسباب المعتادة عند مشاهدة خرق العادات !!

كَانَ يَرْكَبُهَا وَسِلَاحَهُ وَأَرْضًا جَعَلَهَا لِابْنِ السَّبِيلِ صَدَقَةً " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

کوله - یا ئے خپله وسله پریښے ده یا ئے هغه زمکه پریښے ده چه کومه ئے د مسافرو دپاره وقف کړے وه - (بخاری)

۴۷۹ - وَعَنْ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: هَاجَرْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَلْتَمِسُ وَجْهَ اللّٰهِ تَعَالٰى فَوَقَعَ أَجْرُنَا عَلَى اللّٰهِ فَمِنَّا مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنْ أَجْرِهِ شَيْئًا مِنْهُمْ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ وَتَرَكَ نَمِرَةً فَكُنَّا إِذَا غَطَّيْنَا بِهَا رَأْسَهُ بَدَتْ رِجْلَاهُ وَإِذَا غَطَّيْنَا بِهَا رِجْلَيْهِ بَدَا رَأْسُهُ فَأَمَرَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُغَطِّيَ رَأْسَهُ وَنَجْعَلَ عَلٰى رِجْلَيْهِ شَيْئًا مِنَ الْإِذْخِرِ[له] وَمِنَّا مَنْ أَيْنَعَتْ لَهُ ثَمَرَتُهُ فَهُوَ يَهْدِبُهَا مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ!

«النَّمِرَةُ» كِسَاءٌ مُلَوَّنٌ مِنْ صُوْفٍ وَقَوْلُهُ «أَيْنَعَتْ» أَيْ نَضِجَتْ وَأَدْرَكَتْ وَقَوْلُهُ «يَهْدِبُهَا» هُوَ بِفَتْحِ الْيَاءِ وَضَمِّ الدَّالِ وَكَسْرِهَا لُغَتَانِ: أَيْ يَقْطِعُهَا وَيَجْتَنِيهَا وَهٰذِهِ اسْتِعَارَةٌ لِمَا فَتَحَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِمْ مِنَ الدُّنْيَا وَتَمَكَّنُوْا فِيْهَا؛

۴۷۹ - خباب بن ارت رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره هجرت کولو۔ چه صرف د الله مخ موغوښتلو۔ د هغې مزدوری خو د الله د طرفنه ثابته ده۔ (مګر په اعتبار د دُنیا) موږ کښے بعضے حضرات خو ډیر زر وفات شول۔ او دُنیا کښے ئے د خپلے بدلے او مزدورئ څۀ حصه بیا نۀ موندله۔ یو پکښے مصعب بن عمیرؓ هم وو۔ چه د جنګِ اُحد په ورځ شهید شو۔ او یولنګ او وړوکے شان څادر ئے وو۔ کۀ موږ به هغه ورته په سر واچولو نو خپے به ئے ښکاره پاتے شوے۔ او کۀ خپے به مو ورله پټے کړے نو سر به ئے بربنډ پاتے شو۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم چه دا اولیدل نو وے فرمائیل۔ چه څادر باندے ئے سر پټ کړئ۔ او په خپو ورته خر کړئ (خوشبویه واښۀ) واچوئ۔ او د ځنو کسانو د اجر میوه پخه شوه نو هغه ئے راټولوی " او د آرام ژوند تیروی۔

«اَلنَّمِرَةُ»: د وړئ رنګین څادر۔

«اَيْنَعَتْ»: پاخۀ ؤ۔ پوره ؤو۔

«يَهْدِبُهَا»: راغونډول۔ راټولول۔ مطلب دا چه د خپلو نیتونو میوے راغونډوی۔ چه الله تعالیٰ د ډیرو فتحو او کامیابو خاوندان اوګرځول۔

۴۸۰ - وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللّٰهِ جَنَاحَ بَعُوْضَةٍ مَا سَقٰى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةَ مَاءٍ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ

۴۸۰ - سهل بن سعد ساعدیؓ نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل۔ چه الله تعالیٰ سره کۀ د دُنیا اهمیت او قدر د ماشی د وزر برابر هم وے نو کافر ته به ئے د دے دُنیا د اوبو یو ګوټ هم نۀ وے ورکړے۔ (ترمذی) وائی چه دا حدیث حسن دے۔

…… ……

۴۸۱ - وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

۴۸۱ - ابوهریرة رضی الله عنه وائی۔ چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه

[له] "اذخر" نبت معروف طيب الرائحة

عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ: "اَلَا اِنَّ الدُّنْیَا مَلْعُوْنَةٌ ۱ مَلْعُوْنٌ مَا فِیْهَا اِلَّا ذِکْرَ اللّٰهِ تَعَالٰی وَ مَا وَالَاهُ وَ عَالِمًا وَ مُتَعَلِّمًا" رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ حَدِیْثٌ حَسَنٌ!

داسے فرمائیل آوریدلی دی. خبردار! دُنیا په خپله لعنتی (ناخوښه) ده. او دے کښے چه څهٔ څیزونه دی هغه هم لعنتی (او ناخوښه) دی بغیر د الله د ذکر او بغیر د هغه څیزونو چه کوم د الله خوښ دی یعنی نیک کارونه او دینی عالم او متعلم. (ترمذی) او ترمذی وئیلی دی چه دا حدیث حسن دے.

۲۸۲- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَتَّخِذُوا الضَّیْعَةَ ۲ فَتَرْغَبُوْا فِی الدُّنْیَا" رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ حَدِیْثٌ حَسَنٌ!!

۲۸۲- عبد الله بن مسعود رض نه روایت دے. چه نبی کریم صلی الله علیه و سلم اوفرمائیل. جائیدادونو جوړولو کښے شوق مهٔ ساتئ - هسے نه چه چرته دُنیا کښے گیر او اخته نهٔ شئ - (ترمذی) امام ترمذیؒ وائی چه دا حدیث حسن دے.

۲۸۳- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: مَرَّ عَلَیْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نُعَالِجُ خُصًّا لَنَا ۳ فَقَالَ: "مَا هٰذَا؟" فَقُلْنَا "قَدْ وَهٰی فَنَحْنُ نُصْلِحُهٗ" فَقَالَ: "مَا اَرَی الْاَمْرَ اِلَّا اَعْجَلَ مِنْ ذٰلِكَ" رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَالتِّرْمِذِیُّ بِاِسْنَادِ الْبُخَارِیِّ وَمُسْلِمٍ وَقَالَ حَدِیْثٌ حَسَنٌ صَحِیْحٌ؛

۲۸۳- عبد الله بن عمرو بن عاص رضی الله عنهما نه روایت دے. چه یو وار مونږ د خپل کور (چه د بانړس او لرگو وو) مرمت کولو. نو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم را باندے تیر شو. هغوی پوښتنه اوکړه چه دا څهٔ جوړیږی. مونږ عرض اوکړ د کور (تختے) وغیره) بے کاره شوی دی. هغه لږے جوړوُو - نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه زهٔ یو (الٰهی) امر او فیصله (مرگ یا قیامت) د دے نه ډیر زر را تلونکی وینم. (ابوداؤد وترمذی) دا روایت ابوداؤد او ترمذی د بخاری او مسلم په سند سره نقل کړے دے. او امام ترمذیؒ وائی چه دا حدیث حسن او صحیح دے. مطلب دا دے. چه د مکان جوړولو نه مخکښے مرگ یا قیامت د پاره تیارے کول بکار دی. وران ویجاړ کور کښے هم وخت تیریږی. که چرے د آخرت د کورنه قاصر او کوتاه پاتے شو نو همیشه به په تکلیف کښے اخته وی. (ترمذی)

۲۸۴- وَعَنْ کَعْبِ بْنِ عِیَاضٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ لِکُلِّ اُمَّةٍ فِتْنَةً ۴ وَفِتْنَةُ اُمَّتِیْ: الْمَالُ" رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ: حَدِیْثٌ حَسَنٌ صَحِیْحٌ؛

۲۸۴- کعب بن عیاض رض نه روایت دے. چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیلی آوریدلی دی. چه د هر اُمت د پاره د ازمیښت یو څیز خامخا وی. او زما اُمت د پاره د ازمیښت څیز مال او دولت دے. (ترمذی) وائی چه دا حدیث حسن صحیح دے.

۲۸۵- وَعَنْ اَبِیْ عَمْرٍو وَیُقَالُ اَبُوْ عَبْدِ اللّٰهِ وَیُقَالُ اَبُوْ لَیْلٰی عُثْمَانُ

۲۸۵- ابوعمرو یا ابو عبد الله یا ابولیلیٰ عثمان بن عفان (دریم خلیفه) رضی

۱ه "ملعونة" ای مبغوضة ساقطة "وما والاه": ای قاربة من الطاعة الموصلة لمرضاة الله تعالیٰ: ولا یفهم من هذا الحدیث سب الدنیا مطلقا ولعنها، بل الملعون منها ما یبعد بها عن الله تعالیٰ ویشغل عنه کما یوحی الیه آخر الحدیث !! ۲ه "الضیعة" بالضاد المعجمة: العقار: ای لا تتوغلوا فی اتخاذ الضیعة فترغبوا عن صلاح الاخرة کما قال صلی الله علیه وسلم، ۳ فترغبوا فی الدنیا

بْنُ عَفَّانٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَيْسَ لِابْنِ اٰدَمَ حَقٌّ فِيْ سِوٰى هٰذِهِ الْخِصَالِ: بَيْتٌ يَسْكُنُهٗ وَ ثَوْبٌ يُوَارِيْ عَوْرَتَهٗ ـله وَجِلْفُ الْخُبْزِ، وَ الْمَآءُ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ! قَالَ التِّرْمِذِيُّ سَمِعْتُ اَبَا دَاوٗدَ سُلَيْمَانَ ابْنَ سَالِمٍ الْبَلْخِيَّ يَقُوْلُ: سَمِعْتُ النَّضْرَ بْنَ شُمَيْلٍ يَقُوْلُ: الْجِلْفُ الْخُبْزُ لَيْسَ مَعَهٗ اِدَامٌ. وَ قَالَ غَيْرُهٗ: هُوَ غَلِيْظُ الْخُبْزِ وَقَالَ الْهَرَوِيُّ الْمُرَادُ بِهٖ هُنَا وِعَآءُ الْخُبْزِ كَالْجَوَالِقِ وَالْخُرْجِ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ ؛

الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل. چه د آدم عليه السلام د اولاد دپاره د درے خيزونو نه علاوه د بل خيز (دپاره منړه وهلو کښے) حق نشته. د اوسيدلو دپاره کور. د بدن پټولو دپاره جامے، د خوراک دپاره روټئ او اوبهٔ. (ترمذی) وائی چه دا حديث حسن دے. او وائی چه ما د ابوداؤد سليمان بن سالم بلخی نه او هغوئ د نضر بن شُميل نه داسے فرمائيلی آوريدلی دی. چه "جِلْفُ" بغير د ترکارئ نه سپوره روټئ ته ويلے شی. او نورو خلقو د "جِلْفٌ" معنیٰ غټه روټئ کړے ده. او هروی وائی چه "جِلْفٌ" نه مراد د روټئ لوښے دے. لکه "جَوَالِقٌ" "خُرْجُ" د روټئ لوښی ته وائی.

۴۸۶ - وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الشِّخِّيْرِ "بِكَسْرِ الشِّيْنِ وَالْخَآءِ الْمُشَدَّدَةِ الْمُعْجَمَتَيْنِ" رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ قَالَ: اَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقْرَاُ: "اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ" قَالَ: "يَقُوْلُ ابْنُ اٰدَمَ: مَالِيْ مَالِيْ وَ هَلْ لَكَ يَا ابْنَ اٰدَمَ مِنْ مَالِكَ اِلَّا مَا اَكَلْتَ فَاَفْنَيْتَ اَوْ لَبِسْتَ فَاَبْلَيْتَ اَوْ تَصَدَّقْتَ فَاَمْضَيْتَ؟ رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۴۸۶ - عبد الله بن شِخّير رضی الله عنه نه روايت دے. چه زهٔ يو وارے د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښے حاضر شوم. نو هغوئ سورة التکاثر لوستلو. (د تلاوت کولو نه پس) رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل. چه سړے وائی چه دا ځما مال دے او هغه ځما مال دے. مګر اے د آدم (عليه السلام) ځويه ستا مال خو هغه دے چه کوم تا اوخوړلو. اوختم شو، يا دِ واغوستلو او زړ شلوو. يا ئے د الله په لاره کښے خرچ کړو. او آخرت دپاره دِ ذخيره کړو. (مسلم)

۴۸۷ - وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَاللّٰهِ اِنِّيْ لَاُحِبُّكَ فَقَالَ: "اُنْظُرْ مَاذَا تَقُوْلُ؟ قَالَ وَاللّٰهِ اِنِّيْ لَاُحِبُّكَ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَالَ: "اِنْ كُنْتَ تُحِبُّنِيْ فَاَعِدَّ لِلْفَقْرِ تِجْفَافًا، فَاِنَّ الْفَقْرَ اَسْرَعُ اِلٰى مَنْ يُحِبُّنِيْ مِنَ السَّيْلِ اِلٰى مُنْتَهَاهُ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ!

۴۸۷ - عبد الله بن مغفل رضه وائی چه يو کس رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عرض اوکړو. يا رسول الله! ځما تا سره مينه ده. هغوئ اوفرمائيل ګوره. ته څهٔ وائے؟ هغهٔ اووئيل. قسم په الله! ځما تا سره مينه ده. او دائے درے وارے اووئيل. نو بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل کهٔ ته په رښتيا ما سره مينه کوے نو د او لږے تندے دپاره لمسے (اوزهے جامے واغونده) ځکه چه کوم

ـله يوارى عورته : اى يسترها !!

"اَلتِّجْفَافُ" بِكَسْرِالتَّاءِ الْمُثَنَّاةِ فَوْقَ وَاِسْكَانِ الْجِيْمِ وَبِالْفَاءِ الْمُكَرَّرَةِ وَهُوَشَيْءٌ يُلْبَسُهُ الْفَرَسُ لِيُتَّقٰى بِهٖ الْاَذٰى وَقَدْ يَلْبَسُهُ الْاِنْسَانُ ؛

کس ما سره مینه کوی. نو هغه کس ‌د غریبۍ او دَ اولړے سیلاب ډیر زر کیرہ وی۔ (ترمذی)

تِجْفَافٌ: دَ تاء زیر دَ جیم غږوندی او او دوه فا گانو سره راغلے دے. دا هغه کپړه یا کَته ده چه آس باندے دپاره اچولے شی، چه دَ گندگۍ وغیره نه بچ شی. هغے ته جهول هم وائی. کله کله داسے کپړه انسان هم آغوندی.

۴۸۸- وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ اُرْسِلَا فِي الْغَنَمِ بِاَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَى الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِيْنِهٖ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

۴۸۸- کعب بن مالک رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دوه اوږی شرمخان دَ کړو په رمه کښے ننوځی. هغه دواړه هغوی ته دومره نقصان نشی رسولے. څومره چه دَ مال او دولت زیاتوالی او دَ عزت حرص دَ سړی دین ته نقصان ورکوی. (ترمذی)

۴۸۸- وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ اُرْسِلَا فِيْ غَنَمٍ بِاَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَى الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِيْنِهٖ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

۴۸۸- کعب بن مالک رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه دوه اوږی شرمخان دَ بیزو په رمه کښے ننوځی. هغه دواړه هغوی ته دومره نقصان نشی رسولے. څومره چه دَ مال او دولت زیاتوالی او دَ عزت حرص دَ سړی دین ته نقصان ورکوی. (ترمذی)

۴۸۹- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: نَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى حَصِيْرٍ فَقَامَ وَقَدْ اَثَّرَ فِيْ جَنْبِهٖ قُلْنَا: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَوِ اتَّخَذْنَا لَكَ وِطَاءً[1] فَقَالَ: مَالِيْ وَالدُّنْيَا؟ مَا اَنَا فِي الدُّنْيَا اِلَّا كَرَاكِبٍ اسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

۴۸۹- عبد الله بن مسعود رض وائی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په پوزی ملاست وُو. کله چه دَ خوبه پا سید. نو په بدن ئے دَ پوزی نښے وے. نو مونږ ورته اووئیل. چه یا رسول الله! مونږ تاسو له یوه دَ آرام بستره تیاره کړے دے. رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. ځما دَ دُنیا عیش او آرام سره څه غرض دے. ځما خو دَ دُنیا سره تعلق بس دَ هغه سور مسافر غونته دے. چه کینته دَ وَنے دَ سوری لاندے ایسار شی. او روان شی. نو بیا لاړه کښے داسے پریږے وَنے پریږدی. او په خپله مخه روان وی. (ترمذی)

۴۹۰- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ

۴۹۰- ابو هریره رض نه روایت دے. چه

---

[1] "وطاء" بكسر الواو وبالمد: هو الوطئ، وفي رواية ابن ماجه. فقلت يا رسول الله لو كنت اذنتنا ففرشنا لك شيئا يقيك ۱۲

اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَدْخُلُ الْفُقَرَاءُ الْجَنَّةَ قَبْلَ الْاَغْنِيَآءِ بِخَمْسِمِائَةِ عَامٍ: رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ :

رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه غریبان به د مالدارونه پنځه سوه کاله مخکښې جنت ته داخلیږی - (ترمذی) ترمذی رح وائی چه دا حدیث حسن صحیح دے. (آخرت کښې زمونږ د دُنیا په شان څۀ حساب او میعاد معلوم نۀ دے. مګر مونږ د میا شتو او د کلونو حساب کښې ګیر یو. نوځکه مونږ ته ښودلے شوی دی چه د آخرت یوه ورځ به څمونږ د ورځو په حساب د زرو کالو برابره وی. بس دا دے نه د غریبانو او د مالدارو د جنت تللو اندازه لګی. چه څومره زمانه جوړیږی. خبره اصل کښې داده. چه غریب سړه دلته دُنیا کښې هیڅ قدرت نشته. نو د چا به ئے څۀ حق وهلے وی. د چا روپۍ پیسے به ئے هړپ کړی وی- د چا مال به ئے څنګه دهوکے سره هضم کړے او ګیډه کښې اچولے وے. نوهلته به د تپوس او پوښتنے نه ډیر زر اوزګار شی. او امیرانو مالدارانو سره به د یوے یوے پیسے په اندازه حساب کولے شی. چه چرته دِ ګټلے څنګه دِ ګټلے وے اوچرته دِ خرچ کړے وے نوځکه ښکاره خبره دا ده چه د غریبانو نه پس به هغوئ جنت ته ځی- او ځائے به ورته ملاویږی).

۴۹۱- وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ وَعِمْرَانَ بْنِ الْحُصَيْنِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اطَّلَعْتُ فِي الْجَنَّةِ فَرَاَيْتُ اَكْثَرَ اَهْلِهَا الْفُقَرَآءَ وَاطَّلَعْتُ فِي النَّارِ فَرَاَيْتُ اَكْثَرَ اَهْلِهَا النِّسَآءَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ مِنْ رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَرَوَاهُ الْبُخَارِيُّ اَيْضًا مِنْ رِوَايَةِ عِمْرَانَ بْنِ الْحُصَيْنِ.

۴۹۱- ابن عباس او عمران بن حصین رضی الله عنهم نه روایت دے - چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - چه زۀ جنت ته ورښکاره شوم نوما هغلته ډیر غریبانان اولیدل - او دوزخ ته لاړم نو هلته را ته ډیرے ښځے او ښودلے شوے (بخاری ومسلم) د ابن عباس رضی الله عنهما روایت بخاری او مسلم دواړو کښې شته - او د عمران بن حصین روایت صرف بُخاری کښې دے.

۴۹۲- وَعَنْ اُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: قُمْتُ عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ فَكَانَ عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِيْنُ وَاَصْحَابُ الْجَدِّ مَحْبُوْسُوْنَ غَيْرَ اَنَّ اَصْحَابَ النَّارِ قَدْ اُمِرَ بِهِمْ اِلَى النَّارِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ!

"وَالْجَدُّ" اَلْحَظُّ وَالْغِنٰى وَقَدْ سَبَقَ بَيَانُ هٰذَا الْحَدِيْثِ فِيْ بَابِ فَضْلِ الضَّعَفَةِ!!

۴۹۲- اسامه بن زید رضی الله عنهما نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - چه زۀ د جنت په دروازه اودریدم نوما اولیدل - چه ډیر زیات داخلیدونکی پکښې غریبانان وو- او مالداران یو طرفته د جنت د داخلیدو نه منع کړے شوی دی. مګر د دوزخ حقدارُ ته د دوزخ د بوتللو حکم ورکولے شو. (بخاری ومسلم)

جَدُّ: برخه- مالداری.

مخکښې باب "فضل الضعفة" کښې هم د دے حدیث بیان ذکرشوے دے.

۴۹۳- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

۴۹۳- ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - که شاعرچرته رښتونے

وَسَلَّمَ قَالَ: اَصْدَقُ كَلِمَةٍ قَالَهَا شَاعِرٌ كَلِمَةُ لَبِيْدٍ: اَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللّٰهَ بَاطِلٌ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ:

خبره کړې ده نو هغه د لبید شاعر دا قول دے. "اَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللّٰهُ بَاطِلٌ" ترجمه ئې دا ده: "دا خبره واورئ چه د الله تعالیٰ نه بغیر هر یو څیز بې کاره او باطل دے." (بخاری ومسلم)

باب ۵۶

د اولږې، تنګئ او قناعت فضیلت او د نفساني خواهشاتو بدی او مذمت!

باب فَضْلِ الْجُوْعِ وَخُشُوْنَةِ الْعَيْشِ وَالْاِقْتِصَارِ عَلَى الْقَلِيْلِ مِنَ الْمَاْكُوْلِ وَالْمَشْرُوْبِ وَالْمَلْبُوْسِ وَغَيْرِهَا مِنْ حُظُوْظِ النَّفْسِ وَتَرْكِ الشَّهَوَاتِ!

ف: دے باب کښې څلور آیتونه او یو دېرش حدیثونه دی.

(قرآني آیتونه)

۱۷۲- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [1] فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ [2] اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا [3] اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ شَيْئًا!!

۱۷۲- د هغوئ نه پس داسې ناکاره پیدا شول چه هغوئ مونځ برباد کړو. او د نفس منلو پسې اولګیدل. دوئ به ډیر زر د دې سزا اوخوري. مګر که چا توبه اوویستله او ایمان ئې راوړو. او ښه عملونه ئې اوکړل. نو هغه خلق به جنت ته ځي. او لږ نقصان ئې هم نه کیږي. (پ۱۶، مریم)

۱۷۳- وَقَالَ تَعَالٰى [4] "فَخَرَجَ [5] عَلٰى قَوْمِهٖ فِيْ زِيْنَتِهٖ قَالَ الَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا يٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ قَارُوْنُ اِنَّهٗ لَذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ. وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّمَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا" .

۱۷۳- الله فرمائی: "بیا اتفاقي طور هغه یو وارې) ډیر په ناز او ښائست کښې د خپل قوم په مخکښې تیریدلو. نو کوم خلق چه د دُنیا غوښتونکی وو. نو وې وئیل. ارمان چه مونږ سره هم داسې مال او سامان وې کوم چه قارون ته ورکړې شوې دے. یقیناً چه د لوئې برخې والا وُو. او چا ته چه د دین پوهه ورکړې شوې وه. نو هغوئ اووئیل. برباد شئ. د ایمان والو د پاره چه هغوئ نیک عملونه اوکړل. د الله تعالیٰ سره ډیرې درجې دی. چه هغه د دغه ښائست نه زر چنده بهترې او ښې دی. (پ۲۰، قصص)

۱۷۴- وَقَالَ تَعَالٰى [6] ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيْمِ" .

۱۷۴- الله تعالیٰ فرمائی. بیا دا واورئ په هغه ورځ به د ورکړې شوې ټولو نعمتونو پوښتنه کولې شي. (پ۳۰ تکاثر)

۱۷۵- وَقَالَ تَعَالٰى [7]: "مَنْ كَانَ

۱۷۵- الله تعالیٰ فرمائی. او څوک چه

---

[1] سورة مريم آية ۵۹-۶۰ [2] "خلف" اى عقب سوء [3] "غيًّا" اى شرًّا او جزء غيٍّ.

[4] سورة القصص آية ۷۹-۸۰ [5] "فخرج" اى قارون [6] سورة التكاثر آية ۸ [7] سورة الا

يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ [1] عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ يَصْلٰهَا مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا [2] وَ الْاٰيَاتُ فِي الْبَابِ كَثِيْرَةٌ مَعْلُوْمَةٌ !

دَ دُنیا دَ ګټې ارمان کوی دَ دوی نه چې مونږ چا ته او غواړو او څومره چه او غواړو ـ دُنیا کښې ئې ورکوو ـ خو آخر به ئې د دوزخ ته داخل کړو ـ نو هغې کښې به بد حاله او شړلے شوے ورننوځی ـ (پ ۱۵ بنی اسرآئیل)

(نبوی حدیثونه)

۴۹۴ - وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : مَا شَبِعَ اٰلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خُبْزِ شَعِيْرٍ يَوْمَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ حَتّٰى قُبِضَ [3] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَ فِيْ رِوَايَةٍ : مَا شَبِعَ اٰلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ قَدِمَ الْمَدِيْنَةَ مِنْ طَعَامِ الْبُرِّ ثَلَاثَ لَيَالٍ تِبَاعًا حَتّٰى قُبِضَ " ؛

۴۹۴ - حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی ـ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ وفاته پورے دوه ورځے داسے کله هم نه دی تیرے شوی ، چه متواتر دوه ورځے دَ هغوی کوروالو دَ اوربشو ډوډئ په مړه خیټه خوړلے وی تردے چه مړ شو ـ (بخاری ومسلم)

یو روایت کښې داسے راغلی دی ـ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم مدینے ته دَ راتلو نه پس درے ورځے متواتر د مرګه پورے د هغوئ کوروالؤ د غنمو روټئ په مړه ګیډه نه وه خوړلے ـ

۴۹۵ - وَعَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّهَا كَانَتْ تَقُوْلُ : وَاللّٰهِ يَا ابْنَ اُخْتِيْ اِنْ كُنَّا نَنْظُرُ اِلَى الْهِلَالِ ثُمَّ الْهِلَالِ : ثَلَاثَةَ اَهِلَّةٍ فِيْ شَهْرَيْنِ وَمَا اُوْقِدَ فِيْ اَبْيَاتِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَارٌ : قُلْتُ : يَا خَالَةُ فَمَا كَانَ يُعِيْشُكُمْ ؟ قَالَتِ : الْاَسْوَدَانِ التَّمْرُ وَالْمَآءُ اِلَّا اَنَّهٗ قَدْ كَانَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِيْرَانٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ وَ كَانَتْ لَهُمْ مَنَايِحُ [4] وَكَانُوْا يُرْسِلُوْنَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ اَلْبَانِهَا فَيَسْقِيْنَا مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۴۹۵ - عروه رض دَ حضرت عائشه رض نه روایت کوی ـ چه هغې اوفرمائیل : په الله قسم ، اے خوریه ! مونږ به په میاشتو انتظار کولو دوه میاشتے درے میاشتے به تیرے شوے په دے زمانه کښې به دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په کورونو کښې نغرے بل شوے نه وُو ـ نو ما عرض اوکړو ـ اے ترور ! نو بیا مو په څه ګزاره کوله ؟ نو هغې اووئیل چه په کجورو او په اوبو به مو ګزاره کوله ـ کله کله به ضرور داسے کیدله چه انصاریٰ ګاونډی به ورله شودهٔ راوړل ـ او تحفه کښې به ئې هم دَ خپلو غواوی شودهٔ رالیږل ـ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم به مونږ ته هم راکول ـ (مطلب دا چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم او دَ کور والا ئے خپل پوره ژوند تقریبًا غریبی او اولږه تیره کړے ده) (بخاری ومسلم)

۴۹۶ - وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ مَرَّ بِقَوْمٍ بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ شَاةٌ مَصْلِيَّةٌ

۴۹۶ - ابوسعید مقبری دَ ابوهریره رض نه روایت بیانوی ـ وائی چه هغوئ په ځینې داسے خلقو تیریدل چه هغوی ورته

---

[1] العاجلة : الدنيا [2] "مدحورا" ای مطرودا من رحمة الله تعالی

[3] "قبض" ای توفی رسول الله صلی الله علیه وسلم [4] "منایح" جمع منحیه" بنون وحاء مهملة" وهو" الشاة والنـ ئه یعطیها صاحبها رجلا یشرب لبنها ثم یردها اذا انقطع لبنها :

فَدَعَوْهُ فَاَبٰى اَنْ يَّاْكُلَ وَقَالَ: خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الدُّنْيَا وَلَمْ يَشْبَعْ مِنْ خُبْزِ الشَّعِيْرِ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

"مَصْلِيَّةٌ" بِفَتْحِ الْمِيْمِ: اَىْ مَشْوِيَّةٌ!

کړې بيزه خوړله۔ دغه خلقو ابوهريرةؓ ته هم د شريک کيدلو دعوت ورکړو۔ مګر هغهٔ انکار اوکړو۔ او وې ويل۔ چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د دُنيا نه لاړو۔ مګر کله هم هغهٔ په مړه ګېډه د اوربشو روټئ نهٔ وه خوړلې۔ (بخاری)

مَصْلِيَّهٔ: وريته کړې شوې۔

۴۹۷۔ وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: لَمْ يَاْكُلِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى خِوَانٍ[1] حَتّٰى مَاتَ وَمَا اَكَلَ خُبْزًا مُرَقَّقًا[2] حَتّٰى مَاتَ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ، وَفِىْ رِوَايَةٍ لَهٗ. وَلَا رَاٰى شَاةً سَمِيْطًا[3] بِعَيْنِهٖ قَطُّ:

۴۹۷۔ انس بن مالک رض وائی۔ چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د مرګه پورې کله هم په دسترخوان خوراک نهٔ دٔوکړې۔ او نه ئې تر مرګه چرته د روټئ چپاتی خوړلې وو۔ (بخاری)

يو روايت کښې داسې راغلي دي. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم کله هم په خپلو سترګو پوره او ټوله بيزه وريته کړې نهٔ وه ليدلې.

... ...

۴۹۸۔ وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: لَقَدْ رَاَيْتُ نَبِيَّكُمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا يَجِدُ مِنَ الدَّقَلِ مَا يَمْلَاُ بِهٖ بَطْنَهٗ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ:

"الدَّقَلُ": تَمْرٌ رَدِىْءٌ!

۴۹۸۔ نعمان بن بشير رضى الله عنهما وائی. چه ما ستاسو پيغمبر صلى الله عليه وسلم (په دې حال کښې هم) ليدلې دې. چه رَدّی او فالتو کجورې هم دومره نهٔ ملاويدې۔ چه ګېډه ئې پرې ډکه شوې وې۔ (مسلم)

اَلدَّقَلُ: رَدّی کجورې۔

۴۹۹۔ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: مَا رَاٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّقِيَّ مِنْ حِيْنِ ابْتَعَثَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى حَتّٰى قَبَضَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى! فَقِيْلَ لَهٗ: هَلْ كَانَ لَكُمْ فِىْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنَاخِلُ؟ قَالَ: مَا رَاٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْخُلًا مِنْ حِيْنَ ابْتَعَثَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى[4] حَتّٰى قَبَضَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى، فَقِيْلَ لَهٗ، كَيْفَ كُنْتُمْ تَاْكُلُوْنَ الشَّعِيْرَ غَيْرَ مَنْخُوْلٍ؟

۴۹۹۔ سهل بن سعد رضى الله عنه وائی. چه د پيغمبرئ د ابتداء نه تر مرګه پورې رسول کريم صلى الله عليه وسلم د چاڼ شوی اوړو روټئ هم نهٔ وه ليدلې. خلقو ترې پوښتنه اوکړه. آيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کښې غلبيلونه نهٔ وُو؟ نو سعد رض اووئيل. د پيغمبرئ د ابتداء نه تر مرګه پورې رسول الله صلى الله عليه وسلم چاڼ يعنى (غلبيل) ليدلې هم نهٔ وُو. بيا ترې پوښتنه اوکړې شوه. چه تاسو خلقو به د اوربشو اُوړهٔ بغير د چاڼ کولو نه څنګه خوړل؟ نو هغوئ اووئيل. چه مونږ به اُوربشې ميده کړې۔ او بيا به مونږ پوکې ورکولو. او پوره به ترې والوتله. دے نه

---

[1] "خوان" بكسر الخاء المعجمة ويجوز ضمها وهى: المائدة مالم يكن عليها طعام [2] "مرققا": اى محسنا مليّنا، والترقيق، التليين [3] السميط: هو ما ازيل شعره بماء سخن وشوى بجلدة وهو من فعل المترفين!!

[4] "ابتعثه الله": اى بعثه للناس رسولا۔ "حتى قبضه الله": اى توفاه الى دار كرامته:

قَالَ: كُنَّا نَطْحَنُهُ وَنَنْفُخُهُ فَيَطِيرُ مَا طَارَ وَمَا بَقِيَ ثَرَّيْنَاهُ،

رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ!

"قَوْلُهُ" النَّقِيَّ" هُوَ" بِفَتْحِ النُّونِ وَكَسْرِ الْقَافِ وَتَشْدِيدِ الْيَاءِ" وَهُوَ الْخُبْزُ الْحُوَّارَى وَهُوَ الدَّرْمَكُ: قَوْلُهُ "ثَرَّيْنَاهُ" هُوَ بِثَاءٍ مُثَلَّثَةٍ ثُمَّ رَاءٍ مُشَدَّدَةٍ ثُمَّ يَاءٍ مُثَنَّاةٍ مِنْ تَحْتِ ثُمَّ نُونٍ: أَيْ بَلَلْنَاهُ وَعَجَنَّاهُ!

پس به مونږ اوړهٔ واخکل. او بیا به مو پخول.

(بخاری)

اَلنَّقِیّ: بغیر بورے صفا اوړهٔ. یا د میدے روټۍ.

ثَرَّیْنَاهُ. یعنی مونږ به اوړهٔ

خوشتولو نه پس آخ -

٥٠٠- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ أَوْ لَيْلَةٍ فَإِذَا هُوَ بِأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فَقَالَ" مَا أَخْرَجَكُمَا مِنْ بُيُوتِكُمَا هٰذِهِ السَّاعَةَ؟" قَالَا: الْجُوعُ يَا رَسُولَ اللهِ. قَالَ:" أَنَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَأَخْرَجَنِي الَّذِي أَخْرَجَكُمَا قُومَا" فَقَامَا مَعَهُ فَأَتَى رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ فَإِذَا هُوَ لَيْسَ فِي بَيْتِهِ، فَلَمَّا رَأَتْهُ الْمَرْأَةُ قَالَتْ مَرْحَبًا وَأَهْلًا: فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" أَيْنَ فُلَانٌ؟" قَالَتْ: ذَهَبَ يَسْتَعْذِبُ لَنَا الْمَاءَ إِذْ جَاءَ الْأَنْصَارِيُّ فَنَظَرَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَاحِبَيْهِ ثُمَّ قَالَ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ مَا أَحَدٌ الْيَوْمَ أَكْرَمَ أَضْيَافًا مِنِّي، فَانْطَلَقَ فَجَاءَهُمْ بِعِذْقٍ فِيهِ بُسْرٌ وَتَمْرٌ وَرُطَبٌ فَقَالَ كُلُوا وَأَخَذَ الْمُدْيَةَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" إِيَّاكَ وَالْحَلُوبَ" فَذَبَحَ لَهُمْ فَأَكَلُوا مِنَ الشَّاةِ وَمِنْ ذٰلِكَ الْعِذْقِ وَشَرِبُوا، فَلَمَّا أَنْ شَبِعُوا وَرَوُوا قَالَ رَسُولُ اللهِ

٥٠٠- ابوهریره رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو وارے د شپې یا د ورځې په وخت د خپل کور نه بهر ته لاړو. نو بهر ئې ابوبکر او عمر رضی الله عنهما اولیدل. نو پوښتنه ئې ترے اوکړه چه دا سے وخت تاسو کوم څیز د خپلو کورونو نه په ویستلو مجبوره کړي یئ. نو هغوئ اوؤئیل. اولږے. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. په الله قسم زهٔ هم هغه څیز د کوره راویستلے یم. کوم چه ستاسو د راوتلو سبب دے. نو بس پاڅئ. نو دواړه پاڅیدل. او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم ورسره شو. دغه وخت د یو انصاری کور ته لاړل مګر هغه کور کښې موجود نهٔ وو. د هغهٔ ښځې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اولیدلو نو خوشحالۍ سره ئې بخیر راغلے او هرکلے اوؤئیلو بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم پوښتنه اوکړه. چه فلانکے چرته تلے دے. هغې اوؤئیل چه مونږ له د خوږو اوبو راوړلو دپاره تلے دے. دے وخت کښې هغه انصاری هم راغے. او کله چه ئې نبی کریم صلی الله علیه وسلم او ملګري هلته موجود اولیدل نو وې وئیل. الحمد لله. نن چه ماله کوم عزت مند میلمانهٔ راغلی دی. د دے نه ښهٔ میلمانهٔ به بل هیچا کره نهٔ وی. بیا انصاری د ننه لاړو. او د کجورو یوه غنچه ئې راوړه.

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاَبِيْ بَكْرٍ وَّعُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا : " وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَتُسْاَلُنَّ عَنْ هٰذَا النَّعِيْمِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَخْرَجَكُمْ مِنْ بُيُوْتِكُمُ الْجُوْعُ ثُمَّ لَمْ تَرْجِعُوْا حَتّٰى اَصَابَكُمْ هٰذَا النَّعِيْمُ " رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

چه هغې ښځې اونیم پوخته کجورې هم وې. او عرض ئې اوکړو، دا اوخورئ. او چاړه ئې واخسته اولاړه و. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل ګوره شودهٔ ورکونکې بیزه حلاله نهٔ کړې. دغه انصاری دَ هغوئ دپاره بیزه حلاله کړه. نبی کریم صلی الله علیه وسلم او ملګرو ئې ټولو دَ بیزې غوښه او کجورې اوخوړلې. او اوبهٔ ئې اوسکلې. کله چه بنهٔ ماړهٔ شول. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم یارانو ته مخاطب اوفرمائیل. په هغه ذات مې دِ قسم وی چه دَ هغهٔ په لاس کښې ځما ساه ده چه نن کوم نعمتونه موښږ اوخوړل دَ قیامت په ورځ به دَ دې نعمتونو په باره کښې هم ضرور پوښتنه کولې شی. او لږې خو تاسو دَ خپلو کورونو نه راویستلئ. او تراوسه پورې خپلو کورونو ته واپس نهٔ شوئ چه دا نعمتونه تاسو ته درکړې شو. (مسلم)

قَوْلُهَا "يَسْتَعْذِبُ" : اَيْ يَطْلُبُ الْمَآءَ الْعَذْبَ وَهُوَ الطَّيِّبُ : " وَالْعِذْقُ بِكَسْرِ الْعَيْنِ وَاِسْكَانِ الذَّالِ الْمُعْجَمَةِ وَهُوَ الْكِبَاسَةُ وَهِيَ الْغُصْنُ " .

وَالْمُدْيَةُ بِضَمِّ الْمِيْمِ وَكَسْرِهَا : هِيَ السِّكِّيْنُ " وَالْحَلُوْبُ " ذَاتُ اللَّبَنِ : وَالسُّؤَالُ عَنْ هٰذَا النَّعِيْمِ سُؤَالُ تَشْدِيْدِ النِّعَمِ لَا سُؤَالُ تَوْبِيْخٍ وَتَعْذِيْبٍ ، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ ، وَهٰذَا الْاَنْصَارِيُّ الَّذِيْ اَتَوْهُ هُوَ اَبُو الْهَيْثَمِ بْنُ التَّيِّهَانِ ، كَذَا جَآءَ مُبَيَّنًا فِيْ رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ وَغَيْرِهٖ !

"يَسْتَعْذِبُ": یعنی خوږې او پاکې اوبهٔ ئې طلب کولې.

"اَلْعِذْقُ": خاښ، غنچه او خوشه.

"وَالْمُدْيَةُ": چاړهٔ

"اَلْحَلُوْبُ": شودهٔ ورکونکې بیزه.

امام نووی رحمة الله علیه وائی. چه دَ نعمتونو پوښتنه کولو مطلب دا دې چه دَ نعمتونو شمار کښې به راوستلې شی. دَ سزا او دَ زورنې په طور به نهٔ وی. او دَ دې انصاری نوم ابوهیثم بن تیهان رضؓ دې.

ترمذی وغیره کښې په روایتونو کښې دا نوم ښکاره راغلې دې.

۵۰۱- وَعَنْ خَالِدِ بْنِ عُمَرَ الْعَدَوِيِّ قَالَ : خَطَبَنَا عُتْبَةُ بْنُ غَزْوَانَ وَكَانَ اَمِيْرًا عَلَى الْبَصْرَةِ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَاَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ : اَمَّا بَعْدُ فَاِنَّ الدُّنْيَا قَدْ اٰذَنَتْ بِصُرْمٍ وَوَلَّتْ خَذَّآءَ وَلَمْ يَبْقَ مِنْهَا اِلَّا صُبَابَةٌ كَصُبَابَةِ الْاِنَآءِ يَتَصَابُّهَا صَاحِبُهَا ، وَاِنَّكُمْ مُنْتَقِلُوْنَ مِنْهَا اِلٰى دَارٍ لَا زَوَالَ لَهَا فَانْتَقِلُوْا

۵۰۱- خالد بن عمرو العدوی رح وائی. چه دَ بصرې امیر عتبه بن غزوان رض یو وارې خطبه ورکوله. نو دَ ثنا صفت نه پس ئې اوفرمائیل. چه دُنیا دَ تعلق پریکولو اعلان کړې دې. او مخ اړولې تختیدلې ځی. او دَ هغې دومره لږه حصه پاتې شوه. څومره چه تالی او لوښی کښې لږ شان دَ اوبو څاڅکی پاتې شوې وی. نو اوس ئې دُنیا دار جمع کوی. نو تاسو داسې ځائې ته تلونکی

بِخَیْرِ مَا بِحَضْرَتِکُمْ فَاِنَّهٗ قَدْ ذُکِرَ لَنَا اَنَّ الْحَجَرَ یُلْقٰی مِنْ شَفِیْرِ جَهَنَّمَ[1] فَیَهْوِیْ فِیْهَا سَبْعِیْنَ عَامًا لَا یُدْرِکُ لَهَا قَعْرًا وَاللّٰهِ لَتُمْلَاَنَّ اَفَعَجِبْتُمْ ؟ وَلَقَدْ ذُکِرَ لَنَا اَنَّ مَا بَیْنَ مِصْرَاعَیْنِ[2] مِنْ مَصَارِیْعِ الْجَنَّةِ مَسِیْرَةُ اَرْبَعِیْنَ عَامًا وَلَیَاْتِیَنَّ عَلَیْهَا یَوْمٌ وَهُوَ کَظِیْظٌ مِنَ الزِّحَامِ وَلَقَدْ رَاَیْتُنِیْ، سَابِعَ سَبْعَةٍ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَا لَنَا طَعَامٌ اِلَّا وَرَقُ الشَّجَرِ حَتّٰی قَرِحَتْ اَشْدَاقُنَا فَالْتَقَطْتُ بُرْدَةً فَشَقَقْتُهَا بَیْنِیْ وَبَیْنَ سَعْدِ بْنِ مَالِكٍ فَاتَّزَرْتُ بِنِصْفِهَا وَاتَّزَرَ سَعْدٌ بِنِصْفِهَا فَاَصْبَحَ الْیَوْمَ مِنَّا اَحَدٌ اِلَّا اَصْبَحَ اَمِیْرًا عَلٰی مِصْرٍ مِّنَ الْاَمْصَارِ وَاِنِّیْ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَنْ اَکُوْنَ فِیْ نَفْسِیْ عَظِیْمًا وَّعِنْدَ اللّٰهِ صَغِیْرًا۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

یئ۔ کوم چه همیشه باقی پاتے کیدونکی دے بس تاسو دَ دے مکان بدلولو په وخت کښے خپل ځان سره نیکئ اوساتئ۔ مونږ آوریدلی دی۔ کهٔ دَجهنم دَغاړے نه لاندے یوه کټه اوغورځولے شی۔ نو اویا کاله به روانه وی او اوبه نهٔ رسی۔ او په الله قسم چه دا دومره ژور والے به ډکولے شی۔ آیا دا خبره تاسو ته نا آشنا ښکاری؟ مونږ ته خو دا هم ښودلے شوی دی۔ چه دَ جنت دَ دواړو درشلو ترمینځ دَخلو یښتو کالو په اندازه فراخی ده۔ لیکن یوه ورځ به دا هم اولیدلے شی۔ چه دَ خلقو دَ گڼړوالی په وجه به دا هم ډک کړے شی۔ ماخو هغه وخت هم لیدلے دے۔ چه اوُوکسانو کښے دَ نبی کریم، صلی الله علیه وسلم سره یو زهٔ هم داسے ووم۔ چه څمونږ خوراک به دَ ونو پاڼے وے۔ چه دَهغے په وجه څمونږ وښکی زخمی شوی وو۔ دَکپړو خو دا حال وو۔ چه ما ته یوڅادر ملاؤ شو۔ نو ما دوه ټکړے کړو۔ دَ یو نه ما لنگ اوتړلو او دویم م لنگ دپاره سعد بن مالک رض ته ورکړو۔ مګر نن مونږ کښے هیڅوک داسے نشته۔ چه چرته دَ یوے علاقے حاکم یا امیر نهٔ وی۔ او زهٔ په الله تعالیٰ سره دَ داسے حالت نه پناه غواړم۔ چه زهٔ خو په خپل نظر لوئے جوړ شوے یم۔ مګر دَ الله تعالیٰ په نزد ډیر ناکاره او سپک یم۔ (مسلم)

قَوْلُهٗ "اٰذَنَتْ" هُوَ بِمَدِّ الْاَلِفِ ! اَیْ اَعْلَمَتْ : وَقَوْلُهٗ "بِصُرْمٍ" هُوَ بِضَمِّ الصَّادِ : اَیْ بِانْقِطَاعِهَا وَفَنَائِهَا قَوْلُهٗ "وَلَّتْ حَذَّآءَ" هُوَ بِحَاءٍ مُهْمَلَةٍ مَفْتُوْحَةٍ ثُمَّ ذَالٍ مُعْجَمَةٍ مُشَدَّدَةٍ ثُمَّ اَلِفٍ مَمْدُوْدَةٍ : اَیْ سَرِیْعَةً : "وَالصُّبَابَةُ" بِضَمِّ الصَّادِ الْمُهْمَلَةِ - اَلْبَقِیَّةُ الْیَسِیْرَةُ وَقَوْلُهٗ "یَتَصَابُّهَا" هُوَ بِتَشْدِیْدِ الْبَآءِ قَبْلَ الْهَاءِ : اَیْ یَجْمَعُهَا "قَرِحَتْ" "وَالْکَظِیْظُ" اَلْکَثِیْرُ الْمُمْتَلِئُ : وَقَوْلُهٗ "قَرِحَتْ" هُوَ بِفَتْحِ الْقَافِ وَکَسْرِ الرَّآءِ اَیْ صَارَتْ فِیْهَا قُرُوْحٌ،

اٰذَنَتْ : یعنی اعلان کوی او ښائی۔

صُرْمٍ : فنا کیدل او ختمیدل۔

وَلَّتْ حَذَّآءَ : جلتئ او تیزئ سره واپس شو۔

صُبَابَةٌ : دَ خوراکے آخری پاتے شوے ویخ۔

یَتَصَابُّهَا : یعنی جمع کولوئے۔

اَلْکَظِیْظُ : ډیر ډک کړے شوے څیز۔

قَرِحَتْ : زخم پکښے اولګیدلو۔

٥٠٢. وَعَنْ اَبِیْ مُوْسٰی الْاَشْعَرِیِّ

٥٠٢- ابوموسیٰ اشعری رض وائی۔ چه

---

[1] "من شفیر جهنم": ای حرفها الاعلیٰ۔ وقوله صلی الله علیه وسلم "فیهوی" بکسر الواو: ای ینزل

[2] "مصراعین" بکسر المیم تثنیة مصراع ومصراع الباب ما بین عضادیه وهو ما یسده ان.

رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اَخْرَجَتْ لَنَا عَآئِشَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا كِسَآءً وَاِزَارًا غَلِيْظًا قَالَتْ: قُبِضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ هٰذَيْنِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ:

۵۰۳- وَعَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اِنِّيْ لَاَوَّلُ الْعَرَبِ رَمٰى بِسَهْمٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَقَدْ كُنَّا نَغْزُوْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَالَنَا طَعَامٌ اِلَّا وَرَقُ الْحُبْلَةِ وَهٰذَا السَّمُرُ حَتّٰى اِنْ كَانَ اَحَدُنَا لَيَضَعُ ـه كَمَا تَضَعُ الشَّاةُ مَالَهٗ خَلْطٌ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ:

"اَلْحُبْلَةُ" بِضَمِّ الْحَآءِ الْمُهْمَلَةِ وَاِسْكَانِ الْبَآءِ الْمُوَحَّدَةِ! وَهِيَ وَالسَّمُرُ نَوْعَانِ مَعْرُوْفَانِ مِنْ شَجَرِ الْبَادِيَةِ!

۵۰۴- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ رِزْقَ اٰلِ مُحَمَّدٍ قُوْتًا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ!!

قَالَ اَهْلُ اللُّغَةِ وَالْغَرِيْبِ مَعْنٰى "قُوْتًا" اَيْ مَا يَسُدُّ الرَّمَقَ!

۵۰۵. وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: وَاللّٰهِ الَّذِيْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اِنْ كُنْتُ لَاَعْتَمِدُ بِكَبِدِيْ عَلَى الْاَرْضِ مِنَ الْجُوْعِ، وَاِنْ كُنْتُ لَاَشُدُّ الْحَجَرَ عَلٰى بَطْنِيْ مِنَ الْجُوْعِ وَ لَقَدْ قَعَدْتُ يَوْمًا عَلٰى طَرِيْقِهِمُ الَّذِيْ يَخْرُجُوْنَ مِنْهُ فَمَرَّ بِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَبَسَّمَ حِيْنَ رَاٰنِيْ وَعَرَفَ مَا فِيْ وَجْهِيْ وَمَا فِيْ نَفْسِيْ ثُمَّ قَالَ "اَبَاهِرٍّ" قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! قَالَ "اِلْحَقْ"

حضرت عائشه رض موږ ته یو څادر او د یوې پیړې کپړې لنګ اوښودلو. او وې وئیل چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم هم دے کښے وفات شوے دے.

(بخاری ومسلم)

۵۰۳- سعد بن ابی وقاص رض وائی. چه عربو کښے د ټولو نه زۀ هغه اولنے کس یم کوم چه غشے م چلولے دے د الله په لاره کښے- او موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مشرئ کښے داسے حالت کښے جهاد کړے دے. چه خوراک دپاره بغیر د کیکر او د کرکنړو د پانړو نه هیڅ نهٔ ملاویدل. چه د هغے په وجه څموږ د څینے ملګرو نه به د بیزو د بچو پشان پریوتل چه خپل مینځ کښے یو ځائے هم نهٔ ؤو- (بخاری ومسلم)

"اَلْحُبْلَةُ" او "سَمُرَةٌ" دواړه مشهور ځنګلی بوټی دی.

یعنی کیکر او کرکنړه-

۵۰۴- ابوهریره رض نه روایت دے- چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اے الله: د محمد (صلی الله علیه وسلم) کوروالو ته د ضرورت مطابق روزی ورکړے. (بخاری ومسلم)

اهل لغت وائی چه "قُوْت" هغه رزق ته وائی چه اُولږه پرے ختمه شی-

۵۰۵- ابوهریره رضی الله عنه وائی- چه په هغه الله م د قسم وی چه د هغهٔ نه بغیر هیڅوک د عبادت لائق نشته- د اولږے نه څما دا حالت ؤو- چه کله به پړغے په زمکه سملاستم- او کله به م ګیډه پورے ګټے تړلے- یوه ورځ د ډیرے اولږے د وجے نه عامه لاره کښے کیناستم. کوم ځائے چه ډیر خلق تلل راتلل- دے کښے نبی کریم صلی الله علیه وسلم هم دغلته تیر شو- ما ته ئے چه او کتل نو مُسکے شو- څما په مخ چه کوم اثر ؤو- او څما زړهٔ کښے چه خبره وه په هغے نبی کریم صلی الله

ـه كناية عن الغائط وقوله: "كما تضع الشاة": اى من البعر !!

وَمَضٰى فَاتَّبَعْتُهٗ فَدَخَلَ فَاسْتَاذَنَ فَاَذِنَ لِيْ فَدَخَلْتُ فَوَجَدَ لَبَنًا فِيْ قَدَحٍ فَقَالَ: مِنْ اَيْنَ هٰذَا اللَّبَنُ" قَالُوْا اَهْدَاهُ لَكَ فُلَانٌ ـ اَوْ فُلَانَةٌ ـ قَالَ "اَبَا هِرٍّ" قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ: "اَلْحَقْ اِلٰى اَهْلِ الصُّفَّةِ فَادْعُهُمْ لِيْ، قَالَ وَاَهْلُ الصُّفَّةِ اَضْيَافُ الْاِسْلَامِ لَايَاْوُوْنَ عَلٰى اَهْلٍ وَلَامَالٍ وَلَاعَلٰى اَحَدٍ وَكَانَ اِذَا اَتَتْهُ صَدَقَةٌ بَعَثَ بِهَا اِلَيْهِمْ وَلَمْ يَتَنَاوَلْ مِنْهَا شَيْئًا وَاِذَا اَتَتْهُ هَدِيَّةٌ اَرْسَلَ اِلَيْهِمْ وَاَصَابَ مِنْهَا وَاَشْرَكَهُمْ فِيْهَا فَسَآءَنِيْ ذٰلِكَ فَقُلْتُ وَمَا هٰذَا اللَّبَنُ فِيْ اَهْلِ الصُّفَّةِ! كُنْتُ اَحَقُّ اَنْ اُصِيْبَ مِنْ هٰذَا اللَّبَنِ شَرْبَةً اَتَقَوّٰى بِهَا فَاِذَا جَآءُوْا وَاَمَرَنِيْ فَكُنْتُ اَنَا اُعْطِيْهِمْ وَمَا عَسٰٓى اَنْ يَبْلُغَنِيْ مِنْ هٰذَا اللَّبَنِ وَلَمْ يَكُنْ مِنْ طَاعَةِ اللّٰهِ وَطَاعَةِ رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُدٌّ فَاَتَيْتُهُمْ فَدَعَوْتُهُمْ وَاَقْبَلُوْا وَاسْتَاذَنُوْا فَاَذِنَ لَهُمْ وَاَخَذُوْا مَجَالِسَهُمْ مِنَ الْبَيْتِ. قَالَ: "اَبَاهِرٍّ" قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ: "خُذْ فَاَخَذْتُ الْقَدَحَ فَجَعَلْتُ اُعْطِيْهِ الرَّجُلَ فَيَشْرَبُ حَتّٰى يَرْوٰى ثُمَّ يَرُدُّ عَلَيَّ الْقَدَحَ فَاُعْطِيْهِ الْاٰخَرَ فَيَشْرَبُ حَتّٰى يَرْوٰى ثُمَّ يَرُدُّ عَلَيَّ الْقَدَحَ حَتّٰى انْتَهَيْتُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ رَوِيَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ فَاَخَذَ الْقَدَحَ فَوَضَعَهٗ عَلٰى يَدِهٖ فَنَظَرَ اِلَيَّ فَتَبَسَّمَ فَقَالَ: "اَبَاهِرٍّ" قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ

علیه وسلم پوهه شو. نو ما ته یې آواز اوکړو. اے ابوهریره! ما ورته اوویل حاضریم یارسول الله! نو یې فرمائیل چه ما پسې راځه. دا یې اوفرمائیل، روان شو. زه هم ورسره روان شوم. کورته یې اورسیدلو. نو خبر یې ورکړو او کورته دننه لاړو. او بیا یې زه هم دننه اوغوښتلم. زه دننه کورته لاړم. نو هلته م د پیو یوه ډکه پیاله اولیدله. چه د هغې پوښتنه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوکړه. چه دا شوده د کوم ځائے نه راغلی دی؟ نو کور والو یې اوویل چه دا فلانکی صیب یا فلانکۍ ستاسو دپاره تحفه رالیږلے ده. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، اے ابوهریره! ما اوویل هو حاضریم، یا رسول الله: نو وے فرمائیل، لاړشه او اصحاب صُفّه ته هم زما د طرف نه دعوت ورکړه. ابوهریره رضی الله عنه وائی. اهل صفه د اسلام میلمانه وو. د هغوئ نه کور وو او نه یې د ناستے ځائے وو. او نه یې مال وو. نه یې څه اسباب وو نه یې څوک دوستان وو. او نه یې داسے آشنایان وو چه هغوئ سره اوسیدلے وے. چه کله به نبی کریم صلی الله علیه وسلم له څه صدقه او خیرات چا راوړل نو هغوئ ته به یې لیږلو. او په خپله به یې ترے هیڅ نه خوړل او نه یې اخستل. او کله د تحفے په طور به چا څه څیز راوړلو نو پخپله به یې هم اخستلو خوړلو او هغوئ به یې پکښې هم شریک کړل. دغه ورځ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغوئ راوبلل. نو ما باندے بوج پریوتلو. او زړه کښې م سوچ اوکړو چه دا دومره لږ غونډے شوده به د اصحاب صفه دپاره څنګه کافی کیږی؟ او زیات حقدار یې زه ووم. چه لږه ساه م بدن کښې راغلے وے. او س به هغوئ راځی. او نبی کریم صلی الله علیه وسلم به ما ته وائی چه په نمبر وار یې په ټولو باندے

اللهِ! قَالَ: بَقِيْتُ اَنَا وَاَنْتَ، قُلْتُ: صَدَقْتَ يَارَسُوْلَ اللهِ، قَالَ: "اُقْعُدْ فَاشْرَبْ" فَقَعَدْتُ، فَشَرِبْتُ فَقَالَ: اِشْرَبْ فَشَرِبْتُ فَمَازَالَ يَقُوْلُ: اِشْرَبْ حَتّٰى قُلْتُ لَا وَالَّذِىْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا اَجِدُ لَهٗ مَسْلَكًا، قَالَ: "فَاَرِنِىْ" فَاَعْطَيْتُهُ الْقَدَحَ فَحَمِدَ اللهَ تَعَالٰى وَسَمّٰى وَشَرِبَ الْفَضْلَةَ. رَوَاهُ الْبُخَارِىُّ ؛

اوګرځوه - بیا شاید چه څما نمبر را تلو پورې هیڅ هم پاتې نشي. بس د الله او د رسول حکم دو. بغیر د منلو نه م خلاصے نه وُو. نو زهٔ هغوئ له لاړم او دعوت م ورکړو. او ځان سره م د هغوئ کور ته راوستل او د دننه تللو اجازت مو واخستلو د ننه لاړل خپل خپل ځائے باندے کینا ستل. نبی کریم صلی الله علیه وسلم ماته حکم راکړو. چه د پیو دا پیالئ را واخله. او دوئ باندے ئې اوڅکوه. نو ما اول کس ته پیالئ ورکړه. هغهٔ بسهٔ په مړه ګیډه اوڅکل. او پیالئ ئې ماته راکړه نو پیالئ به م بیا یو ته ورکوله او ځان به ئې بسهٔ موړ کړو. او پیالئ به ئې ماته واپس کړه. ما به دوئیم کس ته ورکړه. تردے چه ټول بسهٔ ماړهٔ خړوب شول. او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نمبر راغے. او پیالئ د هغوئ په لاس کښے وه. نو مُسکے شو او ماته ئې اوکتل او وئې فرمائیل. ابوهریره! اوس زهٔ او تهٔ دوه کسان پاتې شو. نو ما اووئیل بے شکه یارسول الله! نو ماته ئې اوفرمائیل اوس تهٔ کینه. او شودهٔ اوڅکه. نو زهٔ کینا ستم او سکل م شروع کړل. چه بس مے کړل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم راته اوفرمائیل، نور هم اوڅکه. ما نور هم اوڅکل د غه شان به ئې راته بیا بیا فرمائیل چه اوڅکه تردے چه ما اووئیل. یا رسول الله! په هغه ذات م دِ قسم دی. کوم ذات چه تهٔ په حقه (پیغمبر) رالیږلے ئې. نور م ګیډه کښے ځائے نشته. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. نو پیالئ ماله راوړه. ما پیالئ هغهٔ ته ورکړه. او د الله تعالیٰ شکر یې ئې اداء کړه. او بسم الله ئې اووئیله او هغه پاتې شوی شودهٔ هغوئ اوڅکل. (بخاری)

(د بخاری په روایت کښے نور هم نه پاتې شته. چه ابوهریره رض وائی. چه زهٔ به یوه عامه غټه لاره کښے کینا ستم. نو ړومبے ابوبکر رضی الله عنه هلته تیرید و. نو ما د هغهٔ نه د قرآن مجید د یو آیت په باره کښے پوښتنه اوکړه. او مقصد م دا وُو. چه څما طرفته توجه اوکړي. نو شاید چه څما د مخ نه څما د حالت اندازه اولګوی. او ما باندے خوراک اوخوروی چه موړ شم. مګر هغهٔ اندازه او نه لګوله شوه او لاړو. بیا عمر رض هلته تیرشو هغهٔ نه م هم د یو آیت پوښتنه اوکړه. او غرض م دا وُو چه څما د اولږے اندازه ورته اولګی او ما باندے خوراک اوخوروی. مګر د هغهٔ توجه او خیال هم د غه طرفته را نغلو. او په مخه لاړو. د ے نه پس نبی کریم صلی الله علیه وسلم هلته تیرشو. نو چه ماته ئې اوکتل نو مُسکے شو. څما د حالت نه خبر شو او خپل ځان سره ئې روان کړم. او کور ته ئې بوتلم.)

٥٠٦- وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيْرِيْنَ عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: لَقَدْ رَاَيْتُنِىْ وَاِنِّىْ لَاَخِرُّ[له] فِيْمَا بَيْنَ مِنْبَرِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

٥٠٦- محمد بن سیرین رح د ابوهریره رض نه نقل کوی. وائی چه زهٔ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د منبر او د عائشے رض د حجرے ترمینځ پروت وم. او په ما

[له] "لاخر" بكسر الخاء المعجمة . اى لاسقط ؛

وَسَلَّمَ اِلَى حُجْرَةِ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا مَغْشِيًّا عَلَيَّ فَيَجِيْءُ الْجَائِيْ فَيَضَعُ رِجْلَهٗ عَلٰى عُنُقِيْ وَيَرٰى اَنِّيْ مَجْنُوْنٌ وَّمَا بِيْ مِنْ جُنُوْنٍ مَا بِيْ اِلَّا الْجُوْعُ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛؛

به بې هوشي را تلله. چه څوک را تلونکے به را تلو نوزهٔ به ئے لیونے اوګڼلم او څما په څټ با ندے به ئے خپے سره زور ور کولو. حال دا دے چه په ما لیونتوب وغیره نه وُو. دا سے حالت به څما د اولږے د وجے نه وُو. (بخاری)

۵۰۷- وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: تُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدِرْعُهٗ مَرْهُوْنَةٌ عِنْدَ يَهُوْدِيٍّ فِيْ ثَلَاثِيْنَ صَاعًا مِّنْ شَعِيْرٍ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛؛

۵۰۷- حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی. چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د مرګ په وخت کښے د هغهٔ یوه زغره په دیرشو صاعو اوربشو کښے د یو یهودی سره ګانړه وه.

(بخاری ومسلم)

۵۰۸- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَهَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِرْعَهٗ بِشَعِيْرٍ وَّمَشَيْتُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخُبْزِ شَعِيْرٍ وَاِهَالَةٍ سَنِخَةٍ، وَلَقَدْ سَمِعْتُهٗ يَقُوْلُ مَا اَصْبَحَ لِاٰلِ مُحَمَّدٍ صَاعٌ وَّلَا اَمْسٰى وَاِنَّهُمْ لَتِسْعَةُ اَبْيَاتٍ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

"اَلْاِهَالَةُ" بِكَسْرِ الْهَمْزَةِ: الشَّحْمُ الذَّائِبُ: "وَالسَّنِخَةُ" بِالنُّوْنِ وَالْخَاءِ الْمُعْجَمَةِ، وَهِيَ الْمُتَغَيِّرَةُ ؛؛

۵۰۸- انس بن مالک رض وائی. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم خپله یوه زغره د یو یهودی سره اوربشو کښے ګانړه وه. او زهٔ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے د اوربشو د روټئ او معمولی شان وازګے سره حاضر شوم. راوی وائی. چه ما د انس رض نه دا سے آوریدلی دی. چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په نهٔ بیبیانو کښے او د نهٔ کورونو نه په یو کور کښے به هم صبا او بیګاه یو صاع غله هم نهٔ وه. (بخاری)

" اَلْاِهَالَةُ" یعنی ویلے کړے شوے وازګه.

"اَلسَّنِخَةُ" چه بدلی بکښے راغلے وی.

۵۰۹- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: لَقَدْ رَاَيْتُ سَبْعِيْنَ مِنْ اَهْلِ صُفَّةِ مَا مِنْهُمْ رَجُلٌ عَلَيْهِ رِدَآءٌ اِمَّا اِزَارٌ وَاِمَّا كِسَآءٌ قَدْ رَبَطُوْا فِيْ اَعْنَاقِهِمْ مِنْهَا مَا يَبْلُغُ نِصْفَ السَّاقَيْنِ وَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ الْكَعْبَيْنِ فَيَجْمَعُهٗ بِيَدِهٖ كَرَاهِيَةَ اَنْ تُرٰى عَوْرَتُهٗ، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛؛

۵۰۹- ابو هریره رض نه روایت دے. چه په اصحاب صُفّهٔ کښے م اویا صحابه دا سے لیدلی دی. چه هغوئ سره څادر نهٔ وُو. یو لنګ به وُو. یا به بله څهٔ کپړه وه چه خپله غاړه کښے به ئے تړلے وه. د ځینو د لنګونو اوږد والے به صرف نیمو لینګو پورے وُو. او د ځینو به د ګیټو پورے وُو. او هغه به ئے هم په لاسو نو کښے دواړه طرفونه نیولی وُو. چه پرده بنکاره نشی.

(بخاری)

۵۱۰- وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ فِرَاشُ رَسُوْلِ اللّٰهِ

۵۱۰- حضرت عائشه رض فرمائی. چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم بستره د

صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ اُدْمٍ [1] حَشْوُهُ لِيْفٌ رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ ؞

۵۱۱ - وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ : كُنَّا جُلُوْسًا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذْ جَآءَ رَجُلٌ مِنَ الْاَنْصَارِ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ ثُمَّ اَدْبَرَ الْاَنْصَارِیُّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَا اَخَا الْاَنْصَارِ كَيْفَ اَخِیْ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ ؟" فَقَالَ: صَالِحٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَنْ يَعُوْدُهُ مِنْكُمْ ؟" فَقَامَ وَقُمْنَا مَعَهُ وَنَحْنُ بِضْعَةَ عَشَرَ مَا عَلَيْنَا نِعَالٌ وَلَا خِفَافٌ وَلَا قَلَانِسُ وَ لَا قُمُصٌ نَمْشِیْ فِیْ تِلْكَ السِّبَاخِ حَتّٰی جِئْنَاهُ فَاسْتَأْخَرَ قَوْمُهُ مِنْ حَوْلِهٖ حَتّٰی دَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَصْحَابُهُ الَّذِيْنَ مَعَهُ ،

رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞

خرمنے وہ ـ چه هغے کښے دَ کهجورو پوستکی اچولے شوی وُو ـ (بخاری)

۵۱۱ - عبدالله بن عمر فاروق رضی الله عنهما نه روایت دے ـ چه مونږ دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مجلس کښے ناست وُو ـ چه یو انصاری رض راغے ـ او سلام ئے ورته اوکړو او لاړو ـ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغهٔ ته مخ راواړولو ـ او ورته ئے اوفرمائیل ـ اے انصاری وروره! ځما دَ ورور سعد بن عباده رض طبیعت اوس څنګه دے ؟ هغهٔ اووئیل لږ ښهٔ دے ـ بیا نبی علیه السلام اوفرمائیل ـ تاسو کښے کوم او څوک څوک دَ بیمارئ پوښتنے له تللو دپاره تیار دی؟ دائے اوفرمائیل او پاسید و ـ مونږ ټول ورسره پاسید و ـ تقریباً لس کسان وو ـ چه نهٔ ځمونږ څپلئ وے او نهٔ ټوپئ نهٔ موزے او نهٔ قمیصونه وو ـ داسے حالت کښے مونږ کاڼیجنه لاره باندے روان وُو ـ او هلته اورسید و ـ کوم کسان چه هغوئ سره ناست وو ـ ځمونږ لیدلو سره هغوئ ړے ته شول او نبی علیه السلام او دَ هغهٔ ملګری هغهٔ ته ورنزدے شول ـ

۵۱۲ - وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ الْحُصَيْنِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وسلم اَنَّهٗ قَالَ " خَيْرُكُمْ قَرْنِیْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ " قَالَ عِمْرَانُ: فَمَا اَدْرِیْ قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّتَيْنِ اَوْ ثَلَاثًا ثُمَّ يَكُوْنُ بَعْدَهُمْ قَوْمٌ يَشْهَدُوْنَ وَ لَا يُسْتَشْهَدُوْنَ وَ يَخُوْنُوْنَ وَلَا يُؤْتَمَنُوْنَ وَيَنْذِرُوْنَ وَلَا يُوْفُوْنَ وَيَظْهَرُ فِيْهِمُ السِّمَنُ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ !!

۵۱۲ - عمران بن حصین رض نه روایت دے ـ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ـ ځما په زمانه کښے چه ستاسو نه څوک موجود دی ـ هغهٔ ډیر ښهٔ خلق دی ـ بیا به هغه خلق ښهٔ وی ـ کوم چه دَ دے موجوده خلقو نه پس وی او بیا هغه چه دَ هغوئ نه پس وی ـ راوی وائی چه ماته دا یاد نهٔ دی چه دا کلمه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دوه وارے اووئیله ـ یا درے وارے ـ (دے نه پس ئے اوفرمائیل) بیا به دَ دے نه پس داسے خلق وی ـ چه دَ غوښتلو نه بغیر به دَ خپل اړخ نه ګواهی ورکوی ـ رغبت او شوق سره به دَ دروغو ګواهی ورکوی ـ امانت کښے به خیانت کوی ـ او منغتے به کوی او پوره کوی به ئے نهٔ

---

[1] "انی مجنون" ای دتلك عادتهم بالمجنون حتی یصیق ۔ [2] "الدرع" بکسر الدال المهملة ما یلبس فی الحرب"۔

او هغوئ کښے به چاق والے ښکاره کیږی۔ (بخاری ومسلم)

۵۱۳- وَعَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: یَا ابْنَ اٰدَمَ اِنَّكَ اِنْ تَبْذُلِ الْفَضْلَ خَیْرٌ لَّكَ وَ اِنْ تُمْسِكْهُ شَرٌّ لَّكَ، وَلَا تُلَامُ عَلٰی كَفَافٍ وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُوْلُ[1] رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ حَدِیْثٌ حَسَنٌ صَحِیْحٌ ؛

۵۱۳- ابوامامه رض نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اے د آدم (علیه السلام) ځویه! که ته د ضرورت نه زیات خیز (د الله په لار کښے) خرچ کړے۔ نو دا ستا دپاره ډیر ښه دی۔ او که دا اوساتے نو ستا دپاره د فساد او د شر سبب جوړیدے شی۔ او د ضرورت خیز ساتلو باندے ته ملامته نه ئے۔ او خرچ شروع د اهل وعیال نه کوه۔ (ترمذی) وائی دا حدیث حسن دے۔

۵۱۴- وَعَنْ عُبَیْدِ اللّٰهِ بْنِ مُحْصِنٍ الْاَنْصَارِیِّ الْخَطْمِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ اَصْبَحَ مِنْكُمْ اٰمِنًا فِیْ سِرْبِهٖ مُعَافًی فِیْ جَسَدِهٖ عِنْدَهٗ قُوْتُ یَوْمِهٖ فَكَاَنَّمَا حِیْزَتْ لَهُ الدُّنْیَا بِحَذَافِیْرِهَا"[2] رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَ قَالَ حَدِیْثٌ حَسَنٌ !

۵۱۴- عبدالله بن محصن انصاری خطمی رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ کوم کس چه داسے حالت کښے صبا کړی، چه د جان خطره ئے نه وی۔ او په بدن هم روغ وی۔ او د ټولے ورځے د ضرورت خوراک هم ورسره وی۔ نو ګویا که د دُنیا پوره عیش او د ژوندون ټول نعمتونه د هٔ ته حاصل دی۔ (ترمذی)

او وائی چه دا حدیث حسن دے۔

"سِرْبِهٖ" بِكَسْرِ السِّیْنِ الْمُهْمَلَةِ: اَیْ نَفْسِهٖ، وَقِیْلَ قَوْمِهٖ ؛

سِرْبِهٖ: یعنی ځان، خاندان یا قوم۔

۵۱۵- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "قَدْ اَفْلَحَ مَنْ اَسْلَمَ وَكَانَ رِزْقُهٗ كَفَافًا وَقَنَّعَهُ اللّٰهُ بِمَا اٰتَاهُ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۵۱۵- عبد الله بن عمرو بن عاص رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه هغه کس ډیر خوش قسمته دے۔ چه اسلام ئے راوړو۔ او د ضرورت مطابق ورته روزی ملاؤ شوه۔ او کوم رزق چه الله ورکړو په هغے باندے ئے قناعت کونکے جوړ کړو۔ (مسلم)

۵۱۶- وَعَنْ اَبِیْ مُحَمَّدٍ فَضَالَةَ بْنِ عُبَیْدٍ اَنْصَارِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ: "طُوْبٰی لِمَنْ هُدِیَ لِلْاِسْلَامِ وَكَانَ عَیْشُهٗ كَفَافًا وَقَنِعَ" رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ۔ وَقَالَ: حَدِیْثٌ حَسَنٌ صَحِیْحٌ ؛

۵۱۶- ابو محمد فضاله بن عبید انصاری رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه هغوئ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیل اوریدلی دی چه خوش نصیبه هغه سړے دے۔ چه د اسلام راوړلو توفیق ورته ملاؤ شی۔ د ضرورت مطابق ورته سامان ورکړے شی، او قناعت ئے پرے نصیب شی۔ (ترمذی)

---

[1] "بمن تعول": ای بحق الذی تعوله وتمونه من زوجة او اصل او فرع محتاج او خادم.

[2] "بحذافیرها" ای فکانما اعطی الدنیا باسرها ؛

٥١٧ - وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبِيْتُ اللَّيَالِيَ الْمُتَتَابِعَةَ طَاوِيًا وَاَهْلُهُ لَا يَجِدُوْنَ عَشَاءً وَكَانَ اَكْثَرُ خُبْزِهِمْ خُبْزَ الشَّعِيْرِ- رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

٥١٧ - عبد الله بن عباس رضى الله عنهما نه روايت دے - چه رسول الله صلى الله عليه وسلم او دَ هغهٔ كوروالؤ ته دَ شپے دَ خوراك دپاره هيڅ نهٔ ملاويدل. او دَ غسے حالت كښے څو څو شپے به اولږه تيرے شوے - اوعام خوراك به دَ اوربشو روټئ وه-

(ترمذى)

٥١٨ - وَعَنْ فُضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا صَلّٰى بِالنَّاسِ يَخِرُّ[1] رِجَالٌ مِّنْ قَامَتِهِمْ فِي الصَّلٰوةِ مِنَ الْخَصَاصَةِ - وَهُمْ اَصْحَابُ الصُّفَّةِ حَتّٰى يَقُوْلُ الْاَعْرَابُ: هٰؤُلَآءِ مَجَانِيْنُ فَاِذَا صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ اِلَيْهِمْ فَقَالَ: "لَوْتَعْلَمُوْنَ مَالَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ تَعَالٰى لَاَحْبَبْتُمْ اَنْ تَزْدَادُوْا فَاقَةً وَحَاجَةً" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ ؛

"اَلْخَصَاصَةُ: اَلْفَاقَةُ وَالْجُوْعُ الشَّدِيْدُ ؛

٥١٨ - فضاله بن عبيد رضى الله عنهٔ نه روايت دے - چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به كله خپلو ملګرو ته مونځ وركولو - نو بعضے مقتد يان به ئے دَ اُولږے دَ سختئ دَ وجهے نه پريوتل- اودا به اكثر اصحاب صفه وو- او دَ بانډو والا خلقو به ورته ليونى وئيل- كله به چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم دَ مانځهٔ نه فارغ شو- نو دے خلقو ته به ئے مخ اوګرځولو اوهغوئ ته به ئے فرمائيل چه الله تعالىٰ سره ستاسو دپاره چه كوم اجر اوثواب دے. كهٔ تا سو ته پته اولګى نو تاسو به دا خواهش اوكړئ چه ستاسو اولږه او غريبى نوره هم زياته شى. (ترمذى)

اَلْخَصَاصَةُ: يعنى سخته اولږه او سخته غريبى.

اصحاب صفه رضوان الله عليهم دَ الله تعالىٰ هغه پاك دامن او انتهائى قناعت او پرهيزګارئ والا بندګان وو. چه دَ هغوئ نا سته پاسته او اوسيدل دَ مسجد نبوى په يوه چونتره باندے وو. نه دَ هغوئ كورونه وو. نه ئے دَ مال او اسبابو سره څهٔ تعلق وو- په الله تعالىٰ باندے دَ هغوئ مكمل او پوره يقين وو- شپه او ورځ دَ الله تعالىٰ دَ حكمونو حاصلول دَ هغوئ دَ ژوند وظيفه او ذمه وارى وه. چه دَ مسلمانانو دَ طرف نه به چرته صدقات خيرات راغلهٔ. نو هم دغه ئے دَ ژوند تيرولو ذريعه وه. او په دے باندے به ئے وخت تيرولو. او ګزاره به ئے كوله - اوعام طور به اوُ يا كسان وو- كله به كم شول - او كله به زيات شول - دا جماعت صرف دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم دَ خادمانو نوكرانو وو-

٥١٩ - وَعَنْ اَبِيْ كَرِيْمَةَ الْمِقْدَادِ بْنِ مَعْدِيْكَرِبَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

٥١٩ - ابوكريمه مقداد بن معديكرب رضى الله عنه وائى. چه ما دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم نه داسے فرمائيلى آوريدلى دى. چه انسان دپاره دَ خپلے

---

[1] "يخر رجال" بكسر الخاء المعجمة: اى يسقط رجال ؛

وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَا مَلَأَ آدَمِيٌّ وِعَاءً شَرًّا مِنْ بَطْنٍ بِحَسْبِ ابْنِ آدَمَ ﻟﻪ أُكُلَاتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهُ فَإِنْ كَانَ لَا مُحَالَةَ فَثُلُثٌ لِطَعَامِهِ وَثُلُثٌ لِشَرَابِهِ وَثُلُثٌ لِنَفْسِهِ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيثٌ حَسَنٌ :

"أُكُلَاتٌ": أَيْ لُقَمٌ.

٥٢٠ - وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ إِيَاسِ بْنِ ثَعْلَبَةَ الْأَنْصَارِيِّ الْحَارِثِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ ذَكَرَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا عِنْدَهُ الدُّنْيَا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلَا تَسْمَعُونَ؟ أَلَا تَسْمَعُونَ؟ إِنَّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الْإِيمَانِ، إِنَّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الْإِيمَانِ" "يَعْنِي" التَّقَحُّلَ: رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

"اَلْبَذَاذَةُ" بِالْبَاءِ الْمُوَحَّدَةِ وَالذَّالَيْنِ الْمُعْجَمَتَيْنِ. وَهِيَ رَثَاثَةُ الْهَيْئَةِ وَتَرْكُ فَاخِرِ اللِّبَاسِ وَأَمَّا "التَّقَحُّلُ" فَبِالْقَافِ وَالْحَاءِ: قَالَ أَهْلُ اللُّغَةِ: الْمُتَقَحِّلُ هُوَ الرَّجُلُ الْيَابِسُ الْجِلْدِ مِنْ خُشُونَةِ الْعَيْشِ وَتَرْكِ التَّرَفُّهِ!

٥٢١ - وَعَنْ أَبِي عَبْدِ اللهِ بْنِ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَّرَ عَلَيْنَا أَبَا عُبَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نَتَلَقَّى عِيرًا لِقُرَيْشٍ وَزَوَّدَنَا جِرَابًا مِنْ تَمْرٍ لَمْ يَجِدْ لَنَا غَيْرَهُ فَكَانَ أَبُوعُبَيْدَةَ يُعْطِينَا تَمْرَةً تَمْرَةً فَقِيلَ: كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ بِهَا"؟ قَالَ: نَمُصُّهَا كَمَا

ګيډې ډکولو نه خراب لوښے بل نشته. انسان دپاره خو يو څو نمړئ بس دی. چه ملا ئے پرې نيغه وی - اوکه ګيډه ډکول وی. نو بيائے درې حصے کړی - يوه حصه دَ خوراک دپاره، يوه دَ اوبو دپاره او يوه دَ ساه اخستلو دپاره -

(ترمذی)

أُكُلَاتٌ: نمړئ.

٥٢٠ - ابوامامه اياس بن ثعلبه انصاری حارثی رضی الله عنه وائی - چه دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم ملګرو دَ هغوئ په وړاندے دَ دُنيا څه ذکر اوکړو - نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل - واورئ! خبردار! سادګی خيراو ايمان دے. سادګی خير او ايمان دے - ساده توب او شړل توب دَ ايمان نښه ده.

(ابوداؤد)

اَلْبَذَاذَةُ: قيمتی او دَ نخر او دَ غرور لباس او جامه پريښودل او سادګی اختيارول.

اَلتَّقَحُّلُ: اهل لغت وائی چه متقحل هغه سړی ته وائی - چه تنګئ سره وخت تيروی او دَ سادګئ دَ وجهے نه ئے څرمن اوچه او سپيره وی. (يعنی شړل وی) -

٥٢١ - ابوعبد الله جابر بن عبد الله رضی الله عنهما وائی - چه دَ ابوعبيده رضی الله عنه په مشرئ کښے مونږ رسول الله صلی الله عليه وسلم دَ قريشو دَ يوے قافلے دَ ملاقات دپاره ناڅاپه روان کړو - نو دَ لارے دَ ګزارے خوراک دپاره ئے دَ کجورو دَ يوے تهيلئ نه بغير هيڅ رانه کړل. ابوعبيده رضی الله عنه به مونږ ته دَ خوراک دپاره يوه کجوره راکوله. چا پوښتنه اوکړه. چه په يوه کجوره به تاسو څنګه ګزاره کوله؟ نو هغوئ ورته اوونيل

ﻟﻪ بحسب ابن ادم [illegible] ذلك لسد الرمق

يَمُصُّ الصَّبِيُّ ثُمَّ نَشْرَبُ عَلَيْهَا مِنَ الْمَآءِ فَتَكْفِيْنَا يَوْمَنَا اِلَى اللَّيْلِ وَكُنَّا نَضْرِبُ بِعِصِيِّنَا الْخَبَطَ ثُمَّ نَبُلُّهُ بِالْمَآءِ فَنَاكُلُهُ، قَالَ وَانْطَلَقْنَا عَلٰى سَاحِلِ الْبَحْرِ فَرُفِعَ لَنَا عَلٰى سَاحِلِ الْبَحْرِ كَهَيْئَةِ الْكَثِيْبِ الضَّخْمِ فَاَتَيْنَاهُ فَاِذَا هِيَ دَآبَّةٌ تُدْعَى الْعَنْبَرَ فَقَالَ اَبُوْعُبَيْدَةَ مَيْتَةٌ ثُمَّ قَالَ لَا بَلْ نَحْنُ رُسُلُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَدِ اضْطُرِرْتُمْ فَكُلُوْا فَاَقَمْنَا عَلَيْهِ شَهْرًا وَنَحْنُ ثَلَاثُمِائَةٍ حَتّٰى سَمِنَّا، وَلَقَدْ رَاَيْتُنَا تَعْتَرِفُ مِنْ وَقْبِ عَيْنِهٖ بِالْقِلَالِ الدُّهْنَ وَنَقْطَعُ مِنْهُ الْفِدَرَ كَالثَّوْرِ اَوْ كَقَدْرِ الثَّوْرِ وَلَقَدْ اَخَذَ مِنَّا اَبُوْعُبَيْدَةَ ثَلَاثَةَ عَشَرَ رَجُلًا فَاَقْعَدَهُمْ فِيْ وَقْبِ عَيْنِهٖ وَاَخَذَ ضِلَعًا مِنْ اَضْلَاعِهٖ فَاَقَامَهَا ثُمَّ رَحَلَ اَعْظَمَ بَعِيْرٍ مَعَنَا فَمَرَّ مِنْ تَحْتِهَا وَتَزَوَّدْنَا مِنْ لَحْمِهٖ وَشَائِقَ، فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِيْنَةَ اَتَيْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْنَا ذٰلِكَ لَهٗ، فَقَالَ "هُوَ رِزْقٌ اَخْرَجَهُ اللّٰهُ لَكُمْ فَهَلْ مَعَكُمْ مِنْ لَحْمِهٖ شَيْءٌ فَتُطْعِمُوْنَا؟ فَاَرْسَلْنَا اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُ فَاَكَلَهٗ: رَوَاهُ مُسْلِمٌ ∴

چه دَ ماشومانو پشان به مونږ کجورے چوپلے. او پاسه به مو پرے اوبهٔ سکلے. چه شپے بورے به پرے گزاره تیریدله- دے سره سره به مونږ په خپلو امساگانو دَ ونو پانړے وهلے او اوبو کښے به مونږ خوشتے کړے. او بیا به مو خوړلے. دغسے به مونږ کول چه دَ سمندر غاړے ته اورسیدلو. هلته دَ سمندر په غاړه مونږ دَ تښگے دَ پوے غونډئ غونته یوڅیز اولیدلو- مونږ هغې ته نزدے لاړو نو مونږ اولیدل چه یو ډیر غټ کب (مهے) وو- چه هغې ته عنبر وئیلے شی- نو ابوعبیده رض اوفرمائیل دا مردار دے- بیائے اوفرمائیل نه- بلکه مونږ دَ الله دَ رسول نمائندگان دَ الله په لاره کښے وتلی یو او تاسو دَ مجبورئ په حالت کښے یئ- نو دا اوخورئ- دے نه پس مونږ هلته یوه میاشت پاتے شو. او مونږ درے سوه کسان وو- او مکمل یوه میاشت مونږ هغه خوړلو- او غټے غټے ټوټے مو ترے جوړے کړے. مونږ اولیدل چه دَ هغه ماهی دَ سترگو دَ خالی ډوغل نه به مو دَ تیلو منگونه ډکول- او دَ غوائی دَ غوښے دَ غټو ډکرو غوند ټوټے یا دَ غوا غوائی دَ بدن هومره ټکړے به مو کټ کولے. او جُدا به مو کیخودلے. یو وارے ابوعبیده رض مونږ دیارلس کسان دَ هغه سترگے په ډوغل کښے کینولو او دَ هغې مهی دَ پښتو نه ئے یوه پښتئ ویستلو (دَ محراب غونډې ئے اودردله- او محراب ئے ترے جوړ کړو- مونږ سره چه کوم اوښان وو- په هغې کښے ئے دَ ټولو نه اوچت اوښ روان کړو او په هغهٔ ئے کجاوه او تړله. او دَ هغه پښتئ نه ئے تیر کړو- نو په آسانئ سره ترے وروتلو- چه واپس تللو، نو ویشیدلے شوے ټکړے دَ هغه ماهی مونږ دَ لارے دَ خوراک دپاره ځان سره واخستلے کله چه مدینے ته اورسیدلو- نو دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شو- او دَ هغه مهی په باره کښے ورته مونږ ذکر اوکړو- نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه هغه ستاسو روزی وه چه دَ هغې انتظام الله تعالیٰ ستا دپاره کړے وو- (او وے فرمائیل چه) که تاسو څهٔ ترے ځان سره راوړی وی- نو مونږ با ندے ئے هم اوخورئ- نو څهٔ غوښه هغوئ ته هم اولیږلے شوه- چه هغوئ هم اوخوړله- (مسلم)

دَ الفاظو تشریح

"اَلْجَرَابُ": وِعَاءٌ مِّنْ جِلْدٍ مَعْرُوْفٌ، وَهُوَ بِكَسْرِ الْجِيْمِ وَفَتْحِهَا، وَالْكَسْرُ اَفْصَحُ - قَوْلُهٗ "نَمُصُّهَا" بِفَتْحِ النُّوْنِ وَضَمِّ الْمِيْمِ "وَالْخَبَطُ" وَرَقُ شَجَرٍ مَعْرُوْفٍ تَاكُلُهُ الْاِبِلُ "وَالْكَثِيْبُ" التَّلُّ مِنَ الرَّمْلِ وَالْوَقْبُ" بِفَتْحِ الْوَاوِ وَاِسْكَانِ الْقَافِ وَبَعْدَهَا بَاءٌ مُوَحَّدَةٌ وَهُوَ نُقْرَةُ الْعَيْنِ - "وَالْقِلَالُ الْجِرَارُ" وَالْفِدَرُ" بِكَسْرِ الْفَاءِ وَفَتْحِ الدَّالِ اَلْقِطَعُ "رَحَلَ الْبَعِيْرَ" بِتَخْفِيْفِ الْحَاءِ! اَیْ جَعَلَ عَلَيْهِ الرَّحْلَ:

"اَلْوَشَائِقُ" بِالشِّيْنِ الْمُعْجَمَةِ وَ الْقَافِ: اَللَّحْمُ الَّذِیْ اقْتُطِعَ لِيُقَدَّرَ مِنْهُ، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ ؛

جراب: زبراو زیر دواړه صحیح دی. مګر صحیح او مشهور زیر سره دے. د خرمنے لوښے.

نَمُصُّهَا: مونږ چو پلے.

خَبَطُ: یو مشهور بوټے دے چه اوښان ئے خوری.

کَثِيْبُ: دَ شګے ډیرئ یا غونډئ.

وَقْبُ: دَ ګهاټی نه بغیر دَ سترګے خالی ډوغل.

قِلَالُ: مشکیزه.

فِدَرُ: ټکړے. ټوټے. ډکرے.

رَحَلُ الْبَعِيْرِ: پر اوښ تړلے شوے کجاوه.

وَشَائِقُ: هغه ټکړے دَ غوښے چه دَ پخولو دپاره کټ کړے شوی وی.

۵۲۲- وَعَنْ اَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ كُمُّ قَمِيْصِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَى الرُّسْغِ، رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ، وَالتِّرْمِذِیُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ ؛

"اَلرُّصْغُ" بِالصَّادِ وَالرُّسْغُ بِالسِّيْنِ اَيْضًا: هُوَ الْفَصْلُ بَيْنَ الْكَفِّ وَ السَّاعِدِ ؛

۵۲۲- اسماء بنت یزید رضی الله عنها وائی. چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ قمیص لستونړی به مړوندونو پورے وو. (ابوداؤد و ترمذی)

ترمذی رحمة الله علیه وائی چه دا حدیث حسن دے.

"رُصْغٌ" او "رُسْغٌ" دواړه صحیح دی. دَ تلی او دَ مړوند مینځ کښے هډوکی ته وائی.

۵۲۳- وَعَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اِنَّا كُنَّا يَوْمَ الْخَنْدَقِ نَحْفِرُ فَعَرَضَتْ كُدْيَةٌ شَدِيْدَةٌ فَجَاءُوْا اِلَى النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا هٰذِهٖ كُدْيَةٌ عَرَضَتْ فِی الْخَنْدَقِ فَقَالَ: "اَنَا نَازِلٌ" ثُمَّ قَامَ وَبَطْنُهٗ مَعْصُوْبٌ بِحَجَرٍ وَلَبِثْنَا ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ لَا نَذُوْقُ ذَوَاقًا[1] فَاَخَذَ النَّبِیُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

۵۲۳- جابر رضی الله عنه وائی. چه غزوهٔ خندق کښے مونږ خندق (کنده، ډوغل) اوکنستلو. نو یو سخت ګټ پکښے رااووتلو. صحابه رضی الله عنهم راغلل. او عرض ئے اوکړو. یا رسول الله! یو غټ ګټ ځائے بند کړے دے ماتیږی نهٔ. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. زهٔ درځم. بیا پاسید د نوګیډے پورے ئے کانړی تړلی وو. دغه وخت دا حالت وو. چه مونږ دَ دریو ورځو نه هیڅ خوړلی څکلی هم نهٔ ؤو. نبی کریم صلی الله علیه

---

[1] "لا نذوق ذواقا" بفتح الذال المعجمه. ای لا نطعم فیها

الْمِحْوَلَ فَضَرَبَ فَعَادَ كَثِيبًا أَهْيَلَ
أَوْ أَهْيَمَ، فَقُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ
ائْذَنْ لِيْ إِلَى الْبَيْتِ فَقُلْتُ لِامْرَأَتِيْ
رَأَيْتُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
شَيْئًا مَا فِيْ ذٰلِكَ صَبْرٌ فَعِنْدَكِ شَيْءٌ
فَقَالَتْ : عِنْدِيْ شَعِيْرٌ وَعَنَاقٌ له
فَذَبَحْتُ الْعَنَاقَ وَطَحَنْتُ الشَّعِيْرَ
حَتّٰى جَعَلْنَا اللَّحْمَ فِي الْبُرْمَةِ ثُمَّ
جِئْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ
الْعَجِيْنُ قَدِ انْكَسَرَ ٢ه وَالْبُرْمَةُ
بَيْنَ الْأَثَافِيِّ قَدْ كَادَتْ ٣ه تَنْضَجُ
فَقُلْتُ : طُعَيْمٌ لِيْ فَقُمْ أَنْتَ يَا رَسُوْلَ
اللهِ ! وَرَجُلٌ أَوْ رَجُلَانِ، قَالَ كَمْ
هُوَ ؟ فَذَكَرْتُ لَهٗ فَقَالَ "كَثِيْرٌ طَيِّبٌ
قُلْ لَهَا لَا تَنْزِعُ الْبُرْمَةَ وَلَا الْخُبْزَ مِنَ
التَّنُّوْرِ ٤ه حَتّٰى آتِيَ " فَقَالَ : "قُوْمُوْا"
فَقَامَ الْمُهَاجِرُوْنَ وَالْأَنْصَارُ فَدَخَلْتُ
عَلَيْهَا فَقُلْتُ : وَيْحَكِ ٥ه قَدْ جَاءَ
النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُهَاجِرُوْنَ
وَالْأَنْصَارُ وَمَنْ مَعَهُمْ قَالَتْ : هَلْ
سَأَلَكَ ؟ قُلْتُ نَعَمْ ٦ه قَالَ : "اُدْخُلُوْا
وَلَا تَضَاغَطُوْا فَجَعَلَ يَكْسِرُ الْخُبْزَ وَ
يَجْعَلُ عَلَيْهِ اللَّحْمَ وَيُخَمِّرُ الْبُرْمَةَ
وَالتَّنُّوْرَ ٧ه إِذَا أَخَذَ مِنْهُ وَيُقَرِّبُ
إِلٰى أَصْحَابِهٖ ثُمَّ يَنْزِعُ فَلَمْ يَزَلْ
يَكْسِرُ وَيَغْرِفُ حَتّٰى شَبِعُوْا وَبَقِيَ
مِنْهُ فَقَالَ كُلِيْ هٰذَا وَأَهْدِيْ فَإِنَّ النَّاسَ
أَصَابَتْهُمْ مَجَاعَةٌ : مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِيْ

وسلم پلک (کودالہ) واخستلو او کته ئے
یو وار اووهله. هغه ټکړے ټکړے شوه.
دَ شګے یا خاورے غوندے ریزه ریزه. نو ما
عرض اوکړو. یا رسول الله ! زهٔ لږ کور
پورے ځم، اجازت غواړم. چه کور ته
اورسیدم نو ښځے ته م اووئیل. چه ما نبی
کریم صلی الله علیه وسلم په داسے حالت
کښے لیدلے دے، چه دَ صبر او برداشت نه
بهر ده. کور کښے دَ خوراک څهٔ شته ؟
هغے اووئیل، لږے اوربشے شته. او دَ بیزے
یو بچے هم شته. ما دَ بیزے بچے حلال کړو
او اوربشے م هم اوړهٔ کړے. غوښه م
برابره کړه. او کټوئ کښے دَ پخلی دپاره
م کیخودله. کله چه اوړهٔ دَ پخلی قابل
شو. او کټوئ هم پخیدو ته نزدے وه.
نو دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په
خدمت کښے حاضر شوم. او عرض م اوکړو
یا رسول الله! ما لږ غوندے خوراک تیار
کړے دے. تاسو او یو کس دوه نور هم ما سره
لاړ شئ. نبی کریم صلی الله علیه وسلم
اوفرمائیل. چه څومره خوراکه به وی؟ ما
ورته اندازه اوښودله. نو وے فرمائیل.
ډیره ده. او عمده هم ده. بیا لاړ شه
بی بی ته دِ اووایه. تر څو پورے چه زهٔ نهٔ
یم درغلے دَ کټوئ نه ترکاری مهٔ راخله.
او دَ تنور نه روټئ مهٔ راخله. بیا
نبی کریم صلی الله علیه وسلم ټولو ته دعوت
ورکړو. نو ټول انصار او مهاجر پاسیدل.
ما خپلے بی بی ته اووئیل چه الله دِ خیر کړی.
چه ټول انصار او مهاجر دَ نبی علیه السلام
سره خوراک له راروان دی. بی بی ورته
اووئیل چه تا نه نبی علیه السلام دَ
خوراک په باره کښے پوښتنه کړے وه.
ما اووئیل هو. خو نبی علیه السلام ټولو

له "العناق" بفتح العين المهملة و تخفيف النون : الانثى من المعز ٢ه "قد انكسر" اى كان ورطب وتمكن منه الخبز ٣ه "قد كادت" اى قاربت "تنضج" بفتح الفوقية والصاد اى تدرك الاستواء ؛ ٤ه "التنور" بفتح الفوقية وتشديد النون : هوالذى يخبز فيه ٥ه "ويحك" بفتح الواو و سكون التحتية : كلمة رحمة ٦ه "نعم" و فى رواية : فقالت : والله ورسوله اعلم نحن قد اعلمنا وماعندنا فكشف عنا غما شديدا ٧ه ويخمر البرمة والتنور : اى يغطيهما ويمر التخمير ؛

رِوَايَةٍ قَالَ جَابِرٌ لَمَّا حُفِرَ الْخَنْدَقُ رَأَيْتُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمَصًا فَانْكَفَأْتُ إِلٰى امْرَأَتِيْ فَقُلْتُ: هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ فَإِنِّيْ رَأَيْتُ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمَصًا شَدِيْدًا فَأَخْرَجَتْ إِلَيَّ جِرَابًا فِيْهِ صَاعٌ مِّنْ شَعِيْرٍ وَلَنَا بُهَيْمَةٌ دَاجِنٌ فَذَبَحْتُهَا وَطَحَنَتِ الشَّعِيْرَ فَفَرَغَتْ إِلٰى فَرَاغِيْ وَقَطَّعْتُهَا فِيْ بُرْمَتِهَا ثُمَّ وَلَّيْتُ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: لَا تَفْضَحْنِيْ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ مَعَهُ، فَجِئْتُ فَسَارَرْتُهُ فَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! ذَبَحْنَا بُهَيْمَةً لَنَا وَطَحَنْتُ صَاعًا مِّنْ شَعِيْرٍ فَتَعَالَ أَنْتَ وَنَفَرٌ مَّعَكَ فَصَاحَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا أَهْلَ الْخَنْدَقِ إِنَّ جَابِرًا قَدْ صَنَعَ سُوْرًا فَحَيَّهَلًا بِكُمْ" فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُنْزِلُنَّ بُرْمَتَكُمْ وَلَا تَخْبِزُنَّ عَجِيْنَكُمْ حَتّٰى أَجِيْءَ" فَجِئْتُ وَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْدُمُ النَّاسَ حَتّٰى جِئْتُ امْرَأَتِيْ فَقَالَتْ: بِكَ وَبِكَ؛ فَقُلْتُ: قَدْ فَعَلْتُ الَّذِيْ قُلْتِ، فَأَخْرَجَتْ عَجِيْنًا فَبَسَقَ فِيْهِ وَبَارَكَ، ثُمَّ عَمَدَ إِلٰى بُرْمَتِنَا فَبَصَقَ وَبَارَكَ ثُمَّ قَالَ: "ادْعِيْ خَابِزَةً فَلْتَخْبِزْ مَعَكِ، وَاقْدَحِيْ مِنْ بُرْمَتِكُمْ وَلَا تُنْزِلُوْهَا" وَهُمْ أَلْفٌ فَأُقْسِمُ بِاللّٰهِ لَأَكَلُوْا حَتّٰى تَرَكُوْهُ وَانْحَرَفُوْا وَإِنَّ بُرْمَتَنَا لَتَغِطُّ كَمَا هِيَ وَإِنَّ عَجِيْنَنَا لَيُخْبَزُ كَمَا هُوَ:

حاضرېنو ته اووئيل چه ټول راځئ. مګر ګنړه به نهٔ جوړوئ - بيا هغوئ روټئ راخستلے او ماتولے به ئے او د غوښے بوټئ به ئے پرے اچولے. او صحابهؓ ته به ئے ورکولے چه د تنور نه به ئے روټئ او د کټوئ نه به ئے غوښه واچوله نو د دا ړو باندے به ئے سر کېښودلو. رسول الله صلی الله عليه وسلم به بس هم داسے کول چه روټئ به ئے ټکړے کړه. او غوښه به ئے ور باندے کېښودله او په هغوئ به ئے خوردله. ترڅو چه صحابهؓ ټول ښهٔ ماړهٔ شول. او خوراک

هم پاتے شو. بيا ئے اوفرمائيل - اوس تاسو هم اوخورئ. او خلقو کره ئے تحفه هم اوليږئ. ځکه چه عام خلق اولږے اخستي دی. (بخاري ومسلم)

بل روايت کښے داسے راغلی دی. چه جابرؓ فرمائي. چه ما د خندق کنستلو په وخت کښے د حضور صلی الله عليه وسلم په مخ د اولږے څهٔ آثار او علامے اوليدلے. نو خپلے بی بی له لاړم - او هغے ته م اووئيل تاسره د خوراک څهٔ څيز شته. نو اوښايه چه ما نبی کريم صلی الله عليه وسلم ليدلے دے چه د اولږے اثر پرے شته دے - نو بی بی ئے يوه تهيلئ راوړه چه هغے کښے لږ غونډے اوربشے وے - او په کور کښے د ګډے يو ساتلے شوے بچے شته دے - ما د ګډے بچے حلال کړو - او بی بی م اوربشے اوړهٔ کړے. د حلالے نه پس م د غوښے بوټئ جوړے کړے. او کټوئ کښے م واچولے او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کښے حاضر شوم د تلو په وخت کښے راته بی بی اووئيلے - ګوره د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغهٔ د ملګرو په وړاندے ما شرمنده نهٔ کړے - (مطلب دا دے چه خوراکه لږه ده. ميلمانهٔ ډېر مهٔ راوله - پس زهٔ د نبی کريم صلی الله عليه وسلم خدمت کښے حاضر شوم - او په ادب سره م عرض اوکړو - چه يا رسول الله! مونږ د ګډے بچے حلال کړے دے او يو صاع مو ورسره د اوربشو روټئ هم پخه کړے ده - او هر څهٔ تيار

دی. تاسو دَ یو څو صحابو سره راشئ. مګر نبي علیه السلام په اوچت آواز ټولو ته اعلان اوکړو. چه اے خندق کښې مشغوله خلقو! جابر (رضی الله عنه) ستاسو دَ میلمستیا انتظام کړے دے. ټول لاړ شئ. بیا نبي علیه السلام ماته اوفرمائیل چه څما راتلو پورے به نهٔ کټوئ (دَ نغري نه) کوزوئ او نهٔ به دَ اوړو نه ړوټئ پخوئ. زهٔ کورته راغلم او بي بي ته مې ټول حال اووئیلو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ ملګرو سره سره راروان وو. ښځې راته اووئیل چه اوس پرے شرمیږه. شرم هم ستا دے. ما اووئیل چه څنګه تا وئیلي وُو، هغسے ما هم کړي دی. کله چه بي بي اوړهٔ دَ بخلي دپاره راوویستل. نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم پکښې خپلې لاړې دَ خولے شاملې کړې. او دَ برکت دُعائے اوکړه. بیائے کټوئ کښې هم لاړې شاملې کړې. او دَ برکت دُعائے اوکړه. بیائے بي بي ته مخامخ اوفرمائیل. بوه ړوټئ پخونکے (ښځه) بله هم راوغواړه، چه تا سره بخلے اوکړي. او دَ کټوئ نه ترکاري اچوي. مګر دا خیال کوه چه ښوروا (ترکاري) دَ کټوئ نه را اچوه خو کټوئ مهٔ را کوزوه جابرؓ وائي چه په دغه ورځ زر کسان وو. ټولو په مړهٔ ګیډه اوخوړه او بیا هم خوراکه پاتې شوه، مګر کټوئ هم هغسے جوش وهلو. او دَ غسے ړوټئ هم پخیدلے.

(دَ ګرانو الفاظو تشریح)

قَوْلُهٗ "عَرَضَتْ كُدْيَةٌ" بِضَمِّ الْكَافِ وَاِسْكَانِ الدَّالِ وَبِالْيَاءِ الْمُثَنَّاةِ تَحْتُ: وَهِيَ قِطْعَةٌ غَلِيْظَةٌ صُلْبَةٌ مِنَ الْاَرْضِ لَا يَعْمَلُ فِيْهَا الْفَاْسُ: وَ"الْكَثِيْبُ" اَصْلُهٗ تَلُّ الرَّمْلِ وَالْمُرَادُ هُنَا صَارَتْ تُرَابًا نَاعِمًا وَهُوَ مَعْنٰى "اَهْيَلَ" "وَالْاَثَافِيُّ": الْاَحْجَارُ الَّتِيْ يَكُوْنُ عَلَيْهَا الْقِدْرُ: "وَتَضَاغَطُوْا" تَزَاحَمُوْا وَالْمَجَاعَةُ الْجُوْعُ وَهُوَ بِفَتْحِ الْمِيْمِ: وَالْخَمَصُ بِفَتْحِ الْخَاءِ الْمُعْجَمَةِ وَالْمِيْمِ: اَلْجُوْعُ: وَانْكَفَاْتُ، انْقَلَبْتُ وَرَجَعْتُ وَالْبُهَيْمَةُ بِضَمِّ الْبَاءِ تَصْغِيْرُ بُهْمَةٍ وَهِيَ، اَلْعَنَاقُ بِفَتْحِ الْعَيْنِ" وَالدَّاجِنُ" هِيَ الَّتِيْ اَلِفَتِ الْبَيْتَ: وَالسُّؤْرُ": اَلطَّعَامُ الَّذِيْ يُدْعَى النَّاسُ اِلَيْهِ، وَهُوَ بِالْفَارِسِيَّةِ "وَحَيَّهَلًا" اَیْ تَعَالَوْا وَقَوْلُهَا "بِكَ وَبِكَ" اَیْ خَاصَمَتْهُ وَسَبَّتْهُ لِاَنَّهَا اعْتَقَدَتْ

"كُدْيَةٌ": سخته ګټه چه پلک پرے هم اثر نهٔ کولو.

"كَثِيْبٌ": "اَهْيَلُ" کثیب په لغت کښې غونډۍ ته وائي. مګر دلته مراد دا دے چه دغه ګټه دَ شګې پشان شوه. او هم دا معنیٰ دَ اَهْيَلُ ده.

"اَثَافِيُّ": یعنی هغه کاڼړي چه دَ بخلي دپاره پرے کټوئ کیښودلے شي.

"لَاتَضَاغَطُوْا": ګڼړه او شورمهٔ جوړوئ.

مَجَاعَةٌ: اولږه.

خَمْصُ: اولږه.

اِنْكَفَأْتُ: زهٔ واپس شوم.

بُهَيْمَةٌ: دَ ګډے یا دَ بیزے بچي ته وائي.

دَاجِنْ: کورکښې ساتلے شوے.

سُؤْرُ: هغه خوراک چه خلق ورله راوبللے شي. دا دَ فارسۍ لفظ دے.

حَيَّهَلَا: راشئ.

بِكَ وَبِكَ: جابرؓ سره بي بي جګړه کوله چه پښیما نتیا او ملامته کیدل یا سترګے ټیټیدل به ستاوي. چه دا دومره لږ خوراک به دومره کسانو دپاره څنګه کافي کیږي. او چا ته به رسیږي. او

اَنَّ الَّذِیْ عِنْدَهَا لَا یَکْفِیْهِمْ فَاسْتَحْیَتْ وَخَفِیَ عَلَیْهَا مَا اَکْرَمَ اللّٰهُ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی بِهٖ نَبِیَّهٗ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنْ هٰذِهِ الْمُعْجِزَةِ الظَّاهِرَةِ وَالْاٰیَةِ الْبَاهِرَةِ: "بَسَقَ": اَیْ بَصَقَ وَیُقَالُ اَیْضًا: بَزَقَ: ثَلَاثُ لُغَاتٍ "وَعَمَدَ" بِفَتْحِ الْمِیْمِ، اَیْ قَصَدَ: "وَاقْدَحِیْ" اَیْ اغْرِفِیْ وَالْمِقْدَحَةُ الْمِغْرَفَةُ: "وَتَغِطُّ" اَیْ لِغَلْیَانِهَا صَوْتٌ.

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ!

۵۲۴ - وَعَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ اَبُوْ طَلْحَةَ لِاُمِّ سُلَیْمٍ: قَدْ سَمِعْتُ صَوْتَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ضَعِیْفًا اَعْرِفُ فِیْهِ الْجُوْعَ فَهَلْ عِنْدَكِ مِنْ شَیْءٍ؟ فَقَالَتْ: نَعَمْ، فَاَخْرَجَتْ اَقْرَاصًا مِنْ شَعِیْرٍ ثُمَّ اَخَذَتْ خِمَارًا[1] لَهَا فَلَفَّتِ الْخُبْزَ بِبَعْضِهٖ ثُمَّ دَسَّتْهُ تَحْتَ ثَوْبِیْ وَرَدَّتْنِیْ بِبَعْضِهٖ ثُمَّ اَرْسَلَتْنِیْ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَذَهَبْتُ بِهٖ فَوَجَدْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا فِی الْمَسْجِدِ وَمَعَهُ النَّاسُ فَقُمْتُ عَلَیْهِمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ "اَرْسَلَكَ اَبُوْ طَلْحَةَ؟" فَقُلْتُ، نَعَمْ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: "قُوْمُوْا" فَانْطَلَقُوْا وَانْطَلَقْتُ بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ حَتّٰی جِئْتُ اَبَا طَلْحَةَ فَاَخْبَرْتُهٗ: فَقَالَ اَبُوْ طَلْحَةَ یَا اُمَّ سُلَیْمٍ: قَدْ جَاءَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاسِ وَلَیْسَ عِنْدَنَا

داخبره ئې د نبی علیه السلام نه پټه اوساتله - او الله تعالیٰ خپل نبی له په دې ډیرې اوچتې او ښکاره معجزې سره د هغهٔ شان اوچتول غواړی.

"بَسَقَ" "بَصَقَ" "بَزَقَ" د دریو واړو لغاتو معنیٰ یوه ده. یعنی لاړې توکل.

"عَمَدَ": یعنی قصد او اراده.

"اِقْدَحِیْ" څمڅئ یا چمچې سره ئې راوباسئ.

"مِقْدَحَةٌ": څمڅئ یا چمچه.

"تَغِطُّ": د جوش د وجهې نه چه کومه خبره او آواز اوځي. هغه ترې مراد دے.

۵۲۴ - انس بن مالک رضی الله عنه وائی. چه ابوطلحه رضی الله عنه اُم سلیم رضی الله عنها ته اووئیل. چه ما ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په آواز کښې څهٔ کمزوری معلومیږی. څما خیال دے چه د اولږې وجه ده - آیا تا سره د خوراک د پاره څهٔ شته؟ هغې اووئیل چه هو. څهٔ لږ غونډې خیز شته. دا ئې اووئیل او د اوربشو بوخو ړوټئ ئې راوویستلې او خپل څادر کښې ئې راونغاړلې. او څما ترخ کښې ئې ماله راکړې. او د کپړې باقی حصه ئې په ما راواچوله. او وې وئیل لاړ شه دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت کښې یوسه - انس رضی الله عنه وائی. کله چه زهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شوم. نو جومات کښې ناست وو. څهٔ نور خلق هم ورسره ناست وو. زهٔ لاړم د نبی علیه السلام په خوا کښې اُودریدم. نو وې فرمائیل. ولې ته ابوطلحه رالیږلے ئې؟ ما اووئیل هو. نو وې فرمائیل چه خوراک د پاره. ما اووئیل، هو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم موجوده ټولو خلقو ته اوفرمائیل پاسئ چه لاړ شو. نو ټول ملګری لاړل. زهٔ د هغوئ نه مخکښې لاړم او چه اورسیدم نو

---

[1] "الخمار" بکسر الخاء المعجمة، ثوب تغطي به المرأة راسها، [1] "العکة" بضم المهملة وتشدید الکاف: وعأ من جلد مستدیر یختص بالسمن والعسل وهو بالسمن اخص وقوله "فادمته" بمد الهمزة وتخفیف الدال المهملة ای صیرت الخارج منها اداماله. [2] "ثم هیاها" ای جمعها بعد الاکل ؛

مَا نُطْعِمُهُمْ؟ فَقَالَتْ: اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ فَانْطَلَقَ اَبُوْطَلْحَةَ حَتّٰى لَقِيَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَقْبَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَهٗ حَتّٰى دَخَلَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "هَلُمِّيْ مَا عِنْدَكِ يَا اُمَّ سُلَيْمٍ" فَاَتَتْ بِذٰلِكَ الْخُبْزِ فَاَمَرَ بِهٖ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَفُتَّ وَعَصَرَتْ عَلَيْهِ اُمُّ سُلَيْمٍ عُكَّةً [1] فَاٰدَمَتْهُ ثُمَّ قَالَ فِيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا شَآءَ اللّٰهُ اَنْ يَقُوْلَ ثُمَّ قَالَ: "ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ" فَاَذِنَ لَهُمْ فَاَكَلُوْا حَتّٰى شَبِعُوْا ثُمَّ خَرَجُوْا، ثُمَّ قَالَ: "ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ" فَاَذِنَ لَهُمْ فَاَكَلُوْا ثُمَّ خَرَجُوْا ثُمَّ قَالَ "ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ" حَتّٰى اَكَلَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ وَشَبِعُوْا وَالْقَوْمُ سَبْعُوْنَ رَجُلًا اَوْ ثَمَانُوْنَ: مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِيْ رِوَايَةٍ فَمَا زَالَ يَدْخُلُ عَشَرَةٌ وَيَخْرُجُ عَشَرَةٌ حَتّٰى لَمْ يَبْقَ مِنْهُمْ اَحَدٌ اِلَّا دَخَلَ فَاَكَلَ حَتّٰى شَبِعَ ثُمَّ هَيَّاَهَا [2] فَاِذَا هِيَ مِثْلُهَا حِيْنَ اَكَلُوْا مِنْهَا وَفِيْ رِوَايَةٍ فَاَكَلُوْا عَشَرَةً عَشَرَةً حَتّٰى فَعَلَ ذٰلِكَ بِثَمَانِيْنَ رَجُلًا ثُمَّ اَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذٰلِكَ وَاَهْلُ الْبَيْتِ وَتَرَكُوْا سُؤْرًا وَفِيْ رِوَايَةٍ ثُمَّ اَفْضَلُوْا مَا بَلَغُوْا جِيْرَانَهُمْ وَفِيْ رِوَايَةٍ عَنْ اَنَسٍ رض قَالَ: جِئْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَوَجَدْتُهٗ جَالِسًا مَعَ اَصْحَابِهٖ وَقَدْ عَصَبَ بَطْنَهٗ بِعِصَابَةٍ

ابوطلحه رضی الله عنه ته هم د ټولو ملګرو د راتلو حال اووئیلو. ابوطلحه رض ام سلیم رض ته اووئیل رسول الله صلی الله علیه وسلم د ټولو ملګرو سره راروان دے - د هغوئ د خدمت او د عاجزئ دپاره خو مونږ سره څۀ نشته - اُم سلیم رض اووئیل هیڅ د فکر خبره نۀ ده - بس الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم ښۀ پوهیږی. ابوطلحه رض مخے له د کور نه وړاندے وتلو او نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره ملاؤ شو - رسول الله صلی الله علیه وسلم هغۀ سره کور ته اورسیدلو. کله چه دننه لاړل نو وے فرمائیل - اے ام سلیم! څۀ چه تا سره وی نو راوړه - اُم سلیم رضی الله عنها هغۀ د اوربشو روټئ راوړلے - نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته د ټکړے ټکړے کولو حکم ورکړو - اُم سلیم رضی الله عنها په هغه ټکړو باندے ټینګه بنوروا د شهدو او د غوړو واچوله او سالن (ترکاری) ئے ترے جوړه کړه - او بیا ورته نبی کریم صلی الله علیه وسلم د برکت دُعا اوکړه - او د برکت کلمات ئے څه چه الله غوښتل هغه ئے اووئیل - بیائے ارشاد او فرمائیلو - لس کسان راوبله - نو هغوئ راغلل او ښۀ ماړۀ شول او بهر ته لاړل - بیائے اوفرمائیل نو لس کسان راوبله - هغوئ هم راغلل او ښۀ ماړۀ بهر ته لاړل - دغسے لس لس کسان به ئے رابلل - او پوره اویا یا اتیا کسان دوچه ښۀ ماړۀ هم شول - یو هم اوږے پاتے نشو - یو روایت کښے داسے هم راغلی دی - چه لس به تلل او لس به راتلل - او دوئ کښے یو هم داسے نۀ وُو چه موړ شوے به نۀ وی - بیا هغه خوراکه جمع کړے شوه - نو هم هغه هومره وه - څومره چه د خوراک په شروع کښے وه - یو روایت کښے داسے راغلی دی. چه د لسو کسانو ټولګی به خوراک کولو - او

---

[1] العكة: بضم المهملة وتشديد الكاف، وعاء من جلد مستدير مختص بالسمن والعسل وهو بالسمن اخص وقوله، فادمته: بمد الهمزة وتخفيف الدال المهملة اى صيرت الخارج منها اداماله

[2] ثم هيأها، اى جمعها بعد الاكل،

فَقُلْتُ لِبَعْضِ اَصْحَابِهٖ لِمَ عَصَبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَطْنَهٗ؟ فَقَالُوْا: مِنَ الْجُوْعِ فَذَهَبْتُ اِلٰى اَبِىْ طَلْحَةَ وَهُوَ زَوْجُ اُمِّ سُلَيْمٍ بِنْتِ مِلْحَانَ فَقُلْتُ يَا اَبَتَاهُ قَدْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَصَبَ بَطْنَهٗ بِعِصَابَةٍ فَسَأَلْتُ بَعْضَ اَصْحَابِهٖ فَقَالُوْا مِنَ الْجُوْعِ فَدَخَلَ اَبُوْطَلْحَةَ عَلٰى اُمِّىْ فَقَالَ: هَلْ مِنْ شَىْءٍ؟ قَالَتْ: نَعَمْ عِنْدِىْ كِسَرٌ مِنْ خُبْزٍ وَتَمَرَاتٌ فَاِنْ جَآءَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحْدَهٗ اَشْبَعْنَاهُ، وَاِنْ جَآءَ اٰخَرُ مَعَهٗ قَلَّ عَنْهُمْ. وَذَكَرَ تَمَامَ الْحَدِيْثِ:

دا ټول تقریباً اتیا کسان وُو. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم هم اوخوړله - او کور والا هم اوخوړله. او خوراک هم پاتے شو۔

یو روایت کښے داسے هم راغلی دی - چه د خوراک نه پس بیا هغه هومره پاتے شو - چه ګاونډیانو ته مو هم اولیږلو بل روایت کښے هم داسے راغلی دی - چه انس رضی الله عنه وائی - چه یوه ورځ زهٔ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شوم - نو خپلو صحابو رضی الله عنهم سره ناست وو - او نبی علیه السلام خپلے ګیډے ته پټئ اچولے وه - ما د یو صحابی نه پوښتنه اوکړه - چه دا پټئ ئے ولے تړلے ده؟ هغهٔ اووئیل د اولږے د وجهے نه - نو زهٔ ابو طلحه رض له لاړم - چه د ام سلیم بنت ملحان رضی الله عنها خاوند وُو - او هغهٔ ته مِ اووئیل، بابا جانه: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم اولیدلو، چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ګیډه پټئ تړلے شوے ده. ما د یو صحابی نه پوښتنه اوکړه، نو هغهٔ اووئیل چه د اولږے په وجه ئے پټئ تړلے ده. نو ابو طلحه رضی الله عنه ځما مور له لاړو - او پوښتنه ئے ترے اوکړه. آیا تا سره د خوراک څهٔ خیز شته؟ هغې اووئیل - هو - د روټئ څهٔ ټکړے او کجورے شته. کهٔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم یوازے راشی - نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د موړوالی د پاره دا کافی ده - او کهٔ نور څوک ورسره راشی نو بیا کافی نهٔ ده. او بیا ئے باقی روایت بیان کړو -

باب ۵۷

قناعت او میانه روی

بَابُ الْقَنَاعَةِ وَالْعَفَافِ وَالْاِقْتِصَادِ فِى الْمَعِيْشَةِ وَالْاِنْفَاقِ وَذَمِّ السُّؤَالِ مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ!

"قناعت، پاکدامنی او میانه روی او خرچ کول او بغیر د ضرورت نه د سوال کولو بدی"۔

ف: - دا باب مشتمل دے په شلور قرآنی آیتونو او شپاړس نبوی حدیثونو باندے۔

(قرآنی آیتونه)

۱۷۶- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [1] "وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِى الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا"

۱۷۶- زمکه باندے ګرځیدونکے (او خوځیدونکے) داسے یو ځناور نشته چه د هغهٔ د رزق ذمه واری الله تعالی نهٔ وی اخستے - (پ ۱۲، هود)

---

[1] سورة هود ایة ۶

۱۷۷۔ وَقَالَ تَعَالٰى[1] لِلْفُقَرَآءِ الَّذِيْنَ اُحْصِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ[2] لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ضَرْبًا فِي الْاَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ اَغْنِيَآءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُمْ بِسِيْمٰهُمْ لَا يَسْئَلُوْنَ النَّاسَ اِلْحَافًا[3]"

۱۷۷۔ د صدقے او خیرات اصل حقدار خو هغه غریبانان دی۔ چه د الله تعالیٰ د کارونو داسے پابند دی۔ چه ملک کښے ئے د ګرځیدو وس او طاقت هم نشته۔ ناخبره خلق یرے د مالدارو خیال کوی۔ ځکه چه د سوال دپاره هیچا ته لاس نهٔ نیسی۔ البته ته به ئے د مخونو نه پیژنے۔ د سوال دپاره خلقو پورے انښتے او پیوسته شوی۔ نهٔ وی۔ (پ۲، بقره)

۱۷۸۔ وَقَالَ تَعَالٰى[4] وَالَّذِيْنَ اِذَآ اَنْفَقُوْا لَمْ يُسْرِفُوْا وَلَمْ يَقْتُرُوْا وَكَانَ بَيْنَ ذٰلِكَ قَوَامًا"

۱۷۸۔ او کله چه هغوئ خرچ کوی۔ نو په پټوسترګو فضول خرچی نهٔ کوی۔ او نهٔ تنګی او شومتوب کوی۔ هغوئ درمیانه خرچ کوی۔ (پ۱۹، فرقان)

۱۷۹۔ وَقَالَ تَعَالٰى[5] وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ۔ مَا اُرِيْدُ مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ وَّمَا اُرِيْدُ اَنْ يُّطْعِمُوْنِ"۔

۱۷۹۔ ما پیریان او انسانان خپلے بندګئ دپاره پیدا کړی دی۔ ځما خواهش د هغوئ نه روزی غوښتل نهٔ دی۔ او نهٔ مې دا خواهش دے چه ما باندے خوراک اوخوری۔ (پ۲۷، ذاریات)

(نبوی حدیثونه)

وَاَمَّا الْاَحَادِيْثُ فَتَقَدَّمَ مُعْظَمُهَا فِي الْبَابَيْنِ السَّابِقَيْنِ، وَمِمَّا لَمْ يَتَقَدَّمْ:

دے باره کښے ډیر حدیثونه مخکښے د دوه بابونو کښے بیان کړے شوی دی۔ یو څو حدیثه دلته هم بیا نولے شی۔

۵۲۵۔ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَيْسَ الْغِنٰى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ وَلٰكِنَّ الْغِنٰى غِنَى النَّفْسِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔

"اَلْعَرَضُ": بِفَتْحِ الْعَيْنِ وَالرَّآءِ هُوَ الْمَالُ۔

۵۲۵۔ ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ ډیرمال او اسباب لرلو نوم مالداری نهٔ ده۔ اصل مالداری د زړهٔ ده۔ (بخاری ومسلم)

اَلْعَرَضُ: یعنی مال۔

۵۲۶۔ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "قَدْ اَفْلَحَ مَنْ اَسْلَمَ وَرُزِقَ كَفَافًا وَقَنَّعَهُ اللّٰهُ بِمَا اٰتَاهُ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۵۲۶۔ حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے۔ چه حضورؐ فرمائیلی دی کامیاب دے هغه څوک چه ایمان ئے راوړی۔ او په قدر د ضرورت ورته رزق ورکړے شو۔ او الله تعالیٰ پرے صبر ورکړی۔ (مسلم)

۵۲۷۔ وَعَنْ حَكِيْمِ بْنِ حِزَامٍ رَضِيَ

۵۲۷۔ حکیم بن حزام رضی الله عنه وائی:

---

[1] سورة البقرة آية ۲۷۳ [2] احصروا فی سبیل الله: ای حبسوا انفسهم فی الجهاد [3] الحافا: ای الحاحا [4] سورة الفرقان آية ۶۷ [5] سورة الذاريات آية ۵۶-۵۷

اَللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَاَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَعْطَانِىْ ثُمَّ سَاَلْتُهٗ فَاَعْطَانِىْ ثُمَّ سَاَلْتُهٗ فَاَعْطَانِىْ

ثُمَّ قَالَ "يَا حَكِيْمُ: اِنَّ هٰذَا الْمَالَ خَضِرٌ حُلْوٌ فَمَنْ اَخَذَهٗ بِسَخَاوَةِ نَفْسٍ بُوْرِكَ لَهٗ فِيْهِ، وَمَنْ اَخَذَهٗ بِاِشْرَافِ نَفْسٍ لَمْ يُبَارَكْ لَهٗ فِيْهِ وَكَانَ كَالَّذِىْ يَاْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ: وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِّنَ الْيَدِ السُّفْلٰى" قَالَ، حَكِيْمٌ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَالَّذِىْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا اَرْزَاُ اَحَدًا بَعْدَكَ شَيْئًا حَتّٰى اُفَارِقَ الدُّنْيَا، فَكَانَ اَبُوْبَكْرٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ يَدْعُوْا حَكِيْمًا لِيُعْطِيَهُ الْعَطَآءَ فَيَاْبٰى اَنْ يَّقْبَلَ مِنْهُ شَيْئًا ثُمَّ اِنَّ عُمَرَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ دَعَاهُ لِيُعْطِيَهٗ فَاَبٰى اَنْ يَّقْبَلَهٗ فَقَالَ: يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ اُشْهِدُكُمْ عَلٰى حَكِيْمٍ اَنِّىْ اَعْرِضُ عَلَيْهِ حَقَّهُ الَّذِىْ قَسَمَهُ اللّٰهُ لَهٗ فِىْ هٰذَا الْفَىْءِ فَيَاْبٰى اَنْ يَّاْخُذَهٗ فَلَمْ يَرْزَاْ حَكِيْمٌ اَحَدًا مِّنَ النَّاسِ بَعْدَ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى تُوُفِّىَ ۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه څهٔ اوغوښتل. چه هغوئ راکړل، ما بیا اوغوښتل هغوئ بیا راکړل. ما بیا اوغوښتل هغوئ بیا راکړل. دریم وارے غوښتلو نه پس ئے راته اوفرمائیل، ګوره حکیم! دا مال ډیر خوږ او زړهٔ راښکونکے دے. څوک چه دا مال بغیر د مینے نه حاصلوی نو د هغهٔ دپاره د برکت سبب دے. او څوک ئے چه لالچ او حرص سره حاصلوی، نو د خیر او برکت سبب نهٔ جوړیږی. او د داسے کس حالت د هغه چا پشان شی. چه خوراک کوی او نهٔ مړیږی. او پاسنے لاس (خرچ کونکے لاس) د لاندینی (سوال کونکی) لاس نه بهتر دے.

حکیم رضی الله عنه وائی. **ما عرض** اوکړو یا رسول الله! زهٔ د هغه الله په ذات قسم خورم چه تهٔ ئے حق ښودلو دپاره رالیږلے ئے. عرض کوم چه تا نه پس به تر مرګه پورے د چا نه سوال اونهٔ کړم. نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپله زمانه کښے را اوبللو او د عامو مسلمانانو پشان ئے څهٔ ورکول غوښتل. نو هغهٔ د قبلولو نه انکار اوکړو. بیا عمر رضی الله عنه خپله زمانه کښے د څهٔ ورکولو دپاره را اوبللو. نو بیا ئے هم د اخستلو نه انکار اوکړو. دے نه پس عمر رضی الله عنه د مسلمانانو په وړاندے اعلان اوکړو. چه ما د مال غنیمت نه حکیم بن حزام رض ته څهٔ حصه ورکول اوغوښتل. او دا د هغهٔ حق وو. چه الله تعالیٰ ورله په دے مال غنیمت کښے ساتلے وو. مګر هغهٔ د هغے د اخستلو نه انکار اوکړو. تاسو ګواه اوسئ. هغه په خپله وعده کښے ډیر کلک دے. د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرګ نه پس د خپل مرګه پورے ئے د هیچا نه هیڅ وا نخستل. (بخاری ومسلم)

" د الفاظو تشریح "

"يَرْزَاُ" بِرَآءٍ ثُمَّ زَايٍ ثُمَّ هَمْزَةٍ اَىْ لَمْ يَاْخُذْ مِنْ اَحَدٍ شَيْئًا، وَاَصْلُ الرَّزْءِ النُّقْصَانُ: اَىْ لَمْ يُنْقِصْ اَحَدًا شَيْئًا بِالْاَخْذِ مِنْهُ، وَاِشْرَافِ

يَرْزَاُ: یعنی د هیچا نه ئے څهٔ څیز وا نخستلو.

اَلرَّزْءُ: یعنی نقصان او کمے د یو څیز یعنی هغهٔ د چا نه څهٔ څیز په مال اخستلو کم کړے نهٔ دے.

النَّفْسِ " تَطَلُّعُهَا وَطَمَعُهَا بِالشَّيْءِ " وَسَخَاوَةُ النَّفْسِ " هِيَ عَدَمُ الْاِشْرَافِ اِلَى الشَّيْءِ وَالطَّمَعِ فِيْهِ وَالْمُبَالَاةِ بِهٖ وَالشَّرَهِ " ؛

٥٢٨ - وَعَنْ اَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةٍ وَنَحْنُ سِتَّةُ نَفَرٍ بَيْنَنَا بَعِيْرٌ نَعْتَقِبُهٗ فَنَقِبَتْ اَقْدَامُنَا ـله وَنَقِبَتْ قَدَمِيْ وَسَقَطَتْ اَظْفَارِيْ فَكُنَّا نَلُفُّ عَلٰى اَرْجُلِنَا مِنَ الْخِرَقِ فَسُمِّيَتْ غَزْوَةَ ذَاتِ الرِّقَاعِ لِمَا كُنَّا نَعْصِبُ عَلٰى اَرْجُلِنَا مِنَ الْخِرَقِ قَالَ اَبُوْ بُرْدَةَ: فَحَدَّثَ اَبُوْمُوْسٰى بِهٰذَا الْحَدِيْثِ ثُمَّ كَرِهَ ذٰلِكَ وَقَالَ: مَاكُنْتُ اَصْنَعُ بِاَنْ اَذْكُرَهٗ قَالَ كَاَنَّهٗ كَرِهَ اَنْ يَكُوْنَ شَيْئًا مِّنْ عَمَلِهٖ اَفْشَاهُ -

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

٥٢٩ - وَعَنْ عَمْرِو بْنِ تَغْلِبَ " بِفَتْحِ التَّاءِ الْمُثَنَّاةِ فَوْقُ وَاِسْكَانِ الْغَيْنِ الْمُعْجَمَةِ وَكَسْرِ اللَّامِ " رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُتِيَ بِمَالٍ اَوْ سَبْيٍ فَقَسَمَهٗ فَاَعْطٰى رِجَالًا وَتَرَكَ رِجَالًا فَبَلَغَهٗ اَنَّ الَّذِيْنَ تَرَكَ عَتَبُوْا فَحَمِدَ اللّٰهَ ثُمَّ اَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ " اَمَّا بَعْدُ فَوَاللّٰهِ اِنِّيْ لَاُعْطِي الرَّجُلَ وَاَدَعُ الرَّجُلَ وَالَّذِيْ اَدَعُ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنَ الَّذِيْ اُعْطِيْ وَلٰكِنِّيْ اِنَّمَا اُعْطِيْ اَقْوَامًا لِمَا اَرٰى فِيْ قُلُوْبِهِمْ مِنَ الْجَزَعِ

اِشْرَافُ النَّفْسِ : یعنی دَ نفس خبریدل او حرص او طمع کول۔

سَخَاوَةُ النَّفْسِ : یعنی چه خواهش ئے نهٔ وی۔ بے پرواه وی۔ او زړهٔ ئے ورسره نهٔ نښلی۔

۵۲۸ - ابوبرده رحمه الله دَ ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه نه روایت کوی۔ چه مونږ دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو جنګ کښے شریک وُو۔ نو څلور مونږ دَ سوریدلو دپاره څلور مونږ په شپږ کسه یو اوښ اورسیدلو۔ چه مونږ به په نمبر نمبر په هغے سورلی کوله۔ او دَ سفر په وجه څلور مونږ خپے پڕے زخمی شوے وے۔ او دَ ګوتو نوکونه مو پریوتلی وو۔ او په زخمونو مونږ کپړے تړلے وے۔ دَ زخمونو دَ پټو تړلو په وجه دَ دغه غزا نوم " ذات الرقاع " کیښودلے شو۔ ابوبرده رحمه الله وائی۔ چه ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه خو واقعه بیان کړه۔ مګر بیا ئے افسوس اوکړو چه ماله مناسب نهٔ وو چه دا واقعه مے بیان کړے وے۔ ابوبرده رحمة الله علیه وائی۔ چه هغهٔ نه دا فسوس صرف دَ دے خبرے او شو چه په خپلو عملونو کښے ئے یو عمل ښکاره کړو۔ (او ټولو ته معلوم شو۔ (بخاری و مسلم)

۵۲۹ - عمرو بن تغلب رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم له څهٔ مال یا قیدیان راغلل۔ نو تقسیم ئے کړل۔ نو چاله ئے ورکړل او چاله ئے ورنکړل۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته معلومه شوه چه چا ته ورنهٔ کړے شوے، نو هغه خفه دی۔ دَ غه وخت ئے خطبه ورکړه۔ دَ ثناء صفت نه پس ئے اوفرمائیل۔ په الله قسم۔ چه دَ تقسیم په وخت چا ته څهٔ ورکوم او چا ته ئے نهٔ ورکوم۔ چا ته چه څهٔ نهٔ ورکوم هغه ما ته دَ دے نورو نه ډیر محبوب او خوښ دی۔ چا ته مے چه څهٔ ورکړی دی۔ او زهٔ هغه چا ته څهٔ ورکوم

ـله "فنقبت اقدامنا" بفتح النون وكسر القاف بعدها باء موحدة: اى رقت ؛

وَالْهَلَعِ وَاَكِلُ اَقْوَامًا اِلٰى مَاجَعَلَ اللّٰهُ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مِنَ الْغِنٰى وَالْخَيْرِ مِنْهُمْ عَمْرُو بْنُ تَغْلِبَ" قَالَ عَمْرُو بْنُ تَغْلِبَ فَوَاللّٰهِ مَا اُحِبُّ اَنَّ لِيْ بِكَلِمَةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُمْرَ النَّعَمِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

«اَلْهَلَعُ» هُوَاَشَدُّ الْجَزَعِ، وَقِيْلَ الضَّجَرُ ÷

کوم چه زړهٔ وینم. چه دَ هغوئ په زړونو کښې خطره او بې آرامه ده. او چاله چه ما خهٔ ورنکړل، دَ هغوئ په باره کښې ځما زړهٔ په آرام دے. چه الله تعالیٰ دَ هغوئ په زړونو کښې ښیګړه او بے طمع کیدل مضبوط کیخودلی دی. هغوئ دَ زړهٔ غنیان دی. او عمرو بن تغلب یکښې هم دے. عمرو رضی الله عنه وائی. چه په الله قسم! چه ځما په باره کښې دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دامبارک کلمات دَ سروا وښانو دولت نه ماته ډیر ګران او خوښ دی. (بخاری)

"اَلْهَلَعُ": یعنی هغه حالت چه دَ خطرے او دَ طمع دَ وجهے نه رایات راشی. لکه ډیره او لږه. او بعضو دَ دے معنی ترپیدل او بے قراره کیدل او بے آرامه کیدل او ستومانه کیدل هم کړے ده.

۵۳۰- وَعَنْ حَكِيْمِ بْنِ حِزَامٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اَلْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِّنَ الْيَدِ السُّفْلٰى وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُوْلُ، وَخَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللّٰهُ وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللّٰهُ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَهٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ، وَلَفْظُ مُسْلِمٍ اَخْصَرُ ÷

۵۳۰- حکیم بن حزام رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه ورکونکے لاس دَ اخستونکی لاس نه غوره دے. او دَ خرچ کولو شروع دَ خپل اهل وعیال نه کوه. چه ستا پالنه کښې دی. او غوره صدقه هغه ده. چه دَ خوشحالئ په وخت اوکړے شي. او څوک چه ځان دَ سوال نه ساتی. الله تعالیٰ به ئے اوساتی. او څوک چه بے پرواه شی دَ سوال نه. نو الله تعالیٰ به ئے غنی او مالداره کړی. دا الفاظ دَ بخاری دی او دَ مسلم الفاظ دَ دے نه مختصر دی. (بخاری و مسلم)

۵۳۱- وَعَنْ اَبِیْ سُفْيَانَ صَخْرِ بْنِ حَرْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُلْحِفُوا ﻟﻪ فِي الْمَسْأَلَةِ، فَوَاللّٰهِ لَا يَسْأَلُنِيْ اَحَدٌ مِّنْكُمْ شَيْئًا فَتُخْرِجُ لَهٗ مَسْاَلَتُهٗ مِنِّيْ شَيْئًا وَاَنَا لَهٗ كَارِهٌ فَيُبَارَكَ لَهٗ فِيْمَا اَعْطَيْتُهٗ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ÷

۵۳۱- ابوسفیان صخر بن حرب رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه ځما نه بار بار یو خیز مهٔ غواړئ. او ما پورے مهٔ انغلئ (ځکه چه دا چل م خوښ نهٔ دے) په الله قسم. که څوک ما نه بار بار تنګولو سره څهٔ اوغواړی. او چاله څهٔ ورهم کړم. نو دغه ورکړے شوی مال کښې به برکت نهٔ وی. (مسلم)

۵۳۲- وَعَنْ اَبِیْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْاَشْجَعِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ

۵۳۲- عبدالرحمٰن عوف بن مالک اشجعی رضی الله عنه نه روایت دے.

ﻟﻪ "لاتحلفوا" بضم الفوقية وكسر المهملة اي لا تلحوا

عَنْهُ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِسْعَةً اَوْ ثَمَانِيَةً اَوْ سَبْعَةً فَقَالَ: "اَلَا تُبَايِعُوْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكُنَّا حَدِيْثِيْ عَهْدٍ بِبَيْعَةٍ. فَقُلْنَا. قَدْ بَايَعْنَاكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ!" ثُمَّ قَالَ: اَلَا تُبَايِعُوْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ فَبَسَطْنَا اَيْدِيَنَا وَقُلْنَا قَدْ بَايَعْنَاكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَعَلَامَ نُبَايِعُكَ؟ قَالَ: "اَنْ تَعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهِ شَيْئًا وَالصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ وَتُطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَسَرَّ كَلِمَةً خَفِيْفَةً وَلَا تَسْاَلُوا النَّاسَ شَيْئًا فَلَقَدْ رَاَيْتُ بَعْضَ اُولٰئِكَ النَّفَرِ يَسْقُطُ سَوْطُ اَحَدِهِمْ فَمَا يَسْاَلُ اَحَدًا يُنَاوِلُهُ اِيَّاهُ رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

چه مونږ اوهٔ اتهٔ یا نههٔ کسان دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. تاسو دَ الله رسول سره ولې بیعت نهٔ کوئ؟ حالانکه مونږ څهٔ لږه موده مخکښې هغوئ سره بیعت کړے وو نو مونږ عرض اوکړو چه مونږ خو بیعت کړے دے. مګر هغوئ بهٔ هم دا فرمائیل چه تاسو دَ الله رسول سره ولے بیعت نهٔ کوئ؟ نو مونږ خپل لاسونه دَ بیعت دپاره وړاندے کړل. او عرض مو اوکړو. چه یا رسول الله! یو بیعت خو مونږ کړے دے. بس وایئ چه کوم کارونو باندے بیعت اوکړو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل دا عهد او بیعت اوکړئ چه بندګی بهٔ صرف دَ الله کوئ. او هغهٔ سره بهٔ هیڅوک شریک نهٔ جوړوئ. او پنځه وخته مونځونه بهٔ اداء کوئ. او دَ الله تعالیٰ تابعداری بهٔ کوئ. او نبی کریم صلی الله علیه وسلم داسے ورو غونډے اوفرمائیل چه سوال بهٔ هم نهٔ کوئ. بیعت کونکو خلقو کښې ځینے ما پخپله اولیدل. چه کله بهٔ دَ هغوئ دَ لاسه چرته کوړه (چابک) او غورزیده. نو هیچا ته ئے داسے نهٔ دی وئیلی چه دا کوړه لږه راواخله. (مسلم)

۵۳۳- وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا تَزَالُ الْمَسْاَلَةُ بِاَحَدِكُمْ حَتّٰى يَلْقَى اللّٰهَ تَعَالٰى وَلَيْسَ فِيْ وَجْهِهِ مُزْعَةُ لَحْمٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

"اَلْمُزْعَةُ" بِضَمِّ الْمِيْمِ وَاِسْكَانِ الزَّايِ وَبِالْعَيْنِ الْمُهْمَلَةِ: اَلْقِطْعَةُ ؛

۵۳۳- عبد الله بن عمر رضی الله عنهما بیان کوی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. کهٔ تاسو کښې څوک سوال خپله پیشه جوړولو سره همیشه غواړی. نو کله چه الله تعالیٰ سره مخامخ کیږی. نو دَ هغهٔ پهٔ مخ بهٔ دَ غوښے یوه بوټئ هم نهٔ وی. (بخاری ومسلم)

"اَلْمُزْعَةُ": یعنی ټکړے. بوټئ. پریکړے شوے.

۵۳۴- وَعَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَذَكَرَ الصَّدَقَةَ وَالتَّعَفُّفَ عَنِ الْمَسْاَلَةِ "اَلْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِّنَ الْيَدِ السُّفْلٰى وَالْيَدُ الْعُلْيَا هِيَ الْمُنْفِقَةُ وَالسُّفْلٰى هِيَ السَّائِلَةُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۵۳۴- دا روایت هم دَ عبد الله بن عمر فاروق رضی الله عنهما دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم پهٔ منبر باندے ناست وو. دَ صدقے او دَ سوال نه دَ بچ کیدو پهٔ باره کښې ئے څهٔ فرمائیل. نو وے فرمائیل چه پاسنے لاس دَ لاندینی لاس نه غوره دے. او پاسنے لاس ورکونکے

دے. او لاندینے لاس اخستونکے دے. (بخاري و مسلم)

٥٣٥- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَأَلَ النَّاسَ تَكَثُّرًا [1] فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا فَلْيَسْتَقِلَّ أَوْ لِيَسْتَكْثِرْ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۵۳۵- ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. څوک چه مال جمع کولو د پاره سوال کوی، هغه اصل کښے د اور سکروټے غواړی. اوس دۀ ته اختیار دے چه لږے سکروټے جمع کوی او که ډیرے جمع کوی. (مسلم)

٥٣٦- وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "إِنَّ الْمَسْأَلَةَ كَدٌّ يَكُدُّ بِهَا الرَّجُلُ وَجْهَهُ إِلَّا أَنْ يَسْأَلَ الرَّجُلُ سُلْطَانًا [2] أَوْ فِي أَمْرٍ لَا بُدَّ مِنْهُ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

"الْكَدُّ" الْخَدْشُ وَنَحْوُهُ.

۵۳۶- سمره بن جندب رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. سوال کول یو زخم دے. چه هغې سره هغه کس خپلے سترګے زخمی کوی (البته د ضرورت په وخت کښے د حاکم نه څۀ غوښتل سوال کښے داخل نۀ دی. ځکه چه د مسلمانانو په بیت المال کښے د هر ضرورت مند حق شته. او هغه د هغې وخت د حاکم په لاس کښے وی.) نو د بادشاه نه غوښتل د خپل حق غوښتل دی. او دا سوال کول نۀ دی. (ترمذی) وائی چه دا حدیث حسن صحیح دے. اَلْكَدُّ: نښنه او زخم.

٥٣٧- وَعَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَنْ أَصَابَتْهُ فَاقَةٌ فَأَنْزَلَهَا بِالنَّاسِ لَمْ تُسَدَّ فَاقَتُهُ، وَمَنْ أَنْزَلَهَا بِاللهِ فَيُوشِكُ اللهُ لَهُ بِرِزْقٍ عَاجِلٍ أَوْ آجِلٍ" رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ.

"يُوشِكُ" بِكَسْرِ الشِّينِ: أَيْ يُسْرِعُ.

۵۳۷- عبد الله بن مسعود رض نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. که یو کس په اولږه او فقر کښے ګیر شی او خلقو ته ئے ښکاره کوی. نو د هغۀ غریبی او اولږه به ورکه نۀ شی. او چا چه الله تعالیٰ ته ښکاره کړه. (یعنی د ختمید و عائے اوکړله) نو ډیر زر به هغۀ ته د ولږے نه خلاصے ملاؤ شی. او الله تعالیٰ به ورله د رزق انتظام اوکړی. (ترمذی) وائی چه دا حدیث حسن دے. یُوشِكُ: یعنی تیزی او جلدی. او نزدے دہ.

٥٣٨- وَعَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ تَكَفَّلَ [1] لِي أَنْ لَا يَسْأَلَ النَّاسَ شَيْئًا أَتَكَفَّلُ لَهُ بِالْجَنَّةِ؟ فَقُلْتُ: أَنَا: فَكَانَ لَا يَسْأَلُ أَحَدًا شَيْئًا

۵۳۸- ثوبان رضی الله عنه بیان کوی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، کوم کس چه ماله د دے ضمانت راکړی، چه د خلقو نه به سوال نۀ کوی. نو زۀ ورله د جنت ضمانت ورکوم. ما عرض اوکړو چه د دے ضمانت درکولو سره وعده کوم.

---

[1] تکثرا: ای لیکثر ماله. فانما یسئال جمرًا. قال القاضی عیاض: انه یعاقب بالنار، ویحتمل ان یکون علی ظاهره فان الذی یاخذ یصیر جمرًا یکوی به کما ثبت فی مانع الزکاة،

[2] الا ان یسئال الرجل سلطانا: ای یطلب منه ما اوجب الله کالزکاة والخمس؛

رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ ؛

۵۳۹- وَعَنْ اَبِىْ بِشْرٍ قَبِيْصَةَ بْنِ الْمُخَارِقِ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: تَحَمَّلْتُ حَمَالَةً فَاَتَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَسْاَلُ فِيْهَا فَقَالَ: اَقِمْ حَتّٰى تَاْتِيَنَا الصَّدَقَةُ فَنَامُرَ لَكَ بِهَا. ثُمَّ قَالَ: "يَا قَبِيْصَةُ اِنَّ الْمَسْاَلَةَ لَا تَحِلُّ اِلَّا لِاَحَدِ ثَلَاثَةٍ: رَجُلٌ تَحَمَّلَ حَمَالَةً فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْاَلَةُ حَتّٰى يُصِيْبَهَا ثُمَّ يُمْسِكُ، وَرَجُلٌ اَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ اجْتَاحَتْ مَالَهُ فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْاَلَةُ حَتّٰى يُصِيْبَ قِوَامًا مِّنْ عَيْشٍ اَوْ قَالَ: سِدَادًا مِنْ عَيْشٍ، وَرَجُلٌ اَصَابَتْهُ فَاقَةٌ حَتّٰى يَقُوْلَ ثَلَاثَةٌ مِنْ ذَوِى الْحِجٰى مِنْ قَوْمِهِ لَقَدْ اَصَابَتْ فُلَانًا فَاقَةٌ فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْاَلَةُ حَتّٰى يُصِيْبَ قِوَامًا مِنْ عَيْشٍ اَوْ قَالَ سِدَادًا مِنْ عَيْشٍ فَمَا سِوَاهُنَّ مِنَ الْمَسْاَلَةِ يَا قَبِيْصَةُ سُحْتٌ يَاْكُلُهَا صَاحِبُهَا سُحْتًا." رَوَاهُ مُسْلِمٌ

دې نه پس ثوبان رض د چا نه هیڅ نهٔ وو غوښتلی- (ابوداؤد بسند صحیح)

۵۳۹- ابوبشر قبیصه بن مُخارق رضی الله عنهٔ وائی- چه ما د خلقو مال ذمه واری په خپل سر اخستې وه. (یعنی د دوو ډلو د صلح په طور څهٔ رقم ایښودلے شوے وُو. د هغې د ورکولو ذمه واری ما اخستې وه) د دې ذمه وارئ نه د ځان خلاصولو دپاره زهٔ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شوم- او د مدد سوال م ترې اوکړو- نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل- چه د صدقاتو را تلو پورې انتظار اوکړه. چه هغه راشی نو تا ته به ئې درکړم- بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه اے قبیصه! د درې کسانو نه بغیر بل هیچا دپاره سوال کول جائز نهٔ دی- (۱) هغه کس چه د چا ذمه واری ئې اخستې وی. او پخپله ئې انتظام اونهٔ کړے شو- نو په اندازه د ضرورت ورله غوښتل جائز دی. د ضرورت نه زیات به نهٔ غواړی- (۲) هغه کس چه آفت پرې راغے- او مال او اسباب ئې خراب شول- نو په اندازه د ضرورت غوښتلے شی- یائې اوفرمائیل چه د ژوند تیرولو ګزاره ئې پرې کیږی (نو غوښتلے شی) (۳) هغه کس چه د غریبۍ او د اولږې داسې حالت ته اورسی- چه د هغهٔ د خاندان (یا د قبیلې) درې معتبر خلق دا اووائی- چه واقعی اولږې ګیر کړے دے- نو هغهٔ له سوال کول جائز دی- مګر صرف دومره چه زندګی ئې پرې بچ شی- یائې اوفرمائیل چه د دهٔ ګزاره پرې اوشی- د دې درې قسمو نه بغیر هر قسمه سوال حرام دے- او داسې کس حرامه خوری- (مسلم)

د الفاظو تشریح

"اَلْحَمَالَةُ" بِفَتْحِ الْحَاءِ: اَنْ يَقَعَ قِتَالٌ وَنَحْوُهٗ بَيْنَ فَرِيْقَيْنِ فَيُصْلِحُ اِنْسَانٌ بَيْنَهُمْ عَلٰى مَالٍ فَيَتَحَمَّلُهٗ وَيَلْتَزِمُهٗ عَلٰى نَفْسِهٖ: "وَالْجَائِحَةُ": الْاٰفَةُ تُصِيْبُ مَالَ الْاِنْسَانِ "وَالْقَوَامُ" بِكَسْرِ الْقَافِ وَفَتْحِهَا: هُوَ مَا يَقُوْمُ بِهٖ اَمْرُ الْاِنْسَانِ مِنْ مَالٍ وَنَحْوِهٖ: "وَالسِّدَادُ" بِكَسْرِ السِّيْنِ: مَا يَسُدُّ حَاجَةَ

اَلْحَمَالَةُ : بوج او چټونګے یا ذمه واری اخستونکے- یعنی صورت حال دا دے، چه جنګ کښې د دوو ډلو ترمینځ وی- او دا ئې ثالث او دریم کړے شی او د صلح په صورت د مال او دولت ضامن او ذمه دار شی- او پخپله د اداء کولو ذمه واری واخلی

جَائِحَةٌ : داسې آفت چه د انسان مال ضائع شی-

اَلْقِوَامُ : زبر زیر دواړه درست دی-

له "تکفّل" بفتح الفوقیة وتشدید الفاء: ای ضمن ؎

الْمَعُوزِ وَ يَلْفِيْدِ " وَالْفَاقَةُ " الْفَقْرُ: " وَالْحِجَى " الْعَقْلُ:

یعنی هغه څیزته وائی چه د انسان د ژوندون کاروبار په هغې سره چلیږی. خواه که مال وی که بل هر څیز وی.

اَلسِّدَادُ: چه د حاجت مند ضرورت پوره شی او هغه ورله کافی هم وی. ګزاره ئې پرې کیږی. اَلْفَاقَةُ: اولږه او غربې. اَلْحِجَى: عقل.

۵۴۰ - وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَیْسَ الْمِسْكِیْنُ الَّذِیْ یَطُوْفُ عَلَى النَّاسِ تَرُدُّهُ اللُّقْمَةُ وَ اللُّقْمَتَانِ وَالتَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَ لٰكِنَّ الْمِسْكِیْنَ الَّذِیْ لَا یَجِدُ غِنًى یُغْنِیْهِ ـه۱ وَلَا یُفْطَنُ لَهٗ فَیُتَصَدَّقُ عَلَیْهِ وَلَا یَقُوْمُ فَیَسْاَلُ النَّاسَ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ∴

۵۴۰ - ابوهریره رضی الله عنه وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. هغه مسکین نهٔ دے. چه یو دوه نمړی دپاره یا یو دوه کهجورو دپاره خلقوله ځی او راځی. مسکین خو هغه دے چه نهٔ ورسره دومره څهٔ څیز وی چه د خلقو نه بے پرواه او بے غمه شی. او نهٔ خلقو ته د هغهٔ د حال خبر وی. چه پخپله ئے امداد اوکړی. او نهٔ د شرم او غیرت د وجهے نه چرته ډله کښے پخپله د سوال دپاره اودریدے شی.

(بخاری ومسلم)

باب ۵۸

بَابُ جَوَازِ الْاَخْذِ مِنْ غَیْرِ مَسْئَلَةٍ وَلَا تَطَلُّعٍ اِلَیْهِ ! بغیر د غوښتلو نه او بغیر د طمع نه د څهٔ څیز اخستلو بیان -

ف:- دے باب کښے صرف یو حدیث دے.

۵۴۱ - وَعَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ اَبِیْهِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یُعْطِیْنِیْ الْعَطَآءَ فَاَقُوْلُ: اَعْطِهٖ مَنْ هُوَ اَفْقَرُ اِلَیْهِ مِنِّیْ فَقَالَ: خُذْهُ اِذَا جَآءَكَ مِنْ هٰذَا الْمَالِ شَیْءٌ وَ اَنْتَ غَیْرُ مُشْرِفٍ وَلَا سَآئِلٍ فَخُذْهُ فَتَمَوَّلْهُ ـه۲ فَاِنْ شِئْتَ كُلْهُ وَاِنْ شِئْتَ تَصَدَّقْ بِهٖ وَمَالَا فَلَا تُتْبِعْهُ نَفْسَكَ" قَالَ سَالِمٌ فَكَانَ عَبْدُ اللّٰهِ لَا یَسْاَلُ اَحَدًا شَیْئًا وَلَا یَرُدُّ شَیْئًا اُعْطِیَهٗ" مُتَّفَقٌ ∴ .

۵۴۱ - سالم د خپل پلار عبدالله رضی الله عنه او هغهٔ د خپل پلار عمر فاروق رضی الله عنه نه روایت کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به ماله څهٔ راکول. نو ما به عرض اوکړو چه دا هغه چا ته ورکړئ څوک چه ځما نه زیات ضرورت مند وی. نو هغوئ به فرمائیل چه کله تاله داسے مال راشی چه نه ئے تا څهٔ طمع کړے وی او نه ئے تا چرته سوال کړے وی نو هغه اخله. او خپل مال ئے کنړه. بیا ستا خوښه ده که پخپله ئے استعمالوے یائے چا ته صدقه ورکوے. او که داسے نهٔ وی. نو بیا ورپسے ځان مهٔ ورپسے کوه.

سالم رضی الله عنه وائی. چه ځما پلار عبدالله رضی الله عنه به د هیچا نه

ـه۱ یغنیه "بضم التحتیة": ای یکفیه عن سؤال الغیر" ولایفطن له": ای لتصبره وکتم حاله وما هو فیه ∴

ـه۲ فتموله: ای اجعله مالک ∴

هیڅ خیز نهٔ غوښتلو. او کهٔ بغیر دَ غوښتلو نه به ورته څهٔ خیز ورکړے شو. نو واپس کولو بهٔ نهٔ. (بخاری ومسلم)

"مُشْرِفٌ" بِالشِّيْنِ الْمُعْجَمَةِ أَیْ مُتَطَلِّعٌ اِلَیْهِ: مُشْرِفٌ: دے نه خبرنهٔ وی، او نهٔ ترے واقف وی.

باب ۵۹

ف: دے باب کښے یو قرآنی آیت او پنځه نبوی حدیثونه دی. خپل محنت سره دَ کټلی خوراک فضیلت به پخپله واوری. حقیقت دا دے چه دَ خپل لاس کټه کښے خو دینی عزت شته، دُنیادی لحاظ سره هم دَ سړی زړهٔ دا سے کټلو سره په اطمینان کیږی. بلے کومے ذریعے سره دهٔ ته هغه اطمینان نصیب کیږی نهٔ. دے کښے دَ علماؤ څهٔ اختلاف نشته چه پیشه یا بله ذریعه دَ ژوندون او دَ دولت کټلو چه دَ شریعت دَ حدودو نه بهرنهٔ وی. نهٔ خرابه ده او نهٔ څهٔ بده ده. البته مختلفو پیشو کښے دَ غوره والی په لحاظ سره دَ علماؤ اختلاف دے. امام شافعیؒ تجارت که ټولو نه بنهٔ پیشه کنړلے ده. او بعضو زراعت یعنی زمینداری یا کرکیله بنه پیشه بنودلے ده. مگر دَ اصل او دَ بنیاد په طور داخبره یاده لرئ. چه پخپلو لاسونو او خولے ویستلو سره چه څهٔ اوکټلے شی. هم هغه غوره دے. خواه تجارت سره وی، کارخانے سره وی کرکیلے سره وی. خو شرط پکښے صرف دا دے. چه په الله ئے پوره یقین وی. نیت ئے بنهٔ صفا او خالص وی. او دَ شریعت دَ حدودو پکښے هم خیال کوی.

بَابُ الْحَثِّ عَلَى الْاَکْلِ مِنْ عَمَلِ یَدِهٖ وَالتَّعَفُّفِ بِهٖ عَنِ السُّؤَالِ وَالتَّعَرُّضِ لِلْاِعْطَآءِ.

یعنے خپل لاس سره دَ کټے بیان

(قرآنی آیتونه)

۱۸۰- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی لہ "فَاِذَا قُضِیَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِی الْاَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ"

۱۸۰- کله چه تاسو دَ جُمعے مونځ پوره کړئ. نو بیا زمکه کښے خواره شئ او دَ الله تعالیٰ فضل سره (روزئ) تلاش کولو کوشش اوکړئ. (پ۲۸، جمعه)

(نبوی حدیثونه)

۵۴۲- وَعَنْ اَبِیْ عَبْدِ اللّٰهِ الزُّبَیْرِ بْنِ الْعَوَّامِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَاَنْ یَاْخُذَ اَحَدُکُمْ اَحْبُلَهٗ ثُمَّ یَاْتِیَ الْجَبَلَ فَیَاْتِیَ بِحُزْمَةٍ مِّنْ حَطَبٍ عَلٰی ظَهْرِهٖ فَیَبِیْعَهَا فَیَکُفَّ اللّٰهُ بِهَا وَجْهَهٗ خَیْرٌ لَّهٗ مِنْ اَنْ یَّسْاَلَ النَّاسَ اَعْطَوْهُ اَوْ مَنَعُوْهُ" رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ.

۵۴۲- ابو عبدالله زبیر بن عوام رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل. خامخا کهٔ یو کس رسئ واخلی. او ځنګل غرته لاړشئ. او دَ لرګو کیڼے په شا باندے راوړی. او هغه خرڅ کړی. او الله تعالیٰ دغه کس ته دَ ضرورت مطابق دَ دے په ذریعه ورکړی نو دا دَ هغهٔ دپاره غوره ده. دَ دے نه چه هغه دَ خلقو نه او غواړی څوک څهٔ ورکړی او څوک ئے ورنهٔ کړی. (بخاری)

۵۴۳- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَاَنْ یَحْتَطِبَ اَحَدُکُمْ حُزْمَةً عَلٰی ظَهْرِهٖ خَیْرٌ لَهٗ مِنْ اَنْ یَسْاَلَ اَحَدًا فَیُعْطِیَهٗ اَوْ یَمْنَعَهٗ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ ؛

۵۴۳- ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. تاسو کښے دِ یوکس په خپله دَ لرګو یو بار راوړی. دا دے نه بهتره ده چه دَچا نه سوال کوی چه څوک څۀ ورکړی یا ورنۀ کړی۔

(بخاری ومسلم)

۵۴۴- وَعَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: کَانَ دَاوٗدُ عَلَیْهِ السَّلَامُ لَا یَاْکُلُ اِلَّا مِنْ عَمَلِ یَدِهٖ" رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ۔

۵۴۴- ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله عَلَیْهِ وسلم اوفرمائیل. چه داؤد علیه السلام به دَ خپل لاس دَ ګټے نه بغیر هیڅ نۀ خوړل.

(بخاری)

۵۴۵- وَعَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "کَانَ زَکَرِیَّا عَلَیْهِ السَّلَامُ نَجَّارًا" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۵۴۵- دا روایت هم دَ ابوهریره رضی الله عنه دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه ذکریا علیه السلام به دَ ترکاڼۍ کار کولو.

(مسلم)

۵۴۶- وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ مَعْدِیْکَرِبَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَا اَکَلَ اَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَیْرًا مِّنْ اَنْ یَّاْکُلَ مِنْ عَمَلِ یَدَیْهِ وَ اِنَّ نَبِیَّ اللّٰهِ دَاوٗدَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَانَ یَاْکُلُ مِنْ عَمَلِ یَدِهٖ". رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ ؛

۵۴۶- مقداد بن معدیکرب رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. چه یوکس دَ خپل لاس دَ ګټے نه غوره بل هیڅ خوراک نۀ دے خوړلے. او دَ الله نبی داؤد علیه السلام به دَ خپل لاس ګټه خوړله.

(بخاری)

باب ۶۰

ف: دے باب کښے دَرے[2] قرآنی آیتونه او نولس[19] نبوی حدیثونه دی.

بَابُ الْکَرَمِ وَالْجُوْدِ وَالْاِنْفَاقِ فِیْ وُجُوْهِ الْخَیْرِ ثِقَةً بِاللّٰهِ تَعَالٰی ؛

د سخاوت او د الله تعالیٰ په توکل دنیکۍ په کارونو کښے دخرچ کولو فضیلت ؛

(قرانی ایتونه)

۱۸۱- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[1] "وَمَا اَنْفَقْتُمْ مِّنْ شَیْءٍ فَهُوَ یُخْلِفُهٗ"

۱۸۱- کوم څیز چه تاسو (دَ الله په کارونو کښے) خرچ کوئ. الله تعالیٰ به دَ هغے اجر درکوی. (پ ۲۲، سبا)

۱۸۲- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[2] "وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَیْرٍ فَلِاَنْفُسِکُمْ وَمَا تُنْفِقُوْنَ اِلَّا

۱۸۲- تاسو چه څۀ خرچ کوئ. نو دا دَ خپلے فائدے دپاره کوئ. او ستاسو دا

---

[1] سورة سبا آیة ۳۹ [2] [illegible] سورة البقرة ۲ آیة [illegible]

ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللّٰهِ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ يُّوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ".

خرچ د الله د مخ غوښتلو نه بغیر بل مقصد د پاره نهٔ دے۔ او کوم خیز چه تاسو خرچ کوئ، د هغے به پوره اجراو ثواب ملاؤ شی او هیڅ کمے به پکښے نشی کولے۔ (پ۲، بقره)

۱۸۳- وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1] "وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ.

۱۸۳- تاسو چه کوم مال خرچ کوئ۔ الله تعالٰی ته ئے پوره پوره علم دے۔ (پ۲، بقره)

(نبوی حدیثونه)

۵۴۷- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا حَسَدَ اِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ رَجُلٌ اٰتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَسَلَّطَهٗ عَلٰى هَلَكَتِهٖ فِي الْحَقِّ، وَرَجُلٌ اٰتَاهُ اللّٰهُ حِكْمَةً فَهُوَ يَقْضِيْ بِهَا وَيُعَلِّمُهَا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَمَعْنَاهُ: يَنْبَغِيْ اَنْ لَا يُغْبَطَ اَحَدٌ اِلَّا عَلٰى اِحْدٰى هَاتَيْنِ الْخَصْلَتَيْنِ :

۵۴۷- عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه حَسَد (پسخیدل) د دوؤ کسانو سره کول بکار دی: (۱) یو هغه کس سره چه هغهٔ ته الله تعالٰی ډیر مال ورکړے وی۔ او دا توفیق ئے هم ورکړے وی۔ چه د الله په لاره کښے ئے خرچ کړی۔ (۲) دویم هغه کس سره چه الله تعالٰی عِلم ورکړے وی۔ او د هغے په ذریعه صحیح فیصلے کوی۔ او خلقو کښے ئے خوروی۔ (بخاری ومسلم)

(د حدیث مطلب دا دے چه هیڅوک ته پسخیدل نهٔ دی پکار۔ او نهٔ یو خیز پسے ارمان پکار دے۔ بغیر د دے دوؤ خویونو نه).

۵۴۸- وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَيُّكُمْ مَالُ وَارِثِهٖ اَحَبُّ اِلَيْهِ مِنْ مَالِهٖ؟" قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا مِنَّا اَحَدٌ اِلَّا مَالُهٗ اَحَبُّ اِلَيْهِ۔ قَالَ "فَاِنَّ مَالَهٗ مَا قَدَّمَ[2] وَمَالَ وَارِثِهٖ مَا اَخَّرَ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ :

۵۴۸- دا روایت هم د عبد الله بن مسعود رض دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ تاسو کښے داسے څوک شته چه د خپل مال نه ورته د وارث مال ډیر خوښ وی؟ صحابو رض عرض اوکړو یا رسول الله! مونږ کښے یو هم داسے نشته۔ هرچا ته خپل مال خوښ دے۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ د هغهٔ مال خو هغه دے کوم ئے چه د ځان نه مخکښے لیږلے دے۔ او په نیکو کارونو کښے ئے خرچ کړو۔ او د آخرت د پاره ئے ذخیره کړو۔ باقی پاتے کیدونکے مال خو د وارثانو دے۔ (بخاری)

۵۴۹- وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ[3]" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ :

۵۴۹- عدی بن حاتم رض نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ چه خپل ځان د اور نه بچ کړئ۔ اګر که د یو کهجورے د یو ټکړے په ذریعه وی۔ (بخاری ومسلم)

۵۵۰- وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: مَا سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا قَطُّ

۵۵۰- جابر رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم

---

[1] سورة البقرة ۲ آیة ۲۷۳ [2] "ما قدم" ای بان تصدق او اکل اولبس. وفی الحدیث الحث علی ما یمکن تقدیمه من المال فی وجوه الخیر لینتفع به فی الآخرة۔ [3] بکسر الشین المعجمة: ای بنصفها ؛

فَقَالَ لَا: مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ::

نه کله چه خټه غوښتلې شوې دي - نو نه لفظ ئے نه دے ویلي - (بخاري ومسلم)

۵۵۱- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيْهِ اِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُوْلُ اَحَدُهُمَا اَللّٰهُمَّ اَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَيَقُوْلُ الْاٰخَرُ: اَللّٰهُمَّ اَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۵۵۱ - ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل - یوه ورځ هم داسے نه تیریږي. چه سحر د الله بندګان راپاسي. او دوه فرښتے د آسمان نه راکوزے شي او دا دُعا ئے نه وي کړے - یوه فرښته وائي. اے الله! خرچ کونکي سخي ته ښه بدله او ثواب ورکړے. دوېمه فرښته وائي. اے الله! قط به قط (دولت) کیښودونکے (شوم) تباه او برباد کړے - (بُخاريٌ ومُسلمٌ)

۵۵۲- وَعَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللهُ تَعَالٰى اَنْفِقْ يَا ابْنَ اٰدَمَ يُنْفَقْ عَلَيْكَ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ -

۵۵۲ - حضرت ابوهریره رضؓ نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه الله تعالیٰ فرمائي: اے د آدم ځویه! ته بل چا باندے خرچ کوه. تا باندے به هم خرچه اوکړے شي. (بُخاري ومُسلم)

۵۵۳- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا اَنَّ رَجُلًا سَاَلَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّ الْاِسْلَامِ خَيْرٌ؟ قَالَ تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتَقْرَاُ السَّلَامَ عَلٰى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ - مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ -

۵۵۳ - حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص رضی الله عنهما نه روایت دے. چه یوکس د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوکړه چه په اسلام کښے کومے کومے خوبیانے غوره دي - نبي علیه السلام اوفرمائیل، چا باندے خوراک خوړول. او هر پیژندګلو او نابلده (خلقو) ته سلام کول - (بُخاريٌ ومُسلمٌ)

۵۵۴- وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرْبَعُوْنَ خَصْلَةً اَعْلَاهَا مَنِيْحَةُ الْعَنْزِ[1] مَا مِنْ عَامِلٍ يَعْمَلُ بِخَصْلَةٍ مِّنْهَا رَجَاءَ ثَوَابِهَا وَ تَصْدِيْقَ مَوْعُوْدِهَا اِلَّا اَدْخَلَهُ اللهُ تَعَالٰى بِهَا الْجَنَّةَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. وَقَدْ سَبَقَ بَيَانُ هٰذَا الْحَدِيْثِ فِيْ بَابِ بَيَانِ كَثْرَةِ طُرُقِ الْخَيْرِ -

۵۵۴ - دا روایت هم د عبدالله بن عمرو بن عاص رضی الله عنه دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل؛ څلویښت (۴۰) خویونه داسے خوښ خویونه دي. که په هغے کښے په یو باندے څوک د ثواب او اجر امید اوساتي. او د هغے په باره کښے چه څه ویلي شوے دي - هغه ریښتینے اوګڼړي، او بیا پرے عمل اوکړي، نو الله تعالیٰ به ئے جنت ته داخل کړي - (بُخاري) د ټولو نه اوچت خوئے چا ته پئ ورکونکے څاروے د پیو دپاره ورکول دي - چه کله پورے پئ ورکوي، د هغے نه فائده اوچتوي - بیا ئے واپس کړي -

---

[1] منحة العنز: هي ان يعط الرجل صاحبه شاة او ناقة ينتفع عليها ثم يردها.

تَعُوْلُ وَ الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلٰى. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

بنه نه دهٔ - د ضرورت مطابق جمع كولوا و كيښودلو باندے ملامتيا نشته. روميے خرچ په هغه چا كوه، چه ته د هغوئ مشقت برداشت كوے (يعني اهل وعيال باندے) . او پاسنی لاس د لاندينی لاس نه غوره دے - (مُسلم)

٥٥٦- وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ مَا سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْإِسْلَامِ شَيْئًا إِلَّا أَعْطَاهُ وَلَقَدْ جَاءَهُ رَجُلٌ فَأَعْطَاهُ غَنَمًا بَيْنَ جَبَلَيْنِ فَرَجَعَ إِلٰى قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ أَسْلِمُوْا فَإِنَّ مُحَمَّدًا يُعْطِيْ عَطَاءَ مَنْ لَا يَخْشَى الْفَقْرَ وَإِنْ كَانَ الرَّجُلُ لَيُسْلِمُ مَا يُرِيْدُ إِلَّا الدُّنْيَا فَمَا يَلْبَثُ[1] إِلَّا يَسِيْرًا حَتّٰى يَكُوْنَ الْإِسْلَامُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

٥٥٦- انس بن مالک رضی الله عنه وائی. چه د اسلام نه پس چه د نبی علیه السلام نه څه غوښتلے شوی دی. نو هغوئ ورکړے دی. یو سړے راغے. نو نبی علیه السلام هغهٔ ته د بیزو یوه رمه ورکړه. چه د دوو غرونو ترمینځ وه. هغه سړے خپلے قبیلے ته لاړ، او وے وئیل، اسلام قبول کړئ، ځکه چه نبی علیه السلام د هغه چا غوندے ورکړه کوی، چه د غریبئ او د اولږے نه ویریږی. که یو کس به د دُنیا غوښتلو د پاره اسلام راوړلو، نو یو څو ورځو د پاره به هم هغسے حالت کښے وُو. مګر لږ وخت او لږه زمانه پس به د هغهٔ حالت ډیر بدل شو چه دُنیا او دُنیا کښے چه څه دی هغه ته به یکښے صرف اسلام ډیر زیات خوښ وُو. (مُسلمٌ)

٥٥٧- وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَسَمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسْمًا فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ لَغَيْرُ هٰؤُلَاءِ كَانُوْا أَحَقَّ بِهِ مِنْهُمْ؟ قَالَ إِنَّهُمْ خَيَّرُوْنِيْ أَنْ يَسْأَلُوْنِيْ بِالْفُحْشِ فَأُعْطِيَهُمْ أَوْ يُبَخِّلُوْنِيْ[2] وَلَسْتُ بِبَاخِلٍ. (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

٥٥٧- حضرت عمر فاروق رضی الله عنه وائی، چه نبی علیه السلام یو وارے څه خلقو کښے مال تقسیم کړو. نو ما هم عرض اوکړو. یا رسول الله! د دوئ نه زیات نور خلق حقدار دی - نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه دوئ ما ته ډیر زیات او بار بار وینا کړے وه. اوس به دوئ ته څهٔ ورکوم او یا به ما شوم ګنړی. او زهٔ خو شوم نهٔ یم. (نو ځکه مے د هغوئ په غوښتنه هغوئ ته ورکړو. د نورو نه مے زیات حقدار ګنړلو سره نه دی ورکړی) - (مُسلمٌ)

٥٥٨- وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ بَيْنَمَا هُوَ يَسِيْرُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقْفَلَهُ مِنْ حُنَيْنٍ فَعَلِقَهُ الْأَعْرَابُ يَسْأَلُوْنَهُ حَتّٰى اضْطَرُّوْهُ إِلٰى سَمُرَةٍ فَخَطِفَتْ

٥٥٨- حضرت جبیر بن مطعم رضی الله عنه نه روایت دے. چه د غزوهٔ حنین نه په واپسئ باندے زهٔ د نبی علیه السلام سره روان ووم. دغه وخت کښے نبی علیه السلام یو څو بانډه چیانو ګیر کړو. او څه ئے ترے اوغوښتل، او سوال ئے هم ډیرے طریقے وُو. او نبی علیه السلام یو رے کلک انښتی

---

[1] "يلبث" بفتح التحتية والموحدة وسكون اللام بينهما: اي يمكث. [2] "يبخلوني": اي انهم الحوا علي في السؤال لضعف ايمانهم والجئوني بمقتضى حالهم الى السؤال بالفحش او نسبتي الى البخل ولست بباخل.

۵۵۹- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَّالٍ وَمَا زَادَ اللّٰهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا، وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلّٰهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

۵۵۹- حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، صدقه ورکول مال کښې څه کمے نه راولی. بنده چه چا ته د معافئ نه کار اخلی. نو الله تعالیٰ ئې عزّت زياتوی. او څوک چه صرف د الله د رضا د پاره عاجزی کوی نو الله تعالیٰ ورته درجې زياتوی.

(مسلمؒ)

۵۶۰- وَعَنْ أَبِي كَبْشَةَ عَمْرِو بْنِ سَعْدٍ الْأَنْمَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ ثَلَاثَةٌ أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيْثًا فَاحْفَظُوْهُ مَا نَقَصَ مَالُ عَبْدٍ مِنْ صَدَقَةٍ، وَلَا ظُلِمَ عَبْدٌ مَظْلَمَةً صَبَرَ عَلَيْهَا إِلَّا زَادَهُ اللّٰهُ عِزًّا وَلَا فَتَحَ عَبْدٌ بَابَ مَسْأَلَةٍ إِلَّا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِ بَابَ فَقْرٍ أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيْثًا فَاحْفَظُوْهُ قَالَ إِنَّمَا الدُّنْيَا لِأَرْبَعَةِ نَفَرٍ عَبْدٌ رَزَقَهُ اللّٰهُ مَالًا وَعِلْمًا فَهُوَ يَتَّقِيْ فِيْهِ رَبَّهُ وَيَصِلُ فِيْهِ رَحِمَهُ وَيَعْلَمُ لِلّٰهِ

۵۶۰- حضرت ابوکبشه عمرو بن سعد انماری رضی الله عنه نه روايت دے. چه ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه دا سے فرمائيلی آوريدلی دی. چه درې خبرې دا سے دی، چه زه پرې قسم خورم. او تاسو ته ئې ځکه ښايم، چه خپلو دماغو کښې ئې ياد ساتئ. (۱) صدقې او خيرات کولو سره د چا مال نه کميږی (۲) او که په چا ظلم اوکړے شی، او صبر سره ئې برداشت کړی. نو الله تعالیٰ به يقيناً د هغه عزّت زيات کړی. (۳) او چا چه ځان له د سوال دروازه پرانستله نو الله تعالیٰ به پرې د اولږې او د غريبئ دروازه پرانيزی. يائې دا سے څه بله جمله اوفرمائيله. او يوه خبره درته بله هم ښايم. هغه هم ياده ساتئ، چه دُنيا کښې څلور قِسمه سړی دی: (۱) يو هغه چه الله تعا ورته مال هم ورکړے دے او علم هم. د علم په وجه د خپل رب نه ويريږی او د مال په

فِيْهِ حَقًّا فَهٰذَا بِاَفْضَلِ الْمَنَازِلِ وَعَبْدٌ رَزَقَهُ اللّٰهُ عِلْمًا وَّلَمْ يَرْزُقْهُ مَالًا فَهُوَ صَادِقُ النِّيَّةِ يَقُوْلُ لَوْ اَنَّ لِيْ مَالًا لَعَمِلْتُ بِعَمَلِ فُلَانٍ فَهُوَ بِنِيَّتِهٖ فَاَجْرُهُمَا سَوَآءٌ وَعَبْدٌ رَزَقَهُ اللّٰهُ مَالًا وَلَمْ يَرْزُقْهُ عِلْمًا فَهُوَ يَخْبِطُ فِيْ مَالِهٖ بِغَيْرِ عِلْمٍ لَا يَتَّقِيْ فِيْهِ رَبَّهٗ وَلَا يَصِلُ فِيْهِ رَحِمَهٗ وَلَا يَعْلَمُ لِلّٰهِ فِيْهِ حَقًّا فَهٰذَا بِاَخْبَثِ الْمَنَازِلِ وَعَبْدٌ لَمْ يَرْزُقْهُ اللّٰهُ مَالًا وَلَا عِلْمًا فَهُوَ يَقُوْلُ لَوْ اَنَّ لِيْ مَالًا لَعَمِلْتُ فِيْهِ بِعَمَلِ فُلَانٍ فَهُوَ بِنِيَّتِهٖ فَوِزْرُهُمَا سَوَآءٌ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ۔

وجه خیلوانو سره تعلق جوړوی۔ او د الله تعالیٰ حق پکښې هم اداء کوی۔ د مرتبې په اعتبار سره دا سړے اوچته درجه لری۔ (۲) دوئیم هغه چه الله تعالیٰ ورته علم خو ورکړے دے، مګر مال ورسره نشته۔ نو که د ده نیت ریښتینے وی، او دا وائی، که ماسره مال هم وے، نو ما به هم هغسے کار کولے۔ لکه چه فلانکے ئے کوی۔ نو دا کس په ریښتونی نیت سره د وړومبی کس سره په ثواب کښې برابر دے۔ (۳) دریم هغه څوک چه مال خو ورکړے شو، لیکن علم ورسره نشته۔ که دغه کس خپل مال د جهالت په وجه په ګډوډ ځایونو کښې خرچ کړی۔ او خپلولی هم ختموی۔ او نه دا ګنړی چه دے مال کښې د الله تعالیٰ هم څه حق او حصه شته۔ نو دا سړے په مرتبه کښې ډیر خراب دے۔ (۴) څلورم هغه چه الله تعالیٰ ورته نه مال ورکړے وی او نه علم۔ او هغه وائی، که ماسره مال وے، نو ما به هم د فلانکی غونده (غلط) لګولے۔ او نیت ئے هم دغه وی۔ نو د ګناه په اعتبار سره دواړه برابر دی۔ (ترمذی) او وئیلی دی، چه دا حدیث حسن صحیح دے۔

۵۶۱۔ وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّهُمْ ذَبَحُوْا شَاةً فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَقِيَ مِنْهَا؟ قَالَتْ مَا بَقِيَ مِنْهَا اِلَّا كَتِفُهَا قَالَ بَقِيَ كُلُّهَا غَيْرَ كَتِفِهَا رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ۔ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ. وَمَعْنَاهُ تَصَدَّقُوْا بِهَا اِلَّا كَتِفَهَا فَقَالَ بَقِيَتْ لَنَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا كَتِفَهَا۔

۵۶۱۔ حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی، چه مونږ یوه بیزه حلاله کړے وه۔ د هغې په باره کښې نبی علیه السلام پوښتنه اوکړه، چه هغې کښې څه پاتے شوی دی؟ حضرت عائشې رض جواب ورکړو، چه یوه اوږه صرف شته۔ نبی علیه السلام اوفرمائیل، دا اوګے نه بغیر ټول باقی پاتے دی۔ (ترمذی) ترمذیؒ وائی چه دا حدیث حسن دے۔ (مطلب دا چه د یو لاس نه بغیر ټوله غوښه چه کومه صدقه کړے شوے ده۔ هغه آخرت کښې ځمونږ د پاره باقی ده)۔

۵۶۲۔ وَعَنْ اَسْمَآءَ بِنْتِ اَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَتْ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُوْكِيْ[1] فَيُوْكِيَ اللّٰهُ

۵۶۲۔ بی بی اسماء بنت ابوبکر رضی الله عنهما وائی۔ چه ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، سا تل مه کوه ګنی الله تعالیٰ به هم رزق یا اسباب د رزق په تا باندے بند کړی۔ یو روایت کښې داسے راځی، چه خرچ

---

[1] ای لاتدخری ما عندك وتمنعی ما فی یدك فیوکی الله علیك، ای فیقطع الله علیك مادة الرزق۔

عَلَيْكَ ، وَفِيْ رِوَايَةٍ اَنْفِقِيْ اَوْ اَنْفِحِيْ اَوْ اَنْضِحِيْ وَلَا تُحْصِيْ[1] فَيُحْصِيَ اللّٰهُ عَلَيْكِ ، وَلَا تُوْعِيْ فَيُوْعِيَ اللّٰهُ عَلَيْكِ ۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وَانْفَحِيْ" بِالْحَآءِ الْمُهْمَلَةِ، وَهُوَ بِمَعْنٰى " اَنْفِقِيْ " كَذٰلِكَ "اَنْضِحِيْ"۔

کوه۔ یائے یوشان معنیٰ والا لفظونه اوفرمائیل؛ " اَنْفِحِيْ " او " اَنْضِحِيْ " (چه د انفقی هم معنیٰ دے)۔ او شمار مه کوه۔ او مال جمع کوه مه۔ الله تعالیٰ به ئے هم په تا بند کړی۔ او باقی پاتے شوے رقم مهٔ سنبالوه۔ الله تعالیٰ به ئے هم کیږدی۔

(بخاریؒ ومسلمؒ)

۵۶۳- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَثَلُ الْبَخِيْلِ وَالْمُنْفِقِ كَمَثَلِ رَجُلَيْنِ عَلَيْهِمَا جُنَّتَانِ مِنْ حَدِيْدٍ مِنْ ثُدِيِّهِمَا[2] اِلٰى تَرَاقِيْهِمَا فَاَمَّا الْمُنْفِقُ فَلَا يُنْفِقُ اِلَّا سَبَغَتْ اَوْ وَفَرَتْ عَلٰى جِلْدِهٖ حَتّٰى تُخْفِيَ بَنَانَهٗ وَتَعْفُوَا اَثَرَهٗ وَاَمَّا الْبَخِيْلُ فَلَا يُرِيْدُ اَنْ يُنْفِقَ شَيْئًا اِلَّا لَزِقَتْ كُلُّ حَلْقَةٍ مَكَانَهَا فَهُوَ يُوَسِّعُهَا فَلَا تَتَّسِعُ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"وَالْجُنَّةُ". اَلدِّرْعُ ، وَمَعْنَاهُ اَنَّ الْمُنْفِقَ كُلَّمَا اَنْفَقَ سَبَغَتْ وَطَالَتْ حَتّٰى تَجُرَّ وَرَآءَهٗ وَتُخْفِيَ رِجْلَيْهِ وَاَثَرَ مَشْيِهٖ وَخُطُوَاتِهٖ۔

۵۶۳- حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے۔ چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیل آوریدلی دی، چه (مال ایسارونکے) شوم او خرچ کونکے داسے مثال لری۔ چه دواړو د اوسپنے زغره د سینے نه مرئ پورے آغوستلے وی۔ خرچ کونکے چه خرچ کوی نو زغره ئے فراخه او آرته بیرته شی۔ او په ټول بدن ئے خوره شی۔ تردے چه خپورے ئے خوره شی او د قدمونو نښے ئے هم ورانوی۔ او شوم د خرچ کولو هډو اراده نهٔ لری۔ نو څکه ئے زغره هم په خپل ځائے اِ نښتے وی۔ او هغه ئے پرانستل غواړی۔ مګر نهٔ پرانستلے کیږی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

"اَلْجُنَّةُ": زغره۔ (مطلب دا دے، چه خرچ کونکے کله خرچ کوی، نو هغه خوریږی د ونړه خوریږی چه په زمکه رابښکلے کیږی۔ او د قدمونو نښے۔ ورانوی یعنی زړهٔ ئے ازاد وی هر وخت خوشحال وی او بخیل هر وخت تنګ او خفه وی۔

۵۶۴- وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَصَدَّقَ بِعَدْلِ تَمْرَةٍ[3] مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ وَلَا يَقْبَلُ اللّٰهُ اِلَّا الطَّيِّبَ فَاِنَّ اللّٰهَ يَقْبَلُهَا بِيَمِيْنِهٖ ثُمَّ يُرَبِّيْهَا لِصَاحِبِهَا كَمَا يُرَبِّيْ اَحَدُكُمْ فَلُوَّهٗ حَتّٰى تَكُوْنَ مِثْلَ

۵۶۴- دا روایت هم د حضرت ابوهریرهؓ دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه کوم کس د خپل پاک حلال مال نه دیوے کجورے د قیمت په اندازه کله صدقه کوی۔ او الله تعالیٰ هم د پاک مال نه بغیر بل مال نه قبلوی۔ پس الله تعالیٰ دا سے صدقه په خپل ښی لاس قبلوی او هغے کښے برکت اچوی۔ او د صدقه ورکونکی دپاره ئے

---

[1] "ولا تحصی" ای لا تسکی المال وتدخریه۔ [1] "ولا توعی" ای تمنعی ما فضل عنك عمن هو محتاج الیه [2] "ثدیهما" بضم الثاء الثلثة وكسر الدال وتشدید التحتیة: جمع ثدی الی تراقیهما "جمع ترقوة، بضم الفوقیه والقاف وسكون الراء وهی العظم الذی بین ثغرة النحر والعاتق من الجانبین) [3] "بعدل تمرة": ای بقیمتها

الْجَبَلِ ـه ۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

دا سې پالنه کوي. څنګه چه تا سو د خپلو خا روړو د بچو پالنه سا تنه کوئ ۔ ترڅو چه دغه لږه صدقه د غرهومره صدقې برا برهٔ شي ۔ (بخارئ ومُسلمٔ)

اَلْفِلُوّا : د فاء زیر، زبر سره د لام پیش او جزم او د واؤ شدّ او بغیر د شدّ نه پیښې هم جائز دے ۔ یعنې د څاړږي بچے ۔

دے حدیث کښې هم او دغسې نورو احادیثو کښې هم د الله تعالیٰ لاس، مخ، پښړئ وغیره د تشبیه په طور بیان شوي دي، چه د خلقو پوهه کښې خبره راشي ۔ امام ترمذی رحمۃ الله علیه د دلسې الفاظو په باره کښې د علمائے اهل سُنت دا قول نقل کړے دے ۔ چه موږ په هغې حدیثونو ایمان سا تو ۔ او هیڅ قِسمه شک اوشبهه او وهم پکښې نه کوُو ۔ او نه دا وایو، چه دے احادیثو کښې د الله تعالیٰ د ذات څنګه او څهٔ طریقې سره مشا بهت ورکړے شوے دے ۔ دے باره کښې دا سې سوال کول بدعت او ګمراهي ده ۔

امام ما زري رحمۃ الله علیه وائي ۔ دے حدیث کښې یا نورو دا سې حدیثونو کښې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د عامو مسلمانانو د پوهې د پاره مشا بهت بیان کړے دے ۔ او دغسې ئې د صدقې د قبلولو په ښي لاس سره تعبیر کړے دے ۔ او د دے اجر وثواب دوچنده درے چنده بلکه زرهاچنده د زیاتوالی تعبیر ئې کړے دے ۔ والله اعلم ۔

۵۶۵ - وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَا رَجُلٌ يَمْشِيْ بِفَلَاةٍ ـه مِنَ الْاَرْضِ فَسَمِعَ صَوْتًا فِىْ سَحَابَةٍ اَسْقِ حَدِيْقَةَ فُلَانٍ فَتَنَحَّى ذٰلِكَ السَّحَابُ فَاَفْرَغَ مَآءَهٗ فِىْ حَرَّةٍ فَاِذَا شَرْجَةٌ مِّنْ تِلْكَ الشِّرَاجِ قَدِ اسْتَوْعَبَتْ ذٰلِكَ الْمَآءَ كُلَّهٗ فَتَتَبَّعَ الْمَآءَ فَاِذَا رَجُلٌ قَآئِمٌ فِىْ حَدِيْقَتِهٖ يُحَوِّلُ الْمَآءَ بِمِسْحَاتِهٖ فَقَالَ لَهٗ يَا عَبْدَ اللّٰهِ مَا اسْمُكَ ؟ قَالَ فُلَانٌ لِلْاِسْمِ الَّذِىْ سَمِعَ فِى السَّحَابَةِ فَقَالَ لَهٗ يَا عَبْدَ اللّٰهِ لِمَ تَسْاَلُنِىْ عَنِ اسْمِىْ؟ فَقَالَ اِنِّىْ سَمِعْتُ صَوْتًا فِى السَّحَابِ الَّذِىْ هٰذَا مَآؤُهٗ يَقُوْلُ اَسْقِ

۵۶۵ ۔ دا روایت هم د حضرت ابوهریرهؓ دے ۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه یو کس دا سې شاړه زمکه کښې تیریدلو چه هلته اوبهٔ نه وے ۔ چه د وریځې نه ئې یو آواز واؤریدلو، چه د فلانکي باغ خړوب او سیرابه کړه ۔ بیا هغه وریځ مخکښې لاړه ۔ او یوه کا نړیزه زمکه باندے باران اوُوریدو ۔ او اوبه وړو وړو نالو کښې روانې شوے ۔ او مخکښې ترے یو نهر جوړ شو ۔ او ټول باغ ئې خړوب کړلو ۔ دا سړے وریځې پسې روان شو ۔ او باغ ته اورسیدو نو هلته ئې یو کس اولیدلو، پوښتنه ئې ترے اوکړه چه ستا څه نوم دے؟ نو هغهٔ ورته هم هغه نوم اوښودلو کوم چه دغه کس د وریځې نه آوریدلے وُو ۔ د باغ مالک پوښتنه اوکړه، چه ځما د نوم دے ولې پوښتنه اوکړه، هغه کس ورته اوونیل، چه د کومې وریځې نه دا اوبه راځي ما د هغې وریځې نه ستا نوم آوریدلے وُو چه

ـه قال المازري : هٰذا الحديث وشبهه انما عبر به صلى الله عليه وسلم على ما اعتادوا في خطابهم ليفهموا عنه نكني عن قبول الصدقة باليمين وعن تضعيف اجرها بالتربية وقال الترمذي، قال اهل العلم من اهل السنة والجماعة : نؤمن بهٰذه الاحاديث ولانتوهم فيها تشبيها ولا نقول كيف .

حَدِیْقَةَ فُلَانٍ لِاسْمِكَ فَمَا تَصْنَعُ فِيْهَا؟ فَقَالَ اَمَّا اِذْ قُلْتَ هٰذَا فَاِنِّیْ اَنْظُرُ اِلٰی مَا یَخْرُجُ مِنْهَا فَاَتَصَدَّقُ بِثُلُثِهٖ وَاٰکُلُ اَنَا وَعِیَالِیْ ثُلُثًا وَاَرُدُّ فِیْهَا ثُلُثَهٗ۔
(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

"اَلْحَرَّةُ" اَلْاَرْضُ الْمُلَبَّسَةُ حِجَارَةً سَوْدَآءَ وَالشَّرْجَةُ" بِفَتْحِ الشِّیْنِ الْمُعْجَمَةِ وَاِسْکَانِ الرَّآءِ وَبِالْجِیْمِ هِیَ سَبِیْلُ الْمَآءِ۔

د فلانکی باغ خړوب کړه. دے باغ کښے څه عمل کوے؟ هغهٔ ورته اووئیل، چه تا پټوس اوکړو نو اوس بهٔ درته اوښایم. چه کله د زمکے حاصل او پیداوار سنبال کړم نو هغه درے ټایه تقسیم کړم. هغے کښے یوه حصه د الله په نوم صدقه او خیرات کړم. دوئیمه حصه زهٔ او بال بچ اوخورو. او دریمه حصه بیا باغ کښے اولګوم. (مُسلمؒ)

"اَلْحَرَّةُ": د تورو کانړو کانړیجنه زمکه.
"اَلشَّرْجَةُ": ناله. لښتے. د اوبو بهیدلو لار۔

باب ٦١

اَلنَّهْیِ عَنِ الْبُخْلِ وَالشُّحِّ!

د شومتوب او د حرص نه د منع بیان

ف:- دے باب کښے دوه قرآنی آیتونه او یو نبوی حدیث دے۔ دے حدیث کښے د حرص او لالچ نه د بچ کیدو دومره تاکید راغلے دے، څومره چه د ظلم او زیاتی نه د بچ کیدو د پاره دے۔ اوکه ژور نظر سره اوکتلے شی، نو دا هم یو قسم ظلم دے چه دا حرص د ظلم یو بنیاد جوړیږی۔ نو ظلم نور هم زیات شی۔ شوم او حرصناک سړے اکثر خپلولی ختموی۔ د خپلوانو حق ختم شی او د ښمنئ تخم اوکرلے شی۔ او د ښمنئ نتیجه هر سړے پیژنی۔ چه جګړه، تکرار او وهل ټکول ترے جوړیږی، چه بنیادم پکښے هم ضائع شی۔ ظالم د نورو مالونه او عزتونه هم خپل ځان د پاره حلال ګڼی۔ نو د داسے کرکجن او نفرت والا خیز د بنیاد نه د ختمولو حکم شوے دے۔

قرآنی آیتونه

١٨٤- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[1] وَاَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰی[2] وَکَذَّبَ بِالْحُسْنٰی فَسَنُیَسِّرُهٗ لِلْعُسْرٰی وَمَا یُغْنِیْ عَنْهُ مَالُهٗٓ اِذَا تَرَدّٰی[3]

١٨٥- وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[4] وَمَنْ یُّوْقَ شُحَّ[5] نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ۔

وَاَمَّا الْاَحَادِیْثُ فَتَقَدَّمَتْ جُمْلَةٌ مِنْهَا فِی الْبَابِ السَّابِقِ۔

١٨٤- چه چا شومتیا اوکړه، او هغهٔ د الله تعالیٰ نه بے پرواهی اختیار کړه۔ او د اسلام ئے دروغ اوګڼړلو۔ نو مونږ بهٔ ئے په مزه مزه سختئ ته اورسوو۔ او کله ئے چه دوزخ کښے غورځوی، نو دغه مال بهٔ ئے لږ هم بکار رانشی۔ (آیت ٨-١١۔ لیل۔ پ ٣٠)

١٨٥- څوک چه د نفس د طمع او د حرص نه بچ شو۔ نو داسے خلق کامیابی موندونکی دی۔ (آیت ١٦۔ تغابن۔ پ ٢٨)

دے مفهوم حواحادیث په اول باب کښے تیر شوی دی۔

---

[1] سورة اللیل آیة ٨-١١ [2] واستغنی ای بالدنیا عن الآخرة [3] اذا تردی: ای هلك
[4] سورة التغابن آیة ١٦ [5] الشح البخل والحرص.

حدیث نبوی

٥٦٦ - وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اتَّقُوا الظُّلْمَ فَاِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَاتَّقُوا الشُّحَّ فَاِنَّ الشُّحَّ اَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَمَلَهُمْ عَلٰى اَنْ سَفَكُوْا دِمَاءَ هُمْ[1] وَاسْتَحَلُّوْا مَحَارِمَهُمْ - رَوَاهُ مُسْلِمٌ

٥٦٦ - جابر رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، د ظلم نه ځان اوساتئ. ظلم به د قیامت په ورځ یوه تیاره (جوړه کړے شوے بنکاره) شی او د حرص، طمعے او د شومتوب نه هم ځان اوساتئ. ځکه چه شومتوب د تاسو نه مخکښے خلق هم برباد کړی دی. بلکه د یو بل وینے ئے ویستلی دی، او حرام شوی څیزونه ئے حلال ګنړلی وُو. (مُسلم)

باب ٦٢

اَلْاِيْثَارُ وَالْمُوَاسَاةُ؛

د قربانئ او د غم خوارئ بیان

ف:- دے باب کښے دوه آیتونه او پنځه احادیث دی. سخا او قربانی دواړه یوه معنیٰ لری. البته قربانی ورکول د سخا آخری درجه ده. د دے معنیٰ دا ده، یعنی پخپله د ضرورت باوجود نورو ضرورتمندو له ترجیح ورکول. پخپله دے اوږے وی، خو بل باندے خوړول **پکار** دی. پخپله تکلیف او مشقت اوچتول او زغمل خو بل ته آرام رسول پکار دی.

قرآنی آیتونه

١٨٦ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[2] وَيُؤْثِرُوْنَ[3] عَلٰى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ -

١٨٦ - هغوئ نور خلق د ځان نه مخکښے ګنړی. اګرچه پخپله اوږی او حاجتمند وی. (آیت ٩ - حشر - پ ٢٨)

١٨٧ - وَقَالَ تَعَالٰى[4] وَيُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا وَّيَتِيْمًا وَّاَسِيْرًا اِلٰى اٰخِرِ الْاٰيَاتِ.

١٨٧ - د دے باوجود چه د خوراک شوق ئے زیات دے. مګر فقیرانو، غریبانو یتیمانو او قیدیانو باندے خوراک خوروئ (آیت ٨ - دهر - پ ٢٩)

نبوی احادیث

٥٦٧ - وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنِّيْ مَجْهُوْدٌ[5] فَاَرْسَلَ اِلٰى بَعْضِ نِسَآئِهٖ فَقَالَتْ وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا عِنْدِيْ اِلَّا مَاءٌ ثُمَّ اَرْسَلَ اِلٰى اُخْرٰى

٥٦٧ - حضرت ابوهریره رض نه روایت دے. چه یو کس د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے راغے، او دے وئیل، چه زهٔ ډیر اوږے یم. رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلے بی بی ته (څوک) اولیږلو، چه خوراک راوړی. مګر هغے اووئیل، چه په هغه ذات مے دے قسم وی چه رسول کریم صلی الله علیه وسلم ئے د

---

[1] "سفكوا دماءهم" بفتح الفاء ای قتل بعضهم بعضًا واستحلوا محارمهم" ای ماحرم الله عليهم من الشحوم وغيرها [2] سورة الحشر آية ٩ [3] "ويؤثرون": ای يقدمون غيرهم "على انفسهم" فيما عندهم من الاموال والخصاصة الحاجة [4] سورة الدهر آية ٨ - [5] "مجهود" ای اما بنی الجهد. وهو المشقة والحاجة وسوء العيش والجوع.

فَقَالَتْ مِثْلَ ذٰلِكَ حَتّٰى قُلْنَ كُلُّهُنَّ مِثْلَ ذٰلِكَ لَا وَالَّذِیْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا عِنْدِیْ اِلَّا مَآءٌ فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ یُضِیْفُ هٰذَا اللَّیْلَةَ؟ فَقَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ اَنَا یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَانْطَلَقَ بِهٖ اِلٰى رَحْلِهٖ فَقَالَ لِاِمْرَاَتِهٖ اَكْرِمِیْ ضَیْفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَفِیْ رِوَایَةٍ قَالَ لِامْرَاَتِهٖ هَلْ عِنْدَكِ شَیْءٌ قَالَتْ لَا اِلَّا قُوْتَ صِبْیَانِیْ قَالَ فَعَلِّلِیْهِمْ بِشَیْءٍ وَاِذَا اَرَادُوا الْعَشَآءَ فَنَوِّمِیْهِمْ وَاِذَا دَخَلَ ضَیْفُنَا فَاَطْفِئِ السِّرَاجَ وَاَرِیْهِ اَنَّا نَاْكُلُ فَقَعَدُوْا وَاَكَلَ الضَّیْفُ وَبَاتَا طَاوِیَیْنِ فَلَمَّا اَصْبَحَ غَدَا عَلَى النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَقَدْ عَجِبَ اللّٰهُ مِنْ صَنِیْعِكُمَا بِضَیْفِكُمَا اللَّیْلَةَ له مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ۔

حق دپاره را لیږلے دے. چه ما سره بغیر د اوبو نه هیڅ نشته. بیائے بلے بی بی کره اولیږلو، نوهلته هم دغه جواب راغے تردے چه د ټولو بیبیانو د کورونو نه هم دغه جواب راغے، چه د الله په ذات قسم، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ئے حق دپاره رالیږلے دے. چه بغیر د اوبو نه هیڅ نشته. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، نن به د دے میلمه میلمستیا څوک قبوله کړی؟ نو یو انصاری صحابی رضی عرض اوکړو، یا رسول الله! زۀ به ئے میلمستیا اوکړم، نو میلمه ئے ځان سره کورته بوتللو. او بی بی ته ئے اووئیل چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم میلمه دے د دۀ میلمستیا په ښه عزت سره اوکړه. یو روایت کښے داسے راغلی دی چه د بی بی نه ئے پوښتنه اوکړه چه د میلمستیا دپاره تا سره څه شته؟ نو هغے اووئیل، چه د بچو د خوراک لائق خوخه شته، نو وے وئیل، چه ماشومان څه څیز سره په لوبو او په چل ول مشغول کړه. او کله چه د ماښام خوراک اوغواړی، نو په څۀ چل ئے اوده کړه. او کله چه میلمه راشی، نو خوراک کیږده او ډیوه مړه کړه. نو مونږ به میلمه ته دا اوښایو چه کنی مونږ تا سو سره خوراک کوؤ. او ټول ناست یو. میلمه ر وږی اوخوړه. او ښځے خاوند شپه ټوله په اولږه تیره کړه. سحر چه کله دا صحابی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شو. نو هغۀ ته ئے اوفرمائیل، چه د شپے د میلمه په میلمستیا باندے الله تعالیٰ ډیر زیات خوشحاله شو. (بخاریؒ ومسلمؒ)

۵۶۸ - وَعَنْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ طَعَامُ الْاِثْنَیْنِ كَافِی الثَّلَاثَةِ وَطَعَامُ الثَّلَاثَةِ كَافِی الْاَرْبَعَةِ مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ وَفِیْ

۵۶۸ - حضرت ابوهریره رض نه روایت دے. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د دوه کسانو خوراک د درے کسانو له کافی کیږی. او د دریو کسانو خوراک څلورو کسانو له کافی کیږی. (بخاریؒ ومسلمؒ)

له "غدا" ای جاء باخابه العجب من صفات الله تعالیٰ وهو ثابت له حقیقةً لایشبه عجب المخلوق - وهکذا یقال فی سائر الصفات کالضحك والفرح والاتیان وغیر ذالک. فکما ان ذات الله عز وجل لا تشبه ذوات المخلوق کذلك جمیع صفاته لاتشبه صفات المخلوق. ومن تدبر فی هذه القاعدة العظیمة سلم من تاویلات بعض المتاخرین (ابوسلمان)

رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ عَنْ جَابِرٍؓ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ طَعَامُ الْوَاحِدِ يَكْفِي الْاِثْنَيْنِ وَطَعَامُ الْاِثْنَيْنِ يَكْفِي الْاَرْبَعَةَ وَطَعَامُ الْاَرْبَعَةِ يَكْفِي الثَّمَانِيَةَ۔

۵۶۹. وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ فِيْ سَفَرٍ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذْ جَاءَ رَجُلٌ عَلٰى رَاحِلَةٍ لَهُ فَجَعَلَ يَصْرِفُ بَصَرَهُ يَمِيْنًا وَّ شِمَالًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ مَعَهُ فَضْلُ ظَهْرٍ[۱] فَلْيَعُدْ بِهٖ عَلٰى مَنْ لَا ظَهْرَ لَهُ وَ مَنْ كَانَ لَهُ فَضْلٌ مِنْ زَادٍ فَلْيَعُدْ بِهٖ عَلٰى مَنْ لَا زَادَ لَهُ فَذَكَرَ مِنْ اَصْنَافِ الْمَالِ مَا ذَكَرَ حَتّٰى رَاَيْنَا اَنَّهُ لَا حَقَّ لِاَحَدٍ مِنَّا فِيْ فَضْلٍ[۲]۔

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۵۷۰. وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ امْرَاَةً جَاءَتْ اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبُرْدَةٍ مَنْسُوْجَةٍ فَقَالَتْ نَسَجْتُهَا بِيَدَيَّ لِاَكْسُوَكَهَا فَاَخَذَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْتَاجًا اِلَيْهَا فَخَرَجَ اِلَيْنَا وَاِنَّهَا اِزَارُهُ[۳] فَقَالَ فُلَانٌ اَكْسُنِيْهَا مَا اَحْسَنَهَا فَقَالَ نَعَمْ فَجَلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَجْلِسِ ثُمَّ رَجَعَ فَطَوَاهَا ثُمَّ اَرْسَلَ بِهَا اِلَيْهِ۔

او مسلم کښې د جابرؓ نه روایت دے، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل: چه د یوکس خوراک دوؤ له، د دوؤ، څلورو له او د څلورو اتو له کافی کیږی۔

۵۶۹. حضرت ابوسعید خدریؓ نه روایت دے۔ چه مونږ یو واری د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په یو سفر کښې ملګری وؤ چه یوکس په خپله سورلۍ سور راغے۔ بنی اوکس طرف ته ئے اوکتل۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چا سره چه د ضرورت نه زیاته سورلی وی۔ هغه دے دا سے کس له ورکړی، چه ضرورتمند وی۔ او چا سره چه زیاته توښه د لارے وی، نو هغه دے هغه چا ته ورکړی، چا سره چه توښه نهٔ وی۔ دے نه پس ئے د مختلف قسمه مالونه دغسے ذکر کړل۔ نو مونږ دا خیال اوکړو، چه زیات خیز کښې څمونږ هیڅ حق نشته۔ (او دا هم د هغه چا حق دے، کوم چه څمونږ ضرورت مند ورونړه دی۔ او هیڅ ورسره نشته)۔

(مُسلمؒ)

۵۷۰. حضرت سهل بن سعدؓ روایت کوی، چه یوے ښځے یو ګلدار څادر اخستلو سره رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته راؤړلو۔ او وے وئیل، چه دا څادر ما ستا د استعمال دپاره خاص طور سره اخستے دے، هغویؓ د ضرورت په وجه هغه قبول اوفرمائیل، او د لنګ ترلو په طور ئے او ترلو او بهرته راووتلو، نو هلته یوکس اووئیل دیر عمده څادر دے، ما ته ئے راواغوندوئ۔ هغویؓ اوفرمائیل (عمده خودے) بیا څهٔ وخت هغویؓ په مجلس کښې تشریف ایښے وؤ، او کله چه دننه لاړو، نو څادر ئے ځانله رے کړو او هغه سړی ته ئے ورا ولیږلو۔ نو خلقو ورته اووئیل، ښه دے اونه کړل۔ هغویؓ ته د دے ضرورت وؤ، هغویؓ دا اغوستے وؤ، او تا ته ښه پته ده، چه

---

[۱] "فضل ظهر": ای مرکوب فاضل عن حاجته "فلیعد" ای فلیتصدق به علی من لا ظهر له۔

[۲] "فضل" ای فاضل عن حاجته

[۳] "ازارة" بکسر الهمزة: هو ما یلبس فی اسفل البدن لستر العورة۔

فَقَالَ لَهُ الْقَوْمُ مَا اَحْسَنْتَ لَبِسَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْتَاجًا اِلَيْهَا ثُمَّ سَاَلْتَهُ وَعَلِمْتَ اَنَّهُ لَا يَرُدُّ سَائِلًا، فَقَالَ اِنِّیْ وَاللّٰهِ مَا سَاَلْتُهُ لِاَلْبَسَهَا اِنَّمَا سَاَلْتُهُ لِتَكُوْنَ كَفَنِیْ قَالَ سَهْلٌ فَكَانَتْ كَفَنَهُ - رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ

هغوئ سوالګر نهٔ واپس کوی، نو هغه سړي اوويل، قسم مے دے په الله وی، چه ما دڅادر اغوستلو په شوق نهٔ دے غوښتے. ما خو صرف دا د کفن جوړولو دپارهٔ غوښتے دے. سهل رض (راوی) وائی دغه سړي کفن هم دغه څادر شو.

(بخاری رح)

۵۷۱ - وَعَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الْاَشْعَرِيِّيْنَ اِذَا اَرْمَلُوْا فِی الْغَزْوِ اَوْ قَلَّ طَعَامُ عِيَالِهِمْ بِالْمَدِيْنَةِ جَمَعُوْا مَا كَانَ عِنْدَهُمْ فِیْ ثَوْبٍ وَاحِدٍ ثُمَّ اقْتَسَمُوْهُ بَيْنَهُمْ فِیْ اِنَاءٍ وَاحِدٍ بِالسَّوِيَّةِ فَهُمْ مِنِّیْ وَاَنَا مِنْهُمْ.

(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

"اَرْمَلُوْا" فَرَغَ زَادُهُمْ اَوْ قَارَبَ الْفَرَاغَ - ف:. دے باب کښے یو قرآنی آیت او دوه نبوی احادیث دی.

۵۷۱ - حضرت ابوموسیٰ اشعري رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د اشعری قبیلے خوراک به جهاد کښے یا ښار یا خپله قبیله کښے ختم شو نو کوم څیز یا ټکړے به بچ پاتے شوے. ټول به ئے یو څادر کښے راجمع کړل. او بیا به ئے یو لوښی کښے اچول، او برابر برابر به ئے تقسیم کړل. دغه ټول څما نه دی او زهٔ د هغوئ نه یم.

(بخاری و مسلم رح)

اَرْمَلُوْا: توښه ختمه شی یا ختمیدو ته نژدے شی.

باب ٦٣

بَابُ التَّنَافُسِ فِیْ اُمُوْرِ الْاٰخِرَةِ وَالْاِسْتِكْثَارِ مِمَّا يُتَبَرَّكُ بِهٖ - د آخرت رحمت او د برکت د ډیروالی حرص

قرآنی آیت

١٨٨ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[1] وَفِیْ ذٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ -

١٨٨ - په داسے کارونو کښے د حرص او لالچ کونکو دپاره حرص پکار دے. (پ ۳۰ مطففین)

نبوی احادیث

۵۷۲ - وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُتِیَ بِشَرَابٍ فَشَرِبَ مِنْهُ وَعَنْ يَمِيْنِهٖ غُلَامٌ وَعَنْ يَسَارِهِ الْاَشْيَاخُ فَقَالَ

۵۷۲ - حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه نه روایت دے. چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم وړاندے د څکلو څیز پیش کړے شو. نو هغوئ ترے څه اوڅکل. دغه وخت د هغوئ ښی طرف ته یو ځوان (صحابی) ناست وُو. او ګس طرف ته ئے زاړهٔ بوډاګان

---

[1] سورة مطففين آية ٢٦ -

الْاَتْقَى الَّذِیْ یُؤْتِیْ مَالَهٗ یَتَزَکّٰی ۝ وَمَا لِاَحَدٍ عِنْدَهٗ مِنْ نِّعْمَةٍ تُجْزٰی اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْاَعْلٰی ۝ وَلَسَوْفَ یَرْضٰی ۝

د پاره مال ورکوی. او د چا د احسان او ښېګړې د پاره چاله مال نهٔ ورکوی. د هغهٔ غرض صرف دومره وی، چه د خپل لوئے رب مخ طلب کړي. هغه به ډیر زر راضی او خوشحاله شی. (پ۳۰/ لیل)

۱۹۱- وَقَالَ تَعَالٰی [1] اِنْ تُبْدُوا الصَّدَقٰتِ فَنِعِمَّا هِیَ وَاِنْ تُخْفُوْهَا وَتُؤْتُوْهَا الْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَیْرٌ لَّکُمْ وَیُکَفِّرُ عَنْکُمْ مِّنْ سَیِّاٰتِکُمْ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِیْرٌ -

۱۹۱- که خپلې صدقې ښکاره کوئ، نو دا هم ښه خبره ده. او که پټه ئے اوساتئ او غریبانو ته ئے په پټه ورکړئ. نو دا ستاسو د پاره ډیره غوره ده. دے سره به ستاسو څه ګناهونه هم معاف کړے شی. او الله تعالیٰ ته ستاسو د ټولو عملونو خبر شته. (پ۳/ بقره)

۱۹۲- وَقَالَ تَعَالٰی [2] لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰی تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ۝ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَیْءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِیْمٌ ۝ وَالْاٰیَاتُ فِیْ فَضْلِ الْاِنْفَاقِ فِی الطَّاعَاتِ کَثِیْرَةٌ مَّعْلُوْمَةٌ -

۱۹۲- تاسو به پوره خیر هغه وخته پورے حاصل نه کړئ، ترڅو چه تاسو خپل خوښ څیز د الله ج په لار کښې خرچ نه کړئ. او تاسو چه څه څیز هم خرچ کوئ هغه الله تعالیٰ ډیر ښهٔ پیژنی. (پ۴/ آل عمران)

(په نیک کار کښې د خرچ کولو په باره کښې ډیر نور مشهور آیتونه هم شته، چه معلوم دی)-

نبوی احادیث

۵۷۴- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا حَسَدَ اِلَّا فِی اثْنَتَیْنِ رَجُلٌ اٰتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَسَلَّطَهٗ عَلٰی هَلَکَتِهٖ فِی الْحَقِّ وَرَجُلٌ اٰتَاهُ اللّٰهُ حِکْمَةً فَهُوَ یَقْضِیْ بِهَا وَیُعَلِّمُهَا، مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ - وَتَقَدَّمَ شَرْحُهٗ قَرِیْبًا -

۵۷۴- حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے. رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه بغیر د دوو حالتونو نه په بل هیڅ حالت حسد او کینه کول جائز نه دی. (۱) چه الله تعالیٰ چاله مال ورکړے وی او د الله په لاره کښې ئے د لګولو توفیق هم ورکړے وی (۲) هغه سړے چه الله تعالیٰ ورته حکمت او پوهه ورکړے وی. او هغه د هغې نه په معاملاتو کښې کار اخلی. او خلقو کښې ئے خوروی. (بخاریؒ و مسلمؒ) د دے حدیث تشریح مخکښې نزدے تیره شوے ده -

۵۷۵- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا حَسَدَ اِلَّا فِی اثْنَتَیْنِ رَجُلٌ اٰتَاهُ اللّٰهُ الْقُرْاٰنَ فَهُوَ یَقُوْمُ بِهٖ اٰنَآءَ اللَّیْلِ وَاٰنَآءَ النَّهَارِ وَرَجُلٌ اٰتَاهُ مَالًا فَهُوَ

۵۷۵- حضرت عبد الله بن عمر فاروق رضی الله عنهما نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د دوو حالتونو نه بغیر نورو خبرو ته پسخیدل جائز نهٔ دی. (۱) هغه سړے چه الله تعالیٰ ورته د قرآن وئیلو (یادولو) توفیق ورکړ

---

[1] سورة البقرة آیة ۲۷۱ [2] سورة آل عمران آیة ۹۲-

لِلْغُلَامِ اَتَاْذَنُ لِيْ اَنْ اُعْطِيَ هٰؤُلَاءِ فَقَالَ الْغُلَامُ لَا وَاللّٰهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَا اُوْثِرُ بِنَصِيْبِيْ مِنْكَ اَحَدًا فَتَلَّهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ يَدِهٖ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"تَلَّهٗ" بِالتَّاءِ الْمُثَنَّاةِ فَوْقَ اِيْ وَضَعَهٗ وَهٰذَا الْغُلَامُ هُوَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا.

۵۷۳ - وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَا اَيُّوْبُ عَلَيْهِ السَّلَامُ يَغْتَسِلُ عُرْيَانًا فَخَرَّ عَلَيْهِ[1] جَرَادٌ مِنْ ذَهَبٍ فَجَعَلَ اَيُّوْبُ يَحْثِيْ فِيْ ثَوْبِهٖ. فَنَادَاهُ رَبُّهٗ عَزَّ وَجَلَّ: يَا اَيُّوْبُ اَلَمْ اَكُنْ اَغْنَيْتُكَ عَمَّا تَرٰى قَالَ بَلٰى وَعِزَّتِكَ وَلٰكِنْ لَا غِنٰى بِيْ عَنْ بَرَكَتِكَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

حضرات ناست وُو. نو هغوئ دځوان نه پوښتنه اوکړه، که ته اجازت کوې نو دا باقي پاتے شوے دڅکو څيز (اول) دے بوډاګانو ته ورکوم. هغه ځوان! ووئيل، نه جناب. په الله قسم! ستا سر د طرف ملاويدونکے خپله حصه کښے هيڅوک نه خوښوم. نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم هغه د څکلو پيالئ د هغه ځوان په لاس کښے ورکړه. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تَلَّهٗ: يعنى لاس کښے ئے ورته کيښودله. او دغه ځوان عبدالله بن عباسؓ وُو.

۵۷۳ - حضرت ابوهريره رضى الله عنه وائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه يو وارے ايوب عليه السلام کپړے ويستلے وے او لامبل ئے، چه د پاس نه د سرو زرو ملخان را غورزيدل. ايوب عليه السلام ټوپ کړو، او هغه ئے جامو کښے راټولول شروع کړل. نو د الله تعالىٰ د طرف نه آواز اوشو، اے ايوب! ولے مونږ ته غنى او بے پروا کړے نه ئے د دے څيزونو نه، کوم چه ته ئے وينے؟ ايوب عليه السلام اووئيل، ولے نه. مګر زهٔ ستا د برکتونو نه څنګه بے پروا کيدے شم. (بخاريؒ)

باب ۶۴

فَضْلُ الْغَنِيِّ الشَّاكِرِ وَهُوَ مَنْ اَخَذَ الْمَالَ مِنْ وَّجْهِهٖ وَصَرَفَهٗ فِيْ وُجُوْهِهِ الْمَأْمُوْرِ بِهَا

(شکرګزار دولتمند)

ف:- دے باب کښے څلور قرآنى آيتونه او درے نبوى احاديث دى.

قرآنى آيتونه

۱۸۹ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[2] فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى وَصَدَّقَ بِالْحُسْنٰى فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى.

۱۸۹ - چا چه د الله د پاره څه خرچ کړل. او خاص د هغه نه ويريدو. او د نيکو تصديق ئے اوکړو، نو مونږ به هغهٔ له د راحت او آرام **سامان** تيار ورکړو. (پ۳۰ ليل)

۱۹۰ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[3] وَسَيُجَنَّبُهَا

۱۹۰ - کوم چه ډير پرهيزګار دے. هغه به د دے نه ساتلے شى. چه د خپلے صفائى

---

[1] "فَخَرَّ عَلَيْهِ" بالخاء المعجمة: اى سقط عليه جراد من ذهب

[2] سورة الليل آية ۵، ۶، ۷

[3] سورة الليل آية ۱۷-۲۱

يُنْفِقُهُ آنَآءَ اللَّيْلِ وَآنَآءَ النَّهَارِ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔

"اَلْاٰنَاءُ": اَلسَّاعَاتُ.

وی۔ او دا توفیق ئې هم ورکړے وی چه د شپے او د ورځې په (ځینې) وختونو کښې د هغې تلاوت کوی (۲) هغه سړے چه الله تعالیٰ مال ورکړے وی۔ اوهغه شپه او ورځ (بغیر دڅه تمیز اوفرق نه هروخت) دالله تعالیٰ د پاره خرچ کوی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

"اَلْاٰنَاءُ": وختونه۔

۵۷۶۔ وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ فُقَرَآءَ الْمُهَاجِرِیْنَ اَتَوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا ذَهَبَ اَهْلُ الدُّثُوْرِ بِالدَّرَجَاتِ الْعُلٰی وَالنَّعِیْمِ الْمُقِیْمِ، فَقَالَ وَمَا ذَاكَ؟ فَقَالُوْا یُصَلُّوْنَ كَمَا نُصَلِّیْ وَیَصُوْمُوْنَ كَمَا نَصُوْمُ وَیَتَصَدَّقُوْنَ وَلَا نَتَصَدَّقُ وَیَعْتِقُوْنَ وَلَا نُعْتِقُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَفَلَا اُعَلِّمُكُمْ شَیْئًا تُدْرِكُوْنَ بِهٖ مَنْ سَبَقَكُمْ وَتَسْبِقُوْنَ بِهٖ مَنْ بَعْدَكُمْ وَلَا یَكُوْنُ اَحَدٌ اَفْضَلَ مِنْكُمْ اِلَّا مَنْ صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُمْ؟ قَالُوْا بَلٰی یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ: تُسَبِّحُوْنَ وَتُكَبِّرُوْنَ وَتَحْمَدُوْنَ دُبُرَ كُلِّ صَلٰوةٍ ثَلَاثًا وَّثَلَاثِیْنَ مَرَّةً، فَرَجَعَ فُقَرَآءُ الْمُهَاجِرِیْنَ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا سَمِعَ اِخْوَانُنَا اَهْلُ الْاَمْوَالِ بِمَا فَعَلْنَا فَفَعَلُوْا مِثْلَهٗ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ یُؤْتِیْهِ مَنْ یَّشَآءُ مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ۔ وَهٰذَا لَفْظُ رِوَایَةِ مُسْلِمٍ.

۵۷۶۔ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه یو څو مهاجرین غریبانان صحابهؓ د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شول۔ او عرض ئې اوکړو، چه دا مالدار خلق خو په غټو غټو درجو او همیشه پاتے کیدو نکو نعمتونو حاصلولو کښې کامیاب شول۔ (او مونږ نه مخکښې شول) نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ترے پوښتنه اوکړه چه څنګه (مخکښې شول) هغوئ اووئیل چه مونږ څنګه مونځ نه کوؤ۔ هغوئ ئې هم کوی۔ او څنګه مونږ روژے نیسو، هغوئ ئې هم نیسی۔ او د الله په لاره کښې خرچ هم کوی۔ مګر مونږ (د غریبئ په وجه) خرچ نه شو کولے۔ هغوئ غلامان هم آزادوی او مونږ ئې نه شو آزادولے۔ دا (ښکاره خبره ده چه هغوئ په نیکو عملونو کښې څمونږ نه مخکښې شول) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: آیا زهٔ تاسو ته داسے خبره اونه ښایم۔ چه تاسو هغه کوئ نو د هغه مخکښې تلونکو سره به برابر شئ۔ او تاسو پسے وروستو را تلونکو نه به مخکښې اوسئ۔ او تاسو نه به غوره هیڅوک نه وی۔ مګر صرف هغه خلق چه ستاسو په شان عمل اوکړی۔ هغوئ عرض اوکړو۔ یا رسول الله! داسے خبره مونږ ته ضرور اوښایئ۔ نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، د هر فرض مانځه نه پس درے دیرش ځله سبحان الله۔ درے دیرش ځله الحمد لله او درے دیرش ځله الله اکبر وایئ۔ دے نه پس هغه حضراتو عرض اوکړو، یا رسول الله! هغه خبره خو څمونږ مالدارانو ورونړو هم واوریده۔ او هغوئ

"اَلدُّثُوْرُ" اَلْاَمْوَالُ الْكَثِيْرَةُ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ۔

ھ را عمل شروع کړو۔ اوس مونږ څهٔ اوکړو۔ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، دا د الله تعالیٰ خاص فضل دے چاله چه غواړی، ورکوی ئے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ) اَلدُّثُوْرُ: یعنی ډیر مالونه۔

باب ٦٥

ذِكْرُ الْمَوْتِ وَقَصْرِ الْاَمَلِ !

(د مرګ یادولو او دلږ اُمید ساتلو بیان)

ف:. دے باب کښې شپږ آیتونه او اووهٔ احادیث دی. مرګ ته د خوندونو او خواهشونو نړونکے ځیز وئیلے شوے دے. د دے یاد ساتلو سره د دُنیا مینه د زړهٔ نه اوځی او د دُنیا مزے چرچے د خپو زنځیرونه نهٔ جوړیږی. او نه انسان په ګناهونو او نافرمانو باندے زړور کیږی. نو چه کله دا انسان داحال شی، نو پوهه شئ چه دا کامیاب دے. دُنیا والو باندے چه مرګ څومره دروند او بوج او ناخوښه دے. او څومره ترے وارخطا وی. الله والو ته هغه دومره خوښ او مقصود دے، چه دا وسیله ده د محبوب سره د یو ځائے کیدلو۔

قرآنی آیتونه

۱۹۳۔ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[1] كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ط وَاِنَّمَا تُوَفَّوْنَ اُجُوْرَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَاُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ط وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ۔

۱۹۳۔ هرساه والاځیز به د مرګ مزه یو وارے ضرور اوڅکی۔ او تاسو ته به (د خپلو عملونو) پوره بدله د قیامت په ورځ ملاویږی۔ پس کوم کس چه د دوزخ نه بچ شو او جنت ته داخل شو، نو هم هغه اوله درجه کښې کامیاب دے۔ د دُنیا ژوند خو د دهوکے او د چل ول نه بغیر هیڅ نه دی۔ (پ۴/ال عمران)

۱۹۴۔ وَقَالَ تَعَالٰی:[2] وَمَا تَدْرِىْ نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ط وَمَا تَدْرِىْ نَفْسٌ بِاَىِّ اَرْضٍ تَمُوْتُ ط

۱۹۴۔ هیڅوک هم (یقینی طور سره) دا نهٔ پیژنی، چه صبا ورځ به زهٔ څهٔ کار کوم۔ او نه په دے پوهیږی۔ چه دے به کله او په کومه زمکه مری۔ (او ښخیږی به)۔ (پ۲۱/لقمٰن)

۱۹۵۔ وَقَالَ تَعَالٰی[3] فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ۔

۱۹۵۔ کله چه د دوئ د (مرګ) نیټه راشی۔ نو نهٔ به د مقرر وخت نه یو ساعت مخکښے کیږی او نه وروستو کیږی۔

۱۹۶۔ وَقَالَ تَعَالٰی[4] يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ وَاَنْفِقُوْا مِنْ مَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ

۱۹۶۔ اے ایمان والو۔ واورئ، ستاسو مالونه ستاسو اولاد دے تاسو د الله د یاد نه غافله نه کړی۔ او څوک چه داسے شو، نو هغه نقصان موندونکی شو۔ او تاسو ته چه څه درکړے شوی دی۔ هغه د الله په لاره کښې د هغه په نامهٔ د مرګ

---

[1] سورة آل عمران [2] سورة لقمان آية ٣٤ [3] سورة النحل آية ٦١ [4] سورة المنافقون

فَيَقُوْلَ رَبِّ لَوْلَآ اَخَّرْتَنِيْٓ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ فَاَصَّدَّقَ وَاَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ۝ وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفْسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا وَاللّٰهُ خَبِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۔

را تللو نه مخکښې مخکښې خرچ کوئ۔ هسې نه چه داسې اووائی، چه اے خما ربه! ما ته لږ مهلت او وخت ولې نه را کوې، چه ستا لاره کښې څه صدقه او خیرات اوکړم۔ او د نیکانو نه شمار کړے شم۔ لیکن دا الله تعالیٰ دا قاعده نه ده۔ چه د چا د مرګ وخت راشي او هغه وروستو کړے شي۔ څه چه تاسو کوئ الله تعالیٰ ته په هغې خبر دے۔ (پ ۲۸ / منافقون)

۱۹۷ - وَقَالَ تَعَالٰى[1] حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ لَعَلِّيْٓ اَعْمَلُ صَالِحًا فِيْمَا تَرَكْتُ كَلَّآ اِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ[2] اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ۝ فَاِذَا نُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَلَآ اَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَّلَا يَتَسَآءَلُوْنَ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ، وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فِيْ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ، تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ النَّارُ[3] وَهُمْ فِيْهَا كٰلِحُوْنَ، اَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ اِلٰى قَوْلِهٖ تَعَالٰى كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْاَرْضِ عَدَدَ سِنِيْنَ قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَسْئَلِ الْعَآدِّيْنَ قَالَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا لَّوْ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا[4] وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ۔

سورة المؤمنون آیه ۹۹ - ۱۱۵

۱۹۷ - تر دے چه کله دوئ کښې چا ته مرګ راشي۔ نو وائي، چه اے ربه! ما هغه دُنیا ته واپس کړه۔ کومه چه ما پریښودلو سره ترے راغلم۔ دے دپاره چه نیک عملونه اوکړم۔ (داسې نشي کیدے) دا صرف د کولو خبرے دی۔ (عمل بیا هم نه کوئ) اوس د دے نه وروستو مقام برزخ دے۔ (د قبرش وند دے) چه دوباره پاڅیدو پورے به هم دلته اوسیږی۔ او کومه ورځ چه شپیلۍ کښې پوکے اووهلے شي۔ دغه ورځ به نه د دوئ خپلولۍ وی او نه به رشته دارۍ وی۔ او نه به د یو بل نه تپوس کولے شي۔ دغه ورځ چه د چا د نیکو عملونو وزن (او تله) درنه شي۔ هغه به کامیاب وی۔ او د چا تله چه سپکه شوه۔ نو دا هغه کسان دی کوم چه خپل ځان ئے په تاوان کښې واچولو۔ او همیشه به په جهنم کښې وی۔ او اور به د هغوئ مخونه اوسوزوی۔ او دوئ به په هغې کښې بدشکله وی (نو الله تعالیٰ به آواز اوکړی)۔ ولې تاسو ته خما آیتونه چا وئیلی نه وُو۔ تاسو به هغه واوریدل او بیا به مو دروغ اوکنړل (د الله تعالیٰ دے قول پورے) چه اوبنا یئ چه دُنیا کښې څومره کلونه ژوندي وئ۔ هغوئ به اووائي، بس یوه ورځ یا د ورځے څه حصه، د حساب والو نه پوښتنه اوکړه۔ (الله تعالیٰ به اووائی) اوسیدلی خو یو څو ورځے وئ۔ که تاسو پوهیدلئ نو ستاسو دپاره به ډیره ښه وه۔ آیا تاسو دا ګمان اوکړو، چه مونږ تاسو بے کاره پیدا کړی یئ۔ او مونږ ته به واپس کیږئ نه۔ (پ ۱۸ / مؤمنون)

---

[2] برزخ: ای حاجز بینهم وبین الرجعة ؛

[3] تلفح وجوههم النار: ای تحرقها: وهم فیها کالحون: ای عابسون [4] عبثا: ای عابثین بلا فائدة

١٩٨۔ وَقَالَ تَعَالٰی[1] اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ وَلَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ[2] فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ ط وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ۔

وَالْاٰيَاتُ فِي الْبَابِ كَثِيْرَةٌ مَّعْلُوْمَةٌ۔

١٩٨۔ آيا مؤمنانو باندے هغه وخت نه دے راغلے، چه دا الله تعالیٰ د ياد او د هغهٔ راليږلے حق (قرآن) ته شوے دے د هغے دا ودريدو په وخت د هغوئ زړونه نرم (او عاجزه) شي. او د مخکينو اهل کتابو پشان نشی. چه هغوئ باندے د غفلت ډيره لويه زمانه تيره شوے ده. او بيا د هغوئ زړونه سخت شول. او هغوئ کښے ډيرنا منونکی وُو. (پ۲۷/ حديد)

او په دے باب کښے ډير مشهور آيتونه دی.

نبوی احاديث

٥٧٧۔ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ اَخَذَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَنْكِبِيْ فَقَالَ كُنْ فِي الدُّنْيَا كَاَنَّكَ غَرِيْبٌ اَوْ عَابِرُ سَبِيْلٍ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا يَقُوْلُ اِذَا اَمْسَيْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الصَّبَاحَ وَاِذَا اَصْبَحْتَ فَلَا تَنْتَظِرِ الْمَسَآءَ وَخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ لِمَرَضِكَ، وَمِنْ حَيَاتِكَ لِمَوْتِكَ۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

٥٧٧۔ حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دے. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم څما د واړه اوږے اونيولے او وے فرمائيل، چه ته په دنيا کښے د مسافر يا د لارے تيريدونکی غوندے ژوند تيروه. او ابن عمر رضی الله عنهما به فرمائيل چه کله ماښام شی، نو د سحر انتظار مه کوه. او کله چه صبا شی نو د ماښام اُميد مه ساته (مطلب دا چه څه کوے، نو او کړه کيدے شی، بيا درته وخت ملاؤ نشی). او د روغوالی زمانه د بيمارئ مودے د پاره او د ژوند هر وخت د مرګ د پاره تيار لره. (مطلب دا چه د صحت په زمانه بنهٔ عبادت کوه. که بيمار شوے او عبادت نشے کولے، نو هغه به پرے هم پوره شی. او څومره ژوند چه وی نو هغے کښے د زړه د اخلاصه نيک عملونه کوه. دے د پاره چه د مرګ په وخت بيا افسوس او آرمان اونه کړے، چه څه مے اونه کړل). (بخاريؒ)

٥٧٨۔ وَعَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا حَقُّ امْرِئٍ مُّسْلِمٍ لَهٗ شَيْءٌ يُّوْصِيْ فِيْهِ يَبِيْتُ لَيْلَتَيْنِ اِلَّا وَوَصِيَّتُهٗ مَكْتُوْبَةٌ عِنْدَهٗ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ يَبِيْتُ ثَلَاثَ لَيَالٍ قَالَ ابْنُ عُمَرَ مَا مَرَّتْ عَلَيَّ لَيْلَةٌ مُنْذُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

٥٧٨۔ دا روايت هم د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما دے. چه رسول الله صلیٰ الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه کوم مسلمان سره د وصيت لائق څه خيز وی، نو هغه له دا مناسب نه دی؛ چه هغه باندے دوه شپے د وصيت ليکلو نه بغير تيرے شی. (بخاریؒ ومسلمؒ) دا روايت د بخاری دے. د مسلم په يو روايت کښے راځی، چه درے شپے هم دا سے حالت کښے تيرول نه دی پکار. ابن عمر رضی الله عنه وائی، چه د کله نه ما د رسول الله صلی

---

[1] سورة الحديد آية ١٦ [2] فطال عليهم الامد: ای الزمان بينهم وبين انبيآئهم.

قَالَ ذٰلِكَ اِلَّا وَعِنْدِيْ وَصِيَّتِيْ۔

الله علیه وسلم نه دا فرمان آوریدلے دے. نو ما بانده یوه شپه هم داسے نه ده تیره شوے، چه ما سره به لیکلے شوے وصیت موجود نه وُو۔

۵۷۹۔ وَعَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ خَطَّ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خُطُوْطًا فَقَالَ هٰذَا الْاِنْسَانُ وَهٰذَا اَجَلُهٗ فَبَیْنَمَا هُوَ كَذٰلِكَ اِذْ جَآءَ الْخَطُّ الْاَقْرَبُ (رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ)

۵۷۹۔ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم یو څو کرښے را ښکلے۔ بیا ئے اوفرمائیل، دا د انسان کرښه دی۔ او دا د مرګ کرښه دی۔ انسان خیل ژوند تیروی، تر دے چه د مرګ کرښه ئے ګیر کړی۔ (بخاریؒ)

۵۸۰۔ وَعَنْ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ خَطَّ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَطًّا مُرَبَّعًا وَخَطَّ خَطًّا فِی الْوَسَطِ خَارِجًا مِنْهُ وَخَطَّ خُطَطًا صِغَارًا اِلٰی هٰذَا الَّذِیْ فِی الْوَسَطِ مِنْ جَانِبِهٖ الَّذِیْ فِی الْوَسَطِ فَقَالَ هٰذَا الْاِنْسَانُ وَهٰذَا اَجَلُهٗ مُحِیْطًا بِهٖ. اَوْقَدْ اَحَاطَ بِهٖ. وَهٰذَا الَّذِیْ هُوَ خَارِجٌ اَمَلُهٗ وَهٰذِهِ الْخُطَطُ الصِّغَارُ الْاَعْرَاضُ فَاِنْ اَخْطَاَهٗ نَهَشَهٗ هٰذَا وَاِنْ اَخْطَاَهٗ هٰذَا نَهَشَهٗ هٰذَا، رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ. وَهٰذِهٖ صُوْرَتُهٗ.

۵۸۰۔ حضرت عبدالله ابن مسعودؓ نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د کرښو مربع (څلور ګوټیز) شکل جوړ کړو۔ او په مینځ کښے ئے یوه اوږده کرښه را ښکله۔ چه د دغه کرښے سر د مربع شکل نه بهر وتلے وُو۔ او مینځنۍ کرښے نه ئے د دواړو طرفونو ته وړے وړے کرښے را ښکلے۔ او وے فرمائیل، دا مربع شکل انسان دے۔ چه د مربع څلورو طرفونو را ګیر کړے دے۔ او دا ګیرونکے کرښے دا انسان مرګ دے (ګویا که مرګ انسان د څلور و طرفونو نه را ګیر کړے دے) او دا اوږده مینځنۍ کرښه د انسان آرزوګانے او اُمیدونه دی۔ چه د مرګ د کرښے نه هم مخکښے وتلی دی۔ او دا وړے وړے کرښے چه دے د اُمید کرښه پریکړے ده، هغه واقعات او مصیبتونه دی، چه کوم په ده باندے را پیښیږی، که دیوے واقعے نه انسان بچ شی. نو بله واقعه ورته پیښه شی. او که د دے نه هم بچ شی. نو دریمه واقعه او مصیبت ورته پیښ شی. او ګیر ئے کړی. دغسے د مصیبتونو نه کله خلاصیږی او کله پکښے ګیر شی. او بچ کیدو سره سره بیا ورله مرګ هم راشی. مګر د اُمیدونو کرښه ئے بیا هم نهٔ ختمیږی۔ (بخاریؒ)

او هغه مربع شکل دا دے :



۵۸۱۔ وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی

۵۸۱۔ حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے. رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَادِرُوْا بِالْاَعْمَالِ سَبْعًا ۱ هَلْ تَنْتَظِرُوْنَ اِلَّا فَقْرًا مُنْسِيًا اَوْ غِنًى مُطْغِيًا اَوْ مَرَضًا مُفْسِدًا اَوْ هَرَمًا مُفَنِّدًا ۲ اَوْ مَوْتًا مُجْهِزًا ۳ اَوِ الدَّجَّالَ فَشَرُّ غَائِبٍ يُنْتَظَرُ اَوِ السَّاعَةَ فَالسَّاعَةُ اَدْهٰى وَاَمَرُّ؟ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ۔

چه نیکو عملونو کښے په اوو خبرو کښے د واقع کیدو نه مخکښے جلتی کوئ (۱) آیا د دے انتظار کوئ، چه ټول هر څه هیرونکے خیز اولره او غریبی تاسو ګیر کړی. (نو بیا به عمل کوئ) (۲) یا د هغے مالداری انتظار کوئ چه سرکشه کونکے ده (۳) یا د داسے بیمارئ انتظار کوئ چه ټول آندامونه مو بے کاره کړی (۴) یا د داسے بوډاوالی چه عقل او هوش دے کار پریږدی. (۵) یا درله ناڅاپي مرګ راشی (۶) یا د دجال غائب چه دا ډیر شری غائب دے چه انتظار ئے کولے شی (۷) یا د قیامت چه ډیر سخت او ترخ دے. (ترمذیؒ)

۵۸۲۔ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَكْثِرُوْا مِنْ ذِكْرِ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ، يَعْنِي الْمَوْتَ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ۔

۵۸۲۔ دا روایت هم د حضرت ابوهریره رضی الله عنه دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د مزو (خوندونو) ختمونکے خیز یعنی د مرګ یاد هروخت تازه ساتئ۔ (ترمذیؒ)

۵۸۳۔ وَعَنْ اُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ قَامَ ۴ فَقَالَ يَا اَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوا اللّٰهَ جَاءَتِ الرَّاجِفَةُ ۵ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ جَاءَ الْمَوْتُ بِمَا فِيْهِ جَاءَ الْمَوْتُ بِمَا فِيْهِ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّيْ اُكْثِرُ الصَّلَاةَ عَلَيْكَ فَكَمْ اَجْعَلُ لَكَ مِنْ صَلَاتِيْ؟ فَقَالَ مَا شِئْتَ قُلْتُ الرُّبُعَ؟ قَالَ مَا شِئْتَ فَاِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ قُلْتُ اَجْعَلُ لَكَ صَلَاتِيْ كُلَّهَا قَالَ اِذًا تُكْفٰى هَمَّكَ وَيُغْفَرُ لَكَ ذَنْبُكَ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ.

۵۸۳۔ حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه نه روایت دے. چه د شپے به دریمه حصه ختمه شوه. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم به (د خوب نه) پاڅیدلو. او بیا به ئے اوفرمائیل. اے خلقو! الله تعالیٰ یادوئ. زړه چړقونکے راتلونکے دے. مرګ خپل ساز وسامان آخستے راروان دے. او مرګ خپلو کارونو عملونو سره سم راروان دے. ما د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوکړه چه زهٔ په خپلو دعاګانو کښے تاسو باندے ډیر ډیر درود وایم. تاسو دے دپاره څه حصه مقرر کړئ. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، خومره چه ستا خوښه وی. ما اووئیل، څلورمه حصه درود. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، خومره چه ته ئے مناسب ګڼړے. که زیات وائے، نو ستا دپاره غوره ده. ما عرض اوکړو، نیمه دعا کښے به تاسو یادوم. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه څنګه ئے

---

[1] "سبعًا" اى من النوازل او الشؤون و قد بين صلى الله عليه وسلم تلك السبعة بقوله هل تنتظرون الا فقرًا منسيًا الخ [2] "مفندًا" اى يتسبب عنه نقص العقل او اختلاله [3] "مجهزًا" باسكان الجيم وكسر الهاء : اى سريعًا [4] "قام" : اى من النوم [5] الراجفة : النفخة الاولى والرادفة : النفخة الثانية ؛

مناسب گنړے، نورے هم که زيات ولے، نو ستا د پاره غوره دے. ما عرض اوکړو، دړیو نه به دوه حصے شاملے کړم. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه څنګه ستاخوښه وی. که زیات دے کړو، نو ستا دپاره غوره ده. ما غرض اوکړو چه زه به ټوله خپله دعا کښے درود وایم. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، بیاخو به ستا ټوله پریشانی او فکر لرے کړے شی. او ستا گناهونه به معافی کړے شی. (ترمذی)

ترمذی وائی، داحدیث حسن دے۔

باب ۶۶

اِسْتِحْبَابِ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ لِلرِّجَالِ وَمَا يَقُوْلُهُ الزَّائِرُ !

سړو لپاره مقبرے ته تګ مستحب دے او هلته به څه وائی ؟

ف :- دے باب کښے صرف څلور حدیثونه دی۔

نبوی احادیث

۵۸۴۔ عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ فَزُوْرُوْهَا " رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِيْ رِوَايَةٍ فَمَنْ اَرَادَ اَنْ يَزُوْرَ الْقُبُوْرَ فَلْيَزُرْ فَاِنَّهَا تُذَكِّرُنَا الْاٰخِرَةَ۔

۵۸۵۔ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّمَا كَانَ لَيْلَتُهَا مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ مِنْ اٰخِرِ اللَّيْلِ اِلَى الْبَقِيْعِ فَيَقُوْلُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِيْنَ وَاَتَاكُمْ مَا تُوْعَدُوْنَ غَدًا مُؤَجَّلُوْنَ وَاِنَّا اِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِاَهْلِ بَقِيْعِ الْغَرْقَدِ[1]

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۵۸۶۔ وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

۵۸۴۔ حضرت بریده رضی الله عنه نه روایت دے. رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه ما تاسو قبرونو ته د تللو نه منع کړی وئ۔ اوس اجازت درکوم چه د قبرونو زیارت له ځئ۔ (مسلم)
یو روایت کښے داسے راغلی دی، څوک چه قبرونو ته تلل غواړی، نولاړ دے شی. ځکه چه قبرونوله تللو را تللوسره مونږ ته آخرت را په یاد شی۔

۵۸۵۔ حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه څما نمبر کښے به کله نبی کریم صلی الله علیه وسلم ما سره شپه دلته تیروله. نود شپے په آخره حصه کښے به جنت البقیع (هدیری) ته و تلو۔ او د قبرستان والو د پاره به ئے دا کلمات ویئل۔ اے مسلمانانو! تاسو د پاره دے سلامتی وی. تاسو له دے الله تعالیٰ هغه څه درکړی دکوم څه چه تاسو سره وعده شوے وه۔ چه قیامت کښے به ملاویږی. مونږ به هم تاسو سره ملاویږو. اے الله! بقیع الغرقد والو ته بښنه اوکړے.
(مسلم)

۵۸۶۔ حضرت بریده رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه

---

[1] الغرقد ضرب من شجر العضاه وشجر الشوك واحده الغرقدة ، ومن قيل لمقبرة اهل المدينة بقيع الغرقد لانه كان فيها غرقد وقطع

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُهُمْ اِذَا خَرَجُوْا اِلَى الْمَقَابِرِ اَنْ يَّقُوْلَ قَآئِلُهُمْ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَاِنَّا اِنْ شَآءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ اَسْاَلُ اللّٰهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ۔ (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

وسلم به مسلمانانو ته هغه کلمات ښودل چه هغوئ له به د قبرونو د زیارت کولو به وخت یکاریدل (عربی دُعا متن کښې اوګورئ) اے د مسلمانانو او مؤمنانو کورونو واله وُ! تاسو باندے دے سلامتي وی۔ که د الله تعالیٰ خوښه شوه نو مونږ به هم تاسو سره ملاؤ شو۔ مونږ خپل ځان د پاره او ستاسو د پاره هم د بچ کیدو سوال کوُو۔ (مُسلم)

۵۸۷۔ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ مَرَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقُبُوْرٍ بِالْمَدِيْنَةِ فَاَقْبَلَ عَلَيْهِمْ بِوَجْهِهٖ فَقَالَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ اَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَرِ ۱؎۔ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ۔

۵۸۷۔ حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدینے په یو څو قبرونو تیریدلو۔ نو هغے ته مخامخ شو او دا دُعاۓ اوفرمائیله۔ اے قبرونو واله وُ! الله دے په تاسو سلامتی نازله کړی۔ او الله تعالیٰ دے مونږ او تاسو ټول معاف کړی۔ تاسو ځمونږ نه مخکښې تلونکی یئ۔ او مونږ نزدے تاسو پسے وروستو د رتلونکی یو۔ (ترمذیؒ)

باب ۶۷

كَرَاهَةِ تَمَنِّى الْمَوْتِ بِسَبَبِ ضُرٍّ نَزَلَ بِهٖ وَلَا بَاْسَ لِخَوْفِ الْفِتْنَةِ فِى الدِّيْنِ

(د مصیبتونو نه د ګبراویدو په وجه د مرګ خواهش کول)

ف :۔ دے باب کښې صرف څلور نبوی احادیث دی۔

نبوی احادیث

۵۸۸۔ عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَتَمَنّٰى اَحَدُكُمُ الْمَوْتَ اِمَّا مُحْسِنًا فَلَعَلَّهٗ يَزْدَادُ وَاِمَّا مُسِيْئًا فَلَعَلَّهٗ يُسْتَعْتَبُ ۲؎ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَهٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ۔ وَفِىْ رِوَايَةٍ لِّمُسْلِمٍ عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَتَمَنَّيَنَّ اَحَدُكُمُ الْمَوْتَ وَلَا يَدْعُ بِهٖ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَهٗ

۵۸۸۔ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه هیڅوک هم د مرګ ارمان مه کوئ۔ که دا سړے نیک وی، نو کیدے شي چه (دغه ډیر عمر کښې) نورے نیکئ هم اوکړی۔ او که دا سړے بد وی، نو کیدے شي چه توبه اوباسی او الله راضی کړی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

دا الفاظ د بُخاری دی۔ او مُسلم کښې دا سے هم راغلی دی، چه حضرت ابوهریره رضی الله عنه وائی، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به فرمائیل، چه تاسو کښې دے هیڅوک هم د مرګ آرزو نه کوی۔ او نه د مرګ راتلو

۱؎ ونحن بالاثر بفتحتين اوبكسر ففتح: اى ميتون عن قريب ۲؎ "يستعتب" اى يرجع الى الله تعالىٰ بالتو

اَنَّهٗ اِذَا مَاتَ اِنْقَطَعَ عَمَلُهٗ وَ اِنَّهٗ لَا يَزِيْدُ الْمُؤْمِنُ عُمُرُهٗ اِلَّا خَيْرًا ؛

نه مخکښې دے د هغې دعا غواړي. ځکه چه کله څوک مړ شي نو د عمل کولو سلسله ختمه شي. او د مؤمن چه څومره عمر ډير وي نو نيکۍ به ئې زياتې وي.

۵۸۹. **وَعَنْ** اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَمَنَّيَنَّ اَحَدُكُمُ الْمَوْتَ لِضُرٍّ اَصَابَهٗ[1] فَاِنْ كَانَ لَا بُدَّ فَاعِلًا فَلْيَقُلْ:
اَللّٰهُمَّ اَحْيِنِيْ مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِيْ وَتَوَفَّنِيْ اِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِيْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

۵۸۹. حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه تاسو کښې څوک په مصيبت کښې د مبتلا کيدو باوجود بيا هم مرګ مهٔ غواړئ. او که ئې بے وينا څه کار نه کيږي نو دا دے اووائي، اے الله! کله پورے چه ځما ژوندی پاتے کيدو کښې خير وي. نو ما ژوندے اوساتے. او کله چه ځما مرګ کښې خير وي نو ما مړ کړے. (بخاريؒ ومسلمؒ)

۵۹۰. **وَعَنْ** قَيْسِ بْنِ اَبِيْ حَازِمٍ قَالَ دَخَلْنَا عَلٰى خَبَّابِ بْنِ الْاَرَتِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نَعُوْدُهٗ وَقَدِ اكْتَوٰى سَبْعَ كَيَّاتٍ فَقَالَ: اِنَّ اَصْحَابَنَا الَّذِيْنَ سَلَفُوْا[2] مَضَوْا وَلَمْ تَنْقُصْهُمُ الدُّنْيَا وَ اِنَّا اَصَبْنَا مَا لَا نَجِدُ لَهٗ مَوْضِعًا اِلَّا التُّرَابَ[3] وَلَوْلَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَانَا اَنْ نَدْعُوَ بِالْمَوْتِ لَدَعَوْتُ بِهٖ ثُمَّ اَتَيْنَاهُ مَرَّةً اُخْرٰى وَهُوَ يَبْنِيْ حَائِطًا لَهٗ فَقَالَ اِنَّ الْمُسْلِمَ لَيُؤْجَرُ فِيْ كُلِّ شَيْءٍ يُنْفِقُهٗ اِلَّا فِيْ شَيْءٍ يَجْعَلُهٗ فِيْ هٰذَا التُّرَابِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَهٰذَا لَفْظُ رِوَايَةِ الْبُخَارِيِّ

۵۹۰. قيس ابن ابی حازم رحمة الله عليه وائي. چه مونږ د خباب بن ارت رضی الله عنه د بيمارۍ پوښتنې ته لاړو. دغه وخت د مرض د لرے کولو د پاره ئې بدن اووه ځايه داغلے وُو. هغوئ اوفرمائيل، چه ځمونږ نه کوم کسان مړهٔ شوی وُو، نو دُنيا هغوئ ته هيڅ نقصان اونهٔ رسولو. (او هغوئ ته به دُنيا کښې د ځائے جوړولو ښه موقع وه) او مونږ ته چه کومه دُنيا حاصله شي، نو هغه مونږ صرف د خاورو په آبادئ اولګوُو. که نبی کريم صلی الله عليه وسلم مونږ د مرګ غوښتلو نه منع کړي نهٔ وے. نو ما به د مرګ دُعا غوښتلے وه. قيسؒ وائي، چه مونږ دوباره هغهٔ له لاړو. نو د خپل کور يو ديوال ئې جوړولو. نو هغهٔ اووئيل، چه مسلمان په کوم څيز کښې خرچ کوی، هغه ته د هغې ثواب ورکولے شي. بغير د آبادۍ نه. (بخاريؒ ومسلمؒ) او دا لفظ د بخاری دے.

باب ۶۸

الْوَرَعِ وَتَرْكِ الشُّبُهَاتِ

د پرهيزګاري او د شکي څيزونو نه د ځان ساتلو بيان

ف:- دے باب کښې دوه قرآنی آيتونه او نهٔ نبوی احاديث دی.

---

[1] "لضر اصابه" ای فی دنیاه.
[2] "سلفوا" ای ماتوا
[3] "الا التراب" ای يدفن فيه خوف الصرقه و فی رواية الترمذی "لقد رايتنی مع رسول الله صلی الله عليه وسلم لا املك درهمًا وان فی جانب بيتی الآن اربعين الف درهم.

قرآني آيتونه

۱۹۹۔ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1] وَتَحْسَبُوْنَهٗ هَيِّنًا وَهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمٌ ۔

۱۹۹۔ تاسو خو دا ډیره معمولي خبره ګڼله او حال دا دے چه الله تعالیٰ ته ډیره ضروري او غټه خبره ده۔ (پ ۱۸ / نور)

۲۰۰۔ وَقَالَ تَعَالٰى[2] اِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ۔

۲۰۰۔ بیشکه ستا رب په انتظار کښې دے۔ (پ ۳۰ / فجر)

نبوي احاديث

۵۹۱۔ **وَعَنِ** النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ الْحَلَالَ بَيِّنٌ وَاِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ وَ بَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَاَ لِدِيْنِهٖ وَ عِرْضِهٖ وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ كَالرَّاعِيْ يَرْعٰى حَوْلَ الْحِمٰى يُوْشِكُ اَنْ يَّرْتَعَ فِيْهِ اَلَا وَاِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى اَلَا وَاِنَّ حِمَى اللّٰهِ مَحَارِمُهٗ اَلَا وَاِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً اِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهٗ وَاِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهٗ اَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ، وَ رَوَيَاهُ مِنْ طُرُقٍ بِاَلْفَاظٍ مُتَقَارِبَةٍ ۔

۵۹۱۔ حضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرما ئیلي آوریدلي دي. چه حلال هم ښکاره دي او حرام هم ښکاره دي. د دے دواړو ترمینځ شکي څیزونه دي، چه د هغې ډیرو خلقو ته پته نهٔ وي. پس چا چه د دے شکي څیزونو نه خپل ځان او ساتلو، نو د هغهٔ دین هم محفوظ شو او عزت ئے هم بچ شو۔ او څوک چه شکي څیزونو کښې ګیر شولو نو هغه په حرامو کښې ګیر شو۔ د دے مثال دیو شپونکي په شان دے۔ چه خپله رمه د منع شوي ځائے خواوشا کښې څروي او هلته خطره داوي چه چرته منع شوي ځائے کښې ځناور او نهٔ څریږي. نو دا خبره دے واضحه او ښکاره وي، چه د هر بادشاه یوه منع شوه علاقه وي۔ او د الله تعالیٰ منع کړے شوے علاقه حرام شوي څیزونه دي. او دا هم واورئ، چه بدن کښې د غوښې یوه دا سے ټکړه ده کهٔ چیرے هغه جوړه وي نو ټول بدن جوړ وي. او کهٔ دا خرابه شي نو ټول بدن ګډوډ شي۔ نو واورئ، چه هغه ټکړه زړهٔ دے۔ (بخاريؒ و مسلمؒ)

۵۹۲۔ **وَعَنْ** اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ تَمْرَةً فِي الطَّرِيْقِ فَقَالَ لَوْلَا اَنِّيْ اَخَافُ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الصَّدَقَةِ لَاَكَلْتُهَا ۔ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۵۹۲۔ انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته لاره کښې غورځولے شوے کجوره ملاؤ شوه۔ نو وے فرمائیل، کهٔ ما ته دا خطره نه وے، چه دا کجوره به د صدقے نه وي، نو ما به خوړلے وے۔ (بخاريؒ و مسلمؒ)

۵۹۳۔ **وَعَنِ** النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ

۵۹۳۔ نواس بن سمعان رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله

---

[1] سورة النور آية ۱۵ [2] سورة الفجر آية ۱۴

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ وَالْاِثْمُ مَاحَاكَ فِيْ نَفْسِكَ وَكَرِهْتَ اَنْ يَّطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ - رَوَاهُ مُسْلِمٌ

"حَاكَ" بِالْحَاءِ الْمُهْمَلَةِ وَالْكَافِ اَيْ تَرَدَّدَ فِيْهِ ::

عليه وسلم اوفرمائيل، چه ښېګڼه اخلاق نيکي ده - اوګناه هغه ده، چه زړه کښې دې ځائې اونيسي، او ته کله هم دا نهٔ غواړې چه بل څوک دې د دې نه خبر شي - (مُسلم)

حَاكَ: يعنې تردد اوشک دې وي.

۵۹۴- وَعَنْ وَابِصَةَ بْنِ مَعْبَدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَتَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ جِئْتَ تَسْاَلُ عَنِ الْبِرِّ؟ قُلْتُ نَعَمْ - فَقَالَ اسْتَفْتِ قَلْبَكَ اَلْبِرُّ مَا اطْمَاَنَّتْ اِلَيْهِ النَّفْسُ وَاطْمَاَنَّ اِلَيْهِ الْقَلْبُ وَالْاِثْمُ مَا حَاكَ فِي النَّفْسِ وَتَرَدَّدَ فِي الصَّدْرِ وَاِنْ اَفْتَاكَ النَّاسُ وَاَفْتَوْكَ" حَدِيْثٌ حَسَنٌ رَوَاهُ اَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ فِيْ مُسْنَدَيْهِمَا ::

۵۹۴- حضرت وابصه بن معبد رضي الله عنه نه روايت دې - چه زهٔ د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر شوم - اوهغوئ اوفرمائيل، چه ته د نيکئ په باره کښې تپوس کول غواړې - ما عرض اوکړو، هو جي - نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، د زړهٔ نه پوښتنه کوه - ځکه چه نيکي خو هغه ده چه زړهٔ دې پرې مطمئن وي - اوګناه هغه ده، چه په زړهٔ دې تيره شي او سينه کښې خطره پيدا کړي - اګر چه د خلقو نه پوښتنه کوې نو هغوئ تا له په دې باندې د عمل کولو مشوره درکړي - دا حديث حسن دې - (احمد، دارمي)

۵۹۵- وَعَنْ اَبِيْ سِرْوَعَةَ بِكَسْرِ السِّيْنِ الْمُهْمَلَةِ وَفَتْحِهَا عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهُ تَزَوَّجَ ابْنَةً لِاَبِيْ اِهَابِ بْنِ عَزِيْزٍ فَاَتَتْهُ امْرَاَةٌ فَقَالَتْ اِنِّيْ قَدْ اَرْضَعْتُ عُقْبَةَ وَالَّتِيْ قَدْ تَزَوَّجَ بِهَا فَقَالَ لَهَا عُقْبَةُ مَا اَعْلَمُ اَنَّكِ اَرْضَعْتِنِيْ وَلَا اَخْبَرْتِنِيْ فَرَكِبَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِيْنَةِ فَسَاَلَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ وَقَدْ قِيْلَ؟ فَفَارَقَهَا عُقْبَةُ وَنَكَحَتْ زَوْجًا غَيْرَهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

اِهَابٌ" بِكَسْرِ الْهَمْزَةِ وَعَزِيْزٌ" بِفَتْحِ الْعَيْنِ وَبِزَايٍ مُكَرَّرَةٍ.

۵۹۵- حضرت ابو سِروَعه عقبه بن حارث رضي الله عنه وائي - چه هغوئ د ابو اِهاب بن عزيز د لور سره واده اوکړو نو يوه ښځه ورله راغله - او وې وئيل، چه ما عقبه او د ابو اِهاب لور له پئ درکړې دی، کوم چه عقبه سره نکاح تړلې ده - نو عقبه اووئيل چه ما ته خود دې خبرې علم نشته، چه تا ماله پئ را کړې دی. او تا د دې نه مخکښې هم ما ته نهٔ دی وئيلي - پس عقبه مدينې منورې ته د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر شو. او د دې مسئلې په باره کښې ترې پوښتنه اوکړه - نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، اوس چه کله دا خبره اوکړې شوه، نو ته ئې په خپله نکاح کښې څنګه ساتلې شې - نو عقبه هغه ښځه د ځان نه بيله کړه او بل چا ته ئې په نکاح ورکړه - (بُخاري)

۵۹۶- وَعَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ حَفِظْتُ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْ مَا يُرِيْبُكَ اِلٰى مَالَا يُرِيْبُكَ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ مَعْنَاهُ اُتْرُكْ مَا تَشُكُّ فِيْهِ وَخُذْ مَالَا تَشُكُّ فِيْهِ ؛

۵۹۶۔ حضرت حسن بن علی رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه ما د نبی کریم صلے الله علیه وسلم نه ارشاد آوریدلے محفوظ ساتلے دے۔ چه هغوئ اوفرمائیل، کوم خیزونه چه تا په شک کښې اچوی، هغه پریږده۔ اوکوم خیزونه چه تا په شک کښې نه غورزوی، هغه اختیار کړه۔ (ترمذی) امام ترمذی وائی، چه دا حدیث حسن دے۔ (مطلب دا دے، چه کوم خیز کښې شک وی، نو هغه کار مه کوه۔ اوکوم کښې چه شک نه وی، نو هغه کوه)۔

۵۹۷- وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ لِاَبِيْ بَكْرِنِ الصِّدِّيْقِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ غُلَامٌ يُخْرِجُ لَهُ الْخَرَاجَ[1] وَكَانَ اَبُوْ بَكْرٍ يَاْكُلُ مِنْ خَرَاجِهٖ فَجَآءَ يَوْمًا بِشَيْءٍ فَاَكَلَ مِنْهُ اَبُوْ بَكْرٍ فَقَالَ لَهُ الْغُلَامُ اَتَدْرِيْ مَا هٰذَا؟ فَقَالَ اَبُوْ بَكْرٍ وَمَا هُوَ فَقَالَ كُنْتُ تَكَهَّنْتُ لِاِنْسَانٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَمَا اُحْسِنُ الْكِهَانَةَ اِلَّا اَنِّيْ خَدَعْتُهُ فَلَقِيَنِيْ فَاَعْطَانِيْ لِذٰلِكَ[2] هٰذَا الَّذِيْ اَكَلْتَ مِنْهُ فَاَدْخَلَ اَبُوْ بَكْرٍ يَدَهٗ فَقَآءَ كُلَّ شَيْءٍ فِيْ بَطْنِهٖ۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

"اَلْخَرَاجُ" شَيْءٌ يَجْعَلُهُ السَّيِّدُ عَلٰى عَبْدِهٖ يُؤَدِّيْهِ كُلَّ يَوْمٍ وَبَاقِيْ كَسْبِهٖ يَكُوْنُ لِلْعَبْدِ.

۵۹۷۔ حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه د ابوبکر رضی الله عنه یو غلام ؤو۔ چه د هغهٔ نه به ئې د روزانه گټے نه څه مقرره او معلومه حصه آخستله. او څه به چه هغهٔ راوړل نو خپله تهیلئ کښې به ئې راوړل۔ نو یوه ورځ هغه غلام څه خیز راوړو، چه هغه ابوبکر رضی الله عنه هم اوخوړلو. نو هغه غلام اووئیل، چه تا سو ته معلومه ده، کوم خیز چه تا سو اوخوړلو، دا څنګه گټه وه۔ ابوبکر رضی الله عنه اوفرمائیل څنګه گټه ده؟ غلام اووئیل، چه د جاهلیت په زمانه کښې ما یو کس له کهانت کړے ؤو. او کهانت هم څه ؤو۔ هغهٔ له مے دهوکه ورکړے وه۔ (او څه اتمه دروغ مے ورته وئیلی ؤو)۔ اوس د هغهٔ سره ملاؤ شوم نو هغهٔ ماله دا خیز راکړے ؤو، کوم چه تاسو اوخوړلو. نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه سمدستی خپل لاس حلق ته کړو۔ او چه څهٔ ئې خوړلی څکلی ؤو هغه ئې ټول قئ کړل۔ (بخاری) امام نوویؒ وائی، چه خراج هغې ته وئیلے شی، چه مالک خپل غلام باندے د روزانه گټے نه څه حصه مقرر کړی، چه دومره مونږ ته راکوه او د باقی ته مالک ئے.

۵۹۸- وَعَنْ نَافِعٍ اَنَّ عُمَرَبْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ فَرَضَ لِلْمُهَاجِرِيْنَ الْاَوَّلِيْنَ

۵۹۸۔ حضرت نافع رض وائی۔ چه کله عمر رض اولینو مهاجرینو ته وظیفې مقرر کړے۔ نو څلور زره (۴۰۰۰) مقدار ئے مقرر کړو۔ مګر خپل ځوئی د پاره ئے درے نیم زره

---

[1] "يخرج له الخراج" ای یاتیه بما یکسبه من الخراج

[2] "لذلك" ای لاجله، وفی نسخة من البخاری "بذلك" بالموحدة: ای عوض تکهنی له ؛

اَرْبَعَةَ اٰلَافٍ وَّ فَرَضَ لِابْنِهٖ ثَلَاثَةَ اٰلَافٍ وَخَمْسَمِائَةٍ فَقِیْلَ لَهٗ: هُوَ مِنَ الْمُهَاجِرِیْنَ فَلِمَ نَقَصْتَهٗ فَقَالَ اِنَّمَا هَاجَرَ بِهٖ اَبُوْهُ یَقُوْلُ لَیْسَ هُوَ کَمَنْ هَاجَرَ بِنَفْسِهٖ رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ -

(۳۵۰۰) مقرر کړے. چا ورته اووئیل، چه هغه خو هم په مهاجرینو کښې شامل دے. بیا دے ورله وظیفه ولے کمه مقرر کړه ؟ هغهٔ اوفرمائیل، چه هغهٔ سره د هغهٔ پلار هم هجرت کړے وُو. د دے مطلب دا وُو، چه هغهٔ د نورو خلقو په شان په خپله هجرت نه وُو کړے. بلکه هغه خو د پلار سرهٔ هجرت کښې راغلي وُو - (بخاری)

۵۹۹ - وَعَنْ عَطِیَّةَ بْنِ عُرْوَةَ السَّعْدِیِّ الصَّحَابِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا یَبْلُغُ الْعَبْدُ اَنْ یَکُوْنَ مِنَ الْمُتَّقِیْنَ حَتّٰی یَدَعَ مَالَا بَاْسَ بِهٖ حَذَرًا مِّمَّا بِهٖ بَاْسٌ رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ، قَالَ حَدِیْثٌ حَسَنٌ -

۵۹۹ - حضرت عطیه بن عروه السعدیؓ نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، بنده هغه وخته پورے د پرهیزګارانو په ټولګی کښې نشی شاملیدلے - ترخوچه د ګناه نه د بچ کیدو د پاره ئے جائز او مباح څیز پریښے نه وی. (ترمذی)

باب ٦٩

اِسْتِحْبَابِ الْعُزْلَةِ عِنْدَ فَسَادِ النَّاسِ وَالزَّمَانِ اَوِالْخَوْفِ مِنْ فِتْنَةٍ فِی الدِّیْنِ وَوُقُوْعٍ فِیْ حَرَامٍ وَّشُبُهَاتٍ وَنَحْوِهَا ؞

د فتنے په وخت یوازے والے

ف :- دے باب کښې یو قرآنی آیت او پنځه نبوی احادیث دی - دا منلے شوے خبره ده، چه د انسان حالات د زمانے د حالاتو سره سره بدلیږی. کله د امن وامان سره مخامخ وی او کله مصیبتونو او تکلیفونو او فتنو فسادونو ګیر کړے وی. او ښکاره خو دا فتنے زړهٔ راښکونکے وی. مګر د نتیجے په اعتبار سره د دین د پاره ډیرے خطرناکے وی. کمزوری ایمان والا او بے دینه خلق د کم عقلئ او د کم فهمئ په وجه هغه دین ګڼړی. او هغے طرف ته بالکل لکه چه راښکلے شی، روان وی. بعضے وختونو کښې ترے دینداره خلق هم جامه نشی ساتلے. د بچ کیدو لاره ئے دا ده، چه د دے ماحول او مجلسونو نه لرے شی. دے نه د بچ کیدو د پاره احادیثو کښې په خپله لار بیاموندلے شی - په دے باندے په مضبوطئ سره عمل کولو سره د دین او ایمان دواړه محفوظ او بچ پاتے کیدلے شی.

قرآنی آیتونه

۲۰۱ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[1]: فَفِرُّوْٓا اِلَی اللّٰهِ[2] اِنِّیْ لَکُمْ مِّنْهُ نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ.

۲۰۱ - تا سو الله طرف ته په منډه راشئ. زهٔ تاسو ته ښکاره ویرونکے رالیږلے شوے یم. (پ۲۷ / ذاریات)

نبوی احادیث

۶۰۰ - وَعَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِیْ وَقَّاصٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ

۶۰۰ - سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه وائی. چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم

---

[1] سورة الذاريات آية ۵۰ [2] "ففروا الى الله": اى من جميع ما عداه

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ التَّقِيَّ الْغَنِيَّ (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

اَلْمُرَادُ بِالْغَنِيِّ "غَنِيُّ النَّفْسِ"، كَمَا سَبَقَ فِي الْحَدِيْثِ الصَّحِيْحِ[1]:

نه داسے فرمائيلی آوريدلی دی. چه الله تعالیٰ پرهيزګاره او بے پرواه زړهٔ والا بنده خوښوی۔ (مُسلمؒ)

د غنی نه مراد د زړهٔ غنی دے، څنګه چه مخکښے حديث کښے تیر شو۔

٦٠١ - وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَجُلٌ أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ مُؤْمِنٌ مُجَاهِدٌ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ رَجُلٌ مُعْتَزِلٌ فِيْ شِعْبٍ[2] مِنَ الشِّعَابِ يَعْبُدُ رَبَّهُ وَفِيْ رِوَايَةٍ: يَتَّقِي اللهَ وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهِ۔ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

٦٠١ - حضرت ابوسعيد خدرئ نه روايت دے. چه يو کس پوښتنه اوکړه - يا رسول الله کوم يو سړے غوره دے؟ نو نبی عليه السلام اوفرمائيل، چه هغه بنده چه هغه خپل ځان او مال سره د الله جل جلالهٗ په لاره کښے جهاد کوی - بيائے پوښتنه اوکړه چه د دے نه پس څوک دے؟ نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل، د دے نه پس هغه کس چه د غرهٔ په يوه دره کښے ناست وی او خپل وخت د الله تعالیٰ په عبادت کښے تيروی۔ (بخاریؒ ومُسلمؒ)

او يو روايت کښے داسے راغلی دی، چه هغه د الله تعالیٰ نه ويريږی او خلق د خپل شر نه بچ ساتی۔

٦٠٢ - وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْشِكُ[3] أَنْ يَكُوْنَ خَيْرُ مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمٌ يَتَتَبَّعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ، وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ[4] يَفِرُّ بِدِيْنِهِ مِنَ الْفِتَنِ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

وَشَعَفُ الْجِبَالِ: أَعْلَاهَا۔

٦٠٢ - دا روايت هم د حضرت ابوسعيد خدریؓ دے - چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، داسے وخت هم را تللو والا دے، چه د مسلمان د ژوند تيرولو د پاره غوره او ښهٔ مال به ګيډۍ وی چه هغے سره غرونو يا بارانی ځايونو ته لاړ شی او خپل دين د فتنو او فسادونو نه بچ اوساتی۔ (بُخاریؒ)

شَعَفُ الْجِبَالِ: يعنی اوچته غونډۍ، يا د غرا وچت سر او څوکه.

(مطلب دا چه د فتنو په زمانه کښے به د دين د بچ کولو د پاره جدا ځان له ځائے ته لاړ شی او د ژوند تيرولو د پاره به داسے صورت او داسے وخت کښے غوره مال او سرمايه ګيډۍ دی - چه د هغے نه خوراک هم حاصلولے شی، او مال وغيره هم).

٦٠٣ - وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا بَعَثَ اللهُ نَبِيًّا

٦٠٣ - حضرت ابوهريرهؓ نه روايت دے. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، يو پيغمبر هم داسے نه دے تير شوے، چه هغهٔ به ګيډۍ څرولے نه وی.

---

[1] هو: ليس الغنى عن كثرة العرض، ولكن الغنى غنى النفس [2] "الشعب" بكسر الشين المعجمة الطريق فى الجبل وما انفرج بين الجبلين ومسيل الماء [3] "يوشك" بضم التحتية وكسر الشين المعجمة: اى يقرب۔ [4] القطر الغيث ومواقعه مواضع الكلا فان المطر اذا اصاب الارض اعشبت:

اِلَّا رَعَى الْغَنَمَ فَقَالَ اَصْحَابُهٗ وَ اَنْتَ؟ قَالَ نَعَمْ كُنْتُ اَرْعَاهَا عَلٰى قَرَارِيْطَ لِاَهْلِ مَكَّةَ"۔ (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)

صحابه وُ رض عرض اوکړو۔ چه تاسو هم بيزې څرولی دی۔ نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه ماهم د يوڅو قيراطــو مزدورئ د پاره د مکې والوُ خلقو بيـزې څرولے دي۔ (بخاریؒ)

(د ژوندون تيرولو د پاره که کوم کار په نبی وُو، نه د نبوّت د شان نه خلاف وُو۔ او نه د انبياؤ د پاره د سپکوالی سبب دے۔ بلکه کسب او کار کول د پيغمبرانو سُنت او عمل دے۔ او توکل د هغوئ په هرحال کښے وُو۔ او د نبی کريم صلی الله عليه وسلم دا عمل د بيزو څرولو د نبوّت يعنی د پيغمبرئ ملاويدو نه مخکښے وُو۔ او په معاوضے باندے تجارت د پاره هم هغوئ تشريف وړے وُو۔ نو دا خبرے بدلول او تاويلونه پکښے کول هسے ځان له تکليف ورکولو نه بغير نور هيڅ نهٔ دی۔)

۶۰۴۔ وَعَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ قَالَ مِنْ خَيْرِ مَعَاشِ النَّاسِ رَجُلٌ مُمْسِكٌ عِنَانَ فَرَسِهٖ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يَطِيْرُ عَلٰى مَتْنِهٖ كُلَّمَا سَمِعَ هَيْعَةً اَوْ فَزْعَةً طَارَ عَلَيْهِ يَبْتَغِي الْقَتْلَ اَوِ الْمَوْتَ مَظَانَّهٗ اَوْ رَجُلٌ فِيْ غُنَيْمَةٍ فِيْ رَاْسِ شَعَفَةٍ مِنْ هٰذِهِ الشَّعَفِ اَوْ بَطْنِ وَادٍ مِنْ هٰذِهِ الْاَوْدِيَةِ يُقِيْمُ الصَّلٰوةَ وَ يُؤْتِي الزَّكٰوةَ وَ يَعْبُدُ رَبَّهٗ حَتّٰى يَاْتِيَهُ الْيَقِيْنُ[1] لَيْسَ مِنَ النَّاسِ اِلَّا فِيْ خَيْرٍ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ

۶۰۴۔ حضرت ابوهريره رض نه روايت دے. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل چه خلقو کښے د تولو نه ښهٔ ژوند د هغه کس دے۔ چه د الله جل جلاله په لاره کښے ئے هروخت خپه په رکاب (يا ښيدان) او واگے ئے هروخت برابرے نيولے وی. که چير ته خطره محسوسه کړی۔ يا د غوغا يا ويرے اطلاع ملاؤ شی۔ نو په منډه خپل ځان به اَس هلته رسوی۔ او هروخت د شهادت مرګ غوښتونکے وی۔ او يا د هغه کس ژوند ښهٔ دے۔ چه څو ګډه و بيزو سره چرته يو غر کښے يا چرته يوه ناله کښے ژوند تيروی. او مونځ پابندئ سره کوی. او زکوٰة ورکوی او مرګه پورے د الله په عبادت او بندګئ کښے مشغول وی۔ او بغير د خيرا و ښيګړه نه په بله معامله کښے څه کار نه لری۔ (مُسلم)

(آخری جملے نه دا معلوميږی، چه بالکل به د خلقو نه کوټ ته هم نهٔ کينی، او نه به ورسره بالکل تعلق پريږدی۔ د خير او د نيکو په کارونو کښے د هغوئ سره هميشه ناسته پاسته، تلل راتلل، خبرواترو کښے شريک کيږی۔ او خلقو له مشورے ورکولے شی۔ او د هغوئ امدا د کولے شی۔ او د دُنيا والا په معاملو کښے دے هيڅ کار نه لری۔ دُنيا والا پوهـ شه او خپل کار ئے پوهـ شه)۔

دالفاظو تشريح

"يَطِيْرُ": اَيْ يُسْرِعُ. "وَ مَتْنُهٗ" ظَهْرُهٗ۔ "وَالْهَيْعَةُ": اَلصَّوْتُ لِلْحَرْبِ" "وَالْفَزْعَةُ" نَحْوُهٗ

يَطِيْرُ: جلتی کوی يا آلوځی۔ او "مَتْنُهٗ" د اَس شا۔ هَيعَه: غوغا او اعلان د جنګ. فَزْعَةٌ: هم همدغه معنیٰ لری۔

---

[1] "اليقين": الموت۔

قرآنی آیت

۲۰۲ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی [1] وَتَعَاوَنُوْا عَلَی الْبِرِّ وَالتَّقْوٰی [2] ۔

وَالْاٰیَاتُ فِیْ مَعْنٰی مَا ذَکَرْتُهٗ کَثِیْرَةٌ مَّعْلُوْمَةٌ ۔

۲۰۲ - د پرهیزګارئ او د نیکئ په کارونو کښې یو بل سره تعاون او امداد کوئ [2] ۔ (پ ۶ / مآئده)

د دے باب لاندے د بے شماره آیتونو ذخیره موجوده او مشهوره ده ۔

باب

التَّوَاضُعِ وَخَفْضِ الْجَنَاحِ لِلْمُؤْمِنِیْنَ

د مؤمنانو سره د عاجزئ او نرمئ کولو بیان

ف :۔ د دے باب کښې څلور آیتونه او لس احادیث دی ۔ خپل دینی او دُنیاوی عزتونه او حاجتونه او درجے او مرتبے د الله تعالیٰ د رضا او د خوشحالولو د پاره کم ساتلو ته تواضع او عاجزی وئیلے کیږی، چه ډیره لویه نیکی ده او د صفت قابل خوئے او خصلت دے ۔ ع

تواضع ز گردان فرازان نکواست　　گدا گر تواضع کند خوئے اوست

قرآنی آیتونه

۲۰۳ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی [1] "وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ [2] لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ" ۔

۲۰۳ - اے نبی! خپلو تابعدارو سره په پراخ تندی او په نرمئ ملاویږه ۔ (پ ۱۹ / شعرآء)

۲۰۴ - وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی [3] "یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَنْ یَّرْتَدَّ مِنْکُمْ عَنْ دِیْنِهٖ فَسَوْفَ یَاْتِی اللّٰهُ بِقَوْمٍ یُّحِبُّهُمْ وَیُحِبُّوْنَهٗ اَذِلَّةٍ عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ [4] اَعِزَّةٍ عَلَی الْکَافِرِیْنَ" ۔

۲۰۴ - اے ایمان والو! واورئ، که تاسو کښې څوک خپل دین پریږدی او بے دینه شی ۔ نو ضرور به الله تعالیٰ د هغوئ په ځائے داسے خلق پیدا کړی، چه الله تعالیٰ ته به ډیر ګران وی ۔ او الله تعالیٰ به دوئ ته ګران وی ۔ او په مسلمانانو به ډیر مهربانه وی او کافرانو سره به سختی کونکی وی ۔ (پ ۶ / مآئده)

۲۰۵ - وَقَالَ تَعَالٰی [5] "یٰۤاَیُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰکُمْ مِّنْ ذَکَرٍ وَّ اُنْثٰی وَجَعَلْنٰکُمْ شُعُوْبًا وَّ قَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْا اِنَّ اَکْرَمَکُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰکُمْ" ۔

۲۰۵ - واورئ خلقو! مونږ تاسو د یو سړی او د یوے ښځے (د یو ځائے کیدو) نه پیدا کړی یئ ۔ او تاسو مو په مختلفو قومونو او خاندانونو او قبیلو کښې د دپاره تقسیم کړئ، چه تاسو یو بل او پیژنئ ۔ د الله په نزد په تاسو کښې د عزت خاوند هغه کس دے، چه زیات پرهیزګاره وی ۔ (پ ۲۶ / حجرات)

۲۰۶ - وَقَالَ تَعَالٰی [6] "فَلَا تُزَکُّوْۤا اَنْفُسَکُمْ [7] هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰی" ۔

۲۰۶ - تاسو خپل ځان پاک مه ګڼړئ ۔ دا خو الله پیژنی، چه څوک ډیر متقی او

---

[1] سورة الشعرآء آیة ۲۱۵ [2] "واخفض جناحك" هو کنایة عن اللطف والرفق [3] سورة المآئدة آیة ۵۴ [4] "اذلة علی المؤمنین" ای متذللین لهم عاطفین علیهم "اعزة علی الکافرین" ای شداد متغلبین علیهم [5] سورة الحجرات آیة ۱۳ [6] سورة النجم آیة ۳۲ [7] فلا تزکوا انفسکم ۔ ای لا تمدحوها ۱۲

"وَمَظَانُّ الشَّيْءِ" اَلْمَوَاضِعُ الَّتِيْ يُظَنُّ وُجُوْدُهُ فِيْهَا.	مظان الشیٔ : هغه ځائے چه د موجوديدو ګمان پرے اوکړے شي.
"وَالْغُنَيْمَةُ" بِضَمِّ الْغَيْنِ- تَصْغِيْرُ الْغَنَمِ.	غُنَيْمَةُ : د بيزو وړه رمه.
"وَالشَّعَفَةُ" بِفَتْحِ الشِّيْنِ وَ الْعَيْنِ وَهِيَ اَعْلَى الْجَبَلِ-	شَعَفَة : د غرا وچت سرا وڅوکه.

باب

فَضْلِ الْاِخْتِلَاطِ بِالنَّاسِ وَحُضُوْرِ جَمْعِهِمْ وَجَمَاعَاتِهِمْ وَمَشَاهِدِ الْخَيْرِ وَمَجَالِسَ الذِّكْرِ مَعَهُمْ، وَعِيَادَةِ مَرِيْضِهِمْ، وَحُضُوْرِ جَنَآئِزِهِمْ، وَ مُوَاسَاةِ مُحْتَاجِهِمْ، وَاِرْشَادِ جَاهِلِهِمْ وَ غَيْرِ ذٰلِكَ مِنْ مَصَالِحِهِمْ لِمَنْ قَدَرَ عَلَى الْاَمْرِ بِالْمَعْرُوْفِ وَ النَّهْيِ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ قَمْعِ نَفْسِهٖ[1] عَنِ الْاِيْذَآءِ وَصَبْرٍ عَلَى الْاَذٰى؛

خلقو سره تعلق ساتل، د هغوئ سره په مجلسونو کښے شريکيدل، د نيکئ په کارونو کښے حاضريدل، د وعظ او نصيحت په مجلسونو کښے شامليدل، د بيمار پوښتنه کول، جنازو کښے شريکيدل، د حاجت مند و ضرورتونه پوره کول، او د دے نه علاوه خپله ذمه واري پيژندل، او د نيکو حکم کول، او د ګناه د خبرونه منع کول، او د (علمی، عملی او عقيدوی) نا پاکو او ګندګو نه ځان ساتل او جدا اوسيدل او مصيبتونو او سختو باندے د صبر کولو او د هغے د فضيلتونو بيان؛

ف: دے باب کښے صرف يو قرآنی آيت دے او نبوی احاديث پکښے نشته. باقی مضمون باب کښے د سرخئ په طور ذکر دے. يا د امام نووی رحمة الله عليه توضيحات دی.

توضيحات

اِعْلَمْ اَنَّ الْاِخْتِلَاطَ بِالنَّاسِ عَلَى الْوَجْهِ الَّذِيْ ذَكَرْتُهٗ هُوَ الْمُخْتَارُ الَّذِيْ كَانَ عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَائِرُ الْاَنْبِيَآءِ صَلَوَاتُ اللّٰهِ وَسَلَامُهٗ عَلَيْهِمْ وَ كَذٰلِكَ الْخُلَفَآءُ الرَّاشِدُوْنَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ مِنَ الصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِيْنَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ مِنْ عُلَمَآءِ الْمُسْلِمِيْنَ وَاَخْيَارِهِمْ وَهُوَ مَذْهَبُ اَكْثَرِ التَّابِعِيْنَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ وَبِهٖ قَالَ الشَّافِعِيُّ وَاَحْمَدُ وَاَكْثَرُ الْفُقَهَآءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَجْمَعِيْنَ.

دا خبره د، واضحه او ښکاره وی، چه د خلقو سره دا سے قسم ګډون او ناسته پاسته کول کوم چه مونږ د باب د عنوان دلاندے بيان کړل. نبی اکرم صلی الله عليه وسلم ته خوښه طريقه ده. او نورو پيغمبرانو هم دا طريقه خوښه کړے وه. او د دے طريقے هدايت به ئے فرمائيلو. د خلفاء راشدينو او بيا د ټولو صحابه ؓ او د اُمت د ټولو علماؤ او مشرانو هم دا طريقه وه. تابعينو کښے د ډيرو او د هغوئ نه پس د امام شافعیؒ، امام احمد بن حنبلؒ، او اکثرو فقهاؤ علماؤ رح هم دا مذهب ؤ او د دے طريقے مطابق به ئے ژوند تيرولو.

---

[1] سورة المائدة آية ۲ :

پرهیزګاره دے۔ (پ۲۷ / نجم)

۲۰۷۔ قَالَ تَعَالٰی[1] " وَ نَادٰی اَصْحٰبُ الْاَعْرَافِ رِجَالًا یَّعْرِفُوْنَهُمْ بِسِیْمٰهُمْ قَالُوْا : مَآ اَغْنٰی عَنْكُمْ جَمْعُكُمْ وَ مَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ اَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِیْنَ اَقْسَمْتُمْ لَا یَنَالُهُمُ اللّٰهُ بِرَحْمَةٍ ؟ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَیْكُمْ وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ "۔

۲۰۷۔ اعراف والا خلق چه ډیر خلق به ئې د نښانو او علامو نه پیژنی۔ وائی به۔ چه دلته ستاسو ډیر والے او خپل ځان لوئې ګنړل څه پکار را نغلل رکوری، تاسو ته مخا مخ) دا هغه خلق دی، چه د هغوئ په باره کښې به تاسو قسمونه خوړل، چه هغوئ با ندے به الله تعالیٰ رحمت نه کوی۔ حالا نکه هغوئ ته خو دا حکم ملاؤ شوے دے۔ نه به تاسو ته هلته څه ویره وی۔ او نه به څهٔ غم وی او نه به تکلیف وی۔ (پ۸ / اعراف)

نبوی احادیث

۶۰۵۔ **وَعَنْ** عِیَاضِ بْنِ حِمَارٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ " اِنَّ اللّٰهَ اَوْحٰی اِلَیَّ اَنْ تَوَاضَعُوْا حَتّٰی لَا یَفْخَرَ اَحَدٌ عَلٰی اَحَدٍ وَّلَا یَبْغِیَ[2] اَحَدٌ عَلٰی اَحَدٍ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۶۰۵۔ حضرت عیاض بن حمار رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه الله تعالیٰ ما ته د وحی په ذریعه ښودلی دی۔ چه تول خپل مینځ کښې یو بل سره عاجزئ سره ملاویږئ۔ او هیڅوک دے په یو بل باندے فخر نه کوی۔ او نه دے سرکشی کوی۔ (مُسلمؒ)

۶۰۶۔ **وَعَنْ** اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِّنْ مَّالٍ وَمَا زَادَ اللّٰهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ اِلَّا عِزًّا وَ مَا تَوَاضَعَ اَحَدٌ لِلّٰهِ اِلَّا رَفَعَهُ اللّٰهُ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ

۶۰۶۔ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه زکوٰة (او صدقات خیرات هم) په مال کښې هیڅ کمے او نقصان نهٔ راولی۔ او الله تعالیٰ د معاف کونکی عزت زیاتوی۔ او څوک چه عاجزی کوی۔ نو الله تعالیٰ ئې اوچتوی۔ (او درجے ورله زیاتوی)۔ (مُسلمؒ)

۶۰۷۔ **وَعَنْ** اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ مَرَّ عَلٰی صِبْیَانٍ فَسَلَّمَ عَلَیْهِمْ وَقَالَ كَانَ النَّبِیُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَفْعَلُهٗ۔ مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ

۶۰۷۔ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه د یو څو ماشومانو خوا ته تیریدلو نو په هغوئ ئې سلام اوکړو۔ او دا ئې اووئیل، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به هم دا سے کول۔ (بُخاریؒ و مُسلمؒ)

۶۰۸۔ **وَعَنْهُ** قَالَ اِنْ كَانَتِ الْاَمَةُ[3] مِنْ اِمَآءِ الْمَدِیْنَةِ لَتَاْخُذُ بِیَدِ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَتَنْطَلِقُ بِهٖ حَیْثُ شَآءَتْ۔ (رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ)

۶۰۸۔ دا روایت هم د انس بن مالک رضی الله عنه دے۔ چه د مدینے کومه ماشومه به راغله نو د نبی کریم صلی الله علیه وسلم لاس به ئې اونیولو او چرته چه به ئې زړهٔ غوښتل، نبی کریم صلی الله علیه وسلم به ئې بوتللو۔ (بُخاریؒ)

---

[1] سورة الاعراف اية ۴۸-۴۹ [2] وَلا يبغي احد على احد": ای لا یعتدی علیه احد علیٰ احد [3] الامة " ای الجا

۶۰۹- **وَعَنِ** الْاَسْوَدِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ سُئِلَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ فِيْ بَيْتِهٖ قَالَتْ كَانَ يَكُوْنُ فِيْ مِهْنَةِ اَهْلِهٖ يَعْنِيْ خِدْمَةَ اَهْلِهٖ" فَاِذَا حَضَرَتِ الصَّلٰوةُ خَرَجَ اِلَى الصَّلٰوةِ، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

۶۰۹- اسود بن یزید رضی الله عنه وائی، چه د حضرت عائشه رض نه پوښتنه اوکړے شوه، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به کور کښې کوم کوم کار کولو؟ هغې اوفرمائیل، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به د کور والو کار کولو (یعنی هغوئ سره به ئے په کار کښې لاس اړولو)۔ او کله به چه د مانځه وخت شو نو بیا به ئے جومات ته تشریف وړلو۔ (بخاری)

۶۱۰- **وَعَنْ** اَبِيْ رِفَاعَةَ تَمِيْمِ بْنِ اُسَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ انْتَهَيْتُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَخْطُبُ فَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ رَجُلٌ غَرِيْبٌ جَآءَ يَسْاَلُ عَنْ دِيْنِهٖ لَا يَدْرِيْ مَا دِيْنُهٗ؟ فَاَقْبَلَ عَلَيَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَرَكَ خُطْبَتَهٗ حَتَّى انْتَهٰى اِلَيَّ فَاُتِيَ بِكُرْسِيٍّ فَقَعَدَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ يُعَلِّمُنِيْ مِمَّا عَلَّمَهُ اللّٰهُ ثُمَّ اَتٰى خُطْبَتَهٗ فَاَتَمَّ اٰخِرَهَا رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

۶۱۰- حضرت ابو رِفاعه تمیم بن اُسید رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه زهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شوم. نو هغه وخت کښې هغوئ څهٔ نصیحت کولو۔ ما عرض اوکړو یا رسول الله! یو مسافر چه د خپل دین نه پوره خبر نه وی۔ تاسو ته د خپل دین په باره کښې څه پوښتنه کول غواړی۔ دا ئے چه واوریده، نو ځما طرف ته متوجه شو۔ او وعظ ئے بس کړو۔ او ماله نزدے راغے۔ هغوئ له کرسئ راوړے شوه۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم کینا ستلو۔ او کوم خبرے چه الله تعالٰی ورته ښودلے وے، هغه ئے ما ته ښودل شروع کړل۔ او بیا ئے خپل نصیحت (او خطبه) پوره کړله۔ (مُسلمؒ)

۶۱۱- **وَعَنْ** اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا اَكَلَ طَعَامًا لَعِقَ اَصَابِعَهُ الثَّلَاثَ[1] قَالَ وَقَالَ اِذَا سَقَطَتْ لُقْمَةُ اَحَدِكُمْ فَلْيُمِطْ[2] عَنْهَا الْاَذٰى وَلْيَاْكُلْهَا وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطٰنِ" وَاَمَرَ اَنْ تُسْلَتَ الْقَصْعَةُ قَالَ فَاِنَّكُمْ لَا تَدْرُوْنَ فِيْ اَيِّ طَعَامِكُمُ الْبَرَكَةُ۔ (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۶۱۱- حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم به چه کله خوراک کولو نو خپلے درے ګوتے به ئے څټلے۔ حضرت انس رض وائی، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د خوراک کولو په وخت که په تاسو کښې د چا نه نوړئ وغیره پریوتل۔ نو هغه دے صفا کولو نه پس خوری۔ او شیطان ته دے ئے نهٔ پریږدی۔ او د دے حکم ئے هم اوکړو، چه د ترکارئ لوښے هم صفا کوئ۔ ځکه چه تاسو ته دا پته نشته، چه ستاسو د خوراک په کومه حصه کښې برکت دے۔ (مُسلمؒ)

---

[1] الثلاث) هی الابهام والمسبحة والوسطی قال الخطابی: عاف قوم افسد قلوبهم الترفه لعقها وزعموا ان الطعام الذی علق مالاصابع جزءِها اکلوا واذن لم یستقذر بعضه ولیس فیه اکثر من مصها بباطن الشفة، ولا یشک عاقل ان لا بأس بذلك: وقد یدخل انسان اصبعه فی فیه ویذلکه ولم یستقذر ذلك احد [2] فلیمط "بضم التحتیة: ای یزلی وقوله: وامران تسلت

۶۱۲- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَا بَعَثَ اللهُ نَبِیًّا اِلَّا رَعَی الْغَنَمَ. "قَالَ اَصْحَابُهٗ وَاَنْتَ فَقَالَ "نَعَمْ کُنْتُ اَرْعَاهَا عَلٰی قَرَارِیْطَ لِاَهْلِ مَکَّةَ".

(رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ)

۶۱۲- حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، الله تعالیٰ چه هر پیغمبر رالیږلے دے، نو بیزے ئے ضرور څرولے دي. صحابه ؓ پوښتنه اوکړه، چه تاسو هم څرولے دي؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، هو. ما هم د څو سیکو (پیسو) په عوض د مکے واله ؤ بیزے څرولے دي- (بخاريؒ)

۶۱۳- وَعَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ دُعِیْتُ اِلٰی کُرَاعٍ[1] اَوْ ذِرَاعٍ لَاَجَبْتُ وَلَوْ اُهْدِیَ اِلَیَّ ذِرَاعٌ اَوْ کُرَاعٌ لَقَبِلْتُ.

(رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ)

۶۱۳- دا روایت هم د حضرت ابوهریره ؓ دے. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه څوک ما د یو (بیزے) د پاچو د پاره اوغواړي. نو زهٔ به د هغهٔ دعوت ضرور قبول کړم. یا څوک ماله یو لاس یاخپه (پاچې) د بیزے را ولیږي، نو زهٔ به ئې ضرور قبول کړم. (بخاريؒ)

۶۱۴- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ کَانَتْ نَاقَةُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ الْغَضْبَآءُ[2] لَا تُسْبَقُ اَوْ لَا تَکَادُ تُسْبَقُ فَجَآءَ اَعْرَابِیٌّ عَلٰی قُعُوْدٍ لَهٗ فَسَبَقَهَا فَشَقَّ ذٰلِکَ عَلَی الْمُسْلِمِیْنَ حَتّٰی عَرَفَهُ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: حَقٌّ عَلَی اللهِ اَنْ لَا یَرْتَفِعَ شَیْءٌ مِّنَ الدُّنْیَا اِلَّا وَضَعَهٗ.

(رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ)

۶۱۴- حضرت انس بن مالک رضی الله عنه وائي. چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم یوه اوښه وه، چه عضباء نامه ئې وه. هغه دومره تیزه وه، چه د هغې نه به اوښ هم مخکښې نه شو وتلے- یو ځل یو بانډیچی راغے، د هغهٔ یوه وړه شانتې اوښه وه. هغه د عضباء اوښې نه هم مخکښې شوه. صحابه ؓ باندے دا خبره ښه او نهٔ لګیده. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته دا ناخوښي معلومه شوه. نو ؤئ فرمائیل چه د الله تعالیٰ دا خبره فیصله کړے ده، چه په دُنیا کښې هر اوچت لره کله نا کله ضرور لاندے کوي. (بخاريؒ)

باب ۷۲

تَحْرِیْمُ الْکِبْرِ وَ الْاِعْجَابِ

د تکبّر او خود پسندئ د حرمت بیان

ف:- دے باب کښې څلور۴ آیتونه او نهٔ۹ احادیث دي. کبرا ولوئي صرف د الله جلجلاله د ذات خاصه او صفت دے- او هغهٔ سره ښائیږي. هیڅ یو مخلوق خصوصًا اشرف المخلوقا تو لره دا هیڅ کله نه ښائیږي، چه د الله پاک د لوئي څادر ته لاس ور اوږد ول شروع کړي. او همدا کار د ابلیس د همیشه لعنتي کیدو سبب اوګرځیدو- کبر په اصل کښې د خود پسندئ هغه شکل دے، چه په دے

---

[1] الکراع: بضم الکاف وتخفیف الراء آخره عین مهمله من الدابة ما بین الرکبتین الی الساق ۱۲

[2] العضباء: بفتح المهملة وسکون المعجمة بعدها باء موحدة فالف محدودة، اسم لناقة النبی صلی الله علیه وسلم والقعود بفتح القاف، هو ما استحق الرکوب من الابل.

سره انسان نور خلق سپک او بې چاره ګڼړي. او خپل ځان اوچت او لوړ ګڼړي. مګر دغه کس شايد د الله تعالیٰ د دے قانون نه خبر نه دے. چه د هر کبرجن او لوئ کونکی انجام خو همغه دے، کوم چه د شيطان دے.

قرآنی آيتونه

۲۰۸- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[1]: تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ"۔

۲۰۸- آخرت موږ د هغه خلقو د پاره خاص کړے دے. چه هغوئ نه په دُنيا کښې د خپل ځان لوئ غوښتله. او نه ئې فساد خوروول غوښتل. او ښه بدله پرهيزګارانو د پاره ده۔ (پ۲۰/ قصص)

۲۰۹- وَقَالَ تَعَالٰی[2]: وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْاَرْضِ مَرَحًا اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ". وَمَعْنٰی "تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ": اَيْ تُمِيْلُهٗ وَتُعْرِضُ بِهٖ عَنِ النَّاسِ تَكَبُّرًا عَلَيْهِمْ. وَ "الْمَرَحُ" التَّبَخْتُرُ۔

۲۰۹- د خلقو نه مخ مه ګرځوه. او مه زمکه باندے کبر سره ګرځه. ځکه چه الله تعالیٰ هر کبرجن او فخر کونکے نه خوښوي۔ (پ۲۱/ لقمٰن)

تُصَعِّرْ: تکبر سره مخ اړول.
مَرَحَ: کبر سره ګرځيدل۔

۲۱۰- وَقَالَ تَعَالٰی[3]: "وَلَا تَمْشِ فِي الْاَرْضِ مَرَحًا"۔

۲۱۰- زمکه کښې کبرجن او غرور سره مه ګرځئ۔ (پ۱۵/ اسرائيل)

۲۱۱- وَقَالَ تَعَالٰی[4]: "اِنَّ قَارُوْنَ كَانَ مِنْ قَوْمِ مُوْسٰی فَبَغٰی عَلَيْهِمْ وَاٰتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوْزِ مَا اِنَّ مَفَاتِحَهٗ لَتَنُوْٓءُ[5] بِالْعُصْبَةِ اُولِي الْقُوَّةِ اِذْ قَالَ لَهٗ قَوْمُهٗ لَا تَفْرَحْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِيْنَ" اِلٰی قَوْلِهٖ تَعَالٰی: "فَخَسَفْنَا بِهٖ وَبِدَارِهِ الْاَرْضَ" الْاٰيَاتِ:

۲۱۱- قارون د موسیٰ عليه السلام قومی سړے وُو. مګر هغهٔ په خپلو سره ډير کبر کولو. موږ هغهٔ له دومره درنه او ډيره خزانه ورکړے وه. چه د هغې کنجيانو د بوج او دروند والی په وجه به د ځواکمنو خلقو ساه تلله راتلله. کله چه د هغهٔ قوم هغهٔ ته نصيحت اوکړو، چه په خپل دولت او مال دومره خوشحالی او کبر مهٔ کوه، ځکه چه د الله تعالیٰ داسے خلق خوښ نه وي۔ (تر دے قوله پورے) پس موږ هغه او د هغهٔ کور زمکه کښې ډوب کړل۔ (دريسے آيتونه اولوله) (پ۲۰/ قصص)

نبوی احاديث

۶۱۵- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ

۶۱۵- حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت دے. چه نبی کريم صلی الله عليه و سلم اوفرمائيل، چه د جا په

---

[1] سورة القصص آية ۸۳ [2] سورة لقمٰن آية ۱۸ [3] سورة اسریٰ آية ۳۷
[4] سورة القصص آية ۷۶ [5] "لتنوء" اى لتثقل على العصبة اى هذه الكنوز لكثرتها واختلاف اصنافها بتعب حفظها القائمين عليها "عصب الجمال" اى فليس ذلك

مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهٖ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِّنْ كِبْرٍ" فَقَالَ رَجُلٌ: اِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ اَنْ تَكُوْنَ ثَوْبُهٗ حَسَنًا وَّ نَعْلُهٗ حَسَنَةً؟ قَالَ: "اِنَّ اللّٰهَ جَمِيْلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ اَلْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

"بَطَرُ الْحَقِّ" دَفْعُهٗ وَرَدُّهٗ عَلٰى قَائِلِهٖ. "وَغَمْطُ النَّاسِ": اِحْتِقَارُهُمْ.

زړۀ کښې لږ هم کبر وي، هغه به جنت ته نه داخلیږي. بیا یوکس پوښتنه اوکړه. چه یو سړے داغواړي، چه کپړے ئے ښے وي. او پیزار ئے ښه وي (آیا دا هم تکبر کښې داخل دے)؟ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، الله تعالیٰ ښائسته دے او ښائسته والے (او پاکوالے) خوښوي. (او دا کبر نۀ دے). کبر دے ته وائي: چه دځان لوئي ګنړلو په وجه دحق نه انکار اوکړي. او نور خلق سپک او ذلیل ګنړي. (مُسلمؒ)

بَطَرُ الْحَقِّ: یعنی حق نۀ منل او حق ویونکے واپس کول. غَمْطُ النَّاسِ: خلق سپک ګنړل.

٦١٦ - وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا اَكَلَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِمَالِهٖ فَقَالَ: "كُلْ بِيَمِيْنِكَ" قَالَ: لَا اَسْتَطِيْعُ قَالَ: "لَا اسْتَطَعْتَ": مَا مَنَعَهٗ اِلَّا الْكِبْرُ". قَالَ: فَمَا رَفَعَهَا اِلٰى فِيْهِ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

٦١٦ - حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه نه روایت دے. چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مخ کښې یو سړي په ګس لاس خوراک کولو. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ور ته اوفرمائیل په ښی لاس خوره هغه سړي اووئیل، زۀ په ښی لاس طاقت نۀ لرم نو نبی کریمؐ ور ته اوفرمائیل، ښه، تۀ دے طاقت بیا نۀ میږے. او دغه سړي د عذر او د بیمارۍ د وجهے نه، نه وُو وئیلي. دکبر د وجهے نه ئے داسے وئیلي وُو. بیا دا اوشو چه هغه کَس کله هم بیا خپل لاس خپلې خولے ته نۀ شو وړے. (مُسلمؒ)

٦١٧ - وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: اَلَا اُخْبِرُكُمْ بِاَهْلِ النَّارِ؟ كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَتَقَدَّمَ شَرْحُهٗ فِيْ بَابِ ضَعَفَةِ الْمُسْلِمِيْنَ.

٦١٧ - حضرت حارثه بن وهب رضی الله عنه نه روایت دے. چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیلي آورید لی دي. چه زۀ تاسو ته ښائیم، چه دوزخ کښې به کوم کوم کسان وي. هلته به ټول سرکشه، شومان او کبرجن خلق وي. (بُخاريؒ ومُسلمؒ)

٦١٨ - وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ "اِحْتَجَّتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَقَالَتِ النَّارُ فِيَّ الْجَبَّارُوْنَ وَالْمُتَكَبِّرُوْنَ وَقَالَتِ الْجَنَّةُ فِيَّ ضُعَفَاءُ النَّاسِ وَمَسَاكِيْنُهُمْ.

٦١٨ - ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د جنت او د دوزخ ترمینځ بحث او خبرے اوشوے. نو دوزخ اووئیل، چه ما کښې به خو لوئے لوئے ظالمان، کبرجن اچولے شي. جنت اووئیل چه ما کښې به خو کمزوري، غریبان خلق ځائے بیا موی.

فَقَضَى اللهُ بَيْنَهُمَا: إِنَّكِ الْجَنَّةُ رَحْمَتِيْ أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ وَ إِنَّكِ النَّارُ عَذَابِيْ أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ، وَلِكِلَيْكُمَا عَلَيَّ مِلْؤُهَا.
(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

د دې بحث په فيصله كښې الله تعالىٰ اوفرمائيل! جنت ته زما رحمت ئې. ستا په وجه چه زۀ به چا اوغواړم، رحم به كوم. او اې دوزخه! ته ځما عذاب ئې، چا ته چه زۀ اوغواړم نو ستا په ذريعه به عذاب وركوم. البته ستاسو د دواړو په ما دا حق شته، چه دواړه به ډكوم (دخالي پاتې كيدو به يوهم شكايت نۀ كوى). (مسلمؒ)

٦١٩- وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا يَنْظُرُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى مَنْ جَرَّ إِزَارَهُ بَطَرًا"
(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

٦١٩- حضرت ابوهريره رضى الله عنه نه روايت دې. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه د قيامت په ورځ به الله تعالىٰ هغه چا ته د رحمت په نظر اونه ګورى، چه د كبر د وجهې نه ځان دراكاږى.
(بخارىؒ ومسلمؒ)

٦٢٠- وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ: شَيْخٌ زَانٍ وَمَلِكٌ كَذَّابٌ وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ رَوَاهُ مُسْلِمٌ
"اَلْعَائِلُ" اَلْفَقِيْرُ.

٦٢٠- حضرت ابوهريره رضى الله عنه نه روايت دې. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه درې قِسمه خلقو سره به د قيامت په ورځ الله تعالىٰ نه خبرې كوى او نه به ئې د ګناهونو نه پاكوى. او نه به ورته د رحمت په نظر ګورى. او د هغوئ دپاره به سخت دردناك عذاب وى (١) بوډا زناكونكې (٢) دروغجن بادشاه (٣) كبرجن غريب. (مسلم)
العَائِلُ: يعنى غريب او فقير.

٦٢١- وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: اَلْعِزُّ إِزَارِيْ، وَالْكِبْرِيَاءُ رِدَائِيْ. فَمَنْ يُنَازِعُنِيْ فِيْ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فَقَدْ عَذَّبْتُهٗ.
(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

٦٢١- دا روايت هم د حضرت ابوهريره ؓ نه دې. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، الله تعالىٰ فرمائيلي دى، چه عزت ځما لنګ او لوئي ځما څادر دې. د دې دواړو په باره كښې چه څوک ما سره جګړه كوى. نو زۀ به هغه كس په عذاب كښې اخته كړم. (مسلم)

٦٢٢- وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِيْ فِيْ حُلَّةٍ[1] تُعْجِبُهُ نَفْسُهُ مُرَجِّلٌ رَأْسَهُ يَخْتَالُ فِيْ مِشْيَتِهِ إِذْ خَسَفَ اللهُ بِهِ فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِي الْأَرْضِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

٦٢٢- دا روايت هم د ابوهريره رضى الله عنه دې. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، په (تيروتي قومونو كښې) يو سړې وُو، چه په فخرى جامو كښې ځان ترې ورک وُو، سرې ګومنز كړې وُو، په لوئي باندې روان وُو، چه ناګهانه الله تعالىٰ هغه په مزكه ننويستو، او اوس هغه د قيامته پورې په زمكه ننوتې روان

---

[1] "الحُلَّة" بضم الحاء المهملة: ثوب له ظهارة وبطانة.

مُرَجِّلٌ رَأْسَهٗ : اَیْ مُمَشِّطُهٗ

یَتَجَلْجَلُ بِالْجِیْمَیْنِ : اَیْ یَغُوْصُ وَ یَنْزِلُ ؛

دے - (بخاری و مسلم)

مُرَجِّلٌ رَأْسَهٗ. یعنی ویښتهٔ کومنزول

یَتَجَلْجَلُ : په ښکته روان دے.

۶۲۳ - وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَکْوَعِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ "لَا یَزَالُ الرَّجُلُ یَذْهَبُ بِنَفْسِهٖ حَتّٰی یُکْتَبَ فِی الْجَبَّارِیْنَ فَیُصِیْبُهٗ مَا اَصَابَهُمْ." رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ : حَدِیْثٌ حَسَنٌ.

"یَذْهَبُ بِنَفْسِهٖ" اَیْ یَرْتَفِعُ وَیَتَکَبَّرُ ؛

۶۲۳ - د حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه و سلم اوفرمائیل، چه سړے ځان لوئے ګڼړی، تر دے پورے چه هغه په سرکښانو کښے اوشمیرلے شی. نو هغه څهٔ ورته اورسی، کوم چه دغے سرکښانو ته اورسیدو. (ترمذیؒ)

امام ترمذیؒ وائی، دا حدیث حسن دے.

"یذهب بنفسهٖ" معنیٰ بلندی او تکبر ده.

باب ۷۳

حُسْنِ الْخُلُقِ !

د ښائسته اخلاقو بیان

ف :. دے باب کښے دوه قرآنی آیتونه او یوولس نبوی حدیثونه دی. اوچت او ښهٔ اخلاق صرف د دینی نظر لاندے ښه خوئے نه شمارلے کیږی. د دُنیا ژوند ښائسته کولو او کامیاب جوړولو کښے هم د دے ضرورت منلے شوے دے.

قرآنی آیتونه

۲۱۲ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی [1]: "وَاِنَّكَ لَعَلٰی خُلُقٍ عَظِیْمٍ".

۲۱۲ - بیشکه تهٔ د ښو اخلاقو اوچت معیار ته رسیدلے ئے. (پ ۲۹/ نون)

۲۱۳ - وَ قَالَ تَعَالٰی [2]: "وَالْکَاظِمِیْنَ الْغَیْظَ وَ الْعَافِیْنَ عَنِ النَّاسِ" الآیة،

۲۱۳ - دغه غصّه خوړونکی خلق او خلقو ته معافی کونکی خلق دی. او داسے نیکان الله تعالیٰ خوښوی. (پ ۴/ ال عمران)

نبوی احادیث

۶۲۴ - وَعَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَحْسَنَ النَّاسِ خُلُقًا". مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ.

۶۲۴ - د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په اعتبار د اخلاقو سره د ټولو خلقو نه غوره وُو. (بخاری و مسلم)

۶۲۵ - وَعَنْهُ قَالَ : مَا مَسِسْتُ دِیْبَاجًا وَ لَا حَرِیْرًا اَلْیَنَ مِنْ کَفِّ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَلَا شَمَمْتُ رَائِحَةً قَطُّ اَطْیَبَ مِنْ

۶۲۵ - دا روایت هم د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه دے. چه ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د لاس د تلی نه زیاته نرم ریښم او کمخاب هم نه دی مسه کړی. او نه را ته د هغه پښان د

---

[1] سورة ن آیة ۴ [2] سورة آل عمران آیة ۱۳۴ ؛

رَائِحَةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَقَدْ خَدَمْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ سِنِيْنَ فَمَا قَالَ لِيْ قَطُّ اُفٍّ وَلَا قَالَ لِشَيْءٍ لَمْ اَفْعَلْهُ: اَلَا فَعَلْتَ كَذَا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

خوشبوئې څرته ښه لګیدلے ده۔ څومره چه د هغوئ نه ختله۔ او ما د هغهٔ پوره لس کاله خدمت کړے دے۔ او دے ټوله زمانه کښې ئے ما ته اُف قدرے هم نه دے کړے۔ او کوم کار به چه ما کولو۔ نو ما ته ئے کله هم دا نهٔ دی وئیلی، چه دا دے ولے اوکړل؟ او کوم کار چه به مے اونه کړو۔ نو کله ئے را ته هم داسے نهٔ دی وئیلی چه دا کار تا ولے اونه کړو؟ (بخاري ومسلم)

۶۲۶- وَعَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَهْدَيْتُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِمَارًا وَحْشِيًّا فَرَدَّهٗ عَلَيَّ، فَلَمَّا رَاٰى مَا فِيْ وَجْهِيْ قَالَ: "اِنَّا لَمْ نَرُدَّهٗ عَلَيْكَ اِلَّا لِاَنَّا حُرُمٌ"۔ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۶۲۶- حضرت صعب بن جثّامه رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه ما یو وارے د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې د هدئے په طور ځنګلی خر پیش کړو نو هغوئ واپس کړو۔ او کله ئے چه زما په مخ د خفګان اثر محسوس کړو۔ نو وے فرمائیل، چه دا دے دپاره واپس کوم چه زهٔ د احرام په حالت کښې یم۔ (بخاری ومُسلم)

۶۲۷- وَعَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ، سَاَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْبِرِّ وَالْاِثْمِ فَقَالَ: "اَلْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ، وَالْاِثْمُ مَا حَاكَ فِيْ صَدْرِكَ وَكَرِهْتَ اَنْ يَّطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ۔ (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۶۲۷- د حضرت نواس بن سمعان رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د نیکئ او د بدئ په باره کښې پوښتنه اوکړه۔ نو وے فرمائیل، چه نیکی ښهٔ اخلاق دی۔ او ګناه هغه ده، چه د هغې نه دے زړهٔ کښې خطره پیدا شی، او تا ته ښه نهٔ ښکاری، چه د هغې نه دے خلق خبر شی۔ (مُسلم)

۶۲۸- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ لَمْ يَكُنْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا وَكَانَ يَقُوْلُ: اِنَّ مِنْ خِيَارِكُمْ اَحْسَنَكُمْ اَخْلَاقًا۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۶۲۸- حضرت عبد الله بن عمرو بن عاص رضی الله عنهما وائی۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به قصداً او به خطا دواړو سره څه بده خبره د خولے نه ویستله۔ او نه به ئے خوښوله۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم به فرمائیل، تا سو کښې ښهٔ بنیادم هغه دے، چه د هغهٔ اخلاق ښهٔ وی۔ (بخاری ومُسلم)

۶۲۹- وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ شَيْءٍ اَثْقَلُ فِيْ مِيْزَانِ الْعَبْدِ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ حُسْنِ الْخُلُقِ وَاِنَّ اللّٰهَ يُبْغِضُ

۶۲۹- حضرت ابودرداء رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو، چه د قیامت په ورځ به د مؤمن بنده د پاره بل هیڅ یو عمل بغیر د ښو اخلاقو نه زیات وزن

الْفَاحِشَ الْبَذِيَّ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

"الْبَذِيُّ" هُوَ الَّذِي يَتَكَلَّمُ بِالْفُحْشِ وَرَدِيءِ الْكَلَامِ.

دار نه وى. ا الله تعالى بيهوده خبرے کونکے او بے حياء خبرے کونکے بد ګڼړى. (ترمذى) او ترمذى وئيلى دى چه دا حديث حسن صحيح دے.

الْبَذِيُّ: بيهوده او بے حيا خبرے کونکے.

٦٣٠- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ الْجَنَّةَ. قَالَ: "تَقْوَى اللهِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ" وَسُئِلَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ النَّارَ فَقَالَ: "الْفَمُ وَالْفَرْجُ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

٦٣٠- د حضرت ابوهريرة رضى الله عنه نه روايت دے. چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه اوکړے شوه، چه جنت ته په کومو خيزونو سره زيات خلق داخليږى. نو نبى کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه د الله تعالى نه ويرے او ښو اخلاقو سره. او دا پوښتنه ترے اوکړے شوه چه اور ته په کومو خيزونو سره زيات خلق داخليږى. نو نبى کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه د خولے او د عورت په وجه. (ترمذى) او ترمذىؒ وائى چه دا حديث حسن صحيح دے.

٦٣١- وَعَنْهُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

٦٣١- د حضرت ابوهريرة رضى الله عنه نه دا هم روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، په مسلمانانو کښے د ټولو نه زيات د پوره ايمان خاوند هغه کس دے، چه د چا اخلاق ډير ښه وى او تاسو کښے د صفت قابل هغه کس دے، چه د چا خپلو ښځو سره سلوک ښهٔ وى. (ترمذى) امام ترمذىؒ وائى، چه دا حديث حسن صحيح دے.

٦٣٢- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ الصَّائِمِ الْقَائِمِ". (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ)

٦٣٢- حضرت عائشه رضى الله عنها فرمائى، چه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا سے فرمائيلى آوريدلى دى. چه مؤمن بنده د خپلو ښو اخلاقو په ذريعه د پرله پسے هميشه روژه نيونکى عبادت کونکى نه زياته درجه حاصلولے شى. (ابوداؤد)

٦٣٣- وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ[1] لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ وَإِنْ كَانَ مُحِقًّا

٦٣٣- د حضرت ابوامامه باهلى رضى الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه زهٔ د جنت په غاړه کښے هغه کس د پاره د يو کور ضمانت آخلم. چه خپل حق غوښتلو د پاره هم جګړه نه کوى. او د جنت په مينځ

---

[1] "ربض الجنة": بفتح الراء والموحدة وضاد معجمة، ما حولها خارجا عنها تشبيها بالابنية التي تكون حول المدينة وتحت القلاع، والمراء: الجدال.

وَبِبَيْتٍ فِيْ وَسَطِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ وَاِنْ كَانَ مَازِحًا وَبِبَيْتٍ فِيْ اَعْلَى الْجَنَّةِ لِمَنْ حَسُنَ خُلُقُهُ" حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ۔

"اَلزَّعِيْمُ": اَلضَّامِنُ۔

کښې دکور ضمانت هغه چا دپاره اخلم، چه دروغ بالکل پریږدی۔ اګرچه په ټوقو کښې وائی۔ او د جنت په اوچته درجه باندې د مکان د هغه چا دپاره ذمه واریم۔ چه د چا اخلاق ښهٔ وی۔ (ابوداؤد)

زَعِيْمٌ: ضامن اوذمه وار۔

۶۳۴- وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ، "اِنَّ مِنْ اَحَبِّكُمْ اِلَيَّ وَاَقْرَبِكُمْ مِنِّيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَحَاسِنَكُمْ اَخْلَاقًا وَاِنَّ مِنْ اَبْغَضِكُمْ اِلَيَّ وَاَبْعَدِكُمْ مِنِّيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الثَّرْثَارُوْنَ وَالْمُتَشَدِّقُوْنَ وَالْمُتَفَيْهِقُوْنَ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَدْ عَلِمْنَا الثَّرْثَارُوْنَ وَالْمُتَشَدِّقُوْنَ فَمَا الْمُتَفَيْهِقُوْنَ؟ قَالَ الْمُتَكَبِّرُوْنَ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ۔

"وَالثَّرْثَارُ": هُوَ كَثِيْرُ الْكَلَامِ تَكَلُّفًا.

"وَالْمُتَشَدِّقُ" اَلْمُتَطَاوِلُ عَلَى النَّاسِ بِكَلَامِهِ وَيَتَكَلَّمُ بِمِلْءِ فِيْهِ تَفَاصُحًا وَتَعْظِيْمًا بِكَلَامِهِ.

"وَالْمُتَفَيْهِقُ" اَصْلُهُ مِنَ الْفَهْقِ وَهُوَ الْاِمْتِلَاءُ، وَهُوَ الَّذِيْ يَمْلَأُ فَمَهُ بِالْكَلَامِ وَيَتَوَسَّعُ فِيْهِ وَيُغْرِبُ بِهِ تَكَبُّرًا وَارْتِفَاعًا وَاِظْهَارًا لِلْفَضِيْلَةِ عَلَى غَيْرِهِ.

وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْمُبَارَكِ رَحِمَهُ اللّٰهُ فِيْ تَفْسِيْرِ حُسْنِ الْخُلُقِ قَالَ، هُوَ طَلَاقَةُ الْوَجْهِ، وَبَذْلُ الْمَعْرُوْفِ، وَ

۶۳۴- حضرت جابر رض نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه د قیامت په ورځ به ماته په تاسو کښې د ټولو نه زیات خوښ او د مجلس په اعتبار زیات نزدې هغه څوک وی، چه د چا اخلاق ډیر ښهٔ وی۔ او د قیامت په ورځ به ماته په تاسو کښې زیات ناخوښه او ما نه زیات لرې هغه څوک وی، کوم چه خبرلوس، فضول خبرې کونکے، تکلّف کونکے، او تکبّر سره خبرې کونکے وی۔ صحابهٔ ورض عرض اوکړو، یارسول الله! مونږ خو "ثَرْثَارُوْنَ" (ډیرخبرې کونکے) او "مُتَشَدِّقُوْنَ" (سختی سره خبرې کونکے) پیژنو۔ لیکن "مُتَفَيْهِقُوْنَ" نه پیژنو۔ نو د دے څهٔ مطلب دے؟ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د دے نه مراد کبرجن خلق دی۔ (ترمذی)

"ثَرْثَارُوْنَ"، تَکَلُّف سره ډیرخبرې کونکے۔ (قرتو، خبرلوسے)

مُتَشَدِّقْ، ډیر فخر او کبر سره خلقو ته ګویا دا وښائی، چه ښه ژوره بنیادی او د مقصد نه ډکه خبره کوی۔

مُتَفَيْهِقْ، دا د "فَهْقْ" نه آخستلے شوے دے۔ یعنی ډکه خولهٔ باندې غټه خبره کوی۔ په مزه مزه خپله خبره په خلقو اوچتوی او خپله لوئی او مرتبه ښکاره کولو دپاره خپل صفتونه بیانوی او رعب اچولو دپاره خبره کوی۔

په ښهٔ اخلاقو کښې امام نووی رح د عبدالله بن مبارک رح دا قول نقل کوی، چه ښهٔ اخلاق هرچا سره خنده رویه او فراخ دلی

كَفُّ الْاَذٰى ۞

تندی سره د ملاوید و ډیره سخا او د تکلیف رسولو نه د ځان ساتلو نوم دے ۔

باب ۷۴

اَلْحِلْمِ وَالْاَنَاةِ وَالرِّفْقِ!

بُرد باري ، بنهٔ خوئ ، هوښيارتيا او د نرم خوئ بيان

ف : ۔ دے باب کښے څلوړ قرآنی آیتونه او یوولس نبوی احادیث دی ۔ په فارسی کښے یوه جمله ده : " زبانِ شیرین ملکِ گیرین " یعنی خوږه خوله با ندے ټول ملک واخله ۔ دے باب کښے چه کوم احادیث بیان شوی دی ۔ د هغے خلاصه دا ده ، چه د ژوند کاروبار او د مادی او روحانی ژوندون د کامیابئ راز په نرم خوئ او نرم والی او مهربانئ کښے دے ۔ تریو ترش تندی او سختی کول ، سم شوے ، جوړ شوے کارهم ورانوی ۔ او خیل پردی او دوستان ، دشمنان جوړوی او د آرام ژوند تیروِل ازغن کا نټا تار جوړیږی ۔

قرآنی آیتونه

۲۱۴ ۔ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [1] : " وَ الْكَاظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ وَ اللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ۔

۲۱۵ ۔ وَقَالَ تَعَالٰى [2] خُذِ الْعَفْوَ وَ أْمُرْ بِالْعُرْفِ وَ اَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِيْنَ " ۔

۲۱۶ ۔ وَقَالَ تَعَالٰى [3] " وَلَا تَسْتَوِى الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ، اِدْفَعْ بِالَّتِىْ هِىَ اَحْسَنُ ، فَاِذَا الَّذِىْ بَيْنَكَ وَ بَيْنَهٗ عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِىٌّ حَمِيْمٌ [4] وَمَا يُلَقّٰهَا اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَمَا يُلَقّٰهَا اِلَّا ذُوْحَظٍّ عَظِيْمٍ " ۔

۲۱۷ ۔ وَقَالَ تَعَالٰى [5] : " وَلَمَنْ صَبَرَ وَ غَفَرَ اِنَّ ذٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ۞

۲۱۴ ۔ دا خلق غصه خوړونکی او خلقو ته معافی کونکی دی ۔ او الله تعالیٰ دا سے نیکان خوښوی ۔ (پ۴/ ال عمران)

۲۱۵ ۔ (د) معافئ (صفت) خیل کړئ ۔ د نیکئ حکم کوئ او د نا پوهه خلقو نه ځان یو طرف ته کړئ ۔ (پ۹/ اعراف)

۲۱۶ ۔ په نیکئ او بدئ کښے هیڅ برابری نشته ۔ نیکئ سره بدی دفع کړئ ۔ نو نتیجه ئے دا ده ، چه تا سره دشمنی کونکی به دوست او ولی جوړ شی ۔ او دا خبره هغه چا ته نصیب کیږی ، چه صبر کوی او لوئ برخوروی (یعنی دلوئ قسمت خاوند وی) (پ۲۴/ فصّلت)

۲۱۷ ۔ او څوک چه صبر کوی ، او د معافئ او د پریخودلو نه کار اخلی ۔ یقیناً چه دا د لوئ ځوانمردئ او همت کار دے ۔ (پ۲۵/ شورٰی)

نبوی احادیث

۶۳۵ ۔ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاَشَجِّ بْنِ عَبْدِ الْقَيْسِ " اِنَّ فِيْكَ خَصْلَتَيْنِ

۶۳۵ ۔ حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے ۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اشج بن عبد القیس رضی الله عنه ته او فرمائیل ، چه تا کښے دوه خویونه دا سے دی چه د الله تعالیٰ ډیر زیات خوښ دی ۔

---

[1] سورة آل عمران آية ۱۳۴ [2] سورة الاعراف آية ۱۹۹ [3] سورة فصّلت آية ۳۴ ۔ ۳۵ ۔
[4] "ولی حمیم" ای صدیق شفیق [5] سورة الشوریٰ آية ۴۳ ۔

يُحِبُّهُمَا اللّٰهُ: "اَلْحِلْمُ وَالْاَنَاةُ"[1]

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

(۱) صبر (۲) وقار او استقامت۔

(مُسلم)

۶۳۶۔ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اِنَّ اللّٰهَ رَفِيْقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي الْاَمْرِ كُلِّهٖ"۔

(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۶۳۶۔ حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، الله تعالیٰ نرم خوئے والا دے! اوهرکار کښې نرمی خوښوی۔

(بخاری ومسلم)

۶۳۷۔ وَعَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِنَّ اللّٰهَ رَفِيْقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ، وَيُعْطِيْ عَلَى الرِّفْقِ مَالَا يُعْطِيْ عَلَى الْعُنْفِ[2] وَمَا لَا يُعْطِيْ عَلٰى مَا سِوَاهُ"۔

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۶۳۷۔ دا روایت هم د حضرت عائشې دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، الله تعالیٰ نرم خویه دے او نرمی خوښوی۔ په نرمۍ چه څۀ ورکوی، هغه په سختۍ او ترېو تندی سره او دغسې نورڅۀ سره نۀ ورکوی۔

(مُسلم)

۶۳۸۔ عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِنَّ الرِّفْقَ لَا يَكُوْنُ فِيْ شَيْءٍ اِلَّا زَانَهٗ، وَلَا يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ اِلَّا شَانَهٗ"۔

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۶۳۸۔ دا روایت هم د حضرت عائشې رضی الله عنها دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، کوم څیز کښې چه نرمی وی، هغه، هغه ښائسته کوی۔ اوکوم څیز نه چه نرمی اوځی، هغه بد شکله او خرابوی۔ (مُسلم)

۶۳۹۔ وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: بَالَ اَعْرَابِيٌّ فِي الْمَسْجِدِ فَقَامَ النَّاسُ اِلَيْهِ لِيَقَعُوْا فِيْهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "دَعُوْهُ وَاَرِيْقُوْا عَلٰى بَوْلِهٖ سَجْلًا مِّنْ مَّاءٍ، فَاِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِيْنَ وَلَمْ تُبْعَثُوْا مُعَسِّرِيْنَ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

"اَلسَّجْلُ" بِفَتْحِ السِّيْنِ الْمُهْمَلَةِ وَاِسْكَانِ الْجِيْمِ، وَهِيَ الدَّلْوُ الْمُمْتَلِئَةُ مَاءً وَكَذٰلِكَ الذَّنُوْبُ۔

۶۳۹۔ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه مسجد نبوی کښې یو بانډچی واړۀ بول اوکړل۔ نو خلقو هغۀ ته زورنه ورکړه او بد رد ئې ورته اووئیل۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل، دۀ ته هیڅ مۀ وایئ۔ کوم ځائے ئې چه واړۀ بول کړی دی هغه ځائې باندے یوه بوقه اوبۀ واړوئ۔ ځکه چه تاسو سختۍ کوونکی نه ئې رالیږلے شوی۔ تاسو خو آسانۍ او نرمۍ د پاره رالیږلے شوی یئ۔ (بخاری)

"سَجْلٌ": د اوبو نه ډکه بوقه۔

د "ذَنُوْبٌ" هم دغه معنیٰ ده۔

۶۴۰۔ وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

۶۴۰۔ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، آسانی پیدا

ماشئتم

---

[1] الاناة: التثبت وترك العجلة [2] العنف: بضم العين المهملة وسكون النون: الشدة

قَالَ: "يَسِّرُوْا وَلَا تُعَسِّرُوْا، وَبَشِّرُوْا وَلَا تُنَفِّرُوْا". (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

کوئ۔ سختي مهٔ کوئ۔ زيرے ورکوئ، نفرت اوکرکه مه پيداکوئ۔
(بخاري ومُسلم)

۶۴۱- وَعَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "مَنْ يُحْرَمِ الرِّفْقَ يُحْرَمِ الْخَيْرَ كُلَّهٗ" (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۶۴۱- حضرت جرير بن عبدالله رضی الله عنه نه روايت دے۔ چه ما د رسول الله صلے الله عليه وسلم نه دا سے فرمائيلی آوريدلی دی۔ چه چاکښے نرم خوئی نۀ وه، هغه د هر قِسمه خير او نيکئ نه محروم او بے برخے دے۔
(مُسلم)

۶۴۲- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْصِنِيْ. قَالَ: "لَا تَغْضَبْ" فَرَدَّدَ مِرَارًا؛ قَالَ "لَا تَغْضَبْ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

۶۴۲- حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دے۔ چه يو کس رسول الله صلی الله عليه وسلم ته عرض اوکړو، چه ماته څهٔ وصيت اوکړئ۔ نو نبی عليه السلام اوفرمائيل، چه غصه مهٔ کوه۔ هغه کس دوه درے وارے هم دغسے عرض اوکړو۔ نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم ورته هم دا اوفرمائيل، چه غصه مه کوه۔ (بخاری)

۶۴۳- وَعَنْ اَبِيْ يَعْلٰى شَدَّادِ بْنِ اَوْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ الْاِحْسَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ فَاِذَا قَتَلْتُمْ فَاَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ[1] وَاِذَا ذَبَحْتُمْ فَاَحْسِنُوا الذِّبْحَةَ وَلْيُحِدَّ اَحَدُكُمْ شَفْرَتَهٗ وَلْيُرِحْ ذَبِيْحَتَهٗ رَوَاهُ مُسْلِمٌ؛

۶۴۳- حضرت ابويعلیٰ شداد بن اوس رضی الله عنه نه روايت دے۔ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه الله تعالیٰ په هرکار او هره خبره کښے احسان او ښه طريقه ضروری گرځولے ده۔ کهٔ د چا مرگ او وژل وی، نو هم ښے طريقے سره دے وی۔ او که څاروے حلالوئ نو هغے طريقے سره ئے حلالوئ۔ تاسو له مناسب دا دی، چه د حلالے په وخت کښے چاړهٔ ښه تيره کړئ، چه څاروی ته د حلالے په وخت تکليف نه وی۔ (مُسلم)

۶۴۴- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: مَا خُيِّرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ اَمْرَيْنِ قَطُّ اِلَّا اَخَذَ اَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ اِثْمًا فَاِنْ كَانَ اِثْمًا كَانَ اَبْعَدَ النَّاسِ مِنْهُ: وَمَا انْتَقَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنَفْسِهٖ فِيْ شَيْءٍ

۶۴۴- حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی، چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته به چه کله په دوو خبرو کښے اختيار ورکړے شو۔ نو هغوئ به آسانه خبره اختيار وله۔ په دے شرط چه د گناه څه خبره پکښے نه وی۔ او که (آسان طرف به پکښے د) گناه وُو۔ نو هغوئ به د ټولو نه زيات د هغے نه لرے وُو۔ او نبی کريم صلی الله عليه وسلم د خپل ځان په حقله د هيڅ

---

[1] "القِتلة" بكسر القاف، هيئة القتل وحالته۔ "والذبحة" بكسر الذال المعجمة هيئة الذبح "والشفرة" بفتح المعجمة وسكون الفاء: السكين العريضة.

عَنِ النَّاسِ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ.

۲۲۲۔ وَقَالَ تَعَالٰى: وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ اِنَّ ذٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ وَالْاٰيَاتُ فِى الْبَابِ كَثِيْرَةٌ مَعْلُوْمَةٌ.

نيکان الله تعالىٰ خوښوي۔ (پ۴/ عمران)

۲۲۲۔ څوک چه صبر کوي او د بدلے آخستلو په ځائے معافي کوي۔ نو داسے کار د ښو کارونو نه دے۔ او په دے باب کښے آيتونه هم ډير دي. او مشهور دي۔ (پ۲۵/ شورىٰ)

نبوي احاديث

۶۴۶۔ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّهَا قَالَتْ لِلنَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ اَتٰى عَلَيْكَ يَوْمٌ كَانَ اَشَدَّ مِنْ يَوْمِ اُحُدٍ؟ قَالَ: لَقَدْ لَقِيْتُ مِنْ قَوْمِكَ وَكَانَ اَشَدَّ مَا لَقِيْتُهُ مِنْهُمْ يَوْمَ الْعَقَبَةِ اِذْ عَرَضْتُ نَفْسِىْ عَلٰى اِبْنِ عَبْدِ يَالِيْلَ بْنِ عَبْدِ كُلَالٍ فَلَمْ يُجِبْنِىْ اِلٰى مَا اَرَدْتُ فَانْطَلَقْتُ وَاَنَا مَهْمُوْمٌ عَلٰى وَجْهِىْ فَلَمْ اَسْتَفِقْ اِلَّا وَاَنَا بِقَرْنِ الثَّعَالِبِ فَرَفَعْتُ رَاْسِىْ وَاِذَا اَنَا بِسَحَابَةٍ قَدْ اَظَلَّتْنِىْ، فَنَظَرْتُ فَاِذَا فِيْهَا جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَنَادَانِىْ فَقَالَ: اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ لَكَ وَرَدُّوْا عَلَيْكَ وَقَدْ بَعَثَ اِلَيْكَ مَلَكَ الْجِبَالِ لِتَاْمُرَهُ بِمَا شِئْتَ فِيْهِمْ. فَنَادَانِىْ مَلَكُ الْجِبَالِ فَسَلَّمَ عَلَىَّ ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ لَكَ وَاَنَا مَلَكُ الْجِبَالِ وَقَدْ بَعَثَنِىْ رَبِّىْ اِلَيْكَ لِتَاْمُرَنِىْ بِاَمْرِكَ، فَمَا شِئْتَ: اِنْ شِئْتَ اَطْبَقْتُ عَلَيْهِمُ الْاَخْشَبَيْنِ. فَقَالَ النَّبِىُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلْ اَرْجُوْا اَنْ يُخْرِجَ اللّٰهُ مِنْ اَصْلَابِهِمْ مَنْ يَعْبُدُ اللّٰهَ وَحْدَهٗ لَا يُشْرِكُ

۶۴۶۔ حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي۔ چه ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه اوکړه، چه تاسو باندے د اُحُد د ورځے نه زيات سخته ورځ بله هم تيره شوے ده۔ نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، ما ته ستا د قوم د طرف نه د عقبے په ورځ چه څه پيښ شوي دي، هغه د اُحد د ورځے نه ډيره سخته وه۔ دغه ورځ ما خپل دعوت ابن عبد ياليل بن عبدِ کُلال ته پيش کړو. نو ماله هغهٔ هغه جواب را نکړو، چه کوم ما غوښتلو۔ زهٔ د هغه ځائے نه ډير زيات غمجن او خفه واپس شوم۔ کله چه مقام قرن تعالب ته را اورسيدم۔ نو د دغه غم او تکليف نه لږ دمه شوم۔ چه سرے اوچت کړو او ما اوکتل نو د وريځے يوه ټکړے په ما سورے کړے وُو۔ او هلته جبرئيل عليه السلام هم په نظر راغے. او ما ته ئے اووئيل، چه الله تعالىٰ ټول هغه څهٔ واوُريدل، کوم چه تا ته قوم اووئيل۔ او تا ته ئے د دے خبرے جواب درکړو. او الله تعالىٰ د غرونو ذمه واره فرښته تاسو له را ليږلے ده۔ د دے خلقو په باره کښے چه څه کول غواړئ نو د غرونو والا فريښتے ته حکم کوئ۔ نو بيا د غرونو فريښتے ما ته سلام اوکړو. او عرض ئے اوکړو، اے محمده! تا ته چه قوم څه وئيلي دي، الله تعالىٰ واوُريدل۔ زهٔ د غرونو فرښته يم۔ زهٔ الله تعالىٰ ستا د خدمت دپاره را ليږلے يم۔ چه تاسو ما ته څهٔ حکم کوئ نو زهٔ به هغه منم۔ که

قَطُّ اِلَّآ اَنْ تُنْتَهَكَ حُرْمَةُ اللّٰهِ فَيَنْتَقِمُ لِلّٰهِ تَعَالٰى. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

نه څه بدله نهٔ ده آخستے. اوکه چیرے دالله دحکمونو به چرته بے عزتی اوشوه نو د الله دپاره ئے بدله آخستله.
(بخاری ومسلم)

۶۴۵ - وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلَا اُخْبِرُكُمْ بِمَنْ يَحْرُمُ عَلَى النَّارِ. اَوْ بِمَنْ تَحْرُمُ عَلَيْهِ النَّارُ؟ تَحْرُمُ عَلٰى كُلِّ قَرِيْبٍ هَيِّنٍ لَيِّنٍ سَهْلٍ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ :

۶۴۵ - حضرت عبدالله بن مسعود رض نه روایت دے. رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه زهٔ تاسو ته داسے خبره اونه ښایم، چه دوزخ باندے څوک حرام دے. یائے اوفرمائیل، چه په چا باندے د دوزخ اور حرام دے. نو هرهغه کس باندے د دوزخ اور حرام دے. چه هرچا ته نزدے وی. سپک دسته نرم خویه او آسانتیا خوښونکے وی.
(ترمذی)

امام ترمذی رحمة الله علیه وائی چه دا حدیث حسن دے.

باب ۷۵

اَلْعَفْوِ وَاِعْرَاضٍ عَنِ الْجَاهِلِيْنَ!

معافی کول او جاهلانو نه یو طرف ته کیدل

ف: دے باب کښے پنځهٔ قرآنی آیتونه او پنځه نبوی احادیث دی. د بدو جواب په بدو سره او د ظلم او زیاتی بدله د جواز په حدودو کښے راځی. په دے باندے څوک ملامته کولے نشی. مګر د معافی او درګزر نه کار آخستل ډیر عمده خوئے دے. ځکه چه دا دالله تعالیٰ یو عظیم صفت دے. په دے وجه د الله تعالیٰ نیکانو بندګانو همیشه دا خوئے خپل کړے دے. په قرآن او حدیث کښے مسلمانانو ته هم د دے خوئے اختیارولو ترغیب ورکړے شوے دے.

قرآنی آیتونه

۲۱۸ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1] "خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ وَاَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِيْنَ".

۲۱۸ - د معافیٔ طریقه اختیار کړئ. او د خیر او ښیګړے حکم کوئ. او د جاهلانو نه ځان یو طرفته کړئ.
(پ۹/ اعراف)

۲۱۹ - وَقَالَ تَعَالٰى[2] "فَاصْفَحِ الصَّفْحَ الْجَمِيْلَ".

۲۱۹ - په ښے طریقے سره معافی کوئ.
(پ۱۴/ حجر)

۲۲۰ - وَقَالَ تَعَالٰى[3]: "وَلْيَعْفُوْا وَلْيَصْفَحُوْا، اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ؟"

۲۲۰ - هغوئ له پکار دی چه معافی کوی. او د درګزر نه کار آخلی. آیا ستاسو دا خبره خوښه نهٔ ده. چه الله تعالیٰ ستاسو قصور او خطاګانے معاف کړی.
(پ۱۸/ نور)

۲۲۱ - وَقَالَ تَعَالٰى[4] وَالْعَافِيْنَ

۲۲۱ - او خلقو ته معافی کونکی. او داسے

---

[1] سورة الاعراف آیة ۱۹۹ [2] سورة الحجر آیه ۸۵ [3] سورة النور آیة ۲۲ [4] سورة آل عمران

بِهٖ شَيْئًا مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

"اَلْاَخْشَبَانِ" اَلْجَبَلَانِ الْمُحِيْطَانِ بِمَكَّةَ وَ الْاَخْشَبُ : هُوَ الْجَبَلُ الْغَلِيْظُ ؛

سنا سوخونه وی نو زۀ به د اَخْشَبَيْن دواړو غرونو ترمينځ دوئ نس نس کړم. (دواړه غرونه به پرې را يوځائے کړم) نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، نه زۀ داسے نهٔ غواړم. بلکه ځما اُميد دے چه الله تعالیٰ به د دوئ د نسل او اولاد نه داسے خلق را پيدا کړی، چه د هغهٔ عبادت او بندګی به کوی. او هيڅوک به د هغهٔ سره شريک نه جوړوی. (بُخاری ومُسلم)

اَخْشَبَانِ: هغه دوه غرونو ته وائی چه مکه مکرمه ئے را ګيره کړے ده. او اَخْشَبُ غټ غر ته وائی.

۶۴۷- **وَعَنْهَا** قَالَتْ: مَا ضَرَبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا قَطُّ بِيَدِهٖ وَلَا امْرَاَةً وَلَا خَادِمًا اِلَّا اَنْ يُّجَاهِدَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، وَمَا نِيْلَ مِنْهُ شَيْءٌ قَطُّ فَيَنْتَقِمُ مِنْ صَاحِبِهٖ اِلَّا اَنْ يُّنْتَهَكَ شَيْءٌ مِّنْ مَّحَارِمِ اللّٰهِ تَعَالٰى فَيَنْتَقِمُ لِلّٰهِ تَعَالٰى".
(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۶۴۷- حضرت عائشه رضی الله عنها دا هم فرمائی، چه رسول الله صلی الله عليه وسلم هيچرے په خپل لاس مبارک باندے نه خپله ښځه وهلے ده او نه نوکر او خادم. مګر د الله تعالیٰ په لار کښے ئے جهاد ضرور کړے دے. او داسے هم چرے نه دی شوی چه هغوئ ته چا تکليف رسولے وی او هغوئ ترے خپل بدل آخستے وی. مګر که چا به د الله تعالیٰ د عزت مند وخيزونو بے عزتی کوله نو د الله تعالیٰ د پاره به ئے ترے بدله آخستله. (مُسلم)

۶۴۸- **وَعَنْ** اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ اَمْشِيْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ بُرْدٌ نَجْرَانِيٌّ غَلِيْظُ الْحَاشِيَةِ فَاَدْرَكَهٗ اَعْرَابِيٌّ فَجَبَذَهٗ بِرِدَائِهٖ[1] جَبْذَةً شَدِيْدَةً فَنَظَرْتُ اِلٰى صَفْحَةِ عَاتِقِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ اَثَّرَتْ بِهَا حَاشِيَةُ الْبُرْدِ مِنْ شِدَّةِ جَبْذَتِهٖ ثُمَّ قَالَ، يَا مُحَمَّدُ مُرْلِيْ مِنْ مَّالِ اللّٰهِ الَّذِيْ عِنْدَكَ فَالْتَفَتَ اِلَيْهِ فَضَحِكَ ثُمَّ اَمَرَ لَهٗ بِعَطَاءٍ،
(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۶۴۸- حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دے. چه زۀ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره تللم. دغه وخت هغوئ د سختے غاړے والا نجرانی څادر اغوستلے وُو. لاره کښے ورته يو باندېچی ملاؤ شو. هغه باندېچی د هغوئ څادر اونيولو او زورسره ئے راښکلو. ما اوکتل، چه داسے سختئ سره څادر راښکلو سره د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په څټ کښے نښه جوړه شوه. بيا هغهٔ او وئيل، اے محمده! دے مال کښے چه کوم الله تعالیٰ تاله درکړے دے، ما ته هم څهٔ راکړه. نبی کريم صلی الله عليه وسلم هغه طرفته اوکتل او مُسکے شو. او هغهٔ ته ئے دخه ورکولو حُکم اوکړو. (بُخاری ومُسلم)

۶۴۹- **وَعَنْ** عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَاَنِّيْ

۶۴۹- حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه وائی. ګويا که هغه منظر او ننداره زۀ ګورم، چه رسول الله صلی

---

[1] الجبذة: الجذبة و الصفحة " بفتح المهملتين وسكون الفاء بينهما الجانب. والعاتق" بالمهملة والف [illegible]

اَنْظُرُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْكِىْ نَبِيًّا مِنَ الْاَنْبِيَآءِ صَلَوَاتُ اللّٰهِ وَسَلَامُهٗ عَلَيْهِمْ ضَرَبَهٗ قَوْمُهٗ فَاَدْمَوْهُ وَهُوَ يَمْسَحُ الدَّمَ عَنْ وَجْهِهٖ وَيَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِىْ فَاِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

الله عليه وسلم د الله جل جلاله يو نبيا نو كښې د يو نبي ذكر كولو. او فرمائيل ئې، چه هغه خپل قوم په وهلو وهلو د وينو نه رنګ بنګ كړو. او د خپل مخ نه ئې وينې صفا كولې. او ژبې سره ئې وئيل، چه اے الله! خما قوم معاف كړه، ځكه چه دوئ نه پوهيږي.

(بخارى و مسلم)

۶۵۰- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَيْسَ الشَّدِيْدُ بِالصُّرَعَةِ[1] اِنَّمَا الشَّدِيْدُ الَّذِىْ يَمْلِكُ نَفْسَهٗ عِنْدَ الْغَضَبِ". (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۶۵۰- حضرت ابو هريره رضى الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، پهلوان هغه نه دے، چه خلق را پرزوى. پهلوان خو هغه دے، چه د غصے په حالت كښې خپل ځان قابو كړى.

(بخارى و مسلم)

باب ۷۶

اِحْتِمَالُ الْاَذٰى!

زغم او تكليف برداشت كول

ف:- دے باب كښې دوه قرآنى آيتونه او يو نبوى حديث دے.

قرآنى آيتونه

۲۲۳- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[2]: " وَالْكَاظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ".

۲۲۳- او هغوئ غصه زغمونكى دى. او خلقو ته معافى كونكى دى- او الله تعالىٰ دا سے نيكان خوښوى-

(پ۴/ عمران)

۲۲۴- وَقَالَ تَعَالٰى[3] " وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ اِنَّ ذٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ".

۲۲۴- څوك چه صبر كوى، او معافى كوى نو دا د همت كارونو نه دے.

(پ۲۵/ شورى)

وَفِى الْبَابِ: اَلْاَحَادِيْثُ السَّابِقَةُ فِى الْبَابِ قَبْلَهٗ

په دے مضمون كښې مخكښې ډيرا حاديث تير شوى دى. يو دا هم دے.

نبوى حديث

۶۵۱- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عنه اَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ لِىْ قَرَابَةً اَصِلُهُمْ وَيَقْطَعُوْنِىْ وَاُحْسِنُ اِلَيْهِمْ وَيُسِيْئُوْنَ اِلَىَّ، وَاَحْلُمُ عَنْهُمْ وَيَجْهَلُوْنَ عَلَىَّ فَقَالَ: لَئِنْ

۶۵۱- حضرت ابو هريره رضى الله عنه نه روايت دے. چه يو كس رسول الله صلى الله عليه وسلم ته عرض اوكړو، چه ځما بعضے رشته داران دا سے دى، چه زه هغوئ سره تعلق ساتل غواړم. مګر هغوئ ما سره تعلق د خپلوئ ختموى- زه د هغوئ سره نيكى كوم. او هغوئ ما

---

[1] "الصرعة" بضم ففتح: الذى يصرع الناس و يغلبهم [2] سورة آل عمران آية ۱۳۴ [3] سورة الشورى آية ۴۳ [4] "تسفهم المل" بضم الفوقية: اى تجعلهم يسفون الرماد الحار. والظهير: المعين.

كُنْتَ كَمَا قُلْتَ فَكَأَنَّمَا تُسِفُّهُمُ الْمَلَّ [3] وَلَا يَزَالُ مَعَكَ مِنَ اللهِ تَعَالَى ظَهِيرٌ عَلَيْهِمْ مَا دُمْتَ عَلَى ذٰلِكَ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَقَدْ سَبَقَ شَرْحُهُ فِي "بَابِ صِلَةِ الْأَرْحَامِ".

سره بد کوي. زه ورته صبر کوم، هغوی را سره د جهالت معامله ساتي. نبي کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، که واقعي ته رښتيا وائې، نو ته هغوی ته د هغوی په خوله کښې ګرمې ايرې اچوې. او کله پورې چه ستا دا عمل وي، نو د الله تعالیٰ د طرف نه يو مدد ګار به د هغوی مقابله کښې تا سره وي. (مسلم)

باب صلة الارحام کښې د دې تشريح تيره شوې ده.

باب

الْغَضَبِ إِذَا انْتُهِكَتْ حُرُمَاتُ الشَّرْعِ وَالْاِنْتِصَارِ لِدِيْنِ اللهِ تَعَالَى

د شريعت د اصولو په خلاف ورزئ باندې د غصې اظهار؛

ف:- دې باب کښې دوه قرآني آيتونه او شلور نبوي احاديث دي.

قرآني آيتونه

۲۲۵- قَالَ اللهُ تَعَالَى [1] "وَمَنْ يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ عِنْدَ رَبِّهِ"

۲۲۵- څوک چه د الله تعالیٰ د قابل احترامو حکمونو عزت کوي. نو د هغه دا طرز عمل د خپل رب په نزد د هغه په حق کښې غوره دې. (پ ۱۷، حج)

۲۲۶- وَقَالَ تَعَالَى [2] "إِنْ تَنْصُرُوا اللهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ" وَفِي الْبَابِ حَدِيْثُ عَائِشَةَ السَّابِقُ فِي بَابِ الْعَفْوِ.

۲۲۶- که تاسو د الله تعالیٰ امداد اوکړو نو الله تعالیٰ به ستاسو امداد اوکړي. او ستاسو قدمونه به مضبوط کړي. (پ ۲۶، محمد)

باب العفو کښې د دې تشريح د حضرت عائشې رضی الله عنها حديث کښې تيره شوې ده.

نبوي احاديث

۶۵۲- وَعَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدٍ عُقْبَةَ بْنِ عَمْرٍو الْبَدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّيْ لَأَتَأَخَّرُ عَنْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ مِنْ أَجْلِ فُلَانٍ مِمَّا يُطِيْلُ بِنَا فَمَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَضِبَ فِيْ مَوْعِظَةٍ قَطُّ أَشَدَّ مِمَّا غَضِبَ يَوْمَئِذٍ، فَقَالَ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِيْنَ

۶۵۲- حضرت ابومسعود عقبه بن عمرو بدري رضي الله عنه وائي. چه يو کس د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو. يا رسول الله! زه د سحر د مانځه نه د فلانکي کس په وجه پاتې کيږم. ځکه چه هغه ډير اوږد مونځ ورکوي. راوي وائي: چه په دغه ورځ ما په وعظ او نصيحت کښې زيات غصه کيدونکے نبي کريم صلی الله عليه وسلم او نه ليدلو چه مخکښې مې هيڅ کله نه وو ليدلے. او د غصې په حالت کښې ئې اوفرمائيل، اې خلقو! تاسو کښې د بعضو

---

[1] سورة الحج آية ۳۰. [2] سورة محمد آية

فَاَيُّكُمْ اَمَّ النَّاسَ فَلْيُوْجِزْ[1] فَاِنَّ مِنْ وَرَآئِهِ الْكَبِيْرَ وَالصَّغِيْرَ وَذَا الْحَاجَةِ "۔

(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

خلقو په خپل طرز عمل سره خلق نفرت کونکی جوړيږی. نو (هغه دے واوری) چه تاسو کښې څوک هم مونځ ورکوی. هغه دے مختصر کوی. ځکه چه د هغه په مقتد يا نو کښې زاړهٔ خلق هم وی، او ماشومان هم ۔ او شغه خلق هم چه د هغوئ به سخت ضرورت وی ۔

(بخاری ومسلم)

۶۵۳ ۔ وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ سَفَرٍ وَقَدْ سَتَرْتُ سَهْوَةً لِيْ بِقِرَامٍ فِيْهِ تَمَاثِيْلُ فَلَمَّا رَاٰهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَتَكَهٗ وَتَلَوَّنَ وَجْهُهٗ وَقَالَ" يَا عَآئِشَةُ: اَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِيْنَ يُضَاهُوْنَ بِخَلْقِ اللّٰهِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ۔

"اَلسَّهْوَةُ" كَالصُّفَّةِ تَكُوْنُ بَيْنَ يَدَيِ الْبَيْتِ ۔

"وَالْقِرَامُ" بِكَسْرِ الْقَافِ سِتْرٌ رَقِيْقٌ ۔

وَهَتَكَهٗ، اَلصُّوْرَةَ الَّتِىْ فِيْهِ.

۶۵۳ ۔ حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی. چه يو وارے رسول الله صلی الله عليه وسلم د سفرنه تشريف راوړو ۔ نو دغه وخت ما د صحن مخے ته يوه نرئ کپړه د پردے د پاره رازوړنده کړے وه، چه د څه شکلونه پرے هم وُو ۔ نبی کريم صلی الله عليه وسلم چه ورته اوکتل، نو هغه پرده ئے کوزه کړه او څيرے ئے کړه ۔ او دغه وخت ئے په مخ د خفگان اثرات هم وُو ۔ او وے فرمائيل، اے عائشے! چه د قيامت په ورځ به په هغه کس باندے د الله تعالیٰ سخت عذاب وی، کوم چه د الله جل جلاله د مخلوق سره مشابهت اختيار وی ۔ (بخاری ومسلم)

اَلسَّهْوَةُ : کور کښې مخامخ چونتره جوړه کړے شوے وی ۔ او صحن ته هم وائی ۔

قِرَامٌ : باريکه او نرۍ پرده د کپړے.

هَتَكَهٗ : هغه تصويرونو والا کپړه ئے څيرے کړه، ختمه ئے کړه، خرابه ئے کړه.

۶۵۴ ۔ وَعَنْهَا اَنَّ قُرَيْشًا اَهَمَّهُمْ شَاْنُ الْمَرْاَةِ الْمَخْزُوْمِيَّةِ الَّتِىْ سَرَقَتْ فَقَالُوْا: مَنْ يُّكَلِّمُ فِيْهَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالُوْا مَنْ يَّجْتَرِئُ عَلَيْهِ اِلَّا اُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ حِبُّ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَلَّمَهٗ اُسَامَةُ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتَشْفَعُ فِىْ حَدٍّ مِّنْ حُدُوْدِ اللّٰهِ تَعَالٰى ثُمَّ قَامَ فَاخْتَطَبَ[2] ثُمَّ قَالَ اِنَّمَا اَهْلَكَ

۶۵۴ ۔ دا روايت هم د حضرت عائشے رض دے، فرمائی. چه د مخزوم قبيلے يوے ښځے غلا کړے وه ۔ نو هغے د پاره قريش ډير فکرمند وُو ۔ او خپل مينځ کښې به ئے مشورے کولے ۔ چه د دے په باره کښې به د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې څوک سفارش جوړ کړو. (ځکه چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم د غلا کولو په بدله کښې د هغے لاس پريکولو حکم کړے وُو) چا کښې اووئيل، چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته اسامه بن زيد رضی الله عنهما ډير نيازبين دے. بس هم هغه ورته سفارش کولے شی ۔ نو

---

[1] فليوجز" وفی البخاری: "فليتجوز" : ای فليقتصر مع اتمام الارکان والسنن [2] "فاختطب" :

ف :- دے باب کښې دوه قرآني آيتونه او شپږ نبوي حديثونه دی۔

قرآني آيتونه

٢٢٧ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [1] "وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ".

٢٢٧ - مسلمانانو کښې چه څوک ستا تابعدار او منونکي وی، هغوئ سره ډيره نرمي کوه - (پ ١٩ / شعرآء)

٢٢٨ - وَقَالَ تَعَالٰى [2] "اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ وَاِيْتَآءِ ذِي الْقُرْبٰى وَيَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ"۔

٢٢٨ - بے شکه الله تعالیٰ د انصاف او د احسان او نزدے خپلوانو ته د ورکړے حکم کوی - او د بے حياء او ناخوښه کارونو او د سرکشئ غوندے کنا هونو نه منع کوی۔ او نصيحت دے د پاره کوی چه تاسو يے اومنئ۔ (پ ١٤ / نحل)

نبوي احاديث

٦٥٦ - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ "كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ اَلْاِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِيْ اَهْلِهِ وَمَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالْمَرْاَةُ رَاعِيَةٌ فِيْ بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْئُوْلَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا وَالْخَادِمُ رَاعٍ فِيْ مَالِ سَيِّدِهٖ وَمَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ -(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

٦٥٦ - حضرت عبدالله بن عمر فاروق رضي الله عنهما نه روايت دے۔ چه ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه دا سے فرمائيلی آوريدلی دی۔ چه په تاسو کښې هر يو کس ذمه وار دے۔ او هر يو کس نه به د خپلو ما تحتو خلقو پوښتنه کولے شی۔ امام (خليفه، حاکم) هم ذمه وار دے۔ د خپلو ما تحتو رعايا ؤ به ترے پوښتنه کولے شی۔ د خپل کور سړے نګهبان او مشر دے۔ د خپلو کشرانو په باره کښې به ترے پوښتنه کولے شی۔ ښځه هم يو حده پورے د خاوند د کور مشره ده۔ څومره ذمه وارئ چه په هغې دی، د هغې پوښتنه به ترے کولے شی۔ غلام او نوکر هم د خپل مالک او آقا د مالونو (مفاداتو) نګران دے۔ دوئ نه به هم د خپلے ذمه وارئ پوښتنه کولے شی۔ (ياد ساتئ) په تاسو کښې هر يو کس ذمه وار دے۔ د خپلو ذمه واريو به ترينه پوښتنه کولے شی۔ (بُخاریؒ و مُسلمؒ)

٦٥٧ - وَعَنْ اَبِيْ يَعْلٰى مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : "مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيْهِ اللّٰهُ رَعِيَّةً يَمُوْتُ يَوْمَ يَمُوْتُ وَهُوَ غَاشٌّ لِرَعِيَّتِهٖ اِلَّا حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ"۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔

وَفِيْ رِوَايَةٍ، "فَلَمْ يَحُطْهَا بِنُصْحِهٖ [3] لَمْ يَجِدْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ

٦٥٧ - حضرت ابو يعلی معقل بن يسار رضی الله عنه نه روايت دے — ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه دا سے فرمائيلی آوريدلی دی۔ چه يو بنده هم دا سے نشته۔ چه (څه نه څه کار د پاره) مشر جوړ کړے شوے وی۔ او يوه ورځ خو به ضرور مری۔ که خپله ذمه وارئ کښې ئے څه خيانت يا دهوکه کړے وی۔ نو الله تعالیٰ به په دغه باندے جنت حرام کړی۔ (بُخاری و مُسلم)

يو روايت کښې دا سے هم راغلی دی۔ که دغه کس د خپلو ما تحتو د خيرخواهئ خيال نه وی

---

[1] سورة الشعرآء آية ٢١٥ [2] سورة النحل آية ٩٠ [3] "فلم يحطها" بفتح التحتية وضم الحآء وسكون الطآء المهملة اى يصنها، وقوله صلى الله عليه وسلم "ثم لا يجهد"، بفتح الهاء: اى لا يتع

مَنْ قَبْلَكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوْا إِذَا سَرَقَ فِيْهِمُ الشَّرِيْفُ تَرَكُوْهُ وَإِذَا سَرَقَ فِيْهِمُ الضَّعِيْفُ أَقَامُوْا عَلَيْهِ الْحَدَّ وَأَيْمُ اللهِ لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا". (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

اسامه بن زید رضی الله عنه باره کښے د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره خبره اوکړه نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، تهٔ د الله تعالیٰ په مقرر شوی حدودنو او سزاګانو کښے سفارش کوئ. هغه وخت کښے ئے خطبه اوویله اووے فرمائیل. تاسو نه مخکښے خلق په دے وجه تباه او برباد شول، چه که چرته یو غټ سړی به غلا اوکړه. نوهغه به ئے پریښودلو ۔ اوسزا به ئے نهٔ ورکوله ۔ اوکه اخوا دیخوا بیکاره سړی به غلا اوکړه، نو د سزا نه بغیر به ئے نه پریښودلو ۔ په الله جل جلاله مے دے قسم وی که (بالفرض) حضرت فاطمه رضی الله عنها هم غلا کړے وے ۔ نوما به هم د هغے دلاس پریکولو حکم ورکړے وُو ۔ (بخاری ومسلم)

۶۵۵۔ وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى نُخَامَةً فِي الْقِبْلَةِ فَشَقَّ ذٰلِكَ عَلَيْهِ حَتّٰى رُؤِيَ فِيْ وَجْهِهِ فَقَامَ فَحَكَّهُ بِيَدِهٖ فَقَالَ "إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ فِيْ صَلَاتِهٖ فَإِنَّهُ يُنَاجِيْ رَبَّهُ وَإِنَّ رَبَّهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ فَلَا يَبْزُقَنَّ أَحَدُكُمْ قِبَلَ الْقِبْلَةِ وَلٰكِنْ عَنْ يَسَارِهٖ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهٖ، ثُمَّ أَخَذَ طَرَفَ رِدَائِهٖ فَبَصَقَ فِيْهِ ثُمَّ رَدَّ بَعْضَهُ عَلٰى بَعْضٍ فَقَالَ: أَوْ يَفْعَلُ هٰكَذَا" (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

وَالْأَمْرُ بِالْبُصَاقِ عَنْ يَسَارِهٖ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهٖ هُوَ فِيْمَا إِذَا كَانَ فِيْ غَيْرِ الْمَسْجِدِ فَأَمَّا فِي الْمَسْجِدِ فَلَا يَبْصُقُ إِلَّا فِيْ ثَوْبِهٖ

۶۵۵۔ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم (د جوماټ په دیوال) قبلے طرف ته توکلے بلغم اولیدلو. نو ډیر سخت خفه شو. او بوج ورباندے جوړ شو۔ چه په مخ مبارک ئے اثر ښکاره شو. حضور ٔپاڅیدلو او هغه ئے اوګرولو. بیائے اوفرمائیل، کله چه په تاسو کښے څوک مانځه ته او دریږی، نو هغه خپل رب سره جرګه کوی نو الله تعالیٰ د قبلے او د مونځ کونکی ترمینځ دے. په داسے حالت کښے توکل بکار نهٔ دی۔ او کهٔ ضرورت وی نو بنی یا ګس طرفته یا د قدمونو لاندے دے ئے کړي۔ قبلے طرف ته دے ئے هیڅ کله نهٔ توکی۔ او دغه وخت ئے د خپل څادر یو ګوټ اونیولو۔ هغے کښے ئے اوتوکل۔ او بیلئے اومګلو۔ اووے فرمائیل، په دے طریقه دے توکل کوی۔ (بخاری ومسلم)

امام نوویؒ فرمائی چه ګس طرفته یا د قدمونو لاندے د توکلو اجازت خو هله دے چه جوماټ کښے نهٔ وی۔ جوماټ کښے صرف کپړه کښے د توکلو اجازت شته دے۔

باب ۷۸

أَمْرُ وُلَاةِ الْأُمُوْرِ بِالرِّفْقِ بِرَعَايَاهُمْ وَنَصِيْحَتِهِمْ وَالشَّفَقَةِ وَالنَّهْيِ عَنْ غِشِّهِمْ وَالتَّشْدِيْدِ عَلَيْهِمْ وَإِهْمَالِ مَصَالِحِهِمْ وَالْغَفْلَةِ عَنْهُمْ وَعَنْ حَوَائِجِهِمْ ؎

رعیت سره نرمی کول او د هغوی ښیګړه لټول

وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ - مَا مِنْ أَمِيرٍ يَلِيْ أُمُوْرَ الْمُسْلِمِيْنَ ثُمَّ لَا يَجْهَدُ لَهُمْ وَلَمْ يَنْصَحْ لَهُمْ إِلَّا لَمْ يَدْخُلْ مَعَهُمُ الْجَنَّةَ -

ساتلے نو د جنت خوشبوئی به هم او نهٔ وینی- او د مسلم په یو روایت کښے دا رغلی دی. یو حاکم او بادشاه داسے نشته. چه د مسلمانانو د کارونو مشر او نګران جوړ کړے شوے وی. او هغه نه د هغوئ د فائدے دپاره کوشش کوی، او نه د هغوئ د خیرخواهئ خیال ساتی- مګر هغه به مسلمانانو سره جنت ته نه داخلیږی.

۶۵۸- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ بَيْتِيْ هٰذَا: اَللّٰهُمَّ مَنْ وَّلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِيْ شَيْئًا فَشَقَّ عَلَيْهِمْ فَاشْقُقْ عَلَيْهِ، وَمَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِيْ شَيْئًا فَرَفَقَ بِهِمْ فَارْفُقْ بِهٖ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۶۵۸- حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی- چه ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه خپل کور کښے دا کلمات فرمائیلی آوریدلی دی- چه اے الله! چا ته چه ځما د اُمت یو کار حواله کړے شو او هغهٔ په دے سلسله کښے ځما اُمت په سختئ او مشقت کښے واچولو، نو ته هم هغه مشقت او سختئ کښے اخته کړے- او چا چه ځما د اُمت په معاملاتو کښے په چا آسانتیا اوکړه. او د نرمئ نه ئے کار واخستلو نو هغهٔ سره نرمی او د آسانتیا معامله اوکړے- (مُسلم)

۶۵۹- وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ بَنُوْ إِسْرَائِيْلَ تَسُوْسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ وَسَيَكُوْنُ بَعْدِيْ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُوْنَ" قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ أَوْفُوْا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ، ثُمَّ أَعْطُوْهُمْ حَقَّهُمْ وَاسْأَلُوا اللّٰهَ الَّذِيْ لَكُمْ، فَإِنَّ اللّٰهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ - مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۶۵۹- حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، د بنی اسرائیلو سیاست (د معاملاتو انتظام) د پیغمبرانو په ذمه وُو- چه یو نبی به وفات شو، نو بل به الله تعالیٰ راولیږلو. مګر (ځما د اُمت معامله بل شان ده- چه) ځما نه پس بل نبی نه راځی. ځما نه پس به ځما خلیفه ګان وی او ډیر زیات به وی. صحابه وُ رض عرض اوکړو. دے باره کښے ځمونږ د پاره ستا سو څه حکم دے؟ حضورﷺ اوفرمائیل، چه په نمبر نمبر د یو بل نه پس ورسره بیعت کوئ. د هغے وفادار شئ، او د هغهٔ حقونه پوره کوئ. او خپل حقونه الله تعالیٰ ته اوسپارئ. او د هغه نهٔ غواړئ. ځکه چه الله تعالیٰ چا ته ذمه واری او فریضه حواله کړے ده. د هغے پوښتنه به د هغوئ نه هغه بخپله کوی. (بُخاری و مُسلم)

۶۶۰- وَعَنْ عَائِذِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ دَخَلَ عَلٰى عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ زِيَادٍ فَقَالَ لَهُ أَيْ بُنَيَّ إِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى

۶۶۰- حضرت عائذ بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے. چه زهٔ عبید الله بن زیاد ته لاړم- او هغهٔ ته مے اووئیل، چه اے بچوړیه! ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیلی آوریدلی دی. چه بد ترین

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ شَرَّ الرِّعَاءِ الْحُطَمَةُ[1] فَاِيَّاكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنْهُمْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ :

بادشاه هغه دے، چه خپلو ماتحتو سره سختی کوی. نو احتیاط کوئ، هسے نه چه د اسے خلقو کښے شمار کړے شئ۔ (بخاری ومسلم)

٦٦١ - وَعَنْ اَبِىْ مَرْيَمَ الْاَزْدِىِّ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهُ قَالَ لِمُعَاوِيَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ وَلَّاهُ اللّٰهُ شَيْئًا مِنْ اُمُوْرِ الْمُسْلِمِيْنَ فَاحْتَجَبَ دُوْنَ حَاجَتِهِمْ وَخَلَّتِهِمْ وَفَقْرِهِمْ اِحْتَجَبَ اللّٰهُ دُوْنَ حَاجَتِهِ[2] وَخَلَّتِهِ وَفَقْرِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَجَعَلَ مُعَاوِيَةُ رَجُلًا عَلٰى حَوَائِجِ النَّاسِ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِىُّ :

٦٦١ - حضرت ابومریم ازدی رضی الله عنه نه روایت دے. چه ما امیرمعاویه رض ته اوویئل، چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیلی آوریدلی دی، چه الله تعالیٰ چه چالره د مسلمانانو په معاملاتو کښے د څه خبرے ذمه وار جوړ کړی. او هغه د هغوئ د ضرورتونو، حاجتونو او ګذران تیرولو نه ناخبره او بے پروا اوسی. او مخ پټولو سره ترے اعراض اوکړی. نو د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ هم د هغهٔ د مقصدونو او ضرورتونو نه مخ اوګرځوی. دا چه امیرمعاویه رضی الله عنه واوریدل، نو یو داسے سړے ئے مقرر کړو، چه د خلقو د ضرورتونو او حاجتونو خیال به ئے ساتلو، او هغه به ئے پوره کولو. (ابوداؤد، ترمذی)

باب ٧٩

اَلْوَالِى الْعَادِلُ !

انصاف دار حاکم؛

ف :- دے باب کښے دوه قرآنی آیتونه او خلور نبوی احادیث دی.

قرآنی آیتونه

٢٢٩ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[3] "اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْاِحْسَانِ" اَلْاٰيَةَ

٢٢٩ - بے شکه الله تعالیٰ د عدل او انصاف او احسان او رشته دارانو ته د ورکړے حکم کوی. (پ۱۴/ نحل)

٢٣٠ - قَالَ تَعَالٰى[4]: "وَاَقْسِطُوْا[5] اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ".

٢٣٠ - انصاف کوئ. بیشکه الله تعالیٰ د انصاف خاوندان خوښوی. (پ۲۶/ حجرات)

نبوی احادیث

٦٦٢ - وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ، سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللّٰهُ فِىْ ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ اِلَّا ظِلُّهُ، اِمَامٌ عَادِلٌ وَ شَابٌّ نَشَاَ فِىْ عِبَادَةِ

٦٦٢ - حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، اووه قسمه سړی داسے دی، چه الله تعالیٰ به په هغوئ خپل سورے اوکړی. چه په هغه ورځ به د الله تعالیٰ د سوری نه بغیر بل سورے نه وی. (۱) انصاف

---

[1] "الرعاء" بكسر الراء اخوة الف ممدودة. جمع راع. " والحطمة" بضم المهملة الاولى وفتح الثانية العنيف برعاته الابل. ضربه صلى الله عليه وسلم مثلا لوالى السوء، اى القاسى الذى يظلمهم ولا يرق لهم ولا يرحمهم [2] اى لم يجب له دعاء ولم يحق له املا [3] سورة النحل آية ٩٠ [4] سورة الحجرات آية ٩ [5] "واقسطوا" بفتح الهمزة " اى اعدلوا" :

اللهِ تَعَالىٰ وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسْجِدِ وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصَبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّيْ أَخَافُ اللهَ وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتّٰى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِيْنُهُ وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ"۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞

دارحاکم (۲) هغه ځوان چه د الله تعالیٰ په عبادت کښے لوئے شوے وی (۳) داسے کس چه زړه ئے هروخت جوماتو پورے تړلے وی (۴) داسے دوه کسان چه صرف د الله د رضا دپاره خپلو کښے مینه او محبت ساتی. که ملاویږی نو هم دالله د رضا دپاره او که جدا کیږی نو هم د الله د رضا او خوشحالولو دپاره (۵) هغه سړے چه دولتمنده او خائسته ښځه ورله د (ګناه) دعوت ورکړی او دا ورته په جواب کښے اووائی چه زه د الله تعالیٰ نه ویریږی (۶) هغه کس چه خیرات او صدقه دومره پټه کوی۔ چه کس لاس ته پته او نه لګی، چه ښی لاس څه خیز خرج کړے دے۔ (۷) هغه کس چه یوازے والی کښے الله تعالیٰ یا دوی او سترګو کښے ئے اوښکے راشي۔ (بخاری ومسلم)

۶۶۳۔ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "إِنَّ الْمُقْسِطِيْنَ عِنْدَ اللهِ عَلٰى مَنَابِرَ مِنْ نُوْرٍ، اَلَّذِيْنَ يَعْدِلُوْنَ فِيْ حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيْهِمْ وَمَا وَلُّوْا (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۶۶۳۔ حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، انصاف دار خلق به الله تعالیٰ سره نزدے د نور په ممبرونو ناست وی۔ او دا به هغه خلق وی، چه هغوئ به په حکومتی کارونو په خپل بال بچ او په هغے کارونو کښے چه دوئ ته سپارل شوے وُو۔ انصاف کولو۔ (مسلم)

۶۶۴۔ وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: خِيَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِيْنَ تُحِبُّوْنَهُمْ وَيُحِبُّوْنَكُمْ وَتُصَلُّوْنَ وَيُصَلُّوْنَ عَلَيْكُمْ وَشِرَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِيْنَ تُبْغِضُوْنَهُمْ وَيَلْعَنُوْنَكُمْ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ أَفَلَا نُنَابِذُهُمْ؟ قَالَ، لَا، مَا أَقَامُوْا فِيْكُمُ الصَّلٰوةَ (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

"تُصَلُّوْنَ عَلَيْهِمْ" تَدْعُوْنَ لَهُمْ ؞

۶۶۴۔ عوف بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیلی آوریدلی دی. چه ستاسو غوره امیران (حاکمان) هغه دی. چه تاسو هغوئ سره مینه ساتئ او هغوئ تاسو سره مینه ساتی۔ تاسو هغوئ دپاره دُعا کوئ او هغه ستاسو دپاره دُعا کوی۔ او په تاسو کښے ناکاره حاکمان هغه دی. چه تاسو هغوئ سره بُغض ساتئ۔ هغوئ په تاسو لعنت وائی۔ راوی وائی، چه موږ عرض اوکړو یا رسول الله! آیا موږ د داسے حاکمانو خلاف څه داسے کار وانۀ او نۀ کړو چه (د حکومت او مشرئ نه ئے) جدا کړو۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، ترڅو پورے چه تاسو کښے هغوئ نظم او مونځ قائموی نو داسے مه کوئ. او دا جمله ئے دوه ځله اوفرمائیله۔ (مسلم)

"تُصَلُّوْنَ وَيُصَلُّوْنَ" نه مراد دُعا ده۔

۶۶۵ - وَعَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: أَهْلُ الْجَنَّةِ ثَلَاثَةٌ -

۱- ذُوْسُلْطَانٍ مُقْسِطٌ مُوَفَّقٌ -

۲- وَرَجُلٌ رَحِيْمٌ رَقِيْقُ الْقَلْبِ لِكُلِّ ذِيْ قُرْبٰى وَمُسْلِمٍ -

۳- وَعَفِيْفٌ مُتَعَفِّفٌ ذُوْعِيَالٍ" (رَوَاهُ مُسْلِمٌ) ❊

۶۶۵ - حضرت عياض بن حمار رضي الله عنه نه روايت دے. چه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه داسے فرمائيلي آوريد لي دي. چه درے **قسمه** كسان به د جنت حقدار وي. (۱) خاوند د اقتدار انصاف دار حاكم چه د انصاف توفيق ورته هم وركړے شوے وي. (۲) هغه كس چه د خپلوانو او د مسلمانانو په حق كښے ډير نرمي كوونكے، شفقت كوونكے او مهربانه وي. (۳) هغه كس چه عيالدار كيدو سره هم ځان ته د غوښتنے د پاره لاس نه اوږدوي. (مسلم)

باب ۸۰

وُجُوْبِ طَاعَةِ وُلَاةِ الْاَمْرِ فِيْ غَيْرِ مَعْصِيَةٍ وَتَحْرِيْمِ طَاعَتِهِمْ فِي الْمَعْصِيَةِ

د حاكم تابعداري واجب ده خو د شرع په خلاف كښے نه.

ف:- دے باب كښے يو آيت او يوولس حديثونه دي.

قرآني آيتونه

۲۱۳ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى له: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ ❊

اے ايمان والو! د الله فرمانبرداري كوئ. او د الله د رسول حكم ومنئ. او د خپل حكومت والو هم تابعداري كوئ. (پ۵ نساء)

(نبوي احاديث)

۶۶۶ - وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: عَلَى الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ فِيْمَا اَحَبَّ وَكَرِهَ اِلَّا اَنْ يُّؤْمَرَ بِمَعْصِيَةٍ فَاِذَا اُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

حضرت عبد الله بن عمر فاروق رضي الله عنهما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا فرمان نقل كړے دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم او فرمائيل، چه مسلمان له آوريدل او تابعداري كول لازم دي. اګر كه هغه حكم په هغه باندے ښه لګي، او كه ورته ناخوښه وي. البته كه د ګناه حكم وركړے شي نو د هغے نه آوريدل شته نه منل. (بخاري و مسلم)

۶۶۷ - وَعَنْهُ قَالَ كُنَّا اِذَا بَايَعْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ يَقُوْلُ لَنَا: فِيْمَا اسْتَطَعْتُمْ" (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۶۶۷ - دا روايت هم د حضرت عبد الله بن عمر فاروق رضي الله عنهما نه نقل دے. چه كله مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د اوريدلو او منلو بيعت كولو، نو مونږ ته به ئے فرمائيل، چه (د اوريدلو او د منلو دا بيعت هغه كارونو د پاره دے) د كومے چه تاسو كښے طاقت وي. (بخاري و مسلم)

۶۶۸ - وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

۶۶۸ - دا روايت هم د حضرت عبد الله بن عمر فاروق رضي الله عنهما نه نقل دے.

له سورة النحل آية ۱۲۵

يَقُوْلُ مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ [2] لَقِيَ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَاحُجَّةَ لَهُ، وَمَنْ مَّاتَ وَلَيْسَ فِيْ عُنُقِهٖ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيْتَةً جَاهِلِيَّةً [3]

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهٗ: "وَمَنْ مَاتَ وَهُوَ مَفَارِقٌ لِلْجَمَاعَةِ فَاِنَّهٗ يَمُوْتُ مِيْتَةً جَاهِلِيَّةً".

"اَلْمِيْتَةُ" بِكَسْرِ الْمِيْمِ ؛

چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ما داسے فرما ئیلی آوریدلی دی، چاچه (د بیعت نه پس) د فرمانبرداری نه لاس راښکلو۔ نو قیامت کښے به الله تعالیٰ سره داسے حال کښے ملاوُ شی، چه د هغهٔ سره به هیڅ دلیل او بهانه نه وی (چه هغه ئے وړاندے کړی، یا اومنلے شی) او څوک چه داسے حالت کښے مړشی، چه د بیعت ګلوبند ئے غاړه کښے نه وُو۔ نو د جاهلیت په مرګ مړشو۔ (مُسلم)

او د ابن عمرؓ په یو روایت کښے داسے هم دی، چه څوک د ډلے نه بیل شو هغه د جاهلیت په مرګ مړشو۔ (د جاهلیت د مرګ نه مراد د بے دینئ او ګمراهئ مرګ دے۔ ځکه چه دے خلقو به کوم امیر سره بیعت نهٔ کولو۔ بلکه د خپل شان نه خلاف او عیب به ئے ګنړلو)

۶۶۹- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِسْمَعُوْا وَاَطِيْعُوْا وَاِنِ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ كَاَنَّ رَاْسَهٗ زَبِيْبَةٌ۔

(رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)

۶۶۹۔ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، دامیر خبره اَوریٔ، او تابعداری ئے کویٔ۔ اګرچه په تاسو باندے حاکم یو حبشی غلام وی۔ چه سرئے د منقی یعنی د وسکے په شان وی (مطلب دا دے، چه ظاهری طور سره هغه ډیر سپک بدرنګ بدشکله وی۔ که هغه ستا سوا میرا و با دشا وی، نو د هغه خبره غور او سوچ سره اَوریٔ۔ او کوم حکم چه درکوی په هغے عمل کویٔ) (بُخاری)

۶۷۰- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "عَلَيْكَ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ فِيْ عُسْرِكَ وَيُسْرِكَ [4] وَمَنْشَطِكَ وَمَكْرَهِكَ وَاَثَرَةٍ عَلَيْكَ [5]

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۶۷۰۔ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، کهٔ تهٔ په تنګسه کښے ئے، او که په فراخئ کښے، تا باندے ښهٔ لګی او کهٔ بد۔ که ستا سو خلاف هم وی۔ او هر حالت کښے (د امیر) حکم آوریدل او منل د فرضوا و واجبو په شان لازم او ضروری دی۔ (مُسلم)

---

[1] سورة النساء آية ۵۹

[2] "من خلع يدا من طاعة": اى خرج عنها بالخروج على الامام وعدم الانقياد له في غير معصية [3] "ميتة جاهلية": اى مات على الضلالة كما يموت اهل الجاهلية عليها، فانهم كانوا لا يدخلون تحت طاعة امير ويرون ذلك عيبًا ؛

[4] "في عسرك ويسرك" بضم اولها وسكون ثانيهما: اى في فقرك وغناك ؛ و "منشطك ومكرهك" بفتح اولهما وثالثهما وسكون ثانيهما: اى ما تحب وما تكره مما هو موافق لنشاطك وهواك او مخالف له مما ليس معصية وان كان معصية فلاسمع ولاطاعة [5] "واثرة عليك" بفتح الهمزة والمثلثة وهي الاستئثار والاختصاص بامور الدنيا: اى عليكم الطاعة وان اختص الامراء بالدنيا ولم يوصلوكم حقكم مما عندهم

يَقُوْلُ مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ[2] لَقِيَ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَاحُجَّةَ لَهٗ وَمَنْ مَّاتَ وَلَيْسَ فِيْ عُنُقِهٖ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيْتَةً جَاهِلِيَّةً[3]

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهٗ: "وَمَنْ مَاتَ وَهُوَ مُفَارِقٌ لِلْجَمَاعَةِ فَاِنَّهٗ يَمُوْتُ مِيْتَةً جَاهِلِيَّةً"۔

"اَلْمِيْتَةُ" بِكَسْرِ الْمِيْمِ.

چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ما داسې فرمائیلی آوریدلی دی، چاچه (د بیعت نه پس) د فرمانبردارۍ نه لاس رابښکلو۔ نو قیامت کښې به الله تعالیٰ سره داسې حال کښې ملاؤ شی، چه د هغهٔ سره به هیڅ دلیل او بهانه نه وی (چه هغه ئې وړاندې کړی، یا او منلې شی) او څوک چه داسې حالت کښې مړ شی، چه د بیعت کلوبند ئې غاړه کښې نه وُو۔ نو د جاهلیت په مرګ مړ شو۔ (مُسلم)

او د ابن عمرؓ په یو روایت کښې داسې هم دی، چه څوک د ډلې نه بیل شو هغه د جاهلیت په مرګ مړ شو۔ (د جاهلیت د مرګ نه مراد د بې دینۍ او ګمراهۍ مرګ دے۔ ځکه چه دے خلقو به کوم امیر سره بیعت نهٔ کولو۔ بلکه د خپل شان نه خلاف او عیب به ئې ګنړلو)

٦٦٩۔ وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِسْمَعُوْا وَاَطِيْعُوْا وَاِنِ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ كَاَنَّ رَاْسَهٗ زَبِيْبَةٌ۔

(رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)

٦٦٩۔ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل، د امیر خبره اَورئ، او تابعداری ئې کوئ۔ اګرچه په تاسو باندې حاکم یو حبشی غلام وی۔ چه سرئې د منقّی یعنی د وسکې په شان وی (مطلب دا دے، چه ظاهری طور سره هغه ډیر سپک بدرنګ بدشکله وی۔ که هغه ستاسو امیر او بادشاه وی، نو د هغه خبره غور او سوچ سره اَورئ۔ او کوم حکم چه درکوی په هغې عمل کوئ) (بُخاری)

٦٧٠۔ وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "عَلَيْكَ السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ فِيْ عُسْرِكَ وَيُسْرِكَ[4] وَمَنْشَطِكَ وَمَكْرَهِكَ وَاَثَرَةٍ عَلَيْكَ[5]

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

٦٧٠۔ حضرت ابوهریره رضی الله عنهٔ نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل، که ته په تنګسه کښې ئې، او که په فراخۍ کښې، تا باندې ښهٔ لګی او که بد۔ که ستاسو خلاف هم وی۔ او هر حالت کښې (د امیر) حکم آوریدل او منل د فرضو او واجبو په شان لازم او ضروری دی۔ (مُسلم)

---

[1] سورة النساء آية ٥٩

[2] "من خلع يدا من طاعة": اى خرج عنها بالخروج على الامام وعدم الانقياد له في غير معصية [3] "ميتة جاهلية": اى مات على الضلالة كما يموت اهل الجاهلية عليها، فانهم كانوا لا يدخلون تحت طاعة امير ويرون ذلك عيبا۔

[4] "في عسرك ويسرك" بضم اولهما وسكون ثانيهما: اى في فقرك وغناك؛ و"منشطك ومكرها" بفتح اولهما وثالثهما وسكون ثانيهما: اى ما تحب وما تكره مما هو موافق لنشاطك وهواك او مخالف له مما ليس معصية وان كان معصية فلا سمع ولا طاعة [5] "واثرة عليك" بفتح الهمزة والمثلثة وهي الاستئثار والاختصاص بامور الدنيا: اى عليكم الطاعة وان اختص الامراء بالدنيا ولم يوصلوكم حقكم مما عندهم

۶۷۱ - وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَفَرٍ فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا فَمِنَّا مَنْ يُصْلِحُ خِبَاءَهُ[1] وَمِنَّا مَنْ يَنْتَضِلُ، وَمِنَّا مَنْ هُوَ فِيْ جَشَرِهِ اِذْ نَادٰى مُنَادِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلصَّلٰوةُ جَامِعَةٌ فَاجْتَمَعْنَا اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنَّهٗ لَمْ يَكُنْ نَبِيٌّ قَبْلِيْ اِلَّا كَانَ حَقًّا عَلَيْهِ اَنْ يَدُلَّ اُمَّتَهٗ عَلٰى خَيْرِ مَا يَعْلَمُهٗ لَهُمْ وَيُنْذِرَهُمْ شَرَّ مَا يَعْلَمُهٗ لَهُمْ وَاِنَّ اُمَّتَكُمْ هٰذِهٖ جُعِلَ عَافِيَتُهَا فِيْ اَوَّلِهَا وَسَيُصِيْبُ اٰخِرَهَا بَلَاءٌ وَاُمُوْرٌ تُنْكِرُوْنَهَا وَتَجِيْءُ الْفِتْنَةُ يُرَقِّقُ بَعْضُهَا بَعْضًا وَتَجِيْءُ الْفِتْنَةُ فَيَقُوْلُ الْمُؤْمِنُ، هٰذِهٖ مُهْلِكَتِيْ ثُمَّ تَنْكَشِفُ: وَتَجِيْءُ الْفِتْنَةُ فَيَقُوْلُ الْمُؤْمِنُ: هٰذِهٖ هٰذِهٖ فَمَنْ اَحَبَّ اَنْ يُزَحْزَحَ عَنِ النَّارِ وَيُدْخَلَ الْجَنَّةَ فَلْتَاْتِهٖ مَنِيَّتُهٗ[2] وَهُوَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَلْيَاْتِ اِلَى النَّاسِ الَّذِيْ يُحِبُّ اَنْ يُّؤْتٰى اِلَيْهِ. وَمَنْ بَايَعَ اِمَامًا فَاَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِهٖ وَثَمَرَةَ قَلْبِهٖ فَلْيُطِعْهُ اِنِ اسْتَطَاعَ فَاِنْ جَآءَ اٰخَرُ يُنَازِعُهٗ فَاضْرِبُوْا عُنُقَ الْاٰخَرِ ـ رَوَاهُ مُسْلِمٌ

قَوْلُهٗ "يَنْتَضِلُ" اَيْ يُسَابِقُ بِالرَّمْيِ بِالنَّبْلِ وَالنُّشَّابِ - "وَالْجَشَرُ" بِفَتْحِ الْجِيْمِ وَ

۶۷۱ - حضرت عبد الله بن عمر فاروق رضى الله عنهما نه روايت دے - چه يو سفر کښې مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يو ځائے روان وُو. يو ځائے کښې مونږ ديره واچوله . او بعضے خلقو خېمے لګول شروع کړل . او ځينې غشی ويشتونکو غشی په نښه کول . او ځينې د څا روُو په حفاظت کښې مشغول شو، چه دے وخت کښې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د طرف نه يو آواز کوونکی آواز د مانځه د جمع کيدو د پاره اوکړو - نو مونږ ټول د نبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو - نو وے فرمائيل، زمانه مخکښې هر نبی د پاره دا لازم او ضروری وه ، چه خپل اُمت د خپل علم مطابق د هغے غوره او ښو خبرو نه خبر کړی - چه د هغوئ د پاره خير وی - او د هغه خبرے نه ئے اوويروی کوم چه د هغوئ د پاره بده وی - د دے را روانے طريقے په وجه زهٔ هم تا سو ته ښايم چه) دا اُمت چه تاسو ئے هم فرد يئ - د دے اُمت اول کښې بالکل خير و عافيت ايښودے شوے دے - او آخره زمانه کښې به دا سے مصيبتونه مخے ته راشی - او دا سے نا آشنا کارونه به پيدا کړے شی - چه هغه به تاسو بد ګنړئ - د يوے فتنے نه پس به بله فتنه را شی - او هغه اوله فتنه به ورته سپکه او کمه ښکاره کړی - (د هرے فتنے نه به بله فتنه پيدا کيږی) چه د غه فتنے ته مسلمان اوګوری ، نو خيال به اوکړی ، چه دا فتنه خو ما هلاکوی برباد وی - مګر هغه فتنه اوا متحان او مصيبت به لرے شی - نو د نه پس به بله نوے فتنه را ښکاره شی . نو مسلمان به اووائی ، چه هو (بس همدا فتنه خو غټه ده) او همدا ده او همدا ده . نو که د چا دا خوښه وی چه دوزخ ته د تللو نه بچ شی - او جنت ورته ملاؤ شی - نو هغهٔ له پکار دی ، چه دا سے حالت کښې مړ شی ، چه په الله او په ورځ د آخرت د هغه يقين وی . او خلقو د پاره دے هغه خبرهٔ خوښه کړی کومه چه خپل ځان د پاره خوښوی -

---

[1] "من يصلح خباءه" بكسر المعجمة وتخفيف المو حدة بعدها الف ممدودة: هوما يعمل من دبر او صوف او شعر ويكون على عمودين او ثلاثة وما فوق ذلك فهو بيت :

[2] "منيته" بفتح الميم وكسر النون وتشديد التحتية: اى الموت :

الشِّيْنِ الْمُعْجَمَةِ وَبِالرَّاءِ وَهِيَ الدَّوَابُّ الَّتِيْ تَرْعٰى وَتَبِيْتُ مَكَانَهَا وَقَوْلُهٗ

"يُرَقِّقُ بَعْضُهَا بَعْضًا": اَيْ يُصَيِّرُ بَعْضُهَا بَعْضًا رَقِيْقًا اَيْ خَفِيْفًا لِعِظَمِ مَا بَعْدَهٗ فَالثَّانِيْ يُرَقِّقُ الْاَوَّلَ وَقِيْلَ مَعْنَاهُ يُشَوِّقُ بَعْضُهَا اِلٰى بَعْضٍ بِتَحْسِيْنِهَا وَتَسْوِيْلِهَا، وَقِيْلَ يُشْبِهُ بَعْضُهَا بَعْضًا -

او ځاچه د حاکم په لاس کښے لاس ورکړو او بیعت ئے اوکړو - او خپل زړۀ ئے ورته هم حواله کړو. نو بیا هغهٔ له د هغهٔ طاعت و تابعداری پکار ده - او هغه سره دے غداری او دوکه نه کوی - او د دے حاکم مقابله کښے که بل څوک راشی - او د خپل بیعت آخستلو کښے ورسره جګړه کوی، نو د دغه د دویم (امامت دعوه کونکی) څټ اووهئ - (مُسلم)

"يَنْتَضِلُ": یعنی د تیزغشی ویشتلو مقابله او مشق کول -

"جَشَرٌ": هغه خاروی چه خریدو ته ئے پریږدی او د شپے خپل ځائے ته راځی -

"يُرَقِّقُ بَعْضُهَا بَعْضًا": یعنی یوه فتنه به هغه بله سپکه کړی - ځکه چه اولنئ فتنه به غټه وی - او د دے دا مطلب هم بنودلے شوے دے، چه د بعضے فتنو سره به ئے شوق پیدا شی - او زړۀ به ئے غواړی - او دیوے فتنے سره به د بلے هم شوق پیدا کیږی - او دا مطلب ئے هم بنودلے شوے دے، چه یوه فتنه به د بلے سره یوشان وی -

٦٧٢- وَعَنْ اَبِيْ هُنَيْدَةَ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَاَلَ سَلَمَةُ ابْنُ يَزِيْدَ الْجُعْفِيُّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللّٰهِ اَرَاَيْتَ اِنْ قَامَتْ عَلَيْنَا اُمَرَاءُ يَسْاَلُوْنَا حَقَّهُمْ وَيَمْنَعُوْنَا حَقَّنَا فَمَا تَاْمُرُنَا؟ فَاَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ سَاَلَهٗ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اِسْمَعُوْا وَاَطِيْعُوْا فَاِنَّمَا عَلَيْهِمْ مَا حُمِّلُوْا وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ" (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

ذمه واردي - او تاسو چه څه کوئ

٦٧٢- حضرت ابوهنیده وائل بن حجر رضی الله عنه نه روایت دے - چه سلمه بن یزید جعفی رضی الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوکړه - چه یا رسول الله! تاسو **هغه** امیرانو بادشاهانو په باره کښے څه وایئ، چه هغه څمونږ نه د خپلو حقونو پوره کولو خواهش کوی. مګر څمونږ حقونه نه پوره کوی - رسول الله صلی الله علیه وسلم چه د هغهٔ خبره واوریده، نو هغوئ د جواب ورکولو نه ځان اوساتلو - نو هغه صحابی بیا دا پوښتنه اوکړه - نو نبی علیه السلام اوفرمایل: چه د هغوئ خبره آورئ او حکم ئے منئ - **ځکه هغوئ چه څه کوی، نو هغوئ د هغے تاسو د هغے** ذمه وار یئ - (مُسلم)

٦٧٣- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّهَا سَتَكُوْنُ بَعْدِيْ اَثَرَةٌ وَاُمُوْرٌ تُنْكِرُوْنَهَا قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ تَاْمُرُ مَنْ اَدْرَكَ مِنَّا ذٰلِكَ؟ قَالَ تُؤَدُّوْنَ الْحَقَّ الَّذِيْ عَلَيْكُمْ وَتَسْاَلُوْنَ

٦٧٣- حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه څما نه پس به ډیرزر تاسو ته داسے خبرے رابیښے شی چه تاسو به ئے نه خوښوئ (لکه خپل غرض سرکول، بے انصافی کول) صحابه وُ زړۀ عرض اوکړو، یا رسول الله! د داسے خبرو را تللو په وخت کښے که مونږ کښے څوک

اللهَ الَّذِي لَكُمْ " (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

موجود وي نو دهغې متعلق تاسو څهٔ حکم کوئ ۔ نو نبی علیه السلام اوفرمائیل ، کومه ذمه واری چه ستاسو ده ، هغه پوره کوئ ۔ او د خپلو حقونو دپاره د الله تعالیٰ نه سوال کوئ ۔ (بخاری ومسلم)

٦٧٤ - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللهَ وَمَنْ يُطِعِ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي ۔

(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

٦٧٤ ۔ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے ۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ، چا چه ځما تابعداری اوکړه ، هغهٔ د الله تعالیٰ هم تابعداری اوکړه ۔ او چا چه ځما حکم اونه منلو ، هغهٔ د الله تعالیٰ هم نافرمانی اوکړه ۔ او چا چه د (مسلمان) امیر تابعداری اوکړه ۔ هغهٔ ځما تابعداری اوکړه ۔ او چا چه د امیر نافرمانی اوکړه . لکه چه ځما نافرمانی ئے اوکړه ۔ (بخاری ومسلم)

٦٧٥ - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَرِهَ مِنْ أَمِيرِهِ شَيْئًا فَلْيَصْبِرْ، فَإِنَّهُ مَنْ خَرَجَ مِنَ السُّلْطَانِ شِبْرًا[1] مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً "

(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

٦٧٥ ۔ حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے ۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ، که چاته د امیر او حاکم چرته یوه خبره ناخوښه وی نو صبر دے اوکړی ۔ که هغه د امیر د تابعدارئ نه یوه لویشت هم اووتلو ، او مړ شو ۔ نو هغه د جاهلیت په مرګ مړ شو ۔

(بخاری ومسلم)

٦٧٦ - وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " مَنْ أَهَانَ السُّلْطَانَ أَهَانَهُ اللهُ " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ وَفِي الْبَابِ أَحَادِيثُ كَثِيرَةٌ فِي الصَّحِيحِ وَقَدْ سَبَقَ بَعْضُهَا فِي أَبْوَابٍ ۔

٦٧٦ ۔ حضرت ابوبکره رضی الله عنه نه روایت دے ۔ چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیلی آورید لی دی ، چا چه د بادشاه سپکولے اوکړو ۔ نو الله تعالیٰ به ئے ذلیل او خوار کړی ۔ (ترمذی)

امام ترمذی رحمة الله علیه وائی ، چه دا حدیث ، حسن دے ۔ په دے موضوع او بحث کښے ډیر صحیح حدیثونه روایت شوی دی ۔ چه هغې کښے بعضے مخکښے بابونو کښے تیر شوی دی ۔

باب ٨١

النَّهْيِ عَنْ سُؤَالِ الْإِمَارَةِ وَاخْتِيَارِ تَرْكِ الْوِلَايَاتِ إِذَا لَمْ يَتَعَيَّنْ عَلَيْهِ وَ تَدْعُ حَاجَةٌ إِلَيْهِ

د حکومت او عهدے غوښتنه

ف : ۔ دے باب کښے یو آیت او خلور احادیث دی ۔

قرآنی آیت

٢٣٢ - قَالَ اللهُ تَعَالَىٰ[2] : تِلْكَ

٢٣٢ ۔ مونږ دا د آخرت کور د هغه خلقو

---

[1] "من خرج من السلطان شبرًا" : اى خرج من طاعته ولو قليلاً ، فهو كناية عن القلة :

[2] سورة القصص آية ٨٣ :

اَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَ لَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ "۔

دپاره (د راحت او آرام باعث) کرځولے دے۔ چه نه دُنيا کښے غټ سړے جوړيدل غواړي۔ او نه فساد (خوروِل) غواړي۔ او ښهٔ انجام خو د پرهيزګارانو دپاره دے۔ (پ۲۰، قصص)

نبوی احادیث

۶۷۷۔ وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَا عَبْدَ الرَّحْمٰنِ ابْنَ سَمُرَةَ لَا تَسْاَلِ الْاِمَارَةَ فَاِنَّكَ اِنْ اُعْطِيْتَهَا عَنْ غَيْرِ مَسْاَلَةٍ اُعِنْتَ عَلَيْهَا وَاِنْ اُعْطِيْتَهَا عَنْ مَسْاَلَةٍ وُكِلْتَ اِلَيْهَا وَاِذَا حَلَفْتَ عَلٰى يَمِيْنٍ فَرَاَيْتَ غَيْرَهَا خَيْرًا مِّنْهَا فَاْتِ الَّذِيْ هُوَ خَيْرٌ وَكَفِّرْ عَنْ يَمِيْنِكَ "۔ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۶۷۷۔ حضرت ابوسعيد عبدالرحمٰن بن سمرهٔ رضی الله عنه نه روايت دے۔ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، اے عبدالرحمانه! مشري او حکومت کله هم او نهٔ غواړې۔ ځکه که بغير د غوښتلو درته درکړے شي۔ نو د الله تعالیٰ د طرف نه به ستا امداد کولے شي۔ او کهٔ په غوښتنه ملاؤ شي۔ نو بيا به تهٔ هغې ته اوسپارلے شے۔ او که په څه قسم اوخورې، او د دے نه علاوه بله خبره غوره وی، نو هغه غوره اختيار کړه۔ او د قسم کفاره ورکړه۔ (بخاری ومُسلم)

۶۷۸۔ وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا اَبَا ذَرٍّ اِنِّيْ اَرَاكَ ضَعِيْفًا وَاِنِّيْ اُحِبُّ لَكَ مَا اُحِبُّ لِنَفْسِيْ لَا تَاَمَّرَنَّ[1] عَلَى اثْنَيْنِ وَلَا تَوَلَّيَنَّ[2] مَالَ يَتِيْمٍ "۔ (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۶۷۸۔ حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه نه روايت دے۔ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، اے ابوذره! زهٔ وينم، چه تهٔ کمزورے ئے۔ او زهٔ ستا دپاره هغه خبره خوښوم، چه کومه خپل ځان دپاره ئے خوښوم۔ کوره دوؤ کسانو باندے امير او حاکم مه جوړيږه۔ او نه د يتيم د مال ذمه وار شے۔ (مُسلم)

۶۷۹۔ وَعَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَلَا تَسْتَعْمِلُنِيْ فَضَرَبَ بِيَدِهٖ عَلٰى مَنْكِبِيْ ثُمَّ قَالَ يَا اَبَا ذَرٍّ اِنَّكَ ضَعِيْفٌ، وَاِنَّهَا اَمَانَةٌ وَ اِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ اِلَّا مَنْ اَخَذَهَا بِحَقِّهَا وَاَدَّى الَّذِيْ عَلَيْهِ فِيْهَا ۔ (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۶۷۹۔ دا روايت هم د ابوذر غفاري رضی الله عنه دے۔ چه ما رسول الله صلی الله عليه وسلم ته عرض اوکړو، چه ما څرته د يو ځائے حاکم ولے نه جوړوے۔ نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم څما شا اوټپوله، او، وے فرمائيل۔ اے ابوذره! تهٔ (دے عهدے دپاره) کمزورے ئے۔ دا يو امانت دے۔ (دے سره) دا د قيامت په ورځ د شرمندګئ يو سبب هم کيدے شي۔ هاں، کهٔ دا (د صلاحيت خاوند ته) د دے ټولو حقونو سره ورکړے شي۔ او بيا د حکومت فريضه ښے طريقے سره پوره کړي۔ نو د شرمندګئ نه به بچ شي۔ (مُسلم)

۶۸۰۔ وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ

۶۸۰۔ حضرت ابوهريره رضی الله عنه

---

[1] "لاتامرن" بفتح الهمزة والميم المشددة: اي لا تتأمرن [2] "ولا تولين" بفتح اوليه وتشديد ثالثه: اي لا تتولين۔

نو هغه ئے نه وربادوی. او که امیرخه کارکول غواړی، نولاس ورسره نهٔ اېږدی۔ (ابوداوُد)

باب ۸۳

اَلنَّهْیِ عَنْ تَوْلِیَةِ الْاَ مَارَةِ وَالْقَضَاء وَغَیْرِهِمَا مِنَ الْوَلَایَاتِ لِمَنْ سَأَلَهَا اَوْحَرَصَ عَلَیْهَا فَعَرَضَ بِهَا

د عهدے ورکول نهٔ دی پکار هغه چا ته چه بچپله ئے طلب کړی۔

ف: - دے باب کښے صرف یو حدیث بیان کړے شوے دے۔

نبوی حدیث

۶۸۳ - عَنْ اَبِیْ مُوْسَی الْاَشْعَرِیِّ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ قَالَ دَخَلْتُ عَلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ اَنَا وَ رَجُلَانِ مِنْ بَنِیْ عَمِّیْ فَقَالَ اَحَدُهُمَا یَا رَسُوْلَ اللّٰہِ اَمِّرْنَا عَلٰی بَعْضِ مَا وَلَّاکَ اللّٰہُ عَزَّ وَجَلَّ، وَقَالَ الْاٰخَرُ مِثْلَ ذٰلِکَ فَقَالَ اِنَّا وَاللّٰہِ لَا نُوَلِّیْ هٰذَا الْعَمَلَ اَحَدًا سَأَلَهُ اَوْ اَحَدًا حَرَصَ عَلَیْہِ۔
(مُتَّفَقٌ عَلَیْہِ)

۶۸۳ - حضرت ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه نه روایت دے. چه زهٔ او څما د خاندان دوه کسان د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شول. یو یکښے عرض اوکړو یا رسول الله! الله تعالیٰ چه تاسو ته کوم حکومت درحواله کړے دے. هغے کښے په څه حصه کښے ماله هم د حکومت او مشرئ موقعه راکړئ۔ او دغسے خبره دوئم هم اوکړه۔ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه په الله تعالیٰ مے دے قسم وی، چه موږ دا کار هغه چا ته نهٔ حواله کوُو، چه څوک د هغے غوښتونکے وی۔ یائے د هغے حرص په زړهٔ کښے وی۔ (بخاری ومسلم)

کِتَابُ الْاَدَبِ

باب ۸۴

اَلْحَیَاءِ وَفَضْلِهِ وَالْحَثِّ عَلَی التَّخَلُّقِ بِهٖ

(شرم او حیاء)

ف: - دے باب کښے صرف څلور احادیث دی۔

نبوی احادیث

۶۸۴ - وَعَنْ اِبْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلٰی رَجُلٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ وَهُوَ یَعِظُ اَخَاهُ فِی الْحَیَآءِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ دَعْهُ فَاِنَّ الْحَیَآءَ مِنَ الْاِیْمَانِ۔
(مُتَّفَقٌ عَلَیْہِ)

۶۸۴ - حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے. چه رسول الله صلے الله علیه وسلم د یو انصاری صحابی په خوا کښے تیریدو. چه خپل ورور ئے د حیاء په باره کښے پوهولو (چه ډیر زیات شرم هم ښهٔ نهٔ دے) رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه بس پریږده -(دا

عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّكُمْ سَتَحْرِصُوْنَ عَلَى الْاِمَارَةِ وَ سَتَكُوْنُ نَدَامَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۔ (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)

وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائیل، چه (هغه وخت به ډیر ژر راشی، چه تاسو به د مشرئ او حکومت حرص او طمع کوئ ۔ او قیامت کښې به ستاسو دپاره پښیمانتیا او افسوس ثابت شی۔ (بخاری)

باب ۸۲

حِثِّ السُّلْطَانِ وَالْقَاضِيْ وَغَيْرِهِمَا مِنْ وُلَاةِ الْاُمُوْرِ عَلَى اتِّخَاذِ وَزِيْرٍ صَالِحٍ وَتَحْذِيْرِهِمْ مِنْ قُرَنَاءِ السُّوْءِ وَالْقَبُوْلِ مِنْهُمْ

(د باصلاحیت او نیک معاون انتخاب

ف :۔ دے باب کښې یو آیت او دوه احادیث دی ۔

(قرآنی آیت)

۲۳۳۔ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [1] "اَلْاَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ اِلَّا الْمُتَّقِيْنَ" ؛

۲۳۳۔ د پرهیزګاره **خلقونه** بغیر به دنیاوی دوستان د یو بل دشمنان شی۔

(پ ۲۵/ زخرف)

(نبوی احادیث)

۶۸۱۔ **وَعَنْ** اَبِيْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ وَاَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا بَعَثَ اللّٰهُ مِنْ نَبِيٍّ وَلَا اسْتَخْلَفَ مِنْ خَلِيْفَةٍ اِلَّا كَانَتْ لَهُ بِطَانَتَانِ [2] بِطَانَةٌ تَأْمُرُهُ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَحُضُّهُ عَلَيْهِ وَبِطَانَةٌ تَأْمُرُهُ بِالشَّرِّ وَتَحُضُّهُ عَلَيْهِ وَالْمَعْصُوْمُ مَنْ عَصَمَ اللّٰهُ ۔ (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)

۶۸۱۔ د حضرت ابوسعید خدری او د حضرت ابوهریره رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل، الله تعالی چه کوم یو پیغمبر رالیږلے دے۔ یائې خلیفه جوړ کړے دے۔ نو د هر یو د دوه قسمه ملګرو (معتمدو، مشیرانو، وزیرانو او رازدارو) سره تعلق راځي۔ نو یو ملګرے هغهٔ ته د خیر کارونه ښائي۔ او ورته د پوره کولو ترغیب ورکوی۔ او بل ملګرے ورته د بد وچارو لاره ښائي، او په هغې ئې ورکړموی۔ او چالره چه الله تعالی بچ اوساتی، هغه بچ دے۔ (بخاری)

۶۸۲۔ **وَعَنْ** عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَرَادَ اللّٰهُ بِالْاَمِيْرِ خَيْرًا جَعَلَ لَهٗ وَزِيْرَ صِدْقٍ اِنْ نَسِيَ ذَكَّرَهٗ وَاِنْ ذَكَرَ اَعَانَهٗ، وَاِذَا اَرَادَ بِهٖ غَيْرَ ذٰلِكَ [3] جَعَلَ لَهٗ وَزِيْرَ سُوْءٍ اِنْ نَسِيَ لَمْ يُذَكِّرْهُ وَاِنْ ذَكَرَ لَمْ يُعِنْهُ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ بِاِسْنَادٍ جَيِّدٍ عَلٰى شَرْطِ مُسْلِمٍ ؛

۶۸۲۔ حضرت عائشه رضی الله عنها وائی۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل، چه کوم حاکم او امیر ته الله تعالی د مهربانئ او د رحم اراده اوکړی، نو هغهٔ له دیندار، رښتونے وزیر ورکړی۔ که د حاکم د زړهٔ څهٔ خبره اوځي، نو دائې ورته یادوی۔ او که امیر څه کارنامه سرته رسول غواړی، نو هغه د دهٔ پوره امداد کوی۔ او که د الله تعالی اراده د خیر نه علاوه څه بله وی، نو غلط او خراب وزیر د هغهٔ دپاره مقرر کړی۔ که د امیر د زړهٔ نه څه خبره اوځي،

---

[1] سورة الزخرف آية ٦٧ [2] البطانة بكسر الموحدة الاولياء والاصفياء و "تحضه" بفتح الفوقية وضم المهملة وتشديد الضاد: اى تحمله [3] "غير ذلك" اى شرا، ولم يصرح به تحريضا على اجتناب الشر لانه اذا اجتنب ذكر اسمه لشناعته، فلان يجتنب المسمى به اولى ؛

څه آړولے خبره ورته کوے) شرم او حياء خو د ايمان يوه حصه ده - (بُخارى ومُسلم)

۶۸۵ - وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْحَيَآءُ لَا يَاْتِيْ اِلَّا بِخَيْرٍ - مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ -

وَفِيْ رِوَايَةٍ لِّمُسْلِمٍ اَلْحَيَآءُ خَيْرٌ كُلُّهٗ اَوْقَالَ اَلْحَيَآءُ كُلُّهٗ خَيْرٌ

۶۸۵ - حضرت عمران بن حصين رضى اللّٰهُ عنهما نه روايت دے - چه رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم اوفرمائيل، چه د حيا حاصل او نتيجه بغير د خير او ښيګړے نه بل هيڅ نه وى - (بُخارى او مُسلم)

او د مُسلم په روايت کښے داسے هم راغلى دى، چه حيا ټوله خير خير دے - يا حياء د خيرونو مجموعه ده -

۶۸۶ - وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلْاِيْمَانُ بِضْعٌ وَّسَبْعُوْنَ اَوْ بِضْعٌ وَّسِتُّوْنَ شُعْبَةً فَاَفْضَلُهَا قَوْلُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَدْنَاهَا اِمَاطَةُ الْاَذٰى عَنِ الطَّرِيْقِ وَالْحَيَآءُ شُعْبَةٌ مِّنَ الْاِيْمَانِ - (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

"اَلْبِضْعُ" بِكَسْرِ الْبَآءِ وَيَجُوْزُ فَتْحُهَا وَهُوَ مِنَ الثَّلَاثَةِ اِلَى الْعَشَرَةِ -

"وَالشُّعْبَةُ" اَلْقِطْعَةُ وَالْخَصْلَةُ۔

"وَالْاِمَاطَةُ" اَلْاِزَالَةُ -

"وَالْاَذٰى" مَا يُؤْذِيْ كَحَجَرٍ وَشَوْكٍ وَطِيْنٍ وَرَمَادٍ وَقَذَرٍ وَّنَحْوِ ذٰلِكَ ؞

۶۸۶ - حضرت ابو هريرهؓ نه روايت دے چه رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم اوفرمائيل چه د ايمان څه د پاسه اويا او څه د پاسه شپيته ښاخونه دى - دے کښے د ټولو نه اوچته درجه او غوره ښاخ کلمه طيبه (لا اله الا اللّٰه) ده - او د ټولونه د کمے درجے والا خبره تکليف رسونکے څيز د لارے نه اوچتول دى - او حيا د ايمان (لويه او اهمه) **حصه** ده - (بُخارى ومُسلم)

"بَضْعٌ" زير او زبر دواړه درست دى - د درې نه لسو پورے شمار ته وئيلے کيږى۔

"شُعْبَةٌ" يعنى ټکړے او خوئے خصلت۔

"وَالْاِمَاطَةُ" يعنى ختمول، لرے کول او اوچتول -

"اَلْاَذٰى" يعنى تکليف ورکونکى څيزونه۔ لکه کانړے، ازغے، لوټه او ګندګى وغيره۔

۶۸۷ - وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَشَدَّ حَيَآءً مِّنَ الْعَذْرَآءِ[1] فِيْ خِدْرِهَا فَاِذَا رَاٰى شَيْئًا يَّكْرَهُهٗ عَرَفْنَاهُ فِيْ وَجْهِهٖ - مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞

۶۸۷ - حضرت ابوسعيد خدرى رضى اللّٰه عنه نه روايت دے - چه رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم د پيغلے جينۍ نه هم زيات حيادار او شرم والا وُو - کله چه به هغوئ ته څه خبره ناخوښه وه، نو مونږ به د هغوئ د مخ د اثراتو نه هغه پېژندله - (بُخارى ومُسلم)

عالمانو د حياء د حقيقت په باره کښے

---

[1] العذراء" بفتح العين المهملة وسكون الذال المعجمة وبالراء ثم الف ممدودة " البكر والخدر... بكسر الخاء المعجمة وسكون الدال المهملة". ستر تجعله البكر في جنب البيت اى اشد حياء من البكر حال اختلائها بالزوج الذى لم تعرفه قبل واستحيائها منه.

[1] سورة الاسراء آية ۳۴ -

قال العلماء: حقيقة الحياء خلق يبعث على ترك القبيح ويمنع من التقصير في حق ذي حق. وروينا عن ابي القاسم الجنيد رحمه الله قال الحياء رؤية الآلاء اي النعم ورؤية التقصير فيتولد بينهما حالة تسمى حياء. والله اعلم.

وئیلی دی - چه دا یو داسې خوئ او خصلت دے، چه د بدو خبرو او د ناخوښه خبرو پرېښودلو باندے سړے باعث کوی - او حقدار ته په حق رسولو کښے د کوتاهئ کولو نه منع کوی.

ابو القاسم جنید بغدادی رحمة الله فرمائیلی دی - چه حیاء دا ده چه بنیادم اول د الله تعالیٰ دا نعامونو، مهربانو او نعمتونو باندے غور او سوچ اوکړی - او بیا خپلو کوتاهو، کمزورو او د غلطو جائزه او نه زړه وخلی. او بیا چه د دے نه پس نتیجه کښے څه کیفیت پیدا شی، نو هغے ته حیاء وئیلے شی.

باب ۸۵

حِفْظُ السِّرِّ

راز ساتل

ف:- دے باب کښے یو آیت او څلور احادیث دی.

قرآنی آیت

۲۳۴- قَالَ اللّٰهُ تَعَالىٰ: وَاَوْفُوْا بِالْعَهْدِ اِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُوْلًا.

۲۳۴- خپله وعده پوره کړئ - یقینًا د وعدے په باره کښے به پوښتنه کولے شی. (پ۱۵، بنی اسرائیل)

نبوی احادیث

۶۸۸- **وَعَنْ** اَبِىْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ مِنْ اَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللّٰهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ الرَّجُلُ يُفْضِىْ اِلَى الْمَرْاَةِ وَتُفْضِىْ اِلَيْهِ[1] ثُمَّ يَنْشُرُ سِرَّهَا - (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۶۸۸- حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د قیامت په ورځ به د مرتبے په اعتبار سره د الله تعالیٰ په نزد بد ترین هغه کس شمارلے شی، چه ښځه او خاوند خپل مینځ کښے کوروالے اوکړی - او بیا هغه خاوند د هغے ښځے راز ښکاره کوی - (مُسلم)

۶۸۹- **وَعَنْ** عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حِيْنَ تَاَيَّمَتْ بِنْتُهٗ حَفْصَةُ قَالَ لَقِيْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَفْصَةَ فَقُلْتُ اِنْ شِئْتَ اَنْكَحْتُكَ حَفْصَةَ بِنْتَ عُمَرَ قَالَ سَاَنْظُرُ فِىْ اَمْرِىْ

۶۸۹- حضرت عبد الله بن عمر فاروق رضی الله عنهما نه روایت دے - چه حفصه رضی الله عنها کونډه شوه - نو عمر فاروق رضی الله عنه وائی، چه زۀ اول حضرت عثمان رضی الله عنه ته لاړم - او پوښتنه مے ترے اوکړه - که ته غواړے نو زۀ به د خپلے لور نکاح تا سره اوکړم - هغوئ جواب ورکړو، چه زۀ به دے کښے سوچ کولو نه پس

---

[1] "يفضي الى المرأة" بضم التحتية من الافضاء وهو مباشرة البشرة وهو هنا كناية عن جماع - وقوله صلى الله عليه وسلم "ثم ينشر سرها"

فَلَبِثْتُ لَيَالِيَ ثُمَّ لَقِيَنِيْ فَقَالَ قَدْ بَدَالِيْ اَنْ لَّا اَتَزَوَّجَ يَوْمِيْ هٰذَا۔ فَلَقِيْتُ اَبَا بَكْرِ الصِّدِّيْقَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقُلْتُ اِنْ شِئْتَ اَنْكَحْتُكَ حَفْصَةَ بِنْتَ عُمَرَ فَصَمَتَ اَبُوْبَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَلَمْ يَرْجِعْ اِلَيَّ شَيْئًا فَكُنْتُ عَلَيْهِ اَوْجَدَ مِنِّيْ عَلٰى عُثْمَانَ فَلَبِثْتُ لَيَالِيَ ثُمَّ خَطَبَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَنْكَحْتُهَا اِيَّاهُ فَلَقِيَنِيْ اَبُوْبَكْرٍ فَقَالَ لَعَلَّكَ وَجَدْتَ عَلَيَّ حِيْنَ عَرَضْتَ عَلَيَّ حَفْصَةَ فَلَمْ اَرْجِعْ اِلَيْكَ شَيْئًا فَقُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَاِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِيْ اَنْ اَرْجِعَ اِلَيْكَ فِيْمَا عَرَضْتَ عَلَيَّ اِلَّا اَنِّيْ كُنْتُ عَلِمْتُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَهَا فَلَمْ اَكُنْ لِاُفْشِيَ سِرَّ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَوْ تَرَكَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَبِلْتُهَا رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛

"تَأَيَّمَتْ": اَيْ صَارَتْ بِلَا زَوْجٍ وَكَانَ زَوْجُهَا تُوُفِّيَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ۔

"وَجَدْتَّ": غَضِبْتَ ؛

جواب درکړم۔ ما څو ورځې انتظار اوکړو، نو دوباره ورسره ملاؤ شوم۔ نو هغوی اوفرمائيل، چه ځما د واده کولو اراده في الحال نشته۔ نو ابوبکر رض ته لاړم او هغه ته مې هم دغه خبره اوکړه۔ که ستا خوښه وی نو زۀ به د عمر رض د لور حفصې رض نکاح تا سره اوکړم۔ مگر هغه چپ شو۔ او هيڅ جواب ئې رانۀ کړو۔ ما ته د عثمان غني رض د جواب په مقابله کښې د ابوبکر رض دا طرز ډير تکليف راکونکے شو۔ څو ورځې تيرې شوې۔ نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم دے دپاره پيغام اوخبر راوليږلو۔ نو ما هغه هغوئ ته په نکاح ورکړه۔ دے نه پس ابوبکر صديق رض سره ملاقات اوشو۔ نو وے فرمائيل، چه هغه ورځ خو به تا ته تکليف او خفگان رسيدلے وی۔ کله چه تا ما ته د حفصې رض د نکاح پيغام راکړو۔ او ما تا ته هيڅ جواب نه وُو درکړے۔ عمر رض اووئيل، چه هو، ما ته غم رسيدلے وُو۔ نو ابوبکر رض اووئيل، چه ما ستا د پيغام ځکه جواب درنه کړو، چه ستا د ملاقات نه مخکښې ځنيله نبی کريم صلی الله عليه وسلم د بی بی حفصې رض د نکاح ذکر کړے وُو۔ او ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم راز ښکاره کول او خورول نۀ غوښتل۔ که چيرے د رسول الله صلی الله عليه وسلم اراده د نکاح نۀ وے۔ نو ستا خبره به مې ضرور منلے وه۔ (بخاری)

"تَأَيَّمَتْ": يعنی خاوند ئې مړ شو او بې خاونده پاتې شوه۔

"وَجَدْتَّ": يعنی ته خفه شوے وے۔

٦٩٠۔ **وَعَنْ** عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنَّ اَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهٗ فَاَقْبَلَتْ فَاطِمَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا تَمْشِيْ مَا تُخْطِئُ مِشْيَتُهَا مِنْ مِشْيَةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا فَلَمَّا رَاٰهَا رَحَّبَ بِهَا وَقَالَ مَرْحَبًا بِابْنَتِيْ" ثُمَّ اَجْلَسَهَا عَنْ

٦٩٠۔ حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی، چه ټولې بيبيانې د نبی کريم صلی الله عليه وسلم سره ناستې وې۔ نو فاطمه رض هم په مزه مزه راروانه وه۔ او راغله۔ د هغې چال او تلل هم د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په شان وُو۔ نبی کريم صلی الله عليه وسلم چه هغې ته اوکتل، نو هر کلے ئې ورته اوفرمائيلو، اوخپل بنی يا کس طرف ته ئې کينوله۔ او پټ پټ ئې ورته څه اوفرمائيل، نو ډير

يَمِيْنِهٖ اَوْ عَنْ شِمَالِهٖ ثُمَّ سَارَّهَا فَبَكَتْ بُكَآءً شَدِيْدًا فَلَمَّا رَاٰى جَزَعَهَا سَارَّهَا الثَّانِيَةَ فَضَحِكَتْ فَقُلْتُ لَهَا خَصَّكِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْنِ نِسَآئِهٖ بِالسِّرَارِ ثُمَّ اَنْتِ تَبْكِيْنَ؟ فَلَمَّا قَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاَلْتُهَا مَا قَالَ لَكِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ مَا كُنْتُ اُفْشِيْ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِرَّهٗ فَلَمَّا تُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ عَزَمْتُ عَلَيْكِ[1] بِمَا لِيْ عَلَيْكِ مِنَ الْحَقِّ لَمَا حَدَّثْتِنِيْ مَا قَالَ لَكِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ اَمَّا الْاٰنَ فَنَعَمْ اَمَّا حِيْنَ سَارَّنِيْ فِي الْمَرَّةِ الْاُوْلٰى فَاَخْبَرَنِيْ اَنَّ جِبْرِيْلَ كَانَ يُعَارِضُهُ الْقُرْاٰنَ فِيْ كُلِّ سَنَةٍ مَرَّةً[2] اَوْ مَرَّتَيْنِ وَ اَنَّهٗ عَارَضَهُ الْاٰنَ مَرَّتَيْنِ وَ اِنِّيْ لَا اَرَى الْاَجَلَ اِلَّا قَدِ اقْتَرَبَ فَاتَّقِي اللّٰهَ وَاصْبِرِيْ فَاِنَّهٗ نِعْمَ السَّلَفُ اَنَا لَكِ فَبَكَيْتُ بُكَآئِيَ الَّذِيْ رَاَيْتِ فَلَمَّا رَاٰى جَزَعِيْ سَارَّنِي الثَّانِيَةَ فَقَالَ يَا فَاطِمَةُ اَمَا تَرْضَيْنَ اَنْ تَكُوْنِيْ سَيِّدَةَ نِسَآءِ الْمُؤْمِنِيْنَ اَوْ سَيِّدَةَ نِسَآءِ هٰذِهِ الْاُمَّةِ فَضَحِكْتُ ضَحِكِيَ الَّذِيْ رَاَيْتِ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَهٰذَا لَفْظُ مُسْلِمٍ ؛

زیاتے اوژړل۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه اولیدل، چه ډیره ناقراره ده۔ نو بیا ئے ورته پټ څه اوفرمائیل۔ نو په خندا شوله۔ بیا ما عرض اوکړو، چه ټولے بیبیانے رسول الله صلی الله علیه وسلم پریخودلے او خصوصیت سره ئے تا سره د راز او پټے خبرے اوکړے، نو تا اوژړل۔ کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم بهرته لاړو۔ نو ما د فاطمے رض نه پوښتنه اوکړه، چه تا ته رسول الله صلی الله علیه وسلم پټه خبره کومه یوه اوکړه، نو هغے اووئیل، چه دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راز خبره وه۔ دا به ښکاره نه کړم۔ بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو۔ نو ما بیا د فاطمے رض نه پوښتنه اوکړه۔ ګوره تا باندے زما هم څه حق شته۔ د هغے قسم درکوم چه ما ته ئے اوښایه، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم تا ته څه فرمائیلی وُو۔ نو فاطمے رض اوفرمائیل، چه اوس ئے ښودلو کښے څه باک نشته۔ ړومبے وارے ئے راته په پټه اوفرمائیل، چه جبرائیل علیه السلام به هر کال ما سره د قرآن یو وارے دور کولو۔ مګر دے وارے ئے راسره دوه دوه وارے دور اوکړو۔ نو زما خیال دے، چه زما د مرګ وخت نزدے دے۔ پس د الله تعالیٰ نه ویریږه او صبر کوه۔ زهٔ ستا د پاره مخکښے ډیر غوره تلونکے یم۔ نو ما چه دا واوریدل، نو ما اوژړل، چه تا سو هم اولیدم۔ بیا چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم زهٔ په ژړا اولیدم نو بیا ئے اوفرمائیل اے فاطمه! آیا ته به دے خوشحالیږے نه چه ته به جنت کښے د ټولو مؤمنانو ښځو سرداره او مشره جوړه شے۔ یا ئے دا سے اوفرمائیل، چه د دے اُمت د ښځو سرداره به ته جوړیږے۔ دا مے چه واوریدل نو ما اوخندل او دا تا سو هم اولیدل۔ (مُسلم)

۶۹۱- وَعَنْ ثَابِتٍ عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَتٰى عَلَيَّ رَسُوْلُ

۶۹۱- حضرت ثابت رضی الله عنه د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت بیان

---

[1] عزمت عليك. اى اقسمت عليك [2] كان يعارضه القرآن فى كل سنة مرة اى كان يقرأ النبى صلى الله عليه وسلم من القرآن فيعيد بعينه جبريل عليه السلام ؛

يَمِيْنِهٖ اَوْعَنْ شِمَالِهٖ ثُمَّ سَارَّهَا فَبَكَتْ بُكَآءً شَدِيْدًا فَلَمَّا رَاٰى جَزَعَهَا سَارَّهَا الثَّانِيَةَ فَضَحِكَتْ فَقُلْتُ لَهَا خَصَّكِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْنِ نِسَآئِهٖ

زیات یې اوژړل - نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه اولیدل، چه ډیره ناقراره ده - نو بیا یې ورته پټ څه اوفرمائیل - نو په خندا شوله - بیا ما عرض اوکړو، چه ټولې بیبیانې رسول الله صلی الله علیه وسلم پرېښودلې او خصوصیت سره یې تا سره

بِالسِّرَارِ ثُمَّ اَنْتِ تَبْكِيْنَ؟ فَلَمَّا قَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاَلْتُهَا مَا قَالَ لَكِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ مَا كُنْتُ اُفْشِيْ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِرَّهٗ فَلَمَّا تُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ عَزَمْتُ عَلَيْكِ[1] بِمَالِيْ عَلَيْكِ مِنَ الْحَقِّ لَمَا حَدَّثْتِنِيْ مَا قَالَ لَكِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ اَمَّا الْاٰنَ فَنَعَمْ اَمَّا حِيْنَ سَارَّنِيْ فِي الْمَرَّةِ الْاُوْلٰى فَاَخْبَرَنِيْ اَنَّ جِبْرِيْلَ كَانَ يُعَارِضُهُ الْقُرْاٰنَ فِيْ كُلِّ سَنَةٍ مَرَّةً[2] اَوْ مَرَّتَيْنِ وَاِنَّهٗ عَارَضَهُ الْاٰنَ مَرَّتَيْنِ وَاِنِّيْ لَا اَرَى الْاَجَلَ اِلَّا قَدِ اقْتَرَبَ فَاتَّقِي اللّٰهَ وَاصْبِرِيْ فَاِنَّهٗ نِعْمَ السَّلَفُ اَنَا لَكِ فَبَكَيْتُ بُكَائِيَ الَّذِيْ رَاَيْتِ فَلَمَّا رَاٰى جَزَعِيْ سَارَّنِي الثَّانِيَةَ فَقَالَ يَا فَاطِمَةُ اَمَا تَرْضَيْنَ اَنْ تَكُوْنِيْ سَيِّدَةَ نِسَآءِ الْمُؤْمِنِيْنَ اَوْ سَيِّدَةَ نِسَآءِ هٰذِهِ الْاُمَّةِ فَضَحِكْتُ ضَحِكِيَ الَّذِيْ رَاَيْتِ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَهٰذَا لَفْظُ مُسْلِمٍ ؛

د راز او پټې خبرې اوکړې، نو تا اوژړل - کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم بهرته لاړو. نو ما د فاطمې رض نه پوښتنه اوکړه، چه تا ته رسول الله صلی الله علیه وسلم پټه خبره کومه یوه اوکړه، نو هغې اووئیل، چه دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راز خبره وه - دا به ښکاره نه کړم - بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو - نو ما بیا د فاطمې رض نه پوښتنه اوکړه - ګوره تا باندې زما هم څه حق شته - د هغې قسم درکوم چه ما ته یې اوښایه، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم تا ته څه فرمائیلی وُو - نو فاطمې رض اوفرمائیل، چه اوس یې ښودلو کښې څه باک نشته - ړومبې وارې یې راته په پټه اوفرمائیل، چه جبرائیل علیه السلام به هر کال ما سره د قرآن یو وارې دَور کولو - مګر دې وارې یې راسره دوه دوه وارې دَور اوکړو. نو زما خیال دې، چه زما د مرګ وخت نزدې دې - پس د الله تعالیٰ نه ویریږه او صبر کوه. زه ستا د پاره مخکښې ډیر غوره تلونکې یم. نو ما چه دا واوریدل، نو ما اوژړل، چه تاسو هم اولیدم - بیا چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم زه په ژړا اولیدم نو بیا یې اوفرمائیل اې فاطمه! آیا ته په دې خوشحالیږې نه چه ته په جنت کښې د ټولو مؤمنانو ښځو سرداره او مشره جوړه شې - یا یې داسې اوفرمائیل، چه د دې اُمت د ښځو سرداره به ته جوړیږې - دا مې چه واوریدل نو ما اوخندل او دا تاسو هم اولیدل - (مُسلم)

۶۹۱ ۔ **وَعَنْ** ثَابِتٍ عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَتٰى عَلَيَّ رَسُوْلُ

۶۹۱ ۔ حضرت ثابت رضی الله عنه د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت بیان

---

[1] عزمت علیك" - ای اقسمت علیك [2] کان یعارضه القرآن فی کل سنة مرة ای کان یقرأ النبی صلی الله علیه وسلم من القرآن فیعید بعینه جبریل علیه السلام ؛

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَنَا اَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ فَسَلَّمَ عَلَيْنَا فَبَعَثَنِيْ فِيْ حَاجَتِهٖ فَاَبْطَاْتُ عَلٰی اُمِّيْ فَلَمَّا جِئْتُ قَالَتْ مَاحَبَسَكَ فَقُلْتُ بَعَثَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَاجَةٍ قَالَتْ مَا حَاجَتُهٗ قُلْتُ اِنَّهَا سِرٌّ قَالَتْ لَا تُخْبِرَنَّ بِسِرِّ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحَدًا قَالَ اَنَسٌ وَاللهِ لَوْحَدَّثْتُ بِهٖ اَحَدًا لَحَدَّثْتُكَ بِهٖ يَا ثَابِتُ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَرَوَى الْبُخَارِيُّ بَعْضَهٗ مُخْتَصَرًا ؛

کړے دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ما باندے راغے۔ دغه وخت کښے ما د ماشومانو سره لوبے کولے۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته سلام اوکړو۔ او زهٔ ئے یو کار پسے اولیږلم۔ نو په دے وجه مورته به رسیدلو کښے ناوخته شو۔ کله چه زهٔ د مور په خدمت کښے حاضر شوم نو وے وئیل، ولے دے ناوخته کړو؟ نو ما ورته اووئیل، چه زهٔ رسول الله صلی الله علیه وسلم څه کار پسے لیږلے ووم۔ هغے اووئیل، څه کار ؤو؟ نو ما اووئیل، چه هغه پټه خبره ده۔ او هغه ښکاره کولے نشم۔ نو مورے اووئیل؛ چه صحیح ده۔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راز نه هیڅوک مه خبروه۔ بیا انس رض اووئیل، اے ثابت! په الله تعالیٰ مے دے قسم وی، که راز مے چا ته ښودلے نو تا ته به مے ضرور ښودلے وے۔ (مُسلم)

او امام بخاری رح دے بعضے حصے مختصرے بیان کړی دی۔

باب ۸۶

اَلْوَفَآءِ بِالْعَهْدِ وَاِنْجَازِ الْوَعْدِ !

(وعده پوره کول)

ف :۔ دے باب کښے خلور آیتونه او دړے حدیثونه دی۔ وعده پوره کول خو یوه اسلامی فریضه ده۔ او د انسانیت په تقاضو کښے یوه تقاضا هم ده۔ دړبے او عمل سره قصد او اراده ریښتیا کول د وعدے پوره والے دے۔ او دے ته ایفائے عهد یعنی وعده پوره کول وائی۔ نو د دے خلاف، خلاف ورزی، عذر کول وعده پریښودل دی۔ او وعده خلاف خو په اسلام کښے د جرم والا د دے د انسانی شرافت نه هم بے برخے پریښودل پکار دی۔

(قرآنی آیتونه)

۲۳۵- قَالَ اللهُ تَعَالٰی[1] وَاَوْفُوْا بِالْعَهْدِ اِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُوْلًا۔

۲۳۶- وَقَالَ تَعَالٰی[2] وَاَوْفُوْا بِعَهْدِ اللهِ اِذَا عَاهَدْتُّمْ ؛

۲۳۷- وَقَالَ تَعَالٰی[3] يَاۤ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ۔

۲۳۸- وَقَالَ تَعَالٰی[4] يَاۤ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَالَا تَفْعَلُوْنَ

۲۳۵- وعده پوره کړئ ځکه چه د وعدے به پوښتنه کولے شی۔ (پ ۱۵ بنی اسرائیل)

۲۳۶- د الله تعالیٰ نامه واخله۔ او کومے وعدے چه موکړے وی هغه پوره کوئ۔ (پ ۱۴/ نحل)

۲۳۷- اے ایمان والو! وعده پوره کړئ۔ (پ ۶/ مائده)

۲۳۸- اے ایمان والو! داسے خبرے ولے کوئ، کومه چه تاسو نه پوره کوئ۔ دا د الله تعالیٰ د خفه کولو غټ سبب دے۔

---

[1] سورة الاسراء آية ۳۴ [2] سورة النحل آية ۹۱ [3] سورة المائدة آية ۱ [4] سورة الصف ۱

كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۞

چه خبره اوکړئ او بيائے نهٔ پوره کوئ. (پ ۲۸ / صف)

(نبوی احاديث)

٦٩٢ - وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اٰيَةُ الْمُنَافِقِ[1] ثَلَاثٌ اِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَاِذَا وَعَدَ اَخْلَفَ وَاِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، زَادَ فِىْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ وَاِنْ صَامَ وَصَلّٰى وَزَعَمَ اَنَّهٗ مُسْلِمٌ.

۶۹۲ - حضرت ابوهريره رضى الله عنه نه روايت دے، چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه منافق د درے خبرو نه پيژندلے شى: (۱) کله چه خبره کوى، نو دروغ وائى (۲) کله چه وعده اوکړى، نو نهٔ پوره کوى (۳) کله چه ورسره آمانت کيښودل شى، نو په هغې کښے خيانت کوى. (بخارى ومسلم) او د مسلم په يو روايت کښے داسے هم شته، چه اګرچه روژه ساتى مونځ کوى، او خپل ځان مسلمان هم ګنړى.

٦٩٣ - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيْهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا وَمَنْ كَانَتْ فِيْهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيْهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتّٰى يَدَعَهَا -

اِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ وَاِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَاِذَا عَاهَدَ غَدَرَ، وَاِذَا خَاصَمَ فَجَرَ - (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۶۹۳ - حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص رضى الله عنهما نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، په چا کښے چه دا څلور خبرے جمع شى، هغه پوره منافق دے - او چا کښے چه د دے څلورو خويونو نه يو هم را شى نو پوهه شه چه د منافق يو خوئے دے سړى کښے ځائے اونيولو - ترڅو ئے چه هغه خوئے پريښے نه وى - (۱) کله چه ورته امانت اوسپارلے نو هغې کښے خيانت کوى (۲) کله چه خبره کوى نو دروغ وائى - (۳) کله چه وعده اوکړي نو د هغې خلاف ورزى کوى. (۴) او کله چه جګړه کوى نو کنځل کوى. (بخارى ومسلم)

٦٩٤ - وَعَنْ جَابِرٍ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ لِىَ النَّبِىُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ قَدْ جَاءَ مَالُ الْبَحْرَيْنِ اَعْطَيْتُكَ هٰكَذَا وَهٰكَذَا وَهٰكَذَا[2] فَلَمْ يَجِئْ مَالُ الْبَحْرَيْنِ حَتّٰى قُبِضَ[3] النَّبِىُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا جَاءَ مَالُ الْبَحْرَيْنِ اَمَرَ اَبُوْ بَكْرٍ رَضِىَ اللهُ عَنْهُ فَنَادٰى مَنْ كَانَ لَهٗ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِدَةٌ اَوْ دَيْنٌ فَلْيَاْتِنَا فَاَتَيْتُهٗ وَقُلْتُ لَهٗ: اِنَّ

۶۹۴ - حضرت جابر رضى الله عنه نه روايت دے. چه ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه کله د بحرين نه مال راشى نو زهٔ به تاله دومره، دومره او دومره درکوم - مګر د نبى کريم صلى الله عليه وسلم د مرګه پورے هغه مال رانغلو. او کله چه د بحرين مال راغے، نو ابوبکر رضى الله عنه حکم جارى کړو - چه آواز دے اولګولے شى. چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ذمه چه د چا څه قرضه وى يائے چا سره وعده کړے وى، نو هغه دے راشى او خپل حق دے واخلى.

---

[1] اٰية المنافق: اى علامته "وان زعم": اى قال "انه مسلم": اى فهٰذه خصاله ۞

[2] كناية عن كيفيه الاخذ ثلاثا. وفى رواية البخارى: فبسط يديه ثلاث مرات [3] اى توف

النَّبِيّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِيْ كَذَا وَكَذَا، فَحَثَىٰ لِيْ حَثْيَةً فَعَدَدْتُهَا فَإِذَا هِيَ خَمْسُمِائَةٍ فَقَالَ لِيْ خُذْ مِثْلَيْهَا.

(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

نو زۀ د ابوبکرؓ په خدمت کښې حاضر شوم. او اوم وئيل، چه ما ته رسول الله صلی الله عليه وسلم دا سې فرمائيلي وُو. نو هغوئ يوه لپه مال ماله راکړو. چه ما اوشمارلے. نو پنځه سوه (۵۰۰) درهمه وُو. ابوبکرؓ او وئيل، چه دے په دوه چنده نورهم واخله.

(دواړه لاسونو باندے يو ځيز راخستل چه دواړه ډک شی لپه وائی) (بُخاری ومُسلم)

باب ۸۷

الْمُحَافِظَةِ عَلٰى مَا اعْتَادَهُ مِنَ الْخَيْرِ!

په ښهٔ عادت باندے هميشه والے

ف ۴. دے باب کښے څلور آيتونه او يو حديث دے.

(قرآنی آيتونه)

۲۳۹. قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1]: "اِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ[2] حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ".

۲۳۹. بے شکه الله تعالیٰ د يو قوم ښهٔ حالت هغه وخته پورے نهٔ بدلوی، ترڅو پورے چه هغوئ خپل چلن ښځپله بدل نۀ کړی. (پ ۱۳، رعد)

۲۴۰. وَقَالَ تَعَالٰى[3]: "وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّتِيْ نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْ[4] بَعْدِ قُوَّةٍ[5] اَنْكَاثًا".

"وَالْاَنْكَاثُ": جَمْعُ نِكْثٍ وَّهُوَ الْغَزْلُ الْمَنْقُوْضُ".

۲۴۰. تاسو د هغې ښځې په شان مهٔ جوړيږئ. چه هغې خپل تار او سونتئ (ښځپله) اوغوښتلے. او بيلے ټکړے ټکړے کړے وی. (پ ۱۴، نحل)

"اَلْاَنْكَاثُ": جمع د نِكْثٌ دهٔ. يعنی بړے کړے شوے او شليدلے سُتنئ.

۲۴۱. وَقَالَ تَعَالٰى[5]: "وَلَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ[6] فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ".

۲۴۱. د هغه خلقو په شان مه جوړيږئ. چه هغوئ ته کتاب ورکړے شوے وُو. پس کله چه د هغوئ او د هغوئ د نبی ترمينځ ډيره زمانه تيره شوه. نو د هغوئ زړونه سخت شول. (پ ۲۷، حديد)

۲۴۲. وَقَالَ تَعَالٰى[7]: "فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا".

۲۴۲. هغوئ (د رهبانيت) پوره پوره لحاظ هم اونهٔ ساتلو. (پ ۲۷، حديد)

(نبوی احاديث)

۶۹۵. وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۶۹۵. حضرت عبد الله بن عمرو بن عاص رضی الله عنهما نه روايت دے. چه ما ته رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل

---

[1] سورة الرعد آية ۱۱ [2] "لا يغير ما بقوم" ای من النعمة او النقمة حتّٰى يغيروا ما بانفسهم من الاحوال الجميلة او القبيحة [3] سورة النحل آية ۹۲ [4] "من بعد قوة" ای نقضته بعد فتله واحكامه [5] سورة الحديد آية ۱۶ [6] "فطال عليهم الامد" ای الزمان بينهم و بين انبيآئهم [7] سورة الحديد آية ۲۷

وَسَلَّمَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ لَا تَكُنْ مِثْلَ فُلَانٍ كَانَ يَقُوْمُ اللَّيْلَ[1] فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيْلِ ؛ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

اے عبد الله د فلانکی په شان مه جوړېږه. یو وخت وُو، چه د شپے به پاسیدو. مګر اوس ئے هغه پرېښودل. (بخاری ومسلم)

باب ۸۸

بَابُ اِسْتِحْبَابِ طِيْبِ الْكَلَامِ وَطَلَاقَةِ الْوَجْهِ عِنْدَ اللِّقَاءِ ؛

د ملاقات په وخت کی په رونړ تندِ ملاویدل

ف :- دے باب کښے دوه آیتونه او درے احادیث دی -

قرآنی آیتونه

۲۴۳- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[2] وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ ؛

۲۴۳- مسلمانانو باندے شفقت کوه - (پ ۱۴ / حجر)

۲۴۴- وَقَالَ تَعَالٰی[3] وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا[4] غَلِيْظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ ؛

۲۴۴- که ته تریو تندی والا او سخت زړے وے. نو ټول خلق به درنه تښتید لی وُو. (پ ۴ / آل عمران)

نبوی احادیث

۶۹۶- وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اِتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ". (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۶۹۶- حضرت عدی بن حاتم رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د دوزخ د اور نه ځان بچ کړئ، اګرچه د قجورے د ټکړے په ذریعه وی. او که چا سره دومره هم نۀ وی، نو ښه خبره دے کوی. (بخاری ومسلم)

۶۹۷- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ"، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَهُوَ بَعْضُ حَدِيْثٍ تَقَدَّمَ بِطُوْلِهِ ؛

۶۹۷- حضرت ابوهریره رضی الله عنه وائی، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه ښه خبره کول هم صدقه ده. (بخاری ومسلم)

دا اُوږد حدیث مخکښے تیر شوے دے.

۶۹۸- وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوْفِ شَيْئًا وَلَوْ اَنْ تَلْقٰى اَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلِيْقٍ[5]" رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۶۹۸- حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه وائی چه ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه وړه نه وړه نیکی هم سپکه او معمولی مۀ ګڼړئ. تردے چه ته خپل ورور سره په فراخ تندی ملاؤ شوئے نو دا هم یوه نیکی ده. (مسلم)

باب ۸۹

اِسْتِحْبَابِ بَيَانِ الْكَلَامِ وَاِيْضَاحِهِ لِلْمُخَاطَبِ وَتَكْرِيْرِهِ لِيُفْهَمَ اِذَا لَمْ يُفْهَمْ اِلَّا بِذٰلِكَ !

---

[1] كان تقوم الليل، اى لصلاة التهجد [2] سورة الحجر آية ۸۸ [3] سورة آل عمران آية ۱۵۹ [4] فظا: اى سيئ الخلق، غليظ القلب: اى قاسيه [5] بوجه طليق: اى متهلل بالبشر والابتسام -

واضح اوصاف خبرې اترې

ف:- دے باب کښې صرف دوه حدیثونه دی۔

اولنی حدیث کښې درے واره د سلام ذکر راغلے دے۔ د دے په توجیه کښې علماء کرامو فرمائیلي دی، **چه** اول سلام د اجازت غوښتلو (یا د اطلاع ورکولو) د پاره دے۔ دویم د ملاقات په وخت کښې۔ او دریم د رخصتیدو۔ ځینې علماء داسې **فرمائی**، چه په یو مجلس کښې د شریکیدو په وخت یو سلام د ابتدائی حصې د پاره دے۔ دویم سلام د میځنی شریکو د پاره دے۔ او دریم سلام د آخری حصې د پاره دے۔

نبوی احادیث

٦٩٩- عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَانَ اِذَا تَکَلَّمَ بِکَلِمَةٍ اَعَادَهَا ثَلَاثًا حَتّٰی تُفْهَمَ عَنْهُ وَاِذَا اَتٰی عَلٰی قَوْمٍ فَسَلَّمَ عَلَیْهِمْ ثَلَاثًا۔ (رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ)

۶۹۹- حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم چه به کله چاسره خبرے اترے کوے۔ نو خپله خبره به ئے درے واره کوله چه مخاطب پرے ښه پوهه شي۔ او کله به چه په خلقو تیریدو۔ نو درے واره به ئے سلام کولو۔ (بخاری)

٧٠٠- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: کَانَ کَلَامُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَلَامًا فَصْلًا[1] یَفْهَمُهٗ کُلُّ مَنْ یَسْمَعُهٗ (رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ)

۷۰۰- حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به صفا صفا په آرام او جدا جدا خبره کوله۔ او هر آوریدونکے به پرے ډیر ښه پوهیدلو۔ (ابوداؤد)

باب ۹۰

اِصْغَاءِ الْجَلِیْسِ لِحَدِیْثِ جَلِیْسِهٖ الَّذِیْ لَیْسَ بِحَرَامٍ وَاسْتِنْصَاتِ الْعَالِمِ وَالْوَاعِظِ حَاضِرِیْ مَجْلِسِهٖ!

اهمے خبرے د پاره خاموشی!

ف:- دے باب کښې صرف یو حدیث دے۔

نبوی حدیث

٧٠١- عَنْ جَرِیْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ اَسْتَنْصِتِ النَّاسَ[2] - ثُمَّ قَالَ لَا تَرْجِعُوْا بَعْدِیْ کُفَّارًا[3] یَضْرِبُ بَعْضُکُمْ رِقَابَ بَعْضٍ - (مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ)

۷۰۱- حضرت جریر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه د حجة الوداع په موقع ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دا خلق لږ غوندے چپ کړه۔ نو ما ټول خلق چپ چاپ کړل۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، واورئ، ځما نه پس کافران نه شئ۔ چه د یو بل څټونه اوهئ۔ (او خپل مینځ کښې جنګ جګړے شروع کړئ)۔ (بخاری ومسلم)

---

[1] کلاما فصلا: ای بینا ظاهرا [2] استنصت الناس: ای مرهم بالانصات۔

باب ۹۱

بَابُ الْوَعْظِ وَالْاِقْتِصَادِ فِيْهِ !

په درمیانه وعظ او نصیحت کول

ف :- دے باب کښے یو آیت او څلور حدیثونه دی -

(قرآنی آیت)

۲۴۵- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى: " اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ " -

۲۴۵- ښے اندازے او طریقے او تدبیر سره خلق پوهه کړه او خپل رب طرف ته ئے را او بله - (پ۱۴/ نحل)

(نبوی احادیث)

۷۰۲- **وَعَنْ** اَبِىْ وَآئِلٍ شَقِيْقِ بْنِ سَلَمَةَ قَالَ كَانَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ يُذَكِّرُنَا فِىْ كُلِّ خَمِيْسٍ مَرَّةً : فَقَالَ لَهٗ رَجُلٌ يَا اَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ لَوَدِدْتُّ اَنَّكَ ذَكَّرْتَنَا كُلَّ يَوْمٍ فَقَالَ اَمَا اِنَّهٗ يَمْنَعُنِىْ مِنْ ذٰلِكَ اَنِّىْ اَكْرَهُ اَنْ اُمِلَّكُمْ وَاِنِّىْ اَتَخَوَّلُكُمْ بِالْمَوْعِظَةِ كَمَا كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَوَّلُنَا بِهَا مَخَافَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا - مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

يَتَخَوَّلُنَا : يَتَعَهَّدُنَا .

۷۰۲- حضرت ابو وائل شقیق بن سلمهؒ وائی - چه عبد الله بن مسعود رضی الله عنه به د هر ښارت په ورځ مونږ ته وعظ او نصیحت کولو - یو کس ورته اووئیل، چه ځما زړهٔ غواړی، چه مونږ ته روزانه نصیحت او وعظ کوئ - هغهٔ اوفرمائیل، چه د داسے کولو نه زهٔ دے دپاره منع شوے یم، چه زهٔ ښهٔ نهٔ ګڼړم، چه تاسو ستوما نه کړم. او ما خود وعظ او نصیحت هغه طریقه اختیار کړے ده - کومه چه ځمونږ د ستوما نه کیدو د ویرے په وجه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اختیار کړے وه - (بُخاری ومُسلم)

يَتَخَوَّلُنَا : مونږ سره معامله کړے وه -

۷۰۳- **وَعَنْ** اَبِى الْيَقْظَانِ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ طُوْلَ صَلٰوةِ الرَّجُلِ وَقِصَرَ خُطْبَتِهٖ مَئِنَّةٌ مِّنْ فِقْهِهٖ : فَاَطِيْلُوا الصَّلٰوةَ وَاَقْصِرُوا الْخُطْبَةَ. (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

"مَئِنَّةٌ" بِمِيْمٍ مَفْتُوْحَةٍ ثُمَّ هَمْزَةٍ مَكْسُوْرَةٍ ثُمَّ نُوْنٍ مُشَدَّدَةٍ اَىْ عَلَامَةٌ دَالَّةٌ عَلٰى فِقْهِهٖ .

۷۰۳- حضرت ابو الیقظان عمار بن یاسر رضی الله عنه نه روایت دے. چه ما د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیلی آوریدلی دی. چه د یو کس اوږد مونځ کول او مختصره خطبه لوستل د هغهٔ د پوهے علامه ده - پس مونځ اوږد مونځ کوئ او خطبه مختصره لولئ - (مُسلم)

"مَئِنَّةٌ" یعنی علامت او نښه چه دلالت په پوهه باندے کوی -

۷۰۴- **وَعَنْ** مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ السُّلَمِىِّ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَا

۷۰۴- حضرت معاویه بن حکم سلمی رضی الله عنه وائی، چه زهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په مانځه کښے شریک

أَنَا أُصَلِّيْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا عَطَسَ رَجُلٌ مِّنَ الْقَوْمِ [1] فَقُلْتُ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ فَرَمَانِي الْقَوْمُ بِأَبْصَارِهِمْ فَقُلْتُ وَاثُكْلَ أُمِّيَاهُ مَا شَأْنُكُمْ تَنْظُرُوْنَ إِلَيَّ؟ فَجَعَلُوْا يَضْرِبُوْنَ بِأَيْدِيْهِمْ عَلٰى أَفْخَاذِهِمْ فَلَمَّا صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبِأَبِيْ هُوَ وَأُمِّيْ مَا رَأَيْتُ مُعَلِّمًا قَبْلَهٗ وَلَا بَعْدَهٗ أَحْسَنَ تَعْلِيْمًا مِّنْهُ فَوَاللّٰهِ مَا كَهَرَنِيْ وَلَا ضَرَبَنِيْ وَلَا شَتَمَنِيْ قَالَ إِنَّ هٰذِهِ الصَّلٰوةَ لَا يَصْلُحُ فِيْهَا شَيْءٌ مِّنْ كَلَامِ النَّاسِ إِنَّمَا هِيَ التَّسْبِيْحُ وَالتَّكْبِيْرُ وَقِرَاءَةُ الْقُرْاٰنِ أَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّيْ حَدِيْثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ وَقَدْ جَاءَ اللّٰهُ بِالْإِسْلَامِ وَإِنَّ مِنَّا رِجَالًا يَأْتُوْنَ الْكُهَّانَ [1] قَالَ فَلَا تَأْتِهِمْ قُلْتُ وَمِنَّا رِجَالٌ يَتَطَيَّرُوْنَ [2] قَالَ ذَاكَ شَيْءٌ يَجِدُوْنَهٗ فِيْ صُدُوْرِهِمْ فَلَا يَصُدَّنَّهُمْ [3] رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؁

"اَلثُّكْلُ" بِضَمِّ الثَّاءِ الْمُثَلَّثَةِ الْمُصِيْبَةُ وَالْفَجِيْعَةُ مَا كَهَرَنِيْ أَيْ مَا نَهَرَنِيْ۔

۷۰۵۔ وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ وَعَظَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ووم، چه خلقو کښې ناګهانه چا پرنجے اوکړو. نو ما يَرْحَمُكَ اللّٰهُ اووئيلو۔ نو خلقو ما ته کتل شروع کړل۔ ما اووئيل، په تاسو څه اوشول، ما ته ولے ګورئ؟ نو هغوئ خپلې پنډئ وهل شروع کړل۔ نو زهٔ پوهه شوم چه ما چپ کول غواړي نو زهٔ چپ شوم. چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم د مانځه نه فارغ شو۔ څما مور او پلار دے په هغه قربان وی۔ ما د دے نه مخکښې او نه وروستو داسے غوره مُعَلِّم چرته هم نه دۓ ولیدلے۔ قسم په الله؛ چه نه ئې زهٔ بے عزته کړم نه ئې اووهلم او نه ئې راته بد رد اووئیل، بلکه دائې را ته اوفرمائیل، چه مانځه کښې د هيڅ خبرو اترو ګنجائش نشته۔ او دے کښې بغیر د تسبیح تکبیر یا د قرآن لوستو نه بل هیڅ نشته۔ یائې چه په کومه اندازه کښې څه اوفرمائیل، ما عرض اوکړو، یا رسول الله! څما د جاهلیت زمانه هم تازه ده۔ او دا د الله تعالیٰ احسان دے۔ چه مونږ ته ئې د اسلام هدایت اوکړو۔ او مونږ کښې داسے خلق اوس هم شته، چه کاهنانو (ترویتیانو) ته اوس هم ځی۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه ته هغوئ له مه ورځه۔ ما عرض اوکړو، چه مونږ کښې داسے خلق هم شته، چه بد فال هم نیسی۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه دا د هغوئ د سینے خبره ده۔ هغوئ دے د دے په وجه د څه کار کولو یا نه کولو نه نهٔ منع کیږی۔ (مُسلم) "اَلثُّكْلُ": مصیبت او ویره۔

"مَا كَهَرَنِيْ" زهٔ ئې او نه رټلم۔

۷۰۵۔ حضرت عرباض بن ساریه رضی الله عنه وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو وارے داسے نصیحت اوکړو، چه څمونږ زړونه اوریدل۔ او څمونږ د

---

[1] "من القوم" ای المصلین [2] "یصمتوننی" بتشدید المیم: ای یسکتوننی غضبت و تغیرات * "فبابی هو وامی" ای افدیه صلی الله علیه وسلم بهما ؁

[1] الکهان: جمع کاهن وهو من یدعی معرفة الضمیر و یخبر عن المستقبل۔

[2] یتطیرون: ای یتشاءمون [3] فلا یصدنهم: ای فلا یمنعهم ذلك عن وجهتهم فانه لا یؤثر نفعا ولا ضرا۔

مَوْعِظَةً وَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوْبُ وَ ذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُوْنُ، وَ ذَكَرَ الْحَدِيْثَ وَ قَدْ سَبَقَ بِكَمَالِهِ فِيْ بَابِ الْاَمْرِ بِالْمُحَافَظَةِ عَلَى السُّنَّةِ وَ ذَكَرْنَا اَنَّ التِّرْمِذِيَّ قَالَ اِنَّهُ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ.

سترګو نه اوښکے روانے شوے. بیا هغوئ پوره حدیث بیان کړو، چه هغه مخکښے "باب محافظة على السنة" کښے پوره ذکر شوے دے.

(ترمذی)

ترمذی رحمة الله علیه فرمائی، چه دا حدیث حسن صحیح دے.

بَابُ الْوَقَارِ وَالسَّكِيْنَةِ ؛ باب ۹۲ د وقار او سکینه بیان

ف :- دے باب کښے یو آیت او یو حدیث دے.

(قرآنی آیت)

۲۴۶- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [1]: وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ عَلَى الْاَرْضِ هَوْنًا [2] وَ اِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُوْنَ قَالُوْا سَلَامًا ؞

۲۴۶- د الله تعالیٰ بندګان هغه دی، چه زمکه باندے آرام سره ګرځی. او کله چه چرته جاهل سره ملاوړ شی، نو صاحب سلامت ورته وائی. (پ ۱۹ / فرقان)

نبوی حدیث

۷۰۶- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ مَا رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ مُسْتَجْمِعًا [3] قَطُّ ضَاحِكًا حَتّٰى تُرٰى مِنْهُ لَهَوَاتُهُ اِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ.

(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

اَللَّهَوَاتُ: جَمْعُ لَهَاةٍ: وَ هِيَ اللَّحْمَةُ الَّتِيْ فِيْ اَقْصٰى سَقْفِ الْفَمِ ؞

۷۰۶- حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے. چه ما کله هم رسول الله صلے الله علیه وسلم په قهقهه یه (برق برق) خندا نۀ دے لیدلے. چه خوله ئے بیرته شی او د ننه ښکاره شی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم به صرف مُسکے کیدو.

(بُخاری ومُسلم)

"اَللَّهَوَاتُ": جمع د لَهْوَةٌ یا لَهَاةٌ ده. دا د غوښے یوه ټکړه ده، چه د تالو آخره حصه کښے زوړنده په نظر راځی. هغے ته جبئ وائی.

باب ۹۳

بَابُ النَّدْبِ اِلٰى اِتْيَانِ الصَّلٰوةِ وَالْعِلْمِ وَنَحْوِهِمَا مِنَ الْعِبَادَاتِ بِالسَّكِيْنَةِ وَالْوَقَارِ !!

په عبادا تو او علم کښے وقار او سکون سره راتلل مستحب دی؛

ف :- دے باب کښے یو آیت او ۲ دوه حدیثونه دی.

(قرآنی آیت)

۲۴۷- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [4]: وَمَنْ يُّعَظِّمْ [5] شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى

۲۴۷- دچا په زړونو کښے چه د الله تعالیٰ ویره او تقوی وی. هغه د الله

---

[1] . سورة الفرقان اية ۶۳ [2] "هونا": اى هينين "قالوا سلامًا" اى سدادًا من القول يسلمون فيه من الاثم او تسليمًا منكم لاخير بينا و لا شر.

[3] "مستجمعًا": اى مبالغًا فى الضحك لم يترك منه شيئًا [4] سورة الحج اية ۳۲ [5] "يعظم"..

الْقُلُوْبِ ۔

تعالیٰ د نښو پوره پوره خیال ساتی ۔ (پ/ح)

(نبوي حديثونه)

۷۰۷ ۔ وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: اِذَا اُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَلَا تَاْتُوْهَا وَاَنْتُمْ تَسْعَوْنَ وَاْتُوْهَا وَ اَنْتُمْ تَمْشُوْنَ وَعَلَيْكُمُ السَّكِيْنَةُ فَمَا اَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوْا وَمَا فَاتَكُمْ فَاَتِمُّوْا مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ: زَادَ مُسْلِمٌ فِيْ رِوَايَةٍ لَهٗ فَاِنَّ اَحَدَكُمْ اِذَا كَانَ يَعْمِدُ اِلَى الصَّلٰوةِ فَهُوَ فِي الصَّلٰوةِ ۔

۷۰۷ ۔ حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی ۔ چه ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرمائیلی آوریدلی دی، چه کله مونځ شروع شی نو د شاملیدو د پاره په منډه مه راځئ ۔ بلکه په خپل چال سره راځئ، چه سکون او آرام ښکاره وی ۔ او څومره حصه چه د جمعې کیره کړئ ۔ نو جمعې سره ئے اوکړئ ۔ او کوم چه درنه مخکښې شوے وی، نو هغه بیا پوره کړئ ۔ (بخاری ومسلم)

د مسلم په یو روایت کښې نورهم زیادت شته دے ۔ چه تا سو کښې څوک د مانځه په اراده روان وی، نو هغه د مانځه په حکم کښې شمارلے شی ۔

۷۰۸ ۔ وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّهٗ دَفَعَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ عَرَفَةَ فَسَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَآءَهٗ زَجْرًا شَدِيْدًا وَضَرْبًا وَصَوْتًا لِلْاِبِلِ، فَاَشَارَ بِسَوْطِهٖ اِلَيْهِمْ وَقَالَ اَيُّهَا النَّاسُ عَلَيْكُمْ بِالسَّكِيْنَةِ فَاِنَّ الْبِرَّ لَيْسَ بِالْاِيْضَاعِ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ۔ وَرَوٰى مُسْلِمٌ بَعْضَهٗ ۔

"اَلْبِرُّ" الطَّاعَةُ، وَالْاِيْضَاعُ بِضَادٍ مُعْجَمَةٍ قَبْلَهَا يَاءٌ وَهَمْزَةٌ مَكْسُوْرَةٌ وَهُوَ: الْاِسْرَاعُ

۷۰۸ ۔ حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے ۔ چه د عرفے په ورځ زهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ووم ۔ چه وروستوئے ځان پسے د نعرو سورو آواز واوریدو ۔ چه د څناورو د وهلو او په تیزه د ښکلو په وجه آوازونه اوچتیدل ۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خپل چابک (اوکوړے) په ذریعه (خلق متوجه کولو نه پس) اوفرمائیل: اے خلقو تاسو له سکون او وقار **یعنی** آرام سره تلل ضروری دی ۔ (شور کولو) او منډے وهلو او څاروی تیزولو کښې څهٔ خیر نشته ۔ (بخاری)

مسلم شریف د دے حدیث څه حصه بیان کړے ده ۔

"اَلْبِرُّ": یعنی اطاعت او تابعداری او نیکی.

اَلْاِيْضَاعُ: یعنی تیزي او تندی او جلتی ۔

باب ۹۴

بَابُ اِكْرَامِ الضَّيْفِ! د میلمه عزت کول

ف ۱: دے باب کښې دوه آیتونه او دوه حدیثونه دی ۔ د میلمنو عزت کول ډیرښه اخلاق ګڼړلے شي ۔ د نورو اخلاقو په شان د میلمستیا هم څهٔ قوانین او اصول شته ۔ هغې باندے عمل کولو کښې د میلمه او کوربه دواړو د پاره راحت او آرام دے ۔ لکه کوربه له پکار دی ۔ چه په خوشحالئ دړے ورځے میلمستیا تیره کړي ۔ اوله ورځ دے د خپل وس مناسب څه تکلیف اوکړي ۔ او دوه ورځے چه څه وی هغه دے مخکښې کیږدی ۔ د دویم حدیث یو لفظ "جائزه" نه همدا

مراد دے۔ چه اوله ورځ دے لږ تکلف اوکړی۔ او میلمه له پکار دی، چه هغه کوربه باندے بوج جوړ نشی۔ او قسما قِسم فرمائشونو سره کوربه په امتحان کښے وانه چوی۔ او د میلمستیا چه کوم وخت مقرر دے (یعنی درے ورځے) د هغے خیال دے اوساتی۔

(قرآنی آیتونه)

۲۴۸- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی [1]: هَلْ اَتَاكَ حَدِيْثُ ضَيْفِ اِبْرَاهِيْمَ الْمُكْرَمِيْنَ اِذْ دَخَلُوْا عَلَيْهِ فَقَالُوْا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ [2] فَرَاغَ اِلٰی اَهْلِهٖ فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِيْنٍ فَقَرَّبَهٗ اِلَيْهِمْ قَالَ: اَلَا تَاْكُلُوْنَ؟

۲۴۸- آیا تا ته دا براهیم علیه السلام د عزت مندو میلمنو د قصے خبر شته؟ میلمانه ورله راورسیدل۔ سلام ئے اوکړو۔ ابراهیم علیه السلام د سلام جواب ورکړو۔ او (وے فرمائیل، دا خو نا اشنا معلومیږی۔ رراځئ کینئ) بیا هغه کور ته لاړو۔ او وریت کړے شوے چاق او تازه سخے ئے راوړو۔ او هغوی ته ئے د خوراک د پاره کیښودلو۔ کله چه ده اولیدل چه خوراک د پاره لاس نهٔ وړاندے کوی۔ نو ابراهیم علیه السلام اوفرمائیل، چه تاسو خوراک ولے نهٔ کوئ؟ (پ۲۶/ ذاریات)

۲۴۹- وَقَالَ تَعَالٰی [1]: "وَجَآءَهٗ قَوْمُهٗ يُهْرَعُوْنَ [2] اِلَيْهِ وَ مِنْ قَبْلُ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ قَالَ يَا قَوْمِ هٰۤؤُلَآءِ بَنَاتِیْ [3] هُنَّ اَطْهَرُ لَكُمْ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَلَا تُخْزُوْنِ فِیْ ضَيْفِیْ اَلَيْسَ مِنْكُمْ رَجُلٌ رَّشِيْدٌ!

۲۴۹- (د لوط علیه السلام) قوم په خوشحالئ په ځغستو هغهٔ له راغلل۔ چه ړومبے ئے هم ناخوښه او بد حرکتونه کړی وُو۔ (لوط علیه السلام) ورته اوفرمائیل، اے خلقو! (ستاسو د جائز آرام د پاره) ځما لوسره موجودے دی۔ چه تاسوئے جائز او پاکے طریقے سره حاصلولے شئ۔ د الله تعالیٰ نه اوویریږئ۔ ما د خپلو میلمنو په وړاندے مهٔ شرمنده کوئ۔ آیا تاسو کښے څوک شریف سړے نشته؟ (پ۱۲/ هود)

(نبوی احادیث)

۷۰۹- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهٗ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهٗ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا اَوْ لِيَصْمُتْ [3]۔ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۷۰۹- حضرت ابوهریره رضؓ نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د چا په الله او په ورځ د آخرت ایمان وی۔ هغهٔ له پکار دی چه د خپل میلمه عزت اوکړی۔ او په الله او په ورځ د آخرت د ایمان ساتلو د پاره دا هم ضروری ده، چه خپلوانو سره دے تعلق قائم ساتی او ښهٔ سلوک دے ورسره کوی۔ او په الله او په ورځ د آخرت ایمان ساتونکو له دا خیال کول هم پکار دی۔ چه د خپلے خولے نه ښه خبره اوباسی۔ یا چپ اوسی۔ (بخاری ومسلم)

۷۱۰- وَعَنْ اَبِیْ شُرَيْحٍ خُوَيْلِدِ

۷۱۰- حضرت ابوشریح خویلد بن عمرو خزاعی رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه ما د رسول

---

[1] سورة الذاريات آية ۲۴ [2] قوم منكرون "انتم قومٌ لا نعرفكم" فراغ: اى ذهب [1] سورة هود آية ۷۸ [2] "يهرعون": اى يسرعون

[3] "هؤلاء بناتى" اى فتزوجوهن واتركوا اضيافى [4] الصمت: السكوت؛

بْنِ عَمْرٍو الْخَزَاعِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهٗ جَآئِزَتَهٗ قَالُوْا وَمَا جَآئِزَتُهٗ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ يَوْمُهٗ وَلَيْلَتُهٗ وَالضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ اَيَّامٍ فَمَا كَانَ وَرَآءَ ذٰلِكَ فَهُوَ صَدَقَةٌ ۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ اَنْ يُّقِيْمَ عِنْدَ اَخِيْهِ حَتّٰى يُؤْثِمَهٗ[1] قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَكَيْفَ يُؤْثِمُهٗ قَالَ يُقِيْمُ عِنْدَهٗ وَلَا شَيْءَ لَهٗ يَقْرِيْهِ بِهٖ ۔

الله صلی الله علیه وسلم نه دا فرمائی اوریدلی دی۔ چه څوک په الله او د آخرت په ورځے ایمان ساتی، هغهٔ ته پکار دی، چه د خپل میلمه عزت اوکړی۔ څنګه چه د هغهٔ د میلمستیا حق دے۔ صحابهٔ رض پوښتنه وکړه۔ د میلمه د عزت کولو څنګه حق دے؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ یوه ورځ تکلیف والا میلمستیا۔ او درے ورځے میلمستیا هغه څیز سره چه څه موجود وی۔ او عاجزئ سره وی۔ او د دے نه زیاتے ورځے میلمستیا ورکول صدقه ده۔ (بخاری ومسلم) او د مسلم په روایت کښے داسے هم شته۔ چه یو مسلمان د پاره دا هم جائز نه دی، چه هغه د خپل مسلمان ورور سره دومره وخت ایسار شی، چه هغه ګناه ګار کړی۔ صحابه رض عرض اوکړو، چه څنګه بهٔ ګناهګار کړی؟ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه هغه دومره موده ایسار شی۔ نو د هغهٔ سره د خوراک هیڅ نهٔ وی۔

باب ۹۵

بَابُ اِسْتِحْبَابِ التَّبْشِيْرِ وَالتَّهْنِئَةِ بِالْخَيْرِ !!

د خیر په کارونو کښے زیرے او مبارکی ورکول

ف :- دے باب کښے اته آیتونه او څلور احادیث دی۔

(قرآنی آیتونه)

۲۵۰- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[2]: فَبَشِّرْ عِبَادِ الَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ ؕ

۲۵۱- وَقَالَ تَعَالٰى[3]: يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ؕ

۲۵۲- وَقَالَ تَعَالٰى[4]: "وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۔

۲۵۳- وَقَالَ تَعَالٰى[5]: "فَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ حَلِيْمٍ ؕ

۲۵۰- ځما هغه بندګانو ته زیرے واوروه۔ کوم چه ځما کلام خیال او توجه سره آوری۔ او په ښه خبرو باندے عمل کوی۔ (پ۲۳/ زمر)

۲۵۱- د هغوئ رب هغوئ ته زیرے ورکوی د خپل رحمت، جنت او د خوشحالئ، چه هغے کښے به د دوئ د پاره د همیشه اوسیدلو د پاره نعمتونه وی۔ (پ۱۰/ توبه)

۲۵۲- خوشحاله شئ په هغه جنت باندے۔ چه د هغے تا سو سره وعده کړے شوے ده۔ (پ۲۴/ فصلت)

۲۵۳- مونږ هغه ته د صبرناک طبیعته ځوئ زیرے ورکړو۔ (پ۲۳/ صافات)

---

[1] ای الی ان یوقعه فی الاثم [2] سورة الزمر آیة ۱۷-۱۸ [3] سورة التوبة آیة ۲۱ [4] سورة فصلت آیة ۳۰ [5] سورة الصافات آیة ۱۰۱

٢٥٤ - وَقَالَ تَعَالٰى [١]: "وَلَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرَاهِيْمَ بِالْبُشْرٰى".

٢٥٤ - حمونږ ه عزت مندو فرښتو ابراهيم عليه السلام له زيرے راوړے وُو. (پ ١٢ / هود)

٢٥٥ - وَقَالَ تَعَالٰى [٢]: "وَامْرَاَتُهٗ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنَاهَا بِاِسْحَاقَ وَمِنْ وَّرَآءِ اِسْحَاقَ يَعْقُوْبَ".

٢٥٥ - د هغهٔ بي بي چه هلته ولاړه وه، (په زيري وركولو) ئے اوخندل، نو مونږ (بيا) د اسحاق عليه السلام زيرے وركړو. او د دے نه پس د يعقوب عليه السلام. (پ ١٢ هود)

٢٥٦ - وَقَالَ تَعَالٰى [٣]: فَنَادَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ يُّصَلِّيْ فِي الْمِحْرَابِ اَنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيٰى".

٢٥٦ - كله چه هغه محراب كښے مانځه ته اودريدو، او مونځ ئے كولو. نو فرښتو ورته آواز وركړو، چه الله تعالىٰ تا ته د يحيىٰ عليه السلام د پيدا كولو زيرے دركوى. (پ ٣ / عمران)

٢٥٧ - وَقَالَ تَعَالٰى [٤]: اِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يَا مَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيْحُ اَلْاٰيَةَ. وَالْاٰيَاتُ فِي الْبَابِ كَثِيْرَةٌ مَّعْلُوْمَةٌ.

٢٥٧ - چه كله فرښتو مريم بي بي ته اوفرمائيل، اے مريم! الله تعالىٰ تا ته د خپل طرف نه د يوے كلمے (د غورزولو) زيرے دركوى، چه د هغه نوم به مسيح وى. (پ ٣ / عمران)

وَاَمَّا الْاَحَادِيْثُ فَكَثِيْرَةٌ جِدًّا وَهِيَ مَشْهُوْرَةٌ فِي الصَّحِيْحِ مِنْهَا:

(دے باب كښے نور هم ډير مشهور آيتونه شته، چه هر چا ته معلوم دى. د غسے پكښے مشهور حديثونه هم ډير زيات شته دے چه د هغے نه ځينے دا دى:

(نبوى احاديث)

٧١١ - عَنْ اَبِيْ اِبْرَاهِيْمَ وَيُقَالُ اَبُوْمُحَمَّدٍ وَيُقَالُ اَبُوْمُعَاوِيَةَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ اَوْفٰى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَشَّرَ خَدِيْجَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ مِنْ قَصَبٍ لَا صَخَبَ فِيْهِ وَلَا نَصَبَ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"اَلْقَصَبُ" هُنَا: اللُّؤْلُؤُ الْمُجَوَّفُ.
"وَالصَّخَبُ" الصِّيَاحُ وَاللَّغَطُ
وَالنَّصَبُ التَّعَبُ.

٧١١ - حضرت ابو ابراهيم يا ابو محمد يا ابو معاويه عبد الله بن ابى اوفىٰ رضى الله عنهما نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم خديجة الكبرىٰ رضى الله عنها ته جنت كښے د يو عمل زيرے وركړو، چه هغے كښے نه شور وى. او نه به پكښے د سر بوج وى او نه ستومانى او ستړى كيدل. (بخارى و مسلم)

"اَلْقَصَبُ": يعنى قيمتى ملغلره.
"صَخَبٌ": يعنى آواز ونه.
"نَصَبٌ": د سر بوج او ستومانى.

٧١٢ - وَعَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ تَوَضَّاَ فِيْ بَيْتِهٖ ثُمَّ خَرَجَ فَقَالَ لَاَلْزَمَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

٧١٢ - حضرت ابو موسىٰ اشعرى رضى الله عنه نه روايت دے. چه ما كور كښے اودس اوكړو او د كور نه اووتلم. او دا خيال مے اوكړو، چه نن به د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يم. او دا درځ

---

[١] سورة هود آية ٦٩ [٢] سورة هود آية ٧١ [٣] سورة آل عمران آية ٣٩ [٤] سورة آل عمران آية ٤٥

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَاَكُوْنَنَّ مَعَهُ يَوْمِيْ
هٰذَا فَجَاءَ الْمَسْجِدَ فَسَأَلَ عَنِ
النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا:
وَجَّهَ هٰهُنَا قَالَ فَخَرَجْتُ عَلٰى
اَثَرِهٖ اَسْأَلُ عَنْهُ حَتّٰى دَخَلَ بِئْرَ
اَرِيْسٍ فَجَلَسْتُ عِنْدَ الْبَابِ حَتّٰى قَضٰى
رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حَاجَتَهٗ وَتَوَضَّاءَ فَقُمْتُ اِلَيْهِ
فَاِذَا هُوَ قَدْ جَلَسَ عَلٰى بِئْرِ اَرِيْسٍ
وَتَوَسَّطَ قُفَّهَا وَكَشَفَ عَنْ سَاقَيْهِ
وَدَلَّاهُمَا فِي الْبِئْرِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ ثُمَّ
انْصَرَفْتُ فَجَلَسْتُ عِنْدَ الْبَابِ
فَقُلْتُ لَاَكُوْنَنَّ بَوَّابَ رَسُوْلِ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيَوْمَ فَجَاءَ
اَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَدَفَعَ الْبَابَ
فَقُلْتُ مَنْ هٰذَا؟ فَقَالَ اَبُوْ بَكْرٍ
فَقُلْتُ عَلٰى رِسْلِكَ ثُمَّ ذَهَبْتُ
فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هٰذَا اَبُوْ بَكْرٍ
يَسْتَاْذِنُ فَقَالَ اِئْذَنْ لَهٗ وَبَشِّرْهُ
بِالْجَنَّةِ فَاَقْبَلْتُ حَتّٰى قُلْتُ لِاَبِيْ
بَكْرٍ اُدْخُلْ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ يُبَشِّرُكَ
بِالْجَنَّةِ، فَدَخَلَ اَبُوْ بَكْرٍ حَتّٰى
جَلَسَ عَنْ يَمِيْنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَهٗ فِي الْقُفِّ وَدَلّٰى
رِجْلَيْهِ فِي الْبِئْرِ كَمَا صَنَعَ رَسُوْلُ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَشَفَ
عَنْ سَاقَيْهِ ثُمَّ رَجَعْتُ وَجَلَسْتُ
وَقَدْ تَرَكْتُ اَخِيْ يَتَوَضَّاءُ وَيَلْحَقُنِيْ
فَقُلْتُ اِنْ يُرِدِ اللّٰهُ بِفُلَانٍ يُرِيْدُ
اَخَاهُ خَيْرًا يَاْتِ بِهٖ فَاِذَا اِنْسَانٌ
يُحَرِّكُ الْبَابَ فَقُلْتُ مَنْ هٰذَا
فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِؓ. فَقُلْتُ:
عَلٰى رِسْلِكَ ثُمَّ جِئْتُ اِلٰى رَسُوْلِ

به د هغوئ سره تېر وم. د رسول الله
صلی الله علیه وسلم د معلومولو د پاړه
جُماعت (مسجد) ته لاړم. او پوښتنه
مے اوکړه. نو خلقو را ته اشارے کولو سره
اوښودلو، چه هلته تللے دے. زهٔ هغه
طرف ته د هغهٔ د قدمونو پسے رَوان
شوم. او په پوښتنه او په تپوس سره
بیرارِیس (نومے) یو کوهی ته اورسیدم.
او هغې په دروازه کېناستم. رسول الله
صلی الله علیه وسلم د ضرورت نه فارغ شو.
او راغے، او اودس ئے اوکړو. نو زهٔ د
هغوئ طرفته ورَوان شوم. چه ما
اوکتل نو د کوهی په غاړه ناست دے -
پنډئ ئے ښکاره کړی دی. او خپے ئے کوهی
ته زوړندے کړی دی. نو ما سلام اوکړو.
او واپس راغلم، دروازه کښے کېناستم، او
زړهٔ کښے مے اووئیل، نن به زهٔ د رسول
الله صلی الله علیه وسلم دَرباني جوړیږم.
نو دیکښے ابوبکر صدیق رض راغے. دروازه ئے
اووهله. ما پوښتنه اوکړه څوک ئے؟ جواب
ملاؤ شو، ابوبکر رض یم. ما اووئیل، لږ ایسار
شه. بیا د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په
خدمت کښے حاضر شوم او د هغهٔ د راتلو
اجازت مے ترے اوغوښتلو. نو نبی کریم صلی
الله علیه وسلم اوفرمائیل، هغه را پرېږده.
او هغه ته د جنتی کیدو زیرے هم ورکړه.
زهٔ واپس راغلم او عرض مے اوکړو، راځئ،
او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د طرفنه
د جنت زیرے هم قبول کړه. ابوبکر رض هلته
لاړو او د حضور ص سره ښی طرف ته
کېناستلو او کوهی ته ئے خپے زوړندے
کړے. څنګه چه حضور ص ناست وُو. او پنډئ
ئے هم بربنډے کړے. او زهٔ واپس خپل ځائے
ته راغلم او کېناستم. زهٔ چه دلته راغلم،
نو څما وَرور هم اودس کولو. او بیا راتللو
والا وُو. ما سوچ کولو، که الله تعالیٰ ته
څما د وَرور ښېګړه منظوره وی نو هغه
به دلته راولي. دغه وخت چا دروازه اووهله.
ما پوښتنه اوکړه، څوک ئے؟ نو وے وئیل،

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ وَقُلْتُ هٰذَا عُمَرُ يَسْتَأْذِنُ فَقَالَ ائْذَنْ لَهٗ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ فَجِئْتُ عُمَرَ فَقُلْتُ اَذِنَ وَيُبَشِّرُكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجَنَّةِ فَدَخَلَ فَجَلَسَ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْقُفِّ عَنْ يَسَارِهٖ وَدَلّٰى رِجْلَيْهِ فِي الْبِئْرِ ثُمَّ رَجَعْتُ فَجَلَسْتُ فَقُلْتُ اِنْ يُرِدِ اللهُ بِفُلَانٍ خَيْرًا يَعْنِيْ اَخَاهُ يَاْتِ بِهٖ فَجَآءَ اِنْسَانٌ فَحَرَّكَ الْبَابَ فَقُلْتُ مَنْ هٰذَا فَقَالَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ فَقُلْتُ: عَلٰى رِسْلِكَ وَجِئْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبَرْتُهٗ فَقَالَ ائْذَنْ لَهٗ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ مَعَ بَلْوٰى تُصِيْبُهٗ فَجِئْتُ فَقُلْتُ اُدْخُلْ وَيُبَشِّرُكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجَنَّةِ مَعَ بَلْوٰى تُصِيْبُكَ فَدَخَلَ فَوَجَدَ الْقُفَّ قَدْ مُلِئَ فَجَلَسَ وِجَاهَهُمْ مِّنَ الشِّقِّ الْاٰخَرِ قَالَ سَعِيْدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ فَاَوَّلْتُهَا قُبُوْرَهُمْ۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ۔ وَزَادَ فِيْ رِوَايَةٍ وَاَمَرَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحِفْظِ الْبَابِ وَفِيْهَا اَنَّ عُثْمَانَ حِيْنَ بَشَّرَهٗ حَمِدَ اللهَ تَعَالٰى ثُمَّ قَالَ اللهُ الْمُسْتَعَانُ۔

قَوْلُهٗ "وَجَّهَ" بِفَتْحِ الْوَاوِ وَتَشْدِيْدِ الْجِيْمِ: اَيْ تَوَجَّهَ وَقَوْلُهٗ "بِئْرِ اَرِيْسٍ" هُوَ بِفَتْحِ الْهَمْزَةِ وَكَسْرِ الرَّآءِ وَبَعْدَهَا يَآءٌ مُّثَنَّاةٌ مِّنْ تَحْتِ سَاكِنَةٌ ثُمَّ سِيْنٌ

زهٔ عمرؓ یم۔ ما اوویل، لږ ایسار شه۔ بیا د نبی کریم صلی الله علیه وسلم خدمت کښے حاضر شوم۔ سلام مے اوکړو۔ او ورته مے اوویل، چه عمرؓ د راتللو اجازت غواړي۔ حضورؐ اوفرمائیل هغه را پرېږده۔ او هغه ته د جنت زیرے هم ورکړه۔ زهٔ واپس راغلم او عرض مے اوکړو، راځئ۔ او رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنت زیرے هم درکړے دے۔ نو عمرؓ هم د ننه راغے او د کوهي په غاړه حضورؐ سره کس طرف ته کیناستلو او خپلے خپے ئے زوړندے کړے او زهٔ واپس راغلم خپل ځائے کښے کیناستم۔ او زړهٔ کښے مے دا خیال کولو۔ کهٔ الله تعالی ځما ورور ته د ښیګړے اراده اوکړه نو دلته به ئے راولېږي۔ نو فورًا دروازه اووهلے شوه۔ ما پوښتنه اوکړه څوک ئے۔ نو معلومه شوه چه عثمان غنيؓ دے۔ نو ما هغهٔ ته اوویل، انتظار اوکړه۔ او رسول الله صلی الله علیه وسلم له اجازت غوښتلو د پاره حاضر شوم۔ نو حضورؐ اوفرمائیل چه را پرېږده۔ او هغهٔ ته هم د جنت زیرے ورکړه چه سخت امتحان نه پس به ورته جنت ملاوېږي۔ زهٔ راغلم ورته مے اوویل رانوزه او رسول اللهؐ د جنت زیرے درکوی لیکن د یو تکلیف سره چه درته به رسیږي۔ هغه هم د ننه لاړو چه د کوهي غاړه ئے ډکه اولیده نو بل طرف ته هغوئے ته مخامخ کیناستلو۔ نو سعید بن مسیّبؒ فرمائی۔ چه ما د هغوئے د ناستے د ځایونو نه دا اندازه لګولے ده چه دغه درے حضرات به د مرګ نه پس هم یو ځائے ښخولے شي۔ او عثمانؓ به بل جدا ځائے کښے وي۔

(بخاريؒ ومسلمؒ)

یو بل روایت کښے دا سے راغلی دی، چه ابوموسیٰ اشعريؓ فرمائی، چه ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم د دربانۍ کیدو حکم راکړے وُو۔ او کله چه عثمان غنيؓ ته زیرے ورکړے شو نو د الله تعالیٰ د ثناء وصفت نه پس ئے اوویل، چه الله ځما مددګار دے۔

"وَجَّهَ": یعني متوجه شو۔

مُهْمَلَةٌ وَهُوَ مَصْرُوْفٌ وَمِنْهُمْ مَنْ مَنَعَ صَرْفَهُ "وَالْقُفُّ" بِضَمِّ الْقَافِ وَتَشْدِيْدِ الْفَاءِ، وَهُوَ الْمَبْنِيُّ حَوْلَ الْبِئْرِ: قَوْلُهُ عَلٰى رِسْلِكَ بِكَسْرِ الرَّآءِ عَلٰى مَشْهُوْرٍ وَقِيْلَ بِفَتْحِهَا اَیْ اُرْفُقْ.

۷۱۳ - وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا قُعُوْدًا حَوْلَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَنَا اَبُوْبَكْرٍ وَّعُمَرُ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فِیْ نَفَرٍ فَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْنِ اَظْهُرِنَا ـله فَاَبْطَاَ عَلَيْنَا وَخَشِيْنَا اَنْ تُقْتَطَعَ دُوْنَنَا وَفَزِعْنَا فَقُمْنَا فَكُنْتُ اَوَّلَ مَنْ فَزِعَ فَخَرَجْتُ اَبْتَغِیْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى اَتَيْتُ حَآئِطًا لِلْاَنْصَارِ لِبَنِی النَّجَّارِ فَدُرْتُ بِهٖ هَلْ اَجِدُ لَهٗ بَابًا؟ فَلَمْ اَجِدْ فَاِذَا رَبِيْعٌ يَدْخُلُ فِیْ جَوْفِ حَآئِطٍ مِنْ بِئْرٍ خَارِجَةٍ وَالرَّبِيْعُ الْجَدْوَلُ الصَّغِيْرُ فَاحْتَفَرْتُ فَدَخَلْتُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَبُوْهُرَيْرَةَ؟ فَقُلْتُ نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ، قَالَ مَا شَاْنُكَ قُلْتُ كُنْتَ بَيْنَ اَظْهُرِنَا فَقُمْتَ فَاَبْطَاْتَ عَلَيْنَا فَخَشِيْنَا اَنْ تُقْتَطَعَ دُوْنَنَا فَفَزِعْنَا فَكُنْتُ اَوَّلَ مَنْ فَزِعَ فَاَتَيْتُ هٰذَا الْحَآئِطَ فَاحْتَفَرْتُ كَمَا يَحْتَفِرُ الثَّعْلَبُ وَهٰؤُلَآءِ النَّاسُ مِنْ وَّرَآئِیْ فَقَالَ يَا اَبَا هُرَيْرَةَ! وَاَعْطَانِیْ نَعْلَيْهِ فَقَالَ اِذْهَبْ بِنَعْلَیَّ هَاتَيْنِ فَمَنْ

"بِئْرِ اَرِيْسٍ": منصرف یا غیر منصرف. مدینه کښې یو مشهور کوهې دے.

"اَلْقُفُّ": د کوهي غاړه یا منډیر.

"عَلٰى رِسْلِكَ" یعنې نرمي اوکړه، ایسار شه، سَړه اوخوره.

۷۱۳ - حضرت ابوهریره رضی الله عنه وائي. چه مونږ خلق د رسول کریم صلی الله علیه وسلم نه ګیرچاپیره ناست وُو. او ابوبکر او عمر فاروق رضی الله عنهما هم وُو. نو رسول الله **صلی الله علیه وسلم ځمونږ** د مینځ نه پاڅیدو. او بهر ته لاړو. چه واپسي کښې ئې ناوخته کړو. نو مونږ سره خطره او ویره شوه، چه هسې نه چه ځمونږ د نه موجود والي په وجه هغهٔ ته څوک تکلیف اورسوي. دے خیال سره ټول ویرې واخستل. او ټول پاڅیدل. د ټولو نه اول دا ویره ما ته اولګیده. او د حضورؐ تلاش کولو پسې روان شوم. او تلاش کولو او کتلو کښې زهٔ د انصارو د یوې قبیلې بنونجار یو باغ ته اورسیدم. څلور واړه طرف ته مې دروازه اوکتله. مګر د ویرې او خطرې د وجې نه ما ته دروازه ملاؤ نه شوه. فوراً مې د نظر لاندې د باغ په دیوال کښې د اوبو یو ناله اولیده چه د کوهي نه باغ ته هغې کښې اوبه راتلې. او دے د پاره جوړه شوې وه. نو په ملاسته په خوئیدلو زهٔ دغه باغ ته داخل شوم. او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اورسیدم. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، ابوهریره ئې؟ ما اووئیل، هو قربان. رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، ولې څه خبره ده؟ ما عرض اوکړو چه تا سره راغلئ. او واپس راتلو کښې ناوخته شو. نو مونږ ټول دے ویرې واخستلو، چه ځمونږ غیر موجودګۍ کښې چرته چا څه تکلیف نه وي درکړې. او د ټولو نه مخکښې

ـله من بين اظهرنا: اى من بيننا

لَقِيْتَ مِنْ وَرَآءِ هٰذَا الْحَآئِطِ يَشْهَدُ اَنْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهٗ فَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ وَ ذَكَرَ الْحَدِيْثَ بِطُوْلِهٖ - (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

"الرَّبِيْعُ" اَلنَّهْرُ الصَّغِيْرُ وَ هُوَ الْجَدْوَلُ بِفَتْحِ الْجِيْمِ "كَمَا فَسَّرَهٗ فِي الْحَدِيْثِ". وَقَوْلُهٗ "اِحْتَفَرْتُ" رُوِيَ بِالرَّآءِ وَ بِالزَّايِ وَمَعْنَاهُ بِالزَّايِ: تَضَامَمْتُ وَ تَصَاغَرْتُ حَتّٰى اَمْكَنَنِي الدُّخُوْلُ

داویره ماته اولګیده - بیا دے باغ ته راا ورسیدم - او د اوبو په دے وړه ناله کښے دلومبړے په شان په ملاسته په خوئید لو را ننوتلم - او نورخلق ما پسے را روان دی - نبی کریم صلی الله علیه وسلم ماته دواړه پنړے مبارکے راکولو سره اوفرمائیل، ځما دا څپلئ واخله او لاړ شه - او ددے دیوال نه بهرچه تاته څوک هم ملاؤشی، چه په ژبه او زړهٔ دا خلاصه داګواهی ورکړی، چه د الله نه بغیرڅوک د بندګئ لائق نشته - هغه ته د جنت زیرے ورکړه - دے نه پس ابوهریرهؓ کافی اوږد روایت بیان کړو - (مُسلم)

"اَلرَّبِيْعُ": وړوکے نهر - او د جَدْوَلٌ هم دغه معنیٰ ده - حدیث کښے ئے تشریح شـــته -

اِحْتَفَرْتُ او اِحْتَفَزْتُ دواړه نقل شوی دی - چه په زآء سره وی - نو بیا ئے داسے معنیٰ کیدے شی، چه لاس خپے او بدن مے غونډ راغونډ او راټول کړل - او داخلیدو باندے قادر شوم -

۴۱۷ - **وَعَنْ** ابْنِ شُمَاسَةَ قَالَ حَضَرْنَا عَمْرَوبْنَ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَهُوَ فِيْ سِيَاقَةِ الْمَوْتِ[1] فَبَكٰى طَوِيْلًا وَحَوَّلَ وَجْهَهٗ اِلَى الْجِدَارِ فَجَعَلَ اِبْنُهٗ يَقُوْلُ يَا اَبَتَاهُ اَمَا بَشَّرَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَذَا اَمَا بَشَّرَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَذَا؟ مَا اَقْبَلَ بِوَجْهِهٖ فَقَالَ اِنَّ اَفْضَلَ مَا نُعِدُّ شَهَادَةُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ اِنِّيْ قَدْ كُنْتُ عَلٰى اَطْبَاقٍ ثَلَاثٍ لَقَدْ رَاَيْتُنِيْ وَمَا اَحَدٌ اَشَدُّ بُغْضًا لِّرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنِّيْ وَلَا اَحَبَّ اِلَيَّ مِنْ اَنْ اَكُوْنَ قَدِ اسْتَمْكَنْتُ مِنْهُ فَقَتَلْتُهٗ فَلَوْمُتُّ عَلٰى تِلْكَ الْحَالِ لَكُنْتُ مِنْ اَهْلِ النَّارِ فَلَمَّا

۴۱۷ - حضرت ابن شماسه رحمة الله علیه فرمائی - چه مونږ د عمرو بن عاص رضی الله عنه سره د زنکدن په وخت موجود وُو - دغه وخت هغهٔ ډیر زیات ژړل - او مخ ئے دیوال طرفته اوګرځولو - نو دغه وخت دهغه ځوئے (عبدالله رضؓ) اووئیل، اے باباجانه! تاته د فلانئ فلانئ خبرو نبی علیه السلام زیرے نهٔ وُو درکړے؟ (دومره پریشان ولے یئ) هغوئ آسمان ته مخ کړو او وے وئیل، زهٔ ځان دپاره دآخرت توښه لآاله الا الله محمدٌ رسول الله کلمه طیبه ډیره ښه توښه ګنړم - زهٔ په دریو زمانو ورتیرشوم - اوله زمانه هغه وه چه ما به پکښے نبی علیه السلام لیدلو - نو هغه وخت زما نه زیات بُغض او دشمنی کونکے د نبی علیه السلام سره هیڅوک نه وُو - او دغه وخت ماته د دے نه خوښه خبره بله نهٔ وه، چه زهٔ نبی علیه السلام باندے قابو لاندے کړم او قتل ئے کړم - که چیرے ما داسے کړے وے نو زهٔ به جهنمی وے - کله چه الله تعالیٰ ځما زړهٔ کښے د اسلام

---

[1] "فی سیاقة الموت" بکسر المهملة وتخفیف المتحتة: ای حال حضور الموت -

جَعَلَ اللّٰهُ الْاِسْلَامَ فِیْ قَلْبِیْ اَتَیْتُ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ اُبْسُطْ یَمِیْنَكَ فَلِاُبَایِعُكَ فَبَسَطَ یَمِیْنَهٗ فَقَبَضْتُ یَدِیْ فَقَالَ مَالَكَ یَاعَمْرُوْ ؟ قُلْتُ ! اَرَدْتُ اَنْ اَشْتَرِطَ قَالَ تَشْتَرِطُ مَاذَا ؟ قُلْتُ اَنْ یُّغْفَرَ لِیْ قَالَ اَمَا عَلِمْتَ اَنَّ الْاِسْلَامَ یَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهٗ وَاَنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهَا وَاَنَّ الْحَجَّ یَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهٗ ؟ وَمَا كَانَ اَحَدٌ اَحَبَّ اِلَیَّ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَلَا اَجَلَّ فِیْ عَیْنِیْ مِنْهُ اِجْلَالًا لَهٗ وَلَوْ سُئِلْتُ اَنْ اَصِفَهٗ مَا اَطَقْتُ لِاَنِّیْ لَمْ اَكُنْ اَمْلَأُ عَیْنِیْ مِنْهُ وَلَوْ مُتُّ عَلٰی تِلْكَ الْحَالِ لَرَجَوْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ ثُمَّ وُلِّیْنَا اَشْیَآءَ مَا اَدْرِیْ مَا حَالِیْ فِیْهَا ؟ فَاِذَا اَنَا مُتُّ فَلَا تَصْحَبْنِیْ نَآئِحَةٌ وَّلَا نَارٌ فَاِذَا دَفَنْتُمُوْنِیْ فَشُنُّوْا عَلَیَّ التُّرَابَ شَنًّا ثُمَّ اَقِیْمُوْا حَوْلَ قَبْرِیْ قَدْرَ مَا تُنْحَرُ جَزُوْرٌ وَّیُقْسَمُ لَحْمُهَا حَتّٰی اَسْتَاْنِسَ بِكُمْ وَاَنْظُرَ مَاذَا اُرَاجِعُ بِهٖ رُسُلَ رَبِّیْ (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

قَوْلُهٗ "شُنُّوْا" رُوِیَ بِالشِّیْنِ الْمُعْجَمَةِ وَبِالْمُهْمَلَةِ: اَیْ صُبُّوْهُ قَلِیْلًا قَلِیْلًا، وَاللّٰهُ سُبْحَانَهٗ اَعْلَمُ!

را وُرِلو توفیق او طاقت وا چولو ۔ نو زهٔ د هغهٔ خدمت کښې حاضر شوم ۔ او ما عرض اوکړو چه ښے لاس دے را مخکښې کړه ، چه زهٔ ستا سره بیعت اوکړم ۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم لاس را مخکښې کړو ۔ نو ما لاس را ښکلو ۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ، اے عمرو! ولے، څه خبره پیښه شوے ده ؟ نو ما عرض اوکړو ، زهٔ دے بیعت سره شرط تړل غواړم ۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ، چه کوم شرط لګوے او لګوه ۔ او ښایه څه شرط دے؟ ما عرض اوکړو ، یا رسول الله: شرط دا دے ، چه بیعت کولو سره به ځما ګناهونه معاف شی ۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل شاید چه تا ته به معلومه نه وی ، چه اسلام نه مخکښې ګناهونه اسلام راوړلو سره ټول ختمیږی ۔ او هجرت سره هم مخکښې ګناهونه معاف کیږی ۔ دغسې د حج کولو سره د حج کولو نه مخکښې ګناهونه معاف کیږی ۔ نو د غه وخت ما ته د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه زیات هیڅوک محبوب او ګران نه وُو ۔ او نه ځما په نظر کښې د هغهٔ نه زیات څوک عزت والا وُو ۔ او د هغه د لوئے شان د وجې نه ما کښې دا همت نهٔ وُو ۔ چه پوره کتل ورته اوکړم ۔ که ما نه څوک د هغوئ د حُلیئے (شکل او شباهت) متعلق پوښتنه اوکړی ۔ نو زهٔ ئے نهٔ شم بیا نولے ۔ ځکه چه ما ورته په ډکو سترګو نه دی کتلی ۔ که چیرے د غه وخت زهٔ مړ شوے وے ، نو ځما امید وُو ، چه زهٔ به جنتی ووم ۔ دے نه پس ما ته ډیر کارونه او سپارلے شول ۔ نو اوس ما ته نه ده معلومه ، چه د دغه معاملو په باره کښې به ځما څه حال وی ؟ که زهٔ مړ شوم ، نو نه ما پسے اوژاړئ ۔ او نه اور ځان سره واخلئ ۔ او چه ما خښنوئ ، نو لږه لږه خاوره را باندے اچوئ ۔ او ځما ښخولو نه پس ځما د قبر په خواکښې ضرور د ومره وخت ایسار شئ ، څومره وخت کښې چه اوښ حلال کړے شی او بیا تقسیم کړے شی ۔ چه ستا سو موجودګئ کښې ځما حوصله په ځائے وی ۔ او زهٔ ګورم چه ځما د رب رالیږلو فرښتو ته څه جواب ورکوم ۔ (مُسلم)

"شَنُّوْا" او "سَنُّوْا" د دواړو معنیٰ ده : لږه لږه واچوئ ۔

باب ۹۶

بَابُ وَدَاعِ الصَّاحِبِ وَوَصِيَّتِهٖ عِنْدَ فِرَاقِهٖ لِسَفَرٍ وَغَيْرِهٖ وَالدُّعَاءِ لَهٗ وَطَلَبِ الدُّعَاءِ مِنْهُ!!

د ملګري د رخصتولو په وخت وصیت او ورته دُعا کول او ورنه دُعا غوښتل؛

ف:- دے باب کښے یو آیت او شپږ احادیث دی- د ژوند تیرولو ډیرے مرحلے دی- او یوه مرحله پکښے سفر هم دے. او د دے د پاره هم خموږ رهبر محمد صلی الله علیه وسلم په تعلیما تو او هدایا تو او ضروری کارونو کښے لارښوَنه موجوده ده- د زمانے د بدلیدو سره سم حالات هم بدلیږی- د سفر ذرائع اوس څه یو شان دی- او مخکښے څه بل شان وے- اول که د انسان د پاره او ښاز اَسونه تابع وُو- نو نن صبا ریل، موټر، هوائی جهاز، او سمندری بیړئ وغیره هم د انسان د پاره تابع دی- په دے وجه حالاتو بدلیدو سره موږ له د سفر د آدابو خیال او لحاظ په همغه طریقه ساتل پکار دی- څنګه چه اوله زمانه کښے به مسلمانانو د دے خیال ساتلو- او د رخصت په وخت کښے هم نن موږ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ژبے مبارکے نه وتلے او وئیلے شوی دُعاګانو ته هغسے حاجت مند یو- څنګه چه همیشه وُو-

(قرآنی آیت)

۲۵۸- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[1] وَوَصّٰى بِهَآ اِبْرٰهِيْمُ بَنِيْهِ وَيَعْقُوْبُ يٰبَنِيَّ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى لَكُمُ الدِّيْنَ فَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ حَضَرَ يَعْقُوْبَ الْمَوْتُ اِذْ قَالَ لِبَنِيْهِ مَا تَعْبُدُوْنَ مِنْۢ بَعْدِیْ قَالُوْا نَعْبُدُ اِلٰهَكَ وَاِلٰهَ اٰبَآئِكَ اِبْرٰهِيْمَ وَ اِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ اِلٰهًا وَّاحِدًا وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ-

۲۵۸- د دے خبرے وصیت ابراهیم علیه السلام خپلو ځامنو ته کړے وُو- او هم دا خبره یعقوب علیه السلام خپلو ځامنو ته د وصیت په طریقه کړے وه- چه اے ځامنو! الله تعالیٰ ستاسو د پاره دین خوښ کړے دے- نو د اسلام په حالت کښے دے تاسوله مرګ راشی- آیا تاسو هغه وخت حاضر ووئ- چه کله د یعقوب علیه السلام زنکدن شروع شو- نو ځامنو نه ئے پوښتنه اوکړه- او ښائی څما نه پس به د چا بندګی کوئ؟ نو هغوئ جواب کښے اووئیل، چه موږ ستا او ستا د پلرونو مشرانو ابراهیم علیه السلام، اسماعیل علیه السلام او د اسحاق علیه السلام د معبود بندګی کوُو- چه یو الله دے- او موږ به د هغه منونکی یو-

(پ۲، بقره)

نبوی احادیث

۷۱۵- وَاَمَّا الْاَحَادِيْثُ فَمِنْهَا حَدِيْثُ زَيْدِ بْنِ اَرْقَمَ رض الَّذِیْ سَبَقَ فِیْ بَابِ اِکْرَامِ اَهْلِ بَيْتِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۷۱۵- او دے باب کښے چه کوم احادیث دی د هغے نه حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه نه یو روایت (د باب اکرام اهلِ بیتِ رسول الله صلی الله علیه وسلم کښے تیر شوے دے) وائی- چه رسول الله صلی الله علیه وسلم

---

[1] سورة بقرة آية ۱۳۲

وَسَلَّمَ قَالَ قَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْنَا خَطِيْبًا فَحَمِدَ اللهَ وَاَثْنٰى عَلَيْهِ وَوَعَظَ وَذَكَّرَ ثُمَّ قَالَ اَمَّا بَعْدُ اَلَا اَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ يُوْشِكُ[1] اَنْ يَّاْتِيَ رَسُوْلُ رَبِّيْ فَاُجِيْبَ وَاَنَا تَارِكٌ فِيْكُمْ ثَقَلَيْنِ اَوَّلُهُمَا كِتَابُ اللهِ فِيْهِ الْهُدٰى وَالنُّوْرُ فَخُذُوْا بِكِتَابِ اللهِ فَاسْتَمْسِكُوْا بِهٖ فَحَثَّ عَلٰى كِتَابِ اللهِ وَرَغَّبَ فِيْهِ ثُمَّ قَالَ وَاَهْلُ بَيْتِيْ اُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِيْ اَهْلِ بَيْتِيْ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَقَدْ سَبَقَ بِطُوْلِهٖ !!

مونږ کښے د خطبے لوستلو د پاره اودريدو- د الله تعالیٰ د تعريف او صفت نه پس ئے خه وعظ او نصيحت اوکړو، اوئے فرمائيل، اے خلقو! فکر او غور سره واورئ- زهٔ هم يو انسان يم- او ماله به ډير زر د رب راليږلے (د مرګ فرښته) راشي- او زهٔ به د الله تعالیٰ بلل قبول کړم- زهٔ تاسو ته دوه ډير غټ څيزونه پريږدم- ړومبے د الله کتاب قرآن دے- چه ټول په ټول، هدايت او رڼړا ده- نو د عمل کولو د پاره ئے کلک او پوخ اونيسئ او په دے قائم پاتے شئ- او بيائے قرآن پاک کښے د غور او فکر کولو په باره کښے ترغيبی ارشادات اوفرمائيل- او دوئم څيز ځما اهلِ بيت دی- زهٔ د خپلو اهلِ بيتو په باره کښے تاسو د الله تعالیٰ نه ويره ودوم- (مُسلم)

د غسے يو اوږد حديث مخکښے تير شوے دے-

۷۱۶- وَعَنْ اَبِیْ سُلَيْمَانَ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ اَتَيْنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ شَبَبَةٌ مُتَقَارِبُوْنَ فَاَقَمْنَا عِنْدَهٗ عِشْرِيْنَ لَيْلَةً، وَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِيْمًا رَفِيْقًا فَظَنَّ اَنَّا قَدِ اشْتَقْنَا اَهْلَنَا فَسَاَلَنَا عَمَّنْ تَرَكْنَا مِنْ اَهْلِنَا- فَاَخْبَرْنَاهُ فَقَالَ: اِرْجِعُوْا اِلٰى اَهْلِيْكُمْ وَاَقِيْمُوْا فِيْهِمْ وَعَلِّمُوْهُمْ وَمُرُوْهُمْ وَصَلُّوْا صَلٰوةَ كَذَا فِیْ حِيْنِ كَذَا وَصَلُّوْا كَذَا فِیْ حِيْنِ كَذَا، فَاِذَا حَضَرَتِ الصَّلٰوةُ فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ اَحَدُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ اَكْبَرُكُمْ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. زَادَ الْبُخَارِیُّ فِیْ رِوَايَةٍ لَهٗ وَصَلُّوْا كَمَا رَاَيْتُمُوْنِیْ اُصَلِّیْ ؞

۷۱۶- حضرت ابوسليمان بن حويرث رض وائی- چه مونږ يو څو همزولی ځوانان د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کښے حاضر شو- او شل ورځے پاتے شو- رسول الله صلی الله عليه وسلم ډير شفقت کونکے، نرم زړے او مهربانه وُو- نو خيال ئے اوکړو- (چه دومره موده اوسيدلو نه پس به کور واله ورياد شوی وی، او) ځمونږ به کور ته د تللو شوق شوے وی- نو مونږ نه ئے پوښتنه اوکړه، چه کور کښے ستاسو څوک څوک دی؟ مونږ ورته په تفصيل سره اوښودل- نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه اوس کورونو ته واپس لاړ شئ- او کور کښے اوسيږئ- څه چه تاسو دلته زده کړل، هغه هلته اوښايئ- او هغوئ ته اووايئ چه په دے عمل اوکړی- او فلانکے مونځ فلانکی وخت کښے او فلانے فلانے مونځ فلانکی فلانکی وخت کښے کوئ- او کله چه د مانځه وخت شی نو تاسو کښے دے يو کس د مانځه نه مخکښے آذان کوی- او څوک چه په تاسو کښے مشر وی، هغه دے مونځ ورکوی-
(بُخاری ومُسلم)

---

[1] "يوشك" بكسر الشين: اي يقرب-

او د بخاری په یو روایت کښې زیادت هم شته، چه "مونږ داسې کوئ، څنګه چه تاسو زۀ په مانځه کولو اولیدم.

قَوْلُهُ: رَحِيْمًا رَفِيْقًا" رُوِيَ بِفَآءٍ وَقَافٍ، وَرُوِيَ بِقَافَيْنِ -

"رَفِيْقًا" او "رَقِيْقًا" دواړه روایتونه شته دے.

۷۱۷ - وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعُمْرَةِ فَأَذِنَ وَقَالَ: لَا تَنْسَانَا يَا أُخَيَّ مِنْ دُعَائِكَ فَقَالَ كَلِمَةً مَا يَسُرُّنِيْ أَنَّ لِيْ بِهَا الدُّنْيَا وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ: أَشْرِكْنَا يَا أُخَيَّ فِيْ دُعَآئِكَ" رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

۷۱۷ - حضرت عمر فاروق رضی الله عنه نه روایت دے. چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه عمرے ته د تللو اجازت واخستلو. نو اجازت راکولو سره ئے را ته اوفرمائیل، څما وروره! مونږ په دُعاګانو کښې هیر نه کړے. نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه دغه وخت کومه کلمه اوفرمائیله، په هغې سره چه ما ته کومه خوشحالی ورسیده. دا ټوله دُنیائے قیمت کښې هیڅ نه ده. یو روایت کښې داسې هم شته، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، اے وروره! مونږ خپلو دُعاګانو کښې شامل کړه. (ابوداؤد و ترمذی)

امام ترمذیؒ وائی، چه دا حدیث حسن صحیح دے.

۷۱۸ - وَعَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا كَانَ يَقُوْلُ لِلرَّجُلِ إِذَا أَرَادَ سَفَرًا اُدْنُ مِنِّيْ حَتّٰى أُوَدِّعَكَ كَمَا كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوَدِّعُنَا فَيَقُوْلُ أَسْتَوْدِعُ اللّٰهَ دِيْنَكَ وَأَمَانَتَكَ وَخَوَاتِيْمَ عَمَلِكَ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

۷۱۸ - حضرت سالم بن عبد الله بن عمر فاروق رضی الله عنهما وائی. چه کله به کوم یو کس په سفر تلل غوښتل. نو هغۀ ته به عبد اللهؓ فرمائیل، چه ماله راشه، چه زۀ دے په هغه دُعاګانو سره رخصت کړم. په کومو دعاګانو به چه مونږ لره رسول الله صلی الله علیه وسلم رخصتولو. نو د رخصت کولو دپاره به ئے دا دُعا وئیله: (ترجمه) زۀ ستا دین، ستا آمانت او ستا آخری عمل الله تعالیٰ ته سپارم. (ترمذی)

۷۱۹ - وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ يَزِيْدَ الْخَطْمِيِّ الصَّحَابِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يُوَدِّعَ الْجَيْشَ يَقُوْلُ أَسْتَوْدِعُ اللّٰهَ دِيْنَكُمْ وَأَمَانَتَكُمْ وَخَوَاتِيْمَ أَعْمَالِكُمْ حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَغَيْرُهُ بِإِسْنَادٍ صَحِيْحٍ.

۷۱۹ - حضرت عبد الله بن یزید خطمی صحابی رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د لښکر د رخصتولو په وخت دا الفاظ فرمائیل. (ترجمه) زۀ ستاسو دین، ستاسو امانتونه او ستاسو آخری عملونه الله تعالیٰ ته سپارم. (ابوداؤد)

۷۲۰ - وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ

۷۲۰ - حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے. چه یو کس د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو.

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّیْ اُرِيْدُ سَفَرًا فَزَوِّدْنِیْ فَقَالَ زَوَّدَكَ اللّٰهُ التَّقْوٰی: قَالَ زِدْنِیْ قَالَ وَغَفَرَ ذَنْبَكَ قَالَ زِدْنِیْ قَالَ وَيَسَّرَلَكَ الْخَيْرَ حَيْثُمَا كُنْتَ رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ.

اوعرض ئے اوکړو، یارسول الله! زهٔ به سفر روان یم. نو د دُعا کانو څه توښه راته راکړئ. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، الله تعالیٰ دے پرهیزګاری د لارے توښه کړه. هغه عرض اوکړو نورهم څه راته اووایئ. نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته دُعا اوکړه. چه الله تعالیٰ دے ګناهونه معاف کړه. هغه بیا اووئیل، نورهم څه اووایئ. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه کوم ځائے کښے ئے. الله تعالیٰ دے تا ته خیرا و ښیګړه آسا نه کړی. (ترمذی)

امام ترمذی رحمة الله علیه وائی چه دا حدیث حسن دے.

باب ۹۷

بَابُ الْاِسْتِخَارَةِ وَالْمُشَاوَرَةِ

استخاره او مشوره کول

ف ۱. دے باب کښے دوه آیتونه او یو حدیث دے. د استخارے معنیٰ ده خیر غوښتل. او استخاره سُنت ده. احادیثو کښے د دے تاکید هم شته او ترغیب هم. په ناجائزه او مکروهه خبرو کښے استخاره منع ده. د استخارے مطلب دا دے چه بنده خپل الله تعالیٰ ته عرض کوی. چه فلانئ خبره یا فلانے کار ځما مخے ته دے. چه دے باندے عمل کول ځما د پاره فائده مند دی. که نقصان والا دی. ماته معلومه نهٔ ده. تا ته زاری کوم چه ما ته د دے کار فائده او نقصان اوښایه او خبر ئے راکړه. دا خبر څو طریقو سره ملاوېږی. عام طورسره استخاره کښے دوه رکعته استخاره مونځ کولے شي. او دُعا وئیل دی. د مکروه وختونو نه علاوه هروخت د استخارے مونځ کولے شی.

(قرآنی آیتونه)

۲۵۹- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی ؎ وَشَاوِرْهُمْ فِی الْاَمْرِ!

۲۶۰- وَقَالَ تَعَالٰی ؎: وَاَمْرُهُمْ شُوْرٰی بَيْنَهُمْ اَیْ يَتَشَاوَرُوْنَ بَيْنَهُمْ فِيْهِ

۲۵۹- چه په خاصو کارونو کښے د صحابه کراموؓ نه مشورے اخله. (پ ۴/ ال عمران/ آیت ۱۵۹)

۲۶۰- د هغوئ هر یو کار په مشورے سره وی. (یعنی خپل مینځ کښے مشورے کوی) (پ ۲۵/ شوریٰ/ آیة ۳۸)

(نبوی احادیث)

۷۲۱- وَعَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا الْاِسْتِخَارَةَ فِی الْاُمُوْرِ كُلِّهَا كَالسُّوْرَةِ مِنَ الْقُرْاٰنِ يَقُوْلُ اِذَا هَمَّ اَحَدُكُمْ بِالْاَمْرِ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الْفَرِيْضَةِ ثُمَّ لِيَقُلْ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْتَخِيْرُكَ بِعِلْمِكَ وَاَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ

۷۲۱- حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به موږ ته د قرآن د سورة په شان په ټولو کارونو کښے استخاره ښودله. او فرمائیل به ئے، که تا سو ته څه اهم کار پېښ شی. نو دوه رکعته نفل کوئ. او د مانځه نه چه فارغ شئ. نو دا دُعا وایئ. متن کښے دُعا اوګوره. (ترجمه): اے الله! زهٔ ستا د علم په ذریعه (د دے معاملے نه)

وَاَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيْمِ فَاِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا اَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا اَعْلَمُ وَاَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ: اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ خَيْرٌ لِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِيْ اَوْ قَالَ عَاجِلِ اَمْرِيْ وَاٰجِلِهٖ فَاقْدُرْهُ لِيْ وَيَسِّرْهُ لِيْ ثُمَّ بَارِكْ لِيْ فِيْهِ وَاِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ شَرٌّ لِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمُعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِيْ اَوْ قَالَ عَاجِلِ اَمْرِيْ وَاٰجِلِهٖ فَاصْرِفْهُ عَنِّيْ وَاصْرِفْنِيْ عَنْهُ وَاقْدُرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ رَضِّنِيْ بِهٖ قَالَ وَيُسَمِّيْ حَاجَتَهٗ.

(رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)

خبریدل غواړم. او ستا د قدرت په ذریعه (دا په عمل کښې دراوستلو) قدرت غواړم. او تا نه ستا لوئ فضل غواړم، ځکه چه ستا قدرت شته او زۀ بے وسه یم. تۀ په هرڅۀ پوهیږے. زۀ نه پوهیږم. په پټو خیزونو ستا ذات پوهیږی. اے الله! کۀ ستا په علم کښې دا کار دینی، معاشی او په اعتبار د انجام سره ځما د پاره ښۀ وی (یا ئے دا الفاظ اوفرمائیل) چه دا کار دُنیا او آخرت کښې (غوره وی). نو ماله طاقت پرے راکړے. او ځما د پاره ئے آسان کړے. او بیا پکښې برکت هم واچوے. او کۀ ستا په علم کښې دا کار دینی، معاشی او په اعتبار د انجام سره ځما د پاره بد وی یا (ئے داسے اوفرمائیل، چه) دا کار دُنیا او آخرت کښې بد وی. نو دهغې خیال ځما د زړۀ نه اوباسے. او ما ترے اوساتے. او ځما د پاره چه کوم ځائے خیر وی ماله ئے راکړے. او ما پرے راضی او خوشحاله اوساتے. دده دُعا نه پس خپل ضرورت او حاجت بیان کړه. (بُخاری)

باب ۹۸

بَابُ اِسْتِحْبَابِ الذَّهَابِ اِلَى الْعِيْدِ وَعِيَادَةِ الْمَرِيْضِ وَالْحَجِّ وَالْغَزْوِ وَالْجَنَازَةِ وَنَحْوِهَا مِنْ طَرِيْقٍ وَالرُّجُوْعِ مِنْ طَرِيْقٍ اٰخَرَ لِتَكْثِيْرِ مَوَاضِعِ الْعِبَادَةِ !!!

د خیر په کارونو کښې په مختلفو لارو تلل راتلل

ف:- دے باب کښې صرف دوۀ احادیث دی. کوم کارونو کښې چه د مختلفو لارو نه تلل راتلل مستحب او خوښ کړے شوی دی. هغې کښې دا کارونه هم دی. اخترونه، د مریض پوښتنه، حج، غزا کانے، جنازه وغیره. دا کارونه په عباداتو کښې شامل دی. او عباداتو کښې په هر یو قدم یوه یوه نیکی ملاویږی. نو ځکه په تلو راتلو چه څومره زیات قدمونه اوچتولے شی. نو هغه هومره به ثواب زیات ورکولے شی. نو ځکه مختلفو لارو سره تلل راتلل مستحب اوګرځولے شو.

(نبوی احادیث)

۷۲۲- عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا كَانَ يَوْمُ عِيْدٍ خَالَفَ الطَّرِيْقَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

"قَوْلَهٗ" خَالَفَ الطَّرِيْقَ: يَعْنِيْ

۷۲۲. حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د اخترونو د پاره د تلو راتلو مختلفې لارے اختیارولے. (یعنی په یوه لاره به تللو او په بله به راتللو). (بُخاری)

ذَهَبَ فِيْ طَرِيْقٍ وَرَجَعَ فِيْ طَرِيْقٍ اٰخَرَ.

خالف الطریق : یعني په یوه لاره به تللو او په بله لاره به راتلو۔

۷۲۳. وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَخْرُجُ مِنْ طَرِيْقِ الشَّجَرَةِ وَيَدْخُلُ مِنْ طَرِيْقِ الْمُعَرَّسِ وَاِذَا دَخَلَ مَكَّةَ دَخَلَ مِنَ الثَّنِيَّةِ الْعُلْيَا[1] وَيَخْرُجُ مِنَ الثَّنِيَّةِ السُّفْلٰى۔ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۷۲۳ ۔ حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے ۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د شجرے په لارے تللو ۔ او واپس به په معرس لاره سره راتللو ۔ او کله به چه مکے ته داخلیدونو په ثنیه عُلیا به داخلیدو او په ثنیه سُفلیٰ به واپس راتلو۔ (بُخاري ومُسلم)

باب ۹۹

بَابُ اِسْتِحْبَابِ تَقْدِيْمِ الْيَمِيْنِ فِيْ كُلِّ مَاهُوَ مِنْ بَابِ التَّكْرِيْمِ !!

هر یو ښه کار په ښي لاس سره مستحب دے ۔

ف :۔ دے باب کښے دوه آیتونه او اووه حدیثونه دی ۔ باب کښے د عنوان لاندے مصنف رحمة الله علیه دا اُمور ذکر کړي دی ۔

كَالْوُضُوْءِ وَالْغُسْلِ وَالتَّيَمُّمِ وَلُبْسِ الثَّوْبِ وَالنَّعْلِ وَالْخُفِّ وَالسَّرَاوِيْلِ وَدُخُوْلِ الْمَسْجِدِ وَالسِّوَاكِ وَالْاِكْتِحَالِ وَتَقْلِيْمِ الْاَظْفَارِ وَقَصِّ الشَّارِبِ وَنَتْفِ الْاِبْطِ وَحَلْقِ الرَّأْسِ وَالسَّلَامِ مِنَ الصَّلٰوةِ وَالْاَكْلِ وَالشُّرْبِ وَالْمُصَافَحَةِ وَاِسْتِلَامِ الْحَجَرِ الْاَسْوَدِ وَالْخُرُوْجِ مِنَ الْخَلَاۤءِ وَالْاَخْذِ وَالْاِعْطَاۤءِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ مِمَّا هُوَ فِيْ مَعْنَاهُ وَيُسْتَحَبُّ تَقْدِيْمُ الْيَسَارِ فِيْ ضِدِّ ذٰلِكَ كَالْاِسْتِمْخَاطِ وَالْبُصَاقِ عَنِ الْيَسَارِ وَدُخُوْلِ الْخَلَاۤءِ وَالْخُرُوْجِ مِنَ الْمَسْجِدِ وَخَلْعِ الْخُفِّ وَالنَّعْلِ وَالسَّرَاوِيْلِ وَالثَّوْبِ وَالْاِسْتِنْجَاۤءِ وَفِعْلِ الْمُسْتَقْذَرَاتِ وَاَشْبَاهِ ذٰلِكَ.

لکه اودس کول ، غُسل ، تیمم ، کپړے ، پڼړے ، خپلئ ، موزے او پرتوګ اغوستل ، جومات ته ننوتل ، مسواک وهل ، رانجه لګول ، نوکان پریکول ، بریت بریکول ، د ترخونو د بخته صفا کول ، د سر ویښته خریئل ، مانځه کښے سلام ګرځول ، خوراک کول ، سکاک کول ، مصافحه کول ، او حجر اسود ته سلام کول یا ښکلول ، بیت الخلاء نه بهر راتلل ۔ د چا نه څه څیز آخستل یا ورکول ۔ دے نه علاوه چه کوم کار هم د دے په شان وی ، مغه کول ۔ د دے کارونو نه خلاف نور کارونه په ګس لاس سره کول مستحب دی ۔ لکه پوزه پاکول . ګس طرف ته لاړے تو کل ، تهتئ ته داخلیدل ، جومات نه بهر وتل ، موزے ، خپلئ ، کپړے ، قمیص وغیره ویستل ، استنجاء کول ۔ او نور پلیت کارونه دا ټول حدیثونو کښے ذکر شوی دی ۔ او دا سُنت د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دی ۔ خاصکرد خوراک په معامله کښے علماؤ سخت تاکید کړے دے ۔ او دے ته ئے واجب ویلی دی . مخکښے یو باب کښے یوه واقعه تیره شوے ده . چه یو

---

[1] الثنیة بفتح [illegible] کسر النون وتشدید التحتیة : الطریق الضیقة بین الجبلین والثنیة العلیا بالمعجون والسفلی بالشبیکة ::

سړي ته نبي کريم صلى الله عليه وسلم په ښي لاس د خوراک کولو هدايت او کړو نو د دې باوجودې هم په کس لاس خوراک کولو. او په ښي لاس ئې نه کولو. نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم د ښيرو په شکل دا سې الفاظ او فرمائيل، چه بيا کله هم د هغهٔ ښي لاس خولې ته و نه رسيدو. په سُنتو باندې عمل کول هروخت او هرحال کښې د خيراو برکت سبب دې. نو د دې خلاف کولو کښې يا قصدًا ور سره خلاف کولو کښې هروخت د گناه او د خفگان خطره او ويره وي.

(قرآني آيتونه)

۲۶۱ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى [1]: فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتَابَهٗ بِيَمِيْنِهٖ فَيَقُوْلُ هَاؤُمُ [2] اقْرَءُوْا كِتَابِيَهْ - الاٰية

۲۶۱ - چا ته چه عمل نامه په ښي لاس ورکړې شي. هغه به په خوشحالۍ سره وائي، راشئ. زما عملنامه اولولئ.
(پ ۲۹ / حاقه)

۲۶۲ - وَقَالَ تَعَالٰى [3]: فَاَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ مَآ اَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ، وَ اَصْحَابُ الْمَشْئَمَةِ مَآ اَصْحَابُ الْمَشْئَمَةِ.

۲۶۲ - کوم چه ښي لاس والا دي. هغه خومره ښه طرف والا دي. او کوم چه کس لاس واله دي. هغه خومره خراب طرف واله دي.
(پ ۲۷ / واقعه)

(نبوي احاديث)

۷۲۴ - وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْجِبُهُ التَّيَمُّنُ [4] فِيْ شَاْنِهٖ كُلِّهٖ فِيْ طُهُوْرِهٖ، وَتَرَجُّلِهٖ وَتَنَعُّلِهٖ - مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۷۲۴ - حضرت عائشه رضي الله عنها وائي، چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به خپلو ټولو کارونو کښې او دس کولو کښې، گومنز وهلو کښې خپلۍ په خپو کولو کښې، ښي لاس او ښي طرف خوښولو.
(بُخاري ومُسلم)

۷۲۵ - وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ يَدُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيُمْنٰى لِطُهُوْرِهٖ وَطَعَامِهٖ، وَ كَانَتِ الْيُسْرٰى لِخَلَائِهٖ وَمَا كَانَ مِنْ اَذًى حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ، رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَغَيْرُهٗ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ.

۷۲۵ - دا روايت هم د حضرت عائشه رضه دې. چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم به ښي لاس د پاکۍ د پاره او د خوراک د پاره وُو. او کس لاس به ئې دا ستنجا يا د دې په شان نورو کارونو د پاره وُو.
دا حديث صحيح دې. امام ابوداؤد او نورو به صحيح سند سره روايت کړې دې.

۷۲۶ - وَعَنْ اُمِّ عَطِيَّةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُنَّ فِيْ غُسْلِ ابْنَتِهٖ زَيْنَبَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اِبْدَاْنَ بِمَيَامِنِهَا وَ مَوَاضِعِ الْوُضُوْءِ مِنْهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۷۲۶ - حضرت اُمّ عطيه رضي الله عنها فرمائي، چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلې (مړې) لور زينب رضي الله عنها د لمبولو په وخت ښځو ته او فرمائيل، چه په ښي اړخ د دې او د اودس د اندامو نو نه شروع کوئ.
(بُخاري ومُسلم)

۷۲۷ - وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

۷۲۷ - حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې. چه رسول الله صلى الله عليه

---

[1] سورة الحاقة آية ١٩ [2] هاؤم: اي خذوا ١٢ [3] سورة الواقعة آية ٨-٩ [4] التيمن: اي استعمال اليمين. ٥ والطهور: استعمال الماء في الوضوء ونحوه. ٦ الترجل: تسريح شعر الراس ٧ والتنعل: ادخال الرجل في النعل !!

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا انْتَعَلَ اَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَاْ بِالْيُمْنٰى وَإِذَا نَزَعَ فَلْيَبْدَاْ بِالشِّمَالِ. لِتَكُنِ الْيُمْنٰى اَوَّلَهُمَا تُنْعَلُ وَآخِرَهُمَا تُنْزَعُ".

(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

وسلم اوفرمائیل، کله چه تاسو کښې څوک څپلۍ په خپوکول غواړي نو شروع دې د ښي طرف نه کوي. او کله چه څپلۍ اوباسي نو کسه دې اول اوباسي. دې د پاره چه ښئ اول شي په خپوکولو کښې او په ویستلو کښې آخره شي. (بخاريؒ ومسلمؒ)

۷۲۸۔ وَعَنْ حَفْصَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَجْعَلُ يَمِيْنَهٗ لِطَعَامِهٖ وَ شَرَابِهٖ وَ ثِيَابِهٖ، وَ يَجْعَلُ يَسَارَهٗ لِمَا سِوٰى ذٰلِكَ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَغَيْرُهٗ.

۷۲۸۔ حضرت حفصه رضی الله عنها فرمائي، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به خوراک سکاک او جامو آغوستلو کښې ښې لاس استعمالولو. او نورو کارونو کښې به ئې کس لاس استعمالولو.

(ابوداؤد)

۷۲۹۔ وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا لَبِسْتُمْ وَإِذَا تَوَضَّأْتُمْ فَابْدَءُوْا بِاَيَامِنِكُمْ حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَ التِّرْمِذِيُّ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ!!

۷۲۹۔ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، کله چه تاسو جامې آغوندئ. او کله چه اودس کوئ. نو ښي طرف نه شروع کوئ. (ترمذی وابوداؤد)

امام ترمذی رحمة الله علیه وائي، چه دا حدیث صحیح دې.

۷۳۰۔ وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتٰى مِنًى فَاَتَى الْجَمْرَةَ فَرَمَاهَا، ثُمَّ اَتٰى مَنْزِلَهٗ بِمِنًى وَّ نَحَرَ ثُمَّ قَالَ لِلْحَلَّاقِ "خُذْ" وَاَشَارَ اِلٰى جَانِبِهِ الْاَيْمَنِ ثُمَّ الْاَيْسَرِ ثُمَّ جَعَلَ يُعْطِيْهِ النَّاسَ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لَمَّا رَمَى الْجَمْرَةَ وَ نَحَرَ نُسُكَهٗ ؂ وَ حَلَقَ نَاوَلَ الْحَلَّاقَ شِقَّهُ الْاَيْمَنَ فَحَلَقَهٗ ثُمَّ دَعَا اَبَا طَلْحَةَ الْاَنْصَارِيَّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَاَعْطَاهُ اِيَّاهُ ثُمَّ نَاوَلَهُ الشِّقَّ الْاَيْسَرَ فَقَالَ: اِحْلِقْ فَحَلَقَهٗ فَاَعْطَاهُ اَبَا طَلْحَةَ فَقَالَ اقْسِمْهُ بَيْنَ النَّاسِ.

۷۳۰۔ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه وائي. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم کله منیٰ ته تشریف راوړو، نو جمره (شیطان) ئې اوویشتلو. بیا خپل ځائې ته منیٰ ته لاړو. او قرباني ئې اوکړه. او بیائې نائي ته اوفرمائیل شروع کوئ. او اشاره ئې د ښي طرفنه د شروع کولو اوکړه. او بیا کس طرفنه. بیائې هغه ویښتهٔ خلقو کښې تقسیم کړل. (بخاري ومسلم)

یو روایت کښې دا سې هم راغلي دي. چه کله نبي کریم صلی الله علیه وسلم شیطانان اوویشتل، او قرباني ئې اوکړه. او د سر خرئیلو اراده ئې اوکړه. نو نائي ته ئې د ښي طرفنه خرئیلو اشاره اوکړه. د دغه طرف ورله نائي اوخرئیلو. بیائې نائي ته د کس طرف د خرئیلو اشاره اوکړه. کله چه نائي دغه هم اوخرئیلو، نو ابوطلحه رضی ته ئې اوویل، چه دا تقسیم کړه خلقو کښې.

؂ "نسکه بضمتین" ای هدیه الذی ساقه معه صلی الله علیه وسلم!

باب ۱۰۰

بَابُ اٰدَابِ الطَّعَامِ بَابُ التَّسْمِيَةِ فِيْ اَوَّلِهٖ وَالْحَمْدِ فِيْ اٰخِرِهٖ !!

د خوراک کولو آداب

ف: ۔ دے باب کښے اته حدیثونه دی۔ د خوراک د شروع نه مخکښے بسم الله وئیل او وروسته الحمد لله وئیل سُنت دی۔ علماؤ وئیلی دی، چه د له کښے هر یو کس له بسم الله وئیل پکار دی۔ مگر بعضے علماؤ وئیلی دی، چه که یو کس او وئیله، یا څو کسانو او وئیله، نو د ټولو د طرف نه کافی کیږی۔

(نبوی احادیث)

۷۳۱۔ عَنْ عُمَرَ بْنِ اَبِیْ سَلَمَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِّ اللّٰهَ وَكُلْ بِيَمِيْنِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيْكَ۔ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۷۳۱۔ حضرت عمر بن ابی سلمه رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته ادب راکړو۔ چه بسم الله وایه او ښی لاس سره خوراک کوه۔ او خپلے مخے نه خوره۔ (بخاری و مسلم)

۷۳۲۔ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَكَلَ اَحَدُكُمْ فَلْيَذْكُرِ اسْمَ اللّٰهِ تَعَالٰی فِیْ اَوَّلِهٖ فَلْيَقُلْ بِسْمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَالتِّرْمِذِیُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ::

۷۳۲۔ حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی۔ چه تاسو کښے څوک خوراک کوی نو پکار دی، چه شروع کښے بسم الله اووائی۔ او که اول کښے تره بسم الله هیره شی نو چه کله ورياد شی، نو "بِسْمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ" دے اووائی۔ (ترجمه) (د الله په نوم شروع هم او ختمول هم)۔ (ابو داؤد و ترمذی) امام ترمذیؒ وائی، چه دا حدیث حسن صحیح دے

۷۳۳۔ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهٗ فَذَكَرَ اللّٰهَ تَعَالٰی عِنْدَ دُخُوْلِهٖ وَعِنْدَ طَعَامِهٖ قَالَ الشَّيْطَانُ لِاَصْحَابِهٖ لَا مَبِيْتَ لَكُمْ وَلَا عَشَاءَ وَاِذَا دَخَلَ فَلَمْ يَذْكُرِ اللّٰهَ تَعَالٰی عِنْدَ دُخُوْلِهٖ قَالَ الشَّيْطَانُ اَدْرَكْتُمُ الْمَبِيْتَ وَاِذَا لَمْ يَذْكُرِ اللّٰهَ تَعَالٰی عِنْدَ طَعَامِهٖ قَالَ اَدْرَكْتُمُ الْمَبِيْتَ وَالْعَشَاءَ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ ::

۷۳۳۔ حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرمائیلی آوریدلی دی۔ چه کله څوک خپل کور ته ننوتو په وخت او د خوراک شروع کولو په وخت کښے الله یاد کړی یعنی بسم الله اووائی۔ نو شیطان خپلو کشرانو شیطانانو ته وائی، د دے ځائے نه تښتئ۔ دلته نه ستاسو د اوسیدو انتظام شته او نه د خوراک څه شته۔ او که چه څوک کور ته د ننوتو په وخت بسم الله او نه وائی۔ نو شیطان وائی، راځئ د شپے تیرولو انتظام اوشو۔ او د خوراک په وخت چه بسم الله او نه وائی، نو شیطان وائی، راځئ د خوراک انتظام هم اوشو۔ (مسلم)

۷۳۴۔ وَعَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا اِذَا حَضَرْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا لَمْ نَضَعْ اَيْدِيَنَا حَتّٰى يَبْدَاَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَضَعُ يَدَهٗ وَاِنَّا حَضَرْنَا مَعَهٗ مَرَّةً طَعَامًا فَجَآءَتْ جَارِيَةٌ كَاَنَّهَا تُدْفَعُ فَذَهَبَتْ لِتَضَعَ يَدَهَا فِي الطَّعَامِ فَاَخَذَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهَا ثُمَّ جَآءَ اَعْرَابِيٌّ كَاَنَّمَا يُدْفَعُ فَاَخَذَ بِيَدِهٖ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الشَّيْطَانَ يَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ اَنْ لَا يُذْكَرَ اسْمُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاِنَّهٗ جَآءَ بِهٰذِهِ الْجَارِيَةِ لِيَسْتَحِلَّ بِهَا فَاَخَذْتُ بِيَدِهَا فَجَآءَ بِهٰذَا الْاَعْرَابِيِّ لِيَسْتَحِلَّ بِهٖ فَاَخَذْتُ بِيَدِهٖ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ اِنَّ يَدَهٗ فِيْ يَدِيْ مَعَ يَدَيْهِمَا ثُمَّ ذَكَرَ اسْمَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَاَكَلَ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

۷۳۴۔ حضرت حذیفه رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم سره به مونږ ته دخوراک موقع ملاؤ شوه۔ نو مونږ به هیڅ هم هغه وخته پورے خوراک ته لاس نه اوچتولو۔ ترڅو پورے به چه رسول الله صلی الله علیه وسلم شروع نه وه کړے۔ یو وارے داسے موقع پیښه شوه۔ چه یوه ماشومه په حملے سره راغله لکه چه دیکه کړے شوے وی۔ او خوراک ته ئے لاس کړو۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ئے لاس اونیولو۔ د ماشومے نه پس یو بانډچی هم په خوراک ځان را اوغورزولو۔ او خوراک ته ئے لاس اچولو۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ئے لاس اونیولو۔ او وے فرمائیل، چه هغه خوراک چه د الله نوم پرے وانخستلے شی۔ شیطان ئے ځان د پاره حلاله کنړی۔ او دا ماشومه هم دغه شیطان راوستلے وه۔ او دے د خوراک کولو په وجه ئے ځان له حلالولو۔ چه ما د دغه ماشومے لاس اونیولو۔ شیطان (چه دا اولیدل نو) یو بانډچی ئے راوستو۔ ما د هغه لاس هم اونیولو۔ او په الله قسم، چه د دے دواړو لاس سره د شیطان لاس هم زما لاس کښے دے۔ بیا ئے بسم الله اووئیله، او خوراک ئے شروع کړو۔ (مُسلمؒ)

۷۳۵۔ وَعَنْ اُمَيَّةَ بْنِ مَخْشِيٍّ الصَّحَابِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا وَرَجُلٌ يَاْكُلُ فَلَمْ يُسَمِّ اللّٰهَ حَتّٰى لَمْ يَبْقَ مِنْ طَعَامِهٖ اِلَّا لُقْمَةٌ[1] فَلَمَّا رَفَعَهَا اِلٰى فِيْهِ قَالَ بِسْمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ مَا زَالَ الشَّيْطَانُ يَاْكُلُ مَعَهٗ فَلَمَّا ذَكَرَ

۷۳۵۔ حضرت اُمیه بن مخشی صحابی رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په موجودگئ کښے یو کس خوراک کولو۔ او بسم الله ئے (غالبًا) نه وه وئیلے۔ ټول خوراک ئے اوکړو، او صرف یوه نمړئ باقی پاتے وه۔ چه هغه ئے خوړله۔ نو بِسْمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ ئے اووئیل۔ دغه وخت نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوخندل۔ او وے فرمائیل، چه د ده سره د شروع نه شیطان هم خوراک کولو۔ چه کله ئے د الله نوم واخستلو۔ نو شیطان چه څه خوړلی دی۔ ټول ئے قے کولو

---

[1] "بلقمتین" ای فی لقمتین !

اسْمَ اللّٰهِ اسْتَقَاءَ مَا فِيْ بَطْنِهٖ. (رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ)

سره راووېستل.
(ابوداؤد و ترمذی)

۷۳۶ - وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ طَعَامًا فِيْ سِتَّةٍ مِّنْ اَصْحَابِهٖ فَجَاءَ اَعْرَابِيٌّ فَاَكَلَهٗ بِلُقْمَتَيْنِ لَهٗ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَا اِنَّهٗ لَوْسَمّٰى لَكَفَاكُمْ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

۷۳۶ - حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی، چه یو وارے رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو شپږو ملګرو سره خوراک کولو. چه په موقع باندے یو بانډچی هم خوراک کښې شامل شو. او په دوؤ نمړو سره ئې خوراک ټول اوخوړلو. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، که بسم الله ئې وئیلے وے. نو دا خوراک به د ټولو دپاره کافی شوے وُو. (ترمذیؒ)

۷۳۷ - وَعَنْ اَبِيْ اُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا رَفَعَ مَائِدَتَهٗ قَالَ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُّبَارَكًا فِيْهِ غَيْرَ مُكْفِيٍّ وَّلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

۷۳۷ - حضرت ابوامامه رضی الله عنه نه روایت دے. چه د خوراک نه پس به چه کله د سترخوان اوچتولے شو. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا دُعا لوستله: (ترجمه): "هر قسم تعریف او صفتونه الله تعالیٰ لره ثابت دی. چه پاک او طیب دی. چه (حق ادا کولو دپاره) نهٔ کافی دے او نه د هغې نه بے نیازه او بے پروائی کیدلے شی. (بخاریؒ)

۷۳۸ - وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اَكَلَ طَعَامًا فَقَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَطْعَمَنِيْ هٰذَا وَرَزَقَنِيْهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِّنِّيْ وَلَا قُوَّةٍ غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ ؛

امام ترمذیؒ وائی چه دا حدیث حسن دے.

۷۳۸ - حضرت معاذ بن انس رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه چا خوراک اوکړو او دا دُعائې اوکړه. (ترجمه) ټول صفتونه هغه الله دپاره دی. چه ما ته ئې خوراک راکړو. او څما د طاقت او کوشش رزق ئې راکړو. نو د هغه مخکښې تیر شوی ګناهونه به ټول معاف کړے شی.
(ابوداؤدؒ و ترمذیؒ)

باب ۱۰۱

بَابُ لَا يُعِيْبُ الطَّعَامَ وَاسْتِحْبَابُ مَدْحِهٖ ؛ په خوراک کښې عیب راوبښکل

ف:- دے باب کښې صرف دوه احادیث دی.

۷۳۹ - عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مَا عَابَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا قَطُّ اِنِ اشْتَهَاهُ اَكَلَهٗ وَاِنْ كَرِهَهٗ

۷۳۹ - حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم کله هم په خوراک کښې عیب نهٔ دے راویستلے. که شوق ئې کیدو، نو

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ شَرَّ الرِّعَاءِ الْحُطَمَةُ [1] فَإِيَّاكَ أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ⁘

بادشاه هغه دے، چه خپلو ماتحتو سره سختي کوي. نو احتیاط کوئ، هسې نه چه دا سے خلقو کښې شمار کړے شئ. (بخاري ومسلم)

٦٦١ - وَعَنْ أَبِي مَرْيَمَ الْأَزْدِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ لِمُعَاوِيَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ وَلَّاهُ اللهُ شَيْئًا مِنْ أُمُورِ الْمُسْلِمِينَ فَاحْتَجَبَ دُونَ حَاجَتِهِمْ وَخَلَّتِهِمْ وَفَقْرِهِمْ احْتَجَبَ اللهُ دُونَ حَاجَتِهِ [2] وَخَلَّتِهِ وَفَقْرِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَجَعَلَ مُعَاوِيَةُ رَجُلًا عَلَى حَوَائِجِ النَّاسِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ ⁘

٦٦١ - حضرت ابومریم ازدی رضی الله عنه نه روایت دے. چه ما امیرمعاویه رض ته اووئیل، چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرمائیلي آوریدلی دی، چه الله تعالیٰ چه چا لره د مسلمانانو په معاملاتو کښې د څه خبرے ذمه وار جوړ کړي. او هغه د هغوئ د ضرورتونو، حاجتونو او ګړدان تیرولو نه ناخبره او بے پروا اوسی. او مخ پټولو سره ترے اعراض وکړي. نو د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ هم د هغهٔ د مقصدونو او ضرورتونو نه مخ اوګرځوی. دا چه امیرمعاویه رضی الله عنه واوریدل، نو یو دا سے سړے ئے مقرر کړو، چه د خلقو د ضرورتونو او حاجتونو خیال به ئے ساتلو، او هغه به ئے پوره کولو. (ابوداؤد، ترمذی)

باب ۷۹

الْوَالِي الْعَادِلُ!

انصاف دار حاکم؛

ف:- دے باب کښې دوه قرآني آیتونه او څلور نبوی احادیث دی.

قرآني آیتونه

٢٢٩ - قَالَ اللهُ تَعَالَى [3] "إِنَّ اللهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ" الْآيَةَ

٢٢٩ - بے شکه الله تعالیٰ د عدل او انصاف او احسان او رشته دارانو ته د ورکړے حکم کوی. (پ۱۴/ نحل)

٢٣٠ - قَالَ تَعَالَى [4]: "وَأَقْسِطُوا [5] إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ".

٢٣٠ - انصاف کوئ. بیشکه الله تعالیٰ دا نصاف خاوندان خوښوی. (پ۲۶/ حجرات)

نبوی احادیث

٦٦٢ - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ، إِمَامٌ عَادِلٌ وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ

٦٦٢ - حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، اووه قسمه سړي دا سے دی، چه الله تعالیٰ به په هغوئ خپل سورے اوکړي. چه په هغه ورځ به د الله تعالیٰ د سوری نه بغیر بل سورے نه وی. (۱) انصاف

---

[1] "الرعاء" بكسر الراء اخره الف ممدودة. جمع راع. "والحطمة" بضم المهملة الاولى وفتح الثانية العنيف برعائه الابل. ضربه صلى الله عليه وسلم مثلا لوالى السوء، اى القاسى الذى يظلمهم ولا يرق لهم ولا يرحمهم [2] اى لم يجب له دعاء ولم يحق له املا [3] سورة النحل آية ٩٠ [4] سورة الحجرات آية ٩ [5] "واقسطوا" بفتح الهمزة "اى اعدلوا" ⁘

تَرَكَهُ"۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ∴

۷۴۰۔ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَ اَهْلَهُ الْاُدُمَ له : فَقَالُوْا مَا عِنْدَنَا اِلَّا خَلٌّ فَدَعَا بِهِ، فَجَعَلَ يَاْكُلُ وَيَقُوْلُ نِعْمَ الْاُدُمُ الْخَلُّ نِعْمَ الْاُدُمُ الْخَلُّ (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

خوړلو به ئې۔ او که شوق به ئې نهٔ وُو نو نهٔ به ئې خوړلو۔ (بُخاري ومُسلم)

۷۴۰۔ حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو وارے د کور والا نه ترکارے اوغوښتله۔ نو هغوئ اووئیل چه ترکاري نشته او سرکه شته دے۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم سرکه اوغوښتله۔ او دے سره ئې خوراک اوکړو۔ او دائې اوفرمائیل، سرکه خومره ښه ترکاري ده۔ سرکه خومره ښه ترکاري ده۔ (مُسلمؒ)

باب ۱۰۲

بَابُ مَا يَقُوْلُهُ مَنْ حَضَرَ الطَّعَامَ وَهُوَ صَائِمٌ اِذَا لَمْ يُفْطِرْ !!

روژه دار ته خوراکه وړاندے کول

ف :۔ دے باب کښے صرف یو حدیث دے۔

(نبوی حدیث)

۷۴۱۔ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا دُعِيَ اَحَدُكُمْ فَلْيُجِبْ فَاِنْ كَانَ صَائِمًا فَلْيُصَلِّ وَاِنْ كَانَ مُفْطِرًا فَلْيَطْعَمْ رَوَاهُ مُسْلِمٌ۔

قَالَ الْعُلَمَاءُ مَعْنَى، فَلْيُصَلِّ فَلْيَدْعُ۔ وَمَعْنَى " فَلْيَطْعَمْ" فَلْيَاْكُلْ۔

۷۴۱۔ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، کله چه یوکس به تاسو کښے خوراک ته اوبللے شي۔ او روژه ئې نه وي، نو خوراک دے اوکړي۔ او که روژه ئې وي نو هغهٔ د پاره دُعا اوکړي۔ (مُسلمؒ)

فَلْيُصَلِّ : دُعا دے اوکړي۔
فَلْيَطْعَمْ : خوراک دے اوکړي۔

باب ۱۰۳

بَابُ مَا يَقُوْلُهُ مَنْ دُعِيَ اِلٰى طَعَامٍ فَتَبِعَهُ غَيْرُهُ !!

که طفیلي ورسره شي

ف :۔ دے باب کښے صرف یو حدیث دے۔

(نبوی حدیث)

۷۴۲۔ عَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدٍ الْبَدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: دَعَا رَجُلٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِطَعَامٍ صَنَعَهُ لَهُ خَامِسَ خَمْسَةٍ فَتَبِعَهُمْ رَجُلٌ فَلَمَّا بَلَغَ الْبَابَ قَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِنَّ

۷۴۲۔ حضرت ابومسعود بدري رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه یوکس نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه د خوراک دعوت ورکړو۔ او د پنځهٔ کسانو خوراک ئې تیار کړو۔ مګر یو کس د حضورؐ سره بغیر د بللو نه لاړو۔ کله چه د کور والا دروازے ته اورسیدل، نو نبی کریم صلی الله علیه

له ۔ "الادم" بسکون الدال مفرد کادام؛ هو ما یؤدم به مائعا کان او جامدا ∴

هَذَا تَبِعَنَا فَإِنْ شِئْتَ أَنْ تَأْذَنَ وَإِنْ شِئْتَ رَجَعَ قَالَ بَلْ آذَنُ لَهٗ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ۔

(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

وسلم اوفرمائیل۔ چه دا کس بغیر د دعوت نه راغلی دے۔ که ستا خوښه وی اجازت ورکړه۔ که دے خوښه نه وی، نو چه واپس لاړ شی۔ کوروالا اووئیل، یا رسول الله! هغهٔ ته هم اجازت ورکوم۔

(بخاریؒ و مسلمؒ)

باب ۱۰۴

بَابُ الْأَكْلِ مِمَّا يَلِيْهِ وَوَعْظِهٖ وَتَادِيْبِهٖ مَنْ يُسِيْءُ أَكْلَهٗ!!

د خپلې مخې نه خوړل

ف:- دے باب کښے صرف دوه احادیث دی۔ د زندګئ د هرکار په شان د خوراک هم څهٔ آداب شته دے۔ یو آدب دے باب کښے ذکر شوے دے۔ چه د خپلې مخې نه خوراک کول د جمهورو علماؤ په نزد مستحب دی۔

(نبویؐ احادیث)

۷۴۳۔ عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِيْ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ غُلَامًا فِيْ حِجْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَتْ يَدِيْ تَطِيْشُ فِي الصَّحْفَةِ فَقَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا غُلَامُ سَمِّ اللّٰهَ وَكُلْ بِيَمِيْنِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيْكَ۔

(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

قَوْلُهٗ: "تَطِيْشُ" بِكَسْرِ الطَّاءِ وَبَعْدَهَا يَاءٌ مُثَنَّاةٌ مِنْ تَحْتِ مَعْنَاهُ تَتَحَرَّكُ وَتَمْتَدُّ إِلَى نَوَاحِي الصَّحْفَةِ۔

۷۴۳۔ حضرت عمر بن ابی سلمه رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه زهٔ ماشوم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په پرورش او پالنه کښے وم۔ څما پالنه د هغوئ کره شوے وه۔ د خوراک په وخت به ما خپل لاس د ترکارئ په لوښی کښے ګرځولو۔ نو ما ته د تنبیه په طور نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه اے وړوکیه! اول شروع کښے بسم الله وایه او بیا ښی لاس سره او د خپلې مخې نه خوراک کوه۔

(بخاریؒ و مسلمؒ)

"تَطِيْشُ": یعنی حرکت کول او لاس اوږدول د لوښی غاړو ته۔

۷۴۴۔ وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا أَكَلَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِمَالِهٖ فَقَالَ كُلْ بِيَمِيْنِكَ قَالَ لَا أَسْتَطِيْعُ قَالَ: لَا اسْتَطَعْتَ مَا مَنَعَهٗ إِلَّا الْكِبْرُ فَمَا رَفَعَهَا إِلٰى فِيْهِ۔

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۷۴۴۔ حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه وائی۔ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندے یو کس په کس لاس سره خوراک کولو۔ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه ښی لاس سره خوراک کوه۔ هغه اووئیل، نهٔ ئے شم خوړلے۔ حضورؐ اوفرمائیل، صحیح ده۔ بیا دے هډو او نه خوړے شی۔ او دغه انکار ئے صرف د کبر د وجهے نه وُو۔ څه عذر یا بیماری نهٔ وه۔ مګر بیائے ښے لاس د دے نه پس خپلې خولے ته او نه رسولے شو۔ (مسلمؒ)

باب ۱۰۵

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْقِرَانِ بَيْنَ تَمْرَتَيْنِ وَنَحْوِهِمَا اِذَا اَكَلَ جَمَاعَةٌ اِلَّا بِاِذْنِ رُفْقَتِهٖ!!

کجوره وغیره دوه دوه خوړل

ف:۔ دے باب کښې صرف یو حدیث دے۔ د خوراک یو ادب دا هم دے، چه کجوره یا بل داسې میوه چه په یو ځل دوه یا درې خوړلے شي۔ د هغې خوراک دے په معلومه او مشهوره طریقې سره کولے شي۔ پابندي دے اوکړے شي. چه د ملګرو څه اعتراض نه وي نو بیا دوه دوه خوراک جائز دے۔ لیکن که یو ملګرے خفه وي نو بیا جائز نه دے۔ او که ښکاره اجازت وي نو بیا څه باک نشته۔ او که ښکاره اجازت نه وي۔ نو د ملګرو د جذباتو خیال ساتل هم ادب دے

۷۴۵۔ عَنْ جَبَلَةَ بْنِ سُحَيْمٍ قَالَ اَصَابَنَا عَامُ سَنَةٍ مَعَ ابْنِ الزُّبَيْرِ فَرُزِقْنَا تَمْرًا وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا يَمُرُّ بِنَا وَنَحْنُ نَاْكُلُ فَيَقُوْلُ لَا تُقَارِنُوْا فَاِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْقِرَانِ ثُمَّ يَقُوْلُ: اِلَّا اَنْ يَسْتَاْذِنَ الرَّجُلُ اَخَاهُ۔

(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۷۴۵۔ حضرت جبله بن سحیمؒ وائي۔ چه کله مونږ د عبد الله بن زبیر رض سره وُو۔ نو قحط راغے۔ نو څه مونږ د خوراک د پاره صرف کجورے وے۔ کله چه به مونږ کجورے خوړلے، نو عبد الله بن عمر فاروق رضی الله عنهما به هلته تیریدلو۔ نو وئیل به ئے چه دوه کجورے یو ځائے مه خورئ۔ ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د دغسے خوراک نه منع کړے ده۔ او دا به ئے هم وئیل، چه د شریکو ملګرو نه اجازت واخله، نو بیا خوړلے شے۔ (بخاری و مسلم)

باب ۱۰۶

بَابُ مَا يَقُوْلُهٗ وَيَفْعَلُهٗ مَنْ يَاْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ؛

که څوک په خوراک نه مړیږي نو!

ف:۔ دے باب کښې صرف یو حدیث دے۔

۷۴۶۔ عَنْ وَحْشِيِّ بْنِ حَرْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ اَصْحَابَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ! اِنَّا نَاْكُلُ وَلَا نَشْبَعُ قَالَ فَلَعَلَّكُمْ تَفْتَرِقُوْنَ قَالُوْا نَعَمْ. قَالَ فَاجْتَمِعُوْا عَلٰى طَعَامِكُمْ، وَاذْكُرُوا اسْمَ اللهِ يُبَارِكْ لَكُمْ فِيْهِ۔

(رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ)

۷۴۶۔ حضرت وحشي بن حرب رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملګرو عرض اوکړو۔ چه یا رسول الله! مونږ خوراک کوُو او مړیږو نه۔ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه غالبًا تاسو ځان ځان له خوراک کوئ۔ هغوئ اووئیل، هو قربان۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، خپله خپله خوراکه یو ځائے جمع کړئ۔ او بسم الله اووایئ، او بیا خوراک کوئ۔ نو دے کښے به برکت وي۔ (ابوداؤد)

له في حجر رسول الله ۰ بكسر المهملة وفتحها: اى تحت نظرة صلى الله عليه وسلم؛

باب ۱۰

بَابُ الْاَمْرِ بِالْاَكْلِ مِنْ جَانِبِ الْقَصْعَةِ وَالنَّهْيِ عَنِ الْاَكْلِ مِنْ وَسْطِهَا !!

کاسه او پلیټ کښې د خپلې مخې نه خوره ؛

ف:- دے باب کښې دوه احادیث دی۔
دے باره کښې د خپلې مخې نه د خوراک کولو کوم هدایت چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلے دے۔ هغه مخکښې ذکر شوے دے۔

(نبوی احادیث)

۷۴۷۔ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اَلْبَرَكَةُ تَنْزِلُ وَسَطَ الطَّعَامِ فَكُلُوْا مِنْ حَافَتَيْهِ[1] وَلَا تَاْكُلُوْا مِنْ وَسْطِهٖ" رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

۷۴۷۔ حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه برکت د د لوښی او د خوراک په مینځ کښې نازلیږی۔ نو د غاړے نه خوراک کوئ، او د مینځ نه خوراک مه کوئ (چه د برکت اثر د خوراک آخره پورے وی او ډیرو غړو کښې د برکت اثر شامل شی)۔ (ابوداؤدؒ وترمذیؒ)

امام ترمذیؒ وائی چه دا حدیث حسن صحیح دے۔

۷۴۸۔ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَصْعَةٌ يُقَالُ لَهَا الْغَرَّآءُ[2] يَحْمِلُهَا اَرْبَعَةُ رِجَالٍ فَلَمَّا اَضْحَوْا وَسَجَدُوا الضُّحٰى اُتِيَ بِتِلْكَ الْقَصْعَةِ يَعْنِيْ وَقَدْ ثُرِّدَ فِيْهَا فَالْتَفُّوْا عَلَيْهَا فَلَمَّا كَثُرُوْا جَثَا[3] رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَعْرَابِيٌّ مَا هٰذِهِ الْجِلْسَةُ[4] فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِنَّ اللّٰهَ جَعَلَنِيْ عَبْدًا كَرِيْمًا وَّلَمْ يَجْعَلْنِيْ جَبَّارًا[5] عَنِيْدًا ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

۷۴۸۔ حضرت عبد الله بن بسر رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه کاسه وه، چه هغې ته به غرّاء وئیلے شوه۔ او ډیره درنه وه۔ چه څلورو کسانو به وړلے شوه۔ صبا د څاښتی مونځ نه چه خلق فارغ شول نو هغه کاسه راوړلے شوه۔ چه په هغې کښې ثرید (یعنی بنوروا کښې ماته کړے روټئ وه)۔ خلق ترے گیر چاپیره کیناستل او ګنړه هم زیاته وه۔ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپو په سر کیناستو۔ نو یو بانډچی اووئیل، دا تاسو څنګه کیناستئ۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه زه الله تعالیٰ عاجزی کوونکے بنده پیدا کړے یم۔ سرکشه او عنادی ئې نه یم پیدا کړے۔ بیائې ارشاد اوفرمائیلو۔ د غاړے نه خوراک

---

[1] "من حافتيه" بتخفيف الفاء: اي من ناحيتيه۔ [2] "يقال لها الغراء": بالغين المعجمة: سميت غراء لبياضها بالالية والشحم او لبياض برها او لبياضها باللبن۔

[3] "جثا رسول الله صلى الله عليه وسلم" بالجيم والمثلثة اي قعد على ركبتيه جالسا على ظهور قدمی

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُوْا مِنْ حَوَالَيْهَا وَدَعُوْا ذِرْوَتَهَا يُبَارَكْ فِيْهَا" رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ بِاِسْنَادٍ جَيِّدٍ.

"ذِرْوَتَهَا" اَعْلَاهَا: بِكَسْرِ الذَّالِ وَضَمِّهَا!!

کوئ. او مینځ هم داسے پریږدئ. ځکه چه دے کښے برکت نازلیږی.

"ذِرْوَتُهَا": یعنی مینځ کښے اوچته حصه.

باب ۱۰۸

بَابُ كَرَاهِيَةِ الْاَكْلِ مُتَّكِئًا :: تکیه لګولو سره خوراک کول مکروه دی

ف :. دے باب کښے صرف دوه احادیث دی.

(نبوی احادیث)

۷۴۹. عَنْ اَبِیْ جُحَيْفَةَ وَهْبِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا اٰكُلُ مُتَّكِئًا رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ.

قَالَ الْخَطَّابِیُّ اَلْمُتَّكِئُ هٰهُنَا هُوَ الْجَالِسُ مُعْتَمِدًا عَلٰى وِطَاءٍ تَحْتَهٗ[1] قَالَ وَاَرَادَ اَنَّهٗ لَا يَقْعُدُ عَلَى الْوِطَاءِ وَالْوَسَائِدِ كَفِعْلِ مَنْ يُرِيْدُ الْاِكْثَارَ مِنَ الطَّعَامِ بَلْ يَقْعُدُ مُسْتَوْفِزًا لَا مُسْتَوْطِنًا وَيَاْكُلُ بُلْغَةً[2] هٰذَا كَلَامُ الْخَطَّابِیِّ وَاَشَارَ غَيْرُهٗ اِلٰى اَنَّ الْمُتَّكِئَ هُوَ الْمَائِلُ عَلٰى جَنْبِهٖ - وَاللّٰهُ اَعْلَمُ.

۷۴۹. حضرت ابو جحیفه وهب بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دے، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی، زۀ د ډډه لګولو سره خوراک کول نۀ خوښوم. (بخاریؒ) امام خطابی رحمة الله علیه د تیک او ډډے لګولو نه دا مراد آخستے دے. چه ګدۍ، تکیه وغیره لاندے خوره کړی. او بیا کینی او ډډه اولګوی یا خوره پربوځی. یا خپې خورے کړے کینی لکه چه څنګه ډیر خوراک کونکی داسے کینی. بلکه راغونډ دے کینی. خور وُور دے نه کینی. او بعضو داسے وضاحت کړے دے. چه دا اشاره هغه چا ته ده چه یو طرف ته تیت شوے ناست وی خوراک کوی.

۷۵۰. وَعَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا مُقْعِيًا يَاْكُلُ تَمْرًا رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

"**اَلْمُقْعِیْ**" هُوَ الَّذِیْ يُلْصِقُ اَلْيَتَيْهِ بِالْاَرْضِ وَيَنْصِبُ سَاقَيْهِ.

۷۵۰. حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے. چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم د ناستے په حالت کښے اولیدلو. چه د خپو په سر ناست وُو. او کجورے ئے خوړلے. (مُسلم)

"اَلْمُقْعِیْ": یعنی داسے کیناستل چه زنګنونه ئے ولاړ وی او کوناټے ئے په زمکه لګیدلی وی.

باب ۱۰۹

بَابُ اسْتِحْبَابِ الْاَكْلِ بِثَلَاثِ اَصَابِعَ وَاسْتِحْبَابِ لَعْقِ الْاَصَابِعِ وَكَرَاهَةِ مَسْحِهَا قَبْلَ لَعْقِهَا وَاسْتِحْبَابِ لَعْقِ الْقَصْعَةِ وَاَخْذِ اللُّقْمَةِ الَّتِیْ تَسْقُطُ مِنْهُ وَاَكْلِهَا وَجَوَازِ مَسْحِهَا بَعْدَ اللَّعْقِ بِالسَّاعِدِ

---

[1] "وطاء تحته" بكسر الواو و تخفيف المهملة والالف ممدودة: المهاد الوطئ [2] "ويأكل بلغة" بضم الموحدة وسكون اللام: اى يكتفى و يجتزئ به.

وَالْقَدَمِ وَغَيْرِهِمَا !!

په درېو ګوتو خوراک کول !!

ف ۱۔ دے باب کښے اووه حدیثونه دی۔ امام نووی رحمة الله علیه د باب د عنوان لاندے دا مسئلے بیان کړی دی: د ګوتو څټل او د څټلو نه اول رومال سره د صفا کولو مکروه کیدل، پیالئ په ګوتو سره څټل او غورځیدلے نمړئ را اوچتول او صفا کولو او بیا خوړلو استحباب۔ د ګوتو د څټلو نه پس ګوتے په پنډو سره یا د خپو په تلو سره د صفا کولو اجازت وغیره۔

(نبوی احادیث)

۷۵۱۔ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَكَلَ اَحَدُكُمْ طَعَامًا فَلَا يَمْسَحْ اَصَابِعَهٗ حَتّٰى يَلْعَقَهَا، اَوْ يُلْعِقَهَا"۔
(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۷۵۱۔ حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه څوک خوراک اوکړی نو هغهٔ له پکار دی، چه د ګوتو صفا کولو یا څټلو نه مخکښے دے په رومال سره نهٔ صفا کوی۔
(بخاریؒ ومسلمؒ)

۷۵۲۔ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَاْكُلُ بِثَلَاثِ اَصَابِعَ فَاِذَا فَرَغَ لَعِقَهَا
(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۷۵۲۔ حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم په درېو ګوتو سره په خوراک کولو لیدلے دے۔ کله به چه فارغ شو، نو ګوتے به ئے څټلے۔
(مسلمؒ)

۷۵۳۔ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَرَ بِلَعْقِ الْاَصَابِعِ وَالصَّحْفَةِ وَقَالَ: اِنَّكُمْ لَا تَدْرُوْنَ فِيْ اَيِّ طَعَامِكُمُ الْبَرَكَةُ"۔
(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۷۵۳۔ حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د ګوتو او د لوښی د صفا کولو هدایت ډیر کولو۔ او فرمائیل به ئے۔ چه تاسو ته پته نشته دے، چه د خوراک کومه حصه ستاسو د پاره د برکت والا ده۔
(مسلمؒ)

۷۵۴۔ وَعَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا وَقَعَتْ لُقْمَةُ اَحَدِكُمْ فَلْيَاْخُذْهَا فَلْيُمِطْ[1] مَا كَانَ بِهَا مِنْ اَذًى وَلْيَاْكُلْهَا وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ وَلَا يَمْسَحْ يَدَهٗ بِالْمِنْدِيْلِ حَتّٰى يَلْعَقَ اَصَابِعَهٗ فَاِنَّهٗ لَا يَدْرِيْ فِيْ اَيِّ طَعَامِهِ الْبَرَكَةُ۔
(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۷۵۴۔ دا روایت هم د حضرت جابر رضی الله عنه نه دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه که د خوراک په وخت کښے تاسو نه چیرته نمړئ پریوځی، نو را اوچته ئے کړئ او صفا ئے کړئ۔ بیا ئے اوخورئ۔ شیطان خوراک ته ئے مهٔ پریږدئ۔ او ګوتے د څټلو نه مخکښے په رومال مهٔ صفا کوئ۔ ځکه چه معلومه نه ده چه د خوراک په کومه حصه کښے برکت دے۔
(مسلمؒ)

---

[1] فلیمط: بضم التحتیة وکسر المیم وبالطاء المهملة: ای فلیزل

[2] ان نسلت القصعة: بفتح النون وضم اللام: ای نمسحها !!

۷۵۵۔ وَعَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِنَّ الشَّيْطَانَ يَحْضُرُ اَحَدَكُمْ عِنْدَ كُلِّ شَيْءٍ مِنْ شَأْنِهِ، حَتّٰى يَحْضُرَهُ عِنْدَ طَعَامِهِ فَاِذَا سَقَطَتْ لُقْمَةُ اَحَدِكُمْ فَلْيَاْخُذْهَا فَلْيُمِطْ مَا كَانَ بِهَا مِنْ اَذًى ثُمَّ لْيَاْكُلْهَا وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ فَاِذَا فَرَغَ فَلْيَلْعَقْ اَصَابِعَهُ فَاِنَّهُ لَا يَدْرِيْ فِيْ اَيِّ طَعَامِهِ الْبَرَكَةُ۔

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۷۵۵۔ دا روایت هم د جابر رضی الله عنه نه دے۔ چه رسول الله صلّی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه شیطان تاسو سره هر وخت ستاسو کارونو کښې موجود وی۔ او د خوراک په وخت کښې هم۔ کله چه څه نمړۍ (دسترخوان یا مزکه باندے) پریوځی۔ نو هغه اوچتوئ، او وریورے لګیدلے خاوره وغیره ترے لرے کړئ او بیائے اوخورئ۔ او شیطان ته ئے مه پریږدئ۔ او کله چه د خوراک نه فارغ شئ نو خپلے ګوتے څټئ۔ ولے چه پته نه لګی چه د خوراک په کومه حصه کښې برکت دے۔ (مُسلم رح)

۷۵۶۔ وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَكَلَ طَعَامًا لَعِقَ اَصَابِعَهُ الثَّلَاثَ وَقَالَ: اِذَا سَقَطَتْ لُقْمَةُ اَحَدِكُمْ فَلْيَاْخُذْهَا وَلْيُمِطْ عَنْهَا الْاَذٰى وَلْيَاْكُلْهَا وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ وَاَمَرَنَا اَنْ نَسْلُتَ الْقَصْعَةَ وَقَالَ اِنَّكُمْ لَا تَدْرُوْنَ فِيْ اَيِّ طَعَامِكُمُ الْبَرَكَةُ

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۷۵۶۔ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله خوراک کولو۔ نو خپلے درے ګوتے (دوه ګوتے او یوه قته ګوته) بهٔ ئے څټله) او دا به ئے فرمائیل، که تاسو نه نمړۍ پریوځی نو هغه اوچته کړئ او د خاورو نه صفا کړئ او بیائے اوخورئ۔ او شیطان ته ئے مه پریږدئ۔ او مونږ ته ئے دا هدایت هم کړے وُو۔ چه د ترکارئ لوښے څټئ۔ ځکه چه تاسو ته پته نشته چه ستاسو د خوراک په کومه حصه کښې برکت دے۔ (مسلم رح)

۷۵۷۔ وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْحَارِثِ اَنَّهُ سَاَلَ جَابِرًا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ الْوُضُوْءِ مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ فَقَالَ لَا قَدْ كُنَّا زَمَنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نَجِدُ مِثْلَ ذٰلِكَ الطَّعَامِ اِلَّا قَلِيْلًا فَاِذَا نَحْنُ وَجَدْنَاهُ لَمْ يَكُنْ لَنَا مَنَادِيْلُ اِلَّا اَكُفَّنَا وَسَوَاعِدَنَا وَاَقْدَامَنَا ثُمَّ نُصَلِّيْ وَلَا نَتَوَضَّاُ۔

(رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)

۷۵۷۔ حضرت سعید بن حارث رضی الله عنه د جابر رض نه د "مَا مَسَّتِ النَّارُ" (یعنی په اور ګرم کړے شوے او پوخ کړے شوے خیز) نه د اودس په باره کښې پوښتنه اوکړه۔ هغه اوونیل، چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې به دا سے (د اور پخلے) مونږ ته کله کله ملاویدو۔ کله به چه مونږ دا قسم خوراک اوکړو، نو مونږ سره به رومالونه نه وُو۔ چه لاس خوله پرے صفا کړو۔ نو د لاسونو او د خپو تلو او پنډو سره به مونږ لاسونه صفا کول او دا څمونږ (رومالونه) وُو۔ او لاسونه به مونږ دے سره صفا کول۔ او بیا به مونږ مونځ کولو۔ او ر بل نوے یا دوباره) اودس به مونږ نهٔ کولو۔ (بُخاریؒ)

یو بل نه کرله نه وه کړے۔ نو د دے وجه دا وه چه مخکښے ورته رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد کړے ؤو۔ چه د مسلمان (د خوراک څکاک) په جوټه کښے شفاء وی۔ د اوسنی دَور طب او حکمت هم منلے ده چه د انسان په لاړو کښے د شفاء یو عجیبه تاثیر دے۔ او مونږ بار بار دا سے لیدلی دی۔ او لیدے شو، چه په څه وجه د چا مرئ یا تالو کښے زخم راشی، نو بغیر د دوائی نه صرف لاړو سره هم جوړیږی۔ مګر د ننه طرفنه کومه ساه چه راځی هغه ضرر ناکه ده۔ نو ځکه لوښی کښے ساه آخستل منع دی۔

(نبوی احادیث)

۷۶۰ - عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَانَ یَتَنَفَّسُ فِی الشَّرَابِ ثَلَاثًا مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ یَعْنِیْ یَتَنَفَّسُ خَارِجَ الْاِنَآءِ!

۷۶۰ - حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د څکلو په وخت د لوښی نه خوله اوچتوله او به د درېو ساګانو به ئے څکلے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

۷۶۱ - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَشْرَبُوْا وَاحِدًا کَشُرْبِ الْبَعِیْرِ وَلٰکِنْ اشْرَبُوْا مَثْنٰی وَثُلَاثَ وَسَمُّوْا اِذَا اَنْتُمْ شَرِبْتُمْ وَاحْمَدُوْا اِذَا اَنْتُمْ رَفَعْتُمْ" رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ حَدِیْثٌ حَسَنٌ.

۷۶۱ - حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د اوښ په شان په یوه ساه او به مه څکئ۔ په مزه مزه دوه درے ساه‌ګانو سره ئے څکئ۔ کله چه او به څکئ نو بسم الله مخکښے وایئ۔ او د څکلو نه پس الحمد لله وایئ۔ (ترمذیؒ)

امام ترمذی رحمة الله علیه وائی، چه دا حدیث حسن دے۔

۷۶۲ - وَعَنْ اَبِیْ قَتَادَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی اَنْ یَتَنَفَّسَ فِی الْاِنَآءِ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ، یَعْنِیْ یَتَنَفَّسَ فِیْ نَفْسِ الْاِنَآءِ!

۷۶۲ - حضرت ابو قتاده رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم (او بو څکلو کښے) لوښی کښے د ننه ساه آخستلو نه منع فرمائیلے ده۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

۷۶۳ - وَعَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اُتِیَ بِلَبَنٍ قَدْ شِیْبَ بِمَآءٍ وَعَنْ یَمِیْنِهٖ اَعْرَابِیٌّ وَعَنْ یَسَارِهٖ اَبُوْبَکْرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فَشَرِبَ ثُمَّ اَعْطَی الْاَعْرَابِیَّ وَقَالَ الْاَیْمَنَ فَالْاَیْمَنَ۔

۷۶۳ - حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے د پیو یوه پیالئ وړاندے کړے شوه۔ نو لږے غوندے او به پکښے هم واچولے شوے۔ او د نبی کریمؐ ښی لاس ته یو باندچی ناست ؤو۔ او ګس طرف ته ئے ابوبکر صدیقؓ ناست ؤو۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم ترے

۷۶۶ - وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُشْرَبَ مِنْ فِي السِّقَآءِ له اَوِ الْقِرْبَةِ"۔ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۷۶۶ - حضرت ابوهريرة رضى الله عنه نه روايت دے۔ چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په مشک او مشکيزے باندے (خولے لګولو سره) داوبو څکلو نه منع فرمائيلے ده۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

(اصل خبره داده، چه په ليدلو سترګو څوک ميچئ، مچ وغيره نه تيروی. خوراک څکاک کښے داحتياط کولو او خيال ساتلو سره دخوراک اصول معلوميږی، اومشک اومشکيزے ته دخولے لګولو اواوبوڅکلو نه پس داخبره دکتلونه بهر ده، چه کيدے ته څه څيز روان دے۔ خوکه چيرے اطمينان اوتسلی کولو نه پس خوله لګولو سره اوبه څکی، نوڅکلے شی. ځکه دا منع ممانعتِ تنزيهی دے نه تحريمی)

۷۶۷ - وَعَنْ اُمِّ ثَابِتٍ كَبْشَةَ بِنْتِ ثَابِتٍ اُخْتِ حَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَرِبَ مِنْ فِيْ قِرْبَةٍ مُعَلَّقَةٍ قَآئِمًا، فَقُمْتُ اِلٰى فِيْهَا فَقَطَعْتُهٗ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ وَ اِنَّمَا قَطَعْتُهَا لِتَحْفَظَ مَوْضِعَ فَمِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَتَبَرَّكَ بِهٖ وَتَصُوْنَهٗ عَنِ الْاِبْتِذَالِ وَهٰذَا الْحَدِيْثُ مَحْمُوْلٌ عَلٰى بَيَانِ الْجَوَازِ وَالْحَدِيْثَانِ السَّابِقَانِ لِبَيَانِ الْاَفْضَلِ وَ الْاَكْمَلِ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ۔

۷۶۷ - حضرت اُمّ ثابت کبشه بنت ثابت دحسان بن ثابت رضى الله عنها خور وائی، چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ماکره راغے۔ اوکومه مشکيزه چه زوړنده وه۔ هغے باندے ئے خوله کيخودله. او اوبه ئے ترے اوڅکلے. ما دمشکيزے هغه حصه پريکړه اوسنبال مے کيخودله. ځکه چه هغے پورے دنبی کريم صلى الله عليه وسلم شونډے مبارکے لګيدلے وے۔ (ترمذی)

امام ترمذی رحمة الله عليه وائی. چه داحديث حسن دے۔

امام نووی رحمة الله عليه وائی. چه اُمّ ثابت رضى الله عنهما دمشکيزے نه خوله ځکه پريکړے وه، چه درسول الله صلى الله عليه وسلم دخولے لګيدلو ځائے محفوظ شی۔ اوتبرک ترے حاصل کړی. اودغه ځائے دنوروخلقو دخولے لګيدلو نه بچ کړی. داحديث ددے جائزولے ثابتوی چه دځوړندے مشکيزے نه هم په خولے لګولے اوبه څکلے شی. اومخکښے دوه احاديث دافضليت واکمليت دپاره دی۔

باب ۱۱۳

بَابُ كَرَاهَةِ النَّفْخِ فِي الشَّرَابِ ؛ دڅکاک په څيزکښے پوکے کول۔

ف :- دے باب کښے دوه احاديث دی۔ دڅکلو څيزکښے پوکے وهل داسے دی لکه لوښی کښے ساه آخستل۔ نوحکم ئے هم يو دے۔

(نبوی احاديث)

له من السقاء اى فمها !!

۷۶۸ - **عَنْ** اَبِیْ سَعِیْدٍ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ النَّفْخِ فِی الشَّرَابِ فَقَالَ رَجُلٌ اَلْقَذَاةُ اَرَاهَا فِی الْاِنَاءِ فَقَالَ اَهْرِقْهَا[1] قَالَ اِنِّیْ لَا اَرْوٰی مِنْ نَفَسٍ وَاحِدٍ قَالَ فَاَبِنِ الْقَدَحَ اِذًا عَنْ فِیْكَ رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ حَدِیْثٌ حَسَنٌ صَحِیْحٌ ؛

۷۶۸ - حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د څکلو په څیز کښے د پوکی وهلو نه منع کړے ده - یو کس عرض اوکړو - چه لوښی کښے کله کله واړهٔ خسنړی یا خاوره وغیره په نظر راځی، نو بیا ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، هغه او به واړوه - بیا هغه کس عرض اوکړو چه کله کله زهٔ په یو گوټ سره نهٔ ځړوبیږم ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، لوښے د خولے نه لرے کړه سا **واخله** او بیا نورے او به اوڅکه - (ترمذی)

امام ترمذی رحمة الله علیه وائی چه دا حدیث حسن صحیح دے -

۷۶۹ - **وَعَنْ** ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی اَنْ یُّتَنَفَّسَ فِی الْاِنَاءِ اَوْ یُنْفَخَ فِیْهِ رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ حَدِیْثٌ حَسَنٌ صَحِیْحٌ ؛

۷۶۹ - حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په لوښی کښے سا آخستلو نه او د پوکی وهلو نه منع کړے ده - (ترمذی)

امام ترمذی رح وائی، چه دا حدیث حسن صحیح دے -

باب ۱۱۴

بَابُ بَیَانِ جَوَازِ الشُّرْبِ قَائِمًا وَ بَیَانِ اَنَّ الْاَكْمَلَ وَالْاَفْضَلَ الشُّرْبُ قَاعِدًا ؛

په ولاړه اوبه څکل ؛

ف :- دے باب کښے شپږ احادیث دی -

مصنف رح د باب د عنوان لاندے چه د ولاړو اوبو وغیره د جائزوالی سره سره ئے دا هم وئیلی دی، چه غوره او د عزت طریقه په ناسته **څکل** دی - د دے خبرے همیشه خیال ساتل بکار دی، چه د خوراک **څکاک** کولو طریقے او آداب چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ارشاداتو نه ښکاره کیږی، هغه فطری دی - او دے کښے د دین او دُنیا دواړو فائدے پټے پرتے دی - مثلاً په لاس سره خوراک کول - د خوراک نه مخکښے لاسونه وینځل - د خوراک نه پس گوتے څټل - د دے دینی حیثیت خو منلے شوے دے - د طبیبانو نه پوښتنه اوکړئ، چه هغوئ د صحت په نقطهٔ نظر سره هم دا طریقے فائده منی او ضروری بنائی - د غه حال د ولاړے د خوراک څکاک هم دے - په ولاړه اوبه څکلو کښے اگر چه جواز شته، مگر طبی لحاظ سره دا صورت ضرر ناک دے - او په اودریدلو سره د خوراک کولو معاملے نه په دین کښے جائزولے شته او نهٔ ئے په طبی اصولو کښے څه فائده شته -

---

[1] اهرقها : ای ارقها وابن القدح : ای ازله ؛

(نبوی احادیث)

۷۷۰۔ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ سَقَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ زَمْزَمَ فَشَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ۔

(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۷۷۰۔ حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے. چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د زمزم اوبه پیش کړے نو هغوئ په ولاړه ولاړه اوڅکلے.

(بخاریؒ ومسلمؒ)

۷۷۱۔ وَعَنِ النَّزَّالِ بْنِ سَبْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَتٰى عَلِيٌّ بَابَ الرَّحْبَةِ[1] فَشَرِبَ قَائِمًا وَقَالَ: اِنِّيْ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَ كَمَا رَاَيْتُمُوْنِيْ فَعَلْتُ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؛

۷۷۱۔ حضرت نزال بن سبره رضی الله عنه وائی. چه حضرت علی رضی الله عنه کوفه کښے باب الرحبة باندے تشریف راوړو. هلته ئے په ولاړه ولاړه اوبه اوڅکلے. او وے وئیل، چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم داسے کولو باندے لیدلے دے. څنګه چه تاسو زهٔ اولیدم.

(بخاریؒ)

۷۷۲۔ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ كُنَّا عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاْكُلُ وَنَحْنُ نَمْشِيْ وَنَشْرَبُ وَنَحْنُ قِيَامٌ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

۷۷۲۔ حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے. چه مونږ به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے په تلوتلو کښے په روانه خوراک کولو. او په ولاړه ولاړه به مو اوبه څکلے.

(ترمذی)

امام ترمذیؒ وائی چه دا حدیث حسن صحیح دے.

(دا روایت څمونږ د زمانے د ولاړے خوراک جائزوالے نهٔ ثابتوی. هو، دا قسم مالداره خوراک کونکی د خپل خوراک لجوره، چوهاره او دا وریشو روټئ جوړه کړی. نو بیا د ولاړے اجازت ملاویدے شی چه بیا په روانه او ولاړه باندے خوراک کولے شی. په دے وجه دے خلقو له د هغے خلقو په شان با قاعده په مجلس کښے د ولاړے خوراک کولو نمونه او مثال پیش کول پکار دی. مونږ د خپل ځان د پاره او د ضرورت د پاره د بهلنے په طور دا استعمالولے نشو. او نه د دے اجازت شته. البته دا مثال د مجبورئ او د فوری ضرورت په حالت کښے څمونږ د پاره رخصت ضرور پیدا کوی. چه مونږ د دینی، ملکی او قومی فرائضو سره د الله تعالیٰ د خوشحالولو د پاره دومره مصروف او مشغول اوسو. چه د خوراک څکاک وخت را ته نهٔ ملاویږی، نو بے شکه په تلو کښے هم د خوراک کولو اجازت شته دے. حالا نکه را تلونکی روایت کښے هم ښکاره ممانعت ذکرشوے دے).

۷۷۳۔ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْرَبُ قَائِمًا وَقَاعِدًا

۷۷۳۔ حضرت عمرو بن شعیب رضی الله عنه د خپل پلار او هغه د خپل نیکه نه روایت کوی. چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم په ولاړه او ناسته داوړو

---

[1] "الرحبة" بفتح الراء وبالمهملة والموحدة: المكان المتسع والرحبة هنا: رحبة الكوفة؛

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ⁖

حالتونو کښې په اوبو څکلو لیدلے دے۔ (ترمذی) او امام ترمذیؒ وائی، چه دا حدیث حسن صحیح دے۔

۷۷۴- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ نَهٰى اَنْ يَّشْرَبَ الرَّجُلُ قَآئِمًا قَالَ قَتَادَةُ فَقُلْنَا لِاَنَسٍ فَالْاَكْلُ قَالَ ذٰلِكَ اَشَرُّ اَوْ اَخْبَثُ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهٗ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَجَرَ عَنِ الشُّرْبِ قَآئِمًا۔

۷۷۴- حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په ولاړه د اوبو څکلو نه منع کړې ده۔ قتاده رضی الله عنه د انس رضی الله عنه نه پوښتنه اوکړه۔ چه د خوراک په باره کښې څه حکم دے؟ نو قتاده رض جواب ورکړو چه دا خو ډیر بد عمل دے۔ او د انس رض یو روایت کښې داسې دی، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم په ولاړه د اوبو څکلو زورنه ورکړې ده۔ (مُسلمؒ)

۷۷۵- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَشْرَبَنَّ اَحَدٌ مِّنْكُمْ قَآئِمًا، فَمَنْ نَسِيَ فَلْيَسْتَقِئْ لَه۔ (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۷۷۵- حضرت ابوهریره رضی اللهُ عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه تاسو هیڅوک په ولاړه اوبهٔ مهٔ څکئ۔ او که چا په هیره سره اوبه اوڅکلے، نو پکار دی چه قے ئے کړی۔ (مُسلمؒ)

باب ۱۱۵

بَابُ اِسْتِحْبَابُ كَوْنِ سَاقِي الْقَوْمِ اٰخِرَهُمْ شُرْبًا؛

(څکونکے به د ټولو نه وروسته اوبه څکی)

ف:- دے باب کښې صرف یو حدیث دے۔

(نبویؐ حدیث)

۷۷۶- عَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: سَاقِي الْقَوْمِ اٰخِرُهُمْ" يَعْنِيْ شُرْبًا، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ⁖

۷۷۶- حضرت ابوقتاده رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه قوم ته اوبه ورکونکی نمبر به د ټولو نه وروسته وی. (یعنی ټولو ته به اوبه ورکړی او ځپله به ئے آخر کښې څکی) (ترمذی) امام ترمذیؒ وائی، دا حدیث حسن صحیح دے۔

... ...

باب ۱۱۶

بَابُ جَوَازِ شُرْبٍ مِنْ جَمِيْعِ الْاَوَانِي الطَّاهِرِ غَيْرَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَجَوَازِ الْكَرْعِ وَ هُوَ الشُّرْبُ بِالْفَمِ مِنَ النَّهْرِ وَغَيْرِهٖ بِغَيْرِ اِنَاءٍ وَلَا يَدٍ وَ تَحْرِيْمِ اِسْتِعْمَالِ اِنَاءِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ فِي الشُّرْبِ

وَالْاَكْلِ وَالطَّهَارَةِ وَسَآئِرِ وُجُوْهِ الْاِسْتِعْمَالِ !!

(د څکلو لوښی)

ف :- دے باب کښے پنځهٔ احادیث دی. د باب په عنوان کښے ښودلے شوی دی، چه د سرو سپینو زرو لوښو نه علاوه ټولو پاکو لوښو کښے خوراک څکاک کول جائز دی. خواه هغه خاورین د ټیکرې لوښی وی، یا د اوسپنے یا د تانبے او قلعي او سلورو وغیره وی. دغسے که لوښے نه وی، نو په نل، نهر یا د کنی په خالی ډوب کښے او به څکلے شی، چه خولهٔ پرے کیږدی. البته د سرو او سپینو زرو لوښی د خوراک څکاک، اودس او غسل او استنجاء. غرض دا چه په هره طریقه باندے د دے استعمال حرام دے. او حراموالے ئے د نارینه او زنانه دواړو دپاره دے. او په دے حراموالی ټول علماء متفق دی. البته په زیوراتو او کالو او ډول کښے ښځو له استثناء شته دے. دوئ د سرو سپینو کالی اچولے شی، څه ممانعت نشته.

(نبوی احادیث)

۷۷۷- عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ حَضَرَتِ الصَّلٰوةُ فَقَامَ مَنْ كَانَ قَرِيْبَ الدَّارِ اِلَى اَهْلِهٖ وَبَقِيَ قَوْمٌ فَاُتِيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِخْضَبٍ [1] مِنْ حِجَارَةٍ فَصَغُرَ الْمِخْضَبُ اَنْ يَبْسُطَ فِيْهِ كَفَّهٗ فَتَوَضَّاَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ قَالُوْا كَمْ كُنْتُمْ؟ قَالَ ثَمَانِيْنَ وَ زِيَادَةً مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. هٰذِهٖ رِوَايَةُ الْبُخَارِيِّ وَ فِيْ رِوَايَةٍ لَهٗ وَ لِمُسْلِمٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا بِاِنَاءٍ مِّنْ مَّآءٍ فَاُتِيَ بِقَدَحٍ رَحْرَاحٍ [2] فِيْهِ شَيْءٌ مِّنْ مَّآءٍ فَوَضَعَ اَصَابِعَهٗ فِيْهِ قَالَ اَنَسٌ فَجَعَلْتُ اَنْظُرُ اِلَى الْمَآءِ يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ اَصَابِعِهٖ فَحَزَرْتُ مَنْ تَوَضَّاَ مَا بَيْنَ السَّبْعِيْنَ اِلَى الثَّمَانِيْنَ.

۷۷۷- حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مقام زوراء ته راغے. کله چه د مانځه وخت شو، نو د کومو خلقو کورونه چه نزدے وُو هغوئ لاړل، چه اودس اوکړي او واپس راشي. باقي هم هلته پاتے شول. چه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے د کاڼي لوښے راوړے شو. (چه هغے کښے اوبهٔ دے) او دغه لوښے دومره وړوکے وُو، چه د هغوئ ورغوے هم پکښے نهٔ ځائیدو. مګر د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د دجے نه په دغه وړوکی شان لوښی کښے دا او بو په وجه ټولو خلقو اودس اوکړو. چا ترے پوښتنه اوکړه چه څومره کسان به وُو. نو وے فرمائیل، چه د اتیاؤ نه زیات وُو. (بخاري ومسلم) او یو روایت دا سے هم دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو لوښے راوغوښتلو. نو یو تنګے خولے والا لوښے راوړے شو. چه لږے شان اوبهٔ پکښے وے. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم پکښے خپل لاس کیښودلو. انس وائی، چه ما اوبو ته اوکتل، نو ما د

---

[1] "المخضب" بکسر المیم وسکون الخاء وفتح الضاد المعجمتین اخره موحدة: اناء من حجارة

[2] "بقدح رحراح" بفتح الراء وسکون الحاء المهملة: ای قریب القعر مع سعة.

هغوئ د کوتو ترمینځ دغه اوبه راوتلے لیدلے۔ بیا مے هغه خلق شمار کړل، چا چه پرے اودسونه کړی وُو نو اویاؤ نه اتیاؤ پورے وُو۔

۷۷۸۔ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: أَتَانَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْرَجْنَا لَهُ مَاءً فِيْ تَوْرٍ مِّنْ صُفْرٍ فَتَوَضَّأَ (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)

"اَلصُّفْرُ" بِضَمِّ الصَّادِ وَيَجُوْزُ كَسْرُهَا وَهُوَ النُّحَاسُ وَالتَّوْرُ كَالْقَدَحِ وَهُوَ بِالتَّاءِ الْمُثَنَّاةِ مِنْ فَوْقٍ۔

۷۷۸۔ حضرت عبد الله بن زید رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ کره راغے، نو مونږ ورته دا اودس د پاره د پیتلو په لوښی کښے اوبه حاضرے کړے۔ نو اودس ئے پرے اوکړو۔ (بخاریؒ)

"اَلصُّفْرُ" یعنی پیتل۔

"تَوْرٌ": د کاسے په شان لوښے۔

۷۷۹۔ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْأَنْصَارِ وَمَعَهُ صَاحِبٌ لَهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ كَانَ عِنْدَكَ مَاءٌ بَاتَ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ فِيْ شَنَّةٍ وَإِلَّا كَرَعْنَا[1]۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ۔

"اَلشَّنُّ" اَلْقِرْبَةُ۔

۷۷۹۔ حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو انصاری کره راغے۔ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره د هغهٔ یو دوست ابوبکر صدیق رضی الله عنه هم وُو۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، که د شپے نه ږکه شوے مشکیزه تاسو کره وی نو راؤړه، چه اوبه ترے اوڅکم۔ اوکه نهُ وی، نو بیا ئے بغیر د لوښی نه په نهر او ناله باندے خوله لګولو سره څکم۔ (بخاریؒ)

"اَلشَّنُّ": یعنی مشکیزه۔

۷۸۰۔ وَعَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ، إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَانَا عَنِ الْحَرِيْرِ وَالدِّيْبَاجِ[2] وَالشُّرْبِ فِيْ آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَقَالَ "هِيَ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَهِيَ لَكُمْ فِي الْآخِرَةِ"۔ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۷۸۰۔ حضرت حذیفه رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ د ریښمینو کپړو آغوستلو او د سرو او سپینو زرو لوښو کښے د (خوراک) څکاک نه منع کړی یو۔ او فرمائیلی ئے دی۔ چه دُنیا کښے دا څیزونه د کافرانو د پاره دی۔ او آخرت کښے به ستاسو د پاره وی۔ (بخاریؒ و مسلمؒ)

۷۸۱۔ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الَّذِيْ يَشْرَبُ فِيْ آنِيَةِ الْفِضَّةِ إِنَّمَا يُجَرْجِرُ فِيْ بَطْنِهِ نَارَ جَهَنَّمَ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

۷۸۱۔ حضرت اُم سلمه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، څوک چه د سپینو زرو لوښو کښے اوبه څکی۔ نو ګویا که هغه خپلے ګیډے ته د جهنم اُور دیکه کوی۔ (بخاریؒ و مُسلمؒ)

---

[1] "کرعنا" الکرع، تناول الماء بالفم من غیر اناء ولا کف [2] "الدیباج" الشرب سداه د

وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: اِنَّ الَّذِيْ يَأْكُلُ اَوْ يَشْرَبُ فِيْ اٰنِيَةِ الْفِضَّةِ وَالذَّهَبِ" وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهٗ: مَنْ شَرِبَ فِيْ اِنَاءٍ مِّنْ ذَهَبٍ اَوْفِضَّةٍ فَاِنَّمَا يُجَرْجِرُ فِيْ بَطْنِهٖ نَارًا مِّنْ جَهَنَّمَ"۔

د مسلم په یو روایت کښې داسې دی: څوک چه د سرو سپینو زرو په لوښی کښې اوخوری۔ او بل روایت کښې داسې دی۔ چه څوک د سرو سپینو په لوښو کښې څکل کوی۔ نو هغه خپله ګیډه کښې ګویا د دوزخ اور اچوی۔

کِتَابُ اللِّبَاسِ

د جامو بیان

باب ۱۱۷

بَابُ اِسْتِحْبَابِ الثَّوْبِ الْاَبْيَضِ وَجَوَازِ الْاَحْمَرِ وَالْاَخْضَرِ وَالْاَصْفَرِ وَالْاَسْوَدِ وَجَوَازِهٖ مِنْ قُطْنٍ وَّكَتَّانٍ وَّشَعْرٍ وَّصُوْفٍ وَّغَيْرِهَا اِلَّا الْحَرِيْرَ!

(سپینه جامه)

ف ۱۔ دے باب کښې دوه آیتونه او لس احادیث دی۔ د باب د عنوان لاندې مصنف" بیان کړی دی۔ چه سپینې جامې اغوستل مستحب دی۔ د سور، شین، تور، زیړ او د ریښمو نه علاوه د وړی، سوترو او د ویښتو وغیره نه تیارې شوې جامې اغوستو اجازت شته۔ خو سړو د پاره ریښم استعمالول منع دی۔

قرآنی آیتونه

۲۶۳۔ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى[1]: يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِيْ[2] سَوْاٰتِكُمْ وَرِيْشًا وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ذٰلِكَ خَيْرٌ!

۲۶۳۔ اے بنیادمو! تاسو د پاره چه کوم لباس او جامه نازله ده۔ هغه ستاسو پرده هم ده۔ او جامه د پرهیز ګارۍ خو ستاسو د پاره ډیره ښه ده۔ (پ ۸ / اعراف)

۲۶۴۔ وَقَالَ تَعَالٰى[3]: "وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيْلَ[4] تَقِيْكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيْلَ تَقِيْكُمْ بَاْسَكُمْ"!!

۲۶۴۔ ستاسو د پاره ئې داسې قمیصونه جوړ کړی دی چه د ګرمۍ او یخنۍ نه برے خان ساتئ۔ او داسې قمیصونه چه د جنګ په وخت د نقصان نه بچ کیږئ۔ (پ ۱۴ / نحل)

(نبوی احادیث)

۷۸۲۔ **وَعَنْ** ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اَلْبَسُوْا مِنْ ثِيَابِكُمُ الْبَيَاضَ فَاِنَّهَا مِنْ خَيْرِ

۷۸۲۔ حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، سپینې جامې اغوندئ۔ ځکه چه د الباس

---

[1] سورة الاعراف آية ٢٦ [2] "لباسًا يواري" اى يستر سوآتكم، اى عوراتكم "وريشًا" اى ما يتجمل به من الثياب [3] سورة النحل آية ٨١ [4] سرابيل القميص، والبأس: الحرب:

ثِيَابِكُمْ وَ كَفِّنُوْا فِيْهَا مَوْتَاكُمْ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

د ير ښه دے. او ستاسو د پاره د عزت قابلې دی. او خپلو مړو ته هم سپین کفن ورکوئ. (ابوداؤدؒ، ترمذیؒ)

۷۸۳ - وَعَنْ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَلْبَسُوا الْبَيَاضَ فَاِنَّهَا اَطْهَرُ وَ اَطْيَبُ وَ كَفِّنُوْا فِيْهَا مَوْتَاكُمْ" رَوَاهُ النَّسَآئِيُّ، وَالْحَاكِمُ وَقَالَ حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ ؛

۷۸۳ - حضرت سمره بن جندب رضؓ نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه سپینې جامے اغوندئ چه هغه پاکیزه هم دی، او ښې هم دی. او خپلو مړو ته هم سپین کفن ورا غوندئ. (نسائی وحاکم) اوحاکمؒ فرمائی چه دا حدیث صحیح دے.

۷۸۴ - وَعَنْ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرْبُوْعًا، ؎۱ وَلَقَدْ رَاَيْتُهُ فِيْ حُلَّةٍ حَمْرَاءَ **مَا رَاَيْتُ شَيْئًا قَطُّ اَحْسَنَ مِنْهُ**، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؛

۷۸۴ - حضرت براء بن عازب رضی الله عنه نه روایت دے. چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم قد درمیانه ؤو. او ما هغه په سُور لباس کښې لیدلے دے. (هغه وخت د هغهٔ د ښائست تاته څه اووایم) **ما د هغهٔ نه هیڅوک هم زیات خائسته نهٔ دے لیدلے** - (بخاری ومُسلم)

۷۸۵ - وَعَنْ اَبِيْ جُحَيْفَةَ وَهْبِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: رَاَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ وَ هُوَ بِالْاَبْطَحِ فِيْ قُبَّةٍ ؎۲ لَهُ حَمْرَاءَ مِنْ اَدَمٍ فَخَرَجَ بِلَالٌ بِوَضُوْئِهِ فَمِنْ نَاضِحٍ وَ نَائِلٍ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ عَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ كَاَنِّيْ اَنْظُرُ اِلٰى بَيَاضِ سَاقَيْهِ، فَتَوَضَّاَ وَاَذَّنَ بِلَالٌ فَجَعَلْتُ اَتَتَبَّعُ فَاهُ هٰهُنَا وَهٰهُنَا يَقُوْلُ يَمِيْنًا وَ شِمَالًا حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ثُمَّ رُكِزَتْ ؎۳ لَهُ عَنَزَةٌ فَتَقَدَّمَ

۷۸۵ - حضرت ابوجحیفه وهب بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دے. چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم مکه کښې هغه وخت اولیدلو، چه مقام بطحاء کښې دڅرمنې په یوه سره خیمه کښې موجود ؤو. دغه وخت بلالؓ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د اودس استعمال شوے اوبه بهرته راوُ ِیستلے. او دے کښې چه چا ته څه ملاؤ شوے، نو په خپل ځان ئے چرکاؤ کړے. او چا ته چه ملاؤ نه شوے. نو د بل بدن اوجامے پورے ئے لاس اومکلو او خپل لاس ئے لوند کړو. څه لږ وخت پس نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خیمے نه بهر راووتلو چه په بدن ئے سره چوغه وه. د هغوئ د پنډ و سپینوالے گویا څما په سترګو کښې اوس هم راڅرګند دے. ... هغوئ اودس

؎۱ "مربوعا" اى لم يكن طويلا ولا قصيرا، وكان الى الطول اقرب: "والحلة" بضم الحا المهملة وتشديد اللام: ثوب له ظهارة وبطانة من جنس واحد ؎۲ "القبه" بضم القاف وتشديد الموحدة الخيمة "ولادم" بفتح الهمزة والمهملة جمع اديم، الجلد المدبوغ والوضوء بفتح الواو: الماء المعد للوضوء ؎۳ "ركزت" بضم الراء وكسر الكاف بعدها زاى: اى خرزت!!

فَصَلّٰی یَمُرُّ بَیْنَ یَدَیْهِ الْکَلْبُ وَالْحِمَارُ لَا یُمْنَعُ ۔

(مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ)

"اَلْعَنَزَةَ" بِفَتْحِ النُّوْنِ نَحْوُ الْعُکَّازَةِ !!

اوکړو۔ او بلال رض آذان اوکړو۔ ما د هغهٔ مخ ته کتل چه کرځولوئے۔ ښی طرف تهٔ حیّ علی الصلوٰة اوکس طرف تهٔ حیّ علی الفلاح وئیل، بیائے د نبی کریم صلی الله علیه وسلم مخے ته د سترے په طور نیزه ښخه کړه۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم مخکښے شو او اماتی ئے اوکړه۔ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم مخے ته به سپے او خر تیریدلو۔ چه هغه به منع کولے نشو۔ (بخاریؒ و مسلمؒ)

"اَلْعَنَزَةُ" : یعنی وړه نیزه۔

۷۸۶۔ وَعَنْ اَبِیْ رِمْثَةَ رِفَاعَةَ التَّیْمِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَاَیْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَیْهِ ثَوْبَانِ اَخْضَرَانِ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَالتِّرْمِذِیُّ بِاِسْنَادٍ صَحِیْحٍ !!

۷۸۶۔ حضرت ابو رمثه رفاعة تمیمی رض وائی۔ چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم اولیدو۔ چه دوه شین رنګ کپړے ئے اغوستے وے۔

(ابوداؤد و ترمذی)

امام ابوداؤد او امام ترمذی وائی چه ددے حدیث سند صحیح دے۔

۷۸۷۔ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ یَوْمَ فَتْحِ مَکَّةَ وَعَلَیْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ ۔ (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۷۸۷۔ حضرت جابر رض وائی۔ چه د مکے د فتحے په ورځ نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه کله مکے ته داخل شو، نو د هغوئ تور پټکے په سر وُو۔ (مسلمؒ)

۷۸۸۔ وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ عَمْرِو بْنِ حُرَیْثٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: کَاَنِّیْ اَنْظُرُ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَیْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَآءُ قَدْ اَرْخٰی طَرَفَیْهَا بَیْنَ کَتِفَیْهِ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِیْ رِوَایَةٍ لَهٗ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ النَّاسَ وَعَلَیْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَآءُ۔

۷۸۸۔ حضرت ابوسعید عمرو بن حُریث رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دلیدو منظر اوس هم څما په سترګو کښے دے۔ چه تور پټکے ئے تړلے وُو۔ او د واړه پلونه ئے د اوږو ترمینځ زوړند وُو۔ (مسلم)

یو روایت کښے داسے دی، چه تور پټکے ئے په سر کړے وُو۔ او خلقو ته ئے خطاب فرمائیلو۔

۷۸۹۔ وَعَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ کُفِّنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ ثَلَاثَةِ اَثْوَابٍ بِیْضٍ سَحُوْلِیَّةٍ مِّنْ کُرْسُفٍ، لَیْسَ فِیْهَا قَمِیْصٌ، وَلَا عِمَامَةٌ مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ۔

۷۸۹۔ حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دریو سپینو سوتی کپړو کښے (چه په سحولیه کښے جوړے وے) کفن کړے شوے وُو۔ او هغے کښے نه قمیص وُو، او نه پټکے وُو۔

(بخاریؒ و مسلمؒ)

"السَّحُوْلِيَّةُ" بِفَتْحِ السِّيْنِ وَضَمِّهَا وَضَمِّ الْحَاءِ الْمُهْمَلَتَيْنِ ثِيَابٌ تُنْسَبُ اِلٰى سَحُوْلٍ: قَرْيَةٌ بِالْيَمَنِ وَالْكُرْسُفُ اَلْقُطْنُ ؞

"اَلسَّحُوْلِيَّةِ": یعنی دیمن په سحولیه علاقه کښې تیارے شوی وے.

"کُرْسُفُ": مالوچ، وړۍ، سوت.

۷۹۰ - وَعَنْهَا قَالَتْ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ غَدَاةٍ وَعَلَيْهِ مِرْطٌ مُرَحَّلٌ مِنْ شَعْرٍ اَسْوَدَ - رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؞

"اَلْمِرْطُ" بِكَسْرِ الْمِيْمِ: وَهُوَ كِسَاءٌ - "وَالْمُرَحَّلُ" بِالْحَاءِ الْمُهْمَلَةِ هُوَ الَّذِيْ فِيْهِ صُوْرَةُ رِحَالِ الْاِبِلِ وَهِيَ الْاَكْوَارُ [1]

۷۹۰ - دا روایت هم د حضرت عائشے رضی الله عنها دے. چه یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم د کور نه بهر اووتلو. نو د اوښ د تورے وړۍ نه جوړه شوے کمبلۍ اغوستے وه. (چه هغې باندے د کلونو د نقشو په څلئ د کجاوے نقشے جوړے شوے وے). (مُسلم)

"مِرْطٌ": یعنی کمبلی والا څادر.

"مُرَحَّلُ": یعنی داسے کپړه چه هغې کښې د اوښ د کجاوے شکلونه جوړ شوی وی.

۷۹۱ - وَعَنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِيْ مَسِيْرٍ فَقَالَ لِيْ "اَمَعَكَ مَاءٌ؟" قُلْتُ: نَعَمْ، فَنَزَلَ عَنْ رَاحِلَتِهٖ فَمَشٰى حَتّٰى تَوَارٰى [2] فِيْ سَوَادِ اللَّيْلِ ثُمَّ جَاءَ فَاَفْرَغْتُ عَلَيْهِ مِنَ الْاِدَاوَةِ فَغَسَلَ وَجْهَهٗ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ مِّنْ صُوْفٍ فَلَمْ يَسْتَطِعْ اَنْ يُّخْرِجَ ذِرَاعَيْهِ مِنْهَا حَتّٰى اَخْرَجَهُمَا مِنْ اَسْفَلِ الْجُبَّةِ فَغَسَلَ ذِرَاعَيْهِ وَمَسَحَ بِرَاْسِهٖ ثُمَّ اَهْوَيْتُ [3] لِاَنْزِعَ خُفَّيْهِ فَقَالَ دَعْهُمَا فَاِنِّيْ اَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ وَمَسَحَ عَلَيْهِمَا مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِيْ رِوَايَةٍ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ شَامِيَّةٌ ضَيِّقَةُ الْكُمَّيْنِ وَفِيْ رِوَايَةٍ اَنَّ هٰذِهِ الْقَضِيَّةَ كَانَتْ فِيْ غَزْوَاتِ تَبُوْكَ ؞

۷۹۱ - حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه نه روایت دے - چه زهٔ یو وارے د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په سفر کښې ووم - هغهٔ پوښتنه اوکړه، تا سره اوبه شته؟ ما عرض اوکړو، هو قربان! د سورلۍ نه کوز شو. او یو طرف ته پیدل روان شو. او دومره لرے لاړو. چه د شپے په تیاره کښې د نظرونو نه پټ شو. څه لږ وخت پس راغے. او ما ورته د اودس کولو د پاره د لوښی نه اوبه اچول شروع کړل. نو مخ ئې اووینځلو. د غه وخت ئې وړینه چوغه اغوستے وه. چه لستونړی ئې تنګ وُو. نو هغه پاس نشو ختلے. نو د چوغې نه ئې لاندے لاسونه راوویستل او بیائې اووینځل. او د سر مسحه ئې اوکړه. نو زهٔ د موزو ویستلو د پاره ورته ښکته شوم. نو وے فرمائیل، پریږده دا مے د پاکۍ په حالت اغوستلی دی. او بیائې په موزو باندے مسح اوکړه. (بخاری ومُسلم)

اویو روایت کښې داسے راغلی دی. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د تنګو لستونړو والا شامی چوغه اغوستلے وه. او بل روایت کښې داسے دی، چه دا واقعه د غزوهٔ تبوک په وخت کښې وه.

---

[1] الاکوار" جمع کور وهو رحل باداته

[2] "حتی تواری" ای غاب عن رؤية البصر "والاداوة" بكسر الهمزة وبالدال المهملة المطهرة

[3] ثم اهويت ای مددت یدی.

باب ۱۱۸

بَابُ اِسْتِحْبَابُ الْقَمِيْصِ ∴ قميص اغوستل مستحب دی.

ف :- دے باب کښې صرف يو حديث دے۔ د هغې وخت سره رواجي جامو کښې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم قميص ډير خوښ ؤو۔ چه په دے کښې جسماني اندامونه ډير مکمل او پوره پټيږی۔ او سړے پکښې عزت مند ښکاری۔ نن زمانه کښې د خرش پرش د شوشا جامے او قميص پرتوګ په مونږ کښې ډير مشهور او رواجي دی۔ د رواجي قميصونو نه هغه ډير زيات په بدن خور پروت وی۔

(نبوی حديث)

۷۹۲ - عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ اَحَبُّ الثِّيَابِ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقَمِيْصَ، رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ

۷۹۲ - حضرت اُمِّ سلمه رضی الله عنها فرمائی۔ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په ټولو جامو کښې زيات خوښ لباس قميص ؤو۔

(ابوداؤدؒ، ترمذیؒ)

امام ترمذیؒ وائی، چه دا حديث حسن دے۔

باب ۱۱۹

بَابُ صِفَةِ طُوْلِ الْقَمِيْصِ وَالْكُمِّ وَالْاِزَارِ وَطَرَفِ الْعِمَامَةِ وَتَحْرِيْمِ اِسْبَالِ شَيْءٍ مِنْ ذٰلِكَ عَلٰى سَبِيْلِ الْخُيَلَاءِ وَكَرَاهَتِهٖ مِنْ غَيْرِ خُيَلَاءِ !!

(د لباس اندازه)

ف :- دے باب کښې يوولس احاديث دی۔ د جامے اصلی غرض عورت پټول دی۔ يعنی شرعًا چه د سړي او ښځے څومره بدن پټول فرض او لازمی دی، د هغې د پټولو د پاره چه کوم څيز استعمال کړے شی، هغې ته لباس وائی۔ د پردے پټولو نه بغير د جامے اغوستلو يو غرض د موسمی اثراتو نه د بدن حفاظت هم دے۔ نبی کريم صلی الله عليه وسلم هميشه ساده جامے خوښے کړي دی۔ کله چه ورته قيمتی کپړے پيش کړے شوی دی۔ نو هغه ئے هم د بدن د زينت د پاره اغوستلی دی۔ مګر د کبرجنو لباس او جامه ئے کله هم نه ده خوښه کړے۔ بلکه په سختئ سره ئے د هغې د استعمالولو نه منع کړے کړے ده۔

(نبویؐ احاديث)

۷۹۳ - عَنْ اَسْمَآءِ بِنْتِ يَزِيْدَ الْاَنْصَارِيَّةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ كُمُّ قَمِيْصِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَى الرُّسْغِ[1] رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ،

۷۹۳ - حضرت اسماء بنت يزيد انصاری رضی الله عنها وائی، چه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د قميص لستوڼي به د مړوندونو پورے ؤو۔

(ابوداؤد و ترمذی)

امام ترمذیؒ وائی، چه دا حديث

---

[1] الرسغ، بضم فسكون : او ضمتين : مفصل الساعد والكف !!

وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ !!

حسن دے۔

۷۹۴۔ **وَعَنِ** ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ جَرَّ ثَوْبَهٗ خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللّٰهُ اِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَالَ لَهٗ اَبُوْبَكْرٍ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ، اِنَّ اِزَارِيْ يَسْتَرْخِيْ اِلَّا اَنْ اَتَعَاهَدَهٗ فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّكَ لَسْتَ مِمَّنْ يَفْعَلُهٗ خُيَلَاءَ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَرَوٰى مُسْلِمٌ بَعْضَهٗ ؞

۷۹۴۔ حضرت عبد الله بن عمر فاروق رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه کوم کس د کبرجنو خلقو په شان جامے را ښکلو سره روان وی۔ الله تعالیٰ به ورته د قیامت په ورځ د رحمت په نظر اونهٔ ګوری۔ دغه وخت ابوبکر رضی الله عنه اووئیل یا رسول الله! په بے خیالۍ کښے کله کله ځما لنګ سُست کیدو سره زوړند شی۔ مګر زهٔ ئے بیا بیا اوچتوم۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه ته په هغه خلقو کښے شمار نهٔ ئے، کوم چه د کبر د وجهے نه دلسے کوی۔ (بخاریؒ) اوامام مُسلمؒ د دے حدیث بعضے حصه ذکر کړے دہ۔

۷۹۵۔ **وَعَنْ** اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَنْظُرُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اِلٰى مَنْ جَرَّ اِزَارَهٗ بَطَرًا[1]۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞

۷۹۵۔ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ هغه کس طرف ته ګوری هم نه۔ څوک چه د کبر د وجهے نه خپل لنګ ښکته زوړند سا تلو سره ګرځی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

۷۹۶۔ **وَعَنْهُ** عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا اَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الْاِزَارِ فَفِي النَّارِ[2] رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ؞

۷۹۶۔ دا روایت هم د حضرت ابوهریره رضی الله عنه دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، د ګیټۍ نه لاندے حصه چه لنګ کښے پټه وی، نو هغه به اُور کښے سوځی۔ (بخاریؒ)

۷۹۷۔ **وَعَنْ** اَبِيْ ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يَنْظُرُ اِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ قَالَ فَقَرَاَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مِرَارٍ قَالَ اَبُوْذَرٍّ خَابُوْا وَخَسِرُوْا مَنْ هُمْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! قَالَ: اَلْمُسْبِلُ[3] وَالْمَنَّانُ،

۷۹۷۔ حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، درے قسمه خلق داسے دی، چه د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ هغوئ طرفته توجه هم نهٔ کوی۔ او نه به ورسره خبرے کوی او نه به ئے پاکوی۔ بلکه هغوئ ته به دردناله سزا ورکوی۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا خبره درے واره اوکړه۔ ابوذر رضی الله عنه اووئیل۔ دا خلق خو تباه او برباد شول۔ دا کوم خلق دی یا رسول الله! نبی

---

[1] "بطرا" بفتح الموحدة والمهملة: ای عجبًا وخیلاءً

[2] قال الخطابی: یرید صلی الله علیه وسلم ان الموضع الذی یناله الازار من اسفل الکعبین فی النار، فکنی بالثوب عن لابیه ومعناه ان ما دون الکعب من القدم یعذب عقوبة.

[3] "المسبل": ای المرخی لثوبه خیلاء

وَالْمُنْفِقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّهُ: الْمُسْبِلُ إِزَارَهُ!

کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: (۱) تکبر سره جامه زوړندونکے (۲) احسان زباتوونکے (۳) په دروغه قسمونو باندے سودا خرڅوونکے۔ (مُسلمؒ)

اود مُسلم په یو روایت کښې دی چه لنګ زوړندونکے۔

۷۹۸۔ **وَعَنْ** ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْإِسْبَالُ فِي الْإِزَارِ وَالْقَمِيْصِ وَالْعِمَامَةِ مَنْ جَرَّ شَيْئًا خُيَلَاءَ لَمْ يَنْظُرِ اللّٰهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ بِإِسْنَادٍ صَحِيْحٍ ؛

۷۹۸۔ حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه لنګ زوړندول، قمیص اوږدول، د پګړۍ شمله غځول چه څوک ئے هم دکبرد وجے نه کوی۔ هغه ته به الله تعالی د قیامت په ورځ درحمت په نظر او نه ګوری۔ (ابوداؤد ونسائی)

امام نسائی رحمة الله علیه په صحیح سند سره ذکر کړے دے۔

۷۹۹۔ **وَعَنْ** أَبِيْ جُرَيٍّ جَابِرِ بْنِ سُلَيْمٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ رَجُلًا يَصْدُرُ النَّاسُ عَنْ رَأْيِهِ قُلْتُ مَنْ هٰذَا قَالُوْا: رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ: عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! مَرَّتَيْنِ۔ قَالَ: "لَا تَقُلْ عَلَيْكَ السَّلَامُ، عَلَيْكَ السَّلَامُ تَحِيَّةُ الْمَوْتٰى قُلْ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ قَالَ قُلْتُ أَنْتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ؟ قَالَ أَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ الَّذِيْ إِذَا أَصَابَكَ ضُرٌّ فَدَعَوْتَهُ كَشَفَهُ عَنْكَ وَإِذَا أَصَابَكَ عَامُ سَنَةٍ [1] فَدَعَوْتَهُ أَنْبَتَهَا لَكَ وَإِذَا كُنْتَ بِأَرْضٍ قَفْرٍ أَوْ فَلَاةٍ فَضَلَّتْ رَاحِلَتُكَ فَدَعَوْتَهُ رَدَّهَا عَلَيْكَ قَالَ قُلْتُ اعْهَدْ إِلَيَّ [2] قَالَ لَا تَسُبَّنَّ أَحَدًا قَالَ فَمَا سَبَبْتُ بَعْدَهُ حُرًّا وَلَا عَبْدًا وَلَا بَعِيْرًا وَلَا شَاةً وَلَا تَحْقِرَنَّ مِنْ

۷۹۹۔ حضرت ابوجُریّ جابر بن سُلیم رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه ما یو کس اولیدلو، چه خلق د هغهٔ تابعداری کوی۔ او هغه چه څه وائی، بغیر د انکار نه ئے خلق منی۔ او عمل پرے کوی۔ ما د خلقونه پوښتنه اوکړه چه دا څوک دے؟ خلقو اووئیل، دا خو د الله رسول صلی الله علیه وسلم دے۔ ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې دوه وارے علیك السلام یا رسول الله عرض اوکړو نو وے فرمائیل چه دا خو د مړو سلام دے۔ السلام علیك وایه۔ ما عرض اوکړو تهٔ دالله رسول ئے؟ نو وے فرمائیل، چه زهٔ د هغه الله رسول یم۔ دکوم نه چه تهٔ په مصیبت کښې دُعا غواړے۔ نو هغه ستا مصیبت لرے کوی۔ او کله چه دربا ندے قحط راشی، نو د هغه نه دُعا اوغواړے نو پیټی دے شنه شی۔ او که یوه دشته او شاړه کښې ګیر شوے، او یا درنه سورلئ ورکه شی۔ او د هغه نه ئے اوغواړے، نو خپله سورلئ به درته واپس کړی۔ ما عرض اوکړو یا رسول الله ا ماته څه هدایت

---

[1] "السنة" العام القحط الذی لم تنبت الارض فیه شیئا: ای عام شدة ومجاعة "والقفر" الارض التی لاماء بها ولا ناس "والفلاة" الارض التی لاماء فیها

[2] اعهد الیّ "بفتح الهاء: ای اوص لی

[3] "من المخیلة" بفتح المیم وکسر الخاء المعجمة الاختیال والکبر واحتقار الناس والعجب علیهم ؛

الْمَعْرُوْفِ شَيْئًا وَاَنْ تُكَلِّمَ اَخَاكَ وَاَنْتَ مُنْبَسِطٌ اِلَيْهِ وَجْهُكَ اِنَّ ذٰلِكَ مِنَ الْمَعْرُوْفِ وَارْفَعْ اِزَارَكَ اِلٰى نِصْفِ السَّاقِ فَاِنْ اَبَيْتَ فَاِلَى الْكَعْبَيْنِ وَاِيَّاكَ وَاِسْبَالَ الْاِزَارِ فَاِنَّهَا مِنَ الْمَخِيْلَةِ [3] وَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمَخِيْلَةَ وَاِنِ امْرُؤٌ شَتَمَكَ اَوْ عَيَّرَكَ بِمَا يَعْلَمُ فِيْكَ فَلَا تُعَيِّرْهُ بِمَا تَعْلَمُ فِيْهِ فَاِنَّمَا وَبَالُ ذٰلِكَ عَلَيْهِ [1] رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ !!

راکړي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، هیچا ته کنځلے مه کوه. جابر رض فرمائی، د هغه وخت نه ما هیڅ بنیادم ته، غلام وی، که آزاد، تردے چه اوښ اوکړو بیزو ته هم کنزلے نه دی کړي. (نور وصیت ئے را ته هم اوکړو چه) لږه او وړه نیکي هم سپکه مه ګڼړه. او هر مسلمان ورور سره په پراخ تندی ملاویږه، ځکه چه دا هم نیکي ده. او خپل لنګ د نیمے پنډئ نه پاس ترلے ساته. که دا درته ښه نه ښکاری. نو لنګ د ګیټو پورے کړه. او ځان اوساته د لنګ راښکلو نه. ځکه دا د کبرجنو خلقو طریقه ده. او الله تعالی کبر نه خوښوی. او که تا ته څوک کنځل اوکړي، یا تا له ستا د یو عیب پیغور درکړي. نو ته ورته جواب کښے د هغې عیب پیغور مه ورکوه کوم چه تا ته معلوم دے (ځکه چه عیب یا پیغور د ګناه څیز دے) نو که ته چپ شوے نو د عیب، پیغور او د کنځلو ګناه هم په هغه باندے شوه.

(ابوداؤد و ترمذی) صحیح سند سره بیان کړے دے.

امام ترمذی رحمة الله علیه وائی چه دا حدیث حسن صحیح دے.

۸۰۰ - وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يُصَلِّيْ مُسْبِلٌ اِزَارَهُ قَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذْهَبْ فَتَوَضَّاْ " فَذَهَبَ فَتَوَضَّاَ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا لَكَ اَمَرْتَهُ اَنْ يَتَوَضَّاَ ثُمَّ سَكَتَّ عَنْهُ؟ قَالَ: اِنَّهُ كَانَ يُصَلِّيْ وَهُوَ مُسْبِلٌ اِزَارَهُ وَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَقْبَلُ صَلٰوةَ رَجُلٍ مُسْبِلٍ" رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ عَلٰى شَرْطِ مُسْلِمٍ !!

۸۰۰ - حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه یو وارے یو سړی لنګ زوړند ولو سره مونځ کولو. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل، لاړشه او اودس اوکړه، بیا راشه. هغه سړي اودس اوکړو بیا راغے. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته بیا اوفرمائیل، چه لاړشه اودس اوکړه بیا راځه. یو کس عرض اوکړو یا رسول الله! په کومه وجه ورته وایئ چه اودس اوکړه او بیا راځه. بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم چپ شو (نور ئے هیڅ اونه وئیل) نبی کریم صلے الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه دا سړے د لنګ زوړند ولو باوجود بیا هم مونځ کوی. او الله تعالی د زوړند کړي لنګ والا مونځ نه قبلوی. (ابوداؤد)

ابوداؤد رحمة الله علیه وائی چه د دے حدیث سند صحیح دے د مسلم په شرط سره.

---

[1] وبال ذلك علیه بفتح الواو وتخفیف الموحدة : ای عاقبه ذلك علیه فی الدنیا والآخرة؛

۸۰۱- **وَعَنْ** قَيْسِ بْنِ بِشْرِ التَّغْلَبِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِیْ اَبِیْ وَكَانَ جَلِيْسًا لِاَبِی الدَّرْدَآءِ قَالَ كَانَ بِدِمَشْقَ رَجُلٌ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَالُ لَهُ ابْنُ الْحَنْظَلِيَّةِ وَكَانَ رَجُلًا مُتَوَحِّدًا[1] فَلَمَّا يُجَالِسُ النَّاسَ اِنَّمَا هُوَ صَلٰوةٌ فَاِذَا فَرَغَ فَاِنَّمَا هُوَ تَسْبِيْحٌ وَتَكْبِيْرٌ حَتّٰی يَاْتِیَ اَهْلَهٗ فَمَرَّ بِنَا وَنَحْنُ عِنْدَ اَبِی الدَّرْدَآءِ فَقَالَ لَهٗ اَبُو الدَّرْدَآءِ كَلِمَةً[2] تَنْفَعُنَا وَلَا تَضُرُّكَ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً[3] فَقَدِمَتْ فَجَآءَ رَجُلٌ مِنْهُمْ فَجَلَسَ فِی الْمَجْلِسِ الَّذِیْ يَجْلِسُ فِيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِرَجُلٍ اِلٰی جَنْبِهٖ لَوْ رَاَيْتَنَا حِيْنَ الْتَقَيْنَا نَحْنُ وَالْعَدُوُّ فَحَمَلَ فُلَانٌ وَطَعَنَ فَقَالَ خُذْهَا مِنِّیْ وَاَنَا الْغُلَامُ الْغِفَارِیُّ كَيْفَ تَرٰی فِیْ قَوْلِهٖ؟ فَقَالَ: مَا اُرَاهُ[4] اِلَّا قَدْ بَطَلَ اَجْرُهٗ فَسَمِعَ بِذٰلِكَ بَاْسًا فَتَنَازَعَا حَتّٰی سَمِعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: سُبْحَانَ اللّٰهِ لَا بَاْسَ اَنْ يُؤْجَرَ وَيُحْمَدَ فَرَاَيْتُ اَبَا الدَّرْدَآءِ سُرَّ بِذٰلِكَ وَجَعَلَ يَرْفَعُ رَاْسَهٗ اِلَيْهِ وَيَقُوْلُ اَاَنْتَ سَمِعْتَ ذٰلِكَ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُوْلُ نَعَمْ: فَمَا زَالَ يُعِيْدُ عَلَيْهِ حَتّٰی اِنِّیْ لَاَقُوْلُ لَيَبْرُكَنَّ

۸۰۱- حضرت قیس بن بشر تغلبی رحمة الله علیه نه روایت دے. چه څما پلار به د ابوالدرداء رضی الله عنه سره مجلس کښے کینا ستو، نوما ته ئے اووئیل. چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم یو صحابی وُو په دمشق کښے چه په ابن حنظلیه[1] سره مشهور وُو. او هغه یوازے وو کښے خوشحاله وُو. او خلقو سره به ډیرکم ملاویدو او زیات وخت به ئے مانځه کښے تیرولو. د مانځه نه پس به ذکر وتسبیح کښے مشغول وُو. بیا به کورته تللو. او کورته به څمونږ په طرف تللو. او مونږ به ابوالدرداء رضی الله عنه سره ناست وُو. نو یو وارے هغه کس ته ابوالدرداء رضی الله عنه اووئیل، مونږ ته داسے یوه خبره اوښایه کومه چه مونږ ته فائده راکوی اوتا ته ئے نقصان نهٔ رسی. نو هغه اووئیل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه فوجی دسته چرته روانه کړه. کله چه هغه خلق واپس شول، نو هغے کښے یو کس د نبی کریم صلی الله علیه وسلم مجلس ته راغے. کوم ځائے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ناست وُو. او خپل نزدے کس ته ئے اووئیل، که تا لیدلی وی چه کله مونږ د دشمن سره مخامخ شو. نو یو ځوان نیزه اوچته کړه او مقابله کښے ئے یو کس ته اووئیل، دا توره واخله. زهٔ د غفار قبیلے یو ځوان یم. نو ستا به د دے جملے متعلق خیال څه وی؟ هغه اووئیل، چه څما خیال دے، چه د دغه کس اجر ضائع شو. مګر بل یو کس اووئیل، چه ما ته پکښے څهٔ بدی په نظر نه راځی. په دے خبره کښے د دواړو ترمینځ څه بحث او تکرار راغے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هم واؤریدهٔ. او وے فرمائیل، سبحان الله! دے کښے څه داسے خبره نه وه، چه د هغې په وجه د آخرت اجر ضائع شی. او دُنیا کښے د صفت قابل

---

[1] متوحدا: بالحاء المهملة: ای یحب التوحد والانفراد عن الناس وقوله رضی الله عنه "صلوٰة" ای ذو صلوٰة: وكذا "فانما هو تسبیح وتکبیر". [2] فقال له ابوالدرداء كلمة: ای قل لنا كلمة [3] السریة: بفتح فکسر فتشدید التحتیة، هی القطعة من الجیش [4] "ما اراه" بضم الهمزة: ای اظنه:

عَلٰى رُكْبَتَيْهِ قَالَ: فَمَرَّ بِنَا يَوْمًا آخَرَ فَقَالَ لَهُ أَبُو الدَّرْدَاءِ كَلِمَةً تَنْفَعُنَا وَلَا تَضُرُّكَ قَالَ: قَالَ لَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمُنْفِقُ عَلَى الْخَيْلِ¹ كَالْبَاسِطِ يَدَهُ بِالصَّدَقَةِ لَا يَقْبِضُهَا ثُمَّ مَرَّ بِنَا يَوْمًا آخَرَ فَقَالَ لَهُ أَبُو الدَّرْدَاءِ كَلِمَةً تَنْفَعُنَا وَلَا تَضُرُّكَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَ الرَّجُلُ خُرَيْمٌ الْأُسَيْدِيُّ لَوْلَا طُوْلُ جُمَّتِهِ² وَإِسْبَالُ إِزَارِهِ! فَبَلَغَ ذٰلِكَ خُرَيْمًا فَعَجَّلَ فَأَخَذَ شَفْرَةً فَقَطَعَ بِهَا جُمَّتَهُ إِلٰى أُذُنَيْهِ وَرَفَعَ إِزَارَهُ إِلٰى إِنْصَافِ سَاقَيْهِ ثُمَّ مَرَّ بِنَا يَوْمًا آخَرَ فَقَالَ لَهُ أَبُو الدَّرْدَاءِ: كَلِمَةً تَنْفَعُنَا وَلَا تَضُرُّكَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّكُمْ قَادِمُوْنَ عَلٰى إِخْوَانِكُمْ فَأَصْلِحُوْا رِحَالَكُمْ وَأَصْلِحُوْا لِبَاسَكُمْ حَتّٰى تَكُوْنُوْا كَأَنَّكُمْ شَامَةٌ³ فِي النَّاسِ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْفُحْشَ وَلَا التَّفَحُّشَ

رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ بِإِسْنَادٍ حَسَنٍ إِلَّا قَيْسَ بْنَ بِشْرٍ فَاخْتَلَفُوْا فِيْ تَوْثِيْقِهِ وَتَضْعِيْفِهِ وَقَدْ رَوٰى لَهُ مُسْلِمٌ ⁂

نه شي. ما اوليدل چه ابوالدرداء رضى الله عنه په دے اوريدلو ډيرزيات خوشحاله شو. او هغه طرفته ئے اوکتل، او وے فرمائيل، چه واقعي تا د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه داسے فرمائيلي آوريدلي دى؟ هغوئ اووئيل، هو. ابوالدرداء رضى الله عنه به د ډيرے خوشحالئ نه بار بار هم دغه پوښتنه کوله. نو ما هغهٔ ته اووئيل، چه څه کوے په خپو ورته ځان غورځوے؟ ځما پلار واڼ، چه بيا يوه ورځ حنظليه رضى الله عنه هلته تيريدلو نو ابوالدرداءرض ورته اووئيل، بيا را ته داسے خبره واوروه، چه مونږ د پاره د فائدے وى. مګر چه تا ته بيرے څه نقصان نهٔ رسى. نو هغوئ اووئيل، چه رسول الله صلى الله عليه وسلم يو وارے مونږ ته اوفرمائيل، چه جهاد د پاره په آسونو د خوراک خورونکى مثال د هغه کس په شان دے، چه د هغهٔ لاس د خرچ او صدقے د پاره هميشه او هروخت بيرته وى او کله ئے هم نهٔ بندوى. دے نه پس بيا ځمونږ طرفته يوه ورځ هغه تيرشو، نو ابوالدرداء رضى الله عنه هم هغه خبره دوباره اوکړه، چه مونږ ته داسے خبرے اوښايه چه تا ته هغے کښے څه نقصان نهٔ وى. او مونږ ته فائده اورسى. نو هغوئ اوفرمائيل، چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه خريم اُسيدى رضى الله عنه ډير ښه سړے دے. خو که د سر ويښته ئے اوږده نه وے او لنګ ئے نړوړند نه وے. کله چه خريم دا خبره واوريده، نو سمدستى ئے چاړه راواخستله، او د سر ويښته ئے د غوږونو پورے پريکړل. او لنګ ئے پنډو پورے اوچت کړو. دے نه پس يوه ورځ بيا هغه طرف باندے تيريدلو. نو ابوالدرداء رضى الله عنه ورته بيا هغسے اووئيل، چه مونږ ته داسے خبره واوروه، چه مونږ د پاره د فائدے وى. او تا ته پکښے څه نقصان نه وى. هغه اووئيل، چه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه (د يو جنګ نه

---

¹ على الخيل، " اى فى رعيها وسقيها وعلفها ونحو ذلك المراد: الخيل المعدة للجهاد فى سبيل الله تعالى. ² " الجمة " بضم الجيم وتشديد الميم: هى الشعر اذا طال حتى بلغ المنكبين وسقط عليهما، " والشفرة " بفتح الشين المعجمة السكين العريضة ³ هو الشامة:

په واپسئ کښے) دا سے فرمائیلی آوریدلی دی. چه تاسو خپلو ورونړو له ځئ. او خپلے کجاوے درستے کړئ. او جامے هم د طریقے واغوندئ. چه د خال په شان ښکاره په فرق معلومیږئ. ځکه چه الله تعالیٰ بےهوده کارونه او بے تمیزی نهٔ خوښوی - (ابوداوُدؒ) مگر د قیس بن بشر په ثقه او ضعیف کیدو کښے اختلاف دے. او مسلم هم دا حدیث ذِکر کړے دے.

۸۰۲۔ **وَعَنْ** اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِزْرَةُ الْمُسْلِمِ اِلٰی نِصْفِ السَّاقِ، وَ لَا حَرَجَ اَوْ لَا جُنَاحَ فِیْمَا بَیْنَهٗ وَ بَیْنَ الْکَعْبَیْنِ مَا کَانَ اَسْفَلَ مِنَ الْکَعْبَیْنِ فَهُوَ فِی النَّارِ وَمَنْ جَرَّ اِزَارَهٗ بَطَرًا لَمْ یَنْظُرِ اللّٰهُ اِلَیْهِ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ بِاِسْنَادٍ صَحِیْحٍ ؛

۸۰۲۔ حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د مسلمان لنګ نیمو پنډو پورے وی. او که د پنډو او ګیټو ترمینځه وی. نو هم څه باک نشته - که د ګیټو نه ښکته شو نو دغه ځلے به اور کښے وی. او څوک چه لنګ د کبر د وجهے نه ښکته ساتی، الله تعالیٰ به هغهٔ ته د قیامت په ورځ توجه نهٔ کوی - (ابوداوُدؒ)

۸۰۳۔ **وَعَنِ** ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ مَرَرْتُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَ فِیْ اِزَارِیْ اِسْتِرْخَاءٌ فَقَالَ یَا عَبْدَ اللّٰهِ، اِرْفَعْ اِزَارَكَ فَرَفَعْتُهٗ ثُمَّ قَالَ "زِدْ" فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ اِلٰی اَیْنَ ؟ فَقَالَ : اِلٰی اَنْصَافِ السَّاقَیْنِ۔

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۸۰۳ ۔ حضرت عبد الله بن عمر فاروق رضی الله عنهما نه روایت دے. چه زهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوا کښے تیریدم - دغه وخت ځما لنګ د حد نه زیات ښکته وُو. نو نبی کریم صلے الله علیه وسلم اوفرمائیل، اے عبدالله! خپل لنګ دے اوچت کړه - نو ما لږ اوچت کړو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم راته اوفرمائیل، نور ئے هم اوچت کړه. ما نور هم اوچت کړو - دے نه پس ما لنګ همیشه اوچت ساتلو، چا ترے پوښتنه اوکړه، چه څومره اوچت؟ نو وے فرمائیل، چه د پنډئ د نیمائی پورے. (مسلمؒ)

۸۰۴۔ **وَعَنْهُ** قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ، مَنْ جَرَّ ثَوْبَهٗ خُیَلَاءَ لَمْ یَنْظُرِ اللّٰهُ اِلَیْهِ یَوْمَ الْقِیَامَةِ فَقَالَتْ اُمُّ سَلَمَةَ فَکَیْفَ یَصْنَعُ النِّسَاءُ بِذُیُوْلِهِنَّ قَالَ یُرْخِیْنَ شِبْرًا قَالَتْ اِذًا تَنْکَشِفُ اَقْدَامُهُنَّ قَالَ فَیُرْخِیْنَهٗ ذِرَاعًا لَا یَزِدْنَ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَ

۸۰۴۔ دا روایت هم د عبد الله بن عمر فاروق رضی الله عنهما دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، د کبر په وجه چه څوک خپلے کپړے زوړندے ساتی. نو د قیامت په ورځ به ور ته الله تعالیٰ توجه نه کوی. ام سلمه رضی الله عنها پوښتنه اوکړه، چه ښځے به څهٔ کوی؟ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، یوه لویشت دے زیات کړی. نو هغے اوو ئیل، که دے نه پس هم خپے

التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

ښکاري نو بیا ؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، د لاس هومره دے ئے نور هم زیات کړي ۔ (ابوداؤدؒ، ترمذیؒ)

امام ترمذی وائی چه دا حدیث حسن صحیح دے۔

باب ۱۲۰

بَابُ اِسْتِحْبَابِ تَرْكِ التَّرَفُّعِ فِي اللِّبَاسِ تَوَاضُعًا !

د تواضع له خاطره فخریه لباس پرېښود

ف :- دے باب کښے صرف یو حدیث دے ۔ د دے باب مناسب څو جملے (باب فضل الجوع) کښے هم تیرے شوی دی ۔ **فخریه** او فریب نظرے جامه چه واغوندے چه خلق ورته متوجه شی او دهغوئ په نظر کښے ممتازه او بیله ښکاره شی ۔ دے ته ترفع وائی چه د دے مسلمان ته اجازت نشته، صفا سُتره او ساده جامه که هرڅومره قیمتی هم وی ۔ نو اغوستل ئے منع نه دی ۔ په دے شرط چه پکښے دځان غټ ښکاره کولو نیت ئے نه وی ۔

(نبوی حدیث)

۸۰۵ ۔ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ تَرَكَ اللِّبَاسَ تَوَاضُعًا لِلّٰهِ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَيْهِ دَعَاهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلٰى رُءُوْسِ الْخَلَائِقِ حَتّٰى يُخَيِّرَهُ مِنْ اَيِّ حُلَلِ الْاِيْمَانِ شَاءَ يَلْبَسُهَا" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ !!

۸۰۵ ۔ حضرت **معاذ** بن انس رضی الله عنه نه روایت دے ۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د قدرت او طاقت سره سره کوم کس چه د الله **تعالی** د پاره د عاجزئ لباس پرېښودلو، نو د قیامت په ورځ به د ټولو **خلقو** د وړاندے راوبللے شی او ورته به اووئیلے شی، چه نن د ایمانی جامو نه چه کومه جامه دے خوښه وی، وائے غونده ۔ (ترمذی)

امام ترمذیؒ وائی، چه دا حدیث حسن دے۔

باب ۱۲۱

بَابُ اِسْتِحْبَابِ التَّوَسُّطِ فِي اللِّبَاسِ وَلَا يَقْتَصِرُ عَلٰى مَا يُزْرِيْ بِهٖ لِغَيْرِ حَاجَةٍ وَلَا مَقْصُوْدٍ شَرْعِيٍّ !

(په جامه کښے درمیانه روی ؛)

ف :- دے باب کښے صرف یو حدیث دے ۔ قرآن مجید کښے ارشاد دے، چه خپل رب د نعمتونه ښکاره کړه ۔ یو نعمت په نعمتونو کښے جامه هم دہ ۔ په دے وجه که چرته تکبر، کبر، فخر او ترفع مقصد نهٔ وی نو ډېرے ښے جامے اغوستلو اجازت هم شته دے ۔ چه د غریب او حاجتمند د پاره د شناخت کار ورکوی ۔ او ضرورت مند دهغه طرف ته رجوع کوی ۔ او هغهٔ ته د عیال الله د مدد او خدمت موقع ور نصیب شی ۔

(نبوی حدیث)

۸۰۶۔ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ اَنْ يَّرٰى اَثَرَ نِعْمَتِهٖ عَلٰى عَبْدِهٖ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ ؛

۸۰۶ ۔ حضرت عمرو بن شعيب رضی الله عنه د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکهٔ نه روايت کوی. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه الله تعالیٰ په خپلو بندګانو د خپلو نعمتونو آثار اووينی۔ نو ډيرزيات خوشحاليږی۔

(ترمذی)

امام ترمذیؒ وائی چه دا حديث حسن دے۔

باب ۱۲۲

بَابُ تَحْرِيْمِ لِبَاسِ الْحَرِيْرِ عَلَى الرِّجَالِ وَتَحْرِيْمُ جُلُوْسِهِمْ عَلَيْهِ وَاِسْتِنَادِهِمْ اِلَيْهِ وَجَوَازِ لُبْسِهٖ لِلنِّسَاءِ !!!

(ريښمی جامه)

ف :۔ دے باب کښے شپږ حديثونه دی۔ سړو د پاره نه صرف د ريښمو داغوستلو ممانعت دے۔ بلکه د دے په بل صورت کښے مثلاً د بسترے، څادر وغيره په شکل کښے استعمال هم منع دے۔ البته د ښځود پاره په هر صورت کښے د دے استعمال جائز دے۔

(نبویؐ احاديث)

۸۰۷۔ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاتَلْبَسُوا الْحَرِيْرَ فَاِنَّ مَنْ لَبِسَهٗ فِى الدُّنْيَا لَمْ يَلْبَسْهُ فِى الْاٰخِرَةِ"

(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۸۰۷ ۔ حضرت عمر فاروق بن الخطاب رضی الله عنه نه روايت دے۔ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، ريښم مهٔ اغوندئ۔ څوک چه دُنيا کښے ريښم اغوندی۔ نو آخرت کښے به ئے د اغوستلو د پاره بيا نه مومی۔ (بخاریؒ و مُسلمؒ)

۸۰۸۔ وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ "اِنَّمَا يَلْبَسُ الْحَرِيْرَ مَنْ لَاخَلَاقَ لَهٗ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ مَنْ لَاخَلَاقَ لَهٗ فِى الْاٰخِرَةِ۔

قَوْلُهٗ "مَنْ لَاخَلَاقَ لَهٗ": اَیْ لَانَصِيْبَ لَهٗ۔

۸۰۸ ۔ دا روايت هم د عمر رضی الله عنه دے۔ چه ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه داسے فرمائيلی آوريدلی دی، چه څوک دُنيا کښے ريښم اغوندی (آخرت کښے به) د دهٔ څهٔ حصه نه وی۔

(بخاریؒ و مُسلمؒ) د بخاری په يو روايت کښے راځی، چه د هغهٔ په آخرت کښے هيڅ حصه نهٔ وی۔ د مَنْ لَاخَلَاقَ لَهٗ معنیٰ ده چه په آخرت کښے به ئے پکښے نصيب نه وی۔

۸۰۹۔ وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَبِسَ الْحَرِيْرَ فِى الدُّنْيَا لَمْ يَلْبَسْهُ فِى الْاٰخِرَةِ"

۸۰۹ ۔ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دے۔ چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، چا چه ريښم واغوستل، هغه به آخرت کښے د ريښمو اغوستلو نه محروم وی۔ (بخاریؒ و مُسلمؒ)

۸۱۰۔ **وَعَنْ** عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَخَذَ حَرِيْرًا فَجَعَلَهٗ فِيْ يَمِيْنِهٖ وَ ذَهَبًا فَجَعَلَهٗ فِيْ شِمَالِهٖ ثُمَّ قَالَ اِنَّ هٰذَيْنِ حَرَامٌ عَلٰى ذُكُوْرِ اُمَّتِيْ " رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ بِاِسْنَادٍ حَسَنٍ ؛

۸۱۰۔ حضرت على رضى الله عنه نه روايت دے۔ ما اوكتل، چه رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل ښى لاس كښے ريښم او كس لاس كښے سرهٔ زر او نيول۔ او، وے فرمائيل، چه دا دواړه څما د اُمت د سړو د پاره حرام دى۔

امام ابوداؤدؒ په صحيح سند سره روايت كړے دے۔

۸۱۱ - **وَعَنْ** اَبِىْ مُوْسَى الْاَشْعَرِىِّ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: حُرِّمَ لِبَاسُ الْحَرِيْرِ وَ الذَّهَبِ عَلٰى ذُكُوْرِ اُمَّتِيْ وَاُحِلَّ لِاِنَاثِهِمْ : رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

۸۱۱۔ حضرت ابوموسىٰ اشعرى رضى الله عنه نه روايت دے۔ چه رسول الله صلے الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه څما د اُمت د سړو د پاره د ريښمو كپړے او سرهٔ زر حرام گرځولے شوى دى۔ او ښځو د پاره حلال شوى دى۔ (ترمذى) امام ترمذىؒ وائى، چه دا حديث حسن صحيح دے۔

۸۱۲- **وَعَنْ** حُذَيْفَةَ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ نَهَانَا النَّبِىُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ نَشْرَبَ فِىْ اٰنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَاَنْ نَّاْكُلَ فِيْهَا وَعَنْ لُبْسِ الْحَرِيْرِ وَالدِّيْبَاجِ وَاَنْ نَجْلِسَ عَلَيْهِ۔

(رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)

۸۱۲۔ حضرت حذيفه رضى الله عنه فرمائى، چه رسول الله صَلَّى الله عليه وسلم موږ د سرو او سپينو زرو په لوښو كښے د خوراك كولو نه او د ديبا او ريښمو (دواړه ريښمى جامے دى) اغوستلو نه منع كړى يو۔ او په هغے باندے د ناستے نه ئے هم منع كړي وُو۔

(بُخارىؒ)

باب ۱۲۳

بَابُ جَوَازِ لُبْسِ الْحَرِيْرِ لِمَنْ بِهٖ حَكَّةٌ د ريښمو اغوستلو جواز

ف:۔ دے باب كښے صرف يو حديث دے۔

د ريښمو اغوستلو اجازت د علاج او د دوائى په طور دے، چه خارښ د دے په استعمال سره ښهٔ كيږى۔ (نبوىؐ حديث)

۸۱۳۔ **عَنْ** اَنَسٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَخَّصَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلزُّبَيْرِ وَعَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فِىْ لُبْسِ الْحَرِيْرِ لِحَكَّةٍ كَانَتْ بِهِمَا (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۸۱۳ - حضرت انس بن مالك رضى الله عنه نه روايت دے۔ چه رسول الله صلے الله عليه وسلم زبير او عبد الرحمٰن بن عوف رضى الله عنهما ته د خارښ مرض د پاره د ريښمينو جامو اغوستلو اجازت وركړے وُو۔

(بُخارىؒ ومُسلمؒ)

باب ۱۲۴

بَابُ النَّهْیِ عَنْ اِفْتِرَاشِ جُلُوْدِ النُّمُوْرِ وَالرُّکُوْبِ عَلَیْهَا :

د زمری په څرمن کیناستل

ف :- دے باب کښے دوه احادیث دی۔

(نبوی احادیث)

۸۱۴۔ عَنْ مُعَاوِیَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ "لَا تَرْکَبُوا الْخَزَّ وَلَا النِّمَارَ" حَدِیْثٌ حَسَنٌ رَوَاهُ اَبُوْدَاؤدَ وَغَیْرُهٗ بِاِسْنَادٍ حَسَنٍ۔

۸۱۴ - حضرت امیرمعاویه رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په ریښمو او د ځناورو په څرمنے د ناستے نه منع کړے ده۔ بوداؤد) او ابوداؤد وائی، چه حدیث حسن دے۔ او نور وائی چه سندئے حسن دے۔

۸۱۵ - وَعَنْ اَبِی الْمَلِیْحِ عَنْ اَبِیْهِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنْ جُلُوْدِ السِّبَاعِ رَوَاهُ اَبُوْدَاؤدَ وَالتِّرْمِذِیُّ وَالنَّسَائِیُّ بِاَسَانِیْدَ صِحَاحٍ وَفِیْ رِوَایَةٍ لِلتِّرْمِذِیِّ نَهٰی عَنْ جُلُوْدِ السِّبَاعِ اَنْ تُفْتَرَشَ۔

۸۱۵ - حضرت **ابوملیح** رضی الله عنه د خپل پلار رضی الله عنه نه روایت کوی۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځناورو په څرمنو ناستے نه منع کړے ده۔ (ابوداؤد، ترمذی ونسائی) دوئ وائی، د دے حدیث سند صحیح دے۔ او د ترمذی په روایت کښے دا هم شته، چه د ځناورو څرمنو ته ئے د فرش په شکل د استعمال نه منع کړے ده۔

باب ۱۲۵

بَابُ مَا یَقُوْلُ اِذَا لَبِسَ ثَوْبًا جَدِیْدًا اَوْ نَعْلًا اَوْ نَحْوَهٗ ؛

(نوے جامه او پیزار اغوستل)

ف :- دے باب کښے صرف یو حدیث دے۔

(نبوی حدیث)

۸۱۶۔ عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اسْتَجَدَّ ثَوْبًا سَمَّاهُ بِاِسْمِهٖ، عِمَامَةً اَوْ قَمِیْصًا اَوْ رِدَآءً یَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ اَنْتَ کَسَوْتَنِیْهِ اَسْاَلُكَ خَیْرَهٗ وَخَیْرَ مَاصُنِعَ لَهٗ" رَوَاهُ اَبُوْدَاؤدَ، وَالتِّرْمِذِیُّ وَقَالَ حَدِیْثٌ حَسَنٌ۔

۸۱۶ - حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به کله نوے کپړے اغوستلے نو د هغے نامه به ئے واخستله - که قمیص به وُو، پګړئ به وه یا څادر به وُو۔ او دُعا به ئے کوله۔ (ترجمه): اے الله! ثنا وصفت ستا دی۔ او دا کپړه چه تا ما ته راغوستلے ده، زه ستا نه د دے کپړے د خیر او کوم غرض د پاره چه دا جوړه شوے ده، د هغے د خیر سوال کوم۔ او زه ستا نه د دے د بدئ او بے خیرئ او کوم مقصد د پاره چه دا جوړه شوے ده، د هغے د بدئ نه پناه غواړم۔ (ابوداؤد وترمذی)

باب ۱۲۶

بَابُ اِسْتِحْبَابِ الْاِبْتِدَاءِ بِالْيَمِيْنِ فِي اللِّبَاسِ؛

په جامه کښے د ښی اړخ نه شروع

هٰذَا الْبَابُ قَدْ تَقَدَّمَ مَقْصُوْدُهٗ وَذَكَرْنَا الْاَحَادِيْثَ الصَّحِيْحَةَ فِيْهِ!!

د دے باب حاصل او مقصد وړومبے بیان شوے دے۔ او هلته داسے صحیح احادیث هم بیان شوی دی، کوم چه په دے موضوع باندے دلالت کوی۔

باب ۱۲۷

بَابُ اٰدَابِ النَّوْمِ وَالْاِضْطِجَاعِ وَالْقُعُوْدِ وَالْمَجْلِسِ وَالْجَلِيْسِ وَالرُّؤْيَا؛

د خوب اړخ لګولو، کیناستلو، مجلس او د مجلس د ملګرو او د خوب لیدلو بیان

ف ۱- دے باب کښے شپږ احادیث دی۔ هغے کښے د اوده کیدو، څملاستو، د ناستے، مجلس کښے د ناستے والا او د خوب آداب ښودلے شوی دی۔

(نبوی احادیث)

۸۱۷- **عَنِ** الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَوٰى اِلٰى فِرَاشِهٖ نَامَ عَلٰى شِقِّهِ الْاَيْمَنِ ثُمَّ قَالَ "اَللّٰهُمَّ اَسْلَمْتُ نَفْسِيْ اِلَيْكَ وَوَجَّهْتُ وَجْهِيْ اِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ اَمْرِيْ اِلَيْكَ، وَاَلْجَاْتُ ظَهْرِيْ اِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً اِلَيْكَ، لَا مَلْجَاَ وَلَا مَنْجَاَ مِنْكَ اِلَّا اِلَيْكَ اٰمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِيْ اَنْزَلْتَ وَنَبِيِّكَ الَّذِيْ اَرْسَلْتَ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ بِهٰذَا اللَّفْظِ فِيْ كِتَابِ الْاَدَبِ مِنْ صَحِيْحِهٖ!!

۸۱۷- حضرت براء بن عازب رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به کله د اوده کیدو د پاره بسترے ته راغے، نو ښی طرف باندے به څملاستو۔ او دا دعا به ئے وئیله: (ترجمه) اے الله! ما تا ته خپل ځان اوسپارلو۔ او خپل ځان مے تا ته متوجه کړو، او خپل کار مے تا ته حواله کړو۔ او ستا نه د اُمید ساتلو او ستا نه د ویرے کولو د پاره ستا په ذات مے اعتماد اوکړو۔ ځکه چه بغیر ستا نه، نه د پناه ځائے شته، او نه د بچ کیدو لار۔ ما ستا په نازل شوی کتاب قرآن او ستا په رالیږلی نبی (محمد صلی الله علیه وسلم) باندے ایمان راوړے دے۔ (بُخاری)

۸۱۸- **وَعَنْهُ** قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَتَيْتَ مُضْطَجَعَكَ فَتَوَضَّاْ وُضُوْءَكَ لِلصَّلٰوةِ ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلٰى شِقِّكَ الْاَيْمَنِ وَقُلْ" وَذَكَرَ نَحْوَهٗ وَفِيْهِ "وَاجْعَلْهُنَّ اٰخِرَ مَا تَقُوْلُ!" (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۸۱۸- دا روایت هم د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه دے۔ چه ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه کله د اوده کیدو د پاره بسترے ته ځے۔ نو اول اودس اوکړه۔ څنګه چه مانځه ته اودس کوے۔ بیا په ښی طرف څمله او دا دُعا اووایه (کومه چه مخکښے حدیث کښے تیره شوه) او دا کلمات دے ستا

لہ "فیؤذنه" بضم التحتیة وسکون الهمزة: ای یعلمه باجتماع الناس ؛

آخري کلمات وي - (د دے مطلب دا هم کيدے شي ، چه د دے نه پس نور کلمات مه وايه - او دائے هم مطلب دے ، چه څۀ خبرے مه کوه) - (بخاريؒ ومسلمؒ)

۸۱۹ - وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ مِنَ اللَّيْلِ اِحْدٰى عَشْرَةَ رَكْعَةً فَاِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيْفَتَيْنِ ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلٰى شِقِّهِ الْاَيْمَنِ حَتّٰى يَجِيْءَ الْمُؤَذِّنُ فَيُؤْذِنَهُ[1] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۸۱۹ - حضرت عائشه رضی الله عنها نه روايت دے - چه رسول الله صلی الله عليه وسلم به د شپے يوولس رکعته کول او د صبح صادقا په وخت کښے به ئے دوه مختصر رکعتونه کول او ښی اړخ باندے بهٔ لږ ساعت آرام کولو - او کله به چه مؤذن د جمعے تيارېدلو خبر ورکړو، نو پاڅېدلو به -

(بخاريؒ ومسلمؒ)

۸۲۰ - وَعَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَخَذَ مَضْجَعَهُ مِنَ اللَّيْلِ وَضَعَ يَدَهُ تَحْتَ خَدِّهِ ثُمَّ يَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيَا" وَاِذَا اسْتَيْقَظَ قَالَ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ[1] رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ -

۸۲۰ - حضرت حذيفه رضی الله عنه نه روايت دے - چه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم دا عادت ؤ - چه کله به د شپے تېرولو د پاره بسترے ته لاړو نو لاس به ئے د مخ د آننګی لاندے کېښودلو - او بيا به ئے دا کلمات وئيل: (ترجمه) اے الله ځما مرګ او ژوند خاص ستا په نوم سره دے - او کله به چه پاڅېدو نو دا کلمات به ئے فرمائيل، (ترجمه) ټول ثنا وصفتونه الله لره دی، چه مونږ د مرګ نه پس پاڅوی - او هغهٔ ته دی د کارونو واپسی - (بخاريؒ)

۸۲۱ - وَعَنْ يَعِيْشَ بْنِ طِخْفَةَ الْغِفَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ اَبِيْ: "بَيْنَمَا اَنَا مُضْطَجِعٌ فِي الْمَسْجِدِ عَلٰى بَطْنِيْ اِذَا رَجُلٌ يُحَرِّكُنِيْ بِرِجْلِهِ فَقَالَ: فَنَظَرْتُ فَاِذَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ"

۸۲۱ - حضرت يعيش بن طخفه غفاری رضی الله عنهما نه روايت دے - چه ځما پلار وائی، چه يو وارے زهٔ مسجد نبوی کښے اړولے (پړمخے) پروت ووم - ځما بدن چا خپے سره اوخوزولو - او وے وئيل، چه په دا سے شکل ملاسته الله تعالیٰ نه خوښوی: ما چه سترګے اوچتے کړے نو ګورم چه رسول الله صلی الله عليه وسلم دے (چه دا فرمائی) امام ابوداؤد په صحيح سند سره روايت کړے دے.

۸۲۲ - وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ قَعَدَ مَقْعَدًا لَمْ يَذْكُرِ اللّٰهَ تَعَالٰى فِيْهِ كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى تِرَةٌ وَمَنِ اضْطَجَعَ مُضْطَجَعًا لَا يَذْكُرُ اللّٰهَ تَعَالٰى فِيْهِ كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللّٰهِ تِرَةٌ

۸۲۲ - حضرت ابوهريرهؓ نه روايت دے. چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه څوک دا سے ځائے کښے کيناستو (يوازے وی يا مجلس کښے) او چه هلته ئے دالله نوم ياد نهٔ کړو - نو دغه ناسته باندے د الله تعالیٰ له خوانه د ملامتيا باعث وی (به دهٔ) - او دغسے د ملاستے په ځائے کښے

---

[1] والیه النشور: ای المرجع.

رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ بِاِسْنَادٍ حَسَنٍ. "اَلتِّرَةُ" بِكَسْرِ التَّآءِ الْمُثَنَّاةِ مِنْ فَوْقِ وَهِيَ: النَّقْصُ، وَقِيْلَ التَّبِعَةُ!

داودهٔ کید و په وخت کښې چه چا الله تعر یاد نه کړو، نو دا هم (په دهٔ باندے) د الله تعالیٰ له خوا د ملامتیا باعث دے. (ابوداودؒ) اَلتِّرَةُ: یعنی کمے او نقصان او کوتاهی. د ملامتیا دپاره هم استعمالیږی.

باب ۱۲۸

بَابُ جَوَازِ الْاِسْتِلْقَآءِ عَلَى الْقَفَا وَوَضْعِ اِحْدَ الرِّجْلَيْنِ عَلَى الْاُخْرٰى اِذَا لَمْ يَخَفْ اِنْكِشَافَ الْعَوْرَةِ وَجَوَازِ الْمَقْعُوْدِ مُتَرَبِّعًا وَ مُحْتَبِيًا!!

سټونی سټاغ څملاستل

ف:- دے باب کښې پنځهٔ احادیث دی. دے احادیثو کښې په مختلفو حالتونو او طریقو سره د ملاستے او ناستے جائز والے معلومیږی.

(نبوی احادیث)

۸۲۳- عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ يَزِيْدَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّهٗ رَاٰى رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَلْقِيًا فِى الْمَسْجِدِ وَاضِعًا اِحْدٰى رِجْلَيْهِ عَلَى الْاُخْرٰى. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۸۲۳- حضرت عبدالله بن یزید رضی الله عنه وائی، چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم په مسجد نبوی کښې په سټونی سټاغ ملاسته باندے لیدلے دے، چه یوه خپه ئے په بله اچولے ده. (بخاری ومسلمؒ)

۸۲۴- وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا صَلَّى الْفَجْرَ تَرَبَّعَ فِىْ مَجْلِسِهٖ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ حَسْنَاءَ لهٗ حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ، رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَغَيْرُهٗ بِاَسَانِيْدَ صَحِيْحَةٍ!!

۸۲۴- حضرت جابر بن سمره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د سحر د مانځه نه پس پرلتئ او وهله او کیبه ناستلو. تر هغه وخته پورے چه نمر به ښه روښانه شو. (ابوداودؒ)

ابوداودؒ وائی، چه دا حدیث صحیح دے.

۸۲۵- وَعَنْ اِبْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِفِنَاءِ الْكَعْبَةِ مُحْتَبِيًا بِيَدَيْهِ هٰكَذَا وَوَصَفَ

۸۲۵- حضرت عبدالله بن عمر فاروق رضی الله عنهما نه روایت دے. چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم د کعبے په صحن کښې کوټے ماتے کړے ناست او لیدلو. (او هم هغسے شکل ئے جوړ کړو) او دغسے

لهٗ "حسناء" ای بیضاء -

بِيَدَيْهِ الْاِحْتِبَاءُ وَهُوَالْقُرْفُصَاءُ

(رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ)

ناستے ته قرفصآء وئیلے شی۔

(بُخاریؒ)

(یعنی کوناټې په زمکه اولګوی او دواړه زنګونان اودروی اودواړه لاسونه ترے حلقه کړی، چه ځپے کیرے شی۔ بعضے خلق د لاسونو په ځائے څادر یا رومال دملا نه وروستو راتاؤ کړی۔ او د زنګونانو نزدے ورله غوټه ورکړی۔ دا سے ناستے سره ستومانی اوځی۔ د سړی په ذمه کولو کښے امداد ورکوی)۔

۸۲٦۔ وَعَنْ قَيْلَةَ بِنْتِ مَخْرَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: رَاَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ قَاعِدٌ الْقُرْفُصَاءَ فَلَمَّا رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَخَشِّعَ فِي الْجِلْسَةِ اُرْعِدْتُ مِنَ الْفَرَقِ [1] رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِیُّ۔

۸۲٦۔ حضرت قیله بنت مخرمه رضی الله عنها نه روایت دے، چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم د قرفصاء ناستے په حالت کښے لیدلے دے (مخکښے د قرفصاء ذکر اوشو) ما چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د عاجزئ دغه ناسته اولیدله، نو په ما باندے د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د رُعب او د بدبے او شان ډیر اثر اوشو۔

(ابوداؤدؒ و ترمذیؒ)

۸۲۷۔ وَعَنْ الشَّرِيْدِ بْنِ سُوَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: مَرَّبِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَنَا جَالِسٌ هٰكَذَا وَقَدْ وَضَعْتُ يَدِيَ الْيُسْرٰى خَلْفَ ظَهْرِيْ وَاتَّكَاْتُ عَلٰى اَلْيَةِ يَدِيْ [2] فَقَالَ اَتَقْعُدُ قِعْدَةَ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ ::

۸۲۷۔ حضرت شرید بن سوید رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه ما یو ځل کس لاس په ملا باندے ایښودے وُو۔ او په ښی لاس مے تکیه وهلے وه، چه دغه وخت رسول الله صلی الله علیه وسلم په ما تیر شو۔ نو ما ته ئے اوفرمائیل، چه دا څنګه د غضب شوو او نافرمانو خلقو په شان ناست ئے (نیغ کینه)۔

(ابوداؤدؒ)

باب ۱۲۹

بَابُ فِيْ اٰدَابِ الْمَجْلِسِ وَالْجَلِيْسِ :: د مجلس آداب

ف:۔ دے باب کښے یوولس احادیث دی۔ اسلام چونکه مکمل ضابطۂ حیات دے۔ دۀ د مهد نه ترلحده پورے بلکه دے نه پس د آخرت آبدی ژوند ه پورے، د ژوندون د هر اړخ د پاره ئے رنړائی او رهنمائی ښودلے ده۔ که ټول عمر څوک تیر کړی، نو دا نه شی ښودلے او نه داکوته کیښودلے شی چه فلانئ شعبه د اسلام د لارے ښودنے نه په تیاره کښے پاتے شوے ده۔ د دے لارے اصل الاصول صرف یو دے۔ چه انسان په کوم حالت او کیفیت کښے وی۔ او څهٔ ئے پرے تیریږی۔ او هغهٔ ته فائده په نظر راځی اوکه نه راځی۔ د الله تعالیٰ د یاد نه، د هغه نامه اخستلو نه دے غافله نه اوسی۔ د دُنیا او د آخرت نقصان بنیادی سبب د الله تعالیٰ د یاد نه غافله پاتے کیدل دی اوبس!

(نبوی احادیث)

۸۲۸۔ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

۸۲۸۔ حضرت عبد الله بن عمر فاروق رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه رسول

---

[1] "الفرق" بفتح اولیه واخره قاف: الخوف [2] "الية يدى" الالية بكسر الهمزة وسكون اللام: اصل الابهام وما تحته: "والمغضوب عليهم" اليهود ::

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يُقِيْمَنَّ اَحَدُكُمْ رَجُلًا مِنْ مَجْلِسِهٖ ثُمَّ يَجْلِسُ فِيْهِ وَلٰكِنْ تَوَسَّعُوْا وَتَفَسَّحُوْا" وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ اِذَا قَامَ لَهٗ رَجُلٌ مِنْ مَجْلِسِهٖ لَمْ يَجْلِسْ فِيْهِ۔ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ÷

الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، تا سو په مجلس کښې د خپل ځان د پاره څوک مه پاخوئ۔ دے د پاره چه پخپله په هغه ځائے کینې۔ بلکه ناستو خلقوله پکار دی، چه راتلونکو خلقو د پاره مجلس د ناستې د پاره گنجائش او خالی ځائے پیدا کړی۔ دابن عمر رضی الله عنه په مجلس کښې به که څوک اودریدلو او پخپل ځائے به ئے ورته د ناستې د پاره اوښودلو، نو هلته به بیا هغه نهٔ کیناستلو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

۸۲۹- **وَعَنْ** اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِذَا قَامَ اَحَدُكُمْ مِنْ مَجْلِسٍ ثُمَّ رَجَعَ اِلَيْهِ فَهُوَ اَحَقُّ بِهٖ۔ رَوَاهُ مُسْلِمٌ ÷

۸۲۹- حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، که تا سو کښې د خپل ځائے نه څه ضرورت د پاره څوک پاڅیدو۔ اولاړو۔ او دوباره واپس راشی۔ نو هم هغه ځائے کښې د ناستې زیات حقدار دے۔ (مسلم)

۸۳۰- **وَعَنْ** جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: كُنَّا اِذَا اَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَسَ اَحَدُنَا حَيْثُ يَنْتَهِيْ۔ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ۔

۸۳۰- حضرت جابر بن سمره رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه مونږ کښې به څوک د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مجلس کښې حاضریدو نو د مجلس یو طرف کښې به کیناستلو۔ (تر پونه وهلو سره به مو مخے ته د تللو کوشش نه کولو) - (ابوداؤد وترمذی)

۸۳۱- **وَعَنْ** اَبِيْ عَبْدِ اللّٰهِ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَا يَغْتَسِلُ رَجُلٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيَتَطَهَّرُ مَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ وَيَدَّهِنُ مِنْ دُهْنِهٖ اَوْ يَمَسُّ مِنْ طِيْبِ بَيْتِهٖ ثُمَّ يَخْرُجُ فَلَا يُفَرِّقُ بَيْنَ اثْنَيْنِ ثُمَّ يُصَلِّيْ مَا كُتِبَ لَهٗ ثُمَّ يُنْصِتُ اِذَا تَكَلَّمَ الْاِمَامُ اِلَّا غُفِرَ لَهٗ مَا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْاُخْرٰى۔ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ÷

۸۳۱- حضرت ابوعبدالله سلمان فارسی رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د جمعے په ورځ څوک غسل اوکړی۔ او څومره چه کیدے شی پا بندئ سره پاکی حاصله کړی۔ او کور کښې موجوده تیل او خوشبوئی اولگوی۔ بیا مانځه ته لاړشی او جومات کښې د دوه کسانو ترمینځ د جدا والی راوستو سره کینهٔ نی۔ بیا چه کوم فرض دی هغه هم اوکړی۔ او د امام د خطبے په وخت کښې غلے خاموش ناست وی۔ (نو د الله تعالیٰ لخوا د هغهٔ بدله داده، چه) د دغه جمعے نه بلے جمعے پورے الله تعالیٰ د دهٔ گناهونه معاف کړی۔ (بخاریؒ)

۸۳۲- **وَعَنْ** عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

۸۳۲- حضرت عمرو بن شعیب رضی الله عنه د خپل پلار، او هغه د خپل نیکهٔ

أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يُفَرِّقَ بَيْنَ اثْنَيْنِ إِلَّا بِإِذْنِهِمَا" رَوَاهُ أَبُودَاوُد وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ: "لَا يُجْلَسُ بَيْنَ رَجُلَيْنِ إِلَّا بِإِذْنِهِمَا"!!

نه روایت کوی. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، یو کس د پاره هم دا حلال نه دی، چه د دوو کسانو په مینځ کښې بغیر د هغوئ د اجازت نه کیني. (ابوداؤد و ترمذی)

دابوداؤد په روایت کښې صرف دا دی، چه شریک دے هم د دوو کسانو ترمینځ بغیر د هغوئ د اجازت نه نه کیني.

۸۳۳ - وَعَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ مَنْ جَلَسَ وَسْطَ الْحَلْقَةِ رَوَاهُ أَبُودَاوُد بِإِسْنَادٍ حَسَنٍ وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ عَنْ أَبِي مِجْلَزٍ أَنَّ رَجُلًا قَعَدَ وَسْطَ حَلْقَةٍ فَقَالَ حُذَيْفَةُ مَلْعُونٌ عَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ لَعَنَ اللهُ عَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جَلَسَ وَسْطَ الْحَلْقَةِ قَالَ التِّرْمِذِيُّ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

۸۳۳ - حضرت حذیفه بن الیمان رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت ویلے دے، په هغه چا چه د مجلس د حلقې په مینځ کښې کیني. (ابوداؤدؒ) او وائی چه سند ئې حسن دے. او ترمذی د ابومجلز نه روایت کوی چه یو کس د مجلس د حلقې د ننه کیناستلو. نو حذیفهؓ اووئیل، چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په فرمان سره دا لعنتی دے. (د راوی شک دے) یائې دا سے اوفرمائیل، چه د مجلس د حلقې په مینځ کښې کیناستونکی باندے الله تعالیٰ د محمد صلی الله علیه وسلم په ژبه لعنت لیږلے دے. (ترمذی)

۸۳۴ - وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "خَيْرُ الْمَجَالِسِ أَوْسَعُهَا" رَوَاهُ أَبُودَاوُد بِإِسْنَادٍ صَحِيحٍ عَلَى شَرْطِ الْبُخَارِيِّ.

۸۳۴ - حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے. چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرمائیلی آوریدلی دی. چه بنه بیرته او فراخه مجلسونه ډیر بنه دی. (ابوداؤدؒ)

ابوداؤد په صحیح سند سره بیان کړے دے، خو د امام بخاریؒ په شرط سره.

۸۳۵ - وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ، كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَنْ جَلَسَ فِي مَجْلِسٍ فَكَثُرَ فِيهِ لَغَطُهُ[1] فَقَالَ قَبْلَ أَنْ يَقُومَ مِنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ: سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ

۸۳۵ - حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه څوک چرته مجلس کښې کیني او هلته فضول فالتو، بے هوده او بے فائدے خبرے کیږی. او دا کس د پاڅیدو نه مخکښې دا کلمات اووائی: (ترجمه): اے الله ته پاک ئې،

---

[1] "فكثر فيه لغطه" بفتح الام والغين المعجمة وبالطاء المهملة: اى كثر فيه كلامه بما لا ينفعه في آخرته !!

اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ ؛ اِلَّا غُفِرَلَهٗ مَا كَانَ فِيْ مَجْلِسِهٖ ذٰلِكَ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

د صفتو لائق هم ته ئے۔ زۀ ګواه یم، چه بغیرد تا نه بل الله نشته۔ نو زۀ تا نه معافی غواړم۔ او ستا دربار کښے توبه اوباسم." نو دے مجلس کښے چه څه خبره د دۀ نه شوے وی۔ ټولے ورته معاف کولے شی۔ (ترمذیؒ) او امام ترمذیؒ وائی چه دا حدیث حسن صحیح دے۔

٨٣٦- وَعَنْ اَبِيْ بَرْزَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ بِاٰخِرَةٍ[1] اِذَا اَرَادَ اَنْ يَقُوْمَ مِنَ الْمَجْلِسِ: "سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ" فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّكَ لَتَقُوْلُ قَوْلًا مَا كُنْتَ تَقُوْلُهٗ فِيْمَا مَضٰى؟ قَالَ: "ذٰلِكَ كَفَّارَةٌ لِمَا يَكُوْنُ فِي الْمَجْلِسِ" رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَرَوَاهُ الْحَاكِمُ اَبُوْعَبْدِ اللّٰهِ فِي الْمُسْتَدْرَكِ مِنْ رِوَايَةِ عَاۤئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وَقَالَ صَحِيْحُ الْاِسْنَادِ

٨٣٧- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: فَلَمَّا كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْمُ مِنْ مَجْلِسٍ حَتّٰى يَدْعُوْا بِهٰؤُلَاۤءِ الدَّعَوَاتِ" اَللّٰهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَا تَحُوْلُ بِهٖ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعْصِيَتِكَ وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهٖ جَنَّتَكَ وَمِنَ الْيَقِيْنِ مَا تُهَوِّنُ بِهٖ عَلَيْنَا مَصَاۤئِبَ الدُّنْيَا اَللّٰهُمَّ مَتِّعْنَا بِاَسْمَاعِنَا وَاَبْصَارِنَا وَقُوَّتِنَا مَا اَحْيَيْتَنَا وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا وَاجْعَلْ ثَارَنَا عَلٰى مَنْ ظَلَمَنَا وَانْصُرْنَا عَلٰى مَنْ عَادَانَا وَلَا تَجْعَلْ

٨٣٦- حضرت ابوبرزه رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه آخری عمر کښے به نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه کله د مجلس نه پاڅیدو۔ نو دا کلمات به ئے فرمائیل: (ترجمه): اے الله! ته پاک ئے۔ ټول صفتونه هم ستا دپاره دی۔ زۀ ګواهی ورکوم، چه تا نه بغیر بل لائق د عبادت نشته۔ زۀ خاص هم تا نه معافی غواړم۔ او توبے دپاره هم خاص تا ته رجوع کوم۔ یو صحابی عرض اوکړو، یارسول الله! دے نه مخکښے خو تاسو دا سے کلمات کله هم هم نه ذو وئیلی۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، مجلس کښے چه څه کیږی، دا کلمات د هغے دپاره کفاره ده۔ (ابوداؤدؒ) او حاکمؒ په خپل مستدرک کښے د عائشهؓ نه روایت نقل کړے دے۔ او وئیلی ئے دی، چه دا حدیث د سند په اعتبار سره صحیح دے۔

٨٣٧- حضرت عبد الله بن عمر فاروق رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه دا سے ډیر کم وارے شوی دی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به د مجلس نه پاڅیدلے وی او دا کلمات به ئے نه وی وئیلی۔ (ترجمه): اے الله! مونږ له دا سے ویره راکړه چه څمونږ او ستا د نافرمانئ ترمینځ دیوال جوړشی۔ او د تابعدارئ او د منلو هغه درجه راکړه، چه مونږ ستا جنت ته اورسوی۔ او دا سے پوخ او مضبوط یقین راکړه، چه په مونږه د دُنیا مصیبتونه سبک کړی۔ او کله پورے چه مونږ ژوندی یُو۔ نو مونږ ته د اوریدلو د لیدلو او د نورو طاقتونو نه د فائد اخستلو اسباب راکړه۔ او په دے څیزونو کښے

---

[1] "بالاٰخرة" بفتح الهمزة والخاء المعجمة ؛ اى في اٰخر عمره !!

مُصِيْبَتَنَا فِيْ دِيْنِنَا وَ لَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا اَكْبَرَ هَمِّنَا وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَا يَرْحَمُنَا" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ؛

ځمونږ نه (څوک) وارث جوړکړه - په مونږ باندے د ظلم کونکی بدله همغه پورے محدود ده کړے مونږ سره چه څوک د شمنی کوی - د هغه مقابله کښے ځمونږ امداد اوکړه او په دینی مصیبتونو کښے مونږ مهٔ راګیروه - او دُنیا ځمونږ نصب العین (لوئ مقصد) مهٔ کرځوه - او څوک چه مونږ سره مهربانی نهٔ کوی هغه په مونږ باندے مه مسلط (اخته) کوه - (ترمذی) او امام ترمذیؒ وائی چه دا حدیث حسن دے -

۸۳۸- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ قَوْمٍ يَقُوْمُوْنَ مِنْ مَجْلِسٍ لَا يَذْكُرُوْنَ اللهَ تَعَالٰى فِيْهِ اِلَّا قَامُوْا عَنْ مِّثْلِ جِيْفَةِ حِمَارٍ وَ كَانَ لَهُمْ حَسْرَةً" رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ؛

۸۳۸- حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه د یو داسے مجلس نه چه د الله ذکر پکښے نهٔ وی شوے، د پاڅیدونکو خلقو مثال د داسے خلقو په شان دے - چه د مړخرنه راپاڅیدو سره راځی. (او افسوس او آرمان د دوئ لمنه نیولے وی.) (ابوداؤدؒ)

او ابوداؤدؒ وائی چه د دے حدیث سند صحیح دے -

۸۳۹- وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَا جَلَسَ قَوْمٌ مَجْلِسًا لَمْ يَذْكُرُوا اللهَ تَعَالٰى فِيْهِ وَلَمْ يُصَلُّوْا عَلٰى نَبِيِّهِمْ فِيْهِ اِلَّا كَانَ عَلَيْهِمْ تِرَةٌ فَاِنْ شَآءَ عَذَّبَهُمْ وَاِنْ شَآءَ غَفَرَ لَهُمْ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ؛

۸۳۹- دا روایت هم د حضرت ابوهریره رضی الله عنه دے - چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، هغه مجلس چه نه پکښے د الله ذکر او یاد شوے وی - او نه مجلسیانو په دے مجلس کښے په نبی کریم صلے الله علیه وسلم دُرود لیږلے وی - نو هغوئ د الله تعالیٰ د سزا حقدار دی - (او سے الله خوښه ده، چه عذاب ورکوی، یائے معاف کوی) - (ترمذی)

او ترمذی رحمة الله علیه وئیلی دی، چه دا حدیث حسن دے-

۸۴۰- وَعَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَعَدَ مُقْعَدًا لَمْ يَذْكُرِ اللهَ تَعَالٰى فِيْهِ كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللهِ تِرَةٌ" رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَ قَدْ سَبَقَ قَرِيْبًا وَشَرَحْنَا "اَلتِّرَةُ" فِيْهِ.

۸۴۰- دا روایت هم د حضرت ابوهریره رضی الله عنه دے - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه څوک په داسے ځائے کښے کینا ستو چه هلته ئے د الله تعالیٰ ذِکر پکښے اونهٔ کړو - نو دا خبره د الله تعالیٰ د ناراضګئ ملامتیا ده. او څوک چه د دے لګولو په داسے ځائے کښے څملاستلو چه د الله تعالیٰ ذِکرئے پکښے اونکړو، نو دا هم د خسارے، نقصان او د الله د خفګان خبره ده. (ابوداؤد)

داحديث مخکښے هم تیرشوے دے۔ اود "ترة" تشریح پکښے بیان شوے ده.

باب ۱۳۰

بَابُ الرُّؤْيَا وَمَا يَتَعَلَّقُ بِهَا ؛ خوبونه اوڅه چه ورسره اړه لري.

ف :- دے باب کښے یو آیت او اوۀ حدیثونه دی۔ خوبونه (اضغاث احلام) ګډ وډ پریشا نه هم کیدے شي۔ او دے ته د نبوّت شپږ ۴۶ څلویښتمه حصه هم ویلے شوے ده۔ سلسله د نبوّت چونکه ختمه شوے ده۔ په دے وجه د الله د وحی یقیني ذریعه د دے سره هم ختمه شوے ده۔ البته القاءِ الٰهی د مبشراتو (زیرے ورکونکو) حصه ده۔ خوب د لاشعوری سیل ته ویلے شي۔ په ویښه شعور غالب وی۔ په دے وجه خوب په نظرنهٔ راځي۔ خوب نیکان، بدعمله، عالِم، جاهل، وړوکے غټ هرڅوک لیدلے شي۔ مګر د خوبونو د معنو علم چونکه د نبوّت د علم سره تعلق لري۔ په دے وجه هر سړے د خوبونو په معنو باندے نه پوهیږی۔ د تعبیر (معنو ویستلو) اهمیت د پاره دومره ویل کافی دی چه د حدیث له مخه هرکس او ناکس نه د خوب تعبیر پوښتل منع دی۔ خوب هسے خوب او خیال هم وی، او ژوندے او اتل حقیقت هم وی چه د هغے نه تخلیل ممکن دی۔ او نه ترے د انکار مجال شته)۔

(قرآنی آیت)

۲۶۵ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[1] "وَمِنْ اٰيَاتِهٖ مَنَامُكُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ" ؛

۲۶۵ - د الله تعالیٰ په نښو کښے ستاسو د شپے او ورځے اوده کیدل هم شامل دی۔ (پ۲۱/ر دم)

نبوی احادیث

۸۴۱ - **وَعَنْ** اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : "لَمْ يَبْقَ مِنَ النُّبُوَّةِ اِلَّا الْمُبَشِّرَاتُ" قَالُوْا : وَمَا الْمُبَشِّرَاتُ ؟ قَالَ : "الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ" - (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)

۸۴۱ - حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرما ئیلی آوریدلی دی۔ چه د نبوّت د آثارو نه صرف مبشرات (زیری) باقی پاتے دی۔ صحابهٔ عرض اوکړو، مبشرات څه څیز دے ؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه ښه خوبونه۔ (بخاری) (چه د هغے په ذریعه وخت په وخت د ضرورت مطابق زیری ورکولے شي۔ او خوشحالی اوروله شي، چه حوصله قائمه اوساتلے شي۔ او زړهٔ غټ شي۔ همت او حوصله مضبوطه شي۔ د دے د پاره چه د خلقو د مقصدونو سره لګاؤ پیدا شي۔ او د نیغے لارے نه وانه وړی)۔

۸۴۲ - **وَعَنْهُ** اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : "اِذَا اقْتَرَبَ

۸۴۲ - دا روایت هم د حضرت ابوهریره رضی الله عنه دے۔ چه رسول الله صلی

---

[1] سورة الروم اية ٢٣ [2] "اذا اقترب الزمان"، اي اقترب انتهاء وعد الحيوة الدنيا ؛

الزَّمَانُ لَمْ تَكَدْ رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ تَكْذِبُ وَرُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِّنْ سِتَّةٍ وَّأَرْبَعِيْنَ جُزْءًا مِّنَ النُّبُوَّةِ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ أَصْدَقُكُمْ رُؤْيَا أَصْدَقُكُمْ حَدِيْثًا۔

الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه کله د دُنیا ژوند ختمید و ته نزدے شی. نو د مؤمن خوب به دروغجن نه خیژی۔ او د مؤمن خوب د نبوّت شپږ څلویښتمه (۴۶) حصه ده۔ (بُخاریؒ و مُسلمؒ)

یو روایت کښے داسے الفاظ هم دی، چه څوک په خپل عام ژوندون کښے څومره رښتونے وی، نو هغه هومره به ئے خوبونه هم رښتیا وی۔

۸۴۳۔ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَنْ رَآنِيْ فِي الْمَنَامِ فَسَيَرَانِيْ فِي الْيَقْظَةِ. أَوْ كَأَنَّمَا رَآنِيْ فِي الْيَقْظَةِ. لَا يَتَمَثَّلُ الشَّيْطَانُ بِيْ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ::

۸۴۳۔ دا روایت هم د حضرت ابوهریره رضی الله عنه دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چاچه زهٔ خوب کښے اولیدم. نو ما به په ویښه هم اووینی. یائے داسے اوفرمائیل، لکه چه زهٔ ئے په ویښه اولیدم. ځکه چه شیطان حُما په شکل اختیارولو قادر نه دے. (بُخاری و مُسلم)

۸۴۴۔ وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "إِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ رُؤْيَا يُحِبُّهَا فَإِنَّمَا هِيَ مِنَ اللهِ تَعَالَى فَلْيَحْمَدِ اللهَ عَلَيْهَا وَلْيُحَدِّثْ بِهَا. وَفِيْ رِوَايَةٍ، فَلَا يُحَدِّثْ بِهَا إِلَّا مَنْ يُحِبُّ. وَإِذَا رَأَى غَيْرَ ذٰلِكَ مِمَّا يَكْرَهُ فَإِنَّمَا هِيَ مِنَ الشَّيْطَانِ فَلْيَسْتَعِذْ مِنْ شَرِّهَا وَلَا يَذْكُرْهَا لِأَحَدٍ فَإِنَّهَا لَا تَضُرُّهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ::

۸۴۴۔ حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے. چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیلی آورېدلی دی. چه تاسو کښے څوک د خوشحالۍ اوسه خوب اووینی. نو دا د الله تعالیٰ د طرفنه وی. نو په هغې باندے د الله تعالیٰ ثنا او صفت وئیل پکاردی. او خپلو ملګروته ئے بیا نول هم پکاردي. یو روایت کښے داسے هم دی، چه چا سره ئے مینه او محبت وی. هغهٔ ته دے ئے بیان کړي. او هرچا ته دے ئے نه بیانوی. او کهٔ خراب او ناخوښه خوب ئے اولیدلو، نو د الله تعا نه دے د هغه خوب د شر نه پناه اوغواړی. او هیچا ته دے نه بیانوی. نو (انشاءالله) هغه خوب به هغهٔ دپاره نقصان ورکونکے نهٔ وی. (بُخاریؒ)

۸۴۵۔ وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ وَفِيْ رِوَايَةٍ الرُّؤْيَا الْحَسَنَةُ مِنَ اللهِ وَالْحُلُمُ مِنَ الشَّيْطَانِ فَمَنْ رَأَى شَيْئًا يَكْرَهُهُ فَلْيَنْفُثْ عَنْ شِمَالِهِ ثَلَاثًا وَلْيَتَعَوَّذْ مِنَ

۸۴۵۔ حضرت ابوقتاده رضی الله عنه وائی. چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه نیک خوبونه (او د یو روایت مطابق) ښهٔ خوبونه لیدل د الله تعالیٰ د طرفنه وی. او د پریشانۍ خوبونو کښے د شیطان لاس وهنه وی. نو که څوک داسے خوب اووینی، چه ناخوښه وی. هغهٔ له پکاردی، چه کس طرف ته درے

الشَّيْطَانِ فَاِنَّهَا لَا تَضُرُّهٗ ۔

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ !

"النَّفْثُ": نَفْخٌ لَطِيْفٌ لَا رِيْقَ مَعَهٗ ::

۸۴۶ - **وَعَنْ** جَابِرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اِذَا رَاٰی اَحَدُکُمُ الرُّؤْيَا يَكْرَهُهَا فَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهٖ ثَلَاثًا وَلْيَسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ ثَلَاثًا وَلْيَتَحَوَّلْ عَنْ جَنْبِهِ الَّذِیْ كَانَ عَلَيْهِ رَوَاهُ مُسْلِمٌ

۸۴۷ - **وَعَنْ** اَبِی الْاَسْقَعِ وَاثِلَةَ بْنِ الْاَسْقَعِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ مِنْ اَعْظَمِ الْفِرٰی[1] اَنْ يَّدَّعِیَ الرَّجُلُ اِلٰی غَيْرِ اَبِيْهِ، اَوْ يُرِیَ عَيْنَهٗ مَا لَمْ تَرَ اَوْ يَقُوْلُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَمْ يَقُلْ ۔ (رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ)

واړه اوتوکی ۔ او اعوذ بالله او وائی ۔ نو دغه خوب نه به ورته څه نقصان نه رسی۔ (بخاری و مسلم)

"النَّفْثُ"، یعنی معمولی پوکے وهل چه لاړے ورسره اونه توکلے شی۔

۸۴۶ - حضرت جابر رضي الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه تاسو نه څوک خراب خوب اووینی، نو پکار دی، چه کس طرفته دړے واره تف تف اوکړي۔ او دړے واره دے اعوذ بالله من الشیطٰن الرجیم اووائی۔ او په کوم اړخ چه اوده شوے وی، هغه دے بدل کړی۔ (مسلم)

۸۴۷ - حضرت ابواسقع واثله بن اسقع رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، د ټولو نه غټ دروغ دا دی، چه پردی پلار ته خپل نسبت اوکړي۔ او سترګو نالیدلے خبرے ته لیدلے وائی (د دروغو خوب بیان کړي)۔ او کومه خبره چه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وی فرمائیلی، هغې خبرے ته د نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائیلے (خبره) وائی۔

(بخاری)

كِتَابُ السَّلَامِ !

باب ۱۳۱

بَابُ فَضْلِ السَّلَامِ وَالْاَمْرِ بِاِفْشَائِهٖ :: د سلام فضیلت

ف ؛- دا باب په څلور قرآنی آیتونو او شپږ نبوی احادیثو باندے مشتمل دے۔ د هر قوم د طبعے او د زمانے د حالاتو او د خپل مقصد حیات په لحاظ سره یوشعار ریو پیژندګلو وی۔ چه د هغے اظهار چرته اجنبی کس یا خپل نزدے خپلوانو یا ملګرو سره د ملاقات او ملاوید و په وخت کوی۔ د سلام شروع په عربو کښے اوشوه۔ او د عربو ماحول په قتل، لوټ مار او خونریزئ کښے رنګ شوے وُو۔ پردئ قبیله خو پریږده، د خپل خاندان، ټبر او قبیلے نه به هر سړے لرے او بیل اوسیدو۔ د امن او د سلامتئ الفاظ داسے معلومیدل، لکه چه بالکل هیر شوے وی۔ مګر اسلام د امن او سلامتئ ضامن کیدو سره

---

[1] الفری" بکسر الفاء وفتح الراء: جمع فریة وهی الکذبة العظیمة۔ وقوله: "لو یری عینه ما لم تر": ای یکذب فی رؤیاه !!

راغلي ؤو۔ ورانے شوے اوختمے شوے رشتے او خپلولئ او خوارۀ وارۀ خاندانونه يوځائے کول۔ د اسلام داسے خوښ او محبوب مقصد ؤو۔ لکه د يو الله کلمه اوچتول او د محمد صلی الله عليه وسلم د پيغمبرئ يقين زړۀ ته ښکته کول د اسلام مطلب، مقصد او د ژوند حاصل ؤو۔ په دے وجه ئے خپل شعار (يادګار) هم امن او سلامتي مقرر کړه۔ او اوّل نه اوّل وخت کښے ئے د سلامتئ آواز ټولو سره خپل ځان خلقوته ورمعرفي کړو۔ او هرمسلمان ئے د دے پابند کړو، چه کله هم هغه خپل ورور سره ملاويږي۔ که د مخکښے نه ئے پيژني يا نۀ پيژني۔ هغه دے خپل شعار او يادګار جوړ کړي۔ او هغۀ ته دے هم اووائي، چه تۀ هم د اسلامي ورورولئ قائمولو يو کارکن ئے۔ کوم پيغام چه الله تعالیٰ د امن او سلامتئ د دُنيا ټولو واړو کوټو نوکښے د خورولو د پاره راليږلے دے۔ (كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ)۔

(قرانی آيتونه)

۲۶۶۔ قَالَ اللهُ تَعَالیٰ [1] يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا [2] وَ تُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا "!	۲۶۶۔ اے مسلمانانو! پردو کورونو ته بغير د اجازت او بغير د سلام نه مۀ داخليږئ۔ (پ۱۸، نور)
۲۶۷۔ وَقَالَ تَعَالیٰ [3] فَاِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوْتًا فَسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِنْدِ اللهِ مُبٰرَكَةً طَيِّبَةً !!	۲۶۷۔ کله چه تاسو خپل کورونو ته داخليږئ۔ نو سلام سره داخليږئ۔ د الله تعالیٰ د طرفنه د مقرر دُعا په طور د اسلام يو عمل د برکت هم دے۔ او عمده خبره هم ده۔ (پ۱۸، نور)
۲۶۸۔ وَقَالَ تَعَالیٰ [4] وَاِذَا حُيِّيْتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوْا بِاَحْسَنَ مِنْهَآ اَوْ رُدُّوْهَا !!	۲۶۸۔ کله چه څوک اسلامي طريقے سره په تاسو سلام واچوي۔ نو تاسو عمده اضلفے سره هغۀ ته د سلام جواب ورکوئ۔ يا ورته هم هغسے کلمات اووايئ۔ (پ۵، نساء)
۲۶۹۔ وَقَالَ تَعَالیٰ [5] "هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ ضَيْفِ اِبْرٰهِيْمَ الْمُكْرَمِيْنَ اِذْ دَخَلُوْا عَلَيْهِ فَقَالُوْا: سَلٰمًا قَالَ سَلٰمٌ !!	۲۶۹۔ آيا تاته د ابراهيم عليه السلام د عزت مند وميلمنو قصه معلومه ده، چه کله راغلل نو ابراهيم عليه السلام ته ئے سلام اوکړو۔ او ابراهيم عليه السلام هم جواب ورکړو۔ (پ۲۶، ذريات)

(نبوی احاديث)

۸۴۸۔ **وَعَنْ** عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا اَنَّ رَجُلًا سَاَلَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّ الْاِسْلَامِ خَيْرٌ؟ قَالَ، "تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَ تَقْرَاُ	۸۴۸۔ حضرت عبد الله بن عمرو بن عاص رضی الله عنهما نه روايت دے۔ چه يوکس د نبی کريم صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه اوکړه، چه په اسلام کښے د ټولو نه ښه عمل کوم يو دے؟ نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، او بږو ته خوراک

---

[1] سورة النور آية ۲۷ [2] حتی تستانسوا": ای تستاذنوا [3] سورة النور آية ۶۱ [4] سورة النساء آية ۸۶ [5] سورة الذاريات آية ۲۴

السَّلَامَ عَلٰى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ - مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞

ورکول او هر بلد او نا بلده کس ته سلام کول - (بُخاریؒ و مُسلمؒ)

۸۴۹- وَعَنْ أَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ اٰدَمَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اذْهَبْ فَسَلِّمْ عَلٰى اُولٰٓئِكَ نَفَرٍ مِّنَ الْمَلآئِكَةِ جُلُوْسٌ. فَاسْتَمِعْ مَا يُحَيُّوْنَكَ فَاِنَّهَا تَحِيَّتُكَ وَ تَحِيَّةُ ذُرِّيَّتِكَ: فَقَالَ؛ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ، فَقَالُوْا اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ فَزَادُوْهُ وَ رَحْمَةُ اللّٰهِ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ؞

۸۴۹ - حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه کله الله تعالیٰ آدم علیه السلام پیدا کړو. نو ورته ئے اوفرمائیل، چه لاړشه او دغه د فریښتو نا ستے ډلے ته سلام اوکړه - او غور سره واوره. چه جواب کښے درته څه وائی ؟ کوم جواب چه فریښتو درکړو دغه به ستا او ستا د آولاد جواب هم وی. نو آدم علیه السلام د فریښتو هغه ټولګی ته لاړلو، او السلام علیکم ئے اووئیل، نو فریښتو هم السلام علیکم ورحمة الله اووئیل، یعني ورحمة الله ئے پکښے زیات کړو - (بُخاریؒ و مُسلمؒ)

۸۵۰- وَعَنْ اَبِیْ عُمَارَةَ الْبَرَآءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ اَمَرَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْعٍ بِعِيَادَةِ الْمَرِيْضِ وَاتِّبَاعِ الْجَنَآئِزِ وَ تَشْمِيْتِ الْعَاطِسِ وَ نَصْرِ الضَّعِيْفِ وَ عَوْنِ الْمَظْلُوْمِ وَاِفْشَآءِ السَّلَامِ وَ اِبْرَارِ الْمُقْسِمِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ هٰذَا لَفْظُ اِحْدٰی رِوَايَاتِ الْبُخَارِیِّ

۸۵۰ - حضرت ابوعماره براء بن عازب رضی الله عنهما نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته د اوو خبرو حکم راکړو، ۱- د بیمار پوښتنه کوئ ۲- جنازے سره ځئ. ۳- د پرنجی جواب ورکوئ. ۴- د کمزوری کس امداد کوئ. ۵- مظلوم سره مرسته او امداد کوئ. ۶- سلام رواج کښے راولئ ۷- او قسم پوره کوئ - (بُخاریؒ و مُسلمؒ)

۸۵۱- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ حَتّٰی تُؤْمِنُوْا وَلَا تُؤْمِنُوْا حَتّٰی تَحَابُّوْا اَوَلَا اَدُلُّكُمْ عَلٰی شَیْءٍ اِذَا فَعَلْتُمُوْهُ تَحَابَبْتُمْ؟ اَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ -
(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۸۵۱ - حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، ترڅو پورے چه مؤمنان نشئ نو جنت ته به نهٔ داخلیږئ. او هغه وخته پورے مؤمنان کیدے نشئ، ترڅو چه مو خپل مینځ کښے مینه او محبت نه وی. آیا تاسو ته یوه داسے خبره او نه ښایم. چه هغه کوئ نو خپل مینځ کښے به ستاسو مینه پیدا شی. او واورئ، چه خپل مینځ کښے سلام له رواج ورکړئ (سلام خور کړئ) - (مُسلمؒ)

۸۵۲- وَعَنْ اَبِیْ يُوْسُفَ

۸۵۲ - حضرت ابو یوسف عبدالله بن

عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: يَا اَيُّهَا النَّاسُ اَفْشُوا السَّلَامَ وَ اَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَصِلُوا الْاَرْحَامَ وَصَلُّوْا وَالنَّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

سلام رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه داسے فرمائیلی آوریدلی دی۔ چه اے خلقو! سلام خور کړئ او اوږدو ته خوراک ورکړئ او خپلوانو سره تعلق ساتئ۔ او چه خلق اوده شی نو تاسو مونځ کوئ۔ نو سلامتئ سره به جنت ته داخل شئ۔

(ترمذیؒ) او ترمذیؒ وئیلی دی، چه دا حدیث حسن صحیح دے۔

۸۵۳- وَعَنِ الطُّفَيْلِ بْنِ اُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ اَنَّهُ كَانَ يَأْتِيْ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ فَيَغْدُوْا مَعَهُ اِلَى السُّوْقِ قَالَ: فَاِذَا غَدَوْنَا اِلَى السُّوْقِ لَمْ يَمُرَّ عَبْدُ اللهِ عَلٰى سَقَّاطٍ[1] وَلَا صَاحِبِ بَيْعَةٍ وَلَا مِسْكِيْنٍ وَلَا اَحَدٍ اِلَّا سَلَّمَ عَلَيْهِ قَالَ الطُّفَيْلُ: فَجِئْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ يَوْمًا فَاسْتَتْبَعَنِيْ اِلَى السُّوْقِ فَقُلْتُ لَهٗ: مَا تَصْنَعُ بِالسُّوْقِ وَ اَنْتَ لَا تَقِفُ عَلَى الْبَيْعِ وَلَا تَسْاَلُ عَنِ السِّلَعِ وَ لَا تَسُوْمُ بِهَا وَلَا تَجْلِسُ فِيْ مَجَالِسِ السُّوْقِ؟ وَ اَقُوْلُ: اِجْلِسْ بِنَا هٰهُنَا نَتَحَدَّثُ، فَقَالَ: يَا اَبَا بَطْنٍ وَكَانَ الطُّفَيْلُ ذَا بَطْنٍ - اِنَّمَا نَغْدُوْا مِنْ اَجْلِ السَّلَامِ نُسَلِّمُ عَلٰى مَنْ لَقِيْنَاهُ رَوَاهُ مَالِكٌ فِي الْمُوَطَّا بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ ؛

۸۵۳- حضرت طفیل بن ابیّ بن کعب رضی الله عنه وائی۔ چه زهٔ به د عبد الله بن عمر فاروق رضی الله عنهما په خدمت کښے حاضریدم۔ او سحر به ورسره بازار ته تللم۔ کله به چه مونږ بازار ته تللو، نو ابن عمر رضی الله عنه به که په کباړی باندے تیریدو یا په تاجر یا په غریب او مسکین۔ نو هر یو ته به ئے سلام کولو۔ یوه ورځ زهٔ حاضر شوم۔ او د عادت مطابق ئے ځان سره بازار ته بوتلم۔ ما عرض اوکړو، چه بازار کښے تاسو څه کوئ۔ نه څه اخلئ خرڅوئ او نه څه د قیمت پوښتنه کوئ۔ نه چرته بازار کښے مجلس کښے ایسا ریږئ۔ نو زهٔ وایم، چه راځه، دلته دوا ړه کینو، چه لږ ساعت خبرے اترے اوکړو۔ مګر تاسو لاړ شئ چکرا ووهئ او واپس راشئ۔ دا ولے؟ ابن عمرؓ اووئیل، وا اوره طفیله خیټیا۔ یعنی کیده دے غټه کړے ده۔ مونږ خو صرف مخے ته راتلونکو خلقو باندے د سلام اچولو دپاره ځو بازار ته۔

(مؤطا امام مالک)

سند ئے صحیح دے۔

باب ۱۳۲

بَابُ كَيْفِيَّةِ السَّلَامِ !!

د سلام طریقه

يُسْتَحَبُّ اَنْ يَّقُوْلَ الْمُبْتَدِئُ بِالسَّلَامِ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَ

ف ۱- دے باب کښے اوؤه احادیث دی۔ امام نووی رحمة الله علیه فرمائی۔ چه مستحبه

---

[1] له سقاط بفتح المهملة الاولى وتشديد القاف. اى بياع السقط وهو اردى المتاع ؛

رَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ: فَيَأْتِيْ بِضَمِيْرِ الْجَمْعِ وَإِنْ كَانَ الْمُسَلَّمُ عَلَيْهِ وَاحِدًا وَيَقُوْلُ الْمُجِيْبُ وَعَلَيْكُمُ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ فَيَأْتِيْ بِوَاوِ الْعَطْفِ فِيْ قَوْلِهِ: وَعَلَيْكُمْ.

طریقه داده، چه سلام مخکښے اچونکے "السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته" اووائی او سلام کښے جمع استعمال کړی. اګرچه هغه کس یواځے هم وی. چا ته سلام اچړی. او جواب ورکونکے به وائی: "وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته" وعلیکم کښے به واؤ د عطف شاملوی

(نبوی احادیث)

۸۵۴- عَنْ عِمْرَانَ بْنِ الْحُصَيْنِ رض قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَرَدَّ عَلَيْهِ ثُمَّ جَلَسَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرٌ ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ فَرَدَّ عَلَيْهِ فَجَلَسَ فَقَالَ عِشْرُوْنَ ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ. فَرَدَّ عَلَيْهِ فَجَلَسَ فَقَالَ "ثَلَاثُوْنَ" رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ.

۸۵۴- حضرت عمران بن حصین رض رضی الله عنهما نه روایت دے. چه یو کس د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښے حاضر شو. او "السلام علیکم" ئے اووئیلو، نبی کریم صلی الله علیه وسلم جواب ورکړو، او هغه کس کینا ستلو. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، د دغه کس دپاره لس نیکئ اولیکلے شوے. بیا یو بل کس راغے او "السلام علیکم ورحمة الله" ئے اووئیل، هغه ته هم نبی کریم صلی الله علیه وسلم جواب ورکړو. او دغه کس هم کینا ستلو. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، دغه کس دپاره شل نیکئ اولیکلے شوے. دغه وخت کښے یو بل کس راغے. او هغهٔ "السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته" اووئیل. نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغهٔ ته هم هغسے جواب ورکړو. هغه کس هم کینا ستلو. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه دغه کس دپاره دیرش نیکئ اولیکلے شوے. (ابوداؤد وترمذی)

امام ترمذی رحمة الله علیه وائی چه دا حدیث حسن دے.

۸۵۵- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هٰذَا جِبْرِيْلُ، يَقْرَأُ عَلَيْكِ السَّلَامَ" قَالَتْ قُلْتُ: وَعَلَيْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَهٰكَذَا وَقَعَ فِيْ بَعْضِ رِوَايَاتِ الصَّحِيْحَيْنِ: وَبَرَكَاتُهُ وَفِيْ بَعْضِهَا بِحَذْفِهَا وَزِيَادَةُ الثِّقَةِ مَقْبُوْلَةٌ !!

۸۵۵- حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے. چه ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، دا جبریل علیه السلام دے تا ته سلام وائی. ما جواب کښے "وعلیه السلام ورحمة الله وبرکاته" اووئیل. (بُخاریؒ ومُسلمؒ)

د بُخاری او د مُسلم په بعضے روایتونو کښے لفظ د "برکاته" ذکر دے. لیکن بعضے روایتونو کښے نهٔ دے ذکر شوے. مګر د ثقه او مضبوط او معتمد راوی د طرفنه که څهٔ زیادت وی نو د محدثینو د اصولو مطابق هغه هم معتبر دے.

۸۵۶ - وَعَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ اَعَادَهَا ثَلَاثًا حَتّٰی تُفْهَمَ عَنْهُ وَاِذَا اَتٰی عَلٰی قَوْمٍ فَسَلَّمَ عَلَیْهِمْ ثَلَاثًا رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ ۔

وَهٰذَا مَحْمُولٌ عَلٰی مَا اِذَا كَانَ الْجَمْعُ كَثِیْرًا ۔

۸۵۶ - د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به کومه خبره کوله، نو هغه به ئے درې وارې کوله۔ چه مخاطب پرې ښه پوهه شي۔ او کله چه به یو قوم ته تلو نو درې وارې به ئے سلام اچولو۔ (بُخاری) امام نووی رحمة الله علیه فرمائی، چه درې ځلې سلام ډیرې مجمعې او ډلې پورې خاص دے۔

۸۵۷ - وَعَنِ الْمِقْدَادِ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فِیْ حَدِیْثِهِ الطَّوِیْلِ قَالَ: كُنَّا نَرْفَعُ لِلنَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَصِیْبَهُ مِنَ اللَّبَنِ فَیَجِیْءُ مِنَ اللَّیْلِ فَیُسَلِّمُ تَسْلِیْمًا لَا یُوْقِظُ نَائِمًا وَّ یُسْمِعُ الْیَقْظَانَ فَجَاءَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ كَمَا كَانَ یُسَلِّمُ ۔

(رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۸۵۷ - حضرت مقداد رضی الله عنه نه په یو اوږد حدیث کښې روایت دے۔ وائی، چه مونږ به د نبی کریم صلی الله علیه وسلم حصه پیئ ایښودل۔ او کله به چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د شپې راغې، نو داسې اندازه کښې به ئے سلام اچولو۔ چه اوده خلق بیدار نشي۔ او بیدارو خلقو به واورېدلو۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم راغې۔ او د عادت مطابق ئے سلام واچولو۔

(مُسلمؒ)

۸۵۸ - وَعَنْ اَسْمَاءَ بِنْتِ یَزِیْدَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ فِی الْمَسْجِدِ یَوْمًا وَّ عُصْبَةٌ مِّنَ النِّسَاءِ قُعُوْدٌ فَاَلْوٰی بِیَدِهٖ بِالتَّسْلِیْمِ رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَقَالَ: حَدِیْثٌ حَسَنٌ - وَهٰذَا مَحْمُوْلٌ عَلٰی اَنَّهٗ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ بَیْنَ اللَّفْظِ وَالْاِشَارَةِ وَیُؤَیِّدُهٗ اَنَّ فِیْ رِوَایَةِ اَبِیْ دَاوٗدَ فَسَلَّمَ عَلَیْنَا ۔

۸۵۸ - حضرت اسماء بنت یزید رضی الله عنها وائی، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ جومات سره تیرېدلو۔ او یو طرف ته د ښځو یوه ډله ناسته وه۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اشارې سره هغوئ ته سلام اوکړو۔ (ترمذیؒ)

امام ترمذی رحمة الله علیه وائی، چه دا حدیث حسن دے۔ امام نوویؒ وائی، چه اشاره هم داسې وه، چه په ژبه ورسره سلام وئیل وُو۔ په دے وجه نبی کریم صلی الله علیه وسلم په ژبه سلام وئیلی دے۔ او اشاره ئے هم کړې ده۔ د دې تائید د ابوداوُد د یوبل روایت نه کیږي۔ وائی، چه اسماء رضی الله عنها فرمائی، بیا مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم سلام اوکړو۔

۸۵۹ - وَعَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ

۸۵۹ - حضرت ابوامامه رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِاللّٰهِ مَنْ بَدَأَهُمْ بِالسَّلَامِ " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ بِنَحْوِهِ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ - وَقَدْ ذُكِرَ بَعْدَهُ !!

عليه وسلم اوفرمائيل، چه الله تعالىٰ ته د ټولو نه نزدے سړے هغه دے - چه سلام اچولو کښے وړاندے کيږی - (ابوداؤدؒ و ترمذیؒ)

امام ترمذی رحمة الله عليه وائی چه دا حديث حسن دے -

۸۶۰ - وَعَنْ أَبِيْ جُرَيٍّ الْهُجَيْمِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : أَتَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ : عَلَيْكَ السَّلَامُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَقَالَ لَا تَقُلْ عَلَيْكَ السَّلَامُ فَإِنَّ عَلَيْكَ السَّلَامُ تَحِيَّةُ الْمَوْتَىٰ " رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ - وَقَالَ : حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ، وَقَدْ سَبَقَ لَفْظُهُ بِطُوْلِهِ !!

۸۶۰ - حضرت ابوجُری هُجیمی رضی الله عنه نه روايت دے - چه زهٔ د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کښے حاضر شوم - او " عليك السلام يا رسول الله " م اووئيلو - نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، عليك السلام مهٔ وايه. دا سے سلام خو په مړو باندے اچولے شی - (ابوداؤدؒ و ترمذیؒ)

امام ترمذی رحمة الله عليه وائی، چه دا حديث حسن صحيح دے -

باب ۱۳۳

بَابُ آدَابِ السَّلَامِ !

د سلام آداب

ف :- دے باب کښے صرف دوۀ احاديث دی -

(نبویؐ احاديث)

۸۶۱ - وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " يُسَلِّمُ الرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِيْ وَالْمَاشِيْ عَلَى الْقَاعِدِ ، وَالْقَلِيْلُ عَلَى الْكَثِيْرِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِيْ رِوَايَةِ الْبُخَارِيِّ " وَالصَّغِيْرُ عَلَى الْكَبِيْرِ "

۸۶۱ - حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دے - چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، سوړلیٰ باندے سور به پيدل تلونکی باندے او پيدل به په ناستو خلقو باندے او لږ خلق به ډ ېرو باندے سلام اچوی - (بُخاریؒ و مُسلمؒ)

او د بُخاری په يو روايت کښے دا سے دی، چه واړۀ به په غټو خلقو سلام اچوی -

۸۶۲ - وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ صُدَيِّ بْنِ عَجْلَانَ الْبَاهِلِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِاللّٰهِ مَنْ بَدَأَهُمْ بِالسَّلَامِ رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ بِإِسْنَادٍ جَيِّدٍ ، وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ

۸۶۲ - حضرت ابوامامه صدی بن عجلان باهلی رضی الله عنه نه روايت دے - چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، په خلقو کښے الله تعالىٰ ته ډير نزدے اول سلام اچونکے دے - دا حديث ابوداؤدؒ په عمده سند سره ذکر کړے دے -

او امام ترمذی رحمة الله عليه دا ابوامامه رضی الله عنه نه دا سے روايت کړے دے -

رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ الرَّجُلَانِ، يَلْتَقِيَانِ أَيُّهُمَا يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ؟ قَالَ: "أَوْلَاهُمَا بِاللهِ تَعَالَى" قَالَ التِّرْمِذِيُّ: حَدِيثٌ حَسَنٌ !!

چه کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا پوښتنه اوکړے شوه. چه دوه کسان خپلو کښې یوځائے شی، نو کوم یو به مخکښې سلام کوی۔ نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، د واړو کښې چه کوم الله تعالیٰ ته ډیرځان نزدے کول غواړی، هغه دے اول سلام کوی۔ (ترمذی)

امام ترمذی رحمة الله علیه وائی، چه دا حدیث حسن دے۔

باب ۱۳۴

بَابُ اسْتِحْبَابِ إِعَادَةِ السَّلَامِ عَلَى مَنْ تَكَرَّرَ لِقَاؤُهُ عَلَى قُرْبٍ بِأَنْ دَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ ثُمَّ دَخَلَ فِي الْحَالِ أَوْ حَالَ بَيْنَهُمَا شَجَرَةٌ وَنَحْوُهَا:

بار بار سلام اچول

ف:۔ دے باب کښې دوه احادیث دی۔

(نبویؐ احادیث)

۸۶۳۔ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي حَدِيثِ الْمُسِيءِ صَلَاتَهُ أَنَّهُ جَاءَ فَصَلَّى ثُمَّ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَرَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَقَالَ "ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ" فَرَجَعَ فَصَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى فَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ::

۸۶۴۔ وَعَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا لَقِيَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ فَإِنْ حَالَتْ بَيْنَهُمَا شَجَرَةٌ أَوْ جِدَارٌ أَوْ حَجَرٌ ثُمَّ لَقِيَهُ فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ" (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ)

۸۶۳۔ حضرت ابوهریره رضی الله عنه د هغه کس په باره کښې روایت بیانوی، کوم چه مونځ په صحیح طریقے سره نه کولو. وائی چه هغه سړے جومات ته راغے مونځ ئے اوکړو. اود نبی کریم صلی الله علیه وسلم د سلام جواب ورکړو، او وے فرمائیل، لاړ شه بیا مونځ اوکړه. تا صحیح مونځ نه دے کړے. هغه سړی مونځ اوکړو. بیا راغے، نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندے ئے سلام واچولو. او دغسے درے وارے اوشو. (بخاری ومسلم)

۸۶۴۔ دا روایت هم د حضرت ابوهریره رضی الله عنه دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، خپل ورور سره چه کله هم ملاویږئ نو سلام کوئ۔ اګرچه وقفه او ایساریدل دومره کم او لږ وی، خومره چه د دیوال یا د بوټی نه اخوا لاړ شی او واپس راشی۔ د دے نه کمه وقفه او وخت کښې چه ملاویږئ نو هم سلام کوئ۔ (ابوداؤدؒ)

باب ۱۳۵

بَابُ اِسْتِحْبَابِ السَّلَامِ اِذَا دَخَلَ بَيْتَهٗ ❊ کورته د ننوتو په وخت سلام

ف :- دے باب کښے یو آیت او یو حدیث دے۔

(قرآنی آیت)

۲۷۰- قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی[1] فَاِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوْتًا فَسَلِّمُوْا عَلٰٓی اَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً.

۲۷۰- کله چه تاسو کورته داخلیږئ نو کوروالا بانده بطور دُعا سلام اچوئ، ځکه چه دا د برکت سبب دے او ډیره ښه خبره ده۔ (پ۱۸، نور)

(نبویؐ حدیث)

۸۶۵- وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "يَا بُنَيَّ اِذَا دَخَلْتَ عَلٰى اَهْلِكَ فَسَلِّمْ يَكُنْ بَرَكَةً عَلَيْكَ وَعَلٰى اَهْلِ بَيْتِكَ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ❊

۸۶۵- حضرت انس بن مالک رضی الله عنه وائی۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، ځما بچیه! کله چه خپل کورته لاړشئ نو هغوئ بانده سلام اچوه۔ دا به ستا او ستا د کوروالؤ ټولو د پاره د برکت سبب وی۔ (ترمذی) امام ترمذی رحمة الله علیه وائی، دا حدیث حسن صحیح دے۔

باب ۱۳۶

بَابُ السَّلَامِ عَلَى الصِّبْيَانِ ❊ په ماشومانو سلام اچول

ف :- دے باب کښے یو حدیث دے۔

(نبویؐ حدیث)

۸۶۶- عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ مَرَّ عَلٰى صِبْيَانٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ وَقَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهٗ (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۸۶۶- حضرت انس بن مالک رضی الله عنه یو وارے ماشومانو سره خوا کښے تیریدلو۔ نو په هغوئ ئے سلام واچولو۔ او وے فرمائیل، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به هم دغسے کول۔ (بخاریؒ و مسلمؒ)

باب ۱۳۷

بَابُ سَلَامِ الرَّجُلِ عَلٰى زَوْجَتِهٖ وَالْمَرْاَةِ مِنْ مَحَارِمِهٖ وَعَلٰى اَجْنَبِيَّةٍ وَاَجْنَبِيَّاتٍ لَا يَخَافُ الْفِتْنَةَ بِهِنَّ وَسَلَامِهِنَّ بِهٰذَا الشَّرْطِ ❊

په ښځے وغیره سلام اچول

ف :- دے باب کښے درے نبویؐ احادیث دی۔ د باب د عنوان لاندے دا ذکر دی، چه خاوند یه ښځه سلام اچوی او ښځه به په خپلو محارمو باندے

---

[1] ـه سورة نور، آیة

سلام اچوی. دغه شان سړے په پردو ښځو هم سلام اچولے شی، په دے شرط چې د فتنے ویره نه وی. دغه شان ښځے هم په سړو باندے سلام اچولے شی، په وخت د نشتوالی د فتنے کښې.

(نبوی احادیث)

۸۶۷۔ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَتْ فِينَا امْرَأَةٌ وَفِي رِوَايَةٍ كَانَتْ لَنَا عَجُوزٌ تَأْخُذُ مِنْ أُصُولِ السِّلْقِ له فَتَطْرَحُهُ فِي الْقِدْرِ وَتُكَرْكِرُ حَبَّاتٍ مِنْ شَعِيرٍ فَإِذَا صَلَّيْنَا الْجُمُعَةَ وَانْصَرَفْنَا نُسَلِّمُ عَلَيْهَا فَتُقَدِّمُهُ إِلَيْنَا رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

قَوْلُهُ: تُكَرْكِرُ: أَيْ تَطْحَنُ.

۸۶۷۔ حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه نه روایت دے. چه مونږ سره یوه ښځه وه. یو روایت کښې دی، چه مونږ سره یوه بوډۍ وه. غالبًا نوکره وه. چه د چقندر وجړے به ئے پرېکولے او کټوۍ کښې به ئے اچولے. او اوربشے به ئے اوړه کولے. او مونږ له به ئے پخولے. او کله به چه مونږ د جُمعے د مانځه نه راغلو. نو دغه نوکرئے ته به مونږ سلام کولو. او هغې به مونږ ته مخے ته خوراک کیښودلو. (بخاریؒ)

تُکَرْکِرُ :- یعنی اوړه کول.

۸۶۸۔ وَعَنْ أُمِّ هَانِئٍ فَاخِتَةَ بِنْتِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَتْ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ وَهُوَ يَغْتَسِلُ وَفَاطِمَةُ تَسْتُرُهُ بِثَوْبٍ فَسَلَّمْتُ وَذَكَرَتِ الْحَدِيثَ. (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۸۶۸۔ حضرت أُم هانی فاخته رضؓ بنت ابوطالب وائی - چه د مکے د فتحے په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم له راغلم. نو دغه نبی کریم صلی الله علیه وسلم غُسل کولو. او فاطمے رضی الله عنها به د کپړے سره ورته پرده کړے وه. نو ما سلام اوکړو. او بیائے پوره حدیث بیان کړو. (مُسلمؒ)

۸۶۹۔ وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: مَرَّ عَلَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نِسْوَةٍ فَسَلَّمَ عَلَيْنَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ وَهٰذَا لَفْظُ أَبِي دَاوُدَ وَلَفْظُ التِّرْمِذِيِّ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ فِي الْمَسْجِدِ يَوْمًا وَعُصْبَةٌ مِنَ النِّسَاءِ قُعُودٌ فَأَلْوَى بِيَدِهِ بِالتَّسْلِيمِ.

۸۶۹۔ حضرت اسماء بنت یزید رضی الله عنها نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم څو مونږ د ښځو په طرف تیریدلو. نو مونږ باندے ئے سلام واچولو. (ابوداؤدؒ و ترمذیؒ)

امام ترمذیؒ وائی، چه دا حدیث حسن دے. او یو روایت کښې ترمذیؒ داسے الفاظ بیان کړی دی. چه یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم جومات سره تیریدو، او د ښځو یوه ډله ناسته وه. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم په هغوئ اشاره سره سلام واچولو.

له السلق: بکسر المهملة وسکون اللام اخره قاف، معروف والقدر" بکسر القاف: الاناء الذی یطبخ فیه!

باب ۱۳۸

بَابُ تَحْرِيْمِ اِبْتِدَائِنَا الْكَافِرِ بِالسَّلَامِ وَكَيْفِيَّةِ الرَّدِّ عَلَيْهِمْ وَ اِسْتِحْبَابِ السَّلَامِ عَلٰى اَهْلِ مَجْلِسٍ فِيْهِمْ مُسْلِمُوْنَ وَكُفَّارٌ ؛

په کافربانده د سلام اچولو ممانعت

ف :- دے باب کښې دړے احادیث دی۔ کوم ځائے کښې چه په کافر سلام اچول منع دی، هلته دغسے سلام کښې مخکښې کیدل هم منع دی۔ سلام صرف دُعا نه ده بلکه یو اسلامی شعار هم دے۔ چه کافر سره د هغې هیڅ واسطه او تړون نشته۔ نو ځکه کافر ته سلام کول هم منع دی۔ که مسلمانان او کافران ګډ وډ وُو، نو بیا صفا الفاظو کښې سلام اچول جائز دی۔ خو چه نیت ئے په مسلمانانو د سلام اچولو وی۔ او اشارتی الفاظو کښې هم۔ لکه " والسلام علیٰ من اتبع الهدیٰ" د هدایت تابعدارو بانده دے سلام او سلامتیا وی۔

(نبویؐ احادیث)

۸۷۰۔ **عَنْ** اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَا تَبْدَءُوا الْيَهُوْدَ وَلَا النَّصَارٰى بِالسَّلَامِ فَاِذَا لَقِيْتُمْ اَحَدَهُمْ فِيْ طَرِيْقٍ فَاضْطَرُّوْهُ[1] اِلٰى اَضْيَقِهِ " رَوَاهُ مُسْلِمٌ ؛

۸۷۰۔ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه یهودیانو او عیسائیانو بانده سلام کښې مهٔ مخکښې کیږئ۔ که لاره کښې تاسو سره د دوئ نه څوک ملاوُ شی، نو لار ورے تنګه کړئ او د لارے یو طرفته تلو باندے ئے مجبوره کړئ۔ (مُسلمؒ)

۸۷۱۔ **وَعَنْ** اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا سَلَّمَ عَلَيْكُمْ اَهْلُ الْكِتَابِ فَقُوْلُوْا : وَعَلَيْكُمْ" (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۸۷۱۔ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، که اهلِ کتاب تاسو بانده مخکښې سلام واچوی۔ نو جواب کښې صرف وعلیکم وایئ۔ (بخاریؒ ومُسلمؒ)

(یعنی په تا دے هم هغه وی، کوم چه څمونږ د پاره نیت ساتئ۔ لکه یهودیانو به د شرارت او خباثت د وجهے نه د "السّلام" په ځائے "السّام" وئیل۔ چه مطلب ئے دا دے۔ په تا دے مرګ راشی۔ نو جواب کښې د "وعلیکم" مطلب دا شو، چه تا له دے هم الله مرګ راولی۔

۸۷۲۔ **وَعَنْ** اُسَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلٰى مَجْلِسٍ فِيْهِ اِخْلَاطٌ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُشْرِكِيْنَ - عَبَدَةِ الْاَوْثَانِ

۸۷۲۔ حضرت اسامه بن زید رضی الله عنهما نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ داسے یو مجلس بانده تیر شو، چه هلته مسلمانان مشرکان، بت پرست او یهودیان هم شریک ناست وُو۔ نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم

---

[1] فاضطروه ای الجئوه بالتضییق علیه الی اضیقه !!

وَالْيَهُوْدِ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -
(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

په دغه مجلس سلام واچولو -
(بخاریؒ ومسلمؒ)

باب ۱۳۹

بَابُ اِسْتِحْبَابِ السَّلَامِ اِذَا قَامَ مِنَ الْمَجْلِسِ وَفَارَقَ جُلَسَاۤءَهٗ اَوْ جَلِيْسَهٗ !

د رخصتید و په وخت سلام

ف ا- دے باب کښے صرف یو حدیث دے - او د پوره باب عنوان دا دے. "کله چه د مجلس نه پاخیږئ، یا د د وستانو او ملګرو نه جدا کیږئ. نو د رخصتید و سلام اچول مستحب دی -

(نبویؐ حدیث)

۸۷۳ - عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "اِذَا انْتَهٰى اَحَدُكُمْ اِلَى الْمَجْلِسِ فَلْيُسَلِّمْ فَاِذَا اَرَادَ اَنْ يَقُوْمَ فَلْيُسَلِّمْ فَلَيْسَتِ الْاُوْلٰى بِاَحَقَّ مِنَ الْاٰخِرَةِ رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ ؛

۸۷۳ - حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل، تا سو کښے څوک چه یو مجلس ته راشی. نو سلام دے اچوی. او کله چه د مجلس نه ځی نو هم دے سلام اچوی. ځکه چه ړومبے سلام د آخری سلام نه زیات حق نه لری. چه اول د آخر د پاره کافی شی. (ابوداودؒ وترمذیؒ)

باب ۱۴۰

بَابُ الْاِسْتِئْذَانِ وَاٰدَابِهٖ ؛ اجازت غوښتل

ف :- دے باب کښے دوه قرآنی آیتونه او څلور نبویؐ احادیث دی -

(قرآنی آیتونه)

۱۷۱ - قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی :[1] يَآاَيُّهَا

۱۷۱ - اے مؤمنانو! د نورو خلقو کورونو

---

[1] سورة النور آية ۲۷

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا[1] وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا ".

ته بغير د اجازت او بغير د سلام نه مه داخليږئ -

(پ۱۸ / نور)

۲۷۲ - وَقَالَ تَعَالٰى: " وَاِذَا بَلَغَ الْاَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ[2] فَلْيَسْتَاْذِنُوْا كَمَا اسْتَاْذَنَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؛

۲۷۲ - كله چه ستاسو ماشومان ځلميتوب ته اورسيږي - نو د غتو خلقو غوندې دې دوئ هم اجازت اخستلو سره داخليږي -

(پ۱۸ / نور)

(نبوىٔ احاديث)

۸۷۴ - وَعَنْ اَبِىْ مُوْسٰى الْاَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اَلْاِسْتِئْذَانُ ثَلَاثٌ فَاِنْ اُذِنَ لَكَ[3] وَاِلَّا فَارْجِعْ.

(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۸۷۴ - حضرت ابوموسىٰ اشعرى رضى الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، درې ځله اجازت غوښتل پكار دى. (كه په اول او دوئيم ځل اجازت ملاؤ نشى) بيا كه اجازت ملاؤ شى نو د ننه لاړ شئ. كنى واپس شئ. (بُخارىؒ ومُسلمؒ)

۸۷۵ - وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا جُعِلَ الْاِسْتِئْذَانُ مِنْ اَجْلِ الْبَصَرِ"

(مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۸۷۵ - حضرت سهل بن سعد رضى الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه د اجازت غوښتلو طريقه خود نظر ايساړولو د وجے نه مقرر شوے ده.

(بُخارىؒ ومُسلم)

(واقعه داسے وه، چه يو كس د چا په دروازه كښے د ننه كتل او د څه څيز نه به ئے سركښ ولو. كوروالا چه په سركږولو او كتلو سره اوليدلو، نو وے فرمائيل، چه كه ما ته ستا د سرد كږولو او كتلو پته بيا اولګيدله نو بيا به دے سترګے اوباسم. نو د اجازت د غوښتلو طريقه د سركږولو او كتلو نه د منع كيدلو دپاره مقرر كړے شوے ده) -

۸۷۶ - وَعَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ

۸۷۶ - حضرت ربعى بن حراشؒ وائى. چه

---

[1] "حتى تستأنسوا": اى تستأذنوا [2] "الحلم": بضم المهملة واللام: اى اوان الاحتلام [3] "فان اذن لك": اى فادخل -

قَالَ حَدَّثَنَا رَجُلٌ مِّنْ بَنِيْ عَامِرٍ اَنَّهُ اسْتَاْذَنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِيْ بَيْتٍ فَقَالَ: ااَلِجُ؟ له فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِخَادِمِهٖ "اُخْرُجْ اِلٰى هٰذَا فَعَلِّمْهُ الْاِسْتِئْذَانَ فَقُلْ لَهٗ قُلِ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ ااَدْخُلُ؟ فَسَمِعَهُ الرَّجُلُ فَقَالَ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ ااَدْخُلُ؟ فَاَذِنَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ !!

د بني عامر د قبیلې یو سړي مونږ ته دا حدیث بیا نولو۔ چه زهٔ کله د نبي کریم صلی الله علیه وسلم کور ته داخلیدم نو د دننه تللو او د اجازت غوښتلو د باره مې دا الفاظ او وئیل: "ا اَلِجُ" آیا دننه درتللی شم؟ نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپل خادم او نوکر راولیږلو او ورته ئې اوفرمائیل چه ورشه او هغهٔ ته د اجازت غوښتلو طریقه اوښایه۔ او هغهٔ ته اووایه چه اول السلام علیکم وایه او بیا وایه چه زهٔ دننه درشم؟ دا کلمات هغهٔ هم واوریدل او السّلام علیکم ئې اووئیلو۔ او د دننه تللو اجازت ئې واخستلو۔ نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم اجازت ورکړو او هغه دننه راغې۔ (امام ابوداؤد په صحیح اسنادو سره روایت کړے دے)

۸۷۷ - وَعَنْ كَلَدَةَ بْنِ الْحَنْبَلِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ وَلَمْ اُسَلِّمْ فَقَالَ ارْجِعْ فَقُلْ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ ااَدْخُلُ؟ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ !!

۸۷۷ - حضرت کلده بن حنبل رضی الله عنه وائي۔ چه زهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شوم۔ او بغیر د اجازت نه دا سے د نبي کریم صلی الله علیه وسلم خوا ته لاړم او سلام مے هم اونه کړو۔ نو نبي کریمؐ اوفرمائیل، واپس لاړ شه۔ اَلسّلام علیکم اووایه او دننه د راتللو اجازت اوغواړه بیا دننه راځه - (ترمذیؒ، ابوداؤدؒ) او امام ترمذیؒ وائي، دا حدیث حسن دے۔

باب ۱۴

بَابُ بَيَانِ اَنَّ السُّنَّةَ اِذَا قِيْلَ لِلْمُسْتَاْذِنِ مَنْ اَنْتَ؟ اَنْ يَّقُوْلَ فُلَانٌ فَيُسَمِّيْ نَفْسَهٗ بِمَا يُعْرَفُ بِهٖ مِنْ اِسْمٍ اَوْ كُنْيَةٍ وَكَرَاهَةِ قَوْلِهٖ "اَنَا" وَنَحْوِهَا !!

(د اجازت طریقه)

ف: دے باب کښې خلور حدیثونه دي۔ او د باب پوره عنوان دا سے دے چه کله د اجازت غوښتونکي نه پوښتنه اوکړے شي چه څوک ئې؟ نو صحیح او سُنت طریقه دا ده چه خپل نوم، لقب یا کنیه وغیره دے اوښائي چه فلانکے یم۔ دا به نه وائي چه زهٔ یم زهٔ یم۔

(نبوی احادیث)

۸۷۸ - عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِيْ حَدِيْثِهِ الْمَشْهُوْرِ فِي الْاِسْرَآءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "ثُمَّ صَعِدَ بِيْ جِبْرِيْلُ اِلَى السَّمَآءِ الدُّنْيَا فَاسْتَفْتَحَ فَقِيْلَ: مَنْ هٰذَا؟ قَالَ جِبْرِيْلُ. قِيْلَ وَمَنْ مَّعَكَ؟ قَالَ مُحَمَّدٌ. ثُمَّ

۸۷۸ - حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه د معراج په اوږد حدیث کښې روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل۔ بیا زهٔ جبرائیل علیه السلام اولنی اسمان ته اوخیژولم۔ او د هغے دروازه ئې اووهله۔ هلته پوښتنه اوشوه چه

صَعِدَ اِلَى السَّمَآءِ الثَّانِيَةِ فَاسْتَفْتَحَ قِيْلَ مَنْ هٰذَا؟ قَالَ جِبْرِيْلُ. قِيْلَ: وَمَنْ مَّعَكَ؟ قَالَ مُحَمَّدٌ. وَالثَّالِثَةَ وَالرَّابِعَةِ وَسَآئِرِهِنَّ وَيُقَالُ فِيْ بَابِ كُلِّ سَمَاءٍ، مَنْ هٰذَا؟ فَيَقُوْلُ. جِبْرِيْلُ. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

څوک ئې؟ نو جواب ئې ورکړو چه جبرائيل يم. بيا ترې پوښتنه اوکړې شوه چه څوک درسره دے؟ نو جواب ئې ورکړو، محمدؐ. هلته نه ئې دوئم آسمان ته بوتلم. دروازه ئې اووهله. نو هم هغه سوال وُو چه څوک ئې. نو جواب ورکړے شو چه جبرائيل يم. پوښتنه اوکړے شوه چه څوک درسره دے. نو جواب ئې ورکړو چه محمدؐ. دغسې دريم څلورم بلکه ټولو اسمانونو ته ئې بوتلم. او هرځائې کښې هم هغسې سوال جواب اوشو، چه څوک ئې. وئيل ئې، چه جبرائيل يم. (بخاريؒ ومسلمؒ)

۸۷۹. وَعَنْ اَبِىْ ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجْتُ لَيْلَةً مِّنَ اللَّيَالِيْ فَاِذَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِيْ وَحْدَهٗ فَجَعَلْتُ اَمْشِيْ فِيْ ظِلِّ الْقَمَرِ فَالْتَفَتَ فَرَاٰنِيْ فَقَالَ: "مَنْ هٰذَا؟" فَقُلْتُ. اَبُوْذَرٍّ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ٭

۸۷۹. حضرت ابوذر غفاری رضی اللہ عنه وائی. چه زهٔ يوه شپه بهرته اووتلم. ما اوکتل چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم يوازې چرته روان دے. سپوږمۍ راختلې وه. زهٔ دهغې په سورې کښې وروستو روان ووم. نبی کريمؐ چه را تاؤ شو. نو زهٔ ئې اوليدم. نو ورته فرمائيل چه دا څوک دے (چه ما پسې را روان دے) ما عرض اوکړو. زهٔ ابوذر يم. (بخاريؒ ومسلمؒ)

۸۸۰. وَعَنْ اُمِّ هَانِىءٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: اَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَغْتَسِلُ وَفَاطِمَةُ تَسْتُرُهٗ فَقَالَ: "مَنْ هٰذِهٖ؟" فَقُلْتُ: اَنَا اُمُّ هَانِىءٍ. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۸۸۰. حضرت ام هانی رضی الله عنها وائی، چه زهٔ د رسول الله صلی الله عليه وسلم خدمت ته راغلم. نو دغه وخت نبی کريم صلی الله عليه وسلم غُسل کولو. او فاطمې رض ورته د پردې د پاره کپړه نيولې وه. نبی کريمؐ پوښتنه اوکړه دا څوک راغله؟ نو ما اووئيل چه زهٔ اُمّ هانی يم. (بخاريؒ و مسلمؒ)

۸۸۱. وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: اَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَقَقْتُ الْبَابَ فَقَالَ "مَنْ هٰذَا؟" فَقُلْتُ: اَنَا. فَقَالَ: اَنَا اَنَا؟ كَاَنَّهٗ كَرِهَهَا. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

۸۸۱. حضرت جابر رضی الله عنه نه روايت دے. چه زهٔ د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر شوم. او دروازه مې اووهله. نو حضورؐ اوفرمائيل څوک ئې؟ ما اووئيل، زهٔ يم. حضورؐ اوفرمائيل، (داځه) زهٔ يم زهٔ يم (دے شروع کړې دی)؟ گويا که زما دا سې وينا نبی کريمؐ خوښه نه کړه. (بخاريؒ ومسلمؒ)

باب ۱۴۲

بَابُ اِسْتِحْبَابِ تَشْمِيْتِ الْعَاطِسِ اِذَا حَمِدَ اللّٰهَ تَعَالٰى وَكَرَاهِيَةِ تَشْمِيْتِهٖ اِذَا لَمْ يَحْمِدِ اللّٰهَ تَعَالٰى وَبَيَانِ اٰدَابِ التَّشْمِيْتِ وَالْعُطَاسِ وَالتَّثَاؤُبِ !!!

(د پرنجی جواب)

ف: دے باب کښې اووهٔ نبوی احاديث دی. د باب په عنوان کښې يولوئې عبارت

بیان کړے شوے دے۔ چه څوک پرنجے اوکړي نو الحمد لله دے اووائی۔ او دے جواب ورکول مستحب دی۔ او کله چه پرنجی کونکی الحمد لله او نه وائی، نو جواب ورکول مکروه دی۔ د پرنجی او د هغې د جواب او د غسے د اسویلی د ادابو بیان دے۔

(نبویؐ احادیث)

۸۸۲ - عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اِنَّ اللهَ یُحِبُّ الْعُطَاسَ وَ یَکْرَهُ التَّثَاؤُبَ فَاِذَا عَطَسَ اَحَدُکُمْ وَحَمِدَ اللهَ تَعَالٰی کَانَ حَقًّا عَلٰی کُلِّ مُسْلِمٍ سَمِعَهٗ اَنْ یَّقُوْلَ لَهٗ یَرْحَمُكَ اللهُ وَاَمَّا التَّثَاؤُبُ فَاِنَّمَا هُوَ مِنَ الشَّیْطَانِ فَاِذَا تَثَاءَبَ اَحَدُکُمْ فَلْیَرُدَّهٗ مَا اسْتَطَاعَ فَاِنَّ اَحَدَکُمْ اِذَا تَثَاءَبَ ضَحِكَ مِنْهُ الشَّیْطَانُ۔ (رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ)

۸۸۲ - حضرت ابوهریرهؓ نه روایت دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، د الله تعالیٰ پرنجے خوښ دے۔ مګر اسویلے ئے ناخوښه دے۔ کله چه تاسو کښے څوک پرنجی نه پس الحمد لله اووائی۔ نو کوم مسلمان ئے چه واورې نو هغه دے جواب کښے یرحمك الله اووائی۔ او اسویلی کښے د شیطان دخل او اثر وی۔ کله چه چا ته اسویلے راشی نو چه څومره وس ئے کیږی، بند دے ئے کړي۔ ځکه چه کله تاسو اسویلے کوئی نو شیطان درپورے خاندی۔ (بخاریؒ)

(د اسویلی د بند ولو یو تجربه شوے عمل دا دے۔ چه کله اسویلے راشی نو زړهٔ کښے دا خیال اوساته چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د دے اسویلی کولو نه پاک وُو چه پوره ژوند کښے نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندے اسویلے نه دُو راغلے۔ فوراً او سمدستی به بند شی. او اردو مترجم وائی چه دا زما خپله تجربه هم ده)۔

۸۸۳ - وَعَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "اِذَا عَطَسَ اَحَدُکُمْ فَلْیَقُلْ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلْیَقُلْ لَهٗ اَخُوْهُ اَوْ صَاحِبُهٗ یَرْحَمُكَ اللهُ فَاِذَا قَالَ لَهٗ یَرْحَمُكَ اللهُ فَلْیَقُلْ یَهْدِیْکُمُ اللهُ وَ یُصْلِحُ بَالَکُمْ"۔ (رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ)

۸۸۳ - دا روایت هم د حضرت ابوهریرهؓ دے۔ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، به تاسو کښے که چا له پرنجے راشی نو الحمد لله دے اووائی۔ او مسلمان ورور او ملګری او ورسره روانو خلقو له پکار دی، چه یرحمك الله اووائی۔ او پرنجی واله به د یرحمك الله په جواب کښے اووائی "یهدیکم الله ویصلح بالکم"۔ (ترجمه): الله دے تا ته هدایت اوکړي، او الله دے ستا کار درست کړي۔ (بخاریؒ)

۸۸۴ - وَعَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ: "اِذَا عَطَسَ اَحَدُکُمْ فَحَمِدَ اللهَ فَشَمِّتُوْهُ فَاِنْ لَّمْ یَحْمَدِ اللهَ فَلَا تُشَمِّتُوْهُ"۔ (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۸۸۴ - حضرت ابوموسیٰ اشعریؓ نه روایت دے۔ چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا سے فرمائیلی آوریدلی دی۔ چه تاسو کښے څوک د پرنجی نه پس الحمد لله اووائی۔ نو جواب ورکوئ۔ او که الحمد لله او نه وائی، نو جواب مهٔ ورکوئ۔ (مسلمؒ)

٦٨٥ - **وَعَنْ** اَنسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ عَطَسَ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَمَّتَ اَحَدَهُمَا وَلَمْ يُشَمِّتِ الْاٰخَرَ فَقَالَ الَّذِيْ لَمْ يُشَمِّتْهُ عَطَسَ فُلَانٌ فَشَمَّتَّهُ وَعَطَسْتُ فَلَمْ تُشَمِّتْنِيْ. فَقَالَ: هٰذَا حَمِدَ اللّٰهَ وَاِنَّكَ لَمْ تَحْمَدِ اللّٰهَ - (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

٦٨٥ - حضرت انس بن مالک رضؓ نه روايت دے. چه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په مجلس کښے دوه صحابه وُ پرنجے اوکړو. نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم يو ته جواب ورکړو. او دوئيم ته ئے جواب ورنکړو. نو دغه سړی اووئيل، چه فلانکی ته تا سو د پرنجی جواب ورکړو مګر ما ته مو جواب را نکړو. نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، هغه کس خو الحمد لله وئيلے وه. مګر تا نهٔ وه وئيلے. مګر تا نهٔ وه وئيلے. نو ځکه مے جواب درنکړو. (بخاریؒ ومسلمؒ)

۸۸٦ - **وَعَنْ** اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا عَطَسَ وَضَعَ يَدَهٗ اَوْ ثَوْبَهٗ عَلٰى فِيْهِ وَخَفَضَ اَوْ غَضَّ - بِهَا صَوْتَهٗ شَكَّ الرَّاوِيْ رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

۸۸٦ - حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم به کله پرنجے کولو. نو به خپله خولهٔ به ئے لاس کيښودلو. يا به ئے کپړه کيښودله. او د پرنجی آواز به ئے کمزورے کړو (د راوی شک دے. چه عربی لفظ د "خَفَضَ" وُو اوکه غَضَّ وُو. (ابوداؤدؒ و ترمذیؒ) امام ترمذیؒ وائی، چه دا حديث حسن صحيح دے.

۸۸۷ - **وَعَنْ** اَبِيْ مُوْسٰى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ الْيَهُوْدُ يَتَعَاطَسُوْنَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْجُوْنَ اَنْ يَقُوْلَ لَهُمْ يَرْحَمُكُمُ اللّٰهُ فَيَقُوْلُ "يَهْدِيْكُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ" رَوَاهُ اَبُوْدَاوٗدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ ؛

۸۸۷ - حضرت ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه وائی. چه يهود و به د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مجلس کښے په دے ارزو او خواهش پرنجی کول چه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د خولے مبارکے نه جواب د يرحمك الله را اوځی. مګر حضورؐ به "يهديكم الله و يصلح بالكم" وئيلو. (ترجمه) (الله تعالیٰ دے تاسو ته هدايت اوکړی او د کارونو اصلاح دے درله اوکړی. (ترمذیؒ)

امام ترمذیؒ وائی، چه دا حديث حسن صحيح دے.

۸۸۸ - **وَعَنْ** اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اِذَا تَثَاءَبَ اَحَدُكُمْ فَلْيُمْسِكْ بِيَدِهٖ عَلٰى فِيْهِ فَاِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ" - (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

۸۸۸ - حضرت ابوسعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه کله چا له اسويلے راشی نو په خولے دے لاس کيږدی. ځکه چه شيطان غواړی چه د ننه داخل شی. (مسلمؒ)

(د اسويلی په ادابو کښے دا هم دی چه دے کښے شيطانی اثر هم شته - نو د اسويلی

نه پس لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ وئیل پکار دی. اسویلے کول د سستئ د وجهے نه کیږی. په دے وجه ناخوښه ګڼړلے شوے دے. د پرنجی نه پس بدن سپک شی. اوخه قدرے خوشحالی محسوسیږی. نوځکه خوښ ګڼړلے شوے دے. او د الله تعالیٰ وعده ده. چه په کومه خبره د هغهٔ شکر اداء کړے شی نو الله تعالیٰ هغه نوره هم زیاتوی. دلته هم د الله تعالیٰ شکر به دے پرنجی سره ادا شی. نو الله تعالیٰ ورله نوره خوشحالی هم زیاته کړی.

طبعی نقطه نظر سره پرنجے کول د صحت علامه ده. نو په دے باندے شکر کولو سره الله تعالیٰ نور هم صحت کښے زیاتے پید اکوی.

د پرنجی کولو په سلسله کښے د بنهٔ ګمان نه هم کار اخستل پکار دی. کیدے شی چه پرنجی کونکی الحمد لله وئیلی وی. او د بے خیالئ د وجهے نه چا نهٔ وی اوریدلی. یائے ورو وئیلی وی. نو ورسره بل کس له پکار دی چه جواب ورکړی "ان حمدت فرحمك الله" (ترجمه): که تا الحمد لله وئیلی وی، نو الله تعالیٰ دے په تا رحم اوکړی. (نعمانی)

باب ١٤٣

بَابُ اسْتِحْبَابِ الْمُصَافَحَةِ عِنْدَ اللِّقَاءِ وَبَشَاشَةِ الْوَجْهِ وَتَقْبِيْلِ يَدِ الرَّجُلِ الصَّالِحِ وَتَقْبِيْلِ وَلَدِهٖ شَفَقَةً وَمُعَانَقَةِ الْقَادِمِ مِنْ سَفَرٍ وَكَرَاهِيَةِ الْإِنْحِنَاءِ.

(د ملاقات په وخت مصافحه[1] کول)

ف:- دے باب کښے نهٔ احادیث دی. د عنوان د تفصیلی عبارت مطلب دا دے چه د ملاقات په وخت به رونړ او پراخه تندی سره ملاویدل مستحب دی. د نیکا نو او د الله والهٔ خلقو لا سونه ښکلول، خپل اولاد سره مینه کول او د سفرنه راتلونکی کس سره غاړه ملاوول هم درست دی. خو سر ورته ښکته کول منع دی.

(نبویؐ احادیث)

٨٨٩- عَنْ أَبِي الْخَطَّابِ قَتَادَةَ قَالَ قُلْتُ لِأَنَسٍ: أَكَانَتِ الْمُصَافَحَةُ فِيْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ نَعَمْ. (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)

٨٨٩- حضرت ابوخطاب قتادهؒ وائی. چه ما د انس رض نه پوښتنه اوکړه. چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت صحابهٔ کښے د مصافحے کولو (یعنی لاس ورکولی رواج ؤو- انس رض اوویل، هو- (بخاریؒ)

٨٩٠- وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا جَاءَ أَهْلُ الْيَمَنِ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ

٨٩٠- د حضرت انس رض نه روایت دے. چه کله د یمن والا راغلل. نو رسول الله

---

[1] مصافحه کول: لاس ورکول. (په سترے مشی کښے لاس ملاوول)

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ جَآءَكُمْ اَهْلُ الْيَمَنِ وَهُمْ اَوَّلُ مَنْ جَآءَ بِالْمُصَافَحَةِ. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ بِاِسْنَادٍ صَحِيْحٍ ؞

صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، تاسوله د يمن خلق راغلی دی. دا ړومبی خلق دی، چه مصافحې (لاس ملاوولو) سره راغلی دی. (امام ابوداؤدؒ په صحيح اسنادو سره روايت کړے دے)

۸۹۱ - وَعَنْ الْبَرَآءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يَلْتَقِيَانِ فَيَتَصَافَحَانِ اِلَّا غُفِرَ لَهُمَا قَبْلَ اَنْ يَفْتَرِقَا". (رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ)

۸۹۱ - حضرت براء بن عازب رضی الله عنه نه روايت دے. چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل، مسلمانانو کښې چه دوه کسان خپل سيڅ کښې ملاويږي، اويو بل ته لاس ورکوی. نو هغوئ لا جدا شوي نه وی چه هغوئ اوبښلے شی. (ابوداؤدؒ)

۸۹۲ - وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ: اَلرَّجُلُ مِنَّا يَلْقَى اَخَاهُ اَوْ صَدِيْقَهٗ اَيَنْحَنِيْ لَهٗ؟ قَالَ لَا. قَالَ اَفَيَلْتَزِمُهٗ وَيُقَبِّلُهٗ؟ قَالَ: لَا. قَالَ فَيَاْخُذُ بِيَدِهٖ وَيُصَافِحُهٗ قَالَ: نَعَمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ حَدِيْثٌ حَسَنٌ.

۸۹۲ - حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دے. چه يوکس د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه اوکړه چه يا رسول الله: مونږ کښې که څوک خپل ورور يا دوست سره ملاويږی، نو ملاويدو کښې به ورته ښکته کيږی؟ حضورؐ اوفرمائيل نه. هغه کس بيا پوښتنه اوکړه چه هغهٔ سره غاړه ملاؤولے شی، يائې ښکلولے شی؟ نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل؛ نه. هغه کس بيا پوښتنه اوکړه چه لاس په لاس به سره مصافحه کوی؟ حضورؐ اوفرمائيل، هو. دا سے کولے شی. (ترمذیؒ) او امام ترمذیؒ وئيلی دی، چه دا حديث حسن دے.

۸۹۳ - وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ يَهُوْدِيٌّ لِصَاحِبِهٖ اِذْهَبْ بِنَا اِلٰى هٰذَا النَّبِيِّ: فَاَتَيَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَاَلَاهُ عَنْ تِسْعِ اٰيَاتٍ بَيِّنٰتٍ فَذَكَرَ الْحَدِيْثَ اِلٰى قَوْلِهٖ فَقَبَّلَا يَدَهٗ وَرِجْلَهٗ وَقَالَا: نَشْهَدُ اَنَّكَ نَبِيٌّ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَغَيْرُهٗ بِاَسَانِيْدَ صَحِيْحَةٍ ؞

۸۹۳ - حضرت صفوان بن عسّال رضی الله عنه نه روايت دے. چه يو يهودی خپل ملګری ته اووئيل، چه ما د غه پيغمبرؑ له بوځه. پس دواړه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کښې راغلل. او د حضورؐ نه ئې د موسیٰؑ د نهٔ ښکاره نښانو په باره کښې سوالونه اوکړل. راوی د حديث اوږد بيان کولو سره په آخر کښې اووئيل، چه دے دواړو د نبی کريمؐ لاس او قدم ښکل کړل. او دے وئيل چه مونږ ګواهی ورکوو چه واقعی تاسو په رښتينی د الله پيغمبر يئ. (امام ترمذیؒ او وغيره وُ په صحيح اسنادو سره روايت کړے دے)